سره د حوالو او تخریجه

مکمله او مدلله

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

اتم جلد

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله
مفتي اعظم پاکستان

تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا
سید شیر علی شاه مدني رحمه الله
سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوره خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله
شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه المانزئی

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

مکمل او مدلل

۸

سره د حوالو او تخریجه

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

داتم جلد اجمالي فهرست

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین ګل کابل

0782690850 | 0775681606

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدھیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : اتم

صفحات : ٥٨٤

تاریخ : ٢٠١٧ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

- پشاور
- اکوړه خټک
- کوټه
- پروان
- کندوز
- غزني
- جلال آباد
- قندهار
- بغلان
- لوګر
- خوست

فهرست

مضمون	صفحه

❖ پرده ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ اخلاقیات ❖

مضمون	صفحه

❖ سلام او مصافحه ❖

❖ تعلیم ❖

مضمون	صفحه

❖ ددین تبلیغ ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ دخوب حقیقت اوتعبیر ❖

❖ د نومونو سره متعلق ❖

مضمون	صفحه

❖ ږیره ❖

❖ جسماني وضع قطع ❖

صفحه	مضمون

❖ د خوراک وڅښاک شرعي احکام ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ فلم کتل ❖

مضمون	صفحه

❖ تصوير ❖

❖ خانداني منصوبه بندي ❖

❖ جائز او ناجائز ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ د مورو پلار او اولاد تعلقات ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ سړي او ښځې سره متعلق مسئلې ❖

مضمون	صفحه

❖ متفرق مسئلې ❖

مضمون	صفحه

❖ پرده ❖

د پردې صحيح مفهوم

سوال: زه شرعي پرده کوم، ځکه چې د ديني مدرسې زده کونکې يم او ما ته هغه وخت کې پريشاني وي، کله چې زه څه تقريب وغيره ته د مجبورۍ له وجې ځم؛ نو خپله برقع (چادري) نه کوزوم او خلک ما په چادري کوزولو مجبوروي، هغوی وايي چې د پردې ذکر، خو قرآن کې نه دی راغلی، د پروني ذکر راغلی دی، حالانکې هغوی د دې ټول مفهوم او تفسير وغيره نه دی لوستلی. يوازې دا وايي چې کله چې اسلام د څادر ذکر کړی دی؛ نو دومره پرده ولې کوې؟ او دا هم وايي چې اسلام دومره سختي نه ده کړې، څومره چې ته کوې، هغوی وايي چې: مخ، لاسونه او پښې وغيره لوڅ ساتل پکار دي، حالانکې زه هغوی ته وايم چې د دې ذکر خو يوازې په لمانځه کې راغلی دی، په نن او سبا د فتنې دور کې په ښځه باندې لازم دي چې هغه مکمل پرده وکړي. بلکې خپل لاسونه او مخ وغيره پټ کړي، د پردې باره کې تاسو ما ته لږ تفصيل سره بيان وکړئ چې د هغو خلکو علم ته هم دا خبره راشي چې شرعي پرده څه ته ويل کيږي؟ او څومره کول يې پکار دي؟

جواب: ستاسو خيال ډير صحيح دی، د ښځې د مخ پرده لازمي ده[1] ځکه چې ګنده او ناروغ نظرونه په دې باندې پريوځي، د ښځې مخ، لاسونه او پښې سترنه دي، يعنې په لمانځه کې د دې اندامونو پټول ضروري نه دي، خو د ګنده نظرونو نه د دې اندامونو د پټولو د خپل وس مطابق کوشش کول ضروري دي[2].

سوال: تاسو ولې په اخبار کې داسې مسئله هم ورکړه که انجيلۍ چهرې خپلې خسرګنۍ کې پرده کوي خوهلته د پردې خيال نه ساتل کيږي د خپل ليوراو نورو خپلوانو نه، تاسو جواب کې ليکلي و چې دا پرده دومره سخته نه ده، که چهرې هغه پرده کوي؛ نو خپل څادر ښکته کولو سره خپل کار کولی شي، زه دا نه ګنم چې مخ پټولو سره د هغې وجود پټيږي، زه خو داسې ګنم چې کله انجيلۍ پرده کوي؛ نو هغه د نامحرمونه داسې پټه شي، لکه څنګه چې له مرګ نه وروسته د هغې وجود د نيا کې نه وي ستاسو دا مسئله ما پخپله باندې نه ده کتلې، تاسو ته خواست دی

[1] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لَا لأنه عورة بل لخوف الفتنة....إلخ. والمعنى تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجهها فتقع الفتنة لأنه مع الكشف قديقع النظرإليهابشهوة ...إلخ (شامى ج:۱ ص:٤٠٦، كتاب الصلاة، باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[2] وللحرة جميع بدنهاحتى شعرهاالنازل فى الأصح خلاالوجه والكفين..... ...والقدمين على المعتمد...إلخ، وفى الشامية: أى من أقوال ثلاثة مصححة ثانيهاعورة مطلقاثالثهاعورة خارج الصلاة لَا فيها۔ (شامى ج:۱ ص:٤٠٦، كتاب الصلاة، باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة، طبع ايچ ايم سعيد)۔

چې لږ تفصیل سره يې بيان کړئ چې خلکو ته هم معلومه شي چې دپردې باره کې څومره سخت حکم دی؟

جواب: ماليکلي و چې يوداسې کورپه کوم کې چې دښځې له پاره د نامحرمونه دديوال پرده ممکن نه وي، هلته دې داسې وکړي چې ټول بدن پټولوسره اوخپل مخ باندې دشرم اوحيا څادر اچولو سره د نامحرمو مخکې راشي (کله چې هغې له پاره ورتلل ضروري وي)[1]

ايا يوازې چادري (برقع) په سر کول کافي دي او که په زړه کې هم شرم او حيا پکارده؟

سوال: دښځودپردې باره کې اسلام څه حکم کوي؟ ايايوازې چادري (برقع) په سرکول پرده کې شامل دي؟ نن سبازمادوستان په دې مسئلې باندې بحث کوي، څه دوستان وايي چې د برقعې دپه سرکولو حکم کوم ځای دی؟ هغوی وايي يوازې دحيا نوم پرده ده، زه تاسوته خواست کوم چې دپردې باره کې دقران اوسنت په رڼاکې څه حکم دی؟ تفصيل سره يې بيان کړئ.

جواب: ستاسوددوستانودا وينا، خوپه خپل ځای باندې صحيح ده چې: دشرم اوحيانوم پرده ده. خو دهغوی دا فقره نامکمل اوپوره نه ده، هغوی ته له دې سره دا ويل هم پکاردي چې: دشرم اوحيا شکلونه متعين کولوله پاره موږدعقل اواسماني وحي محتاج يو.

داخوښکاره خبره ده چې شرم اوحيا يو روحاني کيفيت دی، ددې ښکاره کيدل په څه ناڅه قالب ياشکل کې وي، که چرې هغه قالب دعقل اوفطرت مطابق دی؛ نوشرم اوحياکول به هم صحيح وي او که چيرې هغه قالب عقل اوفطرت نه مني؛ نودشرم اوحيادعوه کول ددې پاکيزه صفت پسې خنداکول دي.

فرض کړئ! يوسړی په خپل هوش اوهوس کې اوسيدو باوجود، دبدن نه جامې ليرې کړي، دبدن نه ټولې جامې وغورځوي او بربنډ کيدونه وروسته شرم اوحياکوي؛ نويقينا ستاسو هغه دوستان به هم دهغه سړي دشرم اوحيادعوه کول نه مني اوهغه ته به دداسې شرم او حيا کولو مشوره کوي کوم چې دعقل اوفطرت مطابق وي.

سوال دادی چې دعقل اوفطرت صحيح کيدو معيارڅه دی؟ او دافيصله به څنګه وشي چې دشرم اوحيا مظاهره دعقل اوفطرت مطابق ده اوکه نه؟

ددې سوال په جواب کې که چيرې بل قوم ته پريشاني وي؛ نو وي به، خومسلمانانوته دې کې هيڅ پريشاني نه شته، دوی سره د فطرت دخالق له طرفه دژوندورکړل شوي اصول په

[1] يأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَبِيْبِهِنَّ، الآية (الأحزاب:۵۹) فقال انه قدأذن أن تخرجن لحاجتكن، قلت يعنى أذن لكن ان تخرجن متجلببات ...إلخ (تفسيرمظهرى ج:۷ ص: ۳۸۴) ايضًا: تعليم المطالب ص:۵، تاليف حكيم الامت حضرت اقدس مولانااشرف على تھانوى)۔

خپل اصل حالت کې محفوظ دي، کوم چې هغه دعقل اوفطرت ټول اصول خپلې مخې ته اېښودو نه وروسته جوړکړي دي، دژوندددې اصولونوم اسلام دی، الله تعالی اودهغه نه وروسته مقدس رسول الله ﷺ چې د شرم اوحیاکومې مظاهرې ښودلې دي هغه دفطرت اواز دی اوعقل سلیم دهغه په حکمت او ژوروالي باندې مهرلګولی دی، راځئ چې لږ وګورو چې الله تعالی اودرسول الله ﷺ ارشادات دې باره کې څه هدایات ورکوي.

۱: دښځودشکل اوصورت فطرت داسې جوړکړی دی چې هغې ته ټول ستر(عورت) ویل پکاردي، همدغه وجه ده چې دفطرت خالق دهغې د ضرورت نه پرته له کوره وتل نه دي برداشت کړي، چې داقیمتي ملغلره، دناپاکو نظرونودهوس له وجې ګنده نه شي، قران کریم کې ارشاد دی: (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ). (الاحزاب ۳۳)

ترجمه: په خپلو کورونوکې ناستې واوسېږئ اومخکې دجاهلیت په شان له کورنه په ډول اوسنګار کولو سره دباندې مه ووځئ!

له (مخکې جاهلیت) نه مراد داسلام نه مخکې دوردی، چې هغه کې به ښځو له پردې پرته دخپل نسوانیت ښودنه کوله، دمخکې جاهلیت لفظ له وجې داپیشنګویي وشوه چې انسانیت باندې به دجاهلیت یوبل دورهم راځي، چې هغه کې به ښځې خپل فطري خاصیتونه دنوي جاهلیت سیلاب کې وبیوي.

دقران په شان صاحب قران ﷺ هم ښځه ټوله عورت ګڼلوسره له ضرورت پرته دهغې له کوره وتل ناجائز فرمایلي دي: **وعن ابن مسعود رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: المراة عورة فاذا خرجت استشرفها الشيطان**.(رواه الترمذی،مشکوة ص ۲۶۹)

ترجمه: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي، ښځه ټوله عورت ده، کله چې هغه بهرته ووځي؛ نوشیطان یې څارنه کوي.

۲: که چېرې دضروري کارونوله پاره هغه له کوره دباندې قدم ږدي؛ نو هغې ته حکم شوی دی چې دداسې غټ څادرپه سر کولووروسته دې دباندې ووځي چې په هغه باندې ټول بدن له سرنه ترپښوپورې پټ شي، د سورت احزاب په (۵۹) ایت کې دي:

(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ)

ترجمه: اې نبي! خپلوبیبیانو، لوڼواومسلمانانوښځوته ووایه چې کله (هغوی دباندې وځي)؛ نوخپل ځان باندې دې غټ څادرونه اچوي.

مطلب داچې هغوی ته غټ څادرونوکې دباندې وتل پکار دي اومخ باندې دڅادر پرده پکار ده، دپردې حکم نازلیدونه وروسته دحضور ﷺ په مقدس دورکې دښځوهم دامعمول و، دام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها ارشاد دی چې: ښځې به دحضور ﷺ په اقتدا کې جومات ته

لمانځه له پاره راتلې: نوخپلو ځادرونوکې به داسې پټې وې چې هغوی به نه پیژندل کیدې.[1]
جومات کې حاضري اود حضور ﷺ په اقتداکې لمونځ کول اود حضور ﷺ د ارشاداتو اوریدو نه د هغوی منع نه وه، خو حضور ﷺ به ښځوته داتلقین هم کاو چې خپل کورونوکې لمونځ کول دهغوی له پاره غوره دي. (ابوداؤدمشکوة ص۹۶)[2]
دحضور ﷺ د ژور نظر اود ښځو دعزت اوحرمت اندازه له دې نه وکړئ، چې مسجدنبوي، چې هغه کې یو ادا شوی لمونځ د پنځوس زرولمونځونو برابردی[3]، حضور ﷺ دښځوله پاره ددې په ځای خپل کورکې لمونځ کول غوره او ښه ګڼلي دي اوبیا د حضور ﷺ په اقتداکې چې کوم لمونځ ادا شي، دهغه مقابله څوکیدای شي دټول امت لمونځونه هم ونه رسیږي. خو حضور ﷺ په خپله اقتداکې دلمونځ کولوپه ځای دښځوله پاره خپل کور کې یوازې لمونځ غوره ګڼي، دادی دشرم اوحیااوعفت او عظمت هغه لوړ مقام کوم چې حضور ﷺ مسلمانو ښځوته ورکړی و اوکوم چې نن سبادبدقسمتي له وجې داوسني تهذیب په بازارکې په ټکه سیر خرڅیږي. دکوراوجومات مینځ کې. خو ډیره فاصله وي، حضور ﷺ خو داسلام دستر دقانون دومره حدپورې خیال ساتلی دی چې دښځې دخپل کوربرخې یې هم تقسیم کړي دي اوفرمایلي یې دي چې فلانۍ برخه کې لمونځ کول دفلانۍ برخې نه غوره دي، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

عن عبدالله عن النبی ﷺ قال: صلوة المراة فی بیتهاافضل من صلوتهافی حجرتها،وصلوتهافی مخدعهاافضل من صلوتهافی بیتها.(ابوداؤدج۱ص ۸٤)

ترجمه: دښځې ترټولو غوره لمونځ هغه دی چې په خپل کور کې یې اداکړي اودهغې له پاره دخپل کورپه کوټه کې لمونځ کول دکور له غولي نه بهتردي اوروستۍ کوټه کې لمونځ کول له مخکې کوټې نه غوره دي.

په هرحال دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې ښځه دې دخپل وس مطابق له کورنه دباندې نه وځي اوکه چېرې وتل ضروري شي؛ نوغټ ځادر دې له ځانه نه داسې تاوکړي چې نه پیژندل

[1] عن عائشة قالت:ان كان رسول الله صلى الله عليه وسلم ليصلى الصبح فينصرف النساء متلفعات بمروطهن ما يعرفن من الغلس(بخارى ج:۱ص: ۱۲۰،كتاب الأذان،باب خروج النساء الى المساجد بالليل والغلس،طبع نورمحمد)

[2] عن ابن عمرقال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتمنعوانسائكم المساجد، بيوتهنّ خيرلهنّ رواه أبوداؤد (مشكوة ص:۹٦،باب الجماعة،الفصل الثانى،طبع قديمى كتب خانه كراچى)۔

[3] عن أنس بن مالك قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صلوة الرجل فى بيته بصلوة،وصلوته فى مسجدالقبائل بخمس وعشرين صلوة، وصلوته فى المسجدالذى يجمع فيه بخمس مأة صلوة، وصلوته فى المسجدالأقصى بخمسين ألف صلوة، وصلوته فى مسجدى بخمسين ألف صلوة، وصلوته فى المسجدالحرام بمأة ألف صلوة رواه ابن ماجة (مشكوة ص:۷۲، باب المساجدومواضع الصلوت، الفصل الثالث)۔

کیږي. غټ څادرونه باربار سنبهالول مشکل و .له دې وجې دشریفانو په کورونوکې د څادرونو په ځای دبرقعو(څادري) رواج شروع شو. دا مقصد دکورنۍ برقعې په ذریعه باندې حاصلیدای شو. خو شیطان داهم دفیشن په بتۍ کې اچولوسره دښځودنمائش یوه ذریعه جوړه کړه. زما ډیرخوینديږ داسې برقعې اچوي چې هغو کې دهغوی عورت (ستر)نور هم ښکاره شي.

۳ کله چې ښځه له کورنه دباندې وځي: نوپیوازې دا تاکید ورته نه دی شوی چې هغوی څادریابرقع په سرکړي، بلکې دې قیمتي ملغلرې ته دشرم او حیامحفوظ ساتلوله پاره نورهدایات هم ورکړل شوي دي. مثلاً ښځو اوسړیو دواړوته داحکم شوی دی چې خپل نظرونه لاندې وساتي اودخپل عصمت ګلونه دبدنظردموسم نه محفوظ وساتئ. سورة النورایت نمبر ۳۰ او ۳۱ کې ارشاد دی:

(قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ) (سورت النور: ۳۰)

ترجمه: اې نبي! مومنانوته ووایه چې خپل نظرونه لاندې ساتئ او دخپلو شرمګاوو ساتنه وکړئ. دادهغوی له پاره ډیره دپاکي خبره ده ،اوخه چې هغوی کوي الله تعالی پرې خبردی.

(وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا) سورت النور: ۳۱)

ترجمه: اومومنانوښځوته ووایه چې هغوی خپل نظرونه لاندې ساتي اودخپل عصمت ساتنه وکړي اوخپل ښایست ښکاره نه کړي، خو که دمجبوري له وجې پخپله ښکاره شي.الخ.

یوهدایت دا هم ورکړل شوی دی چې ښځې دې داسې نه ګرځي چې له وجې یې دهغوی پټ ښایست دنامحرموله پاره دزړه دخوشالولوذریعه شي، دقران کریم دپورته ذکرشوي ایت په اخر کې فرمایل شوي دي.(وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ) (سورت النور:۳۱)

ترجمه: اوخپله پښه دې داسې نه رږدي چې له وجې یې دهغوی پټ ښائست ښکاره شي.

یوهدایت ورته داهم شوی دی که چیرې یوناڅاپه په نامحرم باندې نظرپریوځي" نوهغه دې سمدلاسه لرې کړي اوپه دویم ځل دې قصدا ورته نه ګوري، حضرت بریده رضی الله عنه فرمایي چې حضرت علي (کرم الله وجهه) ته حضور ﷺ وفرمایل: اې علي! دناڅاپه نظرنه وروسته په دویم ځل مه ګوره، لومړی نظر(دبې اختیاري له وجې) تاسوته معاف دی، خوپه دویم ځل باندې دکتلوګناه شته. (مسنداحمد،دارمی،ترمذی،ابوداؤدمشکوۃص: ۲۶۹)[1]

---

[1] عن بريدة قال: : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لعليّ :ياعليّ! لاتتبع النظرة النظرة فإن لك الأولى وليست لك الآخرة (مشكوة ص:۲۶۹، كتاب النكاح،باب النظرإلى المخطوبة)_

له پردې پرته د ښځو عامې ګرځېدل

سوال: له پردې پرته دمسلمانوښځوعامې ګرځېدل ترکومه حده جائزدي؟

جواب: نن سباپه محلو، بازارونو، کالجونو اودفترونوکې دبې پردګۍ کوم طوفان راغلی دی اود یهوداونصارا په تقلیدکې زموږ لوڼه او اینګوریانې چې څه ډول سنګار کولو سره بې پردې ګرځي، قران کریم دې ته دجاهلیت عروج ویلی دی اودا دانساني تهذیب، شرافت اوعزت په مخ باندې څپېړه ده.

ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه اومستدرک کې دصحیح سند سره دحضور ﷺ ارشاددی چې:

عن ابی الملیح قال: قدم علی عائشة نسوة من اهل حمص فقالت: من این انتن؟... . قالت: فانی سمعت رسول الله ﷺ یقول لاتخلع امراة ثیابها فی غیربیت زوجهاالا هتکت الستربینهاوبین ربها. (مشکوة.ووالفظ له.ترمذی ص ۱۰۲)

ترجمه: کومې ښځې چې له خپل کورنه پرته بل کورکې جامې ویستلې هغې دخپل ځان اوالله تعالی ترمینځ کې چې کومه پرده وه هغه ختمه کړه.

دښځې دسر ویښته هم عورت دي[1] اودنامحرمومخکې ستر(عورت) ښکاره کول په شرعي ډول حرام اوپه طبعي ډول بې غیرتي ده.

له نامحرمونه پرده

سوال: دترور، تیندار(چاچي) اوماماني (مامي) دپردې څه حکم دی؟ هغه به دلیور د بچیو نه پرده کوي اوکه نه؟ اوکه چیرې کورکې ټول اوسیږي؛ نوترکومه حده پرده ده؟

جواب: ترور، تیندار(چاچي) اوماماني (مامي) اوداسې نور... هم غیرمحرم دي، دهغوی نه هم د پردې حکم دی اوکه چېرې ددیوال پرده ممکن نه وي؛ نودڅادر(پړوني) پرده کافي ده.[2]

سوال: کاکاخسر(دخاوندتره) اوماما خسر(دخاوندماما) نه دپردې څه حکم دی؟

جواب: هماغه حکم دی کوم چې پورته بیان شوی دی.[3]

دښځې له پاره پرده کې کوم کوم اندامونه پټول ضروري دي

سوال: زما خاوندوایي چې ښځه دپردې نوم دی؛ نو دې ته هروخت پرده کول پکاردي. که نه،

---

[1] ترمذی ج:۲ ص:۱۰۸،أبواب الآداب،باب ماجاء فی دخول الحمام،مشکوة ص:۳۸۳،باب الترجل)۔

[2] ،، يَآيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَبِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹)۔

[3] ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن ولایبدین زینتهن إلّالبعولتهن أوابائهن...الآیة (النور:۳۱) ایضًا:تفصیل دپاره اوګورئ:امدادالفتاوی ج:٤ ص:۱۷۷ طبع مکتبه دارالعلوم کراچی)۔

معاشره کې به خرابي پیدا کیږي، تردې چې هغه دې له ورورا وپلارنه هم پرده کوي، ځکه چې نفس خوتیلوسره شته، خود حرج له وجې اسلام دانه دي واجب کړي، خوکول یې پکاردي.

دویم: چې ښځه بازارته لاړه شي؛ نواسلام خودې ته په سړیو فوقیت نه ورکوي اودانګریزي محاوره ده (لیډیزفرسټ) مثلاً: یوځوسړي ډوډۍ اخلي، قطارکې ولاړدي،یوه ښځه راغله؛ نوهغې ته مخکې ډوډۍ ملاوشوه، دخاوندپه نزدباندې دادهغو دریوواړوحق غصبول دي، خوزما خیال دی چې دامحاوره اګرچې دانګریزده، خودې کې د ښځې احترام دی، داسې کیدل پکاردي اودې کې څه بده خبره نه شته.

دریم: داچې ښځه دې خپل پلاراو وروڼوسره هم ډیروخت پورې خبرې نه کوي اونه دې ورسره خنداګانې کوي.یوازې دضرورت مطابق سلام دعااودخیریت پوښتنه کولی شي اوزماخیال دی چې داخبره مناسب نه ده،دپردې نه انکارنه کوم خوتریوحدپورې.

څلورم: دښځې بازارته تلل حرام دي اوماواریدلي دي چې: دښځې هغه سفرکوم چې شرعي سفر وي له محرم نه پرته‌کول حرام دي؛ نوایا ښځه دضرورت مطابق جامې وغیره اخیستوله پاره له کورنه بازارته نه شي تللی اودښځواوسړیوپه خوښه کې ډیرزیات فرق وي،اوس که چیرې ښځه په پرده کې بازارته لاړه شي؛ نودې کې څه بده خبره ده؟ دمخ پټول واجب نه مستحب دي.

پنځم: ایادښځې دناپیژاندنامحرم نه چې څومره پرده کول ضروري دي، هغومره درشته دار(خپل) نامحرم (مثلاً: دتره زوی، مامازوی او داسې نورو...) نه هم ضروري ده؟ ایادې کې څه فرق شته؟ حالانکې دوی نه پرده کول ډیره ګرانه وي.

جواب: دپردې په مسئله کې تاسواوستاسوخاونددواړه له اعتدال نه جداشوي اودګمراهي ښکارشوي یئ.

۱: دښځې دشرم اوحیاغوښتنه خوداده چې هغه دې یووخت هم خلاص سرنه وي، خوپلار، ورور،زوی،وراره اوداسې نور...محارم دهغوی مخکې سر،څټ،لاسونه اودګیټو وغیره لاندینی برخه ښکارول په شرعي ډول جائزدي[1] اوالله تعالی چې دکوم شي اجازه ورکړې وي دهغه نه خوښول دخاوند له پاره حرام او ناجائزدي او که چیرې یومحرم داسې بې حیاوي چې هغه دعزت او عصمت خیال نه ساتي، هغه‌دنامحرم په حکم کې دی اوله هغه نه پرده کول پکاردي.

[1] (ومن محرمه) هي من لايحل له نكاحها أبدًابنسب أوسبب ولوبزنا(إلى الرأس والوجه والصدروالساق والعضدإن أمن الشهوته)........وإلّا لَا،لَاإلى الظهروالبطن والفخذوأصله قوله تعالى:ولايبدين زينتهن إلالبعولتهن الآية، وتلك المذكورات مواضع الزينة بخلاف الظهرونحوه ... إلخ (درمختارمع الرد ج:٦ ص٣٦٧ كتاب الحظر والاباحة، فصل في النظر واللمس)۔

۲: ښځه، مور، لور، خور، داخلورواړه رشتې ډيرې مقدسې رشتې دي، له دې وجې اسلام د ښځې دبې حرمتي تلقين بالكل نه كوي، بلكې دهغې دعزت اوداحترام تلقين كوي، تاسوته به معلومه وي چې كله دحاطم طايي انجيلۍ قيديانوكې سرتور سر دحضور ﷺ په خدمت كې راوسنل شوه: نوحضور ﷺ هغې ته خپل څادر مبارك داغوستلوله پاره وركړ، دغه شان كه چېرې دښځوضرورت دسړيونه مخكې پوره كړل شي؛ نودادهغوى د ضعيف والي او نسوانيت رعايت دى، ددې دانګريزي محاورې (ليډيز فرسټ) سره هيڅ تعلق نه شته، تاسوته به معلومه وي چې جهاد كې دښځو اود ماشومانودقتلولونه منع فرمايل شوې ده[۱]؛ خود (ليډيز فرسټ) دنظريې مطابق دانګريزانويه معاشره كې چې ښځې په هريوكاركې مخكې ګڼي اسلام دهغې قائل نه دى[۲]؛ نو په لمونځ كې دښځوصفونه دسړيونه وروسته ايښودل شوي دي[۳]، له دې وجې د(ليډيزفرسټ) نظريه هم غلطه ده اوستاسو دخاوند دا خيال هم غلط دى چې دښځې احترام دې نه كيږي اودهغوى د ضعيف والي اونسوانيت رعايت دې نه ساتل كيږي اوهغوى دې مخكې نه فارغيږي.

۳: له كومومحارمونه چې پرده نه شته، هغوى سره له تكلف پرته دخبرو كولواجازت دى، ستاسود خاوند دا وينا چې: هغوى سره ډيرې خبرې مه كوئ صحيح نه ده، بلكې زياتى(افراط) دى، خو دناروا مذاق كولو دمحرم سره هم اجازه نه شته.[۴]

۴: دښځوله پاره له ضرورت پرته بازارته تلل جائزنه دي[۵] اودناپيژاندو سړيومخكې مخ ښكارول هم جائزنه دي، دې مسئله كې ستاسو خبره غلطه ده اوداكمى (تفريط) دى، ښځې ته كه چېرې بازار ته دتلو ضرورت وي؛ نود كورنه وتلواوبيرته راتلوپورې دپردې پابندي لازمي ده او هغې كې مخ پټول هم لازم دي[۶].

۵: د ناپيژاند نامحرم نه دديوال پرده ده اوكوم نامحرم چې خپلوان دي اودښځې دهغوى مخې ته ورتلل مجبوري وي دهغوى نه دڅادر (پړوني) پرده لازم ده، ددې تفصيل دحضرت

---

[۱] عن ابن عمران النبى صلى الله عليه وسلم رأى إمرأةمقتولةًفى بعض الطريق فنهى عن قتل النساء والصبيان (ابن ماجة ص:۲۰۳،أبواب الجهاد،باب الغارت والبيات وقتل النساء والصبيان)۔

[۲] الرجال قوامون على النساء (النساء:۳۴)۔

[۳] ويصف الرجال ثم الصبيان ثم النساءلقوله عليه السلام ليليني منكم أولوا الأحلام والنُّهى(هدية ج:۱ ص:۱۲۴)

[۴] وعن ابن مسعودقال:قال رسول صلى الله عليه وسلم :ليس المؤمن بالطَّعَّان ولَابالَّعَّان ولَا الفاحش ولَاالبذى رواه الترمذى (مشكوة ص:۴۱۳،باب حفظ اللسان،الفصل الثانى)۔

[۵] ،، وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهلِيَّةِالْاُوْلى،، (الأحزاب:۳۳)۔

[۶] ،، يَاَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَبِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹) قلت: يعنى أذن لكن ان تخرجن متجلببات... الخ (تفسيرمظهرى ج: ۷ ص:۳۸۴)۔

تهانوي رحمه الله د رسالې (تعلیم الطالب) نه نقل کوم او هغه دا دی:
کوم خپلوان چې په شرعي ډول محرم نه دي مثلاً: د ترور زوی، ماما زوی، اوښی، لیور او داسې نور ... د پیغلې ښځې د دوی مخې ته راتلل او له څه تکلف پرته له هغوی سره خبرې کول بالکل جائزنه دي او که چېرې د کور د وړو کوالي یا د هر وخت تلو راتلو له وجې ژوره پرده نه شي کیدای؛ نوسرنه د پښو پورې ټول بدن په یو ساده پړوني باندې پټولو نه وروسته شرم او حیاکې راتللی شي او مړوند، لاس او د سر ویښته اوپښې د دې ټولو ښکاره کول حرام دي، دغه شان د دغو خلکو مخکې عطر لګولو سره د ښځې راتلل هم جائزنه دي او نه دې شرنګیدونکي کالي (جامې) اغوندي. (تعلیم الطالب ص:۵)

د ښځو سړیو سره یو ځای کار کول

سوال: په نن سبا دور کې ښځه د سړیو سره یو شان ګڼل کیږي، هر یو کار چې د اسلام په نظر کې صحیح نه دی، هغه ته ښځې لاس اچولی دی، پوښتنه داده چې ایا د ښځې له پاره له سړیو سره اوږه په اوږه کار کول صحیح دي؟

جواب: الله تعالی د ښځې او سړي کارونه جدا جدا ټاکلي دي، د ښځې د کار کولو میدان د هغې کور دی او د سړي د عمل میدان له کور د باندې دی، کوم کار چې سړی کولی شي، هغه ښځه نه شي کولی او کوم کار چې ښځه کولی شي هغه سړی نه شي کولی، دواړو ته خپلې دائرې کې او سیدو سره کار کول پکار دي[۱] کوم خلک چې د سړي بوج د ښځې په کمزورو اوږو اچوي هغوی په ښځه باندې ظلم کوي.

پرده کول ضروري دي او که یوازې نظرونه لاندې ساتل کافي دي؟

سوال: د پردې باره کې (مخ ښکاره ساتل) او نظرونه لاندې ساتل شرعي پرده، یا مخ پټول هم ضروري دي؟ دیوې صوبې پخواني (ډي آئي جي) یوه شپه د خبرونو دوران په دې خبرې اصرار کاو چې سورت نور کې یوازې د نظرونو لاندې ساتلو حکم دی، د پردې نه، ځکه چې دې کې خوسړیو ته هم د نظرونو لاندې ساتلو حکم دی، بیا سړي برقع ولې نه پرسروي.

جواب: په شرعي ډول د مخ پرده لازم ده[۲]، دا غلطه ده چې سورت نور کې یوازې د نظرونو لاندې ساتلو حکم دی، دا حکم خوسړیو او ښځو دواړو له پاره دی او ښځو ته د دې نه پرته حکم شوی دی

---

[۱] حکم النبی صلی الله علیه وسلم بین علی بن ابی طالب وبین زوجته فاطمة حین اشتکیاإلیه الخدمة فحکم علی فاطمةبالخدمة الباطنة خدمة البیت،وحکم علی علیّ بالخدمة الظاهرة (زادالمعاد ج:۲ ص:۲۳۵، طبع مؤسسة الرسالة)

[۲] ،، یٰاَیُّهَاالنَّبِیُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِیْنَ یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹)_

چې دهغو برخو نه پرته چې دهغو پټول ممکن نه وي خپل ښايست دې نه ښکاره کوي[۱] په احاديثو کې راځي چې ددې ايت له نازليدو وروسته به صحابياتو ښځوبه خپل مخ پټولو او بوازې يوه سترګه به يې ښکاره ساتله او دباندې به راوتلې[۲] دې نه پرته په سورت احزاب کې حکم شوی دی چې خپل څادرونه په خپل ګريوانوباندې خوروئ اوخپل مخونه اوسينې پټوئ.[۳]

د اوښي وغيره نه څومره پرده کول پکاردي؟

سوال: ايا نژدې خپلوان کوم چې غيرمحرم دي، مثلاً: اوښی وغيره دهغوی نه څنګه پرده کيدای شي. چې نظرونه لاندې وساتل شي او مخ ښکاره وي؟ اوپرده کې دغيرمحرم سره خبرې کول څنګه دي؟

جواب: دنژدې خپلوانونه پرده کول پکاردي اواوښي سره دبې تکلفي خبرې نه دي کول پکار[۴].

که مخ پټول پرده وي؛ نوحج کې ولې نه کيږي؟

سوال: مخ پټول پرده ده: نودحج په موقع پرده ولې نه شته؟ دغه شان ديوحديث مفهوم الله تعالی دې مامعاف کړي داسې چې يوصحابي د حضور ﷺ په خدمت کې حاضرشو او ويې ويل چې زه واده کوم، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې تاهغه ليدلې ده؟ هغه وويل چې نه! حضور ﷺ هغه ته وفرمايل چې لاړشه هغه ووينه، وروسته دې حديث کې هم په مخ ښکاره ساتلوکې هيڅ بده خبره نه ښکاري لږددې هم وضاحت وفرمايئ چې عقلي تنده هم ليرې شي.

جواب: احرام کې دښځې مخ پټول جائزنه دي، بياهم دپردې حکم دی چې ترکوم حده ممکن وي نامحرموباندې نظرغورځيدل نه دي پکار[۵] کومې ښځې سره چې نکاح کول وي، دهغې يونظر ليدو اجازت شته[۶] خودې دواړوخبرونه دانتيجه اخيستل غلط دي چې اسلام کې دمخ پرده نه شته.

---

[۱] ،، ولايبدين زينتهن الاماظهرمنها، وليضربن بخمرهن على جيوبهن،، (النور: ۳۱)۔

[۲] قال ابن عباس وأبوعبيدة أمرنساء المؤمنين أن يغطين رؤسهن ووجوههن بالجلابيب إلا عيناواحدًاالهن الحرائرومن للتبعيض لان المرأة ترخى بعض جلبابها تفسيرالمظهرى ج:۷ ص:۴۱۹، زيرآيت: يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ) ان عائشة كانت تقول: لمانزلت هذه الآية: وليضربن بخمرهن على جيوبهن، أخذنَ أُزرهن فشققنهامن قبلَ الحواش فاختمرن بها (بخارى ج:۱ ص: ۷۰۰،بابٌ قوله وَالْيَضْرِبْنَ)۔

[۳] ،، يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹)۔

[۴] ،، وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلالبعولتهن أو ابائهن...الآية (النور: ۳۱)۔

[۵] (وسترالوجه)واطلقه فشمل المرأة لما فى البحر عن غاية البيان من انها لا تغطى وجهها إجماعًااه. أى وانما تستر وجهها عن الأجانب بإسدال شيء متجاف لايمس الوجه (شامى ج:۲ص:۴۸۸ مطلب فيمايحرم بالإحرام ومالايحرم)

[۶] ولايجوزالنظرإليه بشهوة أى إلالحاجة .... وكخاطب يريد نكاحها فينظر ولوعن شهوة بنية السنة لاقضاء الشهوة (شامى ج:۱ ص:۴۰۷،باب شروط الصلاة،مطلب فى سترالعورة)۔

پردې له پاره غټ څادربنه دی کې برقع؟

سوال: دپردې له پاره غټ څادربنه دی یادنن سبابرقع یاد ګول ټوپی والاپخوانی برقع؟

جواب: اصل دادی چې دښځې ټول بدن دمخ سره پټیدل ضروري دي، دهغې له پاره غټ څادرچې هغې کې له سرنه پښنو پورې ټول بدن پټ شي کافي دی[1]۔، خوڅادرسنبالول دښځې له پاره ګران وي، له دې وجې شریفانو څادرته دبرقعې شکل ورکړ،پخوانی زمانه کې دټوپی والاد برقعې رواج و، اوس نقاب والابرقعې دهغو ځای اخیستی دی.

ایا کلیو(با نډو) کې هم پرده ضروري ده؟

سوال: موږپه کلي کې اوسیږو،کلیوکې دپردې څه خاص انتظام نه وي،یعنې رواج نه شته، زیاتر خلک زمینداري کوي، له دې وجې ښځې دسړیوسره کارکوي اودکورکارهم کوي اوبه راوړل اود استعمال شیان هم ښځې اخلي اودډیروخت نه داکارونه شروع دي اوښځه یوازې لوېټه په سرولوسره له کوردباندې وځي،دې باره کې دشریعت څه حکم دی؟ وضاحت سره یې جواب ولیکئ.

جواب: پرده کول پکاردي چې داشرعي حکم دی[2]، زموږپه کلیوکې ددې رواج نه شته؛ نو داد شریعت خلاف دی.

ایا د مخ پرده هم ضروري ده؟

سوال: دښځودپردې باره کې جواب ورکړل شوچې مخ ښکاره ساتلی شي، خوډول سنګاردې نه کوي چې ښایسته نه ښکاري، ایادمخ پرده نه شته؟

جواب: شرعي ډول دمخ پرده لازم ده، خاص ډول کومه زمانه کې چې زړه اونظرونه دواړه ناپاک وي؛ نودناپاک نظرونونه دمخ عزت بچ کول لازم دي.[3]

دچا عمل حجت نه دی شرعي حکم حجت دی

سوال: اسلام کې مسلمانانوله پاره دنامحرم سره خبرې کول خو لیرې خبره ده دسریو ویښته هم لیدل نه دي پکار، خو(جنګ) اخبارکې په اتوار(۳۰ جولائی ۱۹۹۵ء) په اشاعت کې یو

---

[1] ،، يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَبِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩)،، ولايبدين زينتهن الَاماظهرمنها، وليضربن بخمرهن على جيوبهن،، (النور: ٣١)۔

[2] لقوله تعالى وليضربن بخمرهن على جيوبهن ..النور: ٣١،، يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَجِكَ وَبَنَاتِكَ وِنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩)۔

[3] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لَالأنه عورة بل لخوف الفتنة....إلخ الدرالمختارمع الرد ج: ١ ص: ٤٠٦، باب شروط الصلاة،مطلب فى سترالعورة)۔

تصویر چاپ شوی دی، هغه کې ښودل شوي دي چې د مسجد اقصی پخوانی امام السید اسعد بیوض تمیمي سره لاهور کې یوه ښځه لاس ملاووي دا تصویربه په لکونومسلمانانوکتلی وي اوزموږپه شان دکچه عمر ماشومان خوبه هم داګڼي چې ښځې سره یعنې نامحرمه ښځې سره لاس ملاوول ګناه نه ده، کله چې پخوانی امام السیداسعدبیوض تمیمي صاحب نامحرم سره لاس ملاووي، تاسودې باره کې لږ وضاحت وکړئ چې امام صاحب داصحیح کوي اودی سیدهم دی؟ ستاسوبه ډیره مهرباني وي.

جواب: نن سباپه عربي کې ,,السید،، دجناب په معنا کې استعمالیږي، پنډت جواهرلال نهرو عرب ملکونوته په دوره لاړ، ډیرو خلکوته به یادوي چې دعربي په اخبارونوکې به دهغه خبرونه د ,,السید نهرو،، په نوم باندې چاپ کیدل.

داسلام په نزدباندې نامحرم سره لاس ملاوول حرام دي[1] اود یو نامحرم بدن سره جنګیدل داسې دي لکه دخنزیرپه وینه کې لاس وهل، دمسجداقصی دپخواني امام داکاردشریعت خلاف دی، اوچې د شریعت خلاف کارکه هرڅوک وکړي هغه ته جائزنه شي ویل کیدای.

سفرکې دلارې کتلوله پاره نقاب لګول

سوال: سفرکې دلارې لیدو له پاره مخ یاسترګې ښکاره ساتل مجبوري ده،ایاداسې موقع باندې نقاب لګول کیدای شي؟

جواب: هو! نقاب استعمالولی شي.

نیکراچولوسره یوځای لامبل

سوال: د اوبوکوهیان کوم چې کلیوکې دننه وي، هلته خلک په عام ډول یوازې نیکر اغوستلو سره لامبي اود اوبو وړلو له پاره هلته ښځې سړي اوماشوم ټول راځي، داسې حالاتوکې یوازې نیکر اغوستلو سره کوهي باندې لامبل جائزدي اوکه نه؟

جواب: داطریقه دشرم اوحیاخلاف ده،دسړي پنډۍ اوورنونه(پتونونه) عورت کې شماردي، هغه دخلکو مخکې ښکاره کول جائزنه دي.[2]

---

[1] ولایحل له أن یمس وجهها ولا کفها وإن کان یأمن من الشهوة وهذا إذاکانت شابة تشتهی ...إلخ (عالمگیری ج:٥ ص:٣٢٩ کتاب الکرهیة) أیضًا: ولاتمس شیئًامنه إذاکان أحدهماشابًافی حدالشهوة وإن أمنا علی أنفسهما الشهوة (عالمگیری ج:٥ ص: ٣٢٧، کتاب الکراهیة الباب الثامن. فیمایحل للرجل النظرإلیه)

[2] وعورته مابین سرّته حتّی تجاوزرکبته کذافی الذخیرة،ومادون السّرّة إلی منبت الشعرعورة فی ظاهرالروایة،ثم حکم العورة فی الرکبة أخف منه فی الفخذوفی الفخذأخف منه والسوأة أن من رأی غیره مکشوف الرکبة ینکرعلیه (عالمگیری ج:٥ ص: ٣٢٧،) أیضًا: (قوله إلی ماتحت رکبته) فالرکبة من العورة بروانة دارقطنی ما تحت السّرّة إلی الرکبة من العورة لکنه محتمل والإحتیاط فی دخول الرکبة، ولحدیث..[بقیه په راروانه صفحه..

ښځه او پرده

سوال: ایا ښځوله پاره هاکي کول، کرکټ کول، ویښتان کټ کول او ښکاره سرد باندې وتل، کلبونو، سنیماګانو یا هوټلونو او دفترونو کې د سړیو سره کارکول، د نامحرمه سړیو سره لاس ملاوول او بې پردې خبرې کول، د ښځو د سړیو په مجلسونو کې بربنډ سر میلاد کې شریکېدل، بربنډ سراونیمې بربنډې جامواغوستلو سره نامحرمه سړیو سره نعت خواني کول، اسلامي شریعت کې جائز دي؟ ایا په عالمانو باندې واجب نه دي چې هغوی دا بدعتونه او غیراسلامي کردار اداکونکو ښځو خلاف حکومت پابندي باندې مجبور کړي.

جواب: ددې سوال له جواب نه مخکې دیوې غیرتي مسلمانې ښځې خط هم ولولئ، کوم چې زمونږ مخدوم حضرت اقدس ډاکټر عبدالحي عارفي مدظله ته ملاوشوی دی هغه لیکي.

دخلکو داخیال پوخ شوی دی چې په ټولو اسلامي ملکونو کې دپاکستان حکومت دپردې خلاف دی. داخیال دهغې کوټ له وجې پیداشوی دی کوم چې دحکومت له طرفه دحج په موقع باندې دښځوله پاره اغوستل ضروري ګرځول شوي دي، دا یوه زبردسته غلطي ده، که چیرې د پیژند ګلوله پاره ضروري و: نو شنه برقع اچول پکارو.

دحج کوم کتاب چې حاجیانوته دراهنمایي له پاره ورکول کیږي هغه کې دتصویرپه ذریعه سړی او ښځه داحرام په حالت کې ښودل شوي دي، لومړی خو تصویر غیراسلامي کاردی، دویم دښځې دتصویرلاندې یوه جمله لیکلو سره دپردې دفرضیت نه انکار شوی دی، هغه تکلیف ورکونکې جمله داده چې که چیرې پرده کول وي: نو په مخ باندې څه پرده راولئ چې مخ باندې موجامه نه لګیږي، داخو صحیح مسئله ده، خو که چیرې پرده کول وي ولې لیکل شوي دي؟ پرده خو فرض ده؟ بیا دچادخوښې اوناخوښې څه سوال دی؟ بلکې پرده مخکې فرض ده او حج وروسته ښکاره مخونه، دهغوی دتصویرپه ذریعه باندې اخبارونو کې نمایش، تې وي باندې نمائش، داټول دپردې دحکمونو خلاف ورزي ده، دفلم په پردې باندې داسلام او اسلامي قانون دومره توهین کیږي او عالمان یې یوازې تماشې ته ناست دي، هرڅه ویني اوبدې خلاف، بدې ختمولو له پاره دالله تعالی حکمونه بیانولو فرض نه اداکوي، دالله تعالی په فضل اوکرم باندې په پاکستان کې دعالمانو تعداد دومره دی چې دملت داصلاح له پاره به هیڅ تکلیف نه وي، کله چې څه بدي پیداشي هم هغه وخت کې دهغې ختمول پکاردي، کله چې هغه جرړې ښخې کړي؛ نو بیا مصیبت جوړشي، دعالمانو فرض دي چې هغوی امت د بدو نه بچ کړي، خپل کورونه دې ددې وخت عالمان دبدونه بچ کړي، خپل ذات دبدونه لیرې وساتي چې ښه اثرپیداشي.

....بقیه د تیرمخ]..عليّ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الركبة من العورة (شامي ج:١ ص:٤٠٤، باب شروط الصلاة) أيضًا: كشف العورة حرام (فتح القدير ج:٦ ص: ٣٨، طبع بيروت)_

تعلیمي ادارې کوم ځای کې چې قوم جوړېږي غیراسلامي جاماو د غیرژبې کې دابتدایي تعلیم له وجې قوم له پاره د فایدې په ځای نقصان ورکونکي دي استاذانوله پاره داسلامي عقیدو او طریقو اختیارولو سخت ضرورت دی، جینکوله پاره څادر ضروري وګرځول شو، خو په غاړه کې پروت دی،د څادر مقصد یوازې هغه وخت کې پوره کېدای شي کله چې بوډۍ ګانې ښځې پرده کوي، دماشومانوذهنونو نه څادریوبوج ګڼي،کله چې هغوی ګوري چې استاذه او دهغوی مورپه بازارکې بربنډ سراونیم بربنډ جامو کې دي؛ نود څادربوج ورته نورهم زیات ښکاري بې پردګي په ذهنونوکې جرړې خورې کړې دي، ضرورت ددې خبرې دې چې د پردې فرضیت واضح شي اوپه غټوالفاظوکې پوسترونه چاپ او تقسیم شي او جوماتو، هسپتالونو، تعلیمي ادارو او مارکیټونو کوم ځای کې چې ښځې په یووخت کې زیات تعداد سره شریکېږي، شادي هال وغیره هلته دپردې حکمونه اوپردې فرضیت وښودل شي بې پردګي باندې هم هغه ګناه ده کوم چې یوفرض پرېښودلو باندې ده، ددې حقیقت نه څوک هم انکارنه شي کولی چې زموږ په معاشره کې یوکم سل فیصده بدي دبې پردګي له وجې دي اوترڅوپورې چې بې پردګي وي دهغه وخت پورې به بدي هم وي.

راجه ظفرالحق صاحب یوه مبارکه هستي ده،الله تعالی دې هغه دمخالفینوپه سیلاب کې ثابت قدم ساتي،(امین!) له تې وي دګنده اشتهارونوپه لیرې کولوشورجوړشو،دهاکې دتیم ددورې منسوخ کیدوله وجې زموږ صحافیان اوکالم نویس حضرات خفه شول.

کوم اخبارچې ګورئ، تاسوبه درقص اونغمواودحسن اوجمال جلوې وینئ،دروح غذاویلو سره دګانو وکالت کېږي، هسې دنوم عالمان به تاپي اوسوټ ته بین الاقوامي جامې ثابتولوسره خپل شناخت ختموي، واړه واړه ماشومان دتاپي ګناه په غاړه کې اچولوسره سکول ته ځي، دژوندیوه شعبه هم داسې نه شته کومې کې چې دنوروخلکونقل نه کېږي.

راجه صاحب د یو قدرمندې هستی هم مخالفت کوي، دې عزت دارې هستی ته که چیرې دپردې فرضیت اوفایدې وښودل شي؛ نوانشاء الله مخالفت به یې دوستۍ کې بدل شي، ښځه که چیرې یوې سرکاري محکمه کې تعمیري کارداسلامي حکمونوخلاف کولوسره کوي؛ نوهغه کار زموږ سړي هم کولی شي، بلکې دسرکارپه سرکاري محکموکې دهغوی نوکري دسړیوله پاره تباهي ده، سړي یاخودبې روزګاري له وجې جرمونه کوي یاناجائزطریقوباندې بهرملکونو کې تیند کونه وهي.

بدقسمتي سره دې دورکې چې دښخودبې پردګي کوم سیلاب دی، هغه دټولو فکر لرونکو له پاره دپریشاني ذریعه ده، مغرب ددې لعنت نتیجه لیدلې ده، هلته معاشرتي نظام ګډوډ شوی دی، دشرم اوحیا غیرت اوحمیت دلغت نه ختم شوی دی اوحدیث پاک کې چې اخري زمانه کې دانسانیت اخري وروسته تګ طرف ته دې الفاظوکې اشاره شوې ده چې: هغوی به دخاروېو او

خروبه شان د خلکو په مخکې شهوت پوره کوي[1]، داسې منظرونه هم هلته ليدل کيږي، د مغرب ابليس دمغرب ښځه دکورپه ځای باندې دمحفل شمع جوړولوله پاره د «دښځو دازادی» ښايسته نعره اوچته کړه اوکم عقل موروپلارته يې داويلي دي چې پرده دهغوی په ترقي کې بنديز دی، هغوی ته دکورنه دباندې وتلوسره دژوندپه هرميدان کې دسړيو سره اوږه په اوږه کارکول پکاردي ددې له پاره تنظيمونه جوړ شول او تحريکونه شروع شول، مضمونونه وليکل شول،کتابونه وليکل شول اوپرده چې هغه دښځودشرم اوحيا ننبه، دهغې د عزت اوعفت حفاظت کونکې اودهغې دفطرت تقاضاوه، هغې باندې درجعت پسندي اوازونه وشول، ددې گنده ابليسي پروپيگنډې نتيجه داشوه چې دحوا لونه دابليس په جال کې گيرې شوې، دهغې دمخ نه نقاب ليرې شو، سرنه يې لوپټه کوزه شوه، دسترگونه يې شرم اوحياختم شو اوهغه يې بې پرده او بربنډه کولوسره تعليمي ادارو، دفترونو، اسمبليانو، کلبونو، سړکونو، بازارونو اود لوبوميدانونوته رابنکل شوې، ددې مظلوم مخلوق هرڅه لوټ شول، خودابليس دعرياني اوشهوت جذبه اوسه پورې پوره شوې نه ده.

مغرب دمذهب نه ازاد دی، له دې وجې هلته ښځه د خپل فطر ت نه په بغاوت باندې راضي کول اود موروپلار ازادي ورکول اسان و، خومشرق کې ابليس ته دوه مشکلات و، يوه ښځه خپل فطرت سره په جنگ کول اودويم دنبي کريم ﷺ تعليمات، کوم چې د مسلمانانوپه معاشره کې دسوونوکلونو راهيسې موجود و، ښځه او ټوله معاشره دهغې نه په بغاوت کولوباندې راضي کول و.

زموږ بدقسمتي وه، چې دمسلماني معاشرې واږې دداسې خلکو په لاس کې وې، چې هغوی په (ايمان بالمغرب) کې دمغرب والونه دوه قدمه مخکې وو،چې دهغوی تعليم اوتربيت اوپرورش خاص دمغرب په ماحول کې شوی و، چې دهغوی په نزدباندې ددين او مذهب پابندي يوازې يوه بې معنا خبره اوفضول کارو او دهغوی نه دالله تعالی نه شرم و اونه دمخلوق نه، داخلک د مشرقي رواياتونه کټ شول اودمغرب په لارباندې روان شول، له ټولونه مخکې هغوی خپلې لوڼه، اينگوريانې، ميندې اوخويندې دپردې دعفت نه بهرکړې اود گنده نظرونو له پاره يې وقف کړې، دهغوی دنياوي وجاهت اوخوش قسمتي ته کتلو له وجې د درمياني طبقې نظرونوهم وپسخيدل او ورو ورو دتعليم، نوکري اودترقي په بهانه باندې هغه ټول شيطاني مناظرپه نظرباندې راتلل شروع شول دکومې تماشه چې مغرب کې شوې وه، دا دعرياني اوبې پردگي يوسيلاب دی کوم چې وخت سره نورهم زياتيږي، چې هغه کې داسلامي

---

[1] لا تقوم الساعة حتى يتسافدالناس تسافدالبهائم فی الطرق (طبرانی عن ابن عمر،کنزالعمال ج:١٤ ص:٢٤٦) انه تقل الرجال، وتکثرالنساء،حتی يکون لخمسين امرأة القيم الواحديلذن به،وانهم يتسافدون فی الطرقات کماتتسافدالبهائم (النهاية فی الفتن والملاحم ج:١ ص:٢٣٩)_

تهذيب اومعاشرې اوچت اوچت محلونه ړوبيږي، دانساني عظمت او شرافت اودښځې دعفت اوحياغرونه پکې بهيږي، الله تعالى ته ښه پته چې داسيلاب به کوم ځاى کې ودريږي اوانسان به دانسانيت طرف ته کله واپس شي؟ په ظاهره باندې داسې ښکاري چې ترڅودالله تعالى پټې لاس دشرددې مشرانونه دنياپاکه نه کړي، ددې سيلاب د اودريدوهيڅ امکان نه شته ((رب لاتذرعلى الارض من الكفرين ديارا، انك ان تذرهم يضلواعبادك ولايلدواالافاجرا كفارا))

ترکوم حدپورې چې داسلامي تعليماتوتعلق دى، دښځې ټول وجودفطري ډول ستر دى اوپرده دهغې دفطرت اواز دى.

حديث کې دي ((المراة عورة، فاذاخرجت استشرفهاالشيطان))(مشكوة ص٢٦٩ برواية ترمذى)

ترجمه: ښځه ټول ستر دى، کله چې هغه دباندې وځي؛ نوشيطان هغې ته ګوري راګوري.

امام ابونعيم اصفهاني (رحمه الله) په حلية الاولياء کې داحديث نقل کړى دى:

عن انس قال: قال رسول الله ﷺ ماخيرللنساء؟ فلم ندرمانقول. فجاء على رضي الله عنه الى فاطمة رضي الله عنها فاخبرهابذلك. فقالت: فهلاقلت له خيرلهن ان لايرين الرجال ولايرونهن. فرجع فاخبره بذلك. فقال له. من علمك هذا؟ قال: فاطمة! قال انهابضعة منى.

سعيدبن المسيب عن على رضي الله عنه انه قال لفاطمة: ماخيرللنساء؟ قالت: لايرين الرجال ولايرونهن فذكرذلك للنبى ﷺ فقال: انمافاطمة بضعة منى. (حلية الاولياء ج٢ ص٤٠، ٤١)

ترجمه: دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمايل چې ووايئ دښځې له پاره دټولونه بهترڅه شى دى؟ موږته ددې سوال جواب نه راته، حضرت علي رضي الله عنه دهغه ځاى نه پاڅيده اوحضرت فاطمه رضي الله عنها ته لاړو اوهغې ته يې هم ددې سوال ذکر وکړ، حضرت فاطمه رضي الله عنها وفرمايل چې: تاسو ورته داجواب ولې ورنه کړ چې دښځوله پاره دټولونه بهترشى دادى چې هغوى ناپيژندګلوسړيوته نه ګوري اونه هغوى ته څوک ګوري، حضرت على رضي الله عنه واپس راغى اوداجواب يې حضور ﷺ ته نقل کړ، حضور ﷺ وفرمايل داجواب تاته چابيان کړ؟ عرض يې وکړ: فاطمې! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: فاطمه رضي الله عنها خواخر زمادزړه ټکړه ده.

سعيدبن مسيب رضي الله عنه دحضرت علي رضي الله عنه نه نقل کوي چې هغه دحضرت فاطمه رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه چې دښځوله پاره له ټولونه ښه شى څه دى؟ ويې فرمايل چې هغه سړيوته نه ګوري اوسړي هغې ته ونه ګوري، حضرت علي رضي الله عنه داجواب حضور ﷺ ته نقل کړ؛ نوويې فرمايل: په رښتياباندې فاطمه رضي الله عنها زمادزړه ټکړه ده.

دحضرت علي رضي الله عنه داروايت امام هيثمي (رحمه الله) په :مجمع الزوائد(ج ٩ ص ٢٠٣) باندې دمسند

بزار په حواله باندې نقل کړې دی.[۱]
داوسني دورعرياني داسلام په نظرکې دجاهليت اخري حد دی، له کومې نه چې قران کريم منع فرمايلې ده[۲] اوعرياني دزړه اونظرد ګنده کولوذريعه جوړيږي، له دې وجې دهغو ټولو ښځو له پاره کومې چې بې پردې ګرځي اودهغو سړيو له پاره کوم چې هغوی ته ناپاک نظرونه کوي، ته دحضور ﷺ ارشاد دی «لعن الله الناظر والمنظور اليه».[۳]

ترجمه: دالله تعالى لعنت دی په کتونکي باندې اوچاته چې کتل کيږي.
دښځو د صحيح ضرورت نه پرته له کوره وتل[۴]، دنسوانيت دشرف خلاف دي اوکه چيرې هغوی ته له کور دباندې وتلوضرورت راشي؛ نوحکم دادی چې دهغوی ټول بدن به پټ وي.[۵]

د سړي لوڅ سر ګرځيدل دانساني مروت او شرافت خلاف دي اودښځې له پاره ګناه کبيره ده

سوال: زماپه ذهن کې دماشوموالي نه يوسوال دی، چې اسلام کې لوڅ سر عام ګرځيدل جائزدي؟ زه دلس کالوماشوم يم اوماته په صحيح ډول ليکل هم نه راځي، مهرباني وکړئ غلطۍ ترې وباسئ، زمادخط جواب ضرورراکړئ، مهرباني.

جواب: ستادخط غلطيانې، خمونږ صحيح کړې، خوستاسوال دومره اهم دی چې زمونږ دايقين نه کيږي چې داسوال دلس کالودماشوم کيدای شي.
اوس جواب واوره! اسلام د اوچتو اخلاقو اوکردار تعليم ورکوي اودخرابواخلاقو اوګپ شپ نه منع کوي، لوڅ سر په بازارونو، کليو اوکوڅوکې ګرځيدل داسلام په نظرکې يوداسې عيب دی کوم چې دانساني مروت اوشرافت خلاف دی، له دې وجې فقهاء کرام فرمايي چې اسلامي عدالت به دداسې سړي ګواهي نه قبلوي[۶] مسلمانانوکې لوڅ سرګرځيدل د انګريزانو د

---

[۱] وعن عليّ أنه كان عندرسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: أى شيء خيرللنساء؟ قالت: لَايراهن الرجال، فذكرتُ ذالك للنبى صلى الله عليه وسلم،فقال :إنمافاطمة بضعة منىّ،، رضى الله عنها رواه البزار (مجمع الزوائد للهيثمى ج:۹ ص:۲۳۸، ۲۳۹ ،باب مناقب فاطمة،رقم الحديث : ۱۵۲۰۰،طبع بيروت)_

[۲] ،، وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِالْاُوْلٰى،، (الأحزاب:۳۳)_

[۳] مشكوة ص: ۲۷۰، باب النظر إلى المخطوبة، الفصل الثالث)_

[۴] عن عائشةقالت:خرجت سودةبعدماضُرِبَ الحِجَابُ........فقال انه قدأُذن لكنّ أن تخرجن لحاجتكن (بخارى ج:۲ ص: ۷۰۷ ،بابٌ لَاتدخلوابيوت النبى)_

[۵] لقوله تعالى: ،،وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِالْاُوْلٰى،، (الأحزاب:۳۳) ولقوله تعالى:،، يَاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹)_

[۶] والمشى بسراويل فقط ومدرجله عندالناس وكشف رأسه فى موضع يعدّ فعله ..[بقيه په راروانه صفحه..

تهذیب او معاشرې د نقل کولو له وجې پیداشوي دي، ګني اسلامي معاشره کې بربنډ سر ګرځیدل عیب ګڼل کیږي او د احکم د سړیو له پاره دی او د ښځو بربنډ سرپرته له څه روک ټوک نه ګرځیدل او بازارونو ته تلل نه یوازې عیب نه، بلکې کبیره ګناه هم ده.[1]

نابالغه اینجلی سره مینه کول

سوال: یوه ماشومه چې په دریم جماعت کې سبق وايي زه هغې ته ټیوشن کوم، هغه ماشومه ماته ډیره ښه لګیږي، کله کله زه هغې سره مینه هم وکړم، خوبیا د الله تعالی له ویرې مې زړه ورپیږي او سوچ کوم چې دا خو ماشومه ده، تاسو ته خواست دی چې دومره وړوې ماشومې سره مینه کول جائز دي او که نه؟

جواب: که چیرې زړه کې غلط خیال راشي؛ نو نه یوازې مینه کول جائز نه دي[2]، بلکې داسې صورت کې هغې ته سبق ښودل هم جائز نه دي.

ټي وي کې د دین د ښودلو پروګرام کې د ښځې غیرمحرم سړي په مخکې ناسته

سوال: د ټي وي پروګرام تفهیم دین کې ښځې هم شریکې وي او د اسلامي سوالونو جوابونه ورکوي، خو بخپله د یو غیرمحرم سړي مخکې ښکاره مخ ناسته وي، ایا دا په اسلام کې منع نه دي؟

جواب: اسلام کې منع دي، خو کیدای شي د ټي وي اسلام جدا وي.[3]

ایا د غیرمسلم ښځې نه پرده کول پکار دي؟

سوال: یوه غیرمسلمه نوکره چې کورکې کار کوي، ایا مسلمانې ښځې ته له هغې نه پرده کول پکار دي؟ ځکه چې د اسلام په نزد باندې غیرمسلمه ښځه د سړي په حکم کې راځي، قران کریم کې ښځو ته د پردې په حکم کې د الفاظ هم دي، کومې چې هم د هغوی په شان ښځې وي د هغوی نه پرده نه دي کول پکار، هم د هغوی په شان د ښځو څه مطلب دی؟ ایا هغه پرده کونکې وي یا

...بقیه د تیرمخ].. خفة وسوء أدب وقلة مروءة وحياءلأن من يكون كذالك لَايبعدمنه ان يشهد بالزور(فتح القدير ج:٦ ص:٣٩،البحر ج:٧ ص:٩٢)_

[1] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لخوف الفتنة(درمختار) والمعنى تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجهها فتقع الفتنة...إلخ (شامى ج:١ ص:٤٠٦، باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة)_

[2] إذاكان شيخايأمن على نفسه وعليهافلابأس بأن يصافحها وإن كان لَايأمن على نفسه أوعليها فليجتنب عالمگیری ج:٥ ص:٣٢٩، كتاب الكراهية، الباب الثامن فيمايحل للرجل النظرإليه ومالَايحل) أيضا: ولاتمس شيئامنه إذاكان أحدهماشابّافى حدالشهوة وإن أمناعلى أنفسهما (عالمگیری ج:٥ ص:٣٢٧)_

[3] ،، وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِالْاُوْلٰى،، (الأحزاب:٣٣)_

مسلمانانې ښځې وي؟

جواب: دهغوی حکم دنامحرم سړيو دی، دهغوی مخکې مخ، لاسونه اوپښې ښکاره کولی شي، باقي ټول وجود پټ پکاردی.[۱]

په سمندري فوج کې د ښځو ټاکل څنګه دي؟

سوال: په تيره شوې جمعه باندې روزنامه (جنګ) کې يواشتهار چاپ شوی و، هغه کې پاکستان نيوي (سمندری فوج) کې دښځوټاکل کيدو باره کې ليکل شوي و، چې پاکستان نيوي کې به سيلرزښځې وردي اچولوسره ډيوټي مثلاً: کلرک اوداسې نور... بهرتي کول دي، سوال دادی چې اسلام کې اوپه خاص ډول پاکستان کې چې دلته داسلامي نظام راوستلوکوشش کيږي د ښځو دبهرتي کولوکارجائزدی اوکه نه؟ دويمه خبره داده چې داښځې به وردي اچوي، تاسوته به معلومه وي چې وردي اغوستلو سره (چې دا ډيرې تنګې جامې وي) په خاص ډول به دښځوقميص تنګ وي، دهغوی دښايست اندامونه به دليرې ښکاري، ايادا ناجائز نه دي؟

جواب: ايادې ناجائزکيدل څه پټه خبره ده؟ ښځې په هسپتالونوکې نرسنګ کوي، جازونو کې دميزباني فرائض کوي وغيره وغيره، دا هرڅه جائزګڼلوسره کيږي.

بالغې اينجلۍ باندې پرده کول د موروپلارذمه داري ده

سوال: په شرعي ډول، بالغه اينجلۍ باندې پرده کول دچاذمه داري ده؟ دمورکه پلار؟

جواب: اينجلۍ چې کله بالغه شي، هغې باندې پرده کول دموروپلارذمه داري ده اوپخپله هغې باندې هم فرض ده.[۲]

د ښځوپه کورکې بربنډ سر ناسته

سوال: ايا ښځې کورکې بربنډسرکيناستلی شي؟

جواب: که څوک غيرمحرم نه وي؛ نوښځه کورکې بربنډسرکيناستلی شي.[۳]

---

[۱] والذمية كالرجل الأجنبي فى اللأصح فلاتنظرإلى بدن المسلم درمختار لأنه ليس للمؤمنة أن تتجردبين يدى مشركة أوكتابية (شامي ج: ٦ ص: ٣٧١،فصل فى النظروالمس،كتاب الحظروالإباحة)_

[۲] ولايبدين زينتهن الّاماظهرمنها وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلّالبعولتهن أوابائهن...الآية (النور:٣١) وقال عليه السلام:ألَاكلكم راع وكلكم مسؤل عن رعيته،فالإمام الذى على الناس راع وهومسؤل عن رعيته،والرجل راعٍ على أهل بيته وهومسؤل عن رعيته، والمرأة راعية على بيت زوجها وولده وهى مسؤلةعنهم وعبدالرجل راع على مال سيّده وهومسؤل عنه، ألَا فكلّكم راعٍ وكلكم مسؤل عن رعيته متفق عليه (مشكوة ص: ٣٢٠، ٣٢١، كتاب الإمارة،الفصل الأول)_

[۳] وأيضًا: فى الفتاوى الهندية: يرخص للمرأة كشف الرأس فى منزلها وحدها..[بقيه په راروانه صفحه..

ايا ښځه د نيمو بربنډو جامو نه منع کول د هغې زړه خفه کول دي؟

سوال: که ښځه نيمې بربنډې جامې اچوي، مثلاً ساړهي وغيره چې هغې کې د هغې خيټه د نوم پوړې ښکاره وي: نو د هغې خاوند هغه منع کولی شي او که نه؟ که چيرې هغه يې په غوسه منع کړي: نو ښځه يې ژاړي، ايا دې باندې به د زړه خفه کولو ګناه وي او که نه؟

جواب: ښځه که چيرې ګناه کې مبتلاوي: نو خاوند باندې لازم دي چې په هر ممکن طريقه باندې د هغې د اصلاح کوشش وکړي، که په غوسه باندې يې اصلاح کيدای شي: نو دادې هم وکړي[1] که ايمان شکني ويني؛ نو د زړه د خفه کيدو پرواه دې نه کوي.

که د فتنې ويره نه وي؛ نو ورور او خور غاړه ورکولی شي

سوال: ورور او خور يو بل ته غاړه ورکولی شي؟

جواب: که د فتنې ويره نه وي؛ نو صحيح ده.[2]

د ښځې اواز هم په شرعي ډول ستر دی

سوال: ځينې خاندانو کې د ودونو په موقع باندې په خاص ډول د ښځو مجلسونه وي، هغو کې ښځې جمع شي اولاوډسپيکر باندې يوه ښځه وعظ کوي، په ښايسته اوازکې نعتونه وايي، نامحرم سړي يې اوري او په ښايسته اواز باندې لوستل شويو نعتونو نه مزې اخلي، داسې مجلسونه جائز دي او که ناجائز؟ که ناپيژندګلو سړي دې کې دلچسپي اخلي؛ نو ددې ګناه به د مجلس په انتظام کونکو باندې وي او که نه؟ ددې مقصد له پاره صحيح طريقه څه پکار ده؟

جواب: د ښځې اواز په شرعي ډول ستر دی او د ناپيژندګلو سړيو له پاره د هغې اوريدل او اورول جائز نه دي، په خاص ډول کله چې د فتنې ويره وي[3] د جلسې انتظام کونکي، دا لوستونکي او

...بقيه د تيرمخ]..فأولى أن يجوز لها لبس ما رقيق يصف ماتحته عند محارمها (عالمگيرى ج:٥ ص:٣٣٣، كتاب الكراهية،الباب التاسع فى اللبس)_

[1] ،،والّتى تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فى المضاجع واضربوهن،فإن اطعنكم فلاتبغوا عليهن سبيلًا،، (النساء:٣٤) أيضًا:وله ضرب زوجته على ترك الصلاة وكذاعلى تركها الزينة وغسل الجنابة وعلى خروجها من المنزل وترك الإجابة إلى فراشه ومرتمامه فى التعزير وان الضابط أن كل معصية لاحد فيها فللزوج والمولى التعزير(ردالمحتار على الدرالمختار ج:٦ ص:٤٢٦،كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)_

[2]]وقد يكونان لهيجان المحبة والشوق والإستحسان عنداللقاء وغيره من غيرشائبة الشهوة وهما مباحان بإتفاق أئمتنا الثلاثة لثبوتها عن النبى صلى الله عليه وسلم وأصحابه ولعدم مانع شرعى(إعلاء السّنن ج:١٧ص٤١٨، طبع كراچى)

[3]]ولانجيزلهن رفع أصواتهن ولاتمطيطها ولاتليينها وتقطيعها لمافى ذالك استمالة ..[بقيه په راروانه صفحه..

اوریدونکي ټول ګناهګاردي او دحضور ﷺ دخفګان اوبد دعامستحق دي.[1]

سوال: شریعت کې دښځې اوازهم سترګڼل شوی دی، خوبازارته دتلوپه صورت کې ښځې ددې پابندي نه شي کولی اوداللہ تعالی په نزد باندې بازارهسې هم د ټولونه ناخوښه ځای دی اکثرښځې بازار ته تلوباندې زموږ سرې ورونه پخپله مجبوږي، ایادډیرې مجبوري په حالت کې یوه پرده کونکې ښځه دضرورت سامان اخیستلی شي؟ اوداسې کولوسره به دهغې ګناه خونه کیږي؟

جواب: اصل خوداده چې ښځه دې بازارته نه ځي، که چیرې ضرورت وي؛ نوپردې پابندي سره اخیستل اوخرڅول کولی شي[2]، خودنامحرم په مخکې دې اوازکې ښایست نه پیداکوي.[3]

د غیرمحرمه ښځې لاش ته کتل او د هغې تصویرویستل جائزنه دي؟

سوال: ایادمړې شوې ښځې مخ عامو سړیوته ښودل اوتصویرویستل یې جائزدي؟ دقران اوحدیث په رڼاکې جواب راکړئ.

جواب: غیرمحرم ته کتل جائزنه دي[4] اوتصویرویستل هم جائزنه دي.[5]

ښځې ډاکټرې باندې د زوی سنت کول

سوال: زموږ په علاقه کې په میتړنتي هوم کې دهلک سنت ښځه ډاکټره کوي، دقران اوسنت په رڼاکې ددې داهمیت، جائز او ناجائز کیدل هم بیان کړئ، ځکه چې ځینې خلک دې ته غلط او مکروه وایي.

جواب: په شریعت کې څه بده خبره نه شته.

...بقيه د تیرمخ]..الرجال اليهن وتحريك الشهوت منهم (شامی ج:١ ص:٤٠٦،باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة)_

[1] عن بلال بن الحارث المزنى قال:قال رسول الله صلى الله وعليه وسلم....... ومن إبتدع بدعة ضلالة لَايرضاهاالله ورسوله كان عليه من الإثم مثل آثام من عمل بهالَاينقص ذالك من أوزارهم شيئا رواه الترمذى رواه ابن ماجة (مشكوة ص: ٣٠،باب الإعتصام بالكتاب والسنة،الفصل الثانى)_

[2] وقدقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: المرأة عورة فإذاخرجت إستشرفها الشيطان رواه الترمذى عن ابن مسعود فإن هذا الحديث يدل على أنهاكلهاعورة غير ان الضرورات مستثناة إجماعًا والضرورة قدتكون بأن لَاتجدالمرأة من يأتى بحوائجها من السوق ونحوذالك فتخرج متقنعة كاشفة إحداى عينهايشعرالطريق (تفسيرمظهرى ج٦ ص:٤٩٥)

[3] مسئلة: المرأة مندوبة إلى الغلظة فى المقال إذا خاطبت الأجانب لقطع الإطماع (تفسيرمظهرى ج:٧ ص: ٣٣٨)

[4] ،، قل للمؤمنين يغضوامن أبصارهم ويحفظوا فروجهم،،(آيت: ٣٠)_

[5] ان عبدالله ابن عمر أخبره ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ان الذين يصنعون هذه الصوريعذبون يوم القيامة، يقال لهم احيوا ماخلقتم (بخارى شريف ج:٢ ص: ٨٨٠، باب عذاب المصورين يوم القيامة)_

د تره یا ترور زوی سره لاس ملاول او دهغه سینه با ندې سرکیښودل

سوال: داسلام په نزدباندې دترورزوی یادتره زوی وغیره خپلوانوسره څنګه تعلق دی؟ فرض کړئ نسرین اواکبرخپلوکې دتروربچي دي او خپلوکې بالکل دوروڼوخویندوپه شان مینه کوي؛ نو ایادوی دواړو دبالکل خپل وروڼوخویندوپه شان ملاویدای شي؟ اکبرچې کله د نسرین کورته خي؛ نوهغې سره لاس ملاووي اونسرین داکبرپه سینه باندې سرکیښودوسره هغه رخصت کوي یاهغه ته هرکلی ویلی شي،یایوازې داکبردنسرین په سرباندې لاس کیښودل کافي دي؟

جواب: دتره بچیو اود ترور بچیوحکم دنامحرم ناپیژندګلو سړیو دی،[1] د کومو کاروتوذکرچې تاسوپه خط کې کړی دی، داجائزنه دي.[2]

له تینداري(چاچي) نه پرده کول ضروري دي

سوال: دخپلې تیندار(چاچي) نه دپردې باره کې دشریعت څه حکم دی؟

جواب: دکونډې یاطلاق شوې چاچي سره نکاح جائزده، له دې وجې پرده هم لازم ده.[3]

دعلاج له وجې د سترا ندامونوته کتل
یا ګوتې وړل په شرعي ډول څنګه دي؟

سوال: زه دایم بي بي ایس(ډاکټر) طالب علم یم، دانساني بدن اصلاح زموږ دتعلیم اوتربیت موضوع ده، دتربیت په زمانه کې موږ دانساني بدن دټولواندامونوشکل اوصورت ښودل کیږي او ټولو اندامونوکې پیداکیدونکوناروغیودعلاج تدبیرونه راته ښودل کیږي کله ناکله دعلاج له وجې اودطالب علمانو دپوهولو له پاره دښځواوسړیودستربرخو ته کتل وي، ماته شک پیداکیږي چې زموږ له پاره داسې کول جائزدي اوکه نه؟ په خاص ډول دښځې (ناروغې) دسترا ندامونو ته کتل یالاس وړل مثلا: دماشوم پیداکیدو په وخت کې پیداکیدونکې ناروغ دعلاج له پاره کتل اودطالب عالمانو ډاکټرانودتربیت له پاره دې عمل ته کتل به جائزوي اوکه

---

[1] قال تعالى: ولايبدين زينتهن الّاماظهرمنها وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلّالبعولتهن أوابائهن ...الآية (النور:٣١) أيضًا: قال تعالى:يايهاالنبى قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين... الآية،،(الأحزاب :٥٩)_

[2] ولايمس شيئًامنه إذاكان أحدهما شابًافى حدالشهوة (عالمگيرى ج:٥ ص:٣٢٧،كتاب الكراهية الباب الثامن فيمايحل للرجل النظراليه)_

[3] وأحل لكم ماوراء ذالكم أى ماعداماذكرن من المحارم، هن حلال لكم، قاله عطاء وغيره.(تفسيرابن كثير ج:٢ ص:٢٣٠، النساء:٢٤، طبع رشيديه كوئته)_

ناجائز؟ یادسائل پکاردي چې دا عمل یوازې دسخت ضرورت په وخت کې دعلاج یادتربیت له پاره کیږي اودکالج دقانون او نصاب مطابق دټولو ډاکټرانو له پاره داسې کول ضروري دي، دپورته بیان شوې مسئلې باره کې تاسو زما راهنمایي وکړئ چې دیوزده کونکي ډاکټر(سړي) له پاره دتربیت دغرض له پاره دناروغې خاص اندام اودماشوم پیداکیدو عمل ته کتل چې زده کونکي ډاکټر د ضرورت راتلوپه وخت کې دداسې ښځې(مریضې) علاج یااپریشن کول کیږي، جائزدي اوکه نه؟

جواب: وفی شرح التنویر: ومداوتها.ینظرالطبیب الی موضع مرضها بقدر الضرورة.اذ الضرورات تتقدربقدرها.وکذانظرقابلة وختان.وینبغی ان یعلم امراة تداویهالان نظرالجنس الی الجنس اخف.وفی الشامیة: قال فی الجوهرة: اذاکان المرض فی سائربدنهاغیرالفرج یجوزالنظراله عندالدواالاله موضع ضرورة.وان کان فی موضع الفرج فینبغی ان یعلم امراة تداویها.فان لم توجدوخافواعلیهاان تهلک اویضیبهاوجع لاتحتمله.یستروامنهاکل شئ الاموضع العلة ثم یداویهاالرجل ویغض بصره مااستطاع الاعن موضع الجرح... الخ. فتامل والظاهران ینبغی هناللوجب.(ردالمختار ج۶ ص۷۱)

ترجمه: دتنویر په شرح کې دښځې دعلاج باره کې دي، دضرورت مطابق ډاکټر(سړی) دښځې دمرض والاځای کتلی شي، ځکه چې ضرورت دضرورت په مقدارکې محدود وي، د دایي او ختنه کونکي همدغه حکم دی، چې دضرورت مطابق یې کتلی شي، ښه خبره داده چې ښځې ته دښځو دعلاج طریقه وښودل شي، ځکه چې دښځې دښځودستربرخوته کتل بهرحال اخف (معمولي) دي، شامي کې دجوهره په حواله باندې دي چې: کله دشرمګاه نه پرته دښځې په بدن کې څه ناروغي وي؛ نوډاکټر(سړی) دعلاج له وجې دضرورت په مقدارباندې کتلی شي، که شرمګاه کې مرض وي؛ نویوې ښځې ته دهغې دعلاج طریقه ښودل پکاردي، که چیرې داسې ښځه پیدانه شي؛ نودهغې مریضې دوفات خطره وي، یا دداسې تکلیف ویره چې دهغه نشي برداشت کولی؛ نوداسې صورت کې سړی ډاکټر ټول بدن پټولونه وروسته دناروغې والاځای علاج کولی شي، خوباقي بدن ته دې نه ګوري اودخپل وس مطابق دې دنظر حفاظت وکړي.

ددې روایتونونه داخبرې حاصلې شوې:

۱: دسړي ډاکټرله پاره دعلاج دضرورت له وجې دښځې علاج کول جائزدي.

۲: که چیرې ښځه ډاکټره پیدانه شي؛ نوپه هغه باندې علاج کول ضروري دي.

۳. که چیرې ښځه پیدانه شي؛ نوسړي ته پکاردي چې ستردانداام په خاص ډول دشرمګاه دعلاج طریقه دې ښځې ته وښيي، پخپله دې علاج نه کوي.

۴: که ښځې ته ویل هم ممکن نه وي اودناروغې دمرګ یادبرداشت نه دبهرتکلیف ویره وي؛ نو

لازم دي چې دتکليف له ځای نه پرته ټول بدن پټ کړل شي اوډاکټرته پکاردي چې ترکوم حدپورې ممکن وي دعلاج دځای نه پرته نوربدن ته نه ګوري.
دماشوم پيداکيدل خاص دښځوکاردی، که چيرې معامله دښځوله وسه بهرشي(مثلا: د اپريشن ضرورت وي اواپريشن کونکې ښځه ډاکټره نه وي)؛ نوپورته بيان شويو شرطونو سره سرې علاج کولی شي، دلته دنوي تهذيب نه وجې اودين دکمي له وجې ددې خبروخيال نه ساتل کيږي اوپرته له څه تکلف نه ځوانانوته د ماشوم دپيداکيدو عمل په هسپتالونوکې ښودل کيږي، دا په شرعي ډول قبيح عمل دی،که چيرې طالب علم مجبورکړل شي؛ نوددې نه پرته به ورته څه مشوره ورکړای شم چې ترکوم حدپورې ممکن وي زړه اونظربچ وساتي اواستغفاردې کوي والله اعلم!

ايا د(۴۵، ۵۰) کلونو ښځې ته دداسې هلک نه پرده کول پکاردي چې دهغې په مخکې ځوان شوی وي؟

سوال: ايادپنځه څلويښتو يا پنځوسوکلونوپه عمرکې پرده نه کول صحيح دي؟ هغه دې له پاره چې يوه ښځه دپنځويشتوکلونوده، دهغې په محله کې څوک پيداشو، نن دهغې ښځې عمرپنځوس کاله دی اودهغې په مخکې پيداشوی هلک نن ځوان دی اوهغه ترې له دې وجې پرده نه کوي چې دهغې په مخکې غټ شو اوځوان شو،دی زما زوی دی اوزه دده دموربرابره يم.
جواب: دقران کريم دايت مفهوم دادی چې کومې بوډۍ ګاني دنکاح له عمرنه تيرې شوې وي هغوی که چيرې دغيرمحرم په مخکې خپل مخ ښکاره کړي، په دې شرط چې دښايست ښکاره کول يې مطلب نه وي؛ نوڅه بده خبره نه ده، خوپرده کول دهغې له پاره بهتردي[1] اوداخبره بالکل فضول ده، چې داماشوم خوزماپه مخکې ځوان شوی دی، له دې وجې له ده نه پرده نه کوم.

دبرقعې له پاره دهر رنګ جامه جائزده

سوال: دکوم رنګ جامه دشريعت مطابق دبرقعې له پاره استعمالول پکاردي؟
جواب: دهرقسمه رنګينې جامې استعمالول جائزدي، مقصديوازې دبدن پټول دي.

دبې پردګۍ اوغيراسلامي ژوند تيرولوله وجې دالله تعالی دقهرويره

سوال: زه ستاسوتوجه ديوې اهم مسئلې طرف ته کول غواړم، اميد لرم چې تاسوبه پرته دڅه رعايت ساتلونه جواب بيان کړئ، مسئله داده چې درمضان روژې الله تعالی فرض کړې دي،

[1] قال تعالی: ،،والقوعد من النساء الّتي لايرجون نکاحًا فليس عليهن جناح ان يضعن ثيابهن غيرمتبرجت بزينة وان يستعففن خيرلهن،والله سميع عليم،،(النور: ۶۰)_

قران کريم کې دالله تعالی ارشاد دی: اې خلکو! تاسوباندې درمضان روژې فرض شوې دي، څنګه چې تاسونه مخکې امتونوباندې، چې تاسومتقيان اوپرهيزګاران جوړشئ، اوس سوال دا پيدا کيږي چې دنن سبادورکې مسلمانان سړي اوښځې يوبل سره ازادي سره ملاوېږي، ښځې سړيو سره اوږه په اوږه باندې دژوندپه هريوه شعبه کې کارکوي، دنن ښځه بې پرده کيدو سره، ډول سنګارکولوسره بازارونواومحلوکې اوبس ستاپونوکې غرض داچې په هرځای کې په نظرراځي، ددې بې پرده ښځې جامې دنيم بربنډوالي احساس کوي اود نيکانو سړيو نظرونه د شرم له وجې ښکته شي.

دالله تعالی ارشاد دی: ښځې دې خپل ښايست نه ښکاره کوي، ددې مطلب دادی چې ښځه دې دناپيژندګلوسړيو مخکې نه راځي اوپرده کې اوسيدوسره خپل ضرورتونه پوره کولی شي، تاسوبه وايئ چې سړی ناپيژندګلوښځوته ولې ګوري؟ اوهمدغه سوال هريوه بې پرده ښځه هم کوي، زمااستدلال دادی چې ايادښځې له پاره ناپيژندګلوسړيوته کتل جائزدي؟

حضرت عائشه ﷞ يوځل ديوړوندصحابي مخې ته راغله، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عائشې ﷞ تاداسې ولې وکړل؟ حضرت عائشه ﷞ عرض وکړ يارسول الله ﷺ دا خو ړونددی حضور ﷺ وفرمايل چې: ته خو ړنده نه يې! دغه شان حضور ﷺ حضرت عائشې ﷞ ته تنبيه وفرمايله اودقيامت دورخې پورې دټولوښځوله پاره يې هدايت وفرمايو اوس تاسو ووايئ چې دنن سباپه دورکې يوسړی ياښځه روژې نيولوسره متقي اوپرهيزګار جوړيدای شي، چې هرطرف ته سنګار شوې ښځې ګرځي راګرځي؟ اودې باندې دښځودجواب چې سړي موږته ولې ګوري؟ سړي به کوم کوم ځای کې نظرونه ښکته کوي، ښځې دسورې په شان هرځای کې موجودې دي، ايابرقعه ياڅادرپه سرولوسره خپل ضروري کارونه نه شي کولی؟ اياهغه دلوپټې ټرانسپيرنټ (کوم شي کې چې بل طرف ته نورشيان ښکاري) جامې اغوستلوسره ددنيا کارونه کولی شي؟ دابنيادي حکمونه ښځوهيرکړي دي اوروژې نيسي اوهغو کې دپاکي، تقوا اوپرهيزګاري لومړی جزدی، زه اميدلرم چې دې باره کې به رښتياويلونه کاراخلئ اوداطمينان والاجواب به ورکوئ.

جواب: تاسوچې زموږ دمعاشرې باره کې څه ليکلي دي، هغې باندې دافسوس کولواو(اناالله وانااليه راجعون) ويلونه پرته دڅه تدبيرکولی شم؟ شرم اوحيادښځې ښايست دی اوپرده دهغې دعزت اوعصمت محافظ، دټولونه مخکې خو لومړی زموږ ښځوته پخپله باندې خپل مقام پيژندل پکار و، هغوښځوباندې رسول الله ﷺ لعنت ويلی دی، کومې چې ډول سنګارکولوسره بازارونوته پرته له څه ضرورت نه ځي[1] ايايوه ښځه چې دهغې په زړه کې

---

[1] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صنفان من أهل النارلم أرهما .... ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات، رؤسهن كأسنمة البخت المائلة، لايدخلن..[بقيه په راروانه صفحه..

معمولي شان ايمان موجودوي، هغه دالله تعالی اودرسول ﷺ دلعنت اخيستلوله پاره تياره کيدای شي؟

دويم: ددې ښځوپه موروپلار، وروڼو، خاوندانواو زامنوفرض دي، چې کوم شيان داسلامي غيرت خلاف دي هغه برداشت نه کړي، بلکې دهغو داصلاح له پاره فکروکړي، حيااوايمان دواړه ډير زيات اهم دي، کله چې يوځي؛ نودويم هم له هغه سره رخصت شي.

دريم: دمعاشرې په مشرانوخلکودفرض دي چې ددې طوفان خلاف جهاد وکړي اودخپل اثراوطاقت سره دمعاشرې ددې ګندګي نه د خلاصولوفکروکړي.

څلورم: په حکومت فرض دي چې ددې دمنع کولوله پاره عملي کارونه وکړي، ددې قوم بدقسمتي داده چې زموږ ټوله معاشره ملعونانو او د اخلاقونه غورځيدوخلکونقل کوي، شکل اوصورت، ناسته پاسته او طريقې هرڅه دبدکرداره اوبداخلاقه قومونوخپلوي. که چيرې دې دذلت خوفناک اودشراوفسادوالاطوفان ته داصلاح توجه ونه کړل شوه؛ نوداويره ده چې خدای دې نه کړي دالله تعالی له طرفه په دې قوم باندې غذاب نازل نه شي. **نعوذبالله من غضب الله وغضب رسوله.**

نامحرموځوانانوسړيواوښځويوبل ته سلام کول

سوال: اکثر زموږ واسطه دخپل تره بچيو، ترور بچيو، ډاکټرانو، استاذانو اودغه شان دنورو محرمو او نامحرمه خلکو سره راځي اود مسلمان کيدو له وجې دابنه نه محسوسيږي چې دسلام کولونه پرته نورې خبرې شروع کړل شي، ښځه (بالغه اونابالغه) ايا په محرم اونامحرمه سړيوته سلام کولی شي؟ اوکه نه؛ نودا خبره به څنګه شروع کوي؟

يوسړي دحضور ﷺ (په حضور ﷺ باندې زما موروپلار قربان) نه پوښتنه وکړه چې داسلام کوم صفتونه دټولونه ښه دي؟ حضور ﷺ وفرمايل: چاباندې خوراک کول اوهريوکس ته سلام کول، که تاسوهغه پيژنئ اوکه نه.

جواب: نامحرم ته سلام کول، کله چې دواړه ځوانان وي، دفتنې نه خالي نه دي، له دې وجې سلام کول اودسلام جواب ورکول دواړه جائزنه دي.[1]

...بقيه د تيرمخ]... الجنّة ولَايجدنَ ريحها،وإن ريحهالتوجدمن مسيرة كذاوكذا (صحيح مسلم ج: ٢ ص:٢٠٥، باب النساء الكاسيات العاريات)_

[1] ولايكلم الأجنبية إلّاعجوزاعطست اوسلمت فيشمتهاويردالسلام عليها وإلّا لَا (درمختار) اى وإلّاتكن عجوزابل شابة لَا يشمتها ولايردالسلام بلسانه .... إلخ (شامى ج:٦ ص:٣٦٩، كتاب الحظروالإباحة،باب فى النظروالمس)_

د لیور او لیورځې نه پرده کول ضروري دي، دې باره کې د مور وپلار خبره منل نه دي پکار

سوال: نن سبا د یر جرمونه د لیور او لیورځو له وجې کیږي، زما له نظرنه یو حدیث تیر شوی دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې: که چیرې لیور د بهابهي نه پرده نه کوي: نو دهغه دې هلاکت وي اوکه چیرې بهابهي دهغه نه پرده نه کوي: نو دهغې دې هلاکت وي. ماچې کله دا شرط په خپل کورکې ولګاوو، یعنې خپلې ښځې ته مې د لیور او د لیورځې نه دپردې کولو وویل: نوزماکوروالو ماته دکورنه د ویستلو دهمکې راکړه، بل طرف داهم حکم دی چې دموروپلار نافرماني کونکې به دوزخي وي، یوسنت باندې عمل کولوله پاره بل سنت پریښودل کیږي، که چیرته داعمل کیږي؛ نوخلک هغه ته بې غیرته وایي چې په خپلو وروڼوباندې شک کوي، زه تاسوته خواست کوم چې قران اوسنت په رڼاکې ددې مسئلې حل بیان کړئ.

جواب: ښځې دې خپل لیوراولیورځې سره یواځې نه کیني، دمخ پرده دې کوي، پرته له څه تکلف نه دې ورسره خبرې نه کوي، توکې تقالي اوخنداګانې دې ورسره نه کوي[1]، بس دومره کافي دي، دې باندې خپله ښځه پوه کړئ. نن سبادپردې رواج نه شته، له دې وجې داعیب ګڼل کیږي، دموروپلار بې ادبي نه دي کول پکار، خوکه چیرې د الله تعالی اودهغه رسول ﷺ خلاف څه خبره کوي؛ نودهغوی حکم منل نه دي پکار.[2]

د بې پردګې شرط کیښودنکې یونیورستې کې سبق ویل

سوال: یوه مسئله ده چې دهغې خبراوریدوسره زه حیران پاتې شوم او دهغې اثراوسه پورې شته، هغه داده چې جده کې یوه یونیورستي دپیغلواوینجلیوده، دهغې په اصولوکې یواصل داهم دی چې دهغې یونیورستې یونیفارم اسکرټ (چې دهغې اوږدوالی دکونډو پورې وي) دی اودهغې اغوستل دهریوې اینجلۍ له پاره لازمي دي، دویم اصل دادی چې دې یونیورستې کې داخلیدوسره لوپټه په سرول منع دي، بلکې سخت جرم دی اولارې باندې اودې یونیورستې پورې برقعه کې راتلل لازمي دي، پوښتنه داده چې دې یونیورستې کې اینجونو باندې تعلیم کول څنګه دي، ځکه چې زمابهابهي هلته سبق وایي؟ مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب

[1] عن عقبة بن عامر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إياكم والدخول على النساءفقال رجل من الأنصار:يارسول الله أفرأيت الحمو؟ قال :الحمو الموت! (بخاری ج:٢ ص: ٧٨٧، بابٌ لایخلون رجل بامرأة)_

[2] ،، ووصينا الإنسان بوالديه حسناًوإن جاهداك على أن تشرك بي ماليس لك به علم فلاتطعهما،، الآية (العنکبوت:٨) أيضًا:عن على قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:لَاطاعة فى معصية، إنماالطاعة فى المعرروف متفق عليه (مشکوة ص:٣١٩، كتاب الإمارة، الفصل الأوّل)_

راکړئ اودغه شان دا ينجونو له پاره دلوېتېي نه پرته کورکې دننه سبق ويل څنګه دي؟ او د هغې له وجې سينه هم ښکاري.

جواب: که هلته نامحرم سړي راځي، بلکې ديونيورستۍ ټوله عمله ښځې وي؛ نو دمسلمانانو ښځوپه مخکې دښځې سرښکاره کول جائزدي[۱] اوکه چيرې هلته سړي هم موجودوي؛ نودهغوی مخکې دسر اومخ پټول فرض دي اوسړيومخکې ښکاره کول حرام دي[۲]داسې صورت کې دغه يونيورستۍ کې سبق ويل جائزنه دي.

له واده نه مخکې اينجلۍ ته کتل اوهغې سره خبرې کول په شرعي ډول څنګه دي؟

سوال: ايا اسلام کې ددې خبرې اجازه شته چې هلک له واده نه مخکې اينجلۍ وګوري او اينجلۍ هلک وګوري، خبرې وکړي اويو بل خوښ کړي؟ اواسلام کې دناپيژندګلوسړيونه ديردې ډيرسخت حکم دی اوله واده نه مخکې دواړه ديوبل له پاره پردي وي، دې عمل باره کې که څه حديث وي؛ نوبيان يې کړئ!

جواب: کومې ښځې سره چې دنکاح کولواراده وي؛ نودهغې يوازې يو نظرکتلواجازه شته او ضرورت له وجې داشی دپردې دحکم نه مستثنی دی.[۳]

که دفتنې ويره نه وي؛ نوښځه خپل مخ ښکاره کولی شي

سوال: زيدوايي چې دښځې مخ په هغه اندامونوکې نه دی دکومو چې پټول ضروري دي، بکر وايي که چيرې ښځه خپل مخ نه پټوي؛ نوبيا د پردې څه فائده ده، دټولونه زيات دفتنې ذريعه خوهم دامخ دی،که ښځه خپل مخ پټ نه کړي؛ نوهغې ته به دشريعت په نزدباندې پرده ويل کيږي؟ دپردې دايت دنازليدوپه وخت کې دصحابياتورضوان الله تعالی عليهن څه عمل و؟

جواب: يومخ پټول دي اوبل دغيرمحرم نه پرده کول؛ نوشارع دښځې مخ عورت نه دی جوړکړی، ښځې له پاره کورکې مخ پټول واجب نه دي، البته دغيرمحرم نه پرده کول واجب دي

---

[۱] وتنظرالمرأة المسلمة من المرأة كالرجل من الرجل (تنويرالأبصارمع شرحه ج:٦ ص:٣٧١، كتاب الحظروالإباحة)_

[۲] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة (الدرالمختارمع الرد ج:١ ص: ٤٠٦ باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة)_

[۳] ولوأراد أن يتزوج إمرأة فلابأس أن ينظرإليها وإن خاف أن يشتهيها لقوله عليه السلام للمغيرة ابن شعبة حين خطب امرة انظرإليهافإنه احرى أن يؤدم بينكما رواه الترمذى وغيرها ولأن المقصود إقامة للسنة لاقضاء الشهوة (شامى ج:٦ ص:٣٧٠، كتاب الحظروالإباحة،باب فى النظروالمس)_

اوکه چیرې دفتنې ویره نه وي؛ نوښځه مخ ښکاره کولی شي.[1]

ایا د خاوند په مجبورولو د هغه د ورور او اوښو نه پرده نه کوم؟

سوال: دواده نه مخکې زما دین سره شوق و، خوله واده نه وروسته راته ددیني کتابونو لوستلو موقع هم ملاوشوه، ځکه چې خاوندمې دلمونځ اوروژو پابندي او دیني کتابونه هم لولي، بیایوه مرحله داسې راغله چې ماپرده شروع کړه، کله مې چې خسرګنی ته پته ولګیده؛ نو هغوی یو غوبل شروع کړ ایندرور او خسر راته داسې خبرې وکړې چې الامان والحفیظ! اودهغه له وجې مې خاوندهم بدګمانه شو اودایې ګڼل شروع کړل چې زه دهغه دخپلوانونه ځان خلاصول غواړم او خبره دې حدته راورسیده چې هغه زماپریښودوته تیارشو، خاوندمې غواړي چې زه دهغه د ورونړو او اوښونه پرده نه کوم اوزه داسې نه غواړم، زه دهغه ورونړو مخې ته ډیره نه ځم اودهغوی سره ډیرې خبرې هم نه کوم دې صورت حال کې ماته څه کول پکاردي؟ تاسو ماته خپله قیمتي مشوره راکړئ!

جواب: لورې! ستاد خسرګنی بې خبري مجاهده ده، بهرحال کوم ځای چې داسې ماحول وي؛ نو کوشش کوه چې مخ، ددوارو لاسونو تلو او پښونه پرته ټول بدن پټ ساتې اودضرورت دخبرې کولو اجازه شته[2] بهرحال دځان له پاره استغفارهم کوه اودالله تعالی نه دعاهم غواړه، انشاء الله ته به ضرورکامیابیږې.

له حقیقي ورورنه پرده نه شته

سوال: موږ اوریدلي دي چې اسلامي شریعت کې دخپل حقیقي ورور نه هم پرده واجب ده او که چیرې داسې ونه شي؛ نوګناه ده، له دې وجې موږ په پریشاني کې مبتلاشوي یو، ذهن موداخبره نه قبلوي، که چیرې داخبره صحیح وي؛ نوبیابه دپلارنه هم پرده کول لازم وي.

جواب: کوموخپلوانوسره چې دهمیشه له پاره نکاح حرامه ده، لکه پلار، نیکه، ورور، وراره، خوریی، ددوی نه پرده نه شته، داسې خلکوته محرم ویل کیږي[3] اوکه چیرې یومحرم بې دینه وي اوهغه سره دعزت شرم نه وي، له هغه نه هم پرده کول ضروري دي.[4]

---

[1] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لَالأنه عورة بل لخوف الفتنة (الدرالمختارمع الرد ج:١ ص: ٤٠٦ باب شروط الصلاة، مطلب في سترالعورة)_

[2] كذايفهم من تعليم الطالب للتهانوى ص:٥)_

[3] (ومن محرمه) هى من لَا يحل له نكاحها أبدًا بنسب....... واصله قوله تعالى: ولايبدين زينتهن ألَا لبعولتهن...الآية الخ (فتاوى عالمگيرى ج:٥ ص: ٣٢٨،كتاب الكراهية، فتاوى شامى ج:٦ ص:٣٢٧، كتاب الحظروالإباحة)_

[4] قال محمد ويجوزله أن يسافربها ويخلوبها يعني إذا أمن على نفسه فإن علم انه ..[بقيه په راروانه صفحه..

په خوله ويل شوي ورور نه هم پرده ضروري ده

سوال: اسلام کې په خوله ويل شوي وروړنه پرده کول جائزدي او که نه؟

جواب: اسلام کې يوازې خولې سره دوروروپل شوي حثيثت د ناپيژندګلو دی، دهغه نه هم پرده کول لازم دي.[۱]

۹په خوله ويل شوي زوی (متبنی) نه هم پرده ضروري ده

سوال: دامسئله معلومول دي چې زيد ديو لرې خپلوان ځوان زوی خپل زوی جوړکړی دی اوخپل کورکې يې ساتي اوکورکې يې پيغله ښځه هم ده اوهغه پرده نه کوي اوهغه هم داسې وايي ده ما خپل زوی جوړکړی دی، تاسودشريعت په رڼاکې دا ووايئ چې ايا د لرې خپلوان زوی خپل زوی جوړيدای شي کله چې کورکې پيغله ښځه هم موجوده وي؟ ايا دخاوند په وينا باندې ښځه دهغې ځوان نامحرم مخې ته راتلی شي؟

جواب: شريعت کې خولې باندې جوړ شوي زوی هيڅ حيثيت نه شته، قران کريم کې په ښکاره ډول منع راغلې ده[۲]، له دې وجې يوازې خولې باندې دزوی ويل شوي حکم هم شرعي ډول دناپيژندګلو دی اودهغه نه پرده کول لازمي دي.[۳]

يوځای اوسيدونکي نامحرم نه له پيغلتوب وروسته پرده لازم ده

سوال: ايا داسې کورکې پرده ضروري ده، کوم ځای کې چې يو سړی خپل ماشوموالی تيرکړي او ځواني کې داخل شي اوهغه د کور يويوکس پيژني؟دکتاب اوسنت په رڼاکې ايا پرده کول لازم دي؟

...بقيه د تيرمخ]..يشتهيها أوتشتهيه إن سافرها أو خلا بها، او كان أكبررايه ذالك أو شك فلا يباح له ذالك (عالمگيری ج: ۵ ص: ۳۲۸، كتاب الكراهية)_

[۱] قال تعالى:لَا جناح عليهن فى ابائهن ولَا ابنآء هن ولَا إخوانهن ولَا ابناء إخوانهن ولَاابناء اخواتهن ولَا نساء هن ولَامالملكت ايمانهن واتقين الله،، (الأحزاب:۵۵) قال ابوبكرالجصاص تحت هذه الآية: قال قتادة رخص لهؤلاء ان لايحتجبن منهم، قال ابوبكرذكرذوى المحارم منهن وذكرنسائهن (أحكام القرآن للجصاص، سورة الأحزاب ج:۳ ص: ۳۷۰، طبع دارالكتب العربى، بيروت) وعن عقبة بن عامرقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :إياكم والدخول على النساء،اى غيرالمحرمات على طريق التخلية، اوعلى وجه التكشف (مرقاة المفاتيح، كتاب النكاح،باب النظرإلى المخطوبة ج:۳ ص: ۴۱۰ طبع بمبئ هند)_

[۲] ،، وماجعل أدعيائكم ابنائكم ذالكم قولكم بافواهكم،والله يقول الحق وهويهدى السبيل ادعوهم لآبائهم هواقسط عندالله،، (الأحزاب:۵،۴)_

[۳] ،، وماجعل أدعيائكم ابنائكم ذالكم قولكم بافواهكم،والله يقول الحق وهويهدى السبيل ادعوهم لآبائهم هواقسط عندالله،، (الأحزاب:۵،۴)

جواب: دخوانیدونه دقران په نزدباندې پرده کول لازم دي.[1]

ښځې له پاره د ټولو نامحرمونه پرده ضروري ده او کویژدن کړي سړي نه هم ضروري ده

سوال: دخاندان دکوموکوموخلکونه داینجلۍ له پاره پرده کول ضروري دي؟ اود پردې له پاره کم نه کم حد څومره پکاردی؟

جواب: شریعت کې دمحرم نه پرده نه شته اومحرم هغه دی، چاسره چې په هیڅ حالت کې نکاح حلاله نه وي، ددوی نه پرته دټولونه پرده ده.[2]

سوال: ایادکویژدن نه وروسته هم دکویژدن کړي نه پرده پکارده؟

(۱) **جواب:** کویژدن دنکاح کولووعده ده، نکاح نه ده[3] اوترڅوپورې چې نکاح نه وي شوې دواړه دیوبل له پاره ناپیژندګلودي اوپرده ضروري ده.[4]

سوال: ایادکویژدن نه وروسته دکویژدن کړي سره په خبرو اتروکولوباندې هم پابندي ده؟

جواب: چاسره چې نکاح کول وي، شریعت هغه ته دیونظرکتلواجازه ورکړې ده[5]، چې د خوښې او ناخوښې فیصله کې اساني وي، دې نه پرته دکویژدن کړي حکم هم دناپیژندګلودی، ترڅوپورې چې نکاح نه وي شوې.

---

[1] قال الله تعالى: يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَبِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩) وقال العلامة الجصاص :روى عن عبدالله رضى الله تعالى عنه قال:الجلباب الرداء،قال ابن ابي نجيح عن مجاهديتجلببن ليعلم أنهن حرائر،ولايعرض لهن فاسق، وروى محمدبن سيرين عن عبيدة:يدنين عليهن من جلابيبهن، قال تقنع عبيدة،وأخرج احدى عينيه وحدثناعبدالله بن محمد قال: حدثناالحسن بن أبي ربيع قال: أخبرنا عبدالرزاق قال: أخبرنا معمر عن الحسن قال: كن اماءبالمدينة يقال لهن:كذاوكذا،يرجن فيتعرض لهن السفهاء فيوذونهن، وكانت المرأة الحرة تخرج فيحسبون أنهاامة فيتعرضون لها، فيوذونها، فأمرالله المؤمنات أن يدنين عليهن من جلابيبهن، ذلك أدنى أن يعرفن،، انهن حرائرفلايؤذينَ... إلخ (احكام القرآن للجصاص ج:٣ ص:٣٧١،٣٧٢،طبع سهيل اكيدمي لاهور)_

[2] ومن محرمه هى من لَا يحل له نكاحهاأبدًابنسب ...إلخ وأصله قوله تعالى: ولايبدين زينتهن إلّالبعولتهن الآية وأمانظره إلى ذوات محارمه فنقول يباح له أن ينظرمنها...إلخ (عالمگیری ج: ٥ ص:٣٢٨، كتاب الكراهية، شامى ج: ٦ ص: ٣٦٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى النظروالمس)_

[3] ولوقال هل أعطيتنيها فقال اعطيتُ إن كان المجلس للوعدفوعدٌ وإن كان للعقد فنكاحٌ ...إلخ (شامى ج:٣ ص: ١١، كتاب النكاح)_

[4] پورتنۍ حاشيه (قال الله تعالى: ياايهاالنبي قل لازواجك...الخ) اوګورئ!_

[5] ولوأراد أن يتزوج إمرأة فلابأس ان ينظرإليها ...إلخ (شامى ج:٦ ص:٣٧٠،(عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٣٠)_

د ښځې له پاره کوم کوم اندامونه پټول پکار دي؟

سوال: ایااسلام کې د ښځې له پاره پرده کول ضروري دي؟

جواب: هو.[1]

سوال: که چیرې ضروري ده؛ نوپرده د کومو کومو شیانوده؟ یعنې د ټول مخ؟

جواب: فطرت د ښځې ټول بدن داسې جوړکړی دی چې دا د نامحرمو د ګنده نظرنه پټول ضروري دي[2] کوم اندامونه چې نه پټیږي د هغو مجبوري ده، مثلاً: لاسونه اوپښې.

سوال: نن سبا څادرونه اوبرقعې دي، ایا څادرونوباندې پرده کیدای شي؟

جواب: هو! په دې شرط چې څادرغټ وي، له سرنه ترپښنو پورې.[3]

ښځې له پاره دسړي ډاکټرنه دستردا ندامونوعلاج کول

سوال: زماددوست ښځه دجنسي علاج په سلسله کې سرکاري(سول) هسپتال ته لاړه، هلته هغې ولیدل چې ډاکټران ښځې بربنډوي اودهغوی چیک اپ کوي،کله چې هغې ښځې ته ډاکټر دبربنډ کیدوله پاره وویل شو؛ نوهغې دعلاج نه انکاروکړ اواپس راغله، دغه ښځه اوسه پورې په دغه جنسي مرض کې مبتلاده، ایاشریعت کې ددې خبرې ګنجائش شته چې یوسړی

---

[1] ،، يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩) روى عن عبدالله رضى الله تعالى عنه قال:الجلباب الرداء،قال ابن أبي نجيح عن مجاهديتجلبن ليعلم أنهن حرائر،ولايعرض لهن فاسق (أحكام القرآن للجصاص ج:٣ ص:٣٧١،طبع سهيل اكيدمي لاهور) عن ابن مسعودرضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: المرأة عورة، فإذاخرجت استشرفها الشيطان (مشكوة ص:٢٦٩، كتاب النكاح، باب النظرإلى المخطوبة) وعن أمّ سلمة أنهاقالت عندرسول الله صلى الله عليه وسلم وميمونة رضى الله عنها إذا أقبل ابن أمّ مكتوم فدخل عليه،فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إحتجبا منه! فقلت:يارسول الله ! أليس هوأعمى لايبصرنا؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:أفعمياوان انتما؟ ألستمابصرانه؟ (مشكوة ص:٢٦٩،كتاب النكاح،باب النظرإلى المخطوبة)_

[2] وقال تعالى:يدنين عليهن من جلابيبهن)قال الجصاص:فى هذه الآيةدلالة على أن المرأة الشابة مأمورة بستروجههاعن الأجنبيين، وإظهارالستروالعفاف عندالخروج لئلايطمع أهل الريب فيهن، وفيهادلالة على أن الأمة ليس عليها ستروجههاوشعرها،لأن قوله تعالى: ونساء المؤمنين، ظاهرة أنه أرادالحرائر(أحكام القرآن للجصاص سورة الأحزاب:٥٩،ج: ٣ ص:٣٧٢،،طبع سهيل اكيدمي) وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة....إلخ.والمعنى تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجههافتقع الفتنة (درمختار مع حاشية ردالمحتار ج :١ ص:٤٠٦،باب شروط الصلاة)_

[3] قال ابن عباس وأبوعبيدة: أمرنساء المؤمنين أن يغطين رؤسهن ووجوههن بالجلابيب إلّاعيناواحدًا تفسيرمظهرى ج:٧ ص:٣٨٤، طبع مكتبة اشاعت العلوم،دهلى)_

دعلاج له پاره دمسلمانې ښځې پټ اندامونوته لاس یوسي؟ که چیرې نه شته؛ نوتاسوپخپله ووایئ چې مسلمانانې ښځې دخپل مذهب په ښودل شوي اصول باندې څنګه ژوندتیرکړي؟ اوعلاج کول هم ضروري دي اونن سبا سرکاري زچه خانوکې ټول سړي ډاکټران کارکوي اوشریعت کې خودپردې دومره اهمیت دی چې دښځې نوک قدرې هم سړی نه شي لیدلی، مولوی صاحب! زمامقصد یوازې مسئله معلومول نه دي، بلکې ستاسویعنې په عالم دین دا فرض دي چې تاسودابې غیرتي منع کړئ، ګني مستقبل کې به زموږ دملک داسې حالت وي څنګه چې نن سبادیورپ دی.

جواب: مسئله خوتاسومعلومول نه غواړئ اودابې غیرتي منع کول زمااوستاسودطاقت خبره نه ده دادحکومت فرض دي چې دښځوبې حرمتي سمدستي بنده کړي، شرم اوحیادانسانیت ښایست دی،که دانه وي؛ نوانسان،انسان نه، بلکې دانسان په شکل کې ځناوردی، د بدقسمتي له وجې په اوسني تهذیب کې دشرم اوحیاهیڅ قیمت نه شته، همدغه وجه ده چې یوازې یورپ کې نه، بلکې کراچۍ کې هم ښځې بربندسر په بازارونوکې ګرځي، دفترونوکې ناپیژندګلوسړیوسره کیني اوپرته له څه تکلف نه ورسره لاس ملاووي، درزیانو(خیاطانو)ته دجامو ناپ ورکوي، هغوی باندې خپل بدن ناپ کوي او داهرڅه دترقي په نوم باندې کیږي، کومه معاشره کې چې داسلامي حکمونولحاظ نه وي، دالله تعالی اورسول ﷺ نه شرم نه وي؛ نه یې سړیو اوښځوکې شرم وي، نه هغوی ته دخپل نسوانیت احساس وي، هلته که دماشوم دپیداکیدوکارسړیوته حواله شي؛ نود اوسني تهذیب دفلسفې مطابق دی،همدغه وجه ده چې زموږ دغیتو خاندانو ښځوته ددې حادثې پته ده، خودهغوی له طرفه کله هم ددوی خلاف داحتجاج اوازاوچت نه شو اوترڅوچې په ډیرضروري حالاتو کې د ناپیژندګلو سړیونه دعلاج کولوتعلق دی؛ نوشریعت ددې اجازه ورکړې ده، خو دې سره یې ددې حدودهم ښودلي دي.[1]

ایا د ناروغ سړي پوښتنې ته ښځه تللی شي؟

سوال: زه مقامي هسپتال کې دنرس په ډول کارکوم اوهمدا زما دمعاش ذریعه ده او کفالت کونکي مې هم څوک نه شته، دقران او سنت په رڼاکې ووایئ چې موږ مسلمانانواینجلیو ته خپله پیشه جاري ساتل پکاردي؟ معاشره کې دخلکومختلف خیالات دي، موږ د انسانیت خدمت کوو، کله چې موروپلار، خپلوان وغیره وروسته شي، زموږ په لاسونوکې ډیر لا وارثه مړه شي، هغوی ته دکلیمې لوستلو والاڅوک نه وي اوډیرلا وراثه موږته دعاګانې کوي چې الله

---

[1] وامتنع نظره إلى وجهها إلّالحاجة..... ومداواهاينظرالطبيب إلى موضع مرضها بقدرالضرورة إذالضرورات تتقدربقدرها (درمختار) فينبغى أن يعلم امرأة تداويها فإن لم توجدوخافواعليهاأن تهلك أويصيبها وجع لاتحتمله يستروا منهاكل شى إلّاموضع العلة ثم يداويهاالرجل ويغض بصره مااستطاع إلّا عن موضع الجرح والظاهر أن ينبغى هنا للوجوب (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:٦ ص:٣٧١،كتاب الحظروالإباحة، فصل فى النظروالمس)۔

تعالی موږ ته شفا راکړه، د هغې نه وروسته ستاسو زموږ خیال ساتل او تیمارداري کول دي، دماغ موعجیبه پریشاني کې دي، د دې حل وښایئ زموږ نرسانو په اسلام کې څه مقام دی؟ زموږ دا پیشه جاري ساتل پکار دي او که پرېښودل یې پکار دي؟ او خوینددې منع کړو که ترغیب ورته ورکړو؟

جواب: د ناروغ تیمارداري کول ښه خبره ده، خو نامحرمه سړیو سره بې پردګي د هغې نه غټه ګناه ده د ښځو په ذمه باندې د ښځو تیمارداري کول پکار دي، د سړیو تیمارداري کول د ښځو له پاره صحیح نه دي.[1]

ښځې ډاکټرې ته هسپتال کې څومره پرده کول پکار دي؟

سوال: زه ډاکټره یم، زه داسې پرده کولی شم چې له کورنه بهرخو څادر داسې په سرکړم چې ټول بدن مې پرې پټ شي او د مریضانو مخکې یا هسپتال کې داسې ویښته وغیره مې ټول پټ وي او یوازې مخ مې ښکاره وي؟

جواب: څه داسې نقاب وغیره په سر کول پکار دي چې نامحرمو ته مخ په نظر باندې نه راځي.[2]

برقعې یا څادر کې یوازې سترګې ښکاره ساتل جائز دي

سوال: د پردې باره کې پوښتنه کول دي چې نن سبا داسې برقعه یا څادر په سر کولی شي چې د تندي پورې ویښته وغیره پټ شي او لاندې نه مخ د پوزې پورې، یوازې سترګې ښکاري، دا طریقه صحیح ده او که نه؟

جواب: صحیح ده.[3]

د نامحرمه ښځې ویښته یا لاسونه لیدل جائز دي او که نه؟

سوال: که چیرې د کم عمره یا بالغې ښځې ښکاره ویښته یا لاسونو ته قصدا نظر وکړل شي؛ نو ګناه به وي او که نه؟ او دا اندامونه په ستر خفیفه کې شامل دي.

---

[1] ولَا تمس شيئًامنه إذا كان أحدهما شابًا فى حد الشهوة وإن أمنا على أنفسهما الشهوة عالمگیری ج:٥ ص:٣٢٧، كتاب الكرهية،الباب الثامن فيما يحل للرجل النظرإليه)

[2] قال تعالى:(يدنين علهن من جلابيبهن) قال ابن كثير: أمرالله نساء المؤمنين إذاخرجن من بيوتهن فى حاجة أن يغطين وجوههن من فوق رؤسهن بالجلابيب.... إلخ تفسيرابن كثير ج:٣ ص:٦٨٤ سورة الأحزاب :٥٩، طبع رياض) (يدنين علهن من جلابيبهن الآية، قلت يعنى اذن لكن أن تخرجن متجلببات (تفسيرمظهرى ج:٧ ص: ٦٨٤) أيضًا: وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال ...إلخ (الدرالمختارمع الرد ج:١ ص:٤٠٦، باب شروط الصلاة)_

[3] قال ابن عباس وأبوعبيدة : أمرنساء المؤمنين أن يغطين رؤسهن ووجوههن بالجلابيب إلّاعيناواحدًا ((تفسيرمظهرى ج:٧ ص: ٦٨٤، أيضًا تفسيرابن كثير ج:٣ ص: ٦٨٤، الأحزاب:٥٩، طبع رياض)_

جواب: نامحرمه بالغه ښځه یاکومه اینجلۍ چې بلوغت ته نژدې وي، دهغوی اندامونوطرف ته کتل ګناه ده.[1]

ښځه د خپل محرم مخکې د بدن څومره اندامونه ښکاره ساتلی شي؟

سوال: ښځه دمحرم مخکې دبدن څومره برخه ښکاره ساتلی شي؟مثلا: یوه خوردخپل وروړمخکې.

جواب: دګیټونه لاندې برخه اود سینې نه پورته برخه، سر، مخ، لاسونه، دمحرم مخکې ښکاره کول جائزدي.[2]

نامحرمې ښځې ته قصدا کتل

سوال: ایاداصحیح دي چې نامحرمه ښځې ته قصداپرته دلذت حاصلولونه وکتل شي: نودابه دسترګوپه زناکې شمارنه وي؟

جواب: له ضرورت پرته چې نامحرم ته قصدا وکتل شي؛ نودهغې مقصد به دلذت حاصلولونه پرته بل څه کیدای شي اوپرته دلذت نه به یې پیژند ګلوځنګه کیږي؟دایوازې دنفس دوکه ده[3]

کلي کې پرده نه کونکې ښځه څنګه پوهه کړل شي؟

سوال: یوکلي کې عام دپردې کولو رواج نه شته، خویوه اینجلۍ چې هغې به دنکاح نه مخکې پرده نه کوله،اوس دنکاح نه وروسته دهغې خاوند مذهبي اوشرعي سړی دی، هغې ته دپردې کولوحکم کوي؛ نوهغه ورته خوش اخلاقي سره جواب ورکوي چې زه به ستاسوخبره منم، خو خپلې مور او خویندو او بهابهي ته دې هم ووایه چې هغوی هم دپردې خیال ساتي او هغه ذمه داري دپلار اوورونړوده، دې کې دخاوندهیڅ بس نه چلیږي؛ نوداسې صورت کې خاوند ته ښځې سره څنګه سلوک کول پکار دي؟ ایاطلاق ورته ورکړي اوکه زورېږې راوړي یا بل څه صورت ددې شته؟

---

[1] ولَایجوز أن ینظرالرجل إلی الأجنبیة إلّا وجهها وکفیها لقوله تعالی: ولایبدین زینتهن إلّا ماظهرمنها الآیة، فإن کان لَایأمن من الشهوة لَا ینظرإلی وجههاإلّا لحاجة لقوله علیه السلام: من نظرإلی محاسن امرأة أجنبیة عن شهوة صب فی عینیه الآنك یوم القیامة ...إلخ وقوله لَایأمن یدل علی أنه لَایباح إذا شك فی الْاشتهاء (هدایة ج:٤ ص:٤٥٨، کتاب الکراهیة،طبع شرکت علمیة ملتان)_

[2] وفی تنویرالأبصار:ومن محرمه إلی الرأس والوجه والصدر والساق والعضد ....إلخ (وفی شرحه) واصله قوله تعالی ولایبدین زینتهن إلّالبعولتهن........ وتلك المذکورات مواضع الزینة (الدرالمختارمع الرد ج:٦ ص:٣٦٧)_

[3] عن جریربن عبدالله قال:سألت رسول الله صلی الله علیه وسلم عن نظرالفجائة فأمرنی أن أصرف بصری (مشکوة ص:٢٦٨، باب النظرإلی المخطوبة، الفصل الأول)_

جواب: دعامو خپلوانو نه پرده ضروري ده[1] او دښځې دا دليل صحيح نه دی چې فلانکي پرده ولې نه کوي خاوند ته پکار دي چې عام رواج د پردې نه دی. له دې وجې دې دسختۍ نه کار نه اخلي. مينه او محبت باندې هغه پوهول پکار دي[2] او که چيرې هغه ته دا يقين وي چې د طلاق ورکولو په صورت کې به هغه ته ښه او پرده کونکې ښځه ملاوشي؛ نو د هغه خپله خوښه ده.

هلکانو ته د ښځو استاذانو نه تعليم حاصلول

سوال: داسلام په نزد باندې دا حکم دی چې ښځه به پرته له پردې له کور بهرنه وځي. اوس ښځې د هلکانو کالجونو ته هم راغلې دي؛ نو مونږ ته د پيريډ په دوران کې د هغوی نه پوښتنه کول وي؛ نو ښودونکي به ګناهګاره وي او لوستونکي او مونږ مجبوريو؟

جواب: د ښځو پرته پردې نه بهرته وتل داوسني جاهليت تحفه ده، کيدای شي هغه وخت به زر راشي د کوم چې حديث پاک کې خبرورکړل شوی دی چې ښځه او سړي به بازارکې جنسي خواهش پوره کوي او هغوی کې به د ټولونه شريف سړی هغه وي چې هغه به ورته يوازې دومره ووايي چې فلانيه! داچيرته يوطرف ته بوزه[3] د کوم حد پورې چې ستاسو د مجبوري تعلق دی، ډيرحده پورې د مجبوزي دمجبوزي هم مصنوعي ده، طالب علمان چې نورې ډيرمطالبې کوي او دهغه له پاره احتجاج کوي، ايا دحکومت نه دامطالبه نه شي کولی چې هغوی د دې ګناهګار ژوندنه بچ کړي...؟[4]

د ښځوله پاره په دفترونوکې بې پردې کارکول

سوال: د ښځو په بينکونو او دفترونو کې سړيو سره کار کول څنګه دي؟

جواب: د ښځو بې پردې، ناپيژند ګلو سړيو سره دفترونو کې کار کول د مغربي تهذيب نتيجه ده، اسلام د دې اجازه نه ورکوي.[5]

سوال: که چيرې اسلام ښځو ته داسې اجازه نه ورکوي؛ نو ايا د اسلامي مملکت په حيثيت

---

[1] ،، يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَٰبِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩)_

[2] ،،ادع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة،، (النحل:١٢٣)_

[3] عن أبي هريرة رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: لاتقوم الساعة حتى لايبقى على وجه الأرض أحد لله فيه حاجة، وحتى توجدالمرأة نهارًاجهارًاتنكح وسط الطريق لاينكرذالك أحد ولايغيره، فيكون أمثلهم يومئذ الذى يقول: لونحيتها عن الطريق قليلا فذاك فيهم مثل أبي بكروعمر فيكم (المستدرك للحاكم ج:٤ ص: ٤٩٥)_

[4] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من رأى منكم منكرًافليغيربيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذالك أضعف الإيمان رواه مسلم (مشكوة ص:٤٣٦، باب الأمربالمعروف،الفصل الأول)_

[5] ،،وقرن فى بيوتكن ولاتبرجن تبرج الجاهلية الأولى،، (الأحزاب:٣٣)_

باندې زموږ دا فرض نه دي چې دښځو نوکري بنده کړل شي، یا کم نه کم دهغوی له پاره دپردې یاجدا ځای لازمي کړای شي
جواب: بې شکه فرض دي او کله به چې صحیح اسلامي مملکت جوړشي، انشاء الله دښځې به داتذلیل نه وي

پاکو ببیانو باندې د پردې حیثیت، دقران نه د پردې ثبوت

سوال: دحضور ﷺ په پاکو ببیانو باندې پرده فرض وه که واجب؟
جواب: فرض وه.[۱]
سوال: او دعامو مسلمانانو ښځو او دپاکو ببیانو دپردې حکم برابردی او که فرق په کې شته؟
جواب: حکم برابردی، خو داحترام او عظمت داعتبار له وجې شدت او ضعیف والي فرق شته.
سوال: که چیرې شته؛ نوله څه وجې؟
جواب: لقوله تعالٰی. لستن کاحد من النساء. الایة.[۲]
سوال: اوقران شریف له کوم ایت نه دپردې تاید کیږي؟
جواب: یاایها النبی قل لازواجک وبنتک ونساء المومنین. الایة.[۳]

دحج په سفرکې دښځو له پاره پرده ضروري ده

سوال: اکثرلیدل شوي دي چې دحج په سفرکې دڅلویښتو حاجیانو یوه جماعت وي، چې هغوکې محرم اونامحرم ټول وي. داسې مبارک سفرکې بې پردې ښځې خوپریږدئ اوپرده کونکو ښځو دا حال وي چې دپردې بالکل خیال نه ساتي اوکله چې هغوی ته دپردې کولو وویل شي: نو جواب ورکوي چې دې مبارک سفرکې دپردې کولو ضرورت نه شته اومجبوري هم ده، دې سره داهم لیدل شوي دي چې حرم کې ښځې دطواف اولمونځ کولوله پاره نرۍ جامې اچوي د هغوی داحال وي چې دډیروخلکو په مینځ کې طواف کوي اودغه شان د حجراسود ښکلولوله پاره کوشش کوي، پوښتنه داکول غواړم چې ایادمجبوري په داسې حالت کې شریعت کې دپردې څه رعایت شته؟ پکارخوداوو چې داسې مبارک سفرکې دحرامونه بچ شي چې حج قبول شي، داسې جامې اغوستلو سره طواف اولمونځ وغیره له پاره راتلل په شریعت کې څه حیثیت لري؟

[۱] ،، یَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَٰبِيبِهِنَّ،، (الأحزاب: ۵۹)_
[۲] (الأحزاب: ۳۲)_
[۳] (الأحزاب: ۵۹)_

جواب: داحرام په حالت کې ښځې ته حکم دی چې جامه د هغې مخ پورې ونه لګیږي، خو داسې حالت کې چې د کوم حدپورې خپل وس کې وي، د نامحرمونه پرده کول ضروري دي او کله چې احرام نه وي؛ نو مخ پټول لازمي دي[1] داغلطه ده چې مکه مکرمه یا دحج په سفر کې د پردې ضرورت نه شته. د ښځې نرۍ جامواچولو سره (چې هغې کې د سرویښتان ښکاري) دلمانځه او طواف له پاره راتلل حرام دي او داسې جاموکې د هغوی لمونځ هم نه کیږي[2] طواف کې ښځوته پکاردي چې کوم ځای کې د سړیو رش وي هلته نه ورځي او د حجراسود ښکلولو کوشش دې هم نه کوي، ګني ګناهګارې به وي او (نیکي برباد ګناه لازم) په شان به وي. ښځوته پکار دي چې دحج په دوران کې هم لمونځونه خپل کورکې اداکړي، کورکې لمونځ کولو سره به ورته پوراثواب ملاویږي، د هغوی کورکې لمونځ کول حرم شریف کې د لمونځ کولونه افضل دي او طواف له پاره دې د شپې ځې هغه وخت کې رش لږکم وي.

اوښي نه هم پرده کول ضروري دي

سوال: زه خپل اوښي سره اوسیږم، د ماشوموالي نه هغوی زه د خپلې لور په شان لویه کړې یم، ماسره ډیره زیاته مینه کوي، دامعلومول غواړم چې داوښي نه پرده شته او که نه؟ داوښي سره نکاح نه کیږي له دې وجې زما خیال دی چې د هغه نه پرده هم نه ده پکار، که چیرې شته؛ نو زه څه وکړم؟ ماله پاره دا مسئله داسلامي مسئلې سره ذهني مسئله هم جوړه شوې ده، ځکه چې زما ډیر غټ خواهش دی چې زه نیکه جوړه شم، دې مقصدله پاره ماپه خپل زړه باندې کاڼي کیښودو سره هریوه بدي ختمه کړې ده. خو دامسئله زما دوس خبره نه ده. خور ما سره ډیره مینه کوي. د خپل ځان نه مې جدا کولی نه شي ځکه چې هغه اکثر ناروغه وي، د هغې لور هم نه شته هرڅه کیدای شي خو چې کوم انسان سره څلیریشت ګهنټې اوسیدل وي د هغه نه پرده څنګه کیدای شي؟ زه هر وخت پریشانه اوسیږم او د ذهني پریشاني هم ښکارشوې یم، هر وخت دالله تعالی ویره او دالله تعالی ویرې زما سکون ختم کړی دی، خلک زما په حالت باندې شک کوي، کله چې ورته دامسئله بیان کړم؛ نو یقین نه کوي چې د دومره وړې مسئلې له پاره دومره پریشانه یم، هغوی داوړه مسئله ګڼي، خو زه خپل ضمیر څنګه ویده کړم کوم چې ماهر وخت پریشانه کوي، زما عمر نولس کاله دی او زه د دولس زده کونکې یم.

جواب: پرده خو داوښي نه هم شته[3]، خو د ځادر پرده کافي ده، پرته د ضرورت نه ورسره خبرې

---

[1]]وستر الوجه (درمختار) وأطلقه فشمل المرأة لما في البحر عن غاية البيان من أنها لاتغطي وجهها إجماعًا اه أي وإنما تستر وجهها عن الأجانب بإسدال شيء متجاف لايمس الوجه (شامي ج:٢ ص:٤٨٨ فصل في الإحرام، كتاب الحج)

[2]]وقال في الفتاوى الحاقانية المعتبر في افسادالصلاة انكشاف مافوق الأذنين من الشعر (حلبي كبير ص:٢١٢)

[3]]،، وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلا لبعولتهن أوابائهن...الآية (النور:٣١) دغسي د ص:٨١ حاشيه نمبر ٤ اوګورئ)۔

مه کوئ، نه د ضرورت نه پرته د هغوی مخې ته ورځئ او د خپل وس مطابق خپل بدن پټ ساتئ او که چیرې دې کوتاهي وشي؛ نو توبه او استغفار کوئ.

په خوله ویل شوی پلار، ورور یا زوی پردي دي شرعًا له هغوی نه پرده کول لازم دي

سوال: مولانا! زمونږ پردي ملک ته د رزق په تلاش کې راغلیو خلکو ژوند هم عجیبه وي، هم هغه حساب دی چې ,,وتلی ستا په تلاش کې وم خپله ورک شوم،، زمونږ خپل وطن، خپل کور او خپل خپلوان په زرګونو میله لرې پریښودل او د حلال رزق په ذریعه باندې د خپلو انو خوشالۍ اخیستلو له پاره راوتلي وو، خو خپلې خوشالۍ او ذهني سکون موورک کړ، څنګه چې وطن کې داوسیدونکو خلکو، بلکې پخپله زمونږ دوطن نه بهر اوسیدونکو خلکو خیال دی، چې دلته د کجورو په ونو باندې ریالونه، درهمونه او ډالرې ځوړندې دي، یوازې لاس اوچتولو او د هغې د شوکولو ضرورت دی، حالانکې د خپل وطن، د مورو پلار، ښځې او بچیونه دلیرې والي عذاب، د پردي وطن سختۍ، د حقارت سلوک، د مشین په شان کار کول، دلته تیر شوی یو کال خپل وطن کې د تیر شوي لسو کلونو برابر شي، سهار نه ماښام پورې کار کول او که له چې سترې ستومانه کټ کې سملې؛ نو د کورو الو یادونه، د هغوی فکرونه، خط رانغی یوه پریشاني، بیا ملکي حالات، یو طرف ته داژوند ،بل طرف د کور مشران یعنې د چا پلار دی، خاوند دی، ورور دی د هغوی دوطن تلو له وجې او وطن کې د هغوی ښځې، لونړه او میاندې یوائې پاتې کیدو له وجې پریشاني پیدا کیږي، معاشره کې مسئلې پیدا کیږي، کوم کورونه چې مونږ د صحرا په شګه کې د خپلو وینو په ګټه باندې جوړ کړي وو، د هغو دیوالونه غورزیږي، مونږ خلک په خپلو کورونو کې ناپیژند ګلو شوي یو، زمونږ دواپسۍ په ذکر باندې هم کورو الاخفه شي او مونږ نه یوازې د پیسو ګټلو مشینونه جوړ شوي دي.

زه د دې ډیرو خبرو معافي غواړم، ستاسو یوه لمحه قیمتي ده، خود معاشرې کومې مسئلې طرف ته ستاسو توجه کول غواړم، هغه هم د مذهب او معاشرې په نزد باندې څه کمه اهمه نه ده، د دې له وجې ډیر کورونه تباه کیږي، د ښځې او خاوند د مینې محبت ژوند په نفرت بدلیږي، د رسوایي او جدایي حد ته رسیږي، دا خبره داسې وګورئ.

زید زاهدې سره واده وکړ، خانداني او معاشرتي لحاظ سره او مذهبي لحاظ سره دواړه خاندانونه د فخر او عزت قابل دي، دواړه کې اخري حد پورې مینه او اتحاد دی، خلوص دی، د ښځې په خاوند باندې او د خاوند په ښځه باندې اعتماد دی، ښځې د خاوند په هر مشکل او پریشاني کې مدد کوي، غریبي کې ورسره مدد کوي د ښځې خپل ورورنه شته، ښځه عمر نه ورور جوړوي او عمروایي چې دا زما د خپلې خور په شان ده (عمر هم واده کړی دی او د بچیو پلار دی)، د زید په الله تعالی باندې او د خپلې ښځې په کردار باندې بې انتها بهروسه ده، کوم کس

چې وروړ جوړ کړل شوی دی هغه هم یو شریف او دښه کردار مالک دی، خو زید بار بار خپله ښځه دې باندې پوهوله چې: دا سمه چې زما تا باندې اعتبار دی؛ خو خولې سره ویل شوې ددې رشتې هیڅ اعتبار نه شته اوپه خاص ډول داسې حالت کې کله چې دښځې خاوند، پلار یا ورور بهرملک کې وي: نوهغې له پاره نامحرم سره ملاویدل نه دي پکار، په دې کې رسوایي ده، خو ښځه یې ضد کوي او اصرار کوي چې نه عمر زما د وروڼو په شان دی اوزه به هغه سره ملاویږم ددې خبر واثر دا کیږي چې ورو ورو هغوی دواړو کې دمینې، خلوص او همدردي کوم تړون و هغه کمزورې کیدل شروع شو، نزدیکت په لیرې والي بدل شو او که چیرې خاوند د واپسۍ اراده کوي؛ نو ښځه ورته دنورو خلکو مشورې بیانوي چې د ملک معاشي حالات خراب دي، له دې وجې واپس راتلل نه دي پکار دې مشوره ورکونکو کې دخولې ویل شوي ورور هم شامل دی، چې هغه په ځانته والي کې زید ته هروخت دا مشوره ورکوي چې هغه ته واپس راتلل پکار نه دي.

اخرداچې بدترین تعلقات داسې شي چې خلک دهغوی طرف ته ګوتې او چتول شروع کړي، الزامونه لګوي او خبره تر دې حده پورې رسیږي چې زید په قتل کولو باندې راضي شي.

مولانا! دا یوازې دزید کیسه نه ده، داسې په زرګونو کیسې پیدا کیږي، ډیر کورونه برباد شول، خپلوي ماتیږي، بچي بې کوره کیږي دالله تعالی له پاره! خپل کالم کې موضوع باندې قلم اوچت کړئ او ووایئ چې اسلام کې، قران کې او درسول الله ﷺ دارشاداتو په رڼا کې ددې خولې سره ویل شویو رشتو(خپلویو)،څه حیثیت دی؟ او دیوې ښځې له پاره په خولې باندې ویل شوي کس سره هم داسې ملاویدل، هغه ته په خاوند باندې ترجیح ورکول او کله چې خبره عزت او بدنامي ته ورسیږي، ددې باوجود په ښکاره سره داویل چې زما ضمیرپاک دی زه به ملاویږم! ترکوم حد پورې جائز دي؟ او مذهب کې ددې خبروڅه سزا یا جزاده؟ اسلام دهریوسړي او ښځې د ملاویدو له پاره څه حدود مقرر کړي دي، داخو هغه ورور جوړونکو ښځو ته معلومیدل پکار دي او هغه وروڼه جوړیدونکو سړیو ته هم دخپلو خویندو دعزت خیال ساتل پکار دي. چې دهغوی له وجې دهغوی دخویندو په عزت پسې خبر کیږي، دهغوی کورونه بربادیږي، خو زموږ په معاشره څه وشو؟ هرکس خود غرضه او خود سره شوی دی.

جواب: شریعت کې په خولې دجوړشوي زوی، پلار یا ورور هیڅ حیثیت نه شته[1]، هغه بیاهم ناپیژندګلو دی او دهغوی نه ښځې ته پرده کول لازمي دي، هم دې خولې سره ویل شوي په چکر کې په سوونو خاندانونو خپل عزت نیلام کړی دی، له دې وجې دښځې دا ویل چې زه به خولې باندې ورور ویل شویو سره ضرور ملاویږم، دالله تعالی او دهغه رسول ﷺ نافرماني او بې

---

[1] [قال تعالی: ،،وماجعل ادعیائکم أبنائکم ذلکم قولکم بافواهکم والله یقول الحق وهو یهدی السبیل،، (الأحزاب: ٤)_

حیایي خبره ده اوداویل چې زماضمیرپاک دی، هیڅ معنا نه لري، ځکه چې خبره دضمیرپه پاکیدویانه پاکیدو باندې نه ده، دچادضمیرخبرخوبه هغه ته وي یاالله تعالی ته بنه پته ده، چې دچا ضمیرترکوم حدپورې پاک دی، خبره دې باندې ده چې کله خولې باندې ویل شوی وروړه شرعي ډول ناپیژندګلودی: نو ناپیژندګلوسړي سره (دخاوند د ډیروخت په غیرحاضري کې) مسلسل ملاویدل څنګه حلال کیدای شي؟ که چیرې دهغه ضمیرپاک هم وي: نوبیابه هم دتهمت اودخبروکولوموقع ملاویږي اواحادیثوکې دداسې موقعونه دبچ کیدوتاکیدراغلی دی، حدیث کې دي:

،،اتقوامقام التهمة،،[1]

ترجمه: دتهمت دمقام نه ځان ساتئ.

ایا پرده یوازې دسترګووي که برقع اوڅادرهم ضروري دی؟

سوال: دنن سباجدید دورکې ویل کیږي چې پرده یوازې دسترګو وي، که چیرې ښځې سترګې ښکته کړې یاحفاظت یې وکړي؛ نودبرقعې یا څادرضرورت نه شته، داخبره ترکومه حده پورې صحیح ده؟

جواب: ایا اوسني دورکې دقران کریم هغه ایتونه اودنبي کریمﷺ ارشادات منسوخ شول کومو کې چې دپردې حکم دی؟ اوسترګې ښکته کولوباندې ټوله دنیامسلمانان اوغیرمسلم عمل کولو؛ نو تاسوبه ویلی شو چې کله دکتلوڅوک نه شته؛ نوبیاپرده دڅه له پاره وکړو؟ خوکله چې بدنظرونه خلوروطرفونه دښکاره مخونوتماشه کوي؛ نوایادهغوی دګندګي نه دبچ کیدوله پاره به دپردې ضرورت نه وي...؟[2]

دزړو(بوډیو) ښځوله پاره دپردې حکم

سوال: ددستورکمیشن مشرمولاناظفراحمدانصاري په خپل یوبیان کې فرمایلي دي چې: پنځه څلویښت یا څلویښت کاله عمرته رسیدونه وروسته ښځې له پاره شریعت کې دپردې شرائط هم نرمیږي، دې باره کې تاسونه پوښتنه کول غواړم چې ایادې عمرکې ښځوته

---

[1] لقوله علیه السلام:،،إتقوامواضع التهم،، هومعنی قول عمر:من سلك مسالك التهم إتهم...إلخ (الموضوعات الکبری ص:٤٩، طبع قدیمی)_

[2] ،، یَاَیُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِیْنَ یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩) وقل للمؤمنت یغضضن من أبصارهن،، (النور:٣١) أیضاً: وتمنع المرأة الشابة من کشف الوجه بین رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة....إلخ. وفی الشامیة:لأنه مع الکشف قدیقع النظرإلیهابشهوة (شامی ج:١ ص:٤٠٦، باب شروط الصلاة)_

سړیوسره دفترکې د کار کولواجازه ورکیدای شي، یا نوروکارونو کې دسړیوسره پاتې کیدای شي؟ دوزارت یاسفارت منصب ورته ورکول کیدای شي؟ غرض داچې ترکوم حدپورې دپردې په حکمونو کې نرمي کیدای شي؟

جواب: دپردې دحکمونودنرمیدودامطلب نه دی چې اوس هغې باندې نسواني حکمونه نه جاري کیږي،بلکې کوم کارونه چې دسړیو دي یاچې کوم کارونوکې پردو سړیو ازاد ملاویدل یادیواخې والي ویره وي هغه اوس هم جائزنه دي.[1]

ایا ودونوکې ښځوله پاره په پرده کې تخفیف شته؟

سوال: اکثرښځې پرده کوي اوپه ودونووغیره کې یې نه کوي، حالانکې په ودونوکې هغوی سره سړي هم مخامخ کیږي اوکه چیرې مخامخ ورسره نشي؛ نوفلم جوړولو یا تصویر ویستلو سره دهغې کمی پوره شي. چې پرده کونکې ښځې هم سړي ویني، ایاداسې پرده مناسب ده؟ او زماپه خیال کې ودونویانوروداسې پروګرامونوکې پرده کې اوسیدل پکاردي، که سړي وي او که نه وي،خو چې فلم جوړیږي. تاسووایئ چې دغو ښځوته پرده کونکې ښځې ویل کیدای شي؟

جواب: ستاسوخیال صحیح دی چې داسې ښځې پرده کونکې، نه بلکې بې پردې دي.

د پردې حدود څه دي؟

سوال: اسلام کې صحیح پرده څه ده؟ ایا لاسونه، پښې، مخ او سترګې ښکاره ساتل کیدای شي؟ ډیرې اینجلې مې اکثرمخ ښکاره ساتلوسره پرده کولوباندې لیدلي دي اوزماپه خیال مخ هم دپردې شی دی. حنفي مسلک یااسلام کې لاسونه دتلو پورې، د پښو او سترګو ښکاره ساتلواجازه شته اوکه لاسونواو پښو له پاره هم د ستانې اوجرابې استعمالول پکاردي، مطلب داچې تاسودپردې د صحیح طریقې وضاحت وفرمایئ!

جواب: لاسونه، پښې اوسترګې ښکاره اومخ پټ ساتل پکاردي.[2]

پرده له کومو خلکو او څومره پکار ده؟

سوال: زه دیومعزز سید خاندان سره تعلق لرم، زموږکورکې هم پرده کیږي، خو له خپلو خپلوانو څخه نه، زه دخپلوټولونامحرمه خپلوانو نه پرده کول غواړم، کله چې ماداسې وکړل؛ نود نورو خلکونه پرته خپل مورو پلارمې هم مخالفت کوي، زه تې وي نه ګورم اود ناپیژندګلو سړیو تصویران هم نه ګورم، مور وپلارمې پریشانه دي، مهرباني وکړئ ماته دقران اوسنت

---

[1] عن ابن عباس أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لَایخلون رجل بإمرأة إلّامع ذی محرم....إلخ (صحیح البخاری ج: ۲ ص:۷۸۷، باب لَایخلونّ رجل بإمرأة إلّا ذومحرم)۔

[2] ،، ولایبدین زینتهن الّاماظهرمنها ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن،، (النور: ۳۱)۔

مطابق ووایئ چې ماته څه کول پکاردي؟ زه خپل مورو پلار د ځان له وجې پریشانه نه شم لیدلی. خود الله تعالی د حکمونو خلاف ورزي کول هم نه غوارم، حضور ﷺ چې کله د حضرت اسماء رضي الله عنها نرۍ جامو باندې اعتراض کړی و؛ نو دایې هم فرمایلي و چې د مجبورۍ په حالت کې ښځه د خپل نژدې محرم مخکې مخ ښکاره کولی شي، دې سلسله کې هم وضاحت وفرمایئ؛ نو مهرباني به وي، ایا مورډ د خپلو ترونو، ماما ګانو او تریانو وغیره بچیو په مخکې مخ ښکاره کولی شو؟

جواب: د کومو کسانو سره چې د ښځې نکاح د همیشه له پاره حرامه وي هغوی ته محرم ویل کیږي[1] او کومو سره چې نکاح کیږي هغه د ښځې له پاره نامحرم دی او شرعي طور باندې د نامحرم نه پرده ده[2]، له دې وجې د ترور بچیو او تره بچیونه هم پرده کول پکاردي او که کله ناکله د مجبورۍ له وجې د نامحرم مخې ته راتلل وشي؛ نو مخ پټول پکاردي[3] د نامحرمه خپلوانو سره پرته د تکلف نه خبرې کول او پرته د پردې نه هغوی سره ملاویدل شرعي او اخلاقي ډول باندې قتل کونکي زهر دي.

له کوره بهر بې پردې ښځې کورکې د خپلوانو نه ولې پرده کوي؟

سوال: اوس پردې یو بل رخ اختیار کړی دی، هغه داچې ښځې او اینجلۍ داسې خوښکاره مخ ګرځي، دوکانونو کې سوداګانې اخلي او د چا کتلو یا نه کتلو هیڅ پرواه نه کوي، خو کله چې په خپل کورونو کې وي او هغه وخت کې څوک میلمه یا بل څوک راشي؛ نو سمدستي پرده وکړي او د چا مخکې بالکل نه راځي، تاسو ویلی شئ چې د مسلمانانو ښځو او اینجلیو له پاره ددې اوسنۍ پردې په اسلام کې څه شق وغیره شته؟ او که نه شته؛ نو بیا کورته راتلونکیو شریفانو څخه د پردې کولو څه مطلب دی او دغه شان د شریفانو خلکو زړه هم خفه کیږي او زړه خفه کیدل پخپله یوه لویه ګناه ده.

جواب: اعتراض په صحیح شي باندې نه وي غلط باندې وي، تاسو ته اعتراض په (ماډرن بې پردګۍ) باندې کول پکاردي، کوم چې د بې حیایي د حدونو نه هم مخکې تللې ده، پرده په هرحال پرده ده، هغې باندې اعتراض کول نه دي پکار، البته ډاضروري ده چې کومه ښځه د الله تعالی او د رسول ﷺ حکم ګڼلو سره پرده کوي، هغه به د الله تعالی او د رسول ﷺ د رضامندي مستحقه وي او کومه یې چې د فیشن په ډول کوي هغه به د دې رضامندي نه محرومه وي.[4]

---

[1] ومحرمه هی من لَایحل له نکاحها أبدًا بنسب أوبسبب (درمختارمع ردالمحتار ج:٦ ص:٣٦٧، کتاب الحظر والإباحة)

[2] ،، يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، (الأحزاب: ٥٩)

[3] تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجهها فتقع الفتنة (ردالمحتار ج:١ ص:٤٠٦، باب شروط الصلاة)

[4] عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: [بقیه په راروانه صفحه

له وربنداركا نو پرده څومره ضروري ده؟

سوال: زمانهه زامن دي، هغوکې د دريو ودونه شوي دي، اصل کې مسئله داده چې زماټول زامن له وربنداركانو پرده كوي، پوښتنه داده چې له وربنداري څخه څنګه پرده كول دي؟ اياهغوی نه به هم دعامونا پيژندګلوښځوپه شان پرده وي ياڅه ګنجائش په کې شته؟ مثلاً: كه ضروري خبره كول وي ياخوراک څښاک وي؛ نومخې ته تلی راتلی شي؟ ځکه كه چيرې له وربنداري نه دعامو ناپيژندګلو ښځوپه شان پرده كوي؛ نوکورکې به اوسيدل ګران شي.

جواب: دبهابي(وربندار) نه پرده خودعامو خلكوپه شان ده، خوكه په تلل راتلل ګران شي، له دې وجې يوازې دڅادرپرده كافي ده،ضروري خبره هم كولی شي اوخوراک وغيره هم راوړلی شي.

د نرسې له پاره د ناروغ سرې خدمت

سوال: عام ډول باندې مسلمانې اينجلۍ دنرسنګ پيشه خپلولونه ځان ساتي، مادې سوچ سره نرسنګ ټرينګ کې داخله اخيستې وه چې زموږ په شان مسلمانې اينجلۍ به هم راځي اودا پيشه به خپلوي، خودې پيشه کې دسړيواوښځودواړوخدمت كول وي، د اينجلۍ كيدوپه حيثيت باندې خو دښځو او ماشومانوكاركولی شي، خو د سړيوپه وارډکې ديو ناپيژندګلو سړي په زخم باندې مرهم پټۍ وغيره لګول ديوې مسلمانې اينجلۍ صحيح دي؟ مهرباني وكړئ د اسلام اوشريعت په رڼا کې تفصيلي جواب راكړئ!

جواب: دسړيو ناروغانو دخدمت اوپټيووغيره لګولوله پاره سړي مقررول پكار دي، له نامحرمه ښځونه دا ډول خدمت اخيستل جائزنه دي.[1]

له وربنداري نه د پردې حد

سوال: موږ دوه ملګري يو اوالحمدالله دواړو په خپلو كورونوکې دشرعي پردې مكمل اهتمام كړی دی، خوزماملګری ماپه دې خبره باندې تنګوي چې ته دشريعت خلاف ورزي كوې او دخپلو وربنداركانو نه پرده نه كوې اودهغوی سره په يوكوركې اوسيږې اوداعتراض كونكي بل ورورنه شته، دهغې له وجې هغه اعتراض كوي او موږ درې وروڼه يو اود دريو واړو ودونه شوي دي ستاسويوه ليكل شوې مسئله ماهغه اعتراض كونكي ته وړاندې كړه چې دضرورت په وخت کې وربنداري سره خبرې كيدلی شي اوهغه لاسونه، پښې اومخ ښكاره كولی شي، خو هغه وايي چې دې مسئلې سره هيڅ دليل نه شته، له دې وجې يې زه تقليدنه كوم. تاسوته

...بقيه د تېرمخ]. إنماالأعمال بالنيّات وإنّمالامرىء مانوى الحديث (بخاری ج:۱ ص:۲، باب كيف كان بدء الوحی)۔

[1] ولَايمس الرجل المرأة وهماشابان سواء كانت الصغيرة ماسة والبالغ ماس (البحر ج:۸ ص:۱۹۹)۔

خواست دی چې وضاحت سره د قران او سنت په رڼا کې بیان وفرمایئ.

جواب: حضرت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله) لیکي کوم خپلوان چې محرم نه دي، مثلاً: د ترور زوی، ماما زوی، د تره زوی یا اوښی یا لیور وغیره د پیغلې ښځې له پاره د هغوی مخې ته راتلل او پرته د څه تکلف خبرې کول نه دي پکار، که چیرې د کور دوړوک والي یاد هروخت تلو راتلو له وجې ژوره پرده نه شي کیدای؛ نو له سرنه ترپښو پورې ځان یو زوړ څادر باندې پټولو سره او شرم او حیا سره د ضرورت په وخت کې د هغوی مخکې راتللی شي او لاسونه، د سر ویښتان او پنډۍ ښکاره کول حرام دي، دغه شان د دې خلکو په مخکې ښځې له پاره عطر لګولو سره راتلل جائز نه دي او نه دې شرنګیدونکي کالي اچوي.(تعلیم الطالب ص۵)[1]

د وریرې او خورځې له خاوند نه پرده شته

سوال: ماته چاویلي دي چې زوم که د هرې درجې وي، د هغه نه پرده نه شته، مثلاً: د حقیقي خور، وریرې او د خورځې د خاوند نه، آیا دا خبره صحیح ده؟

جواب: د وریرې او خورځې د خاوند نه په شرعي ډول پرده شته، هغوی په شرعي ډول زومان نه دي.[2]

د لیورځې د زوم نه هم پرده ضروري ده

سوال: زه د خپل لیوره د زوم نه پرده کوم، خلک وایي چې د کور د سړي نه پرده نه دي کول پکار او مخې ته راتلو کې هیڅ بده خبره نه شته، تاسو ووایئ چې پرده شته او که نه؟

جواب: له هغه نه هم پرده شته.[3]

سوال: کله چې د لیوره، د خاوند اوښي، خپل اوښي (د خور خاوند) د دې ټولونه د پردې حکم دی؛ نو زموږ مشران او خاوندان او وروڼه موږ ته د پردې کولو ولې نه وایي او موږ د هغوی مخې ته راتلو باندې ولې مجبوروي؟

جواب: غلط کوي.

پردې له پاره کوم یوشی ښه دی څادر که برقعه؟

سوال: (۱) اسلام کې د پردې اهمیت ډیر زیات دی، خود پردې اصل مفهوم څه دی؟ ایا ښځوله پاره د برقعې استعمالول لازمي دي؟ او اوسني دور کې چې د برقعې څنګه استعمال کیږي، ایا

---

[1] تفصیل د پاره او ګورئ: إمدادالفتاوی ج: ٤ ص: ۱۷۷)_

[2] قال تعالی: یاأیها النبي قل لأزوٰجك وبناتك ونسآء المؤمنین یدنین علیهن من جلٰبیبهن، جمع جلباب وهی الرداء التي تشتمل بها المرأة فوق الدرع والخمار (تفسیر المظهري ج:۷ ص:۳۸۳ ولایبدین زینتهن الآیة النور: ۳۱)

[3] ایضاً)_

هغه په اسلام کې جائز دی؟

جواب: دپردې نه مراد دټول بدن پټول دي، که هغه په څادر باندې وي او که په برقع باندې، کومه برقع چې دسترفایده ورنه کړي هغه بې کاره ده.[1]

د ښځې سړیو ته خطاب کول او ښځو سره خبرې څنګه کول پکار دي؟

سوال: ۱ ایا ښځه دغیرمحرمو سړیو په جلسه کې وعظ یادمعاشرې د اصلاح یاد رواجونو د اصلاح باره کې تقریر کولی شي؟ (پرده په کور کې دننه ده؟)

سوال: ۲: ایا ښځه پرته دضرورت نه غیرمحرم ته خپل اواز اورولی شي؟

سوال: ۳: ایاحضرت عائشه رضي الله عنها حضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنها یانورو صحابیاتو په شان نیکانو خلکو په پرده کې وعظ کړی دی؟

سوال: ٤: صحابه کرامو رضي الله عنهم به دضرورت په وخت کې دامت دمور حضرت عائشې رضي الله عنها نه دمسئلې باره کې څنګه پوښتنه کوله؟

جواب: ۱: دنامحرمو په مخکې پرته دپردې نه تقریر کول جائزنه دي، حرام دي[2] اودضرورت په وخت کې په پرده کې خبرې کول جائزدي، خو په خبرو کې سختي پکارده، چې دهغه له وجې دسړي دښځې طرف ته کشش پیدانه شي.[3]

نن سبا چې جلسو کې ښځې اوسړي په یوځای باندې خطابونه کوي، دا داوسني جاهلیت بدعت دی.

جواب: ۲: له ضرورت پرته جائزنه دي، په خاص ډول کله چې فتنې ویره وي اوعام بازاري خلک چې راجمع شوي وي[4]، هم له دې وجې ویل شوي دي.

نه تنها عشق از دیدار خیزد　　　　بسا این دولت از گفتار خیزد

جواب: ۳: پرته دپردې نه تقریر کول ثابت نه دي اونه پرته دضرورت نه بیا دمسلمانانو مور باندې دنن سبا ښځې ته اوصحابه کرامو رضي الله عنهم مقدس زمانې باندې دنن سبادګنده زمانې قیاس کول بدعقلي ده.

---

[1] ایضاً۔

[2] ولَانجیزلهن رفع أصواتهن ولَاتمطیطها ولَاتلیینها وتقطیعها لما فی ذالك من استمالة الرجال إلیهن وتحریك الشهوة منهم (فتاوی شامی ج: ۱ ص: ٤۰٦، باب شروط الصلوة، مطلب فی سترالعورة)۔

[3] ،،یٰنسآء النبی لستن کاحد من النساء ان اتقیتن فلاتخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض وقلن قولًامعروفا،،(الأحزاب :۳۲) مسئلة: المرأة مندوبة إلی الغلظة فی المقال إذاخاطبت الأجانب لقطع الإطماع (تفسیرالمظهری ج: ۷ ص:۳۳۸)

[4] ایضا پورتنۍ حواله۔

جواب: ٤: قران کريم کې دي ,,**فاسئلوهن من وراء حجاب**،،

(**ترجمه**) که دپاکو ببيانونه څه پوښتنه کول وي؛ نوپرده کې يې ترې کوئ) له دې وجې به يې ترې پرده کې پوښتنې کولې.

د پردې مخالفت کې د مورو پلاراطاعت ضروري نه دى او د اوښيو نه هم پرده ضروري ده

سوال: دعالمانونه مواوريدلي دي چې زوى باندې داسلامي شريعت مطابق دمور وپلار اطاعت واجب دى، که چيرې هغوى حکم وکړي چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړه؛ نوهغه دې ورته طلاق ورکړي، بل طرف ته اسلامي شريعت کې واده مؤکدسنت ګرځول شوى دى اود ښځې پرده يې واجب يافرض عين اوپه خاص ډول حديث نبوي ﷺ کې ښځې ته دخاوند دوروڼو نه سختې دپردې کولو حکم دى، زمادواده درې کاله شوي دي، ماداسلامي شريعت مطابق ښځې ته دخپل (دخاوند) دوروڼو (حقيقي اوميرني) نه دپردې کولو حکم وکړ، له دې وجې هغه دشريعت دحکم منلوله وجې سخته پرده کوي، دهغې(ښځې) نورې څلور(ناواده شوې) خويندې هم شته، اوس ماته سخته مسئله راولاړه شوې ده اودهغې له وجې سخت پريشان يم اوداسې راته محسوسيږي، چې دشريعت دا دوه حکمونه يوبل سره جنګيږي، هغه داچې زماورونه او زما مورپلارپه دې خبره باندې(پرده کولوباندې) ډيرزيات خفه دي اوله ماسره يې تعلق ختم کړى دى، اوس که چيرې ماواده نه کولو؛ نو مؤکد سنت به پاتې کيدو اوچې واده مې وکړ؛ نودښځې پرده واجب شوه، بل طرف ته دموروپلاراطاعت هم واجب دى که چيرې دپردې والاشرعي حکم منم اودې باندې عمل وکړم؛ نودموروپلاراطاعت په شرعي ډول واجب دى، پاتې کيږي اوکه چيرې دموروپلاردحکم اوخوښې اطاعت وکړم؛ نوپرده چې په شرعي ډول واجب ده پاتې کيږي، بل طرف ته خسرګنۍ والاهم وايي چې کله دنورو خويندو ودونه وشي؛ نود دوى دخاوندانوبه هم په ښځه باندې سترنه کوې اوښځه هم وايي او داويره ده، چې کله زه ښځې ته دخپلو اوښونه دپردې حکم وکړم؛ نوزموږ دکورماحول به خراب شي، دښځې دمهرحق پنځويشت زره روپۍ کومې چې زماپه ذمه دي، دهغې مطالبه به کوي، زه غريب سړى يم، دفترکې کلرک يم، په تنخواه باندې مې دکورګذاره په مشکله باندې کيږي، دمهرحق له پاره دخپلې ګټې نه يوه پيسه هم نه شم بچ کولى اوتقريبا داراته اندازه ده چې دمهرحق (اګرچې انکارترې نه کوم) خوټول ژوندبه يې هم ادانه کړاى شم، خداى له پاره! تاسوته خواست کوم چې داسلامي شريعت مطابق ماته دراتلونکي وخت له پاره مناسبه طريقه وښيئ، زه به تاسوته ټول عمردعاګانې کوم، الله تعالى دې ستاسواوستاسودکوروالوپه علم کې اضافه وکړي او اجردې درته نصيب کړي.امين!

جواب: دموروپلاردا ویل چې ښځه باندې دورونو نه پرده مه کوه، د شریعت خلاف دي او دهغوی داسې حکم منل گناه ده[1] موروپلار که چیرې یوازې هم له دې وجې تعلق ختم کړي وي؛ نوهغوی گناهگاردي، تاسو هغوی سره تعلق مه ختموئ، ستاسو د خسرگنۍ مطالبه چې ستاسو ښځه به دخپلو اوښونه سترنه کوي هم دشریعت خلاف ده، که چیرې ستاسو ښځه اصرار کوي؛ نوهغه دالله تعالی اود رسول اللهﷺ په حکم باندې پوهه کړئ، خوکه چیرې هغه راضي نه وي اودطلاق مطالبه وکړي؛ نو هغې ته ووایئ چې خلع وکړي، یعنې دمهرحق دمعاف کولو په شرط باندې دې طلاق واخلي.

دپردې باره کې څو پوښتنې

سوال: بنده له تاسونه دپردې باره کې د یوڅو پوښتنو جوابونه د شریعت مطابق غواړي:

سوال: ۱: دیوې مسلمانې ښځې له پاره په خپلوانو کې دکوموکوموسړیونه پرده کول ضروري دي؟

سوال: ۲: دمسلمانانو ښځوله پاره دپردې فرض کیدل دقران کریم دکومو ایتونوله وجې وشو؟

سوال: ۳: زموږ موجوده معاشره کې دښځوبې پردې وتل اودفترونو فیکټریو کې نوکري وغیره کول عامه خبره جوړه شوې ده اوبده نه گڼل کیږي، داسې خراب شوي ماحول کې سړي د نظرونو حفاظت څنگه کولی شي؟ لارو اوموټرو کې دکوشش کولو باوجود باربارنظرغورځیدو له وجې به گناه وي اوکه نه؟

جواب: ۱: داسې خپلوان له کوموسره چې دښځې رشته نه شي کیدای، لکه پلار، نیکه، ورور، وریرونه، خوریونه، تره، ماماوغیره، هغوی ته دښځې محرم ویل کیږي[2]، دهغوی نه دښځې له پاره پرده کول نه شته اوهغه ټول خلک کوموسره چې نکاح کیدای شي دهغوی نه پرده لازمه ده، لکه د ماما زوی، دتره زوی، دتروړزوی او داسې نور....[3]

جواب: ۲: دپردې فرضیت دقران کریم دډیروایتونونه ثابت دی، مثلاً: د سورة احزاب په ایت نمبر۳۳ کې دالله تعالی ارشاد دی:

(وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى) (سورة احزاب: ۳۳)

ترجمه: تاسوخپلوکورونوکې په کلاره ناستې اوسیږئ اودپخوانۍ زمانې دجاهلیت په شان ډول اوسنگار مه ښایئ.

---

[1] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ص: ۳۲۱)_

[2] ومحرمه هى من لايحل له نكاحها أبداً بنسب أوبسبب (درمختارمع ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۶۷ كتاب الحظر والإباحة)

[3] وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلّا لبعولتهن أوابائهن...الآية (النور: ۳۱)_

بل ځای کې ارشاد مبارک دی:

﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ﴾ (سورة النور: ۳۱)

ترجمه: اوخپل ډول سنګار دې چاته نه ښکاره کوي، مګرخپلوخاوندانوته، یاخپلو پلارانوته، یاخپلوخسرانوته. یاخپلوزامنوته، یادخاوندانو زامنوته، یاخپلوورونوته، یاخپلووریرونوته، یاخور ویونوته. یادخپل(مذهب) ښځوته، یاخپلووینځوته، یاله سړیونه هغه خادمانوته چې نفساني خواهشات نه لري، یاهغوماشومانوته چې لادښځودپردو دخبرو نه واقف نه وي.

یوبل ځای کې ارشاد مبارک دی: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ﴾ (سورة الاحزاب: ۵۹)

ترجمه: اې پیغمبره! خپلوبیبیانو، خپلولوڼوته اودمسلمانانو ښځوته ووایه چې خپل څادرونه دې په ځان راخوروي.

جواب: ۳: دښځې له پاره داسې ځای کې نوکري کول حرام دي، کوم ځای کې چې دهغې ناپیژندګلو سړیوسره ملاویدل کیږي اوداسې ګنده ماحول کې، کوم چې زموږ معاشره کې پیدا شوی دی. دیو داسې کس له پاره دخپل نظرحفاظت کول ډیرضروري دي، کوم چې خپل ایمان سلامت ورل غواړي، قصدا دنامحرم طرف ته نظرکول نه دي پکار او که چیرې یوناڅاپه نظر پریوځي؛ نوسمدستي یې لیرې کول پکاردي.[۱]

د(لیورمرګ دی) مطلب

سوال: مادخپل زوی نه یوحدیث اوریدلی دی چې دهغه مفهوم دادی، چې لیوریې مرګ ګرځولی دی؛ نوایاداحدیث دی؟ اوکه چیرې حدیث دی؛ نوددې حدیث نه مرادڅه دي؟

جواب: ددې حدیث مطلب ښکاره دی، چې دلیورنه دمرګ په شان ویریدل اوبچ کیدل پکار دي، هغه سره بې تکلفي سره خبرې کول نه دي پکار اویوازې دهغه سره ناسته وغیره نه ده پکار.[۲]

---

[۱] عن جريربن عبدالله قال: سالت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن نظرالفجائة فامرنى أن أصرف بصرى مشكوة ص: ۲۶۸، كتاب النكاح، باب النظرإلى المخطوبة، الفصل الأول_

[۲] قال الحموالموت،أى دخوله كالموت مهلك يعنى الفتنة منه أكثرلمساهلة الناس فى ذالك (مرقاة ج: ۳ ص: ۴۰۹)_

د خاوند په وینا پرده پریښودل

سوال: دیوبنه خاندان اینجلۍ چې هغې دماشوموالي نه ترپیغلتوب پورې دشریعت مطابق پرده کوله، خوکه چیرې له واده وروسته خاوندهغه په برقع کوزولو مجبوره کړي یایوازې مخ ښکاره کولو باندې مجبوره کړي؛ نوداسې صورت کې ښځې له پاره جائزدي چې هغه ټوله برقعه کوزه کړي یامخ ښکاره کولوسره په سرپوکې ازادي سره ګرځي، زمادلږشان علم مطابق په مسلمانانو ښځو باندې پرده بالکل همدغه شان فرض ده څنګه چې لمونځ اوروژې په مسلمانانو باندې فرض دي، ایادسړي له طرفه دداسې قسمه سختي له وجې عمل کول جائز دي؟ شریعت ددې له پاره څه حکم ورکوي؟ دنن سبا معاشره کې ځینې اینجلۍ دماشوموالي نه پیغلتوب پورې د شریعت مطابق پرده کوي، خوله واده وروسته په خپله خوښه پرده ختمه کړي اوهغې ټول الزام په عام ډول خاوندانوباندې اچول کیږي، زه تاسودا ویل غواړم چې شریعت داسې قسمه معاملې باره کې څه حکم کوي؟

جواب: پرده شرعي حکم دی، دخاوندپه حکم باندې نه مخ ښکاره کول جائزدي اونه پرده پرېښودل جائزدي[۱] که چیرې یې خاوندمجبوروي؛ نو دهغه نه طلاق اخیستل پکاردي چې هغه داسې ښځه وکړي چې هغه هرچاته دخپل حسن دنظارې کولودعوت ورکوي اوپخپله باندې پرده پرېښودلوسره خاوندباندې الزام لګول غلط دي، خو دهغوی په ګناه کې خاوندان هم برابرشریک دی، څکه چې هغوی بې پردګي برداشت کوي.[۲]

د شرعي پردې نه منع کونکي سړي سره واده کول

سوال: که چیرې یوه اینجلۍ شرعي پرده کوي اوکله چې دهغې واده وي؛ نوهغې ته ددې خبرې پته وي چې خاوندبه یې پرده نه برداشت کوي؛ نو ایاهغه دې واده نه کوي؟

جواب: پرده دالله تعالی حکم دی، دې کې دبل چاطاعت کول جائزنه دي[۳] اوکه هلک داسې وي؛ نوهلته واده کول پکار نه دي.

---

[۱] وعن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ج:۲ ص:۳۲۱، کتاب الإمارة، الفصل الأول، طبع قدیمی)_

[۲] عن عبدالله بن عمرقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ألاکلکم راع وکلکم مسؤل عن رعیته....... والرجل راع علی أهل بیته وهو مسؤل عن رعیته (مشکوة المصابیح ص:۳۲۰،کتال الامارة والقضاء) عن عبدالله بن مسعودقال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول .... ومن رضی عمل قوم کان شریکًالعمله (المطالب العالیة بزوائدالمسانیدالثمانیة ج:۲ ص: ۴۲، رقم الحدیث:۱۶۰۵)_

[۳] وعن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ج:۲ ص:۳۲۱، کتاب الإمارة، الفصل الأول، طبع قدیمی)_

د بې پردې ښځې سزا

سوال: که چیرې ښځې ته دشریعت مطابق دپردې کولوحکم وکړل شي اوهغه يې ونه مني، مثلاً دپردې باره (خاص ډول ښځې ته)؛ نو هغې ته څه سزاورکول پکاردي؟ ایازبردستي سره هغې باندې عمل کول پکاردی اوکه ناخاموشي اختیارول پکاردي؟ مهرباني وکړئ دشریعت مطابق جواب راکړئ.

جواب: هغې ته په مینه اومحبت درسول الله ﷺ حکم بیانول پکار دي اوکه چیرې هغه ونه مني؛ نودهغې نه جدااوالی اختیارکړئ.[1]

پیرسره له پردې پرته دښځې ملاویدل جائزنه دي

سوال: زمونږ موردیوپیرسره عقیدت لري،ایاپیرسره په اسلام کې ملاویدل اودهغه نه پرده نه کول جائزدي؟

جواب: له پیرنه پرده کول لازم دي[2]،کوم پیرچې ناپیژندګلوښځې سره یوازې ملاویږي، هغه پخپله باندې هم ګمراه دی هغه ته تلل جائزنه دي.[3]

ایا مخ، لاسونه اوپښې پرده کې داخل دي؟

سوال: ایا ښځې له پاره دمخ پرده نه شته؟ اوداهم ووایئ چې ښځې له پاره کومو کومو برخو ښکاره کول منع دي؟ اوښځې له پاره دتره زوی او ترور زوی په شان خپلوانونه څنګه پرده کول پکاردي؟ دحدیث مطابق جواب راکړئ، ایاداصحیح دي چې دچاسره دښځې نکاح کیدای شي دهغوی نه پرده ضروري ده،که هغوی خپلوان ولې نه وي؟

جواب: مخ لاسونه او پښې په پرده کې داخل نه دي، خودپردې کولو له پاره مخ پټول هم ضروري دي، چې دنامحرم نظرپرې ونه غورځیږي[4] نامحرم هغه خلک دي دکوموسره چې

---

[1] ،،ادع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة،، (الحجر:۱۲۵)_

[2] ،، ولايبدين زينتهن إلاماظهرمنها وليضربن بخمرهن على جيوبهن ولايبدين زينتهن إلالبعولتهن (النور:۳۱) ايضًا: ،، يٰأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ (الأحزاب:۵۹)_

[3] عن ابن عباس عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لايخلون رجل بإمرأة إلامع ذى محرم...إلخ (بخارى ج:۲ ص: ۷۸۷) وللحرة جميع بدنهاحتّى شعرهاالنازل فى الأصح خلاالوجه والكفين والقدمين (ج: ۱ص: ۴۰۵) وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة (درمختار ج: ۱ ص: ۴۰۷) والمعنى تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجههافتقع الفتنة (شامى ج:۱ ص:۴۰۷، باب شروط الصلاة)_

[4] وللحرة جميع بدنهاحتّى شعرهاالنازل فى الأصح خلاالوجه والكفين........والقدمين على المعتمد (شامى ج:۱ ص:۴۰۶) وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة ايضًا:شامى ج:۱ ص:۴۰۶، باب شروط الصلاة، مطلب فى سترالعورة)_

نکاح کیدای شي، دهغوی نه پرده کول شته.[۱]

دلور له وفات وروسته دهغې خاوند(زوم) نه هم پرده شته؟

سوال: زماموږچې دهغې عمرتقریبا پنځه دیریش یاځلویښت کاله دی، هغه په ځواني کې زموږ داوو وروڼوخویندوپه موجودګي کې دولس کاله مخکې کونډه شوې وه، هغې په ډیر مشکل وخت کې موږ وساتلو، خودود ک له مخکې زموږ موریوسړي ته‹ چې هغې همځولی دی› خپل زوی جوړکړ ‹په خولې باندې وروړ ویلوسره› او زموږ د ټولو وروڼو خویندو دمخالفت باوجود هغې زموږ دکشرې خور واده وکړ اوهغه سړي خپلې ښځې ته مخکې طلاق ورکړی و او زما د خور دعمر دهغه لورده، مورموهغه سړي سره ملاویدل پرې نه ښودل اوموږ ته یې وویل چې دی زمازوم دی اود دنیا یو قانون هم ما دخپل زوم سره ملاویدونه نه شي منع کولی، دواده نه پنځه میاشتې وروسته زماخوروفات شوه اوزماموراوسه پورې دهغه سړي سره ملاویږي، هغه وایي چې دلوردمرګ له وجې دزوم والي خپلوي نه ماتیږي اودزوم نه پرده جائزنه ده.

جواب: دزوم نه پرده نه وي، خوکه چیرې دواړه ځوانان وي؛ نوبیاپرده لازم ده[۲]، داسې نه وي چې شیطان دهغوی مخ تورکړي، ستاسودمورهلته تلل جائزنه دي.

دغیرمحرم خپلوانونه څومره پرده ده؟ اولیور ته د خسردرجه ورکول

سوال: زموږخاندان کې پرده ده، ښځې پرده کوي، خو د لیور، د خاوند اوښی اوخپل اوښی او دهغوی دزومانونه پرده نه کوي، دې نه پرته دترورزامنو اوتره زامنونه هم پرده نه کوي، تاسو ماته ووایئ چې دې خلکونه پرده شته اوکه نه؟ اوکه چیرې شته: نوځنګه پرده ده؟ ایا دې خلکونه بالکل هماغه شان پرده کول دي ځنګه چې دعامو خلکونه ده؟ اوس معاشره کې د پردې اهمیت او احساس ختم شوی دی؛ نودچوټې په ورځ باندې یوازې له دې وجې انکار کولی شم چې سړي به کورکې وي اوبې پردګي به وي؟ ځکه چې اوس پرده کول بدګڼل کیږي، که چیرې دخلکو کورکې څوک مخې ته راشي؛ نو مخامخ نه ورځم اوپردې ته شم، زه جدا کور کې اوسیږم، خاندان مو شریک نه دی، که چیرې خسرژوندی نه وي؛ نوایازموږدین ددې خبرې اجازه ورکوي چې لیور ته هغه مقام ورکړل شي اودهغه مخې ته راشي؟ پرده یوازې دبدن ده او که دمخ هم ده؟ ددې وضاحت هم وکړئ، تاسوزمادسوالونوجواب وضاحت سره راکړئ چې زما پریشاني ختمه شي اودښځې نه چې ځنګه پرده اسلام غواړي، دهغې کولودپاره نه کوشش وکړم.

---

[۱] (ومن محرمه) هي من لا يحل له نكاحها أبدا بنسب (عالمگيری ج: ۵ ص:۳۲۸، كتاب الكراهية، شامی ج: ٦ ص: ۳٦۷، كتاب الحظر والإباحة)_

[۲] [قوله والصهرة الشابة قال فی القنية: ماتت عن زوج وام فلهما أن يسكنا فی داروا حدة إذا لم يخافا الفتنة وإن كانت الصهرة شابة فللجيران أن يمنعوها منه إذا خافوا عليهما الفتة (شامی ج:٦ ص:۳۹۹، كتاب الحظر والإباحة)

جواب: دکوموخپلوانونومونه چې تاسولیکلي دي، دهغوی نه هم داسې پرده ده څنګه چې د ناپیژندګلو خلکونه ده[1]کوشش خوداپکاردی چې دهغوی مخې ته مه ورځئ اوکه چیرې ورتلل وي؛ نوپه جامه باندې دمخ پرده کول پکاردي اوهغوی سره دبې تکلفي خبرې مه کوئ دخسرنه وروسته لیورته دهغه مقام ورکول صحیح نه دي.

پردۍ ښځه سیکټري جوړول

سوال: دنن سباپه دورکې دښځو او سړیو یوځای نوکریو رواج دی، اکثر دا لیدل شوي دي چې پرائیوټ دفترکې ښځې سیکټري ساتل کیږي اومالکان خپلوسیکټریانوسره ګپ شپ لګوي، حالانکې په اسلام کې دنامحرم مخې ته پرته دپردې نه ورتلل حرام دي، مهرباني وکړئ او ووایئ چې ددې مسئلې باره کې دشریعت څه حکم دی؟

جواب: ښکاره حکم دی، چې دپردۍ ښځې سره ملاویدل اوهغې سره ګپ شپ لګول په شرعي ډول حرام دي[2]، له دې وجې ښځه سیکټري ساتل نه دي پکار.

له پردې پرته نجونوته له سړیونه تعلیم حاصلول

سوال: زه دنجونو په کالج کې سبق وایم اومذهبي پرده کونکي خاندان سره مې تعلق دی، سائنس طالب علمه یم له دې وجې روزانه کالج ته تلل وي اوکالج استاذان تقریبا ټول سړي دي اوموږسره کالج کې یوه نرۍ پټۍ وي، دلوپټې په سرکولواجازه نه شته داسې صورت کې چې موږ مجبور یو؛ نوڅه کول پکاردي؟

کله چې واسلام کې ښځې ته دخپل ویښتانوښکاره کولوهم اجازه نه شته.

جواب: دنجونو له پاره دنامحرمونه له پردې پرته تعلیم حاصلول دفتنې نه خالي نه دي[3]، یاخو پردې سره دتعلیم حاصلولوانتظام پکاردی، یا تعلیم پریږدئ.[4]

د بوډۍ ښځې په سکول کې ماشوما نوته سبق ښودل

سوال: یوه داسې ښځه چې هغې خپل ټول فرائض تقریبا ختم کړي وي اودهغې بچي په سکول کې سبق وایي اوکورکې بې کاره وي؛ نو ایاهغه ښځه خپل کورته نزدې سکول کې سبق

---

[1] ،،ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن ولایبدین زینتهن إلّالبعولتهن أوابائهن،، (النور:۳۱)۔

[2] الخلوة بالأجنبیة حرام (شامی ج:۶ ص:۳۶۸،کتاب الحظروالإباحة) ایضًا: ولَایکلم الأجنبیة إلّاعجوزًا... إلخ قال العلامة ابن عابدین:أی وإلّاتکنْ عجوزًابل شابةً لَایشمتها(شامی ج:۶ ص:۳۶۹، کتاب الحظر والإباحة، فصل فی النظروالمس)۔

[3] وتمنع المرأة الشابة من کشف الوجه بین رجال لَالأنّه عورة بل لخوف الفتنة شامی ج:۱ ص:۴۰۶)۔

[4] ولایؤذن بالخروج إلی المجلس الذی یجتمع فیه الرجال والنساء وفیه المنکرات ...إلخ (البزازیة هامش الهندیة ج: ۴ ص:۱۵۷، طبع رشیدیه کوئته)۔

ښودلی شي؟ او علم حاصلول په هرچا باندې فرض دي او دې طريقې سره به دهغې ښځې وخت هم په ښه کار کې تيريږي.

جواب: که چيرې الله تعالی هغه دمعاش نه فارغه کړې ده؛ نوفرصت دې غنيمت وګڼي اود اخرت له پاره دې تياری وکړي. ذکر او اذکار. تسبيحات. تلاوت اولمونځ کې دې وخت تيروي، که چيرې معاشي ډول کمزورې وي؛ نوبياپردې کې نوکري کولی شي، کوم علم حاصلول چې په هر مسلمان باندې فرض دی، هغه دا علم نه دی کوم چې په سکولونوکې ښودل کيږي.[1]

له لوپټې پرته د ښځې په کالج کې سبق ښودل او دفترکې کارکول

سوال: زموږ تعليمي اداره کې دهلکانو او نجونو دګډوډ تعليم رواج دی، شرعي لحاظ باندې ددې باره کې څه حکم دی؟ زموږ تعليمي اداره کې ښځې استاذانې پرته دلوپټې نه کلاسونه اخلي اوپه سکولونوکې سړي استاذان هم وي ايا داسې کول صحيح دي؟

جواب: دا د هلکانو او نجونو ګډوډ (مخلوط) تعليم دبې خدايه قومونوايجاد دی، ددې مقصد دادی چې سړي؛ سړي پاتي نه شي اوښځې، ښځې پاتې نه شي، اسلام سره ددې نظام هيڅ تعلق نه شته.

سوال: زموږ ملک کې دښځواو سړيودمخلوطې نوکري کولورواج دی، سرکاري او غير سرکاري دفترونو کې کوم ځای چې يوازې سړي کار کوي افسران د ځان له پاره ښځه سيکرټري ساتي، ايا داسې دفترونوته به دفحاشي اډې نه ويل کيږي؟ دشريعت په لحاظ باندې دداسې افسرانو او ښځو له پاره څه حکم دی؟

جواب: دښځواوسړيويوځای نوکري کول ديوځای تعليم حاصلولو نتيجه ده. کوم چې دسړيودغيرت او دښځو د حيا غورځولو نتيجه ده.[2]

---

[1] عن عبدالله بن عمروبن العاص أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: العلم ثلاثة. ومَاسواذالك فهوفضل، آية محكمة أوسنة قائمة أوفريضة عادلة (رواه أبوداؤد ج:٢ ص:٤٣) أيضًا: عن معاوية قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من يردالله به خيرًايفقهه فى الدين، وإنماأناقاسم والله يعطى متفق عليه(مشكوة ص:٣٢) وعن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : طلب العلم أى الشرعى (فريضة) أى مفروض فرض عين (على كل مسلم) أوكفاية والتاه للمبالغة أى ومسلمة كما فى رواية قال الشراح المراد بالعلم مالًا مندوحة للعبد من تعلمه كمعرفة الصانع والعلم بوحدانيته ونبوة رسوله وكيفية الصلاة فإن تعلمه فرض عين ...إلخ (مرقاة ج:١ ص:٢٣٣)_

[2] عن أبى هريرة قال: قال رسول الله عليه وسلم: ألإيمان بضع وسبعون شعبة......... والحياء شعبة من الإيمان، قال الشارح :والمرادبه الحياء الإيمانى وهوخلق يمنع الشخص من الفعل القبيح بسبب الإيمان كالحياء عن كشف العورة والجماع بين الناس...إلخ_(مرقاة ج: ١ ص: ٦٠، ٦١، كتاب الإيمان) أيضًا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذالم تستحى فافعل ماشئت...إلخ (رواه أبوداؤد، باب فى الحياء)_

بازارته تلو نکې ښځې ته څومره پرده پکارده؟

سوال: اسلام کې دازادې ښځې (یعني نن سباکورکې اوسیدونکو ښځو) ته د غیرمحرم نه د پردې څه حکم دی؟ خاص ډول دسورت احزاب په ایت نمبر **۵۹** اودسورت نورپه ایت نمبر ۳۱ کې چې دپردې کوم حکم دی اوقران مجید کې الله تعالی نورکوم ځایونوکې د پردې حکم کړی دی اوحضور ﷺ دپردې باره کې څه حکم کړی دی؟ جناب! دسورت احزاب ایت نمبر**۵۹** تفصیل سره بیان کړئ، مهرباني به مو وي.

((اې نبي ﷺ خپلوبیبیانو، لوڼو اود مسلمانانو ښځوته ووایه، چې خپل غټ څادرونه(پړوني) رالکښته کړي، دغه ډول به زر وپیژندل شي ، او دی ته (دبیکاره سړیو له لوري)تکلیف نه رسیږي اوالله تعالی ښښونکی اومهربانه دی.(سوره احزاب)

اوسورت نورکې چې دپردې باره کې کوم حکم راغلی دی، هغه هم تفصیل سره بیان کړئ.

جواب: دپردې باره کې شرعي حکم دادی که چیرې ښځې ته دکورنه دبهروتلوضرورت راشي؛ نوپه غټ څادریابرقعې باندې دې ځان پټ کړي اویوازې دلارې کتلوله پاره دې یوه سترګه ښکاره وساتي[1] ددې ایتونوتفسیردمولانا محمدشفیع صاحب (رحمه الله) په تفسیرمعارف القران کې وګورئ.

دبې پردګۍ ځای ته د ښځې له پاره تلل جائزنه دي

سوال: زیدخپله ښځه دهغې دوروركورته دتلونه منع کوي، ځکه چې دهغې دوروريه كوركې خوان خدمت ګار دی اودغه خدمت ګار دکور یوې خاص برخې پورې محدود دی، تاسودد مسئلې تفصیلي جواب بیان کړئ.

جواب: خاوندته داحق حاصل دی چې خپله ښځه داسې ځای ته دتلونه منع کړي کوم ځای کې غیرمحرم سړیوسره دبې پردګۍ ویره وي اوکه چیرې دښځې دوروريه کورکې دبې پردګۍ ویره نه وي اود خدمت ګارسړیوله پاره یوجداځای وي؛ نوبیاکله کله تلوکې څه بده خبره نه شته، خودپردې اهتمام کول ضروري دي.[2]

---

[1] وقدقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:المرأةعورة فإذاخرجت استشرفهاالشيطان_ رواه الترمذى عن إبن مسعود فإن هذاالحديث يدل على انها كلها عورة غيرأن الضرورات مستثناة إجماعًا والضرورة قد تكون بأن لاتجدالمرأة من يأتى بحوائجها من السوق ونحوذالك فتخرج منفعة كاشفة احدى عينيها ليشعرالطريق (تفسيرمظهرى ج:٦ ص:٤٩٥)_

[2] ولايوذن بالخروج ألى المجلس الذى يجتمع فيه الرجال والنساء وفيه المنكرات ...إلخ (البزازية بهامش الهندية ج: ٤ ص:١٥٧، طبع رشيديه كويته)_

کورکې د ځوان نوکر نه پرده کول ضروري دي

سوال: يو تعليم يافته مسلمان چې د هغوی کارکولو له پاره يو مسلمان ځوان نوکر دی. چې هغه شپه ورځ د هغوی په کورکې اوسيږي او د هغه کوروالو نه يې پرده نه شته، اوريدلي مې دي چې هغه خپل نوکر کورکې پريښې او ديوې مياشتې له پاره چيرته بهرتللی دی او د شرعي پردې په حديث کې ليکل شوي دي چې داسې کس کوم سره چې ددې خبرې پرواه نه وي چې د هغه کوروالوته څوک راځي؟ څوک ځي؟ هغه ديوث دی او ديوث به کله هم جنت ته نه داخليږي. ايا داسې کس به دې صورت کې چې هغه دځه ديني کار له پاره تللی وي، هغه به جنتي شي؟

جواب: د نوکرنه پرده ده او د هغه له پاره د پردې نه پرته ښځوته ورتلل جائزنه دي.[1]

ښځې د تبليغ له پاره په ټي وي باندې راتلل

سوال: د ښځو له پاره د پردې ډيرسخت حکم دی. يعنې داچې ښځې ته خپل نوکان هم پټول پکاردي. خو د نن سبا ښځې په دفترونوکې، دوکانونوکې (سيلزګرلز) اوسړکونوباندې پرته پردې نه ګرځي، کومه چې ښکاره خبره ده چې غلطه ده، پوښتنه داده که چيرې ښځه په ټي وي باندې راشي؛ نو يقينا هغه به په لکونوسړيويني اونن سباټي وي باندې ښځې د دين د تبليغ له پاره راځي. ايا دې عمل سره هغوی د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ خوشالي حاصلولی شي؟

جواب: کومې ښځې چې د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ حکمونه ماتولو سره ټي وي باندې راځي او خلکوته خپل ځان ښيي، هغوی ته د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ خوشالي څنګه حاصليدای شي؟ او ابليس او د ابليس اولاد د هغوی په دې عمل باندې خوشاليږي.[2]

ايا ښځې په لوبوکې برخه اخيستی شي؟

سوال: مخکې ورځوکې په روزنامه (جنګ) کې پروفيسروارث ميرصاحب د ښځو باره کې ډيرڅه ليکلي و، پروفيسرصاحب ليکي چې: پرته د پردې نه يعنې مخ پټولو نه پرته بهرته وتلی شي. لوبو کې برخه اخيستی شي، سړيو سره اوږه په اوږه کارکولی شي، دا خبره ترکوم حد پورې صحيح ده، چې ښځه د پردې نه پرته بهرته وتلی شي؟ او د ښځې ټول ښايست هم د هغې د مخ نه ښکاره کيږي، د مخ باره کې تفصيل سره بيان وکړئ، دويم سوال دادی چې موږ نن سبا

---

[1] ،، وَلَايُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّالِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْاٰبَآئِهِنَّ اَوْاٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ،، (النور: ۳۱) ايضًا: يٰاَيُّهَاالنَّبِيُّ قُل لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ،، الآية (الأحزاب: ۵۹)_

[2] ،،قل أطيعوا الله والرسول فان تولوا فإن الله لايحب الكفرين،، (آل عمران: ۳۲) أيضًا: عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل أمتي يدخلون الجنة إلا من أبى ! قيل: ومن أبى؟ قال: من أطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد أبى _ رواه البخارى _(مشكوة ص: ۲۷، باب الإعتصام بالكتاب والسنة)_

کوم تعلیم حاصلوو، ایا د همدې له پاره نبي کریم ﷺ ارشاد فرمایلی و؟
او د ښځو له پاره د میډیکل تعلیم حاصلول، یا وکالت کول، یا د جج جوړیدل ترکوم حده پورې صحیح دي؟ ضروري ولیکئ!

جواب: د پروفسیر وارث میر فتوا غلطه ده، بې پردګي د فحاشي بنیاد دی او اسلام فحاشي نه شي برداشت کولی[1]، د ښځې له پاره قران کریم حکم دادی چې هغوی به د ډیر سخت ضرورت نه پرته له کورنه نه وځي[2] او که چیرې د ضرورت له پاره وځي؛ نو جلباب (داسې غټ څادر چې هغه کې ټول بدن پټ شي) اغوستلو سره دې وځي او د هغه یو طرف دې په مخ راخور کړي[3]، سړي او ښځې دې خپل نظرونه لاندې ساتي او ښځې دې د خپلو محرمونه پرته د چاپه مخکې خپل ښایست نه ښکاره کوي[4] ما ته قران کریم کې یو ایت هم داسې پیدا نه شو، چې هغې کې ښځو ته د سړیو سره اوږه په اوږه د تلو حکم ورکړل شوی وي او چې هغه کې داویل شوي وي چې ښځې د سړیو سره اوږه په اوږه د لوبو میدان ته تللی شي دا د مغرب د اسمان وحې ده، چې د سړي او ښځې فرق یې ختم کړ او د حضور ﷺ ارشاد مبارک دادی چې د الله تعالی لعنت دې وي په هغو سړیو باندې کوم چې د ښځو په شان کارونه کوي او د الله تعالی لعنت دې وي په هغو ښځو باندې کومې چې سړیو په شان کارونه کوي.[5]

۲: حضور ﷺ ځان سره د نبوت علم راوړی او حضور ﷺ د هماغه د حاصلولو ترغیب ورکړی دی او د هغه فضیلتونه یې هم بیان کړي دي، د نیاوي علمونه د انسان ضرورت دی او د شریعت په حدونو کې او سیدو سره د هغه حاصلول هم جائز دي، خو کوم علم چې سړی د الله تعالی د حکمونو نه باغي کړي (څنګه نن سبا په عام ډول لیدل کیږي) هغه علم نه، جهالت دی.
ښځو له پاره میډیکل زده کول، په قانوني ډول صحیح دي، خو دې شرط سره چې شرعي پرده محفوظه پاتې شي، ګني بې پردګي حرامه ده[6] ښځې له پاره قاضي (جج) جوړیدل صحیح نه

---

[1] ،،إن الله يأمربالعدل والإحسان وإيتاء ذى القربى وينهى عن الفحشاء والمنكروالبغى،،(الحجر ۹۰)۔

[2] ''وَقَرْنَ فِیْ بُیُوْتِکُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِیَّةِ الْاُوْلٰی،،(الأحزاب:۳۳)۔

[3] ،، یَآیُّهَاالنَّبِیُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِکَ وَبَنَاتِکَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِیْنَ یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّ،، الآية_ روى البخارى عن عائشة قالت خرجت سودة إلى أنَ قال فقالَ انه قَد أذنَ لكن انَ تخرجن لحَاجتكن، قلت يعنى أذن لكن ان تخرجن متجلببات_ (تفسيرمظهرى ج:۷ ص:۳۸۳، ۳۸٤، طبع اشاعة العلوم، دهلى)_

[4] قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم،، وقل للمؤمنت يغضضن من أبصارهن........ ولايبدين زينتهن الّا لبعولتهن،،الآية (النور:۳۱)_

[5] عن ابن عباس قال: لعن النبى صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخارى ج:۲ ص: ۸۷٤، باب المتشبهين بالنساء)_

[6] قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم،، وقل للمؤمنت يغضضن من أبصارهن........ ولايبدين زينتهن الّا لبعولتهن،،الآية (النور:۳۱)_

دي[1]، خو که چیرې جوړه شي؛ نو د هغې فیصله به صحیح وي، خو په حدود او قصاص کې د ښځې فیصله معتبره نه ده.[2]

ښځې له پاره د مخ پرده

سوال: جنابه! زه پرده کوم، ځکه چې د الله تعالی حکم دی چې د نامحرم نه پرده کول پکار دي، ما اوسه پورې دا کوشش کړی دی چې د خپل تره زامنو، ماما زامنو یا ترور زامنو مخې ته رانشم، خو کله کله د هغوی مخې ته راشم، ما یو مضمون لوستلی و چې هغه کې د ښځې د مخ په پردې باندې زور نه و ورکړل شوې، دا معلومول غواړم چې د خپلوانو نه د مخ پرده کول پکار دي او که نه؟ او په دې زمانه کې دا ډیر ګران کار دی.

جواب: ښځې ته پرته له څه مجبوري نه مخ ښکاره کولو اجازه نه شته[3]، تر کوم حد پورې چې ممکن وي هغه دې پرده کوي اخبارونو کې صحیحې او غلطې دواړه قسمه خبرې چاپیږي، تر څو پورې چې د يو تحقيق کونکي عالم نه پوښتنه و نه شي، د اخبارونو په مضمونونو باندې عمل مه کوئ.

د ښځې مړوند په پرده کې شامل دی

سوال: تاسو غیر محرم ته د لاس ورلو په جواب کې دا لیکلي دي چې د ښځې لاس د مړوندونو پورې د پردې په حکم کې نه دی، حالانکې مړوندونه د لاس د ګیتونه شروع کیږي او هغه د پردې په حکم کې دي، ایا د ښځې مړوند د پردې په حکم کې دی؟ ضرور یې وضاحت وکړئ، که چیرې د یوې ښځې په لمانځه کې مړوند ښکاره پاتې شي؛ نو د هغې لمونځ نه کیږي؟

جواب: مړوند د ګیتونه شروع کیږي او د ګیتو پورې لاس په سترکې شامل نه دی[4]، مړوند په پرده کې شامل دی، دې کې تاسو ته څه مشکل دی؟ زه په دې باندې پوه نه شوم.

داوښي نه هم پرده ضروري ده

سوال: داوښي نه پرده کول پکار دي او که نه؟ زموږ ځای کې یو حافظ صاحب دی، هغه وایي چې تر څو پورې خور ژوندی، وي پرده نه دي کول پکار.

---

[1] والمرأة تقضى فى غير حد وقود وان اثم المولى لها لخبر البخارى لن يفلح قوم ولوا أمرهم إمرأة ــ (ردالمحتار ج: ۵ ص: ۴۴۰، كتاب القاضى إلى القاضى)ــ

[2] قوله: ويجوز قضاء المرأة فى كل شيء إلّا فى الحدود والقصاص...إلخ ــ (فتح القدير ج: ۵ ص: ۴۸۶)ــ

[3] وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لالأنه عورة بل لخوف الفتنة(درمختارج: ۱ص: ۴۰۶ باب شروط الصلاة)

[4] فى مختلفات قاضى خان ظاهرالكف وباطنه ليسا بعورتين إلى الرسغ (حلبى كبيرص: ۲۱۱ طبع سهيل اكيدمى)

جواب: داوښې نه پرده شته، حافظ صاحب غلط وايي.[1]

نامحرمو خپلوا نو نه هم پرده ضروري ده

سوال: موږ د غیرمحرمونه پرده کوو، خوزموږ یوه مشره ښځه وايي چې تاسوکومه پرده کوئ هغه صحيح نه ده، لږ ډيرزمانې سره چليدل هم پکاردي، هغه وايي چې مخ وغيره د غيرمحرمو مخکې ښکاره کولی شئ، هغه وايي چې حج کې هم ښځې مخ ښکاره ساتي، تاسو ضرور تفصيل سره جواب ورکړئ چې ښځې په حج کې مخ ښکاره ولې ساتي؟

جواب: څنګه چې سړيوله پاره داحرام په حالت کې ګنډل شوې جامې جائزنه دي[2]، دغه شان ښځو له پاره داحرام په حالت کې مخ سره جامه لګول جائزنه دي،[3] ښځې له پاره داحکم دی چې داحرام په حالت کې جامه مخ ته نه لګوي. اوس که چيرې ستاسودمشرې ښځې په شان عقل مندخلک. داتبليغ کوي چې څنګه سړيوله پاره هلته قميص پرتوګ اوغوستل جائزنه دي: نودلته هم جائزنه دي: نو تاسودې باره کې څه ويلی شئ؟ همدغه خيال د دغې ښځې باره کې جوړ کړئ، دې نه پرته داحرام په حالت کې مخ پټول جائزنه دي، خو پرده کول هلته هم ضروري ده[4] اودخلکومخکې ښکاره مخ ګرځيدل حرام دي، اوس که چيرې څينې بې وقوفې ښځې دې باندې عمل نه کوي؛ نودې هغې داکارشريعت خونه دی. پاتې شوه د هغې ښځې دا خبره چې: لږ ډيرزمانې سره تلل هم پکاردي، بالکل غلط دي،((چلوتم ادهرکو جدهر کی ہوا ہو)) ددنيا پرستواوکافرانوکارخوکيدای شي، ديو مسلمان نه، څکه چې مسلمان دالله تعالی اودرسول ﷺ مخالفت کولو سره ددنياملګرتيانه شي کولی. ګني بيامسلمان اوکافرکې به څه فرق پاتې شي.

د بې پردګۍ له وجې معاشره کې خرابي راځي د پردې له وجې نه

سوال: محترم! دفيډريشن آف پروفيشنل ويمن ايسوسي ايشن په اهتمام کې يواجلاس شوی دی. هغه کې دفيډريشن مشرې ډاکټرسليمه احمدوډلي دي چې: ښځې پرده کې کينولو له وجې معاشره کې خرابي پيداکيږي، ايادهغې محترمې دابيان صحيح دی؟

---

[1] ومن محرمه هي من لا يحل له نكاحها أبدًابنسب أوسبب_ (الدرالمختار مع الرد ج:٦ ص:٣٦٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل في النظروالمس، طبع سعيد)_

[2] ولايلبس قميصًا ولاسراويل ولاعمامة ولاخفين ...إلخ (هداية ج:١ ص: ٢٣٩، باب الإحرام)_

[3] لقوله عليه السلام: إحرام الرجل في رأسه وإحرام المرأة في وجهها(هداية ج:١ ص: ٢٣٩، باب الإحرام)

[4] عن عائشة قالت: كان الركبان يمرون بنا ونحن مع رسول الله صلى الله عليه وسلم مُحرِمات فإذاجاوزوا بنا سدلت إحداناجلبابها من رأسها على وجهها، فإذاجاوزونا كشفناه _ رواه أبوداؤد (مشكوة ص:٢٣٦، باب ما يجتنبه المحرم)_

جواب: ډاکټرې صاحبې ته چې کومې خرابۍ ښکارې دهغې باره کې الله تعالی په قران مجید کې فرمایلې دي. دسورت احزاب په ایت نمبر(۳۳)کې مسلمانانو ښځوته حکم شوی دی:

وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰ ((سورة لاحزاب ۳۳))

ترجمه: اوتاسوکورکې په کلاره کینئ اوخلکوته خپل ښایست مه ښیئ څنګه چې مخکې دجهالت په وختونوکې و. (ترجمه شیخ الهند)

شیخ الاسلام مولاناشبیراحمدعثمانی(رحمه الله) ددې ایت شریف په تفسیرکې لیکلي دي:
داسلام نه مخکې دجاهلیت په زمانه کې به ښځې پرته دپردې نه ګرځیدې اود خپلو جامو او بدن دښایست به یې خلکوته ښودلو دابداخلاقي اوبې حیايي اسلام ترڅوپورې برداشت کولی شوه؟ اسلام ښځوته حکم وکړ چې کورونوکې کینئ اودجاهلیت د زمانې په شان بهروتلوسره دخپل ښایست نمائش مه کوئ.
داخو په کورونوکې دناستې حکم وشو اوکه چیرې د مجبورۍ له وجې ښځوته دکورنه بهروتل وي؛ نوهغوی به څنګه اندازکې وځي؟ دې له پاره دا ایت نازل شو،دسورت احزاب په ایت نمبر(۵۹) کې ارشاد دی.

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ)

ترجمه: اې نبي ﷺ! خپلوښځو،خپلولوڼوته اود مسلمانانو ښځوته ووایه چې هغوی دخپل څادرونه لږ لاندې ښکته کوي.(ترجمه شیخ الهند)

شیخ الاسلام مولاناشبیراحمدعثماني(رحمه الله) ددې ایت شریف په تفسیرکې لیکلي دي:
یعني دبدن پټولوله پاره دڅادر څه برخه له سرنه لاندې په مخ باندې ښکته کوئ، روایاتوکې دي چې ددې ایت دنازلیدونه وروسته به مسلمانانوښځوخپل مخ اوبدن داسې پټولوچې دکتلوله پاره به یې یوازې یوه سترګه ښکاره وه.
په غټې څادرباندې دسراومخ پټولوسره دبهرته وتلوحکم د څادر پرده شوه او شریفانو خلکو کې د برقعې رواج په حقیقت کې هم ددې حکم ددتعمیل یوښایسته شکل دی.
په هرحال دادي دشرعي پردې باره کې دالله ارشادات او دادي دحضور ﷺ په زمانه کې دمسلمانانودالله تعالی په حکمونه باندې عمل کول، پته نه شته چې ډاکټرې صاحبې ته پرده کې څه خرابي ښکاري، چې دهغه علم نعوذبالله! نه الله تعالی ته و اونه دقران مالک ته اونه د حضور ﷺ دزمانې پاکوښځوته (رضي الله عنهن) دالله تعالی مودې دعقل اوایمان اوحیا او عفت د محرومي نه پناه کې وساتي.

ایا د کور دروازې او کړکۍ بند ساتل ضروري دي؟

سوال: یوازې د شک له وجې د کور دروازې او کړکۍ بند ساتل چې چیرته د غیرمحرم نظر په ښځو باندې ونه غورځیږي، حالانکه د بې پردګۍ هیڅ امکان نه وي، ترکوم حده پورې صحیح دي؟

جواب: کورکې د پردې اهتمام کول پکاردي، خوکه چیرې داسې کوروي چې هغې کې د بې پردګۍ ویره نه وي؛ نوهسې بې هیڅه شک کول صحیح نه دي، شک د اسلام تعلیم نه دی[۱]، بلکې یو نفسیاتي مرض دی اوددې له وجې کورکې بداعتمادي پیداکیږي او دهغه له وجې د کور ماحول ورو ورو خرابیدل شروع شي اوکه چیرې د دروازو او کړکو باندې د غیرمحرمه سړیو د تیریدو ویره وي؛ نوهغې ته پردې لګول پکاردي.

شیدو کې شریک (رضاعي) ورور نه پرده کول

سوال: ایا یوې خورته پیوکې شریک (رضاعي) ورورنه پرده کول پکاردي؟

جواب: پیوکې شریک (رضاعي) ورور د خپل ورور په شان محرم دی، دهغه نه پرده نه شته اوکه چیرې هغه بدنظره اوخراب وي؛ نو د فتنې له وجې د هغه نه هم پرده لازم ده.[۲]

په دین د عمل کولو په لارکې موانع

سوال: موږ خلک د یوې متوسطې طبقې سره تعلق لرو، د الله تعالی شکر دی ژوند موږ ډیر ښه تیریږي، خو د دنیا په نظرکې خو ظاهره ده، موږ غریبان یو او له پاسه پرې بل ظلم دا چې الحمد لله موږ پرده کوو او تاسو ته خو پته ده چې دنن په معاشره کې غریبانو اینجلیو او خاص کر پرده کونکو اینجلیو ته په کوم نظر سره کتل کیږي، لکه چې هغوی د بلې د نیا مخلوق وي، خیر موږ د دې څه پرواه نه کوو، الله تعالی دې په موږ باندې رحم وکړي، خو مسئله دا ده چې زموږ مور وپلار زموږ د رشتو په باره کې فکرمند دي. اول خو مو د دریو خویندو رشتې نه راتلې او کومې چې به راتلې؛ نو د ډیرو ازاد خیالو خلکو، اخرچې سترې شو اود خویندو عمرونه موپه زیاتیدو شو؛ نو په داسې کورونو کې یې رشتې وکړل شوې په کوموکې چې یوازې د ښودنې له پاره د الله تعالی نوم اخیستل کیده، خو والدصاحب مو د رشتې کولو په وخت کې شرط کیښودلی و چې

---

[۱] عن أبي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إياكم والظن فإن الظن أكذب الحديث (ترمذى ج: ۲ ص: ۱۹، باب ماجاء في ظن السوء)_

[۲] يحرم من الرضاع مايحرم من الولادة رواه البخارى (مشكوة: ۲ ص: ۳۷۳) والمحرم من لَا تجوز المناكحة بينه وبينها على التابيد بنسب كان أوبسبب كالرضاع و [illegible] ...إلخ (هداية ج: ٤ ص: ٤٦٢، كتاب الكراهية)_

زما لوښه به پرده نه ماتوي. کوم چې هغوی قبول کړی و اواخر ودونه وشول. خو تاسو په خپله سوچ وکړئ چې کله دکورپه ماحول کې دومره ازادي وي چې اینجلی لوپټه پوري نه پسروي نو په داسې ماحول کې پرده قائم ساتل څومره ګران شي، په هرحال الله تعالی دې زما خویندوته همت ورکړي، ددې ټولې کیسې داوورلو مطلب مې داو چې زموږ ډیرپیژندګلو داسې دي چې ډیرنیک دي دومره نیک چې هغوی دومره پرده کوي چې ښځې یې څوک په برقعه کې په ازادي سره په ګرځیدوهم لیدلی نه شي اوشریعت دټولوقوانینو پابندي کیږي، خو مسئله داده چې هغوی ټول ډیرمالداران دي ددې له وجې هغه خلک چې کله دخپلوزامنوودوونه کوي؛ نودمالدارانودلوڼوسره کوي،مولاناصاحب! مهرباني وکړئ ماته دومره ووایئ چې داکوم انصاف دی چې دغریبانانولوڼه یوازې دخپلې غریبي له وجې داسې ځایونوکې په ودولوباندې مجبوره وي، چیرته چې دالله تعالی ددین پابندي نه شي کولی هرکله چې صاحب حیثیت خلک دصاحب حیثیت خلکو سره رشتې کوي، هرکله چې دهغوی په وړاندې داسې کورنی موجود وي چیرته چې شریفې اوباپرده اینجلۍ موجودې وي، ایاموږ ته داحق نه شته چې موږ هم ټول عمرد الله تعالی په دین باندې قائم پاتې شو؟ خوموږ ته دمجبوري په داسې ځایونوته تلل وي چیرته چې زموږ دتوقع نه مختلف ماحول موږ ته ملاوشي اوچیرته چې دکوشش باوجودهم په دین باندې قائم پاتې کیدل ګران وي، اخرپه دې کې دچاقصوردی، موږ له چانه انصاف وغواړو؟

جواب: ستاسوداتحریرددین دارو خلکو له پاره دعبرت باعث دی، په هرحال دخپل معیار شریف اودین داره کورنی دې ولټول شي اوهغوی سره دې رشتې وشي، بلکې که یوغریب مګرشریف اودین داره رشته ملاوشي؛ نوهغې ته دې په لویو خیټوباندې ترجیح ورکړل شي، ددې قسمه مسائل تقریبا ټولو والدین ته راپیښیږي اوزه پوهیږم چې په دې زمانه کې ددین داري داقیمت ډیرمعمولي دی، الله تعالی دې دداسې موروپلارخصوصي مدد وکړي.امین!

....

❖ اخلاقيات ❖

د نصيحت کولو اداب

سوال: که چيرې له ماسره کارکونکي ياځوک خپلوان دتبليغ يانرمي باندې دپوهولوباوجود لمونځ کول ياغلط عمل نه پرېږدي؛ نوله هغه سره داسلام مطابق څه کول پکاردي؟

جواب: خپل مسلمانانوورونوته دبدوپرېښودلواودنيکوکولوترغيب ورکول فرض دي[1]، خودې له پاره ضروري ده چې خبره ډېره نرمي اوخوش اخلاقي سره وکړل شي، د بدرد ويلو طريقه اختيارنه کړل شي اودتبليغ کولووخت کې هم هغه دځان نه افضل وګڼل شي که چيرې تاسوپه مينه او محبت باندې پوه کړ اوهغه بيا هم پوه نه شو، تاسوخپل فرض اداکړې. اوس هغه پسې مه کيږئ[2]، بلکې الله تعالى ته دعاکوئ چې هغه ته دصحيح لارې توفيق ورکړي او په مناسب وخت کې ورته بيانصيحت وکړئ، په هرحال داخيال ساتل پکاردي چې موږته ناروغي نه نفرت کول دي. دناروغ څخه نه.کوم مسلمان چې بدعمله وي هغه ذليل ګڼل نه دي پکار. بلکې په اخلاقواومحبت باندې دهغوى دکمزوري لرې کولوکوشش کول پکاردي اودهغه له پاره دتدبيرونوسوچ کول پکاردي.[3]

د ځوان سړي اوښځې په يوکټ کې څملاستل

سوال: ايا دښځوپه کمره کې سړي څملاستى شي په حال کې چې دسړيوله پاره د جداکمره موجوده وي؟ دې ګناهګارو سترګو اکثره سړي تړوله شپه ښځوسره په يوکټ کې ملاسته باندې

---

[1] ،، وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ،،(آل عمران:١٠٤) أيضًا:،، كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ،،(آل عمران:١١٠) أيضًا: عن جريربن عبدالله قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم ما من رجل يكون فى قوم يعمل فيهم بالمعاصى يقدرون على أن يغيروا عليه ولا يغيرون إلّا أصابهم الله منه بعقاب قبل أن يموتوا (مشكوة ص:٤٣٧، باب الأمربالمعروف)_

[2] ،، ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ،، يعنى بالقرآن الذى هومحكم المقالات لَايتطرق إليه الطعن والمعارضة وهوالدليل الموضح للحق المزيح للشبهات وهوالموعظة الحسنة هى القول اللين الرقيق من غير غلظة ولَا تعسف وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (النحل:١٢٥) (تفسيرمظهرى ج: ٥ ص:٣٩٠)_

[3] عن معاذقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من عيّر أخاه بذنب لم يمت حتّى يعمله يعنى من ذنب قد تاب منه رواه الترمذى (مشكوة ص: ٤١٤) أيضًا: عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لَايكون المسلم لعّانًا، وفى رواية: لَا ينبغى للمؤمن ان يكون لعّانًا (مشكوة ص:٤١٣، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)_

ليدلي دي اوهغوى مې منع كړي هم دي، خوهروخت راته داجواب ملاوشوى دى چې انسان سپوږمۍ ته ورسيده اوته اوسه پورې هغه پخوانۍ خبرې كوې، په اوسني دوركې داهرڅه صحيح دي، د پنځوسو كلونو مور دخپل پنځويشتو كلنوزوى سره ويده كيداى شي اودغه شان دپنځويشتو كلونو وروردخپلې شل كلنې خورسره څملاستى شي.

جواب: حديث شريف كې فرمايل شوي دي چې: كله ماشومان دلسو كلونوشي؛ نودهغوى بسترې جداكړئ (مشكوة ص۵۸)[1] دځوانو ورونو خويندويوكټ كې ويده كيدل څنګه صحيح كيداى شي؟ كه دانسان سپوږمۍ ته ختلودا معنا وي چې ددې ترقي نه وروسته انسان، انسان نه دى پاتې شوى، څناورترې جوړشوى دى اواوس انسان له پاره دقدرت اوقانون دپابندي ضرورت نه شته؛ نوموږددې ترقي دمطلب نه خبرنه يو، زموږ په خيال كه انسان دسپوږمۍ په ځاى ې مريخ ته ورسيږي، هغه باندې به دانسانيت حدود او پابندي لازم وي اواسلام د انسانيت دفطري حدودو او پابنديو نوم دى، كوم خلك چې داسلام تعليماتوته پخوانۍ خبرې ويلوسره خپل ځان ازادخيال اوترقي پسند ثابتوي، دهغوى په حقيقت كې دامقصدوي چې انسان اوځناوركې فرق ختم شي، داسې خلكوته مسلمان ويل غلط دي.

غوسه كې كنځل كول په شرعي ډول څنګه دي؟

سوال: زمانيكه چې دهغه عمرتقريبا شپيته كاله دى، ماشاءالله صحت مند دى، دسنت مطابق ږيره يې هم ده، خودهغه دكنځلوكولوعادت دى، دغوسې زغملو په ځاى باندې غوسه كوي، دهندوستان دفلمونو كتلو شوق يې هم دى،كله پنځه وخته لمونځ پابندي سره كوي، خوپه كور كې، كله كله دجمعې لمونځ هم كوركې وكړي اوكله كله لمونځ بالكل نه كوي، كه چيرې لرشان يې په سردردوي، يايوه ورځ لږ ډير كاروكړي؛ نوپه هغه ورځ يوازې له دې وجې لمونځ پريږدي چې نن ډيرزيات ستړى شوى يم.

جواب: غوسه خوبه هغه دبوډاوالي دكمزوري له وجې راځي، خوپه غوسه كې كنځل كول، ډيره بده خبره ده[2] اوبياديوبوډا له خولې نه كنځل وتل نوره هم بده خبره ده. لمونځ كې كوتاهي كول دمسلمان دشان مطابق نه دي[3]، دبوډاوالي نه وروسته، خويوازې قبرباقي پاتې

---

[1] عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مروا اولادكم بالصلاة وهم أبناء سبع سنين، واضربوهم عليها وهم أبناء عشرسنين، وفرقوا بينهم في المضاجع رواه أبوداؤد (مشكوة شريف ص:۵۸)_

[2] وعن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس المؤمن بالطعّان ولَا باللّعّان ولَا البذى رواه الترمذى (مشكوة ج: ۲ ص: ۴۱۳) أيضًا: عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر متفق عليه (مشكوة ص: ۴۱۱، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)_

[3] ،، فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ،، (الماعون)_

دی، که انسان بوډا والي کې د خپلو غلطیو هوش رانه شي؛ نو بیا به ورته کله راځي؟ حدیث کې دي چې کوم کس ته الله تعالی شپیته کاله عمر ورکړ، د هغه ټول عذرونه ختم شول.

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: ینادی مناد یوم القیامة: این ابن الستین؟ وهو العمر الذی قال الله تعالی: اولم نعمرکم مایتذکر فیه من تذکر وجاءکم النذیر.(رواه البیهقی فی شعب الایمان مشکوة ص ٤٥١)

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې حضور ﷺ وفرمایل چې: د قیامت په ورځ به یو اعلان کونکی اعلان وکړي چې شپیتو کلنو عمر والا خلک کوم ځای دي؟ هم د غه عمر دی د کوم باره کې چې الله تعالی فرمایلي و، چې موږ تاسو ته دومره عمر نه دی درکړی، ځوک چې پوهیدل غواړي هغوی په دې پوهیدای شي او تاسو ته ویرونکي هم درغلي وو.(ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)

الله تعالی دې موږ ټولو ته د خپلو اصلي کورونو د تیاري کولو توفیق راکړي. امین!

د خنزیر کنځل کول

سوال: د مشرانو نه مو اوریدلي دي چې د خنزیر کنځلو کولو سره د څلویښتو ورځو رزق ختم شي، اسلام کې دا خبره تر کومه حده پورې صحیح ده؟

جواب: چا ته داسې ګنده کنځل کول خو صحیح نه دي[1] او ما ته د رزق ختمیدو خبره معلومه نه ده.

د کنځل کونکي مشر علاج

سوال: زموږ محله کې یو صاحب چې هغه ډیر زیات بوډا دی، جومات کې اکثر کنځل شروع کړي، ایا داسې کس ته جواب کې څه ویل جائز دي؟

جواب: د غه سړی د بوډا والي له وجې مجبور دی، د هغه مخکې داسې څه خبره مه کوئ چې هغه ته پرې غوسه ورشي.

د انسان د شکریه ادا کولو طریقه

سوال: د انسان د شکریه ادا کولو طریقه څه ده؟ د شکریه، مهرباني وغیره الفاظ ادا کول جائز دي؟

جواب: د چا د احسان شکریه ادا کولو له پاره شریعت د ((جزاک الله)) د الفاظو ویلو تلقین کړی

---

[1] عن أبي الدرداء أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ماشيء أثقل في ميزان المؤمن يوم القيامة من خلق حسن، فإن الله تعالى يبغض الفواحش البذئ (ترمذی ج: ۲ ص: ۲۰) أیضًا: عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق (مشكوة ص: ٤۱۱، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)۔

دی، حدیث کې دي: **من صنع الیه معروف قال لفاعله جزاک الله فقد ابلغ فی الثناء**.(ترمذی ج ۲ ص ۲۳)

ترجمه: په چا چې احسان وکړل شي، هغه دې احسان کونکي ته «**جزاک الله**» ووایي؛ نو هغه تعریف د کمال حد ته ورسولو.

بداخلاقه لمونځ کونکي او اخلاقي بې نمازو کې څوک بهتر دي

سوال: یوکس دی هغه لمونځ کوي او ډیر زیات پرهیزګاره دی، خو هغه اخلاق ښه نه دي، هرچا سره بداخلاقي کوي او یوکس دی هغه لمونځ او پرهیزګاري نه کوي، خو هغه اخلاق ډیر زیات ښه دي، دې صورت کې د کوم یو عمل ښه دی؟

جواب: ستاسو دا خبره زما دپوهې نه بهرده، ځکه چې د عبادتونو له وجې انسان مهذب شي، د هغه زړه نرم شي، د هغه اخلاق ښه شي، د هغه کبر ختم شي، ځکه چې د لمانځه باره کې راغي چې لمونځ د بې حیایي او غلط کارونو نه منع کوي[1]، بیا انسان چې کله لمونځ کې د تواضع له وجې سر ښکته کوي؛ نو کبر ختم شي، هروخت هغه لمونځ کې د الله تعالی نه دعا کوي چې ما د نیکانو خلکو په لاره روان کړه او د نیکانو خلکو اخلاق ښه او اعلی وي؛ نو معلومه شوه چې د عبادتونو همدغه اثر دی چې د هغه له وجې اخلاق ښه شي، او س که چیرې عبادتونو کې دا اثر نه وي: نو معلومه شوه چې د هغه په عبادت کې څه نقص دی او د هغه له پاره ضروري ده، چې هغه د خپلو عبادتونو اصلاح وکړي[2]، خو هغه ته به د لمونځونو، روژو او نورو نیکو کارونو اجر په خپل ځای باندې ملاویږي او د بداخلاقي ګناه په خپل ځای باندې[3] د غه شان هغه اخلاقي سړی کوم چې نیک عملونه نه کوي او په فرائضو کې کوتاهي کوی؛ نو معلومه شوه چې الله تعالی هغه ته نیک فطرت او طبیعت ورکړی دی، خو هغه د خپل غفلت او کوتاهي او د شیطان په دوکه دراتلو له وجې په خپلو فرائضو کې کوتاهي کوي؛ نو هغه ته به دې فرائضو کې

---

[1] ،، إِنَّ الصَّلاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ،،(العنکبوت:٤٥)۔

[2] المراد أن الصلاة تنهى عن الفحشاء والمنكر مطلقًا وعلى هذا قال بعض المفسرين الصلاة هى التى تكون مع الحضور وهى تنهى (التفسير الكبير ج: ٢٥ ص: ٧٢) أيضًا: قال أبوبكر يعنى القيام بموجبات الصلاة من الأقبال عليها بالقلب والجوارح وإنما قيل تنهى عن الفحشاء والمنكر لأنها تشتمل على أفعال وأذكار لا تخللها غيرها من أمور الدنيا وليس بشيء من الفروض بهذه المنزلة فهى تنهى عن المنكر وتدعوإلى المعروف بمعنى ان ذالك مقتضاها وموجبها لمن قام حقها (أحكام القرآن للجصاص ج: ٣ ص: ٣٥٠)۔

[3] عن حارثة بن وهب قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة الجوّاظ الجعظرىّ يقال الجعظرى الفظ الغليظ وفى نسخ المصابيح عن عكرمة بن وهب ولفظه قال والجوّاظ الذى جمع ومنع والجعظرىّ الغليظ الفظ (مشكوة ص: ٤٣١) أيضًا: وعن جرير عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من يحرم الرفق، يحرم الخير رواه مسلم (مشكوة ص: ٤٣١، باب الرفق والحياء وحسن الخلق)۔

دکوتاهي سزا ضرور ملاويږي[۱] ددې دواړو کسانو خپلوکې هيڅ نسبت نه شته، دواړه په صحيح لاره نه دي، يوه ددين يوه برخه پريښې ده .... دويم ددين بله برخه پريښې ده، له دې وجې دواړوکې نقص دی

د منافق درې نښې

سوال: زه دلته دبخاري اودمسلم په حواله باندې ديوحديث ترجمه ليکل غواړم: دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: دمنافق درې نښې دي، چې خبره کوي، دروغ وايي، وعده وکړي، دوعدې خلاف کوي، که څه امانت ورسره کيښودل شي، هغه کې خيانت کوي، که هغه کس روژې نيسي اوکه لمونځونه کوي اودخپلې مسلماني دعوه ولې نه کوي ددې مبارک حديث په رڼاکې تاسودهغه کس باره کې څه وايئ، کوم کې چې دادرې واړه نښې موجودې وي.

جواب: منافقان دوه قسمه دي، يواعتقادي منافق،کوم چې په ښکاره مسلمان وي اوپه زړه کې په الله تعالی اودهغه په رسول ﷺ باندې ايمان نه ساتي[۲]، دويم عملي منافق، داهغه کس دی کوم چې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ مني اواسلام باندې عقيده هم ساتي، خو کارونه د منافقينو کوي، مثلاً: دروغ ويل، دوعدې خلاف کول، امانت کې خيانت کول، دې حديث کې هم ددې دويم نمبرمنافق طرف ته اشاره شوې ده، مسلمان خودی، لمونځ کوي او روژې نيسي، خودهغه کرداردمنافقينودی[۳]دکوم کس ذکرچې تاسو کړی دی،که چيرې هغه کې داټولې خبرې موجودې وي؛ نو دحديث دا وعيد هغه له پاره هم دی، چې دهغه کرداردمنافقينودی، هغه ته مطلق منافق ويل جائزنه دي، ځکه که چيرې يوکس دکافرانو عملونه کوي؛ نوهغه ته مطلق کافرويل صحيح نه دي.[۴]

---

[۱] عن عبدالله بن عمرو بن العاص عن النبی صلی الله علیه وسلم انه ذکرالصلوة یومًافقال من حافظ علیها کانت له نورا وبرهانا ونجاة یوم القیامة ومن لم یحافظ علیها لم تکن له نورا ولا برهانًا ولانجاة وکان یوم القیامة مع قارون وفرعون وهامان وأبیّ بن خلف رواه أحمد (مشکوة ص: ۵۸، ۵۹، کتاب الصلاة. الفصل الثالث)

[۲] المنافقون الذین کانوا فی زمن النبی صلی الله علیه وسلم فحدثوا بإیمانهم فکذبوا وأتمنوا علی دینهم فخانو ووعدوا فی أمرالدین ونصره فأخلفوا وفجروا فی خصوماتهم ...إلخ (شرح المسلم للنووی ج: ۱ ص:۵۶)_

[۳] إن معناه ان هذه الخصال ومتخلق بأخلاقهم فإن النفاق هوإظهار مایبطن خلافه وهذا المعنی موجودفی صاحب هذه الخصال ویکون نفاقه فی حق من حدثه ووعده وأتمنه وخاصمه وعاهده من الناس لا انه منافق فی الاسلام فیظهره ویبطن الکفر ولم یرد النبی صلی الله علیه وسلم بهذا أنه منافق نفاق الکفار المخلدین فی الدرک الأسفل من النار (شرح المسلم للنووی ج: ۱ ص: ۵۶، باب خصال منافق) أیضًا: عن النبی صلی الله علیه وسلم: آیة المنافق ثلاث: إذاحدث کذب وإذا وعد أخلف وإذا اؤتمن خان وفی الحاشیة: قوله آیة المنافق.... ....المراد بالنفاق النفاق العملی لا الإیمانی (صحیح بخاری ج: ۱ ص: ۱۰، حاشیه نمبر ۲، باب علامة المنافق)

[۴] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ..[بقیه په راروانه صفحه..

عملي نفاق

سوال: ډیر خلک کوم چې په ښکاره نیک وي، تبلیغ ته هم ځي، خو دې مبارک کاردوران کې غلط کارونه کوي، ایا داسې خلک د حدیث په نزد باندې منافقان دي؟

جواب: عملي نفاق دی.

د چا باره کې شک او بدګماني کول

سوال: یو حدیث دی چې چا باندې شک کول پکارنه دي، یعنې شک، بدګماني او تجسس منع دی، بل حدیث دی، چې کوم شی تاسو په شک کې اچوي هغه پریږدئ، دې دواړو حدیثونو کې څه فرق دی د عمل په لحاظ باندې؟ او څه مطلب یې دی؟

جواب: دچا باره کې بدګماني جائزنه ده[۱] دا خو دلومړی حدیث مطلب دی او ددویم حدیث مطلب دا دی چې د کوم کار باره کې شک شي چې ایا دا جائز دی او که ناجائز؛ نو هغه کار مه کوئ.[۲]

دغیبت سزا

سوال: ایا غیبت کولو باندې ګناهونه معاف کیږي، ما اوریدلي دي چې د کوم کس غیبت کیږي، غیبت کونکي ګناهګاریږي، خو دچا چې غیبت کیږي د هغه ګناهونه معاف شي، ایا دچا چې غیبت کیږي په رښتیا د هغه ګناهونه معاف کیږي؟

جواب: دغیبت کونکي نه به نیکي اخیستل کیږي او چا غیبت یې چې کړی وي هغه ته به ورکول کیږي، که چیرې هغه سره نیکي نه وي؛ نو د چا یې چې غیبت کړی وي، د هغه ګناهونه

...بقیه د تیرمخ]. أيما رجل قال لأخيه كافر، فقد باء بها أحدهما متفق عليه وعن أبي ذر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايرمى رجل رجلًا بالفسوق ولَايرميه بالكفر إلّا ارتدت عليه أن لم يكن صاحبه كذالك (مشكوة ص: ٤١١، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)_

[۱]]عن أبي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إيّاكم والظن! فإن الظن أكذب الحديث (ترمذى ج:۲ ص: ۲۰، باب ماجاء فى سوء الظن، طبع رشيدية، كتب خانه، دهلى)_

[۲]] وعن الحسن بن على قال: حفظت من رسول الله صلى الله عليه وسلم: دع ما يريبك إلى ما لَا يريبك، فإن الصدق طمانية وإن الكذب ريبة (مشكوة ص: ٢٤٢، باب الكسب وطلب الحلال، الفصل الثانى) أيضًا: وفى حاشية المشكوة: قوله فإن صدق إلخ الصدق والكذب يستعملان فى الأقوال والأفعال وقالوا معناه إذا وجدت نفسك ترتاب فى الشيء فاتركه وانتقل إلى ما لَا ترتاب فيه فإن نفس المؤمن تطمئن إلى الصدق وترتاب من الكذب فارتيابك فى الشيء ينبئ عن كونه باطلًا أومظنة للباطل فاحذره واطمينانك إلى الشيء يشعربأنه حق فاستمسك به فهذا ضابطة لمعرفة كون الفعل حسنا و قبيحًا و كون الشيء حلالا و حراما (مشكوة ص: ٢٤٢، حاشيه نمبر ٤، باب الكسب وطلب الحلال)_

به د غیبت مطابق هغه باندې اچول کیږي[1] د تیولو حقوق العباد هم دا مسئله ده، دې نه پرته که الله تعالی حق دارته دخپل طرف نه ورکړي او هغه معاف کړي؛ نو دالله تعالی فضل دی.

غیبت، مذاق او څوک ذلیل ګڼل کبیره ګناه ده؟

سوال: خواست دادی چې زه په سرکاري دفترکې کارکوم، هلته یوڅو ځوانان دي، هغه وخت په څه ناڅه طریقې باندې چاپسې توکې کوي، خلک جنګوي او ددروغو قسمونه خوري، چاته په سرباندې ټک ورکوي او خوشالیږي اوچاته تکلیف ورکولوباندې خوشالیږي او وایي چې ډیره مزه یې وکړه، کله چې هغوی ته وویل شي چې الله تعالی نه ویریږئ؛ نو وایي چې الله تعالی مینځ ته مه راولئ او ټول مسلمانان دي، زموږ مذهب د داسې خلکوباره کې څه وایي؟ دغو خلکوکې د الله تعالی ویره نه شته، اکثردوه ملګري په جګړه کولوباندې خوشالیږي او وایي نن یې ډیرخوندوکړ او طبیعت موخوشاله شو اودروغ ویل، چغلي کول اوددې ځای خبره یوځوابل ځای ته رسول د هغوی مشغله ده اودځان په مقابله کې نورخلک کمزوري او خوار ګڼل شامل دي، تاسوته خواست دی د اسلامي نظریې مطابق ووایئ چې داسې خلکوسره ناسته پاسته کول جائزدي؟ او مذهب دوی باره کې څه حکم کوي؟

جواب: دا ټول کارونه کوم چې تاسو ذکرکړي دي، کبیره ګناهونه دي، چا پورې توکې کول، څوک ذلیل ګڼل، خلک په جنګ کول، دچا غیبت کول، دروغ ویل[2]، په دروغو قسمونه خوړل[3]، دا ټول ډیرسخت بدکارونه دي اوددې له وجې معاشره کې شر اوفساد او خفګان پیداکیږي. داسې خلکوسره دوستانه ساتل نه دي پکار.[4]

---

[1] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: رحم الله عبدًا كانت لأخيه عنده مظلمة في عرض أومال فجاءه فاستحله قبل أن يؤخذ وليس ثمّ دينار ولا درهم فإن كانت له حسنات أخذ من حسناته وإن لم تكن له حسنات حملوا عليه من سيأتهم ترمذى ج: ۲ ص: ۱۶۷، أبواب صفة يوم القيامة، طبع قديمى)_

[2] ،، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ،، الآية،، وَلا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلا تنابزُوا بالْأَلْقَابِ،، الآية،، ولايغتب بعضكم بعضًا (الحجرات: ۱۱ تا ۱۲) عن ابن عباس عن النبي صلى الله عليه وسلم: لاتمار أخاك ولاتمازحه ولا تعده موعدًا فتخلفه (ترمذى ج: ۲ ص: ۲۰، باب فى المراء)_

[3] قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من حلف على يمين مصبورة كاذبًا فليتبؤ بوجهه مقعده من النار(أبوداؤد ج: ۲ ص: ۱۵۶) أيضًا: قال صلى الله عليه وسلم: إياكم والكذب فإن الكذب يهدى إلى الفجور، وإن الفجور يهدى إلى النار مشكوة ص: ۴۱۲، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، الفصل الأول)_

[4] عن عمران بن حطان قال: أتيت أباذر فوجدته فى المسجد محتبيابكساء أسود وحده فقلت: ياأباذر! ماهذه الوحدة؟ فقال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الوحدة خيرمن جليس السوء، والجليس الصالح خيرمن الوحدة (مشكوة ج: ۲ ص: ۴۱۴، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، الفصل الثالث)_

د چاله شر نه د خلکو د بچ کولو له پاره غيبت کول

سوال: يوسړی زموږ خواته راځي او وايي چې فلاني صاحب کوم چې ستاسو په محله کې اوسيږي، هغه سره موږ د خپلې لور خپلوي کول غواړو، مهرباني وکړئ تاسو موږته د هغه سړي د عادتونو او کردار وغيره او نورتفصيلات بيان کړئ، اياهغه پوښتنه کونکي ته ټولې خبرې بيانول پکاردي اوکه نه؟ اوکه چيرې ويل پکاردي؛ نواياهغه خبرې ورته هم ويل پکاردي دکوموچې موږ څخه دنه ويلو وعده اخيستل شوې وي؟

جواب: که چيرې د هغه سړي غيبت کول مقصدنه وي، بلکې خپلوي کونکي دنقصان نه دبچ کولو مقصدوي؛ نودهغه سړي ذکرکول جائز دي[1] اوکه چاسره دذکرنه کولووعده کړې وي؛ نوبهترداده چې پخپله ورته وونه وايئ، بلکې ديوپيژندګلوکس حواله ورکړئ چې دهغه نه پوښتنه وکړئ.

د فوټووالا او بورډ والا کمپنۍ خلاف تقريرکول غيبت نه دی

سوال: يوې ښځې دتبليغ کونکو ښځو په اجتماع کې، اشتهاري بورډ (په کوم باندې چې دښځې تصويرجوړشوی وي) دتقريرموضوع جوړه کړې وه، ديوې کمپنۍ نوم اخيستلوسره يې په هغې باندې تنقيد کولو اودې حدپورې يې وويل چې سپين ږيري دښځوګټه خوري اوويې ويل که چيرې دفلانکۍ کمپنۍ خپلوان دلته موجودوي؛ نوزموږ پيغام هغوی ته ورسوئ، ښځو ديوې ښځې طرف ته ارشاه وکړه چې داد هغوی خپلوانه ده، هغې ښځې وعده وکړه چې زه به ستاسو پيغام ورسوم، دا پېښه دجمعې په ورځ شوې وه، دهفتې په ورځ باندې دکمپنۍ مالک ته پته ولګيده، ذکرشوي بورډ باره کې هغه ته خبرنه و، په هرحال بورډصفا شو، دچارشنبې په ورځ باندې هغې ښځې بل ځای کې تقريروکړاوهم هغه بورډيې خپله موضوع جوړه کړې وه، هم هغه سوال وشو، که چيرې دهغوی څوک خپلوان وي؛ نوزموږ پيغام هغوی ته ورسوئ، سوال داپيداکيږي چې ايادجمعې په ورځ چې کوم تقريرو شوهغه غيبت و، کوم چې دمړ ورور دغوښې خوړلوبرابردی؟ اوکوم تقريرچې دچارشنبې په ورځ وشوهغه بهتان دی، ځکه چې له هغه نه مخکې بورډ مالک په مکمل ډول ختم کړی و.

جواب: کومه ګناه چې په ښکاره ډول کيږي دهغه بيانول غيبت نه دی[2]، له دې وجې دهغې

---

[1] فتباح غية مجهول ومتظاهربقبيح ولمصاهرة ولسوء إعتقاد تحذيرامنه (درمختار) قوله: والمصاهرة: الأولى التعبير بالمشورة أى فى نكاح وسفر وشركة ومشاورة وإيداع أمانة ونحوها فله أن يذكرمايعرفه على قصد النصح رد المحتارج: ٦ ص: ٤٠٩، حظروالإباحة، فصل فى البيع، طبع ايچ ايم سعيد۔

[2] فتباح غية مجهول ومتظاهربقبيح والمصاهرة ولسود إعتقادتحريزًا منه (درمختار) وفى تنبيه الغافلين للفقيه أبوالليث: الغيبة على أربعة أوجه ...إلخ هى مباح وهوأن يغتاب معلنًا بفسقه..[بقيه په راروانه صفحه..

ښځې لومړی تقریر صحیح و او غیبت کې داخل نه دی، بوره صفاکولو وروسته که چیرې هغې ښځې ته خبرنه و ورکړل شوی؛ نو د هغې ښځې د چارشنبې په ورځ تقریر هم صحیح و، ځکه چې ضروري نه ده چې هغې ته د بوره صفاکولو علم شوی وي، دې کې قصور د هغې ښځې نه، بلکه د کمپنۍ والا دی.

کله چې د چاغیبت وشي؛ نو سمدستي د هغه نه معافي وغواړئ یا د هغه له پاره د خیر دعا وکړئ

سوال: مولاناصاحب! ما الله تعالی سره وعده کړې وه چې د چاغیبت به نه کوم، خو بیا دې بدعادت کې مبتلاشوم، دې زمانه کې داګناه دومره عامه ده چې دابالکل ګناه نه ګڼل کیږي، که زه پخپله نه کوم: نو نورخلک ماسره خبرې کوي، که نه اورم؛ نو کبرجن راته وایي، تاسو مهرباني وکړئ اوماته وفرمایئ چې زه به ددې بدعادت نه خلاصی ومومم؟ او دوعدې ماتولو څه کفاره اداکړم؟

جواب: دوعدې ماتولو کفاره هماغه ده کومه چې دقسم ماتولو ده[۱]، یعنې لس مسکینانو باندې دوه وخت خوراک کول او که چیرې ددې طاقت نه وي؛ نو درې ورځې روژه نیول[۲] دې نه پرته غیبت کول ډیره غټه ګناه ده، حدیث کې دا د زنا نه هم بدتر ګڼل شوی دی،[۳] ددې بد عادت علاج ډیر اهتمام سره کول پکار دي اودې کې د چاد ملامته کولو خیال نه دي ساتل پکار او ددې علاج دادی چې اول خودې انسان دا سوچ وکړي چې زه د چاغیبت کولو سره د مړ ورور غوښه خورم[۴] او داچې زه خپلې نیکۍ هغه ته ورکوم[۵] او دا بیوقوفي ده، د چاچې بدي بیانوم

...بقیه د تیرمخ].. أوصاحب بدعة وإن إغتاب الفاسق ليحذره الناس يثاب عليه لأنه من النهى عن المنكر أقول والإباحة لا تنافى الوجوب فى بعض المواضع الآتية (قوله ومتظاهربقبيح وهوالذى لا يسترعنه ولايؤثرعنده إذا قيل عنه انه يفعل كذا اه ابن الشحنة قال فى تبيين المحارم فيجوز ذكره بمايجاهربه لا غيره ...إلخ (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٩، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)_

[۱]،، وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ،،الآية قال الشعبى العهد يمين وكفارته كفارة يمين (تفسيرمظهرى ج: ٥ ص: ٣٦٥، أيضًا: هدايه ج:٢ ص: ٤٨٠)_

[۲]،، فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ،، (المائدة:٨٩)_

[۳]وعن أبي سعيد وجابر قالا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الغيبة أشدمن الزنا...إلخ (مشكوة ص: ٤١٥، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، الفصل الثالث)_

[۴]،، وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ، وَاتَّقُوا اللَّهَ الآية (الحجرات:١٢)_

[۵]عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: رحم الله عبدًا ..[بقيه په راروانه صفحه..

هغه ته خپلې نیکۍ ورکوم، بل دا چې د کوم کس غیبت وشي؛ نو سمدستي د هغه نه معافي وغواړئ او که چیرې دا ممکن نه وي؛ نو هغه له پاره د خیر دعا وکړئ[1]، انشاء الله د دې تدبیر له وجې به دا عادت ختم شي

کبر څه شی دی؟

سوال: تاسو اسلامي صفحه شروع کړې ده، دا سلسله مې ډیرزیاته خوښه شوه، زموږ له طرفه مبارکي قبوله کړئ، که چیرې تاسو د کبر باره کې بیان وکړئ؛ نو ډیره مهرباني به وي.

جواب: د کبر معنا ده، په څه دنیاوي یا دیني خبرې کې خپل ځان له نورونه ښه ګڼل او خلک کمزوري ګڼل، له دې وروسته د کبر دوه برخې دي:

۱: خپل ځان اوچت ګڼل. ۲: نور خلک سپک ګڼل.

کبر ډیره بده ناروغي ده، قران او احادیثو کې د دې دومره بدي بیان شوې ده. چې د هغه لوستلو سره دانسان ویښته دریږي[2] او نن موږ کې ډیر خلک د دې ناروغي کې مبتلا دي، د دې علاج د روحاني ډاکټرنه کول پکار دي.

د قبلې طرف ته پښې کولو سره څملاستل

سوال: زما ذهن کې یو څو خبرې دي، هغه یو ازې تاسو لیرې کولی شئ، هغه دا چې ځینې خلک وایي چې قبلې ته پښې کولو سره ویده کیدل پکار نه دي او نه لاړې تو کول پکار دي، ایا دا صحیح دي؟

جواب: د قبلې طرف ته پښې کول بې ادبي ده، له دې وجې جائز نه دي.[3]

...بقیه د تیرمخ]..كانت لأخيه عنده مظلمة فى عرض أو مال فجائه فاستحلّه قبل أن يؤخذ وليس ثم دينار ولا درهم فإن كانت له حسنات أخذ من حسناته وإ، لم تكن له حسنات حملوا عليه من سيئاتهم (ترمذى شريف ج: ۲ ص: ۱۶۷، أبوب صفة القيامة)_

[1] عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان من كفارة الغيبة أن يستغفر لمن اغتبته تقول : اللهم اغفرلناوله (مشكوة ص: ٤١٥، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، الفصل الثالث)_

[2] ،، وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحاً إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ،، (لقمان:۱۸) أيضًا: عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة من كان فى قلبه مثقال ذرّة من كبر..الكبربطرالحق وغمط الناس...إلخ وعن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يقول الله تعالى: الكبرياء ردائى، والعظمة إزارى، فمن نازعنى واحدًا منهما ادخلته النار، وفى رواية:قذفته فى النار(مشكوة ص: ٤٣٣، باب الغضب والكبر، الفصل الأوّل)

[3] ويكره تحريمًا إستقبال القبلة بالفرج إلى أن قال وكماكره مدرجليه فى نوم أوغيره إليها أى عمدًا لأنه إساءة ادب (درمختار ج:۱ ص: ٦٥٥، ايضًا: البحرالرائق ج:۲ ص:۳٦)_

ایا دقبلې طرف ته د پښې کونکی واجب قتل دی

سوال: له مشرانونه مواوریدلي دي چې دقبلې طرف ته پښې کولوسره چې څوک ویده وي دهغه قتلول واجب دي، ایاکوم کس چې دقبلې ته مخ کولوسره متیازې کوي اومتیازې په ولاړه باندې هم کوي؛نومهرباني وکړئ اوبیان کړئ چې دداسې متیازې کونکي قتلول هم واجب دي؟
جواب: دقبلې طرف ته پښې خورول بې ادبي ده اودغه شان متیازې کول گناه ده[۱] خوددې گناه له وجې قتلول جائزنه دي[۲] اوکله چې هغه سړی مسلمان وي اوکه چیرې داسې کارونه دکعبې دتوهین کولو له وجې کوي؛ نوداکفردی.[۳]

پرمخ (الټه) څملاستل

سوال: دپرمخې (الټه) څملاستلوباره کې مایه یوډائجسټ کې کتلي و چې دې سره انسان په نفسیاتي مرض مبتلا کیږي، داخبره صحیح ده اوکه نه؟
جواب: پرمخې څملاستل مکروه دي[۴]اوحدیث کې دې ته دشیطان په طریقه باندې ملاسته ویل شوې ده، دنفسیاتي مرض ماته پته نه شته.

غسل خانه کې لاړې توکول

سوال: مااوریدلي دي چې غسل خانه کې لاړې توکول منع دي، ایا داصحیح دي؟
جواب: دادب خلاف دي.[۵]

خلکوته د تکلیف رسولوذریعه جوړیدل شرعا جائزنه دي

سوال: تاسو روزنامه (جنگ) دجمعې دورځې د۳ دسمبر۱۹۸۲ء په کالم :آپ کے مسائل اور

---

[۱] ويكره تحريمًا إستقبال القبلة بالفرج ولوفى الخلاء،بالمدبيت التغوط، وكذااستدبارها وكماكره لبالغ إمساك صبي يبول نحوها وكماكره مدرجليه فى نوم أوغيره إليها أى عمدًا لأنه إساءة أدب (درمختارعلى الشامى ج:۱ ص: ٦٥٥، طبع ايچ ايم سعيد كراچي)_
[۲] ،، وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ،،(الاسراء:۳۳)_
[۳] وفى تتمة الفتاوى من استخف بالقرآن أو بالمسجد أوبنحوه ممايعظم فى الشرع كفر (شرح فقه أكبر ص:۲۰۵)
[۴] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال:رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلًا مضطجعًا على بطنه فقال:إنّ هذه ضجعة لَايحبها الله(ترمذى شريف ج:۲ص:۱۰۱باب ماجاء فى كراهية الإضطجاع على البطن،أبوداؤد ج:۲ ص:۳۳۱)
[۵] ولَاينظرلعورته إلّالحاجة ولا ينظرإلى مايخرج منه ولايبزق ولايتمخط ولايتنحنح...إلخ (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۵۰) وفى الشامية: ولايبزق فى البول (ردالمحتار ج:۱ ص:۳۴۵، مطلب فى الفرق بين الإستبراء)_

ان کاحل کې یوسړي دسوال په جواب کې لیکلي و چې: کورپه کرایه باندې اخیستل اوورکول جائزدي داخوصحیح دي، خوداسې صورت کې یوسړی چې هغه خلک دین دار ګڼي اوهغه پخپله هم ددین اواسلام دتعلیم ورکولو دعوه کوي، په یوې رهائشي علاقه کې کور دداسې کاروبار یا کارخانې له پاره واخلي چې هغه داوسیدونکي علاقې له پاره قانوني، اوپه اخلاقي ډول جائزنه وي، دزیاتې کرایې په لالچ کې ورکړي اوهغه دهلته دپرده کونکوله پاره دتکلیف اوپریشاني ذریعه جوړه شي، دې حدپورې چې خلکوته دګټراوبه څښل اواستعمالول وي (دمال وړونکوګاډو له وجې دګټراواوبوپائپونه مات شوي او یوبل سره ګډوډشوي دي) اودداسې تکلیف بنیاد ختمولو له پاره خلکو ته دروړولې خبرې اومختلفې بهانې کول اوپه خپله خبره باندې قائم اوسیدلو له پاره مختلف دلیلونه وړاندې کولوسره دروغ ویل، دې باره کې دقران اوحدیث په رڼاکې ستاسو جواب څه دی؟

جواب: دچاله پاره داسې کارونه کول په شرعي ډول جائزنه دي د کومو له وجې چې خلکوته تکلیف رسیږي.[1]

ستاسو عمل مبارک عمل دی

سوال: زه دشپې ویده کیدو وخت کې بستره کې څملاستوسره د (بسم الله الرحمن الرحیم) ورد، ایت الکرسي، دعاصدیق رضي الله عنه او درود شریف وایم اوبیاله هغه وروسته دالله تعالی نه دخپلو ګناهونو معافي غواړم اودحاجتونوپوره کولوله پاره دعاغواړم، ایازماداعمل صحیح دی؟ بسترې کې څملاستووخت کې زه په اوداسه یم اوپه بدن باندې مې صفاجامه وي، ایابسترې کې څملاستووخت کې داسې لوستل جائزدي اوکه نه؟ جواب راته ضروربیان کړئ!

جواب: ستاسو عمل صحیح اومبارک دی.

کورکې دښځو مخکې اودس وچول

سوال: ماته په ویلو شرم راځي، خومسئله اهمه ده، زمادیودوست د تره اوپلاروغیره عادت دی چې کله هغوی کورکې هم وي؛ نود متیازوکولو وروسته پرتوګانې ټړل اواودس اوچول (متیازې لوټې سره اوچول) کوي، زمادوست خوشرمیږي، زه پخپله باندې وشرمیږم چې دهغوی په کورکې لونه اوازمن ټول وي اوهغوی ددې لږخیال هم نه ساتي چې داڅومره بده خبره ده، یوځل زما خور زما د دوست خورته وویل: نوهغې وویل چې زه څه کولی شم، پلارته مې پخپله سوچ کول پکاردي تاسومهرباني وکړئ چې اسلام داسې اودس اوچولو نه منع نه ده

[1] عن عبدالله بن عمرو عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، و المهاجرمن هجرمانهی الله عنه (بخاری شریف ج: ۱ ص: ٦، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)_

شوي؟ اهمه خبره داده چې زماددوست پلار پنځه وخته لمونځ کوي، زمادوست وايي چې زماپلار څه، دپنجاب په اکثر ښارونو کې پرهيزګارخلک هم داسې کوي.

جواب: داعمل دحياخلاف دی، هغوی ته داسې نه دي کول پکار[1] که چيرې هغوی ته د استنجاء وچولو ضرورت وي؛ نوپه استنجاء خانه کې ددې نه ځان فارغ کول پکاردي.

پردي ملک کې اوسيدو نکو ته څنګه اوسيدل پکاردي؟

سوال: پاکستان کې دډيرو پيسو نوکري نه ملاويږي اونورو معاملاتو کې رشوت زيات چليږي؛ نو ايا يوازې ددې وجوهاتوله وجې ديومسلمان له پاره جائزدي چې دامريکې په شان ملک کې اوسيږي؟ ځکه چې هلته بدي ډيرې عامې دي، اياديومسلمان له پاره جائزدي چې هغه د امريکې شهريت حاصل کړي؟ ځکه چې دامريکې شهريت حاصلولو له پاره دځپل مخکې شهريت نه دستبردارکيدل وي اوحلف اخيستل وي چې زه به دامريکې دقانون پابنديم اوهغه قانون کې لکه دويم واده نه شي کولی، يعنې څه امريکي قانونونه داسلام د قانون خلاف وي، ايادمسلمان له پاره داجائزدي چې هغه يوازې دښه مستقبل له پاره داسې قسمه حلف اوچت کړي؟ دنياوي علم حاصلولو له پاره امريکه کې زموږ ځوانان اوسيږي؛ نو ايا زموږ دا کار خود شريعت خلاف نه دی؟

جواب: يوجنت خو شدادجوړکړی و اويوجنت داوسني وخت شداد (يعنې مغربي ملکونو) جوړکړی دی، دهغو خلکوخوپه اخرت باندې ايمان نه شته، له دې وجې هغوی ددنياراحت اوسکون له پاره هريوشی جمع کړی دی، امريکه دکافرانوله پاره جنت دی[2] له دې وجې زموږ وروڼوته داخرت والاجنت دومره رغبت اوکشش نه شته، څومره چې دامريکې شهريت دملاويدودی، که چاته ګرين کارډ ملاوشي؛ نوداسې خوشاليږي، لکه چاته چې دحشرپه ميدان کې دجنت ټکټ ملاوشي.

ديو مسلمان نظرخويوازې په اخرت باندې پکاردی اوداچې ددنيا دوه ورځې ژوندخوبه په سختي اوتنګي هره طريقه باندې به تيرشي، خو زموږ داخرت بربادېدل نه دي پکار، خوزموږ

---

[1] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الإيمان بضع وسبعون شعبة، والحياء شعبة من الإيمان (مسلم ج: ١ ص: ٤٧) أيضًا: عن جابرقال: كان النبي صلى الله عليه وسلم إذاأراد البرازانطلق حتى لايراه أحد رواه أبوداؤد وعن أنس قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم إذاأرادالحاجة لم يرفع ثوبه حتّى يدنومن الأرض رواه الترمذي (مشكوة ص:٤٢) وفي المرقاة: لم يرفع ثوبه حتّى يدنوأى يقرب من الأرض احترازًاعن كشف العورة بغير ضرورة وهذامن أدب قضاء الحاجة، قال الطيبي يستوى فيه الصحراء والبنيان (مرقاة شرح المشكوة ج: ١ ص: ٢٨٩، الفصل الثاني، باب آداب الخلاء)_

[2] عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الدنياسجن المؤمن وجنة الكافر رواه مسلم (مشكوة ص:٤٣٩، كتاب الرقاق،الفصل الأوّل)_

په ورونو باندې نن د دنیا طلب، ډېرې ګنې کولو او د دنیا بنایست او هوس دومره ډېر شوی دی، چې د اخرت خیال د زړونو نه وتلی دی او د قبر او د حشر عقیده بالکل ختمیږي، له دې وجې چاسره د جائز او ناجائز پرواه نه شته، په هر حال د حلال رزق له پاره د علم او فن حاصلولو له پاره د بهر ملک ته تلو نه زموږ شریعت منع نه کوي، البته دا تاکید ضرور کوي چې ستاسو دین ته نقصان ونه رسیږي او ستاسو اخرت تباه نه شي.[۱]

امریکه او مغربي ملکونو کې هم د الله تعالی ډېر نیکان بندګان اباد دي، چې د هغوی نیکي او پرهیزګاري ته پسخیدل پکار دي، کوم خلک چې امریکې ته لاړشي یا بل ملک ته لاړشي هغوی له پاره لازم دي چې د خپل دین د حفاظت اهتمام وکړي او د دنیا ګټلو په چکر کې دې دومره نه ډوبیږي چې د دنیا نه خالي لاسونه لاړشي او د دین او دنیا د دولت نه محروم شي، دغو خلکو ته د دې خبرو اهتمام کول پکار دي:

۱: د خپلو دیني فرائضو نه دې نه غافلیږي او د خپل وس مطابق دې د جمعې سره د لمونځ کولو اهتمام کوي او په ځلیریشتو ګنټو کې دې د خپل وخت یوه برخه د قران کریم تلاوت له پاره، ذکر او تسبیح له پاره او د دیني کتابونو د لوستلو له پاره مخصوص کړي او د دې شیانو دې داسې پابندي کوي څنګه چې د خوراک څښاک اهتمام کوي، خوارک که چیرې د انسان د بدن ژوندي او صحت مند ساتلو له پاره ضروري ده؛ نو دا شیان د روح غذا ده، د دې نه پرته روح صحت مند نه شي پاتې کیدای.

۲: د کافرانو او بې دینه خلکو صحبت کې ناستې پاستې نه ځان ساتل پکار دي او کافرانو ته چې کوم نعمتونه الله تعالی ورکړي دي، هغه دې داسې ګني، لکه چې هغه قیدي ته، کوم له پاره چې د مرګ د سزا حکم شوی وي، ټول سهولتونه موجود وي، غرض دا چې د کافرانو نعمتونو ته دې د عبرت په نظر ګوري، د حرص او پسخیدو په نظر نه او د دې شیانو ته دې نه خوشالیږي[۲] د کافرانو د نقل کولو نه دې پرهیز کوي، ځکه چې د ملعون او مبغوض خلکو نقل کوي هم د هغوی په شان کیدل دي[۳].

۳: دغو ملکونو کې د حلال او حرام خیال نه ساتل کیږي او د یو مسلمان له پاره په هر قدم باندې دا کتل لازمي دي چې دا شی حلال دی او که حرام؟ جائز دی او که ناجائز؟ له دې وجې هغو

---

[۱] عن عمرو بن عوف قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فوالله لاالفقر اخشی علیکم ولکن أخشی أن تبسط علیکم الدنیا کما بسطت علی من کان قبلکم، فتنافسوها کما تنافسوها وتهلککم کما أهلکتهم متفق علیه (مشکوة ص: ۴۴۰)۔

[۲] عن سهل بن سعد قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لوکانت الدنیا تعدل عندالله جناح بعوضة ماسقی کافراً منها شربة رواه احمد(مشکوة ص: ۴۴۱، کتاب الرقاق، الفصل الأول)۔

[۳] عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم رواه احمد (مشکوة ص: ۳۷۵)

ورونوته خواست دی چې دخپل دین حلال اوحرام دیولمځې له پاره هم هیرنه کړي اوددې خبرې یقین دې وساتي چې زموږ دین کوم شیان حرام کړي دي، هغه په حقیقت کې زهردي، چې دهغو په خوړلو باندې انسان هلاک شي، که چیرې موږ ته په خوراک کې زهرنه ښکاري؛ نو د یو داسې کس په خبره باندې اعتماد کووکوم چې داعتماد قابل او ربنتونی وي، دحضور ﷺ د اعتماد قابل اوربنتوني کیدل او د حضور ﷺ دحقیقت نه دالله تعالی په حکم باندې خبریدل یوداسې حقیقت دی کوم چې د هرمسلمان دایمان یوه برخه ده، کوم شیان چې حضور ﷺ ناجائز او حرام ښودلي دي له هغو نه پرهیزکول داسې لازم دي[1]، څنګه چې دزهرونه پرهیزکیږي.

۴ انسان، انسان ته دکتلو له وجې جوړیږي یاخرابیږي، دغه مغربي اوامریکي معاشره کې دانسان دخرابیدوسامان ځای په ځای موجود دی، خودانسان داصلاح اوفلاح چرچاډیره کمه کیږي، له دې وجې دغو ملکونوکې اوسیدونکومسلمانانوورونوله پاره لازم دي چې په خپله علاقه اوحلقه کې نیک خلک تلاش کړي اوڅه وخت هغوی سره ضروري تیروي، دې له پاره دتبلیغ نه ښه کاردتبلیغ اودعوت کاردی، کوم خلک چې دې کارسره تعلق ساتي هغوی سره ضرورڅه وخت لګوئ، الله تعالی دې ددغو ټولو ورونو د دین اوایمان حفاظت وکړي.

۵ دغوورونو ته یوخواست دی چې د دین دمسئلودې له هرچانه پوښتنه نه کوي، څکه چې ځینې مسئلې ډیرې نازکې وي، له دې وجې چیرته دمحقق عالم نه دمسئلوپوښتنه کول پکاردي، که چیرې دغو ملکونوکې لائق اوداعتماد قابل عالم موجودوي، صحیح ده، ګني اوس خو دنیا دومره وړه شوې ده چې دیوکلي شکل یې اختیارکړی دی، دپاکستان له عالمانونه دې دتیلیفون په ذریعه دمسئلو پوښتنه کوي، یاډاک په ذریعه باندې دمسئلې جواب معلومولی شي.

د ماشومانو د زړونو خوشالولو له پاره بسکټ تقسیمول

سوال: یوحاجي صاحب دی، هغه خپل دوکان کې د وړو ماشومانو له پاره ارزان، بسکټ تقسیموي، چاته یواو چاته دوه بسکټ، داعمل د موصوف په خیال باندې دثواب عمل دی زما دا طریقه نه ده خوښه، زماپه خیال روزانه ماشومانوته دبسکټ ورکولو له وجې به ماشومانو کې دسوال کولوعادت پیداشي اودموصوف دځان ښودلو ذریعه هم جوړیدای شي، ددې مسئلې حل وښیئ چې دادثواب عمل دی؟ هغه ته دجاري ساتل پکاردي؟

جواب: هغه برزګ د ماشومانو زړه خوشالول دخیر کارګني او ستاسودواړه ویرې هم صحیح دي، که چیرې هغه بزرګ په خپله داکارپریږدي، خوصحیح ده، ګني په دې باندې دجائز یا

[1] عن عبدالله بن عمروقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعًالماجئت به (مشكوة ص: ۳۰، باب الإعتصام بالكتاب والسنّة، الفصل الثاني)۔

مکروه فتوا ورکول ګران کار دی.

ماشوموالي کې له خلکو نه د اخیستل شویو شیانو معافي به څنګه کیږي؟

سوال: له ډیره وخت نه ستاسو د صحفې لوستونکی یم او تاسو د سوالونو ډیر ښایسته او ښېتوني الفاظو کې جواب ورکوئ، سوال دادی چې دې وخت کې زما عمر نولس کاله دی او کالج کې سبق وایم، کوم وخت کې چې زما عمر یوولس دولس کاله و؛ نو د ماشوموالي شرارتونه راکې موجود وو، مونږ یوڅو هلکان به بازار وغیره ته لاړو؛ نو د میوو والا نه به مو میوې پټولې، یا چاته به مو د پیسو ورکولو نه پرته د هغه نه شیان واخیستل، په جوماتونو کې به چې کومې چپړې وغیره وې هغه به موشلولې، یا به چپړې واخیستلې او د جوماتونه به مو بهر او غورځولې، بس کې به مو ټکټ نه ورکولو، تقریب وغیره ته به پرته دعوت نه لاړو او خوراک به موو کړ، څمکه باندې پراته شیان به مواوچت کړل، پیسې وغیره، یعنې د ماشوموالي او ځواني په وخت کې به مو داکارونه ډیر کول او خوشالیدو به، اوس زه تاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې دې کارونو کې چې مونږ د چا شیان استعمال کړي دي، د هغو نقصان څنګه پوره کولی شو؟ تاسو شرعي لحاظ او تفصیل سره جواب راکړئ، مونږ به انتظار کوو.

جواب: پکار خو دادی چې دکومو کومو خلکو تاسو نقصان کړی دی د هغوی ټولو نه تاسو معافي وغواړئ، خو که چیرې هغه ټول خلق درته یاد نه وي؛ نو د الله تعالی نه د هغوی په حق کې دعا او استغفار کوئ، ستاسو د استغفار له وجې به هغوی وبښل شي؛ نو هغوی به تاسو هم معاف کړي.

د خلکو لاربندول او د مسلمانانو نه نفرت کول په شرعي ډول څنګه دي؟

سوال: زمونږ علاقه کې یو مولانا صاحب اوسیږي، هغه د جمعې اود اخترلمونځونه خلکوته ورکوي، څه ورځې مخکې هغه د اوقاف محکمې په مدد باندې د خلکوله پاره قانوني لارې تنګول او بندول شروع کړل، د هغه له وجې خلکوته ډیر زیات تکلیف دی، د علاقې خلکو ورته د الله تعالی واسطه ورکړه، خو هغه صاحب د چا خبره هم ونه منله، خلکو میونسپل کمیټۍ او اوقاف والاوو ته فریاد وکړ او هغوی هم د علاقې د خلکو مسئلې جائز وګڼل او ویې ویل که چیرې مولانا صاحب وغواړي؛ نو مونږ ته هیڅ اعتراض نه شته، تاسو نه د شریعت په رڼاکې پوښتنه کول غواړم چې د مسلمان لاربندول یا هغوی ته ذهني تکلیف رسول شریعت کې تر کوم حد پورې صحیح دي او د دې سزا څه ده؟

جواب: د خلکو لاره بندول کبیره ګناه ده.[1]

---

[1] عن عبدالله بن عمرو عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، والمهاجر من هجر مانهی الله عنه (بخاری ج: ۱ ص: ٦، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده)۔

سوال: ایا دې حالاتو کې هغه سړي پسې د جمعې او داخترلمونځ کیدای شي؟ کوم چې په زړه کې د مسلمانانو نه نفرت کوي.

جواب: هغه صاحب ته د مسلمانانو نه نفرت کول نه دي پکار او خلکو ته د تکلیف رسولو نه ورته توبه کول پکار دي، که چیرې هغه خپله رویه صحیح نه کړي؛ نو خلکو ته پکار دي چې ځان له پاره بل امام او خطیب مقرر کړي.

د گناهګار سړي سره تعلق ساتل

سوال: یو سړی زناکاروي، غل او ډاکووي، د یتیمانو مال خوري، مالداروي او صدقه او زکات اخلي. وعده خلافي کوي. دروغ او بکواس کوي، د خپلو رښتیاوو او صداقت له پاره د خلکو په مخکې قسمونه خوري چې مافلانکي سره دا ښه کار کړی دی او دهغه مې داکار کړی دی، ایا داسې کس سره معاملات کول، دهغه سره ناسته پاسته او هغه پسې لمونځ کول جائزېږي او که نه؟ د قران مجید او احادیثو په رڼا کې دې باره کې څه حکم دی؟ جواب بیان کړئ.

جواب: دغه سړی ګناهګارمسلمان دی، هغه سره د دوستي تعلق ساتل خونه دي پکار، خو یو مسلمان چې کوم حقونه دي، مثلاً: د ناروغ پوښتنه کول او د جنازې لمونځ وغیره هغه اداکول پکار دي او که چیرې طاقت وي او د فایدې څه امیدوي؛ نو دهغه د ګناهونو نه د بچ کولو کوشش پکار دی، داسې کس پسې لمونځ کول مکروه تحریمي دي.[1]

غلطي معاف کول یا بدله اخیستل

سوال: که چیرې زموږ یو مسلمان ورور څه غلطي وکړي؛ نو ایا موږ ته دهغه غلطي معاف کول پکار دي، یا دهغه نه بدله اخیستل ؟

جواب: معاف کول یې افضل دي[2] او شرعي حدودکې دننه دهغه بدله اخیستل هم جائزدي.[3]

---

[1] واماالفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بأن لایهتم لأمردینه (فتاوی شامي ج: ۱ ص: ۵۶۰، باب الإمامة)_

[2] عن أبي هریرة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: مانقصت صدقة من مال ومازادالله عبدًا بعفوألّاعزا وماتواضع أحد لله إلّا رفعه الله وفي شرح المسلم: قوله صلی الله علیه وسلم: ومازادالله عبدًا بعفوألّاعزا فیه أیضًا وجهان أحدهما أنه علی ظاهره وان من عرف بالعفو والصفح ساد وعظم في القلوب وزادعزه واکرامه والثاني ان المراد اجره في الآخرة وعزه هناك (شرح النووي علی صحیح المسلم ج: ۲ ص: ۳۲۱، باب استحباب العفووالتواضع)_

[3] وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ(الشوری ۴۰) أیضًا: وفي التفسیر: والمعنی أنه یحب إذاقوبلت الإساءة أن تقابل بمثلهامن غیرزیادة (تفسیرنسفي ج:۳ ص:۲۵۸،طبع دارابن کثیر).

د اصلاح په نیت با ندې دوستي کول

سوال: سوال دادی چې زما یو دوست دی دهغه نوم ,,ایم اے اے شاه،،دی. هغه دیوبنه خاندان سره تعلق ساتي، ماپه هرځای کې دهغه دوست مددکړی دی اوهغه مې دحضرت محمد ﷺ په بنودل شوې لارباندې روان کړ اوبنه دډیروخت پورې په صحیح لارباندې روان و، خواوس هغه په غلطه لارباندې روان شوی دی اوټول ښارکې بدنام شو، تاسووایئ چې ایازه دهغه سره دوستي وساتم اوکه نه؟

جواب: که چیرې دهغه داصلاح نیت له پاره دهغه سره دوستي وساتئ؛ نوصحیح ده،ګنې دهغه نه جداشئ، چې دهغه دغلطیوله وجې تاسوبدنام نه شئ.

ایا په قرض دارسړي با ندې قرض ورکونکی کس څه کارکولی شي؟

سوال: انسان دیوبل نه پرته ګذاره نه شي کولی، په خاص ډول دورونړ خویندو، خپلوانو او دوستانونه، اوس هغوی ته قرض ورکولونه وروسته دمجبوري په حالت کې دهغوی نه څه کاراخیستل کیږي اوکه نه دابه سودکې داخل وي؟ دیو بزرګ باره کې راځي چې چاته دقرض ورکولونه وروسته به لمرکې دهغه دکورپه سوري کې هم نه ګرځیدو اوفرمایلي و چې دا سود دی خومونږ دپورته بیان شوي خلکونه پرته ګذاره نه شوکولی.

جواب: په خپلوخپلوانوباندې چې کوم کارونه مونږ دقرض ورکولونه پرته هم کولی شو، هغه کارونه سودنه دي اوکه چیرې دغه کارترې دقرض له وجې اخیستل کیږي؛ نودابه هم یوقسمه سودوي د بزرګ دکومې کیسې طرف ته چې تاسواشاره کړې ده، هغه بزرګ زمونږ امام ابوحنیفه رحمه الله دی، خودهغوی داعمل دتقوا له وجې و[1]، دفتوا له وجې نه.

,, ستا قرآن با ندې متیازې وکړم،، دداسې ویونکې ښځې شرعي حکم

سوال: زماښځې ماته وویل چې ستاپه قران باندې متیازې وکړم، ددې واقعې له وجې دهغې په ایمان اونکاح باندې څه اثر پریوت؟

جواب: ستاښځه ددې الفاظوله وجې مرتده شوه اوستادنکاح نه ووته، که چیرې هغه توبه وکړي؛ نودوباره ایمان راوړلووروسته یې تاسوسره نکاح کیدای شي.

توبه باربار ماتول

سوال: زه یوې ناروغۍ کې مبتلایم، ډیرځله مې توبه کولونه وروسته ماته کړه، ایازمادباربارتوبه ماتولو باوجودبه زماتوبه قبلیږي؟

---

[1] حدائق الحنفیة ص: ۷۲، ازمولوی فقیرمحمدجهلمی، طبع مکتبه حسن سهیل لاهور)۔

جواب: په رښتوني زړه باندې توبه وکړئ. الله تعالی دې زموږ ګناهونه معاف کړي، د سلو کلونو کافر هم که چیرې د الله تعالی په دربار کې توبه وکړي: نو الله تعالی یې معاف کړي، له دې وجې خفه کیدل نه دي پکار. باقي د ناروغیو علاج کوئ، الله تعالی به درته شفا درکړي.

❖ سلام او مصافحه ❖

په اسلام کې د سلام کولو اهمیت

سوال: په اسلام کې سلام کول یا د سلام جواب ورکول اهمیت لري، ایا مسلمان ته په سلام ویلو کې مخکې کیدل پکاردي، که یوازې د مسلمان د سلام جواب ورکول پکاردي، ایا غیرمسلم ته هم د سلام جواب ورکول پکاردي؟

جواب: سلام اچول سنت دي او د هغه جواب ورکول واجب دي[۱]، څوک چې لومړی سلام وکړي هغه ته شل (۲۰) نیکۍ ملاویږي او جواب ورکولو والا ته لس (۱۰) غیرمسلم ته دې په ابتداکې سلام ونه ویل شي او که هغه درته سلام وکړي؛ نو په جواب کې دې یوازې "وعلیکم" ورته وویل شي.[۲]

د سلام په وخت په تندي باندې لاس کیښودل او ښکلول

سوال: په اسلام کې د ملاقات مسنونه طریقه څه ده؟ تندي پورې لاس اوچتول سرلږ ښکته کول او سلام کول څنګه دي؟ او په ځینو ملاقاتونو کې لیدل شوي دي چې د غاړې ورکولو په وخت په تندي یا په غوږ ښکلوي، دا جائز دي یا ناجائز؟

جواب: د سلام په وخت په تندي باندې لاس کیښودل یا ښکته کیدل صحیح نه دي، بلکې بدعت دي. د مصافحې اجازه ده[۳] او د تعظیم یامینې په ډول د ښکلولو هم اجازه ده.[۴]

---

[۱] إن السلام سُنّة واستماعه مستحبٌ وجوابه أی رده فرض کفایة واسماع رده واجب (ردالمحتار ج:٦ ص:٤١٣)

[۲] عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذاسلم عليكم أهل الكتاب فقولوا: وعليكم (بخاری ج: ۲ ص: ۹۲۵، باب کیف الردعلی أهل الذمة السلام)۔

[۳] عن عطاء الخراسانی أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تصافحوا يذهب الغل (مشکوة ج: ۲ ص: ٤٠٣) (کالمصافحة) أی کماتجوزالمصافحة لأنهاسُنّة قديمة متواترة لقوله عليه السلام من صافح أخاه المسلم وحرك يده تناثرت ذنوبه (درمختار ج: ٦ ص: ۳۸۱، کتاب الحظروالإباحة، باب الإستبراء وغيره)۔

[۴] عن ذارع وكان فی وفد قيس قال: لماقدمناالمدينة فجعلنا نتبادر من رواحلنا فنقبل يد رسول الله صلى الله عليه وسلم ورجله (مشکوة ج:۲ ص:٤٠٢)ولَا بأس بتقبيل يدالرجل العالم ..[بقیه په راروانه صفحه..

په یو لاس مصافحه سنت ده که په دواړو؟

سوال: مصافحه په یو لاس سره کیږي یا په دواړو لاسونو سره سنت ده؟ په حدیث کې ثبوت را ته را کړئ.

جواب: په صحیح بخاري (ج:۲ص:۹۲۶) کې حضرت ابن مسعود ﷺ ارشاد مبارک دی: "**علمنی النبی ﷺ التشهد و کفی بین کفیه**".

ترجمه "ماته حضورپاک ﷺ التحیات وښودله او داسې یې وښودله چې زما لاس دحضورپاک ﷺ د دواړو لاسونو په مینځ کې و."

امام بخاري (رحمه الله) دا حدیث د"**باب المصافحه**"لاندې ذکر کړی دی اودهغه متصل د"**باب الاخذ بالیدین**" عنوان یې قائم کړ او دا حدیث یې مکرر ذکرکړی دی، چې له هغه نه ثابتیږي چې په دواړو لاسونو سره مصافحه کول دحضورپاک ﷺ سنت مبارک دي. دې نه پرته دمصافحه روح، څنګه چې شاه ولي الله دهلوي (رحمه الله) په لیکلو فرمایلي دي:

" خپل مسلمان ورور سره په محبت سره ملاویدل، په خپلوکې دمحبت او مینې اظهار دی"[1]. (حجة الله البالغه ص:۱۹۸).

او که په فطرت سره وکتل شي؛ نوښکاره به محسوسه شي چې په دواړو لاسونو سره مصافحه کولوکې دخپل مسلمان ورور تواضع، عاجزي، اُلفت، محبت او دمینې داسې کیفیت په کې مندل کیږي، چې هغه په یو لاس سره مصافحه کولوکې نه موندل کیږي.

دسهار او ماسپښین په لمانځه کې د لمونځ کونکو خپلو کې مصافحه کول

سوال: دسهار او ماسپښین په لمانځه کې موجود لمونځ کونکي په خپلوکې او امام صاحب سره مصافحه (لاس ملاول) کوي، چې دا دحضورپاک ﷺ دسنت په نسبت سره ثواب دی، داهم علماء فرمایي چې حضورپاک ﷺ به معانقه او مصافحه برابر کوله، په دې سلسله کې چې کوم احادیث دصحابه کرام رضي الله عنهم وي هغه هم ولیکئ او دشکریې موقع را کړئ!

...بقیه د تیرمخ]..والمتورع علی سبیل التبرک..... ..... وتقبیل رأسه أری العالم أجود (درمختارج: ٦ ص: ۳۸۳) أیضًا: قال الإمام العینی بعد کلام فعلم إباحة تقبیل الید والرّجل والرأس والکشح کماعلم من الأحادیث المتقدمة إباحتهاعلی الجبهة وبین العینین وعلی الشفتین علی وجه المبرة والإکرام (ردالمحتار ج: ٦ ص: ۳۸۰، کتاب الحظروالإباحة، باب الإستبراء وغیره)۔

[1] وذالك لأن التبشیش فیما بین المسلمین وتوادهم وتلاطفهم وإشاعة ذکرالله فیمابینهم یرضی بهارب العلمین)

جواب: سلام او مصافحه د هغو خلکوله پاره مسنونه ده چې څوک د بهرنه مجلس ته راشي، دسهار او ماسپښين نه وروسته دسلام او مصافحې کوم رواج تاسو ليکلی دی. د حضور پاک ﷺ او صحابه وو کرام رضي الله عنهم په وخت کې د دې معمول نه و، لهذا دا رواج بدعت دی.[1]

يوې غير محرمې ښځې ته سلام کول

سوال: د يو غير محرم سړي يوې غيرمحرمې ښځې ته سلام کول جائز دي او که نه؟ يادسلام جواب ورکول ضروري دي؟

جواب: که په زړه کې دغلطې وسوسې انديښنه وي؛ نوجائز نه دي، ګني صحيح دي، خودځوان هلک او اينجلۍ په خپلو کې سلام کولو سره دغلطو خيالاتو پيدا کيدو انديښنه ده، ځکه دامنع دي[2]، البته د ډير عمروالا بوډۍ ښځې ته سلام کولۍ شئ!

د نامحرمه ښځې دسلام جواب ورکول شرعا څنګه دي؟

سوال: ښځې ته نامحرم سړی سلام نه شي کولی.که ښځه لومړی سلام وکړي؛ نو جواب دې ورکړل شي او که نه؟ زما په کاروغيره کې اکثرداسې کيږي چې مختلف کورونو ته تلل راځي، ځينې ښځې زه او هغوی ما پيژني،ګوياچې مورسلام ونکړو خواول خو هغه ښځې پرده نه کوي، دويم دا چې دکوم کار له پاره چې زه دهغوی کورته تللی يم په هغو باندې خبرې اترې کيږي، لهذا داپوښتنه کول دي چې داسې ښځې ته دې سلام و شي او که نه؟يادې ورته دسلام جواب ورکړل شي او که نه؟

جواب: ځوانانو اينجليو ته سلام کول جائز نه دي، که هغوی سلام وکړي؛ نو په زړه کې دې جواب ورکړل شي[3] دنامحرمه سړيو او ښځو يوبل په مخکې بې پردې راتلل جائز نه دي[4] او که يو سړی د معاشرې دفساد له وجې په دې کې مبتلا وي؛ نو د دې نه سوا نور څه کولئ شي چې هغه دې استغفار کوي.

---

[1] واما ماإعتاده الناس من المصافحة بعد صلوة الصبح والعصر فلاأصل له فى الشرع(شامى ج: ٦ ص ٣٨١)

[2] ولايكلم الأجنبية إلّاعجوزًا إذا عطست أوسلّمت فيشمتهاويردالسلام عليها وإلّا لَا (درمختار) .وإلّاتكن عجوزًا بل شابة لَايشمتها والايردالسلام بلسانه .... وإذاسلمت المرأة الأجنبية على رجل إن كانت عجوزًا ردالرجل عليها السلام بلسانه بصوت تسمع وإن كانت شابةً ردّعليها فى نفسه (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٦٩، كتاب الحظروالإباحة)_

[3] أيضًا_

[4] يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ (الأحزاب:٥٩) أيضًا: وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لَالأنّه عورة بل لخوف الفتنة وفى الشرح: والمعنى تمنع من الكشف لخوف أن يرى الرجال وجهها فتقع الفتنة لأنه مع الكشف قديقع النظرإليهابشهوة (ردالمحتارج: ١ص: ٤٠٦)

يو خاص سړي ته سلام اچونکي ته د سلام جواب ورکول

سوال: زه په يوه کمپنۍ کې ملازم يم اوزماسره نورډيرملګري هم کار کوي اويوسړی دبهرنه راځي او يوسړی مخاطب کوي سلام ورته کوي اوکوم سړی چې هغه مخاطب کړ هغه په هغه وخت ډېر مصروفيت له وجې سره دسلام جواب ورنکړي؛ نو ايا دهغه سلام جواب موږ چې کوم نور موجود يو، ورکولی شو اوکه نه؟ که موږ هم دسلام جواب ورنکړو؛ نوهغه سړی موږټولو ته بدې ردې وايي او لاړشي.

جواب: په مجلس کې دې يوخاص سړي ته په خطاب کولو سلام ونکړل شي،کله چې يوڅو کسان په يوځای کې موجود وي اودبهرنه يوکس راشي سلام وکړي، په هغو خلکوکې که څه کسان دهغه دسلام جواب ورکړي؛ نودجواب حق اداکيږي، ځکه تاسوخلکوته دسلام جواب ضرور ورکول پکار دي.[1]

د مسلمان او غير مسلم ښځې او سړي په خپلوکې مصافحه کول څنګه دي؟

سوال: که ښځه مسلمانه وي او سړی غيرمسلم، ياسړی مسلمان وي او ښځه غيرمسلمه؛ نوپه داسې صورت کې په خپلوکې مصافحې له پاره اسلام کې څه ګنجائش شته؟

جواب: نه![2]

غير مسلم ته سلام کول او د هغه د سلام جواب ورکول

سوال: نن سبا ګډه وډه معاشره ده، چې په هغه کې غيرمسلم هم دي، خلک هغوی ته هم سلام کوي، غيرمسلم هم سلام کوي، چې دهغه جواب هم ورکول کيدای شي، دا راته ووايئ چې غيرمسلم ته سلام کول اودسلام جواب ورکول دکتاب او سنت په رڼا کې دحديث په نزد منع دي يايوازې اخلاقي ډول منع دي؟ اياداسې يوحديث موجود دی چې دهغه لاندې يې منع فرمايلې وي چې غيرمسلم ته دې سلام او دهغه جواب ورنکړل شي؟

جواب: سلام يوه دعاهم ده اوداسلام شعار(نښه) هم، ځکه دې يوغيرمسلم ته"السلام عليکم" ونه ويل شي اوکه هغه درته سلام ووايي؛ نودهغې په جواب کې يوازې "وعليکم" دې وويل شي،دا مضمون په حديث شريف کې راغلی دی: **عن انس رضي الله عنه قال:قال رسول الله ﷺ:اذاسلم عليکم اهل الکتاب فقولوا:وعليکم.متفق عليه.**"(مشکوة ص:۳۹۸).

---

[1] عن علی بن أبي طالب قال: يجزئ عن الجماعة إذا مرّوا أن يسلم أحدهم ونجزئ عن الجلوس ان يردّ أحدهم (مشکوة ج: ۲ ص: ۳۹۹، باب السلام، الفصل الثانی)۔

[2] (إلّامن أجنبية) فلايحل مس وجهها وكفها (درمختار ج: ٦ ص: ٣٦٧، کتاب الحظروالإباحة، طبع سعيد)۔

ترجمه: "د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور پاک صلى الله عليه وسلم فرمایلي: چې کله اهل کتاب تاسو ته سلام وکړي؛ نو تاسو ورته په جواب کې "وعلیکم" وایئ."(صحیح بخاری مسلم)

مورو پلار یا یو بزرګ (مشر) سره په ښکته کیدو سره ملاویدل

سوال: مورو پلار یا یو بزرګ سره په ښکته کیدو سره ملاویدل جائز دي؟

جواب: د ښکته کیدو حکم نه شته.[1]

دیو مشر تعظیم کولو له پاره دریدل

سوال: ماډیر خل په اخبار (جنګ) کې "د" فرمان رسول الله صلى الله عليه وسلم" د عنوان لاندې په شائع کیدو والا حدیثونو کې یو حدیث مې ویلی دی، هغه په دې الفاظو سره دی، چې یو خل د صحابه کرام رضي الله عنهم په محفل کې حضور پاک صلى الله عليه وسلم تشریف راوړ؛ نو صحابه کرام (هم) د هغه په احترام کې ودریدل، چې په هغه باندې حضور پاک صلى الله عليه وسلم سخته ناخوښي وفرمایله او د خپل احترام له پاره یې دریدل منع کړل.

اوس صورت حال داسې دی چې نن سبا ډیر خلک استاذان یا بزرګان یا بیا په غټو عهدو باندې لګیدلي د حکمرانانو خلک په احترام کې په ولاړې سره استقبال کیږي، د حدیث مبارک حقیقت نه خو انکار ممکن نه دی، خو شاید چې مونږ د کمې پوهې والا خلک د دې صحیح تشریح نه وي کړي، لهذا ستاسو به ډیره مهرباني وي د دې خبرې مکمل وضاحت وفرمایئ چې ایا که هر شان کس (که هغه مورو پلار وي یاد ملک صدر دې ولې نه وي) له پار(د دې حدیث په رڼا کې) دریدل جائز نه دي؟ یا بیا د دې حدیث شریف مفهوم څه بل دی؟

جواب: د لته دوه شیان بیل بیل دي، یو دا چې د چا دا خواهش ساتل چې خلک د هغه په راتلو باندې ودریږي، دا د متکبرو خلکو نشاني ده او په حدیث کې د دې ډیر مذمت راغلی دی، ارشاد مبارک دی: "کوم سړی چې په دې خبرې سره خوشالیږي چې خلک دې د هغه له پاره سیده ودریږي، هغه ته پکار دي چې خپله ټیکانه ځان ته په دوزخ کې جوړه کړي." (مشکوة ص:٣٠٤ بروایت ترمذی وابوداؤد).[2]

ځینې متکبرافسران د خپلو ماتحتو له پاره قانون جوړوي چې هغوی دې د هغه په تعظیم کې دریږي او که څوک داسې ونکړي؛ نو د هغه شکایت کیږي، په هغه ملامته ویل کیږي

---

[1] عن أنس قال: قال رجل یارسول الله الرجل منایلقی أخاه أوصدیقه، أینحنی له؟ قال: لَا، قال: أفیلتزمه ویقبله؟ قال: لَا، قال: أفیأخذبیده ویصافحه؟ قال: نعم رواه الترمذی (مشکوة ج: ٢ ص: ٤٠١، باب المصافحة والمعانقة)_

[2] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من سرّه أن یتمثل له الرجال فلیتبوأمقعده من النار(مشکوة ص: ٤٠٣)

او د هغه ترقي ختموي، داسې افسران پرته له شکه ددې ارشاد نبوي ﷺ مصداق دي چې: "هغوی ته پکار دي چې خپله ټيکانه دوزخ کې جوړه کړي."
اویو داچې يودوست ملګرى، بزرګ اودخان غټ داحترام اومحبت له پاره دخلقو پخپله دريدل، دا جائز بلکې مستحب دي په حديث کې دي چې حضرت فاطمې رضي الله عنها حضورپاک ﷺ ته تشريف راوړ؛ نوحضورپاک ﷺ دهغې په راتلوسره ودريده، دهغې لاس نيسي ښکلوي يې اوهغه په خپل ځای کينوي اوچې کله حضور پاک ﷺ هغوی ته تشريف فرمايي؛ نوهغه هم دحضورپاک ﷺ په راتلو باندې دريږي، دحضورپاک ﷺ لاسونه مبارک نيسي او ښکلوي يې اوحضورپاک ﷺ په خپل ځای کينوي.(مشکوة ص:۴۰۲)[1] دا ولاړه، دَمحبت ولاړه وه.
په يوه موقع باندې حضورپاک ﷺ دحضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه په باره کې حضرات انصار رضي الله عنهم ته فرمايلي و: "**قوموا الى سيّد كم ! متفق عليه.**"(مشکوة ص:۴۰۳).
يعنې "خپل سردار ته ودريږئ" دا ولاړه داکرام له پاره وه.[2]
په يوحديث کې دي چې حضورپاک ﷺ په جوماتکې زموږ سره تشريف فرماوو زموږ سره يې خبرې کولې، بياچې کله هغه ودريد؛ نوموږ به هم ودريدو اوترهغې وخت پورې به ولاړ وو ترڅو پورې چې به حضورپاک ﷺ په ازواج مطهراتوکې ديوې په کورته نه و داخل شوی.(مشکوة ص:۴۰۳)[3]

دا ولاړه دتعظيم او جلال له پاره وه، ځکه دمريدانو دعلماوو له پاره، دشاګردانو استاذانوله پاره اود ماتحتو دمشرانو حکمرانانو له پاره دريدل،که دهغو مقصداوتعظيم اواجلال يا محبت او ادب وي؛ نو مستحب دي، خوچې دچاله پاره خلک دريږي دهغه په زړه کې دا خواهش نه دی پکارچې خلک دې ودريږي.[4]

---

[1] عن عائشة قالت: مارأيت أحدًا كان أشبه سمتاوهديا ودلًا وفى رواية حديثا وكلامابرسول الله صلى الله عليه وسلم من فاطمة كانت إذا دخلت عليه قام إليها فأخذبيدها فقبلهاوأجلسها فى مجلسه وكان إذادخل عليهاقامت إليه فأخذبيده فقبلته وأجلسته فى مجلسها رواه أبوداؤد (مشكوة ص: ۴۰۲، باب المصافحة والمعانقة، الفصل الثانى)۔

[2] (قوموا إلى سيدكم) قيل أى لتعظيمه ويستدل به على عدم كراهته ..إلخ (مرقاة شرح مشكوة ج: ۸ ص: ۴۷۳)

[3] عن أبى هريرة قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يجلس معنا فى المسجديحدثنا فإذا قام قمنا قياما حتى نراه قد دخل بعض بيوت أزواجه (مشكوة ص: ۴۰۳، باب القيام، الفصل الثالث)۔

[4] (قوله يجوزبل يندب القيام تعظيماللقادم) أى إذاكان ممن يستحق التعظيم .... وفى مشكل الآثارالقيام لغيره ليس بمكروه لعينه إنماالمكروه محبة القيام لمن يقام له، فإن قام لمن لايقام له لايكره فتاوى شامى ج: ۶ ص: ۳۸۴)۔

امام صاحب سره په ښکته والي سره مصافحه کول

سوال: خاص کردجمعې لمانځه وروسته او عموما چې کله لمونځ ختمېږي؛ نو ډېرلمونځ کونکي امام صاحب سره مصافحه کوي اوپه دې دوران کې هغو ښکته کيږي لکه درکوع په شان مشابه کيږي اوامام صاحب په دې باندې هيڅ اعتراض نه کوي، ايا دا سنت دي چې امام صاحب سره دې په ښکتوالي سره مصافحه و شي؟

جواب: دمصافحه کولو په وخت ښکته کيدل نه دي پکار.[1]

دجوډو کراټې سينټر په سلام کې د ښکته والي قانون د شريعت خلاف دی

سوال: په لاندې ذکر شوې مسئله کې داسلامي شريعت قانون پکار دی: موږ يوڅوطالب علمان دجوډو کراټې په يوسنټرکې ټريننګ حاصلوو، زموږ دټريننګ دا اصول دي چې کله هم طالب علم په سينټرکې داخليږي؛ نوهغوی دخپلو استاذانووغيره په مخکې لاسونه خلاص پريږدي اودومره ښکته کيږي څنګه چې په لمانځه کې درکوع حالت وي، زموږ سينټرته څينې وخت غيرملکي او غيرمسلمه استاذان هم راځي اودټريننګ داصولومطابق موږته دهغوی په مخکې هم ښکته کيدل راځي، موږ په دې مسئله کې احتجاج هم وکړ چې اسلام ددې اجازه نه ورکوي، استاذانوويل چې که تاسودقرآن اوحديث په رڼاکې دلائل وړاندې کړئ؛ نودا قانون ختميدای شي چې داسلام حکمونو خلاف ورزي نه وي، تاسو ته درخواست دی چې که اسلام په مخکې ذکرشويو صورتونو کې دچاپه مخکې دښکته کيدو اجازه نه ورکوي؛ نودهغه وضاحت وکړئ چې موږ خپل استاذان راضي کړو.

جواب: ستاسودټريننګ دا اصول چې سينټرته دداخليدو په وخت ياد بهرنه راتلووالا استاذان وغيره په مخکې درکوع په شان ښکته راځي، شرعي نقطه نظر سره دا صحيح نه ده، نبي کريمﷺ دسلام کولو په وخت دښکته کيدو نه منع فرمايلې ده، څه وکړل شي چې مستقل ډول باندې داستاذانو دتعظيم له پاره دهغوی په مخکې ښکته کيدل اورکوع کول جائز وي، په حديث شريف کې دي، چې دهغه مفهوم دی دحضرت انسؓ نه روايت دی چې: يوسړی دنبي پاکﷺ نه معلوم کړل چې کله يوسړی خپل ورور يا دوست سره ملاو شي؛ نودهغه په مخکې ښکته کيدل جائز دي؟

---

[1] عن أنس قال: قال رجل يارسول الله الرجل منايلقى أخاه أوصديقه، أينحنى له؟ قال: لَا، إلخ (مشكوة ج: ٢ ص: ٤٠١، باب المصافحة والمعانقة) وفى فتاوى الهندية: الإنحناء للسلطان أولغيره مكروه لأنه يشبه فعل المجوس كذا فى جواهرالأخلاطى ويكره الإنحناء عند التحية وبه وردالنهى كذا فى التمرتاشى (فتاوى هندية ج: ٥ ص: ٣٦٩)_

حضور پاک ﷺ وفرمایل: نه!"(مشکوة ص:۴۰۱،بروایت ترمذی).[۱]

په مجوسیانوکې هم دا طریقه وه چې هغوی به دبادشاهانو، امیرانو او افسرانوپه مخکې ښکته کیدل، په اسلام کې داکار ناجائز وګرځول شو، دټریننګ ذکرشوي اصول داسلامي احکامو خلاف دي، لهذا ذمدار حضراتو ته پکاردي چې هغه ددې نه انکار وکړي، ځکه چې دخدای په ناراضي کې دمخلوق اطاعت جائز نه دی.[۲]

په جومات کې لوړ(اوچت) اوازسره سلام کول

سوال: په جومات کې لوړاواز سره "السلام علیکم" ویل پکار دي اوکه نه؟ ځکه چې"السلام علیکم" ویلوسره دلمونځ کونکوتوجه دسلام طرف ته شي اوپه سنتونويا نفلونوکې خلل راشي اوپه جومات کې لوړ اواز سره دسلام جواب ورکول پکار دي اوکه نه؟

جواب: په داسې په لوړ اواز سره دې سلام نه ویل چې په هغه سره لمونځ کونکوته تکلیف وي، البته که څوک فارغ ناست وي؛ نوپه نژدې راتلوسره دې ورته سلام و شي.[۳]

دالسلام علیکم په جواب کې السلام علیکم ویل

سوال: په دور حاضرکې چیرته چې نوي فیشنونه په وجودکې راغلي دي، هلته یونوی فیشن داهم عام کیږي چې کله دوه سړي په خپلو کې ملاقات کوي؛ نودواړه"السلام علیک وایي،په جواب کې "وعلیکم السلام" څوک هم نه کوي، افسوس خوددې خبرې دې چې دلمونځ کونکو اکثریت هم دافیشن په تیزي سره خپلوي، پته نه شته ولی خلک په "وعلیکم السلام" ویلوکې راغونډیږي اودا ګڼي چې په وعلیکم السلام ویلوسره دهغوی په وقارکې څه کمي به راشي.

جواب: په وعلیکم السلام ویلوکې بدیت نه شته، بلکې کوم سړی چې په السلام علیکم کې مخکې شي، دهغه په جواب کې "وعلیکم السلام" ویل واجب دي،[۴] دغلط راوج اصلاح دا

---

[۱] عن أنس قال: قال رجل یارسول الله الرجل منایلقی أخاه أوصدیقه، أینحنی له؟ قال: لَا، إلخ (مشکوة ج: ۲ ص: ۴۰۱، باب المصافحة والمعانقة)۔

[۲] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ج:۲ ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة، الفصل الثانی)۔

[۳] وصرح فی الضیاء........ وحاصلها أنه یأثم بالسلام علی المشغولین بالخطبة أو الصلاة أوقراءة القرأن أومذاکرة التعلیم ....إلخ (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۶۱۸، مطلب المواضع التی یکره فیهاالسلام)۔

[۴] قلت: فهذامع ما مریفیدإختصاص وجوب الردبماإذا ابتدأبلفظ السلام علیکم أو سلام علیکم وقدمنا أن للمجیب أن یقول فی الصورتین..........ومفاده أن ماصلح للإبتداء صلح للجواب ...إلخ ردالمحتار ج: ۶ ص: ۴۱۶)۔

کیدای شي چې که دواړه په یوځای سلام ووایي؛ نودواړه دې دیوبل په جواب کې "وعلیکم السلام" ووایي اوکه یولومړی"السلام علیکم" ووایي: نو دویم دې یوازې "وعلیکم السلام" ووایي [۱]

دټي وي او رېډيو په خبرونوکې د ښځې دسلام جواب ورکول

سوال: په ټي وي او رېډيو باندې خبرونونه مخکې نیوز رېډيو(ښځې) سلام کوي، څنګه چې تاکید شوی چې دسلام جواب ورکول پکاردي، ایا هغه ښځې کومې چې سلام کوي، دهغه جواب ورکول پکار دي؟ که نه دی؛ نوولې؟ او که جواب ورکول پکاردي؛ نودهغه دلیل؟ امید دی په تفصیلي جواب سره زمااود نورو ډیرومسلمانانو مسئله به ختمه کړۍ!

جواب: زما په نزد خودښځې په ټي وي اورېډيو باندې راتلل شرعا ګناه ده، ځکه چې دا بې پردګي او بې حیايي ده، دهغوی دسلام جواب ورکول هم دنامحرم له پاره ناجائز دي.

د قرآن پاک تلاوت کونکي ته سلام کول

سوال: کله چې یو سړی د قرآن پاک تلاوت کوي، په داسې حالت کې هغه ته سلام کولی شي اوکه نه؟ که سلام ورته وکړي؛ نوایاپه هغه باندې جواب ورکول واجبیږي؟

جواب: هغه ته دې سلام ونکړل شي اودهغه په ذمه دسلام جواب ورکول ضروري نه دي. [۲]

د اختر په ورځ یوبل سره غاړه ورکول شرعا څنګه دي؟

سوال: داخترپه ورځ خلک دخوشالي اظهارله پاره یوبل سره ملاویږي، په شریعت کې ددې څه حیثیت دی؟ دا سنت، متسحب یابدعت دی؟

جواب: په اخترکې یوبل سره ملاویدل خوځه ديني، شرعي شی نه دی، دخوشالي داظهار یو رسم دی، داسنت ګڼل صحیح نه دي اوکه یوسړی دا دثواب کاروګڼي؛ نوپرته شک دابدعت دی، خوکه دثواب کار یاضروري یې ونه ګڼي یوازې دمسلمان دزړه دخوشالولو له پاره یورسم ادا کړل شي؛ نوامید دی ګناه به نه کیږي.

داختر نه وروسته مصافحه او معانقه

سوال: دمصافحې او معانقې فضیلت نه انکار نه شته، خوددې داختر ورځې سره څه خصوصیت دی؟ په یوکورکې اوسیدونکي د اختر لمونځ کولونه وروسته مصافحه یامعانقه

---

[۱] ویسلم الماشی علی القاعد......... وإذا التقیا فأفضلهمایسبقهما، فإن سلمامعایرد کل واحد... إلخ (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٦، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی البیع، طبع سعید)۔

[۲] صرح الفقهاء بعدم وجوب الردفی بعض الموضع......والمشتغل بقراءة القرآن (ردالمحتار ج: ١ ص: ٦١٨)

کوي، ایا زموږ نبي حضرت محمد ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم داخترلمونځ کولو نه وروسته هم داسې کول؟

جواب: داخترنه رووسته مصافحه یامعانقه کول محض یورواجي شی دی شرعا ددې څه اصل نه شته، دحضرت محمد ﷺ اودصحابه کرام رضی الله عنهم نه ثابت نه دي، ځکه دا ددین خبره ګڼل بدعت دی، خلک په دې ورځ یوبل سره ملاویدل داسې ضروري ګڼي چې که څوک په دې رواج باندې عمل ونکړي؛ نوهغه بد ګڼي، ځکه دا رسم دترک کولو لائق دی.

جنډې ته سلام

سوال: په سکولونوکې سهار داسمبلۍ کولو په وخت دترانې نه وروسته جنډې ته سلام کیږي، دا ترکوم حده پورې غلط یا صحیح دی؟ یادادخپل وطن سره دمحبت علامت دی؟

جواب: جنډې ته سلام کول غیرشرعي رسم دی، دا بدلول پکار دي، وطن سره محبت خو د ایمان علامت دی، خودمحبت داظهار دا طریقه دکفارو ایجاد دی، مسلمانانوته دکفارو تقلیدکول جائزنه دي.[1]

دکوم سړي چې اسلام معلوم نه وي د هغه د سلام جواب

سوال: زه په یومحفل کې کینم، هغه محفل ته داسې سړی راغی چې دهغه متعلق ماته سوفیصد پته ده چې دا سړی دغیرمسلمه ملکونو سره تعلق ساتي، خوماته دا معلومه نه ده چې ایادامسلمان دی یا غیرمسلم؟ نوپه دې باره کې دا ولیکئ چې زه هغه ته "السلام علیکم" جواب په "وعلیکم السلام" سره ورکول یشم اوکه نه؟

جواب: دهغه "السلام علیکم" ویل خوپه ظاهره دهغه دمسلماني علامه ده، که مکمل ګمان دې وي چې دامسلمان دی؛ نو "وعلیکم السلام" سره جواب ورکول پکاردي؛[2] خوکه دهغه مسلمان کیدل دې زړه ته ونه لګیږي؛ نویوازې "وعلیکم" دې ورته وویل شي.[3]

دمشر بزرګ تعظیم له پاره دریدل

سوال: مایوحدیث ویلی و چې په یوځای یوڅوصحابه کرام رضی الله عنهم ناست و چې نبي اکرم ﷺ دهغوی خوا ته ورسید، چې حضور پاک ﷺ یې ولید؛ نوهغه صحابه کرام رضی الله عنهم ودریدل، چې په هغه حضورپاک ﷺ وفرمایل: کینئ، کینئ، تعظیم یوازې خدای سره ښایي، که دا حدیث

---

[1] لاتشبهوا باليهود ولَا بالنصارى (ابن ماجه ص: ۹۹)۔

[2] وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا (النساء: ۸٦)۔

[3] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذاسلم عليكم أهل الكتاب فقولوا وعليكم(بخاری ج:۲ ص: ۹۲۵)

صحیح دی؛نو. ۱: استاذ چې کله کلاس(صنف) کې داخلیږي؛ نو استاذ ته په کتلو هلکان دریږي.
۲: کله چې په یو آفس کې افسر داخلیږي؛ نو ټول کارکنان هغه ته کتلوسره دریږي.
۳۰: فوجي افسر هم خپلو افسرانو په کتلوسره دریږي اوسلوټ کوي.
ددې حدیث په رڼاکې دا ټول حرکتونه صحیح دي یا دا ختمول پکار دي؟ ستاسو به ډیره مهرباني وي دټولو مسائلو جواب راکړئ، دشکریې موقع راکړئ!

جواب: دمشر تعظیم کولو له پاره دریدل جائز دي، خودمشر په زړه کې دا خیال نه دی پکارچې خلک دې دهغه له پاره ودریږي، حضورپاک ﷺ به ذاتي طورباندې دا خواهش نه و چې خلک دې دهغه دتعظیم له پاره ودریږي، ددې حدیث پاک همدا محمل دی.[۱]

په سلام کې مخکې کیدل افضل دي

سوال: په اسلام کې سلام کول یو افضل کارګرځول شوی دی، اول سلام کولو والا له پاره زیات ثواب دی، په عام ډول کتل شوي دي چې ځینې خلک سلام اول کولو کې احتراز کوي، ځینې عالمان مې هم لیدلي دي، هغوی دسلام جواب ورکوي، خومخکې کیږي کله هم نه، په دې باره کې شرعي حکمونه څه دي؟

جواب: په سلام کې مخکې کیدل افضل دي، دعالم له پاره هم او دنورو له پاره هم.[۲]

ایا سلام نه اچونکي ته سلام کول ضروري دي؟

سوال: زه یو کس ته اکثراو زیات سلام کوم، یو ځل هغه زماسره بل ځای په لارکې ملاوشي، ما قصدا هغه ته سلام نه دی کړی، دې کتلوله پاره چې ایا دا سړی هم ماته سلام کوي اوکه نه؟ هغه سړی پرته دسلام نه تیریږي، داسې درې څلورځله وشو، اوس چې هغه سړی زما سره ملاویږي؛ نوزه هم هغه ته سلام نه کوم، داسې هغه سلسله زما له طرفه هم شروع شوې وه، منقطع شو سلام، ایادهغه سړي دااخلاقي جواز نه و چې کله یې سلام قبلولو؛ نواوس په موقع باندې دې پخپله هم سلام وکړي؟ ځکه چې څومره دسلام کولو احترام یاخیال زماو، هغه ته هم پکار دی، موږ دواړو کې څوک ګناه ګاردی؟

---

[۱] عن أنس قال: لم يكن شخص أحب إليهم من رسول الله صلى الله عليه وسلم وكانوا إذا رأوه لم يقوموا لما يعلمون من كراهيته لذالك هذاحديث حسن صحيح غريب (ترمذی ج: ۲ ص: ۱۰۰، باب ماجاء فی كراهية قيام الرجل للرجل) أيضًا:(قوله يجوزبل يندب القيام تعظيماللقادم) أی إذا كان ممن يستحق التعظيم (فتاوی شامی ج:٦: ٣٨٤)

[۲] عن أبي أمامة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أولى الناس بالله من بدأ بالسلام رواه أحمد والترمذی وأبوداؤد (مشكوة ص: ۳۹۸، باب السلام، طبع قديمی كتب خانه)۔

جواب: تاسوته ددې انتظارکول نه و پکار چې هغه دې تاسوته سلام وکړي اودسلام سلسله ختمولو نوبت راغی.

نامحرم ته سلام کول

سوال: ایا نامحرمو ښځوته سلام کول پکاردي یادهغوی دسلام جواب ورکول پکاردي؟ که سلام نه کوي؛ نووايي چې دوی ته ددوی مور او پلار څه نه دي ښودلي اوکه څوک سلام کوي اودهغه جواب نه ورکوي؛ نودهغه زړه ازاري کیږي، ایانامحرم ښځوته سلام کول یاجواب ورکول جائز دي؟ لږ په تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: نامحرم ځوانوښځوته سلام کول اودهغوی دسلام جواب ورکول دفتنې دویرې له وجې ناجائز دي، البته که ډیرعمروالابوډۍ وي؛ نوسلام ویل جائز دي.[1]

کوم خلک چې داګنې چې دهغوی مور و پلاردوی ته څه ښودلي نه دي، هغوی ته دې دا وویل شي چې مورو‌پلارنه، بلکې الله پاک اودالله پاک رسولﷺ همدا ورته ښودلي دي چې دفتنې دځای دی ځان بچ کړل شي[2] که دالله اودرسول اللهﷺ په حکم باندې عمل کولوسره دچا زړه ازاري کیږي؛ نودهغه پرواه دې ونکړل شي، ځکه چې دچادزړه خفه کیدوپه ځای دخپل دین شکني نه بچ کیدل زیات اهم دي.

❖ تعلیم ❖

د ښځواومغربي تعلیم تباه کاري

سوال: ایاښځوته اوسني دنیاوي اومغربي تعلیم ورکول شرعاناجائزدی؟ ددې بداثرات څه دي؟ تفصیل سره یې بیان کړئ!

جواب: دمغرب تهذیب اودتعلیم طرز ښځې په اقتصادي، معاشرتي، سماجي اواخلاقي میدان کې څنګه پائمال کړې، دهغوی عزت اوتقدس یې دحرص په قربان ګاه کې څه ډول قرباني کړ، دهغوی معصومیت، حیااوشرافت یې دمغربیت د دوکې په جال کې څنګه راګیر کړ، دهغوی وقار، عزت، دهغوی قدراودوفاداري روایات اوسني دورڅنګه شرمولي دي، دهغوي احساسات، جذبات او تصورات یې داضطراب، بې چینۍ اوبې اطمینانۍ په تورو

[1] وإذاسلّمت المرأة الأجنبية على رجلٍ إن كانت عجوزاً ردعليها السلام بلسانه بصوت تسمع وأن كانت شابةً ردّعليهاڧ نفسه وكذا الرجل إذاسلّم على إمرأة أجنبية فالجواب فيه على العكس(ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٦٩)

[2] لقوله عليه الصلاة والسلام: إتقوا مواضع التهم، هومعنى قول عمرمن سلك مسالك التهم، رواه الخرائطى ڧ مكارم الأخلاق (الموضوعات الكبرى ص: ٤٩، رقم الحديث: ١٥١، حرف الهمزه)۔

تيارو کې غورځولي دي، د دې سوالونوجوابونه نن داخبارپه هرصفحه باندې دهرلوستونکي له نظرنه تيريږي، خودمغربي افيون نشه، لوستونکوته دې باندې دغوراوفکرکولومهلت نه ورکوي، مونږته لوستلو، ليکلو، ويلو او اوريدوکې هم شرم راځي چې مغربي سوداګرو نيم انسانيت دتعليم اوتهذيب، فيشن اوکلچر. مساوات او د حقوقوپه ښايسته نعره باندې تجارتي منډيوکې دخرڅولو دسامان حيثيت ورکړی دی، د ژوندکومه شعبه داسې ده چې هغې کې دښځې نوم باندې نغمه اوکلام، شکل، صورت اوتصوير تجارت ته دترقي ورکولو ذريعه نه ده جوړه شوې، دښځې فطري فرائض هم هغه شان دهغې په ذمه دي، دکور کار اود انساني نسل د پرورش بوج اوس هم هغه اوچتوي، خوظالم، سست او ارام خوښونکي سړي دوزارت نه تردهسپتال نرسنګ سستم پورې دژونددیوې یوې شعبې بوج په دې مظلوم اوکمزورو اوږوباندې اچولی دی.

دښځو اوسړيو جداجدا فطري تخليق، جداجدا جسماني ساخت، جداجداذهني صلاحيت، جداجدا جذبات او احساسات اود ناستې پاستې جداطريقې دافطري تقاضاکوي چې ددوی دواړو فطري فرائض هم جداجدا وي، ددواړودعمل کولوميدان هم جداوي، د دواړو حقوق اوواجبات هم جدا وي، ددواړودژونددائره هم جداجدا وي او څنګه چې ښځې خپل فطري فرائض اداکولوباندې مجبورې دي، دغه شان دعقل اوانصاف هم دا تقاضااودفطرت اپيل دی چې سړي دخپل فطرت په ميدان کې په مکمل ډول خپل بارپخپله اوچت کړي اوښځې له کورنه بهرويستلوسره رسوانه کړي.

سړی اوښځه بې شکه دموټر دوه پايې دي، خوداموټر خپل فطري رفتارسره يوازې هغه وخت حرکت کولی شي،کله چې دواړه پايې دهغه موټر دواړوطرفونوته ولګول شي،کورکې دننه ښځه وي اوله کور بهرسړی وي، خوکه چيرې دواړه يوطرف ته ولګول شي، ياتقسيم شي چې سړی هم نيم له کور بهر کارکوي اونيم په کورکې دننه، دغه شان دښځې ژوندله کور بهر اودننه دوه برخوکې تقسيم شي؛ نوداموټر به بالکل حرکت نه کوي اوکه چيرې حرکت کوي هم؛ نودخپل فطري رفتارسره به حرکت نه کوي، بلکې ددې په رفتارکې به دکوږوالي، سستي اوبې اطميناني او سردردي دومره غټ طوفان وي چې دانسان ژوندبه دجنت نمونه نه، بلکې دوزخ جوړشي.

نن دمغرب خلکودښځوقيمتي قدرونه چې څومره کم قيمت باندې خرڅولوسره ژوندنه ددوزخ جوړولوسامان جوړکړی دی، ددې له وجې مشرق اومغرب په يواواز باندې چغې وهي، مغرب د ښځو په طبعي ميدان پسې دومره زورسره خنداکړې ده چې ښځې ته مجبوري سره خپل فطري مقام پريښودل اوسست وجوداوارام پسنده سړي سره دعمل ميدان ته راغلې ده اودفطرت قانون چې دذمه دارو کوم بوج يوازې اويوازې په سړي باندې اچولی و. دې مظلومې ته هغو دسړيو سره دهغه نيمه برخه اوچتول دي، ددې وفاداري دجذبې له وجې کله چې ښځه

له کورنه بهر ووته اود بهر ژوند طرف ته روانه شوه؛ نوپه هرقدم باندې دهغې نسوانیت پورې خندا وشوه، له ټولونه وړاندې دهغې مخې ته دتعلیم په ښایسته نوم باندې دسکول، کالج او یونیورسټي دروازې خلاصې شوې او معصومې اینجلۍ یې ازادۍ سره دهلکانوپه صفونوکې کینولو سره تعلیم حاصلولو باندې مجبورې کړې، دهلکانو او اینجلیو ګډوډ تعلیم حاصلولو نظام، اګرچې ډیرخایونوکې بند شو، خو اوسه پورې دمخلوط تعلیم دبدي او نفرت له نعمت ځخه زیاترخلک واقف نه دي، دهلکانو اواینجلیو اخلاقو، عادتونو، طورطریقو اوجذباتوکې چې کوم زهرشامل شوي دي دهغو له پاره ګواهان اودلیلونه وړاندې کول غیرضروري دي، د اخبارونو صفحې اودعدالتونو بیانونه دې باندې ګواهي ورکوي، دې مرحله کې (الاماشاء الله) دنسوانیت کومه خاوره چې پلیته شوه او پلیتیږي ، دې باندې انسانیت په ماتم کولو مجبوریږي په دې شرط چې چاکې موجود هم وي اودحیااوعصمت والاخپل عزت ختم کړي، دې مرحله کې څومره اینجلیودخپلوموروپلارانونه باغي شوې، څومره خاندانونه دذلت اورسوایي په کندوکې ډوب شول اودڅومره کورونوشرافت اواوچتوالی دپستۍ په تهه خانوکې ورک شول.

خداخدا کولو سره تعلیم ختم شو، اوس د نوکري د ملاویدو مرحله راغله، دې مرحله کې څنګه څنګه خلکوسره ملاویدل و، څنګه څنګه ګنده محفلونه ته تلل و، دکوموکومو شریفانو خندا برداشت کول و، یوه لویه کیسه ده، کومه چې هرې هغې ښځې سره تیره شوې ده، کومې ته چې دامرحله مخې ته راغلې ده، مشرقي ټوکوکې ددې مرحلې تعبیرځه داسې دی:

کرکے بی اے اب رشیدہ ڈھونڈتی ہے نوکری
لینے کے دینے پڑے اس گھرکی ویرانی بھی دیکھ

روزنامه کوهستان لاهور(۲۳) ستمبر(۱۹۶۲((دښځواخبار) کې داحترام قابلې یوې ښځې مضمون مې همدې موضوع باندې له نظرنه تیرشو، په هغه کې دښځوباره کې دپورته ذکرشوې مرحلې دپریشانیوځه منظروړاندې شوی و، ماته دنوروخلکوپته نه شته، خوربنتیاخبره ده چې دخپلې یوې خوردپریشانۍ عجیبه حالات لوستلوسره مې زړه خفه شو، سرمې ښکته شو او دماغوکې مې نفسیاتي بحران پیداشو، ماسوچ کاو چې اې الله! مکار انګریز څومره غټ ظالم دی، چې هغه مشرقي ښځه دکوردجنت نه بهرویستله اوددې دهرقسمه فطري ناتواني اوضعیف والي باوجودیې دابې اطمیناني اوبې چیني دوزخ ته وغورځوله، دې موقع باندې دامناسب ښکاري چې زه دخپلې خورددردناکې کیسې نه یوڅو برخې دلته نقل کړم، محترمه لیکي:

((زړه مې غواړي چې خپلې ډګرۍ وسیزم. سیمادایم اے پورې خپلې ډګرې میزباندې وغورځولې اوکرسۍ ته اوغورځیده اوخپلې خولې یې اوچولې. ولې خیرخودې کنه؟ ما حیرانتیا سره دهغې مخ ته وکتل، نن دډګریوکم بختي ولې راغلې ده؟ هم ددې حاصلولوله

پاره خوتاشپه ورځ يوکړي و، ستاپه مخ باندې دتکليف اوزيړوالي دهميشه له پاره خوهمددې ډګريوله وجې دي.
ددې ډګريو حاصلولوله پاره هغې شپه ورځ يوکړي و او د هغو له وجې دمخ زيړوالى اوهميشه له پاره دسردردکې هغه مبتلا شوې وه، ددې سوال جواب دهغې له طرفه څنګه ورکړل شو؟ لږ دا ولولئ اودښځوددې غيرفطري پريشانيواندازه وکړئ، محترمه ليکي چې:
دې سوال اوريدوسره هغې دژړا په اندازکې وويل: همدا خو دغم خبره ده، که چيرې ددې ډګريو حاصلولومقصدفريم کول او ديوال باندې اويزاندول و؛ نوبيا خوصحيح ده، غټه نه غټه ډګري واخله، ښه نه ښه فريم کې يې ولګوه اوکورکې يې اويزان کړه، خوکه چيرې يوغريب وغواړي چې هغه ته دهغه دمحنت بدله ملاو شي؛ نودامشکل دی، ډګري په مخ باندې لګولوسره دهريودرخاورې چاڼ کوه، دکالجونو اودفترونو دروازې ټکوه، خودشپاړسو کلونو د محنت بدله کې ملاوشوی داسند تاته نوکري نه شي درکولی.
داخوددې تعليم يوازې يوطرف دی، ددې دويم طرف ددې نه زيات دغوراوفکرکولوقابل دی، دهغه طرف ته هم اشاره شوې ده اوبياتاته پته ده، هغې پريشاني سره وويل: داهغه زمانه نه ده چې هغوکې معمولي تعليم يافته دکورپه کاروبار پوهې ښځه عزت منده وګڼل شي، نن دعظمت اواوچتوالي معياربدل شوی دی، دهر يو اخبارکالم وګوره، دضرورت رشته په عنوان باندې چې څومره اشتهارونه ورکړل شوي وي، اشتهارکې ډاکټري او پروفيسري ته ترجيح ورکول کيږي.
نوددې تعليم يوازې معاشره اواقتصاد، نه بلکې رشتې هم متاثره کړي دي، ذهنونه يې بدل کړي دي، اخلاق يې خراب کړي دي، قدرونه يې خراب کړي دي، پرون پورې به چې کوم شيان دسماجي تعلقاتواودخپلولي له پاره معيارګڼل کيدل «او هغه په رښتيا باندې معيار و»، دتعليم دې هيضې په هغوټولوباندې دمنسوخ کيدوکرښه راښکله، شرافت اوداوچتوالي معيار، ښه اخلاق، پاک عادتونه، عزت اوعصمت، قدرونه اوطورطريقې نه دي پاتې شوې، بلکې يوازې يومعيار پاتې شوی دی، يعنې چې هغه دډاکټري اوکه د پروفيسري په عهده باندې ده اوکه نه؟ کومه عهده باندې ده اود مياشتې څومره تنخواه اخلي؟ ,,انالله وانااليه راجعون،، کيدای شي چې کومو خلکوباندې داوخت نه وي تيرشوی هغوی ته ددرد داکيسه فضول ښکاري، خوچې چاباندې داتيرشوي وي، دهغوی ګواهي څنګه نظرانداز کيدای شي، دجديدتعليم حمايت کونکوته دخپلې لوراوخور دا بيان پوره غورسره لوستل اوپه خپل فکرباندې نظرثاني کول پکاردي، محترمه ليکي:
په کلونوباندې دې ميدان کې ديکې خوړلونه وروسته کله چې دژوندعملي ميدان کې قدم ږدي؛ نومعلوميږي چې دشپاړسو کلونو دمحنت بدله يوازې دکاغذيوه ټکړه ده چې هغه دژوندپه دې صحرا کې هيڅ اهميت نه لري، داخوهيڅ په کارنه شي راتلای، بيامې زړه غواړي

چې کاش! صحیح طریقې سره مې لوښي وینځل زده کړي وای، یا په لاس کې موڅه هنر وای؛ نونن به د بې وسي او محتاجي احساس نه وای.
هم دې باندې صبر نه دی، دې تعلیم چې د ښځو جذباتو باندې کوم زخم لګولی دی، د هغه معلوم مولوله پاره په بدلیدونکي معاشرت باندې خپلو بالاخانو کې ناست او فخر کونکو ته د خپلې خور داپیغام هم اوریدل پکار دي، دې پیغام کې که د تریخ والي منظراو تروې خبرې او سخت والی محسوس کړي؛ نو هغوی ته سوچ کول پکار دي چې داواز د چا دی؟ محترمه لیکي:
زه پوښتنه کوم چې کوم ځای دي هغه خلک چې د کور په چار دیواري کې پرده دارې، معمولي تعلیم او تربیت حاصلونکې ښځې عزت مندې ګڼلې او د خپل احساساتو په اوچت مقام باندې به یې کینولې، نن د ژوند قدرونه بدل شوي دي، غریبانو ته پکار دي چې خپلو لونړو نه نرسانې جوړې کړي، یا پرائمري سکولونو کې په دیریش روپۍ میاشت باندې استاذانې کړي. دې نه مخکې هغوی هیڅ نه شي کولی، ځکه چې شروع کې د هغوی هرقسمه احساس ختم شي، یا د شعور راتلو نه مخکې د هغوی شعور ختم شي چې هغوی ژوند کې د څه مقام حاصلولو له پاره کوشش کولو له وجې پاکلانې نه شي، د کاغذونو ټکړې زړه سره نیولو له وجې د هغوی په احساساتو باندې زخم و نه لګیږي.
د دې تعلیم د فضیلتونو په شمارلو کې له ټولونه لومړی د ژوند معیار د اوچتولو نوم اخیستل کیږي او د ډیر غټې غټې بې ثبوته دلیلونه سره ښودل کیږي چې ترڅو پورې تعلیم عام نه وي د ژوند معیار نه شي اوچتیدای، که د ژوند له معیارنه دیوځو غټو خلکو د ژوند معیار مراد دی؛ نو جدا خبره ده او که چیرې په مجموعي ډول د ټولو د ژوند مراد دی نه معاف کړئ، دا دلیل صحیح نه دی، د دې الټه تعلیم له وجې د ژوند د معیار د اوچتیدو خوب لیدل هیڅ اهمیت نه لري، د امریکې نه زیات تعلیم به کوم ځای عام وي؟ او د ژوند معیار به کوم ځای اوچت وي؟
خود امریکې مړشوي صدر (کینډي) اعتراف کړی و چې امریکه کې اوس هم داسې خلک شته چې هغوی ته دوه وخته خوارک نه ملاویږي، د ژوند همدغه معیار شوی دی چې د هغه له پاره معصومې ښځې په مختلف پیچیدګو کې ترل شوې دي، حالانکې پخپله د ژوند د معیار له پاره چاسره معیارنه شته، چې اخر دا څه بلاده؟ د دې حدود څه دي؟ دا په کوم ځای باندې شروع کیږي او په کوم ځای باندې ختمیږي؟ محترمې ډیر ښایسته لیکلي دي:
سیمابې وسی سره وخندل او ویې ویل: خلک پوښتنه کوي چې ستا د ژوند معیار اوچت شو؟ هغوی ته څه جواب ورکړم چې دلته خود ژوند بالکل معیارنه شته، هغه اوچت څه کړو؟ موږ خو غواړو چې ژوند، نه ژوند جوړشي؛ نو دا هم غنیمت دی.
او دا د هغې جدید تعلیم دیوې مرحلې ذکر دی، یعنې د ډګري حاصلولو نه وروسته د نوکري حاصلول، د دې مرحلې یو طرف بل هم دی چې ټول نه خو غټې خلک خپلې لونړې د مغرب یونیورسټو ته لیږلو کې کامیاب شي، مشرقي ښځه د مغربي ماحول ته تلو نه وروسته تعلیم

سره څه څه زده کوي؟ دې له پاره هم هغې معاشرې ته نظر کول اوسبق حاصلول پکار دي اود لته راتلوسره ددې غټوکورونو ښځې دمغربي طور طريقو تبليغ کوي، هغه پوره حدپورې عبرت انګيزوي اودې تعليمي مرحلوپوره کولووروسته که چيرې يوې خوش قسمتي ته نوکرې ملاوشي؛ نوګڼل کيږي چې دژوند مقصد حاصل شو، بې شکه دغوښتونکې مقصدخوحاصل شو، خوکه چيرې غوروشي؛ نو معلومه به شي چې ژوند يې برباد شو اوپه صحيح الفاظوکې د ښځې ژوند دسړيو دحرص اوهوس ښنبه شوه، لږدژوند هريوې شعبې ته نظروکړئ،کوم کوم ځاى کې چې ښځه تړل شوې ده، دوکانونه ښايسته نه ښکاري ترڅو پورې چې هغه دلوراوناوې په بربنډاونيم بربنډ تصويرانوباندې ښايسته نه شي، دکلبونوښايست په ښځو باندې دى، دسنيماهالونو شان اوشوکت دښځوله وجې دى، تفريحي پروګرامونوکې دښځو استعمال،که دغيرملکي ميلمنو راتلل وي؛ نودا ينجليوهغوى ته هرکلى ويل، دګډاګانو او ډرامو طوفان وي؛ نوښځه حاضره، ريډيواسټيشن باندې داناؤنسرې خدمت وي؛ نو ښځه پکار، دکتابونواو رسالوښايست په ښځه باندې، داخبارونو او رسالوکاروباردښځې په ذريعه.
سياست کې دصدارت اووزارت له پاره ښځه، غيرملکي وفد اوسفارت له پاره ښځه، دهوايي ميلمنو له پاره دملک لوڼې او خويندې، هسپتالونوکې غيرمحرمه سړيوعيادت اومرهم پټولو پاره دقوم ماشومانې، دفترنوکې دافسرانوماتحت کارکولوله پاره د ملک ښځې اوځينې ذاتي معاملاتو کې خدمت کونکې دقوم لوڼې اوخويندې؛ افسوس! که چيرې اکبر مرحوم نن واى؛ نوهيڅ به يې نه ويل:

الف: دزمانې بدلون،کله به چې مسلمان ،غيرت من مسلمان ددې منحوس تعليم ابتدايي اثرات ليدوسره به قومي غيرت کې ډوبيدل، خودنن مسلمان چې دهغوى له پاره دښځودمخ نقات دعقل د پردې شکل اختيارکړى دى، دهغه انتهايي بداثراتوباندې هم خفګان نه کوي اوددې تعليمي فضاء نه پيدا شوي ذهنى او اخلاقي انار په خپلوسترګوباندې ويني، په سلګو سلګو اود مړکيدونکې انسانيت اه اوفريادپه خپلوغوږونوباندې اوري،خو ډير فخرسره وايي.
سعودي عرب کې چې دشاه فيصل په دورکې کوم تيز رفتارسره اصلاحات کيږي دهغو خبرونه زموږ په اخبارونوکې چاپ کيږي،۲۷ مئى باندې پاکستان ټائمزکې د«سعودي عرب بدليدونکې معاشره» په عنوان باندې يومضمون چاپ شوى دى، مضمون ليکونکى دښځودتعليم په ذکرکې ليکي:
(۱۹۲۱م) کې درعيه کې دنجونو دمدرسې لومړى جماعت شروع شو، هغه کې يوازې دولس اينجلۍ وې اوخلک ددې بدعت له وجې څه حيران وو، اوس داسې قسمه څوارلسو مرکزونوکې (۱۵۱۲) دورځې او(۹۵۲) دشپې جماعتونه دي.
مضمون ليکونکى وايي چې دې دوران کې دسعودي عرب ښځې دکورد ژوندنه بهرووتلې اوعوامي کارونوکې يې برخه اخيستل شروع کړل، هغوى تعليم حاصلولووروسته دملک

د تعمیرپه کارونوکې شریکیږي، هغوی له پاره په مدرسوکې د استاذانو په حیثیت، د سماجي بهبود په اداروکې د سماجي کارکنانو او هسپتالونو کې د نرسانو په حیثیت باندې نوکرې دي.
(فکرونظر جلد۳ شماره ۹-۱۰ ص۶۳۹) دې فخرباندې د دې نه پرته نور څه عرض کولی شم.
تها جو نا خوف بتدریج وهی خوب هوا که غلامی مین بدل جاتاهے قومون کاضمیر

د علم حاصلولو له پاره چین ته د تلو روایت

سوال: اکثره اخبارونو، رسالو، کتابونو، تقریرونو او داسې نورو... کې د علم په عنوان باندې چې کله هم خبرې کیږي؛ نو دا ویل کیږي چې حضور ﷺ فرمایلي دي:«که چیرې تاسو ته علم حاصلولو له پاره چین ته هم تلل وي؛ نو لاړشئ» تاسو لږووایئ چې ایا احادیث د احادیثو په کتابونو کې موجود دی او که نه؟

جواب: دا حدیث علامه سیوطي رحمه الله په جامع صغیر ج:۴ ص۴۴ د ابن عبدالبر رحمه الله په حواله نقل کړی دی، ځینې حضرات ودې ته د خپل ځان نه جوړه شوی موضوعي ویلي دي،[1] بهرحال که چیرې دا حدیث که په څه درجه کې د اعتبار قابل وي؛ نو د علم نه مراد دیني علم دی[2] او د چین لفظ د ډیر سفر له پاره دی، ځکه چې چین هغه وخت کې د عربو له پاره ډیر لرې ملک و.

کوم علم حاصلول ضروري دي؟ او څومره ضروري دي؟

سوال: علم حاصل کړئ که څه هم چین کې هم حاصل شي، د علم حاصل کړئ، دا فقره ایا د دین د علم له پاره ویل شوې ده؟ یا دا د دنیا د علم له پاره ویل شوې ده؟ ایا سړیو او ښځو باندې د دین علم حاصلول فرض دي؟

---

[1] (ابن عدی) حدثنا محمد بن الحسن بن قتيبة حدثنا عباس بن إسماعيل حدثنا الحسن بن عطية الكوفى عن أبى عاتكه عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اطلبوا العلم ولوبالصين فإن طلب العلم فريضة على كل مسلم (العقيلى) حدثنا جعفربن محمدالزعفرانى حدثنا أحمد بن أبى شريح الرازى حدثنا حماد بن الخالدالخياط حدثنا طريف بن سلمان أبوعاتكه قال: سمعت أنس بن مالك عن النبى صلى الله عليه وسلم اطلبوا العلم ولوبالصين فإن طلب العلم فريضة على كل مسلم قال ابن حيان: باطل لا أصل له، والحسن بن عطية ضعيف، وأبوعاتكه منكرالحديث (قلت) الحسن روى عنه البخارى فى التاريخ وأبوزرعة ورووا له الترمذى وضعفه الأزدى والحديث اخرجه البيهقى فى شعب الإيمان وابن عبدالبرفى كتاب العلم (اللآلى المصنوعة فى الأحاديث الموضوعة ج:۱ ص: ۱۹۳، طبع دارالمعرفة بيروت)

[2] عن عبدالله بن عمروبن العاص ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: العلم ثلاثة، وماسوى ذالك فهوفضل، آية محكمة، أوسنّة قائمة، أوفريضة عادلة (أبوداؤد ج: ۲ ص: ۴۳، كتاب الفرائض، باب ماجاء فى تعليم الفرائض)۔

جواب: لومړی، خوداحدیث موضوع اوباطل دی[1] دې نه پرته دانبیاء علیهم السلام ددعوت موضوع ددنیاعلم نه ده، هغوی خوداخرت دعوت ورکولو اوانسانیت ته یې دهغو عقیدو او اخلاقو اومعاملاتو تعلیم ورکولوچې دهغو له وجې دهغوی اخرت خراب نه شي، بلکې صحیح شي، کوم علمونه چې نن سباپه کالجونو او یونیورسټو کې ښودل کیږي هغه دحضور ﷺ د ارشاد (علم حاصل کړئ) کې داخل نه دي، ددې حاصلول جائزدي اوکه ناجائز؟ او ضروري دي اوکه غیرضروري، دا یوجدابحث دی.

دیني علم دضرورت مطابق په هرچاباندې حاصلول فرض دي[2] اوددنیاعلم درزق ګټلو له پاره دی اورزق ګټل په ښځه باندې نه شته، بلکې دسړیوپه ذمه دي[3]، دهغوی تعلیم دومره کافي دی چې دیني رسالې لوستلی شي اولیکل کولی شي، باقي ټول زیاتي دی.

د دیني تعلیم په لارکې مشکلات او دیني او د نیاوي تعلیم

سوال: ۱: ما ماشوموالي نه اوسه پورې دنیاوي تعلیم حاصل کړی دی، زه ددین دتعلیم طرف ته راتلل غواړم، ایاماته څه قسمه مشکلات مخې ته راتللی شي؟

سوال: ۲: زمادموروپلارخواهش دی چې زه ډاکټرجوړشم، هغوی زماپه تعلیم باندې ډیره خرچه کړې ده، که چیرې زه ډاکټرجوړنه شم؛ نوهغوی به ډیرزیات خفه شي اوهغوی ته تکلیف رسولوسره عالم دین جوړیدل جائزدي؟

سوال: ۳: که چیرې زه دهغوی دخواهش مطابق ډاکټرجوړشم اوخپله ځواني دډاکټري په تعلیم کې ختمه کړم؛ نوبیاپه خپل دین باندې قائمیدای شم؟ میډیکل کالجونوکې دهلکانو او اینجلیو ګډوډ تعلیم اونورې بدیانې دي، ایاداګناهونه به زماپه سر وي؟

---

[1] حدثناطريف بن سلمان أبوعاتكه قال: سمعت أنس بن مالك عن النبى صلى الله عليه وسلم اطلبوا العلم ولوبالصين قال ابن حيان: باطل لا أصل له، والحسن بن عطية ضعيف، وأبوعاتكه منكرالحديث (اللآلى المصنوعة فى الأحاديث الموضوعة ج: ۱ ص: ۱۹۳)۔

[2] عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: طلب العلم فريضة على كل مسلم ...إلخ (مشكوة ص: ۳٤، كتاب العلم) وفى المرقاة: طلب العلم أى الشرعى فريضة أى مفروض فرض عين على كل مسلم......... ومسلمة كمافى رواية، قال الشراح المرادبالعلم مالامندوحة للعبد من تعلمه كمعرفة الصانع والعلم بوحدانيته ونبوة رسوله وكيفية الصلاة فإن تعلمه فرض عين ...إلخ (مرقاة ج: ۱ ص: ۲۳۳) أيضًا: اعلم أن تعلم العلم يكون فرض عين وهوبقدر مايحتاج لدينه (الدرالمختار ج: ۱ ص: ٤۲، طبع سعيد)۔

[3] ،، وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ،، (البقرة:۲۳۳) تجب على الرجل نفقة إمرأته ... إلخ (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٥٤٤) نفقة الأولادالصغارعلى الأب لَايشاركه فيهاأحد كذا فى الجوهرة (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٥٦۰)۔

سوال: ٤: دقیامت په ورځ به هغه عالم دین دزیات اجراوثواب حق دار وي یاهغه کس کوم چې د هر قسمه مشکلاتو باوجود خپل دین باقي وساتلو؟

سوال: ٥ ایادې نیت سره دیونیورستي داسلامیات په شعبه کې سبق ویل اودپي ایچ ډي ډګري حاصلول چې بیابه پروفیسرجوړیږم، ښه تنخواه اومراعات به راته حاصل وي. دین به هم وي اودنیاهم جائزدي؟ ایا مدرسې تعلیم اودیونیورستي تعلیم کې فرق دی؟

جواب: ۱: تاسوته به مشکلات ضروري راځي.

جواب: ۲: که چیرې تاسوډاکټرجوړیدوسره دین باندې قائم پاتې کیدای شئ؛ نود مور وپلار د خوښې مطابق ډاکټرجوړشئ.

جواب: ۳: دبدوګناه خوبه ضرور وي اودازه نه شم ویلی چې دین باندې به قائم پاتې کیدای شئ اوکه نه؟ که چیرې ددین داروخلکوسره تعلق وساتل شي؛ نوامیددی چې ددین په لاربه قائم پاتې شئ.

جواب: ٤: ښکاره خبره ده چې دحقاني عالم اجربه زیات وي.[1]

جواب: ٥: یونیورستي نه پي ایچ ډي کول خوبه ددنیاله پاره وي، تاسو دې دنیانه دین جوړولی شئ؛ نوستاسوهمت دی اودمدرسې تعلیم ددین له پاره دی،که څوک دې نه دنیاجوړه کړي؛ نودادهغه کم عقلي ده.[2]

اسلام په انسانانوباندې کوم علم فرض کړی دی؟

سوال: سوال دادی چې اسلام موږباندې کوم علم فرض کړې دی؟ ایا داعلم کوم چې نن سباپه تعلیمي اداروکې حاصلیږي یابل علم؟

جواب: نن سباچې تعلیمي اداروکې کوم علم حاصلیږي هغه علم نه دی، بلکه هنراوپیشې فن دی، هغه پخپله باندې نه ښه دی اونه خراب، داستاسوپه صحیح یاغلط استعمال باندې دي. حضور ﷺ چې کوم علم فرض ګرځولی دی او دهغه فضیلتونه یې بیان کړي او د حاصلولو ترغیب یې کړی دی، له هغه نه ددین علم مراددی اودهغه حکم کې به هغه علم وي کوم چې

---

[1] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يشفع يوم القيامة ثلاثة: الأنبياء ثم العلماء ثم الشهداء (ابن ماجة، باب ذكر الشفاعة ص: ۳۲۰) أيضًا:وعن أبي أمامة الباهلی قال: ذكررسول الله صلى الله عليه وسلم رجلان أحدهماعابد والآخر عالم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فضل العالم على العابد كفضلي على أدناكم ...إلخ (مشكوة ص: ۳۴)

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تعلم علما مما يبتغى به وجه الله لَايتعلمه إلّا ليصيب به عرضًامن الدنيالم يجدعون الجنة يوم القيامة أي ريحها (ابن ماجة ص: ۲۲، باب إنتفاع بالعلم والعمل به)_

ددين دذريعې حيثيت لري.[1]

ايا مسلمانه ښځه جديد تعليم حاصلولی شي؟

سوال: الحمدلله زه پرده کوم، خوزه دکمپيوټرسائنس تعليم حاصلوم، تاسوماته ووايئ چې اسلام کې جديدتعليم حاصلولوباندې څه پابندي خونه شته اوداداسې تعليم دی چې ددې په ذريعه باندې انسان کورناستې سره هم ګټه کولی شي، هغه ته دسړيوپه ماحول کې د نوکري کولوضرورت نه وي اوکمپيوټرته ناستې وخت کې دوخت تيريدوپته نه لګيږي، دډيرواسې کاردی کوم چې موږ فالتو وخت کوم چې مونږتې وي وغيره کتلوسره ګناه کولوکې تيروو، ددې يعنې کمپيوټرته ناستې له وجې دفضول کارونونه بچ کيدای شو، مايوځای کې لوستلي و چې هغه علم کوم چې ددنيا دعزت له پاره حاصل شي په هغه باندې عذاب دی، خوزمازړه کې داخيال دی چې موږ مسلمانانوښځوته پرده کې اوسيدوسره داسې علمونه ضرورزده کول پکاردي چې موږ دترقي يافته قومونونه وروسته پاتې نه شو اوپه خپلو پښو باندې پخپله ودريږو اوهغه خلک کوم چې پرده کونکې ښځې کمزورې ګڼي اودهغوی باره کې داخيال ساتي چې دوی دپخوا زمانې ښځې دي، دوی ته څه پته ده چې کمپيوټروغيره څه شی دی؟ ياددوی داسې تعليم سره څه تعلق دی؟ اميدلرم چې تاسو به زماپه مطلب پوه شوي يئ، زماخيال دادی چې داسې تعليم دکوم په ذريعه چې ښځه دسړيوماحول کې دکارکولوپه ځای باندې خپل کورکې ګټه کولی شي،دابنه نه دی؟ کوم وخت اوحالات چې تاسو وينئ، ستاسوپه نظرکې ښځوته داسې تعليم حاصلول پکار دي چې دهغه په ذريعه باندې هغوی په خپلو پښو باندې ودريږي؟ اونبي کريمﷺ دې باره کې څه فرمايي؟ کومه فيصله چې زموږ دنبي کريمﷺ وه، انشاء الله هغه فيصله به زموږهم وي،که چيرې تاسو مې مطمئن کړئ؛ نو ستاسوبه ډيره مهرباني وي.

جواب: ستاسوخيالات ماشاء الله ډيرصحيح دي، دکمپيوټرتعليم يابل څه تعليم،که چيرې ښځې دا تعليمونه په پرده کې حاصل کړي؛ نو هيڅ بده خبره نه شته، خوچې دتعليم يانوکري په دوران کې دنامحرمه سړيو سره ملاويدل په کې نه وي.

کالجونوکې د مينې لوبه اواسلامي تعليمات

سوال: ايامينه څه حقيقت دی؟ (زمامراديوازې هغه مينه ده دکوم چې زموږ په کالجونو او يونيورسټيو کې ډيرزيات زور دی اوغټ غټ عقلمند دې ته ربنتياوايي)

---

[1] قوله عليه السلام: طلب العلم فريضة على كل مسلم أى ومسلمة كمافى رواية، والمرادبالعلم ما لا مندوحة للعبد من تعلّمه كمعرفة الصانع والعلم بوحدانيته ونبوة رسوله وكيفية الصلاة فإن تعلمه فرض عين (على هامش مشكوة ص: ٣٤، كتاب العلم)۔

سوال: ۲: ایا اسلام هم داحقیقت ګڼي؟ او زموږ معاشره کې هغه اینجلۍ ښه ګڼل کیږي کومې چې له واده نه مخکې دیونامحرم سړي خیال هم زړه کې نه راولي، زه هم دې باندې یقین ساتم اوددې مطابق عمل کوم، خوله کله نه چې ماکالج کې داخله اخیستې ده. هغه هم دمجبورۍ له وجې؛ نوداسې محسوسیږي چې اوس داسې کول ډیرګران کاردی، دې باره کې زه دشپږ اته میاشتو راهیسې ډیره پریشانه یم اوتقریبا روزانه ژاړم، خوپه هیڅ نه پوهیږم چې څه وکړم؟ دې باره کې داسلام نیغه لار بیان کړئ؟ مهرباني وکړئ تسلئ والاجواب راکړئ. زه به ستاسو احسان منده یم.

جواب: اسلام دښځې اوسړي دمحبت شکل نکاح تجویزکړې ده[۱]، دې نه پرته اسلام ددوستي اجازه نه ورکوي زموږتعلیمي اداروکې چې هلکان اونجونه دکومې مینې نمائش کوي، داد اسلام تعلیم نه دی، بلکې دمغرب نقل دی اودا ,,نقشدار مار،، چې څوک وخوري هغه ددې زهر دمرګ پورې محسوسوي، مغرب هم ددې مینې لوبې جنسي دوزخ ته غورځولی دی، زموږ ځوانانو ته له دې نه عبرت حاصلول پکاردي.

انګریزي زده کول جائزدي او د انګریزي تهذیب نه ځان ساتل پکاردي

سوال: انګریزي ژبې ته په اسلام کې څه حیثیت حاصل دی؟ ځکه چې زموږموروپلارددې ژبې سخت خلاف دي اوددې دزده کولوپه حق کې نه دي، خودنن سبازمانې کې دانګریزي زده کولونه پرته بله لاره نه شته، ددې نه پرته موږترقي نه شوکولی، تاسومهرباني وکړئ اودا ووایئ چې مسلمانانوله پاره انګریزي تعلیم حاصلول څنګه دي؟ ځکه چې دادغیرمسلموژبه ده، ایا اسلام ددې خبرې اجازه ورکوي چې موږ دغیرمسلمنوژبه زده کړو.

جواب: دانګریزي تعلیم له وجې که چیرې ددین دضائع کیدو ویره وي؛ نوحرام دی[۲]،که چیرې ددین دحفاظت سره دنیاوي اومعاشي مقصد له پاره حاصل کړل شي؛ نومباح(جائز) دی[۳] اوکه چیرې دیني مقصد له پاره وي؛ نودثواب کاردی،[۴] انګریزي ژبه زده کولوباندې اعتراض نه شته، خو ایادتعلیم اوسني نظام کې دین محفوظ پاتې کیدای شي؟ انګریزي زده

[۱] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لم ترللمتحابين مثل النكاح (مشكوة ج: ۲ ص: ۲٦۸، كتاب النكاح، طبع قديمى)_

[۲] فتاوى عزيزى ص: ۵۹۹ طبع ايچ ايم سعيد) أيضًا: إمدادالفتاوى ج: ٦ ص: ۱٦۲، ۱٦۳، ۱۹۳)_

[۳] قال فى تبيين المحارم: وأمافرض الكفاية من العلم فهو كل علم لا يستغنى عنه فى قوام أمورالدنياكالطب والحساب والنحوواللغة والكلام........واصول الصناعات والفلاحة كالحياكة والسياسة والحجامة ...إلخ ردالمحتار ج: ۱ ص: ٤۲، مقدمة، مطلب فى فرض الكفاية وفرض العين)_

[٤] عن عمربن الخطاب يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إنماالأعمال بالنيات وإنماالإمرىء مانوى...إلخ (بخارى ج: ۱ ص: ۲ باب كيف كان بدء الوحى)_

کړئ، انګریزي تهذیب زده نه کړئ؛ نو هیڅ بده خبره نه شته.

دیني تعلیم له پاره د مورو پلار د اجازې ضرورت نه شته

سوال: نن سبا کورونو کې یوازې ددنیاوي تعلیم خبرې کیږي، ددین خبرې خو مورو پلار بالکل نه کوي، که چیرې څوک داسې ماحول ته تلل غواړي چې هلته دهغه په علم او ایمان کې اضافه وشي او کور والا هغه نه پریږدي؛ نو ایا دهغوی اطاعت جائز دی؟

جواب: ددین ضروري علم په هرمسلمان باندې فرض دی[1] او که کور والا د شرعي فرض اداکولو نه منع کوي؛ نو اطاعت جائز نه دی.[2]

د دیني تعلیم تقاضا

سوال: مادولسم پاس کړ ،اوس ددیني تعلیم حاصلول غواړم، تاسو نه دامعلومول غواړم چې زه څه نیت وساتم؟ او ددین دتعلیم حاصلولو اصل مقصد څه دی؟ او دطالب او استاذ تعلق څنګه پکار دی؟ دطالب علم کیدوله وجې داستاذ داداب او احترام باره کې څه ضروري خبرې کومې چې ددین په علم حاصلولو کې ضروري وي، که چیرې راته بیان کړئ؛ نو ستاسو ډیره مهرباني به وي.

جواب: د دیني تعلیم مقصد یوازې یو دی، یعنې دالله تعالی حکمونه معلومول او په هغو باندې عمل کول او دالله تعالی درضا مطابق ژوند تیرول، یوازې دالله تعالی درضانیت ساتل پکار دي[3]، دعلم د ادابو له پاره یوه رساله (تعلیم المتعلم) او دویمه رساله (اداب المتعلمین) چاپ شوې موجوده ده، هغه واخله او دهغې مطابق عمل کوه.

مخلوط تعلیم تر کوم عمر پورې جائز دی؟

سوال: ددیني کتابونو دلوستلو نه وروسته دحضور ﷺ دتعلیماتو چې راته دکوم حد پورې پته لګیږي او دهغه اوسني تعلیم سره موازنه کوم؛ نو ذهن کې مې څه سوالونه پیداکیږي، ایا د هلکانو او نجونو ګډوډ تعلیم جواز په شریعت کې شته؟ او که چیرې شته؛ نو تر کوم عمر پورې یوځای تعلیم حاصلولی شي؟ که چیرې شریعت کې جواز نه شته؛ نو بیا ذمه دارخلک جدا جدا

---

[1] واعلم أن تعلم العلم یکون فرض عین وهو بقدر ما یحتاج لدینه ...إلخ وفی تبیین المحارم: لاشك فی فریضه علم الفرائض الخمس وعلم الإخلاص لأن صحة العمل موقوفة علیه وعلم الحلال والحرام وعلم الریاء...إلخ (ردالمحتار مع الدرالمختار، مقدمة، مطلب فی فرض الکفایة وفرض العین، ج: ۱ ص: ۴۲، طبع ایچ ایم سعید)_

[2] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ۳۲۱، کتاب الإمارة، طبع سعید)_

[3] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تعلم علما مما یبتغی به وجه الله لایتعلمه إلّا لیصیب به عرضًا من الدنیا لم یجد عرف الجنة یعنی ریحها (ابن ماجة ص: ۲۲، باب إنتفاع بالعلم والعمل به)_

انتظام ولې نه کوي؟ کله چې د دين عالمان دې باندې زور ورکوي.

جواب: د لس کالو عمر کېدو نه وروسته د ماشومانو د بسترو جدا کولو حکم شوی دی[۱] دې نه دا هم معلومېږي چې هلکان او نجونه زيات نه زيات لس يا يوولس کالو عمرپورې يوځای تعليم حاصلولی شي. له هغه وروسته د هلکانو او نجونو ګډوډ تعليم نه دی پکار. اوسني دورکې د هلکانو او نجونو ګډوډ تعليم د بې خدايي تهذيب ايجاد شوی بدعت دی او دې کې ډېرزيات قباحتونه موجود دي. پته نه شته چې زموږ ذمه دارحضرات دې کې تبديلي ولې نه راولي؟ او د جدا تعليم مطالبه يوازې د دين بزرګان نه، بلکې هلکان او نجونه هم کوي.

د مخلوط تعليم ګناه په چا باندې ده؟

سوال: زه د اتم جماعت طالب علم يم. د نورو سکولونو په شان زموږ سکول کې هم هلکان او نجونه ګډوډ تعليم حاصلوي، دا مرض په کراچۍ کې ډېر زيات دی، جناب! ما د بزرګانو نه اوريدلي دي چې د دين د مسئلو باره کې پوښتنه کولو باندې موړته شرم کول نه دي پکار. عرض دادی چې دې دورکې هلکان او نجونه ډېر زر بالغان شي او لږ ډېرکمی يې (وي سي ار او ټي وي) پوره کړی دی.

جناب! زموږ کلاس کې چې کله بالغ هلکان او نجونه يوځای کيني د هغوی جذبات راوچتېږي، دې نه پرته نجونه خپلو هلکانو دوستانو ته هغه وخت کې کورته د راتلو دعوت ورکوي کوم وخت کې چې د هغوی مور و پلار کورنه وي، د غه شان زموږ په سکول کې سرې او ښځې ګډوډ تعليم ورکوي، کله چې ښايسته استاذه ميک اپ وکړي او سبق ښودلو له پاره راشي؛ نو هغه وخت کې هم د هلکانو ډېر غلط خيالات وي، د غه شان کله چې سړي استاذان د نجونو مخې ته راځي؛ نو د هغوی د زړونو به څه حال وي؟ جناب! په يوځو کلونو کې ډېر عجيبه واقعات پيښ شوي دي، چې هغه په ژبه باندې راوستلو يا په قلم باندې په ليکلو باندې هم شرم راځي، مثلاً: زموږ په سکول کې د هلکانو او نجونو د بداخلاقي داسې واقعات پيښ شوي دي چې هغوی د سکول نه خارج شول او ځو مره واقعات داسې دي. خو هر يو د بل په عيب باندې پرده اچولو سره هغه مخې ته نه راځي.

۱: ايا پاکستان کوم چې د اسلام په نوم باندې حاصل شوی دی، دې کې د هلکانو او نجونو د ګډوډ تعليم حاصلول شرعاً جائز دي؟

۲ ايا الله او د هغه رسول ﷺ غيرمحرم سړيو او ښځوته د ګډوډ تعليم ورکولو، تعليم حاصلولو

---

[۱] عن عمربن شعيب عن ابيه عن جده قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مُرُوا أولادكم بالصلوة وهم أبناء سبع سنين، واضربوهم عليها وهم أبناءعشر، وفرّقوا بينهم فى المضاجع (أبوداؤد ج: ۱ ص: ۷۸، ۷۹، مشكوة ص: ۵۸، كتاب الصلوة، الفصل الثانى)۔

يا بينک کې نوکري يابلې اداري کې د کار کولو اجازه ورکړې ده، کله چې داسې ځايونو کې
تولې ښځې بې پردې وي.
۳: ايا پاکستان کې د پردې څه قانون نافذ نه دی؟
۴: ايا د هلکانو او نجونو ګډوډ تعليم له وجې اسلام پورې خندا نه کيږي؟
۵: ايا د هلکانو او نجونو د ګډوډ تعليم او ګډوډ و نوکريو ګناه په حکومت باندې ده؟ هلکانو باندې
ده، يا نجونو باندې ده؟
سړيو باندې ده يا ښځو باندې ده؟ دې کې د ټولونه زيات د عذاب مستحق څوک دي؟

جواب: ستاسو خط د تبصرې محتاج نه دی، دا د حکومت، د مورو پلار او د معاشرې خلکو
د سترګو غړولو له پاره کافي دی او د هغو خلکو له پاره د عبرت ننبه ده کوم چې د هلکانو
او نجونو ګډوډ سکولونو کې خپلو بچيو ته تعليم ورکول فخر ګڼي او د هغوی د بهترين مستقبل
ضمانت يې ګڼي، د غه مورو پلار ته پکار دي چې ايا د هلکانو او نجونو دا ګډوډ تعليم د هغوی
د بچيو د عزت جنازې خونه وباسي او ايا د هغوی د بهترين مستقبل خوبونه چيرته دروغ نه شي.

د سړيو او ښځو يو ځای حج کولو نه د مخلوط تعليم جواز نه پيدا کيږي

سوال: خواست دادی چې روزنامه (جنګ) کراچی کې د يوې ښځې انټرويو چاپ شوې
وه، د هغې د انټرويو د يو سوال جواب دادی:
سوال: پاکستان يو اسلامي ملک دی، خودلته د اسلامي اصولو مطابق د ښځو له پاره د تعليم
ماحول ډير ښه نه دی. لکه د ښځوله پاره يونيورسټي جوړول وغيره، دې باره کې تاسو خپل
خيال ښکاره کړئ!
جواب: پاکستان کې په هرلحاظ باندې تعليمي ماحول ښه دی، حقيقت کې زه ددې په حمايت
کې نه يم، ځکه چې موږ ته د سړيو اوږه په اوږه باندې حرکت کول دي؛ نو بيا جدا والی ولې؟
د اسلام يوه اهمه فريضه حج ده، کله چې دې کې ښځې نه دي جدا شوې؛ نو تعليم حاصلولو کې
ولې جداشي او زموږ قوم ډير مهذب قوم دی، زما خيال نه دی چې ښځو ته د هلکانو او نجونو
ګډوډ تعليم کې څه مشکلات شته، کله چې ما دا نجنئرنګ تعليم حاصلولو: نوزه يوازې
اينجلۍ وم او تقريبا زر هلکان وو؛ خو ما ته هيڅ تکليف نه و، د طالب علمي په زمانه کې هلکان
او نجونه د يو بل ډير زيات مدد کوي.
حضرت! سوال دادی چې ايا د هلکانو او نجونو مخلوط تعليم د حج په شان جائز دی؟ او ددې
ښځې د هلکانو او نجونو ګډوډ تعليم د حج په شان ديني فريضې باندې قياس کول او د مخلوط
تعليم صحيح ګرځول څنګه دي؟ او ايا په رښتيا مخلوط تعليم حاصلو کې نجونو ته څه
مشکلات نه وي؟ اميد لرم چې تاسو به زما تسلي وکړئ!

جواب: دحج مقامات خودښځواوسړیوله پاره یو دي، له دې وجې ښځواوسړیوته یوځای باندې حج اداکول وي، خوحکم هلته هم دادی چې ښځه به دخپل طاقت مطابق دپردې اهتمام کوي، دسړیو سره به نه یوځای کیږيْ اونامحرم سړیوته به نظر وچتولوسره نه ګوري[1] بیاهغه ټول ځایونه هم مقدس دي، ماحول هم مقدس اوجذبات هم مقدس او معصوم وي اوداللہ تعالی ویره هم غالبه وي، ددې په مقابله کې دتعلیمي اداروچې څنګه ماحول دی ټولوته پته ده اوهلته هلکان اونجونه ډول سنګار کولوسره ځي، جذبات هم راوچتیږي، له دې وجې دتعلیمي ادارو خانه کعبې او نورو مقدسو ځایونوباندې قیاس کول کم عقلي ده.

❖ ددین تبلیغ ❖

دتبلیغ اهمیت او ضرورت

سوال: زمامسئله دتبلیغ سره متعلق ده، دقرآن پاک دایت ترجمه لیکم: " تاسوبهترین امت یئ، خلکوله پاره پیدا شوي یئ، تاسوخلکوته دنیک کار حکم کوئ اودبدکارنه منع کول کوئ اوپه الله تعالی باندې ایمان لرئ." د دویم ایت ترجمه:" اوپه تاسوکې یوجماعت داسې کیدل ضروري دي چې هغوی دخیرطرف ته راغوښتل کوي اودنیکو کارونوکولو له پاره ویل کوي اودبدوکارونونه منع کول کوي، داسې خلک به پوره کامیاب وي" په یوحدیث کې دنبي پاک ﷺ ارشاد مبارک دی چې:"کوم کس یوناجائزکار په کیدو ووینئ، که په هغه باندې قدرت لري؛ نوهغه دې په لاس سره بند کړي،که دومره طاقت نه وي؛ نوپه زړه کې دې ورته بد ووایي او دا دایمان ډیره کمه درجه ده." دیوبل حدیث مفهوم دی: " تمام نیک عملونه دجهاد په مقابله کې یوه قطره دي اوددین تبلیغ یوسمندر دی او جهاد دتبلیغ په مقابله کې بس یوه قطره ده." دایات او حدیث په رڼا کې ددې جواب راکړئ!

جواب: تاسو صحیح لیکلي دي، ددین دعوت ورکول، خلک په نیکو کارونولګول اود

---

[1] والمراة فی جمیع ذالك كالرجل، لأنها مخاطبة كالرجال، غیرأنها لاتكشف رأسهالأنهاعورة، وتكشف وجهها لقوله علیه السلام: إحرام المراة فی وجهها، ولوسدلت شیئًا علی وجهها وجافته عنه جازهكذا روی عن عائشة ولأنه بمنزلة الإستظلال بالمحل، ولاترفع صوته بالتلبیة ولاترسل ولا تسعی بین المسلمین، لأنه مخلّ یسترالعورة ولاتستلم الحجرإذا كان هناك جمع لأنهاممنوعة عن مماسة الرجال إلّاأن تجدالموضع خالیًا (هدایة ص: ۲۵۵، كتاب الحج) وفی الفتح لقوله علیه السلام: إحرام المراة فی وجهها........ وحدیث عائشة رضی الله عنهاأخرجه أبوداؤد، وابن ماجة قالت: كان الركبان یمرون بناونحن مع رسول الله صلی الله علیه وسلم محرمات فإذا أحاذوناسدل إحداناجلبابهامن رأسهاعلی وجههافإذا جاوزناكشفناه، قالوا والمستحب أنسدل علی وجهها شیئًا وتجافیه ...إلخ (فتح القدیر ج:۲ ص: ۱۹۵)

بدوکارونو نه منع کول ډیرغټ عمل دی[۱] په هر مسلمان باندې فرض دي چې دخپلې اصلاح سره سره دخپلو مسلمانانو وروڼو فکرهم وکړي اوپه قدرداستطاعت هغوی په نیکوباندې ولګوي اودبدونه يې منع کړي، اخري حديث چې کوم تاسوليکلئ دی، دازماله نظرنه نه دی تيرشوی.

ايا تبليغي جماعت سره تعلق جوړول ضروري دي؟

سوال: دجماعت په باره کې ستاسوڅه رايه ده؟ اياددې کارسره تړلونه پرته هم اصلاح او يوه مخصوص ذمه داري بحثيت دحضور پاک ﷺ ديومسلمان امتي کيدو سره ادا کيدای شي؟ ديومسلمان په ذمه څه دي؟ هغه څنګه دخپل ژوند اړخ صحيح کړي؟ اودټول انسانيت له پاره فکرمند ولې شي؟

جواب: جماعت ډيرمبارک کارکوي، په دې کې چې څومره وخت هم ولګول شي ضروري لګول پکاردي، په دې سره خپل او دامت داصلاح فکرپيداکيږي اودخپل نفس داصلاح له پاره يوشيخ لائق محقق سره اصلاحي تعلق ساتل پکاردي.[۲]

د طائف نه په واپسي باندې د حضورپاک ﷺ د حج په موقع باندې تبليغ کول

سوال: ايا دطائف نه په واپسي باندې حضورپاک ﷺ دتبليغ نه منع شوی و؟ او حضورپاک ﷺ به يوازې دحج په موقع باندې ددين اسلام تبليغ کولی شو؟

جواب: دکفاروله طرفه هميشه په تبليغ باندې دپابندي لګولوکوشش به کيده، خوداپابندي حضور پاک ﷺ چيرې هم قبوله کړې نه وه، البته دايي وکتل چې په مکې والاووکې في الحال دحق قبلولو استعداد نه شته اونه دلته ازادي سره دتبليغ کولو موقعې شته؛ نوحضورپاک ﷺ دحج په موسم کې دبهرنه راتلونکوقبائلوته ددعوت ورکولو زيات اهتمام يې کړی و[۳]، دهغه مقصد دا و چې که بهرچيرته محفوظ ځای اومضبوط جماعت مسيرراشي؛ نوحضور پاک ﷺ به هلته هجرت وکړي.

---

[۱] قال تعالى: وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ (آل عمران:۱۱٤) قال تعالى: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ (آل عمران:۱۱۰)۔

[۲] تزكية الأخلاق من أهم الامورعندالقوم .... ولايتسيرذالك إلّابالمجاهدة على يدشيخ أكمل، قد جاهد نفسه وخالف هواه وتخلّاعن الأخلاق الذميمة، وتحلّى بالأخلاق الحميدة .... فكماأن العلم بالتعلم من العلماء كذالك الخلق بالتخلق على يدالعرفاء، فالخلق الحسن صفة سيدالمرسلين (إعلاء السُنن ج: ۱۸ ص: ٤٤۲ كتاب الأدب)۔

[۳] تفصيل دپاره وګورئ : سيرة المصطفى ج: ۱ ص: ۳۰۷، تأليف: مولانا محمد إدريس كاندهلوى رحمه الله)

ایا د لمونځ دعوت او د سنتو تلقین هم تبلیغ دی؟

سوال: د تبلیغ څه معنا ده؟ او ددې دائره کار څه دی؟ ایا د لمونځ دعوت او د سنتو تلقین تبلیغ دی؟ که یو سړی د معاشرې د بهترجوړولو له پاره کوښش کوي؛ نو خلک وايي چې دا اقتدار له پاره داسې کوي او وايي چې په سنت باندې عمل وکړئ؛ نو دنیا به پخپله ستاسو په قدمونو کې راشي، حالانکې مقصد د معاشرې اصلاح ده او معاشره ددې بدیونه بچ کول مقصد دي چې دا هغه دوینو پشان خوري پوښتنه داده چې د هغه سړي یا د جماعت دا کار ترڅومره پورې د اسلام مطابق دی؟ ایا دا د تبلیغ په مد کې شامل دی؟

جواب: معاشره په خلکو سره سر ته رسیږي، چې د خلکو اصلاح کیږي؛ نو د معاشرې به هم اصلاح کیږي او ترڅوپورې چې د خلکو اصلاح نه کیږي، د معاشرې د اصلاح ممکن نه ده، بس کوم حضرات چې هم د خلق سازولو کار کوي هغه د دعوت او تبلیغ کار کوي.

د تبلیغ دائره کار خو په پوره دین باندې حاوي ده، خو لمونځ د دین اولینه ستن ده[1]. ترڅوپورې چې د لمونځ دعوت نه چلیږي او خلک په لمونځ باندې نه راځي ...نه به په هغوی کې دین راشي او نه به د هغوی اصلاح وشي او په هر کار کې د حضور پاک ﷺ د سنت دعوت، په حقیقت کې د پوره دین دعوت دی، ځکه چې سنت د دین شاهراه ده، ځکه پرته له شکه د لمونځ او سنتو دعوت د دین اسلام تبلیغ دی.

د تبلیغي اجتماعاوو په دعا کې شرکت له پاره سفر کول

سوال: د تبلیغي جماعتونو په اجتماعاوو کې وعظ کیږي او په اخر کې په اوچت اواز سره دعا کیږي، یو دعا غواړي او باقي ټول (امین) وايي، په دې باندې غټ غټ مصارف کیږي د لرې لرې علاقونه خلک سفر کوي او په هغه کې د شریکیدو کوشش کوي او دا د اجتماع اصل مقصد ګڼي او که څوک په دې کې شریک نه شي او لاړشي: نو د هغه په باره کې دا تصور کیږي چې هغه په اجتماع کې بیخي شرکت ونه کړ، بنده هم په دې کې د شریکیدو ډیر خواهش مند وي او د قرآن پاک د تلاوت نه دا زیات د ثواب وجه ګڼي، ایا دا نظریه صحیح ده او که نه؟

جواب: د تبلیغي جماعت اجتماګانې ډیرې ګټورې وي او په هغوکې شرکت کول د اجراو ثواب ذریعه ده[2] د اجتماع په اختتام کې چې کومه دعا کیږي، هغه اثرناکه او زړونکې وي، په

---

[1] عن معاذ قال: قلت یارسول الله اخبرنی بعمل یدخلنی الجنة......قال: راس الامر الاسلام وعموده الصلاة. (مشکوة ج: ۱ ص: ۱٤، کتاب الإیمان، الفصل الثانی، طبع قدیمی)۔

[2] عن أبی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم: إن لله تبارك ملائکة سیارة فضلاً یبغون مجالس الذکر............ قال یقولون: رَبِّ فیهم فلان عبد خطاء إنّما مرّفجلس معهم قال: فیقول وله غفرتُ هم القوم لایشقی بهم جلیسهم (مسلم ج: ۲ ص: ۳٤٤، فصل مجالس الذکر)۔

اجتماع او په دې دعاکې شرکت له پاره سفر کول د اجر ذریعه به وي، ان شاء الله د قرآن کریم تلاوت په خپل ځای ډیر اهم او باعث ثواب دی[1]، د دواړو مقابله دې ونکړل شي، بلکې تلاوت دې هم وکړل شي او په اجتماع کې دې شرکت هم وکړل شي.

ښځو ته په تبلیغي جماعت کې تلل څنګه دي؟

سوال: د ښځو په تبلیغي جماعت کې تلل څنګه دي؟

جواب: تبلیغ والاوو د ښځو له پاره په تبلیغ کې د تګ خاص اصول او شرطونه ایښي دي، د دې اصولو په پابندي کولو سره د ښځو تبلیغي جماعت کې تلل ډیر ضروري دي، په دې سره به د دین فکر په خپل منځ کې هم پیدا شي او په امت کې به هم د دین والاوو عملونه ژوندي شي.

ایا د تبلیغ له پاره مخکې د مدرسې تعلیم ضروري دی؟

سوال: ځیني خلک وايي چې: دا تبلیغ د عالمانو کار دی، په دې کې چې کوم خلک څه نه پیژني، هغه ته پکار دي چې هغوی لومړی مدرسې ته لاړ شي او د دین کار زده کړي، وروسته دې دا کار کوي، ګني د هغوی تبلیغ حرام دی، ایا دا صحیح دي؟

جواب: غلط دي، څومره خبره چې مسلمان ته راځي، د هغه تبلیغ کولی شي[2] او په تبلیغ کې د وتلو مقصد د ټولونه مخکې پخپله زده کول دي، ځکه د تبلیغ عمل هم روانه او ګرځیدونکې مدرسه ګڼل پکار دي.

خلک د خیر طرف ته راوغوښتل قابل قدر دي خو انداز سخت نه دی پکار

سوال: جناب! زه پخپله لمونځ کوم او نورو ته د لمانځه کولو نصیحت کوم، خوزمونږ یوصوفي صاحب دی، هغه زه منع کړم او راته یې وویل چې: "جناب! تاسو چاته د لمانځه له پاره په سختو الفاظو کې مه وایئ، ځکه چې ستاسو په بار بار ویلو سره باوجود بل سړی د لمونځ کولو نه انکار کوي؛ نو داسې انکار کولو سره تاسو ګناهګاره کیږئ" خوجناب! زما مشن خو دا او دی هم چې که زه چاته بار بار وایم او که نن هغه انکار کوي؛ نو هیڅ خبره نه ده، شاید سبا د هغه په دماغو کې زما خبره کیني او هغه لمونځ شروع کړي، زه خو تر دې پورې سوچ کوم چې زه نه یم؛ نو زما له مرګ نه وروسته زما اواز خو به د هغهٔ په غوږونو کې ولګیږي او شاید بیا هغه لمونځ شروع کړي، په دې سلسله کې تاسو زما رهنمایي وکړئ چې ما ته څه کول پکار دي؟ امید دی

---

[1] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قرأ حرفًا من كتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر امثالها... الخ (ترمذی ج: ۲ ص: ۱۱۹، باب ماجاء في من قرأ حرفًا من القرآن ماله من الأجر)۔

[2] عن عبدالله بن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بلّغوا عنّي ولو آية...الخ (مشكوة ج: ۱ ص: ۳۲، كتاب العلم، طبع قديمى كتب خانه)۔

تاسو دقرآن اوحدیث په رڼا کې به زما پریشاني لرې کړئ.

جواب: ستاسودتبلیغ جذبه قابل قدرده، دورک شوي ورور خیرطرف ته راوستلواو راغوښتلو هر ممکن کوشش کول پکاردی، خود گفتگو اندازخیرخواهانه پکاردی، سخت او تند نه، چې ستاسو د خبروپه اندازسره خلکوکې د لمانځه نه نفرت پیدا نه شي.[۱]

کورکې ویلو نه پرته تبلیغ کې تلل څنګه دي؟

سوال: ځینې خلک خپل ښاریاخپل ملک پرېږدي، خپل کوراوقام ته دې ویلونه پرته چې هغه چیرته روان دی؟ اوڅومره ورځوله پاره روان دی؟ چې چاب کورنه وځي اوپه څه ځای باندې رسیدونه وروسته خپل کوروالوته دخط وغیره په ذریعه هم څه اطلاع نه ورکوي، بلکې په هغه اجنبي ښار یا ملک کې دمسلمانانوکلیمه صحیح کولو اودلمانځه په تلقین کولوکې مصروف اوسیږي اکثر دهغه کوروالا ته دهغوی په دې عمل سره پریشاني کیږي اودخرچ وغیره په نه ملاویدو سره شکایتونه هم پیداکیږي، هغه خلک داسې ۴،۵ یا ۶، ۷، میاشتې، بلکې یویو کال بهرتیروي، هغه ته هغوی"چله" وایي اوپخپله هم ګڼي اونورخلک هم پوه کوي چې څوک څومره اوږده چله ورکوي هغه شان کامل انسان جوړیږي، داعمل ترکوم حد پورې صحیح دی؟ دکتاب او سنت مطابق دی؟ ایاصحابه کرامو رضي الله عنهم هم داسې چلې کړې وې؟ عربي کې چلې ته څه ویل کیږي؟ ځکه چې په اردو کې چله یوازې څلوېښتو ورځوپورې وي، هغه هم پیر، فقیر او روحاني عامل دڅه وظیفه وغیره ویلو وخت له پاره استعمالوي.

جواب: داسې کم عقل خو شاید په دنیا کې څوک نه وي چې هغه کال شپږ میاشتوله پاره د ملک نه بهرلاړشي، نه کوروالاوته وایي،نه په هلته تلوسره اطلاع ورکړي،نه دهغوی د خوراک څښاک سوچ کوي، داسې فرضي صورتونوباندې خوحکمونه نشي جاري کیدای، ترکومې پورې چې ددین دزده کولوښودلو عمل دی، دادمسلمان په ذمه فرض دی، که صحابه کرام رضي الله عنهم اوددین بزرګان هم زموږ پشان کورونوکې ناست وای؛ نوشایدموږ به هم مسلمانان نه وو، نه به تاسوته دسوال ضرورت و، نه چاته دجواب ورکولو، خوانه ښځه پرېږدي اوځي ،کوم خلک چې دیوڅوپیسوله پاره سعودي،دُبی،امریکې ته ځي او ډیرو ډیروکلونو پورې نه راځي، د هغوی په باره کې تاسوچیرته دمسئلې پوښتنه نه ده کړې! کوم خلک چې دین زده کولو له پاره یوه میاشت دوه میاشتې،څلورمیاشتوله پاره ځي،دهغوی په باره کې تاسوته دمسئلې پوښتنې کولو خیال راغی، زمامشوره داده چې دکوردخلکو دخوراک څښاک انتظام کولو نه وروسته تاسوهم څلورمیاشتوله پاره خوضرور تشریف یوسئ، له هغه نه وروسته تاسوماته ولیکئ، ځکه چې په دې وخت تاسوچې کوم څه لیک وفرمایئ، هغه به علي وجه البصیرت وي.

---

[۱] ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (النحل:۱۲۵)۔

د مورو پلار له اجازې پرته په تبليغ کې تلل

سوال: که مکي جماعت ګارډن کراچۍ ته لاړشي؛ نوخلک ورته "وهابي" وايي اوبل طرف ته په تلوسره ورته د "بريلوي" او "بدعتي" کيدو خطاب ملاويږي، زمايه ناقصه مشاهدې کې داغريبانان تبليغي جماعت والاصحيح دي اوزه په هرزيات څم، خودازمايه ناقص پوهه کې نه راځي چې دبوډا ګانو موروپلارهم رضامندي اودهغوی خدمت هم فرض دی، زمامطلب دی، چې کله وخت وي: نوځئ، ډېرو خو ميندې ناروغې هم وي او ځي، مادوه ځله درې درې ورځې لګولې دي، تاسو مهرباني وکړئ او ووايئ چې دهغوی له اجازې پرته مورږ په تبليغي جماعت کې تللی شو اوکه نه؟

جواب: دتبليغي جماعت په باره کې تاسوصحيح ليکلي دي چې دا ښه خلک دي، دهغوی نقل او حرکت په برکت سره الله تعالی د زرګونو انسانانو زندګۍ بدلې کړي دي، ځکه دهغو خلکو سره چې ځومره وخت تيرشي خوش قسمتي ده.

پاتې شوه داچې دموروپلارله اجازې پرته تګ جائز دی اوکه نه؟ نوپه دې کې تفصيل دی، که مورو پلاردخدمت محتاج وي اوځوک بل هم دخدمت کولو والانه وي، بياخوهغوی پرېښودل اوتلل چيرې هم نه دي پکار[1] اوکه هغوی ته دخدمت ضرورت نه شته ، يوازې ددې له وجې يې منع کوي چې دهغوی په زړه کې ددين محبت نه شته اوکه هغه هلک په بل ښارکې، بلکې په غيرملک کې ملازمت له پاره تلل وغواړي؛ نوموروپلاربه ډېره خوشالۍ سره هغه ليږي، ځکه چې ددنيا قيمت هغوی ته معلوم دی، ددين معلوم نه دی؛ نوپه داسې حالت کې تبليغ کې تلوله پاره دمورو پلار رضامندي هيڅ شرط نه دهه، ځکه چې په تبليغ کې وتل په حقيقت کې دايمان زده کولوله پاره دي اودايمان زده کول اهم ترين فرض دی.[2]

---

[1] وقال تعالى: وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاهُمَا فَلا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً، وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ (الاسراء:۲۳) أ أيضًا: يفرض على صبى و بالغ له أبوان أواحدهمالأن طاعتهمافرض عين وفى الشامية: قوله وبالغ له ابوان مقاده انهما لايأثمان فى منعه وإلالكان له الخروج........ مع انهما فى سعة من منعه إذاكان يدخلهمامن ذالك مشقة شديدة (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج: ٤ ص: ١٢٤، مطلب طاعة الوالدين فرض عين، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[2] طلب العلم والفقه إذاصحت النية أفضل أعمال البروكذا الاشتغال بزيادة العلم إذاصحت النية لأنه أعم نفعًا لكن بشرط ان لايدخل النقصان فى فرائضه (فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ٦ ص: ٣٧٨، الفصل السادس والعشرون فى الأوقاف. فتاوى شامى ج: ٦ ص: ٤٠٧، فصل فى البيع)۔

دتبليغي جماعت نه د مور و پلار خپل اولاد منع کول

سوال: دتبليغي جماعت سلسله څنګه چې تاسوته به زمانه بهترعلم وي، که مور په تبليغي کارونوکې برخه واخلو خوکوروالا موددې کارنه ځکه منع کوي چې په خپلوخپلوانوکې به هغوی وشرميږي هغوی به چاته دشکل ښودلو قابل پاتې نه شي چې دهغوی هلک "تبليغي" شوی دی، په داسې صورت کې څه کول پکاردي؟ ايا داسې مبارک کار پريښودل پکاردي؟

جواب: دتبليغ کارچيرې هم مه پريږدئ، خودمورو پلاربې ادبي دې هم ونکړل شي[1]، بلکې ډيرپه صبر اوتحمل سره دې دهغوی سختې خبرې برداشت کړل شي، داخلک غريبان ددنيا دعزت او منصب قدر پيژني، ددين قدر اوقيمت نه پيژني، ضرورت دی چې هغوی په يو تدبير سره په دې باندې پوه کړل شي چې ددين پابندي دعزت شی دی اوبې ديني دذلت شی دی.

تبليغ کول او په جوماتونو کې بسترې اچول څنګه دي؟

سوال: تبليغ کول څنګه دي؟ اودتبليغي جماعت بسترو سره په جوماتونوکې پړاواچولو متعلق څه حکم دی؟

جواب: دتبليغ په نوم چې کوم کار کيږي، هغه دټولونه غټه فايده پخپله خپل ځان په دين کې پوخوالی پيداکول اوخپلو مسلمانانو وروڼو ته درسول اللهﷺ والا طريقودعوت ورکول دي، تجربه داده چې په خپل ماحول کې اوسيدوسره په انسان کې ددين فکرنه پيداکيږي، عمرونه تيرشي، خود کليمې، لمونځ صحيح کولوفکرهم ورته نه وي، په تبليغ کې وتلوسره احساس پيداکيږي چې ماخومره عمرپه غفلت او بې قدري کې تيرکړ اوخپل څومره قيمتي عمرمې ضائع کړ، ځکه په تبليغ کې وتل ډيرضروري دي اوترڅوپورې چې انسان په دې لارکې ونه وځي ددې حقيقت يې په پوهه کې نشي راتلای اوپه تبليغ کې وتلوسره ددين مقصد زده کول اونورته ښودل دي اوددين مرکزجوماتونه دي، ځکه دتبليغي جماعتونو دخدای په کورونوکې داعتکاف په نيت سره ايساريدل او ددين محنت کول بالکل په ځای او صحيح دي.

د "تبليغي نصاب" کمزوري روايتونه په جومات کې ويل

سوال: ايا "تبلغي نصاب" کې څه حديثونه دکمزورو شهادتونو والا دي؟ که دي: نودهغو په جومات اوکورونوکې ويل څنګه دي؟

---

[1] اوقضى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاهُمَا فَلا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً، وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيراً) (الاسراء:٢٣، ٢٤)۔

سوال: په فضائلو کې کمزوري روایتونه هم قبلیږي.[1]

په تبلیغي جماعت باندې اعتراض کونکو ته څه جواب ورکړو؟

سوال: په موجوده دور کې تبلیغي جماعت کارونه کوي، هریو دلمانځه طرف ته راغوښتل، تعلیم وغیره کول، خو خلک اکثر مخالفت داسې کوي چې دا جاهلان دي، دخپل ځان نه یې شیږ نمبرې جوړې کړي دي او بیوازې هم هغه بیانوي.

جواب: کوم خلک چې اعتراض کوي، هغوی ته دې وویل شي چې وروښو درې چلې، یوه چله، لس ورځې، درې ورځې په جماعت کې ووځه او بیې ګوره، بیا دخپلې رایې اظهار وکړه، ترڅو پورې چې وخت نه لګوئ، ددې کار حقیقت به موږه پوهه کې نه راځي او دڅه شي حقیقت پوهیدو نه پرته د هغه په باره کې رایه ورکول غلط وي.

ایا بدي کې مبتلا انسان بل ته نصیحت کولی شي؟ او چا ته خپلې غلطۍ ښودل څنګه دي؟

سوال: زه یو طالب علم یم، دطالب علمانانو ملګرو په محفل کې دشرابو او بیا دخودکشۍ تذکره شروع شوه، ما په توبه ویستلو سره وویل چې شراب "أم الخبائث" دي او "خودکشي" حرامه ده، په دې باندې یو طالب علم زمانه پوښتنه وکړه چې ته لمونځ کوې؟ ما په شرمندګي سره عرض وکړ نه! بیا هغه ماته احساس راوستلو چې تاسو ډیره هم خروئ؟ ما سرښکته کړ، په دې باندې موصوف وویل چې: اوس ته لمونځ (فرض دی) نه ادا کوې چې دهغه متعلق به دتولونه لوړې پوښتنه کیږي او ډیره هم خروې؛ نو بیا حرام (شراب او نورمعاشرتي بدی) دکومو درجه چې وروسته راځي. دهغه متعلق ولې فکرمند کیږې؟ "واضحه دې وي چې موصوف پخپله هم بیلمازه او ډیره خریلئ دی دمخکې ذکر شوي تفصیل په رڼاکې دذکر شویو سوالونو جوابونه راته وفرمایئ او زموږ دتولو دوستانو پریشاني ختمه کړئ!

سوال: ایا یو سړی چې هغه پخپله په دې ګناهونو او غلطیو کې مبتلا وي، یو بل سړي ته هم دهغو غلطیو او ګناهونو نه دمنع کولو او نصیحت کولو حق لري.

جواب: چا ته دهغه غلطي او ګناهونه اورول، دهغه دوه صورتونه دي، یوه دا چې محض دپیغور په ډول ورته دګناهونو طعنه ورکړل شي، دا خو حرام او ګناه کبیره ده، په قرآن کریم کې یې ددې

---

[1] ويجوز عندأهل الحديث وغيرهم التساهل فى الأسانيد ورواية ماسوى من الضعيف والعمل به من غير بيان ضعفه فى غيرصفات الله تعالى والأحكام كالحلال والحرام وغيرهما وذاك كالقصص وفضائل الأعمال والمواعظ وغيرهما مما لا تعلق له بالعقائدوالأحكام (تدريب الراوى ص: ۱۹۲، طبع دارالفكر، بيروت)۔

سخت منع فرمايلي ده[1] او دويم صورت دادی چې د خير خواهي په ډول هغه ته دا وويل شي چې دا ګناه پرېښودل پكار دي. دانصيحت كول دي، چې هغه ډېر ښه عمل دی، په قران او حديث كې د ګناهونو نه د منع كولو حكم ډېر راغلی د ی[2] پاتې شوه دا چې يو سړی پخپله په څه ګناه كې اخته وي، ايا هغه نورهم د دې ګناه نه منع كولی شي او كه نه؟ دهغه جواب دادی چې نورمنع كولی شي، خو په بل سړي باندې د نصيحت اثر هغه وخت كيږي چې كله پرې انسان پخپله هم عمل وكړي، داسې سړی چې هغه پخپله هم په ګناهونو كې مبتلا وي، كه بل نصيحت وكړي؛ نو هغه ته داسې ويل پكار دي چې "ورورهـ! چې پخپله هم ګناه ګار يم، په دې ګناه كې اخته يم، تاسو پخپله هم دا ګناه پرېږدئ او زماله پاره هم دعاوكړئ چې زه د دې ګندګئ نه ووځم."

سوال: ايا بيلمازه سړي ته هغه ټول حرام او ممانعت اختياركول پكاردي چې دهغه ذريعه وروسته راځي او چې دهغه نه هغه په مكمل ډول ډډه كوي.

جواب: يو جرم د بل جرم او يوه ګناه دبلې ګناه دَ جواز وجه نه جوړيږي، كوم سړی چې د نورو ګناهونو نه بچ كيږي، خولمونځ نه كوي هغه ته خو به دا ويل كيږي چې: "كله ماشاءالله تاسو د نورو ګناهونونه بچ كيداى شئ؛ نو تاسو دلمونځ نه كولو ګناه نه هم بچ كيدل پكاردي "خودا ويل جائز نه دي چې: "كله تاسو دلمونځ نه كولو ګناه نه نشئ بچ كيداى؛ نو د نورو ګناهونونه ولې پرهيز كوئ؟" خبره داده چې هغه د نورو ګناهونونه بچ كيږي، خو په يوه غټه ګناه كې مبتلا دی، الله تعالى به هغه ته يوه ورځ دهغې ګن. نه هم دبچ كولو توفيق وركړي، له دې نه پرته هره ګناه يو مستقل بوج دی، چې هغه انسان دځان له پاسه ږدي، بس كه يو انسان په څه ګناه كې اخته دی؛ نو د هغه دا معنا چيرې هم نه ده چې د ټولې دنيا ګندګي انسان راغونډول شروع كړي.

سوال: د نصيحت كونكي طرز عمل او د نصيحت انداز صحيح و يا غلط؟

جواب: د مخكې جوابونو نه به معلوم شوي وي، دهغه طرز عمل بالكل غلط و، دا نصيحت نه و؛ نو "انداز نصيحت" به څنګه وي؟

دكمپنى نه چوټي اخيستلو پرته تبليغ كې تلل

سوال: زه چې چيرته كاركوم، هلته زماسره څلورنورملګري هم دي، په عام ډول داسې كيږي چې يو يو ملګری يا دوه دوه، لس دولس ورځو له پاره په كاربانديې نه راځي او حاضري يې لګيږي، دا جوتيانې په نمبرنمبر وي، كله چې زما نمبر راځي؛ نو زه اكثر دلس ورځوله پاره په تبليغ كې وځم او حاضري مې لګيږي، اوس دا ووايئ چې دا زما په تبليغ كې تلل څنګه دي؟ ايا

---

[1] قال تعالى: وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ (الهمزة: ۱) قال تعالى: وَلَاتَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَاتَنَابَزُوابِالْأَلْقَابِ (الحجرات: ۱۱)

[2] قال تعالى: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ (آل عمران: ۱۱۰)

ګناه خونه ده؟ زما په تلوسره د کمپنۍ څه نقصان هم نه کېږي، په تفصیل سره جواب راکړئ او زما د تلو افسرانو ته پته نه لګېږي.

جواب: د کمپنۍ نه چوټي اخيستلو نه پرته غيرحاضري کول خيانت دی او هغه وخت په يو بل کار کې استعمالول ناجائز او حرام دي، تاسو ته لازمي ده چې د غيرحاضري د ورځو تنخوا وصول نه کړئ.[1]

دامر بالمعروف او نهي عن المنكر شرعي حيثيت

سوال: په قرآن مجيد کې او په احاديثو کې هم داسې ډير حديثونه موجود دي او د هغو اياتونو او حديثونو مفهوم داسې جوړيږي، چې د مسلمان له پاره نه يوازې دا چې هغه پخپله نيک عمل وکړي، بلکې نورو ته دې هم نصيحت وکړي، داسې نه چې يوازې پخپله د بدو کارونو نه پرهيز وکړي، بلکه نورو ته هم له بدونه دبچ کولو ترغيب ورکړي، د دې کار په نه کولو په حديث مبارک کې وعيد هم راغلی دی، سوال دا دی چې امربالمعروف ونهي عن المنكر فرض دی، يا فرض کفايه، يا واجب دی؟ يا يو بل شکل، يا دا چې په مختلفو صورتونو کې مختلف حکمونه لري؟

جواب: مسئله ډير تفصيل لري، مختصردا چې امربالمعروف او نهي عن المنكر فرض دی، په دوو شرطونو سره:

۱: دا چې يو سړی د مسئلې نه ناخبر وي. ۲: دا چې د قبليدو توقع غالبه وي.

که دا دوه شرطونه په کې ونه موندل شي؛ نو فرض نه دی، البته په شرط د نفع مستحب دی او که د نفع په ځای د نقصان انديښنه وي؛ نو مستحب هم نه دی.[2]

سوال: نن سبا د دعوت او تبليغ په نوم سره په جماعتونو کې چې کوم محنت کيږي او په دې سلسله کې چې کومې اجتماعګانې کيږي، له دې سره تعلق جوړول او په دې کې شموليت اختيارول فرض دي يا د دې څه حيثيت دی؟ له دې نه پرته دا چې زه د ډيرو علماوو کرام مجلسونو ته ځم، خو هغوی چيرې هم ځلوينبت ورځې، ځلور مياشتې يا په اجتماعګانو باندې

---

[1] قوله: والأجير الخاص هوالذى يستحق الأجرة بتسليم نفسه فى المدة .... وانما سمى خاص لأنه يختص بعمله دون غيره، لأنه لايصح أن يعمل لغيره فى المدة (الجوهرة النيرة ص: ۲٦۹، كتاب الإجارة) الثانى: وهوالأجيرالخاص، ويسمى أجيروحيد، وهومن يعمل لواحد عملامؤقتًا بالتخصيص......... كمن استؤجر شهرالللخدمة أوشهرا لرعى الغنم المسمّى بأجرمسمّى........ وليس للخالص أن يعمل لغيره، ولوعمل نقص من أجرته بقدرماعمل (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٦۹، ۷۰ باب ضمان الأجير، طبع سعيدكراچى)۔

[2] ان الأمربالمعروف على وجوه إن كان يعلم بأكبر رأيه أنه لو أمربالمعروف يقبلون ذالك منه ويمنعون عن المنكرفالأمرواجب عليه ولايسعه تركه ولوعلم بأكبر رأيه أنه لو أمرهم بذالك قذفوه ....ولا يصبرعلى ذالك ويقع بينهم عداوة............فتركه أفضل ...إلخ (فتاوى عالمگيرى ج: ٥ ص: ۳٥۲، ۳٥۳)

زرو نه دی ورکړی. بلکې دا اکابروحضرات په انفرادي عملونو باندې او زهد او تقوا باندې زيات زور ورکوي، زما رهنمايي وکړئ چې يو مسلمان ته څنګه مکمل ژوندتيرول پکار دي؟

جواب: ددعوت او تبليغ چې کوم محنت چليږي، دهغه دوه طرفونه دي:

۱ يودخپل خان اصلاح کول اوپه خپل خان کې ددين طلب پيدا کول. بس کوم سړي ته چې ددين دضرورياتو واقفيت، دخپلې اصلاح فکر اوبزرګانوسره رابطه او تعلق وي، دهغه له پاره داکافي ده اوکوم سړي ته چې داشيان حاصل نه وي، دهغه له پاره ددې تبليغ کارسره تعلق جوړول دبدليت په طورفرض دي[۱]

۲ اوبل طرف دنورو خلکو داصلاح فکرکول دي، دا فرض کفايه دي[۲]،کوم سړی چې په دې کارکې لګيږي، داجر مستحق به وي اوڅومره خلک چې دهغه په محنت سره په دې کارکې لګيږي، دهغو ټولو اجربه دهغه په عمل نامه کې ليکل کيږي اوکه څوک ورسره تعلق نه جوړي هغه ګناه ګارنه دی، خوددې خاص اجر نه محرومه دی، مګرکه ددې نه هم زيات په اهم کارکې مشغول وي.

امربالمعروف اونهي عن المنكرد الهي عذاب دمنع کولوذريعه ده

سوال: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! ان شاء الله په خيريت سره به ياست، دبينات ترسيل جاري دی، په وخت ملاويدو باندې خوشاله يم، خدای تعالی دې وکړي چې بينات دامت مسلمه دااميدونو ائينه دار جوړشي، يوعرض دی چې ديني رساله خالص ديني کيدل پکاردي. په چاباندې اعتراض اوتشنيع زماناخوښه وي اودې سره دنفرت جذبه پيداکيږي، دصدرضياء الحق په بياناتوباندې اعتراض يقينا په عوامو کې دنفرت دخورولوذريعه جوړيږي. له کوم سره چې دملک بنيادونه دکمزوري کيدوخطره ضرور ده، هسې هم ملک داخلي اوخارجي خطراتوسره مخ دي، يوخوبهارت سترګې سرې کړې دي، بل لوري ته دکارمل دانتظاميې له وجې دوروس اواز اوريدل کيږي اوبل لوري ته خميني داسلامي انقلاب دراتلوخبرې اوريدل کيږي. عرض داچې په داسې حالاتوکې يوه وړه سکروټه هم پوره پاکستان بربادولی شي، په دې صورت کې بياداذمه واری په چاباندې عائدکيږي؟ په دې باره کې په تفصيل سره رڼاواچوئ؛ نوستاسوبه ډيره مهرباني وي.

---

[۱] واعلم أن تعلم العلم يكون فرض وهوبقدرمايحتاج لدينه وفى الشامية: أى العلم الموصل إلى الآخرة .... قال العلامى فى فضوله: من فرائض الإسلام تعلم مايحتاج إليه العبد فى إقامة دينه وإخلاص عمله لله ومعاشرة عباده (فتاوى شامى ج: ۱ ص: ۴۲، مقدمة الكتاب، مطلب فى فرض الكفاية وفرض العين)۔

[۲] اعلم ان تعلم العلم .... فرض كفاية، وهو مازادعليه لنفع غيره وفى الشامية: مازادعليه أى على قدرمايحتاج لدينه فى الحال (درمختارمع ردالمحتار ج: ۱ ص: ۴۲، مطلب فى فرض الكفاية وفرض العين)۔

جواب: ستاسو دا خبره خو صحیح ده چې وطن عزیز ډیر وزیاتو داخلي او خارجي خطراتو کې راګیر شوی دی او دا خبره هم بالکل صحیح ده چې په حکومت کې بې اعتمادي پیدا کول دعقل نه خلاف ده، خوجناب ته معلومیدل پکاردي چې په بینات کې ماهیځ قسمه تحریر دصدر جنرل ضیاء الحق صاحب دځه سیاسي فیصلې په باره کې کله هم څه خبره کړې نه ده. کار مملکت خسروان دانند

خو تر کومې پورې چې ددیني غلطي تعلق دی؛ نو هغه بیانول نه یوازې داچې د اهل علم فرض دي ،اوزه افسوس او پښیمانتیا سره اعتراف کوم چې موږ دافرض یو فیصده هم نه دی اداکړی ، بلکې داپه خپله دصدر مملکت په حق کې دخیر باعث هم دی، په دې سلسله کې تاسو ته دامیر المومنین حضرت معاویه بن سفیان رضي الله عنه کیسه اوروم، کومه چې حضرت مولانا یوسف دهلوي قدس سره په ((حیاة الصحابه)) کې نقل کړې ده:

وأخرج الطبراني وأبو يعلى عن أبي قنيل[1] عن معاوية بن أبي سفيان أنه صعد المنبر يوم القمامة فقال عند خطبته: إنما المال مالنا والفيء فيئنا فمن شئنا أعطيناه ومن شئنا منعناه فلم يجبه أحد فلما كان في الجمعة الثانية قال مثل ذلك فلم يجبه أحد فلما كان في الجمعة الثالثة قال مثل مقالته فقام إليه رجل ممن حضر المسجد فقال: كلا إنما المال مالنا والفيء فيئنا فمن حال بيننا وبينه حاكمناه إلى الله بأسيافنا فنزل معاوية فأرسل إلى الرجل فأدخله فقال القوم: هلك الرجل ثم دخل الناس فوجدوا الرجل معه على السرير فقال معاوية للناس: إن هذا أحياني أحياه الله سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: سيكون بعدي أمراء يقولون ولا يرد عليهم يتقاحمون في النار كما تتقاحم القردة وإني تكلمت أول جمعة فلم يرد علي أحد فخشيت أن أكون منهم ثم تكلمت في الجمعة الثانية فلم يرد علي أحد فقلت في نفسي إني من القوم ثم تكلمت في الجمعة الثالثة فقام هذا الرجل فرد علي فأحياني أحياه الله.

(قال الهيثمي (ج:٥ ص:٢٣٦) رواه الطبراني في الكبير والاوسط وابو يعلى ورجاله ثقات.

انتهى. حياة الصحابه. ج:٢ ص:٦٨٦)

ترجمه: حضرت معاویه بن ابي سفیان رضي الله عنه دقمامه په ورځ ممبر ته تشریف یوړلو او په خپله خطبه کې یې وفرمایل: مال زمادی او فئ (غنیمت) زموږ دی، زموږ چې چاته خوښه وي وربه یې کړو او چاته چې موخوښه وي وربه یې نه کړو، دهغه رضي الله عنه داخبره چې چاواوریده، هیچا

[1] كذا فى الأصل (يعنى مجمع الزوائد) والظاهر ،،أبي قبيل،، اسمه حي بن هانى المعافرى وهوثقة، كذا فى كتاب الجرح والتعديل لابن أبي حاتم الرازى (ج: ١ ص: ٢٧٥)۔

جواب ورنه کړ، دويمه جمعه راغله، حضرت معاويه رضي الله عنه په خطبه کې همدغه خبره بيا وکړه، اوس هم چا جواب ورنه کړ، دريمه جمعه راغله، بيايي همدغه خبره وکړه، داخل په جومات کې موجود وکسانو نه يوکس پورته شو اوويې ويل. هيڅ کله نه! دامال زموږ ده اوغنيمت هم زموږ دی، کوم کس چې زموږ اودده ترمينځه راشي؛ نوموږ به دخپلې تورې په ذريعه ددې فيصله دالله تعالى په دربارکې وړاندې کړو، حضرت معاويه رضي الله عنه له ممبرنه راښکته شو. هغه کس يې راوغوښت اوهغه يې له ځان سره دننه بوته، خلکوو ويل چې:

داکس ووژل شو، بياخلک دننه ورغلل، ويې کتل چې هغه کس دحضرت امير معاويه رضي الله عنه سره په تخت ناست دی، حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه خلکوته وفرمايل چې: دې کس زه راژوندی کړم، الله تعالى دې دې ژوندی وساتي، ماپه خپله درسول الله صلی الله علیه وسلم دا اوريدلي دي چې: زمانه وروسته به څه حاکمان وي چې خلاف شريعت خبرې به کوي، خوهيڅوک به هغوی نه منع کوي، داخلک به په دوزخ کې داسې ننوځي څنګه چې بزوګان ننوځي، ماپه لومړۍ جمعه يوخبره وکړه، په هغه باندې زه چامنع نه کړم؛ نوزماسره ويره شوه چې چيرته زه همدغه خلکونه شم، بياماپه دويمه جمعه هم هغه خبره وکړه، په دغه ځل هم چا زما ترديدونه کړ، ماپه خپل زړه کې سوچ وکړ، زه هم له هغوی نه يم، بياماپه دريمه جمعه دغه خبره وکړه؛ نودې کس زه منع کړم، ده زه ژوندی کړم الله تعالى دې دی ژوندی وساتي.

اودانه يوازې دصدرمحترم په حق کې خيروبرکت شی دی، بلکې دامت صلاح اوفلاح هم په دې کې ده، دحضرت حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

((والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر أو ليوشكن الله أن يبعث عليكم عقاباً منه ثم تدعونه فلا يستجاب لكم)) (رواه الترمذي، مشكوة،ص:۴۳۶)

ترجمه: په هغه ذات مې دې قسم وي دچاپه قبضه کې چې زماروح دی! تاسوته به په نيکۍ حکم کوئ اوله دبدو نه به منع کوئ ، ګني نژدې ده چې الله تعالى په تاسوباندې عذاب نازل کړي، بيابه تاسوهغه ته دعاګانې کوئ اوستاسودعاګانې به نه اوريدل کيږي.

دارشادات نبويه په رڼاکې راقم الحروف سره دااحساس دی چې دامربالمعروف اونهي عن المنكر عمل دعذاب الهي دمنع کولو يوذريعه ده، نن چې په امت باندې دقسماقسم مصيبتونه راروان دي اوموږ په ګڼ شميرخطراتوکې راګېرشوي يو؛ نوددې لويه وجه داده چې داسلامي معاشرې ((احتسابي حس)) کمزوری اود((نهی عن المنكر)) اوازډيرکم شوی دی، په کومه ورځ چې دا اواز بالکل خاموش شو، په دغه ورځ به موږ ته دالله تعالى دګرفت نه خلاصولو والا هيڅوک نه وي، الله تعالى دې موږ ددې بدې ورځې نه محفوظ وساتي. امين!

د تبليغ فريضه او د كور ذمه داري

سوال: ځينې حضرات درې ورځې، عشره (لس ورځې)، څلويښت ورځې. څلورمياشتې يا دكال له پاره اكثر كورونه اوبچي پرېږدي او دعلاقې ياښارنه بهرځي، ددين خبرې زده كولو او نوروته ښودلو له پاره، اكثرخلک دې ته سنت او څه خلک دې ته دفرضو درجه وركوي، يوعالم ويلي دي چې دانه سنت دي نه فرض، بلكې دا يوه دبزرګانو طريقه ده، چې عام خلک ددين خبرو باندې پوه شي او په دې باندې عمل وكړي، ددې حثيت واضح وفرمايئ.

جواب: دعوت او تبليغ كې سره د وتلو مقصدخپله اصلاح اوخپل ايمان اوعمل صحيح كول دي او دايمان زده كول فرض دي؛ نودهغه ذريعه به هم فرض وي، البته كه چاايمان صحيح كړاوبه ضروري عملونوكې هم يې كوتاهي نه كوله؛ نودهغه له پاره به دفرضو درجه نه وي.

سوال: په تبليغ باندې تلووالا څه حضرات دكوروالاوو خيال نه پرته ځي، چې په هغه سره دهغوی ښځه بچيو وغيره ته معاشي پريشانی كيږي اوهغوی بيا قرضونه غواړي.

جواب: هغوی ته پكاردي چې دغيرحاضري دورخوبندوبست وكړي، بيالاړشي كه قرض ولې وانخلي، چې بچي يې پريشانه نه شي.[1]

سوال: داسې څه حضرات اكثرخپل كوركې ويلونه پرته څه خلک ميلمانه جوړكړي راولي يي او داله يونه زيات وارې كيږي، دنن سبا په معاشي حالاتوكې كوروالا په داسې طرزعمل سره پريشانه كيږي اوخلک دهغوی متعلق غلطې خبرې كوي.

جواب: په دې كې دكوروالا دپريشاني خوڅه خبره نه شته، دكوم سړي په ذمه چې دكور اخراجات دي هغه ته دفكركيدوضرورت دی، غلطې خبرې خوخلک دانبياءكرام عليهم السلام اوداولياء په باره كې هم مشهورې كوي، دعوامو خبروته التفات كول غلط دي، كتل دادي چې شرعي نقطه نظرسره صحيح دي اوكه نه؟ هغه هم مخكې ذكرشوي دي.

سوال: اكثرخلک له دې وجې په تعليمي حلقوكې چې دماخسوتن دلمانځه وروسته په جوماتونو كې كيږي، دشركت كولونه ويريږي اوخپل خپلوان هم ترې منع كوي، ځكه چې په هغو محفلونو كې ددرې ورځو وغيره دعوت وركول كيږي اوپه هغو باندې زور وركول كيږي.

جواب: كوم خلک چې ددې نه ويريږي، هغه خپل نقصان كوي، له مرګ وروسته به هغوی ته پته ولګيږي چې هغوی خپل څومره نقصان سره ددې دنيانه تللي دي اوتبليغ والا څومره ګټه وكړه اولاړل.

---

[1] قوله تجب النفقة للزوجة على زوجها والكسوة بقدرحالهما.......... لقوله تعالى: لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ ...إلخ (البحرالرائق ج:٤ ص: ١٨٨، باب النفقة، طبع دارالمعرفة بيروت)_

ايا په تبليغ کې د وتلو خرچ ثواب داوو لاکو برابردی؟

سوال: دتبليغ والا وايي چې دالله په لارکې ووتلوسره له خپله ځانه دپاسه ديوې روپۍ خرچ کولو ثواب داووه لاکو روپيوصدقه کولو برابرملاويږي اوديولمونځ ادا کولو ثواب د يوکم پنځوست کروړو لمونځونو برابر ملاويږي، ايا دا صحيح دي؟

جواب: د حديث نه دامضمون ثابتيږي.

تبليغيان څنګه خلک دي؟

سوال: تبليغي جماعت والا څنګه خلک دي؟

جواب: ډيرښه خلک دي، دخپل دين له پاره سختۍ پورته کوي.

سوال: تبليغي جماعت والا وايي چې دالله تعالى په لارکې ووځئ، دالله تعالى په لارې کې د يولمونځ ثواب ديوکم پنځوست کروړو لمونځونو برابردی، خومااوريدلي دي چې دا ثواب په جهاد في سبيل الله کې دی؟

جواب: تبليغي کار هم د جهاد في سبيل الله په حکم کې دی.

سوال: تبلغي حضرات وايي چې دانفرادي عمل نه اجتماعي عمل بهتردی.

جواب: په اجتماعي کارکې شريکيدل پکاردي، خوپه بل وخت کې دخپلو انفرادي عملونه هم اهتمام کول پکاردي.

"فضائل اعمال" باندې د يو څو شبهاتو جواب

سوال: يودوست له انډيا نه کتاب راوړی دی" تبليغي نصاب،ايک مطالعه" تابش مهدي صاحب ليکلی دی، دهغه دعوه داده چې په "تبليغي نصاب" کې موضوع، ضعيف او د عقل نه لرې، دکتاب اوسنت دتعليماتوخلاف واقعات او ټول هرڅه هم په دې تبليغي نصاب کې موجوددي اوشيخ الحديث (رح) په عربي کې احاديث ليکلي دي په هم په عربي کې يې ويلي دي چې دا روايت موضوع دی، ضعيف دی يا مردود، خوپه اردو کې يې دا نه دي ليکلي کوم چې په بې ايماني کې راځي او درخواست دی چې علماء ديوبند ددې کتاب نه داسې احاديث اوحکايتونه او خوبونه به ترې لرې کړي چې کوم داسلامي مزاج سره يوشان والی نه لري اوداکتاب يوازې دالله تعالى درضا له پاره اوهم دګمراهي دبچ کولو له پاره يې ليکلی دی، په دې کتاب کې يې ليکلي دي چې دديوبند غټ غټ علماء هم ددې کتاب نه خبردي اودهغوی په ژوندکې کله هم چې دديوبندعلماوو ته ووېل شو، نوجواب دا ملاو شو چې "که دتبليغی نصاب په ذکر شويو غلطيو باندې تنقيدوکړای شو؛ نوشيخ الحديث(رحمه الله) به خفه شي" اودا خبره دشريعت نه بهروه، ځکه تابش مهدي صاحب چې دماهنامه "الايمان" ديوبند مديردی يا

و، دې طرف يې توجه وفرمايله او همت يې وکړ، وغيره وغيره، نن هم د هغه کتاب له وجې ډير دوستان چې هغوی د مخکې نه هم څه ددې جماعت سره متنفروو، اوس خو يو هتهيار دهغوی په لاس دی، حق خبره، هم حق وي، (په شرط ددې چې دحق تفصيل هغه پيژني) ، کې دا صلاحيت ساتي، ځکه دحضرت په خدمت کې دا يو څو شيان عرض کوم:

۱: تحريف قرآن کا عظيم نمونه" په رڼاکې چې څه ليکلي دي، خلاصه يې ليکم، دقرآن حکيم دهريو ايت يادجملې هغه معنا اخذکول چې کومه دالله تعالی دخوښې خلاف وي، تحريف ورته وايي اوچا چې په قرآن کريم کې تحريف وکړ، ددې مطلب دادی چې هغه داسلام بنياد اوړقولو او دداسې سړي تعلق، داسلام سره ترکوم حده قائم پاتې کيدای شي؟ قاريان ترې خبردي چې دسورة قمرپه ايات: "**ولقد يسرنا القرآن للذكر فهل من مدكر**" ترجمه هرعالم هم هغه کړې ده کومه چې دالله تعالی دخوښې مطابق ده، ددې نه وروسته مولانااشرف علي تهانوي(رحمه الله)، شيخ الهند(رحمه الله)، مولاناشاه رفيع الدين(رحمه الله)،مولاناشاه عبدالقادردهلوي(رحمه الله) ترجمه يې وړاندې کړې ده، بيايې دشيخ سعدي(رحمه الله) او شاه ولي الله(رحمه الله) ترجمه وړاندې کړه، يوه ترجمه يې ليکم: په تحقيق سره موږ قرآن دنصيحت اخيستو له پاره اسان کړی دی، ايا يو نصيحت اخيستونکی شته،، په فضائل قرآن کې ص:۵۴ باندې دی، اصل خبره داده چې د کلام الله شريف حفظ کيدل چې دا پخپله دقرآن شريف يوه ښکاره معجزه ده، ګني ددې نه د نيم، د دريمې برخې دمقدارکتاب هم يادول مشکل نه، بلکې قريب محال دي، له دې وجې حق تعالی شانه ددې يادولو ته سورت قمرکې په ډول داحسان ذکر فرمايلی او باربار يې په دې باندې تنبيه فرمايلې،

دآيت ترجمه : "موږ دقرآن پاک حفظ کولوله پاره اساني ايښې ده، څوک شته حفظ (يادولو) والا "(فضائل اعمال ص:۲۶۰).

۲: دحضرت شيخ الحديث(رحمه الله) پلاراوحضرت حسين(رضي الله عنه) په بيان کې دي: سيدالسادات حضرت حسين(رضي الله عنه) خپل وروړسره حضرت حسن(رضي الله عنه) نه هم يوکال وړوکی و، ځکه دهغوی عمردحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) دوفات په وخت بيخي کم و، يعنی شپږ کاله او ديو څومياشتو، دشپږکالو بچيو ايا ددين خبرې محفوظ کولی شي؟ خودامام حسين(رضي الله عنه) روايتونه دحديث په کتابونوکې نقل کيږي، محدثينو داپه هغه جماعت کې وشميره له کومونه چې اته حديثونه نقل دي.

په حکايات صحابه(رضي الله عنهم) ص:۱۲۳کې حضرت شيخ الحديث(رحمه الله) دفايدې لاندې دا ويلي دي چې دداسې قسمه ذهانتي واقعات دحضرت حسين(رضي الله عنه) په ژوندکې يوازې نه، دنورو ډيرو صحابه کرامو(رضي الله عنهم) په ژوندونو کې موندل کيږي، بيادفايدې په ضمن کې حضرت شيخ الحديث ددې نه هم دزيات قابليت تذکره فرمايلې ده: "مادخپل والدصاحب نورالله مرقده نه هم ډيرډير اوريدلي دي اودخپل کورد بوډی ګانونه مې هم اوريدلي دي چې زما والدصاحب

دپیونه جداشو: نودسپارې دپاو حفظ یې کړی و او داووه کلنو په عمر یې قرآن شریف حفظ یې پوره کړی و اودخپل والدصاحب یعنې زمانیکه صاحب نه یې دمخفې فارسي هم څه برخه دبوستان، گلستان، سکندر نامه وغیره هم ویلي و (ایضاً ص:۱۶٤)

تاسو وگورئ چې حضرت مؤلف(رحمه الله) په سادگۍ او حکمت سره دخپل پلار په حضرت حسین رضي الله عنه اوپه نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم او علماء باندې فوقیت ورکړ، که حضرت حسین رضي الله عنه دشپږوکلونوپه عمرکې یوځوحدیثونه یادکړل؛ نوځه قابل ذکرخبره وشوه، داسې قسمه قابلیت خوپه نوروخلکوکې هم موندل کیږي، دحیرت خبره خو داده چې دحضرت شیخ(رحمه الله) والدصاحب دمور دپیو پرینبودو نه مخکې پاو سیپاره حفظ کړې وه چې بچې په هغه عمرکې خبرې هم په مشکله کوي، په دې واقعه بیانولو سره مؤلف محترم صاحب خپل والدنه یوازې داچې په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې فوقیت ورکړ، بلکې په حضرات انبیاء علیهم السلام نه یې هم مخکې کړ، داسې قسمه واقعات خودهغوی په ژوندکې به عجیبه ملاوشي، حضرت عیسی علیه السلام به دموږپه غیږکې یوازې یوځوالفاظ ویل او دلته دپاو سیپارې ذکردی،

۳: "حضورصلی الله علیه وسلم باندې یولوی بهتان" دلاندې دی: وینه الله تعالی حرام گرځولې ده، که هغه دهرچاوي، دالله تعالی ارشادمبارک دی:"**انما حرم علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر**" (النحل :۱۱۵) سورت بقرة آیت:۱۷۳ اوسورة المائدة آیت:۳ کې همداحکم من وعن موجودی، دا مسلم اصول دي چې په دې معامله کې دقرآن یا حدیث صریح حکم موجود وي، په دې کې دڅه قسمه تاویل او منطق گنجائش باقي نه پاتې کیږي، لهذا دقرآن شریف په نزد وینه همیشه همیشه اودهرسړي انسان له پاره حرام دي، اوس که یې څوک په خپلې خوښې سره جائزگڼي؛ نوددې مطلب دادی چې هغه دالله تعالی دحکم خلاف ورزي کوي، ددې معروضاتو نه وروسته دشیخ الحدیث(رحمه الله) یو فکرهم ملاحظه کړئ.

حضورپاک صلی الله علیه وسلم یوځل ښکر ولگاوه اوکومه وینه چې راووته هغه یې حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه ته ورکړه چې دا چیرته ښخه کړه، هغه لاړ او راغی عرض یې وکړ چې ښخه مې کړه، حضورپاک صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه، چیرته؟ عرض یې وکړ: ما وڅښله، حضورپاک صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دچابدن ته چې زماوینه لاړه شي، هغه دجهنم اورنشي سوځولی.(حکایات صحابه رضي الله عنهم ص:۱۷۳).

ددې مضمون دویم روایت هم ملاحظه کړئ!

داحدپه جنگ کې چې کله دنبي پاک علیه السلام په مخ مبارک کې یا سرمبارک کې د خود دوه حلقې تلې وې ---- الخ: نودحضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه والدصاحب مالک بن سنان په خپلو شونډو سره هغه وینه څښلې وه ---- الخ.(حکایات صحابه رضي الله عنهم ص:۱۷۳).

دویم روایت مایوازې داشارې په ډول لیکلی دی، پوره مې نه دی لیکلی.

هم دیومضمون دا دوه منقوله روایتونه دي، یودخمیس په حواله اودویم قرة العیون په حواله

سره، دادواړه کتابونه د اهل علمو په نزدې "میلاد اکبر"، "میلاد گوهر" یا "یوسف زلیخا" او "جنگ زیتون" پشان غیر مستند او گمراه کن دي.

لومړۍ خبره خو داده چې داسې دشریعت خلاف حرکت یو صحابي یا رسول چیرې هم نشي کولی، د داسې وینې حرام کیدل په قرآن مجید کې په ښکاره ډول موجود دي، خو که لږ وخت له پاره دا فرض کړئ چې حضرت ابن زبیر او مالک بن سنان رضی اللہ عنہم په محبت کې دراتلوله وجې به یې دخپلې محبوبې وینه څښلې وي، اګرچې زړه ددې له پاره هم راضي نه دی، خو داخبره څنګه ومنې چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم هغه دواړه صحابه د هغه قرآني عمل خلاف نه د منع کولو په ځای هغوی ته د دوزخ نه دخلاصي خوشخبري ورکړه او داویل چې دچاپه بدن کې زما وینه لاړه شي هغه ته به دجهنم اور نه نزدې کیږي، اینده له پاره اجازه، بلکې ترغیب یې ورکړ، څکه حضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم رسول و، دنبي اورسول یوه یوه ساه دهغوی دشریعت نمایَنده وي، دنبي ژبې نه وتلې خبره شریعت جوړیږي، څکه دداسې عظیمې هستۍ طرف ته داسې قسم دغلطې خبرې انتساب بې حده ناجائز او غلط دي، دټولونه پرته دحضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم نظافت طبعي هم ددې روایت تکذیب کوي.

غالبا دحضرت شیخ الحدیث (رحمہ اللہ) دنظرنه دحضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم دا حدیث به ضرور تیرشوی وي: "**من کذب علی متعمدًا فلیتبوا مقعده من النار**" بې شکه حضرت شیخ الحدیث دابې سنده روایت بیانولو سره په رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم باندې دیو عظیم تهمت ارتکاب کړی دی، بیا یې دفایدې په نوټ کې لیکلي دي: دحضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم فضلات پاخانه متیازې وغیره ټول پاک دي، څکه په دې کې هیڅ شک نه شته. (حکایات صحابه رضی اللہ عنہم ص:۲۷۲) خو موصوف مرحوم دا ویلي چې هغوی ته داخبره له کوم ځای نه ملاوشوه؟ یا ستاسو صحابه رضی اللہ عنہم عملا ددې ثبوت ورکړ؟ مخکې یې لیکلي دي خیر! محترم شیخ الحدیث (رحمہ اللہ) خو په دې دنیاکې اوس پاتې نه دی، هم دده خلفاوو په خدمت کې خواست دی چې هغوی په یو مستند حوالې سره کم نه کم داسې دیو صحابي نشاندهي وفرمایي چې هغوی دحضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم فضلات پاخانه متیازې وغیره بې وګیلې او دامت له پاره یې حلال او دپاک کولو ثبوت یې ورکړی وي، زه دهغوی بې حده ممنون او شکر ګزاریم.

۴: د "یه اعجوبې" لاندې، زه یوازې یوه خبره نقل کوم، په فضائل صدقات کې ص: ۴۷۲ باندې دیو بزرګ په باره کې یې ویلي دي چې هغه به روزانه لس زره رکعتونه په ولاړه، لس زره به یې په ناسته کول، خوبل طرف ته یو رکعت دیو منټ په حساب سره داسې په درې دیرش ګنټو کې ممکن دی او په شپه او ورځ کې ټول څلیریشت ګنټوکې کیږي، اخر دنور زیات نهه ګنټې له کومه ځایه راغلې؟ دجواب منتظر به یم. مهتاب احمد، سلطنت عمان

جواب:

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وسلام علی عباد الذين اصطفی!

دتابش مهدي دا کتاب د ډيرو کلونو مخکې له نظره تيرشوی دی او دځينو مشرانو په ضد باندې دا داغ هم هغه وخت پيدا شوی و چې دهغه جواب دې وليکل شي، خودکتاب دمطالعې نه وروسته معلومه شوه چې دکتاب مصنف نه خودعلم حديث دفن نه واقف دی اونه په نورو اسلامي علمونو باندې دهغه نظردی، دهغه غريب علم او پوهه حدوداربعه څه داردوکتابونو او رسالو سطحي مطالعه ده اوبس -----! دداسې سړي په ترديدباندې يقين کول محض دوقت ضائع کول دي.

بل طرف ته دحضرت شيخ نورالله صاحب مرقده رسالوته الله تعالی داسې مشهورتيانصيب فرمايلې ده چې دټولې دنياپه مختلفو ژبوکې دهغه رسالومذکرې کيږي اودشپې ورځې په ځليريشتو ګنټوکې شايديووخت به هم داسې نه تيريږي، چې په هغه کې ددنياديونه يوګټ کې دهغه رسالوداوريدو اورولو شغل به جاري نه وي، ښکاره ده چې دا مشهورتيا يوازې دالله له طرفه ده، ديوانسان دسعي اوکسب نتيجه نه ده، دحضرت مصنف(رحمه الله) داخلاص او للهيت په برکت سره الله پاک دهغه کتابونوته داسې مقبوليت نصيب کړی دی؛ نودتابش مهدي په شان دخلکوپه تنقيدسره دهغه څه خرابيدای شي؟

دې نه پرته سنت الله هم هغه شان جاري دي چې کوم سړي ته دالله تعالی له طرفه دقبلول کولو جامه اچول کيږي، څه خلک دداسې خلکو پورې خندا او په هغوی باندې فضول تنقيدونه خپله خوښه مشغله جوړوي، دې قانون نه الله انبياء کرام عليهم السلام هم مستثنا نه دي فرمايلي، څنګه چې ارشادخداوندي دی:

((وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ)) (الانعام:۱۱۲).

ترجمه: "اوهم داسې موږ دهرنبي دښمنان ډيرشيطانان پيداکړل، څه انسانان او څه پيريان، په هغوی کې ځينې نورو ځينوته دفضول خبرو وسوسه اچوي داځکه چې هغوی په دوکه کې واچوي اوکه الله تعالی وغواړي؛ نو داسې کارنشي کولی، سوا له هغو خلکونه اوکوم خلک چې داسې حرکتونه کوي هغوی تاسو په خپل ځای پريږدئ." (ترجمه حضرت تهانوی (رحمه الله))

اوداشيان دهغو علماوو درفع درجات ذريعه ده، څنګه چې دشيعه وو تهمتونه ترننه پورې دحضرات شيخين رضي الله عنهما درفع درجات يوه ذريعه جوړه شوې ده، ددې سنت الله مطابق دحضرت شيخ نورالله مرقده په مقابله کې هم دتابش مهدي په شان دخلکووجودضروري و، اوس که

دتابش مهدي دټولو الزاماتو صحيح اومدلل جواب هم وليکل شي بياهم دې صاحب ته رجوع اود خپلې غلطي اعتراف کولوتوفيق به ورته نه کيږي، بلکې شيطان به هغوی ته دنويو نويو نکتو تلقين کوي.

الغرض! ددې وجوه واسباب له وجې دتابش مهدي دتنقيدي رسالې جواب ليکل غيرضروري، بلکې فضول کار معلوم شو، هم دا وجه ده چې دجناب گرامي نوم هم دډيرومياشتونه کيښودل شوی ده، خودهغه جواب ورکول مې زړه نه غواړي، نن ستاسو دخاطرله وجې په زړه باندې مې ظلم وکړ قلم مې په لاس کې واخيست، کوشش کوم چې ستاسو دځلورو سوالونوجواب مختصر وي، خواميددی چې ستاسوپريشاني ختمه شي.

۱: دتحريف قرآن الزامات

دسورت قمرآيات: ۲۲ "ولقديسرنَاالقرآنَ لِلذِكرِ فَهَل مِن مُدَكِرٍ" چې کومه ترجمه حضرت شيخ نورالله مرقده په "فضائل قرآن" کې کړې ده، يعني: "موږقرآن پاک دحفظ (يادولو) له پاره اسان کړی دی، څوک شته دحفظ کولو والا؟"

تابش مهدي دخپلې محدودې مطالعې له وجې دهغه په باره کې دتحريف قرآن "فتوا" بيان فرمايي، ځکه چې دا ترجمه دعامو اردو ترجموخلاف ده،که هغه ته دمستندو عربي تفسيرونو کتلو اتفاق شوی و؛ نوهغه ته به معلومه شوې وه چې دحضرت شيخ نورالله مرقده بيان شوې هم صحيح دی اوداهم دسلف صالحين نه نقل شوي دي، ځکه چې دهغه ايات کريمه دوه معناوې بيان شوي دي اوپه خپل ځای دواړه صحيح دي.

يوه داچې: "موږ قرآن پاک دحفظ (يادولو) له پاره اسان کړی دی." اوبله دا چې: "موږ قرآن پاک دنصيحت حاصلولوله پاره اسان کړی دی." ځينوعلماوو دواړه معناوې نقل کړي دي اوځينوبوازې يوه اختياره کړې ده اوځينو دواړه ذکرکړي اوبيوې ته يې ترجيح ورکړې ده، کومه معنا چې حضرت شيخ نورالله مرقده اختيارکړې ده، دهغه له پاره ديوڅوتفسيرونوحوالې ذکرکول ضروري دي:

۱: په تفسيرجلالين کې: "سهلناه للحفظ وهيأناه للتذكر." (جلالين ج:۲ص: ٤٤١سورة القمر)

ترجمه: "موږ هغه (قرآن پاک) اسان کړی دی دحفظ له پاره، يامهياکړی مودی دنصيحت حاصلولو له پاره."

۲: په تفسيرکشاف کې دي:

"اى سهلناه للادكاروالاتعاظ وقيل:ولقدسهلناه للحفظ واعنّاعليه من ارادحفظه،فهل من طالب لحفظ ليعان عليه ويروى ان كتب اهل الاديان نحوالتوراة والانجيل لايتلوها اهلها الا نظرًا،ولايحفظونهاظاهراًكاالقرآن." (ج: ٤ص:٤٣٥).

ترجمه: "موږ دا قرآن پاک د نصيحت حاصلولو له پاره اسان کړی دی او ويل شوي دي چې موږ دا د حفظ (يادولو) له پاره اسان کړی دی او څوک چې دا حفظ (يادول) غواړي د هغه اعانت يې په خپله ذمه اخيستنه ده، بس شته څوک د دې حفظ کولو والا چې د هغه مدد وکړل شي؟ روايت دی چې لومړی به دا ديان خلکو خپل کتابونه په ناظرې سره ويل، د قرآن په شان حفظ به يې نشو کولی."

۳: امام ابن جوزي (رحمه الله) زادالمسير کې ليکي: "**ولقد يسرنا القرآن) اى سهلناه (للذكر) اى للحفظ والقراءة (فَهَل مِن مدكر) اى من ذاكر يذكره ويقراه، والمعنى هو الحث على قراءته وتعلمه، قال سعيد ابن جبير: ليس من كتب الله كتاب يقرأ كله ظاهرًا الا القرآن.**" (زادالمسير ج:۸ص: ۹۴، ۹۵).

ترجمه: "او موږ قرآن ذکر کولو له پاره اسان کړی دی، يعنې د حفظ او قرآت له پاره، بس چيرته دي څوک يادولو والا، چې هغه دا يادکړي اوويې وايي؟ او مقصد د قرآن کريم قرات او د هغه د زده کولو ترغيب ورکول دي، سعيد بن جبير وايي چې: د قرآن کريم نه پرته په کتب الهيه کې يو هم داسې کتاب نه شته چې هغه پوره په پوره حفظ کيږي."

امام ابن جوزي (رحمه الله) يوازې هماغه معنا اختيار کړې ده کومه چې حضرت شيخ نورالله مرقده په "فضائل قرآن" کې فرمايلې ده.

۴: په تفسير قرطبي کې دي:

"**اى سهلناه للحفظ واعنا عليه من اراد حفظه فهل من طالب لحفظه فيعان عليه قال سعيد بن جبير: ليس من كتب الله كتاب يقرا كله ظاهرًا الا القرآن.**" (ج:۱۷ص: ۱۳۴).

ترجمه: "يعنې موږ دا (قرآن) د حفظ (يادولو) له پاره اسان کړی دی او کوم سړی چې د دې حفظ کول وغواړي د هغه اعانت به وکړل شي، ايا څوک د دې حفظ طلب کولو والا شته چې د هغه مدد وکړل شي؟ سعيد بن جبير (رحمه الله) فرمايي چې: د الله پاک په کتابونو کې د قرآن نه پرته يو کتاب هم نه شته چې هغه پوره حفظ کيږي."

امام قرطبي هم يوازې دا معنا اخيستې ده.

۵: تفسير ابن کثير کې دي: "**اى سهلناه لفظه، ويسرنا معناه لمن اراد ليتذكر الناس قال مجاهد: وَلَقَد يَسرنَا القرآنَ لِلذِكرِ) يعنى هونا قراءته، وقال السدى: يسرنا تلاوته على الالسن، وقال الضحاك: قال ابن عباس رضي الله عنهما: لولا ان الله يسره على لسان الآدميين ما استطاع احد من الخلق ان يتكلم بكلام الله عزوجل وقوله (فَهَل مِن مدَّكِر) اى فهل من متذكر بهذا القرآن الذى يسر الله حفظه ومعناه.**" (مختصر تفسير ابن کثير ج:۳ص: ۴۱۰).

ترجمه: "یعنې کوم سړی چې قرآن حاصلول غواړي موږ دهغه له پاره ددې الفاظ اسان او ددې معنا اسانه کړې ده، څکه چې خلک پرې غور وکړي ---- امام تفسیر مجاهد (رحمه الله) فرمايي چې: "موږ قرآن پاک اسان کړی دی دیادولو له پاره" یعنې دهغه ویل مواسان کړي دي، سدي (رحمه الله) وايي چې دایت مطلب دادی چې موږ ددې (قرآن پاک) تلاوت په ژبو باندې اسان کړی دی اوضحاک (رحمه الله) دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کوي چې هغه فرمایلي "که الله تعالی دانسانانو په ژبه باندې دا قرآن پاک اسان کړی نه وای؛ نو په مخلوق کې به چاهم دالله تعالی کلام په ژبه ادا کړی نه و. "**فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ**" یعنې ایاڅوک ددې قرآن پاک سره دنصیحت کولو والا شته چې دهغه حفظ او معنا الله تعالی اسان کړې ده، (اومخکې ابن شوذب (رحمه الله)، مطر وراق (رحمه الله) او قتاده (رحمه الله) نه هم دامضمون نقل شوی دی."

دذکرشویو عباراتو نه واضحه ده چې کوم مفهوم حضرت شیخ نورالله مرقده ذکرکړې، هغه د ترجمان القرآن حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه او په تابعینوکې امام مجاهد، قتاده، ضحاک، مطر وراق او سدی رحمهم الله نه هم نقل دي.

۶: تفسیر البحر المحیط کې دي:

"**ای للاذکار والاتعاظ وقیل: للذکر للحفظ ،ای سهلناه للحفظ وقال ابن جبیر: لم یستظهر شیء من الکتب الالهیة غیر القرآن:**" (ج: ۸ ص: ۱۷۸ طبع دارالفکر، بیروت)

ترجمه: "یعنې موږ قرآن پاک دنصیحت کولو له پاره اسان کړی دی ----- او ویل شوي دي چې دذکرنه مراد حفظ دی، یعنې موږ دا دحفظ (یادولو) له پاره اسان کړی دی --- ابن جبیر (رحمه الله) فرمایي چې: دقرآن نه پرته دالله تعالی په کتابونوکې یوکتاب هم حفظ شوی نه دی."

۷ تفسیر روح المعاني کې دي:

"**للذی کرای للتذکر والاتعاظ وقیل: المعنی سهلنا القرآن للحفظ فهل من طالب لحفظه لیعان علیه؟ ومن هنا قال ابن جبیر: لم یستظهر شیء من الکتب الالهیة غیر القرآن ،واخرج ابن المنذر وجماعة عن مجاهد انه قال: یسرنا القرآن هونا قراءته.**" (تفسیر روح المعانی ج: ۲۷ ص: ۱۱۸ سورة القمر: ۱۷، طبع رشیدیه کوئټه)

ترجمه: "موږ قرآن پاک دذکرله پاره یعنې نصیحت حاصلولو له پاره اسان کړی دی ---- او ویل شوي دي چې: دایت معنا داده چې موږ قرآن پاک دحفظ له پاره اسان کړی دی ---- ایا څوک ددې حفظ کولو طلب کونکي شته چې دحفظ کولو له پاره دهغه مدد وکړل شي، له دې وجې سعیدبن جبیر (رحمه الله) فرمایي چې: دالله تعالی په کتابونوکې دقرآن پاک نه پرته یوکتاب هم حفظ شوی نه دی، ابن منذر (رحمه الله) او یوجماعت دحضرت مجاهد (رحمه الله) نه نقل کړي دي چې هغه فرمایلي: موږ قرآن پاک اسان کړی دی، یعنې موږ ددې قرات اسان کړی دی."

۸: په تفسیر مظهري کې دي:

"ای للادکار والاتعاظ بأن ذکرنافیه انواع المواعظ والعبروالوعیدواحوال الامم السابقة، والمعنی یسرناالقرآن للحفظ بالاختصاروعذوبة اللفظ." (ج: ۹ ص: ۱۳۸)

ترجمه: "یعنې موږ قرآن پاک اسان کړی دی نصیحت حاصلولو له پاره په دې ډول چې موږ په دې کې قسماقسم نصیحتونه، عبرتونه، وعیدونه او د تیروشویو امتونو حالات ذکر کړي دي، یادا معنا ده چې موږ قرآن پاک د اختصار او د الفاظو د خوږوالي په ذریعه د حفظ کولو له پاره اسان کړی دی."

۹: په تفسیر بغوي کې دي: "(وَلَقَدْیَسرنَا) سهلنا(القُرآن لِلذِکر) لیتذکرویعتبربه، وقال سعیدبن جبیر: یسرناه للحفظ والقراءة، ولیس شیء من کتب الله یقرا کله ظاهرًاالاالقرآن."

(تفسیر البغوی المسمی معالم التنزیل ص: ۲۶۱، سورة القمر آیة: ۱۷، طبع ادارة تالیفات اشرفیه)

ترجمه: "او موږ قرآن پاک اسان کړی دی ذکر کولو له پاره، څکه چې د دې په ذریعه نصیحت او عبرت حاصل کړل شي او سعید بن جبیر (رحمه الله) فرمايي چې: موږ دا د حفظ او قرات له پاره اسان کړی دی او د الله تعالی په کتابونو کې د قرآن کریم نه پرته بل یو کتاب هم داسې نه شته چې هغه حفظ کیږي."

۱۰: په تفسیر کبیر کې دي: "ثم قال تعالی:(وَلَقَدیَسرنَاالقُرآن لِلذِکرِ فَهَل مَن مُدَکِر) وفیه وجوه، الاول: للحفظ، فیمکن حفظه ویسهل، ولم یکن شیء من کتب الله تعالی یحفظ علی ظهرالقلب غیرالقرآن، وقوله تعالی:(فَهَل مِن مُدَکِر) ای هل من یحفظه وتلوه؟"

(تفسیر کبیر للرازی ج: ۱۰ ص: ۳۰۰ طبع مکتبه علوم اسلامیه اردوبازارلاهور)

ترجمه: "بیا الله تعالی فرمایلي: "او موږ قرآن پاک اسان کړی دی، ایا شته څوک د یادولو والا؟" په دې کې ډیرې وجې دي، اوله دا چې ذکر له پاره، نه مراد دی: "حفظ کولو له پاره" د دې حفظ کول ممکن او اسان دي او د الله تعالی په کتابونو کې د قرآن پاک نه پرته یو کتاب نه شته چې هغه زباني یادیږي او د الله تعالی ارشاد مبارک: فَهَل مَن مُدَکِر" مطلب دادی چې شته څوک چې هغه دا حفظ کړي او د دې تلاوت وکړي؟"

په مخکې حوالو سره به واضحه شوې وي چې د حضرت شیخ نورالله مرقده ذکر شوی مفهوم نه یوازې دا چې علماوو او مفسرینو ذکر کړې ده، بلکې ډیر علماوو خو هم دا معنا بیان کړې ده، او دد ې معنا بیان والو کې نومونه راخي: د حضرت ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضی الله عنه، حضرت سعید بن جبیر (رحمه الله)، حضرت مجاهد (رحمه الله)، حضرت قتاده (رحمه الله) او مطروراق په شان علماء صحابه رضی الله عنهم او تابعین (رحمهم الله)، خود تابش مهدي په نزد دا معنا بیانول

دقرآن کریم تحریف دی. إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُون!
له دې وضاحت نه وروسته دتابش مهدي ته دې دا معلوم کړل شي چې ایا هغه ته به دخپلې غلطي اعتراف کولو او دیوجلیل القدر محدث او عارف رباني باندې دتحرف الزام لګولو توفیق به ورته کیږي؟ او ایا دهغه په خیال کې ذکرشوي علماوو او مفسرین ټول دقرآن پاک تحریف کولو والاوو؟ نعوذبالله؟ نعوذبالله من الجهل والغباوة!

۲: خپل پلار ته په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې د فوقیت ورکولو تهمت

حضرت شیخ نورالله مرقده دحضرات صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین دماشوم والي دیاداشت کوم واقعات لیکلي دي، دهغو له وجې یې دافایده ذکرکړې ده:
"دماشوم والي زمانه دحافظې دقوت زمانه وي، دهغه وخت یاد شوي چیرې هم نه هیریږي، په داسې وخت کې که دقرآن پاک حفظ وکړل شي؛ نونه به څه مشکل وي اونه به وخت خرچ وي."
اوبیاددې فایدې دوضاحت له پاره دخپلې مورصاحبې کیسه یې ذکرکړې ده، دهغه په اخرکې لیکي: "دا دپخوا زمانې کیسه نه ده، دهمدې پیړۍ کیسه ده، لهذا دا هم نشي ویل کیدای چې دصحابه رضي الله عنهم په شان قوي او همتونه اوس له کومه راوړل کیږي؟"
له دې نه واضحه کیږي چې په فائدې کې کوم دماشوم والي دتنه دقرآن کریم دحفظ کولو ترغیب ورکړل شوی و چې دهغه دتایدله پاره دمورمحترمې واقعه یې ذکرکړې ده.
"حکایات صحابه رضي الله عنهم" ترکوم وخت نه چې تالیف شوی دی، دابه پرته مبالغې په کروړونو انسانانوویلې اوریدلې وي، خوددې واقعې سیاق او سباق سره دا خبیث مضمون چیرې هم چاپه ذهن کې نه دی راغلی، کوم چې تابش مهدي اخذ کړی دی؛ چې هغه مضمون نه دمصنف په ذهن کې وي، نه دهغه دسیاق اوسباق اخذکیږي اونه دهغه په لکونو قاریانوپه حاشیه خیال کې هم نه وي تیرشوی، هغه دمصنف طرف ته منسوبول، هم تاسوفیصله کولئ شئ چې ددیانت او امانت کوم یوقسم دی؟
اوحضرت شیخ مورماجد رحمه الله دواقعې سیدناعیسی علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام سره مقابله کول هم دکم عقلې، حماقت او غباوت حد دی، حضرت عیسی علی نبیناوعلیه الصلوة والسلام واقعه دولادت دابتدایي ورځوده، څنګه چې په قرآن کریم کې ارشادمبارک دی چې داپیدایښ نه وروسته حضرت مریم رضي الله عنها بچی اوچت کړی قوم ته راغله، خلکوچې ولیده: نو تنقیدونه یې شروع کړل او دحضرت مریم رضي الله عنها په باره کې یې غلط الفاظ وویل، دهغوی په جواب کې حضرت مریم رضي الله عنها دماشوم طرف ته اشاره وکړه، بیاحضرت عیسی علیه السلام وفرمایل:
قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا (۳۰) وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ

وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا (۳۱) وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا (۳۲) وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا (۳۳) (مریم: ۳۰- ۳۱- ۳۲- ۳۳).

ترجمه: "هغه بچي (پخپله) وویل چې زه دالله تعالی (خاص) بنده یم، هغه ماته کتاب (انجیل) راکړ اوهغه زه نبي جوړ کړم (یعنې جوړوي به مې) او زه یې دبرکت والاجوړ کړم، زه چې چیرته هم یم اوهغه ماته دلمونځ او زکات حکم راکړ ترڅوپورې چې زه (په دنیا) کې ژوندی یم اوزه یې دخپلې مور خدمت کونکئ جوړ کړم اوهغه زه بدبخت اوسرکش جوړنه کړم اوپه ماباندې (دالله تعالی له طرفه) سلام دی په کومه ورځ چې زه پیداشوم اوپه کومه ورځ چې به مرم اوپه کومه ورځ چې به (قیامت) کې ژوندی راوچتیږم. "(ترجمه حضرت تهانوی (رحمه الله)).

چیرته دیوې ورځې داسې واضحه او اسان تقریرکول اوچیرته ددوو کلونوماشوم دقرآن کریم یوڅو سورتونه یادول! ایاددوی دواړو په مینځ کې څه مناسبت شته ---؟

تابش مهدي ته پته وي اوکه نه ، خودعقل والاوو ته پته ده چې دیونیم کال ماشوم په عام ډول ویل کوي اوکه دشپږومیاشتوپه ډیر وخت کې دحضرت شیخ نورالله مرقده مورماجده (رحمها الله) پاو سیپاره یاده کړه؛ نوپه دې کې دتعجب څه خبره ده؟ اوددې موازنه دحضرت عیسی علیه السلام د ((معجزة التكلم فى المهد)) سره کول دتابش مهدي په شان غیرمعمولي ذهین خلکو کار کیدای شي، ګني څوک عقل مند به وي چې هغه د دوو دوه نیموکلونودماشوم یوڅوواړه سورتونه یادکولوته یوخارق عادت واقعه او دموسی علیه السلام دمعجزې نه لوی تعجب وګني.

۲: دحضرت ابن زبیر رضي الله عنه کیسه

ددریم سوال لاندې چې تابش مهدي څه لیکلي دي، که دهغه تجزیه وشي؛ نودوه بحثونه راوځي: اول دا چې ابن زبیر اوملک بن سنان رضي الله عنهما چې کومې کیسې حضرت شیخ نورالله مرقده ذکرکړې دي، هغه مستند دي اوکه نه؟ دویم بحث دا چې دحضور پاک صلی الله علیه وسلم فضلاتوڅه حکم دی، هغه پاک دي یاناپاکه؟

ترکومې چې دلومړي بحث تعلق دی، په دې سلسله کې دادرخواست دی چې دا دواړه کیسې مستندې دي اوحدیث په کتابونوکې دسندسره روایت شوي دي.

دابن زبیر رضي الله عنه په ډیرورروایتونوسره دډیروصحابه کرامو رضي الله عنهم نه روایت ده، دحوالې له پاره دې دلاندې ذکر شویو کتابونو مطالعه وشي: **مستدرک حاکم** (ج:۳ ص:۵۵۴،۵۵۴)، **حلیه الاولیاء** (ج:۱ ص:۳۳۰)، **سنن کبری بیهقی** (ج:۷ ص:۶۷)، **کنزالعمال بروایت ابن عساکر** (ج:۱۳ ص:۴۶۹،۴۶۹)، **مجمع الزوائد بروایت طبرانی وبزار** (ج:۸ ص:۲۷۰)، **الاصابه بروایت ابویعلی والبیهقی فی الدلائل** (ج:۲ ص:۳۱۰)، **سیراعلام النبلاء للذهبي** (ج:۳ ص:۳۶۶،۳۶۶)، **الخصائص الکبری** (ج:۲ ص:۲۵۲،۲۵۲).

اوس د هغې کیسې د ثبوت په باره کې د یو څو محدثینو رایې وړاندې کوو:
امام بیهقي(رحمه الله) په سنن کبری (ج۷ ص۲۷) کې دا کیسه د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه نه روایت کولو نه وروسته لیکي: "قال الشیخ رحمه الله: وروی ذلک من وجه آخر عن اسماء بنت ابی بکر وعن سلمان فی شرب ابن الزبیر رضي الله عنه دمه."

ترجمه: "د حضرت ابن زبیر رضي الله عنه د حضور پاک صلی الله علیه وسلم د وینې څښلو کیسه حضرت اسماء بنت ابي بکر او حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه نه هم په ډیرو اسانیدو سره روایت ده."

حافظ نورالدین هیثمي(رحمه الله) مجمع الزوائد (ج۸ ص۲۷۰) کې دا کیسه د خصائص نبوي په باب کې ذکر کولو نه وروسته لیکي:

"رواه الطبرانی والبزار ورجال البزار رجال الصحیح غیر هنید بن القاسم وهو ثقة."

ترجمه: "دا د طبراني او بزار روایت دی او د بزار ټول راویان صحیح راویان دي، پرته د هنید بن القاسم نه او هغه هم ثقه دی."

حافظ شمس الدین ذهبی(رحمه الله) په تلخیص مستدرک (ج:۳ص:۵۵٤) کې په دې باندې سکوت کړی دی او په سیر اعلام النبلاء (ج:۳ص:۳۶۶) کې لیکي:

"رواه ابو یعلی فی مسنده وما علمت فی هنید جرحة."

ترجمه: "دا حدیث امام ابویعلی په خپل مسند کې روایت کړی دی او د هنید راوي په باره کې د یو جرح علم نه شته."

کنزالعمال (ج:۱۳ص:٤۶۹) کې دا ابن عساکر په حوالې سره نقل کولو نه وروسته لیکي: "**رجاله ثقات**"(د دې ټول راویان ثقه دي).

د مالک بن سنان رضي الله عنه کیسه

حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه موربي بي د حضرت مالک بن سنان رضي الله عنه چې کومه کیسه حضرت شیخ نورالله مرقده د "قرة العیون" په حوالې سره نقل کړې ده، الاصابه(ج:۳ص:۳٤۶) کې دا کیسه د ابن ابی عاصم، بغوي، صحیح ابن السکن او سنن سعید بن منصور په حوالې سره نقل شوې ده. تاریخ خمیس او قرة العیون خو د تابش مهدي په شان د اهل علمو په نزد غیرمستند او ګمراه کن کتابونه دي، خو د تابش مهدي نه پوښتنه وکړئ چې د حدیث مخکې بیان شوي کتابونه او اکابر محدثین، د کوموچې ما حواله درکړې ده، ایا هغه هم -----نعوذبالله----- غیرمستند او ګمراه کونکي دي؟ او دا هم ترې پوښتنه وکړئ چې تابش مهدي د خپل جهالت له وجې د هغه مشهور او معروف ماخذ نه ناخبر و یا د هغوی رشته د حدیث منکرینو سره جوړه ده؟ چې نه هغوی ته د حدیث په کتابونو باندې اعتماد شته، چې په هغه کې دا کیسې په ډیرو اسانیدو سره تخریج

شوي دي اونه په هغو علماوو محدثین(رحمهم الله) باندې اعتماد دی کوموچې ددې کیسو توثیق کړی دی.

دویم بحث د فضلات نبوي ﷺ حکم

دیوسوال په جواب کې دامسئله مې په پوره تفصیل سره ذکرکړې ده چې دځلورواړو مذهبونو محقیقنوپه نزد دحضور پاک ﷺ خصوصیتونونه یو خصوصیت دادی چې دحضورپاک ﷺ فضلات (متیازې) پاکې دي اوددې له پاره امام ابوحنیفه(رحمه الله)، امام نووي(رحمه الله)، حافظ ابن حجر عسقلاني(رحمه الله)، حافظ بدرالدین عیني(رحمه الله)، ملاعلي قاري(رحمه الله)، علامه ابن عابدبن شامي(رحمه الله)، مولانا محمدانورشاه کشمیري(رحمه الله) او مولانامحمدیوسف بنوري(رحمه الله) په حوالې سره ذکرمې ذکرکړی دی، داجواب"بینات" محرم الحرام ۱۴۰۹ھ کې شائع شوی دی، ستاسوسهولت له پاره ددې اقتباس لاندې ذکر دی:

جواب: زمادتیرشویولیکلوخلاصه داوه چې اول خودې معلوم شي چې داکیسه په یومستند کتاب کې موجوده ده اوکه نه؟ دویم داچې دحضورپاک ﷺ دفضلات (متیازومبارکو) په باره کې داهل علمو او دامت دعلماووڅه تحقیق دی؟ دهغودواړو خبرو دتحقیق نه وروسته کوم شکونه چې وړاندې کیږي، دهغو توجیه کیدای شي، اوس دهغو دواړو نکتو وضاحت کوم:

لومړی امر: داچې داکیسه په یومستند کتاب کې شته اوکه نه؟ حافظ جلال الدین سیوطي (رحمه الله) په کتاب"خصائص کبری" کې دحضورپاک ﷺ امتیازي خصوصیتونه جمع کړي دي، دهغه ددوېم جلدپه صفحه:۲۵۲باندې فوټوتاسوته درلیږم، چې دهغې عنوان دی: "آنحضرت ﷺ کي یه خصوصیت که آپ کا بول وبراز پاک تها" دهغه عنوان لاندې هغه حدیثونه نقل کړي دي، په دغو کې دو حدیثونه، چې هغه مانشانه کړي دي، ترجمه یې داده:

۱: ابویعلی، حاکم، دارقطني، طبراني او ابونعیم په سندسره دحضرت ام ایمن رضي الله عنها نه روایت کړی دی چې حضورپاک ﷺ دشپې په وخت کې دخاورو پوخ شوي لوښي کې متیازې وکړې، بس زه دشپې پاڅیدم، زه تږې وم، ماهغه پیاله وڅښله، چې سهارشو؛ نوما حضور پاک ﷺ ته وویل، بس حضورپاک ﷺ مسکی شو او ویې فرمایل: تاته به دخیټې تکلیف هیچرې هم نه وي اوداابویعلی په روایت کې دي چې دنن نه وروسته به ته دخیټې دتکلیف شکایت هیچرې هم ونکړې.

۲: طبراني او بیهقي په سندصحیح سره دحکیمه بنت امیه نه او هغې دخپلې مورحضرت امیه رضي الله عنها نه روایت کړی دی چې دحضور پاک ﷺ سره به دلرګي یوه پیاله وه، چې په هغه کې به دشپې کله کله متیازې کولې اوهغه به یې دخپل کټ لاندې کیښودله، حضور پاک ﷺ یوځل (سهار) پاڅیده، هغه یې وکته؛ نوهلته پیدا نه شوه، دهغې په باره کې یې معلومات وکړ، ورته وویل شول چې هغه برونومي دحضرت اُم سلمه رضي الله عنها خادمې وڅښله، حضور پاک ﷺ

وفرمايل چې: هغې له اور نه بچ کيدو له پاره حصار جوړ کړ.
دا دواړه روايتونه مستند دي او دعلماوو يوغټ جماعت ددې تخريج کړی دی اودامت اکابرو هغه کيسې پرته له شک وشبې نقل کړي دي اوهغه يې دحضورپاکﷺ په خصوصياتوکې شميرلي دي

دويم امر: دحضورپاکﷺ دمتيازو په باره کې د امت دعلماوو تحقيق:

۱ حافظ ابن حجرعسقلاني(رحمه الله)، فتح الباري(رحمه الله)، (باب الماء الذى يغسل به شعرالانسان) (ج:۱ص:۲۷۲مطبوعه لاهور). کې ليکي:

"وقدتکاثرت الادلة على طهارة فضلاته، وعدالائمة ذلک من خصائصه فلايلتف الى ماوقع فى کتب کثيرمن الشافعية ممايخالف ذلک، فقداستقرالامر بين ائمتهم على القول بالطهارة."

ترجمه: "دحضورپاکﷺ دمتيازو د پاکيدو دلائل کثرت ته رسيدلي دي او علماوو هغه دحضورپاکﷺ په خصوصيتاتو کې شميرلي دي، دشوافعو په ډيروکتابونوکې چې هغه ددې خلاف موندل کيږي، هغه دالتفات لائق نه دي، ځکه چې دهغوی دعلماوو په مينځ کې هم دپاکي په قول باندې معامله راغلې ده."

۲: حافظ بدرالدين عيني(رحمه الله) په عمدة القاري (ج:۲ص:۳۵مطبوعه **دارالفکربيروت**) کې دحضور پاک ﷺ متيازو پاک والی په دلائلوسره ثابت کړی دی اوپه شافعي مذهب کې چې کوم خلک ددې خلاف قائل دي، په هغوی يې په تفصيل سره ردکړی دی اوپه جلد:۲ صفحه ۷۹ کې حضرت امام ابوحنيفه(رحمه الله) دحضورپاکﷺ په غټومتيازومبارکواوپه باقي متيازو باندې دپاکي قول نقل کړی دی.

۳: امام نووي(رحمه الله) په شرح مهذب (ج:۱ص:۲۳٤) کې دغټو متيازو او دنور متيازوپه باره کې دشافعي دوه قولونه نقل کړي اودپاکوالي قول يې موجه ګرځولی دی، هغه ليکي:

"حديث شرب المراة البول صحيح، رواه الدارقطنى، وقال: هوحديث صحيح، وهوکافٍ فى الاحتجاج لکل الفضلات قياسًا الخ."

ترجمه: "دښځې دمتيازوڅښلوکيسه صحيح ده، امام دارقطني(رحمه الله) دا روايت صحيح کړی او صحيح يې ورته ويلي اودا حديث دټولو متيازو دپاکوالي داستدلال له پاره کافي دی."

۴: علامه ابن عابدين شامي(رحمه الله) ليکي:

"صحح بعض ائمة الشافعية طهارة بوله ﷺ وسائرفضلاته، وبه قال ابو حنيفة کمانقله فى المواهب اللدنية" عن شرح البخارى للعينى." (ردالمحتارج:۱ص:۲۱۸، مطبوعه کراچی).

ترجمه: "دشافعي(رحمه الله) ځينې علماوو دحضورپاکﷺ متيازواوباقي نوروفضلاتوپاکوالی

صحیح ګرځولی دی. امام ابوحنیفه(رحمه الله) هم ددې قائل دی. څنګه چې په مواهب لدنیه کې علامه عیني(رحمه الله) دشرح بخاری نه نقل کړي دي"

۵. ملاعلي قاري(رحمه الله) جمع الوسائل شرح الشمائل" (ج:۲ص:۲ مطبوعه مصر۱۳۱۷هـ) کې په دې باندې د تفصیلي کلام نه وروسته لیکي:

"قال ابن حجر: وبهذا استدل جمع من ائمتنا المتقدمين وغيرهم على طهارة فضلاته ﷺ وهو المختار ووافقهم جمع من المتاخرين فقد تكاثرت الادلة عليه وعدة الائمة من خصائصه ﷺ."

(جمع الوسائل شرح الشمائل ج:۲ص:۲،مصر۱۳۱۷هـ)

ترجمه: "ابن حجر(رحمه الله) وايي چې زمونږ دعلماوو دمتقدمینو دیوجماعت اونوروحضراتو دهغو احادیثونه دحضورپاک ﷺ دمتیازو پاکوالي باندې استدلال کړی دی، د متاخرینو د جماعت موافقت هم مختاردی، ځکه چې په دې باندې په کثرت سره دلائل دي او علماوو دا دحضورپاک ﷺ په خصوصیاتوکې شمیرلی دی."

۶. امام العصر مولانامحمدانورشاه کشمیري(رحمه الله) فرمایي:

"ثم مسالة طهارة فضلات الانبياء توجد في كتب المذاهب الاربعة."(فيض الباری ج:۱ص:۲۵۰).

ترجمه: "د انبیاوو کرامو ﷺ دمتیازو دپاکوالي مسئله دڅلور واړو مذهبونو په کتابونوکې موجوده ده."

۷.محدث العصر حضرت مولانامحمد یوسف بنوري(رحمه الله) لیکي:

"وقد صرح اهل المذاهب الاربعة بطهارة فضلات الانبياء الخ."(معارف السنن ج:۱ص:۹۸).

ترجمه: د څلورواړومذهبونو علماوو دانبیاوو کرامو ﷺ دمتیازو دپاکوالي تصریح کړې ده."

الحمدلله! ددې دواړو نکتووضاحت خودضرورت په اندازه وشو، داکیسه مستنده ده اودڅلور واړو مذهبونوعلماوو دحدیثونه په تسلیم کولوسره دفضلات انبیاوو ﷺ دپاکوالي قول نقل کړی دی، له دې نه وروسته که اعتراض و شي؛ نوهغه ته دایمان کمزوروالی ویل کیږي.

اوس یوه نکته محض تبرعالیکم، چې په دې سره به دامسئله پوهې ته نوره هم نږدې شي، دالله تعالی په خپل مخلوق کې عجائبات دي، چې دهغو ادراک هم زمونږ دخلکوله پاره مشکل دی. هغه په خپل قدرت کامله اوحکمت بالغه سره په ځینوجسمونو کې داسې حیرانونکي خصوصیات ایښي دي چې هغه په نورو جسمونوکې نشي موندل کېدای، هغه دیوې ګونګټې دلعاب نه ریښم پیداکوي. دشهدودمچې له فضلاتو نه دشهدوپه شان نعمت پیداکوي اود غرونو چیلی(غرڅې) وینه په نامه کې جمع کړي اومشک ترې جوړوي، که هغه په خپل قدرت سره دحضرات انبیاوو کرامو علیهم السلام په مبارکوجسمونو کې هم داسې خصوصیات ایښي وي چې خوراک دهغوی په پاکو بدنونو کې ګډیدو نه وروسته هم ګنده نه وي، بلکې له هغه نه چې کوم

فضلات د هغوی په بدنونو کې پیدا وي هغه پاک وي؛ نوځه تعجب نه دی، دجنت والاوو په باره کې هم ټولو ته پته ده چې دخوراک څښاک نه وروسته به هغوی ته دمتیازو وغیره ضرورت نه وي، په خوشبوداري خوشبو سره به ټول خوراک څښاک هضم شي اودبدن فضلات به په خوشبوداري خولې کې تحلیل شي، کوم خصوصیت چې به دجنت والاوو ته حاصل وي، که الله تعالی دانبیاوو کرامو ﷺ پاکو جسمونو ته هم هغه خاصیت په دنیاکې ورکړي؛ نوهیڅ خبره نه ده، بیاچې په احادیثوکې ددې دلائل په کثرت سره موجود دي، څنګه چې دحافظ ابن حجر رضي الله عنه په کلام کې تیرشوي دي؛ نودانبیاوو کرامو ﷺ جسمونو په خپل ځان قیاس کول اوله هغو انکارکول، یادهغه په تسلیمولو کې تامل صحیح نه دی."

او په دې باندې دیوڅونورو حوالو اضافه کوم:

۱. امام بیهقي(رحمه الله) په سنن کبری کې دکتاب النکاح په ذیل کې دحضورپاک ﷺ یوڅو خصوصیتونه ذکرکړي دي، په دې سلسله کې دیوباب عنوان دی:

"باب ترکه الانکار علی من شرب بوله ودمه."

ترجمه: "کوموحضراتو چې دحضورپاک ﷺ متیازې مبارکې څښلې، په هغوی باندې دحضور پاک ﷺ انکار نه کول."

اوددې لاندې یې درې کیسې دسندسره ذکرکړي دي، دحضرت أمیمه رضي الله عنها کیسه، حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه کیسه او دحضرت سفینه رضي الله عنها کیسه.

۲. مخکې مې ذکرکړي دي چې امام حافظ نورالدین هیثمي(رحمه الله) هم مجمع الزوائدکې هغه کیسې دحضورپاک ﷺ په خصوصیاتو کې ذکرکړي دي.

۳. اوحافظ جلال الدین سیوطي(رحمه الله) په خصائص کبری کې داکیسې ددرج ذیل عنواناتو لاندې ذکرفرمایلې دي: **"باب اختصاصه ﷺ بطهارة دمه وبوله وغائطه."**

ترجمه: "دحضورپاک ﷺ دهغه خصوصیت بیان چې دحضورپاک ﷺ فضلات (متیازې مبارکې) پاکې وې."

۴. دفقه شافعي(رحمه الله) په کتاب **"نهایة المحتاج"** (ج:۱ص:۲٤۲) کې دي:

وشمل کلامه نجاسة الفضلات من رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو ما صححاه وحمل القائل بذلك الأخبار التي يدل ظاهرها للطهارة كعدم إنكاره صلى الله عليه وسلم شرب أم أيمن بوله على التداوي ، لكن جزم البغوي وغيره بطهارتها ، وصححه القاضي وغيره ، ونقله العمراني عن الخراسانيين ، وصححه السبكي والبارزي والزركشي .

وقال ابن الرفعة : إنه الذي أعتقده وألقى الله به .

وقال البلقيني: إن به الفتوى، وصححه القاياتي وقال: إنه الحق، وقال الحافظ ابن حجر: تكاثرت الأدلة على ذلك، وعده الأئمة في خصائصه فلا يلتفت إلى خلافه، وإن وقع في كتب كثير من الشافعية فقد استقر الأمر من أئمتهم على القول بالطهارة انتهى.
وأفتى به الوالد رحمه الله تعالى وهو المعتمد."(نهاية المحتاج ج:۱ص:۲٤۲).

ترجمه: "او د مصنف(رحمه الله) کلام د حضور پاک ﷺ د متيازې نجاست ته شامل دی او دواړه حضرات (يعنې رافعي(رحمه الله) او نووي(رحمه الله)) ددې قول تصحيح کړې ده او کوم خلک چې ددې قائل دي هغوی هغه حديثونه کوم چې په ښکاره په پاکي باندې دلالت کوي، لکه د حضور پاک ﷺ دام ايمن په متيازو څښلو باندې نکير (ناخوښي) نه کول، هغه يې په علاج باندې محمول کړي دي، خو امام بغوي(رحمه الله) وغيره په قطعيت سره د حضور پاک ﷺ متيازې مبارکې پاکې ګرځولې دي او قاضي وغيره هغه ته صحيح ويلي دي او عمراني د خراسانيانو نه دا نقل کړل او صحيح يې وګرځول او امام سبکي(رحمه الله)، بارزي(رحمه الله) او زرکشي دا صحيح وګرځوله، ابن رفعه(رحمه الله) فرمايي چې: زه هم دا عقيده ساتم او په همدې باندې به د الله تعالى په دربارکې حاضريږم، علامه بلقيني(رحمه الله) فرمايي چې: په دې باندې فتوا ده او قاياتي هم دې ته صحيح ويلي دي او فرمايلي يې دي چې: همدا حق دی او حافظ ابن حجر(رحمه الله) فرمايي چې: په دې باندې دلائل په کثرت سره دي او علماوو دا د حضور پاک ﷺ په خصوصياتو کې شميرلي دي، ددې خلاف قول لائق التفات نه دی، اګرچې هغه په ډيرو شافعي کتابونو کې ذکر شوی دی، ځکه چې د شافعي علماوو په نزد معامله د طهارت په قول باندې راغلې ولاړه ده، زما پلار صاحب (شيخ شهاب الدين رملي(رحمه الله)) په دې باندې فتوا ورکړې ده او همدا د اعتماد لائق دی."

۵: او د فقه شافعي په کتاب "مغني المحتاج"(ج:۱ص:۷۹) کې دي:

وهذه الفضلات من النبي صلى الله عليه وسلم طاهرة كما جزم به البغوي وغيره وصححه القاضي وغيره، وأفتى به شيخي خلافا لما في الشرح الصغير والتحقيق من النجاسة؛ لأن بركة الحبشية شربت بوله صلى الله عليه وسلم فقال: لن تلج النار بطنك } صححه الدارقطني.
وقال أبو جعفر الترمذي: دم النبي صلى الله عليه وسلم طاهر؛ لأن أبا طيبة شربه وفعل مثل ذلك ابن الزبير وهو غلام حين أعطاه النبي صلى الله عليه وسلم دم حجامته ليدفنه فشربه فقال له النبي صلى الله عليه وسلم { من خالط دمه دمي لم تمسه النار } (معنى المحتاج ج:۱ص:۷۹).

ترجمه: "او د حضور پاک ﷺ متيازې مبارکې پاکې وې، څنګه چې امام بغوي(رحمه الله) وغيره په قطعيت سره دا فيصله فرمايلې ده او قاضي(رحمه الله) وغيره هغه صحيح ګرځولې ده او زما شيخ (شهاب رملي(رحمه الله)) په دې باندې فتوا ورکړې ده، ددې خلاف چې کوم شرح صغير او تحقيق

کې دنجاست قول ذکر کړی دی، ځکه چې برکه حبشیه دحضورپاک ﷺ متیازې مبارکې څښلې وې؛ نوحضور پاک ﷺ وفرمایل چې "ستاخیټه به اورکې نه داخلیږي" دې حدیث ته امام دارقطني (رحمه الله) صحیح ویلي دي اوابوجعفر ترمذي (رحمه الله) فرمايي چې: دحضورپاک ﷺ وینه مبارکه پاکه وه، ځکه چې ابوطیبه رضي الله عنه هغه څښلې وه اوحضرت ابن زبیرهم داسې کړي، خوهغه کم عمره هلکان وو، کله چې حضورپاک ﷺ ښکر ولګاوو او هغه ته یې هغه وینه دخښولو له پاره ورکړه: نوهغه هغه وڅښله، په دې باندې حضورپاک ﷺ هغه ته وفرمایل: دچاپه وینه کې چې زماوینه ګډه شوه هغوی ته به د دوزخ اور نه رسیږي."

۲ د فقه مالکي په کتاب "منح الجلیل شرح مختصرالخلیل (ج:۱ص:۵٤)" کې دي:

إلا الأنبياء عليهم الصلاة والسلام ففضلتهم طاهرة ولو قبل بعثتهم لاصطفائهم قبلها واستنجاؤهم كان للتنظيف والتشريع.

ترجمه: "دانسان فضلات (متیازې) ناپاکې دي) سوا دانبیاوو کرامو علیهم السلام نه، چې دهغوی متیازې پاکې وې،که څه هم دهغوی دبعثت نه مخکې وي، دهغوی د بزرګوالي له وجې اودهغوی استنجا کول دتنظیف او تشریع له پاره و."

دامت دعلماوو داسې قسمه تصریحات بې شمیره دي، دهغوی په مقابله کې دتابش مهدي په شان دخلکو رایه څه قیمت لري؟ ددې فیصله هرسړی کولی شي----!

کله چې دامعلوم شو چې طهارت فضلات (دمتیازو پاکوالی)، دحضورپاک ﷺ داسې خصوصیت دی چې په هغه باندې دحافظ الدنیاابن حجر (رحمه الله) په وینا په کثرت سره دلائل جمع دي او دڅلور واړو مذهبونو محققین ددې منونکي دي؛ نوبه دې مسئلې باندې په عموماتو استدلال کول صحیح نه دي، بلکې دقادیانانوپه شان دجهالت حرکت دی، هغه خلک هم دعمومات سره استدلال کوي او دحضرت عیسیٰ علی نبینا وعلیه السلام خصوصیت، پرته له پلاره پیدایښ او درفع اسماني انکار کوي، افسوس دی چې تابش مهدي پخپله دقرآن پاک نه استدلال کوي اودجهالت په هماغه کنده کې لویږي، چې په هغه کې دهغه نه مخکې ډیرخلک لویدلي دي.

٤: د زرو رکعتو کولو کیسه

حضرت شیخ نورالله مرقده دیوبزرګ کیسه نقل کړې ده چې هغه به زر(۱۰۰۰) رکعتونه په ولاړه او زر(۱۰۰۰) رکعتونه په ناسته اداکول، تابش مهدي موږ ته دمنتهوحساب لګوي وایي راته چې دڅلیریشتو ګنټوپه لږ وخت کې دا ولې ممکن دي؟

ددې جواب دادی چې دحضرات انبیاوو علیهم السلام معجزې او د حضرات اولیاء الله کراماتو کیسې یوازې دعقلي خیالاتو اود ریاضي حسابونو په ذریعه دروغ ګڼل عقل مندي نه ده، بلکې دعقلیت هیضه ده.

مسلمان چې څنګه دانبیاووکرامو علیهم السلام معجزې حق کنې. همداسې دهغوی دا عقیده هم ده چې "کرامات الاولیاء حق."**ترجمه:** "د اولیاوو الله کرامات حق دي."

کوم خارق عادت امرچې دیو ریښتوني نبي په لاس باندې ظاهرشي، **هغه ته ((معجزه))** ویل کیږي اوکوم چې دیوولي الله په لاس باندې ظاهرشي. هغه ته ((کرامت)) **ویل کیږي.**

امام اعظم ابوحنیفه(رحمه الله) "الفقه الاکبر" کې فرمایي:

"والایات للانبیاء والکرامات للاولیاء حق."

ترجمه: "د انبیاوو کرامو علیهم السلام معجزې او نښانونه اوداولیاوو کرامتونه حق دي."

شیخ علي قاري(رحمه الله) ددې په شرح کې لیکي:

"والایات ای خوارق العادات المسماة بالمعجزات للانبیاء والکرامات للاولیاء حق، ای ثابت بالکتاب والسُنة ولاعبرة بمخالفة المعتزلة واهل البدعة فی انکار الکرامة،والفرق بینهماان المعجزة امرخارق للعادة کاحیاء میت واعدام جبل علی وفق التحدی وهودعوی الرسالة والکرمة خارق للعادة الاانهاغیرمقرونة بالتحدی وهوکرامة للولی وعلامة لصدق النبی فان کرامة التابع کرامة المتبوع." (شرح فقه اکبر ص:۹۵،مطبوعه مجتبائی دهلی،۱۳٤۸ھ)

ترجمه: "دانبیاوو کرامو علیهم السلام ایایتونه یعنې هغه خارق عادت امور کومو ته چې معجزې ویل کیږي اود اولیاء کرامات حق دي اومعتزله او اهل بدعت کوم چې دکراماتومنکران دي، دهغوی دمخالفت هیڅ اعتبارنه شته اودمعجزې اوکرامت په مینځ کې فرق دادی چې: "معجزه" هغه خارق عادت امردی چې هغه په ډول دتحدي یعنې درسالت اونبوت دعوې سره وي، لکه دمړي ژوندي کول، یایو ډله اوجماعت هلاکول او"کرامت" خارق عادت امرته وایي، خوهغه دَتحدی سره مقرون نه وي او(داسې خارق عادت،چې هغه دیوولي په لاس باندې ظاهروي) هغه دولي کرامت دی اودهغه دمتبوع نبي دریښتنولي علامت دی، ځکه چې کوم شی دتابع له پاره دشرف او کرامت موجب وي، هغه دهغه دمتبوع له پاره هم شرف او کرامت دی."

امام طحاوي(رحمه الله) په خپله عقیده کې(چې هغه دتمامواهل سنتوپه نزد مسلمه ده) لیکي:

"ونؤمن بماجاء من کرامتهم وصح عن الثقات من روایتهم."

ترجمه: "اوداولیاء الله چې کوم کیسې نقل دي اودثقه روایانو دروایاتونه صحیح ثابت دي" په هغو باندې ایمان ساتو."

دهغه په حاشیه کې شیخ محمدبن مانع لیکي:

"کرامات الاولیاء حق ثابتة بالکتاب والسنة وهی متواترة لاینکرهاالااهل البدع کالمعتزلة ومن نحانحوهم من المتکلمین،وقدضلل اهل الحق من انکرها، لانه بانکاره صادم الکتاب

والسنة ومن عارضهما وصادمهما برايه الفاسد وعقله الكاسد فهو ضال مبتدع." (العقيدة الطحاوية ص: ۲٤، مطبوعه دائرة المعارف الاسلامية، آسيا آباد، بلوچستان).

ترجمه: "داولياء الله كرامتونه برحق دي، دكتاب او سنت سره ثابت دي او دامتواتردي، ددې منكران يوازې اهل بدعت دي، لكه دمعتزله قسم متكليمن او دحق والا دكراماتو منكران گمراه گرځوي، ځكه چې هغوی خپل دې انكار سره دكتاب او سنت سره مقابله كوي اوكوم سړی په خپلو غلطو فيصلو او دكم عقل په ذريعه دقرآن او سنت سره اختلاف او مقابله وكړي، هغه گمراه او گناه كاردی."

په عقيده نسفيه كې داولياء الله دكرامتونو مثالونه ذكرشوي دي، ليكلي يې دي:

"وكرامات الاولياء حق فتظهر الكرامة على طريق نقض العادة للولى من قطع المسافة البعيدة فى المدة القلية وظهور الطعام والشراب واللباس عندالحاجة والمشى على الماء والطيران فى الهواء وكلام الجماد والعجماء واندفاع المتوجه من البلاء وكفاية المهم عن الاعداء وغير ذلك من الاشياء." (شرح عقائد نسفی ص: ۱٤٤ ومابعد).

ترجمه: "اود الياء الله كرامات برحق دي، دولي له پاره په ډول دخرق عادت كرامات ظاهريږي، مثلا: په كمه موده كې طويل مسافت پوره كول، په وخت دحاجت په غيب سره دخوراک، اوبو او لباس ظاهرول، په اوبوباندې تلل، په هواكې الوتل، دبوټواوحيواناتو خبرې كول، دراتلونكي مصيبت ليرې كول، ددښمنانوپه مقابله كې دفتح كفايت كيدل او داسې نور....."

دمعجزې او كرامت يو قسم دادی چې معمولي خوراک يااوبه ډېروخلكوله پاره كافي شي. په احاديثوكې ددې ډېرواقعات ذكردي اوداولياء الله په سوانح كې هم دا شيان په تواتر سره نقل دي اوځنگه چې دمعجزې او كرامت په ډول دخوراک څښاک په شيانوكې خارق عادت بركت پيداكيږي، داسې په وخت كې هم داسې خارق عادت بركت پيداكيږي چې دعقل او قياس ټولې پيمانې ماتيږي، دداسې خارق عادت بركت يومثال دمعراج شريف كيسه ده.

حضورپاک ﷺ چې كله په معراج باندې تشريف يوړ؛ نو اوږد سفريې وكړ، لومړی دمكې مكرمې نه بيت المقدس ته ، هلته دانبياوو كرامو ﷺ امام شو، بيا له هغه ځای نه په اسمان باندې تشريف يوړ اوداسمان نه هم مخكې لامكان پورې ورسيده، دجنت او دوزخ سيل يې وكړ، اوس كه چيرې هغه ټولې كيسې دعقل او قياس په پيمانې سره ناپ شي؛ نودهغه معراج دكيسو له پاره په اربونوكهربونو كلونه عرصه دركارده، خوالله پاک داټول هرڅه دشپې په يوه برخه كې وكړل، داسې كه په ډول دخرق عادت الله تعالى ديومشهوربنده په وختونو كې غيرمعمولي بركت وفرمايي اوهغه په لږوخت كې دوه زره(۲۰۰۰) ركعتونه وكړل؛ نومحض دعقلي خيالاتو په ذريعه انكار هغه سړی كولی شي كوم چې دانبياوو كرامو ﷺ دمعجزو او

حضرات اولیاء الله (رحمهم الله) د کراماتو منکروي او څنګه چې مخکې معلوم شول چې داسې سړی د اهل سنت د زمرې نه خارج دی.

جناب تابش مهدي صاحب پخپله د جرح وتعدیل د اسلحې نه ډک شوی د حضرت شیخ نورالله مرقده خلاف مقابلې له پاره راوتی و، خود حضرت شیخ نورالله مرقده کرامات وګورئ چې هغه لاره هیره کړه او د اهل باطل او اهل بدعت په صف کې ودریده:

وه شیخ ہ که دهوم تهی حضرت کے زهد کی!

مین کیا کهوکه رات مجے کس کے گهر ملے ؟

حضرت امام ابوحنیفه (رحمه الله) او نورډیر علماوو کرامو د ډیرو عبادتونو کیسې په تواترسره نقل دي، خو ډیر عقل پرست (کم عقل) حضرات د تابش مهدي په شان هغوی محض د خپل عقل په ذریعې سره رد کوي او شاید داغیبانان په خپل ذهني او فکري پرواز په لحاظ سره معذوره هم دي، څکه چې: "فکر هرکس بقدرِ همت اوست"

شپره چشم که د لمر د وجود انکار کوي؛ نو هغه معذوره ګڼل پکار دي، خو چې کومو خلکو ته معلومه ده چې د الله پاک معامله د هغه د خاص بندګانو سره هغه نه وي، کومه چې زموږ په شان خلکو سره وي، هغوی د داسې کیسو نه د انکار جرات نشي کولی----!

د تبلیغي جماعت فیضان، دیو سوال جواب

سوال: ستاسو په خدمت اقدس کې یوه پرچه "تبلیغي جماعت، د احادیثو په رڼا کې" چې د طیبه جومات مولانا دیوسړي ریاض احمد په نوم سره تقسیم کړې ده، وړاندې ده، په دې کې من جمله او د خبرو په دریم حدیث کې لیکل شوي دي: "هغوی چې چیرته پیدا کړئ قتل یې کړئ د قیامت په ورځ د هغوی د قاتل له پاره ډیر اجر او ثواب دی". (بخاری جلد:۲ص:۱۰۲٤).

یوه خبره په خدمت کې عرض کوم چې رښتیا خینې خلک د دې جماعت ډیر زر جذباتي کیږي او پرته د څه اعتراض او د سوال جواب ورکولو نه، یا منلو نه جګړې کوي او حد داچې کنځل وغیره هم شروع کوي، بل داچې خلک کافي حده پورې یوازې کتاب کتل اولین فرض ګڼي، خو په عملي ژوندکې اکرام مسلم وغیره سره تعلق نه شته، دا یوازې د نورو خلکونه اوریدونکې خبره نه ده، د ازماذاتي مشاهده ده، د تولونه غټه خبره داده چې خلک کلونه ولګوي، خود شپږ نمبرونه مخکې نه وځي او یوازې تبلیغي نصاب ګوري، چې د هغه تشریحات په احادیث نبوي سره ملاویږي، هغوی سره چې کله د قرآن پاک ذکر کوي؛ نو وایي چې: "صحابه کرام (رضی الله عنهم) لومړی ایمان زده کړ، بیا قرآن" او دا خلک کلونو لګولو نه وروسته هم ایمان زده کوي، په قرآن باندې چیرې هم نه راځي، بلکې ډیرخلک په دې باندې مشتغل شوي دي او جنګونه پرې کوي، له دې نه پرته زه تبلیغي جماعت سره تقریباً د لسو کلونو نه منسلک یم، خو له څه مودې راهیسې زما زړه د دې جماعت نه لرې شوی دی، خاص کر اوس د دې پرچې په

رښا کې بالکل لرې دی، خوولاړیم، ستاسو به ډیره مهرباني وي زمونږ رهنمایي وکړئ، په دې باندې تفصیلي رڼا واچوئ چې زه فیصله وکړم چې کومه یوه لار صحیح ده او دا حدیثونه دکومو خلکو له پاره دی؟

جواب: دتبلیغي جماعت په باره کې دجناب ریاض صاحب چې کوم اشتهارتاسو رالیږلی دی، داسې قسمه شیان، خوزما له نظرنه مخکې هم تیرشوي دي، دهغوی خوبراه راست په تبلیغي جماعت باندې نه، بلکې په علماء دیوبندباندې اعتراض دی، چې هغه هغوی په "دیوبندي فتنه" سره تعبیرکوي، نعوذبالله! حالانکې حضرات علماء دیوبند نه الله تعالی ددیني خدمتونو چې کوم کارپه تیره پیړۍ کې اخیستي د ی هغه دهرلیدونکي په مخامخ دی، کوم احادیث چې ریاض احمدصاحب نقل کړي دي، شراح حدیث اتفاق دي چې هغه دهغوخوارجومتعلق دي کوموچې حضرت علي رضی الله عنه په زمانه کې دهغه خلاف خروج کړی وو اوهغوی به حضرت عثمان، حضرت علي او نور ټول صحابه کرام رضی الله عنهم نعوذبالله په بدولفظونوسره یادول.

دعلماء دیوبند یا دتبلیغي جماعت دهغه سره رشته جوړول او دخوارجو په باره کې چې کوم حدیثونه بیان شوي دي هغه نه په عام مسلمانانوباندې، بلکې په اکابراولیاء الله (حضرت قطب العالم مولانا رشیداحمد گنگوهي (رحمه الله)، حجة الاسلام مولانا محمدقاسم نانوتوي (رحمه الله)، حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله)، حضرت اقدس مولاناخلیل احمد سهارنپوري (رحمه الله)، حضرت اقدس مولانا سید حسین احمدمدني (رحمه الله)، شیخ الاسلام مولانا شبیراحمد عثماني (رحمه الله)، حضرت اقدس مولانا مفتي محمدشفیع (رحمه الله)، حضرت اقدس مولانا سیدمحمد یوسف بنوري (رحمه الله)، حضرت شیخ مولانا محمد زکریا مهاجرمدني (رحمه الله) وغیره په باندې لګول، ډیرظلم دی، دهغوعلماوو زندګي دعلم نبوت دنشراواشاعت اودالله تعالی ذکر په زړونوکې راسخ کولو کې تیره شوه، دتمامو فتنوپه مقابله کې دې حضراتوخپله سینه وروسته نه کړه اوپه دین کې یوادنی تحریف چیرې هم هغوی برداشت نه کړ، داحضرات پخپله داتباع سنت غلامان وو اوخپلو ملګروته به یې د رسول الله ﷺ د اخلاق او ادابو باندې دځان قربانولو تعلیم ورکولو، کوموخلکوته چې دهغو اکابروپه خدمت کې دحاضرۍ کله توفیق ونه شو، هغه غریبانان چې څه غواړي وایي، خوچې کوموخلکوته پخپله کلونوپورې دهغو علماوو په خفي وجلي محفلونوکې حاضري میسره شوې وي، هغه دهغوی دټولو احوالو او کوائفو چشم دیدګواه دي، هغوی ته معلوم دي چې داحضرات څوک وو؟ بهرحال دکفارو اومنافقینوپه باره کې چې کوم ایتونه اوحدیثونه راغلي دي، هغه په اولیاء الله باندې لګول عظیم ظلم دی اوداظلم په هغه علماوو باندې نه دی، چې هغه خودکوم ذات عالي په رضاباندې مړه وو دهغه په دربارکې رسیدلي دي، هغوی ته اوس دچادمدح و ذم (تعریف اوبدي) هیڅ فائده یانقصان نه شته، کوم خلک چې په هغوعلماووباندې طعن کوي هغوی پخپله خپل اخرت خرابوي اوپه خپل ځان باندې ظلم کوي، حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه او حضرت عمرفاروق اعظم رضی الله عنه ته به

خلکو څه نه ویل؛ خود خلکو د بدګویي هغوا کابرو ﷺ ته څه نقصان دی؟ دا دواړه ترننه پورې د حضور پاک ﷺ د محبت مزې اخلي، خو د بدګویي کولو والاوو ته په دې سره هم عبرت نه کیږي، هم داسنت په اکابر دیوبند کې هم جاري شول. دا بزرګان د حق تعالی شانه د رضا او رحمت په غیږه کې تللي دي او د هغوی بدګویي کولو والا په مفته خپل ایمان برباد وي، الله تعالی دې د هغوی په حال باندې رحم وکړي.

پاتې شو ستاسو دا ارشاد چې: تبلیغ والا دیو سوال جواب ورکولو په ځای جنګ جګړې یا کنځلو باندې راځي: ممکن ده چې ستاسو داسې خلکوسره ملاقات شوی وي، خو د هغو کم عقلو تقریباً څلویښت کلونو نه د اکابر امت د لیدلو او د هغوی سره د ناستې او د هغوی د خبرو اوریدلو موقع ملاویږي، زما په مخکې خو داسې واقعه پیښه شوې نه ده.

او ستاسو دا ارشاد چې: تبلیغ والا د شپږو نمبرو نه وتل او د دین د بل مهمات طرف ته توجه نه ورکوي: دا هم کم نه کم زما د مشاهدې خلاف دي، په زرګونو مثالونه خو زما په مخکې دي چې په تبلیغ کې وخت لګولو نه مخکې هغه بالکل ازاد و او په تبلیغ کې وخت لګولو نه وروسته هغوی نه یوازې پخپله قرآن کریم وویلو، بلکې خپلو بچیو باندې یې هم د قرآن مجید حفظ وکړ او دانګریزي په ځای یې هغوی په دیني تعلیم باندې ولګول، دیني مدرسې یې قائمې کړې، جوماتونه یې اباد کړل، د حلال حرام او د جائز ناجائز د هغوی په زړه کې فکر پیدا شو او هغوی په هریو ورړې او غټې خبره کې دیني مسائل معلومول شروع کړل، ډیره ممکنه ده چې د ځینو کم عقلو شان خلکونه غلطي کیږي، خو د هغو ذمه داري په تبلیغ باندې اچول، هم داسې به وي چې د مسلمان د بدعملو ذمه داري په اسلام باندې اچول (نعوذبالله) هم اسلام بدنامول دي، څنګه چې د یو مسلمان بدعملي یا غلطي هم په اسلام باندې د صحیح عمل نه کولو له وجې سره ده، نه چې نعوذبالله د اسلام له وجې، داسې د یو تبلیغ والا غلطي یا بدعملي هم د تبلیغ کار په پوره طریقې سره د نه هضمولو له وجې کیدای شي، نه چې پخپله د تبلیغي کار له وجې او که د ملامتیا لائق وي؛ نو هغه سړی دی، نه تبلیغ.

تاسو لیکلي دي چې تاسو تقریباً لس کلونو نه تبلیغ سره منسلک یئ، خو اوس ستاسو زړه د هغه نه بد شوی دی. دا خو معلومه نه ده چې لس کاله تاسو په تبلیغ کې څومره وخت لګولی دی؟ خو د زړه د بدوالي یوه وجه دا هم کیدای شي چې د تبلیغ په شان داوچت کار له پاره داصولو او ادابو د رعایت ضرورت دی، هغه ستاسو ونشول، په دې صورت کې تاسو ته په خپلې کم عقلي باندې توبه او استغفار کول پکار دي او دا دعا په ډیرې زارۍ سره کول پکار دي:

" اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِکَ مِنَ الحَوْرِ بَعْدَالکَوْرِ، رَبَّنَا لَاتُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ اِذْهَدَیْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْکَ رَحْمَةً اِنَّکَ اَنْتَ الوَهَّابُ. "

تبليغي جماعت باندې د اعتراضاتو حقيقت

سوال: اميدلرم چې جناب به په خيريت سره وي اوشپه اوورځ به د دين په خدمت او اشاعت کې مصروف يئ، الله تعالی دې پرې تاسوته ول عمرثابت قدم پاتې کيدوتوفيق درکړي (امين)
داخبره پرته له څه مبالغې وايم چې ستاسودتصنيف اوتحريرله وجې زماپه زړه کې چې ستاسوڅومره عزت اواحترام دی شايدچې دومره قدراواحترام زماپه زړه کې دخپل موروپلارله پاره هم نه وي، زماتعلق تبليغي جماعت سره دی اودتبليغي جماعت په باره کې ستاسورايه مې څوځوځله له نظرنه تيره شوې ده، په کومې چې تاسودتبليغي جماعت تايداوعقيدت مندي ډيرې زبردستې طريقې سره کړې وه، زموږ داکاريومقصدي فريضه ده، اگرچې موږ ته دا کارشرح صدرسره کول پکاردي محض تقليدي طريقې سره نه، خوبياهم دعالمانوتاييددې فتنې په دورکې ډيرزيات ضروري دی اوباربارضروري دی.
په دې سلسله کې استدعا داده چې نن سبايوجماعت گرځي دچاچې ښې اوږدې ږيرې هم وي دا جماعت مختلف ښارونوته راځي اودلاوډسپيکرپه ذريعه دلمانځه، روژو اوددې قسمه ښو اعمالو اوازلگوي، مثلاً دروغ مه وايئ، غلا مه کوئ، او داسې نور... اوورسره رسالې هم تقسيموي دکومو نوم چې يې (ضرب حق) ايښی دی اودمنصف نوم يې عتيق الرحمان گيلاني ليکلی دی، داخل داجماعت زموږ ښارضلع پشين کوټې ته راغلی و اوله ځانو سره يې ډير رسالې هم راوړې وې، زر، زريې څواوازونه وکړل اورسالې يې تقسيم کړلې اوله ښاره ووتل.
په دې رسالوکې عجيبه خرافات اوبکواس ليکل شوي دي، درسالې په اکثرو صفحو باندې يې لويې لويې سرخې جوړې کړې اوپه تبليغي جماعت الزامات لگول شوي و، په يوه صفحه باندې دکومې نقل چې تاسوته درليږم اوستاسو دکتاب ''عصرحاضر،،مدد په کې اخيستل شوی دی، چې مفتي محمديوسف لدهيانوي داجماعت عالمگيرفتنه گرځولې ده او اوس دتبليغي جماعت خپلومشرانودې جماعت ته فتنه ويل شروع کړي دي.
گزارش دادی چې ستاسوپه باره کې زمازړه سکمل صفادی، خودامت دساده گانو خلکوپه دې فتنه کې دگيريدوويره ده، له دې وجې داخبارپه ذريعه ددې خلکو مکراوفريب ښکاره کړئ اويوځل بياتبليغي جماعت په خپلوزرينوخيالاتوسره وستايئ اودباطل قوتونوحوصله شکنې وکړئ چې زموږ په علاقه کې، بلکه په پوره پاکستان کې ساده گان خلک له دې فتنې نه بچ شي جواب زرترزره اوپه پوره تفصيل سره مطلوب دی.

جواب: مکرم ومحترم! زيدمجده السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!
تاسودعتيق الرحمان گيلاني په نوم چې دکوم کس ذکرکړی دی، چې هغه دتبليغي جماعت خلاف پمفلټ ليکلي دي اوپه هغوکې ويل شوي دي چې مشرانوداجماعت فتنه گرځولې ده اوداچې ددې معتقدين دتبليغي جماعت دبدنامولوله پاره مستقل مهم چلوي

او ډیر ساده ګان خلک ددې نه متاثره کیږي په دې سلسله کې څو ضروري امور لیکل غواړم، ډیر په غور سره یې ولولی:

۱ دتبلیغ والاوو چې په کوم جومات کې ګشت یابیان وي له هغه نه مخکې په دې الفاظو سره اعلان کیږي چې حضرات! زموږ اودټولوانسانانوکامیابي دالله تعالی په حکمونو پوره کولوکې اودحضور ﷺ په مبارکو طریقوباندې تلوکې ده، ددې له پاره دیومحنت ضرورت دی، ددې محنت په باره کې به دباقي لمانځه نه وروسته خبره کیږي تاسوټول ورته کینئ ان شاء الله ډیره نفع به درته ملاوشي.

دادی ددعوت اوتبلیغ هغه محنت، کوم چې دتبلیغي جماعت موضوع ده..، اودکوم اعلان چې په هرجومات کې کیږي.

۲ دالله تعالی بندګان دالله تعالی طرف ته رابلل داهغه پاک مقصددی دکوم له پاره چې حضرات انبیاء ﷺ مبعوث شوي وو اودې حضراتوپرته له څه اجرت نه یوازې دالله تعالی د رضا له پاره ددعوت الی الله فریضه پوره کوله، په دې لاره کې دهغوی په وړاندې د مصیبتونو غرونه راغلل، هغوی ته تکلیفونه ورکړل شول، دهغوی بې عزتي وشوه، هغوی ورټل شول، هغوی ته کنځل وشوې، اختارونه ورکړل شو او ویرول شو، خودهغوی په استقامت کې څه کمښت رانغی، بلکې داتمام مصیبتونه اوتکلیفونه هغوی دالله تعالی درضاحاصلولوله پاره برداشت کړل او ددې له پاره یې دسر ومال اوعزت دقربانولونه مخ ونه ګرځولو، دحضرات انبیاووکرامو ﷺ کوم حالات چې په قران کریم اواحادیث شریف کې بیان شوي دي په هغوکې چې یوخواته داواضحه کیږي چې داحضرات دایمان اویقین اوصبراستقامت اوبلندهمتي په څومره اوچت مقام باندې فائزوو؛ نوهلته ورسره داهم معلومیږي چې ددعوت الی الله مقصدڅومره عظیم الشان اوعالی مقصد دی اوددې مقصدله پاره حضرات انبیاووکرامو ﷺ فوق العاده قربانیانې وړاندې کړي دي.

۳ حضور ﷺ خاتم النبین دی، په چاباندې چې دنبوت سلسله ختمه شوې ده اوله هغه ﷺ نه وروسته به هیڅوک دنبوت اورسالت په منصب باندې فائزنه شي، دحضور ﷺ دختم النبوت په طفیل ددعوت الی الله داکار، دکومولة پاره چې حضرات انبیا ﷺ رالیږل شوي وو، اوس دحضور ﷺ امت ته حواله شوی دی، دالله تعالی ارشاددی:

﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (ال عمران: ۱۰۴)

ترجمه: اوپه تاسوکې یوه ډله داسې کیدل ضروري دي چې دخیرطرف ته رابلل کوي اودنیکوکارونوله پاره ویل کوي اودبدکارونونه منع کول کوي اوداسې خلک به پوره کامیاب وي. (ترجمه حضرت تهانوی (رحمه الله))

(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ) (ال عمران: ۱۱۰)

ترجمه. تاسو خلک ښه ډله يئ، هغه ډله چې دخلکوله پاره ظاهر شوې ده، تاسوخلکوته دنيکوکارونو ويناکوئ اود بدو خبرو نه منع کول کوئ اوپه الله تعالى باندې ايمان لرئ،.

(ترجمه حضرت تهانوى(رحمة الله))

په دې ايتونوکې ددعوت الى الله، امربالمعروف اونهي عن المنكركاردامت محمديه (على صاحبها الصلوات والتسليمات) ته حواله شوى اودې ته د، ،خيرامت، ،لقب ورکړل شوى دى، له کوم نه چې معلوميږي چې ددې امت،خيرامت، ،کيدل هم ددې مبارک کارله وجې دي.

۴ په دې ايت شريفه کې ددعوت الى الله کومه فريضه چې امت ته حواله شوې ده، الحمدلله! داامت له دې فريضې کله هم غافله شوي نه دي، بلکې حضرات صحابه کرام رضوان الله اجمعين نه واخله ترننه پورې اکابرامت دامقدسه فريضه پوره کوي اوددعوت الى الله دخاص خاص شعبوله پاره کسان اوجماعتونه ميدان ته راوځي،کله دقتال اوجهادپه ذريعه، کله دوعظ اوارشاد په شکل ،کله ددرس تدريس په صورت کې،کله دتصنيف اوتاليف په ذريعه، کله دمدارسو او خانقاه ګانودقيام په طريقه، کله داصلاح اوارشادپه لاره،کله دقضااوافتاء په ذريعه، کله دباطلو اوګمراه فرقوسره دمناظرواومباحثوپه ذريعه،کله په انفرادي ډول اوکله په اجتماعي ډول دتعليم اوتبليغ په ذريعه، داټول ددعوت الى الله مختلف شکلونه اومتخلفې شعبې دي، الحمدلله! ددعوت الى الله هيڅ يوميدان داسې نه شته کوم چې امت خالي پريښى وي اوهيڅ يوه شعبه داسې نه شته په کومه کې چې په ګڼ شميرکې کارکونکي جماعتونه نه وي، فالحمدلله على ذالک.

۵ تبليغي جماعت چې په کوم طرز باندې ددعوت الى الله کارکوي دادسنت نبوي ﷺ اوطريقه سلف صالحين عين مطابق ده.

حضرت اقدس مولاناشاه محمدالياس کاندهلوي (رحمة الله)، حضرت قطب الارشادمولانا رشيد احمد ګنګوهي خادم، دحضرت اقدس مولاناخليل احمدسهارنپوري مهاجرمدني خليفه او دخپل دوردتمام اکابرامت معتمداومنظورنظرو، دهغه دژوندیویوعمل دسنت نبوي ﷺ په سانچې کې جوړشوی و، هغه دايمان اواخلاص، زهداوتوکل، ايثاراوهمدردي، صبر او استقامت، بلند نظري اوبلندهمتي اواخلاق اواوصاف کې فائق الاقران و، الله تعالى ددوى نه ددين ددعوت اوتبليغ تجديدي کارواخيست اوالله تعالى دماديت دجديدطوفان په مقابله کې هغوی باندې د..عمومي دعوت، ،طريقه منکشف کړه اوهغوی له يوعام نه عام سړى هم دتبليغ په کارکې ولګولو، دحضرت مولانامحمدالياس دوخت نه تراوسه پورې ((تبليغي جماعت،)) هم په دې طريقه اونقشه باندې ددعوت الى الله کارکوي اوالحمدلله ثم الحمدلله،

ددې په ذريعه په كروړونو كسان الله تعالى دفسق اوفجوردتيارونه راوويستل اودشريعت مطهره پابنداوپه سنت نبوي ﷺ مطابق دژوندتيرولوجذبه يې ورکړه.

۶ دتبليغي جماعت په دې مبارک کارباندې دخلکوله طرفه دناواقفي له وجې نکته چينۍ هم وشولې. ددوی په کارکې دخنډونوپيداکولوکوشش هم وشو اوددوی دبدناموله پاره کيسې هم جوړې شوې، خودا دالله کاردی، الحمدلله! چې ددې تمامو خنډونو باوجودالله تعالى دخپلو مخلصو بندګانونه ددين ددعوت کاراخلي اودالله تعالى درحمت اوعنايت نه داقوي اميددی چې هغه به خپل بندګان ددې کارله پاره راوچتوي.

۷ دې ناکاره ته دډيرمودې راهيسې په تبليغي سفرونوکې دشريکيدوسعادت حاصل شوی دی او دتبليغ دمشرانودذاتي نه ذاتي محفلونوکې دناستې اودهغوی دحالاتوپه غورسره دمطالعې كولو موقع ورته نصيب شوې ده، دالله تعالى لاک لاک شکردی چې دې ناکاره ترڅومره پورې دنزدې نه نزدې کيدوموقع ملاوشوې ده؛ نوهماغومره راته ددې کاردافاديت اوپه دې کارکې دلګيدلو حضراتو حقانيت واضحه شوی دی، ددې له وجې زه په پوره بصيرت اوانشر اح سره دا اظهارکول ضروري ګڼم چې دتبليغي جماعت کارډيرزيات مبارک دی،د امت محمديه ﷺ دنشاة ثانيه ذريعه ده اودټولومسلمانانوورونو په دې کارکې لګيدل ددنيا اواخرت دسعادتونو ذريعه ده، الله تعالى دې موږ ته خپله رضانصيب کړي اوپه دنيااواخرت کې دې دخپلومقبولو بندګانو ملګرتيااومعيت رانصيب کړي.امين!

د تبليغيا نو د شب جمعې پابندي كول څنګه دي

سوال: دکلونونه دتبليغ والا دجمعې شپه خاص کړې ده اوکله هم په کې وقفه نه راولي، الله دې نه کړي چې دهمدې عمل له وجې دې حديث کې داخل نه شي چې "لاتخصوليلة الجمعة الخ،، او دې باندې قائم اوسيدل خوبه بدعت نه وي؟

جواب: تعليم اوتبليغ له پاره يوه ورځ ياشپه مقررول بدعت نه دي اونه ددې خيال ساتل بدعت دي ديني مدرسوکې دسبقونوله پاره وختونه مقرردي اودهغه پابندي ضرورکيږي، دې باندې چاته دبدعت شک ونه شو.

❖ تصوف ❖

د بیعت تعریف او اهمیت

سوال: د بیعت څه معنا ده؟ ایا د یو کامل پیر بیعت کول لازمي دي؟

جواب: د بیعت مطلب دا دی چې د یو مشر کامل متبع سنت په لاس باندې د خپلو ګناهونو نه توبه کول او اینده د هغه په رهنمایي کې په دین باندې د تللو وعده کول، دا صحیح دی او د صحابه کرام رضي الله عنهم نه د نبي پاک علیه السلام په لاس باندې بیعت کول ثابت دي[1] ترڅو پورې چې د یو الله والا سره دې رابطه نه وي، د نفس اصلاح نه کیږي او په دین باندې تلل مشکل دي، ځکه د یو بزرګ سره اصلاحي تعلق ضروري دی[2]، البته رسمي بیعت ضروري نه دی.

د پیر پیژندګلوي

سوال: ایا په اهل سنت والجماعت حنفي مذهب کې داسې پیران او بزرګان دې ومنل شي چې دهغوی په سرباندې نه دستار نبوي وي، نه سنت یعني ږیره مبارکه؟

جواب: پیر او مرشد خو هغه کیدای شي کوم چې د نبي پاک صلی الله علیه وسلم په لار باندې تلونکی وي، کوم سړی چې د فرائضو او واجباتو او د سنت نبوي صلی الله علیه وسلم نه انکاري وي، هغه پیر نه، بلکې د دین ډاکو دی.[3]

---

[1] عن عوف بن مالك الأشجعي قال: كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: ألاتبايعون رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ فرددهاثلاث مرات، فقدمناأيدينافبايعناه، فقلنا: يارسول الله! قدبايعناك فعلى م؟ قال: على أن تعبدالله ولا تشركوا به شيئًا والصلوات الخمس واسركلمة خفيفة أن لاتسألوا الناس شيئًا...إلخ (سنن النسائي ج: ١ ص: ٥٤)

[2] تزكية الأخلاق من أهم امورعندالقوم.......... ولايتيسرذالك إلا بالمجاهدة على يدشيخ أكمل، قد جاهد نفسه، وخالف هواه، وتخلى عن الأخلاق الذميمة، وتحلى بالأخلاق الحميدة، ومن ظن من نفسه أنه يظفربذالك بمجردالعلم ودرس الكتب فقد ضل ضلالابعيدا، فكما ان العلم بالتعلم من العلماء كذالك الخُلق بالتخلُق على يدالعرفاء، فالخلق الحسن صفة سيّدالمرسلين...إلخ إعلاء السنن ج: ١٨ ص: ٤٤٢ كتاب الأدب، طبع دارالقرآن)_

[3] حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي چې د كامل شيخ پيژندنه: كامل شيخ هغه دی چې په هغه كې دانښې وي (١) داچې بقدرضرورت علم دين لري (٢) په عقائدو اعمالو او اخلاقوكې د شريعت پابندوي (٣) د دنيا لالچ نه لري، دكمال دعوی نه كوي ځكه چه داهم ددنيا شعبه ده. (٤) ديوكامل شيخ په صحبت كې پاتې شوی وي (٥) ددغه زماني منصف عالمان او مشايخ يې ښه ګڼي. (٦) د عوامو په نسبت خواص يعنې پوهه او ديندارخلک هغه طرف ته زيات.. [بقيه په راروانه صفحه..

د بیعت شرعي حیثیت او تعویذونه کول

سوال: په خندان کې یوه ښځه ده. چې هغه د یو پیرصاحب مریده ده. هغه پیرصاحب مالیدلی دی. انتهایي شریف او قابل اعتماد انسان دی، بهرحال هغې ښځې سره مې په څه خبره باندې بحث شو. هغې وویل چې د پیرمریدي خود حضورپاک ﷺ دزمانې نه راروانه ده او خلکو به د حضورپاک ﷺ نه هم تعویذونه وغیره اخیستل. له دې نه پرته چې کوم سړی د اولیاء الله او فقیرانو نه لیرې تښتي. هغه انتهایي ګناه ګاردی او څوک چې نذر او نیاز (منښته) ونه خوري او درود او سلام ونه وایي هغه د کافر نه هم بدتردی او د قیامت په ورځ به حضورپاک ﷺ تول مسلمانان وبښي، دا ما د هغې د شل ښځه ویشتو منتو خبرو خلاصه راباسلې ده، ما هغې ته داهم وویل چې یو ځل حضورپاک ﷺ د خپلې مور د بښنې دعا غوښتله؛ نو الله تعالی حضورپاک ﷺ د دې خبرې نه منع کړ؛ نو چې حضورپاک ﷺ خپله مور ونه بښله؛ نو د دې ګناهګارو مسلمانانو به سفارش ولې کوي؟ ما خو ښځې ته وویل، خو ما ته یادنه دي چې دا خبره ما په یو حدیث کې ویلې وه یا د یو قرآني ایات ترجمه ده، بهرحال که داسې وي؛ نو تاسو د مخکې ویل شویو ټولو خبرو تفصیل که په قرآن کریم سره راکړئ؛ نو د سپارې نمبر او د ایات نوم ولیکئ او که په حدیث کې وي؛ نو مهرباني وکړئ د کتاب نوم او صفحه نمبر ولیکئ!

جواب: دا مسائل ډیر تفصیل غواړي، بهتره به وي چې تاسو لږ وخت وباسئ او ما ته تشریف راوړئ، ځکه چې د دې خبرو متعلق د اسلام صحیح نقطه نظر عرض کړم، مختصر دا چې:

۱. شیخ کامل چې د شریعت پابند، د سنت نبوي ﷺ فرمانبردار او د بدعتونو او رسمونو نه ازاد وي، هغه سره تعلق قائمول ضروري دي.

د کامل شیخ یو څو علامې (نښې) درته ذکر کوم، کوم چې علماوو کرامو بیان کړي دي:

۲. چې د دین د ضروریاتو علم ورسره وي.

۳. د چا کامل په صحبت کې اوسیدلی وي او هغه شیخ ورته د بیعت اخیستلو اجازه ورکړې وي.

۴. د هغه په صحبت کې ناسته، د اخرت شوق پیدا کوي او د دنیا محبت نه زړه توریږي.

۵. د هغه د مریدانو اکثریت د شریعت پابندوي او د رسمونو او بدعاتونه پرهیز کوي.

...بقیه د تیرمخ]... مایل وي. (۷) له هغه نه چه کوم خلک بیعت کوي په هغوی کې د اکثرو حالت د شریعت د اتباع په اعتبار سره او د دنیا سره د حرص د کمښت په اعتبار سره ښه وي. (۸) د غه شیخ په تعلیم او تلقین کې د خپلو مریدانو په حال باندې شفقت کوي او د هغوی یوه بده خبره واوري یا یې ویني: نو هغوی منع کوي، داسې نه وي چه هر یو په خپله خوښې پریږدي. (۹) د هغه په صحبت کې یو څو ځله کیناستلو سره د دنیا په محبت کې کمښت او د الله تعالی په محبت کې ترقي محسوسه شي. (۱۰) پخپله هم هغه ذکر کې مشغول او سیږي. (تربیت السالك، ص: ۱۰، شیخ کامل کی پهچان، تالیف حضرت تهانوي رح)

۶. چې هغه دنفس اصلاح کولی شي، دخرابو اخلاقو پر ېښودو او دښو اخلاقو تلقين کولو صلاحيت لري

۱. هغه مريد په غيرشرعي حرکتونو باندې منع کوي

۲. دمشائخونه چې څوک بيعت کوي، دې ته "بيعت توبه" وايي او دا د حضورپاک ﷺ نه ثابت دی[۱]

۳. تعويذونه جائز دي، خوددې حيثيت يوازې علاج دی[۲]، يوازې دتعويذونوله پاره پيري مريدي کول دکان داري ده، داسې پير نه خلکوته د دين نفع نه رسيږي

۴. داولياء الله نه نفرت غلط دی، پيرفقيرکه دشريعت پابندوي؛ نو دهغه په خدمت کې حاضري کول يو علاج دی، ګني زهرقاتل

۵. دنذر او نياز خوراک غريبانوته پکاردی، مالداره خلکوته نه او نذريوازې دالله تعالی جائز دی، دغيرالله جائزنه دی، بلکې شرک دی[۳]

۶. درود او سلام په حضورپاک ﷺ باندې يوځل ويل ضرور فرض دي، په کوم محفل کې چې دحضورپاک ﷺ نوم مبارک راشي په هغه کې يوځل درود شريف ويل واجب دي اوکله هم چې د حضورپاک ﷺ نوم مبارک راشي درود شريف ويل مستحب دي[۴]، درود شريف په کثرت سره ويل داعلی درجې عبادت دی او د درود او سلام په لاؤډ اسپيکر کول بدعت دي[۵]،

---

[۱] مرشدشدن ازان کس درست است که دران پنج شرط متحقق باشد، (شرط اول): علم کتاب وسنت رسول داشته باشد، خواه خوانده باشد، خواه ازعالم يادداشته باشد، (شرط دوم): آنکه موصوف بعدالت وتقوٰی باشد واجتناب ازکبائر وعدم اصرار برصغائرنمايد. (شرط سوم): آنکه بی رغبت ازدنيا وراغب آخرت باشد، وبرطاعات مؤکده واذکار منقوله که دراحاديث صحيحه آمده اند مداومت نمايد. (شرط چهارم): آنکه امرمعروف ونهی ازمنکر کرده باشد. (شرط پنجم): آنکه ازمشائخ اين امرگرفته باشد وصحت معتدبها ايشان نموده باشد، پس هرگاه اين شروط درشخصی متحقق است، چنانچه درقول جميل فی بيان صواء السبيل تفصيل اين شروط مذکوراست. (فتاوٰی عزيزی ج۲ ص۱۰۴، طبع مکتبه ديوبند، تفصيل دپاره اوګورئ: امداد السلوك مع ارشاد الملوك للگنگوهی رح ص:۶۶ تا ص۷۰، طبع دارالاشاعت)۔

[۲] وإنماتكره العوذة إذا كانت بغير لسان العرب، ولايدرى ماهو لعله يدخله سحر أوكفر أو غيرذالك، وأما ما كان من القرآن أوشيء من الدعوات فلابأس به........ وعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه كان يعوذ نفسه، قال رضى الله عنه وعلى الجواز عمل الناس اليوم وبه وردت الآثار(ردالمحتار:ج:٦ ص: ٣٦٣، كتاب الأضحية)

[۳] والنذرللمخلوق لايجوزلأنه عبادة والعبادة لاتكون لمخلوق ردالمحتار مع الدرالمختار ج: ۲ ص: ۴۳۹)۔

[۴] وقدجزم بهذاالقول أيضًاالمحقق ابن الهمام فى زادالفقير،فقال مقتضى الدليل افتراضها فى العمرمرة،وإيجابها كلما ذكر، إلاأن يتحدالمجلس فيستحب التكراربالتكرار..إلخ فتاوى شامي ج:۱ ص:۵۱،مطلب هل نفع..إلخ)

[۵] من أحدث فى أمرناهذا ماليس منه فهورد (بخارى شريف ج:۱ ص:۳۷۱، مسلم ج:۲ ص:۷۷) وهى (أى البدعة) إعتقادخلاف المعروف عن الرسول صلى الله عليه وسلم لابمعاندة بل بنوع شبهة (درمختار ج:۱ ص: ۵۶۰)

کوم خلک چې درود او سلام نه وايي هغوی ته د ثواب نه محروم ويل صحيح دي. خود کافرنه بدتر سراسر جهالت دی.

۷. ستاسو افقره چې "حضور پاک ﷺ خپله مورونه بښله: نو د ګنهګارو مسلمانانو سفارش به ولې وکړي" ډير د ګستاخۍ الفاظ دي. د دې نه توبه وکړئ.

۸. د حضور پاک ﷺ د مور و پلار په باره کې ژبه بنده ساتل ضروري دي.[1]

۹. د حضور پاک ﷺ شفاعت د قيامت په ورځ د ګناهګارو مسلمانانو له پاره حق دی او د دې نه انکار ګمراهي ده، د حضور پاک ﷺ ارشاد مبارک دی:

"**شفاعتي لاهل الكبائر من أمتي.**"(رواه الترمذي وابوداؤد عن انس،ورواه ابن ماجة عن جابر،مشكوة ص: ٤٩٤). **ترجمه**: "زما شفاعت زما د امت د کبيره ګناهونو والاوو له پاره دی."

د کامل مرشد صفات

سوال: يو سړی چې د هغه عمر تقريبا پنځه ويشت کاله دي، هغه نه قرآن شريف ويلي دي، نه يې لمونځ زده دی او نه د ديني معلوماتو څخه خبر دی، د هغه تعلق زموږ د له کورنۍ سره دی، او س د کورنۍ خلک ماته د هغه صاحب نه د بيعت اخيستلو وايي او د اکار ماته د خپل عقل او علم خلاف په نظر راځي، ستاسو څه رايه ده؟

جواب: د يو مرشد په لاس باندې بيعت اخيستل د خپلې اصلاح له پاره وي او کامل مرشد هغه دی چې په هغه کې لاندې ذکر شوې خبرې موجودې وي:

۱: د ضرورت مطابق ديني علم لري.

۲: د هغه عقيده، عملونه او اخلاق د شريعت مطابق وي.

۳: د دنيا حرص نه ساتي، د کمال دعوه نه کوي.

۴: د يو کامل مرشد د متبع سنت په خدمت کې اوسيدلی وي او د هغه له طرفه د بيعت اخيستلو اجازه ورته حاصله وي.

۵: د هغه زمانې عالمان او د دين بزرګان د هغه په باره کې ښه رايه ساتي.

۶: د هغه سره تعلق ساتلو والا چې دين دار او پوه خلک وي او د شريعت پابند وي.

۷: هغه د خپلو مريدانو د اصلاح خيال ساتي او که له هغوی نه يو غير شرعي کار وشي؛ نو په هغه ورته غوسه کيږي.

[1] وبالجملة كما قال بعض المحققين: إنه لاينبغي ذكرهذه المسئلة إلامع مزيدالأدب، وليست من المسائل التي يضرجهلها أو يسأل عنها في القبر أو في الموقف، فحفظ اللسان عن التكلم فيها إلابخير أولى وأسلم (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۱۸۵، باب نكاح الكافر)۔

کمیږي.
۸ دهغه سره په ناسته دالله پاک سره محبت زیاتیږي او د دنیا محبت کمیږي.
په کوم انسان کې چې داصفات نه وي، هغه دمرشدجوړولولائق نه دی. بلکې هغه ددین او ایمان دښمن دی اودهغه نه پرهیز کول واجب دي[1]. مولانارومي (رحمه الله) فرمايي:

اے بسا ابلیس آدم روئے هست   پس به هر بدستے نه باید داد دست

یعنې ډیرابلیسیان دانسانانوپه جامه کې راځي، ځکه دهرسړي په لاس کې لاس ورکول نه دي پکار.

په یو وخت دوو بزرګانو سره اصلاحي تعلق ساتل

سوال: ایا په یووخت کې دوو بزرګانوسره اصلاحي تعلق قائمولی شو؟

جواب: اصلاحي تعلق خو دیوشیخ سره پکاردی، البته که شیخ (بزرګ) لرې وي؛ نودهغه په اجازې دیومقامي بزرګ په خدمت کې حاضري او له هغه نه په اصلاح اخیستلوکې څه مضائقه نه شته.

ذکر جهر، پاس انفاس

سوال: په ګلګت کې له یوې څه مودې نه یو داسې فرقه په وجودکې راغلې ده چې هغه په پوزې سره دساه په ذریعه (خُله بندوي) ذکرکوي اوټولو عوامو ته هم ددې ترغیب ورکوي، چې هغه ته داخلک د پاس انفاس نوم ورکوي، براه کرم ددې دصداقت متعلق وضاحت وکړئ.

جواب: دمشائخوپه نزد دذکرمختلف ترکیبونه رائج دي، که داخلک چیرې دیوکامل شیخ په هدایت باندې دا کوي؛ نوصحیح ده،ګني غلط ده.

سوال: ذکرشوې فرقه وایې چې:"په ذکرهذا سره دبیت الله شریف زیارت، دسړیوپه باره کې دحال معلومول اودعذاب قبرمشاهده په ذکرکولوسره په دنیاکې کیږي." اوداذکردرناپه ختمولو دشپې کوي.

جواب: تاسوچې ددې خلکوکوم قول لیکلئ دی: "په ذکرهذا(دپوزې ذکر) دبیت الله شریف زیارت کول، دسړیو حال معلومول اودعذاب قبر مشاهده په ذکر کولودنیاکې کیږي" دې نه اندازه کیږي چې دهغوی خلکوشیخ عالم نه دی، ځکه چې دا شیان نه دمقاصدو نه دي، نه دهغوی په خاطر ذکر کیږي، دالله پاک په ذکرکې داشیان مقصدجوړول ګمراهي ده، ذکرنه مقصودیوازې دالله تعالی رضاپکارده، ددې نه پرته ټول باطل دي،که پرته دسعي اومحنت نه څه شی حاصل شي؛ نو محمود دي، خومقصودنه دي، دهغه طرف ته مطلق توجه نه ده پکار،

---

[1] د حوالې دپاره دتیرې شوې صفحې حاشیه (مرشد شدن ازان .....الخ) وګورئ...!)۔

دقبرونومشاهده يا ددې پشان نورشيان په محنت او رياضت سره کافرانوته هم حاصليداى شي، ځکه دا کمال مقصود ګڼل جهالت او ضلالت دى

مراقبه دخپل شيخ په ښودل شوې طريقه با ندې کول پکاردي

سوال: دمراقبې څه طريقه ده؟ اوپه دې کې څنګه کيناستل پکار دي؟ اومراقبه څنګه کول پکار دي؟ ستاسوبه ډيره مهرباني وي په تفصيل سره وفرمايئ اوددې متعلق کتابونه به چيرته پيداشي؟

جواب: مراقبه دهرسړي دحال مناسب کيږي، دچاچې دکوم کامل شيخ سره تعلق وي هغه يې دخپل شيخ دطريقې مطابق کولى شي، دا علمي تحقيقات نه دي، بلکې دنفس داصلاح علاج دى اودخپل نفس د علاج نه بې فکره کيدل ددې په تحقيقاتو کې ويل لغو او فضول دي.

جهري ذکر جائز دى، خو دضرورت نه زيات په لوړ اواز نه دى پکار

سوال: جهري ذکر(په تيراوازذکرکول) جائز دي اوکه نه؟ لکه دقرآن پاک تلاوت يادکلمه طيبه ورد کول، يا "الله الله" کول،يا "الله هو" ويل په زور او شور سره جائزدي اوکه نه؟ ځکه چې اکثرپيرمرشدچې عالمان هم وي ذکرپه تيراواز سره کوي.

جواب: په تيزاواز سره ذکرکول جائز دي، دبزرګانوپه ځينو سلسلو کې په ډول دعلاج په تيزاواز سره دذکرکولو تعليم شته اوجهر پخپله مقصودنه دى، بلکې دضرورت نه زيات په لوړ اواز نه دى پکار،ترڅو ديولمونځ کونکي په لمانځه اودويده په خوب کې خلل رانه شي.[1]

بيعت او د نفس اصلاح

سوال: خيال پيدا کيږي چې ايا ديوشيخ (بزرګ) بيعت کول واجب او ضروري دي؟ که چيرې دا ونشي اوديوبزرګ صحبت هم نصيب شوى نه وي؛ نودهغه سړي دټول عمرلمونځ او روزانه دقرآن پاک تلاوت اوڅه دپنځه ويشتوکلونونه تهجدوغيره او نورنفلونه اوتسبيحات ټول بيکاره لاړل اوياالله تعالى به په خپل فضل اوکرم سره دهغه سړي ښښنه ونه کړي؟

جواب: دشيخ (بزرګ) نه بيعت اخيستل، خو داسې واجب نه دي چې ددې نه پرته يوعمل هم معتبر نه وي، خوپه داسې طريقې ضروري ده چې ددې نه پرته دنفس اصلاح نه کيږي، روحاني اوقلبي مرضونه (لمونځ، روژه، ذکر و اذکارو باوجود) باقي پاتې کيږي، دشيخ پيرنه دنفس اصلاح کيږي.

---

[1] **وفى حاشية الحموى عن الإمام الشعرانى أجمع العلماء سلفًا وخلفًا على إستحباب ذكرالجماعة فى المساجد وغيرها إلا أن يشوش جهرهم على نائم أو مصلي أو قارئ (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۶۶۰، باب مايفسدالصلاة ومايكره فيها)۔**

مرید دې لومړی د خپل پیر ښودل شوې وظیفې پوره کړي وروسته نورې

سوال: که یو سړي دیو صاحب نه بیعت اخیستی وي؛ نو د پیرصاحب ښودل شوي ذکرونه دې لومړی وایي یا هغه ذکرونه چې، د کومو د فضائلو په کتابونو کې ذکر ملاویږي، څنګه چې د الله پاک رسول ﷺ ارشاد فرمایلی دی: کوم سړی چې سهار سورت یاسین ووایي (ما ښام پورې) به د هغه حاجتونه پوره شي او داسې نور... ، که دیو سړي سره وخت کم وي؛ نو هغه کوم ذکرونه ووایي؟ په حدیثونو کې ذکر شوي یا د هغه صاحب چې له چانه بیعت اخیستل شوی وي؟ داسې که چیرې څوک د بیعت نه مخکې د احادیثو ذکرونه وایي او هغه بند کړي؛ نو ګناه خونه ده؟ د تهجد لمونځ څه ورځې کوم، څه ورځې نه کوم، د دې متعلق وضاحت وکړې او پرته اودس نه په کټ کې په ملاسته د احادیثو کتاب ګورم، ګناه ګاریم یا بې ادب؟ ایا درود شریف پرته له اوداسه ویلی شم؟

جواب: کوم نور ذکرونه چې معمول جوړ شي، که هغه د شیخ په ښودلو سره وي، یا پخپله، د هغو په پرینښودو کې بې برکتي ده، ځکه د ټولو معمولاتو پابندي کول پکاردي او که یو وخت یې ونکړل شي؛ نو په بل وخت کې یې پوره کړئ، د تهجد په لمانځه کې پخپله ناغه مه کوئ، پرته له اوداسه نه د حدیث شریف کتاب کتل خلاف اولی دي[1]، درود شریف پرته له اوداسه جائزدی، په اودس سره یې چې ووایئ؛ نو نوره هم ښه خبره ده.

د "معروف" قید حکمتونه

سوال: د ایت ترجمه: "اې نبي ﷺ! چې کله د ایمان والا ښځې تاسو ته په دې خبرو باندې بیعت کولو له پاره راشي چې هغوی به د الله پاک سره شرک نه کوي او په یو جائز حکم کې به ستاسو نافرماني نه کوي؛ نو د هغوی بیعت قبول کړه. "لفظ "جائز" مفهوم زما په پوه کې نه راځي؟ واضحه یې کړئ، ایا د نبي حکم د "جائز" نه پرته بل څه کیدای شي؟

جواب: د "جائز حکم" ترجمه ده د قرآن کریم د لفظ "معروف"، پاتې شوه ستاسو دا شک چې: "د نبي پاک ﷺ حکم د جائز نه پرته څه بل څه کیدای شي؟" دراصل تاسو دا معلومول غواړئ چې قرآن کریم د "معروف" قید ولې لګولی؟ د دې دوه حکمتونه په ذهن کې راځي:

۱: یو دا چې دا قید واقعي دی، یعنې ستاسو هر حکم جائز او معروف دی، ځکه د نبي پاک (صلی الله علیه وسلم) د هر حکم تعمیل دې وشي، د دې نظیر د قرآن کریم دویم ایت دی: "اِتَّبِعُوا اَحْسَنَ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْکُمْ"، د "احسن" په قید سره په دې باندې تنبیه کول مقصود دي چې کوم څه د الله پاک

---

[1] ومندوب فی نیف وثلاثین موضعًا ذکرها فی الخزائن........فمنها ولغضب وقراءة وحدیث وروایة ودراسة علم ...الخ (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۸۹، کتاب الطهارة)۔

له طرفه نازل شوي وي، هغه ټول احسن دي، ځکه پرته له څه شکه په دې باندې عمل کوئ.
۲. دویم حکمت دا چې دبیعت سنت خو به دحضور پاک ﷺ نه وروسته هم جاري وي، خو غیرمشروط اطاعت به نه کیږي، ځکه د "قید معروف" قید د حضور پاک ﷺ نه دوروسته والا پیش نظر دی او به دې باندې تنبیه مقصود ده چې کله موږ دنبي پاک ﷺ اطاعت دمعروف سره مشروط کړی دی؛ نو دغیرنبي اطاعت په غیرمعروف کې څنګه جائزکیدای شي ----؟

په شریعت او طریقت کې فرق

سوال: په شریعت او طریقت کې څه فرق دی؟

جواب: داعمالو داصلاح سره چې کومه برخه متعلق ده هغه ته "شریعت" وایي او د زړه داصلاح سره چې کومه برخه متعلق ده، هغه ته "طریقت" وایي.[1]

پرته له اجازې نه بیعت کول

سوال: ایا دیو داسې بزرګ بیعت کول جائز دي چې هغه دیو بزرګ دقبر نه دفیض حاصلولو دعوه کوي؟ او یو پیر یا بزرګ په ژوند کې هغه خپل خلیفه نه وي جوړ کړی.

جواب: پرته له اجازت او خلافت نه سلسله نه چلیږي.

لمونځ، روژه وغیره نه منونکي پیر شرعي حیثیت

سوال: په پنجاب کې یو پیرصاحب دی، دهغه مریدان په ډیر تعداد کې هرطرف ته خواره شوي دي، دهغه څه مریدان زموږ عزیزان هم دي، دپیرصاحب دفقیري انداز دی، نه دهغه ږیره شته او نه هغه دلمونځ روژې پابند دی، هغه وایي چې "زموږ دهروخت لمونځ هم لمونځ دی هغه خپلو مریدانو ته وایي چې "موږ ستاسو دروژې لمونځ ذمه داران یو، که تاسو یې اداکوئ او که نه" او خاص خبره داده چې هلته څوک هم لاړشي دهغه مراد ضرور پوره کیږي، تاسو نه پوښتنه داده چې دا ترکوم حده پورې صحیح ده؟ او ایا دداسې پیرصاحب بیعت کیږي او که نه؟ او دهغه مریدانو کافي خلک ګمراه کړي دي، تاسو جواب په اخبار کې شائع کړئ، مهرباني به وي.

---

[1] حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمایي چه ''شریعت،، نوم دی د احکام تکلیفیه دمجموعې. په دې کې ظاهري او باطني اعمال ټول داخل شو اود متقدمینو په اصطلاح کې لفظ ''فقه،، ددې مترادف ګڼل کیږي، لکه چه دامام ابوحنیفه رحمه الله نه د فقهې دا تعریف منقول دی. ''معرفة النفس مالها وما علیها،، _ بیا د متاخرینو په اصطلاح کې شریعت جزومتعلق باعمال ظاهره نوم ''فقه،، شو اود دویم جزومتعلق باعمال باطنه نوم ''تصوف،، شو، دې باطني اعمالو طریقو ته ''طریقت،، وایي.(تربیت السالك ص۱۱، طبع دارالاشاعت)_

جواب: پیراومرشدخوهغه وي چې هغه پخپله هم دحضورپاک ﷺ په سنتوباندې چلیږي اوخپلو متعلقینوته هم په دې لارې باندې دتلو دعوت ورکوي.کوم سړی چې دلمونځ روژې منونکی نه وي، هغه مسلمان نه، بلکې گمراه او بې دینه دی[1] کوم خلک چې دداسې بې دینه په پنجه کې گیرشوي وي؛ نوهغه دې دخپل ایمان تجدید وکړي اوهغه سړي سره دې تعلق ختم کړي، که اسلامي حکومت و؛ نو داسې زندیق ته به یې د مرتد کیدو سزا ورکړله. لمونځ، روژه، حج او زکات د اسلام ارکان دي، دا حضورپاک ﷺ ته هم معاف شوي نه و اونه حضور پاک ﷺ دچاله طرفه ددې ذمه داري اخیستې ده، ایا دهغه سړي دحضورپاک ﷺ نه زیات تعلق الله پاک سره دی؟ توبه! توبه! دا دخلکو دفرائضو ذمه داري په خپل سرباندې اخلي؟[2] پاتې شوه دارمانونو پوره کول: نودنیاکې الله تعالی سپیو او خنزیرانوته هم رزق ورکوي، محض دنیاوي مرادونه پوره کیدل دمقبولیت دلیل نه دی، بلکې ددې هماغه مثال دی چې دکوم سړي له پاره د سزایې موت حکم شوی وي، په جیل کې دهغه هریوارمان پوره کیدای شي.

د نیادارپیر

سوال: زموږ محلې ته یو پیرصاحب دکلي نه هرکال راځي اوڅه وخت پورې دلته اوسیږي، خلک هغه ډیرمني، خوزمازړه یې نه مني چې زه هغه ته لاړشم یایې مریدشم، وجه داده چې جومات کې په جمعې سره لمونځ نه کوي، بلکې په کورکې یې کوي، په رمضان المبارک کې هم جومات ته نه راځي، لمونځ یوازې اداکوي اودکور او جماعت په مینځ کې فاصله یوڅوقدمه ده، ایاپیرصاحب دجومات نه اوچته درجه لري؟ زمادوستانوسره اختلافات دي، تاسو دقرآن او حدیث په رڼاکې مسئله حل کړئ!

جواب: کوم سړی چې پرته له یوشرعي عذرنه جومات ته نه راځي هغه فاسق دی[3]، هغه نه

---

[1] لانزاع في تكفير من أنكر من ضروريات الدين (إكفارالملحدين ص: ۱۲۰) أيضًا: والمراد بالضروريات على ما اشتهرفي الكتب ما علم كونه من دين محمد صلى الله عليه وسلم بالضرورة بأن تواترعنه واستفاض وعلمته العامة كالوحدانيته والنبوة .... ووجوب الصلاة والزكات وحرمة الخمر ونحوها (إكفارالملحدين ص: ۳۷۲)۔

[2] وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى، الآية (فاطر:۱۸)۔

[3] وعن عبدالله بن مسعود قال: لقدرأيتنا وما يتخلف عن الصلاة إلا منافق قدعلم نفاقه (الفقه الحنفى وأدلته ج: ۱ ص: ۲۰۳، باب صلاة الجماعة، فضل صلاة الجماعة) ثم اعلم ان ترك الفرض أوالواجب ولومرة بلاعذركبيرة وكذا إرتكاب الحرام وترك السنّة بلاعذر تساهلاوتكاسلا لها صغير وكذاإرتكاب الكراهة والإصرار على ترك السنّة .... كبيرة شرح فقه الأكبر ص: ۶۹ طبع دهلى)۔

بیعت کول جائز نه دي[۱].

که بیماریا معذوروي: نو د هغه حکم بل دی[۲]

د مریدانو ډیره خرونکي پیر بیعت کول

سوال: یو پیر د خپل مرید ډیره خروي، په دې ویلوچې زموږ په سلسله کې ډیره نه شته د داسې پیرپه باره کې شریعت څه وایي؟

جواب: هغه ګمراه دی، له هغه نه بیعت حرام دی[۳]

د یو شعر مطلب

سوال: د لاندې ذکر شویو شعرونو تشریح وکړئ او صحیح مفهوم واضح یې کړئ:

---

[۱] مرشدشدن ازان کس درست است که دران پنج شرط متحقق باشد، (شرط اول): علم کتاب وسنت رسول داشته باشد، خواه خوانده باشد، خواه ازعالم یادداشته باشد، (شرط دوم): آنکه موصوف بعدالت وتقوٰی باشد واجتناب ازکبائر وعدم اصرار برصغائرنماید. (شرط سوم): آنکه بی رغبت ازدنیا وراغب آخرت باشد، وبرطاعات مؤکده واذکار منقوله که دراحادیث صحیحه آمده اند مداومت نماید. (شرط چهارم): آنکه امرمعروف ونهی ازمنکر کرده باشد. (شرط پنجم): آنکه ازمشائخ این امرگرفته باشد وصحت معتدبها ایشان نموده باشد، پس هرگاه این شروط درشخصی متحقق است، چنانچه درقول جمیل فی بیان صواء السبیل تفصیل این شروط مذکور است. (فتاوٰی عزیزی ج۲ ص۱۰۴، طبع مکتبه دیوبند، تفصیل دپاره اوګورئ: امداد السلوك مع ارشاد الملوك للگنگوهی رح ص:۶۶ تا ص۷۰، طبع دارالاشاعت)۔

[۲] وإذاثبت انها سنة مؤكدة قريبة من الواجب فإنها تسقط فى حال العذر مثل المطر والريح فى الليلة المظلمة ....إلخ (الفقه الحنفى وأدلته ج: ۱ ص: ۲۰۷، جوازالجماعة فى النافلة) أيضًا: فلاتجب على مريض ومقعد وزمن ومقطوع يد ورجل من خلاف .... ولاعلى من حال بينه وبينها مطروطين إلخ وفى الشرح: (تتمة) مجموع الأعذار التى مرت متنا وشرحًا عشرون ...إلخ : (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۵۵۶، كتاب الطهارة)۔

[۳] حضرت تهانوی رحمه الله فرمائي چی دکامل شی پیژندنه: کامل شیخ هغه دې چی په هغه کښی دانښی وی: (۱) داچی بقدرضرورت علم دین لری (۲) په عقائدو اعمالو او اخلاقوکښی د شریعت پابندوی. (۳) د دنیا لالچ نه لری، دکمال دعوٰی نه کوی څکه چه داهم ددنیا شعبه ده. (۴) دیوکامل شیخ په صحبت کښې پاتې شوې وی. (۵) ددغه زمانې منصف عالمان او مشائخ ئې ښه ګڼړی. (۶) د عوامو په نسبت خواص یعنی پوهه او دیندارخلق هغه طرف ته زیات مائل وی. (۷) دهغه نه چه کوم خلق بیعت وی په هغوی کښې د اکثروحالت د شریعت د اتباع په اعتبارسره اوددنیا سره د حرص دکمی په اعتبارسره ښه وی. (۸) دغه شیخ په تعلیم او تلقین کښې دخپلو مریدانو په حال باندې شفقت کوی. اودهغوی یوه بده خبره واوری یا اووینی نوهغوی منع کوی، داسې نه وی چه هریو په خپله مرضئ پریږدی. (۹) دهغه په صحبت کښې یو څو ځل کیناستلوسره ددنیا په محبت کښې کمی اود الله تعالی په محبت کښې ترقی محسوس شی. (۱۰) پخپله هم هغه ذکرکښې مشغول اوسیږی. (تربیت السالك. ص: ۱۰، شیخ کامل کی پهچان، تالیف حضرت تهانوی رح)

خدا ان کا مربی وہ مربی تھے خلائق کے
میرے مولا میرے ہادی بے شک شیخ ربانی

جواب: شیخ کامل د خپلو مستفیدو داصلاح کولو تربیت کوي او دحضرات صوفیه اتفاق دی چې شیخ ته داصلاح او تربیت تدبیرونه دالله پاک له طرفه کیږي، ددې شعر همدا مطلب دی چې دالله پاک لطف او عنایت دهغوی تربیت کولو اوهغوی به دالله پاک دمخلوق اصلاح او تربیت دالله پاک د القاء او الهام مطابق کوله.

دذکر دیو کیفیت په باره کې

سوال: بنده یو ورځ په ذکرکې مشغول و، څه ګورم چې زما په جسم یو عجیبه حالت راغی او طبیعت مې ډیرزیات نشه دی اوزما دجسم ټولو اعضاء نه، بلکې دویښتو ویښته نه دالله اواز راغي او یوڅو منټه دا کیفت و له هغې وروسته ختم شو، الحمدلله ستاسو په دعاګانو ټول معمولات ادا کوم، ددعاګانو محتاج یم، ددې متعلق راته څه وفرمایئ!

جواب: داکیفیت مبارک دی، محمود دی، خومقصودنه دی، دادې کمال ونه ګڼل شي، یوازې دالله پاک رضاحاصلول دې مقصد وګڼل شي.

د فرائضو بربنودونکی د دین پیشوا نشي کیدای

سوال: یو پیرصاحب محلې ته راغی، دمریدانو ګڼه ناسته وه چې داذان اواز راغی، ماوویل: دلمانځه تیاری وکړئ، موږ خو جومات ته لاړو خو پیرصاحب وویل: چې زه نفل کوم، اخرداسې ولې؟ لمونځ خو په هرمسلمان باندې فرض دی، ایا په پیرباندې فرض نه دی؟

جواب: داخبره خو دهغه پیرصاحب نه پته لګول پکاردي چې کوم خلک دفرائضو پرېښودونکي وي، ایا هغه د دین پیشوا جوړیدای شي؟

خپل ځان افضل ګڼلو باندې دبل په اقتدا کې د لمونځ نه کونکي شرعي حکم

سوال: که یو سړی خپل ځان افضل ګڼي اودچا په اقتداکې لمونځ نه کوي، تردې چې دخپل پلار اوغوث اوقطب نه دافضل کیدو دعوه وکړي؛ نوایادداسې سړي پیروي جائز ده؟ ستاسو رهنمایي ډیرخلک دګمراهئ نه بچ کولی شي.

جواب: که دهغه سړي دماغي حالت صحیح نه وي؛ نومعذوره دی، ګڼي پرته له عذره جماعت ترک کول حرام دي اوداسې سړی چې هغه ترک جماعت خپل معمول جوړکړي، فاسق او دکبیره ګناه مرتکب دی، هغه ته توبه کول پکار دي.[1]

---

[1] تارك الجماعة يستوجب اساءة، ولايقبل شهادته إذاتركهااستخفافًا بذالك ومجانة ..[بقيه په راروانه صفحه.

دتېرو شویو ګناهونو نه توبه

سوال: عبدالله په ماضي کې دکبیره ګناهونومرتکب پاتې شوی دی، اوس یې توبه کړې ده اولمونځ ګزار جوړشوی دی، دلمانځه مسئلې یې هم زده کړې دي، په تبلیغي جماعت کې یې وخت هم لګولی دی، خلکوته دهغه دماضي په باره کې پته نه لګیږي، هغه نیک ګڼي، که خلک دفرض لمانځه امامت له پاره هغه ته ووایي؛ نوایاهغه امامت وکړي اوکه نه؟

جواب: له توبې وروسته هغه امامت کولی شي، ځکه چې دتوبې په حالت کې تېر ګناهونه داسې معاف کیږي، لکه چې چیرې یې کړي هم نه وي.[۱]

خپل ځان له نورو نه کمتر ګڼل

سوال: تبلیغي جماعت په ګشت باندې وځي؛ نوپه هدایت ورکولو وایي چې چاته دعوت ورکول وي هغه دځان نه کمتر ګڼل نه دي پکار، دهغه خبره صحیح ده، خوچې کله دعصرلمونځ په جمع یې ادا کړی وي اوهغه سړي تراوسه پورې لمونځ ادا کړی نه وي؛ نو وایي تاسوصحیح لمونځ ادا کړی دی اودبرکت والاجماعت سره یېٔ؛ نودبنده په زړه کې خیال راځي چې هغه لمونځ نه دی کړی، دې نه پرته په زړه کې خیال راځي چې دنیکی نه وروسته انسان ته تکبر کول نه دي پکار، خویوه نشه حاصلیږي، مهرباني وکړئ په دې باندې رڼا واچوئ!

جواب: خپل ځان له نورو کمترګڼل په دې طریقې سره دي چې سړی دا ویره وساتي چې زه باوجود دخپل ظاهري نیک عملونونه خدای دې نکړي په څه ګناه باندې ونیول شم اوهغه سړی دالله پاک دعنایاتو مرکز جوړشي، دامراقبه که وي؛ نوعجیببه ده، خودپسندي اوتکبریه نه پیدا کیږي، باقي دیونیک کارسره خوشالیدل دا یوفطري خبره ده.

ددین او دنیا حقوق

سوال: بخدمت جناب محترم مولاناصاحب! دسلام مسنون نه وروسته عرض دی چې نن سبا زموږ په صنف(کلاس) کې په دې مسئلې باندې هروخت بحث شروع وي چې ددین او دنیاحقوق برابر دي،یعنې نه داکم اونه هغه زیات، بلکې زموږ داسلامیات لیکچرر خو تردې ویلي دي چې که چیرې په ګاونډ کې څوک ناروغ دی اوهغه ډاکټرته بوتلل وي اودلته دلمانځه هم وخت دی؛ نولمونځ پریږده اودګاونډي ناروغ حق اداکړه اوډاکټرته مریض بوځه،یاکه موروپلارناروغ وي، بیاهم دهغوی خدمت له پاره لمونځ پریښودلی شئ، براه کرم په ذریعه

…بقیه د تیرمخ] .. (البحرالرائق ج: ۱ ص: ۳۶۵ باب الإمامة)۔

[۱] عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لاذنب له (مشکوة ج: ۱ ص: ۲۰۶، باب الإستغفاروالتوبة، الفصل الثالث)۔

داخبار "جنگ" موخبر کړئ چې دین او دنیا برابر دي؟ یا دین غالب ساتل پکار دي؟ او هغه کومې موقع دي چیرته چې د دین حکمونه پریږدي او د دنیا کار کول بهتروي؟

جواب: یوه موقع هم داسې نه شته چیرته چې د دین کار پریږدې او د دنیا کار کول بهتروي؛ او ربښتیا خبره خو داده چې د یو مسلمان د خولې نه دین او دنیا په دوو خانو تقسیمول او د هغو په مینځ کې موازنه کول هم غلط دي، مسلمان خوچې د دنیا کوم کار هم کوي د دین د مطالبې او د تقاضې مطابق به یې کوي، مثلاً ستاسو ذکر شوي مثالونه به واخلو، د دین یوه تقاضا د لمونځ کولو ده او بله تقاضا د مریض ډاکټر ته د وړلو، یو مسلمان به خپلې دواړه دیني مطالبې جمع کوي، که د لمونځ په وخت کې گنجائش دی او د مریض حالت نازک دی؛ نو هغه مریض دې ډاکټر ته ورسوي بیا دې لمونځ اداکړي او که د لمونځ وخت قضا کیږي؛ نو لومړی به د دې فرض نه فارغیږي. بهرحال دواړه دیني تقاضې دي او په دواړو کې د "الاهم فالاهم"، اصولو مطابق به ترتیب قائمول وي، یو اخیستل او بل پریښودل جهالت دی، داسې که مور و پلار داسې بې وسه وي چې د هغوی په پریښودو باندې جومات ته نشي تللی او یو بل د هغوی خدمت والا هم نه وي؛ نو هغه به لمونځ په کور کې کوي، دا هم د دین د تقاضې مطابق دی، مختصر دا چې یو مسلمان چیرې هم د دین په پریښودو باندې د دنیا د مقدم کولو جرات نه شي کولی، ځکه ستاسو د لیکچرارې صاحبې فلسفه غلطه ده، هغې د دین صحیح مفهوم د دین اهمیت او د دین تقاضو باندې ځان صحیح پوه کړی نه دی.

حضرت شیخ (رحمه الله) سره په وابستګۍ باندې شکر

سوال: ستاسو مبارک تصنیف کړی کتاب "حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا مهاجر مدني نور الله مرقده او د هغه خلفاء کرام" (مکمل ۳ جلد) مطالعه کوم، حضرت شیخ اقدس قدس الله سره العزیز حالات هم عجیبه دي، خپل خو دا حال دی چې حضرت رحمة الله علیه متعلق کتلو سره د خپل ځان نه راته نفرت راځي چې ایا مونږ هم انسانان یو؟ او یوه مایوسي خوریږي.

جواب: یو تاثر دا دی کوم چې تاسو لیکلی دی او یو تاثر دا دی چې هغه بې حده امیدافزا او راحت بخش دی، هغه دا چې که چیرې مونږ د دې لائق هم نه وو چې په انسانانو کې یې شمیر کړو، خو د مالک څومره عظیم احسان او څنګه عنایت او رحمت دی چې زمونږ یې داسې مقبول بندګانو سره تعلق جوړ کړی دی او کله چې الله پاک دا عنایت پرته له څه استحقاق نه فرمایلی دی؛ نو د هغوی د رحمت او عنات نه امید دی چې د دې نسبت به عزت ساتو او مونږ ته به د هغه مقبولان الهي ملګرتیا نصیب کړي، ان شاء الله، ثم ان شاء الله!

گرچې از نیکان نیم لیکن به نیکان بسته ام
در ریاض آفرینش رشته گلدسته ام

د دنیا د محبت ختمولو او د اخرت فکر پیدا کولو نسخه

سوال: په دې وخت چې موږ د کومو مسائلو سره مخامخ یو تاسو ته علم هم دی، د دنیا بې حده محبت او د اخرت نه بې حده غفلت زموږ زړونه ړانده کړي دي او د حرام، حلال فرق ختمیږي، زیات نه زیات دې د داسې مضامینو اشاعت وشي چې په هغه سره د دنیا نه نفرت او د اخرت ترغیب، د اخرت په تیارۍ کې مدد ملاوشي او د حرامو نقصانات او د حلال برکتونه نهایت په تفصیل سره بیان شي، تر دې چې حکومت ته دې مشوره ورکړل شي چې داسې سلیبس دې په تعلیمي ادارو، اکیډمیو، ټریننګ سینټرونو، په سرکاري ادارو کې وقتا فوقتا دې وښودل شي او دوباره دې ورته ښودل کیږي ځکه چې کوم کس ته د کوم شي ښه علم وي او هغه علم ورته دوباره ښودل کیږي؛ نو کم نه کم هغه به د هغه نزدې نه لرې وي.

جواب: ستاسو مشوره د قدر لائق ده، خو چې کوم اصل مشکل مخې ته راځي هغه دا دی چې زموږ زړه او دماغ د ایمان په نور سره د منور کیدو په ځای انګریزي ظلمت سره تیاره کیږي، ځکه زموږ د معاشرې مؤثر خلک او خاندانونه نه یوازې دا چې په صحیح غلط او تور سپین کې فرق هیر کړی دی، بلکې صحیح یې غلط او غلط یې صحیح، تور یې سپین او سپین یې تور ګڼلي دي، که د قرآن او سنت په حواله سره څه خبره ویل کیږي؛ نو زموږ ذهن هغه نه هضموي، بلکې د خپل شوق مطابق څه نا څه تبدیلي په کې کیږي، د الله تعالی د صریح احکامونه کولو له پاره داسې بهانې راباسي چې ابلیس به هم ورته حیران پاتې شي، د دې مرض اصل علاج دا دی چې په زړونو کې دې دوباره ایمان پیدا کړل شي، داسې ایمان چې هغه د الله تعالی د حکم په مخکې د یو مصلحت پرواه هم ونکړي او د رسول الله ﷺ د اسوة حسنه په مقابله کې بل یو تهذیب او رسم او رواج طرف ته نظر او چتول هم خوښ ونه ګڼي، صحابه کرام رضی الله عنهم فرمایي چې:

موږ لومړی ایمان زده کړی دی، له هغه وروسته مو قرآن او سنت زده کړي دي[1]. زموږ سره قرآن او سنت موجود وي، خو افسوس چې موږ د ایمان د زده کولو کوشش نه دی کړی، او س خو شاید د ډیرو ذهنونو نه دا خبره وتلې ده چې ایمان هم د زده کولو شی دی د عوامو له پاره د دې واضحه او اسانه نسخه دا ده چې د دعوت او تبلیغ په کار کې د دې وخت ولګول شي.

---

[1] عبدالله بن عمر وغیرهما تعلمنا الإیمان ثم تعلمنا القرآن فازددنا إیمانا، وانکم تتعلمون القرآن ثم تتعلمون الإیمان (الفتاوی الکبری ج: ٤ ص: ٤٢٣، مسألة فی قول النبی صلی الله علیه وسلم: انزل القرآن علی سبعة أحرف، طبع دارالکتب العلمیة، بیروت)۔

د فاسدو خیالاتو او د بد نظرۍ علاج

سوال: په ماکې یو مرض دا دی چې کله څوک په گناه کې مشغول وینم؛ نو له دې سره مې زړه هم خفه کیږي او افسوس هم راته کیږي، هغه او گناه دواړه مې په سترگو کې حقیروي. خو کله چې په خپله را نه گناه کیږي؛ نو نه ویره وي او حقارت او نه نفرت او نه انکار او نه حیا. هیڅ هم نه وي هو د مخلوق ویره راسره وي، چې که چاته پته ولگیده؛ نو ذلیل به شم، د دې باوجود گناه پرېښودی نه شم.

جواب: گناه او گناهگار نه خفه کیدل خو د ایمان علامت دی، تاهم په دې کې دا احتمال چې دا کس زمانه حالا او مالا ښه وي، بس د دې استحضار کافي دی، د دې نه په زیات انسان مکلف نه دی.

سوال: فاسد خیالات، گنده وسوسې، د بد نظرۍ په شان جرمونو ارتکاب کیږي. کله کله فورا پښیمانتیا وي او کله کله پښیمانتیانه بیخي خبرهم نه شي، ډیره خریلو سره، ناچ گانې سره، همدغه شان د هر گنده کار نه نفرت دی، د دې د ارتکاب کونکو نه نفرت دی، خو په مادې لذته گناهونو د ارتکاب غلبه وي.

جواب: فاسد خیالات، وسوسې وغیره کوم چې تاسو مرض گڼئ دا مرض نه دی. بلکې غیر اختیاري اموردي په کوموچې مواخذه نه شته، بلکې مجاهده ده، تاسو چیرته په فارغ وخت کې، مراقبه دعائیه،، وکړئ، باوضو مخ په قبله کینئ، سترگې او ژبه بنده کړئ او خپل حال د الله تعالی په وړاندې وړاندې کړئ او په زړه کې الله تعالی ته عرض وکړئ چې: یاالله، زما حال ستا په وړاندې دی، ته قادر مطلق یې، زما حالت ښه کړه او ما په اخرت کې رسوا مه کړې.

سوال: نن سبا زیبائش، عریاني عامه ده، کله چې د څه ضرورت له پاره وځم؛ نو غیر محرم باندې نظر پرېوتلو د جرم ارتکاب کیږي، د بد نظرۍ نه بچ کیدل زما په شان کس له پاره ډیره گرانه ده.

جواب: فورا دې نظر واړول شي[1]، د خیالاتو راتلل که غیر اختیاري وي؛ نو څه نقصان په کې نه شته، بلکې د هجوم خیالات باوجود په ارادې سره دوباره نه کتل مجاهده ده او ان شاء الله په دې به درته اجر ملاویږي او دې سره دې استغفار هم وکړل شي، ان شاء الله د غلطو خیالاتو او اثراتو نه به زړه ووینځل شي.

---

[1] عن بریدة قال: قال رسول الله صلى الله علیه وسلم لعلی: یاعلی لاتتبع النظرة النظرة، فإنّ لك الأولى ولیست لك الآخرة. رواه أحمد والترمذی وأبوداؤد والدارمی (مشکوة ص: ۲۶۹، باب النظر إلى المخطوبة وبیان العورات)

په اسلام کې د ښې خبرې رائج کولو نه څه مراد دي؟

سوال: په "اخبار جهان" کې یوصاحب دیوحدیث ذکرکړی دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي چې کوم سړی په اسلام کې یوه ښه خبره قائمه کړي، هغه ته به ثواب ملاویږي اوپه هغه باندې دعمل کولو والابرابر نورثواب به هم ورته ملاویږي "په "اخبار جنګ" مورخه ۷مئ ۱۹۸۲ء کې هم دیومضمون په سلسله کې هم ددې حدیث ذکرشوی دی،که داسې یوحدیث موجودوي؛ نو خیال دا پیداکیږي چې دقیامت پورې به په هره زمانه کې داسې خلک پیداکیږي، چې دهغوی په خپل ذاتي خیال او قابلیت له وجې ډیرښې خبرې په اسلام کې رائج کیدای شي، داسې ددنیاختمیدو پورې د ښو خبروپه مجموعې سره بالکل یو نوی اسلام په وجودکې راتللی شي او زموږ ایمان دی چې د الله تعالی نه بهتره دښوخبره چاته پته ده؟ هغه دقیامت پورې چې څومره هم ښې خبرې کیږي تولې یې په اسلام کې شاملې کړې اودحضورپاکﷺ په زمانه کې یې اسلام مکمل کړ اوحضورپاکﷺ اودحضورپاکﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم هم دبهترنه بهتره طریقوباندې عمل وکړو او زموږ له پاره یې یوه نمونه پریښوده، ایادننن د دور یو مفکر دصحابه کرام رضي الله عنهم نه د بهترعبادت طریقه پیدا کولو قابلیت لرلی شي؟ ایاڅه ښې خبرې داسلام مکمل کولو په وخت پاتې شوې دي، چې هغه نن ایجادشوي دي، لهذا دا رائج کول د ذکرشوي حدیث مطابق به ثواب وي.

جواب: داحدیث په مسلم (ج:۱ص:۳۲۷) کې دی[1] اوتاسوته چې په دې کې کوم شک پیدا شوی و هغه دحدیث مفهوم دنه پوهیدو له وجې دی په صحیح مسلم کې ددې حدیث کیسه ذکرده، چې دهغه خلاصه داده چې په یوه موقع باندې حضورپاکﷺ یوڅوحاجت مندو ته دصدقې ورکولو ترغیب کړی و، یوانصاري د درهمویوه غټه تروړه راوړه، هغه ته په کتلو باندې نورخلکوهم په صدقې ورکول شروع کړل، په دې باندې حضورپاکﷺ ارشادفرمایلی و، لهذاپه دې حدیث کې"ښې خبرې" نه مراد دی هغه نیک کار دکوم چې شریعت ترغیب ورکړی دی، چې دهغه رواج په مسلمانانوکې پاتې نه دی، ددې برعکس د "بدوخبرو" رواج قائمولووالاباندې به خپله هم وبال وي اودنوروعمل کولووالاهم اودزمانې دخرابیدو له وجې د نیکۍ ډیر کارونه خلک هیروي اودهغه رواج یاختم شي یاکم شي اوپه ورو ورو ډیرې بدۍ په اسلامي معاشره کې پیداکیږي، مثلاً:ږیره پریښودل نیکي ده، په اسلام کې واجب ده،

---

[1] دحدیث عبارت دادی: عن المنذربن جرير عن أبيه قال: كناعند رسول الله صلى الله عليه وسلم ....فجاء رجل من الأنصار بصرة كادت كفه تعجزعنها .... فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم من سنّ سنة حسنة فله أجرهاوأجرمن عمل بها بعده ...إلخ (صحيح مسلم ج: ۱ ص: ۳۲۷، باب الحث على الصدقة ولوبشق تمرة ...إلخ)

درسول پاک ﷺ سنت مبارک دي، اسلامي ننبه ده او ډیره خریل ګناه ده، بدي ده، حرام ده.
خوبه مسلمانانو کې داګناه ډیره داسې عامه شوې ده چې په دې باندې څوک بدهم نه وایي
او ډیر خلک خوداګناه هم نه ګڼي، بلکې ددې برعکس ډیره پرینبودل عیب او بې عزتي ګڼل
کیږي. بس کوم خلک چې ډیره رواج جوړ کړي، هغه ته به خپله هم ثواب ملاویږي او کوم خلک
دهغه درواج په نتیجه کې هغه نیکي خپله کړي، دهغه ثواب به هم هغه ته ملاویږي. ددې
برعکس کوم کس چې دډیرې خریلو رواج قائم کړي هغه ته به دخپل دهغه حرام کارهم ګناه
ملاویږي او له هغه وروسته چې څومره خلک دقیامت پورې ددې حرام کارمرتکب وي. دهغوی
هم، په حدیث شریف کې دي چې په دنیاکې څومره قتلونه هم چې په ناحقه کیږي، دادم علیه السلام
زوی قابیل ته دهریوقتل یوه برخه ملاویږي، ځکه چې هغه لومړی انسان و چې هغه دقتل
بنیاد ایښی و[1]. الغرض! په حدیث کې چې دکومې ښې خبرې یانیکۍ رواج ورکولو فضلیت
ذکرشوی دی، دهغه نه هغه شی مراد دی کومې ته چې الله او دهغه رسول پاک ﷺ نیکي وایي.

دتکبر علاج

سوال: یوسړی چې دروژې او لمونځ پابند دی، حج یې هم کړی دی او په خلکو باندې احسان
کوي خواحسان کولو باندې واپس کول او په دې باندې داخواهش لرل چې په چاباندې مې
احسان کړی چې هغه دهغه پوښتنه کوي، پرته له تحقیق نه په اوریدونکو خبرو باندې عمل
کوي، دنورو بدوایي. په نورو کې عیب راباسي، خپل اودخپلې ښځې بچیو اودلورخاوندنه
سوا دهغه په نظر کې ټول خلک دروغژن دي، دخپلې بزرګۍ اودزړه دصفایي صفت په خپلې
ژبې سره کوي، خپله لوراو دلور خاوند یې پخپله خپل کورکې ساتلي دي، خوخپل زوی ته
دخسرګنۍ نه دنفرت کولو تلقین کوي، زوی ته په انګورباندې دسختي کولو وایي اوانګورته
داسې خبره کوي، لکه چې هغه ورته ډیره ګرانه وي، الزام لګول په هغه کې دي.

جواب: ځینې خلک دتکبرپه مرض کې اخته وي اودهغه مرض دا علامات دي کوم چې تاسو
لیکلي دي که هغه سړی دنورو بد وایي؛ نوبه بدي کولو کې تاسوهم څه نه دي پریښي، انسان
ته دنورو دعیبونوپه ځای په خپلو عیبونوباندې نظر ساتل پکاردي، دادالله پاک رحم او کرم
دې په موږ چې هغه دټول پرده پټه ساتلې ده، خپل عیبونوباندې سوچ کول اودالله پاک په رحم
اوکرم باندې شکرکول هم دتکبر علاج دی.

---

[1] عن عبدالله بن مسعود قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لاتقتل نفس ظلما إلا كان على ابن آدم الأوّل كف من دمها لأنه كان اوّل من سنّ القتل(تفسيرابن كثير،سورة المائده ج: ٢ ص:٥٢٣ طبع رشيديه)

❖ دخوب حقيقت او تعبير ❖

سوال: ستاسونه ديوې داسې مسئلې پوښتنه كول دي چې زماپه ذهن كې له ډيرې مودې راهيسې موجوده ده اوهغه داده چې
الف: دخوب په شريعت كې څه حيثيت دى؟
ب: اياداصحيح ده چې ځينې خوبونه بشارت (زيري) وي اوځينې خوبونه شيطاني وسوسو سره پيدا كيږي؟
ج: له دې پرته داهم چې دخوب تعبيرزموږ دعلماوو كرامو يادپوبل چانه معلومولى شو؟
جواب: خوب شرعاحجت نه دى[۱]، ښه خوب دمؤمن له پاره زيرى لري، دهغه تعبيرله يو پوه، نيک انسان نه معلومول پكاردي، چې هغه دتعبيرونوپه فن كې ماهروي.[۲]

دحضورپاک ﷺ په خوب كې د زيارت حقيقت

سوال: تيرو ورځوكې زماديودوست سره دخبروپه دوران كې هغه وويل چې حضورپاک ﷺ چيرې هم يوصحابي رضي الله عنه يادازواج مطهراتو رضي الله عنهن په خوب كې تشريف نه و راوړې؛ نوڅوک دادعوه نه شي كولى چې حضورپاک ﷺ هغه ته په خوب كې تشريف راوړى دى، دې خبرې سره موږ پريشانه يو چې ايابياچې موږ څه وايوچې دفلاني بزرگ په خوب كې حضورپاک ﷺ تشريف راوړ ى دى، تركومې پورې ريښتيادي؟
جواب: ستاسوددوست داخبره غلطه ده چې حضورپاک ﷺ چيرې هم ديوصحابي په خوب كې تشريف نه دى راوړى، دصحابه كرام رضي الله عنهم په زمانه كې ډيرواقعات موجود دي، په خوب كې د حضور پاک ﷺ زيات كول حق دي، په صحيح حديث كې دحضور پاک ﷺ ارشادمبارک دى:

"من رانى فى المنام فقدرانى، فأن الشيطان لايتمثل فى صورتى، متفق عليه."(مشكوة ص: ۳۹٤).

ترجمه: "چاچې زه په خوب كې وليدم هغه په ريښتيازه وليدم، ځكه چې شيطان زماپه شكل كې نه شي راتلى."(صحيح بخارى وصحيح مسلم).

---

[۱] إن الرؤيامن غيرالأنبياء لَايحكم بها شرعًاعلى حال إلّا أن تعرض على ما فى أيدينا من الأحكام الشرعية فإن سوغتها عمل بمقتضاها، وإلّا وجب تركها والإعراض، وإنما فائدتها البشارة أو النذارة خاصة وأما إستفادة الأحكام فلا ...إلخ (الإعتصام للشاطبى ج: ۱ ص: ۲٦۰ بطبع بيروت)۔

[۲] عن أبي رزين العقيلى قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: رؤيا المؤمن جزأً من أربعين جزأً من النبوة وهى على رجل طائرمالم يتحدث بها فإذاتحدث بها سقطت، قال واحسبه قال ولَا تحدث بها إلّا لبيبًا أو حبيبًا (ترمذى ج: ۲ ص: ۵۲، أبواب الرؤيا، باب ان الرؤياالمؤمن جزء من ستة وأربعين جزء من النبوّة)۔

له دې حديث شريف نه معلومه شوه چې کوم خلک په خوب کې دحضورپاک ﷺ دزيارت کولو منکران دي، هغه ددې حديث شريف نه ناخبره دي، په خوب کې دزيات شريف واقعات دومره بې شميره دي چې له هغوانکار ممکن نه دی

په خوب کې قيامت ليدل

سوال: زه کم نه کم يوه مياشت يادوه مياشتې بعدهرځل په خوب کې دقيامت ورځ وينم اوخپل ځان په نقصان کې وينم، مخکې ورځو کې مې يوحيرت انګيزاودغم والا خوب وليد، کورم چې په خلکو کې شورجوړدی، زه ډيرويردونکی يم اويوسور رنګ موټردی، چې په هغه کې زموږ دکالونۍ عالم ناست دی، زمايوتره هم له هغه سره ناست دی، هغه زماپه خواکې تيرشول. مادناستې له پاره هغه عالم ته ډيرمنت وکړ، خوهغه زه ديودرياب په غاړه پرېښودم چې هلته دقيامت ورځ وه اويه موټرکې يې پرې نه ښودم، تره مې هم ورته زماله پاره ډيرمنت وکړ چې هغه ته دناستې له پاره ځای ورکړه، خوهغه وويل چې دا ډيرګناه ګاردی ځکه هم هلته يې پريښوده، مادموټرپسې وروسته وکتل اوښه مې وژړل، ددې نه مخکې هم ماپه ډيرو خوبونو کې قيامت ليدلی دی، تاسوته دا درخواست دی چې زه څه وکړم؟څه حل وفرمايئ، په دې خوب کې دقيامت نه څه مراد کيدای شي؟

جواب: په خوب کې دقيامت منظرليدل ښه خبره ده، خودالله تعالی درحمت نه مايوس کيدل نه دي پکار. تاسودالله تعالی ديونيک بنده سره تعلق پيداکړئ، ان شاء الله ستاسودپريشانۍ حالت به ختم شي

په خوب کې د مورو پلار د ناراضګۍ مطلب

سوال: زما مور و پلار مړه شوي دي. دهغه وروسته چې کله ماته خوب راغلي، زمامورو پلار په نه پيژندګلوروح سره زماپه خوب کې راځي، دهغوروحونومسلسل په خوب کې راتلل زه ذهني ډول پريشانه کړی يم.کله زموږ پلارپه څه باندې خفه ښکاريږي، موږ شپږ خويندې اودرې ورونه يو. مولاناصاحب! خلک وايي چې "څوک په کورکې وفات کيدووالادي؛ نودا روحونه دمړکيدو والادځان سره بوتلوله پاره راځي "خوزه خوددولس مياشتونه دخپل موروپلار روحونه ديوغيرروح سره په خوب کې وينم، زه باقاعده پنځه وخته لمونځ کوم، تلاوت هم کوم، ثواب هم دهغوی او ټولو روحونوته وړاندې کوم، دخدای له پاره ددې جواب ضرور راکړئ، زه په سوچ سوچ سره ډيره پريشانه شوې يم.

جواب: داخيال بالکل غلط دی چې که څوک مړکيدو والا وي؛ نووفات شوي خلک د مړکيدو والاله پاره راځي، تاسوته چې په خوب کې دموروپلار ليدل په کثرت سره کيږي، دا ستاسو د ډير محبت علامت دی، خلک خودخپل موروپلار په خوب کې دليدلو له پاره مړه شو او تاسو

دخپلې کم عقلۍ له وجې پریشان يئ ستاسو دپلار خفه ليدل هم ستاسو دخلکو داصلاح اوتربيت له پاره دي، بهرحال تاسو خلکو ته په دې سره پريشان کيدل بالکل نه دي پکار. البته دشريعت خلاف کارونه ترک کول پکار دي او دخپل موروپلار له پاره داستغفار دعا کول پکار دي.

په خوب کې د حضورپاکﷺ زيارت کول ضروري نه دي

سوال: زه دحضورپاکﷺ په خوب کې ديدار کول غواړم. طريقه يا وظيفه به څه وي؟

جواب: په خوب کې ديدار کول ډيرزيات ښه دي. خوکه چاته په ټول عمرکې نه وي شوی، هغه دحضورپاکﷺ په حکمونوباندې پوره پوره عمل کوي، ان شاء الله معنوي تعلق هغوی ته حاصل دی اوهماغه مقصوداعظم دی اوددې طريقه دسنتواتباع کول او په کثرت سره درود شريف ويل دي

د مذهب نه باغي ذهن والا خوب اودهغه تعبير

سوال: يوې ماشومې دخپل اوږده اوعجيبه خوب ذکرکړی و، چې هغه کې په طبيعت کې د جذباتوله وجې شک، الحاد اوداعمال صالحه نه د بې رغبتۍ تذکره کول په يوخوب کې بيان شوه،په کوم کې چې په عالم برزخ کې دروحونوپه خپل مينځ کې ملاويدل، دملائکوسره خبرې اودالله تبارک وتعالی دتجليات اونوراني پردوکې زيارت اودالله رب رحيم مهربان ذات سره شرف هم کلامي حسين اوښکلې منظروراندې شوی و، په دې باندې درته څوخبرې ليکم چې دخوبونو ددنياڅه خاکه هم مخې ته راشي اوذکر شوي خوب دڅه تعبيري اړخونوذکرهم وشي.

جواب: لورې! زماسره ددومره اوږدو خطونودلوستلوله پاره وخت نه وي، مګرستاخط مې ددې باوجود دشروع نه واخله تراخره پورې ولوست، اول په دې پوه شه چې په خوب کې دبنده خيالات کوم چې په تحت الشعورا ولاشعورکې پټ پراته وي په مختلفوصورتونوکې متشکل شي، ددې له وجې داپته لګول چې کومې برخې اصلي واقعه ده اوکوم ذهني پيداوارډی ډيرمشکل شي.
دويمه داخبره مخې ته ساتل پکاردي چې دخوب کوم اجزاء چې دبنده دذهني خيالاتونه ماوراء وي هغه هم دتعبيرمحتاج وي اوله هغه نه مرادظاهري مفهوم نه وي.
دريمه خبره داپه ذهن کې ساتل پکاردي چې مابعدالموت (قبراوحشر) حالات په دې دنياکې په مکمل ډول ظاهريدای نه شي، نه په بيداري کې اونه په خوب کې، ځکه چې زموږ ددې ژوند پيمانه دهغه متحمل کيدای نه شي؛ نوځکه په خوب کې چې دمابعدالموت کوم مناظر ښودل کيږي هغه يووړوکې شان نظاره وي

په دغودريوخبروباندې دښه پوهيدووروسته په خوب باندې غوروکړئ، ستاذهن دمذهب نه باغي اوخدای نه منکر و، له مرګه وروسته دژوندقائل نه و، ددې له وجې الله تعالی تاته په خوب کې دهغه ژوندپه باره کې (ستاسودقوت برداشت رعايت ساتلوسره) څه وړې وړې نظارې

وښودلې. نیا چې دې دکوم پوستې افس خبره کړې وه له هغه نه مراد دعااواستغفاراوایصال ثواب دی، کوم چې د ژوندیوله طرفه دمړیوله پاره کیږي اوروحونوپه خپل مینځ کې په ګپ شپ کې لیدل، ددې حقیقت طرف ته اشاره وه، چې دمسلمانانودروحونوهلته ملاقات کیږي اودفرښتوسره ستاخبرې او رب اللعالمین سره دملاقات له پاره ستاتګ دې طرف ته اشاره وه چې داهل ایمان سره ډیرد شفقت اومحبت معامله کیږي اودلمونځ، روژې اوتلاوت په باره کې سوالات په دې خبرې باندې خبردار و، چې هلته همدغه شیان پکارراځي، کوم چې موږ دلته د بیکاري شغل ګڼو اودالله تعالی له طرفه داسې ویل چې ، ،ته څنګه یې؟په دې باندې ستاسو په الفاظوسره په ماباندې وجدشان راغی، چې زه تاسوته ویلی نه شم چې په دې اواز کې څومره نرمي اومحبت وي اه! هغه خوږ او مهربان اواز رښتیا دحق تعالی شانه سره دخبرو دخوږوالي اودهغه دلذت کیفیت بیانولوله پاره الفاظ نه شته، داتاسوته لړه شان نظاره وښودل شوه، چې په کلام الهي څنګه خونداوتاثیردی؟ دالله تعالی دهغه مقبولوبندګانوبه څه حال وي چاته چې به الله تعالی دهم کلامي شرف ورکوي، الله تعالی دې یوازې په خپل لطف اویوازې په خپل فضل سره موږ ته هم دالوی دولت نصیب کړي.

دحق تعالی ددیدارکوم کیفیت چې تاسوقلمبندکړی دی هغه یوازې یووړوکی شان تمثیل و، ګني که دټولې دنیادمیندومینه رایوځای شي اودپوره کائنات حسن اوجمال هم په دې کې شامل شي؛ نوبیابه هم دهغه ذات پاک ادنی مخلوق وي، دمخلوق دخالق سره څه نسبت دی؟ اودهغه بې مثاله اوچت ذات څه مثال؟ په هرحال داټولې نظارې ستاذهني پیمانې مطابق وې اوتاته په انکارخدا باندې خبرداری درکول و، چې ددې هرڅه لیدونه وروسته به هم ته دخدای نه انکارکوې، اوس به زه تاسوته داعرض وکړم چې ستاسوداخوب ډیرمبارک دی اوپه دې کې تاسوته خبرداري درکړل شوی دی چې دخپل ژوندطریقې بدلې کړئ اودالله تعالی سره دملاقات په تیاري کې مشغوله شه، دځوانه کیدونه وروسته چې ستانه په حقوق الله اوحقوق العبادکې کومې کوتاهۍ شوې دي اوپه عبادت کې درنه سستي شوې ده له هغو نه توبه کړه اوددې ټولوشیانوتلافي وکړه اوالبته داخبره یاد وساتئ چې خوبونوسره نه څوک ولي جوړیږي اونه دالله تعالی دقرب ذریعه جوړیږي، ددې له وجې خوب ته دې څه اهمیت ورنکړل شي، بلکه دبیداري اعمال، اخلاق، دعقائدوصحیح کول او دالله اودرسول ﷺ مطابق جوړولو باندې دې پوره توجه اوهمت ولګول شي، زماددې ټولو خبرو اولنۍ خلاصه داده چې د مابعد الموت کومې نظارې تاسوته ښودل شوې دي دهغو حقیقت هغومره نه دی څومره چې تاسوته ښودل شوې دي. دهغه ځای څومره حالات چې ستاسوپه پوه کې راتلی شي هغه ټول رسول اللهﷺ بیان فرمایلي دي. ددې نه زیات دهغه ځای حالات په پوهه کې راتلی نه شي، ترڅو پورې چې هلته تګ اودهغې مشاهده ونکړل شي، بهرحال ستاسوفرض دي چې اوس دخپل ژوند لاره بدل کړئ. چې کله تاسوددې ځای نه لاړ شئ؛ نوستاسوشمیره په ((مومنات قانتات))

کې وشي او ددې له پاره ضروري ده چې د يوشيخ متبع سنت سره اصلاحي تعلق قائم کړئ او د هغه د هدايا تو مطابق ژوند تير کړئ. والله الموفق!

❖ د نومونو سره متعلق ❖

د بچيو د نومونو کيښودلو طريقه

سوال: د مسلمان بچي نوم تجويزکولو په وخت د قرآن شريف نه د نوم حروف اخيستل او د بچي د نوم د حروفو اعداد او د تاريخ پيدايښ اعداد په خپلو کې د ملاوولو سره د نوم کيښودلو طريقه څومره حده پورې صحيح ده؟ د بچي د نوم تجويزکولو صحيح اسلامي طريقه څه ده؟ د قرآن او سنت په رڼا کې يې وښيئ.

جواب: د قرآن او سنت په علم الاعداد باندې د اعتماد کولو اجازه نه شته، لهذا دا طريقه غلطه ده[1] د نوم کيښودلو صحيح طريقه داده چې د الله تعالى د اسماء حسنى او د نبي کريم ﷺ د اسماء النبي طرف ته د نسبت کولو والا نومونه دې کيښودل شي، هم داسې دې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د خپلو بزرګانو په نومونو دې نومونه کيښودل شي.[2]

په نومونو کې تخفيف کول

سوال: زما پوره نوم عبدالقادر دی، خو په تعليمي سندونو کې ماته قادر ليکل شوي دي، چې زما له پاره ډيره د پريشاني مسئله ده او قادر نه عبدالقادر جوړول ډيره مشکله طريقه ده؛ نو ځکه زه خپل نوم هم قادر کيښودل غواړم په عام ډول خلک ما هم د قادر په نوم سره مخاطب

---

[1] ولاً اتباع قول من ادّعى علم الحروف المتهجيات لأنه فى معنى الكاهن انتهى ومن جملة علم الحروف فال المصحف حيث يفتحونه ونظرون فى أول الصفحة اى حرف وافقة وكذا فى سابع الورقة السابعة فإن جاء حرف من الحروف مركبة من تخشلاكم حكموا بانه غيرمستحسن وفى سائرالحروف بخلاف ذالك وقدصرّح ابن العجمى فى منسكه وقال: لَا يأخذالفال من المصحف ...إلخ (شرح الفقه الأكبر ص: ۱۸۳، لَا يأخذالفال من المصحف، طبع مجتبائى دهلى)۔

[2] عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أحب اسمائكم إلى الله عبدالله وعبدالرحمن (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۶، كتاب الأدب، باب النهى عن التكنى بأبى القاسم وبيان مايستحب من الأسماء) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سمّوا بأسماء الأنبياء ولَا تسمّوا بأسماء الملائكة (فيض القديرشرح جامع الصغير ج: ۷ ص: ۵۵۳ طبع بيروت) أيضًا: عن أبى وهب الجشمى وكانت له صحبة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تسموا بأسماء الأنبياء، أحب الأسماء إلى الله عبدالله وعبدالرحمن ....إلخ (سنن أبى داؤد، ج: ۲ ص: ۳۲۰، كتاب الأدب، باب فى تغييرالأسماء)۔

کوي، خوبل طرف دا نوم دخدای صفت دی، ددې نوم څه صفات دي؟ ایا دا نوم زه کیښودلی شم؟
جواب: القادر دالله تعالی پاک نوم دی او دعبدالقادر معنا «دقادر بنده» او کله چې د عبدالقادر په ځای یوازې قادر وویل شي؛ نو ددې معنا دا شوه چې دبنده نوم دالله پاک په نوم باندې کیښودل شو اوددې ګناه کیدل بالکل واضحه دي[1]

حضرت مفتي محمدشفیع په، معارف القرآن، جلد ۴ صفحه ۱۳۲کې لیکي:
افسوس دی چې نن سبا عام مسلمانان په دې غلطي کې اخته دي. څه خلک خوهغه دي چې هغوی اسلامي نومونه کیښودل هم پریښي دي، ددوی دشکلونو نه خومخکې هم مسلمان ګڼل مشکل وو. دنوم نه به پته لګیده، اوس نوي نومونه په انګریزي طرز سره کیښودل کیږي، دنجونو نومونه داسلامي ښځودنومونه دطرز نه خلاف خدیجه، عائشه، فاطمه، په ځای نسیم، شمیم، شهناز، نجمه، پروین شول، ددې نه زیات دافسوس خبره داده. چې دکومو خلکو اسلامي نومونه دي: عبدالرحمن، عبدالخالق، عبدالرزاق، عبدالغفار، عبدالقدوس وغیره په دې کې دتخفیف دا غلطه طریقه اختیار شوه چې یوازې اخري لفظ دهغه دنوم په ځای اخیستل کیږي، درحمن، رازق، غفار خطاب انسانانوته ورکول کیږي اوددې نه زیات دغضب خبره داده چې، قدرت الله. ته. الله صاحب او قدرت خدا، ته د، خداصاحب، نوم اخیستل کیږي، داټول ناجائز حرام او ګناه کبیره ده، څومره ځل چې دا لفظ اخیستل کیږي هم دهغه برابر دګناه کبیره ارتکاب کیږي اوداوریدلو والاهم دګناه نه خالي نه پاتې کیږي.
داګناه بې مزې او بې فائدې داسې ده چې دا زموږ په زرګونو ورونو دخپلې شپې او ورځې مشغله جوړه کړې ده او هیڅ فکر نه کوي چې ددې لږ شان حرکت انجام څومره خطرناک دی.

نومونه صحیح نه ادا کول

سوال: زموږ په معاشره کې دنجونو مونه ددوی دپلارانو سره منسلک وي، لکه: رضیه عبدالرحیم، فاطمه کلیم وغیره، ددوی تعلیمي سندونه هم په دې نومونو سره وي له واده وروسته ددوی نومونو سره ددوی دخاوندانو نومونه مثلاً: رضیه رحیم په ځای رضیه جمال، فاطمه کلیم په ځای فاطمه کاشف، خدای دې نه کړي که خاوند مړ شو؛ نو بیا دا نومونه بدلیږي، ددې نومونو شرعي حیثیت څه دی؟
جواب: دپلار نوم یا دَ خاوند نوم یوازې دپیرندګلوله پاره وي، دبچي چې ترکومې پورې واده نه وي شوی ترهغه وخت پورې دهغې شناخت. دخترفلاني، سره کیږي او له واده وروسته، زوجه

[1] ومن قال لمخلوق: یاقدوس، أولقیوم أوالرحمن أو قال أسماء من أسماءالله الخالق کفر، انتهی وهویفید أنه من المخلوق یاعزیز ونحوهم، یکفرأیضًا، إلّا إن أراد بهما المعنی اللغوی، والأحوط أن یقول: یاعبدالقدیر، یاعبدالرحمن (شرح فقه الأکبر ص: ۲۳۸، طبع مجتبائی دهلی)۔

فلاني، سره، په شرعي ډول، دختر فلاني، ويل هم صحيح ده او، زوجه ... ي، ويل هم

دبچيو غير اسلامي نومونه کيښودل

سوال: نن سبا ډير خلک دخپلو بچيو نومونه داسلامي نومونو (يعني کوم نومونه چې به مخکې خلکو کيښودل) مطابق نه ږدي، ايا په دې کې گناه نه شته؟

جواب: داولاد په حقونو کې يو حق داهم دی چې دهغه نوم دې ښه کيښودل شي، ځکه د مسلمان په خپل اولاد باندې غيراسلامي نوم کيښودل بد دي.[1]

آسيه نوم کيښودل

سوال: زمانوم اسيه خاتون دی او زه د ډيرو خلکو نه په اوريدو اوريدو تنگه راغلم چې ددې نوم معنا غلطه ده او دا نوم کيښودل هم نه دي پکار.

جواب: خلک غلط وايي، اسيه نوم صحيح دی، په عين او صاد سره عاصيه، نوم غلط دی او ددې دواړو په معنا کې دځمکې او اسمان فرق دی.[2]

محمد احمد نوم کيښودل څنګه دي؟

سوال: ايا محمد احمد دماشوم نوم کيښودلی شو؟

جواب: هيڅ حرج په کې نه شته.[3]

محمد يسار نوم کيښودل

سوال: مادخپل زوی نوم محمد يسار اېښی دی، ايادانوم صحيح دی؟

جواب: دا نوم صحيح دی، د ډيرو صحابه وو نوم و [4]، والله اعلم!

---

[1] عن أبي الدرداء قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: انكم تدعون يوم القيامة بأسماء أبائكم، فأحسنوا أسمائكم (سنن أبي داؤد ج: ۲ ص: ۳۲۰، باب فی تغيرالأسماء، طبع سعيد)۔

[2] عن ابن عمر أنه ابنة لعمر كانت يقال لها عاصية فسمّاها رسول الله صلى الله عليه وسلم جميلة (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۸، كتاب الآداب، باب إستحباب تغييراللإسم القبيح إلى حسن، وشامی ج: ٦ ص: ٤١٨ ،باب الإستبراء وغيره،فصل فی البيع، أبوداؤد ج:۲ ض: ۳۲۸ كتاب الأدب، باب فی تغيرالإسم القبيح)

[3] عن جابر بن عبدالله أن رجلا من الأنصار ولد له غلام فأراد أن يسمّيه محمدًا فأتى النبی صلى الله عليه وسلم فسأله فقال: أحسنت الأنصار تسمّوا بإسمی ولَا تكنوا بكنيتی (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰٦) ايضًا: فلايناف أن إسم محمد وأحمد أحب إلى الله تعالى من جميع الأسماء فإنه لم يخترلنبيه إلّا ماهو أحب إليه، هذا هوالصواب (فتاوی شامی ج: ٦ ص: ٤١٧)۔

[4] فقد ثبت أن النبی صلى الله عليه وسلم كان له غلام إسمه رباح، ومولى إسمه..

[بقيه په راروانه صفحه.

عارش نوم کېښودل صحیح نه دي

سوال: زما د زوی نوم عارش دی، ټول وایي چې دا نوم صحیح نه دی؛ نو ایا نوم بدل کړم؟ او د عارش معنا هم وښیئ!

جواب: عارش او عامرش فضول نومونه دي، ددې په ځای محمد عامر نوم کېږدئ.[۱]

جمشید نوم کېښودل

سوال: زما نوم جمشید حسین دی، ایا زما موجود نوم صحیح دی؟

جواب: دا نوم صحیح دی، د بدلولو ضرورت نه شته.

حارث نوم کېښودل

سوال: ایا حارث اسلامي نوم دی؟ او ددې لفظي معنا څه ده؟

جواب: حارث صحیح نوم دی، ددې معنا ده: زمینداري کولو والا، محنت کولو والا.[۲]

سوال: زما د زوی نوم حارث دی او ماته دحارث نوم متعلق دا پته لګېدلې ده چې دا نوم دشیطان دنومونو څخه دی؛ نو ایا ددې په پته لګېدو وروسته نوم بدلولی شو؟

جواب: نه! صحیح نوم دی، د تبدیلولو ضرورت نه شته.[۳]

خزیمه نوم کېښودل

سوال: په تبلیغي نصاب کې یو نوم زینب بنت خزیمه مې وویلو خزیمه زما خوښ شو، تاسو نه دا معلومول دي چې دخزیمه مطلب څه دی؟ ایا دا دیو صحابي نوم دی؟ ایا دا نوم زه په خپل

...بقیه د تیرمخ]... یسار فإقراره صلى الله عليه وسلم هذين الإسمين يدل على الجواز (تكملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ٢١٢)۔

[۱] (تتمة) التسمية بإسم لم يذكره الله تعالى فى عبادة ولا ذكره رسول الله صلى الله عليه وسلم ولايستعمله المسلمون تكلموا فيه، والأولى ان لايفعل (فتاوى شامى ج: ٦ ص: ٤١٧) أيضًا: بزازية على الهندية ج: ٦ ص: ٣٧٠ كتاب الكراهية)۔

[۲] المفردات فى غريب القرآن للأصفهانى ص: ١١٢ طبع نورمحمد)۔

[۳] ځکه چه دمتعدد صحابه کرامو دا نوم وه مثلاً، حارث بن انس، حارث بن خزيمه وغيره عن أبى وهب الجشمى وكانت له صحبة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تسموا بأسماء الأنبياء وأحب الأسماء إلى الله عبدالله وعبدالرحمن، وأصدقها حارث وهمام وأقبحها حرب ومرة (ابوداؤد ج: ٢ ص: ٣٢٠، باب فى تغيير الأسماء، طبع ايچ ايم سعيد)۔

بچي كيښودلی شم؟

جواب: خزيمه د ډيرو صحابه كرامو رضي الله عنهم نومونه وو، په دې كې خزيمه بن انصاري رضي الله عنه مشهوردی، چې د هغه لقب ذوالشهادتين دی (يعنی د هغه يوه ګواهي د دوو سړيو برابر ده).[۱]

د خپل نوم سره د خاوند نوم كيښودل

سوال: كه يوه ښځه د خپل نوم سره د خپل خاوند نوم ولګوي؛ نو دا څنګه ده؟

جواب: هيڅ حرج په كې نه شته، انګريزي طرز دی.[۲]

ايا د بچيو نومونه تاريخي پيدايښ سره كيښودل شي؟

سوال: ايا د بچيو نومونه د تاريخ پيدايښ په حساب سره كيښودل پكاردي؟ عدد وغيره ملاوولو سره بهتر او ښه معنا والا نومونه كيښودل پكاردي؟ د اسلام په رڼا كې جواب راكړئ!

جواب: عدد ملاوولو سره نوم كيښودل فضول شی دی، د معنا او مفهوم په لحاظ سره نوم ښه كيښودل پكاردي[۳] البته تاريخي نوم كيښودل چې د هغه په ذريعه د پيدايښ كال محفوظ شي صحيح دی.

د ((محمد)) لفظ د خپل نوم جزء جوړول

سوال: شرعي اعتبار سره ايا د ((محمد)) لفظ خپل نوم سره لګول صحيح دي او كه نه؟ څيني خلك وايي چې كه دا نوم په څمكه باندې ليكل شوی وغورځيږي؛ نو ايا د دې بې ادبي نه

---

[۱] مثلًا: خزيمة بن اوس بن زيد........ ذكره موسى بن عقبة فيمن شهد بدرًا، خزيمة بن ثابت بن الفاكة .... الأنصارى الأوسى....... من السابقين الأوّلين شهد بدرًا وما بعدها........ روى الدارقطنى من طريق أبي حنيفة عن حماد عن إبراهيم عن أبي عبدالله الجدلى عن خزيمة بن ثابت ان النبى صلى الله عليه وسلم جعل شهادته شهادة رجلين ......خزيمة بن ثابت الأنصارى آخر روى عساكر فى تاريخه من طريق الحكم بن عيينة أنه قيل له أشهد خزيمة بن ثابت ذوالشهادتين الجمل.......ومات ذوالشهادتين فى زمن عثمان خزيمة بن ثابت السلمي، خزيمة بن جزى بن شهاب العبد...إلخ (الإصابة فى تمييزالصحابة ج: ۱ ص: ۴۲۵، ۴۲۶، باب خ، ز، طبع دارالمعرفة بيروت)۔

[۲] التسمية بإسم لم يذكره الله تعالى فى عبادة ولَا ذكره رسول الله صلى الله عليه وسلم ولايستعمله المسلمون تكلموا فيه، والأولى أن لايفعل (عالمگيرية ج: ۵ ص: ۳۶۲، الباب الثانى والعشرون فى تسمية الأولاد وكناهم والعقيقة)۔

[۳] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سموا بأسماء الأنبياء ...إلخ (فيض القدير ج: ۷ ص: ۳۵۵۳) ايضًا: عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أحب الأسماء إلى الله : عبدالله وعبدالرحمن (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۶، باب النهى عن التكنى بأبى القاسم وبيان ما يستحب من الأسماء)۔

کیږي؟ او ایا دا خپل نوم سره ونه لګول شي؛ نو بهتره به وي؟

جواب: د نبي کریم ﷺ نوم مبارک خپل نوم سره لګول صحیح دي،[1] بلکې که د نبي کریم ﷺ په نوم مبارک باندې د ماشوم نوم ((محمد)) کېښودل شي: نو د دې فضیلت په حدیث کې راغلی دی[2] دا پاک نوم په څمکه باندې غورځول بې ادبي ده، چیرته چې ملاوشي؛ نو ادب او احترام سره دې اوچت کړل شي او په اوچت ځای دې کېښودل شي چیرته چې د بې ادبي ویره نه وي.

د چا د نوم سره د ((محمد)) لفظ له پاسه ،،ص،، لیکل

سوال: هغه خلک چې د هغوی د نومونو نه مخکې یا وروسته ((محمد)) راځي، د محمد له پاسه وړوکی ((ص)) لګوي، اخریلې؟ په حقیقت کې ((ص)) مختصرا د محمد صلی الله علیه وسلم نښاندهي کول دي.

جواب: د انحضرت ﷺ د نوم مبارک نه سوا د بل چا په نوم باندې د ((ص)) علامت لیکل نه دي پکار په کومو نومونو کې چې لفظ محمد استعمالیږي، هغه د دې نومونو جز وي، د انحضرت ﷺ د نوم نامي حیثیت د هغه نه شي کیدای.[3]

محمد نوم باندې د (ص) نشان لګول

سوال: ایا د محمد نوم سره ((ﷺ)) یا ((ص)) لیکل ضروري دي؟ ما اکثر د محمد نوم سره ((ص)) لیکل شوی لیدلی دی، که لیکل ضروري دي؛ نو ایا داسې هم چې د روزنامه جنګ اخبار د فلمي صفحې په اشاعت کې فلم محمد بن قاسم په محمد له پاسه هم ((ص)) لګیدلی و، نعوذبالله د دې معنا د ویمه راوځي دا ولې؟

جواب: د محمد ﷺ نوم مبارک اوریدو سره درود ویل ضروري دي[4] او په قلم سره لیکل ډیر ښه خبره ده[1] خو چې کله دا نوم مبارک د یو بل سړي د نوم جز وي، په هغه وخت په دې باندې د ((ص)) نشان لګول نه دي پکار، ځکه چې هغه د انحضرت ﷺ نوم نه وي.[2]

---

[1] عن انس رضی الله عنه قال.............. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تسموا بإسمی ولا تکنوا بکنیتی (صحیح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۶ کتاب الأدب) أیضًا: ان إسم محمد وأحمد أحب إلی الله من جمیع الأسماء فإنه لم یخترلنبیه إلا ما هوأحب إلیه (فتاوی شامی ج: ٦ ص: ٤١٧، فصل فی البیع)۔

[2] ورد من ولد مولود فسمّاه محمدًا کان هو مولوده فی الجنة رواه ابن عساکر عن أمامة رفعه (فتاوی شامی ج: ٦ ص: ٤١٧، فصل فی البیع)۔

[3] قال الجمهور من العلماء: لایجوزأفراد غیرالأنبیاء بالصلاة لأن هذا قد صارشعارًا للأنبیاء إذا ذکروا فلا یلحق بهم غیرهم (تفسیرابن کثیر ج: ٥ ص: ٢٢٨، سورة الأحزاب، طبع رشیدیه کوئته)۔

[4] والآیة تدل علی وجوب الصلوة والسلام فی الجملة ولوفی العمرمرة..[بقیه په راروانه صفحه.

عبدالرحمن او عبدالرزاق ته د رحمان او رزاق نوم اخيستل

سوال: ،،عبدالرحمن، عبدالخالق، عبدالرزاق،، زموږ په معاشره کې عام رواج دی چې،،عبد،، پرېږدي يوازې ،،رحمن، خالق او رازق،، وغيره په ويلو سره اخيستل کيږي، داسې نومونه خودالله تعالى دي، ايا دا دنومونو بې ادبي نه ده؟

جواب: د،،عبد،، لفظ لرې کول دالله تعالى په نومونوسره بنده ته اواز کول ډير بد دي، دالله تعالى نومونه دوه قسمه دي، يو قسم دهغه نومونو مبارک دي چې دهغو استعمال دبل چا له پاره هيڅ کله هم نه شي کيدی، لکه: ،،الله، رحمن، خالق، رازق،، وغيره. دا نومونه دغيرالله له پاره استعمالول قطعي حرام او ګستاخي ده، لکه دچانوم چې ،،عبدالله،، وي او،،عبد،، ترې ليرې کړې اودې سړي ته ،،الله صاحب،، وويل شي، يا ،،عبدالرحمن،، ته ،،رحمن صاحب،، وويل شي، يا ،،عبدالخالق،، ته،،خالق صاحب،، وويل شي، دا ښکاره ګناه او حرام دي[۳] او دويم قسم چې دهغه استعمال دغيرالله له پاره هم راغلی دی، لکه څنګه چې په قرآن شريف کې دحضورپاک ﷺ ته ،،رؤف رحيم،، فرمايل شوي دي، داسې نومونه دنورو خلکو له پاره ويل څه حده پورې ګنجائش کيدای شي، خو د ،،عبد،، لفظ لرې کول دالله تعالى نوم دبنده له پاره استعمالول چيرې هم جائز نه دي، ډيرخلک په دې ګناه کې اخته دي او دا محض د غفلت او بې پروايي کرشمه ده [۴]

...بقيه د تيرمخ] وبه قال أبوحنيفة ...إلخ (تفسيرمظهرى ج: ۷ ص: ۳۷۴، طبع مكتبه اشاعة العلوم، دهلى)

[۱] مسئلة: قد استحب أهل الكتابة أن يكرر الكاتب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم كلما كتبه ...إلخ (ابن كثير ج: ۵ ص: ۲۲۷ طبع رشيديه، سورة الأحزاب) أيضًا: وقال بعض أهل الحديث: كان لى جاز فمات فرؤى فى المنام فقيل له: ما فعل الله بك؟ قال: غفرلى! قيل: بم ذاك؟ قال: كنت إذاكتبتُ ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم فى الحديث كتبتُ صلى الله عليه وسلم،، (جلاء الأفهام فى الصلوة والسلام على خيرالأنام ص: ۲۳۰)۔

[۲] قال الجمهور من العلماء: لايجوز أفراد غيرالأنبياء بالصلاة لأن هذا قد صارشعارًا للأنبياء إذا ذكروا إلخ (تفسيرابن كثير ج: ۵ ص: ۲۲۸، سورة الأحزاب، طبع رشيديه كوئته)۔

[۳] قال أبوالليث: لَا أحب للعجم أن يسموا عبدالرحمن و عبدالرحيم، لأنهم لايعرفون تفسيره ويسمونه بالتصغير تتارخانية وهذامشتهرفى زماننا، حيث ينادون من اسمه عبدالرحيم وعبدالكريم او عبدالعزيز مثلًا فيقولون: رحيم و كريم و عزيز .... ومن إسمه عبدالقادر قويدر وهذا مع قصده كفر (شامى ج: ۶ ص: ۴۱۷، فصل فى البيع) أيضًا: ومن قال لمخلوق: ياقدوس، أو القيوم، أو الرحمن او قال إسمًا من أسماءالله الخالق، كفر انتهى وهويفيد أنه من قال لمخلوق: يا عزيز ونحوهم يكفرأيضًا، إلَّا إن أراد بهما المعنى اللغوى، والأحوط أن يقول: يا عبدالقدير يا عبدالرحمن (شرح فقه الأكبر ص: ۱۹۳ طبع قديمى)۔

[۴] والتسمية باسم يوجد فى كتاب الله كالعلى ولكبير والرشيد والبديع جائزة،..[بقيه په راروانه صفحه.

"مسیح الله " نوم کیښودل

سوال: زما د ورور نوم ((مسیح الله)) دی، ډیر خلک وایي چې: دا د عیسایانو په شان نوم دی، ولې ته عیسایي یې؟ دا نوم بدل کړه، راته ووایه دا نوم صحیح دی او که نه؟

جواب: دا نوم صحیح دی[۱]، ولی ((محمد عیسی)) نوم کیښودو سره انسان عیسایي کیږي...؟

د ماشومې نوم ((تحریم)) کیښودل شرعا څنګه دي؟

سوال: ما د خپلې لور نوم ((تحریم)) ایښی دی، د معنا په اعتبار سره د دې لفظ مطلب دی:

۱ـ حرمت والا.

۲ـ د لمانځه نه مخکې ویلو والا تکبیر ((تکبیر تحریمه)).

۳ـ منع شوی وغیره.

د څه علماوو او عامو خلکو خیال دی چې ما د خپلې لور نوم صحیح نه دی ایښی، د ستاسو به ډیره مهرباني وي په دې سلسله کې زما رهنمایي وکړئ!

جواب: د ((تحریم)) معنا ده: ((حرامول))، تاسو پخپله وګورئ چې دا نوم د ماشومې له پاره ترکوم حده پورې صحیح دی.[۲]

د مسلمان نوم د غیرمسلمو په شان

سوال: د انډیا مشهور فلم ستار ((دلیپ کمار)) مسلمان دی، خو د هغه نوم چې زیات مشهور دی هغه د هندو نوم دی، ایا دا د اسلام په رڼا کې جائز دي؟

جواب: جائز نه دي.[۳]

...بقیه د تیرمخ]... لأنه من الأسماء المشترکة ویراد فی حق العباد غیرمایراد فی حق الله تعالی، کذا فی السراجیة (فتاوی عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٦٢ کتاب الکراهیة)ـ

[۱] قال الله تعالی: إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهاً فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (آل عمران:٤٥) وفی التفسیر: والمسیح لقب من الألقاب المشرفة کالصدیق والفاروق وأصله مشیحًا بالعبرانیة، ومعناه المبارک .... وقیل سمی مسیحًا لأنه کان لایمسح ذاعاهة إلّا برأ أو لأنه کان یمسح الأرض بالسیاحة، لا یستوطن مکانًا (تفسیرنسفی ج: ۱ ص: ۲۵۵، طبع دار ابن کثیر، بیروت)ـ

[۲] حرام کول، ممانعت کول، عزت کول، حرمت کول، نیت تړل او په اول بارمونځ کی الله اکبرویل، جمع ئی تحریمات ده (فیروزاللغات ت ح ص: ۳٤۸)ـ

[۳] التسمیة باسم لم یذکره الله تعالی ورسوله فی عبارة ولایستعمله المسلمون الأولی أن لا یفعل (فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ج: ٦ ص: ٣٧٠ کتاب الکراهة، الفصل التاسع فی المتفرقات)ـ

"پرویز" نوم کیښودل صحیح نه دي

سوال: زه له ډیرې مودې نه اورم چې ((پرویز)) نوم کیښودل صحیح نه دي، کله چې د مشرانو نه ددې پوښتنه وشوه؛ نویوازې دومره وضاحت یې وکړ چې دا نوم ښه نه دی، زما د ډیرو دوستانو دا نوم دی، صفحه ((کتاب وسنت کی روشنی مین)) ((اخبارجهان)) کې جناب حافظ بشیراحمدغازي ابادي هم ددې په تاید کولو سره ویلي چې دا نوم زمونږ د حضور ﷺ د دښمن و، خبره څه واضحه نه شوه؟

جواب: ((پرویز)) د شاه ایران نوم و، چې هغه د حضورپاک ﷺ نوم مبارک شلولی و ((نعوذبالله)) دا زمونږ په زمانه کې د مشهورمنکرحدیث نوم و، اوس پخپله سوچ وکړئ دداسې کافر نوم کیښودل څنګه دي؟[1]

فیروز نوم کیښودل شرعا څنګه دي؟

سوال: ((فیروز)) نوم کیښودل څنګه دي؟ حالانکې د یوصحابي نوم هم فیروز و اود عمرفاروق رضی الله عنه د قاتل نوم هم فیروز و.

جواب: ((فیروز)) نوم کیښودلوکې څه بدیت نه شته، باقي که څوک دحضرت عمر رضی الله عنه د قاتل په نیت سره دانوم کیږدي؛ نوچې څنګه نیت هغه شان مراد...![2]

د نبي ﷺ نوم کیښودل

سوال: زما مسئله دنوم په باره کې ده، زما نوم ((محمد)) دی، چنانچې زه دا معلومول غواړم چې زمادانوم صحیح دی اوکه نه؟ ځکه چې زمادوستان او ډیرنورخلک هم ددې نوم په باره کې دا اعتراض کوي چې دا نوم زمونږ د نبي پاک ﷺ دی او ددې بې ادبي کیږي.

جواب: د انحضرت ﷺ په نوم مبارک سره دماشومانو نومونه کیښودل، دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه واخله ترننه پورې په مسلمانانوکې راروان دي او د انحضرت ﷺ نه ددې اجازه ثابته ده، بلکې په یو حدیث کې ددې نوم د کیښودلو فضیلت هم راغلی دی.[3]

---

[1] ان ابن عباس أخبره أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث بكتابه إلى كسرى (أى پرويز) فأمره أن يدفعه إلى عظيم البحرين يدفعه عظيم البحرين إلى كسرى فلمّا قرأه كسرى مزّقه .... قال: فدعا عليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يمزّقوا كل ممزّق (صحيح البخارى ج: ۲ ص: ۱۰۷۹، كتاب أخبار الآحاد، باب ماكان النبى صلى الله عليه وسلم يبعث من الأمراء والرسل واحدًا بعد واحد)۔

[2] إنماالأعمال بالنيات وإنما لإمرئ مانوى(صحيح البخارى ج: ۱ ص: ۲) الأموربمقاصدها (الأشباه والنظائر)

[3] عن أنس قال .... فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم تسمّوا بإسمى، ولا تكنوا بكنيتى (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۶ كتاب الأدب) وفى الشامية: إن إسم محمد وأحمد أحب ..[بقيه په راروانه صفحه.

((عبدالمصطفی)) او ((غلام الله)) نوم كيښودل

سوال: ((عبدالمصطفی)) او ((غلام الله)) نوم كيښودل څنګه دي؟ د ((عبد)) معنا بنده او د ((غلام)) معنا د زوی ده؟

جواب: ((عبدالمصطفی)) د نوم نه ځيني علماوو منع فرمايلې ده چې په دې كې دعبديت نسبت دغيرالله طرف ته دی[1] ((غلام الله)) كې د غلام معنا د((عبد)) ده. د ((غلام)) معنا دزوی نه متبادر ده، نه ترې مراد دی، ځكه دا نوم صحيح دی[2] والله اعلم!

د نجونو نومونه شازيه، روبينه، شاهينه څنګه دي؟

سوال: ايا دنجونو مونه ((شازيه، روبينه او شاهينه)) غيراسلامي نومونه دي؟

جواب: مهمل نومونه دي.

((الله داد، الله دته او الله يار)) سره بنده مخاطب كول

سوال: ايادالله تعالی ذاتي نومونو سره يوانسان مخاطب كول جائز دي؟ لكه ((رحمن، الله داد ،الله دته، الله يار)) اوداسې نور...، ځكه چې ماپه يواسلامي كتاب كې (چې داسماء الهي په موضوع باندې و)لوستي و چې دالله تعالی ذاتي نومونه دې انسان نه خپلوي؛ نو بنه ده اودالله تعالی صفتي اوفعلي نومونه خپلول پكار دي، مهرباني وكړئ تاسوپه دې باندی رڼا واچوئ چې مورِ ته راهنمايي حاصله شي.

جواب: ((رحمن)) او((الله)) خودالله تعالی پاک نومونه دي، خو((الله دته)) او((الله يار)) خودالله پاک نومونه نه دي، ځكه چې د ((الله دته)) ترجمه ده: د ((عطاء الله)) او ((الله يار)) ترجمه ده د ((ولي الله)) ځكه ستاسوذكرشوي مثالونه صحيح نه دي، تركومه پورې چې دالله تعالی دذاتي او صفتي نومونو تعلق دی؛ نواهل علم فرمايي چې دالله تعالی پاک نوم ((الله)) خو اسم ذاتي دی اوباقي ټول نومونه صفتي دي، په دې صفتي نومونو كې ((رحمن)) دذاتي نوم پشان دی

...بقيه د تيرمخ].. إلى الله من جميع الأسماء فإنه لم يختر لنبيه إلا ما هوأحب إليه ...إلخ (فتاوى شامي ج: ٦ ص: ٤١٧، فصل فى البيع) وفيه أيضًا: وورد من ولد له مولود فسماه محمدًا كان هو ومولوده فى الجنة، رواه ابن عساكر عن امامة رفعه (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٧، فصل فى البيع)۔

[1] قال العلّامة ابن عابدين: ولايسمّيه حكيمًا ولا أبا الحكم ولا أبا عيسى ولا عبدفلان .... ويؤخذ من قوله ولاعبد فلان منع التسمية بعبدالنبى، ونقل المناوى عن الدميرى انه قيل بالجواز بقصدالتشريف بالنسبة والأكثر على المنع خشية إعتقاد حقيقة العبودية كما لا يجوز عبدالدار (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٨، فصل فى البيع)۔

[2] ويلحق......... أى عبدالله وعبدالرحمن ما كان مثلها كعبدالرحيم و عبدالملك، وتفضيل التسمية بهما محمول على من أرادالتسمّى بالعبودية لأنهم كانوا يسمّون عبدشمس وعبدالدار (شامى ج: ٦ ص: ٤١٧)۔

چې چیرته بل ته ((رحمن)) ویل جائز نه دي[۱] نور ښیني نومونه داسې دي چې هغه دبل چاله پاره جائز نه دي، مثلا چاته ((رب العالمین)) ویل جائز نه دي. البته ښیني نومونه داسې دي چې دنور چا له پاره هم دا استعمال شوي دي. مثلا ((رؤف)) او ((رحیم)) دالله تعالی نومونه دي، خو په قرآن مجید کې حضورپاک ﷺ ته هم ((رؤف رحیم)) فرمایل شوي دي[۲] دغه شان ((شکور)) دالله تعالی نوم دی، خوپه قرآن کریم کې بندګانوته هم ((شکور)) فرمایل شوي دي.[۳] نودالله تعالی اسماء مبارکه بل چاته ویل جائز دي اوکه نه؟ ددې ضابطه دا راووته چې دمعنا او مفهوم په لحاظ سره که هغه نوم دالله تعالی له پاره مختص وي؛ نو دا دبل چاله پاره استعمالول جائز نه دي او که هغه دالله تعالی له پاره مختص نه وي؛ نودنورو له پاره دهغه استعمال جائز دی.[۴]

((نائله)) نوم کیښودل

سوال: ((نائله)) ایا عربي لفظ دی؟ ددې څه معنا ده؟ ما اوریدلي دي چې عزی، لات او نائله اوداسې نور... دبتانو نومونه دي، چې دهغوبه په یوه زمانه کې عبادت کیده، خونن سبا ((نائله)) نوم نجونو ته په ډیر شوق سره کیښودل کیږي، ایا شرعا ((نائله)) نوم کیښودل جائز دي؟

جواب: هو! عربي لفظ دی، چې دهغه معنا ده: ((عطیه، سخي، حاصلونکې)) دا دځینې صحابیاتو نوم هم و (او دحضرت عثمان رضی الله عنه دبي بي هم)، که چیرې دا ناجائز و؛ نو حضورپاک ﷺ به ددې منع کولو حکم فرمایلی و.[۵]

((الرحمن)) د یو انجمن نوم کیښودل

سوال: زموږ په علاقه کې ((الرحمن فلاحي سوسائټي)) نومي یو انجمن قائم شو، دا انجمن دیني او فلاحي کارونه سرته رسوي، وواییٔ چې ((الرحمن)) دیوانجمن نوم کیښودل جائز دي؟

---

[۱] رفيه إسمان من أسماء الله تعالى المخصوصة به لا يسمّى بهما غيره وهما الله والرحمن (احكام القرآ ن للجصاص ج: ۱ ص: ۱۹)۔

[۲] لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ) (التوبة:۱۲۸)۔

[۳] ،، إنه كان عبدًا شكورًا،، (الإسراء: ۳)۔

[۴] والتسمية بإسم يوجد فى كتاب الله كالعلى ولكبير والرشيد والبديع جائزة، لأنه من الأسماء المشتركة ويراد فى حق العباد غيرمايراد فى حق الله تعالى، كذا فى السراجية(فتاوى عالمگيرى ج:۵ ص:۳۶۲ كتاب الكراهية)

[۵] مثلًا نائلة بنت الربيع بن قيس بن عامر........ الأنصارية أخت عبدالله بن الربيع البدرى...... فأسلمت وبايعت، نائلة بنت سلامة بن وقش..... ذكرها ابن سعد وقال: أسلمت وبايعت نائلة بنت عبيد بن الحر بن عمرو بن الجعد........ الأنصارية من بنى ساعدة ذكرها ابن حبيب فى المبايعات...إلخ الإصابة فى تميزالصحابة ج: ٤ ص: ٤١٦، ٤١٧، حرف النون القسم الأوّل، طبع دارصادر، بيروت)۔

جواب: ((الرحمن)) دالله تعالی خاص نوم دی، دیو سړي یا دیو انجمن نوم کیښودل جائز نه دي.[۱]

له خپل نوم سره ((حافظ)) لیکول

سوال: که چیرې یوه اینجلۍ یاهلک حافظ وي او له خپل نوم نه مخکې((حافظ)) لګولی شي او که نه؟ لکه ((ارم)) نوم دی؛ نو((حافظ ارم)) لیکلی شي یاویلی شي او که نه؟

جواب: که چیرې ریاکاري ترې مقصود نه وي؛ نو جائزدی.

له خپل نوم سره (شان) لیکل یاچاته (شاه جي) ویل څنګه دي؟

سوال: یوحدیث مالوستلی و ،کمی بیشی دې الله تعالی راته معاف کړي، دهغه معنا څه داسې ده چې که یو کس له خپل نوم سره ((شان)) ولیکي یا ووایي، لکه ((شاه جي))، ((شاه صاحب)) اوداسې نور...؛ نوهغه کس به ګناهګار وي، ځکه چې دا نوم یوازې او یوازې الله تعالی سره ښه ښکاري، ایا دا خبره صحیح ده؟

جواب: په حدیث کې ((شهنشاه)) ویلو نه منع فرمایل شوې ده، چې دهغه معناده د((بادشاهانو بادشاه)) دا دالله تعالی شان دی ((سید)) وغیره ته چې څوک ((شاه صاحب)) وایي، دهغه منع نه شته.[۲]

د((سید)) مصداق څوک دي

سوال: جناب عالي! زه ستاسو اسلامي صفحه په پابندي سره ګورم ((مسائل اور ان کا حل)) په ویلو سره زماپه دیني معلوماتو کې ډیره اضافه وشوه، زماپه ذهن کې هم یو سوال دی چې دهغه حل غواړم، امیددی چې جناب په تسلي بخش جواب سره به دټولو لوستونکو په معلوماتو کې اضافه وکړل شي، داسلام نه مخکې په هندوستان کې بت پرست قوم اباد و، چې دوی دخپلو عقائدوپه لحاظ سره په څلورو ذاتو کې تقسیم شوي وو:

۱: برهمن. ۲: چهتري. ۳: ویش. ۴: شودر.

بیاپه دې کې هم درجه بندي وه، څوک اوچت او ښکته، له دې وجې دبرهمن دنوم سره ددې دشناخت یولفظ شامل کیږي لکه: ((دوبے، تربیدی، چوبے)) اوداسې نور...، په کوم وخت کې

[۱] قال أبوبكرالجصاص: وفيه إسمان من أسماء الله تعالى المختصة به لايسمّى بهماغيره وهما الله والرحمن وقال فى موضع آخر: وهو مع ذالك إسم مختص بالله تعالى لايسمّى به غيره (أحكام القرآن ج: ۱ ص: ۹ ۱۹)۔

[۲] عن أبي هريرة رواية قال: أخنع إسم عندالله وقال سفيان غيرمرّة أخنع الأسماء عندالله رجل تسمّى ملك الأملاك، قال سفيان يقول غيره تفسيره شاهان شاه (صحيح البخارى ج: ۲ ص: ۹۱٦، كتاب الأدب، بابٌ أبغض الأسماء إلى الله تبارك وتعالى)۔

چې په هندوستان کې د اسلام راتګ وشو او خلک په انفرادي او اجتماعي حیثیت سره مسلمان شول، خو د اسلام قبول کولو باوجود په دوی کې د هندو توب ذهنیت باقي پاتې شو، چې هغه ترننه پورې مسلمانان په څه نا څه شکل کې د هندوانو رسم او رواج خپل کړی دی او د هندوانو په شان مسلمانانو هم څلور ذاتونه جوړ کړل. د "برهمن" په مقابله کې ((سید)) "چهتري" په مقابله کې ((پټهان)) او باقي خلک څوک ((شیخ)) دی، څوک ((مغل)) د ((سید)) دوه طبقې دي، سني سید، شیعه سید، بیا په دې کې نورې فرقې هم دي چې هر ((سید)) د خپل نوم سره د شناخت له پاره څه لفظ استعمالوي لکه ((صدیقي، فاروقي، عثماني، علوي، جعفري)) او یاداسې نور ... ، یو صاحب ماته وویل چې ((زما تعلق د یوداسې ګروپ سره دی چې هغوی به په هندوستان کې د شرابو تجارت کولو، ټول خلک په اجتماعي حیثیت سره مسلمانان شول، وروسته ورته خیال راغی چې موږ کوم مسلمانان یو؟ ټولو فیصله وکړه چې موږ ټول خلک په رېښتني زړه سره مسلمانان شوي یو، ځکه موږ ټول ((صدیقي)) مسلمانان یو، له دې وجې زه خپل ځان سره ((صدیقي)) لیکم، اوس زه اصل مدعا بیانوم، هغه داده چې په یوه موقع باندې په لفظ ((سید)) باندې خبرې کیدلې؛ نو زما یو دوست (چې د سکول ماسټر دی) وویل: ایوب صاحب! تاسو هم سید یئ، ما ورته وویل: ((زه خو سید نه یم))؛ نو هغه یو غټ کتاب یې راوړو ماته یې راکړ او ویې ویل چې دا وګوره، دا کتاب د کراچۍ یو صاحب لیکلی دی او غالبا هغه دوه ځله چاپ شوی دی، په هغه کې لفظ ((سید)) باندې ډیر تحقیق شوی دی، په دې کې ویل شوي دي چې لفظ ((سید)) نه خانداني دی او نه نسلي، دا لفظ د اسلام نه مخکې په عربو کې به استعمالیدو، ((سید)) معنا د سردار ده، د خاندان سربراه ته به ((سید)) ویل کیده، یهودو او نصاراوو ټولو به دا لفظ استعمالولو، په هریوه ژبه کې به څه نا څه لفظ د عزت او احترام له پاره استعمالیده، په انګریزي کې ((مسټر)) او په هندي کې ((شری مان))، په اردو کې ((جناب عالي)) او ((محترم)) په ډول د ثبوت هغوی داسې مضمونونه او کتابونه وښودل په کوم ځای کې چې لفظ ((سید)) د احترام او بزرګي په معنا کې استعمال شوی دی ((سید خاندان)) هغه تر دې حده پورې رسیدلي دي چې اوریدلي دي چې خلق د خپلو لونړو ودونه نه کوي چې دوی ته یو اصل ((سید)) هلک نه پیدا کیږي، اوس د مخکې وضاحت نه وروسته زه دا معلومول غواړم چې د اسلامي احکاماتو په رڼا کې:

اول لفظ ((سید)) نه خانداني دی، نه نسلي؛ نو هر مسلمان د دې مستحق دی، د هغه د نوم سره لفظ ((سید)) استعمالولی شي او که نه؟ او هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی او د اوچت والي او ښکته والي قرآن پاک منع فرمایلې ده.

دویم کوم خلک چې خپل تعریف په خپله کوي، یعنې ((سید)) ویلو سره دا ظاهروي چې زه سردار یم، عزت والا یم او د احترام لائق یم، بزرګ یم، که د هغه کردار هرڅنګه وي، ایا دا صحیح ده؟ د هغه له پاره څه حکم دی؟

دريم کوم خلک چې د ((سيد)) بهانه کوي دنجونو ودونه نه کوي، د داسې خلکو له پاره څه حکم دی؟

جواب: ستاسو په سوال کې يو څو امور قابل تحقيق دي:

اول دحضورپاک ﷺ محبت دهر مسلمان له پاره دايمان جزء او دحضورپاک ﷺ ذات مبارک دټولو اهل ايمان له پاره دټولونه زيات محبوب او محترم دی، څنګه چې دالله تعالی ارشاد مبارک دی: ((النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ)) (الاحزاب:۶).

او حديث: ((لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده)) (صحيح البخاری ج:۱ ص: ۷، کتاب الايمان، مشکوة ج:۱ ص:۱۲، کتاب الايمان، الفصل الاول).

نه واضحه ده او دحضورپاک ﷺ سره دمحبت لازمي نتيجه دحضورپاک ﷺ متعلقينوسره محبت دی، دکومې درجې چې تعلق وي دهغه درجې محبت به هم وي.

دويم دهرسړي طبعي ډول باندې دخپل اولاد سره محبت وي؛ نو دمحمد ﷺ آل او اولاد سره محبت ساتل هم داهل ايمان له پاره دايمان تقاضاده اوپه ډيرو نصوصوکې ددې حکم هم دی.[۱]

دريم څنګه چې دبادشاه اولاد ته شهزادګي ويل کيږي، هم داسې د سيدالرسول ﷺ اولاد ته ((سيد)) ويل کيږي او دا لفظ حضورپاک ﷺ دسبطين کريمين رضي الله عنهما له پاره پخپله استعمال کړی دی، دحضرت حسن رضي الله عنه په باره کې يې فرمايلي دي: "ابنی هذاسيد"[۲] او دحضرات حسنين رضي الله عنهما په حق کې فرمايلي: "سيدا شباب اهل الجنه."[۳] که حضورپاک ﷺ دا لفظ استعمال کړی نه و، بياهم دحضورپاک ﷺ اولاد خپل مشران او سرداران ګڼل زموږ فرض و، چې د اقا اولاد ته اقا ويل کيږي، همدا معنا د ((سيد)) ده.

څلورم يو سړی دحضورپاک ﷺ په خاندان کې پيدا کيدل يو غير اختياري فضيلت دی، چې داد شکرلائق، خو پرته له څه شک نه، دفخر لائق نه دی، ځکه چې دحضورپاک ﷺ دنسب او نسبت ذمه داري هم ډيره نازکه ده اولاد ته دخپل پلار جانشين هغه وخت ويل کيږي چې هغه

---

[۱] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أحبوا الله لمايغذوكم من نعمه وأحبوني بحب الله واحبوا أهل بيتي بحُبّي (ترمذی ج: ۲ ص: ۲۱۹، مناقب أهل بيت)۔

[۲] عن الحسن (البصری) أنه سمع أبابكرة سمعت النبي صلى الله عليه وسلم على المنبر والحسن إلى جانبه ينظرإلى الناس مرةً وإليه مرةً، ويقول: ابني هذا سيّدٌ ولعل الله أن يصلح به بين فئتين من المسلمين (صحيح البخاری ج: ۱ ص: ۵۳۰، مناقب الحسن والحسين)۔

[۳] جامع الترمذی ج: ۲ ص: ۲۱۷، باب مناقب أبو محمد الحسن بن علی بن أبي طالب والحسين...إلخ)۔

دهغه په نقش قدم باندې وي، کوم سړی چې شهزاد کيدو سره دچورپانو والاکار وکړي، هغه د چوړيانونه بدتره ګڼل کيږي، بلکې دهغه په نسب کې هم شک پيداکيږي چې دهغه نسب واقعتا دبادشاه نه ثابت هم دی اوکه نه؟ داسې چې کوم خلک دحضورپاک ﷺ په خاندان کې پيداشوي ګنده عقيدې، ګنده عملونه او ګنده اخلاق کې اخته وي دهغوی حالت زيات خطرناک دي او ددوی په باره کې انديښنه ده چې دپسرنوح په شان ددوی په حق کې هم ((إنه لَيسَ مِن اَهلِک اِنه عَمَل غَير صَالِح)) (سورة هود: ۴۶) ونه فرمايل شي، يوځل حضور پاک ﷺ قريش ته په خصوصي خطاب کولو کې فرمايلي و:

((وأنتم ألا تسمعون (إن أولياؤه إلا المتقون) فان كنتم أولئك فذاك وإلا فانظروا لا يأتي الناس بالاعمال يوم القيامة وتأتون بالاثقال فنعرض عنكم ثم رفع يديه فقال يا أيها الناس إن قريشا أهل أمانة فمن بغاهم العوائر اكبه الله بمنخريه قالها ثلاثا)) (مجمع الزوائد ج:۱۰ص۲۶).

ترجمه: ايا تاسو دا نه اورئ چې دالله تعالی دوستان يوازې متقيان او پرهيزګار خلک دي، که تاسو هم متقيان او پرهيزګار يئ؛ نوبياصحيح ده، ګني واورئ! چې دقيامت په روځ نور خلک عملونه راوړي او تاسوبه بوجونه راوړئ، چې دهغه په نتيجه کې به موږ ستاسونه مخ واړوو، بيانبي کريم ﷺ دواړه لاسونه اوچت کړل ويې فرمايل: خلکو! بې شک قريش اهل امانت دي، کوم سړی چې دوی سره خيانت وکړي اوددوی خطاياني لټوي الله تعالی به هغوی پرمخې کړي. سيدانو ته دخپلو عقائدو، عملونو او اخلاقو او احوالو جائزه اخيستل کتل پکار دي، چې هغوی دخپل خوږ نبي حضرت محمد ﷺ سره ترکوم حده پورې مناسبت لري؟ دنصاراوو شکل او صورت او وضع او قطع خپلول او دبدکردارو او بدمعاشو اخلاق او اعمال اختيارولو خپل ځان ته ((سيد)) ويل دشرم لائق دي.

پنځم: داګفتګوخودهغوحضراتو په باره کې ده چې هغه صحيح النسب ((سيد)) دی، خويه دې زمانه کې ډير جعلي سيدان جوړ شوي دي، اميرشريعت سيدعطاء الله شاه بخاري (رحمه الله) ديوداسې سيدپه باره کې مزاحا فرمايلي و: وروره! موږ خود پخوانه سيدان راروان يو، زموږ په سيدکيدوکې خوشک کيدای شي چې خدای ته پته چې سيدان يو او که نه، خودفلانی صاحب په سيدکيدو کې هيڅ شک نه شته، ځکه چې هغه خوزمادسترګومخامخ سيد جوړشوی دی.

دا جعلي سيدان دډيرو جرمونو لائق دي:

اول: خپل نسب بدلول، چې په دې باندې د دوزخ زيری دی[1]، په حديث کې دي.

---

[1] روی عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: من ادعى إلى غيرأبيه وهويعلم أنه غيرأبيه فالجنة عليه حرام (احكام القرآن للجصاص ج: ۳ ص: ۳۵۴، زيرآيت: ادعوهم لاباءهم، طبع سهيل اکيدمی)۔

((من ادعى إلى غير أبيه .... فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين لا يقبل منه صرف ولا عدل)) **ترجمه** چاچې خپل نسب بدل کړ په هغه باندې دالله تعالى لعنت، دفرښتو لعنت او دټولو انسانانو لعنت. دهغه نه فرض قبلیږي او نه نفل.

دویم جرم دحضورپاکﷺ طرف ته محض د دروغو نسبت کول اودحضورﷺ طرف ته د دروغو نسبت کول بدترین ګناه او ذلیل ترین حرکت دی.

دریم ددې خلکو مقصدمحض ددروغو فخردی او فخر وتعلی، دخالق اومخلوق دواړوپه نظرکې د رزیل توب اود حرامي توب علامه ده.

څلورم داخلک دخپلو رذیلو اخلاقو او عملونو له وجې دحضور پاکﷺ دپاک اولاد له پاره د ننګ اوعار اودبدنامي باعث جوړ شوي دي اوخلک دوی ته ګوري دا ګڼي چې سید (نعوذبالله) داسې وي.

شپږم خوددې نقلي سیدانو له وجې زموږ له پاره به دا جائز نه وي چې موږ درسول اللهﷺ د اولاد توهین او ګستاخي وکړو، دیو بزرګ مشهوره کیسه ده چې یو ځل هغه نه یوصاحب خپل یوضرورت اوحاجت ذکرکړ او ویې ویل چې زه د رسول اللهﷺ اولاد یم، ماسره تعاون وکړئ، دې بزرګ ورته وویل چې ددې څه دلیل دی چې ته درسول اللهﷺ اولاد یې؟ هغه صاحب به ددې څه جواب ورکولو؟خاموش پاتې شو، دشپې هغه بزرګ خوب ویني چې دمحشر میدان قائم دی اوخلک د شفاعت له پاره دحضورپاکﷺ په بارګاه عالي کې حاضریږي، دا بزرګ هم حاضرشو او عرض یې وکړ: یا رسول الله! زه ستاسو امتی یم، زماهم شفاعت وکړئ حضور پاکﷺ ورته وفرمایل چې: ستادامتي کیدو څه دلیل دی؟ چې زما داولاد اولاد کیدل پرته ددلیل نه تسلیم نه دي؛ نوستاامتي کیدل پرته ددلیل نه څنګه تسلیم کړل شي؟ دې بزرګ ته په خپلې غلطي باندې تنبیه وشوه اودالله تعالى په بارګاه کې یې توبه وکړه.

ډیرخلک دحضورپاکﷺ په ازواجو او احبابو رضی الله عنهم په حق کې ګستاخي کوي اوددې په مقابله کې، اوس ځینې خلک دحضور پاکﷺ د اولاد بې ادبي کوي، دکوم صاحب دغې کتاب چې تاسوحواله ورکړې ده، ماته دهغه صاحب په باره کې معلوم دي چې دهغه تعلق هم دهغې فرقې نه دی اودا خلک دحضورپاکﷺ د آل او اولاد خلاف د نفرت او بغض اظهار کولوله پاره وخت په وخت مختلف کوششونه کوي، ددوی دعقل او ایمان سره ترلرې پورې څه واسطه نه وي، زه تاسو ته ډیرپه عاجزي سره درخواست کوم چې تاسوپه دې غلط فهمي کې اخته نه شئ ((سید)) که سردار ته وایي؛ نو پخپله سوچ وکړئ چې زموږ د اقاحضرت محمدﷺ اولاد زموږ سرداران نه دي؛ نوڅه دي؟ ایا زموږدخوږ نبيﷺ اولاد زموږ له پاره داحترام قابل نه دي؟ که موږ دوی ته داحترام له وجې ((سید)) وایو؛ نو اخر دا دکوم دلیل عقلي یا شرعي نه منع دي؟

اووم الله تعالی خاندانونه، قومونه، خپلولي او ذاتونه پخپله جوړ کړي دي، څنګه چې الله تعالی پخپله فرمايي «**وجعلنکم شعوبًا وقبائل**» (الحجرات ۱۳) اوپه دې کې ډیرمصلحتونه کینبودل شوي دي چې د هغه طرف ته د «**لتعارفوا**» دلفظ اشاره فرمايلې ده اوپه دې کې شک نه شته چې صفات، اخلاق او ملکات ډير «**اباعن جد**» منتقل کيږي، هم دا وجه ده چې ځينې خاندانونه خپل خانداني روايات او داخلاقو او صفاتو په وجه اوچت ګڼل کيږي او نورځينې خاندانونه دا اخلاقي معيار قائم کولو نه قاصر پاتې کيږي، داخبره دروزمره مشاهدې ده، چې په دې دځه استدلال ضرورت نه شته، حضور پاک ﷺ هم دځينې خاندانونو مرتبه برقرار ساتلې ده، مشهورارشاد مبارک دی: «دانسانانو هم کانونه دي څنګه چې د سپينو او سرو کانونه وي، کوم خلک چې په جاهليت کې شريفان او عزت مند وو هغه به په اسلام کې هم بهتر او د عزت والا وي، خوچې ددين پوهه حاصله کړي»[۱] په دې ارشاد مبارک کې حضورپاک ﷺ خاندانوته دسرو سپينو د کانونو سره تشبيه کړې ده چې ځينې کانونه بهتر او اعلی وي او ځينې بې کاره او خراب، دې نه پرته حضورپاک ﷺ دقريش دخاندان فضائل هم بيان کړي دي، چې هغه دحديث هريوطالب علم ته معلوم دي.[۲]

اتم دځينوخاندانونو دځينې نه اعلی او اشرف کيدل، خو عقلا او شرعا مُسلّم دي، خو په دې سلسله کې دوه سختې غلطيانې کيږي، اول دا چې ځينې خلک خاندانونه دغرور او فخر ذريعه ګڼي، حالانکې دالله تعالی په نزد د عزت او کرامت شيان خاندان نه دي، بلکې دانسان دذاتي عمل نوم دی، څنګه چې په «**ان اکرمکم عندالله اتقاکم**» (الحجرات: ۱۳) کې يې واضحه فرمايلي دي، ذاتي اعمال نه قطع نظر کول ديوسړي سيد، قريشي، هاشمي، صديقي، فاروقي کيدو باندې فخرکول او دا نسبتونه دفخر په ډول له خپل نوم سره لګول، دهغوی دکم عقلي او مردوديت علامت دی، په احاديث شريف کې په نسب باندې دفخر کولو سخت مذمت راغلی دی.[۳]

---

[۱] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الناس معادن كمعادن الذهب والفضةِ خيارهم فى الجاهلية خيارهم فى الإسلام إذا فقهوا، رواه مسلم (مشكوة ج: ۱ ص: ۳۲، كتاب العلم، الفصل الأوّل)

[۲] عن جابر بن سمرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لايزال الإسلام عزيزًا إلى إثنى عشرخليفة كلهم من قريش، وفى رواية لايزال أمرالناس ماضيًا ما ولهم اثناعشررجلًا كلهم من قريش (مشكوة ج: ۲ ص: ۵۵۰، باب مناقب قريش وذكرالقبائل)۔

[۳] عن أبي هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم: لينتهيّن أقوام يفتخرون بآبائهم الذين ماتوا هم فحمٌ من جهنّم أو ليكوننّ أهون على الله من الجُعل الذى يدهده الخراء بأنفه إن الله قد أذهب عنكم غبية الجاهلية وفخرها بالآباء إنما هو مؤمن تقيّ أوفاجر شقى الناس كلهم بنو آدم وآدم من تراب..[بقيه په راروانه صفحه.

دویمه غلطي ددې خلاف داکیږي چې دعزت والا دخاندانونو توهین اوبې ادبي کیږي اودلیل دا وړاندې کیږي چې په اسلام کې نسب او خاندان هیڅ شی نه دی، دا خبره خوتردې حده پورې صحیح ده چې دالله تعالی دمیني حاصلولو له پاره خاندان هیڅ حیثیت نه لري، بلکې ددې مدار داعمال صالحه له وجې دولایت اعلی ترین ځایونه طی کولی شي او دویم سړی په اعلی ترین خاندان کې پیدا شي اودخپلې بدعملي او بدکاري له وجې دجهنم خشاک جوړشي.

شیخ سعدي (رحمه الله) لیکلي چې: چې یو بانډیچي (کلي وال) خپل زوی ته نصیحت کولو چې زویه: عمل وکړه، دقیامت په ورځ به داپوښتنه کیږي چې تاڅه وګټل راغلې؟ داپوښتنه به نه کوي چې ستا نسب نامه څه ده؟"

الغرض: دیوانسان دفضیلت او بزرګي دارومدار په خاندان باندې نه په علم او عمل او په زهد او تقوا باندې دی، ددې باوجود الله تعالی ددنیاوي مصالح له پاره خاندانونه او قبیلې جوړې کړې دي[1] او په دې باندې دکفووغیره ځینې مسئلې هم جاري کیږي، مثلا: دحضورپاک ﷺ دخاندان له پاره زکات حلال نه دی[2]؛ نوځکه دخاندانونو انکار کول اودښه خاندانونو فضیلت تباه کول غلط دي او په حقیقت کې ددې منشاهم کبر دی.

نهم: په خاندان باندې فخر او د غرور یوه شعبه داده چې دسید خاندان داینجلۍ دغیر سید هلک سره نکاح جائز نه ګڼل کیږي، حالاتکې دموروپلار په رضاسره دسیدې اینجلۍ نکاح هر مسلمان سره کیدای شي، البته د موروپلار درضامندي نه پرته چې ډیرې خانداني مسئلې پیداکیږي؛ نوځکه په غیرکفوکې داینجلۍ دموروپلار درضا نه پرته نکاح نه شي کیدای، د تاریخ په کتابوبوکې دي چې دسادات جدامجدحضرت علي بن حسین رضي الله عنه چې ((زین العابدین)) په لقب سره مشهور دی، خپل غلام یې ازاد کړ او دخپلې لور نکاح یې له هغه سره وکړه او خپله وینځه یې ازده کړه، خپله نکاح یې له هغې سره وکړه، اموي خلیفه هشام بن عبدالملک هغه ته پیغام ولیږه چې تاسود قریش خاندان پوزه پرې کړه، ستاسو د لور له پاره په اعلی خاندان کې رشته ملاویدای شوه اوتاسو دا دیو غلام په نکاح کې ورکړه او تاسو ته دخپل ځان له پاره داوچتې نه اوچته رشته ملاویدای شوه، خوتاسو یوه وینځه ازاده کړه او ښځه مو جوړه کړه.

په جواب کې ورته حضرت زین العابدین رضي الله عنه وفرمایل: ستاسو له پاره درسول الله ﷺ په ذات

...بقیه دتیرمخ] رواه الترمذی وأبوداؤد (مشکوة ج: ۲ ص: ٤١٧، باب المفاخرة والعصبية،طبع قديمی کتب خانه)

[1] وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا (الحجرات:۱۳)۔

[2] قال (ای محمد بن زياد) سمعت أباهريرة قال: أخذالحسن بن على تمرة من تمرة الصدقة فجعلها فى فيه فقال النبی صلى الله عليه وسلم: كخ كخ ليطرحها ثم قال أما شعرت إنّا لا نأكل الصدقة (بخاری ج: ۱ ص: ۲۰۲، کتاب الزكوة، باب مايذكر فى الصدقة للنبی صلى الله عليه وسلم وآله، طبع نورمحمد)۔

مبارک کې بهترینه نمونه ده (دا د قرآن کریم د ایت یوه ټکړه ده)، حضورپاک ﷺ زیدبن حارثه ازاد کړ او دخپلې تروردلور (حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها) نکاح یې دوی سره وکړه او حضرت صفیه رضي الله عنها یې ازاده کړه اوله هغې سره یې خپله نکاح وکړه. مادرسول الله ﷺ سنت ژوندي کړل.[۱] زه امیدلرم چې ستاسو دسوالونو په جواب کې دا مختصرې اشارې به کافي وي، ولله الحمد اولا وآخرا!

د ښو او بدو نومونو اثرات

سوال: دشریعت په رڼاکې ووایئ چې د چانوم دهغه په شخصیت اثر کوي؟ دمثال په ډول باندې د ((زید)) حالات خراب دي، که اوس هغه خپل نوم بدلوي؛ نوایا دهغه نوم بدلولو سره دهغه په شخصیت باندې به اثر پریوځي؟

جواب: دښه نوم ښه اثرات او دبد نوم بد اثرات خو بې شکه وي[۲]، ددې له وجې دښه نوم کیښودلو حکم دی، ((زید)) خو بد نوم نه دی چې دهغه له وجې دهغه حالات خراب وي او په نوم بدلولو سره به دهغه حالات صحیح شي؛ نوځکه ستاسو مثال صحیح نه دی.

(اصحاب) او (صحب) دواړه الفاظ یوشان دي

سوال: په ریډیو پاکستان او ټیلي ویژن باندې دکورس په صورت کې درود شریف ویل کیږي، دهغه ټول الفاظ دادي: "اللهم صل على محمد وعلى اله وصحبه وبارک وسلم" محترمه! مهرباني وکړئ چې په ((اصحابه)) او ((صحبه)) د دواړو الفاظو مطلب هم یو دی یا د ټول اصحابو له پاره دجمعې په صیغې کې د لفظ ((اصحابه)) استعمال به صحیح وي؟ ستاسو په جواب باندې ریډیو پاکستان او ټیلي ویژن ته توجه ورکول پکار دي.

جواب: ((صحبه)) او ((اصحابه)) دواړه الفاظ صحیح دي او ددواړو هم یو مطلب دی دا دواړه لفظونه د جمع په صیغې سره دي.

---

[۱] أخبرنا علي بن محمد عن عثمان قال: زوج عليّ بن حسين ابنة من مولاة وأعتق جارية له وتزوّجها، فكتب إليه عبدالملك بن مروان يعيّره بذلك فكتب إليه عليّ: قد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة، قدأعتق رسول الله صلى الله عليه وسلم صفية بنت حُيي وتزوجها وأعتق زيد بن حارثة وزوجه ابنة عمّته زينب بنت جحش (طبقات ابن سعد ج: ۵ ص: ۲۱۴)۔

[۲] عن ابن المسيّب عن أبيه أن أباه جاء إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: ما اسمك؟ قال: حزنٌ! قال: أنت سهل! قال: لَا اغيّر إسمًا سمّانيه أبي، قال ابن المسيّب: فما زالت الحزونة فينابعد (صحيح البخارى ج:۲ ص:۹۱۴ كتاب الأدب، باب تحويل الإسم إلى إسم هوأحسن منه، طبع مير محمد كتب خانه)

ايا يو انسان ته (وكيل) ويل غلط دي؟

سوال: يو صاحب فرمايي چې «په ګاونډي ملک هندوستان کې وکيل ته» «بهاړو» او بيرستر ته « مهابهاړو» ويل کيږي، لهذا موږ تاسو به هم دا وايو "عرض يې وکړ چې دهغه ځاى خبره پريږده، هلته خودبتانو عبادت هم کيږي، چې هغه زموږ په مذهب کې ناجائز دي. کوم نازيبا الفاظ چې تاسو استعمالوئ هغه نه خو زموږ په ځاى کې ډيرې بدې معناوې اخيستل کيږي. يعنې د فاحشې ښځې ناجائزه ګټې خوړلو والا خلک زموږ په ځاى کې خو دنکاح په وخت د واده والا د سړي او دښځې هم وکيل وي، د قرآن په ايت مبارک کې وکيل داسې راغلى دى «**حسبناالله ونعم الوكيل**» او موږته دهغه پيروي کولو سره د يو بهترمدد کونکي دجوړولو پوره کوشش کول پکار دي" ؛نو هغه صاحب زما په باره کې فرمايي «تاسود کفر مرتکب کيږئ، کوم صفت چې الله تعالى دخپل ځان له پاره اينبى دى هغه دخپل ځان سره منسوبوئ» «واضحه دې وي چې زما چيرې هم دا مطلب نه دى، زما مطلب د خداى تعالى پيروي ده» صاحبه! که خداى او دهغه فرښتې په حضورپاک ﷺ باندې درود شريف وايي او ايمان والاوو ته هم ددې حکم وي او موږ هم درود ووايو ؛ نوهغه کار کوم چې الله پاک وکړ، هغه موږ هم وکړ، خو دالله په اطاعت کې مو وکړ، توبه! توبه! «نعوذبالله» دالله تعالى په برابرې کې نه؟«الله تعالى دې راته معافي وکړي» بياکه چيرې د «**حسبناالله ونعم الوكيل**» په پيروي کې موږبهتر وکيلان او د بهتر مددکونکي جوړولو کوشش وکړ: نود خداى پناه دې وي! ايا رښتيا ددې حضراتو رايه زماله پاره صحيح ده؟ زه څنګه توبه وکړم او ماته خو خپله دا خبره غلطه نه ښکاري چې چيرته الحاد، شرک او بت پرستي وي، موږ ته پکار دي چې دهغه ځاى خبره ونه منو.

جواب: دالله تعالى پاک نومونه په دوه قسمه دي، يو هغه چې اطلاق يې په نورو باندې جائز نه دى[1] او يو هغه چې دهغو اطلاق په بل باندې هم جائزدى، مثلاً دالله پاک نوم مبارک «الرؤف» هم دى، «الرحيم» هم دى، حالانکې په قرآن کريم کې دا صفات درسول اللهﷺ له پاره هم ذکرشوي دي[2]، داسې دالله تعالى يو نوم «الوكيل» هم دى، ددې استعمال د نورو له پاره هم جائز دى، اګرچې د دواړو ځايونو په معناوو کې هماغه فرق دى چې کوم دخالق او مخلوق په مينځ کې دى، ستاسو موقف صحيح دى او دهغه صاحب موقف غلط دى.

---

[1] وهومع ذالك إسم مختص بالله تعالى لا يسمّى به غيره (أحكام القرآن للجصاص ج: ١ ص: ٩، باب القول في الها من فاتحة الكتاب، طبع سهيل اكيدمى)۔

[2] مثلًا: لقدجاءكُمْ رسُولٌ مِنْ أنفُسِكُمْ عزِيزٌعَلَيْهِ مَاعَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ (التوبة:١٢٨)

کنیت د نوم په ډول استعمالول

سوال: زما نوم ((ابوبکر)) دی، یوځل مې له یو عالم صاحب سره ملاقات وشو، هغه ماته ویلي وچې دا خو څه نوم نه دی، یوازې کنیت دی، مهرباني وکړئ د شریعت په رڼا کې ماته مشوره راکړئ چې زه خپل نوم بدل کړم یا نوم زیات کړم یعنې د نوم نه وروسته ((ابوبکر)) استعمال کړم؟
جواب: کنیت هم د نوم په ډول استعمالیږي، ستاسو نوم صحیح دی، د بدلولو ضرورت نه شته.[1]

(ابوالقاسم) کنیت کیښودل

سوال: زموږ په ښار (میاچنو) کې یو سړی دی چې د هغه نوم صوفي محمدبشیر دی، هغه د عطرو کار کوي، هغه یوه مدرسه هم جوړه کړې ده، هغه یو کتاب هم لیکلی دی چې د هغه نوم ((اسرار ابراهیمیه)) دی، په هغه کتاب باندې هغه خپل کنیت ((ابوالقاسم)) لیکلی دی، یعنې له نوم سره یې دا لیکلي دي: ((ابوالقاسم صوفي محمد بشیر)) د هغه د مدرسې نه چې کوم اشتهار راوځي په هغه باندې کنیت ((ابوالقاسم)) لیکل شوی وي اوما اوریدلي دي چې ((ابوالقاسم)) کنیت یوازې د حضورپاک ﷺ سره خاص دی، څوک خپل کنیت ((ابوالقاسم)) نه شي کیښودلی. مهرباني وکړئ د حدیث نه ثابت کړئ چې ((ابوالقاسم)) کنیت یوازې د حضورپاک ﷺ سره خاص دی او که نه؟ د حضورپاک ﷺ نه پرته بل څوک هم خپل کنیت ((ابوالقاسم)) کیښودلی شي؟
جواب: په مشکوه شریف کې په صفحه: (۴۰۷) حاشیه کې د ((مرقاة)) نه نقل شوي دي چې د حضور پاک ﷺ په کنیت باندې د ((ابوالقاسم)) کنیت د کیښودلو منع د ډیرو علماوو او بزرګانو په نزد د حضورپاک ﷺ د ژوند پورې محدوده وه، د حضورپاک ﷺ نه وروسته د دې اجازه شته.[2] البته امام شافعي (رحمه الله) او اهل ظاهر اوس هم د ممانعت قائل دي.[3]

---

[1] ځکه چې د صحابه ووکرامونه د دې ثبوت شته ، بخاری شریف کې دي: قالت عائشة وأبوسعيد وابن عباس و كان ابو بكر مع النبي صلى الله عليه وسلم فى الغار (بخارى ج: ۱ ص: ۵۱۵، باب مناقب المهاجرين وفضلهم منهم أبوبكر عبدالله بن أبي قحافة) أيضًا: ولو كنى ابنه الصغيربأبى بكر وغيره كرهه بعضهم وعامتهم لايكره لأن الناس يريدون به التفاؤل، تتارخانية (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٨، كتاب الحظر والإباحة، فصل فى البيع)۔

[2] وثانيها أن هذا الحكم كان فى بدء الأمر ثم نسخ فيباح التكنّى اليوم بأبى القاسم لكل أحد سواء فيه من إسمه محمد أو غيره وعلته التباس خطابه بخطاب غيره .... وهى الإشتباه وهو متعيّن فى حال حياته صلى الله عليه وسلم قال وهذامذهب مالك وبه قال جمهور السلف وفقهاء الأمصار (مشكوة ج: ۲ ص: ٤٠٧ حاشية ٥ أيضًا فى مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح، باب الأسامى ج: ٤ ص: ٥٩٧، طبع بمبى)۔

[3] أحدها انه لايحل التكنّى بأبى القاسم أصلًا سواء كان إسمه محمد أو احمد ..[بقيه په راروانه صفحه.

له خپل نوم سره (صديقي) يا (عثماني) د تخلص په ډول كيښودل

سوال: كه يو سړى له خپل نوم سره تخلص ((صديقي)) يا ((فاروقي)) يا ((عثماني)) يا ((علوي)) د شجره نسب په حساب سره نه، دعقيدت او محبت له وجې ږدي، مثلاً: غلام سرور صديقي، له نوم سره يوځاى كول جائز دي اوكه نه؟ دعقيدت او محبت له وجې.

جواب: دعقيدت او محبت داظهار له پاره ديوبزرګ طرف ته دنسبت كولو مضائقه نه شته. خو ((صديقي)) يا ((فاروقي)) وغيره ويلوكې تلبيس او دوكه موندل كيږي اوريدونكي به هم داګڼي چې دحضرت دې بزرګانو سره نسبي تعلق دى او غلط نسب كيښودل حرام دي؛ نوځكه دا به هم صحيح نه وي.[1]

لقب او تخلص كيښودل شرعاً څنګه دي؟

سوال: يوحديث مبارک مې له نظر نه تيرشو چې هغه دحسب او نسب په باره كې څه داسې دى، لكه څنګه چې يو سړى ((شيخ، صديقي)) نه وي او له خپل ځان سره ((صديقي)) وليكي، يا ((قريشي)) نه دى، خپل ځان ته ((قريشي)) وايي يا نسباً ((انصاري)) نه دى او خپل ځان ته ((انصاري)) وايي، يا ((سيد)) نه وي، خپل ځان ته ((سيد)) وايي، رسول الله ﷺ وفرمايل: چې كوم سړى د خپل ځان نسبت پريږدي ديو بل طرف ته خپل نسبت وكړي؛ نوجنت په هغه باندې حرام دى، (مسلم، بخاري، ابوداود) دپورتني حديث په رڼا كې كه يو شاعر، مصنف، ليكوال، اديب او نور مختلف حضرات شوقيه خپل تخلص: پروانه، ناز، آسي، ناشا اوداسې نور... ږدي، ايا دا هم په دې زمرې كې راځي؟

جواب: دا حديث دنسب تبديل كولو متعلق دى، دځه لقب يا تخلص اختيارول (په دې شرط چې هغه پخپله غلط نه وي) په دې كې څه ممانعت نه شته.

له خپل نوم سره د غير مسلم نوم د تخلص په ډول كيښودل

سوال: كه يو سړى له خپل نوم سره دتخلص له پاره ديوهندو نوم كيږدي؛ نوايا د اسلام په رڼا كې دا صحيح دي؟

...بقيه د تيرمخ].. أو لم يكن له إسم وهو مذهب الشافعى وأهل الظاهر (أيضًا)۔

[1] الكبيرة الثانية والثالثة والتسعون بعد المائتين، تبرؤالإنسان من نسبه أو من والده وانتسابه إلى غير ابيه مع علمه ببطلان ذالك، أخرج الشيخان وأبوداؤد عن سعد بن أبي وقاص رضى الله عنه أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ادعى الى غير ابيه وهويعلم انه غيرأبيه فالجنة عليه حرام (الزواجر عن اقتراف الكبائر ج: ۲ ص: ۶۲، طبع دارالمعرفة، بيروت، بخارى ج: ۲ ص: ۶۱۹، باب غزوة الطائف، مسلم ج: ۱ ص: ۵۷، باب بيان حال إيمان من رغب ...إلخ)۔

جواب: کوم نوم چې د هندوانو سره مخصوص دی دا دیو مسلمان د نوم سره جوړول صحیح نه دي.

د ستورو په نوم باندې نوم کیښودل او خاص کا ڼي اغوستل

سوال: دا وفرمایئ چې دا ستوري کتل مثلاً عطارد، برج سنبله باندې نوم کیښودل کیږي او بیا په کاڼي لاجوردي، نیلم، زرقون وغیره اغوستلو له پاره ویل کیږي، دا شرعاً ترکوم حده پورې جائز دي او ددې څه حیثیت دی؟

جواب: په دې شیانو باندې یقین کول د بې خدایه خلکو کار دی، دیو مسلمان په دې شیانو باندې اعتماد کول ناجائز دي.[۱]

پیدایش نه څوګنټې وروسته د مړ کیدو نکي بچي نوم کیښودل ضروري دي؟

سوال: کوم بچی چې ژوندی پیداشو او څوګنټې یا یوڅوورځې وروسته مړ شو، دهغه نوم کیښودل ضروري دي او داسې بچی چې هغه لس پنځلس کاله مخکې مړه شوی دهغه نوم په هغه وخت نه وي کیښودل شوی؛ نو ایا اوس دهغه نوم کیښودل ضروري دي؟

جواب: د داسې بچي نوم کیښودل پکار دي.[۲]

په غلط نوم سره اواز کول یا پلار ته "وړور" ویل، مورته "اپا" ویل څنګه دي؟

سوال: دخه خلکو په کورونو کې داسې رواج دی چې بچي، بلکه غټ هم خپلو خپلوانو ته په غلط نوم سره اواز کوي، مثلاً بچي خپلې مور ته «بهابهي» او پلار ته «وړور» په ویلو سره اواز کوي، داسې پلار ته دهغه له نوم سره «وړور» ویل اواز کول لکه «ستاربهایي» «عبدالله بهایي» وغیره، داسې څه بچي خپلې مور ته «باجي» وایي یا ورته «اپا» وایي. ستاسو نه معلومول غواړم چې داسې نوم اخیستل شرعاً څنګه دي؟

---

[۱] وعن قتاده قال: خلق الله تعالى هذه النجوم لثلاث: جعله زينة للسماء ورجومًا للشياطين وعلامات يُهدى بها، فمن تأوّل فيها بغيرذالك أخطأ وأضاع نصيبه وتكلف ما لايعلم، رواه البخارى تعليقا فى رواية رزين: وتكلف ما لا يعنيه وما لا علم له به وما عجز عن علمه الأنبياء والملائكة وعن الربيع مثله وزاد: والله ما جعل الله فى نجم حياة أحد ولا رزقه ولا موته وإنما يفترون على الكذب ويتعللون بالنجوم (مشكوة ص: ۳۹٤، باب الكهانة، الفصل الثالث، طبع قديمى)

[۲] وروى إذا ولد لأحدكم ولد فمات فلايدفنه حتّى يسميه إن كان ذكرًا وإن كان أنثى فباسم أنثى وإن لم يعرف فباسم يصلح لهما (شامى ج: ٦ ص: ٤١٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)۔

جواب: په غلط نوم سره اواز کول ښکاره ده چې غلط دي، که نور څه نه وي: نوکم نه کم دروغ خو ضرور دي او د موروپلار بې عزتي هم ده. ځکه ددې نه احتراز کول پکار دي اوپه کومو کورونوکې چې ددې غلط رواج دی دا تبديل کول پکار دي.[1]

په غلط نوم سره اواز کول

سوال: د اکثرو خلکو نومونه، عبدالصمد، عبدالحميد، عبدالقهار، عبدالرحيم، عبدالرحمن اوداسې نور... کيښودل کيږي، خو کتل کيږي دا چې دې خلکو ته يوازې صمد، حميد، قهار او رحيم اوپه داسې نورو... نومونو سره اواز کيږي. پوره نوم نه اخلي، حالانکې دا انتهايي سخته ګناه ده. ځکه چې دا ټول نومونه دالله تعالى صفتي نومونه دي، يوانسان (نعوذبالله) صمد (بې نياز)، حميد (دچاچې حمدوشي) اوقهار. رحمن، غفار ځکه کيداى شي؟ ددې نومونو متحمل خويوازې اويوازې دالله تعالى ذات مبارک دى.
مهرباني وکړئ په دې سلسله باندې رڼا واچوئ چې مسلمان ته داسې قسمه نومونه کيښودل پکار دي اوکه نه؟

جواب: نومونه خو ډير ښه دي او ضرور کيښودل پکار دي، خوځنګه چې تاسو ليکلي دي چې په غلط نوم سره اوازکول صحيح نه، بلکه ګناه ده؛ نوځکه پوره نوم اخيستل پکار دي.[2]

ايا "خداى" دالله تعالى نوم مبارک دى؟

سوال: دقرآن کريم په سورت الاعراف په ايت نمبر ۱۸۰ کې د الله تعالى ارشاد مبارک دى: او ښه ښه نومونه دالله تعالى له پاره دي؛ نو بس په دې نومونو سره الله تعالى موسوم کړئ او دداسې خلکو سره تعلق هم مه ساتئ چې څوک ددې نومونو نه بدفالي کوي، داسې خلکوته به ددوى د کړو ضرور سزا ملاويږي "په قرآن کريم کې دالله تعالى ۹۹ (يوکم سل) نومونه دي، چې په هغو کې "خداى" نوم نه شته، لهذا تاسو دقرآن کريم په رڼا کې دا ووايئ چې "خداى" ويل ترکومه پورې صحيح دي؟ نهايت ممنون به مويو.

جواب: دا خوښکاره ده چې ((خدا)) دعربي ژبې لفظ نه دى، د فارسي لفظ دى، چې هغه د

---

[1] ويكره أن يدعوالرجل أباه وأن تدعو المرأة زوجها بإسمه قوله ويكره أن يدعو إلخ بل لابد من لفظ يفيد التعظيم كياسيّدى ونحوه لمزيد حقهما على الولد والزوجة ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٨، فصل فى البيع).

[2] قال تعالى: وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (الحجرات: ١١) قال العلامة ابن عابدين: حيث ينادون من إسمه عبدالرحيم، عبدالكريم أو عبدالعزيز مثلًا فيقولون: رحيم، كريم وعزيز بتشديد ياء التصغير، ومن إسمه عبدالقادر قويدر وهذا مع قصده كفر ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤١٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع).

عربي لفظ د ((رب)) معنا ادا کوي، ((رب)) دالله تعالى په نومونوکې شامل دی او په قرآن او حديث کې ډيرډير راځي. په فارسي ،اردو کې ددې ترجمه (خدا) سره کيږي او پښتوکې خدای سره؛نوځکه خدا او خدای ويل صحيح دي او هميشه دامت بزرگان دا لفظ استعمالوي.

د (خدای) نوم باندې د اشکالاتو جواب

سوال: په ((جنگ)) ورځپاڼه کراچي (۱۷ اگست ۱۹۹۲م) (په اسلامي صفحه اقرا) کې په عنوان ((الله تعالى کيلئے لفظ خدا کا استعمال.....، د الله تعالى له پاره دخدای دلفظ استعمال)) د يو سائل سوال او د ستاسو دا جواب له نظر نه تيرشو چې اسم ذات دالله تعالى ترجمه د لفظ ((خدای)) سره کيږي، د ستاسوپه دې مؤقف باندې مختصر معروضات ستاسوپه خدمت کې وړاندې کوو:

ستاسو خو دا خبره صحيح ده چې ((د قرآن کريم ترجمه په نورو ژبوکې کيږي)) خوددې نه ستاسو دا ترجمه اخيستل چې د اسم ذات هم ترجمه کيږي، صحيح نه ده، حقيقت دا دی چې په قرآن مجيد کې ذکرشوي دټولو پيغمبرانو او رسولانو دذاتي نومونو يوه ترجمه چيرې هم نشي کيدای، لهذا دالله تعالى اسماء گرامي په ترجموکې چې څنگه وي هماغسې قائم ساتل کيږي، ددې نه پرته چې د پيغمبرانو او رسولانو نه پرته هم دکومو نورو انسانانو چې ذاتي نومونه په قرآن پاک کې بيان شوي دي، دهغو هم ترجمه نه کيږي، تاسوپخپله هم دانساني نومونو ترجمه نه فرمايئ.

چې دا صورت وي چې په قرآن کريم کې دذکرشوي ديوعام انسان د ذاتي نوم ترجمه جائز نه وي؛ نواخرمالک دټول کائنات عظيم ترين ذاتي نوم د((الله)) ترجمه ((خدا، بهگوان يا گاډ)) څنگه جائز کيدای شي؟ بيادا چې دقرآن نه پرته په ټوله دنياکې هم دا اصول قائم دي چې د ذاتي نومونو ترجمه دې په يوه ژبه کې هم ونه کړل شي.

محترمه! لږ سوچ وکړئ چې په کوم ځای ديوعام انسان دذاتي نوم دومره قدر او احترام وي، هلته دټولې دنيادانسانانو خالق دالله تعالى دذاتي نوم ترجمه ((خدای)) کول د اسم اعظم د((الله)) سره څومره لوی جسارت دی، څومره لوی توهين دی، څومره لويه بې عزتي په ناپوهي باندې کيږي، لهذا ددې سنگينې غلطي ازاله ضروري ده چې اسم ذات ((الله)) ته يوازې او يوازې هم ((الله)) وويل او وليکل شي.

دذکر شويو حقائقو پيش نظر تاسوته گزارش دی چې تاسوپه خپل مؤقف باندې نظرثاني وفرمايئ او صحيح مؤقف په روزنامه ((جنگ)) کې ضرور شائع کړئ، چې په دې سره ستاسو لوستونکو هم اصلاح وشي.

جواب: ستاسو ټول خط په دې غلطې مفروضې باندې مبني دی چې ما دا ويلي دي چې د حق تعالى شانه، داسم ذات ((الله)) ترجمه په لفظ ((خدا)) سره کيږي، حالانکې دا مفروضه غلطه ده

او په غلط فهمي باندې مبني ده، ما د سائل په جواب کې دا ليکلي و چې: «که چيرې دالله تعالى په پاکو نومونوکې ديونوم په بله ژبه کې ترجمه وکړل شي؛ نو د هغه دناجائز کيدو څه دليل دى؟»

مادالله تعالى دنومونو ديو نوم ترجمه کولو له پاره ليکلي دي، تعجب دى چې ستاسو په شان لائق سړى ددې مطلب دا بيانوي چې ما اسم ذات د«الله» ترجمه کول صحيح ګڼلي ده «الله» دحق تعالى شانه اسم ذات دى، ددې ترجمه چيرې هم نه شي کيداى. نه يو عقل والا ددې ترجمې ته صحيح ويلى شي، مادالله تعالى دډيرو اسماء حسنى ترجمې ليکلي دي او دا چې د "خدا (خداى)" لفظ داسماء مبارکه نه ديو لفظ ترجمه ده.

اوس په وضاحت سره ليکم چې لفظ "خدا (خداى)" د حق تعالى شانه اسم ذات د«الله» ترجمه نه ده، لفظ "خدا (خداى)" دفارسي لفظ دى، چې ددې معنا مالک، صاحب، اقا او واجب الوجود ده، په غياث اللغات کې دي:

ترجمه:----- لفظ «خداى» (د خا پيش سره) د مالک او صاحب په معنا کې راځي، کله چې لفظ «خداى» مطلق وي؛ نودحق تعالى شانه نه پرته په بل چاباندې نه ويل کيږي، خوپه هغه صورت کې چې دڅه شي طرف ته مضاف وي، مثلاً: خداى داد، علماوو فرمايلي دي چې د لفظ «خداى» اصل معنا ده پخپله ظاهر کيدو والا (يعنې دچاوجود چې ذاتي وي، د بل چامحتاج نه وي) ځکه چې د«خداى» لفظ د دوو لفظونو مرکب دى، "خود (پخپله)" او "آ" او ددې لفظ د آمدن نه دامر صيغه ده او دفارسي قاعده ده چې دامرصيغه ديو اسم سره ملاويدوسره داسم فاعل معنا ورکوي، اګرچې حق تعالى شانه، په خپل وجود او ظهورکې دنورو محتاج نه دى؛ نو ځکه دحق تعالى له پاره دا لفظ استعمال کړى شو، دا مضمون د «رشيدي» او«حيابان» د دواړو دنومونو کتابونو نه ماخوذ دى او خان آرزو هم په سراج اللغات کې د علامه دواني او امام فخرالدين رازى (رحمه الله) نه همدا نقل کړي دي."

د غياث اللغات ددې تصريح نه معلومه شوه، لفظ «خداى» دخپلې اصلي معنا لحاظ سره دحق تعالى شانه صفتي نوم دى، يعنې هغه پاک ذات چې دهغه وجود خپل ذاتي دى او هغه په خپل وجود کې دبل چامحتاج نه دى؛ نوځکه ددې لفظ اطلاق دالله تعالى نه پرته په بل چانه کيږي او دا چې دا لفظ دعربي لفظ د «مالک» او د«رب» پشان دى، ځنګه چې په عربي کې لفظ «رب» ته مطلق ويل کيږي؛ نوددې استعمال دالله تعالى نه پرته دبل چاله پاره جائز نه دى، البته داضافت سره استعماليږي، مثلاً: «رب المال» (دمال مالک)، «رب البيت» (دکورمالک)؛ نوددې اطلاق په نورو هم کيږي؛ نو داسې چې د«خداى» لفظ کله مطلق وويل شي او ددې نه مالک على الاطلاق مراديږي او هغه دالله تعالى پاک ذات دى او چې کله دا لفظ په اضافت سره وويل شي، نو دنورو له پاره هم استعماليږي.

❖ ږیره ❖

....

(ږیره خود شیطان هم وه) ویلو والا، ایا مسلمان دی؟

سوال: زموږ جومات ته مستقل دېنځو لمونځونو له پاره امام صاحب د ضعیف العمري کیدو له وجې نه شي راتلای، یعنې د سهاراو ماخسوتن په لمانځه کې غیرحاضر وي، په دې لمونځونو کې د انتظامیي صدر صاحب په خپلې خوښې سره یوسړي ته د لمانځه کولو دعوت ورکوي، خاص کر په سهارکې، بلکه دهغه پخپله هم ږیره نه شته او کله پخپله هم جمع ورکوي، اذان او اقامت هم پخپله کوي، اکثر او زیات داسې کیږي چې کومو حضراتو ته هغه د لمانځه کولو دعوت ورکوي یا خوهغه پرته دږیرې وي یا د ږیرې کټ کولو والا صاحب وي، چې په دې باندې مااعتراض وکړ چې دږیرې کټ کولو، یعنې د متې نه کمه یا پرته د ږیرې والا د دواړو په پسې دې لمونځ ونه کړل شي، بلکې که د سنت مطابق ږیرې والا موجود وي او ددین عالم هم وي؛ نو بیا هیڅ ګنجائش نه شته، کوم صاحب چې مې د لمونځ ورکولو نه منع کړی و چې ستاسو ږیره کټ شوې ده، د لمونځ کولو په وخت ستاسو ګیتې(بښنګري) هم ښکاره نه وي، تاسو دلمانځه ورکولو اهل نه یئ؛ نو دهغه صاحب چې څومره ږیره وه هغه هم په دې ویلو سره کټ کړه چې زماله پخوا د ږیرې والاوو نه نفرت و او ښکاره یې ږیره وخریله، صفایې کړه، ددې سړي له پاره په اسلام کې څه حکم دی؟ او دا ویل چې ږیره د شیطان هم ده او ته هم شیطان یې، یعنې دږیرې والا سړي ته ویل، دداسې سړي له پاره شریعت څه حکم ورکوي؟ او ددې شخړې له وجې جمعه کیږي او څه خلک په صف کې ولاړ وي چې کله امام تکبیر وایي؛ نو بیل شي، ایا دهغوی بیل لمونځ کول صحیح دي؟ لمونځ یې کیږي؟

جواب: د دې سوال په جواب کې یو څو امور عرض کوم:

اول: د ږیرې خریل او وړول (چې له یو متې نه کمه وي) دټولو فقهاوو په نزد حرام او ګناه کبیره ده او دږیرې خریلو او کټ کولو والا ګناهګار اوفاسق دی.[۱]

[۱] قال ابن عابدين: نقلًا عن الصحيحين عن ابن عمر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ،، أحفوا الشوارب وأعفوا اللحية،، قال لأنه صح عن ابن عمر راوى هذا الحديث أنه كان يأخذ الفاضل عن القبضة .... وعن النبى صلى الله عليه وسلم يحمل الإعفار على إعفائها عن أن يأخذ غالبها أو كلها كما هو فعل مجوس الأعاجم من حلق لحاهم ويؤيده ما فى مسلم عن أبى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم: جزوا الشوارب وأعفوا اللحى خالفوا المجوس (شامى ج: ۲ ص: ۴۱۸، كتاب الحظروالإباحة) ..[بقيه په راروانه صفحه.

دویم دفاسق اذان، اقامت او امامت مکروه تحریمي دی. دا مسئله دفقه حنفي په تقریباټولو کتابونوکې ذکرده.[1]

دریم دهغه صاحب په ضدکې راتلل ږیره صفا کول او دا ویل چې: « ماته له پښوا دږیرو والاوو نه نفرت و یادا چې «ږیره خو د شیطان هم ده» ډیره سخته خبره ده، دا د شیطان له طرفه یو دوکه ده، شیطان دیومسلمان یوازې په ګناهګارېدو باندې راضي کیږي نه، ځکه چې هغه ته پته ده چې مسلمان په خپلو کړو باندې د ندامت اوښکي بیوي، ټول ګناهونه ورته معاف کړل شي. ځکه هغه کوشش کوي چې دا د ګناه د سطح نه راکاږم او د کفر په حدکې یې داخل کړم. هغه ګناهګار ته غوسه ورکوي نوریې هم ګرموي اودهغه له خولې نه د کفر کلیمه وباسي.[2]

لږ غور وکړئ! حضورپاک ﷺ خپل امت ته یو حکم فرمايي چې ږیره غټه کړئ او بریتونه کم کړئ[3] دحضورپاک ﷺ په دې حکم اوریدلو سره که یو سړی ووايي چې: «زماخودږیرې والاوو نه نفرت دی» یا دا ووايي چې: «ږیره خو د شیطان هم ده» ایا داسې ویلو والا مسلمان دی؟ ایا ځوک حضورپاک ﷺ ته داسې جواب ورکولی شي؟ په ږیرې والاوو کې خو یولک شل زره (کم و بیش) انبیاء علیهم السلام هم شامل دي؟ صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعین او اولیاء کرام (رحمهم الله) هم په دې کې شامل دي، ایا دې ټولو سره نفرت ساتلو والابه مسلمان وي؟

ماته پته ده چې دهغه صاحب مقصدنه درسول الله ﷺ حکم رد کول و نه د ټولوانبیاوو کرامو علیهم السلام، صحابه کرامو رضي الله عنهم او داولیاء کرامو (رحمهم الله) نه د نفرت اظهار کول به و، بلکې دا

...بقیه د تیرمخ] . أیضًا: تطویل اللحیة إذا کانت بقدرالمسنون وهوالقبضة .... وأما الأخذ منها وهی دون ذالك کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم یبحه أحد (ردالمحتار ج: ۲ ص: ۴۱۷، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی البیع)۔

[1] وأما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بأنه لا یهتم لأمردینه، وبأن فی تقدیمه للإمامة تعظیمه وقد وجب علیهم إهانته شرعًا (فتاوی شامی ج: ۱ ص: ۵۶۰ باب الإمامة، طبع سعید)۔

[2] رجل قال لآخر: إحلق رأسك، وقلم أظفارك فإن هذه سُنّة، فقال: لا أفعل وإن کان سُنّة، فهذا کفر، لأنه قال علی سبیل الإنکار والرد، وکذا فی سائرالسُّنن خصوصًا فی سنّة هی معروفة وثبوتها بالتواتر مجمع الأنهر ج: ۱ ص: ۶۹۲ کتاب السیر، باب المرتد، طبع إحیاء التراث العربی، أیضًا: شرح فقه الأکبر ص: ۱۷۴)۔

[3] عن ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: احفوا الشوارب واعفوا اللحی وفی روایة: أنه أمربإحفاء الشوارب وإعفاء اللحیة (صحیح مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹) وعن ابن عمررضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خالفوا المشرکین، أوفروا اللحی واحفوا الشوارب (مشکوة ص: ۳۸۰) عن أبی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: جزوا الشوارب وارخوا اللّحی خالفوا المجوس (صحیح مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹) عن زید بن أرقم رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من لم یأخذ من شاربه فلیس منّا (مشکوة ص: ۳۸۱)۔

یو داسې لفظ دی چې دا په غوسه کې دهغه له خولې نه هم داسې ووت، یا په زیات صحیح لفظونو کې، شیطان اشتعال ورکړ دهغه له خولې نه یې وویست، خودکتلو خبره داده چې دا الفاظ ځومره سخت دي او ددې نتیجه څه راوځي؟ ځکه زه هغه ته درخواست کوم چې هغه دې ددې الفاظو نه توبه وباسي اوچې ددې الفاظو نه دکفر اندیښنه ده ځکه دې صاحب ته پکار دي چې دخپلې نکاح او ایمان هم احتیاطا تجدید وکړي، په فتاوی عالمګیرکې دي:
دکومو الفاظوچې په کفر کیدو یا نه کیدو کښې اختلاف وي دهغو قائل ته دې دتجدید نکاح، توبې او دخپلو الفاظو واپس اخیستلو حکم وکړل شي.[۱]

خلورم: ستاسو دامسئله جوړول خو صحیح وه، تاسو مسئله جوړولو سره انداز داسې اختیار کړ چې دې صاحب په غوسه او اشتعال کې په راتلو سره د کفرکلیمه د خولې نه وباسله، ګویا تاسو هغه د ګناه نه دکفر طرف ته وغرخولو، دادعوت، دحکمت خلاف و، ځکه تاسوته هم په دې باندې استغفار کول پکار دي او دخپل مسلمان ورور د اصلاح له پاره دعا کول پکار دي، هغه ته غوسه راوستلو سره دهغه په مقابلې باندې دشیطان مدد نه دي کول پکار.

(زما د ږیرې له نومه نفرت دی) ویونکي شرعي حکم

سوال: زه یو تقریب ته تللی وم، هلته دیوې اینجلی د رشتې خبرې کیدې، داینجلی مور وویل چې: «دا رشته ماته منظور نه ده، ځکه چې د هلک ږیره ده» که چیرې دا وویل شو چې هلک د آفیسری ګریډ کې دی، تعلیم یافته دی او ږیره خو نور هم ښه شی دی، په دې زمانه کې اسلام سره مینه کونکی دی؛ نوهغې وویل چې: «زما د ږیرې له نومه نفرت دی» تاسو وفرمایئ چې دږیرې دا بې عزتې ترکومې پورې صحیح ده؟ ایا داسې ویلو والا ګناهګار نه دی؟ او که وي؛ نو ددې کفاره څه ده او دګناه درجه څه ده؟

جواب: ږیره دحضورپاک ﷺ سنت مبارک دي، حضورپاک ﷺ ددې دپریښودلو حکم فرمایلی[۲]، دږیرې خریلو والاله پاره یې دتباهي دعا فرمایلې او دهغه شکل کتل یې خوښ نه دي فرمایلي[۳] ځکه ږیره پریښودل شرعا جائز ده او ددې خریل او لنډ یو متې نه دکمیدو په

---

[۱] قال ابن عابدين: نعم سيذكر الشارح أن مايكون كفرًا إتفاقًا يبطل العمل والنكاح، ومافيه خلاف يؤمر بالإستغفار والتوبة وتجديد النكاح (شامی ج: ٤ ص: ۲۳۰، أيضًا: الفتاوى البزازية على هامش فتاوى العالمگيرية ج: ٦ ص: ۳۲۱)۔

[۲] عن ابن عمرعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحية، وفى رواية: خالفوا المشركين، أحفوا الشوارب واعفوا اللحى (مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹، بخارى ج: ۲ ص: ۸۷۵، ترمذى ج: ۲ ص: ۱۰۵)

[۳] فكره النظر إليهما وقال: ويلكما! من أمر كما هذا؟ قال: أمرنا ربنا، يعنيان..[بقيه په راروانه صفحه.

صورت کې د دې کټ کول د شریعت مطابق حرام دي.[1]

کوم مسلمان چې دا ووايي چې: (ماته د فلاني شرعي حکم نه نفرت دی) هغه مسلمان پاتې نه شو، کافر مرتد جوړيږي[2] کوم سړی چې د حضور پاک ﷺ د شکل نه نفرت کوي هغه مسلمان څنګه پاتې کيدای شي --------؟ دا ښځه که د ږيرې والا ته خپله لور ورکړي يا ورنکړي، خو هغې ته د کفر نه توبه کول او د ايمان او د نکاح تجديد کول لازمي دي.[3]

ديو کارټون د ږيرې نه ټال جوړول د اسلامي شعائرو بې عزتي ده

سوال: د دې خط سره بنده ديو کارټون تصوير درليږي، چې په هغه کې د دوو سړيو ترپښو پورې ږيرې جوړې شوي دي او بل طرف ته يې د دې نه ټال جوړ کړی يو ماشومه پرې زانګي، دا کاټون د عام کولو له پاره د مشهور ټافيانو کارخانې په ټافيانوکې انغښتلی دی، د يو عام مسلمان دې ته په کتلو سره ويښته دريږي، د اسلام د شعائرو دا بې حرمتي او بې عزتي او بيا په داسې ملک کې چيرته چې (اسلام، اسلام) ويل کيږي، له زغمه وتلی عمل دی، بدقسمتي سره په پاکستاني قانون کې د ګندګي کومه ډهيری (د انګريزي قانون) بدل شوی نوم دی، يو آرډي نينس موجود نه دی چې هغه د اسلام شعائروته تحفظ ورکړي، ګني د دې کمپنۍ خلاف به قانوني کارروايي شوې وه، موږ د افسوس نه پرته هيڅ نشو کولی او خپل کار يوازې د ليکلو او ويلو پورې محدود ساتلی شو چې دا هم د ايمان دويمه درجه ده، لهذا زما دا جذبات لوستونکوته ورسوئ او که کولی شئ؛ نو د دې کمپنۍ خلاف دې کارروايي وکړل شي چې بيا چيرته څوک د اسلام د شعائرو پورې داسې خندا ونه کړي.

جواب: دا د اسلامي شعائرو ښکاره بې حرمتي ده، په ټولو مسلمانانو فرض دي چې د داسې بې ايمانه خلکو اخري انجام ته رسولو له پاره دې د احتجاج اواز اوچت کړي او د قانون نافذ کولو

...بقيه د تيرمخ]. كسرى (البداية والنهاية ج: ٤ ص: ٢٧٠، حياة الصحابة ج: ١ ص: ١١٥)_

[1] قال ابن عابدين: وأخذ أطراف اللحية والسُّنة فيها القبضة.......... ولذا يحرم على الرجل قطع اللحية (شامي ج: ٦ ص: ٤٠٧) أيضًا: أوتطويل اللحية إذا كانت بقدرالمسنون وهوالقبضة........... وأما الأخذ منها وهي دون ذالك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد (شامي ج: ٢ ص: ٤١٧، عالمگيرية ج: ٥ ص: ٣٥٨)_

[2] كفرالحنفية بألفاظ كثيرة وأفعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الإستخفاف بالدّين....... بل بالمواظبة على ترك سُنّة إستخفافًا بها بسبب انما انما فعلها النبي صلى الله عليه وسلم زيادة أو إستقباحها...إلخ (المسايرة مع شرحها المسامرة ص: ٣٢٧)_

[3] وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي: مايكون كفرًا إتفاقًا يبطل العمل والنكاح، وأولاده أولاد الزنا، وما فيه خلاف يؤمربالإستغفاروالتوبة (أي تجديدالإسلام) وتجديدالنكاح(فتاوى شامي ج:٤ ص:٢٤٧مطلب جملة من لايقتل إذا ارتد)

والا ادارو فرض دي چې د دوی خلاف انضباطي کارروايي وکړي، د اسلام دشعائرو بې عزتي کفر دی[1] او په يو اسلامي ملک کې داسې کفرته دومره ازادي ورکول دالله تعالی عذاب ته دعوت ورکول دي.

دامت اکابرو ږيره خريل په کبيره ګناهونوکې شميرلي دي

سوال: په اکابر امت کې مولانااشرف علي تهانوي(رحمه الله) او مولانامفتي محمدشفيع صاحب (رحمه الله) په خپلو کتابونوکې ږيره خريل د ګناه کبيره په فهرست کې ولې نه ده شامله کړې ؟

جواب: حضرت تهانوي امدادالفتاوی:(ج: ٤ص:٢٢٣) کې ليکي:

«ږيره ساتل واجب او دقبضې نه زيات کټ کول حرام دي».

يادونه: دلته د«قبضې نه زيات کټ کولو» نه مراد دادی چې دچا ږيره دقبضې نه زياته وي دهغه د قبضې نه زياته برخه کټ کول خو جائز دي او دومره کټ کول چې دهغه له وجې ږيره د قبضې نه کمه پاتې شي، دا حرام دي.

او په صفحه: ۲۲۱ باندې ليکي: «يوخو دږيرې خريل يا کټ کول معصيت دی، خو په دې اصرار کول او د مانعين نه معارضه کول، له هغه نه هم زيات سخت معصيت دی».

او په صفحه: ۲۲۲ باندې ليکي: " په حديث کې چې کوم کارونوته تغيرخلق الله، موجب لعن فرمايل شوي، ږيره خريل يا وړول په مشاهده سره ددې نه زيات د تغيراتباع شيطان کيدل او اتباع دشيطان موجب لعنت وموجب خسران او موجب وقوع في الغرور، موجب جهنم کيدل منصوص دي، اوس په مذمت شديده کې څه شک دی؟

په دې عبارتونوکې حضرت تهانوي(رحمه الله) ږيره خريلو او کټ کولو ته حرام، معصيت، دلعنت موجب، موجب خسران او موجب جهنم فرمايي، ايا ددې نه وروسته هم ستاسو داويل صحيح دي چې حضرت تهانوي(رحمه الله) دا ګناه د کبيره ګناهونو په فهرست کې شامله نه کړه -------؟

مولانامفتي محمدشفيع صاحب(رحمه الله) د ايات کريمه: "**لاتبديل لخلق الله**" په تفسيرکې ليکي:

«هغه به دالله تعالی جوړکړل شوي شکلونه خرابوي»

اودا د فسق دعمل دی، لکه ږيره خريل، بدن استري کول، صفا کول وغيره(معارف القرآن ج:۲ص:۵۹)

---

[1] من أهان الشريعة أو المسائل اللتى لابد منهاكفر (شرح فقه الأكبر ص: ١٧٤ طبع قديمى) وفيه أيضًا: ومن استخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوها مما يعظم فى الشرع، كفر (شرح فقه الأكبر ص: ١٦٧) يكفر إذا وصف الله تعالى بما لا يليق به أو سخر بإسم من أسمائه أو بأمر من أوامره أو انكر وعده ووعيده أو جعل له شريكًا أو ولدًا أو زوجة أو نسبه إلى الجهل أو العجز أو النقص (عالمگيرية ج: ٢ ص: ٢٥٨، الباب التاسع فى أحكام المرتدين)۔

دمفتي صاحب دقول مطابق چې ږیره خریل په اعمال فسق کې دی او ږیرې خریلو والا فاسقان دي؛ نوله چانه پوښتنه وکړئ چې په کومې گناه سره سړی فاسق شي هغه صغیره وي او که کبیره؟

(د ږیرې مسئله)

سوال: ۱: د ږیري شرعي حیثیت څه دی، واجب دی یا سنت؟ او ږیره خریل جائز دي یامکروه یا حرام؟ ډیر حضرات دا گڼي چې ږیره پریښودل یو سنت دی، که څوک یې پریږدي؛ نوښه خبره ده او که نه یې پریږدي؛ نوبیاهم څه گناه نه شته، دا نظریه ترکوم حده پورې صحیح ده؟

سوال: ۲: په شریعت کې د ږیرې څه مقدار مقرر دی او که نه؟ که دی؛ نو څومره؟

سوال: ۳: دځینې حافظانو عادت دی چې هغه درمضان مبارک نه لږ مخکې ږیره پریږدي او د رمضان مبارک نه وروسته یې بیا خریي، داسې حافظان په تراویحوکې امام جوړول جائزدي او که نه؟ او دوی پسې لمونځ کول صحیح دي او که نه؟

سوال: ۴: ځینې خلک د ږیرې نه نفرت کوي او دې ته دحقارت په نظر سره گوري او که په اولاد یا خپلوانو کې څوک ږیره پریښودل غواړي؛ نوهغه منع کوي او پیغورونه ورکوي او څه خلک د واده له پاره دږیرې خریلو شرط ږدي، دداسې خلکوله پاره څه حکم دی.

سوال: ۵: ځینې خلک دحج کولو په دوران ږیره پریږدي اوله حج نه واپسي باندې یې صفا کوي، ایا د داسې خلکو حج صحیح دی؟

سوال: ۶: ځینې حضرات ځکه ږیره نه پریږدي چې که چیرې موږ ږیره پریږدو او څه غلط کار وکړو؛ نوپه دې سره د ږیره والاوو بدنامي او دږیرې بې حرمتي به وشي، دداسې حضراتوپه باره کې څه حکم دی؟

جواب: ۱: ږیره خریل یا ووړول (چې له یوموټي نه کمه وي) حرام او کبیره گناه ده، په دې سلسله کې لومړی یوڅوحدیثونه لیکم، له دې وروسته به ددې فائدې ذکرکوم:

۱: (عن عائشه رضي الله عنها قالت" قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: عشر من الفطرة قص الشارب واعفاء اللحيه) الحديث(صحیح مسلم ج:۱ص:۱۲۹).

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې حضورپاک صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې: لس شیان په فطرت کې داخل دي، د بریتنوکټ کول اودږیرې غټول------- الخ.

۲: (عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال"احفوا الشوارب واعفوا اللحى)

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی حضور پاک صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې: بریتنوکټ کړئ او دږیرې غټې کړئ.

(وفي رواية: انه امر باحفاء الشوارب واعفاء اللحية"(صحیح مسلم ج:۱ص:۱۲۹)

ترجمه: او په یو روایت کې دي چې حضور پاک ﷺ د بریتونو کټ کولو او د ږیرې غټولو حکم وکړ.

۳: (عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: خالفوا المشركين، اوفروا اللحى واحفوا الشوارب). (متفق علیه، مشکوٰه ص: ۳۸۰).

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: د مشرکانو مخالفت وکړئ، ږیرې غټې کړئ او بریتونه کټ کړئ."

۴: (عن ابي هريرة رضي الله عنه قال" قال رسول الله ﷺ "جزوا الشوارب وارخوا اللحى، خالفوا المجوس". (صحیح مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹).

ترجمه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: بریتونه کټ کړئ او ږیرې غټې کړئ، د مجوسیانو مخالفت وکړئ.

۵: (عن زيد بن ارقم رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: من لم يأخذ من شاربه فليس منا." (رواه احمد والترمذي والنسائي، مشکوٰة ص: ۳۸۱).

ترجمه: د زید بن ارقم رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: څوک چې بریتونه نه کټ کوي هغه زمونږ نه دی.

۶: (عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال النبي ﷺ: لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال". (رواه البخاري، مشکوٰة ص: ۳۸۰).

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: د الله لعنت دې وي په هغو سړیو باندې چې هغوی د ښځو سره مشابهت کوي او د الله لعنت دې وي په هغو ښځو باندې چې کومې د سړیو سره مشابهت کوي.

فائدې: ۱: د لومړی حدیث نه معلومه شوه چې بریت کټ کول او ږیره غټول د انسان د فطرت غوښتنه ده او بریت غټول او ږیره کټ کول خلاف فطرت دي او کوم خلک چې داسې کوي هغوی د الله تعالی فطرت خرابوي، په قران مجید کې دي چې شیطان لعین الله تعالی ته ویلي و چې زه به د ادم اولاد ګمراه کړم او زه به هغوی ته حکم ورکوم چې هغه د الله تعالی تخلیق خراب کړي[1] په تفسیر حقاني او په بیان القرآن وغیره کښې دي چې ږیره خریل هم د تخلیق خداوندي

[1] قوله تعالى: وَإِنْ يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَرِيدًا لَعَنَهُ اللَّهُ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ...... يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا (النساء: ۱۱۹)۔

په خرابولو کې شامل دي، ځکه چې الله تعالی سړیو مخ ته فطرتا ږیرې سره زینت او ښایست نصیبت کړی دی، کوم خلک چې ږیره خروي هغوی د اغواء شیطان له وجې یوازې خپل مخ نه، بلکې خپل فطرت هم مسخ کوي.

ځکه چې دحضرات انبیاء علیهم السلام طریقه د صحیح انساني فطرت معیار دی، ځکه د فطرت نه مراد د انبیاوو کرامو (علیهم السلام) طریقه او دهغوی سنت هم کیدای شي، په دې صورت کې به مطلب داوي چې بریت کټ کول او ږیره غټول د یولک څلیریشت زره (یاکم وزیات) پیغمبرانو متفقه سنت دي[1] او دا هغه مقدس جماعت دی چې حضورپاک ﷺ ته ددوی داقتداء حکم ورکړل شوی دی: (اولئک الذین هدی الله فبهداهم اقتده)(سورة الانعام:۹۰) ځکه چې کوم خلک ږیره خروي هغوی دانبیاوو کرام (علیهم السلام) دطریقې مخالفت کوي، ګویاپه دې حدیث کې تنبیه فرمایل شوې ده چې ږیره خریل ددریو ګناهونو مجموعه ده:

۱: د انساني فطرت خلاف ورزي.

۲: په اغواء شیطان سره دالله تعالی تخلیق خرابول.

۳: او دانبیاوو کرامو (علیهم السلام) مخالفت.

په دې دریو وجو سره ږیره خریل حرام دي.

۲: په دویم حدیث کې دبریتونو کټ کولو او دږیرې غټولوحکم ورکړل شوی دی او دحضورپاک ﷺ دحکم تعمیل په هرمسلمان باندې واجب او دهغه مخالفت حرام دی، بس له دې وجې هم ږیره پریښودل واجب او ددې خریل حرام شول.

۳: په دریم او څلورم حدیث کې فرمایل شوي دي چې بریت کټ کول او ږیره پریښودل دمسلمانان شعار دی، ددې برعکس بریت غټول او ږیره خریل دمجوسیانو او مشرکانو شعار دی او حضور پاک ﷺ خپل امت ته د مسلمانانو د شعار خپلولو او دمجوسیانو دشعار مخالفت کولو تاکید فرمایلی دی، داسلامي شعارپریښودل اودیو ګمراه قوم شعار اختیارول حرام دي، د حضور پاک ﷺ ارشاد مبارک دی:

"من تشبه بقوم فهومنهم."[2] (جامع صغیر ج:۲ ص :۸).

---

[1] قال النووی: وأما الفطرة، فقد اختلف فی المراد بها ههنا.....قالوا: ومعناه: أنها من سُنن الأنبیاء صلوات الله وسلامه علیهم (شرح مسلم للنووی ج: ۱ ص: ۱۲۸) وفی المرقاة: الفطرة ای فطرة الإسلام خمس، قال القاضی وغیره فسرت الفطرة بالسنّة القدیمة التی اختارها الأنبیاء واتفقت الشرائع وکأنها امر جبلی فطروا علیه، قال السیوطی:وهذا احسن ما قیل فی تفسیرها واجمعه (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٥٥ باب الترجل، طبع بمبئی)

[2] من شبه نفسه بالکفارفی اللباس وغیره أو الفجار أو باهل التصوف والصلحاء الأبرار فهو منهم، ای فی الإثم والخیر، قال الطیبی: هذاعام فی الخَلق والخُلق والشعار، ولما کان الشعار ..[بقیه په راروانه صفحه.

ترجمه: کوم سړی چې دکوم قوم قوم مشابهت وکړي هغه به هم له هغه نه وي.
کوم خلک چې ږیره خروي او د مسلمانانو شعار ترک کوي او د کفر والاوو شعار خپلوي، چې دکومو حضورپاک ﷺ مخالفت فرمایلی، دوی ته پکار دي چې دحضورپاک ﷺ وعید نه وویریږي چې دهغوی حشربه هم دقیامت په ورځ په دې غیر قومونوکې وي. نعوذبالله!
۴: په پنځم حدیث کې فرمایل شوي دي چې کوم خلک بریت نه کټ کوي هغه زموږ په جماعت کې شامل نه دی، ښکاره ده چې هم دا حکم دږیرې خریلوهم دی، دادهغوخلکو له پاره ډیر سخت خبرداری دی کوم چې محض دنفساني خواهشاتواو شیطاني اغوا له وجې ږیره خروي او ددې له وجې حضورپاک ﷺ د دوی له پاره دخپل جماعت نه دخارج کیدو اعلان فرمایي، ایا یو مسلمان چې دهغه حضورپاک ﷺ سره لږتعلق هم وي، دا خبرداری زغملی شي؟
اودحضورپاک ﷺ دږیرې خریلو ګناه نه دومره نفرت و چې کله د شاه ایران قاصدان د حضورپاک ﷺ په خدمت کې حاضرشول؛ نوهغوی ږیرې خریلې وې او بریتونه یې غټ و:
"فکره النظر الیهما، وقال: ویلکما من امرکما بهذا؟ قالا: امرنا ربنا یعنیان کسری، فقال رسول الله ﷺ: ولکن ربي امرني باعفاء لحیتي وقص شاربي"(الهدایه والنهایه ج:٤:ص۲۷۰،حیاة الصحابه ج:۱،ص:۱۱۵)

ترجمه: حضورپاک ﷺ ددوی طرف ته کتل هم خوښ نه کړل او ویې فرمایل: تاسو دې هلاک شئ! تاسو ته ددې شکل جوړولو چا ویلي و؟ هغوی وویل چې: دازموږ د رب شاه ایران حکم دی، رسول الله ﷺ وفرمایل: خوزمارب ماته د ږیرې غټولو او بریتونوکمولو حکم فرمایلی دی
کوم خلک چې دحضورپاک ﷺ درب دحکم خلاف ورزي اودمجوسیانودخدای دحکم فرمانبرداري کوي، هغوی ته سل خله سوچ کول پکار دي چې هغوی به دقیامت په ورځ دحضور پاک ﷺ په دربار به څنګه سترګې پورته کوي؟ اوکه حضورپاک ﷺ وفرمایي چې: تاسوَخپل شکل بدلولوله وجې زموږ جماعت نه خارج یئ؛ نودشفاعت امیدبه له چانه ساتئ؟
۵: ددې پنځم حدیث نه دا هم معلومه شوه چې بریت غټول (اوداسې ږیره خریل او وړول) حرام اوکبیره ګناه ده، ځکه چې حضورپاک ﷺ په یوکبیره ګناه باندې داسې وعید فرمایلی دی چې داسې کولو والازموږ د جماعت څخه نه دی.
۶: په شپږم حدیث کې حضورپاک ﷺ لعنت فرمایلی دی په هغو سړیو باندې چې هغوی دښځو مشابهت کوي او په هغو ښځوباندې چې کومې د سړیو مشابهت وکړي، ددې حدیث بنه شرح کې ملاعلي قاري (رحمه الله) صاحب مرقاه لیکي چې د: (لعن الله) فقره، جمله په ډول د

...بقیه د تیرمخ].. اظهر في الشبه، وذکر في هذا الباب، قلت: بل الشعار هوالمدار لا غیر (مرقاة شرح مشکوة ج: ۸ ص: ۱۵۵ کتاب اللباس)۔

بددعا هم کیدای شي، یعنې په هغو خلکودې دالله تعالی لعنت وي او جمله خبرداکیدای شي، یعنې په داسې خلکودې الله تعالی لعنت وفرمایي.[۱]
په ږیرې خریلوکې دتیرشوي مخکې قباحتونونه پرته یو قباحت دښځوسره دمشابهت هم دی، ځکه چې دښځواو سړیو په مینځ کې الله تعالی دږیرې امتیاز ایښی دی، دږیرې خریونکي دې فرق ختمولوباندې ښځوسره مشابهت کوي، چې هغه د خدای اودرسول الله ﷺ دلعنت موجب دي.
ددې ټولو نصوصو لاندې دامت بزرګان په دې خبره متفق دي چې ږیره غټول واجب دي اودا داسلام شعار دی اوددې خریل یا وړول (چې دشرعي حدنه کمه وي) حرام او کبیره ګناه ده، چې په دې باندی رسول الله ﷺ سخت وعیدفرمایلی دی، الله تعالی دې هریو مسلمان ددې حرام کار نه دبچ کولو توفیق وفرمایي.
جواب: ۲: په مخکې احادیثوکې دږیرې دغټولو حکم ورکړل شوی دی اوپه ترمذي کتاب الادب (ج:۲،ص:۱۰۰) په یو روایت کې چې هغه دسندپه اعتبارسره کمزری دی، دا ذکر شوي دي چې حضور پاک ﷺ دږیرې مبارې طول اوعرض نه زیاتي ویښته کټ کړي و[۲] ددې وضاحت په صحیح بخاري کتاب اللباس (ج:۲،ص:۸۷۵) روایت نه کیږي چې حضرت ابن عمر رضی الله عنه دحج او عمرې نه دفارغ کیدو په موقع باندې چې احرام به یې خلاص و؛ نوږیره به یې په موټي کې ونیوله او زیاته برخه به یې کټ کوله[۳] دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه هم ددې مضمون راوایت نقل دی (نصب الرایه ج:۲،ص:۴۵۸)[۴] ددې نه واضح کیږي چې دږیرې شرعي مقدار کم نه کم دیوموټي دی.(هدایه کتاب الصوم)[۵]
څنګه چې ږیره خریل حرام دي، همداسې ږیره له یوموټي نه کمول هم حرام دي، په درمختار کې دي: (واماالاخذمنهاوهي دون ذلک کمایفعله بعض المغاربه ومخنثه الرجال فلم یبحه

---

[۱] (وعنه) أي ابن عباس (قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لعن الله) يحتمل الإخبار والدعاء (مرقاة شرح مشكوة لملاعلي القاري ج: ٤ ص: ٤٦٠، باب الترجل، طبع اصح المطابع بمبئی)۔
[۲] ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يأخذمن لحيته من عرضها وطولها هذا حديث غريب(ترمذی ج:۲ ص:۱۰۵)
[۳] وكان ابن عمر إذاحجّ أو اعتمر قبض لحيته فما فضل أخذه (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۵، باب تقليم الأظفار)
[۴] وأما حديث أبي هريرة فرواه ابن أبي شيبة أيضًا حدثناأبو أسامة ن شعبة عن عمرو ابن أيوب، من ولد جريد عن أبي زرعة قال: كان أبو هريرة يقبض على لحيته، فيأخذ ما فضل عن القبضة، انتهى (نصب الراية ج: ۲ ص: ٤٥٨)
[۵] ولا يفعل لتطويل اللحية إذا كانت بقدر المسنون وهوالقبضة، قال فى هامشه فى المحيط: إختلف فى إعفاء اللحية قال بعضهم بتركها حتّى تكثرأو القصر سنّة فما زاد على قبضته قطعها (هداية، كتاب الصوم ج: ۱ ص: ۲۲۱)۔

احد، واخذ كلها فعل يهود الهند ومجوس الاعاجم). (شامى طبع جديد ج:۲، ص:٤١٨).

ترجمه: او ږيره ورول چې هغه له يوموټي نه کمه وي، لکه چې ځينې مغربي خلک او دهجړاګانوپه شان خلک يې کوي، دې ته هيچاهم جائزنه دي ويلي او پوره ږيره صفاکول خودهندوستان ديهوديانو او دعجمو دمجوسيانو کار و.

همدا مضمون په فتح القدير(ج:۲،ص:۷۷)او بحرالرائق (ج:۲،ص:۳۰۲) کې دی، شيخ عبدالحق محدث دهلوي(رحمه الله) «اشعة اللمعات» کې ليکي:

«حلق کردن لحيه حرام است وا گزاشتن آن بقدر قبضه واجب است».(ج:۱،ص:۲۲۸).

ترجمه: ږيره خريل حرام دي اوديوموټي پورې ددې غځول واجب دي (اوکه ددې نه کمه وي؛ نو ورول يې هم حرام دي).

په امداد الفتاوی کې دي:[۱] «ږيره پريښودل واجب دي اودقبضې نه زياته کټ کول حرام دي لقوله عليه السلام: خالفوا المشركين اوفروا اللحى. متفق عليه. في الدر المختار: يحرم على الرجل قطع لحيته وفيه السنه فيها القبضه»

ترجمه: ځکه چې دحضورپاک ﷺ ارشاد مبارک دی چې: دمشرکانو مخالفت وکړئ، ږيرې غټې کړئ.(بخاری ومسلم)او په درمختارکې دي چې: دسړي له پاره دږيرې خريل حرام دي او ددې دمسنون کيدو مقدار يو موټی دی.

جواب: ۳: کوم حافظان چې ږيره خروي يايې وروي هغوی دکبيره ګناه مرتکب او فاسقان دي، په تراويحوکې هم ددوی امامت جائزنه دی اوددوی په اقتداءکې لمونځ مکروه تحريمي (يعني عملا حرام دی)[۲] اوکوم حافظان چې يوازې په رمضان المبارک کې ږيره پريږدي او وروسته يې بياصفا کوي، دهغوی له پاره هم داحکم دی، داسې سړی په فرض لمونځ او تراويحوکې امام جوړولووالاهم فاسق او ګنهګاردي.[۳]

---

[۱] إمداد الفتاوى ج: ٤ ص: ٢٢٠، طبع دارالعلوم كراچى.

[۲] ويكره إمامة عبد واعرابي وفاسق وأعمى (قوله: فاسق) من الفسق وهوالخروج عن الإستقامة، ولعل المراد به من يرتكب الكبائركشارب الخمر، والزاني، وآكل الربا ونحوذالك.............. وأماالفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بأنه لا يهتم لأمردينه، وبأن في تقديمه للإمامة تعظيمه، وقد وجب عليهم إهانته شرعًا....... بل مشى في شرح المنية على أن كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار ج: ١ ص: ٥٥٩، ٥٦٠، باب الإمامة).

[۳] قال تعالى: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. يأمرالله تعالى عباده المؤمنين بالمعاونة على فعل الخيرات وهوالبر، وترك المنكرات وهوالتقوى، وينهاهم عن التناصر على الباطل والتعاون على المآثم والمحارم .... قال رسول الله عليه وسلم: الدال على الخير كفاعله....... ومن دعا إلى ضلالة كان عليه من الإثم مثل آثام من اتبعه إلى يوم القيامة (تفسيرابن كثير ج: ٢ ص: ١٠ طبع دارالسلام).

جواب: ۴: د دې سوال په جواب باندې د پوهیدلو له پاره دا اصول په ذهن کې اچول ضروري دي چې د اسلام د یو نښې پورې خنداکول او د حضور پاک ﷺ د یو سنت تحقیر (بې عزتي) کول کفر دی. چې په دې سره سړی له ایمان نه خارجیږي او دا مخکې معلوم شوي دي چې حضور پاک ﷺ ډیره د اسلام شعار او د انبیاوو کرام (علیهم السلام) متفقه سنت ګرځولې ده، کوم خلک چې فطرتي ډول د ډیرې نه نفرت کوي، دې ته د حقارت په نظر سره ګوري، د دوی په خپلوانو کې که څوک ډیره پریښودل وغواړي، هغه منع کوي یا هغه ته پیغور ورکوي او کوم خلک چې د ډیرې خریلو نه پرته چاته رشته ورکولو له پاره نه تیاریږي، داسې خلکو له پاره د خپل ایمان فکر کول پکار دي، دوی ته لازم دي چې توبه وباسي او د خپل ایمان او نکاح تجدید وکړي،[1] حکیم الأمت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله) په "اصلاح الرسول" ص:۱۵ باندې لیکي:

"من جمله د دې رسوماتو ډیره خریل او کټ کول دي، داسې چې له یوموټي نه کمه پاتې شي، یا بریت غټول، چې دا په اوسني زمانه کې د ځوانانو په خیال کې خوش وضعي ګڼل کیږي، په حدیث کې دي چې: ((ډیرې غټې کړئ او بریتونه کموئ)) دا بخاري او مسلم روایت کړې دی.[2] حضور اکرم ﷺ په صیغه امر سره دواړه حکمونه فرمایلي دي او امر حقیقتا د وجوب له پاره وي، معلومه شوه چې دا دواړه د واجب په حکم کې دي او د واجبو پرېښودل حرام دي، د ډیرې کټ کول او بریتونه غټول دواړه حرام کارونه دي، د دې نه زیات په دویم حدیث کې ذکر شوي دي، رسول ﷺ وفرمایل: ((کوم سړی چې خپل بریت وانخلي، هغه زموږ نه نه دی)). دا احمد، ترمذي او نسائي روایت کړی.[3]

اوس چې د دې ګناه کیدل ثابت شو؛ نو کوم خلک چې په دې باندې اصرار کوي او دا خوښوي او ډیره خریل عیب نه ګڼي، بلکې په ډیرې پورې خاندي او د دې بدي بیانوي، د دې ټولو مجموعه امورسره د ایمان پوره کیدل سخت دي، هغو خلکو باندې واجب دي چې هغوی د دې حرکت نه توبه وکړي او د ایمان او نکاح تجدید وکړي او خپل صورت د الله تعالی او د رسول الله ﷺ د حکم

---

[1] من إستخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوه مما يعظم في الشرع، كفر (شرح الفقه الأكبر ص: ۱۶۷ فصل في القراءة والصلاة) وفي الشرح الوهبانية للشرنبلالي: مايكون كفرًا إتفاقا يبطل العمل والنكاح........ وما فيه خلاف يؤمر بالإستغفار والتوبة وتجديدالنكاح (ردالمحتار ج: ٤ ص: ۲٤۷، باب المرتد)۔

[2] عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خالفوا المشركين أوفروا اللّحى واحفوا الشوارب وفي رواية: انهكوا الشوارب واعفوا اللّحى متفق عليه (مشكوة ص: ۳۸۰، باب الترجل، صحيح بخارى ج: ۲ ص: ۸۷۵، باب تقليم الأظفار، صحيح مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹، باب خصال الفطرة)۔

[3] عن زيد بن أرقم رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من لم يأخذ من شاربه فليس منّا رواه احمد والترمذى والنسائى (مشكوة ص: ۳۸۱، باب الترجل، الفصل الثانى، طبع قديمى)۔

مطابق جوړ کړي.
جواب: ۵. کوم حضرات چې د حج دسفر په دوران یاحج چې دحج نه واپس راتلوباندې ږیره خروي یایې وروي، دهغوی حالت دعامو خلکونه زیات درحم قابل دی، ځکه چې هغه دخدای په کورکې هم دکبیره ګناه نه منع کیدای نه شي، حالانکې دالله تعالی په دربارکې هغه حج قبول وي چې هغه دګناهونونه پاک وي او ځینې بزرګانو دمقبول حج علامت داليکلی چې په حج سره دانسان په ژوند کې دیني انقلاب راشي، یعنې چې هغه دحج نه وروسته دطاعات پابندي او دګناهونونه دبچ کیدو اهتمام وکړي.
دکوم سړي په ژوندکې چې په حج سره څه تغیر رانغی،که د مخکې نه دفرائضو پابند وي؛ نو اوس هم دی اوکه مخکې په کبیره ګناهونوکې و؛ نودحج نه وروسته هم په کبیره ګناهونوکې اخته دی، دداسې سړي حج په حقیقت کې حج نه دی محض سیر او تفریح او ورزش دی، په فقهي ډول به دده فرض ادا کړل شي، خودحج د ثواب او ثمراتو نه به هغه محروم وي، څومره دحسرت او افسوس مقام دی چې سړی په زرګونو روپیو تاوان هم وکړي او دسفر مشقتونه هم برداشت کړي، ددې باوجودهغه ته دګناهونونه دتوبه توفیق نه وي اوڅنګه چې تللی و هغه شان خالي لاس واپس راشي، که یوسړی دحج دسفرپه دوران دزنااو غلا ارتکاب وکړي اوهغه ته په دې کارباندې ملامتیاهم نه وي اونه توبه وباسي؛ نوهرسړی سوچ کولی شي چې دهغه حج به څنګه وي؟ دږیرې خریلو کبیره ګناه په یواعتبارسره دغلا او بدکاري نه هم بدتره ده، ځکه چې هغه وقتي ګناه ده اودږیرې خریلو ګناه څلور ویشت ګنټې ګناه ده، سړی ږیره وخریي لمونځ ادا کوي، روژه نیسي، دحج احرام یې تړلی وي، خودهغه خریلې شوې ږیره سره دلمونځ، روژې اوحج په دوران کې هم دحضورپاک ﷺ دژبې نه په هغه باندې لعنت ویل کیږي اوهغه دعین عبادت په دوران هم دحرام مرتکب دی، حضرت شیخ قطب العالم مولانامحمدزکریا کاندهلوي ثم مدني (نورالله مرقده) په خپلې رسالې " داړهی کاوجوب" کې لیکي:
ماته دداسې خلکو(چې هغه ږیره خروي) په کتلوسره به دا خیال راتلو چې دمرګ یو وخت مقررنه دی او په دې حالت کې(کله چې ږیره خریلې شوې وي) که مرګ واقع شي؛ نوپه قبرکې به دتولونه مخکې دسیدالرسل ﷺ دمخ مبارک زیارت کیږي؛ نوپه کوم مخ به دهغه دمخ مبارک مخامختیا کوي؟
ددې سره سره دا خیال راځي چې کبیره ګناهونه خو: زنا، لواطت، شراب نوشي، سودخوري وغیره خو ډیرې دي، خوهغه ټولې وقتي دي، دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی:" **لایزنی الزانی وهو مؤمن....الخ**" یعنې چې کله زناکار زنا کوي؛ نوهغه په هغه وخت مؤمن نه وي.
مشائخو ددې حدیث مطلب دا لیکلی دی چې دزنا په وخت دایمان نور له هغه نه جدا کیږي، خودزنانه وروسته هغه نور ایماني مسلمان ته واپس راځي، خو قطع اللحیة (ږیره خریل او

وړول) داسې ګناه ده چې هغه هروخت له هغه سره وي، كه لمونځ کوي؛ نوبیاهم داګناه ورسره ده، دروژې په حالت کې دی، دحج په حالت کې دی، غرض دهرعبادت په وخت دا ګناه له هغه سره لګیدلې وي. (داڑھی کا وجوب ص: ۲)."

کوم حضرات چې دحج او زیارت له پاره تشریف وړي په هغوی فرض دي چې هغه دخدای او د رسول ﷺ دربارته حاضریدو نه مخکې خپل مسخ شوی شکل صحیح کړي او ددې ګناه نه په رینښتونې توبه وباسي او اینده همیشه له پاره ددې حرام کار نه دبچ کولو عزم وکړي،ګني خدای دې نه کړي چې داسې نه وي چې دشیخ سعدي (رحمه الله) ددې شعرمصداق جوړشي:

خرعیسی اګربه مکه رود چو بیاید هنوز خر باشد

ترجمه: دعیسی خرکه مکې ته هم لاړشي خو چې واپس راشي بیابه هم خروي.

هغه ته داهم سوچ کول پکاردي چې هغه به په روضه اطهربانديې سلام وړاندې کولو له پاره په کوم مخ حاضریږي؟ اوحضورپاک ﷺ ته به دهغه په بدل شوي شکل کتلوسره څومره اذیت وي؟

جواب: ۲: دهغو حضراتوجذبه په ښکاره ډیره ښه ده اودهغوی منشا دږیرې حرمت او عظمت دی، خوکه په لږ غور او تحمل نه کار واخیستل شي؛ نومعلومه به شي چې داخیال هم د شیطان یوچال دی، چې ددې په ذریعه شیطان ډیرخلک دوکه کړل اوپه دې حرام کار کې یې اخته کړل، په یو مثال سره به دې باندې پوه شئ، یومسلمان دبل سره دوکه (فریب) کوي، چې دهغه له وجې پوره اسلامي دنیا بدنامیږي، اوس که شیطان هغه ته دا ووایي چې: ستاله وجې اسلام او مسلمان بدنام دي، داسلام دحرمت تقاضا داده چې تاسو--- نعوذبالله ---- اسلام پریږدئ او سکان جوړشئ؛ نوایا ددې وسوسې له وجې هغه ته اسلام پریښودل پکار دي؟ نه! بلکې که دهغه په زړه کې داسلام واقعي حرمت او عظمت دی؛ نوهغه به اسلام نه پریږدي، بلکې ددې ګناهونونه به منع شي کوم چې دمسلمانانو دبدنامي وجه ده، هم داسې که شیطان دا وسوسه اچوي چې: كه ته ږیره پریږدې او بدکارونه کوې؛ نو ږیره والا به بدنام شي او دا دږیرې دحرمت خلاف دي؛ نوددې له وجې ږیره خریل نه دي پکار، بلکې دهمت نه به کار اخلي پخپله به ددې بدو کارونو نه دبچ کولو کوشش وکړل شي کوم چې دږیرې د حرمت خلاف دي او په کوموسره چې دږیرې والا بدنامیږي.

دې حضراتو اخر ولې فرض کړل چې موږ په ږیره پریښودلوسره به بدعملونه نه پریږدو؟ که ددوی په زړونوکې واقعي ددې اسلامي شعار عزت دی؛ نودعقل او دین تقاضاداده چې هغه ږیره پریږدي او دا اراده وکړي چې ان شاء الله له دې وروسته به یوه کبیره ګناه هم دهغوی څخه نه کیږي اودعا وکړئ چې الله تعالی دې دوی ته ددې اسلامي شعارد عزت ساتلوتوفیق ورکړي.

بهرحال ددې وهمي اندیښنې له وجې چې چیرته موږ په ږیره پریښودو باندې ددې په عزت ساتلوکې کامیاب نه شو، ددې عظیم الشان اسلامي نښې نه محرومیدل په یوه طریقه هم صحیح نه دي، څکه دټولو مسلمانانوله پاره لازمي ده چې اسلامي شعائر پخپله هم خپل کړي

او په معاشره کې ددې دژوندي کولو پوره کوشش وکړي چې دقیامت په ورځ دمسلمانانو په شکل او صورت کې ددوی حساب کتاب وي او هغوی د رسول الله ﷺ دشفاعت او دالله تعالی د رحمت قابل جوړشي.

(عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: كل أمتي يدخلون الجنة الامن ابى، قالوا: ومن يأبى؟ قال: من اطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد ابى). (صحيح بخارى ج:۲،ص:۱۰۸۱).

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: زماد امت ټول خلک به جنت ته ځي، خوچې چاانکار وکړ، صحابه وو (رضي الله عنهم اجمعين) عرض وکړ چې: انکار څوک کوي؟ ويې فرمايل: چاچې زمااطاعت وکړ هغه به جنت کې داخليږي اوچاچې زمادحکم نافرماني وکړه، هغه انکار کړ.

د ږيرې خريونکي د فتوا شرعي حيثيت

سوال: نن سبا په ټي وي باندې ماډرن قسم موليان فتوا ورکوي، يعنې داسې مولوي چې هغه کلين شو(سفاږيره خروي) او پينټ اوچوي په ټي وي باندې راځي اودخلکودمسئلو جوابونه ورکوي، سوال دادی چې دداسې خلکوپه فتوا عمل کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: ږيره خريونکی ښکاره فاسق دی [1] او دفاسق خبر په دنياوي معاملاتوکې داعتماد قابل نه دی، په ديني امورکې به ولې وي؟ [2]

له موټي نه کمه ږيره ساتلو باطل استدلال جواب

سوال: ۱: په عام ډول دعلماء کرامو په تحريروکې مې ويلي دي چې اسلام دږيرې غټولو او د بريتونو کټ کولو حکم کړی دی او په اسلام کې چې کومه ږيره منل کيږي؛ نو دهغې حد کم نه کم چې له يوموټي نه کم نه وي، ددې حدنه دکم مقدار ږيره نه دسنت مطابق ده اونه په شريعت کې ددې څه حيثيت شته، ماته يوازې دامعلومول دي چې که چيرې اسلام دږيرې غټولو حکم ورکړی دی چې ضد دی دکمولو؛ نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه د قبضې نه زياته ږيره ولې کټ کړې

---

[1] (قوله: وفاسق) عن الفسق، وهوالخروج عن الإستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر، كشارب الخمروالزانى، وآكل الربا ونحوذالك (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۵۵۹ باب الإمامة).

[2] قال القاضى ثناء الله: فلايقبل شهادة الفاسق إجماعًا لأن العدالة شرط فى الرواية حيث قال الله تعالى: إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا، ففى الشهادة بالطريق الأولى (المظهرى ج: ۱ ص: ۴۲۷) إتفقوا على أن الإعلان بكبيرة يمنع الشهادة وفى الصغائر إن كان معلنًا بنوع فسق مستشنع يسميه الناس بذالك فاسقًا مطلقًا لاتقبل شهادته........وعن أبي يوسف الفاسق إذا كان وجيهًا فى الناس ذامروءة تقبل شهادته والأصح أن شهادته لا تقبل كذا فى الكافى (عالمگيرية ج:۳ ص: ۴۶۶، كتاب الشهادات،الباب الرابع فيمن تقبل شهادته ومن لا يقبل)

وه؟ ایا غټول او وړول دیوبل په ضد کې دي؟

جواب: ۱: دږیرې غټولو حدیث دحضرت عمر ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی[1] اوهم له هغه نه دقبضې نه زیاتې وړولو حکم روایت دی[2]، چې ددې نه ثابتیږي چې دږیرې غټولو دوجوب حدقبضه ده، ددې نه زیاته واجب ده.

سوال: ۲: دپاکستان نه یودیني عالم دږیرې متعلق لیکلي دي، دهغه خلاصه داده، چې دږیرې متعلق نبي ﷺ یومقدار هم مقرر کړی نه و، یوازې دا هدایت یې فرمایلی و چې: ږیره دې پرېښودل شي، البته په ږیرې پرېښودلوکې دفاسقانوصفت نه پرهیزدې وکړل شي اودومره ږیره دې پرېښودل شي چې په دې باندې په عام ډول دږیرې ساتلو اطلاق کیږي، په کتلوکې داسې هم نه ښکاري لکه چې له یوځوورځونه یې ږیره نه وې خریلې او کتلووالا دا دوکه ونه خوري؛ نو دشارع منشا پوره کیږي، ددې سره زه تاسوته ددې یوښتنې کولو درخواست کوم چې ددې ږیرې پرېښودلو یعنې ددې په مقدارکې اختلاف دی اوکه نه؟ معلومه شوه چې دځینې خلکوپه نزد ږیره غټول یعنې دا په خپل حال باندې پرېښودل پوره سنت دي اودځینې خلکوپه نزد دموټې برابرږیره پرېښودل مسنون دي اوپه خپل حال باندې پرېښودل مکروه دي اودځینې خلکوپه نزد یوحدهم مقرر نه دی، بس چې کومه ږیره په عامه معناکې ږیره وي هغه پرېښودل صحیح دي، وضاحت مطلوب دی.

جواب: ۲: دموټې برابر ږیره پرېښودلوباندې خو اجماع ده، له دې نه کمول دچاپه نزد هم جائزنه دي[3]، البته له موټې نه په زیاته پرېښودلو کې اختلاف دی، دځینو په نزد زیاته کټ کول مطلقا ضروري او مباح دي، دځینو په نزد دحج او عمرې دحلق او قصر نه وروسته دقبضې نه زیاته وړول مستحب دي، په عامو حالاتوکې مستحب نه دي، دځینوپه نزد که دږیرې ویښته دومره غټ شي چې په نظر ښه نه راځي؛ نو دا کټ کول ضروري دي، الغرض اختلاف چې هرڅه دی دقبضې نه په زیاتې کې دی.[4]

---

[1] عن ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: احفوا الشوارب واعفوا اللحی، وفی روایة: أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحیة (صحیح مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹، باب خصال الفطرة)۔

[2] محمد قال: أخبرنا أبوحنیفة عن الهیثم عن ابن عمر رضی الله عنهما أنه کان یقبض علی لحیته، ثم یقص ما تحت القبضة قال محمد: وبه نأخذ وهو قول أبی حنیفة (کتاب الآثار ص: ۱۹۸، باب حف الشعرمن الوجه، طبع قدیمی)

[3] وأما الأخذمنها وهی دون ذلك کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم یبحه أحد، وأخذا کلها فعل یهودالهند ومجوس الأعاجم (فتاوی شامی ج: ۲ ص: ۴۱۸ طبع جدید، فتح القدیر ج: ۲ ص: ۳۴۸، کتاب الصوم، باب ما یوجب القضاء والکفارة، طبع مصطفی حلبی، مصر)۔

[4] وصرح فی النهایة بوجوب قطع ما زاد علی القبضة بالضم ومقتضاه الإثم ..[بقیه په راروانه صفحه.

د دې عالم دین دا ویل چې حضورپاک ﷺ د ږیرې هیڅ حد مقرر کړی نه و فرمایلی، غلطه ده، ځکه چې حضورپاک ﷺ د ږیرې غټولو حکم فرمایلی دی، دکټ کولو حکم یې نه دی فرمایلی[1]. دحضورپاک ﷺ اودصحابه کرامو ﷡ ږیرې به له قبضې نه زیاتې وې، البته ځینو صحابه وو مثلاً: حضرت ابن عمر، حضرت عمراو حضرت ابوهریره ﷡ نه له قبضې نه دزیاتې وړولو عمل نقل شوی و او دترمذي په روایت کې، چې دا ضعیف هم ګرځول شوی دی، دحضورپاک ﷺ نه دحج او عمرې په موقع باندې له قبضې نه دزیاتې وړولو نقل شوی دی[2]، پس دحضورپاک ﷺ اود صحابه کرامو دعملي بیان نه معلومیږي چې د ږیرې کم نه کم حدیوه قبضه ده، دیوې قبضې نه کم وړول جائز نه دي، ځکه که جائز و؛ نوحضورپاک ﷺ به کم نه کم په پوره عمر کې دجوازله پاره یوځل خوبه دا ضرور کړې وه او له یو صحابي نه به هم دا عمل ضرور نقل شوی و، پس د فاسقانودکومو وضع مخالفت حضورپاک ﷺ حکم فرمایلی هغه شکل وضع هم داده چې دقبضې نه دې کمه وړه کړل شي.

سوال: ۳: په مذهبي کتابونوکې او دعلماووکرامو په خطونوکې دا خبره موجوده ده چې له یوموټې نه کمې ته چاهم جائزنه دي ویلي او په دې باندې اجماع ده، خوعلامه عیني (رحمه الله) عمده القاري ((کتاب اللباس، باب تقلیم الاظفار)) کې دتوفیراللحیه حدیث په شرح کولو دامام طبري (رحمه الله) په حوالې سره فرمایي: درسول الله ﷺ نه ددې خبرې دلیل ثابت دی چې د ((ږیرې غټولو متعلق)) حدیث عام نه دی، بلکې په دې کې تخصیص دی او د ږیرې په خپل حال باندې پریښودل ممنوع او ددې وړول واجب دي، البته په سلفو کې ددې مقدار او دحدپه معامله کې اختلاف دی، ځینوویلي چې ددې حدپه اوږد والي کې زیات شي او په پلن والي کې هم دخوړولوله وجې بده معلومیږي-------- ځینې صحابه ددې خبرې قائل دي چې په اوږدوالي او پلن والي کې یې کمه کړې په شرط ددې چې وړه نه کړل شي، له دې نه وروسته فرمایي: ددې مطلب زمانه په نزد دادی چې د ږیرې وړول ترهغه حد پورې جائز دي چې هغه دعامو معناوونه خارج نه شي.

جواب: ۳: په کومو مذهبي کتابونوکې چې دا نقل شوي چې له یوې قبضې نه کمولو ته چاهم

...بقیه د تیرمخ]..بترکه إلا أن یحمل الوجوب علی الثبوت وفي الشرح: قوله: صرح في النهایة إلخ حیث قال وما وراء ذالك یجب قطعه هکذا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أنه کان یأخذ من اللحیة من طولها وعرضها........ وسمعت من بعض أعزاء الموالی أن قول النهایة یحب بالحاء المهملة ولا بأس به .... فإذا زاد علی قبضة شيء جزه کما في المنیة، وهو سنة کما في المبتغی وفي المجتبی والینابیع وغیرهما لا بأس بأطراف اللحیة إذا طالت ولا بنتف الشیب إلا علی وجه التزین (شامي ج: ۲ ص: ۴۱۸، باب مایفسدالصوم...إلخ)

[1] عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إنهکوا الشوارب وأعفوا اللحی (بخاری ج:۲ ص: ۸۷۵)

[2] أن النبي صلی الله علیه وسلم کان یأخذ من لحیته من عرضها وطولها رواه الترمذی (مشکوة ج:۲ ص: ۳۸۱)

غلط نه دي ويلي او دا په دې باندې اجماع ده، دانقل بالکل صحيح دی، دائمه فقهاوو چې کوم مذهبونه رائج دي، يادکومو اقوال چې په کتابونوکې نقل شوي دي، له هغوټولونه همدامعلوميږي چې دږيرې قبضې نه کمول حرام دي.[1]

ترکومې پورې چې دعلامه عيني(رحمه الله) دعبارت تعلق دی، علامه عيني(رحمه الله) دامام طبري(رحمه الله) دکلام تلخيص کړی دی اوتاسو دعلامه عيني(رحمه الله) دعبارت خلاصه نقل کړه، بهرحال په دې کې دوه خبرې دتوجه قابلې دي:

اول: دا چې ستاسو په نقل شوي عبارت کې کوم دوه قولونه نقل شوي دي، په هغو باندې ظاهري نظر اچولوسره دا شک کيږي (او همدا شک ستاسو دسوال منشاده) چې لومړی فريق خو دږيرې حديوه قبضه مقرروي او دزياتې دکټ کولو حکم ورکوي او دويم فريق له قبضې نه کم هم دکټ کولو اجازت ورکوي، ((په شرط ددې چې ډيره وړه نه وي)) خودعبارت مطلب واضحه غلط دی، ځنګه چې مامخکې ويلي دي، په سلفوکې کې له هيچا هم دقبضې نه کم دږيرې وړولو اجازت نقل نه دی، علامه عيني(رحمه الله) چې کوم اختلاف نقل کړی دی هغه په مافوق القبضه کې دی اوددې مطلب دادی چې ځينوسلفوخودصفا صفاکټ کولو حد مقرر کړو، له موټې نه دې زياته کټ کړل شي، ګويا دهغو حضراتوپه نزد دې ږيره يوازې دموټې برابر پريښودل شي، زياته نه، ددې برعکس ځينې ددې تعيين نه کوي چې ږيره دې بس يوه قبضه پريښودل شي، هغوی له قبضې نه دزياتې پريښودلو قائل نه دي، البته دطول او عرض نه دمعمولی کټ کولو اجازت ورکوي، په شرط ددې چې دا کټ کول داسې ښکاره نه وي چې په هغه سره ږيره وړه په نظر راشي، دسلفواختلاف هم دقبضې نه دزياتې کټ کولو او په نه کټ کولوکې دی، دقبضې نه کمه کې نه دی.

بله دتوجه قابله خبره دعلامه عيني(رحمه الله) دا قول دی، دهغه ترجمه تاسو دانقل کړې ده چې: ددې مطلب زماپه نزد دادی چې دږيرې وړول تردې حده پورې جائز دي چې هغه دعرف عام نه خارج نه کړل شي "کتل دادي چې دا (عرف الناس) چې داتاسوپه (عرف عام) سره تعبيرکړی دی چې په دې سره د کومو خلکوعرف مراد دی؟ ايا دداسې معاشرې عرف چې هغه دصحيح اسلامي معاشرې عکاسي کوي؟ يادداسې معاشرې عرف په هغه باندې فسق او فجور او

---

[1] ولا بأس إذا طالت لحيته أن يأخذ من أطرافها ولا بأس أن يقبض على لحيته فإن زاد على قبضة منها شئ جزه وإن كان ما زاد طويلة تركه كذا فى الملتقط والقص سنّة فيها وهو أن يقبض الرجل لحيته فإن زاد منها على قبضة قطعه كذا ذكره محمد فى كتاب الآثار عن أبى حنيفة وقال: به نأخذ، كذا فى المحيط السرخسى (عالمگيرية ج: ٥ ص: ٣٥٨) أيضًا:وعن النبى صلى الله عليه وسلم يحل الإعفاء على إعفائها عن ان يأخذ غالبها أو كلها كما هوفعل مجوس الأعاجم من حلق لحاهم (ردالمحتار ج: ٢ ص: ٤١٨، كتاب الصوم، باب ما يفسدالصوم وما لايفسده، طبع سعيد)

دنفس غلبه وي؟ غالبادسوال ليکلو په وخت دجناب په ذهن کې د عرف عام همدا دويم صورت به وي، خوکه چيرې تاسو لږشان د توجه نه کاراخيستی وای؛ نو واضحه شوې به وه چې دلته دعلامه عيني(رحمه الله)، سلفو په مسلک کې خبرې کوئ او د «سلف صالحين» لفظ عموما دصحابه وو او تابعينو رضی الله عنهم له پاره استعماليږي[1]. ځکه په دې عبارت کې هم ددوی عرف عام مراد دی، هم ددوی عرف دصحيح اسلامي معاشرې نمايندګي کوي او هم ددوی عرف په ډول ددليل او سندوړاندې کيدای شي ، اوس وګورئ چې خبره څنګه شو؟ خبره داسې شوه چې دصحابه وورضی الله عنهم او دتابعينو(رحمهم الله) په دور کې په عام ډول څومره چې دږيرې پريښودلو رواج و، له هغه نه کمول دسلفو ددې دويم جماعت په نزد جائزدي[2]. اوس زه پوښتنه کوم چې د صحابه وورضی الله عنهم او تابعينو(رحمهم الله) عرف عام خو بيل پاتې شو! ايا ديو صحابي يا تابعي نه هم له يوموټې نه کمه ږيره ساتل ثابت دي؟ که نه وي؛ نودعلامه عيني(رحمه الله) له عبارت نه ديوموټې نه دکمې ږيرې جواز څنګه راغی؟ په هرحال دعلامه عيني(رحمه الله) په عبارت کې نه خو له موټې نه کم کټ کول مراد دي او نه دخلکو د(عرف عام) نه دخرابې شوې معاشرې عرف عام مراد دی.

دږيرې له يو موټې کيدو نه څه مراد دي؟

سوال: ږيره يو موټې پورې پکار ده، يوه قبضه (يو موټی) له کوم ځای نه شروع کيږي؟ ايا د شونډو دلاندې نه ياد زنې لاندې نه قبضه اچول پکاردي، بياکوم ځای پورې چې د ګوتو ګيره راشي.

جواب: د زنې دلاندې نه، يعنې ويښته له هرطرف نه يوه قبضه کيدل پکار دي.[3]

دغټو بريتونو حکم

سوال: ديو سړي بريت دومره غټ دي چې داوبو وغيره دڅښلو په وخت باندې بريت په دې

---

[1] وقال الزيلعي:أويظهرسبّ السلف يعنى الصالحين منهم وهم الصحابة والتابعون(ردالمحتار ج: ٤ ص: ٢٣٧)

[2] ولذا يحرم على الرجل قطع لحيته أو تطويل اللحية إذا كانت بقدرالمسنون وهوالقبضة........وأما الأخذ منها وهى دون ذلك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد (شامى ج: ٦ ص: ٤٠٧، كتاب الحظروالإباحة، والدرالمختار ج: ٢ ص:٤١٧، ٤١٨، طبع سعيد،عالمگيرية ج:٥ ص:٣٥٨، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر)۔

[3] وكان ابن عمر إذاحج أو اعتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه (صحيح بخارى ج: ٢ ص: ٨٧٥، باب تقليم الأظفار) قوله فمافضل........ ويجوزكسرها أى مازاد على القبضة أخذه بالقص ونحوه وروى مثل ذالك عن أبي هريرة وفعل عمر برجل وعن الحسن البصرى أنه يؤخذ من طولها وعرضها مالم يفحش (صحيح بخارى ج: ٢ ص: ٨٧٥، باب تقليم الأظفار) أيضًا: وأخذ أطراف اللحية والسنّة فيها القبضة (شامى ج: ٦ ص: ٤٠٧)۔

اوبوو غیره کې لګیږي؛ نو د داسې بریتونو او د دې اوبه وغیره څه حکم دی؟

جواب: دومره غټې بریت پریښودل شرعا ګناه ده، په حدیث کې راځي:

(عن زيد بن ارقم رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من لم يأخذ من شاربه فليس منا). (مشکوة ص: ۳۸۱). **ترجمه**: د حضور پاک صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چې کوم سړی بریت نه کموي هغه زمونږ نه نه دی.

ږیره د ټولو انبیاوو (علیهم السلام) سنت ده او د صحیح فطرت مطابق ده

سوال: ایا ږیره پریښودل ضروري دي؟ او ولې؟

جواب: په اسلام کې سړیوته د ږیرې پریښودلو تاکیدي حکم دی؟ او دا په ډیرو وجو سره ضروري ده:

اول: حضور پاک صلى الله عليه وسلم ږیره پریښودل په هغو عملونو کې شمیرلې ده کوم چې د ټولو انبیاء کرامو (علیهم السلام) سنت مبارک دي، دکوم شي پابندي چې حضرت آدم علیه السلام نه واخله تر حضور پاک صلى الله عليه وسلم پورې دخدای ټولو نبیانو کړې وي، دیو مسلمان له پاره په هغه باندې ټګ څومره ضروري کیدای شي هغه تاسو پخپله ددې اندازه کولی شئ.[1]

دویم: بیا حضور پاک صلى الله عليه وسلم ږیره غټول او د بریت کمولو ته فطرت فرمایلي دي[2]، له دې نه معلومیږي چې ږیره خریل د فطرت خلاف عمل دی، دیو مسلمان له پاره دصحیح فطرت خلاف عمل کول او دخلاف فطرت نه منع کول، چې څومره ضروري کیدای شي، هغه واضح دي.

دریم: دا چې حضور پاک صلى الله عليه وسلم امت ته ددې تاکیدي حکم فرمایلی دی او دحضور پاک صلى الله عليه وسلم دتاکیدي حکمونو ضروري کیدل ټولو ته معلوم دي.[1]

---

[1] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الفطرة خمس أوخمس من الفطرة، منها قص الشارب وفي رواية: أعفوا اللحى .... قال النووي : ذكر جماعة من العلماء غير الخطابي قالوا ومعناه أنها من سنن الأنبياء صلوات الله وسلامه عليهم وقيل هي الدين (شرح الكامل للنووي بهامش مسلم ج: ١ ص: ١٢٨، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة) وفي المرقاة: الفطرة أى فطرة الإسلام، خمس، قال القاضي وغيره فسرت الفطرة بالسنّة القديمة التي اختارها الأنبياء واتفقت الشرائع، وكأنها أمرجبلي فطروا عليه، قال السيوطي وهذا أحسن ماقيل في تفسيرها وجمعه (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٤٥٥ باب الترجل، طبع بمبئ)۔

[2] عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: عشرمن الفطرة قصّ الشارب وإعفاء اللحية وفي رواية: أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحية (مسلم ج: ١ ص: ١٢٩، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة) عن ابن عمر عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحية (مسلم ج: ١ص: ١٢٩)۔

څلورم: دا چې حضور پاک ﷺ د دې په حکم فرمایلو سره دا تاکید فرمایلی دی چې: (د مشرکانو مخالفت وکړئ) او په یو بل حدیث کې فرمایلي چې (د مجوسیانو مخالفت وکړئ) له دې نه معلومیږي چې د حضور پاک ﷺ په زمانه کې هم ږیره خریل د بې دینه قومونو نښه وه او حضور پاک ﷺ خپل امت د دې ګمراه قومونو د خلاف فطرت تقلید نه منع کړی.[2] په یو حدیث کې دي چې (یو قوم د بل قوم مشابهت وکړي، هغه به هم په هغوی کې شمیرل کیږي)[3] د سیرت په کتابونو کې دا واقعه ذکر شوې ده چې د ایران د بادشاه سفیر د حضور پاک ﷺ په دربار کې حاضر شو، د هغوی ږیرې خریل شوې وې، حضور ﷺ چې د دوی شکلونه ولیدل؛ نو د نفرت کولو په اظهار سره یې وفرمایل: (دا څه شکل مو جوړ کړی دی؟) هغوی عرض وکړ چې: زمونږ خدای (شاه ایران) د دې حکم راکړی دی، حضورپاک ﷺ وفرمایل: (خو زما رب ماته د ږیرې پریښودلو حکم راکړی دی) او حضورپاک ﷺ هغوی سره د خبرو کولو نه انکار وکړ.[4]

پنځم: ږیره پریښودل د انبیاء (علیهم السلام) سنت او صحیح انساني فطرت دی، څکه دا د سړي مخ ښایست دی او ږیره خریل خو د سړي حسن او جمال په خاورو کې ملاول دي[5]، شاید په دې باندې دا وویل شي چې نن سبا خو ږیره خریل د ښایست موجب ګڼل کیږي، د دې

---

[1] قال النووی فی الکامل : فحصل خمس روایات: أعفوا، وأوفروا، وأرخوا، وأرجوا، ووقروا، ومعناها کلها ترکها علی حالها هذا هوالظاهر من الحدیث الذی یقتضیه ألفاظه، وهوالذی قاله جماعة من أصحابنا وغیرهم من العلماء (شرح النووی علی مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹، کتاب الطهارة، باب خصال الفطرة)۔

[2] عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خالفوا المشرکین أوفروا اللّحی واحفوا الشوارب وفی روایة: جزّوالشوارب وارخوا اللّحی خالفوا المجوس (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۵، مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۹، کتاب الطهارة، باب خصال الفطرة) وفی المرقاة للقاری: خالفوا المشرکین أی فإنهم یقصون اللحی ویترکون الشوارب حتّی تطویل کما فسره بقوله أوفروا، أی أکثروا اللحی (مرقاة المفاتیح ج: ٤ ص: ٤٥٧، باب الترجل، طبع بمبئ)۔

[3] قال النبی صلی الله علیه وسلم: من تشبّه بقوم فهومنهم (جامع الصغیر ج: ۲ ص: ۸، طبع بیروت)۔

[4] فکره النظر إلیهما، وقال: ویلکما! من أمرکما بهذا! قال: أمرنا ربّنا، یعنیان کسری، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ولکن ربّی أمرنی بإعفاء لحیتی وقصّ شاربی (البدایة والنهایة ج: ٤ ص: ۲۷۰، حیاة الصحابة ج: ۱ ص: ۱۱۵)۔

[5] عن أبی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الفطرة خمس أوخمس من الفطرة، منها قص الشارب وفی روایة: أعفوا اللحی .... قال النووی : ذکر جماعة من العلماء غیر الخطابی قالوا ومعناه أنها من سنن الأنبیاء صلوات الله وسلامه علیهم وقیل هی الدین (شرح الکامل للنووی بهامش مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۸، کتاب الطهارة، باب خصال الفطرة) وفی المرقاة: الفطرة أی فطرة الإسلام، خمس، قال القاضی وغیره فسرت الفطرة بالسنّة القدیمة التی اختارها الأنبیاء واتفقت الشرائع، وکأنها أمرجبلی فطروا علیه، قال السیوطی وهذا أحسن ماقیل فی تفسیرها وجمعه (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٥٥ باب الترجل، طبع بمبئ)۔

جواب دادی چې که په یوې معاشره کې خراب او ګنده رسم رواج شي او عام خلک محض تقلیدي په دې باندې عمل کوي او ددې دقباحت (خرابي) طرف ته نظر نه ځي. ګني ددې تجربه هرسړی کولئ شي چې هغه ږیره خریلې مخ په شیشه کې وګوري اوبیا ږیره پریږدي او شیشه وګوري، پخپله به دهغه وجدان فیصله وکړي چې په ږیره خریلو سره دهغه شکل خراب شوی وي.

شپږم دتجربې والا خلکو وینا ده چې دسړیو دږیرې ویښته او دښځو دسرو ویښته دخولې فاضل رطوبتونه جذب کوي، هم داوجه ده چې دچاږیره ګڼه او ډکه وي، دهغه وورئ او غاښونه به مضبوط وي. په نسبت دهغه سړي دکوم چې ږیره رنګړی وي او همدا وجه ده چې په مغرب کې سړي ږیره صفا خروي او دهغوی ښځې د سرو ویښته کټ کوي ځکه هغوی د ووریو او غاښونو په ناروغیو کې په عام ډول مبتلادي. هغه دښه نه ښه کریم (ټوتهـ پیسټ) استعمالوي خودګندګی مرض نه ختمیږي.

دملک صدرته یووفد د ږیرې پریښودو دعوت ولې ورکړ؟

سوال: د ((اقرآ)) داسلامي صفحې په یومضمون کې مې ولوستل چې دعلماء کرامو یو وفد صدر پاکستان سره ملاو شو او دې وفد صدر پاکستان ته دیواسلامي شعار دږیرې پریښودلو تلقین وکړ، په دې سلسله کې ډیراشکالات په ذهن کې راځي، مهرباني وکړئ! جواب ضرورراکړئ!

سوال: ۱: ایا ږیره هم داسې اهمه اسلامي نښه ده چې ددې له پاره دومره مصارف په اوچتولو صدر سره ملاقات وکړل شي او هغه ته ددې دعوت ورکړل شي؟

سوال: ۲: ما اوریدلي دي چې ږیره پریښودل خو محض سنت دي، که دا پریږدئ؛ نو ثواب به وشي اوکه نه یې پریږدئ؛ نو هیڅ ګناه نه شته، ایا دا صحیح ده؟

سوال: ۳: د ذکرشویو معلوماتو مطابق ددې کار له پاره په زرګونو روپۍ حرچ کول اسرف نه دی؟

سوال: ۴: بیا دا هم ممکنه ده چې دږیرې نه پریښودلو په صورت کې هغه هرچاسره هر ډول خبره کولی شي او دې سره به په مخاطب باندې اثر هم کیږي، خودږیرې پریښودلوپه صورت کې خوبه هغه یوخ دمذهبي فرقې سړی وي چې په دې سره به یقینا دهغه دخبرې به هغه مقام نه پاتې کیږي، ایاکه په دې غرض یوسړی ږیره نه پریږدي؛ نو دجناب په خیال کې هغه ته اجازت پکار دی؟ براه کرم! زماددې سوالونو جواب راکړئ ماته اوزمایه شان دنورو مسلمانانو خدشات لرې کړئ، ځکه که رښتیا دا هم داسې داسلام شعار دی؛ نو ددې نه د یو مسلمان محرومیدل نه دي پکار.

جواب: ۱: دږیرې په اهم ترین اسلامي شعارکیدو کې شک نه شته، حضورپاکﷺ دا دمسلمانانو امتیازي نښان ګرځولی دی، دحضورپاکﷺ ارشاد مبارک دی: (په خپل وضع

قطع کې دمشرکانو مخالفت وکړئ، ږیرې غټې کړئ او بریتونه کټ کړئ) (بخاری)[1] که دفوج کمانډر انچیف یوه خاصه وردي(یونیفارم) دخپل فوج امتیازي نشان وګرځوي؛ نودفوج دیوسپاهي له پاره ددې دمخالفت ګنجائش نه پاتې کیږي ، اوس سوچ وکړئ چې کوم شی دامت نبي ﷺ دخپل امت امتیازي نښه ګرځولې وي، دهغه مخالفت دیوامت له پاره کله رواکیدای شي؟ اوڅوک چې ددې خبرې پوهیدو باوجود دخپل نبي ﷺ مخالفت کوي هغه د(امتي) ویلو څه خوله لري؟ حضورپاک ﷺ ته ددې فعل (ږیرې خریلو) نه داسې نفرت و چې کله کسری د ایران دبادشاه سفیران دحضورپاک ﷺ په دربار کې حاضرشو: نودهغوی ږیرې خریل شوې او بریتونه یې غټ وو، حضور پاک ﷺ دهغوی شکل او صورت ته په کتلوکې دناخوښي اظهار وکړ او ډیره په ناخوښي لهجه کې یې وفرمایل: (تاسودې هلاک شئ، تاسوته داسې مکروه شکل جوړولو چا ویلي دي؟ هغوی وویل چې: (موږ ته زموږ رب یعنې کسرٰی حکم راکړی دی) حضور پاک ﷺ وفرمایل: (چې زمارب خوماته دږیرې غټولو او بریتونو کمولو حکم راکړی دی) (البدایه والنهایه ج: ٤ ص:۲۶۹،حیاة الصحابه ج:۱ ص:۱۱۵).

ددې نه معلومه شوه چې ږیره خریل دمجوسیانودرب حکم دی او ږیره غټول دمحمد ﷺ درب حکم دی، غور وکړئ چیرته چې دمجوسیانودرب حکم یوطرف وي او بل طرف ته درسول الله ﷺ درب حکم وي، یومسلمان ته دچاحکم منل پکاردي؟

جواب: ۲: داتاسوته چاغلط ویلي دي چې ږیره پریښودل محض سنت او دثواب کار دی اودنه پریښودلو هیڅ ګناه نه شته، دټول امت دعلماوو په نزد یوموټی ږیره غټول واجب دي، څنګه چې دوترو لمونځ واجب دی او ږیره خریل او دیوموټي نه کمول په اجماع سره حرام او ګناه کبیره ده.[2]

جواب: ۳: دمسلمانانو یو مقتدر او داحترام لائق شخصیت ته (څنګه چې صدرپاکستان) دیو واجب حکم دعوت ورکول او په دې باندې خرچ کول قطعا اسراف او فضول خرچي نه ده، د تبلیغي جماعت سابق امام حضرت مولانامحمدیوسف دهلوي(رحمه الله) په باره کې دا خبره اوریدلې ده چې یو سړي هغه ته عرض وکړ چې تاسودومره تاوانونه وچتوئ امریکې ته جماعتونه لیږئ، ایا دا اسراف نه ده؟ په جواب کې ورته هغه وفرمایل چې: (که زه دټولې دنیا خزانې خرچ کړم او امریکې والاوته دحضورپاک ﷺ په یوسنت زده کولوکې کامیاب شم؛ نوزه به دا وګڼم چې دا سودا ګرانه نه ده) داسې که یو بنده خدایي جذبه ساتي چې زموږ داعلی مشرانوپه مخ باندې داسلام او سنت نور وي اوهغه ددې له پاره په زرګونو نه په لکونو روپۍ

---

[1] عن ابن عمرعن النبی صلی الله علیه وسلم قال: خالفوا المشرکین وفّروا اللحی وأحفوا الشوارب (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۵، باب تقلیم الأظفار)۔

[2] حوالی باربار تیری شوی)۔

خرچ کوي؛ نوانشاء الله دهغه دا خرچ به د قيامت په ورځ ((انفاق في سبيل الله)) په مد کې شمارل کيږي. **ان شاء الله! ثم ان شاء الله!**

جواب: ۴ ستاسو څلورم سوال خوبالکل فضول او د احساس کمتري ښکارندوی. کاش! تاسو چې که دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه دا ارشاد مبارک ياد وي: (**نحن قوم اعزنا الله بالاسلام**) يعنې (موږ هغه قوم يو چې الله تعالى د اسلام په ذريعې عزت راکړی).

دمسلمانانو ذلت او پسماندګي د ټولونه غټه وجه داده چې شيطان ددوی په غوږونوکې پوکې وهلی دی چې که تاسو د اسلام په فلانی مسئلې باندې عمل وکړ او فلانی مصلحت به فوت شي، په دې ترقي يافته درو کې به خلک تاته څه وايي؟ حالانکې دمسلمان عزت د اسلام په حکمونو باندې عمل کولوکې دی او د اسلام په حکمونو پرېښودلوکې دهغوی د ذلت او رسوايي راز پټ دی، په قرآن کريم کې دی: (عزت د الله تعالى له پاره دی او دهغه د رسول صلى الله عليه وسلم له پاره او دايمان والاو له پاره، خو منافقان په دې خبرې باندې نه پوهيږي) [1] دمسلمانانو چې کوم حاکم د خدای او دهغه د رسول صلى الله عليه وسلم پابندوي، غيرمسلم هم هغه ته په عزت او حترام سره ګوري او هغه په پوره خوداعتمادي سره خبرې کولی شي، بيا غيبي تايد او د الله تعالى نصرت دهغه سره وي، ځينې غټ غټ عيسايان او سکان په اعلى ترين عهدو باندې لګيدلي او بيايې هم ډېره پرېښودې وي، چې دهغه ښه اثر پريوځي.

ډيرې ته حرام ويل څنګه دي؟

سوال: په يو اوسني اشاعت کې ((مسلمانوکی امتيازې نشان)) په عنوان سره د يوسائل د ږيرې متعلق دسوالونو جوابونه ورکړل شوي وو، په دې سلسله کې څه سوالونه زما په ذهن کې دي، ددې سوالونو په جواب راکولو دشکريې موقع راکړئ، بهتر به داوي چې ددې جواب په اخبارکې راکړئ ځکه چې کومو خلکو دا مضمون کتلی وي چې هغوی نور هم مطمئن شي.

په قرآن کې په واضح ډول بيان شوي دي چې دحلال او حرم اختياريوازې خدای ته دی، ددې نه پرته که څوک هم يو حلال حرام يا حرام حلال کړل هغه په الله تعالى باندې دروغ وويل. (النحل:۱۱۶، المائدة:۸۷وغيره) ددې تايد دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دارشاد مبارک نه کيږي چې الله تعالى په خپل کتاب کې چې کوم شی حلال کړی هغه حلال دی او کوم يې چې حرام کړی هغه حرام دی، دکومو شيانو په باره کې يې سکوت فرمايلی هغه معاف دي، لهذا دالله تعالى دا فياضي قبوله کړئ ځکه چې دالله تعالى نه هيره نه کيږي، بيا هغه دسورت مريم دايت تلاوت کړ:

ترجمه: او ستاسو رب هيرولو والانه دی) دڅه شي په حرام او حلال ګرځولوکې د امت دعلماوو

[1] قال تعالى: وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ (المنافقون:۸)۔

چې کومه رویه وه دهغه مطابق امام شافعي (رحمه الله) په ((کتاب الام)) کې دقاضي ابویوسف (رحمه الله) نه روایت کوي:

((ما ډیر اهل علم او مشائخ لیدلي دي چې هغوی فتوا ورکول نه خوښوي اودڅه شي ته دحلال او حرام ویلو په ځای چې دالله تعالی په کتاب کې چې څه دي ددې په پرته تفسیر بیانولوباندې اکتفا کوي، ابن سائب (رحمه الله) چې هغه ډیرمشهورتابعي دی، وایي چې: له هغه خبرې نه ځان بچ کړئ چې ستاسو حال دهغه سړي په شان شي چې هغه وایي چې الله تعالی فلانی شی حلال کړی دی، یاهغه ته خوښ دی او الله تعالی به دقیامت په ورځ وفرمایي: نه مادا حلال کړی و او نه ماته خوښ و، داسې ستاسو حال دی دهغه سړي په شان هم نه شي چې هغه وایي چې فلانی شی الله تعالی حرام کړی دی، خودقیامت په ورځ به الله تعالی وفرمایي: ته دروغژن یې، نه مادا حرام کړی و اونه مې ددې نه منع کړې وه، ابراهیم نخعي (رحمه الله) چې هغه دکوفې مشهورو فقهاوو تابعینو نه دی، نقل شوي دي چې: که دهغه اصحاب فتوا ورکوي؛ نو(دامکروه ده) یا په دې کې هیڅ حرج نه شته الفاظ استعمالوي، ځکه چې په څه شي باندې دحرام او حلال حکم لګولو نه زیات غیرذمه دارنه خبره نوره څه کیدای شي؟(بحواله اسلام مین حلال و حرام،یوسف القرضاوی)

دعلامه ابن تیمیه (رحمه الله) نه نقل شوي دي چې سلف صالحین دحرامو اطلاق په هغه شي باندې کوي چې دهغه حرمت په قطعي ډول ثابت وي، امام احمدبن حنبل (رحمه الله) دسوالونو په جواب کې فرمایي: (زه دا مکروه ګنم، ښه یې نه ګنم، یادا خوښیدو والانه دی).(بحواله ایضاً).

ذکرشویو دالله حکم ،حدیث او دفقهاوو له عمل نه واضحه کیږي چې هغوی به څه شی حرام یاحلال نه ګرځولو ترکومې پورې به چې هغه واضح شوی نه وو، ځکه چې دحرام او حلال کولو اختیار یوازې اویوازې الله پاک ته دی،بیاڅنګه دفقهاوو قول دڅه شي په حلال او حرام کې سند وي؟ هغه څه شي ته مکروه ویلی شي،ناجائز ویلی شي،دحلال اوحرام فتوا خونه شي ورکولی؟

یوبل حدیث دی حضرت جابر رضي الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دګوتو څټلو او دلوښي صفاکولو حکم فرمایلی دی او فرمایلي: چې تاسوته پته نه شته چې په کومه ګوته یانواله کې برکت دی؛ نوایا دډوډۍ خوړلو نه وروسته دګوتونه څټونکی او دلوښي نه صفاکونکی دحرامو مرتکب دی؟

ځکه چې دلته خو ښکاره حکم دی، داسې قسمه نور حدیثونه هم وړاندې کیږي، خوپه دې کې دچامتعلق دحرام فتوا نشي ورکولی، څنګه چې په شدت سره دږیرې دیوموټي په کمیدو باندې لګول کیږي (حالانکې نه خدای او نه دخدای رسول صلی الله علیه وسلم دا مقدار مقرر کړی دی).

جواب: دامت دعلماوو په نزد دیوموټي په مقدار برابر ږیره پریښودل واجب دي او خریل یادیوموټي نه کمه کټ کول حرام دي، شیخ ابن همام (رحمه الله) فرمایلي:

"واما الاخذ منها وهي دون ذلک کما یفعله بعض المغاربه ومخنثه الرجال فلم یبحه احد."

ددې نه دوه کرښې مخکې دي: "یحمل الاعفاء علی اعفائها من ان یاخذ غالبها او کلها کما هو فعل

المجوس الاعاجم من حلق لحاهم كمايشاهدفى الهنود..." (فتح القدير ج:۲ ص:۷۷).

ترجمه: او دږيرې کټ کول چې هغه له يوموټي نه کمه وي، څنګه چې ځينې مغربي ملکونو والاخلک او دهجړاګانو په شان سړي يې کوي، دا چاهم حلال او مباح نه دي ليکلي ---
------ او پوره ږيره صفاکول د هندوستان د يهودانو او د عجمو دمجوسيانو کاردی،

همدامضمون په شامي طبع جديد ج:۲ ص:٤۱۸، البحرالرائق ج:۲ ص:۳۰۲ او شيخ عبدالحق محديث دهلوي (رحمة الله عليه) فارسي شرح مشکوة ج:۱، ص:۲۲۸ کې هم دی، دفقهاء امت په دې اجماع او دمتفقه فيصلې نه وروسته دا ګڼل څه مشکل نه دي چې دږيرې پرېښودلو حکم د کومې درجې دئ؟ او د دې د کټ کولو او خريلو ممانعت د کومې درجې پورې دی؟ پرته له شکه څه شي ته حرام ويلوکې دډير احتياط نه کار اخيستل پکار دي، خوچې کوم شی په بالاجماع حرام وي هغه ته په جائزويلو کې هم دڅه کم احتياط ضرورت نه شته، يوحلال ته حرام ويل بده خبره ده؛ نو د اجماعي حرامو حلالولو کوشش هم څه ښه خبره نه ده.

داخوتاسوبالکل صحيح فرمايلي چې دحلال او حرام اختيارپوازې الله پاک ته دی. دالله تعالی حلال شوي شيان حرامول او حراموته دحلالولو حق چاته هم حاصل نه دی، ستاسو دا ارشاد هم په ځای دی چې سلف صالحين به په فتوا ورکولو کې ډيراحتياط کولو او کول هم پکار دي اوستاسوْدا وينا هم صحيح ده چې هريوحکم ديوې درجې نه وي، حکم کله داستحباب په درجه کې هم وي، بلکې کله دجواز په درجه کې هم، لکه څنګه چې فرمايلي دي: "**واذا حللتم فاصطادوا**" په دې ايت کريمه کې دښکارکولو حکم محض دجواز په درجه کې دی[1] داسې دڅه شي ممانعت کله د تحريم له پاره هم وي،کله دکراهت تحريمي په ډول، کله دکراهت تنزيهي په ډول اوکله يوازې دارشادپه ډول وي.[2]

ددې امرتعين کول چې کوم يوحکم دکومې درجې دی؟ او کوم يو ممانعت دکومې درجې دی؟ دا د امت د علماوو کار دی، زمااو ستاکار نه دی او داشې خو داجتهاد سره تعلق ساتي څکه

---

[1] واعلم ان صيغة الأمر حقيقة فى الوجوب كقوله تعالى: أقيموا الصلوة، وقدتستعمل فى معان كثيرة منها الندب كقوله تعالى: فكاتبوهم إن علمتم فيهم خيرا، والتاديب كقوله عليه السلام لابن عباس: كل مما يليك، وهوداخل فى الندب .... وللإرشاد كقوله تعالى: واستشهدوا.......... وللإباحة كقوله تعالى: كلوا مما رزقكم الله، وللإكرام كقوله تعالى: أدخلوهابسلام امنين... إلخ (تسهيل الوصول إلى علم الأصول ص: ۳۸، بحث الأمر)۔

[2] فذهب الجمهور إلى أن معناه الحقيقى هوالتحريم كقوله تعالى: لاتقربوا الزنى، وتستعمل صيغة النهى فى معان أخرى مجازًا منها الكراهة كقول عليه السلام: لا تصلوا فى مبارك الإبل والدعا كقوله ربنا لا تزغ قلوبنا وللإرشاد كقوله تعالى: لاتسئلوا عن أشياء... إلخ (تسهيل الوصول إلى علم الوصول ص: ٦٠)۔

په ځينو امورو کې د امت د علماوو په مينځ کې اختلاف هم پيدا کيږي چې يو امام يو شي ته جائز وايي؛ نو بل ناجائز. يو ورته واجب وايي: نو بل ورته سنت، خودږيرې په مسئله کې د علماوو هيڅ اختلاف نه شته.

بريت په قينچي سره وهول سنت او پټري سره صفا کول جائز دي

سوال: دږيرې متعلق شرعي حکمونه څه دي؟ غالبا داسنت ده، اصل مسئله دږيرې دنوعيت او د وضع قطع ده، په عامې مشاهدې کې خو رنګ په رنګ، مختلف قسمه ږيرې په نظر راځي. ځينې حضرات يې ډيره ګڼه او ښايسته ساتي، ځينې يې يوازې په زنه ساتي او ښي او ګس طرف ته د مخ ويښته خروي، په عربي ملکونوکې ددې عام رواج دی، ځينې دږيرې سره سره بريت هم پريږدي، ځينې په پټري سره بريت خروي، مهرباني به وي وضاحت وکړئ چې دحنفي عقيدې په مطابق اصل احکامات څه دي؟ زه ګڼم چې په دې باره به څه حدود او قيود وي او باقي انفرادي اختيار ته به هم دخل وي که داسې وي؛ نو هغه څه حدود دي، چې دکومو پابندي لازمي ده؟ په زنه باندې او ښي او ګس طرف دمخ باندې څومره ويښته پکار دي؟ چې په سائز کې څومره اوږده وي؟ بريت ساتل، کټ کول يا په پټري سره خريل کومه يوه صحيح طريقه ده؟ ايا دخټ لاندې طرف ويښته صفا کول سهي دي، وضاحت وفرمايئ.

جواب: په حديث پاک کې دږيرې غټولو او بريتونو صفا کولو حکم دی[1] په حنفي مذهب کې دږيرې غټولو کم نه کم حد دادی چې ږيره به په موټي کې ونيسئ کومه چې زياته وي هغه کټ کولی شئ، ددې نه زيات کټ کول جائز نه دي، ګويا ږيره کم نه کم يو موټې پکار ده.[2]

دبريتونو حکم دادی چې په قينچي سره کم کټ کول سنت دي او په پټري سره صفا کول دځينو په نزد صحيح دي او دځينو په نزد مکروه دي او دشونډو برابر که بريت کټ کړل شي؛ نو بيا هم جائز دي.[3]

بريت دسکانو په شان غټول حرام دي او کمول يې ضروري دي[4]، دخريلو دوه صورتونه دي، يو دا چې پوره بريت دې صفا کړل شي او دويمه خبره دا ده چې دشونډو سره دې دومره

---

[1] عن ابن عمرعن النبي صلى الله عليه وسلم : انهكوا الشوارب وأعفوا اللحى (بخارى ج:٢ ص: ٨٧٥)۔

[2] والقص سُنّة فيها وهو أن يقبض الرجل لحيته فإن زاد منها على قبضته قطعه كذا ذكر محمد فى كتاب الآثارعن أبي حنيفة، قال: وبه نأخذ، كذا فى محيط السرخسى (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٥٨، كتاب الكراهية)

[3] ويأخذ من شاربه حتّى يصيرمثل الحاجب كذا فى الضيائية (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٥٨، كتاب الكراهية)۔

[4] من تشبه بقوم فهومنهم (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٧٥، كتاب اللباس) وعن زيد بن أرقم أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من لم يأخذ من شاربه فليس منا (مشكوة ص: ٣٨١، باب الترجل، الفصل الثانى)۔

وخريل شي چې د شونډو سرخي ظاهره شي.[1]

د ږيرې خريلو ګناه په هر حال کې د انسان سره وي

سوال: د څه خلکو خيال دی چې بې ږيرې سړی په جومات کې اذان نشي کولی او نه هغه امامت کولی شي او څه خلک د دې خبرې په حق کې نه دي، زيات کوشش کوم او لمونځ په جمع سره کوم، ځکه ما په رمضان کې چې کله موقع ملاوشوه اذانونه مي هم کړي، ځلور وړځې مخکې ما په جومات کې اذان کولو: نو څه خلکو زه ځکه د اذان کولو نه منع کړم چې زما ږيره نه وه، اوس اهمه مسئله داده چې ايا څوک پرته د ږيرې نه اذان کولی شي او که نه؟ او زموږ په مذهب اسلام کې چې يو مکمل دين دی په دې باره کې څه ويل شوي دي؟ او د ږيرې زموږ په مذهب کې څه اهميت دی؟ ايا ږيره په هر مسلمان باندې فرض ده؟ ايا ږيرې نه پرته يو عبادت هم نه قبليږي؟ او ږيره څومره غټول پکار دي؟

جواب: ږيره پريښودل په هر مسلمان باندې واجب دي او د دې خريل او وړول (چې له يو موټي نه کمه وي) حرام دي[2] او داسې کولو والا فاسق او ګنهګار دی، د فاسق اذان[3] او امامت مکروه تحريمي دی[4] د ږيرې شرعي مقدار واجب يو موټی دی، پاتې شوه دا چې د هغه عبادت قبليږي او که نه؟ د دې علم الله تعالی ته دی، خو دومره خبره بالکل ظاهر ده چې کوم سړی د عين عبادت په حالت کې هم د الله تعالی نافرماني کوي، د هغه د قبلولو توقع ساتل به څنګه وي؟ د ږيرې خريلو ګناه داسې ده چې خوب، ويښه او هر حال کې د انسان سره وي.

---

[1] عن ابن عباس قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يقص أو يأخذ من شاربه وكان إبراهيم خليل الرحمن صلوة الرحمن عليه يفعله رواه الترمذى (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٨١) أيضًا: واختلف فى المسنون فى الشارب هل هو القص أو الحلق؟ والمذهب عند بعض المتأخرين من مشائخنا أنه القص قال فى البدائع: وهو الصحيح وقال الطحاوى القص حسن والحلق أحسن وهو قول علماؤنا الثلاثة، ثم قال فى الفتح: وتفسير القص أن ينقص حتّى ينتقص عن الإطار وهو بكسر الهمزة: ملتقى الجلدة واللحم من الشفة، وكلام صاحب الهداية على أن يحاذيه (ردالمحتار ج: ٢ ص: ٥٥٠) أيضًا: حلق الشارب بدعة وقيل سُنّة وفى الشرح: قوله وقيل سنة مشى عليه فى الملتقى وعبارة المجتبى بعد ما رمزللطحاوى حلقه سنة ونسبه إلى أبي حنيفة وصاحبيه والقص من حتّى يوازى الحرف الأعلى من الشفة العليا سنة بالإجماع (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧)۔

[2] قوله وهو أى القدرالمسنون فى اللحية ،، القبضة،، قال فى النهاية وما وراء ذالك يجب قطعه وأما الأخذ منها وهى دون ذالك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد (فتح القدير ج: ٢ ص: ٢٢٠)۔

[3] ويكره اذان الجنب وإقامته وإقامة المحدث لا أذاله على المذهب وأذان إمرأة وخنثى وفاسق ولو عالمًا (الدرالمختار ج: ١ ص: ٣٩٢، باب الأذان، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[4] وأما الفاسق فقدعللوا كراهة تقديمه بأنه لا يهتم لأمردينه، وبأن فى تقديمه للإمامة تعظيمه وقد وجب عليهم إهانته شرعًا (فتاوى شامي ج: ١ ص: ٥٦٠، باب الإمامة، طبع ايچ ايم سعيد)۔

واده کول زیات اهم دي که ږیره پرېښودل

سوال: زه یو ناواده کړی ځوان یم، اوس زما دواده پروګرام تیارېږي، په دوو ځایونوکې یوازې دږیرې پرېښودلو له وجې انکار وشو او په دریم ځل همدا شرط کېښودل شو، داسې زما له پاره یوه سختي پیدا شوه، ځکه چې دمجرد په حیثیت سره زه همیشه ژوندنه شم تیرولی او دګناه ارتکاب ممکن دی، جناب ته ګزارش دی چې په ږیره او واده کولوکې په اسلام کې دکو یو فضیلت دی؟ په دواړو کې کوم یو عمل زیات اهم وګڼل کیږي؟ ستاسوبه ډیره مهرباني وي په دې سلسله کې زما حوصله افزایي وکړئ او ماته مفیده مشوره راکړئ اوزماد مورو پلار مشوره داده چې دواده کولو نه وروسته تاسو ږیره بیا پرېښودلئ شئ، خوواده په نن سبا درو کې ناممکن خونه ده خومشکل ده، ځکه چې دواده تعلق دعمر سره دی.

جواب: دږیرې او واده اهمیت په خپل ځای دی، ږیره دټولو انبیاءکرامو(علیهم السلام) متفقه سنت، دسرې فطرت او اسلام شعار دی، حضورپاک ﷺ دږیرې پرېښودلو باربار حکم فرمایلی[1] او ددې په صفاکولوېې د غیظ او غضب اظهار فرمایلی دی، همدا وجه ده چې ږیره پرېښودل بالاتفاق واجب دي او خریل یا دیوموټي نه دکمیدو په صورت کې کټ کول بالاتفاق حرام او ګناه کبیره ده[2] کوم خلک چې ږیرې ته دنفرت په نظر سره په کتلو د واده له پاره دږیرې صفاکولو شرط لګوي او د یو سنت نبوي ﷺ داسلام دشعار توهین کولوله وجې دایمان نه خارج دی، تاسوته دواده له پاره دږیرې صفاکولو فکرنه دی پکار، بلکې هغو خلکوته دایمان دتجدید فکرکول پکاردي.[3]

---

[1] عن ابن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحیة، وفی روایة:عشرمن الفطرة قصّ الشارب وإعفاء اللحیة ...إلخ قال النووی: ومعناه أنها من سُنن الأنبیاء صلوات الله وسلامه علیهم وقیل هی الدین شرح الكامل للنووی بهامش مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۸، ۱۲۹)۔

[2] وأما الأخذ منها وهی دون ذالك كمایفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم یبحه أحد وأخذ كلهافعل یهودالهند ومجوس الأعاجم (الدرالمختار: ۲ ص ۴۱۸، باب مایفسد الصوم م وما لایفسده فتح القدیر ج: ۲ ص: ۲۷۰)۔

[3] من استخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوه مما یعظم فی الشرع كفر (شرح فقه أكبر ص: ۱۶۷، فصل فی القراءة والصلاة، طبع قدیمی) وفی الشرح الوهبانیة للشرنبلالی: ما یكون كفرًا إتفاقًا یبطل العمل والنكاح ..... وما فیه خلاف یؤمربالإستغفار والتوبة وتجدید النكاح (ردالمحتار ج: ۴ ص: ۲۴۷، باب المرتد، طبع سعید كراچی)۔

د نايي له پاره ږيره خريل او غير شرعي ويښته جوړول

سوال: زه پنځه وخته لمونځ کوم. يوه ورځ مې د ... بن لمونځ وکړ اوويده شوم، په خوب کې وينم چې څوک ماته وايي چې ظالمه! ته به دقيامت په ورځ خداى ته څه جواب ورکوې؟ چې ته دخوږ نبي ﷺ سنت پرې کوې (ږيره خريې) زه ... ... نونوکار کوم. تاسو مهرباني وفرمايئ جواب راکړئ چې زه څه وکړم؟ ايا دا کار پريږدم؟

جواب: ستاسوخوب ډير مبارک دى. ږيره خريل حرام دي[1] د حرامه پيشه اختيارول ديومسلمان دشان سره نه ښايي، تاسودويښتو وړولو کار ضرور کوئ، خودږيري خريلواو دغيرشرعي ويښتانو جوړولو نه انکار کوئ.

ايا ږيرې پورې خندا کونکى مرتد دى حالانکه ږيره سنت ده؟

سوال: (۱۹دسمبر ۱۹۸۲ء) په (جنګ) ورځپانه کې تاسو په خپل ... ... مسائل اودهغو حل) کې دمحترم سيدامتيازعلي صاحب ديوسوال جواب ورکړى ... ... دږيرې والاوو پورې دخنداکولو په باره کې کړى و، ستاسويه جواب سره داسې واضح ... چې دږيرې پورې خندا کولو والا مرتد دى اوداسلام نه خارجيږي اوږيره پريښودل سنت ... ... پورې خندا کولو والا ياانکار کولو والا داسلام نه خارج يا مرتدنه وي، خو ګناهګار وي ... فرضوانکار کولو والا مرتد اوداسلام نه خارجيږي ددې نه زما منشا هرګزنه وه چې دږيرې دې انکار يا دې ورپورې خندا وکړل شي (نعوذبالله) دا سخت دګناه کار دي، بلکې مقصود مې دا ... حې دشريعت په رڼاکې دې صحيح فتوا جاري کړل شي.

جواب: ږيره پريښودل يوازې سنت نه، بلکې واجب دي اوددې خريل او وړول حرام او ګناه کبيره ده[2] دحضور پاک ﷺ په څه خبره باندې عمل نه کول ګناه ده، خوددين دڅه خبرې يا دحضور پاک ﷺ ديوسنت پورې خندا کول يوازې ګناه نه، بلکې کفر او ارتداد دى او په دې سره سړى واقعي د اسلام ددائرې نه بهر وځي[3]، ځکه چې دحضورپاک ﷺ ديوسنت پورې

---

[1] والأخذ منها وهى دون ذالك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد فتح القدير ج: ۲ ص: ۲۸۰، الدرالمختارج: ۲ ص: ۴۱۸، باب مايفسد الصوم وما لايفسده)_

[2] وأخذ أطراف اللحية والسنة فيها القبضة.......... يحرم على الرجل قطع لحيته (الدرالمختار ج: ۱ ص: ۴۰۷) وأماالأخذ منها وهى دون ذالك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد، وأخذكلها فعل يهود الهند ومجوس الأعاجم (الدرالمختار ج: ۲ ص: ۴۱۸، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده)_

[3] قال إن الهمام: وقدكفرالحنفية من واظب على ترك السنة إستخفافًا بها بسبب أنها فعلها النبى صلى الله عليه وسلم زياده أو إستقباحها ...إلخ (شرح فقه الأكبر ص: ۱۵۲) أيضًا: من ..[بقيه په راروانه صفحه.

خندا کول یا دا بدګڼل او د نفرت به نظر سره ورته کتل په اصل کې د حضور پاک ﷺ توهین او بې عزتي او د حضور پاک ﷺ پورې خندا کول دي. ایا څوک --- نعوذبالله! د حضور پاک ﷺ بې عزتي کولو او د حضور پاک ﷺ پورې خنداکولو نه وروسته هم مسلمان پاتې کیدای شي؟ ایا د کوم سړي په زړه کې چې د ماشي د وزر برابر ایمان هم وي هغه د حضور پاک ﷺ یو مبارک سنت پورې د خنداکولو جرات کولای شي؟ او که څوک بدبخته ددې جرات هم وکړي: نو د هغه ایمان به قي پاتې کیدای شي؟ چیرې هم نه! چیرې هم نه ---------! ایمان خو د منلو او تسلیمولو نوم دی ... د حضور پاک ﷺ دیو وړوکي نه دوړوکي سنت پورې هم خندا وکړي یا ... ته د نفرت په نظر سره وګوري، ایا هغه د ایمان او تسلیم مظاهره وکړه یا د شیطان په شان د کبر ... نحوست او د کفر او عناد -------؟ دا نکته د قرآن کریم، احادیثونه او د امت د علماوو ارشاداتو ... بالکل واضحه ده چې دیو سنت پورې خندا کولو والا مسلمان نه دی، کافر او مرتد دی. ... باب چې څه فرمایلي چې د سنت پورې خنداکولو سره سړی یوازې ګناهګار هیږي او د فرضو پورې خنداکولو سره کافر او مرتد کیږي، دا اصول صحیح نه دي، صحیح دا دي چې د دین د څه خبرې پورې خندا کول کفر او ارتداد دی.[1]

ږیره د مسلمانانو د تشخص اظهار دی

سوال: د جمعې په اشاعت کې مې یو مضمون له نظره تیرشو، مضمون نګار په خپل دې مضمون کې نه یوازې ددیرې زیاتې انتهاپسندي مظاهره کولو سره په نظر راته، بلکې هغه دیوې داسې الزام تراشۍ مرتکب شوی دی چې د هغه تصور هم یو مسلمان نشي کولی، مضمون نګار په خپل دې مضمون کې دا لیکلي دي چې: «الله تعالی انسان د سړي او ښځې د جوړې نه پیدا کړی دی، د دواړو په نفسیاتو، جذباتو او مخونوکې یې ښکاره فرق ایښی دی، د سړي په مخ باندې یې د ښځې د مخ په مقابله کې د سړي د وجاهت له پاره ږیره پیدا کړه، بلکې ښایسته یې پرې خوره کړې ده، خوافسوس چې نن د ایمان دعوه کونکو د الله تعالی ددې بهترین تخلیق نه انکار کړی، بلکې د دښمنۍ سره یې، دا انساني فطرت ردکړی دی، دایې

...بقیه د تیرمخ]..إستخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوه أو ممایعظم فی الشرع کفر (شرح فقه الأکبر ص: ١٦٧) أیضًا: من استخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوه مما یعظم فی الشرع کفر (شرح فقه الکبر فصل فی القراءة والصلاة)۔

[1] قال فی المسیرة........کفرالحنفیة بالفاظ کثیرة........ أو إستقباحها کمن إستقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه أو إحفا شاربه ... إلخ (المسایرة مع المسامرة ص: ٣٢٧) أیضًا: من استخف بالقرآن أو بالمسجد أو بنحوه مما یعظم فی الشرع، کفر (شرح فقه الأکبر فصل فی القراءة والصلاة)۔

دخپل مخ نه لرې غورخولې ده، دا خبرهم علومه ده چې الله تعالى يو شى هم بې كاره پيداكړى نه دى، بس يوشى يې بې كاره پيدا كړى دى هغه دسړي په مخ باندې ږيره ده (معاذالله) زه ګېم چې ددنيايومسلمان هم په دې خبره باندې ايمان نه ساتي چې الله تعالى ږيره بې كاره پيداكړې ده، دا د ډاكټرصاحب الزام تراشي ده چې هغه دا په ټولو انسانانوباندې كوي. ددې نه په مخكې تلو موصوف په صحيح مسلم اومشكوة احاديث بيانولو نه وروسته دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه يو روايت هم بيان كړى دى چې: (دالله رسول ﷺ فرمايلي چې: په هغوسړيو دې لعنت وي څوک چې دښځومشابهت كوي اوپه هغوښځودې لعنت وي كومې چې دسړيو مشابهت كوي) ددې نه وروسته هغه ليكلي چې دږيرې نه پريښودونكو دعيسايانو دمخ سره محبت، دهندوانو دمخونوسره محبت، سړي وي او دښځو په شان مخ سره محبت او دالله درسول ﷺ دمخ مبارک نه نفرت (معاذالله)، دټولوانبياوو (عليهم السلام) د مخونو نه نفرت، دصحابه كرامو رضي الله عنهم د مخونو نه نفرت (معاذالله) دادى ايمان، داده درسول الله ﷺ اطاعت او فرمانبرداري، په ذكرشوي خط كې مضمون نګار داسې يوه خبره كړې ده، يوداسې الزام يې لګولى دى چې دهغه تصور يوداسې مسلمان سره هم نه شي كيدلى چې هغه يوازې دنوم مسلمان وي او هغه ترننه پورې يوعمل هم دمسلمانانوپه شان نه وي كړى، بياهم دهغه په زړه كې دنبي پاک ﷺ مخ مبارک سره او دصحابه كرامو رضي الله عنهم دمخ مبارک دومره زيات محبت دى چې دهغه تصور هم شايد نه شي كولى، يومسلمان په خپل زړه كې دانبياء (عليهم السلام) او د صحابه كرامو رضي الله عنهم نه دنفرت تصور خوپه ذهن كې چيرې راوستلى نه شي، تاريخ دداسې مثالونونه ډک دى چې درسول الله ﷺ په نوم باندې ځان قربانونكي، دصحاب كرامو رضي الله عنهم په محبت كې خپل سرپورې قرباني والاعام مسلمانان وو، په اخركې، زه مضمون نګار صاحب ته درخواست كوم چې دخداى له پاره داخرت سوال جواب ځان ته مخكې كيږده او په عامو مسلمانانو باندې ددې خبرې الزام مه لګوه چې دهغه تصور هم هغوى نه شي كولى، زموږ په معاشره كې چې زه وايم چې نوي(۹۰) فيصد غيراسلامي معاشره ده، بې شميره سنتونه يې پريښي دي، خوپه دې سنتونوباندې دعمل نه كولو مطلب دا نه دى چې (معاذالله) عام مسلمان داګناه دنبي كريم ﷺ سره دنفرت يا دصحابه كرامو رضي الله عنهم سره دنفرت په بنيادباندى كوي، بلكې داګناه هغه يقينا دګناه داحساس ساتلوسره دمعاشرې دخرابي له وجې كوي، بلكې زه خوبه دا ووايم چې دا ګناه دهغه نه دكم عقلي له وجې كيږي، دنورو ګناهونو اخته كيدو دا مطلب نه دى چې دنبي كريم ﷺ يادصحابه كرامو رضي الله عنهم نه نفرت كوي؛ نودږيرې نه پريښودلو دا مطلب له كوم ځاى نه دى چې دا (معاذالله) نبي كريم ﷺ يا دصحابه كرامو رضي الله عنهم نه نفرت دى؟ د خداى له پاره! دداسې ليكلو نه منع شئ چې په هغه كې د الزام لګولو نه سوا هيڅ نه وي، دداسې الفاظ استعمالولو نه پرهيز وكړئ چې په هغه سره خلک دنبي كريم ﷺ اودصحابه كرامو رضي الله عنهم نه دبې عزتي مطلب واخلي، دهمداسې ليكلو نه خلک فايده اوچتوي

او دالزام لګولو سلسله شروع کيږي.

جواب: ستاسودا وينا صحيح ده چې د ګناهګار نه ګناهګار مسلمان هم د الله تعالى سره، دنبي کريم ﷺ سره او صحابه کرامو رضي الله عنهم سره محبت لري، خومحبت په زړه کې پټ شی دی اوددې اظهار دانسان په حرکاتو سره کيږي. کله چې خلکوته معلومه شوه چې ږيره دنبي کريم ﷺ سنت ده، حضورپاک ﷺ ددې دغتبولو حکم فرمايلی دی او ددې په خريلو باندې تردې پورې دغوسې او غضب اظهار فرمايلی دی چې داسې خلکوته يې د مجلس نه د پاڅېدو حکم وفرمايلو او دا چې زه تاسو سره خبرې نه کوم.(تارخ ابن کثير (رحمه الله) ج:٤،ص:۲۶۹)[1] له دې وجې د امت ټولو علماوو ږيره خريل حرام او کبيره ګناه ګرځولې ده[2] کوم مسلمان چې دحضورپاک ﷺ ددې تاکيدي حکم خلاف د نصاراوو او مجوسيانو مشابهت کوي، دهغه په باره کې څه رايه قائمه شي؟ ږيره خريل دښځوسره مشابهت دی او دښځومشابهت کولو والا باندې الله تعالى لعنت فرمايلی دی[3]، ايايومسلمان چې دهغه رسول الله ﷺ سره ريښتونې مينه وي، هغه به دا ملعون کار وکړي؟ داخوتاسو صحيح فرمايلي چې ځينې مسلمان په غيرشعوري ډول دمعاشرې د خرابي له وجې په دې ګناه کې اخته شوي دي، خوډيرخلک داسې دي چې هغه دږيرې نه نفرت کوي، ږيرې پورې خنداکوي او داوايي چې: (ږيره وخريه،ګني انجيلۍ نه درکوو) او ډير موروپلار خپل ځوانان بچي په دې ګناه باندې مجبوروي، اياددوی په باره کې هم دا وويل شي چې ددوی حضور پاک ﷺ سره محبت دی؟ زه ددوی په زړه کې دپټ محبت انکار نه کوم، خوددوی طرز عمل دمحبت مخالفت کوي، بلکې دحضورپاک ﷺ سره ضد او دعناد مظاهره کوي، الله تعالى دې موږ ټولو ته دحضورپاک ﷺ ريښتونې محبت نصيب وفرمايي.

ايا د ږيرې خريونکي عبادت قبليږي؟

سوال: څوک چې ږيره نه پريږدي يا د سنت خلاف ږيره پريږدي، ايا دهغوی عملونه قبليږي او که نه؟

جواب: دا خوبه قبلونکي ته معلومه وي، خوچې کوم سړی دعبادت په موقع باندې هم دالله

---

[1] ...... ودخلا على رسول الله صلى الله عليه وسلم وقد حلقا لحاهم وأعفيا شواربهما فكره النظر إليهما وقال ويلكما من أمركما بهذا؟ قالا أمرنا ربّنا، يعنيان كسرى، فقال رسول الله عليه وسلم: ولكن ربّي أمرني بإعفاء لحيتي وقص شاربي، ثم قال: إرجعا حتّى تأتياني غدًا (البداية والنهاية ج: ٤ ص: ٢٧٠، طبع دارالمعرفة بيروت)

[2] حواله سابقه)۔

[3] عن ابن عباس قال: لعن النبى صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخارى ج: ٢ ص: ٨٧٤، باب المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال)۔

تعالی دنافرماني علامې سره ولاړ وي، هغه ته نه په دې باندې ملامتیاوي، نه هغه ددې نه توبه کوي، دهغه عبادت قبلول پکار دي اوکه نه؟ ددې فتوا د خپل خدای درکړي عقل نه وکړئ ....! مثلاً: کوم سړی چې دحج په دوران کې هم ددې ګناه نه توبه ونه باسي اونه دحج نه وروسته ددې نه منع شي، څه خیال مودی چې دهغه حج به، حج مبرور وي؟ اودحج مبرور دهغه حج نوم دی چې دخدای تعالی دنافرماني نه پاک وي.[١]

❖ جسماني وضع قطع ❖

....

انساني وضع قطع او اسلامي تعلیم

سوال: داسلام په افاقي نظام حیات(دژوندقانون) کې دانسان له پاره دوضع قطع ، ډیزاین ، لباس اوداسې نورو... باره کې څه اصول، قواعد او ضوابط وضع شوي دي؟ یادا چې په ظاهري شکل او شباهت د اصولو او ضوابطو بندشونونه ازاد کړي دي، نن د موجوده مسلمان نه خویو عام مسلمان په دې ضمن کې څه نتیجې ته درسیدو نه قاصردی، دعلامه اقبال په شان فلسفي او علم والا دمسلمان ظاهري حالت کتلو سره فرمایلي و:

وضع مین تم هو نصاری ، تو تمدن مین هنود
یه مسلمان هین جنهین دیکھ کے شرمائین یهود

دا هم ضرور وضاحت کړئ چې پتلون او ټائي د غیرمسلمو دنښو نه دي اوکه نه؟ اوڅوک چې په دې عامل وي، هغه خلک دغیرمسلمو دتقلید په وعید کې به راځي اوکه نه؟

جواب: دوضع قطع په باره کې دا اصول مقررشوي دي چې دالله تعالی د مقبولو بندګانو وضع قطع دې اختیار کړل شي اودفاسقو، بدکارو او کافرانو دوضع قطع نه دې اجتناب وشي، دا په شکل او صورت کې هم ، د لباس په تراش خراش کې هم، په نشست او برخاست کې هم ، خوراک څښاک کې هم ،په ملاقات اوراشه درشه کې هم.[٢]

---

[١] عن أبي هريرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من حَجَّ لِلّٰه ولم يرفُث ولم يفسق، رجع كيوم ولدته أمّه، وفي رواية: قالت: يارسول الله ! ترى الجهاد أفضل العمل أفلاَ نُجاهد؟ قال : لا لكن أفضل الجهاد حجٌّ مبرور (بخارى ج: ١ ص: ٢٠٦) أيضًا: أن الحج المبرورعلى مانقله العسقلانى عن ابن خالو به المقبول وهو كماترى أمره مجهول وقال غيره هوالذى لايخالطه شيء من المعاصى ورجحه النووى وهذا هوالأقرب وإلا قواعد الفقه أنسب ....وقيل الذى لا رياء فيه ولاسمعة ولارفث ولافسوق وهذا داخل فيماقبله وقيل الذى لامعصية بعده ...إلخ (إرشادالسارى ص: ٢٢٢ طبع دارالفكر بيروت)۔

[٢] وعنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهومنهم،..[بقيه په راروانه صفحه.

پاتي او کالر په اصل کې دعیسایانو مذهبي شعار و. اوس په ښکاره ډول دیو خاص قوم خصوصیت نه دی پاتې شوی، خودخپل اصل په لحاظ سره مکروه ده او پتلون شرټ هم ددې خلکو شعار دی. ددې داختیارولو والاپه حق کې دحدیث دوعید اندیښنه ده. والله اعلم[۱]

دښځې وروېځې جوړول شرعا څنګه دي؟

سوال: زما یوه ملګرې دا وایي چې وریځې جوړول دګناه خبره نه ده. خکه چې دوړوکي بچي ویښته په وړو سره مرلوباندې لرې کیږي؛ نودغتیدونه وروسته دوریځو ویښته لیرې کول غلطه خبره خونه ده.

جواب: په حدیث شریف کې خوپه داسې ښځوباندې لعنت راغلی دی. بیابه دا ګناه ولې نه وي؟ "**عن ابن عمر رضی الله عنه قال: لعن النبی صلی الله علیه وسلم الواصله والمستوصله والواشمه والمستوشمه**". (صحیح بخاری ج:۲.ص:۸۷۹).

ترجمه (حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لعنت فرمایلی دی په ویښتو جوړونکې باندې او جوړولو والاباندې او په خال وهونکې اوخال وهلو والاباندې)

دښځو د فیشن له پاره ویښته او وریځې کټ کول

سوال: ایاپه شریعت کې جائز دي چې ښځې دې خپلې وریځې جوړې کړي او نورو ته دې وښيي او اصلي وریځې وخروي په رانجو یا څه ډیوبل تورشي سره دې نقلي جوړې کړي اوڅه کم یازیات ویښته پریږدي؟ نن سبا په ټول ملک کې کم نه کم زمادخیال مطابق (۷۵) فیصده تعلیم یافته ښځې ویښته کټ کړې ګرځي او ددوی په سرونو باندې لوپټې هم نه وي،که دچاسره لوپټه وي هم: نوپه غاړه کې یې درسۍ په څیر اچولې وي اوکه دوی ته ووایي چې دا په اسلام کې جائز نه دي؛ نو جواب ملاویږي چې اوس دترقۍ دور دی، په دې کې هرڅه جائز دي اوبیاسړي هم ویښته کټ کوي اوموږ دسړیو سره اوږه په اوږه ځو اومغربي خلک هم ویښته کټ کوي، چې هغوی زموږ نه زیاته ترقي کړې ده.

جواب: ددې مسئلې حل واضح دی چې د اسې ښځو ته نه دخدای او نه درسول صلی الله علیه وسلم ضرورت شته. نه ددین اسلام. دوی ته د ((ترقي)) ضرورت دی، خوله مرګ نه وروسته به ددې حقیقت

...بقیه د تیرمخ]... أی من شبه نفسه بالکفارمثلًا فی اللباس وغیره أو بالفساق أو الفجار أو بأهل التصوّف والصلحاء الأبرارفهو منهم أی فی الإثم والخیر...إلخ (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٣١، کتاب اللباس، الفصل الثانی، طبع بمبی)۔

[۱] فاما ممنوعون من التشبّه بالکفروأهل البدعة المنکرة فی شعارهم ......فالمدارعلی الشعار...إلخ (شرح فقه الأکبر ص: ٢٢٨، طبع مجتبائی دهلی)۔

معلوم شي، کوم سړی چې په الله تعالی او دهغه په رسول ﷺ باندې ایمان لري، هغه ته پکار دي چې هغه په هرکار کې دالله او رسول ﷺ حکم ته لازمي وګوري.[1]

ایا ښځې د مخ او لاسونو ویښتان صفا کولی شي؟ او د وریځو حکم

سوال: زما په مخ او لاسونو باندې ډیر ګڼ ویښتان دي، ایا زه دا ویښتان صفا کولی شم، په دې کې څه ګناه، خونه شته؟

جواب: صفا کولی یې شئ.[2]

سوال: زما وریځې په خپلو کې ملاو شوې دي، وریځې نه جوړوم، خو د وریځو بېلولو له پاره د مینځ نه ویښتان صفا کوم، ایا زما دا عمل صحیح دی؟

جواب: دا عمل صحیح دی.

سوال: اکثرچې کله ویښتان غټ شي؛ نو دهغه دوه سرونه راوځي، چې دهغه له وجې ویښتان یوبل سره ونښلي، په داسې صورت کې دو ویښتانو سرونه کټ کول، ایا ګناه ده؟

جواب: په دې صورت کې د سرونو کټ کولو اجازت دي.

د ښځو بانه جوړول څنګه دي؟

سوال: اینجلۍ چې نن سبابانه جوړوي، ایا دا جائزدي؟ ما په یو کتاب کې لوستلي و، چې د ښځې د جسم سره اوسپنه لګول حرام دي، ایا دا درست دي؟

جواب: د بانو جوړولو کار جائز نه دی، حضورپاک ﷺ په دې باندې لعنت فرمایلی دی، جوړونکي والا باندې هم او چې څوک یې جوړوي په هغوی هم.

"عن ابی ریحانه قال: نهی رسول الله ﷺ عن عشر عن الوشر والوشم والنتف رواه ابو داؤد والنسائی)". (مشکوة ص:۳۷۶)

ترجمه: (دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ د لسو(۱۰) شیانونه منع فرمایلې ده، د ویښتوسره ویښته لګولو نه، په جسم باندې داغونه لګولونه اود ویښتو ویستلو نه ----- الخ)

[1] قال تعالی: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (الحشر:۷)

[2] وإلا فلو كان فی وجهها شعرینفرزوجهاعنهابسببه ففی تحریم إزالة بعد، لأن الزینة للنساء مطلوبة للتحسین... إلخ (ردالمحتار ج: ٦ ص: ۳۷۳ کتاب الحظروالإباحة،، طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

د ښځې له پاره د مخ او لاسونو ویښتان کټ کول څنګه دي؟

سوال: ایا د ښځوله پاره د مخ، لاسونو او د وریځومینځ صفا کول ګناه ده؟ جواب ضرور راکړئ.

جواب: محض د ښایست له پاره، خو فطري جوړښت بدلول جائزنه دي، حضورپاک ﷺ دویښتو په خپله ویستونکي یاخلکوته ویستونکو باندی لعنت فرمایلی دی (مشکوٰة شریف ص:۳۸۱)[1] البته که د ښځې په مخ باندې غیرضروري ویښتان راشي؛ نو دهغودصفاکولو علماوو اجازت لیکلی دی، داسې چې دکومو ویښتانوڅخه دخاوند نفرت وي دهغو دصفا کولو اجازت یې هم ورکړی دی،(ردالمحتار، کتاب الحظر والاباحه)[2] (خوله دې نه دي دسرد ویښتانو اجازت ونه ګڼل شي).

سوال: ایا غټیدونکي نوکونه مکروه دي.

جواب: بالکل! سخت مکروه دي.[3]

د ښځې له پاره د سرد ویښتا نو دوه کمڅۍ جوړول څنګه دي؟

سوال: مسئله داده چې زه دکالج طالب علمه یم او اکثر دوه کمڅۍ تړم، خو یوه ورځ زما ملګرې ماته وویل چې: د دوو کمڅو تړل سخته ګناه ده اوماته یې دقبر دمړي حال وویلو چې دهغه دېښوپه ګوتوکې ویښتان نښتلي و، مادتصدیق له پاره خپلې ترور نه پوښتنه وکړه؛ نوهغې هم ماته هم دا وویل چې داګناه ده او ورسره دا یې هم وویل چې میک اپ کول، تنګې جامې او دفیشن جامې اچول هم ګناه ده او ورسره هم هغه واقعه چې ماته خپلې ملګرې اوروله وه، واوروله، له هغې ورځې نه ترننه پورې ما دوه کمڅۍ نه دي جوړې کړې، خوزمادبلې

---

[1] عن عبدالله بن مسعود قال: لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله، فجاءته إمرأة فقالت: إنه بلغني أنك لعنت كيت وكيت، فقال: مالي لا ألعن من لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم، ومن هو في كتاب الله ...إلخ (مشكوة ص: ۳۸۱، باب الترجل، الفصل الأوّل)۔

[2] .... وإلا فلوكان في وجهها شعرينفرزوجهاعنهابسببه ففي تحريم إزالته بعد، لأن الزينة للنساء مطلوبة للتحسين...إلخ(ردالمحتار ج: ٦ ص: ۳۷۳ كتاب الحظروالإباحة،، طبع ايچ ايم سعيد كراچي) أيضًا: قطعت شعررأسها أثمت ولعنت...... والمعنى المؤثرة التشبه بالرجال الدرالمختار ج: ٦ ص: ٤٠٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل في البيع)۔

[3] عن أنس قال: وقت لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في قص الشارب وتقليم الأظفار......... أن نترك أكثر من أربعين ليلةً (مشكوة ص: ۳۸۰، باب الترجل) والأفضل أن يقلم أظفاره ويحفى شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالإغتسال في كل أسبوع مرة، فإن لم يفعل ففي كل خمسة عشريومًا، ولا يعذر في تركه وراء الأربعين ويستحق الوعيد (عالمگيرية ج: ٥ ص: ۳۵۷)۔

ملګرې وينا ده چې دا ټولې دوهم پرستۍ خبرې دي. هغه ضدهم کوي چې زه دوه کمڅۍ جوړې کړم. ستاسو به ډيره مهرباني وي ماته ددې هفتې په صفحه کې جواب راکړئ او ددې پريشانۍ نه مې ازاده کړئ. زه به ستاسو ډيره شکرګزاره يم

جواب: په دې مسئله کې يوه اصلي قاعده باندې پوهيدل پکار دي چې د مسلمان له پاره د داسې وضع قطع او د لباس د داسې کولو اجازه نه شته. چې په هغه کې د کافرانو يا فاسقانو او بدکارو مشابهت ومونډل شي. که څوک سړی (که هغه مؤمن سړس وی يا ښځه) داسې وکړي؛ نو هغه ته د کافرانو شکل او صورت محبوب دی او دا خبره د الله تعالی د ناراضي موجب ده، د دوو کمڅيو فيشن هم غلط دی.[1]

دارايشګاه (بيوټي پارلر) شرعي حکم

سوال: زموږ په ښار کراچۍ کې ډيرې زياتې ارايشګاوې (بيوټي پارلرز) دي. په اسلام کې ددې په باره کې څه حکم دی؟ د ښار په مصروف کاروباري مرکزونوکې د سړيو حضراتو سره دارايشګاه دوکانونه خلاص شوي دي، مهرباني به مووي په شرعي لحاظ سره ددې له پاره څه حکم دی، ويې ليکئ؟ ايا سړی او ښځه يوځای کاروبار کولی شي؟

سوال: ۲ ايا د ښځوله پاره دارايشګاه (بيټي پارلر) کار زده کول او دا د پيشې په ډول خپلول په اسلام کې جائز دي؟

سوال: ۳ په ارايشګاه کې چې په کوم انداز سره د ښځو جوړول او ښايسته کول کيږي. ايا هغه په اسلام کې جائز دي؟ خکه چې له ارايشګاه بهرته راتلونه وروسته په ښځه او سړي کې فرق کول مشکل کيږي. زموږ په ارايشګاوکې چې د ښځو ويښتان په کوم انداز سره کټ کيږي. ايا دا په شرعي لحاظ سره جائز دي؟

سوال: ۴ دځينې ارايشګاو (بيوټي پارلرز) له وجې د ښځو د سپلائي کولو کاروبار هم کيږي. په شرعي لحاظ سره د داسې کاروبار څه حکم دی. چې په هغه سره په ملک کې فحاشي خوره شي؟

جواب: ښځوته خود ارائش او ځان سازولو اجازت دی. خو په دې شرط چې دحدود دننه وي. خو په موجوده دور کې دارائشګاه چې دا کومه (پيشه) کيږي په دې کې څه داسې غلطيانې دي

---

[1] عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهومنهم رواه أحمد وأبوداؤد وابن ماجة وفى رواية عن ابن عمرو بن العاص قال: رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم علىّ ثوبين معصفرين فقال: إن هذه من ثياب الكفار فلاتلبسهما (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٧٤، ٣٧٥) وفى المرقاة ج: ٤ ص: ٤٣١. كتاب اللباس : من شبه نفسه بالكفارفى اللباس وغيره أو بالفساق أوالفجار أوبأهل التصوف والصلحاء الأبرار. ..فهومنهم.، أى فى الاثم والخير قال الطيبى: هذا عام فى الخلق والخُلق والشعار. ولما كان التشعارأظهر فى الشبه ذكرفى هذا الباب)۔

چې د هغو له وجې دا پیشه حرامه ده او هغه خرابیانې په لنډ ډول دادي

اول ښځې خای سړي دا کار کوي او دا خالص بې حیایي ده

دویم داسې ښځې په بازارونو کې د حسن نمایش کوي ګرځي، دا هم بې حیایي ده

دریم څنګه چې تاسو په دریم نمبر کې لیکلي دي، دارانشګاه نه بیرته راتلونه وروسته په سړي او ښځه. هلک او اینجلۍ کې فرق کول مشکل کیږي، حالانکې د سړیو د ښځو او د ښځو د سړیو سره مشابهت کول د لعنت موجب دي.[1]

څلورم څنګه چې تاسو په څلورم نمبر کې لیکلي دا د حسن مرکزونه، د فحاشي خفیه اډې هم دي

پنځم عامه تجربه داده چې داسې کاروبار کولو والاو (که هغه سړي وي یا ښځه. د دین او ایمان سره هیڅ واسطه نه پاتې کیږي. ځکه دا ظاهري زیبایش د باطني خرابي ذریعه هم ده

د ښځو ویښته کټ کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: ایا د کټ شویو ویښتانو او د نرۍ لوپټو سره (څنګه چې نن سبا چلیږي. د جارجیټ وغیره لوپټې) لمونځ کیږي او که نه؟ د کټ شویو ویښتانو هم ووایئ، ځکه چې نن سبا د زیاتو نجونو ویښتان کټ شوي وي او هغه لمونځ هم کوي.

جواب: ښځو له پاره د سر ویښتان کټ کول جائز نه دي، د ویښتانو کټ کولو ګناه به بیله وي، خو لمونځ به یې کیږي[2]

د سر لوپټه که دومره نرۍ وي چې د ننه نه بدن په نظر راځي له دې سره به لمونځ نه کیږي [3]

---

[1] عن علقمة قال: لعن عبدالله الواشمات والمتنمّصات والمتفلّجات للحسن المغيّرات خلق الله فقالت: أمّ يعقوب: ما هذا؟ قال عبدالله: ومالي لا ألعن من لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم ...إلخ (بخارى ج: ٢ ص: ٨٧٩، باب المتنمصات) قال ابن عباس لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخارى ج ٢ ص ٨٧٤، باب المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال)

[2] وعنه (أى ابن عباس) قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء، والمتشبهات من النساء بالرجال (رواه البخارى ص: ٣٨٠، باب المترجل) ولوحلقت المرأة رأسها فإن فعلت لوجع أصابها لا بأس به، وإن فعلت ذالك تشبيهًا بالرجل فهومكروه (فتاوى عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٥٨) وفى ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧ قطعت شعر راسها أثمت ولعنت، زاد فى البزازية، وإن بإذن الزوج لأنه لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق والمعنى المؤثرة التشبه بالرجال۔

[3] لورفعت يديها للشروع فى الصلوة فانكشفت من كمّيها ربع بطنها أو جنبها لا يصح شروعها اه قال فى الدرالمختار: وللحرّة ولوخنثى جميع بدنها حتّى شعرها النازل فى الأصح خلا الوجه والكفين فظهرالكف عورة على المذهب والقدمين (ردالمحتار على الدرالمختار ج: ١ ص: ٤٠٥، مطلب فى سترالعورة)۔

له عذر پرته د ښځې له پاره د سر ویښتان کټ کول مکروه دي

سوال: زما د سر دویښتانو سرونه شلیږي چې له دې وجې ویښتان نه غټیږي او ویښتان خراب هم په نظر راځي، چې ددې له وجې دویښتانو سرونه کټ کوم، چې ټول ویښتان برابر وي او شلیدلي سرونه هم ختم شي، ایا دویښتانو دحفاظت کولو له پاره کله ناکله لږ شان ویښتان کټ کول جائز دي؟

جواب: له عذرپرته دښځې له پاره دسرویښتان کټ کول مکروه دي، تاسوچې کوم عذر لیکلی دی، داکافي دی اوکه نه؟ ماته په دې کې شک دی، له نورو علماوو نه دې معلومات وکړل شي.[1]

دښځوپه نایي ویښتان کټ کول

سوال: اکثر ویل کیږي چې په اسلام کې دښځو ویښتان کټ کول جائز نه دي، ایا دښځوپه نایي باندې ویښتان کټ کول جائز دي؟

جواب: دښځودسرویښتان کټ کول مطلقا ناجائزدي،که دا په ښځې سره هم واړه کړي اوکه نامحرم سره یې کټ کړي؛ نو ډبل جرم به وي.[2]

د ښځو ویښتان وړول د لعنت موجب دي

سوال: نن سبا کومې ښځې چې دخپل سرویښتان دفیشن په ډول وړوي یادهلکانوپه شان یې ډیر واړه ساتي، ددوی له پاره په اسلام کې څه حکم دی؟

جواب: په حدیث کې دي: دالله تعالی لعنت په هغو سړیو باندې کوم چې د ښځو مشابهت کوي اوپه هغهو ښځوباندې کومې چې دسړیو سره مشابهت کوي.(مشکوة شریف،ص:۳۸۰،بحواله بخاری)

دا حدیث ستاسو دسوال جواب دی.

"عن ابن عباس رضی الله عنه قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: لعن الله المتشبهین من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال."(مشکوة،ص:۳۸۰).

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې: دالله تعالی لعنت دی ښځومشابهت سره کوونکو سړیو باندې او سړیوسره مشابهت کوونکو ښځوباندې.

---

[1] ایضًا پورتنۍ حواله وګورئ۔

[2] قطعت شعر رأسها أثمت ولعنت زاد فی البزازیة وإن بإذن الزوج لأنه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق والمعنی المؤثرة التشبه بالرجال ...إلخ (درمختار ج: ٦ ص: ٤٠٧، کتاب الحظروالإباحة) أیضًا: عن ابن عباس قال:لعن النبی صلی الله علیه وسلم المخنثین من الرجال والترجلات من النساء(مشکوة ص: ۳۸۰باب الترجل)

د ښځو آړې مانګ (کړه پیاځه) ویستل

سوال: مااکثره له مشرانو ښځونه اوریدلي دي چې دنجونو یا ښځو آړي مانګ (کړه پیاڅه) ویستل داسلام په رڼا کې جائز نه دي، هغه داسې چې کله ښځه مړه شي؛ نو دهغې دوېښتانو په مینځ کې لار ویستل کیږي اوپه کړه لاره ویستلو ویستلو سره وېښتان عادت کیږي او بیا د مینځ لار ویستل مشکل کیږي، تاسو وفرمایئ چې د قرآن او حدیث په رڼا کې دا خبره صحیح ده؟

جواب: کړه لار ویستل د اسلامي تعلیماتو خلاف دي، په مسلمانانو کې ددې رواج د ګمراه قومونو دتقلیدله وجې شوی دی، ځکه دا وجب الترک دی.[1]

ایا ښځو ته د ځان جوړولو اجازه شته؟

سوال: نن سبا کاسمیټک (میک اپ) په پاکستان کې عام دی اوپه دې سلسله کې موږ دیورپ سره په مقابله کې کوشش کوو، زه سوچ کوم چې په کروړونو روپۍ موږ ددې شیانو له پاره دزرمبادله په شکل کې خرچ کوواو اوس حال دادی چې د کورونو په بجټ کې ډیر رقم یوازې دمیک اپ له پاره ږدو، دا ټول شیان دیورپ ملکونو نه راځي، په دې کې روغن، غوړوالی لازمي ضروري جزدی او دا ملکونه د(خنزیر) استعمال په ازادانه ډول کوي او په دې کې هرشی عام او په مخصوصې طریقې سره استعمالوي، زموږ پاکستاني وروڼه خویندې دیورپ جوړ شوي شیان خاص کر(میک اپ) ډیر په فخراستعمالوي، بلکې که دا ووایم چې ددې له پاره باقاعده ټائم ټیبل سره دماهرینو خدمات، ترځوپورې چې دکور والا پخپله په دې کې مهارت حاصل نه کړي، سوال دادی چې موږ خلک په دې احساس کمترۍ کې ولې اخته یو؟ اسلام دسادګۍ تعلم ورکړی دی، دښځو له پاره یې دښایست او سنګار یو خاص حدمقرر کړی دی، خوشبویانې دمسلمانانو دلباس یوه برخه ده، بیا داسې ولې ده؟ بیا داسې ولې کیږي؟ دا وبا له کوم ځای نه راغلې ده؟ اوپه پاکستان کې ددې مرکز اومارکیټ کوم ځای دی؟ اوبیاددې اشتهارات په ټي وي، ریډیو، سنیماګانوباندې ولې کوي؟ قانون نافذکوونکي ددې نوټس ولې نه اخلي؟ یوطرف ته داسلام نظام راوستلو خبره کیږي، بل طرفته دغیرملکي اشتهارات باران دی، علماء، هوښیاران او نور دملک اکابرین دې په دې ولیکي، خبرې دې پرې وکړي، په دې پخپله هم پوه شي نور خلک دې هم په دې پوه کړي او هریوکوشش دې وکړي، دا یواپیل دی، خدای دې کامیاب کړي.

---

[1] عن ابن عباس قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يُحب موافقة أهل الكتاب فيما لم يُؤمَرفيه، وكان أهل الكتاب يسدِلون أشعارهم وكان المشركون يفرقون رؤسهم فسدل النبي صلى الله عليه وسلم ناصيته ثم فرق بعد بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۷، باب الفَرقِ۔

جواب: ستاسو جذبات د قدر لائق دي، ښځو ته د زیب او زینت اجازت دی، خو د دې هم څه طریقه پکار ده، خو زمونږ چې دلته په زیبائش او آرائش کې چې څومره بې حیایي کیږي، د دې اصلاح کول لائق دي، یو غریب خاندان، د غریبې معاشرې او د غریب ملک له پاره دا عبث شیان په یوه طریقه هم ښه نه ښکاري. څومره روپۍ چې په دې فضولیاتو باندې صرف کیږي دا د ملک په فلاح او بهبود او ترقۍ باندې خرچ کول کیدای شي، خو مشکل دادی چې په مسلمانانو کې د بن کمزوری شوی دی، د عقل او تدبیر کمزوري هم ډیره زیاته شوې ده، اجتماعي سوچ خو بالکل ختم شوی دی. همدا وجه ده چې په هرځای کې وهل خورو.

د نجونو غټ نوکان

سوال: د نجونو له پاره غټ نوکان پرېښودل جائز دي او که نه؟

جواب: شرعي حکم دادی چې هره هفته، که نه وي: نو پنځلس ورځې وروسته نوکان ورون، که څلویښت ورځې تیرې شوې او نوکان دې کټ نه کړل؛ نو ګناه وشوه، همدا حکم د هغو ویښتانو هم دی. چې د صفا کولو حکم یې شوی دی . په دې حکم کې ښځې او سړي دواړه برابر دي.[1]

د ښځو له پاره بلیچ کریم استعمالول جائز دي

سوال: سوال دادی چې د ښځو په خوله باندې تور ویښته وي، چې په هغه سره خوله توره ښکاري او داسې ښکاري لکه چې بریت یې راوتلي وي، د دې له پاره یو کریم راځي چې د هغه په لګولو سره ویښته د څرمنې د رنګ پشان کیږي او ښکاري نه چې په مخ باندې ویښته دي، دې ته "بلیچ" کول وایي؛ نو ایا داسې د ویښتانو رنګ بدلو سره ګناه کیږي؟ که مخ سپین وي او ویښته تور وي؛ نو مخ بد ښکاریږي. خکه ښځې او اینجلۍ بلیچ کوي؛ نو ایا دا کول ګناه ده؟

جواب: د ښځو له پاره د مخ ویښتان ویستل یا صفا کول یا د دې رنګ بدلول جائز دي [2]

د سړیو له پاره د ویښتا نو پاکولو پاوډر استعمالول

سوال: د غیرضروري ویښتانولرې کونکي پاوډر، ایا یوازې ښځې استعمالولی شي او که

---

[1] عن أنس قال: وقت لنا فی قص الشارب، وتقليم الأظفار ونتف الإبط وحلق العانة أن لا نترك أكثرمن أربعين ليلة رواه مسلم (مشكوة ص: ٣٨٠، باب الترجل) والأفضل أن يقلم أظفاره ويحفي شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالإغتسال فی كل أسبوع مرة، فإن لم يفعل ففی كل خمسة عشريومًا ولا يعذر فی تركه وراء الأربعين، فالأسبوع هوالأفضل، والخمسة عشرة الأوسط، والأربعون الأبعد، ولا عذر فيما بعد الأربعين ويستحق الوعيد (عالمگيرية ج: ٥ ص: ٣٥٧، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشرفی الختان وقلم الأظفار)۔

[2] فلوكان فی وجهها شعرينفر زوجهاعنها بسببه ففی تحريم إزالته بعد، لأن الزينة للنساء مطلوبة للتحسين (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٧٣، كتاب الحظروالإباحة، فصل فی النظروالمس)۔

سړي يې هم استعمالولی شي؟
جواب: د سړيو له پاره ددې استعمال مکروه او نامناسب دی [۱]

د تخرګ او نورزياتي ويښتان څومره موده نه وروسته صفا کړو؟

سوال: مولاناصاحب! دتخرګ،ترخ، او نور غيرضروري ويښتان څومره موده وروسته صفاکول پکاردي؟ دې نه پرته دسړيوله پاره دويښتانوصفا کولو پاؤډر اود ښځوله پاره دبليډ(پترې) استعمال څنګه دی؟

جواب: غيرضروري ويښتان هره هفته صفا کول سنت دي. څلوېښت ورځو پورې پرېښودل جائزدي. له دې وروسته ګناه ده[۲] سړي دويښتانو صفاکولو پاؤډر استعمالولی شي[۳] او ښځې هم بليډ(پترې) استعمالولی شي

دسړي د سر ويښتان څومره اوږدول پکاردي؟

سوال: د سړي د سرويښتان څومره اوږدول پکاردي؟ دښځو په نوم دښځوپه شان د اوږده اوږدو ويښتانو اجازت سته اوکه نه؟

جواب: دحضورپاک ﷺ ويښتان مبارک به دغوږونو نرميو پورې وو،که په اصلاح جوړولو کې به سستي وشوه: نودهغه نه به هم لاندې کېدل. دا دسړيو له پاره سنت دي[۴]. خو دومره اوږدول چې دښځوپه شان ښکاري. داجائزنه دي[۱]

---

[۱] وامالعانة. ففى البحرعن النهاية ان السُّنة فيها الحلق، لماجاء فى الحديث. عشر من السنة منها الاستحداد، وتفسيره حلق العانة بالحديد (ردالمحتار ج: ۲ ص ۵۵۰) أيضًا: ويستحب حلق عانته قال فى الهندية ويبتدئ من تحت السرة ولوعالج بالنورة يجوز كذا فى الغرائب وفى الأشباه والسُّنّة فى عانة المرأة النتف (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٦)

[۲] والأفضل ان يقلم أظفاره ويحفى شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال فى كل أسبوع مرة، فان لم يفعل ففى كل خمسة عشريوما، ولا يعذر فى تركه وراء الأربعين (عالمگيرية ج:۵ ص:۳۵۷.كتاب الكراهية.الباب التاسع عشر)

[۳] ولوعالج بالنورة فى العانة يجوز كذا فى الغرائب (فتاوى عالمگيرى ج. ۵ ص ۳۵۸. كتاب الكراهية).

[۴] عن أنس أن النبى صلى الله عليه وسلم كان يضرب شعره منكبيه. وفى رواية عن قتادة سألت أنس بن مالك عن شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: كان شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم رجُلا ليس بالسبط ولا الجعد بين أذنيه وعاتقيه (بخارى ج. ۲ ص. ۸۷٦.باب الجعد. ابوداؤد ج: ۲ ص: ۲۲۳) عن عائشة قالت........ وكان له شعرفوق الجمة دون الوفرة رواه الترمذى (مشكوة ص: ۳۸۲. باب الترجل) (قوله وكان له شعرفوق الجمة الخ) هذا بظاهره يدل على ان شعره صلى الله عليه وسلم كان امرا موسطا بين الجمة والوفرة. وليس بجمة ولا وفرة إد معنى فوق الوفرة، ان شعره ..[بقيه په راروانه صفحه

دوېښتانو ساتلو سنت طریقه

سوال: دوېښتانوساتلومسنونه طریقه څه ده؟ نبي کریم ﷺ څنګه وېښتان ساتلي و، که لوی يې ساتلي و: نوڅومره لوی يې ساتلي و؟ اوکه وېښتان يې واړه و: نوڅومره واړه و؟ نن سباانګرېزي وېښتان جوړيږي، همدغه شان وېښتان دين دارخلک اوعام خلک دواړه ساتي ددې څه حکم دی؟

جواب: نن سباچې دکوموويښتانوساتلوفيشن دی داخودسنت خلاف دی، حضور ﷺ به په سرباندې وېښتان مبارک ساتل اوهغه به په عام ډول ترغوږونوپورې و، که جوړولوکې به پرې وخت تېرشو: نوترغوږونونه به هم تيرشول، خودنن سباخوانان چې کوم وېښتان ساتي دادحضور ﷺ سنت نه دي، بلکه دغيرقومونونقل دی.[۲]

سوال: ۲: دسهارلمونځ مې په جومات کې وکړ، بیادڅه کارله پاره دجومات نه وتل وشو؛ نود اشراق لمونځ په بل جومات یاکورکې کولی شو؟یاکه همدغه جومات کې کینو.؟

جواب: که دڅه ضرورت له پاره تګ وشي؛ نوبل ځای کې هم داشراق لمونځ کیدای شي، که په کورکې يې وکړئ یاپه جومات کې، البته په حديث شريف کې دي چې کوم کس دسهارلمونځ د جمعې سره وکړي اوبياپه خپل ځای ناست وي تردې پورې چې داشراق وخت شي اوبياپورته شي اودوه رکعاته یاڅلوررکعاته داشراق لمونځ وکړي؛نوهغه ته دیوحج اویوې عمرې ثواب ملاویږي.

...بقيه د تيرمخ]..لم يصل إلى محل الجمة وهو المنكب، ومعنى دون الوفرة، ان شعره أطول من محل الوفرة إلى شحمة الأذن، ولعل ذالك بإعتبارإختلاف أحواله صلى الله عليه وسلم، وفى رواية أبى داؤد: قالت: كان شعررسول الله صلى الله عليه وسلم فوق الوفرة دون الجمة قيل هوالصواب...إلخ (مرقاة شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٤٧٠، كتاب الترجل، طبع بمبئی)۔

[۱] وعنه (أى ابن عباس) قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال رواه البخارى (مشكوة ج: ١ ص: ٣٨٠ باب الترجل)۔

[۲] عن أنس بن مالك قال: كان شعرالنبى صلى الله عليه وسلم إلى نصف أذنيه (شمائل ترمذى ص: ٣، باب ماجاء فى شعرالنبى صلى الله عليه وسلم وعن عائشة رضى الله عنها قالت: كنت اغتسل انا ورسول الله صلى الله عليه وسلم من إناء واحد وكان له شعرفوق الجمة ودون الوفرة(مايصل إلى شحمة الأذن) شمائل ترمذى ص: ٣ أيضًا والباب أيضًا) حدثنا مخلد بن خالد حدثنا عبدالرزاق أخبرنامعمر عن ثابت عن انس قال: كان شعرالنبى صلى الله عليه وسلم إلى شحمة أذنيه (أبوداؤد ص: ٢٢٣، باب ماجاء فى الشعر) حدثناحفص بن عمر ناشعبة عن أبى إسحاق عن البراء قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم له شعريبلغ شحمة أذنيه (أبوداؤد ج: ٢ ص: ٢٢٤، باب ماجاء فى الشعر)

د سر ویښتان خریل

سوال: یومولاناصاحب دافرمایي چې سرباندې ویښتان ساتل دهرچا له پاره ضروري دي، یوازې دحج اوعمرې نه پرته دسرویښتان کټ کول بدعت دي؛ نوتاسوتحقیق کولوسره وفرمایئ چې ایا حضور ﷺ په مدینه منوره کې سر خریلی دی؟ اود خلفاوو راشدینو څه عمل و؟ اود نورو صحابه کرامواوځلورواامامانو څه عمل و؟ اودصحاح سته دمحدثینوڅه مسلک دی؟

جواب:... ومن الله الصدق والصواب: دحضور ﷺ دحج اوعمرې نه پرته دسرویښتان خریل زماپه علم کې نه شته، البته ځینو احادیثوڅخه دسر خریلو جواز معلومیږي اوهغه دادي:

۱: **عن ابن عمر رضی الله عنه ان النبی ﷺ رای صبیاً قدحلق بعض راسه وترک بعضه فنهاهم عن ذلک فقال:احلقوه کله او اترکوه کله.** (ابوداؤدج۲ ص ۲۲۱)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوماشوم ولید چې دهغه دسرڅه برخې نه ویښتان خریل شوي و اوڅه باندې ویښتان و، حضور ﷺ هغوی ددې نه منع کړل او ویې وویل چې: یاخوپوره سر وخریئ اویایې پوره پریږدئ.

۲: **عن عبدالله بن جعفر رضی الله عنهما ان النبی ﷺ امهل آل جعفرثلاثاان یاتیهم، ثم اتاهم فقال: لاتبکوا علی اخی بعدالیوم، ثم قال: ادعوالی بنی اخی، فجیئ بناکاننا افرخ، فقال: ادعوالی الحلاق، فحلق رؤسنا.** (ابوداؤدج۲ص۲۲۱)

ترجمه: حضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنهما نه روایت دی چې(کله چې دهغه پلارحضرت جعفر رضی الله عنه په جنګ موته کې شهیدشو)؛ نو حضور ﷺ دجعفراولادته درې ورځوپورې دغم داظهارکولوموقع ورکړه اوحضور ﷺ هغوی ته رانغی، بیادرې ورځې وروسته حضور ﷺ هغوی راغی او ویې فرمایل: له نن نه وروسته زما ورور پسې مه ژاړئ، بیایې وفرمایل: زماوریرونه ماته راولئ، موږحضور ﷺ ته راوستل شو، لکه موږچې چرګوتي و، حضور ﷺ وفرمایل حلاق(نایي) را وغواړئ، حلاق را وغوښتل شواوهغه زموږ دسر ویښتان صفا کړل.

۳: **عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: من کان له شعرفلیکرمه.** (ابوداؤدج۲ ص ۲۱۷)

ترجمه: دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې چا ویښتان ساتلي وي هغه ته پکاردي چې هغه ښه طریقې سره وساتي (تیل دې پرې لګوي اوګومنځوي دې)

دلومړي حدیث (حدیث نهی عن القزع) لاندې په "لامع الدراری" کې حضرت شیخ نورالله مرقده دمکي تقریرپه حواله باندې دحضرت اقدس ګنګوهي قدس ارشادنقل کړی دی:

وفی تقریر المکی: قال قدس سره القزع فی اللغة حلق بعض الراس وترک بعضه فهومکروه تحریماً

كيف ماكان، لاطلاق النهى عنه...... الى قوله ..... فالحاصل ان السنة حلق الكل اوترك الكل وماسواهماكله منهى عنه. (لامع ج ٣ ص ٣٣٠ مطبوعه سهارنپور)

ترجمه مكې تحرير كړې دې چې حضرت گنگوهي قدس سره فرمايلي دي چې لغت كې د قزع معناده چې د سر د څه برخې ويښتان وخريل شي او د څه برخې پريښودل شي، داسې كول مكروه تحريمي دي، كه په هرشكل كې وي، ځكه چې منع كول يې مطلق دي، مطلب دا چې سنت يا خو پوره سر خريل دي يا پوره ويښتان پريښودل دي، د دې دواړو صورتونو نه پرته بل هر يو صورت منع دی

اوبل حديث كې حضرت اقدس سهارنپوري قدس سره ((**بذل المجهود**)) كې ليكي

وفيه الكبير من اقارب الاطفال يتولى امرهم وينظر فى مصالحهم من حلق الراس وغيرة. (بذل ج ٥ ص ٧٧ مطبوعه سهارنپور)

ترجمه له دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چې د ماشومانو څوک مشر وي هغه به د ماشومانو د كارونو ولي وي او د هغو ماشومانو د ضرورتونو مثلاً د سر گنجي كولو وغيره به خيال ساتي

د اكابرينو (رحمهم الله) د دې تصريحاتو مطابق د حضور ﷺ د ارشاداتو نه د سر گنجي كولو جواز ثابتيږي له دې وجې حضرت گنگوهي قدسره حلق سنت گني

خلفاوو راشدينو كې درې خليفه گانو رضي الله عنهم نه د حج او عمرې نه پرته د سر ويښتانو د خريلو روايت نه شته، البته د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دی چې هغوی به د سر ويښتان خريل

عن على رضي الله عنه قال: ان رسول الله ﷺ قال: من ترك موضع شعرة من جنابة لم يغسلهافعل بهاكذاوكذافى من النار، قال على رضي الله عنه فمن ثم عاديت راسى، فمن ثم عادت راسى، فمن ثم عاديت راسى، وكان يجز سعره رضي الله عنه. (ابوداؤد ج ١ ص ٣٣)

ترجمه د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ فرمايلي دي چا چې د جنابت غسل كې د يو ويښته برابر ځای هم ونه وينځلو، هغه به دوزخ كې داسې داسې سوځول كيږي، حضرت علي رضي الله عنه به دا حديث بيانولو چې له دې وجې ما خپل سر سره دښمني ساتلې ده، درې ځله يې وفرمايل روايت كونكی وايي چې حضرت علي رضي الله عنه به خپل سر ويښتان كټ كول (اودې ته يې دښمني ويلې ده)

نورو صحابه كرامو كې د حضرت حذيفه رضي الله عنه (صاحب سر رسول الله صلى الله عليه وسلم) نه روايت دی چې هغوی به سر گنجي كولو

عن ابى البخترى قال: خرج حذيفة رضي الله عنه وقد جم شعره، فقال: ان تحت كل شعرة لايصيبهاالماء

جنابة فعافوها فلذالک عاديت راسی کما ترون. (مصنف ابن ابی شیبه ج ۱ ص ۱۰۰)

ترجمه ابوالبختري (رحمه الله) وايي چې حضرت حذيفه (رضي الله عنه) دباندې تشريف راوړ. دې حال کې چې خپل ويښتان يې کټ کړي وو. ويې فرمايل چې دهرويښته نه لاندې کوم ته چې اوبه نه وي رسيدلي جنابت دی. دې نه نفرت کوی. هم له دې وجې ما دخپل سرسره دښمني کړې ده، څنګه چې تاسو وينئ

دوی دواړوحضراتوبه دحضور (صلى الله عليه وسلم) په مخکې دسرويښتان خريل اوحضور (صلى الله عليه وسلم) به ددې تصويب اوتقريرفرمايلی وي. ددې نه دا نتيجه اخيستل کيدای شي چې دسرويښتان خريل نه يوازې دخليفه راشد (حضرت علي کرم الله وجهه) اويواوچتې مرتبې والا صحابي (حضرت حذيفه (رضي الله عنه) سنت دي. بلکه دا دحضور (صلى الله عليه وسلم) تقريري سنت دي

دځلوروامامانوفقهي کتابونوکې هم دسرويښتانو خريل يا کټ کول جائزګڼل شوي دي.

فقه حنفي: درمختارکې دمنظومه وهبانيه نه نقل شوي دي:

(وقدقيل حلق الراس فی کل جمعة يحب وبعض بالجوازيعبر).

ترجمه: او ويل شوي دي چې هره جمعه باندې سرخريل مستحب دي اوځينې حضرات داجوازسره تعبيرکوي

علامه ابن عابدين شامي (رحمه الله) ددې په حاشيه کې ليکي:

(وفی الروضة للزندويسی: ان السنة فی شعرالراس اماالفروق واماالحلق وذکرالطحاوی: ان الحلق سنة ونسب ذلک الی العلماء الثلاثه. (ردالمختارج ۶ ص ۴۰۷ کراچی)

ترجمه: دزندويسي په الروضه کې دي چې دسرپه ويښتانوکې سنت يا خو لار ويستل دي يا يې ګنجي کول دي اوامام طحاوي (رحمه الله) ذکر کړي دي چې ګنجی کول سنت دي اوداقول هغه زموږ د دريو امامانو (امام ابوحنيفه، امام ابويوسف اوامام محمدرحمهم الله) طرف ته منسوب کړی دی.

فتاوی عالمګيري کې دعلامه شامي (رحمه الله) نقل شوی عبارت د ((تاتارخانيه)) په حواله باندې نقل کولوسره دې کې دا اضافه هم کړې ده:

يستحب حلق الراس فی کل جمعة. (فتاوی هنديه ج۵ ص ۳۵۷، کويټه)

ترجمه: هره جمعه سرګنجی کول سنت دي

فقه شافعي: امام محي الدين نووي (رحمه الله) شرح مهذب کې ليکلي دي:

(فرع) أما حلق جميع الرأس فقال الغزالي لا بأس به لمن أراد التنظيف ولا بأس بترکه لمن أراد دهنه وترجيله: هذا کلام الغزالي: وکلام غيره من أصحابنا في معناه: وقال احمد بن حنبل رحمه

الله لا بأس بقصه بالمقراض وعنه في كراهة حلقه روايتان: والمختار ان لا كراهة فيه ولكن السنة تركه فلم يصح ان النبي صلى الله عليه وسلم حلقه الا في الحج والعمرة ولم يصح تصريح بالنهي عنه: ومن الدليل على جواز الحلق وانه لا كراهة فيه حديث ابن عمر رضي الله عنهما قال رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم صبيا قد حلق بعض شعره وترك بعضه فنهاهم عن ذلك وقال احلقوه كله أو اتركوه كله رواه أبو داود بإسناد صحيح على شرط البخاري ومسلم: وعن عبد الله بن جعفر رضى الله عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم أمهل آل جعفر ثلاثا ثم أتاهم فقال لا تبكوا على أخي بعد اليوم ثم قال ادعوا لى بنى أخي فجيئ بنا كأنا أفرخ فقال ادعوا لى الحلاق فأمره فحلق رؤسنا حديث صحيح رواه أبو داود بإسناد صحيح على شرط البخاري ومسلم. (المجموع شرح المهذب، ج۱ ص ۲۹۵، ۲۹۶)

ترجمه: پاتي شوه مسئله دټول سر ګنجی کول؛ نو امام غزالي رحمه الله فرمايي چې دې کې هيڅ بده خبره نه شته، دهغه سړي له پاره کوم چې صفايي کول غواړي اوسرنه ګنجي کولوکې هم هيڅ بده خبره نه شته، دهغه سړي له پاره کوم چې دتيل لګولواوګومنځولواراده ساتي، دادامام غزالي رحمه الله ارشاددی اوزموږ دنورحضراتو (شافعيه) کلام همدغه شان دی، امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمايي چې قينچي باندې دسرويښتان کټ کولوکې هيڅ بده خبره نه شته اودسر ګنجی کول مکروه دي اوکه نه؟ دې باره کې دامام احمد رحمه الله نه دوه روايتونه دي، مختاردادی چې دې کې هيڅ بده خبره نه شته، خوسنت دادی چې حلق ونه کړل شي، ځکه چې دحضور ﷺ نه دحج اوعمرې نه پرته حلق کول ثابت نه دي اوددې دمنع کولوتصريح هم ثابته نه ده او دې خبرې دليل دی چې سر ګنجی کول جائزدي اودې کې هيڅ کراهت نه شته، دحضرت ابن عمر رضي الله عنه حديث دی چې حضور ﷺ يوماشوم وليد چې دهغه سرڅه ځای کې ګنجی شوی و اوڅه ځای نه وګنجی شوی، حضور ﷺ ددې نه منع وفرمايله اوويې فرمايل چې: ياخوپوره سرګنجی کوئ ياپوره يې پريږدئ، داحديث امام ابوداؤد رحمه الله دداسې صحيح سندسره روايت کړی کوم چې دبخاري اومسلم په شرط دی اودحضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ دهغه کوروالاوته درې ورځې ورکړې (دغم کولوله پاره) بيايې هغوی ته تشريف راوړو اوويې فرمايل چې: له نن نه وروسته زماورور پسې مه ژاړئ، بيايې وفرمايل: زما وريرونه ماته راولئ، موږورته راوستل شو، لکه چې موږ دمرغيو بچي وو(دماشوموالي اود ويښتانو غټيدوله وجې يې دمرغۍ بچيو سره تشبيه ورکړې ده) ويې فرمايل نايي راولئ، حلاق راغی؛ نوهغه ته يې حکم وکړ، هغه زموږدسرويښتان وخريل.

فقه حنبلي: څنګه چې د امام نووي (رحمه الله) د عبارت نه پورته معلومه شوه، د امام احمد (رحمه الله) په نزد باندې قینچي باندې ویښتان کټ کول پرته له څه کراهت نه جائزدي (پخپله د امام احمد (رحمه الله) عمل هم دې باندې و) او د حلق باره کې له هغه نه دوه روایتونه دي، راجح او مختار دادی چې حلق هم له کراهت نه پرته جائزدی، امام ابن قدامه مقدسي حنبلي په (المغني) کې دا تفصیل سره لیکلي دي د هغه عبارت دادی.

فصل : واختلفت الرواية عن أحمد في حلق الرأس .

فعنه أنه مكروه . لما روي عن النبي صلى الله عليه وسلم { أنه قال في الخوارج : سيماهم التحليق } .فجعله علامة لهم .

وقال عمر لصبيغ : لو وجدتك محلوقا لضربت الذي فيه عيناك بالسيف .

وروي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال : { لا توضع النواصي إلا في حج أو عمرة } .

رواه الدارقطني ، في الأفراد . وروى أبو موسى عن النبي صلى الله عليه وسلم : { ليس منا من حلق } رواه أحمد.

وقال ابن عباس الذي يحلق رأسه في المصر شيطان .قال أحمد كانوا يكرهون ذلك .

وروي عنه : لا يكره ذلك لكن تركه أفضل .

قال حنبل : كنت أنا وأبي نحلق رءوسنا في حياة أبي عبد الله فيرانا ونحن نحلق فلا ينهانا ، وكان هو يأخذ رأسه بالجلمين ولا يحفيه ويأخذه وسطا .

وقد روى ابن عمر { أن رسول الله صلى الله عليه وسلم رأى غلاما قد حلق بعض رأسه وترك بعضه . فنهاهم عن ذلك } .

رواه مسلم . وفي لفظ قال : { احلقه كله أو دعه كله } .

وروي عن عبد الله بن جعفر . { أن النبي صلى الله عليه وسلم لما جاء نعي جعفر أمهل آل جعفر ثلاثا أن يأتيهم . ثم أتاهم . فقال : لا تبكوا على أخي بعد اليوم . ثم قال : ادعوا بني أخي . فجيء بنا . قال : ادعوا لي الحالق فأمر بنا فحلق رءوسنا } .

رواه أبو داود . والطيالسي ؛ ولأنه لا يكره استئصال الشعر بالمقراض .

وهذا في معناه . وقول النبي صلى الله عليه وسلم : { ليس منا من حلق } يعني في المصيبة ؛ لأن فيه " أو صلق " أو خرق .قال ابن عبد البر : وقد أجمع العلماء على إباحة الحلق . وكفى بهذا حجة.

وأما استئصال الشعر بالمقراض فغير مكروه رواية واحدة .

قال أحمد: إنما كرهوا الحلق بالموسى وأما بالمقراض فليس به بأس؛ لأن أدلة الكراهة تختص بالحلق. .(المغنى مع السرح الكبيرج ۱ ص ۷۳، ۷٤)

ترجمه د سرويښتانو خريلو باره کې دامام احمد رحمه الله مختلف روايتونه دي
يوروايت کې دي چې دامکروه دي، ځکه چې دحضور ﷺ نه روايت دی چې حضور ﷺ د خارجيانو باره کې فرمايلي دي چې دهغوی نښه سرګنجی کول دي. سرخريل يې د خوارجو نښه ښودلې ده حضرت عمر رضي الله عنه صبيغ ته فرمايلي وکه چيرې ستاسرګنجی وي: نوتوره باندې به ستاسرکټ کړی و اودحضور ﷺ نه روايت دی چې حضور ﷺ فرمايلي دي چې دتندي ويښتان مه کټ کوئ، خوپه عمره اوحج کې، دادارقطني په افراد کې روايت کړی دی
اوحضرت ابوموسی رضي الله عنه دحضور ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ فرمايلي دي چې هغه کس زمونږنه نه دی کوم چې سرګنجی کړي. دادمسنداحمدروايت دی.
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي چې کوم سړی چې په ښارکې خپل سرګنجی کوي هغه شيطان دی
امام احمد رحمه الله فرمايلي دي چې بزرګان دامکروه ګني، دامام احمد رحمه الله نه دويم روايت دادی چې دامکروه نه دي، خو افضل هم نه دي
امام حنبل وايي چې ماا وزماپلاربه دامام احمد رحمه الله په ژوندکې سرګنجی کولو. امام احمد رحمه الله به ليدل اومنع به يې نه فرمايله اوپخپله به يې په قينچۍ باندې کټ کولو، په چاړه به يې نه کټ کولو
حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت کوي چې حضور ﷺ يوماشوم وليده چې دهغه دسرځه برخه ګنجی شوې وه اوځه نه، حضور ﷺ ددې نه منع وفرمايله. (دادصحيح مسلم روايت دی)
اويوروايت کې دي چې حضور ﷺ وفرمايل پوره يې ګنجی کړئ يايې پوره پريږدئ
اوحضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه نه روايت دی چې کله دحضرت جعفردشهادت (شهيدموته) خبرراغی: نوحضور ﷺ دهغه کوروالاووته درې ورځې مهلت ورکړو (دغم اظهار کولو له پاره) هغوی ته يې تشريف رانه وړ، درې ورځې وروسته يې تشريف راوړ اووېې فرمايل. له نن نه وروسته زماورورپسې مه ژاړئ، بيايې وفرمايل زما د ورور بچې ماته راولئ مونږ ورته راوستل شو، وېې فرمايل حلاق راولئ، حلاق راغی: نوهغه ته يې زمونږدسرنو دګنجي کولوحکم وکړ (دادابوداؤد طيالسی روايت دی) اوسرګنجی کول له دې وجې هم مکروه نه دی چې نرۍ قينچۍ باندې دسرويښتان بالکل صفاکول مکروه نه دي اوحلق هم همداشی دی
اوحضور ﷺ ارشاددی چې هغه کس زمونږنه نه دی چاچې حلق کړی وي،، له دې نه مرادپه مصيبت کې حلق کول دي. ځکه چې هم دې حديث کې دي (**اوصلق وخرق**) يعنې چغې يې ووهلې ياجامې يې وشلولې

حافظ ابن عبدالبر (رحمه الله) وايي چې دحلق دمباح كيدوباره كې دعالمانواجماع ده اوداكافي دليل دى، پاتې شوه په قينجى باندې نرى نرى واړه كول، دې كې يوروايت دى چې دامكروه نه دي.

امام احمد (رحمه الله) فرمايي چې هغه په چاړه باندې حلق كول مكروه ګڼلى دى اوقينچي باندې كټ كولوكې يې هيڅ حرج نه دى ګڼلى، ځكه چې كراهت دحلق سره خاص دى.

فقه مالكي: دمالكيه حضراتوله ټولونه اوچت ترجمان الامام الحافظ ابوعمروابن عبدالبر (رحمه الله) قول دالمغنى په حواله باندې پورته تيرشوى دى چې: **اجمع العلماء على اباحة الحلق.**

اوحافظ ابن قدامه مقدسي (رحمه الله) دقول مطابق ((**وكفى به حجة**)) (دادليل اوبرهان په لحاظ باندې كافي دى) دحافظ ابن عبدالبر (رحمه الله) قول علامه عيني په شرح بخاري كې هم نقل كړى دى: (**وادعى ابن عبدالبر الاجماع على اباحة حلق الجميع**). (عمدة القارى ج ۲۲ ص ۵۷ بيروت)

ترجمه: اوحافظ ابن عبدالبر دحلق په مباح كيدوباندې داجماع دعوه كړې ده.

دپورته بيان شوې فقهي تفصيل نه وروسته دمحدثينو حضراتو دمسلك وضاحت غير ضروري دى، خوددې حضراتومسلك دهغوى دترجمودبابونونه واضح دى، دحضرت ابن عمر (رضي الله عنهما) دحديث ((**نهى عن القزع**)) دترمذي نه پرته باقي ټولوحضراتوتخريج كړى دى اودې باندې يې دابابونه قائم كړي دي:

صحيح بخارى ج: ۲ ص: ۸۷۷، باب القزع (كتاب الباس)
صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۳، باب كراهة القزع (كتاب اللباس والزينة)
نسائى ج: ۲ ص: ۲۷۵، النهى عن القزع (كتاب الزينة)
ابن ماجه ص: ۲۵۹، النهى عن القزع (كتاب اللباس)
ابوداؤد ج ۲: ص: ۲۲۱، باب فى الصبى له ذوابة (كتاب الترجل)

له دې نه پرته امام نسايي (رحمه الله) په ج ۲: ص: ۲۷۴ باندې د((**الرخصة فى حلق الراس**)) اوامام ابوداود (رحمه الله) د((باب فى حلق الراس)) عنوان هم قائم كړى دى، خود((**كراهة حلق الرس**)) عنوان چاهم نه دى قائم كړى، ددې نه ددې حضراتومسلك واضحيږي چې ددوى په نيزدباندې قزع مكروه ده، يعنې داچې دسردځه برخې ويښتان كټ شي اودځه برخې پريښودل شي، خودټول سرويښتان كټ كول مكروه نه دي.

خلاصه داچې صحيح احاديثوكې دسرد ګنجي كولواجازه وركړل شوې ده، صحابه كرامو كې دځينو اكابروصحابه كرامودې باندې عمل كول ثابت دي، اوداابن عبدالبر (رحمه الله) دقول مطابق دټولوعالمانودې جوازباندې اجماع ده، همداڅلوروامامانومسلك دى اودمحدثينو حضراتو، له دې وجې دې ته ناجائزيابدعت ويل څنګه چې سوال كې ذكرشوي دي، فضول

خبره ده، البته داویل به صحیح وي چې سرباندې ویښتان ساتل دحضور ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ مبارک عمل و، خودتشریعي سنت نه دي، بلکې دعادت سنت دي، له دې وجې حلق اوقصراګرچې پرته له دکراهت نه جائزدي، خوویښتان ساتل اولی او غوره دي، دامضمون دامام نووي(رحمه الله) په عبارت کې راغلی دی، علامه ملا علي قاري دحدیث ابن عمر(رحمه الله) د ((احلقوکله اواترکوه کله)) ـ یایې پوره ګنجی کړی یایې پوره وساتئ، ....لاندې لیکي:

أو اتركوا كله فيه إشارة إلى أن الحلق في غير الحج والعمرة جائز وأن الرجل مخير بين الحلق وتركه لكن الأفضل أن لا يحلق إلا في أحد النسكين كما كان عليه مع أصحابه رضي الله عنهم وانفرد منهم علي كرم الله وجهه. (مرقاة ج ٤ ص ٤٠٩ بمبئ)

ترجمه: دې کې له حج اوعمرې نه پرته دحلق دجائزکیدواشهره ده او داچې انسان ته اختیاردی چې حلق وکړي یاپرېږدي، خوافضل دادی چې دعمرې اوحج نه پرته حلق ونه کړي، دحضور ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ په عام ډول همدامعمول واوحضرت علي ﷺ په حلق کولوکې جدا و.

هم دې مسئلې باره کې دحضرت حکیم الامت تهانوي قدس سره دوه فتواوې مې له نظرنه تیرې شوي دي، دخلکودفایدې له پاره هغه وړاندې کوم:

د سر ویښتان کټ کول

سوال: (۲۹۵) زیدوایي چې دټول سرویښتان ساتل سنت دي اودحج نه پرته سرګنجی کول دسنت خلاف دي او خشخشي ویښتان ساتونکي ته دسنتومخالفت کولوباندې دملامته کولوقابل ګڼي، عمرو وایي چې حضرت علي ﷺ سرګنجی کړی و اوحضور ﷺ هغه ددې عمل نه و منع کړی، له دې نه معلومیږي چې دحج نه پرته هم دسرګنجي کول سنت دي اود خشخشي ویښتانو ساتلونه منع نه ده شوې، هغه به په خپل اصل باندې وي اواصل اباحت اوجوازدی خشخشي ویښتان ساتل ددریو امامانو نه ثابت دي اوکه نه؟ اوڅه ته چې زیدبدعت وایي دا صحیح دي اوکه نه؟ اوداسې ویښتان ساتونکي ایاشرعاً دملامتیاقابل دي اوکه نه؟

جواب: مطلق سنت دادي کوم چې حضور ﷺ دعبادت په ډول کړي دي، ګڼي دزوائدو سنتونه به وي، ویښتان ساتل دحضور ﷺ د عادت له وجې و، دعبادت په ډول نه، له دې وجې اولی کیدوکې یې هیڅ شک نه شته، خوددې خلاف نه دسنت خلاف نه شي ویل کیدای، که دحضرت علي ﷺ هم نه وي اودا خو لاهغه حدیث هم موجوددی اودحضور ﷺ انکارنه کول یقیني دلیل دی د ویښتانو پرته دکراهت نه کټ کولوباره کې اود سنت خلاف نه کیدو باره کې، کوم حالت کې چې بالکل ګنجی کول جائزدي؛ نو قصرکولوکې څه بده خبره ده؟

للاجماع علی تساوی حکم القصروالحلق لشعرالراس فی مثل هذاالحکم والی التساوی اشیر بقوله تعالی. محلقین رؤسکم ومقصرین. والله تعالی اعلم. ۱۸ ربیع الاول ۱۸، ۱۳۲۱ ۱۳۲۱هـ

(امدادج ۲: ص: ۱۵۲)

د سر ويښتان کټ کول

سوال: (۲۹۶) له مسنون سلام نه وروسته عرض دادی چې دمولوي اسحاق صاحب یوخط دکوئټې بلوچستان نه راغلی دی، مضمون يې دادی چې نن دماښام له لمانځه وروسته حضور(شاه ابوالخیر صاحب) وفرمایل: کتاب الاسماء والکنی موږ دحیدرآباد نه راغوښتی دی اوله دې نه مخکې دنیاکې راته ددې زیارت نه دی ملاوشوی، مدینه منوره کې دشیخ الاسلام قبه کې دروم دسلطان کتب خانه بې مثاله ده، هغه کې مې هم داکتاب نه ولیدلی، موږپه کې یوداسې مسئله ولیده کومه چې موږته نن پورې نه وه معلومه اونه به تاسوته معلومه وي، ماعرض وکړچې هغه څه ده؟ ويې فرمایل خشخشي ويښتان څنګه چې ستادي او هندوستان کې چې ددې عام رواج دی، داعمل دقوم لوط دی، که چیرې سرباندې ويښتان وي؛ نوددې قابل وي چې هغه کې لارویستل شي یابالکل وخریل شي، یوازې دادواړه صورتونه مسنون دي، ماله هغه وخت نه توبه وکړه، بیایې وفرمایل چې: که چیرې ته حلق خوښوې؛ نوحلق کوه اوکه فرق خوښوې؛ نودې نیت سره ويښتان ساته اويې وفرمایل چې داثرلیکلوسره مشهورکړه اومیرټهه ته يې ولیږه، چې ټول خادمان توبه وکړي او خشخشي ويښتان نه ساتي اودايې هم وفرمایل چې دارواج کوم خلکو اختیارکړی دی؟ ماعرض وکړ چې دنصاراوو نه نقل شوی دی، هغه اثردادی:

من کتاب الکنی للدولابی قال: حدثنی ابراهیم بن الجنید قال حدثنی الهیثم بن خارجة قال حدثنا ابوعمران سعیدبن میسرة البکری الموصلی عن انس بن مالک قال: انه دخل علیه شاب قدسکن علیه شعرله فقال مالک: والسکینة افرقه اوجزه فقال له رجل: یااباحمزة! من کانت السکینة؟ قال: فی قوم لوط، قال: کانوا یسکنون شعورهم ویمضغون العلک فی الطریق والمنازل ویحذفون ویفرجون اقبیتهم الی خواصرهم. انتهی.

(سکینة الشعر، دويښتانوسیده پریښودل، نه خریل اونه لارویستل) دخط مضمون هم دلته ختم شو.

پورته بیان شوی مضمون لوستلوسره دا ارشادوفرمایئ چې ويښتان په قینچې باندې کټ کول څنګه چې په عام ډول رواج دی جائزدي اوکه نه؟ اودقوم لوط سره یوشان والی دی اوکه نه؟ اوکه چیرې جائزدي؛ نوذکرشوي اثرڅه مطلب دی؟ اوکه چیرې ناجائزاوحرام دي؛ نود محلقین

رؤسهم اومقصرين. څه جواب دی؟ اوکه داحکم یوازې خاص دحاجیانوله پاره دی اودا ارشادهم وفرمایئ که چیرې دوېښتانو کټ کول جائزدي؛ نوټول وېښتان ساتل اولارویستل بهتردي اوکه حلق یاقصر؟ اودحلق نه قصربهتردی اوکه نه؟ تفصیل اودلیل سره جواب راکړئ، ځکه چې اکثرخلک اوتردې چې عالمان هم قصرکوي،که چیرې داکارناجائزدی؛ نوددې نه توبه وکړل شي اوکه چیرې داسې جائزدي؛ نود ذکر شوي اثرمطلب صفاصفا، شافي، تسکین ورکونکی داسې ارشاد وفرمایئ چې اطمینان وشي.

جواب: دقصرجوازدحج سره خاص کیدل ددلیل محتاج دي او کیدای شي چې چاته شک وي چې ددې نسبت ((**یاخذمن کل شعرة قدر الانمله**)) لیکل وي؛ نوپوهیدل پکاردي چې دا ادانی مقداردی، دزیاتي نفي کول مقصدنه دی، درمختارکې دبدائع نه نقل شوي دي.((**قالوا یجب ان یزیدفی التقصیر علی قدرالانملة.....الخ**،،

اودغه شان دربع تخصیص دادنې بیان له پاره دی، درمختار کې تصریح ده ((**تقصیرالکل مندوب**)) هغه شک لرې شو اوفارق منتفي دی، جوازیې عام دی اوکه چیرې یوکس ذکر شوي اثر ته فارق و وایي؛ نوله دې وجې صحیح نه دی چې ذکر شوی اثرد ثبوت او دلالت دمخدوش کیدونه پرته دمقصود له پاره مفید نه دی، لومړی داچې ترڅو دروایت کونکو توثیق نه وي شوی، ترهغه وخت پورې ددې صحت یاحسن ثابت نه دی اوضعیف حدیث دعالمانودتصریح له مخې دڅه شرعي حکم له پاره مثبت نه شي کیدای.(١)

---

(١) دکتاب الاسماء والکنی ددې روایت په سندکی ابوعمران سعیدبن میسره البکری الموصلي دروغژن دی، له دې وجې داروایت نه یوازې منکر، بلکې موضوع دی، حافظ ذهبي رحمه الله په میزان الاعتدال کې اوحافظ ابن حجر رحمه الله لسان المیزان کی لیکلي دي:

سعیدبن میسرة البکری ابوعمران، قال البخاری: عنده مناکیروقال ایضاً منکرالحدیث، وقال ابن حبان، یروی الموضوعات، وقال الحاکم : روی عن انس موضوعات، وکذبه یحی القطان.

ترجمه: امام بخاري رحمه الله فرمایي چې هغه سره منکرروایتونه دي اوداچې داروایت کونکی داحادیثو منکردی ابن حبان رحمه الله فرمایي چه داموضوع روایتونه روایت کوي حاکم رحمه الله فرمایي چې: هغه دحضرت انس رضي الله عنه نه ډیرزیات موضوع روایتونه روایت کړي دي اوامام یحیی بن سعید القطان ده ته دروغژن ویلي دي.

شیخ ابن عراق رحمه الله دتزیع الشریعة المرفوعة عن الاحادیث الشنیعة الموضوعة په مقدمه کی لیکي.

من عرف بالکذب فی الحدیث وروی حدیثاً لم یروه غیره فان نحکم علی حدیثه ذلک بالوضع اذانضمت الیه قرینه تقتضی وضعه، کماصرح به العلائی وغیره.(ج١ص١٠)

ترجمه: کوم کس چې احادیثوکی دروغ ویلو باندې مشهوروي هغه .. [بقیه په راروانه صفحه.

دویم دا چې د سکینه دا تفسیر کوم چې په سوال کې مذکوردی دلیل ته محتاج دی، خواه که لغت وي یا صحیح نقل وي اودا دواړه امور د مستدل په ذمه دي، دریم په دې کې د «جزو» لفظ د تخیر په ډول راغلی دی او په لغت او استعمال کې د «جز» معنا بالکل د ختمولو ده، د حلق سره مخصوص نه ده، بلکې د ویښتانو سره هم خاص نه ده، مشکوة باب الترجل کې د حضرت انس رضی الله عنه روایت دی چې: ,,**فقالت امی لاتجزها**،، او مخکې یې د دې علت بیان کړی دی: **کان رسول الله ﷺ یمده**، او ښکاره خبره ده چې دا علت د «جز» د معنا د عموم مقتضي دی او شمائل ترمذي کې د حضرت مغیره رضی الله عنه نه روایت دی: **فاتی بجنب مشنوی ثم اخذ الشفرة فجعل یجزلی** دې کې دوه نسخې دي، حاء او جیم، دې څخه عموم د غیر شعر له پاره ظاهریږي، څلورم کیدای شي چې دا مقید حکم دی صورت کې وي، چې کله ویښتان د لار ویستلو قابل وي او بیا په کې لارونه ویستل شي، کوم ته چې سدل ویل کیږي، په دې باب کې حدیث کې راغلي دي: **فسدل النبی ﷺ ناصیه ثم فرق بعده**، **متفق علیه کذافی المشکوة باب الترجیل**. حضور ﷺ د تندي د ویښتانو سدل فرمایلی و. خو بیا یې هغه کې لار ویستل شروع کړل، د دې صورت خلاف چې واړه واړه ویښتان وي او که غټ شوي نه وي او یا کټ شوي وي، دې صورت کې دا حکم نه وي، **افرقه اوجزه**، **علی سبیل التخیر** فرمایل د دې د معنا د اصطلاح له وجې سند کیدای شي څکه چې تخیر موقوف دی د ویښتانو په غټیدو باندې، پنځم کیدای شي چې دا نهي مخصوصه وي هغه صورت سره کله چې د باطلو خلکو سره د یوشان والي له وجې وي، څنګه چې د دې وخت کې

...بقیه د تیرمخ]..داسې حدیثونه روایت کوي کوم چې د هغه نه پرته بل څوک نه شي روایت کولی؛ نو خو به د هغه روایت ته موضوع وایو او د دې د موضوع کیدو طریقه هم موجود ده، څنګه چه حافظ علائی وغیره تصریح کړې ده.

ابن عراق رحمه الله هم د دې مقدمې کې د کذاب ووضاع د روایت کونکو فهرست ورکړی دی، دې کې په ۲۳ نمبر صفحه کې د حرف سین لاندې ۲۲ نمبر باندې د سعید بن میسرة البکری ذکر دی الفاظو کې راغلي دي. کذبه یحی القطان وقال ابن حبان: یروی الموضوعات د دې د تفصیل نه معلومه شوه چه دا حدیث هم د موضوعاتو د هغه ذخیرې نه یو حدیث دی، کوم چه سعید بن میسره، د حضرت انس رضی الله عنه په حواله باندې نقل کوي او کله چه دا روایت موضوع دی؛ نو د دې له وجې به د مسئلو استنباط هم صحیح نه وي دې نه پرته د غیر مجتهد له پاره دا جائز نه دي چې یو کتاب کې یو روایت کتلو سره هغه باندې عمل شروع کړي، بلکې هغه ته دا هم کتل پکار دي چې امامانو او مجتهدینو حضراتو دې باره کې څه فرمایلي دي؟ څکه چې دلیل کتل د مجتهدینو وظیفه ده، د عامو نه. او څلور واړه امامان دې باندې متفق دي چې د سر ویښتان ساتل جائز دي او کټ کول یې هم جائز دي او په قینچې باندې کټ کول یې هم جائز دي او په چاړه باندې حلق کول هم جائز دي څنګه چې پورته تفصیل بیان شوی دی، یو خود عامو له پاره د عالمانو د اجماع مخالفت جائز نه شي کیدای. والله اعلم بالصواب. محمد یوسف عفا الله عنه

نوی فیشن ایجادشوی دی، یاداچې دځه فساد په نیت وي، ځنګه چې نور متعاطفات هم دې باندې دلیل دي، ګني مضغ العلک اوقباء کې چاک په دواړو طرفونو باندې ساتل هم ناجائزوي، ولاقائل به.

ددې وجوهاتوله وجې دا اثر مخصص یامفسر د تقصیر جوازنه شي کیدای د،، نهی عن القزع،، په مقابله کې دحدیث دصحت له وجې دحلق اطلاق کولی شي، تقصیرفی نفسه بحاله جائز دی، البته عارض تشبیه نه کوم ځای چې تشبه لازم راځي ځینو صورتونه به منع شي ،هذاماحضرلی الان، ولعل الله یحدث بعد ذلک امرا، والله اعلم)۲۴ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ

(امدادج ۲ ص ۱۷۲ امدادالفتاوی ج ٤ ص ۲۲٤ تا۲۲۶)

دعطرواوسرمې لګولو مسنونه طریقه

سوال: د عطرو اوسرمې لګولو سنت طریقه معلوموول دي او ډوډۍ د خوړولو په وخت ځلور ګوتې کول خوړل پکار دي یاپرته دګوتې کولو نه خوړل پکار دي؟ له دې نه پرته کوم یو داسې کتاب دی چې په هغه کې مکمل سنت ذکر دي؟

جواب: دعطرولګولو څه خاص مسنونه طریقه نه شته؟ البته دښي طرف نه ابتداکول سنت دي[۱] په رانجو لګولوکې دحضورپاک ﷺ معمول دا و چې په ښی سترګه کې یو سلائي، بیاپه ګس کې،بیاپه ښی کې، داسې دښی سترګې نه به یې شروع کوله او په ښی به یې ختموله.[۲]

دډوډۍ ځلورګوتې کولوسنت زماپه علم کې نه شته."اسوه رسول اکرم ﷺ" دحضرت ډاکټر عبدالحي(رحمه الله) تالیف دی، ددې مطالعه کول فایده مند دي داسې" خصائل نبوي شرح شمائل ترمذي" د حضرت شیخ الحدیث مولانامحمدزکریاصاحب نورالله مرقده تالیف دی، ددې مطالعه هم د برکت نه ډکه ده.

نیل پالش لګولو سره غسل اودس نه کیږي

سوال: نن سبا ښځې خاص کر هغه ښځې چې هغه په دې دور کې داکوشش کوي چې ددنیا والاوو سره لاړې شو، لږ ډیر فیشن کوي، مثلا: نیل فالش وغیره لګوي، پوښتنه داده چې نیل

---

[۱] یستحب البداءة بالیمنی فی کل ما کان من باب التکریم والزینة والنظافة ونحوذالك...إلخ (شرح المسلم للنووی ج: ۲ ص: ۱۹۷، باب إستحباب لبس النعال فی الیمنی...إلخ)۔

[۲] قال عصام ویؤید الإکتفاء بالإثنین فی الیسری ماذکر بعض الأئمة انه صلی الله علیه وسلم کان یفتتح فی الإکتحال بالیمنی ویختم بها تفضیلا لها فإن الظاهر انه صلی الله علیه وسلم یکتحل فی الیمنی إثنین وفی الیسری کذالك ثم یأتی بالثالث الیمنی لیختم بها ویفضلها علی الیسری لواحد (حاشیه نمبر ۱۰، شمائل ترمذی ص: ۵ طبع مکتبه رشیدیه ساهیوال)۔

فالش لګولو سره اودس کیږي؟ لمونځ دې سره ادا کیږي اوکه نه؟ یاله اوداسه وروسته نیل پالش لګولو سره لمونځ ادا کیږي؟ ځکه چې اوریدلي مې دي چې په نیل فالش لګولوسره اودس نه کیږي، چې اودس نه کیږي؛ نو انسان صفا کیدای څنګه شي؟ لهذا ددې سوال جواب په راکولو به ستاسو ډیره مهرباني وي ځکه چې له ډیرو ورځونه زه په دې مشکل کې اخته یم چې په نیل فالش لګولو سره لمونځ نه کیږي، یا دې له وجې انسان ناپاکه کیږي؛ نوهغه څه وجې دي چې دهغو له وجې انسان ناپاکه کیږي؟ دقرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ او د شکریې موقع راکړئ!

جواب: په اوداسه کې چې دکومو اعضاوو وینځل ضروري دي،که په هغه باندې داسې شی لګیدلی وی چې هغه اوبه دبدن څرمنې ته رسیدلو نه منع کړي؛ نو اودس نه کیږي، همداحکم دغسل هم دی، نیل پالش چې لګیدلی وي؛ نو اوبه نوکونو ته نه رسیږي، ځکه دنیل پالش لګولو په صورت کې اودس او غسل نه کیږي[1] ښځې دفیش په ډول نیل پالش او سرخي لګوي، حالانکې په دې شیانوسره دښځې په ښایست کې هیڅ اضافه نه کیږي، بلکې ذوق سلیم ته دا شی بدمذاقه معلومیږي، کله ددې له وجې دالله تعالی دنوم اخیستو توفیق هم نه نصیب کیږي ؛ نوددې استعمال یو سلیم الفطرت مسلمان څنګه خوښولی شي؟

ښځوته د ځان جوړولو او ښایسته کولو اجازه شته، خوددې هم څه طریقه او سلیقه پکار ده، داسې خونه ده چې دڅه شي فیش راوځي انسان دې هغه وکړي.

ایا رانجه د سترګو له پاره نقصاني دي؟

سوال: موږ دبزرګانونه اوریدلي دي چې په سترګوکې رانجه لګول سنت دي، خوتېي وي په یو پروګرام کې یوډاکټرصاحب وفرمایل چې:" په علم طب کې رانجه لګول نقصاني ګڼي" که دا په رښتیا دي اودحضورپاک ﷺ په نزد رانجه لګول ښه خبره ده اوسنت دي؛ نوبیا دحضورپاک ﷺ کار څنګه نقصاني کیدای شي؟ مهرباني وکړئ په دې باره کې هم ووایئ.

جواب: رانجه لګول له شک پرته سنت دي[2] دډاکټرصاحب نوی تحقیق دتجربې په رڼا کې

---

[1]]ویجب ای یفرض غسل کل مایمکن من البدن بلاحرج مرةً کاذن...... ولایمنع الطهارة ونیم أی خرء ذباب وبرغوث لم یصل الماء تحته وحناء ولو جرمه به یفتی، ودرن ووسخ، وکذا دهن، ودسومة إلی آخره، ولایمنع ما علی ظفرصباغ ولاطعام بین أسنانه أو فی سنه المجوف به یفتی، وقیل: إن صلبا منع، وهوالأصح (الدرالمختار ج: ۱ ص: ۱۵۲، ۲۵٤، مطلب ابحاث الغسل، أیضًا: عالگیری ج: ۱ ص: ۱۳ الباب الثانی فی الغسل)۔

[2]] عن عباس ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: اکتحلو بالإثمد فإنه یجلوا البصر وینبت الشعر وزعم أن النبی صلی الله علیه وسلم کانت له مکحلة یکتحل بها کل لیلة ثلاثة فی هذه رواه الترمذی (مشکوة ج: ۲ ص: ۳۸۳، باب الترجل، الفصل الثانی)۔

غلط دی،کاش! چې ډاکټر صاحب خلکوته ووايي چې دټې وي شعاګانې دسترګوله پاره ځومره نقصاني دي.

دښځو غوږونه او پوزه سوري کول

سوال: دقرآن او سنت په رڼا کې وښيئ چې دجينکو غوږونه او پوزه سوري کولورسم ترکوم حده پورې ثابت دی؟ يادامحض يو رسم دی؟

جواب: ښځوله پاره والۍ وغيره اچول جائزدي او ددې ضرورت له پاره غوږونه، پوزه سوري کول هم جائزدي.[1]

ايا د ځوان سړي ختنه کول ضروري دي؟

سوال: که ديومسلمان بچي ختنه له څه وجې (چې هغه ته ددې پته وي) موروپلار نه وي کړې؛ نوګناه به دچا وي؟ ۱: دختنې له پاره به څه کول پکار وي؟

۲: ايا هغه به مسلمان وي اوکه نه؟ يعنې دعام مسلمان په شان.

جواب: ختنه کول دصحيح قول مطابق سنت او اسلامي نښنه ده[2]،که مورو پلار په ماشوم والي کې نه وي کړې؛ نو د موروپلار د اخرت دملامتيا لاتق دي، خوپخپله هغه کس دملامتيالاتق نه دی، دځوانيدو وروسته هم که دا سړی غواړي؛ نوهغه ته پکار دي چې ختنه وکړي اوکه تحمل نه وي؛ نو دا معاف دی اونن سباخو سرجري دومره ترقي کړې ده چې دختنې دناقابل تحمل سوال نه شته، باقي دختنې نه کولو باوجود هم دا سړی مسلمان دی، خوچې دادالله تعالی اودرسول الله ﷺ ټول حکمونه د زړه سره مني.[3]

ايا د ماشوم پيدايشي ويښتان لرې کول ضروري دي؟

سوال: اوريدلي مودي چې کله ماشوم پيداکيږي؛ نودهغه جسم پاکيږي اوپه اوريدوکې راغلي دي چې دهغه ويښتان هم ترکومې پورې چې دسرنه صفا نه کړل په ويښتانوکې غلاظت

---

[1] قال فی شرح التنویر :ولابأس بثقب أذن البنت والطفل إستحسانًا ملتقط قال ابن عابدين: ظاهره أن المراد به الذكرمع أن ثقب الأذن لتعليق القرط وهوزينة النساء فلايحل للذكور (الدرالمختارمع ردالمحتارج:٦ص: ٤٢٠)

[2] عن أبی هريرة عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: الفطرة خمس، أوخمس من الفطرة: الختان والإستحداد وتقليم الأظفارونتف الإبط وقصّ الشارب (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۵، باب تقليم الأظفار، مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۸، باب خصال الفطرة)۔

[3] الشيخ الضعيف إذا أسلم ولايطيق الختان إن قال أهل البصر لايطيق يترك لأن ترك الواجب بالعذرجائز فترك السنّة أولی، كذا فی الخلاصة، قيل فی ختان الكبيرإذا أمكن أن يختن نفسه فعل والا لم يفعل (عالمگيری ج: ۵ ص: ۳۵۷، الباب التاسع عشر فی الختان والخصاء...إلخ)۔

پاتې کیږي، چې د هغه له وجې د هغه ویښتانو ته لاس لګولو سره لاس ناپاکه کیږي، چې د دې بیا وینځل ضروري کیږي؛ نوایا دا خبره ریښتیا ده؟ اوکه دیوې اینجلۍ ویښتان په وړوکوالي صفانه کړل شي او هغه اینجلۍ د پنځونه شپږوکلنو شي، داداسې عمردی چې په دې کې د سرګنجي کول بدمنل کیږي؛ نوبیا په داسې صورت کې څه کول پکار دي؟

جواب: له پیدایش نه وروسته بچی مینځل کیږي، په هغه مینځلو سره دهغه ویښتان هم پاکیږي، البته پیدایشي ویښتان لرې کول سنت دي.[1]

جسم باندې خالونه لګول شرعا څنګه دي؟

سوال: موجوده دورکې دا یوه طریقه په معاشرې کې رائج شوې ده چې خلک په مصنوعي مشینونو سره په لاسونو باندې نومونه لیکي یاد څه درنده (څناور) یا د ونې تصویر جوړوي، ایا په دې باندې څه ګناه هم ملاویږي؟ اوله دې سره اودس کیږي اوکه نه؟

جواب: په بدن باندې خالونو لګولونه په حدیث کې منع راغلې ده او حضورپاک ﷺ په دې باندې لعنت فرمایلی دی:

"ان رسول الله ﷺ لعن الواشمه والمستوشمه." (صحیح بخاری ج:۲ ص:۸۷۹).

ترجمه: " رسول الله ﷺ په جسم داغونه لګونکو او لګولو والاوباندې لعنت فرمایلی دی.

ښځوته د سړیو په شان ځان جوړول

سوال: زموږ په خاندان کې یوه ښځه ده، چې هغې له ماشوم والي نه د سړیو چال چلن اختیار کړی دی، د سړیو لباس اچوي، د سړیو په شان ویښته پریږدي، مختصر ځان ته سړی وایي او که د خاندان یو سړی هغې ته ښځه وایي؛ نوجګړه ورسره کوي، له دې نه پرته هغه ښځه روژې او لمونځ په ډیر پابندۍ سره کوي او ځان د خلکو په مخکې یو دین دار او صحیح سړی وړاندې کوي اوپه حقیقت کې هغه دینداره هم ده، تاسوماته ووایئ چې ایا د شریعت په لحاظ دا جائز دي؟ د هغې ښځې عمر اوس د څلویښت کلونو برابر دی.

جواب: ښځې له پاره د سړي او سړي له پاره د ښځې مشابهت کول حرام دي، حضورپاک ﷺ په دې باندې لعنت فرمایلی دی:

"عن ابن عباس رضی الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ المتشبهین من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال." (صحیح بخاری ج:۲ ص:۸۷٤).

---

[1] عن الحسن عن سمرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الغلام مرتهن بعقیقته تذبح عنه یوم السابع ویسمّی ویحلق رأسه رواه أحمد والترمذی وأبوداؤد والنسائی (مشکوة ص: ۳٦۲، باب العقیقة، طبع قدیمی)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی فرمایي چې: رسول الله ﷺ ښځوسره مشابهت کونکوسړیو باندې لعنت فرمایلی او سړیوسره مشابهت کونکو ښځوباندې لعنت فرمایلی دی.

که د ورویځو ویښتان غټ شي؛ نو کټ کول یې جائز دي

سوال: دوریځو ویښتان غټیدو باندې یا په بې زیبه کیدو باندې دا کټ کول کیږي یا په راښکلو سره ویستل کیږي اوکه نه؟

جواب: چې ویښتان غټ شي؛ نو ددې کټ کول جائزدي، خوپه راښکلو سره ویستل یې صحیح نه دي.[1]

تورخضاب په دې نیت سره لګول چې خلک ورته ځوان ووایي

سوال: ما دحجه الاسلام امام محمد غزالي (رحمه الله) تصنیف "کیمیائے سعادت" مطالعې په دوران کتلي دي چې د سړیو حضراتو ډیرې باندې تورې نکریزي په دې نیت سره لګول چې خلک هغه ځوان وګڼي، ډیره سخته ګناه ده او حضوراکرم ﷺ فرمایلي چې کوم سړی په ډیرې باندې خضاب لګوي چې ځوان په نظر راشي، هغه ته به دجنت خوشبوهم نصیب نه شي او دا هم روایت دي چې دټولو نه لومړی په ډیره کې باندې خضاب فرعون لګولی و او دحضور پاک ﷺ ارشاد مبارک دی چې کوم الله تعالی دسپینو ویښتو بزرګي درکړې ده دا خلک هغه پټوي.
ستاسوبه ډیره مهرباني وي دقرآن او سنت په رڼا کې دا په تفصیل سره بیان کړئ، ځکه چې زماخه مشران داسې کوي او زه دهغوی دمشرې له وجې هغوی نه شم منع کولی ، له دې پرته چیرې دا هغوی په خپل شان کې ګستاخي ونه ګڼي، هسې هم دا وبا عامه شوې ده، مادا هم لوستلي دي چې د دښمن مرعوب کولو په غرض ډیره کې دنګریزو لګولو اجازه شته، ځکه چې په جنګ احد کې حضورپاک ﷺ دداسې کولو حکم فرمایلی و، خو خضاب لګول ډیره سخته ګناه ده.

جواب: امام حجه الاسلام غزالي (رحمه الله) چې کومه مسئله لیکلې ده، هغه صحیح ده، تور خضاب (تور نګریزي، وسمه) لګول داکثرو علماوو په نزد ناجائزدي او په حدیث کې ددې ممانعت راغلی دی:

((عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یکون قوم یخضبون في آخر الزمان بالسواد کحواصل الحمام لا یریحون رائحة الجنة)) (ابوداؤد ج:۲،ص:۲۲۶).

---

[1] وعن أبي یوسف رحمه الله تعالی: ولاباس باخذالحاجبین وشعروجهه مالم یتشبه بالمخنث...إلخ (الفتاوی عالمگیری ج: ۵ ص: ۳۵۸، کتاب الکراهیة، الباب التاسع عشرفی الختان...إلخ).

ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حضور پاک ﷺ نه روايت کوي چې حضور پاک ﷺ فرمايلي: په اخري زمانه کې به خلک په داسې تور رنګ سره خضاب لګوي، لکه د کونترې د بچي په شان هغه ته به د جنت خوشبو هم نصيب نه شي.

دسر د ويښتانو غوڼدولو شرعي حکم

سوال: ۲۵ جولائی نه ۳۱ جولائي په اخبار جهان کې "کتاب وسنت روشنے میں" د ښځې د سر خلاص ويښتان، ولوستل، د هغې ورځې نه موږ په عجيبه شك کې اخته يو، ځکه چې موږ خود ماشوموالي نه دا اورو چې ويښتان تړلي ساتل پکار دي او د ۸ تاريخ په "ستاسو مسائل او دهغو حل" کې هم تاسو دعاليه اميرد سوال په جواب کې يوازې دا ليکلي دي، چې هغه د چوټو فيشن بد دی، تاسو دا نه دي ليکلي چې چوټي تړل بد دي، ځکه چې د دې مراسلې نه خو موږ دا مطلب هم اخيستی شوچې چوټي تړل بد دي، هغه څه داسې و:

"کوم احاديث چې لاندې ذکر کوم، د هغوپه رڼا کې د ښځې جوړه، کمځی، پوني ساتلو شرعا اجازه نه شته، حضور پاک ﷺ دويښتانو په راغونډولو او راغونډولو والاوو باندې لعنت ويلی دی، احاديث شريف دا دي: نمبر ۸۷۴، ۸۷۵، ۸۷۶، ۸۷۷، (د صحيح بخاري شريف له دريم جلد څخه په نقل).

نن سبا چې د ويښتانو کوم فيشن دی، ايا هغه شرعي حيثيت لري؟ د دې احاديثو په رڼا کې د ښځې ويښتان خلاص شوي، په ملا او شاګانو باندې پراته پکار دي، حافظ صاحب دا مسئله ډيره اهمه ده، تاسو د دې وضاحت وکړئ، زموږ شکونه ختم کړئ." د حافظ صاحب جواب دا و: تاسو کافي وضاحت کړی دی، اوس زموږ د وضاحت ضرورت نه شته.

اوس زموږ ګزارش دادی چې تاسولږ په وضاحت سره جواب راکړئ ځکه چې په دې جواب سره موږ ته تسلي نه ده شوې، هسې موږ په دې عمل شروع کړی دی، خو بيا هم زموږ په کورونو کې زياتې ښځې ويښته تړلي ساتي؛ نو دا د ويښتانو فيش په مسلمانانو کې له کوم ځای نه راغی؟ ځکه چې په دې لحاظ سره خو موږ په يو ډول ګناه کې اخته يو، ځکه چې حضور اکرم ﷺ لعنت فرمايلی دی په داسې خلکو باندې، تاسو زموږ رهنمايي وکړئ او مسلمانانو ښځو ته سيده لاره وښيئ.

جواب: د ښځو د سر ويښتان راغونډول نه يوازې جائز، بلکه امهات المؤمنين او د صحابيات رضي الله عنهن سنت دي، په صحيح مسلم (ج:۱،ص:۱۴۹) کې ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها حديث دی:

عن أم سلمة قالت قلت يا رسول الله إني امرأة أشد ضفر رأسي فأنقضه لغسل الجنابة قال لا إنما يكفيك أن تحثي على رأسك ثلاث حثيات ثم تفيضين عليك الماء فتطهرين (صحيح مسلم ج:۱،ص:۱۴۹).

ترجمه: د حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي چې هغې حضور پاک ﷺ ته عرض وکړ چې: زه د

سر ویښتان راغونډوم، ایا دغسل او جنابت له پاره ماته دسرویښتتان خلاصول پکار دي؟ ویې فرمایل: نه! بس همدومره کافي ده چې په سرباندې درې خله اوبه واچوه (چې ورسره دویښتو بیخونه لامده شي)، بیا په ټول بدن باندې اوبه واچوه.

په صحیح بخاري او داحادیثو په نورو کتابونوکې دحضرت عائشې رضي الله عنها حدیث مبارک دی چې د حجه الوداع په موقع باندې حضورپاک ﷺ هغې ته حکم کړی و چې: د سر ویښته خلاص کړه او ګومنځ یې کړه.

عن عبيد بن عمير قال بلغ عائشة أن عبد الله بن عمرو يأمر النساء إذا اغتسلن أن ينقضن رءوسهن فقالت يا عجبا لابن عمرو هذا يأمر النساء إذا اغتسلن. (صحیح مسلم ج:۱،ص:۱۵۰).

ترجمه: دحضرت عائشې رضي الله عنها حدیث مبارک دی چې هغې ته دا خبر ورسید چې عبدالله بن عمر رضي الله عنه ښځوته حکم ورکوي چې هغوی دې دغسل له پاره خپل ټرلي ویښتان خلاص کړي، په دې باندې د اعتراض کولو له وجې حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمایل: په ابن عمرباندې تعجب دی! هغه ښځوته د غسل له پاره د ویښتانو خلاصولوحکم ورکوي، دا ولې نه وایي چې هغوی دې دسرویښتان وخریي.

ددې حدیثونو مبارکونه ثابتیږي چې د امهات المؤمنین او صحابیات رضي الله عنهن سرونه ټرلي و د "اخبار جهان" مراسله نګار چې دکومو حدیثونو حواله ورکړې ده، ددې احادیثو دموجوده زیربحث مسئلې سره هیڅ تعلق نه شته، هغه دیوبلې مسئلې سره متعلق ده، دجاهلیت په زمانه کې دا دستور و چې دکوموښځو دسرویښتان به کمیدل هغوی به دبهره نه ویښتان راغونډول، چې دهغوی ویښتان زیات شي اوځینو ښځوبه دجوړولو په دې فن کې مهارت لرلو. په داسې ښځوباندې حضور پاک ﷺ لعنت فرمایلی دی کومې چې دسرویښتان زیاتولو له پاره ویښته ولګوي یا جوړ کړي.[1]

ایا د غیر مسلم ختنه کول ضروري دي؟

سوال: یو سړی چې دهغه عمر پنځوس (۵۰) کاله دی، مخکې هغه عیسایي و، اوس هغه د الله په فضل او کرم سره کلمه ویلې مسلمان شوی دی، هغه مخکې کافر و، ځکه هغه ختنه نه ده کړې، اوس هغه مسلمان دی، دهغه له پاره ختنه کول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دختنې حکم خودډیر عمرسړي له پاره هم دی، شرط دادی چې هغه ددې متحمل وي، که دهغه متحمل نه وي؛ نو پرې دې ښودل شي.[2]

---

[1] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم لعن الله والواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۸، باب الوصل فی الشعر)۔

[2] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الفطرة خمس، أوخمس..[بقيه په راروانه صفحه.

حضرت ابراهیم علیه السلام ته دختنې حکم کله وشو؟

سوال: دمولانا حفظ الرحمن سیوهاروي(رحمه الله) دیوکتاب دمطالعې کولو اتفاق وشو، مولانا لیکلي و چې دحضرت ابراهیم علیه السلام ختنه په یوکم سل کاله (۹۹) عمرکې وشوه؛ نوبیاهغه خپل اولاد ته ددې امر حکم وکړ. ایاددې نه مخکې داحکم و اوکه نه؟ په هرحال اوس تاسو مهرباني وکړئ لږ په وضاحت سره دا مسئله بیان کړئ.

جواب: کله چې له ټولو نه مخکې داحکم حضرت ابراهیم علیه السلام ته وشو؛ نو ظاهره ده چې ددې نه مخکې به یې حکم نه و، تاسوته په دې کې څه اعتراض دی ---؟[۱]

•••••••••••••••

❖ لباس ❖

دلباس شرعي حکمونه

سوال: دسړیو او ښځو له پاره په ویښتانوپه جوړولو کې څه پابندي شته؟ او همدا رنګه ددوی د لباس متعلق، ایا څه خصوصي هدایت شریعت ورکړي دي؟

جواب: د سر ویښتانو له پاره دڅه خاصې وضع یا وړولو پابندي شریعت نه ده لګولې، البته څه حدود یې داسې ضرور مقرر کړي دي چې خلاف کول یې منع دي، ددې حدود لاندې چې سړی څه غواړي کولی یې شي، هغه حدود دادي:

۱: که ویښته خریل غواړي؛ نو ټول سردې وخریي دڅه برخې خریل او دڅه برخې نه خریل منع دي.[۲]

...بقیه د تیرمخ].. من الفطرة: الختان والإستحداد وتقليم الأظفارونتف الإبط وقصّ الشارب (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷۵، باب تقليم الأظفار، مسلم ج: ۱ ص: ۱۲۸، باب خصال الفطرة)) الشيخ الضعيف إذا أسلم ولايطيق الختان إن قال أهل البصر لايطيق يترك لأن ترك الواجب بالعذرجائز فترك السنّة أولى، كذا فى الخلاصة، قيل فى ختان الكبيرإذا أمكن أن يختن نفسه فعل والا لم يفعل (عالمگیری ج: ۵ ص: ۳۵۷، الباب التاسع عشر فى الختان والخصاء...إلخ)

[۱] عن يحيى بن سعيد أنه سمع سعيد بن المسيّب يقول: كان إبراهيم خليل الرحمن أوّل الناس ضيّف وأوّل الناس اختتن وأوّل الناس قص شاربه وأوّل الناس رأى الشيب فقال: ياربّ ماهذا؟ قال الربّ تبارك وتعالى: وقارٌ يا إبراهيم! قال: ربّ زدنى وقارًا رواه مالك (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۵، باب الترجل، الفصل الثالث)_

[۲] عن نافع عن ابن عمرقال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم ينهى عن القزع، قيل لنافع: ما القزع؟ قال: يحلق بعض رأس الصبى ويترك البعض متفق عليه والحق بعضهم التفسيربالحديث بقي..[بقيه په راروانه صفحه

۲: دوینځتانو په وضع کې د کافرانو او فاسقانو نقل او مشابهت مه اختیاروئ.[۱]
۳: سرې دې د ښځو په څیر او ښځې دې د سړو په څیر ویښتان نه ساتي.[۲]
۴: که ویښتان غټ وي؛ نو دا صفا ستره ساتئ، تیل پرې لګوئ او د ضرورت مطابق یې ګومنځ کوئ هم[۳]، چې ویښتان ګډوډ نه وي، خو ویښتان داسې مشغله هم مه جوړوئ چې هغه په تکلیف کې داخل شي.[۴]
۵. لوڅ سر مه ګرځئ.[۵]
۶ په سپینو ویښتانو باندې تور خضاب لګول منع دي، دیوبل رنګ خضاب کولی شئ[۱]، رسول اللهﷺ به عام ډول ویښته پرېښودل، کله به د غوږونو نیمایي پورې و، کله به د غوږونو نه لاندې او کله به تر اوږو پورې.[۲]

...بقیه د تیرمخ]... وعن ابن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم أری صبیًا قد حُلق بعض رأسه وترك بعضه فنهاهم عن ذالك وقال احلقوا کله واترکوا کله (مشکوة ج: ۱ ص: ۳۸۰، باب الترجل الفصل الأوّل) وفی الزخیرة........ ویکره القزع وهو أن یحلق البعض ویترك البعض قطعًا (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی البیع)۔

[۱] قال صلی الله علیه وسلم .... ولاتشبهوا بالیهود ولا بالنصاری (سنن ابن ماجة ص: ۹۹، ترمذی ج: ۲ ص: ۹۹) أیضًا: وفی الزخیرة ولا بأس أن یحلق رأسه وسط رأسه ویرسل شعره من غیر أن یفتله وإن فتله فذالك مکروه لأنه یصیر مشبهًا ببعض الکفرة والمجوس فی دیارنا یرسلون الشعر من غیر فتل ولکن لا یحلقون وسط الرأس بل یجزون الناصیة تاتارخانیة......... ویکره القزع وهو أن یحلق البعض ونترك البعض قطعًا مقدارثلاثة أصابع کذا فی الغرائب (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی البیع)۔

[۲] وعن ابن عباس قال: لعن النبی صلی الله علیه وسلم المخنثین .... أی المتشبهین بالنساء من الرجال فی الزی واللباس والخضاب والصوت والصورة التکلم .... والمترجلات، بکسرالجیم المشددة أی المتشبها بالرجال من النساء، زیًا وهیئة ومشیة ورفع صورت ونحوها...إلخ (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٥٩، ٤٦٠، باب الترجل، طبع بمبئی) أیضًا: عن ابن عباس قال: لعن النبی صلی الله علیه وسلم المتشبهین من الرجال بالنساء، والمتشبهات من النساء بالرجال (بخاری شریف ج: ۲ ص: ۸۷٤، باب المتشبهین بالنساء والمتشبهات بالرجال)۔

[۳] عن أبی هریرة أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من کان له شعر فلیکرمه (مشکوة ج: ۲ ص: ۳۸۲، باب الترجل، الفصل الثانی)۔

[۴] عن عبدالله بن یزید ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان ینهانا عن کثیرمن الإرفاه (مشکوة ج: ۲ ص: ۳۸۲، باب الترجل، الفصل الثانی)۔

[۵] عن ابن عمرقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهومنهم وفی المرقاة : (من تشبه بقوم) أی من شبه نفسه بالکفار مثلًا فی اللباس وغیره أوبالفساق أو الفجارأوبأهل التصوف والصلحاء الأبرار(فهومنهم) أی فی الإثم والخیر (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٣١، کتاب اللباس، الفصل الثانی، طبع بمبئی هند)۔

دلباس متعلق هماغه اصول دي کوم چې دوینښتانویه باره کې بیان شول، چې دخه خاصې وضع پابندي شریعت نه ده لګولې، البته څه حدود ددې هم مقرر دي، له دې نه تجاوز نه دی پکار، هغه حدود دادي

۱: دسړي باید قمیص، پرتوګ، تهبند وغیره، دومره لاندې ونه رسیږي چې ښنګري یادهغو څه برخه پټه شي.[۳]

۲: لباس چې دومره نرۍ یا تنګ نه وي چې هغه اعضاء ظاهر شي دکوموچې پټول واجب دي.[۴]

۳: په لباس کې دکافرانو او فاسقانو نقل او مشابهت اختیار نه کړئ.[۵]

۴: سړی دې دښځو لباس او ښځې دې دسړیو لباس نه اغوندي.[۶]

۵: دخپل مالي استطاعت نه دزیات قیمتي لباس اهتمام مه کوئ.[۷]

---

[۱] عن أبي هريرة قال النبي صلى الله عليه وسلم إن اليهود والنصارى لا يصبغون فخالفوهم، وفى رواية واجتنبوا السواد (بخارى ج:۲ ص: ۸۷۵، باب الخضاب، مسلم ج:۱ ص: ۱۹۹) وفى رواية: غيّرالشيّب ولا تشبّهوا باليهود وفى رواية: غيّربه الشيّب الحناء والكتم(ترمذى ج:۱ ص: ۳۰۵، مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۲)

[۲] عن مالك أن جمّته لتضربُ قريبًا من منكبه....... قال شعبة شعره يبلغ شحمة أذنيه، وفى رواية: كان شعر رسول الله صلى الله عليه وسلم رجْلا ليس بالسبط ولا الجعد بين أذنيه وعاتقيه بخارى ج:۲ ص:۸۷۶، باب الجعد)

[۳] عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا ينظر الله يوم القيامة إلى من جرّ إزاره بطرًا (بخارى ج: ۲ ص: ۸٦۱، باب من جرّ ثوبه من الخيلاء) وفى رواية عن أبي سعيد هل سمعت من رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئًا فى الإزار؟ قال: نعم! سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول إزار المؤمن إلى أنصاف ساقيه لا جناح عليه ما بينه وبين الكعبين وما أسفل من الكعبين فى النار يقول ثلاثًا لا ينظرالله إلى من جرّ إزاره بطرًا مشكوة ص: ۳۷٤، كتاب اللباس، مسلم ج: ۲ ص: ۱۹۵، ابن ماجة ص: ۲۵۵)۔

[۴] فكل لباس ينكشف معه جزء من عورة الرجل والمرأة لاتقره الشريعة اللإسلامية، مهما كان جميلا أوموافقًا لدورالأزياء، وكذالك الباس الرقيق أواللاصق بالجسم الذى يحكى للناظر شكل حصة من الجسم الذى يجب ستره، فهو فى حكم ما سبق فى الحرمة وعدم الجواز (تكملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ۸۸)۔

[۵] أن اللباس الذي يتشبه به الإنسان بأقوام كفرة لايجوز لبسه لمسلم إذا قصدبذالك التشبه بهم (تكملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ۸۸، كتاب اللباس) عن ابن عمرو بن العاص أخبره قال رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم علَيّ ثوبين معصفرين،فقال:ان هذه من ثياب الكفار فلاتلبسها(مسلم ج:۲ ص:۱۹۲باب النهى عن لبس الرجل الثوب المعصفر)

[٦] عن ابن عباس قال: لعن النبى صل الله عليه وسلم المتشبهين الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخارى ج: ۲ ص: ۸۷٤، باب المتشبّهين بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال، طبع ميرمحمد كتب خانه)۔

[۷] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تلبس بما لم يعط كان كلابس ثوبى زوراعلم أن الكسوة منها فرض ....كما فى النتف بين النفيس والخسيس اذ خير الأمور أوسطها وللنهى عن الشهرتين وهو ما كان فى نهاية النفاسة أوالخساسة (ردالمحتارج: ٦ ص: ۳۵۱ كتاب الحظروالإباحة، فصل فى اللبس، طبع سعيد)۔

۶. مالداره سړی دې دومره خراب لباس نه اچوي چې کتونکي هغه ته غریب ووايي.[۱]
۷. د فخر، نمائش او تکلف نه اجتناب وکړي.[۲]
۸. لباس یوازې صفا پکار دی، سړیو له پاره سپین لباس زیات خوښ کړل شوی دی.[۳]
۹. سړیو له پاره د اصلي ریښمو لباس اچول حرام دي.[۴]
۱۰. خالص سور لباس د سړیو له پاره مکروه دی، دیو بل رنګ ګډون که په کې وي یا دانه دار وي؛ نو څه مضائقه په کې نه شته.[۵] والله اعلم!

د پټکي شرعي حیثیت، اوږد والی او رنګ

سوال: که یو سړی د سنت له وجې پټکی تړي، خو که د کور والا او دوستان ټول یې بد ګڼي او هغه تنګوي؛ نو هغه څه وکړي؟ له دې پرته دا هم ووایئ چې د دې موجوده پیمائش څه دی؟

جواب: پټکئ تړل د حضور پاک ﷺ سنت مبارک دي[۶]، دا بد ګڼل ډیره بده خبره ده، که وې تړئ؛ نو ثواب دی، که ویې نه تړئ؛ نو ګناه نه شته، ویل کیږي چې د حضور پاک ﷺ پټکی مبارک به دوه قسمه و، یو غټ بل وړوکی، وړوکی به تقریبا درې ګزه و او غټ به تقریبا پنځه ګزه و، خو په یو روایت کې هم د پټکي اوږد والی نقل نه دی، حضور پاک ﷺ به سپین لباس

[۱] عن عمر بن شعیب عن أبیه عن جده قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن الله یحب ان یری) بصیغة المجهول، یبصرویظهر(أثرنعمة) أی إحسانه وکرمه تعالی (علی عبده) فمن شکرها إظهارها ومن کفر انها کتمانها، قال المظهر یعنی إذا أتی الله عبدًا من عباده نعمة من نعم الدنیا فلیظهرها من نفسه، بأن یلبس لباسًا یلیق بحاله لإظهارنعمة الله علیه ...إلخ (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٣١، ٤٣٢ کتاب اللباس، الفصل الثانی، طبع بمبئی هند)۔

[۲] ولابأس بلبس الثیاب الجمیلة إذالم یکن للکبیر ...إلخ (بزازیة علی الهندیة ج: ٦ ص: ٣٦٨،أیضًا: ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٥١، کتاب الحظروالإباحة)۔

[۳] قال صلی الله علیه وسلم: البسوا من ثیابکم البیاض، فإنها أطهروأطیب (سنن نسائی ج: ٢ ص:٢٩٧)۔

[۴] إنی (حذیفة) سمعت رسول الله علیه وسلم یقول: لاتلبسوا الدیباج والحریر...إلخ (مسلم ج: ٦ ص: ١٨٩، باب تحریم إستعمال إناء الذهب ...إلخ) عن أنس قال: قال رسول الله صی الله علیه وسلم:من لبس الحریر فی الدنیالم یلبسه فی الآخرة (مسلم ج: ٢ ص: ١٩٢ باب تحریم إستعمال إناء الذهب ...إلخ)۔

[۵] وفی الحاوی الزاهدی یکره للرجال لبس المعصفروالمزعفروالمورس والمحرأی الأحمرحریرًا کان أوغیره إذاکان فی صبغه دم والا فلا (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٥٨، فصل فی اللبس، أیضًا: شمائل ترمذی مترجم ص: ٤١٠، ٥٣، طبع میرمحمد کراچی)۔

[۶] کانت له عمامة تسمی السحاب، کساهاعلیًا، وکان یلبسها ویلبس تحتهاالقلنسوة، وکان یلبس القلنسوة بغیرعمامة، ویلبس العمامة بغیرقلنسوة (زادالمعادفی هدی خیرالعباد ج: ١ ص: ١٣٥، طبع مؤسسة الرسالة)۔

خوښاو[۱]، ځکه سپینه عمامه (پټکی) هم خوښونکی ده او دسفر په دوران کې توره عمامه (پټکی) یې هم استعمال کړې ده.[۲]

عمامه (پټکی) سنت نبوي او ددې ترغیب

سوال: زړه مې غواړي چې په دیني مدرسوکې په هرطالب علم باندې دا پابندي وي چې په سرباندې پټکی تړل دهغوی له پاره لازمي وي، د دواړو جهانو دبادشاه دحضرت محمد ﷺ سنت مبارک دي اوددیني مدرسوطالب علمان هم ددې پابندي کول یشي، دنظرونوله پاره به ډیر خوشګوار منظر وي چې په هریوجماعت کې، په هردرس کې ناستي، دهریوطالب علم په سرباندې تاج مبارک ایښی وي، په لمونځ کې هم په سلونو حضرات دالله تعالی په مخکې ددې تاج سره ولاړ وي، امیددی چې کله دې طالب علمانو دخپل څه کار له پاره په بازارکې په سرباندې دا تاج مبارک ایښی وي یوخوابل خوا چې ځي؛ نوددواړو جهانودبادشاه حضرت محمد ﷺ سنت مبارک په صدقه کې دالله تعالی په زرګونو رحمتونه دښار په کوڅه کوڅه کې وریږي، الله تعالی ته خو دخپل حبیب په هره یوه ادا باندې مینه راځي اودالله تعالی درحمت نه لرې نه ده چې دیوسنت په صدقه کې زموږ دهدایت او نجات فیصله وکړي.

جواب: ماشاء الله! ډیر مبارک تحریک دی، دمدارس عربیه طالب علمانوته ددې سخت ترغیب ورکول پکار دي او یوازې طالب علمان نه، بلکې ټولو مسلمانانوته پکار دي چې دنبي اکرم ﷺ دا سنت مبارک ژوندی کړي او پټکي د سنت په نیت سره په سرباندې وتړي.

ټوپۍ پسرول او پټکی تړل

سوال: ایا ټوپۍ پسرول او پټکی تړل سنت دي؟

جواب: ټوپی او پټکی دواړه سنت دي.[۳]

---

[۱] عن سمرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ألبسوا من ثيابكم البياض فإنها أطهروأطيب...إلخ (سنن نسائی ج: ۲ ص: ۲۹۷، باب الأمربلبس البيض من الثياب)۔

[۲] عن جابرأن رسول الله صلى الله عليه وسلم: دخل يوم فتح مكه وعليه عمامة سوداء بغيرإحرام...إلخ (سنن نسائی ج: ۲ ص: ۲۹۹، باب لبس العمائم السود)۔

[۳] واعلم انه صلى الله عليه وسلم كانت له عمامة سوداء، تسمى السحاب وكان يلبس تحتهاالقلانس، جمع قلنسوة وهى غشاء مبطن يستربه الرأس، قال الفراء، وقال غيره: هى التى تسميهاالشاشية والعراقية، وروى الطبرانى وأبوالشيخ والبيهقى فى شعب الإيمان من حديث ابن عمررضى الله عنهما، كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يلبس قلنسوة ذات آذان يلبسها فى السفرن، وربما وضعها بين يديه إذاصلى، واسناده ضعيف، كذاقى أبى داؤد والمصنف، فرق ما بيناوبين المشركين العمائم على القلانس، قال المصنف غريب، وليس اسناده بالقائم...إلخ (جمع الوسائل شرح شمائل ج: ۱ ص: ۳۰٤، باب ماجاء ..[بقيه په راروانه صفحه.

سپین یا تور پټکی وهل څنګه دي؟

سوال: حضرت! زما دوست دجمعې په ورځ باندې تور پټکی وهي، هغه ته چاوویل چې ته له کله بریلوی شوی یې؟ ایا پټکی وهل د بریلیانو نښه ده؟

جواب: سپین یاتورپټکی وهلی شي اوکه چیرې دشیعه ګانوسره مشابهت وي؛ نوبیادې تورنه په سروي.

د سړیو په سرباندې ټوپی کیښودل

سوال: ښځوته په سرباندې دلوپټې پسرولو تاکیدشته؛ نوایا سړیو ته دلمانځه پرته هم په سرباندې ټوپی پسرول ضروري دي؟ ددې جواب هم په تفصیل سره وفرمایئ.

جواب: په کور کې که سرې پرته ټوپی وي؛ نوهیڅ خبره نه ده، خود سړیو لوڅ سره په بازارونو کې ګرځیدل دادب خلاف دي او علماء دداسې خلکو شهادت نه قبلوي[1] نن سبا چې د سړیو دا لوڅ سر بازارونو او دفترو ته دتلو رواج عام دی، دا دفرنګیانو تقلید دی، ښه ښه دینداره خلک هم دلوڅ سر اوسیدو عادتي شوي دي. اناللّٰه وانااليه راجعون!

ښځوته دمختلف رنګونو جامې اغوستل جائز دي

سوال: زموږ بزرګان دځه رنګونو جامې، بنګړي (مثلاً: تور، شنه رنګونه) اچولو نه منع فرمايي، دهغوی وینا ده چې دفلاني رنګ جامو اغوستلو سره مصيبت راځي، دا ترکوم حده پورې صحیح ده؟

جواب: دمختلفو رنګونو بنګړي او جامې اغوستل جائزدي او دا خیال چې فلاني رنګ سره مصیبت راځي، محض وهم پرستي ده، په رنګونو سره هیڅ نه کیږي، په اعمالو سره انسان دالله تعالی په نظر کې مقبول یا مردود کیږي او په بدوعملونوسره مصیبتونه نازلیږي.[2]

...بقیه د تیرمخ]. فی عمامة رسول الله صلی الله علیه وسلم) وروی الطبرانی عن ابن عمرمرفوعًا کان یلبس قلنسوة بیضاء، وروی الرویانی وابن عساکر بسند ضعیف عن ابن عباس أنه صلی الله علیه وسلم کان یلبس القلانس تحت العمائم وبغیرالعمائم، ویلبس العمائم بغیرقلانس وکان یلبس القلانس الیمانیة، ومن أبیض المضربة، ویلبس ذات الآ ذان فی الحرب......... کذا فی الجامع الصغیرللسیوطی (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٢٤ باب اللباس، طبع بمبئی)۔

[1] قال: ولامن یفعل الأفعال المستحقرة کالبول علی الطریق والأکل علی الطریق لأنه تارك للمروة وإذاکان لا یستحی عن مثل ذالك لایمتنع عن الکذب فیتهم ..إلخ (الهدایة ج:٣ ص:١٦٢ باب من یقبل شهادته ومن لایقبل)

[2] وکره لبس المعصفر......... مفاده أنه لایکره للنساء ولابأس بسائرالألوان ...إلخ (درمختار ج : ٦ ص: ٣٥٨، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی اللبس)۔

د ښځو پرتوګ د ښنګرو نه لاندې پورې پکار دی

سوال: تاسو فرمايلي و چې د ښنګرو پورې پرتوګ پکار دی، ايا دا حکم د ښځوله پاره هم دی يا يوازې د سړيو له پاره مخصوص دی؟ او هر وخت يا يوازې د لمانځه له پاره ؟

جواب: نه! دا د سړيو حکم دی، د ښځو پرتوګ د ښنګرو نه لاندې پورې پکار دی.[1]

پرتوګ او کميس د ښنګرو نه لاندې کول ګناه ده

سوال: يو مولاناصاحب ازار (پرتوګ) د ښنګرونه لاندې ځوړندول په لويو ګناهونو کې شميرلي دي، په دې کې هيڅ شک نه شته چې په دې باندې کافي احاديث بيان شوي دي او د دې احاديثونه وروسته دابن عمر رضي الله عنه حديث مبارک چې په بخاري شريف کې دی، له دې نه هم معلومه شوه چې دا له وجې د تکبر حرام دي، داسې مکروه پرته د قصدنه معاف دي، په فتاوی عزيزي کې دي چې دا مکروه دي چې سړی دې پائجامه، لنګ او ازار (پرتوګ) د ښنګرونه لاندې پورې ورسوي.

جواب: پرتوګ، پايجامه، ياڅادر د ښنګرو نه لاندې لګول کبيره ګناه ده او که نه؟ په دې سلسله کې دوه خبرې د تحقيق غوښتونکې دي، لومړی دا چې کبيره ګناه څه ته وايي؟ دويمه دا چې موجوده زيربحث فعل د ګناه کبيره په ضمن کې راځي او که نه؟

لومړی خبره: مجمع البحار (البحار ج: ٤، ص: ٣٥٨ طبع جديد حيدر آباد دکن) "نهايه" نه د ګناه کبيره دا تعريف نقل کړی دی:

"هغه کار د کوم له وجې چې حد واجبيږي، يا په کوم چې شارع خصوصي وعيد اورولی وي او په دې کې شک نه شته چې د شرک نه وروسته کبيره ګناوې د حد په اعتبار سره يا د هغه وعيد کوم چې شارع فرمايلی، په شدت او ضعف کې مختلفې دي."[2]

د دې عبارت نه معلومه شوه چې د کوم کار په خاص ډول نوم اخيستل شوی وي، حضورپاک ﷺ يو دنياوي يا اخروي وعيد اورولي وي، مثلاً: فلانی سړی ملعون دی، په فلاني سړي باندې به د رحمت نظر نه وي، يا فلانی سړی د جهنم مستحق دی، دې ټولو فعلونو ته ګناه کبيره وايي او دا هم معلومه شوه چې څنګه د نيکۍ درجې مختلفې دي، داسې د کبيره ګناهونو درجې هم مختلفې دي، ځينې ګناهونه، په کبيره ګناهونو کې ډير لوی شميرل کيږي او ځينې

---

[1] ينبغي أن يكون الإزارفوق الكعبين إلى نصف الساق وهذافي حق الرجال، وأما النساء فيرخين إزارهن أسفل من إزارالرجال يسترظهرقدمهن...إلخ (الفتاوى الهندية ج: ٥ ص: ٣٣٣، كتاب الكراهية)۔

[2] هوالموجبة حدًا أو ماأوعدالشارع عليه بخصوصه، ولاشك انها بعد الشرك يختلف بحسب الحد وبحسب ماأوعد به شدة وضعفا (مجمع بحارالأنوار ج: ٤ ص: ٣٥٤)۔

ددې نه دکمې درجې.

دويمه خبره: دکبيره ګناهونو دمعلوميدو نه وروسته اوس دا کتل دي چې حضورپاکﷺ پرتوګ ،قميص، پائجامه يا څادر دښنګرونه دلاندې کولو په باره کې څه فرمايلي دي؟ په دې سلسله کې يو څو احاديث نقل کوم:

١ **عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: لا ينظر الله يوم القيامة الى من جرازاره بطرًا. متفق عليه.**" (مشكوة ص:٣٧٣).

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي: چې الله تعالی به دقيامت په ورځ دهغه سړي طرف ته درحمت په نظرنه ګوري چې هغه د تکبرله وجې خپل څادر ځان پسې وروسته راکاږي. (مشكاة ص: ٣٧٣، كتاب اللباس، الفصل الاول)

هم دا حديث په مجمع الزوائد کې (ج:٥،ص:١٢٢، ١٢۶) له لاندې ذکر شويو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه نقل شوی دی: حضرت عائشه رضي الله عنها، حضرت جابر رضي الله عنه، حضرت حسين بن علي رضي الله عنه، حضرت انس بن مالک رضي الله عنه، حضرت هبيب بن مغفل رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه.

دحضرت انس رضي الله عنه دحديث الفاظ دا دي: "**عن انس رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال: الا زار الى نصف الساق او الى الكعبين لا خير في اسفل من ذلک. رواه احمد اوالطبراني في الاوسط ورجال احمد رجال الصحيح.**" (مجمع الزوائد ج:٥ ص:١٢٢، باب في الازاروموضعه، طبع دارالكتب العلمية، بيروت).

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې: رسول اللهﷺ فرمايلي: چې څادر دنيمې پونډۍ پورې پکار دی يا (زيات نه زيات) ښنګرو پورې او چې ددې نه لاندې وي په هغه کې هيڅ خير نه شته.

او دعبدالله بن مغفل رضي الله عنه دروايت الفاظ دا دي:

"**عن عبدالله بن مغفل رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ازارة المؤمن الى نصف الساق وليس عليه حرج فيما بينه وبين الكعبين وما اسفل من ذلک ففي النار.**" (مجمع الزوائد ج:٥ ص:١٢۶، باب في الازاروموضوعه، طبع دارالكتب العلمية، بيروت).

ترجمه: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه روايت کوي چې رسول اللهﷺ فرمايلي: چې دمؤمن لنګ (پرتوګ) د نيمې پونډۍ پورې وي او که دنيمې پونډۍ نه واخله ترښنګرو پورې په مينځ مينځ کې وي: نوبيا هم په دې کې هيڅ حرج نه شته او چې ددې نه لاندې وي هغه په دوزخ کې دی.

۲۲: "**عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: لا ينظر الله يوم القيامة الى من جر ازارة بطرًا.**"

(صحيح بخاری ج:٢ ص:٨۶١، باب من جر ثوبه من الخيلاء).

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي: چې الله تعالی به دقيامت په ورځ دهغه سړي طرف ته درحمت په نظرنه ګوري چې هغه د تکبرله وجې خپل څادر

ځان پسې ورو سته راکاږي (صحیح بخاری و مسلم، مشکوة ص:۳۷۳).

۳۳: "عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ان الذی یجر ثیابه من الخیلاء لاینظر الله الیه یوم القیامة." (مسلم ج:۳ ص:۱۹٤، باب تحریم جرالثوب خیلاء).

ترجمه: د حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کوم سړی چې د تکبرله وجې خپل څادر ځان پسې ورو سته راکاږي روان وي، الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه طرف ته نظر نه کوي." (حواله بالا)

٤٤: " عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ازارة المؤمن الی انصاف ساقیه، لاجناح علیه فیما بینه وبین الکعبین، وماأسفل من ذلک ففی النار، قال ذلک ثلاث مرات، ولاینظر الله یوم القیامة الی من جر ازاره بطرًا. رواه ابو داؤد ابن ماجة." (مشکوة ص:۳۷٤، کتاب اللباس، الفصل الثانی).

ترجمه: حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه نه روایت دی چې: ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې: د مؤمن لنګ د نیمې پونډۍ پورې وي او د نیمې پونډۍ نه تر ښنګرو پورې په مینځ کې که وي؛ نو په دې کې هیڅ ګناه نه شته او چې د دې نه لاندې وي هغه په دوزخ کې دی، دا خبره یې درې ځله وفرمایله او الله تعالی به هغه سړي طرف ته د قیامت په ورځ نه ګوري کوم چې د تکبر له وجې خپل څادر ځان پسې ورو سته راکاږي روان وي"(مؤطا امام مالک ص:۳۶۷، ابوداؤد، ابن ماجه، مشکوة ص:۳۷٤)

۵: عن ابن مسعود رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من اسبل ازاره فی صلاته خیلاء فلیس من الله جل ذکره فی حل وحرام،، (ابوداؤد ج:۱۱ ص۹ ۹۳، باب الاسبال فی الصلوة۳)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا فرمان اوریدلی دی چې: کوم سړی د تکبر له وجې په لمانځه کې خپل څادر د ښنګرو نه لاندې وساتي، د هغه الله تعالی سره هیڅ تعلق نه شته، نه په حلالو کې، نه په حرامو کې.

٦٦: "عن عطاء بن یسار عن بعض اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم قال: بینما رجل یصلی وهو مسبل ازاره قال له رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذهب فتوضأ قال: فذهب فتوضأ ثم جاء، فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذهب فتوضاء، ثم جاء، فقال: یارسول الله امالک امرته یتوضأ ثم سکت عنه، فقال: انه کان یصلی وهو مسبل ازاره وان الله تبارک وتعالی لایقبل صلوة عبد مسبل ازاره." (مجمع الزوائد ج: ۵ ص: ۱۵٤ - ۱۵۵، کتاب اللباس، باب فی الازار وموضعه).

ترجمه: حضرت عطاء بن یسار (رحمه الله) له ځینو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت کوي چې: یو سړي

لمونځ کاو او دهغه څادر د ښنګرو نه لاندې و، حضورپاک ﷺ هغه ته وفرمايل: لاړشه اودس وکړه بيا راشه! هغه اودس وکړ راغی، حضورپاک ﷺ ورته بيا وفرمايل: لاړشه اودس وکړه بياراشه! هغه بيا اودس وکړ راغی، چاعرض وکړ: يارسول الله ﷺ! تاسو هغه ته داودس کولوحکم ولې وکړ؟ حضور پاک ﷺ وفرمايل: دې سړي خپل څادر دښنګرو نه لاندې کړی لمونځ يې کولو او الله تعالی دداسې سړي لمونځ نه قبلوي د چاڅادر چې دښنګرو نه لاندې وي.

۷۷:"عن ابن عباس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: كل شيء جاوز الكعبين من الازار في النار."

(مجمع الزوائد ج:۵ ص:۱۵٤، کتاب اللباس، باب فی الازاروموضعه).

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: هر هغه ازار چې دښنګرو نه کښته وي هغه په دوزخ کې دی.

۸۸:" عن ابي ذر رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: ثلاثة لايكلمهم الله يوم القيامة ولاينظر اليهم ولايزكيهم ولهم عذاب اليم. قال ابو ذر: خابوا وخسروا،من هم يارسول الله ﷺ؟ قال: المسبل والمنان والمنفق سلعته بالحلف الكاذب. رواه مسلم." (مشکوة ص:۲٤۳، باب المساهلة فی المعاملة، الفصل الاول).

ترجمه: دحضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: درې سړي داسې دي چې الله پاک به د قيامت په ورځ له هغوی سره خبرې نه کوي او نه به دهغوی طرف ته نظر کوي او نه به هغوی پاکوي او دهغوی له پاره سخت عذاب دی.

اول: هغه چې څادرېې له ښنګرونه لاندې وي.

دويم: هغه چې صدقه ورکړي او احسان کوي.

دريم: هغه سړی چې هغه ددروغوپه قسم خپل مال بدلوي. (صحيح مسلم، مشکوة ص:۲٤۳).

په دې احاديثوکې دداسې سړي له پاره چې هغه خپله پاجامه،کميس، لنګ(ازار) دښنګرونه لاندې ساتي، حضورپاک ﷺ دهغه له پاره لاندې وعيدونه فرمايلي دي:

۱: هغه ددوزخ مستحق دی.
۲: الله تعالی به دهغه طرف ته نه ګوري، نه به هغه سره خبرې کوي اونه به هغه پاکوي.
۳: هغه د دردناک عذاب مستحق دی.
۴: دهغه شميرېږي د دروغژن او احسان بارونکي په صف کې کړی.
۵: دهغه دالله تعالی حرام او حلال سره هيڅ واسطه نه شته.
۶: دهغه لمونځ نه قبليږي.

ددې تصريحاتونه معلوميږي چې دالله تعالی او دهغه درسول الله ﷺ په نظر کې دا معمولي ګناه نه ده، بلکې دا ګناه په کبيره ګناهونوکې شميرل کيږي، پاتې شوه دا چې په حديث کې دا

مطلق نه دی، بلکې دهغه سړي له پاره دی چې هغه دتکبرله وجې خپله پاجامه یا څادر د ښنګرونه لاندې ساتي، کله چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه عرض وکړ چې کله کله زما څادر لاندې پریوځي؛ نو حضور پاک ﷺ وفرمایل چې ستاشمیر په هغه خلکوکې نه دی![1]

ددې شک حل دادی چې یو پرته له قصد او ارادې څخه څادر یا پرتوګ دښنګرونه لاندې کیدل دي، ددې منشاخوتکبرنه دی، څکه داسې سړی ددې وعیدونومستحق نه دی اوبل دا چې په قصد. اختیار او ارادې سره داسې کول دي، ددې منشاء تکبر دی، څکه داسې سړی دخپل تکبرله وجې ددې وعیدونو مستحق دی، دلته دا شک هم حل کیږي چې دښنګرو نه لاندې شلوار یا پاجامه ساتل خوپه ظاهره معمولي خبره معلومیږي، حضورپاک ﷺ په دومره معمولي خبروباندې دومره لوی وعیدونه ولې فرمایلي؟ جواب دادی چې دحضورپاک ﷺ نظر په دې ظاهري کار باندې نه دی، بلکه ددې په منشاء باندې دی او هغه تکبر دی، چې دهغه له وجې دا ظاهري کار پیداکیږي؛ نوچې ددې منشاء تکبر دی اوتکبردابلیس صفت دی؛ نوڅکه ددې په کبیره ګناه کې هیڅ شک نه شته.[2]

زموږ په زمانه کې چې کوم خلک پرتوګ، پاجامه او څادردښنګرونه دلاندې ساتلو عادتي دي، هغه دا کار دعزت موجب ګڼي اودښنګرونه پورته ساتلوکې ورته څان سپک محسوسیږي او د حضور پاک ﷺ سنت، نیمې پونډۍ پورې لنګ وهلوته ډېر دحقارت په نظر ګوري، اوس دې وفرمایل شي چې ددې منشاء دتکبر نه پرته څه ده؟ بلکې د نبي علیه السلام سنت ته په سپک نظر کتلو کې خود ګناه نه زیات د ایمان وتلو ویره ده[3] څکه زما رایه اوس هم داده چې شلوار، پاجامه او څادر په قصد سره دښنګرو نه لاندې ساتل، دا فخر ګڼل او ددې خلاف کول سپک او بې عزتي ګڼل کبیره ګناه ده، هو! که چیرته له قصد او ارادې پرته داسې وشي؛ نو ګناه نه شته ، علماء حضرات څینې وخت په حرامو باندې هم د مکروه اطلاق کوي، څنګه چې

[1] قال أبوبكر: يارسول الله! ان أحد شقى إزارى يسترخى إلا أن أتعاهد ذالك منه، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: إنك لست ممن يصنع ذالك خيلاء (نسائى ج: ٢ ص: ٢٩٨، باب الإسبال الإزار)۔

[2] قال القاضى ثناء الله : وأنه تعالى انماطرده وأهبط لتكبره، عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة أحد فى قلبه مثقال ذرّة من خردل من كبر، رواه مسلم وفى رواية: ألا أخبركم بأهل النار؟ كل عتل جواظ متكبر! متفق عليه (مظهرى ج: ٣ ص: ٣٣٣، طبع مكتبه اشاعة العلوم دهلى)۔

[3] قال ابن الهمام : وقدكفرالحنفية من واظب على ترك سنّته إستخفافاًبها بسبب انها فعلها النبى صلى الله عليه وسلم زيادة أو إستقباحها...إلخ (شرح فقه الأكبر ص: ١٨٦، طبع دهلى مجتبائى) قال فى شرح تنوير: قلت ثم رأيت فى معروضات المفتى أبى السعود سؤالاًملخصه: ان طالب علم ذكرعنده حديث نبوى فقال أكل أحاديث النبى صلى الله عليه وسلم صدق يعمل بها، فأجاب بأنه يكفرأولاً بسبب إستفهامه الإنكارى، وثانيًا بإلحاقه الشين للنبى صلى الله عليه وسلم، ففى كفره الأوّل عن إعتقاده يؤمربتجديدالإيمان فلايقتل، والثانى يفيدالزندقة (الدرالمختار ج: ٤ ص: ٢٣٥)۔

علامه شامي (رحمه الله) ليکلي دي (ج:۱،ص:۱۳۱)[۱]، ځکه که په فتاوی عزيزي کې که دې ته مکروه ليکلي دي؛ نودا به هم په دې باندې محمول کړل شي، فرض کړئ که دا صغيره هم تسليم کړل شي؛ نوبيا هم صغيره ګناه له ضدنه وروسته کبيره جوړيږي، مشهور قول دی:

لاصغيرة مع الاصرار،ولا کبيرة مع الاستغفار، يعنې په ګناه باندې ددوام کولو له وجې صغيره ګناه،کبيره جوړيږي او له استغفار وروسته کبيره ګناه هم صغيره جوړيږي.

کوم خلک چې شلوار، پاجامه وغيره دښنګرو نه لاندې ساتي، دهغوی په دې ګناه باندې دوام کول خو واضح دي، ځکه نو له دوام وروسته دا ګناه يقينا کبيره ګناه ده.

دا بحث مي ليکلی و چې دشيخ ابن حجرمکي (رحمه الله) کتاب **"الزواجر عن اقتراف الکبائر"** مې وکوت، له دې نه د راقم الحروف درايې تايد وشو، ځکه مناسب معلومه شوه چې دفائدې حاصلولو له پاره دې د شيخ (رحمه الله) ترجمه دلته نقل کړل شي، هغه ليکي:

يوسل نهمه (۱۰۹) کبيره ګناه: څادر ، جامه، لستوڼی او يا شمله د تکبر نه اوږدول.

يوسل لسمه (۱۱۰) کبيره ګناه: ، تکبرسره ګرځيدل.

۱: دامام بخاري (رحمه الله) او دنورو حضراتو نه روايت دی چې:کوم ازار دښنګرونه لاندې وي، هغه په دوزخ کې دی.

۲: دنسايي روايت دی: دمؤمن پايڅې دپيړې پنډۍ پورې وي، بيا نيامې پنډۍ پورې، بيا ښنګرو پورې اوکوم چې دښنګرونه لاندې وي، هغه په دوزخ کې دي.

۳: په صحيحين وغيره کې دي: الله تعالی به دهغه سړي طرف ته نظر نه کوي چې هغه دتکبرله وجې خپلې جامې ځان پسې راکاږي.

۴: له دې پرته: الله تعالی هغه سړي طرف ته نظر نه فرمايي چې څوک دتکبرله وجې خپل څادر ځان پسې وروسته راکاږي.

۵: له دې پرته: کوم سړی چې دتکبرله وجې خپل څادر دځان پسې راکاږي روان وي، الله تعالی به د قيامت په ورځ دهغه طرف ته نظر نه کوي په دې اوريدو باندې حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه عرض وکړ: يارسول الله صلی الله عليه وسلم! زما څادر لاندې پريوځي، حال دا چې زه ددې حفاظت کوم، حضورپاک صلی الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل: ته له هغو خلکونه نه يې څوک چې داکار دتکبرله وجې کوي.

۶: په صحيح مسلم کې دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې: ماپه خپلو غوږونو درسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا اوريدلي دي: کوم سړی چې خپل څادر ځان پسې راکاږي روان وي هغه ددې سره دتکبر نه پرته دبل څه شي اراده نه کوي؛ نوالله تعالی به دقيامت په ورځ دهغه طرف ته نظر نه کوي.

---

[۱] (قوله ومکروهه) هوضدالمحبوب، قديطلق على الحرام كقول القدورى ..إلخ (ردالمحتار ج: ۱ ص: ۱۳۱، مطلب فى المكروه وأنه قد يطلق على الحرام، طبع سعيد)۔

۷ امام ابوداود، دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت کوي چې: رسول الله ﷺ د څادر په باره کې چې کوم څه فرمایلي هما هغه په قمیص کې هم دي.

۸: امام مالک،ابوداود،نسایي،ابن ماجه اوابن حبان په (خپل صحیح کې) دعلاء بن عبدالرحمن روایت دخپل پلار نه نقل کړی دی چې: مادابوسعیدخدري رضي الله عنه نه دتهبندپه باره کې پوښتنه وکړه (چې کوم ځای پورې پکاردی؟) نوویې فرمایل: چې تا دیو باخبر انسان نه سوال وکړ، درسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی چې: دمؤمن څادر دنیمې پنډۍ پورې پکار دی، دنیمې پنډۍ نه واخله ترښنګرو پورې په مینځ مینځ کې وي؛ نوپه دې کې هیڅ حرج نه شته، یا یې وفرمایل هیڅ ګناه نه شته او که څوک یې ددې نه لاندې ساتي هغه په دوزخ کې دی او کوم سړی چې خپل څادر راکاږي روان وي، الله تعالی به دقیامت په ورځ دهغه طرف ته نظر نه کوي.

۹: امام احمد (رحمه الله) دداسې سند نه چې دهغه راوي ثقه دی له ابن عمر رضي الله عنه نه یې روایت کړی دی چې: زه دحضورپاک ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او زما څادر کشیده، (ځنګه چې نوې جامه کشیږي) حضور پاک ﷺ وفرمایل: څوک دي؟ ماعرض وکړ: عبدالله بن عمر، ویې فرمایل: که ته عبدالله (دالله بنده) یې؛ نوخپل لنګ اوچت ساته، بس مادنیمې پنډۍ پورې لنګ اوچت کړ، راوي وایي چې: بیا ترمرګ پورې هغه به په دې هیئت سره لنګ وهلو.

۱۰: امام مسلم، ابوداود،نسایي، ترمذي، ابن ماجه نه روایت دی چې: درې سړي داسې دي، چې هغوی سره به دقیامت په ورځ نه الله تعالی خبرې کوي اونه به دهغوی طرف ته نظرکوي او نه به هغوی پاک کړي او دهغوی له پاره سخت عذاب دی، دا خبره(کومه چې دقرآن کریم اقتباس دی) حضور پاک ﷺ درې ځله وفرمایله، حضرت ابوذر رضي الله عنه عرض وکړ: دا خلک خو ډیر نامراده او نقصان اوچتونکي دي، یارسول الله ﷺ! دا کوم خلک دي؟ ویې فرمایل: دښنګرونه لاندې ازار ساتلو والا، چې صدقه ورکړي بیا احسان کوي، دروغو قسم خوړلو باندې سودا خرڅولو والا.

۱۱: امام ابوداود، نسایي او ابن ماجه دداسې روایانونه چې جمهوریې توثیق کړی دی، روایت کړی دی چې: دجامې (د ضرورت نه زیات) ځوړندول په لنګ کې هم وي، په قمیص کې هم او په عمامه کې هم،کوم سړی چې څه شی دتکبر له وجې ځان پسې راکاږي روان وي، الله تعالی به د قیامت په ورځ دهغه طرف ته نظر نه کوي.

۱۲: او په یو روایت کې دي چې: دڅادر دښنګرو لاندې کولو نه منع شئ دا کا ربه تکبر کې شمیرل کیږي او الله تعالی دا نه خوښوي.

۱۳: دطبراني په معجم اوسط کې دي: اې دمسلمانانوډلې! دالله تعالی نه وویریږئ، رشتې ملاو کړئ، ځکه چې دصله رحمي نه مخکې دیوشي ثواب هم نه ملاویږي او دظلم او تعدي نه احتراز وکړئ، ځکه چې دظلم د سزا نه د یوشي سزا هم مخکې نه ملاویږي او د مورو پلار له نافرماني نه احتراز وکړئ، ځکه چې دجنت خوشبو دزرو کالو په مسافت سره به راځي، خو په

الله قسم! د مورو پلار نافرمان ته به دا نه نصیب کیږي، نه قطع رحمي کولو والا ته، نه بوډا زنا کار ته او نه د تکبرله وجې خپل څادر راکاږلو والا ته، تکبریوازې دالله تعالی (چې د دواړو جهانو بادشاه دی) له پاره دی.

له دې پرته دطبراني روایت دی: کوم سړی چې خپله جامه ځان پسې راکاږي روان وي، الله تعالی به دقیامت په ورځ دهغه طرف ته نظر نه کوي، که هغه (پخپل ګمان) دالله تعالی په نزد ډیر زیات خوښ ولې نه وي. دبیهقي په روایت کې دي: جبرائیل علیه السلام زما خوا ته راغی او ویې ویل چې: دا پنځلسم شعبان دی او په دې شپه کې الله تعالی، دبنوکلب دچیلو دتعداد برابر خلک ازادوي، خوالله تعالی په دې شپه نظر نه کوي د مشرک طرف ته، نه دجادوګر طرف ته، نه خپلوي ختمونکو طرف ته، نه لنګ دښنګرو نه لاندې ساتونکي طرف ته، نه دمورو پلار دنافرمان طرف ته، نه د شراب خور طرف ته.

۱۵: امام بزار (رحمه الله) دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت کوي چې: موږ دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر وو چې دقریش یو سړی حلې ته راغی، کله چې پاڅید لاړ؛ نو حضورپاک صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بریده! دا داسې سړی دی چې الله تعالی به دده له پاره دقیامت په ورځ یو وزن هم نه تیاروي، په تکبرسره د ګرځیدلو، باقي احادیث دکتاب په لوملیو کې د تکبر په بحث کې تیرشوي دي.

تنبیه: ددې دواړوشیانوپه تکبرکې شمیر داسې شی دی چې په دې احادیثوکې یې تصریح شوې ده. ځکه چې په دې دواړو کارونو باندې سخت وعیدفرمایل شوی دی او دشیخینو (رافعي او نووي رحمهما الله) دصاحب "عده" دا قول مسلم ساتل چې: "په تکبر سره ګرځیدل صغیره ګناه ده" دا په دې صورت محمول دي، چې هغه دتکبر قصد نه وي کړی چې هغه ددې سره ملاویږي، لکه مخلوق سپک ګڼل، ګنې دا کار کبیره ګناه ده ځکه چې تکبر کبیره ګناه ده، څنګه چې مخکې تیرشوي دي او زموږ دعلماوو یوې ډلې په شیخینو (رافعي (رحمه الله) او نووي (رحمه الله)) باندې اعتراض کړی چې ددوی د صاحب "عده" قول مسلم ساتل محل نظر دی چې دا فعل د فخر او تکبر په قصدسره وي، دالله تعالی ارشاد دی: "اوپه ځمکه کې تکبیر سره مه ګرځئ، ته ځمکه نه شې شلولی او نه د غرونو اوږدوالي ته رسېدلی شې، دا ټولې خبرې ددې بدي ستا درب په نزد ناخوښه دي" او په صحیح مسلم کې دي: "هغه سړی به جنت ته نه داخلیږي دچاپه زړه کې چې دذرې برابر تکبر هم وي" او په صحیحینو کې دي: "ایا تاسو ته دوزخي خلک ونه ښایم؟ سخت مزاجه، متکبر" او په صحیحین کې دي: "الله تعالی به دقیامت په ورځ ددا سې سړي طرف ته نظر نه کوي چې هغه خپله جامه په تکبر سره راکاږي" له دې پرته په صحیحینو کې دي: "یو سړي حله اچولې وه روان و، هغه ته خپل ځان ښایسته ښکاریده سرېږې ګومنځ کړی و، په رفتارکې یې تکبر و، سمدستي الله تعالی هغه په ځمکه کې خښ کړ، بس هغه به ترقیامته پورې په ځمکه کې دننه ډوبیږي".

دشيخ ابن حجر(رحمه الله) د دې تقرير نه معلومه شوه چې په تکبر سره کرځيدل ګناه کبيره کيدو کې، خوځينو حضراتو اختلاف کړی دی، خوپاجامه دبښنګرونه لاندې ساتل ګناه کبيره کيدو کې د هيڅ اختلاف نه شته. **هذا ماعندي،والله اعلم بالصواب!**[1]

[1] الكبيرة السعة بعدالمائة: طول الإزار أوالثوب أوالكم أوالعذبة خيلاء، الكبيرة العاشرة بعدالمائة: التبختر في المشي: أخرج البخاري وغيره : ما أسفل من الكعبين من الإزارففي النار،، وفي رواية للنسائي: ،، ازار المؤمن إلى عضلة ساقه ثم إلى نصف ساقه ثم إلى كعبيه وماتحت الكعبين من الإزارففي النار،، والشيخان وغيرهما: ،،، لاينظرالله يوم القيامة إلى من جرّثوبه خيلاء،، وأيضًا: لاينظرالله إلى من جرّإزاره بطرًا،، وأيضًا: من جرّثوبه خيلاء لم ينظرالله إليه يوم القيامة، فقال أبوبكرالصديق رضي الله عنه: يارسول الله!إن إزاري يسترخي إلا أن أتعاهده، فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: إنك لست ممن يفعله خيلاء،، وفي رواية لمسلم عن ابن عمرسمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم بأذنيّ هاتين يقول:،، من جرّإزاره لايريدبذالك إلاالمخيلة فإن الله لاينظرإليه يوم القيامة" والخيلاء بضم أوكسر ففتح ومد: الكبروالعجب، والمخيلة من الإختيال وهو الكبر واستحقارالناس وأبوداؤد عن ابن عمر: ما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في الإزار فهوفي القميص،، ومالك وأبوداؤ والنسائي وابن ماجة وابن حيان في صحيحه عن العلاء بن عبدالرحمن عن أبيه قال: سألت أباسعيد عن الإزار فقال على الخبيرهاسقطت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:إزار المؤمن إلى نصف الساق ولاحرج، أوقال: ولاجناح عليه فيمابينه وبين الكعبين، ماكان أسفل من ذالك فهوفي النار، ومن جرّإزاره بطرًا لم ينظرالله يوم القيامة " وأحمد بسند رواته ثقات عن ابن عمر: " دخلت على النبي صلى الله عليه وسلم..... وعليّ إزاريتقعقع فقال: من هذا؟ قلت: عبدالله بن عمر!قال: إن كنت عبدالله فارفع إزارك، رفعت أزاري إلى نصف الساقين، فلم تزل ازارته حتى مات،، ومسلم والأربعة: "ثلاثة لايكلمهم الله يوم القيامة ولاينظرإليهم ولايزكيهم ولهم عذاب أليم، قال: فقرأها رسول الله صلى الله عليه وسلم ثلاث مرات، قال أبوذر: خابوا وخسروا، منهم يارسول الله؟ قال: المسبل والمنّان والمنفق سلعته بالحلف الكاذب: وفي رواية: " المسبل إزاره " وأبوداؤد والنسائي وابن ماجة من رواية من وثقه الجمهور: " والإسبال في الإزاروالقميص والعمامة، من جرّشيئًا خيلاء لم ينظرالله إليه يوم القيامة " وفي رواية:" إياك وإسبال الإزار فإنه من المخيلة ولايحبها الله " والطبراني في الأوسط: " يامعشرالمسلمين! إتقوا الله وصلوا ارحامكم، فإنه ليس من ثواب أسرع من صلة رحم، وإياكم والبغي فإنه ليس من عقوبة أسرع من عقوبة البغي، وإياكم وعقوق الوالدين، فإن ريح الجنة يوجد من مسيرة ألف عام، والله! لايجدها عاق ولاقاطع رحم ولا شيخ زان ولا جارّإزاره خيلاء إنماالكبرياء لله ربّ العلمين " الحديث وأيضًا: " من جرثوبه خيلاء لم ينظرالله إليه يوم القيامة وإن كان على الله كريمًا" والبيهقي : " أتاني جبريل عليه السلام فقال لي: هذه ليلة النصف من شعبان، ولله فيهاعتقاء من الناربعدد شعور الغنم بني كلب لاينظرالله فيهاإلى مشرك ولاإلى ساحر ولا إلى قاطع رحم ولا إلى مسبل ولا إلى عاق لوالديه ولا إلى مدمن خمر" والبزارعن بريدة قال: " كناعند النبي صلى الله عليه وسلم فأقبل رجل من قريش يخطرفي حلة له، فلماقام عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يابريدة! هذا لايقيم الله له يوم القيامة وزنا" ومرت بقية أحاديث التبختر في أوائل الكتاب في بحث الكبر.......(تنبيه) عدهذين من الكبائرهوماصرحت به الأحاديث لمافيها من شدة الوعيد عليهما، وتقريرالشيخين صاحب العدة على أن التبخترفي المشي من الصغائريتعين حمله على مالم ينته به الحال إلى أن يقصد به التكبرالمنضم اليه نحو..[بقيه په راروانه صفحه.

[بقيه په راروانه صفحه.

په لباس کې درې شیان حرام دي

سوال: سړیو او ښځو ته په لباس اچولو کې څه احتیاط پکار دی؟

جواب: په لباس کې درې شیان حرام دي:

۱. سړیو له پاره دښځو او ښځو له پاره د سړیو په څیر لباس اچول.[۱]

۲. په وضع قطع او په لباس کې دفاسقانو اوبدکارو مشابهت کول.[۲]

۳. د فخر اوتکبر والا لباس اچول.[۳]

اوس دا پخپله وګورئ چې ستاسو په لباس کې د دې خبرو خیال ساتلی شئ او که نه ---؟

حضور پاک ﷺ په کرتې باندې سپوږمۍ ستوری نه و جوړ کړي

سوال: مخکې هفته زه دیو درزي (خیاط) دوکان ته لاړم، هلته یو مولوي صاحب کُرتې جوړولو ته راغلی و، کله چې درزي دهغه ناپ واخیست؛ نو مولوی صاحب درزي ته وویل چې: "د کرتې په وروسته طرف سپوږمۍ ستوری په هغه تارسره جوړ کړه کوم تار چې ته د کرتې له پاره استعمالوې" کله چې هغه لاړ؛ نو ما درزي نه پوښتنه وکړه چې ددې سپوږمۍ ستوري څه مطلب دی؟ دا مولوي صاحب ولې جوړوي؟؛ نو هغه وویل چې حضور پاک ﷺ هم دخپلې کرتې په وروسته طرف ستوری سپوږمۍ جوړه کړې وه، ځکه دا سپوږمۍ ستوری جوړوي، که دا خبره

...بقیه د تیرمخ]... إستحقار الخلق وإلا فهو كبيرة إذا التكبر من الكبائر كما مر وصرح به جمع من أئمتنا، ومن ثم إعترض على الشيخين جمع بأن تقريرهما له على ذالك فيه نظر إذا تعمده تكبرًا وفخرًا وإكثارًا قال تعالى: " وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحاً إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولاً كُلُّ ذَلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوهاً" والمرح: التبختر كما في رياض النووي وروى مسلم: " لاينظر الله يوم القيامة إلى من جر ثوبه بطرا " وفيهما أيضًا: " بينما رجل يمشي في حلة تعجبه نفسه مرجلة رأسه يختال في مشيته إذ خسف الله به فهو يتجلجل في الأرض" ويتجلجل بالجيم: أي يغوص وينزل فيها إلى يوم القيامة (الزواجر عن إقتراف الكبائر ص: ۱۵۷، ۱۵۸، طبع دار المعرفة، بيروت)

[۱] الكبيرة التاسعة بعد المائة تشبه الرجال بالنساء فيما يختصصن به عرفا غالبا من لباس........لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الرجل يلبس لبسة المرأة والمرأة تلبس لبس الرجل (الزواجر ج: ۱ ص: ۱۵۵)۔

[۲] وعنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم أى من شبه نفسه بالكفار مثلا في اللباس وغيره أو بالفساق أو الفجار.......فهو منهم أى في الإثم والخير (مرقاة شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٤٣١، كتاب اللباس، الفصل الثاني)۔

[۳] عن أبي هريرة يقول: قال النبي صلى الله عليه وسلم أو قال أبو القاسم صلى الله عليه وسلم بينما رجل يمشي في حلة تعجبه نفسه مرجلة رأسه يختال في مشيته إذ خسف الله به فهو يتجلجل إلى يوم القيامة (بخاری ج: ۲ ص: ۸٦۱، باب من جر ثوبه من الخيلاء، مسلم ج: ۲ ص: ۱۹۵، باب تحريم التبختر في المشي مع اعجابه .إلخ)

صحيح وي؛ نو ايا دحضور پاک ﷺ نقل کول يا دهغه برابري کول په اسلام کې جائز دي؟ مهرباني وکړئ په وضاحت سره جواب راکړئ، شکريه!

جواب: ماته په يو حديث کې هم دانه دي ملاو شوي چې حضور پاک ﷺ دکرتې په شاباندې سپوږمۍ ستوري جوړ کړي وي، ځکه دا کيسه غلطه ده.

ساړهي اغوستل شرعاً څنګه دي؟

سوال: ساړهي اغوستل جائز دي يا ناجائز؟

جواب: که ساړهي داسې واغوستول شي چې په هغه سره ټول جسم پټ شي؛ نو هيڅ حرج نه شته، خو نن سبا په زرګونو کې په مشکل سره يوه ښځه داسې دپوره جسم پټولو والا ساړهي اغوندي، په ساړهي اغوستلو کې شرعي پرده نه شي کيداى، ځکه يوازې په ساړهي اغوستلو کې دښځې له پاره بهر وتل جائز نه دي.[۱]

د لنډې جامې استعمال

سوال: محترمه! زه تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې دلنډې جامې اغوستل جائز دي يا ناجائز؟

جواب: دادې صفا شي او دهغه غيراسلامي وضع قطع دې بدله کړل شي؛ نوبيايې اچولى شئ.

مصنوعي ريښم اغوستل

سوال: په بخاري او مسلم کې دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه روايت شوى يو حديث مې له نظره تيرشو (چې دا په يو ماهنامه کې پټ و)، په هغه کې حضور پاک ﷺ دَيو څوشيانونه منع فرمايلې ده، په هغه کې يو دا هم دى چې: "دسوت او ريښم په ملاوټ سره تياره شوې جامه ددې نه سوال دا پيدا کيږي چې نن سبا په بازارونوکې دريښمو(سلک) مختلف قسمه جامې موجودې دي، ددوکاندارانو وينا ده چې دا خالص ريښم نه دي، بلکې دريښم او ملکوت سره ملاو شوې جامه ده؛ نو ايا په دې حالت کې دا حرامه شوه؟ بياد (راوسلک) په نوم هم يوه جامه اغوستل کيږي دا په کومه زمره کې راځي؟

جواب: دمنصوعي ريښمو چې کومې جامې تياريږي، داريښم نه دي؟ ځکه ددې اغوستل او استعمالول جائز دي، البته که داصل ريښم جامه وي؛ نودهغې اغوستل صحيح نه دي.[۲]

---

[۱] عن أبي هريرة ..... صنفان من أهل النار....... ونساء كاسيات...إلخ قيل معناه تستربعض بدنها وتكشف بعضه إظهارًا لجمالها ونحوه وقيل معناه تلبس ثوبًا رقيقًايصف لون بدنها (مسلم مع شرح الكامل للنووى ج:۲ ص: ۲۰۵)

[۲] إني (أي حذيفة) سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لاتلبسوا..[بقيه په راروانه صفحه.

په سکولونو کې د انګریزي یونیفارم پابندي

سوال: زه د یو مقامي کالج طالب علم یم، زموږ په کالج کې د حاضرۍ له پاره دانګریزانو په څیر د یونیفارم (لباس) پابندي ده، په هغه کې پینټ او شرټ لازمي دي، که یو طالب علم دا وانه چوي؛ نو هغه له کلاس نه ویستل کیږي، حالانکې په ډیرو کالجونو کې دا پابندي نه شته، پاکستان یو اسلامي ملک دی او زموږ صدر جنرل محمد ضیاء الحق صاحب داسلامي نظام دنفاذ اعلان کوي، پینټ او شرټ دانګریزانو لباس دی، که زموږ پرنسپل صاحب دديې په ځای د قومي لباس پابندي ولګوي؛ نو دا به د اسلامي نظام له پاره ګټور وي، د انګریزي لباس قید لګول ترکوم حده پورې صحیح دي؟

جواب: دانسان په زړه کې چې دچاسره عزت وي دهغوی شکل او صورت خپلوي، دقومي لباس یا اسلامي لباس په ځای د انګریزي لباس او شکل صورت پابندي دَیهود او نصارى ړوند تقلید او د حضورپاک ﷺ دعزت او محبت په زړه کې دنه شتون وجه ده[1] ددې صحیح علاج خو دادی چې په ځوانانو طالب علمانو کې اسلامي جذبه بیداره شي او هغوی قومي لباس خپل یونیفارم (لباس) وګرځوي.

ښځې له پاره د نرۍ جامې استعمال

سوال: ایا په اسلام کې دنرۍ جامې داستعمال اجازه شته؟ نن سبا دا رواج عام دی او دا خبره بده نه ګڼل کیږي، زما خیال دی چې دا بالکل غلط ده او داسلام داصولو خلاف خبره ده، خوزماسره هیڅوک متفق نه دي، ایا زما رایه غلطه ده؟ ستاسوبه ډیره مهرباني وي که په دې باره کې هم صحیح معلومات راکړل چې زموږ دټولو اصلاح وشي، زه غواړم چې په دې مسئله زیاته نه زیاته توجه ورکړل شي؟

جواب: ښځې له پاره داسې نرۍ جامه جائز نه ده چې په هغه سره دننه بدن په نظر راشي، په حدیث شریف کې دداسې ښځو په باره کې فرمایل شوي دي چې هغوی به دجنت دخوشبو نه هم

....بقیه د تیرمخ]..الحرير ولا الديباج...إلخ قال النووي: اماالمختلط من حريروغيره فلا يحرم إلا أن يكون الحرير أكثروزنًا والله أعلم (مسلم مع شرح الكامل للنووى ج: ٢ ص: ١٨٩، باب تحريم إستعمال إناء الذهب...إلخ)_

[1] من تشبه بقوم فهو منهم أى من شبه نفسه بالكفار مثلا فى اللباس وغيره أو بالفساق أوالفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار فهومنهم أى فى الإثم والخير (مرقاة شرح مشكوة ج:٤ ص:٤٣١، كتاب اللباس، الفصل الثانى)

محرومه وي، دسر داسې نرۍ جامې سره چې دهغې دننه ويښتان په نظر راځي، لمونځ هم نه کيږي.[1]

ښځې له پاره دسپينې جامې استعمال

سوال: ځينو خلکو دامشهوره کړې ده چې که ښځه په سپينې جامې باندې په رنګين تار سره کشيده کاري وکړي؛ نوښځه هغه سپينه جامه اغوستی شي، سپينه جامه اغوستل جائز دي او که نه ؟

جواب: دسړيو شکل او صورت اختيارولو او لباس جوړولو والا ښځو باندې او د ښځو په څير لباس او شکل صورت اختيارولووالا سړيو باندې حضورپاک ﷺ په رښتيا لعنت فرمايلی دی[2]، خودسپين رنګ جامه د سړيو سره خاص نه ده، لهذا که مکمل سپينه جامه ياپه سپينې جامې باندې درنګينې کشيده کارې والا جامې ښځې واغوندي؛ نوپه هغه کې هيڅ خبره نه شته، په دې شرط چې د هغې جامې انداز دسړيو په څير نه وي، الغرض! ښځو له پاره داسې جامې اچول پکار دي چې په هغه کې د سړيو مشابهت په قطعي ډول ونه موندل شي.

موجوده زمانه او د ښځو لباس

سوال: نن سبا دنجونو مختلف لباسونه چليږي، زموږ مشراني ښځې دې لباسونو ته د ناخوښۍ په نظر ګوري اويوازې دروايتي لباس مثلاً: کميس، پرتوګ او پړوني داغوستلو اجازه ورکوي، ايا دفيشن او دور جديد دغوښتنو مطابق لباس اچول جائز دي؟ زمامطلب دی چې داسې لباس چې په فيشن کې هم شامل وي او په هغه سره داسلامي حکم خلاف ورزي هم نه کيږي، مثلاً: ميکسي، فليپر، شرټ اوداسې نور.... اسلام د لباس په معامله کې يوازې دجسم پټولو تنبيه کړې ده، يو قسم لباس يې نه دی خاص کړی، څنګه چې زمانه تيريږي دده شکل صورت او انداز هم بدليږي، لهذا د ډيرو تغيرپزيرشيانو خپلولو سره سره که دلباس تبديلي خپله کړل شي؛ نو په دې کې څه قباحت دی؟

جواب: لباس که هرقسمه واغوستول شي، جائزدي خوپه دې شرط چې په هغه کې دلاندې ذکر شويو شيانو نه احتراز شوی وي:

---

[1] عن أبي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صنفان من أهل النار لم أرهما......... ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رؤسهن كأسنمة البخت المائلة، لايدخلن الجنّة ولا يجدن ريحها، وإن ريحها لتوجد من مسيرة كذا وكذا، (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۵، باب النساء الكاسيات العاريات...إلخ)۔

[2] عن ابن عباس قال: لعن النبى صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخارى ج: ۲ ص: ۸۷۴، باب المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال)۔

الف: په هغه کې اسراف او تبذیر نه وي.[۱]

ب: فخر، تکبر او ښودنه نه وي.[۲]

ج: په هغه کې د کافرانو او فاسقانو مشابهت ونکړل شي.[۳]

د: د سړیو لباس د ښځو او د ښځو لباس د سړیو په څیر نه وي.[۴]

ه: لباس دومره تنګ او نری نه وي چې په هغې سره د بدن یا د بدن جوړښت ښکاره شي.[۵]

دکالر والا قمیص

سوال: د کالر والا کمیس اچول ګناه ده؟ د لباس په باره کې څه رڼا واچوئ!

جواب: کالر لګول دانګریزانو شعار دی، مسلمانانو ته ددې نه پرهیز کول پکار دي[۶] کرته سنت ده[۷]، د لباس مسئلې په یو کتاب کې وګورئ، مختصرا دا چې:

---

[۱] قال النبی صلی الله علیه وسلم کلوا واشربوا وألبسوا وتصدقوا فی غیر إسراف ولا مخیلة (صحیح بخاری ج: ۲ ص: ۸٦۰) وأما ما یقصد به الخیلاء والکبر أو الأشر أو الریافهو حرام، وعن ابن عباس أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: کل ماشئت، والبس ماشئت أخطأتك إثنان سرف ومخیلة (تکملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ۸۸ کتاب اللباس)

[۲] ایضاً۔

[۳] عن عبدالله بن عمرو أخبره أنه رآه رسول الله صلی الله علیه وسلم وعلیه ثوبان معصفران فقال: هذه ثیاب الکفارفلا تلبسهما (سنن یسائی ج: ۲ ص: ۲۹۷) والمبدأ الثالث: أن اللباس الذی یتشبه به الإنسان بأقوام کفرة لا یجوز لبسه لمسلم إذا قصدبذالك التشبه بهم (تکملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ۸۸، کتاب اللباس، طبع دارالعلوم کراچی)۔

[٤] عن ابن عباس قال: لعن النبی صلی الله علیه وسلم المتشبهین من الرجال بالنساء والمشبهات من النساء بالرجال (بخاری ج: ۲ ص: ۸۷٤، باب المتشبهین بالنساء والمتشبهات بالرجال)۔

[٥] فکل لباس ینکشف معه جزء من عورة الرجل والمرأة، لا تقره الشریعة الإسلامیة، مهما کان جمیلا أو موافقًا لدور الأزیاء، وکذالك اللباس الرقیق أواللاصق بالجسم الذی یحکی للناظرشکل حصة من الجسد الذی یجب ستره، فهو فی حکم ماسبق فی الحرمة وعدم الجواز (تکملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ۸۸، کتاب اللباس، طبع دارالعلوم کراچی)

[٦] وعنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من تشبه بقوم فهو منهم رواه أحمد (مشکوة ص: ۳۷٥، کتاب اللباس) وفی المرقاة: من تشبه بقوم أی من شبه نفسه بالکفار مثلا فی اللباس وغیره أو بالفساق أوالفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار فهومنهم أی فی الإثم والخیر (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤۳۱، کتاب اللباس، طبع أصح المطابع بمبئی)۔

[۷] عن أمّ سلمة قالت: کان أحب الثیاب إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم..[بقیه په راروانه صفحه.

۱_ په لباس کې نمود او نمائش او فضول خرڅي نه وي.[۱]
۲_ د کافرانو او فاسقانو مشابهت نه وي.[۲]
۳_ د سړيو لباس د ښځواو د ښځو لباس چې د سړيو په څېر نه وي.[۳]

د نيکټائي لګولو شرعي حيثيت

سوال: زموږ په مذهب اسلام کې ټائي تړل څنګه دي؟ ايا زموږ مذهب اسلام د ټائي تړلو اجازه ورکوي او که نه؟ ما اوريدلي دي چې عيسايان د حضرت عيسی عليه السلام د پانسي په مناسبت ټائي تړي، خو زموږ ډير دانشورانو هم په غاړو کې ټائي ځوړندوې کړې ګرځي. قومي لباس يې پرېښي، هغوی يورپي لباس خپلوي، اخر دا ولې؟

جواب: ما په يو کتاب کې لوستلي دي چې انسائيکلو پيډيا برټانيکا چې کله لومړی ايډيشن شائع شو: نو په هغه کې د ټائي متعلق ويلي شوي و چې له دې نه مراد هغه نشان دی چې د مقدس صليب د علامې په ډول يې عيسايان په غاړه کې اچوي، خو په وروسته ايډيشنو کې يې دا بدل کړي دي، که دا خبره صحيح ده؛ نو ددې مطلب دادی چې څنګه د هندو مذهب شعار"زنار" دی، داسې ټائي د عيسايانو مذهبي شعار دی او د يو قوم مذهبي شعار خپلولو يوازې جائز نه ، بلکې د اسلام غيرت او حميت هم خلاف دي.[۴]

د سړيو او ښځو له پاره د سرو زرو اچولو حکم

سوال: ايا سړيو او ښځو دواړو ته سره زر اچول يعنې ګوتمه او کالي (ګېڼه) جوړول او په غاړه کې اچول حرام دي؟

جواب: د ائمه اربعه اجماع ده چې د سرو زر اچول سړيو له پاره حرام دي او د ښځو له پاره حلال دي، ډيرو اکابرينو په دې باندې اجماع نقل کړې ده[۵]، دا احاديث په کومو کې چې د ښځو له پاره د سرو زرو اچولو نه منع معلوميدای شي، اهل علم ددې ډير توجيهات کړي دي.

...بقيه د تيرمخ] ..القميص رواه الترمذی وأبوداؤد(مشکوة ص: ۳۷٤،کتاب اللباس، طبع قديمی کتب خانه)
[۱] د تيری شوی صفحی حاشيه نمبر۲ وګوری)_
[۲] أيضًا تيره شوی حاشيه (عن عبدالله بن عمرو اخبره انه....الخ) وګورئ)_
[۳] أيضًا تيره شوی حاشيه (فکل لباس ينکشف معه جزء من عورة الرجل...الخ) وګورئ)_
[۴] فالممنوعون من التشبه بالکفاروأهل البدعة المنکرة فی شعارهم...... فالمدارعلی الشعار (شرح فقه أکبر ص:۲۲۸) ومن تزربزنار اليهود والنصاری......کفر (ايضًا)_
[۵] وأماخاتم الذهب فهو حرام علی الرجل بالإجماع وکذا لوکان بعضه ذهب وبعضه فضة........وأماالنساء فيباح لهن لبس الحرير وجميع انواعه وخواتيم الذهب وسائرالحلی منه ومن الفضة (مسلم مع شرح الکامل للنووی ج: ۲ ص: ۱۸۸، باب تحريم إستعمال إناء الذهب والفضة ....الخ)_

اول: د ممانعت احاديث منسوخ دي.

دويم: منع د هغو ښځو په باره کې ده کومې چې دخپل ښايست اظهار کوي.

دريم: دا وعيد د هغو ښځو په حق کې دی کومې چې د زيوراتو زکات نه ادا کوي.

څلورم: د کومو زيوراتو اچولو سره چې فخر او تکبر پيدا کيږي، د هغه ممانعت د فخر او تکبر له وجې دی، له دې وجې نه چې سره زر د ښځو له پاره حرام دي.[1]

الغرض: دامت علماء او محدثين چې څوک دا احاديث روايت کوي، يوازې هغوی ددې په معنا او مفهوم باندې هم پوهيږي، چې دټولو اهل علم په دې باندې اتفاق دی چې سره او ريښم د ښځو له پاره حلال دي؛ نو هغه احاديث، خويا منسوخ دي، يابه د هغه مناسب توجيه وشي.[2]

سړي له پاره د سرو زرو دګوتمۍ استعمال

سوال: سړي له پاره د سرو زرو دګوتمۍ استعمال حرام او کبيره ګناه ورته د کومو وجوهاتو له وجې ويل شوي دي؟ ډير مسلمانان د واده، کويژدن په رسم کې د واده سړي ته لازمې دسرو زرو ګوتمه اچوي، ددې پوره تفصيل بيان کړئ.

جواب: حضور پاک ﷺ دخپل امت دسړيو له پاره سره زر او ريښم حرام ګرځولي دي[3]، ددې وجې خو حضرات علماء کرام ډيرې بيانوي، خو زما او ستاسو له پاره خو دا وجه کافي ده چې

[1] قال ابن ارسلان هذا لحديث الذى ورد فيه الوعيد على تحلى النساء بالذهب تحتمل وجوهًا من التأويل........ أحدها: أنه منسوخ كماتقدم من ابن عبدالبر، ألثانى: أنه فى حق من تزينت به تبرجت وأظهرنه، الثالث: أن هذا فى حق من لا تؤدى زكاته دون من أداها، ألرابع: أنه إنما منع منه فى حديث الأسورة والفتحات لما رأى من غلظه فإنه من مظنة الفخر والخيلاء (بذل المجهود شرح سنن أبى داؤد ج: ٦ ص: ٨٧، طبع عارف كمپنى مكتبه قاسميه ملتان، كتاب الخاتم باب ماجاء فى الذهب للنساء)_

[2] هذا لحديث ومابعده وكل ماشاكله منسوخ وثبت إباحة للنساء بالأحاديث الصريحة الصحيحة وعليه إنعقد الإجماع قال الشيخ ابن الحجر: النهى عن خاتم الذهب أوالتختم به مختص بالرجال دون النساء فقط إنعقدالإجماع على إباحته للنساء (سنن أبى داؤد ج: ٢ ص: ٥٨١، حاشيه نمبر٧، باب ماجاء فى الذهب للنساء، طبع سعيد)_

[3] حدثنا عاصم عن أبى عثمان قال: كتب إليناعمر ونحن بآذربيجان أن النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن لبس الحرير إلا هكذا وصف لنا النبى صلى الله عليه وسلم إصبعيه ورفع زهيرالوسطى والسبابة (بخارى ج:٢ ص: ٨٦٧، باب لبس الحريروإفتراشه للرجال وقدرمايجوزمنه) وفى رواية عن البراء بن عازب: نهانا النبى صلى الله عليه وسلم عن سبع، نهانا عن خاتم الذهب أو قال حلقة الذهب، وعن الحرير والإستبرق والديباج (بخارى ج: ٢ص: ٨٧١، باب خواتيم الذهب) وفى رواية عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن خاتم الذهب... إلخ (بخارى ج: ٢ص: ٨٧١، باب خواتيم الذهب، ومسلم ج: ٢ ص: ١٩٥..[بقيه په راروانه صفحه.

خدای او رسول ﷺ فلانی شی حرام ګرځولی دی او دهغوی هر یو حکم په بې شمیره حکمتونو باندې مبني دی، کوم خلک چې دواده کویژدن په موقع باندې دواده سرې ته ګوتمه اچوي هغه دحرام کار مرتکب او ګناهګار دي دچا په بدعملي سره خو مسئله نه حل کیږي.

سوال: په ګوتمه کې غمی لګول څنګه دي؟

جواب: جائز دي.

د څه کارله وجې د سرو زرو ګوتمه اچول

سوال: دلته زموږ یو سړی وایي چې د سرو زرو ګوتمه ځکه دسړي له پاره جائز ده چې د ضرورت په وخت پکار راځي، که سړی لاوارث مړ شي؛ نودهغه دکفن دفن انتظام د دې ګوتمې په خرڅولو باندې به وشي، په دې باره کې وضاحت وکړئ!

جواب: الله او رسول الله ﷺ خو سره زر حرام کړي دي[1] ایا دا مصلحت کوم چې دا صاحب بیانوي دالله او رسول ﷺ په علم کې نه و؟ نعوذ بالله ! او بیا تاسو څومره لاوارثه مړه لیدلي دي چې دهغوی د ګور او کفن انتظام د سرو زرو د ګوتمې څخه پرته ونه شو؟

دساعت زنځیراو ګوتمه اچول

سوال: په اسلام کې دسړیو له پاره سره زر اچول حرام دي، ایا سپین زر اچول سنت دي؟ که دي؛ نو څو ګرامه سپین زر اچول پکار دي؟ دساعت زنځیر دګلټ وي، ایا ګلټ هم حرام دي.

جواب: سړیوله پاره د دريې نیمو ماسو ګوتمې اچولو اجازت دی، دګهړی چین دګلټ جائز دی.[2]

په غاښ باندې د سرو سپینو خول لګول

سوال: که نیم غاښ مات شي؛ نو په دې باندې سپین زر یا د سرو زرو خول لګول جائز دي او که نه؟

جواب: د سرو سپینو زرو خول لګول جائز دي.[3]

...بقیه د تیرمخ] ..ونسائي ج: ۲ ص: ۲۹٤، باب النهی عن لبس خاتم الذهب)۔

[1] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن خاتم الذهب أی فی حق الرجال (وقبل أسطر) أجمع المسلمون.........على تحريمه على الرجال (مسلم مع شرحه الكامل للنووی ج: ۲ ص: ۱۹۵)

[2] ويكره للرجال التختم بماسوى الفضة كذا فی الينابيع والتختم بالذهب حرام فی الصحيح،وينبغی أن تكون فضة الخاتم المثقال ولايزادعليه،وقيل لايبلغ المثقال وبه وردالأثر(فتاوى عالمگيرية ج:٥ ص: ۳۳۵،كتاب الكراهية)

[3] وجوّزهما محمد أی جوّزالذهب والفضة أی جوّزالشدبهما (شامی ج:٦ص: ۳٦۲، كتاب الحظروالإباحة فصل فی اللبس،طبع ايچ ايم سعيد كراچی)۔

ښځوله پاره د سرو سپینو زرو پرته د يو بل دهات ګوتمه اچول

سوال: ايا د ښځو د ګوتمې په باره کې څه خاص حکم شته؟

جواب: ښځو له پاره د سرو سپينو پرته د يو بل دهات ګوتمه اچول جائز نه دي.[1]

سړي له پاره په غاړه کې لاکټ يا زنځير اچول

سوال: ايا سړی په غاړه کې دسپينوزرو زنځير اچولی شي؟ که اچولی يې شي: نوددې وزن څومره پکار دی؟ په بازاره کې په يو دهات باندې ايت الکرسي ليکل شوي وي او هغه لاکټ په دې زنځير کې اچولی شي او که نه؟

جواب: سړي ته دسپينو زرو دګوتمې اجازه ده، خوچې ددې وزن د درې نيمو ماشو نه کم نه وي، له ګوتمې پرته د سرو سپينو دبل کالي(ګينې) اچول دسړيو له پاره جائز نه دي.[2]

د شريفانو د لوڼو له پاره نتکی اچول څنګه دي؟

سوال: ايا د شريفانو دلوڼو له پاره نتکی اچول جائز دي؟ ما اوريدلي دي چې يوازې طوائف خپلو لوڼو ته نتکی اچوي.

جواب: هسې خو ښځو ته دپوزې دزيوراتو هم اجازه ده [3]، خو ښځو ته دبازاري ښځو دمشابهت نه پرهيزکول لازمي دي.

نيکر اچولو سره لوبې کول سخته ګناه ده

سوال: ټينس، هاکي، فټ بال، تيراکي، اسکوائش، باکسنګ، ټيبل ټينس اوداسې نور.... په دې ټولو لوبوکې لوبغاړي نيکريا چډې (چې دنوم نه واخله دهغوی بهرنی برخې پورې وي) اچوي لوبه کوي او دنوم نه واخله کونډو پورې برخه ستردی، دې ته کتل سړيو له پاره هم جائزنه دي اونه د خلکو په مخکې ددې ښکاره کول جائز دي، تاسو دا ووايئ چې ايالوبغاړي او سيلانيان دواړه ګناهګار دي؟

جواب: لوبغاړي او سيلانيان دواړه سخت ګناهګاردي، حضور پاک ﷺ په عورت کتونکو او

---

[1] التختم بالحديد والصفر والنحاس والرصاص مكروه للرجال وللنساء (شامی ج: ٦ ص: ٣٦٠، كتاب الحظروالإباحة، فصل فی اللبس، هكذا فی عالمگيری ج: ٥ ص: ٣٣٥، كتاب الكراهية، الباب العاشر)۔

[2] ويكره للرجال التختم بماسوى الفضة كذا فی الينابيع والتختم بالذهب حرام فی الصحيح،وينبغی أن تكون فضة الخاتم المثقال ولايزادعليه،وقيل لايبلغ المثقال وبه وردالأثر(فتاوی عالمگيرية ج:٥ ص:٣٣٥، كتاب الكراهية)

[3] ولابأس بثقب أذن البنت (درمختار ج: ٦ ص: ٤٢٠، كتاب الحظروالإباحة، فصل فی البيع)۔

عورت ښودونکو دواړو باندې لعنت فرمايلی دی: "لعن الله الناظر والمنظور اليه."[۱]

د تور رنګ چپل يا څپلی اچول

سوال: د څه خلکو نه مې اوريدلي دي چې په پښوکې د تور رنګ څپلی. يا د څه قسم چپله وغيره اچول د اسلام په رڼا کې حرامه ده او د دې له پاره دليل دا وړاندې کوي چې د خانه کعبې د غلاف رنګ تور دی، ځکه تور رنګ په پښوکې اچول ګناه ده.

جواب: د تور رنګ څپلی. اچول جائز دي، دې ته حرام ويل بالکل غلط دي.

د پرفيوم (عطر، سپري) استعمال

سوال: ايا د بهر ملکونو سپري پرفيومز (عطر) لګول جائز دي؟ دا هم ووايئ چې د کوم قسم سپري لګول پکار دي؟

جواب: ستاسو سوال غلط دی، تاسو ته د ناجائز شک له څه وجې چې و، دا ظاهرول پکار و، اوس د ټولې دنيا د مصنوعاتو په باره کې ماته څه خبر دی، چې په څه کې څه څه شيان اچول کيږي؟ که په هغه سپري کې څه نجس (ګنده) شی دی؛ نو د هغه استعمال جائز نه دی. که نجس (ګنده، حرام) شی نه شته: نو استعمال به جائز وي.

ښځه د لاس په رغوي کومې طريقې سره نکريزي لګولی شي؟

سوال: ماته خپل دوست ويلي و چې نکريزې يوازې په رغوي باندې لګول پکار دي، د رغوي لاندې يا په وروسته لګول نه دي پکار ځکه چې دا سې هندوان لګوي، مهرباني وکړئ په دې مسئله باندې رڼا واچوئ د شکريې موقع راکړئ.

جواب: په دې کې د هندوانو مشابهت نه شته، جائز دي.

په ګوتمه باندې د الله تعالی صفات ليکل

سوال: په ګوتمه باندې د الله تعالی د صفتي نومونو څخه يو نوم ليکل او هغه په ګوته کول جائز دي او که نه؟

جواب: جائز دي په دې شرط چې بې ادبي يې نه کيږي او دا په ګوته کول او بيت الخلاء ته تلل جائز نه دي.[۲]

---

[۱] عن الحسن مرسلاً قال: بلغني أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لعن الله الناظر والمنظور إليه رواه البيهقي في شعب الإيمان (مشكوة ج: ۲ ص: ۲۷۰ باب النظر إلى المخطوبة وبيان العورات، طبع قديمى)۔

[۲] فلو نقش إسمه تعالى أو إسم نبيّه صلى الله عليه وسلم استحب أن يجعل الفصّ.. [بقيه په راروانه صفحه.

دسرو سپینو تعویذ دوړو هلکانو او نجونو له پاره استعمالول

سوال: دماشومانوله پاره تعویذ اخیستل کیږي، دا دسرو او سپینو په تعویذکې واچوي ایا وړو هلکانو او نجونوته یې اچول جائز دي اوکه نه؟

جواب: دلته په دوو مسئلو باندې ځان پوه کړئ، یوه دا چې سره او سپین زر دزیور(ګیڼې) دول د ښځو له پاره اچول جائز دي، سړیو له پاره حرام[1] (البته سړی د دري نیمو ماسو نه دکم وزن دسپینو زرو ګوتمه اچولی شي)، خو سره سپین دلوښي په حیثیت استعمالول نه دسړیو له پاره حلال دي، نه دښځو له پاره[2] مثلاً: دسپینو دزرو چمچې یالوښي استعمالول، دتعویذ له پاره چې کوم سره سپین استعمالیږي دهغه حکم دزیور نه دی، بلکه داستعمال دلوښو دی، ځکه نه دا د سړیو له پاره جائز دي او نه دښځو له پاره.

بله خبره داده چې کوم شی دغټو له پاره حلال نه دی، هغه دوړو بچیو له پاره استعمالول هم جائزنه دي. ځکه دوړو هلکانو اونجونو له پاره د سروسپینوتعویذاستعمالول به جائزنه وي.[3]

...بقیه د تیرمخ]. فی کمه إذا دخل الخلاء وأن یجعله فی یمینه إذا استنجی (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٢٦٩، فصل فی اللبس) أیضًا: ولوکتب علی خاتمه إسمه أو إسم الله تعالی أو ما بدا له من أسماء الله تعالی نحو قوله حسبی الله ونعم الوکیل أو نبی الله أو نعم القادرالله فإنه لابأس به ....وعلی هذا إذا کان علیه خاتم وعلیه شیء من القرآن مکتوب أو کتب علیه إسم الله تعالی فدخل المخرج معه یکره وإن اتخذ لنفسه مبالاً طاهرًا فی مکان طاهر لا یکره کذا فی المحیط (عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٢٣، کتاب الکراهیة، الباب الخامس...إلخ)۔

[1] عن أبي موسی الأشعری أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: حرم لباس الحریر والذهب علی ذکوراُمّتی وأحل لأناثهم (ترمذی ج: ١ ص: ٣٠٢)۔

[2] فإن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لاتشربوا فی إناء الذهب والفضة (مسلم ج: ٢ ص: ١٨٩) أیضًا: ویکره الأکل والشرب والإدهان والتطیب من إنآء ذهب وفضة للرجل والمرأة لإطلاق الحدیث وکذا یکره الأکل بملعقة الفضة والذهب والإکتحال بمیلها وما أشبه ذالك من الإستعمال کمکحلة ومرآة وقلم ودواة ونحوها (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٤١، کتاب الحظروالإباحة، طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

[3] ویکره أن یلبس الذکورمن الصبیان الذهب والحریر لأن التحریم لماثبت فی حق الذکور وحرم اللبس حرم الإلباس کالخمرلما حرم شربه حرم سقیه (هدایة ج: ٣ ص: ٤٥٦ طبع محمدعلی کتب خانه کتاب الکراهیة) أیضًا: وکره إلباس الصبی ذهبا أو حریرًا فإن ما حرم لبسه وشربه حرم إلباسه وإشرابه (قوله وکره) لأن النص حرم الذهب والحریرعلی ذکورالأمّة بلاقید البلوغ والحریة، والإثم علی من ألبسهم لأنا أمرنا بحفظهم ذکره التمرتاشی، وفی البحرالزاخر: ویکره للإنسان أن یخضب یدیه ورجلیه وکذا الصبی إلا لحاجة، بنایة، ولابأس به للنساء أقول: ظاهره أنه کمایکره للرجل فعل ذالك بالصبی یکره للمرأة أیضًا وأن حد لها فعله لنفسها (ردالمحتار علی الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٦٣، فصل فی اللبس)۔

د خنزیر د ویښتو والا برش باندې حجامت کول

سوال: زه له ډیرې مودې نه دړیرې جوړولو له پاره دچین دجوړ شوي صابن برش استعمالوم، هغه خراب شوی دی؛ نو اوس مې نوی راوړی دی، په دې کې، ماپه دې څل وکتل چې هغه دخنزیرد ویښتانو نه جوړ شوی دی، یوازې زه نه ټول نایان وغیره هم دا برش استعمالوي او په نایي حضراتوباندې ددین عالمان هم خط وغیره جوړوي؛ نو نایان هم هغه برش استعمالوي؛ نوایا د خنزیر دویښتانو دبرش استعمال صحیح دی؟ که صحیح نه وي؛ نوحکومت دداسې برشونو د راغوښتلو اجازه ولې ورکوي؟ حکومت ته پکار دي چې په پاکستان کې ددې برشونو راغوښتل بند کړي.

جواب: په ږیره خریلو او دخنزیر دویښتانو په استعمال کې څه فرق دی؟ دواړه حرام دي اودواړه کبیره ګناه ده[1] داسې ناپاکه برش اخیستل هم جائز نه دي، حکومت ته پکار دي چې ددې برشونو په راغوښتلو باندې پابندي ولګوي، خوشائد دحکومت له پاره دحلال حرام او پاک ناپاکه تصور د پوهې قابل نه وي!

سړیو له پاره نکریزې لګول شرعاً څنګه دي؟

سوال: ایا په اسلام کې دسړیو له پاره نکریزې لګول جائز دي؟ اوایا دې سره لمونځ کیدای شي؟
جواب: سړي، په سراوږیرې باندې نکریزې لګولئ شي، په لاسونو باندې نکریزې لګول دښځو له پاره صحیح دي، دسړیو له پاره نه، لمونځ ورسره کیږي.[2]

مصنوعي غاښونه لګول

سوال: تاسو مهرباني وکړئ دمصنوعي غاښونو په باره کې شرعي نقطه نظرسره وضاحت وکړئ چې ایا مصنوعي غاښونه لګول جائز دي اوکه نه؟ او دلمانځه په حالت کې دمصنوعي غاښونوڅه حکم دی؟ ایا دمصنوعي غاښونوسره لمونځ کیږي اوکه لرې کول یې ضروري دي؟

---

[1] یحرم على الرجل قطع لحيته (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع) وأما الأخذ منها وهى دون ذالك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد، وأخذ كلها فعل يهودالهند ومجوس الأعاجم (درمختار ج: ١ ص: ٤١٨، كتاب الصوم) أيضًا: وفى الدرالمختار: خلاجلد خنزيرفلايطهر (قوله فلايطهر) أى لأنه نجس العين بمعنى أنّ ذاته بجميع أجزائه نجسة حيًّاوميّتًا (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج: ١ ص: ٢٠٤، أحكام الدباغة)۔

[2] وعن الإمام ان الخضاب حسن لكن بالحناء والكتم والوسمة (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٥٩) أيضًا: يستحب للرجل خضاب شعره ولحيته وفى الشامية: (قوله خضاب شعره ولحيته) لا يديه ورجليه فإنه مكروه للتشبه بالنساء (ردالمحتار على الدرالمختار ج: ٦ ص: ٢٢٤، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)۔

جواب: مصنوعي غابنونه کوم چې د مصالې نه جوړ شوي دي، لګول جائز دي او په لمانځه کې ددې دلرې کولو ضرورت نه شته.[1]

ايا د پټکي يا ټوپۍ نه پسرونکى ګناهګاردى؟

سوال: ايا پټکی يا ټوپی نه پسرول ګناه ده؟ ايا ددې ګناه هم د ږيرې خريلو په شان ده يا ددې نه کمه؟

جواب: سر ښکاره ساتل د ادب خلاف دي[2] او ږيره خريل حرام دي.[3]

❖ د خوراك وڅښاك شرعي احکام ❖

په چپ (ګس) لاس خوراک

سوال: زه په چپ (ګس) لاس ټول کار کوم، مثلاً ليکل او خوراک کوم؛ نو تاسو دا ووايئ چې استنجا په ګس لاس سره کيږي؛ نو ماته په ګس لاس سره استنجا کول پکار دي؟ اوس په ګس لاس سره خوراک زما عادت جوړ شوی دی، په ښي (راسته) لاس سره يې نه شم خوړلی، تاسو ددې جواب ضرور راکړئ.

جواب: تاسو دا عادت پريږدئ، په چپ لاس سره خوراک څښاک کول د شيطان کار دی، تاسو په چپ لاس سره چيرې هم خوراک مه کوئ[4]. تاسو که کوشش وکړئ؛ نو په مزه مزه به په ښي

---

[1] فی الدرالمختار......... سنة المتحرك بذهب بل بفضة وجوّزهما محمد ويتخذانفًا منه لأن الفضة تنتنه........... قال الكرخی إذا سقطت ثنية رجل فإن أ باحنيفة يكره .... وخالفه أبويوسف فقال: لابأس به .... قال أبويوسف: سألت أباحنيفة عن ذالك فی مجلس آخرفلم يرباعادهابأسًا(ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٦٢، كتاب الحظروالإباحة، فصل فی اللبس)۔

[2] اوهم ددی وجه نه بغيرټوپۍ مونځ مکروه دې: وكره .... وصلاته حاسرًا أی كاشفًا رأسه للتكاسل ولابأس به للتذلل...إلخ، وفی الشرح: قوله التكاسل آی لأجل الكسل بأن استثقل تغطيته ولم يرها أمرًا مهما فی الصلاة فتركها لذالك..... وقال فی الحلية: وأصل الكسل ترك العمل لعدم الإرادة....... قوله ولا بأس به للتذليل قال فی شرح المنية: فيه إشارة إلى أن الأولى أن لا يفعله وأن يتذلل ويخشع بقلبه فإنهما من أفعال القلب......ونص فی الفتاوى العتابية على أنه لوفعله لعذرلايكره وإلّا ففيه التفصيل المذكور فی المتن وهو حسن وعن بعض المشائخ أنه لأجل الحرارة والتخفيف مكروه، فلم يجعل الحرارة عذرًا وليس ببعيد (درمختار ج: ١ ص: ٦٤١، مطلب فی الكراهة التحريمية والتنزيهية)۔

[3] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:خالفوا المشركين،أوفروا اللحى واحفوا الشوارب (بخارى ج: ٢ ص: ٨٧٥) أيضًا: يحرم على الرجل قطع لحيته (درمختار مع الردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٠٧) وأما الأخذ منها وهی دون ذالك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد (فتح القدير ج: ٢ ص: ٢٧٠)۔

[4] وعنه (أی ابن عمر) قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يأكلن ..[بقيه په راروانه صفحه.

راسته، لاس باندې دخوړلو عادت جوړ شي، زه به درته دا نه وايم چې تاسو خوراک په چپ(گس) لاس سره کوئ او استنجا په ښي لاس کوئ. بلکې دا به درته وايم چې په چپ لاس سره دوډۍ خوړلو عادت پرېږدئ.

په کرسيو او ميز باندې خوراک کول

سوال: په اسلام کې د کرسۍ او ټيبل څه حکم دی؟ ايا دحضور پاکﷺ په مبارک زمانه کې کرسۍ او ميزونه و؟ نن سبا دخلکو په کورونو کې او پخپله زما په کور کې په کرسو او ميزونو باندې ډوډۍ خوړل کيږي. ايا دا صحيح دي؟ دا هم ووايئ چې زموږ اقا جناب رسول اللهﷺ ډوډۍ په څه شي باندې دسترخوان خورولو ډوډۍ به يې خوړله، يابه يې لاندې دسترخوان خورولو؟

جواب: حضورپاکﷺ به په ځمکه دسترخوان خورولو ډوډۍ به يې خوړله[1]، په ميزباندې حضور پاکﷺ چيرې هم خوراک نه و کړی او همدا دحضورپاکﷺ سنت مبارک دي، په ميز کرسۍ باندې خوراک د انګريزانو "سنت" دي[2]، مسلمانانوته ديهودانو او نصاراوو عادت

...بقيه د تيرمخ].. احدكم بشماله ولا يشربن بها، فإن الشيطان يأكل بشماله ويشرب بها رواه مسلم (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٦٣ كتاب الأطعمة، الفصل الأوّل)، وفى المرقاة: قال التوربشتى: المعنى أنه يحمل أوليائه من الإنس على ذالك الصنيع ليضاد به عبادالله الصالحين ثم ان من حق نعمة الله القيام بشكرها أن تكرم ولا يستهان بها، ومن حق الكرامة أن تتناول باليمين ويميزها بين ما كان من النعمة وبين ما كان من الأذى، قال الطيبى: وتحريره أن يقال: لا يأكلن أحدكم بشماله ولا يشربن بها فإنكم إن فعلتم ذالك كنتم أولياء الشيطان، فإن الشيطان يحمل أوليائه من الإنس على ذالك، قال النووى: فيه أنه ينبغى إجتناب الأفعال التى تشبه أفعال الشياطين(مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج: ٤ ص:٣٦٢كتاب الأطعمة،الفصل الأوّل،طبع أصح المطابع)

[1] عن أنس قال: ما علمت النبى صلى الله عليه وسلم أكل على سكرجة قط .... قيل لقتادة فعلى ما كانوا يأكلون؟ قال: على السُفر (بخارى ج: ٢ ص: ٧١١، كتاب الأطعمة) أيضًا: وفى المرقاة للقارئ: (قال) أى قتادة (على السُفر) بضم ففتح جمع سُفرة، فى النهاية: السُفر الطعام يتخذه المسافر وأكثر ما يحمل فى جلد مستدير فنقل إسم الطعام إلى الجلد، وسمى به كما سميت المزادة راوية وغير ذالك من الأسماء المنقولة، ثم اشتر لما يوضع عليه الطعام جلدًا كان أو غيره مما عدالمائدة لما مرمن انها شعار المتكبرين غالبًا، فالأكل عليهاسُنّة وعلى الخوان بدعة لكنها جائزة (مرقاة شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٣٦٤، كتاب الأطعمة، طبع بمبئى)

[2] عن أنس قال: ما أكل النبى صلى الله عليه وسلم على خوان (ترمذى ج: ٢ ص: ١) قوله على خوان......... أو الحاصل أن الأكل عليه (أى الخوان) بحسب نفس ذاته لا يربوا على ترك الأولوية، فأما إذالزم فيه التشبه باليهود والنصارى كماهو فى ديارنا كان مكروها تحريميًا ...إلخ وفى الحاشية: وقال القارئ فى شرح الشمائل بعد ذكرالإختلاف فى ضبط الصحيح انه اسم أعجمى معرب ويطلق فى المتعارف على ماله أرجل ويكون مرتفعًا عن الأرض واستعماله لم يزل من دأب المترفين لئلا يفتقروا إلى خفض الرأس، وقال المناوى: يعتاد المتكبرون من العجم الأكل عليه لئلا تنخفض رؤسهم فالأكل ..[بقيه په راروانه صفحه.

خپلول پکار نه دي.[۱]

په واده کې چې د ناستې ځای نه وي په ولاړه خوراک کول

سوال: نن سبا دا رواج عام شوی دی چې په دعوتونوکې په ولاړه ډوډۍ ورکول کیږي، دې ته د "بوفې" نوم ورکړل شوی دی، که یو سړی په ولاړه ډوډۍ ونه خوري؛ نوهغه بدګڼل کیږي، ایا په ولاړه ډوډۍ خوړل صحیح دي؟ واضحه دې وي چې هلته دناستې له پاره یوځای هم نه وي، جواب په تفصیل سره راکړئ؛

جواب: شرعاپه ولاړه خوراک کول مکروه او ناخوښه عمل دی،[۲] پاتې شوه دبهادرو داسې نه کول بدګڼل: نوددې وجه داده چې هغوی د نن "مهذب" خلک داسې په خوراک لیدلي دي، خدای دې نه کړی که سبادځناورویه څیر رواج شروع شو؛ نوماته اندیښنه ده چې په لاسونو سره خوراک کول به "غیرمهذب" کار وګڼل شي، پاتې شوه دا چې هلته دناستې ځای نه وي؛ نو دداسې دعوت ډوډۍ خوړل څه ضروري دي چیرته دناستې ځای نه ملاویږي؟ که کور والا دناستې ځای مهیاکولو نه مجبور شي؛ نو ډوډۍ په کورکې وخورئ ------!

په تقریبونوکې د ډوډۍ خوړلو سنت طریقه

سوال: زموږ دلته دیو دینداره دوست مؤقف دادی چې دډوډۍ خوړلو ډیر زیات اداب دي، په دې کې یودا هم دی چې په ناسته دې ډوډۍ وخوړل شي، په اجتماعي تقریبونوکې کله چې باقي اداب نظرانداز کیږي؛ نویوازې په ناسته دډوډۍ خوړلو ادب باندې دومره زور ولې؟ دهغه وینا داده چې ترڅوپورې دقرآن او حدیث واضح دلائل ونه ښودل شي، زه مطمئن کیږم نه، ځکه چې دهغه دقول مطابق ځینې مجلسونوکې هغه علماء هم په ولاړه ډوډۍ خوړلو باندې لیدلي دي.

جواب: دډوډۍ خوړلو سنت طریقه داده چې دسترخوان دې خورکړل شي په ناسته دې وخوړل شي[۳] زموږ دلته چې په تقریبونو کې په ولاړه دډوډۍ خوړلوچې کوم رواج شروع شوی دی، دا

....بقیه د تیرمخ]... علیه بدعة لکنه جائز إن خلا عن قصدالتکبر (الکوکب الدری شرح الترمذی ج: ۲ ص: ۱ مع الحاشیة نمبر ۱، طبع دهلی مکتبة یحیویة)۔

[۱] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لیس منّا من تشبه بغیرنا، لا تشبهوا بالیهود ولا بالنصاری (سنن ابن ماجة ص: ۹۹، جامع الترمذی ج: ۲ ص: ۱۰۲، باب ما جاء فی التشبهات بالرجال من النساء)۔

[۲] عن أنس أن النبی صلی الله علیه وسلم نهی أن یشرب الرجل قائمًا، فقیل: الأکل؟ قال: ذاك أشد (ترمذی ج: ۲ ص: ۱۰، باب ما جاء فی النهی عن الشرب قائمًا، طبع کتب خانه رشیدیه دهلی)۔

[۳] عن أنس قال: ما علمت النبی صلی الله علیه وسلم أکل علی سکرجة قط، ولاخبز له مرقق قط، ولا أکل علی خوان قط، قیل لقتادة: فعلی ما کانوا یأکلون؟ قال: علی السُفر ..[بقیه په راروانه صفحه.

د سنت خلاف او د مغربي قومونو ایجاد شوی بدعت دی، باقي اداب که موچیرې ملحوظ ونه ساتل: نوددې دا معنا نه ده چې موږ خپل تهذیبي، دیني او معاشرتي اثار او نشانونه یو یو ختمول شروع کړو، کوشش خو دا پکار دی چې د پریښودل شوي سنت دژوندي کولو تحریک وچلول شي، نه دا چې داسلامي معاشرې کوم لږ ډیر علامتونه په نظر راځي ددې ختمولو له پاره ملا وتړل شي، که ځینې علماء دیوغلط رواج په نزد کمزوري شي یادعوامو دخواهش مخکې سربښکته کړي: نود هغوی دا کار په مجبوري خو محمول دی، خودا د سند اودلیل په ډول وړاندې کول صحیح نه دي.

په پنځوواړو ګوتو خوراک او په پرلت ناسته ډوډۍ خوړل شرعا څنګه دي؟

سوال: ایا په ملاسته یا په ناسته پښې باندې پښه اړول سپیره دي؟ دشپې جارو وهل، په اوچت ځای کیناستل پښې رقول، پنځوواړو ګتو سره خوراک، خوړلو په وخت پرلت لګول کیناستل او ګوتې تکول، ایا دا ټول کارونه غلط دي؟ که غلط دي؛ نوددې وضاحت وکړئ.

جواب: پرلت کیناستلو سره خوراک کول[۱] او ګوتې تکول مکروه دي [۲]،باقي شیان مباح (جائز) دي.

په ولاړه خوراک کول د سنت خلاف دي

سوال: زموږ دمیمن ټرسټ یو کمیونټي هال دی، هلته ودونه او نور ډیر تقریبونه کیږي، نن سبا په ودونوکې عام رواج په ولاړه ډوډۍ ورکولو وي، زموږ دټرسټ نیکان خلک په دې نتیجه باندې رسیدلي دي چې موږ کم نه کم په خپل کمیونټي هال کې ددعوتونو په موقع

...بقیه د تیرمخ]... (بخاری ج: ۲ ص: ۸۱۱ کتاب الأطعمة، طبع میر محمد کتب خانه) (عن أنس) أقام النبي صلى الله عليه وسلم يَبنِي بصَفية فدعوتُ المسلمينَ إلى وليمته، أمر بالإنطاع فبسُطتْ فالقى عليها التمر والأقط والسمن، وقال عمرو عن أنس: بنى بها النبي صلى الله عليه وسلم ثم صنع حَيْسًا في نطع (بخارى ج: ۲ ص: ۸۱۱، كتاب الأطعمة، طبع ميرمحمد كتب خانه) وفى المرقاة: (قال) أى قتادة (على السُّفر) .... ثم اشتهر لما يوضع عليه الطعام جلدًا كان أوغيرها ما عدا المائدة لمامر، من أنها شعارالمتكبرين غالبًا، فالأكل عليها سُنَة، وعلى الخوان بدعة لكنها جائزة (مرقاة ج: ٤ ص: ٣٦٤ طبع أصح المطابع بمبئ)۔

[۱] وعن أبي حنيفة قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لا أكل متكئًا رواه البخارى (مشكوة ص: ٣٦٣) وفى المرقاة: (لا آكل متكئًا) ..... ونقل فى الشفاء عن المحققين أنهم فسّرواه بالتمكن للأكل والقعود فى الجلوس كالمتربع المعتمدعلى وطأ تحته لان هذه الهيئة تستدعى كثرة الأكل، وتقتضى الكبر، وورد بسند ضعيف أنه صلى الله عليه وسلم زجر ان يعتمد الرجل بيده اليسرى عندالأكل، وقد أخرج إبن أبي شيبة عن النخعى انهم كانوا يكرهون أن يأكلوا متكئين مخافة ان تعظم بطونهم (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج: ٤ ص: ٣٦٣ كتاب الأطعمة، طبع أصح المطابع بمبئی)

[۲] (و) يكره (أن يفرقع أصابعه) بأن يمدها أويغمزها حتى تصوت(حلبى كبيرص: ٣٤٩، سهيل اكيدمى لاهور)

باندې د ډوډۍ خوړلو انتظام د سنت مطابق وکړو او په ولاړه یا په کرسۍ یا ټیبل باندې د ډوډۍ خوړلو انتظام ونه کړو، تاسو زموږ په دې سلسله کې رهنمایي وکړئ چې په ولاړه خوراک کول ښنګه دي؟ او په ناسته د سنت مطابق ډوډۍ خوړل ښنګه دي؟

جواب: په ولاړه ډوډۍ خوړل د سنت خلاف دي،[۱] کله چې د سنت خلاف یو کار په اجتماعي ډول وشي: نو د هغه قباحت او بدوالی نور هم زیاتیږي، د نن سبا په دعوتونو کې چې کوم په ولاړه د ډوډۍ خوړلو رواج دی، هغه په حقیقت کې په اجتماعي ډول د سنت خلاف د عمل مترادف دی او د دې سنت خلاف په عمل کې د داسې قسمه دعوتونو منتظمین پکې برابر شریک دي. لهذا کومو خلکو چې په خپل کمیونټي هال کې د سنت مطابق د ټیبل کرسۍ نه پرته لاندې دسترخوان باندې د ناستې ډوډۍ خوړلو کوم اهتمام کړی دی، هغه نهایت قابل تحسین دی، نورو کمیونټي او نورو هال والاوو ته د دې پیروي "تَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ"[۲] (په نیک کارونو کې تعاون) کولو ثبوت وړاندې کول پکار دي.

په ولاړه اوبه ښښل شرعاً ښنګه دي؟

سوال: یو صاحب تاکید وکړ چې په ولاړه اوبه ښښل نه دي پکار، که په غلطي سره هم وښښل شي: نو قی کول پکار دي، خو په دې عمل کولو نه وروسته کله یې چې خپلو مشرانو ته مشوره ورکړه؛ نو یو عزیز اختلاف وکړ چې په "تعلیم الاسلام" کې لیکل شوي دي چې حضور پاک ﷺ یو خل د جهاد په غرض سره دیوې قافلې سره سفر کولو؛ نو د سختې ګرمي او دوپ له وجې ورته سخته تنده محسوس شوه، حضور پاک ﷺ د رمضان په میاشت کې هلته اوبه راوغوښتلې او په ولاړه یې پخپله هم وښښلې او په خپلو ملګرویې هم وښښلې، د واقعې حقیقت څه دی؟ او ایا په ولاړه اوبه ښښل جائز دي؟

جواب: په ولاړه اوبه ښښل مکروه دي، خو قی کول ضروري نه دي، دایې په ډول د علاج او اصلاح په تجویز سره فرمایلي و او د حضور پاک ﷺ په ولاړه اوبه ښښل که چیرته ثابت وي؛ نو د څه عذر او د ضرورت له وجې به وي، مثلاً: صحابه کرامو رضي الله عنهم ته په جهاد کې د روژې نه نیولو حکم ورکول.[۳]

---

[۱] عن أنسٍ أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى أن يشرب الرجل قائمًا، فقيل: ألأكل؟ فقال: ذالك أشد (جامع الترمذى ج: ۲ ص: ۱۰ باب ماجاء فى النهى عن الشرب قائمًا)_

[۲] المائدة: ۲)_

[۳] عن أنسٍ أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى أن يشرب الرجل قائمًا، فقيل: ألأكل؟ فقال: ذالك أشد (جامع الترمذى ج: ۲ ص: ۱۰ باب ماجاء فى النهى عن الشرب قائمًا) أيضًا: والصواب فيها أن النهى على كراهة التنزيه وأما شربه قائمًا فبيان للجواز .... وأما قوله فمن نسى ..[بقيه په راروانه صفحه.

د خوراک په دوران خاموشي ساتل

سوال: په حدیث کې دي چې د ډوډۍ خوړلو په وخت خاموشي اختیارول پکار دي، خو ځنې عالمانو حضراتو دا وینا ده چې د ډوډۍ خوړلو په وخت د دین اسلام او ښې خبرې کولی شئ، د دې برعکس څه نور علماء وایي چې ډوډۍ خوړلو په دوران کې خاموشي پکار ده او که څوک سلام هم وکړي؛ نو د هغه جواب مه ورکوئ او نه سلام کوئ او خبرې مه کوئ.

جواب: داسې یو حدیث هم زماله نظر نه نه دی تیرشوی چې په هغه کې د ډوډۍ خوړلو په دوران د خاموشي حکم فرمایل شوی وي، امام غزالي (رحمه الله) په "احیاء العلوم" کې لیکي چې "د ډوډۍ خوړلو په دوران خاموشي اختیارول نه دي پکار، ځکه چې دا د عجمو طریقه ده[1]، بلکې هغوی ته ښې خبرې کول پکار دي او د نیکانو خلکو حالات او حکایتونه بیانول پکار دي".

په ډوډۍ خوړلو کې د دواړو لاسونو استعمال

سوال: زموږ دوو دوستانو په خپلو کې بحث کیږي چې د غوښې په دواړو لاسونو سره خوړل پکار دي او که نه؟ یو وایي چې: "په یو لاس سره خوړل پکار دي او دویم لاس د دې سره لګول نه دي پکار" او بل وایي چې: "په دواړو لاسونو سره خوړل هم جائز دي" مهرباني وکړئ تاسو په شرعي لحاظ سره جواب راکړئ!

جواب: که ضرورت وي؛ نو د دواړو لاسونو استعمال صحیح دی.

د کاشوغې سره ډوډۍ خوړل

سوال: په غټو خلکو کې د کاشوغې (چمچې) سره د ډوډۍ خوړلو رواج دی، ایا دا په اسلام کې جائز دي؟

جواب: په لاس سره ډوډۍ خوړل سنت دي[2] او په چمچې سره ډوډۍ خوړل جائز دي.

...بقیه د تیرمخ]... فلیستقیء فمحمول علی الإستحباب فیستحب لمن شرب قائمًا أن یتقایأه هذا الحدیث صریح فإن الامر إذا تعذر حمله علی الوجوب حمل علی الإستحباب وقال القاضی رحمه الله: هذا النهی من قبیل التأدیب والإرشاد إلی ما هو إلا خلق والأولی ولیس نهی تحریم (مرقاة شرح مشکوة ج: ٤ ص: ٤٠٢، باب الأشربة، الفصل الأوّل)۔

[1] ولا یصمت علی الطعام فهو من سیرة الأعاجم (الباب الثالث والأربعون فی آداب الأکل، إحیاء العلوم ص: ۱۸۸ ملحق الإحیاء)۔

[2] عن ابن کعب بن مالك عن أبیه قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یأکل بثلاث أصابع ویلعق یده قبل أن یمسحها (صحیح مسلم ج: ۲ ص: ۱۷۵) سنن الأکل منها إستحباب لعق الید محافظة علی برکة الطعام وتنظیفا لها وإستحباب الأکل بثلاث أصابع ولا یضم إلیها الرابعة والخامسة إلا لعذر بأن یکون مرقا وغیره مما لا یکن بثلاث وغیر ذالك من الأعذار (شرح المسلم للنووی ج: ۲ ص: ۱۷۵)۔

د ډوډۍ خوړلو په وخت سلام کول

سوال: زما ديو دوست وينا ده چې د ډوډۍ خوړلو په وخت نه سلام جائز دی او نه جواب ورکول.

جواب: کوم سړی چې په خوراک کې شريکيدل غواړي، هغه خو په ډوډۍ خوړونکو سلام کولی شي، بل نه،[1] او که څوک سلام واچوي نو د ډوډۍ خوړونکو په ذمه د هغه هيڅ جواب نه شته.[2]

نرم خوراکونه په چمچې سره خوړل

داسې خوراکونه (لکه ورزې، حلوا، دليه، رائته او نور نيم مائع قسمه خوراکونه) کوم چې په لاس سره خوړل کيږي؛ نو يوخود لاسونو خرابيدلو خطره وي او بل په دې کې دلاسونو د نوکونو د ګندګي د شامليدلو احتمال وي (که لاسونو هرڅنګه وينځل شوي وي يا نوکونه که په هرقسمه واړه شوي وي، په هغه کې د څه نه څه ګندګي نه انکار نشي کيدای) مکمل دپاکي اصول او نظريه دنظرلاندې ساتل د دهات داسې چمچو سره خوراک کيږي چې هغه د استعمال نه مخکې په ښه طريقه سره په ګرمو اوبو او د صابون په مدد سره ښه صفاشوې وي؟ ايا په دې صورت کې د چمچواستعمال د سنت اوشريعت خلاف خو به نه وي؟ اومونږ خوراک په لاس سره د خوړلو په هغو احکاماتو اوسنن باندې د زړه نه عمل کوو اوخشک خوراکونه په لاسونو سره خورو.

جواب: دلاسونو دګندګي کومه فلسفه چې تاسو بيان کړې ده، هغه خو د اعتبار لائق نه ده، د شريعت حکم دادی چې له خوراک نه مخکې دې لاسونو په ښې طريقې سره ووينځل شي[3]، له هغه وروسته د هغو وهمونو او ناروغيو هيڅ اعتبار نه شته چې څه نا څه ګندګي به ضرور په لاسونو کې پاتې شوي وي، ځکه مکمل دپاکي اصول او نظريه دنظر لاندې ساتلو سره دلاس په ځای د چمچې استعمال ته ترجيح ورکول محض وهم پرستي ده، له دې پرته د چمچې سره خوراک کول جائز دي، خصوصا چې خوراک داسې وي چې په لاس سره خوړل مشکل وي؛ نو په يوه وجه عذر هم دی، ګني اصل سنت هم دادي چې ډوډۍ دې په لاس سره وخوړل شي.[4]

---

[1] وفي النهر عن صدرالدين الغزي: سلامك مكروه .... ودع آكلا إلا إذا كنت جائعًا وتعلم منه أنه ليس يمنع (الدرالمختار ج: ١ ص: ٦١٧، باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها)۔

[2] يكره السلام على العاجز عن الجواب حقيقة كالمشغول بالأكل والإستفراغ أوشرعًا كالمشغول بالصلاة وقراءة القرآن، ولوسلّم لا يستحق الجواب (ردالمحتار ج: ١ ص: ٦١٧: باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها)

[3] وسنّة الأكل البسملة أوله والحمدلة آخره وغسل اليدين قبله وبعده (الدرالمختار مع ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٤٠، كتاب الحظروالإباحة)۔

[4] شمائل ترمذی مترجم ص: ١١٢، طبع ميرمحمد كراچی.)۔

د سوټو په اور پوخ شوی خوراک خوړل

سوال: نن سبا ډیر خلک د سوټو په څپیاکو باندې خوراک تیاروي خوري یې، زه دا معلومول غواړم چې ایا شرعاً د څپیاکو په اور باندې خوراک پخول جائز دي؟ او ایا د څپیاکو په اور باندې د تیار شوي شي خوړل جائز دي؟

جواب: دا جائز دي.[1]

په پلیټ کې لاس وینځل

سوال: کتل شوي دي چې ډیر خلک د ډوډۍ خوړلو وروسته په کوم پلیټ کې چې خوراک کوي په هماغه کې لاسونو هم وینځي، د شریعت په رڼا کې دا کار جائز دی؟

جواب: داسې کول د تهذیب خلاف دي او که څه خاص مجبوري وي؛ نو بیله خبره ده.

لوښی ولې پټول پکار دي؟

سوال: ما له څه خلکو اوریدلي دي چې د شپې که شی په کچن (پخلنځای) کې ښکاره پاتي شي؛ نو شیطان دا جوټه کوي، هسې هم په سائنسي نقطه نظر سره په دې ښکاره لوښو کې جراثیم وي، ځکه دا د وینځلو وروسته استعمالول پکار دي، تاسونه دا پوښتنه کول دي چې د دې څه شرعي حیثیت شته یا محض د صفایي په خاطر داسې کول پکار دي؟

جواب: په حدیث شریف کې د شپې په وخت د لوښو پټولو او د خالي لوښو سرچپه کولو حکم دی، د دې وجه په یو حدیث کې دا بیان شوې ده چې پټ شوي لوښي کې شیطان نه داخلیږي[2]، په یو بل حدیث کې دا وجه ذکر شوې ده چې په کال کې یوه شپه داسې راځي چې په هغه کې وبا نازلیږي او په کوم لوښي باندې چې سر نه وي په هغه کې داخلیږي.[3]

په بې خبري کې حرامه مړی (کوله) خوړل

سوال: که یو مسلمان په بې خبري کې بهرملک کې د خنزیر غوښه وخوري؛ نو څه حکم دی؟ یو ځل زما سره دا واقعه شوې وه چې ما یوه مړی (کوله) غوښه وخوړله، خو ماته سمدستي پته

---

[1] وسئل أبوالفضل عن اشعال التنور باخثاء البقر هل يجوز إذا خبزها الخبز؟ قال: يجوز أكل ذالك الخبز وسئل أبوحامد عن شعل التنوربأرواث الحمرهل يخبزها؟ قال: يكره ولورش عليه ماء بطلت الكراهة وعليه عرف أهل العراق ورماده طاهر (البحرالرائق ج: ۸ ص: ۲۱۰ كتاب الكراهية)۔

[2] قال غطّو الإناء وأوكواالسقاء واغلقواالأبواب واطفئواالسراج فإن الشيطان لا يحل سقاء(مسلم ج:۲ ص:۱۷۰)

[3] فإن فى السّنة ليلةً ينزل فيها بلاءٌ لايمُرُّ بإناء ليس عليه غطاءٌ أوسقاء ليس عليه وكاءٌ إلا فيه من ذالك الوباء (مسلم ج: ۲ ص: ۱۷۱، باب إستحباب تخمير الإناء وهو تغطية وايكاء السقاء ...إلخ)۔

ولګیده چې دا دخنزیر غوښه ده، په خوله کې مې چې کومه مړۍ وه هغه مې هم وغورځوله، اوس زما له پاره څه حکم دی؟

جواب: دا خو تاسو ښه کړي چې مړۍ مو سمدستي وغورځوله، ستاسو په ذمه هیڅ ګناه نه شته، خو دبې احتیاطي نه مو کار واخیست او لومړی مو پته ونه لګوله، څکه استغفار وکړئ.

دیتیمانو له کوره خوراک دمجبوري له وجې جائز دی

سوال: دیتیم مال خوړل حرام دي، خوزه مجبورادخپل یتیم خپلوان په کورکې څه خوراک څښاک کوم، که نه یې خورم؛ نوهغه ډیر خفه کیږي، ایا په ماته دا جائزدي چې زه دخپل خپلوان یتیم په کور کې څه وخورم؟ د قرآن او سنت په رڼا کې ووایئ!

جواب: دیتیمانو مال خوړل غټه ګناه ده[۱]، ددې نه چې څومره پرهیزکولی شئ ویې کړئ، خودخپلوي او تعلق له وجې کله انسان مجبوریږي، په داسې حالت کې دهغه زړه ساتلو له پاره تاسو دهغه په کور کې خوراک کوئ، خودهغه نه زیات هغه ته په هدیه کې ورکوئ!

ایا چای حرام دی؟

سوال: مولانا صاحب! یوصاحب فتوا ورکړه چې "چای څښل حرام دي" اول خو هغه ګرم ګرم څښل کیږي چې دهغه نه حضورپاک ﷺ منع فرمایلې ده، دویم چای اکثر په چپ لاس سره څښل کیږي چې دامکروه ده، دریم پوکی هم ورکول کیږي.

جواب: دچای دناجائز کولو فتوا خو یوبزرګ هم ترننه پورې نه ده ورکړې،خو په چپ لاس سره څښل[۲] او پوکی ورکول مکروه دي.[۳]

دسګریټ، پان، نسوارو او چای شرعي حکم

سوال: د سګریټ، پان، نسوارو اوداسې نورې.... نشې په اسلام کې څنګه دي؟ دا شیان مکروه دي یا حرام؟ ایا چای څښل هم داسې دي، لکه دسګریټ، پان یا د نسوارو نشه کول؟

---

[۱] وَلا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوباً كَبِيراً (النساء:۲) إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْماً إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَاراً وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيراً (النساء:۱۰) أيضًا: وفى التفسير: أى يأكلون ما يجرّ إلى النارفكأنه نار، روى أنه يبعث أكل مال اليتامى يوم القيامة والدخان يخرج من قبره ومن فيه وأنفه وأذنيه فيعرف الناس أنه كان يأكل مال اليتيم فى الدنيا (تفسيرنسفى ج: ۱ ص: ۳۳٤، طبع دار إبن كثير، بيروت)

[۲] ولا يشرب بشماله (ترمذى ج: ۲ص: ۲) وعن أبى هريرة رضى الله عنه قال: أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ليأكل أحدكم بيمينه ويشرب بشماله وليعط بيمينه، فإن الشيطان يأكل بشماله (ابن ماجة ص: ۲۳٥)

[۳] عن ابن عباس قال: لم يكن رسول الله صلى الله عليه وسلم ينفخ فى طعام ولاشراب ولا يتنفس فى الإناء (ابن ماجة ص: ۲٤٥، باب النفخ فى الشراب، طبع نورمحمد كتب خانه)_

جواب: سګريټ، نسوار، تمباکو پرته له ضرورت مکروه دي، دضرورت له وجې مباح (صحيح) دي[1] چاى دنشې والا شيانو کې شامل نه دی، که څوک يې نه څښي نه ډيره ښه ده او که ويې څښي: نو هيڅ خبره نه ده.

دحراموګټلو والا دعوت قبلول

سوال: که دبينک، سينما او فوټو اسټوډيو مالکان يا ملازمان په خپل يوتقريب کې خپلو ملګرو اوخپلوانو ته دډوډۍ دعوت ورکړي؛ نو ايا په هغه دعوت کې شريکيدل پکار دي اوکه نه؟

جواب: دکومو خلکو چې غالبه ګټه دحرامو وي، دهغوى ډوډۍ خوړل جائز نه دي.[2]

د شرابو په باره کې شرعي حکم

سوال: په "جنګ" روزنامه کې په (۴ستمبر ۱۹۸۱م)په اسلامي صفحه کې يوه ښځه ليکي چې: "شراب حرام نه دي" په دې سلسله کې هغې د قرآن پاک حواله هم ورکړه چې هغه زه لفظ په لفظ درته وايم، واورئ: "خلک تاسو نه د شرابو او قمار په باره کې پوښتنه کوي، تاسو وفرمايئ چې په دې دواړو کې دغټې ګناه خبرې هم دي او دخلکو له پاره فائدې هم دي" د شريعت داحکامو په رڼا کې ووايئ چې شراب حرام دي اوکه نه؟ اوکه حرام دي: نو دهغه نه انکار کولو والا څنګه دي؟

جواب: دکوم مضمون په باره کې چې تاسو سوال کړى دى، په هغه کې دشرابوله حرمت نه انکارنه دى شوى. تاسوته غلط فهمي شوې ده، شراب قطعي حرام دي[3] دفقه حنفي په مشهور کتاب "هدايه" کې دشرابو(خمر) دا احکام ليکل شوي دي:

۱: شراب دخپل ذات له وجې حرام دي، ددې دحرمت مدار په نشې باندې نه دى. دځينوخلکو دا وينا چې: "دا پخپله حرام نه دي، بلکې ددې نشه حرامه ده" کفردى، ځکه چې دا دالله دکتاب نه انکاردى، دالله تعالى کتاب دې ته "رجس" ويلي دي او"رجس" هغه نجاست ته وايي چې هغه دخپل ذاتي نجاست له وجې حرام وي او په سنت متواتره کې بيان دي چې حضورپاک ﷺ شراب حرام ګرځولي دي او په همدې دامت اجماع ده.[4]

---

[1] قوله فيفهم منه حكم النبات وهو الإباحة على المختار أوالتوقف وفيه إشارة إلى عدم تسليم إسكاره وتفتيره وإضراره وإلا لم يصح إدخاله تحت القاعدة المذكورة (شامى ج: ٦ ص: ٤٦٠، كتاب الأشربة)۔

[2] آكل الربا وكاسب الحرام أهدى إليه أو أضافه وغالب ماله حرام لايقبل ولا يأكل ما لم يخبره (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٤٣، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات) أيضًا: إذاكان غلب مال المهدى حلالا فلابأس بقبول هديته وأكل ماله ما لم يتبين أنه من حرام(الأشباه والنظائر ص: ١٢٥، طبع إدارة القرآن)

[3] قال تعالى:" يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ،، (المائدة: ٩٠)۔

[4] والثالث ان عينها حرام غيرمعلول بالسكر ولا موقوف عليه ومن الناس ..[بقيه په راروانه صفحه.

۲: شراب، دمتیازو په څیر نجاست غلیظه (سخت پلیت) دي، ځکه چې ددې نجاست دقطعي دلایلونه ثابت دی.[۱]
۳: دا حلال ګڼلو والا کافر دی، ځکه چې هغه د دلیل قطعي منکردی.[۲]
۴: دمسلمان په حق کې دا بې قیمته شی دی، ځکه که دمسلمان سره شراب وي او څوک دا ضائع کړي؛ نوپه دې هیڅ نیول نه شته.[۳]
۵: ددې یوه قطره هم حرامه ده او په دې باندې به حدجاري کیږي.[۴]
۶: دڅښلو پرته ورڅخه بله فایده اخیستل هم جائز نه دي.
۷ ددې په خرڅولو چې کومې پیسې ملاویږي هغه هم حرامې دي.[۵]
د"هدایه" په دې حوالې سره معلومه شوه چې شراب (خمر) حرام دي اوددې دحرمت نه منکر په څلور واړه مذهبونو کافر دی، ځکه چې هغه دقرآن کریم، درسول الله ﷺ او دټول اسلامي امت بې عزتي کوي.

ایا شراب یو مریض ته ورکول کیدای شي؟

سوال: ایا په شرابوکې شفا شته؟ او ایا هغه یوداسې مریض ته ورکول کیدای شي چې په هغه سره دهغه ژوند بچ کیدای شي؟

جواب: شراب خو پخپله ناروغي ده، په دې کې به څه شفا وي......! ترکومې پورې چې مریض ته د ورکولو تعلق دی، په هغه کې د شرابو هیڅ خصوصیت نه شته، بلکې دټولو ناپاکو شیانو یوحکم دی اوهغه دا چې ددې ناپاکه شي پرته که نورڅه علاج ممکن نه شو اودماهرډاکټرپه نزد په هغه سره دهغه ځان بچ کیدای شي؛نوپه داسې نازک حالت کې ناپاکه شی استعمالولی شئ.[۶]

...بقیه د تیرمخ].. من أنكر حرمة عينها وقال إن السكر منها حرام لأن به يحصل الفساد وهوالصد عن ذكرالله وهذا كفرٌ لأنه جحودالكتاب فإنه رجسًا والرجس ما هو محرم العين وقدجائت السنّة متواترة ان النبي صلى الله عليه وسلم حرم الخمروعليه إنعقدالإجماع (هداية ج: ٤ ص: ٤٩٠، كتاب الأشربة)_
۱] أيضًا تيره شوى حاشيه (قال تعالى: يٰايها الذين....الخ) وګورئ!)_
۲] إستحلال المعصية كفرٌ إذا ثبت كونها معصيةً بدليل قطعى (ردالمحتار ج: ۲ ص: ۲۹۲، باب زكاة الغنم)_
۳] فلابد من كون المسروق متقوّمًامطلقًا فلاقطع بسرقة خمر مسلمٍ مسلمًا كان السارق أو ذميًا (الدرالمختار ج: ٤ ص: ٨٤، كتاب السرقة)_
٤] قال فى التنوير :يحدمسلمٌ ناطق مكلّف شرب الخمرولو قطرةٌ (درالمختارج : ٤ ص:٣٧، باب حدالشرب المحرم)
٥] قال النبى صلى الله عليه وسلم: ان الذى حرّم شربها حرّم بيعها (نسائى ج: ٢ ص: ٢٣٠، بيع الخمر)_
٦] وقال محمد رحمه الله تعالى: لايطهر أبدًا ويكره الإحتقان والإكتحال بالخمر وكذا الإقطار فى الإحليل وأن يجعل فى السعوط فالحاصل ان لا ينتفع بالخمرإلا انّها إذا تخلل فينتفع به سواءً صارخلا بالمعالجة أو بغيرالمعالجة (قاضيخان بهامش الهندية ج: ٣ ص: ٢٢٦) ويجوزللعليل شرب البول والدم ..[بقيه په راروانه صفحه.

درنګ رلیو چوکیداري کول او د شرابو بوتل راوړل او ورکول

سوال: زه چپراسي یم او کله کله ماته په زبردستي دشپې ناوخته پورې دایساریدو ویل کیږي او دشپې دشرابو او طوائفو سره مزه اخیستل کیږي، زمانه دچوکیداري فرائض په زبردستي سره اخیستل کیږي، بلکې دبوتل راوړلو هم راته ویل کیږي چې دفلاني ځای نه راوړه، زه دموجوده قانون او دالله تعالی نه ویریږم، سخت پریشانه یم، دنوکري سوال دی، د قرآن او سنت په رڼا کې ووایئ چې ماته څه کول پکار دي؟ اوس زه مجبورا ملازمت ساتلی شم؟ او ایا دالله په نزد زه په دې ګناه کې ددوی سره شریک خو نه یم؟

جواب: دا خو ښکاره ده چې په دې بدي او بدکاري کې مدد ستاسو هم شامل دی[۱]، اګرچې د مجبوري نه وي تاسو یوبل ملازمت یاد معاش ذریعه وګورئ او چې کله ملاو شي؛ نو دا ګنده نوکري پریږدئ او دالله تعالی نه استغفار کوئ.

د شرابو په خالي بوتل کې اوبه کیښودل

سوال: ډیر حضرات دچاپه کورونوکې چې فریج وي، دشرابو په خالي بوتلونوکې اوبه اچوي په فریج کې یې ږدي او دا اوبه څښي، ایا هغه اوبه څښل جائز دي؟

جواب: که دا بوتلې پاکې شي؛ نوپه دې کې اوبه کیښودل جائز دي[۲] خو یوه درجه کراهت پکې شته، لکه څنګه چې میتیازو بوتل صفا کړل شي او داوبو له پاره استعمالیږي.

دډوډۍ خوړلو وروسته لاسونه اوچتول او اجتماعي دعا کول

سوال: له ډوډۍ خوړلو وروسته په اجتماعي ډول لاسونه اوچتول او دعا کول ثابت دي او که نه؟

جواب: له ډوډۍ وروسته دعا کول ثابت دي[۳]، البته په اجتماعي ډول دعا کول ثابت نه دي که میلمانه دکوربه له پاره دعا وکړي؛ نو څه مضائقه نه شته.

...بقیه د تیرمخ]. والمیتة للتداوی إذا إخبره طبیب مسلم أن شفاءه فیه، ولم یجد من المباح ما یقوم مقامه (درمختار ج: ٦ ص: ٣٨٩ کتاب الحظر والإباحة)۔

[۱] وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الْأثْمِ وَالْعُدْوَان (المائدة:٢)۔

[۲] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وإنّی کنت نهیتکم عن الظروف وإنّ ظرفًا لا یحلّ شیئًا ولایحرمه (ترمذی ج: ٢ ص:٩، أبواب الأطعمة)۔

[۳] عن أبی سعید قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم إذا أکل طعامًا قال: الحمد لله الذی أطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمین (ابن ماجة ص: ٢٣٦، باب مسح الید بعدالطعام)۔

د حرام ځناورو د شکلونو بسکټ

سوال: عرض دی چې له ډیرې مودې نه د زړه د غوښتنونه مجبور یم، کم عمره ماشومان چې کله هم د سپیو، پیشوګانو شیروغیره حراموځناورو شکلونو والا بسکټ په خوړولو وینم، د دې له وجې زه په ذهني انتشار کې اخته کیږم، موږ مسلمانان یو، زموږ د ملک اساس هم په اسلامي نظریاتو باندې دی، زموږ په ملک کې د بسکټ فیکټریانو د مسلمان کیدو سره سره داسې بسکټ ولې جوړوي چې په هغه کې کراهت وي؟ په دې سره د حرام او حلال تصور د ماشومانو د ذهن نه به لرې شي، کیدای شي دا یو وړوکي شان خبره وي، خو د دې ختمول او د ختمولو انتظام ضروري دی، چې زموږ د کم عمره او ناپوهه بچیو تربیت په اسلامي طرز وشي.

جواب: ستاسو خیال صحیح دی، اول خو د تصویر جوړولو په اسلام کې جواز نه شته[1]، بیا داسې ګنده تصویرونه نور هم زیات بد دي، په دې باندې قانونا پابندي پکار ده.

د هډوکي چوپړ

سوال: هډوکي چوپړ څنګه دي؟ اوریدلي مې دي چې د غوښې په خوړلو هډوکي چوپړ نه دي پکار چې په دې خدای پاک د پیریانو خوراک پیدا کوي.

جواب: جائز دي، دا خو صحیح ده چې الله تعالی په خوړل شویو هډوکو باندې د پیریانو له پاره خوراک پیدا کوي[2]، خوله دې نه دا نتیجه اخذ کول چې د هډوکو چوپړ جائز نه دي، دا نتیجه صحیح نه ده.

په شیدو خوړونکو ماشومانو باندې افیوم خوړل

سوال: زموږ اکثر میندې خپلو پیوڅښونکو ماشومانو ته د شپې په وخت افیم ورکوي چې ماشوم د شپې ویده شي او ارام وکړي، ایا دا جائز دي؟

جواب: د افیمو استعمال چې څنګه د غټو له پاره جائز نه دی، همداسې پیوڅښونکو ماشومانو ته ورکول هم شرعا حرام[3] او له طبي نقطره د صحت له پاره سخت مضر دي، کومې میندې چې داسې کوي هغوی خپل بچي په خپلو لاسونو سره ذبح کوي، خدای دې دوی ته عقل ورکړي!

---

[1] عن عبدالله بن مسعود قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أشدالناس عذابًا عندالله المصوّرون (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۵، باب التصاوير، الفصل الأوّل)_

[2] عن أبي هريرة قال: اتّبعت رسول الله صلى الله عليه وسلم .... فسألته عن الأحجار والعظم والروثة فقال: إنه جاء فى وفد نصيبين من الجن هم فسألونى الزاد فدعوت الله لهم أن لايَمُرّوا بعظمٍ ولا بروثة إلا وجدوا عليه طعامًا (طحاوى ج: ۱ ص: ۹٤، باب الإستجمار بالعظام)_

[3] ونقل فى الأشربة عن الجوهرة حرمة أكل بنج وحشيشة والهيون لكن دون حرمة الخمر (درمختار ج: ٤ ص: ٤۲)

دغلا په بجلۍ پوخ شوی خوراک خوړل او په کرمواوبو اودس کول

سوال: موږ د دنیاوالا په دنیاکې ډیرقسمه غلاګانې ګورو. مولانا صاحب! خلک ګڼي چې دبجلۍ غلا، غلا نه وي، ایا دغلا په بجلۍ کې یوعبادت قبلیدای شي؟ دغلا په بجلۍ سره چلیدو والابیا په دې هیټرباندې خوراک پخول پکاردي او چې هغه خوراک دحلال دولت وي، ایا هغه خوراک جائز دی؟ زموږ ښار سره نژدې په یو جومات کې ګیزر(داوبو ګرمولو اله) بالکل پرنه دمیټرنه لګیدلی دی. جومات والا ددې بل نه ورکوي. خلک، په دې سره اودس کوي اولمونځ ادا کوي. ایا په دې ګرمواوبوسره لمونځ کیږي؟ جواب ضرور راکړئ، مهرباني به وي.

جواب: سرکاري اداري دټول قوم ملکیت دی او ددې غلا هم داسې جرم دی څنګه چې دیو انسان څخه غلا حرامه ده[1]، بلکې دسرکاري ادارو غلا دیوخاص سړي دغلا نه هم زیاته سخته ده. ځکه چې دیوسړي نه انسان معافي همی شي خو په اته کروړو انسانانوکې به له کوم کوم کس نه معافي غواړې ګرځې به؟ کوم خلک چې پرته له میټر بجلي استعمالوي هغه دټول قوم نه غلا ده دجومات د کوم ګیزر چې تاسو ذکر وکړ که محکمې دجوماتو له پاره مفته بجلۍ ورکړې وي: نوصحیح ده، ګنې دا دجومات دانتظامیې کمیټۍ غلا ده او دهغه په ګرمو اوبه اودس کول درست نه دي، همدا حکم دهغوټولو خلکو او ادارو هم دې کومې چې دغلا بجلۍ استعمالوي.

سوال: که چا داسې غلاکړې وي او هغه توبه کول وغواړي: نودهغه څه تدارک کیدای شي؟

جواب: ددې تدارک دادی چې دالله تعالی نه دې معافي وغواړي او څومره بجلۍ چې هغه په ناجائزه استعمال کړې ده، دهغه اندازه وکړه او محکمې ته یې ادا کړه[2] ددې مثال داسې دی چې یوسړی پرته د ټکټ نه په ریل کې سفر وکړ، ددومره سفر کرایه دهغه په ذمه باندې واجب الادا ده. هغه ته پکار دي چې دهغه رقم برابر ټکټ واخلي او هغه ضائع کړي.

د فریقینو د صلح په وخت د ذبح شوي ګډ(پسه) شرعي حکم

سوال: زیدعمرو قتل کړ. اوس زید دمقتول دوارثانو سره دصلح کولو له پاره شل(۲۰) یا دیرش (۳۰) سړي او یو(۱) یا دوه(۲)ګډان ذبح کولو له پاره خپل ځان سره بوځي. دصلح کولو

---

[1] لا يجوز لأحد أن يتصرف فى ملك غيره بلا إذنه أو وكالة منه أو ولاية عليه ...إلخ (شرح المجلة ص: ٦١ المادّة: ٩٦) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا لا يحل مال امرىء إلا بطيب نفس منه (مشكوة ج: ١ ص: ٢٥٥) أيضًا: إنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى اهلها (النساء:٥٨)_

[2] والحاصل إن علم أرباب الأموال وجب رده عليهم(فتاوى شامي ج:٥ ص:٩٩. مطلب فيمن ورث مالًا حرامًا)

وروسته هغه دوه ګډان ذبح کوي، د هغه خوراک د دواړو فریقینو له پاره یا د نورو خلکو له پاره جائز دی یا ناجائز ؟

جواب: د ناجائز کیدو شبه ولې وشوه-------؟

سړي او ښځې ته دیوبل جوټه خوړل

سوال: مسئله داده چې له ډیرې مودې نه داخبره اوریدل کیږي چې یوازې خور او ورور دیوبل جوټه پې څښلی شي، ښځه خاوند او یو غیر سړی او ښځه دیوبل جوټه پې نه شي څښلس، ایا دا خبره رینبتیا او حدیث دی یا هسې خبره ده؟

جواب: د ښځې خاوند جوټه خوراک څښاک یو بل ته جائزدی او د محرم ښځو او سړیو جوټه هم یوبل ته جائز ده[1] د ناپیژندګلو سړیو او ښځو جوټه خوراک څښاک دفتنې دویرې له وجې مکروه دی.[2]

دبچي جوټه خوراک څښاک

سوال: د یو تی رودونکي ماشوم پلار دخپل بچي جوټه خوراک څښاک کولی شي او که نه؟

جواب: شرعاددې ناجائز کیدوهیڅ وجه نه شته.

د دوبي د کور خوراک

سوال: زما یو څو دوستان دوبیان دي. خلک وایي چې دهغوی دکور خوراک جائز نه دی، مهرباني وکړئ د قرآن او حدیث په رڼا کې جواب راکړئ، مهرباني به مو وي.

جواب: ولې جائز نه دی -------؟

قرعه اچول او د شرط خوراک څښاک

سوال: موږ اکثر دوستان قرعه (پچه) اچوو، د چا په نوم چې قرعه (پچه) راوځي هغه څه نا څه په موږ باندې خوري یاخښي، ایا داسې خوراک جائز دی؟

جواب: دا جائز نه دی، جواري ده.[3]

---

[1] عن عائشة قالت: كنت أشرب وأنا حائض ثم أناوله النبي صلى الله عليه وسلم فيضع فاه على موضع فيّ (مسلم ج: ١ ص: ١٤٣، باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله ...إلخ)۔

[2] يكره للمرأة سؤر الرجل وسؤرها له (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٢٦، باب الإستبراء وغيره، فصل في البيع)۔

[3] إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (المائدة: ٩٠) وكلّ مايقامرها فهو داخلٌ في الإستقسام بالأزلام عبارةً أودلالةً جليلةً أو خفيفةً (مظهري ج: ٣ ص: ٢٣)۔

سوال: ددوو حضراتو په مینځ کې داموافقه وشوه چې دبیلونکی به سل (۱۰۰) ریاله ادا کوي، معامله دقرآن مجید دترجمې وه، يو وويل چې دقرآن په ترجموکې فرق نه شته، بل وويل چې فرق شته بیلونکي(۱۰۰) ریاله ادا کړل، په دې سره د هغه نه ټولو دوستانو بروسټ وخوړل، داسې معاهده کول او داسې خوراک څنګه دی؟ هغه شرط حرام وي چې دبیلونکی روپۍ ادا کړي او لاړشي، دلته بیلونکي هم زموږ سره بروسټ وخوړل.

جواب: که د دواړو طرفو نه شرط و؛ نو حرام دي او که د يو طرف نه دانعام وعده وه، بل طرف څخه نه وه؛ نو دا جائز دي.[1]

غیرشرعي مجلس کې شرکت کول حرام دي

سوال: زما ددوست وینا ده چې دښادي یا د ولیمې وغیره دعوت وي؛ نودهغه قبلول په هر مسلمان باندې ضروري دي، خیردی که په هغه کې دتصویرونو، فلمونو یا په ولاړه دخوراک اهتمام وي، یادهغه امدني غیرشرعي دسود وغیره وي، هغه وایي چې سړی دې ځان بچ کړي یو طرف ته دې شي، خو لاړ دې ضرور شي، ورسره دا هم وایي چې دعوت ولیمه وغیره قبلولو سنت دي او دیو حدیث مفهوم دی: " جبرائیل علیه السلام ماته دګاونډي په باره کې بې حده وصیت کړی دی، زما ګمان و چې شاید ګاونډي ته وراثت هم ورکړل شي" له دې وجې دمسلمان دعوت قبول کړئ پته نه شته خودمسلمان زړه به خفه شي چې هغه ډیره غټه ګناه ده او په خاندان یا پخپلوکې به تفریق پیدا شي، حالانکې په امت کې د جوړ حکم دی، ددې وجوهاتو له وجې هغه تګ ضروري ګڼي او زما دکمزروې رایې مطابق په داسې دعوتونوکې شریکیدل خالص حرام دي، خاص ډول د غیرشرعي امدني والا دعوت، هو! که دعوت والا دا وعده وکړي چې زه به یې د سنت مطابق ورکوم اود فوټو وغیره نه به یې بچ کوم؛ نوهیڅ ګنجائش نه شته، خوبیاهم هغه ته د نیک او پرهیزګار تګ چیرې هم صحیح نه دی، زما دناقصه پوهې وینا ده چې که چیرې دیو کور په یوه برخه کې اور ولګیږي؛ نو یو عقل مند سړی به هم دهغه کور بله برخه کې چیرته چې اور نه دی لګیدلی، کیناستل به چیرې هم خوښ نکړي، هم داسې په داسې دعوتونوکې دالله تعالی عذاب نازلیږي او دایې بل طرف ته خوراک کوي، ستاسو به ډیره مهرباني وي زموږ ددواړو په مینځ کې فیصله وکړي چې څوک قرآن او حدیث ته زیات نږدې او صحیح دي، ځکه چې موږ دواړه به ستاسو رایه په هر شان قبلوو، ورسره دا هم ووایئ چې له چاسره داسې نیکي کول چې په هغه کې خپل دنیاوي یا د اخرت نقصان وي، دا ترکوم حده پورې صحیح ده؟

---

[1] وفي التنوير وشرحه حل الجعل .... ان شرط المال في المسابقة من جانب واحد وحرم لو شرط فيها من الجانبين لأنه يصير قمارًا (ج: ٦ ص: ٤٠٢، كتاب الحظروالإباحة، باب الإستبراء، فصلٌ في البيع)۔

جواب: په کومو دعوتونو کې چې دغیرشرعي امورو ارتکاب کیږي او انسان ته له وړاندې دهغه علم وي، هغه ته تګ حرام دی، که دمخکې ورته علم نه وي او سمدستي ورته پته ولګیږي ؛نو پورته دې شي او لاړ دې شي یا دې صبروکړي، [1] دولیمې دعوت قبلول سنت دي، خوچې کله سنت دخرافاتو او محرماتو سره ملاو شي؛ نوهغه قبلول سنت نه. بلکې حرام دي.[2]

دغیر مسلمو سره خوراک څښناک

سوال: زما مسئله داسې ده چې زه یو ډیر غټ پروجیکټ کې کار کوم، هلته زیات اکثریت باندې مسلمانان کار کوي، خوپه هغه پروجیکټ کې د مزدورانو بل غټ تعداد دمختلف قسمه عیسایانو هم دی،هغوی تقریبا له هر هوټل نه خوراک څښناک کوي او هرقسمه لوښي استعمالوي، مهرباني وکړئ شرعي مسئله وښیئ چې له هغوی سره په خوراک څښناک کولو زموږ ایمان خو کمزوری کیږي نه؟

جواب: اسلام دفضولیاتو قائل نه دی، غیرمسلمو سره دوستي ساتل، دهغوی په څیر شکل او صورت اختیارول او دهغوی په څیر عادتونه خپلول حرام دي[3]، خوکه دهغوی لاسونه نجس(ګنده) نه وي؛ نودهغوی سره خوراک کول هم جائز دي، دحضورپاک ﷺ په دسترخوان باندې کافرانو هم ډوډۍ خوړلې ده، هو! دطبعیت کرکه بیله خبره ده او دغیرمسلموسره یوځای خوراک څښناک کولو کې دهغوی سره یو قسمه دوستي شروع کیږي اوذهغوی دکفر نه نفرت ختمیږي، ځکه علماء کرام د غیرمسلمو سره یوځای خوراک څښناک کولو نه منع فرمايي، هو! که ضرورت راشي؛ نو جائز دی.[4]

---

[1] ومن دعى إلى الوليمة فوجد ثمة لعبًا أو غناءً فلا بأس بأن يقعد.......... وأما إذا علم قبل الحضور فلا يحضر...إلخ (فتاوى عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٤٣، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشرفى الهدايا والضيافات)۔

[2] ولو دعى إلى دعوة فالواجب أن يجيبه إلى ذالك، وإنما يجب عليه أن يجيبه إذا لم يكن هناك معصية ولا بدعة ...إلخ (فتاوى عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٤٣، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشرفى الهدايا والضيافات)۔

[3] قال تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ (الممتحنة:١) عن عبدالله بن مسعود قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من كثر سواد قوم فهومنهم، ومن رضى عمل قوم كان شريكًا لعمله (المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية ج: ٢ ص: ٤٢ رقم الحديث: ١٦٠٥، طبع دارالمعرفة. فتح البارى ج: ٣ ص: ٤٧، طبع نشرالكتب الإسلامية)۔

[4] ولا بأس بطعام اليهود والنصارى كله من الذبائح وغيرها ويستوى الجواب بين أن يكون اليهود والنصارى من أهل الحرب أو من غيرأهل الحرب .... ولا بأس بطعام المجوس كله إلا الذبيحة فإن ذبيحتهم حرام، ولم يذكر محمد رحمه الله تعالى الأكل مع المجوس ومع غيره من أهل الشرك أنه هل يحل أم لا وحكى عن الحاكم الإمام عبدالرحمن الكاتب أن ابتلى به المسلم مرة أو مرتين فلا بأس به وأما الدوام عليه فيكره كذا فى المحيط .... ولا بأس بضيافة الذمى وأن لم يكن بينهما إلا معرفة كذا فى الملتقط. [بقيه په راروانه صفحه.

د خنزير چربي استعمالولو والا هوټل کې خوراک کول

سوال: زه چې له کله دبی ته راغلی یم، یوه خبره مې پریشانه کوي چې کله هم هوټل ته ډوډۍ خوړلو له پاره ځم: نوخوراک په "Two Cow" برانډ غوړیو کې پوخ شوی ملاویږي او مونږ اوریدلي دي چې هغه کې د خنزير وازګه استعمالیږي، په دې باندې یو نوټ ولیکئ او ووایئ چې دا استعمالول حرام دی او که نه؟ ځکه چې دلته په ټولو هوټلونوکې همداغوړي استعمالیږي او زمونږ مسلمانان ورونه داخوري.

جواب: تحقیق وکړی.که واقعي په کې دخنزير وازګه استعمالیږي: نو په داسې هوټلونوکې خوراک کول جائز نه دي.[1]

دهندوله هوټل نه خوراک کول

سوال: دیو هندو په هوټل کې دهندو دلاس پخ شوې ډوډۍ اوسبزي خوړل جائز دي او که نه؟ ځکه چې که دلته دغوړو نه پرته ډوډۍ خورې: نویوازې دهندو په هوټل کې ملاویږي.

جواب: که دهندو لوښی صفا وي او یقین درته وي چې هغه څه غلط شی نه استعمالوي: نو دهغه په هوټل،کور یا دوکان کې خوراک کول جائز دي.[2]

دخاوندمال له اجازې پرته په خپلوخپلوانو خوړل

سوال: دخاوند د مال نه دخوراک شیان دهغه له اجازې پرته پخپله یا خپلو بچیوته یا خپلوخپلوانو باندې خوړل جائز دي؟

جواب: داسې شیان چې دهغه په خوراک ځنباک یا ورکولو ځنبلو باندې په عام حروفوکې اعتراض نه کیږي. دهغه اجازه شته، البته که ښځې ته اندازه وي چې خاوند ته به دا خبره خوښه نه وي: نو دمکمل اجازې پرته داسې مه کوئ، خلاصه داده چې دخاوند اجازه ضروري

...بقيه د تیرمخ]... وفى التفاريق لابأس بأن يضيف كافرًا لقرابة او لحاجة كذا فى التمرتاشي ولا بأس بالذهاب إلى ضيافة أهل الذمة هكذا ذكره محمد رحمه الله تعالى (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٤٧، كتاب الكراهية)۔

[1] حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ (المائدة:٣) أيضًا: وفى التفسير: ولحم الخنزير وكله نجس وإنما خص اللحم لأنه معظم المقصود (تفسير نسفى ج: ١ ص: ٤٢٥) أيضًا: فى الدرالمختار: خلا خنزير فلا يطهر (قوله فلا يطهر) أى لأنه نجس العين بمعنى أن ذاته بجميع أجزائه نجسة حيًا وميتًا (الدرالمختار مع ردالمحتار ج: ١ ص: ٢٠٤ مطلب فى أحكام الدباغة)۔

[2] ويكره الأكل والشرب فى أوانى المشركين قبل الغسل، ومع هذا لو أكل أو شرب فيها قبل الغسل جاز........ وهذا إذا لم يعلم بنجاسة الأوانى فأما إذا علم فإنه لا يجوز ...إلخ (فتاوى هندية ج: ٥ ص: ٣٤٧، كتاب الكراهية، الباب الرابع عشر)۔

ده. که هغه عرفا یا صراحتا وي.[1]

دقرآن خواني په داسې محفلونو کې شریکیدل چې په هغه کې فرائض ماتیږي

سوال: ایا دبیلمازه ښځو په دعوت باندې دهغوی په داسې قرآن خواني کې شمولیت به مناسب وي چیرته چې له مازدیګرنه واخله تر ماسخوتن نه وروسته پورې ښځې دخپل ټول فیشن سره یوځای شوې وي، دخوراک څښاک هم پوره اهتمام وي، نور دا چې د پردې نوم او نښان نه وي؟

جواب: داسې محفلونه چې هلته ددین دفرائضو او احکامو لحاظ نه کیږي، په هغو کې شرکت کول جائز نه دي.[2]

ایا کم خوراک عیب دی؟

سوال: محترم المقام جناب حضرت مولانامحمدیوسف صاحب مدظلهم، دمسنون سلام نه درخواست دادی چې زه په ګورنمنټ هایي سکول ګګومندي، ضلع وهاړي کې داستاد په حیث کار کوم اود علماء دیوبند خادم یم، تاسوته به معلومه وي چې په تعلیمي ادارو کې دبحث او مباحثې سلسله هروخت جاري وي، په دې سلسله کې ستاسو نه لږ وضاحت غواړم، دماهنامه"بینات" په یوه شماره کې حضرت بنوري(رحمه الله) دخپل پلارمتعلق مضمون لیکلی و، په هغه کې دوه خبرې داعتراض قابلې دي، په هغه باندې کیپټن عثماني والااعتراض کوي او زموږ په سکول کې هم داسې خلک موجود دي او هغوی په موږ باندې اعتراضات کوي، په دې سلسله کې تاسو تسلي بخش جواب وفرمایئ، دهغوی په نزد دحضرت بنوري(رحمه الله) دوه خبرې د اعتراض قابلې دي:

۱ـ زما والد صاحب (دحضرت بنوري(رحمه الله) والدصاحب) په درې نیمې ماسې خوراک باندې ټول عمر تیرکړی.

---

[1] عن أبي أمامة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبته عام حجة الوداع: لا تنفق امرأة شيئًا من بيت زوجها إلا بإذن زوجها (مشكوة ج: ۱ ص: ۱۷۲)ـ

[2] دعى إلى وليمة وثمة لعب أو غناء ...إلخ (الدرالمختار) وفى الشرح: وفى التترخانية عن الينابيع: لو دعى إلى وليمة فالواجب الإجابة إن لم يكن هناك معصية ولا بدعة والإمتناع أسلم فى زماننا إلا إذا علم يقينًا أن لا بدعة ولا معصية...إلخ (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٤٨ كتاب الحظروالأباحة) إيضًا: وفى البزازية: ويكره .... اتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم أو لقراءة سورة الأنعام أو الإخلاص والحاصل أ، اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لأجل الأكل يكره .... وأطال فى ذالك فى المعراج وقال وهذه الأفعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لأنهم لا يريدون بها وجه الله (ردالمحتار ج: ۲ ص: ۲٤۱، باب صلاة الجنازة)ـ

۲_ "او د هغه نکاح حضرت علي (رحمه الله) تړلې وه".
۱_ "وضاحت وکړئ چې يو مثال په اسلام کې داسې شته چې په خوب کې د يو صحابي يا تابعي نکاح تړل شوي وي؟
۲_ "څوک له مرګ وروسته دوباره ژوندي کيداى شي دنياته راتلئ شي؟ که ممکن وي؛ نو د هغه څه مثال وړاندې کيداى شي؟ ځکه چې ډير خلک د حضرت نانوتوي (رحمه الله) متعلق وايي چې هغه دوباره ديوبند ته راغلى و، ستاسو په کتاب کې ليکل شوي دي.
ايا يو صاحب د بريلوي حضرات له طرفه ليکل شوي کتاب "زلزله" جواب تحرير کړى دى؟ او د کيپټن عثماني کتاب "توحيد خالص" يې ليکلى دى؟ مهرباني وکړئ وضاحت وکړئ. ما د اشارې په ډول اعتراض ليکلى دى، باقي نور خيريت دى.
قاري عبدالباسط، په ګورنمنټ هائي سکول ګګومنډي بورے والا، ضلع وهاړي کې استاد

جواب: مکرم و محترم جناب قاري عبدالباسط صاحب زيدمجدهم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

جناب تاسو تحرير فرمايلى دى چې د حضرت بنوري (رحمه الله) په دې مضمون باندې، چې هغه د خپل والد ماجد (نورالله مرقده) په وفات باندې ليکلى و، ډاکټر کيپټن عثماني ته دوه اعتراضونه دي:

اول: د حضرت په دې عبارت باندې چې په هغه کې د والد صاحب مرحوم د کم خوراک بيان شوى دى چې په غفوان شباب (ځوانۍ) کې به هغه يوازې درې ماشې خوراک باندې اکتفاء کوله.
زه په دې باندې بالکل پوه نه شم چې ډاکټر عثماني ته په دې کې قابل اعتراض څه خبره په نظر راغله؟ يا تاسو ته په دې کې څه شک راغى؟ زما محترم! زيات خوراک خوړ ته له شک د مذمت لائق دى، شرعاً هم او عقلاً هم او کم خوراک خو د عقل او شرع په يو قانون کې هم د اعتراض لائق نه دى، بلکې خوراک چې څومره کم وي هغومره شان لائق مدح دى، په شرط د دې چې په کم خوراک کې د تباهي يا د صحت د خرابي خطره نه وي، ځکه د عقل د خاوندانو په نزد خوراک پخپله مقصد نه دى، بلکې د ژوند او صحت د بقا له پاره ضرورت دى، د شيخ سعدي (رحمه الله) د قول مطابق:

خوردن براے زيستن و عبادت کردن است :: تو معتقد که زيستن براے خوردن است

او که د اشکال منشا دا وي چې په درې نيمې ماشې خوراک سره انسان څنګه ژوندى او سيداى شي؟؛ نو دا اشکال که چيرته د يوې دروغژنې خولې سره جوړيږي؛ نو صحيح ده، خود يو مؤمن چې هغه د الله تعالى په قدرت باندې يقين ساتي د هغه له طرفه دا اشکال وړاندې کيدل يقينا د حيرت موجب دى، تولو ته پته ده چې فرښتې الله تعالى محض د تسبيح او تقديس سره ژوندى ساتي، حضرت عيسى عليه السلام دوه زره کاله له مادي خوراک پرته په اسمان کې ژوندى

دی. مشکوة شریف ص ۴۷۷، کې د حضرت اسماء بنت یزید رضي الله عنها روایت نه حدیث دجال مروي دی. چې په هغه کې د دجال د زمانې د قحط ذکر فرمایل شوی دی. حضرت اسماء رضي الله عنها فرمايي چې ما عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم! موږ اوړه اغږو ساتویئ، اوس د ډوډۍ پخولو نوبت نه راځي چې سوږ لوږه محسوس کوو. په دې ورځوکې د اهل ایمان والا څه وکړي؟ ویې فرمایل:

"يجزئهم مايجزئ اهل السماء من التسبيح والتقديس."[1]

ترجمه: هغوی ته به هغه تسبیح او تقدیس کافي شي کوم چې د اسمان والاوو ته کافي کیږي.

داکبر اولیاء الله په حالاتوکې د تقلیل طعام واقعات په دومره کثرت سره نقل دي چې حد تواتر ته رسیدلي دي، د امام بخاري (رحمه الله) په باره کې علامه کرماني (رحمه الله) لیکي:

"كان في سعة من الدنيا وقد ورث من ابيه مالاً كثيراً، وكان يتصدق به وربما ياتي عليه نهار ولاياكل فيه، وانما ياكل احيانا لوزتين اوثلاثاً." (مقدمه لامع ص:۹).

ترجمه: امام بخاري (رحمه الله) ته الله تعالی د دنیا فراخي ورکړې وه، ډیر زیات مال هغه ته د خپلې مور له طرفه ملاو شوی و. چې دې نه به هغه صدقه ورکوله، خود هغه خپل خوراک دومره کم و چې خینې وخت به یې ټوله ورځ کې خوراک ونکړ. بس کله ناکله به یې دوه درې بادامه خوړل.

افسوس دی! چې د نن سبا مادي عقلونه د خپلې سطح داوچت سوچ کولونه معذوره دي، ځکه موږ خلک د داسې حالاتو پوهیدلو نه هم معذوره شوي یو او ډاکټرعثماني خو بادشاه انسان دی، هغه خو امام احمدبن حنبل (رحمه الله) په شان اکابربانديې هم پرته له تکلف د مشرک کیدو فتوا ورکړې ده، د حضرت اقدس بنوري (رحمه الله) یا د هغه د پلار محترم د امام احمدبن حنبل (رحمه الله) په مقابله کې څه حیثیت دی ---؟

تاسو بل اعتراض دا نقل کړی دی چې نکاح حضرت علي (رحمه الله) تړلې وه، مناسبه به دا وي چې لومړی په دې سلسله کې د حضرت بنوري (رحمه الله) عبارت نقل کړل شي، هغه (رحمه الله) لیکي:

"د هغوی د پلار مرحوم حضرت سید مزمل (رحمه الله) خو وفات شوی و. والده مکرمه یې ژوندۍ وه، د هغې اصرار و چې ازدواجي ژوند اختیار کړي. خو د عزم عبادت او طاعت منافي به پوهیده او انکاربه یې کولو. تردې پورې چې په یو خوب کې دا حقیقت واضح شو چې حضرت علي رضي الله عنه د فلانی بي بي سره په فلاني خاندان کې نکاح تړي، د دې واقعې وروسته انکارختم شو او په ازدواجي ژوند کې یې قدم کیښود او د هغه خوب تعبیر داسې ریښتیا شو."

---

[1] عن أسماء بنت يزيد قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم في بيتي فذكر الدجال .... فقلت: يا رسول الله! والله إنا لنعجن عجيننا فما نخبزه حتى نجوع فكيف بالمؤمنين يومئذ؟ قال: يجزئ أهل السماء من التسبيح والتقديس (مشكوة ص: ٤٧٧ باب العلامات بين يدى الساعة)۔

ستاسو په نقل شوي اعتراض کې او د حضرت بنوري (رحمة الله عليه) په تحرير کې دځمکې او اسمان فرق دی، حضرت بنوري (رحمة الله عليه) د واقعې ذکر فرمايلو چې د هغه تعبير ظاهر شو او تاسو دا نقل کوئ چې " نکاح حضرت علي (رحمة الله عليه) تړلې وه " د رويايې صالحه مبشرات کيدل خو پخپله په احاديثو کې راغلي دي او په صحيح بخاری (۱۰۳۸) " باب کشف المراة في المنام " کې د حضرت عائشې (رضي الله عنها) نه روايت دی چې حضورپاک (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي چې: " ته ماته په خوب کې دوه ځله ښکاره شوې. يو شخص (فرښتې) ته د ريښمو په ټکړې کې اوچته کړې وې او هغه ماته ويل چې دا ستا ښځه ده، ماچې کلاو کړه او ومې کتل؛ نو هم ته وې، ماوويل چې که چيرې دا دالله تعالى له طرف په مقدر کې وي؛ نو هميشه به وي." [1]

دانبياء کرامو عليهم السلام خوب خوبه د وحی قطعي حيثيت ساته او د ايمان لرونکو دخوب حيثيت محض دمبشراتو دی، بهرحال ديوکس په خوب کې دا ليدل چې دفلانی ښځې سره دهغه نکاح کيږي، دمبشراتو دقبيل نه ده، بيامعلومه نه ده چې په دې کيسه کې تاسو ته يا نورو حضراتو ته ولې شک راغلی دی.

۲: له مرګ وروسته دنيا ته دراتګ دوه وجې کيدای شي او دواړه ممکنې دي، يو صورت دادی چې مړ دوباره ژوندی شي او هغه دعام معمول مطابق ژوندی شي، په قرآن کريم کې ددې مثالونه موجوددي، دحضرت عيسى (عليه السلام) په معجزاتوکې په ډيرو ځايونو کې ذکر شوي دي چې هغه به دالله تعالى په مدد سره مړي ژوندی کول [2]، سورة بقره ايت :۲۵۹ کې دهغه سړي واقعه ذکر شوې ده کوم چې الله تعالى سل (۱۰۰) کاله مړ کړی و او بيايې ژوندی کړ: "فَأَمَاتَهُ اللهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ". [3] هم د سورة بقره په ايت :۲۴۳ کې دهغو زرګونو سړيو واقعه ذکر شوې ده کوم چې دمرګ له ويرې د کورونو نه بهر وتلي و او هغوی ته دمرګ ورکولو وروسته هغوی بيا الله تعالى ژوندي کړي وو [4] سورة بقره په ايت: ۵۵ او ۵۶ کې موسى (عليه السلام) دهغه رُفقاء له مرګ وروسته د هغوی دژوندي کولو ذکر دی، کومو چې دموسى (عليه السلام) نه غلطه

---

[1] باب کشف المرأة فی المنام .... عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اُريتكِ فی المنام مرتين، إذا رجل يحملك فی سرقة حرير فيقول هذه امرأتك، فاكشفها فإذا هی أنتِ فأقول: إن يكن هذا من عندالله يمضه (صحيح البخاری ج:۲ ص: ۱۰۳۸ طبع قديمی)۔

[2] وَرَسُولاً إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْراً بِإِذْنِ اللَّهِ وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللَّهِ الآية (آل عمران:۴۹)۔

[3] أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْماً أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ الآية (البقرة:۲۵۹)۔

[4] أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ الآية (البقرة:۲۴۳)۔

مطالبه کړې وه:
((وَإِذْ قُلْتُمْ يَامُوسَى لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ (۵۵) ثُمَّ بَعَثْنَاكُمْ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (۵۶))) (البقرة: ۵۵- ۵۶)

او د سورة اعراف په ایات: ۱۵۵ کې هم ددې نور تفصیل ذکر کړی شوی دی[۱].

الغرض! داسې قسمه نور ډیر واقعات په قرآن کریم کې ذکر دي.

او دیو مړ شوي سړي دنیاکې دوباره په نظر راتلو دویم صورت دا کیدای شي چې د معروف ژوند سره خو دهغه جسم په دنیا کې ژوندی نه کړل شي خوپه خوب یا بیداري کې دهغه شبیه که یو سړي ته په نظر راشي، دې ته دوباره ژوند ویل صحیح نه دي، بلکې دا دیوقسم روحاني کشف دی،کله خو داسې کیدای شي چې الله تعالی دخپل یو بنده اعانت له پاره یوه غیبي لطیفه د مړ شوي بزرګ په شکل کې راولیږي(څکه چې هغه شکل دهغه له پاره مانوس کیږي)، څنګه چې حضرت جبرئیل علیه السلام د مریم رضی الله عنها په مخکې په انساني شکل کې متمثل شوی و[۲]، په دې صورت کې وفات شوي بزرګ ته ددې واقعې خبر نه کیږي، لکه څنګه چې د معراج په شپه کې دانبیاء کرام علیهم السلام روحونه دحضورپاک صلی الله علیه وسلم په مخکې متمثل شوي وو، البته حضرت عیسی علیه السلام دخپل عنصری جسد سره موجود و[۳] چې دا ټول هرڅه باذن الهي وي، په هغه کې دهغه وفات شوي بزرګ هیڅ اختیار نه وي، څکه داسې واقعات دکشف او کرامت له قبیلې ګڼل کیږي اوددې واقعاتو نه انکار هغه سړی کولی شي کوم چې د انبیاء کرامو علیهم السلام په معجزاتو او د اولیاوو کرامات نه مني، خوداهل سنت والجماعت عقیده داده چې: کرامات الاولیاء حق.(د اولیاء الله کرامات حق دي).

څنګه چې په فقه اکبر او نورو ډیرو کتابونوکې ذکردي[۴]،د حضرت نانوتوي (رحمه الله) واقعه دکومې طرف ته چې تاسو اشاره فرمایلې ده، هغه هم دهمدې قبیلې نه ده، چې په هغه کې

---

[۱] وَاخْتَارَ مُوسَى قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلاً لِمِيقَاتِنَا فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُمْ مِنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ الآية (لأعراف:۱۵۵)_

[۲] فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَراً سَوِيّاً الآية (مريم:۱۷)_

[۳] وكذالك رؤية النبى صلى الله عليه وسلم الأنبياء فى ليلة الإسراء فى السماوات، الصحيح أنه رأى فيها الأرواح فى مثل الأجسام مع ورودأنهم أحياءفى قبورهم يصلون(شرح الصدورص: ۲۴۰،باب مقرالأرواح،طبع دارالكتب العلمية)

[۴] والآيات أى خوارق العادات المسمّاة بالمعجزات للأنبياء والكرامات للأولياء حق أى ثابت بالكتاب والسنّة ولاعبرة بمخالفة المعتزلة وأهل البدعة فى إنكار الكرامة (شرح فقه أكبر ص:۹۵، طبع مجتبائى دهلى، أيضًا: شرح العقيدة الطحاوية ص: ۵۵۸، الإيمان بكرامات الألياء طبع مكتبة سلفية لاهور)_

شرعا او عقلا هيڅ شک نه شته.

دبريلوي کتاب "زلزله" محققانه جواب مولانا محمد عارف سنبهلي ("بريلوی فتنے کا نيا روپ" په نوم سره ليکلی دی، په پاکستان کې داکتاب "ادارهٔ اسلاميات، ۱۹۰ انارکلي، لاهور" نه شائع شوی دی او دډاکټر عثماني دکتاب "توحيد خالص" جواب مولانا ابوجابر عبدالله دامانوي "الدين الخالص" په نوم سره ليکلی دی، داکتاب "حزب المسلمين، فاروق اعظم روډ، کيماړي کراچۍ" نه شائع شوی دی، اميد دې چې ستاسو مزاج ګرامي به عافيت سره وي........والسلام!

د اب زمزم څښلو سنت طريقه

سوال: د اب زمزم څښلو مسنونه طريقه وليکئ.

جواب: د اب زمزم څښلو نه مخکې دعا کول،[1] قبلې طرف ته مخ کول او په ولاړه اب زمزم څښل مستحب دي.[2]

د پيپسي، مرنډا، ټيم، سيون اپ او داسې نورو شرعي حيثيت؟

سوال: نن سبا زموږ بازارونو کې پيپسي، مرنډا، ټيم او سيون اپ دا څلورواړه شربتونه اوله دې پرته نور شربتونه ډيرزيات مشهوردي. په خاص ډول پورته بيان شوي څلورشربتونه، ويل داغواړم چې يوځل دپيپسي فيکټري ته مې دتلو اتفاق وشو، هلته ماته پته ولګيده چې دچينوشربت خوپاکستاني فيکټري کې تياريږي، خو ددې مشرباتوچې کومه اصلي ماده ده هغه دامريکې نه راځي. ياد ساتل پکاردي چې داشربتونه په ټوله دنياکې يعنې ټولو مسلم او غيرمسلم ملکونو کې جوړيږي، دفيکټري والاوو دقول مطابق ټولې دنياته اصلي ماده دامريکې نه راځي، ددې ويرې چې دې کې څه ملاوټ نه وي، خوداډيره غټه مسئله ده، موږ ددې شربتونونه پرهيزشروع کړی دی، ځکه چې اوس په هرځای کې داشربت ميلمنوباندې څښل کيږي، چې نه يې څښو؛ نوخلک به څه وايي اواکثرشيان دغيرملکونو وي، دغه شيان اوشربتونه استعمالولی شواوکه نه؟

جواب: زه خوداشربتونه څښم، که چاسره ددې تحقيق وي چې دا شربتونه پاک نه دي؛ نونه دې څښي.

---

[1] وكان ابن عباس رضى الله عنهما إذا شرب ماء زمزم قال: اللهم إنى أسئلك علمًا نافعًا ورزقًا واسعًا وشفاءً من كل داء (إرشادالسارى ص: ۳۳۸، طبع دارالفكر، بيروت)۔

[2] عن ابن عباس قال: سقيت النبى صلى الله عليه وسلم من زمزم فشرب قائمًا (ابن ماجة ص: ۲٤٤، باب الشرب قائمًا) أيضًا: شرب من ماء زمزم أى قائمًا مستقبل القبلة (ردالمحتار ج: ۲ ص: ٥۲٤، مطلب فى طواف الصدر)۔

ايا د حنفي فقهې مطابق د ځلوروشيانو شراب جائزدي

سوال: زمونږ د حنفي فقې مطابق د ځلوروشيانوشراب حلال دي، د هدايه شريف كتاب الاشربه كې د حضرت الامام الاعظم ابوحنيفه رحمه الله د غنمو، جوارو اود شهدود شراب حلال ليكلي دي او د دې ځنبونكي كه چيرې نشه شي؛ نو د هغه حد نه شته.
موږ يوه كمپنى جوړه كړې ده، د هغې نوم موږ ،،حنفي وائن ستهور،، ايښى دى، تاسونه دا معلومول غواړوكه چيرې هغه بيئر، وسكي، برانډي اوشمپئين ځرځوو؛ نود ابه جائزوي اوكه نه؟
جواب: فقه حنفي كې فتوا په دې ده چې هرنشه راوستونكي شراب حرام دي، نجس اود حد قابل دي. (شامى ج ۶ ص ۴۵۵ طبع جديد)

❖ لوبې ❖

دلوبو شرعي حكم

سوال: تيرو ورځوكې دهندوستان تيم پاكستان ته په دوره راغلي و، چې په هغه كې سيد مجتبى كرماني دهندوستان ويكټ كيپر و اوهغه مسلمان دى اوهغه دمسلمانانوخلاف لوبه كوله، ايا داجائز دي؟ اوكه جائزدي؛ نوپه كوم لحاظ؟
جواب: داسې لوبه، تماشه اونور فضوليات چې په هغه كې لمونځ هم قضا كيږي، پخپله حرام دي، كه هغه دمسلمان خلاف يادكافرخلاف ولې نه وي ----؟[1]

د تاش دشرط دميوې وغيره شرعي حكم

سوال: په تاش باندې پيسې كيږدي خلک پرې جواري كوي، چې داحرام دي، په اسلام كې په هره معامله كې شرط حرام دى، مسئله داده چې په تاش باندې دپيسوپه ځاى كه دميوې وغيره شرط ولګوي؛ نوايا هغه ميوه هم حرامه ده؟ اودحرام خوړولو والامتعلق الله تعالى اودالله تعالى رسول ﷺ چې كوم ارشادات مبارک فرمايلي هغه هم وليكئ؛ نوستاسوبه ډيره مهرباني وي،

---

[1] وكره كل لهو لقوله عليه السلام كل لهو المسلم حرام إلا ثلاثة: ملاعبة أهله، وتأديبه لفرسه، مناضلته بقوسه...إلخ وفى الشامية: كره كل لهو أى كل لعب وعبث (ردالمحتار على الدرالمختار، كتاب الحظر والإباحة ج: ٦ ص: ٣٩٥) وأما ما لم يرد فيه (أى فى اللهو) النص عن الشارع، وفيه فائدة ومصلحة للناس، فهو بالنظر الفقهى على نوعين: الأول: ما شهدت التجربة بأن ضرره أعظم من نفعه، ومفاسده أغلب على منافعه، وأنه من اشتغل بها ألهاه عن ذكرالله وحده، وعن الصلوات والمساجد، إلتحق بذالك بالمنهى عنه، لأشتراك العلّة، فكان حرامًا أو مكروهًا (تكملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ٤٣٤، ٤٣٥ طبع مكتبه دارالعلوم كراچى)۔

څکه چې زه په کوم ځای کې اوسیږم هلته دا عمل ډیرزیات کیږي، ایاپه داسې میوې سره روژه ماتی جائزدی؟

جواب: څنګه چې په تاش باندې دروپیو پیسوشرط حرام او جواري ده، داسې د میوې یادبل څه شي شرط هم حرام اوجواري ده[1] اوپه داسې میوې وغیره سره روژه ماتول هم داسې دي چې یوسړی ټوله ورځ روژه ونیسي اومابنام دسپي یادخنزیرپه غوښې سره روژه ماته کړي، څکه چې څنګه دسپي او خنزیرغوښه حرامه ده، همداسې سود او جواري هم پلیته او حرامه ده.[2]

کیرم بورډ او تاش کول

سوال: کیرم بورډ ، لډو اوتاش له شرط پرته کول څنګه دي؟ ځینې خلک وایي چې "موږ دوخت پاس کولوله پاره داکوو" اوکوم سړی چې مقابله بایلي؛ نوهغوی په نوروباندې چای یابوتل څښي، دا د اسلام په رڼاکې جائز دي یاناجائز؟

جواب: تاش او داسې قسمه نورې لوبې که څه هم هغه دشرط تړلو نه پرته وي، دامام ابوحنیفه(رحمه الله) په نزد ناجائز او مکروه دي اودبایلونکي نه چای یابوتل څښل حرام دي.[3]

دګونډو نه اوچته برخه بربنډولو سره لوبه کول

سوال: زمونږ بچیوته د لوبوپه دوران وردی اغوستل لازمي وي،اوس ځینې ځوانان هم دي، دهغوی له پاره دوردی اچولوڅه حکم دی چې دهغوی عورت هم ښکاره کیږی؟

جواب: دنوم نه ګونډو پورې حصه په عورت کې داخله ده،اودعورت ښکاره کول حرام دي[4]، اول خولوبه څه فرض،واجب،سُنت یامستحب نه ده چې دهغې له پارهې حراموارتکاب وکړل شي اوکه ضرور لوبه کیږي؛نووردي دې داسې تجویزکړل شي چې په هغې کې عورت پټ وي،بهرحال دعورت ښکاره کول حرام او ناجائز دي.[5]

---

[1] وحرم لوشرط) فيها(من الجانبين) لأنه يصيرقمارًا (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٤٠٣، فصل فى البيع، كتاب الحظروالإباحة، طبع أيچ ايم سعيد)۔

[2] يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُون (المائدة: ٩٠)۔

[3] وكره تحريمًا اللعب بالنرد وكذا الشطرنج .... وهذا إذ لم يقامر ولم يداوم ولم يخل بواجب وإلا فحرام بالإجماع (درمختار مع التنوير ج: ٦ ص: ٣٩٤، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)۔

[4] وينظر الرجل من الرجل ...... سوى ما بين سرّته إلى ما تحت ركبته فالركبة عورة ..... لرواية الدارقطنى ماتحت السرّة إلى الركبة عورة (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٦٤، ٣٦٦، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى النظر)۔

[5] كل ما أدى إلى ما لا يجوز لا يجوز (درمختار ج: ٦ ص: ٣٦٠ كتاب الحظروالإباحة)۔

کرکټ کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: زمونږ په ځوانانوکې کرکټ ديوې وبا صورت اختيارکړی دی،خاص ډول په کراچۍ کې، چې هلته هريوخپل وخت په کرکټ ضائع کوی،نن سبا خو کرکټ د ټينس بال نه هم ښه کيږی،په هره کوڅه کې هلکان کرکټ کولوباندې په نظر راځي،دهغې نه وروسته ميچ کيږی اوټورنامنټس هم کيږي، داټورنامنټس څه داسې کيږی چې هرځنګه يوټيم چې هغه ټورنامنټ کوي،دمختلف ټيمونونه کوم چې ټورنامنټ کې برخه اخلي داتري فيس په ډول څه پيسې چېل شوې وي اخلي،اوبيا داسې دکافي ټيمونونه چې کوم رقم جمع کيږي،دهغو ټرافي دهغه ټورنامنټ کامياب ټيم ته ورکول کيږي،داسې دټولوپيسوټرافي په خاصو لوبغاړو تقسيميږي،اوباقي هلکان ياټيم کوم چې په دې کې پيسه لګوي هغوی ته هيڅ نه ملاويږي، دلوبې داسې طريقې ته څه ويل کيږي؟آيا داجواري ده؟ ناجائزده ياجائز؟

جواب: دلوبو دجواز درې شرطونه دي،يوداچې دلوبې مقصوديوازې ورزش ياتفريح وي، يخپله دې دامستقل مقصدنه جوړيږي،دويم داچې لوبه يخپله هم جائزوي ،په هغې لوبه کې څه ناجائز کارونه مونډل شي، دريم داچې په هغې سره په شرعي فرائضوکې کوتاهي ياغفلت نه پيداکيږي،دامعيارکه مخې ته کيښودل شي؛ نو ډيرې لوبې .ناجائزې اوغلطې په نظر راځي،زمونږ د لوبوشوقين ځوانانوله پاره لوبه يوداسې خوښه مشغله جوړه شوې ده چې دهغې په مقابله کې نه هغوی ته ددينې فرائضوخيال شته،نه د تعليم طرف ته توجه شته،نه دکورپه کارونووغيره کې اونه دضروري کارونواحساس شته اود تعجب خبره خو لا داده چې کوڅې او سړکونه يې دلوبوميدانونه جوړکړي دي،ددې هم ورته احساس نه وي چې په دې باندې به تلونکوته تکليف وي اودلوبوسره يې داسې مينه پيداشوې ده ګويازموږ ځوانان يوازې دلوبوله پاره پيدا شوي دي،ددې نه پرته دژوند څه مقصد نشته،داسې لوبوته څوک جائز ويلی شي --؟

ښځو ته دهاکي کولو دجواز د فتوا حيثيت

سوال: دمخکې هفتې په "اخبارجهان" کې د"کتاب وسنت کی روشنی مین"کې يوه فتوی له نظر نه تيره شوه،چې دهغې مقصداو چې په موجوده دور کې زنانه هاکي ټيمونه دنويو غوښتنو مطابق دي، زه ستاسونه دهمدې فتوا په باره کې پوښتنه کول غواړم،آيا تاسو هم دحافظ صاحب رايې سره اتفاق کوئ؟ که تاسوهم دښځودهاکي ټيمونه جائز ګڼئ نوستاسوبه ډيره مهرباني چې دحديث او دَعلماء کراموحوالې هم راکړئ،که تاسودا ناجائز ګڼئ اويقينا ګڼئ به يې هم نوتراوسه پورې تاسو ددې په باره کې يو نوټس ولې وانه خيست؟ آيا دا اسلام پورې خندا نه ده؟

جواب: په "اسلامي صفحه" کې په دې باندې موږ دخپلې رايې اظهار کړی دی،ځکه ستاسو دا

ارشاد خوصحیح نه دی چې "تراوسه پورې ددې نوټس ولې نه دی اخیستل شوی؟" زموږ رایه دا ده چې په موجوده دروکې څنګه چې لوبوته رواج ورکړل شوی دی داسې ښکاری چې پوره قوم دلوبو له پاره پیداشوی دی، او هم دا لوبې یې دژوندد تولونه اهمه کارنامه فرض کړې ده،دلوبوداسې مشغله خودسړیو له پاره هم جائزنه ده[1]،نودښځو له پاره به څنګه جائزوي، بیاهاکي مردانه لوبه ده،دَ ښځونه ده،ځکه ښځې دې میدان ته راوستل د صنف نازک ذلت اوسپکوالی هم دی ، اوس که سړي په سړیتوب پرینښودو باندې او ښځې په سړیتوب ښودو باندې راغلي دي؛ نوددې څه علاج ----؟

کوترې ساتل شرعاً څنګه دي؟

سوال: ما کوترې ساتلي دي،نن یوصاحب راته وویل چې کوترې ساتل نه دي پکار،ځکه چې دا شاړ(ویران ځای) غواړي.

جواب: دهغه صاحب بیان کړې وجه خوصحیح نه ده،البته که داسې وویل شي چې دکوترو ساتلومشغله ناجائز ده،نوصحیح ده.[2]

د کراچۍ لوبه شرعاً څنګه ده؟

سوال: نن سبا دکراچۍ لوبه دخلکوډیره خوښیږي،اوپه دې وخت په کراچۍ کې په زرګونو ځوانان دالوبه زده کوي، ددې لوبې یوروایت دی چې ددې زده کوونکي په ځمکه باندې پرلت ولګوي او لاسونه په ځمکه باندې کیږدي اوخپل سردهغو خلکوتصویرپه مخکې کښېنته کوي،کوم چې ددې فن مشران دي، سوال دا دی چې آیا داسې دهرانسان دتصویرپه مخکې سرکښېنته کول شرک اوناجائز خونه دي؟

جواب: ناجائز دی،دادغیرالله دتعظیم له پاره یې دسجدې پشان شکل جوړکړی دی،چې

---

[1] وكره كل لهو لقوله عليه السلام كل لهو المسلم حرام إلا ثلاثة: ملاعبة أهله، وتأديبه لفرسه، مناضلته بقوسه...إلخ وفى الشامية: كره كل لهو أى كل لعب وعبث (ردالمحتار على الدرالمختار، كتاب الحظر والإباحة ج: ٦ ص: ٣٩٥) وأما ما لم يرد فيه (أى فى اللهو) النص عن الشارع، وفيه فائدة ومصلحة للناس، فهو بالنظرالفقهى على نوعين: الأوّل: ما شهدت التجربة بأن ضرره أعظم من نفعه، ومفاسده أغلب على منافعه، وأنه من اشتغل بها ألهاه عن ذكرالله وحده، وعن الصلوات والمساجد، إلتحق بذالك بالمنهى عنه، لأشتراك العلّة، فكان حرامًا أو مكروهًا (تكملة فتح الملهم ج: ٤ ص: ٤٣٤، ٤٣٥ طبع مكتبه دارالعلوم كراچى)

[2] عن أبى هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم رأى رجلا يتبع حمامة فقال: شيطان يتبع شيطانه (أبى داؤد ج: ٢ ص: ٣١٩، باب فى اللعب بالحمام) أيضًا: (يكره امساك الحمامات) ولو فى برجها (درمختار ج: ٦ ص: ٤٠١، فصل فى البيع، كتاب الحظروالإباحة)۔

داصحیح نه دی،[۱] پاتې شو دکراتې زده کړه،داکه چېرته دیوبنه مقصدله پاره وي نوجائز ده[۲]،په دې شرط چې ددې لوبې په دوران شرعي فرائضوته نقصان ونه رسیږي،ګیني جائز نه ده.[۳]

دَ تاش او شطرنج لوبه د حدیث په رڼا کې

سوال: زموږ په ځای کې خلک فارغو وختونوکې دتاش او شطرنج لوبه کوي اوخاص طورباندې دجمعې مبارکې په ورځ ،ځکه چې درخصتي ورځ وي،لوبه کوي،که موږهغوی منع کړوچې په اسلام کې تاش او شطرنج کول منع یاحرام دي،نوهغوی وایي چې جائز دي، حرام نه دي،که حرام دی نوموږ ته یې دحدیثو په یو معتبر کتاب کې وښایه!

جواب: په حدیث کې دي: "**عن ابي موسى الاشعرى رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من لعب بالنرد فقد عصى الله ورسوله.**"(ابوداؤد ج:۲ص:۳۱۹).

ترجمه: دَحضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي چې:چا "نرد شیر" (زمري لوبه) وکړه،هغه دالله تعالی اودهغه درسول صلى الله عليه وسلم نافرماني وکړه."

په یوبل حدیث کې دي:

"**عن سليمان بن بريدة عن ابيه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ومن لعب بالنرد شير فكانما غمس يده فى لحم خنزير ودمه.**"(ابوداؤدج:۲ص:۳۱۹).

ترجمه: حضرت سلیمان بن بریده دخپل پلارنه نقل کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادوفرمایلو: چاچې نردشیر(لوبه)وکړه،هغه خپل لاسونه دخنزیرپه غوښې او وینه کې ولړل.

امام ابوحنیفه(رحمه الله)،امام مالک(رحمه الله) اوامام احمد(رحمه الله) په دې باندې متفق دي چې دَتاش او شطرنج هم داحکم دی،نردشیر لوبه کول په کبیره ګناهونوکې شمیرل کیږي[۴]،ددې نه دتاش اوشطرنج اندازه ولګوئ ----! الله تعالی دې مسلمانانوته هدایت وکړي!

---

[۱] الإنحناء للسلطان أولغيره مكروه لأنه يشبه فعل المجوس كذا فى جواهرالأخلاطى ويكره الإنحناء عندالتحية وبه وردالنهى (فتاوى عالمگيرى ج: ۵ ص: ۳۶۹، كتاب الكراهية)۔

[۲] الأموربمقاصدها: يعنى أن الحكم الذى يترتب على أمريكون على مقتضى ماهوالمقصود من ذالك الأمر، و يقرب من هذه القاعدة، قاعدة إنماالأعمال بالنيات(شرح المجلة لسليم رستم باز ص: ۱۷ المادّة: ۲،طبع كوئته)

[۳] كل ما أدى إلى ما لا يجوز لا يجوز (درمختار ج: ٦ ص: ۳٦۰ كتاب الحظروالإباحة، طبع سعيد)۔

[۴] تفصيل دپاره وګورئ: الزواجرعن إقتراف الكبائر ج: ۲ ص: ۲۰۰تا ۲۰۲، لإبن حجرمكى الهيثمى)۔

تاش کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: مااوریدلی دی چې تاش کول داسې دي لکه مورخورسره زنا کول،ستاسوبه ډیره مهرباني وي، ددې مسئلې وضاحت وکړئ ځکه چې کوم مسلمانان په دې لوبه کې اخته دي،چې هغوی دالوبه پرېږدي.

جواب: داحدیث خومې کله له نظره نه دی تیرشوی ،البته ځینې نور سخت حدیثونه په دې سلسله کې روایت دي،په یوحدیث کې دی:

"**ملعون من لعب بالشطرنج،والناظر الیهاکاکل لحم الخنزیر.**" (کنزالعمال حدیث:۴۰۶۳۶).

ترجمه:"شطرنج کونکی ملعون دی،اوڅوک چې ورته ګوري دهغه مثال داسې دی لکه دخنزیرد غوښې خوړونکی."

په یوحدیث کې دی: "**ان الله تعالیٰ ینظر فی کل یوم ثلاثمائة وستین نظرة،لاینظرفیها الی صاحب الشاه یعنی الشطرنج.**" (الدیلمی عن واثله،کنزالعمال حدیث:۴۰۶۵۶).

ترجمه:"الله تعالی روزانه په خپلوبندګانوته درې سوه اوشپته (۳۶۰) ځله درحمت په نظر ګوري،خودتاش او شطرنج کولو والاپه دې کې هیڅ برخه نشته."

په یوبل حدیث کې دي: "**اذا مررتم بهولاء الذین یلعبون بهذه الازلام والشطرنج والنرد وما کان من هذه فلاتسلمواعلیهم وان سلمواعلیکم فلاتردواعلیهم.**"(الدیلمی عن ابی هریرة رضی الله عنه، کنزالعمال حدیث:۴۰۶۴۴).

ترجمه:"کله چې تاسوپه دې شطرنج او نردکوونکو تیریږئ نوهغوی ته سلام مه کوئ،اوکه هغوی تاسوته سلام اوکړي نو جواب یې مه ورکوئ."

کفایة المفتي کې دي چې: "تاش،چوسر،شطرنج،دفضولیاتوپه طورباندې کول مکروه تحریمي دي اوعام طورباندې دکوونکو غرض همدا وی،خوپه دې لوبوکې دمشغولتیا ډېری وخت دفرائضواوواجباتو د تفویت (قضاکولو) وجه جوړیږی،په دې صورت کې ددې کراهت دحرمت حدپورې رسیږی."

ټیلي پیتهی، هپناټزم او یوګا زده کول

سوال: نن سبا مختلف سائنسی علمونه،مثلاً:ټیلي پیتهی، هپناټزم (نظربندي) وغیره ښودل کیږي، ددې اکثرکارونه په جادوسره د کیدونکو کارونو مشابه وي،حالانکې دا جادو نه دي آیا ددې علمونو زده کول دمسلمان له پاره جائزدي؟

جواب: په دې علمونو کې مشغولیدل جائزنه دي.[۱]

ایا اسلام نجونو ته دلوبو اجازه ورکړې ؟

سوال: آیا اسلام نجونو ته دلوبو کولو اجازه ورکوي؟

جواب: کومه لوبه چې دنجونو له پاره مناسب وي اوپه هغې کې د بې پردګۍ احتمال نه وي،دهغې اجازه شته،ګیني نه،ځکه تاسوته وضاحت کول پکاردي چې تاسودکومې لوبې په باره کې معلومول غواړئ؟ نن سبا ډیرې لوبې د خدای نه غیرتهذیبونواوبې غیرته قومونو داسې هم رواج پیداکړي دي چې هغه نه یوازې داسلامي حدودو نه لرې دي،بلکې دانساني وقار او نسواني حیاء هم خلاف دي.

په انعامي پروګرامونو اومقابلو کې شریکیدل

سوال: دموجوده دور په انعامي پروګرامونو اومقابلوکې که څوک سړی مقرر فیس ادا کولو نه بغیرشریک شي اوپه قرعه اندازۍ کې دهغهِ انعام راووځي؛ نوپه هغه صورت کې هغه انعامي رقم اخیستلی شي اوکه نه؟

جواب: په انعامي پروګرامونو اومقابلوکې که دحل کولو والابه فیس ادا کوي،نوبیا خو جواري ده،چې هغه حرام ده[۲]،اوکه فیس نه اداکوي دا مجالس فضول او لایعنی (عبث) دي نوپه هغې کې شرکت کول مکروه دي،اوکه هغه په دیني معلوماتوباندې مشتمل وي نوپه هغې کې شرکت کول بنه خبره ده.

دلوبو له پاره باید څه ډول لباس وي؟

سوال: ډیرې لوبې داسې وي چې په هغې کې سړی شرټ نیکراچوي او لوبه کوي،ددې نه پرته چې کله کُشتي کوي نویوازې نیکر(کچی) اچوي اوباقی ټول جسم بربنډوي،داسې نن سباټول خلق تنګ پتلونونه اوشرټونه اچوي چې ګریوانونه یې اکثرخلاص وي،آیا دا ډول جامې اغوستل دسړیو له پاره په اسلام کې جائزدي؟

---

[۱] واعلم أن تعلم العلم يكون فرض عين وهو بقدر ما يحتاج لدينه....... وحرامًا وهو علم الفلسفة والشعبدة والتنجيم والرمل وعلوم الطبائعيين، والسحر، والكهانة ...إلخ (درمختار ج: ۱ ص: ٤۲ تا ٤٥، مقدمة)

[۲] يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (المائدة: ۹۰) أيضًا: وسمى القمارقمارًا لان كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوزأن يستفيد مال صاحبه وهوحرام بالنص (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤۰۳، فصل فى البيع، كتاب الحظروالإباحة)۔

جواب: د نوم (ناف) نه ګونډو (زنګنونو) پورې د بدن برخه عورت ده، دا د خلکو په مخکې ښکاره کول جائزنه دي[1]، او داسې تنګ لباس اغوستل هم جائزنه دي چې ور سره د ننه اندامونه ښکاري.[2]

د ويډيو ګيم شرعي حکم

سوال: ويډيو ګيم زچې د مغربي ملکونونه وروسته اوس زمونږ په ملک کې هم يورواج جوړ شوی دی، د دې شوقيان د لته يوه يا دوه روپې ورکړي خپل شوق پرې پوره کوي، خو په دې کې هيڅ قسمه څه شرط، نه د څه قسم انعام لالچ ورکول کيږي، بلکې دا لوبه د نورو امورو نه پرته په نشانه بازۍ وغيره باندې مشتملې وي، د دې شرعی حيثيت څه دی؟

جواب: ويډيو ګيم او د کټونکو په مشاهدې سره چې څومره پته ولګيده او حقيقت معلوم شو، دا لوبه د يو څو وجاهاتو په وجه شرعاً جائزنه ده.

اول: په دې لوبه کې ديني او جسماني هيڅ فائده نه حاصليږي ، او کومه لوبه چې د دې دواړو فائده نه خالي وي، هغه جائزنه ده.

دويم: په دې کې وخت اور پيسه ضائع کيږي، او د الله تعالی د ذکر نه غافلونکې ده.

دريم: د ټولونه سخت نقصان دا چې د دې لوبې له عادت کيدو وروسته يې بيا پريښودل سخت شي.

څلورم: ځيني ګيمونه (لوبې) په تصويرونو باندې مشتملې وي چې هغه شرعاً جائز نه دي.[3]

---

[1] وينظرالرجل من الرجل .... سوى مابين سرته إلى ما تحت ركبته فالركبة عورة ...... لرواية الدارقطنى ما تحت السرة إلى الركبة عورة (ردالمحتار على الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٦٤، ٣٦٦) أيضًا: والرابع سترعورته ووجوبه عام ولو فى الخلوة على الصحيح إلا لغرض صحيح .... وهى للرجل ما تحت سرته إلى ماتحت ركبته وفى الشرح: قوله ولو فى الخلوة أى إذا كان خارج الصلاة يجب الستر بحضرة الناس إجماعًا وفى الخلوة على الصحيح (ردالمحتار ج: ١ ص: ٤٠٤، مطلب فى سترالعورة، طبع سعيد)۔

[2] مالك عن علقمة ابن ابى علقمة عن أمّه انها قالت: دخلت حفصة بنت عبدالرحمن على عائشة زوج النبى صلى الله عليه وسلم وعلى حفصة خمار رقيق، فشقه عائشة وكستها خمارًا كثيفا عن أبى هريرة أنه قال: نساء كاسيات عاريات مائلات مميلات لايدخلن الجنّة، ولا يجدن ريحها، وريحها يوجد من مسيرة خمسمأة سنة (مؤطا إمام مالك ص: ٧٠٨، ٧٠٩، مايكره للنساء لباسه من الثياب) عن عائشة ان أسماء بنت أبى بكر دخلت على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعليها ثياب رقاق فأرض عنها وقال: يا أسماء! ان المرأة إذا بلغت المحيض لن يصلح أن يرى منها إلا هذا وهذا، وأشار إلى وجهه وكفيه رواه أبوداؤد (مشكوة المصابيح ص: ٣٧٧، الفصل الثالث، كتاب اللباس)۔

[3] وهذه الأحاديث صريحة فى تحريم تصويرالحيوان وأنه غليظ التحريم...إلخ (شرح النووى على مسلم ج: ٢ ص: ٢٠١، باب تحريم صورة الحيوان ...إلخ)۔

پنځم: په دې لوبې سره اګرچې ماشومانو ته مزه او دزړه سکون ملاویږی، خو دَنا جائز شیانونه مزه حاصلول هم حرام دي، بلکې ځینو علماوو کفرپورې لیکلي دي.[1]

دې نه علاوه په دې سره د ماشومانو ذهن خرابیږي او په دې سره مقصدي تعلیم کې خلل پیدا کیږي، بیا بچیو ته په سبق او نور دفائدو کارونو کې دلچسپي نه پاتې کیږي او داسې نور..... ددې ذکرشویو وجوهاتو په وجه دا لوبه، دالله تعالی دارشاد مصداق ده: "ځینې خلک په خپل جهالت سره لوبې تماشې اختیاروي او په هغې باندې پیسه خرچ کوی چې دالله تعالی دلارې نه خلک لرې کړي او ددین خبرې لوبې تماشې جوړوي، دهغو خلکو له پاره د ذلت والا عذاب دی. "(سوره لقمان آیت نمبر:۶).[2]

حضرت حسن رحمه الله د "لهوالحدیث" په متعلق فرمایي چې: په ذکرشوي آیات کې لهوالحدیث نه مراد هرهغه شی دی چې دالله تعالی دعبادت او یاد نه لرې والی راولي[3]، مثلاً فضول لهو ولهب، فضول کیسې کول، دخندا او مذاق خبرې، غلطې مشغلې اوسندرې ویلاوداسې نور.... واضحه دې وي چې دذکرشوي ایت شان نزول اګرچې خاص دی، خو دعموم دالفاظو په وجه به حکم عام وي، یعنې کومه لوبه چې فضول او وخت او پیسه ضائع کونکې وي هغه هم دذکرشوي آیت په وعیدکې شامله ده او په ویډیوګیم کې داټولې غلطۍ موجودې دي، ځکه دا لوبه ناجائزده، په دې کې وخت او پیسه لګول جائزنه دي او داترک کول لازم دي.

د ویډیوګیم په دوکان کې دقران فریم لګول

سوال: دویډیوګیم په یودوکان کې دموسیقي تیزاواز، نیم بربنډ تصویرونه دیوالونو باندې لګیدلي دي، داوسنی دورهلکان اوجینکۍ ګیمونو کولو کې مصروف وي او دپرانستي قران فریم هغه دوکان کې لګیدلی دی، ددوکان مالک هلک ته چې کله وویل شوچې دا دقران کریم بې حرمتي ده چې ددې ټولوشیانو په موجودیت کې تادافریم لګولی دی، هغه وویل چې دادې ټولوشیانونه اوچت دی، پوښتنه ترې و شوچې ولې دې لګولی دی؟ ویې ویل دبرکت له پاره! دې نه مخکې چې زه څه وکړم تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې ایاداسې ځایونو کې دقران کریم ایتونه لګول جائزدي؟ اوکه چرې دابې حرمتي ده ؛نو دمسلمان په حیثیت باندې زمونږ څه ذمه

---

[1] وفی البزازیة: إستماع صورة الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام ..... والجلوس علیهافسق والتلذذ بهاکفر (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٤٩، کتاب الحظروالإباحة)_

[2] وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُواً أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ (لقمان: ٦)_

[3] لهوالحدیث علی روی عن الحسن، کل ماشغلك عن عبادة الله تعالی وذکره من السمروالأضاحیك والخرافات والغناء ونحوها (روح المعانی ج: ٢١ ص: ٦٧ سورة لقمان، طبع دار إحیاء التراث العربی)_

داري ده؟ ځکه چې داشيان اوس په ډيروځايونوکې ليدل کيږي.

جواب: ناجائزکاروبارکې دبرکت له پاره دقران مجيدايتونه لګول بې شکه دقران مجيدبې حرمتي ده، دمسلمان په حيثيت باندې زمونږ دا فرض دي چې داسې ګنده او بې حيا کاروبار بند کړل شي. کومې محلې، ياعلاقه کې داسې دوکان وي، خلک دې هغه نه برداشت کوي، د قران مجيد دابې حرمتي برداشت کول دټولې معاشرې له پاره دالله تعالى قهرته دعوت ورکول دي.

....

❖ موسيقي او ګډا ❖

دسندرو (ګانو) په ذريعه تبليغ کول

سوال: يوه ښځه ده هغه داوايي چې هغه سندرو په ذريعه (ريکارډباندې) دالله تعالى پيغام خلکوته رسول غواړي،اوس تاسو ووايئ چې آياپه اسلام کې داجائزدي؟

جواب: سندرې خوالله پاک حرامې کړې دي[1]،نودابه په سندره ويلودالله پاک پيغام څنګه رسوي...؟ داخودشيطان پيغام دی چې هغه دګانو او سندرو په ذريعه رسول کيږي.

آيا موسيقي د روح غذا او ګډا(ډانس) ورزش دی؟

سوال: آيا داصحيح ده چې موسيقي د روح غذا ده؟ آيا ګډا او موسيقي ته"فحاشي" ويل دُرست دي؟ موږچې کله هم دګډا او موسيقي له پاره د"فحاشي"لفظ استعمالوو نوخلک داسې ګرميږي لکه چې مونږيوه کبيره ګناه وکړه.٢_آيا سيميېزه ګډا اونورې ګډاګانې په اسلام کې جائز دي؟ ٣_عام طورباندې مې خلکو نه اوريدلي دي چې که ډانس(ګډا) د ورزش په نيت سره وکړل شي،که هغه هرقسمه ګډا وي،ي نوجائزده،آيا دا صحيح ده؟

جواب: داخوصحيح ده چې موسيقي دَروح غذا(خوراک) دی،خود شيطاني روح غذا،دانساني روح نه،دانسانی روح غذا دالله تعالى ذکردی.[2]

٢_ګډا حرامه ده.[3]

---

[1] وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيث لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ...إلخ قال ابن مسعود فيه .... هو والله الغناء .... وقال الحسن البصرى: انزلت هذه الآية........ فى الغناء والمزامير (تفسيرابن كثير ج: ٥ ص: ١٠٠) ذكرشيخ الإسلام أن كل ذلك مكروه عندعلمائنا،واحتج بقوله تعالى ومن يشترى لهوالحديث الآية، جاء فى التفسير: أن المراد الغناء .... سماع الغناء فهو حرام بإجماع العلماء .... والحاصل انه لا رخصة فى السماع فى زماننا (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٤٨، ٣٤٩ كتاب الحظروالإباحة)_

[2] الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ) (الرعد:٢٨)_

[3] وكره كل لهو لقوله عليه الصلاة والسلام كل لهوالمسلم حرام إلا ثلاثة ..[بقيه په راروانه صفحه.

۳_داخلک پخپله هم پوهیږي چې ګډا او ډانس ته په"ورزش" ویلوخپل ځان ته دوکه ورکوي،بالکل همداغه شان لکه چې څوک شرابو ته د"شربت" نوم ورکړي او خپل ځان ته دوکې ورکولو کوشش وکړي.

موسیقي غیر فطري تقاضا ده

سوال: تاسو فرمایئ چې:"په موسیقي سره روح نه، بلکې نفس خوشالیږي" یعنې تاسو دا منئ چې په انساني فطرت کې چېرته چې لوږه تنده او جنسي خواهشات وي هلته د موسیقي نه مزه اخیستلو جلب هم راځي،اوس د لوږې له پاره حلاله ډوډۍ او دجنسي تقاضا له پاره نکاح خوموږ ته اسلام راکړې ده،خود نفسي فطرت چې هغه موسیقي غواړي ددې له پاره اسلام څه راکړي دي؟ اوکله چې دښه قاري په قرات او لحنِ داؤدعلیه السلام سره به کائنات په وجد کې راتلل،دا ولې؟

جواب: یو اصل چې هغه په هرځای کې ستاسو له پاره ګټوردی، یادساتل پکاردي چې انساني غوښتنې ځینې فطري دي او ځینې غیرفطري، ددې دواړو په مینځ کې اکثرخلک فرق نشي کولی،حق تعالی چې هغه دفطرت خالقدی ،هغه دانساني فطري تقاضودآرام له پاره پوره سامان تیارکړی دی،اودغیرفطري تقاضوپوره کولونه یې منع کړې ده، په خوش لحانۍ سره ښه کلام ویل او اوریدل یوحده پورې فطري تقاضاده،اسلام ددې اجازه ورکړې ده[1]،خود ساز، آلات وغیره فطري تقاضې نه دي،ددې نه یې منع فرمایلې ده.[2]

...بقیه د تیرمخ].. (قوله وكره كل لهو) أى كل لعب وعبث فا الثلاثة بمعنى واحد كما فى شرح التأويلات، والإطلاق شامل لنفس الفعل، واستماعة كالرقص والسخرية، والتصفيق .... فإنها كلها مكروهة، لأنها زى الكفار، واستماع ضرب الدف والمزمار وغير ذالك حرام (ردالمحتار مع الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٩٥ كتاب الحظر والإباحة، فصل فى البيع)_

[1] (١) أما سماع الصوت الطيب من حيث إنه طيب فلا ينبغى أن يحرم بل هو حلال بالنص والقياس المالقياس فهو أنه يرجع إلى تلذذ حاسة السمع بإدراكم ما هو مخصوص به .... أماالنص فيدل على إباحة سماع الصوت الحسن امتنان الله تعالى علا عباده إذ قال: يزيد فى الخلق ما يشاء فقيل هوالصوت الحسن، وفى الحديث مابعث الله نبيًّاإلاحسن الصوت، وقال صلى الله عليه وسلم: لله أشد أذنا للرجل الحسن الصوت بالقرآن من صاحبه القينة لقينته ...إلخ (إحياء العلوم ج: ٢ ص: ٢٧١، بيان الدليل على إباحة السماع)

[2] وعن جابر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الغناء ينبت النفاق فى القلب كماينبت الماء الزرع (مشكوة ص: ٤١١، باب البيان والشعر) عن نافع رضى الله عنه قال: كنت مع ابن عمر فى طريق فسمع مِزمارًا فوضع اصبعيه فى أذنيه ونا عن الطريق إلى جانب الآخر ثم قال لى بعد أن بعُد: يا نافع! هل تسمع شيئا؟ قلت: لا! فرفع اصبعيه عن أذنيه قال: كنت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فسمع صوت يراع فصنع مثل ما صنعت قال نافع: وكنت إذا ذاك صغيرًا ..[بقيه په راروانه صفحه.

موسیقي او اسلامي ثقافت

سوال: په جنګ ورځپانه کراچی کې جمعه ۳۱مارچ باندې دحکومت یوې ثقافتی ادارې اشتهار ورکړې و، په هغه کې یې دخلکونه دتربیت له پاره درخواستونه غوښتي وو:
۱_موسیقي اوګانې(سندرې) زده کول غواړي، ۲_ګډا زده کول غواړي،زموږ اسلامي حکومت په انتهايي جرات سره هم داسلام مخالفت کړی دی،ستاسوبه ډیره مهربانی وي چې په دې باره کې دخپلې رايې اظهار ضرور وکړئ!

جواب: راګ رنګ،رقص،سرور او موسیقي داسلامی ثقافت شعبه نه ده، بلکې دنوي ثقافت شعبه ده،چې هغه شرعاً حرام او ناجائزده[۱].د پاکستان دحکومت په سرکاري سطح باندې ددې سرپرستي او حوصله افزائی کول،اسلامی نقطۀ نظرسره دمذمت لائق دي،افسوس چې زموږ حکمرانان(دَقیام پاکستان نه ترننه پورې) نوم خوداسلام اخلي،خوسرپرستی دجاهلیت او کفري ننبوکوي،ددې نتیجه دا ده چې زمونږ معاشره دَاخلاقوآخري حدودو نه مخکې روانه ده.

موسیقي او سماع

سوال: یوځوورځې مخکې مې دامام غزالی(رحمه الله) دکتاب"کِیمیائے سعادت" اُردوترجمه"نسخۀ کیمیا" اووم باب "آداب واحکام سماع ووجد"عنوانومطاعه کړ ، په کتلوسره یې زماناچیز په پوهه کې داخبره راغله چې که موسیقی کله کله اودخوشحالی په موقع باندې واوریدل شي نوجائزده،آیا داخبره صحیح ده؟

جواب: صحیح نه ده!د(سماع) معنا دنن سبا موسیقي نه ده،داخاص اصطلاح ده اودهغې خپل آداب او شرائط دي.[۲]

...بقیه د تیرمخ]..(رواه أبوداؤد ج: ۲ ص: ۳۲۶، مشکوة ص: ۴۱۱، باب البیان والشعر)_

[۱]وعن أبی أمامة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لایحل بیع المغنیات ولا شراؤهن وأکل أثمانهن حرام فیهن أنزل الله عزوجل علیّ: ومن الناس من یشتری لهوالحدیث ...إلخ تفسیر ابن کثیر ج: ۵ ص: ۱۰۱ سنن ترمذی ج: ۱ ص: ۲۴۱) (قوله وکره کل لهو) أی کل لعب وعبث، فالثلاثة بمعنی واحد کما فی شرح التأویلات، والإطلاق شامل لنفس الفعل، واستماعه کالرقص والسحریة والتصفیق، وضرب الأوتار من الطنبور والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق، فإنها کلها مکروهة لأنها زی الکفار (ردالمحتار ج: ۲ ص: ۳۹۵) عن أبی أمامة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تبیعوا القینات ولا تشتروهنّ ولا تعلموهنّ ولا خیر فی تجارة فهین وثمنهن حرام (ترمذی ج : ۱ ص: ۲۴۱) أعوذبالله!)_

[۲] أن السماع قدیکون حرامًا محضًا وقدیکون مباحًاوقدیکون مکروهًا وقدیکون مستحبًا أماالحرام فهو لأکثرالناس من الشبان ومن غلبت علیهم شهوة الدنیا فلا یحرك السماع منهم إلا ما هو الغالب علی قلوبهم من الصفات المذمومة، وأما المکروه فهو ممن لا ینزله علی صورة المخلوقین..[بقیه په راروانه صفحه.

په ډرامو او فلمونو کې کله خاوند او کله وروړ ښودل

سوال: جناب ته معلومول پکار دي چې زمونږ په اسلامی ملک پاکستان کې فلمونه او ډرامې جوړيږي، په هغې کې عجيبه شان روايتونه دي،هغه دا چې يو سړی په فلم يا ډرامه کې ديوې ښځې خاوند ښودل کيږي،هماغه سړی په دويمه ډرامه کې دهماغې ښځې ورور،زوی اويا په يوه بله رشته سره ښودل کيږی،داشيان زمونږ په مذهب (اسلام) کې ترکوم حده پورې جائز دي؟ اوکه ناجائز دي نودې دمنع کولو له پاره څه اقدامات کول پکار دي؟

جواب: چې فلمونه او ډرامې جائز نه دي،نوکوم څه چې تاسوليکلي دي،دهغه دجائزکيدو څه سوال دی -...؟[1]

ورايټي شو او اسټيج ډرامې کې کارکول او کتل

سوال: ګډا اوسرود ،موسقي،ورائټی شو،اسټيج ډرامې وغيره کې په هرحيثيت سره حاضري کول، داسلام په نزد حرام دي،داخبره مونږ ته دعلماء دين نه معلومه شوه،نن سبلپه کراچۍ کې ددې قسمه تفريحاتو ډيرپه زرو او شور سره رواج زياتيږي،دټی وي او فلمونو اداکاران کله نه چې اسټيج باندې راغلي نودډرامو مشرانود ټکټونو قيمت دپنځوس(۵۰) نه دوو سوو(۲۰۰) ته لوړ کړی دی، بيايې هم خلک خوښوي،له دې پوهې سره چې دا مونږ دکاهلي،تن آساني او عياشۍ طرف ته مائل کوي،همدارنګه مونږ دخپل فرض منصبی نه غافل کوي،زه تاسونه دا معلومول غواړم چې داسې په تفريح کې چې څومره خلک شريک دي،آياټول ګناهګاران دی؟ کوم چې کار کوونکي دي هغه خو په محنت سره رزق ګټي، مثلاً: اداکار،ګلوکار او نور ملازمان وغيره.

جواب: دګناه په کارکې شرکت کولووالا ټول ګناه ګاردي،يوازې د درجوفرق دی،اوپه غلط کارسره رزق ګټل هم غلط دي.[2]

...بقيه د تيرمخ]. ولكنه يتخذه عادة له فی أكثرالأوقات على سبيل اللهو، وأما المباح فهو لمن لا حظ له منه إلا التلذذ بالصوت الحسن، واماالمستحب فهولمن غلب عليه حب الله تعالى ولم يحرك السماع منه إلا الصفات المحمودة والحمدلله وحده وصلى الله على محمدوآله (إحياء العلوم ج: ۲ ص: ۳۰۶، المقام الثالث من السماع، طبع دارالمعرفة، بيروت، لبنان)_

[1] وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (لقمان:۶) (لهوالحديث على ماروی عن الحسن كل ما شغلك عن عبادة الله تعالى، وذكره من السمر والأضاحيك والخرافات والغناء ونحوها (روح المعانی ج: ۲۱ ص: ۶۷ طبع بيروت) وذكر شيخ الإسلام أن كل ذالك مكروه عند علمائنا، واحتج بقوله تعالى: ومن الناس من يشترى لهوالحديث الآية، جاء فی التفسير ان المراد الغناء .... سماع غناء فهو حرام بإجماع العلماء (ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۴۸، ۳۴۹، كتاب الحظروالإباحة)_

[2] وأعلم ان الإعانة على المعصية حرام مطلقًا بنص القرآن أعنی قوله تعالى: ..[بقيه په راروانه صفحه.

دماشوم یا غټ په سالګره باندې د کېدا کونکو انجام

سوال: کوم مسلمان چې په خپل کورکې دماشوم یاغټ سالګره لمانځي، چې د یهودانو رسم دې، په دې موقع باندې د کورخوانان هلکان اودبهرغیرمحرم هلکان کیک کټ کولونه وروسته دهجراګانو پشان دخپلې مور، خویندو او نورو مسلمانانو ښځو سره ګډاګانې کوي، اوبیاهماغه خلق کله هم په هغه کورکې دقرآن پاک ختم هم کوي، ددې خلکو به آخرت کې څه مقام دی؟ دشریعت په رڼا کې جواب راکړئ!

جواب: په آخرت کې ددوی مقام خوالله پاک ته معلوم دی، البته ددوی داعمل دډیروکبیره ګناهونو مجموعه ده.

دساز نه پرته دسندرې اوریدو شرعي حکم

سوال: که یوسړې بغیردسازاوموسیقي نه په پټه یاښکاره سندره وایي نودواړه صورتونه جائزدی یاناجائز؟ یاښځه انفرادي یا اجتماعي، پټه یاپه ښکاره چې هغه دَدې ښځې محرم اوري، که سندره ووایي نوڅه حکم دی؟ اوکه هغه دهغوی غیرمحرم هم اوري نوڅه حکم دی؟ اوهماغه سندره په ریډیو، تیپ ریکارډکې سازاوموسیقي سره ویل کیږي اوس که په هغې تولوصورتونوکې تمبل وهلوسره سندره وویل شي نودَهغې څه حکم دی؟ په دې کې زمونږ ډیر علماء هم مبتلادي اوداګناه هم نه ګني، نوددې مسئلې وضاحت منظرعام باندې راوستل ضروري دي.

جواب: دساز الاتوسره سندره ویل حرام دي، که سندره ویونکی سړی وي یاښځه، اوکه یوازې یې وایي یاپه محفل کې، داسې شعرونه چې په کفراوشرک یاپه یوه ګناه باندې مشتمل وي، دهغو ویل هم (دآلاتونه بغیر) حرام دي[1]. البته مباح شعرونه او داسې شعرونه چې دَحمداونعت

...بقیه د تیرمخ].. وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الْأَثْمِ وَالْعُدْوَانِ (أحكام القرآن لمفتى محمدشفيع ج: ٣ ص: ٧٤) أيضًا: عن أبي هريرة قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ثمن الكلب وكسب الزمارة رواه فى شرح السنة مشكوة المصابيح ص: ٢٤٢، الفصل الثانى، باب الكسب وطلب الحلال) وأيضًا: عن أبي أمامة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتبيعوا لقينات ولا تشتروهن ولاتعلموهن وثمنهن حرام وفى مثل هذا نزلت ومن الناس من يشترى لهوالحديث رواه أحمد والترمذى وابن ماجة)۔

[1] ومن الناس من يشترى لهوالحديث ليضل عن سبيل الله، (لهوالحديث) على ماروى عن الحسن كل ماشغلك عن عبادة الله تعالى، وذكره من السمروالأضاحيك والخرافات والغناء ونحوها (روح المعانى ج: ٢١ ص: ٦٧ طبع بيروت) من قعد إلى قنية يستمع منها صب الله فى أذنيه الآنك يوم القيامة (كنزالعمال ج: ١٥ ص: ٢٢٠ حديث نمبر ٤٠٦٦٩) إستماع صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه السلام، إستماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق ...إلخ (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٤٩) ،ومن الناس..[بقيه په راروانه صفحه.

یاد حکمت او دانایي په خبروباندې مشتمل وي،هغه په ترنم سره ویل جائزدي.اوکه د ښځو او سړیو غونډه نه وي نونورو ته یې هم اوروول جائزدي.که ښځه هم په تنهایي کې یاپه ښځوکې داسې شعرونه په ترنم سره ووایي(چې هلته یوسړی هم نه وي) جائزدي، نن سباعشقیه سندرې په هیڅ حکمت او دانایي باندې مشتملې نه دي،بلکې په هغې سره نفساني خواهشات را اوچتیږي اودګناه رغبت پیداکیږي، ځکه دا بالکل حرام دي،دښځوله پاره هم اودسړیو له پاره هم، په حدیث کې هم دداسې سندرو په باره کې فرمایل شوي دي چې هغه په زړونوکې نفاق پیداکوي.[1]

معیاري سندرې اوریدل

سوال: زمادسندرو اوریدو ډیرشوق دی؛خوزمادبې هوده اواخلاقونه لرې سندرونه نفرت دی،آیازه ښې اومعیاري سندرې اوریدای شم؟

جواب: سندره که معیاري وي یا خرابه،حرامه ده، په حدیث شریف کې دي: **"من قعدالی قنیة یستمع منهاصب الله فی اذلیه الانک یوم القیامة."** (کنزالعمال ج:۱۵ص:۲۲۰،حدیث نمبر:۴۰۶۶۹).

ترجمه: کوم سړې چې دیوې سندره ویونکې ښځې طرف ته غوږ کیږدي، دقیامت په ورځ به الله تعالی دداسې خلکو به غوږونوکې ویلی شوې کلایي(رصاص« اچوي.

موسیقي ته له توجه پرته یوازې شعرونه اوریدل

سوال: که په یوداسې محفل ته دتلواتفاق وشي چې په هغه کې جائز شعرونه له مزامیرو اوموسیقي سره یوځای ویل کیږي؛ نوموسیقي ته له توجه کولو پرته هغه جائز شعرونه اوریدل پکاردي اوکه نه؟

جواب: په کوم محفل کې چې دمزامیرو،موسیقي اودنورو فضول شیانو اومحرماتوارتکاب کیږي،په داسې محفلونوکې ناسته بالکل جائز نه ده،که څه هم دهغو طرف ته توجه اودهیان نه وي.[2]

...بقیه د تیرمخ]... من یشتری لهوالحدیث الآیة، جاء فی التفسیر ان المراد الغناء............سماع غناء فهو حرام بإجماع العلماء (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٤٩، کتاب الحظروالإباحة)۔

[1] عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء الزرع (مشکوة ص: ٤١١، باب البیان والشعر، الفصل الثالث، طبع قدیمی)۔

[2] ولو دعی إلی دعوة .... وإنما یجب علیه أن یجیبه إذا لم یکن هناك معصیة ولا بدعة ...إلخ (فتاوی عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٤٣) وفی البزازیة: إستماع صوت الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام .... والجلوس علیها فسق ...إلخ (الدرالمختار،کتاب الحظر والاباحة ج: ٦ ص: ٣٤٩)

د موسیقي علاج

سوال: زما عمر دري دیرش(۳۳) کاله دی،داته ویشتو(۲۸) کالو پورې زما د موسیقي سره ډیر شوق و، ۱۹۸۱ء کې د حج سعادت راته نصیب شو،له هغه وروسته ما د هرقسمه موسیقي اوریدو، ټیپ ریکارډ خپل ځان سره دا ینبودلو یا په ګاډي کې استعمالولو نه او ټي وي وغیره نه توبه وکړه،خواوس د څه مودې نه چې کله د سحر لمونځ له پاره پاڅم نو د ماغ مې د ګانو نه ډک وي،د ماسخوتن نه وروسته دویده کیدو په وخت هم دا حالت وي،او په ورځ کې هم اکثر وختونو کې هم دا حالت وی،دې حالت نه سخت پریشان یم،ستاسو به ډیره مهرباني وي چې یو روحاني علاج راته ووښایئ.

جواب: که غیراختیارطور باندې دې سندرې په دماغو کې راځي نو په هغې باندې هیڅ مؤاخذه نشته[1]، په زیات ذکراو د قرآن پاک په تلاوت سره به د دې کیفیت اصلاح وشي،څنګه چې یوشی لیدلو نه وروسته سترګې بندې کړې نو څه وخت پورې د هغه شي نقشه د سترګو مخامخ وی،په ورو ورو بیالرې کیږي، په هرحال دې نه دویرې ضرورت نشته،خو د توبې او استغفار تجدید دې وکړل شي.

د سندرو اوریدو غلط عادت به څنګه ختم شي؟

سوال: زه د سندرو ویلو ډیر زیات شوق لرم،دا شیطاني عمل دی، پریښودل کیږي نه،دې له پاره ستاسو صاحبانو په مخکې درخواست دی چې یو داسې عمل،طریقه یا وظیفه تجویز وفرمایئ چې د دې عمل نه زړه او دماغ خالي شي.

جواب: اختیاري عمل له پاره د همت استعمالولو نه پرته یوه وظیفه هم نشته،البته دوه شیان د دې معین دي،یو دا چې په قبر او د قیامت په ورځ به په دې ګناه چې کومه سزا ملاویږی،د هغې سوچ وکړئ،دویم دا چې د الله تعالی په مخکې په ډیرې عاجزۍ سره دعا وکړئ په ورو ورو به ان شاء الله دا عادت ختم شي.

د طوائفو ګډا او سندرې

سوال: زمونږ په ملک کې په ورکي او غټ هریوښارکې څه مخصوصو علاقو کې د ګډا او سندرو کاروبار کیږي،لکه"مجرا"ورته وایي،په دې کې ښځې،کوم وته چې"طوائف" ویل کیږي، خپل نازیبا حرکتونه او لباس سره سرې حضراتو ته چې "تماش بین" ویل کیږي،سندرې اوروي اوګډیږي.آیا په اسلام کې دا جائز دي؟ که نه دي نو دا کاروبار زمونږ په ملک کې په ښکاره ولې

[1] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله تجاوز عن أمّتي ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به أو تتكلم متفق عليه (مشكوة المصابيح ص: ١٨، باب الوسوسة، الفصل الأوّل)۔

چلیږي؟ آیا دد ې ګناه زمونږ په حکمرانانو باندې نه راځي؟ آیا ددې ګناه زمونږ په علماوو، صدر صاحب، دعلاقې په کونسلر، دصوبایي اوقومي اسمبلۍ په ممبرانو باندې نه راځي، کوم چې ددې دختمولو کوشش نه کوي؟ آیا ګناه دمحلې والوباندې ده کوم چې په هغه علاقه کې اوسیږي؟

جواب: دطوائف په ګډا اوسندرو ویلوکې دحرام کیدوڅه شک دی؟[۱] کوم خلک چې ددې حرام کارارتکاب کوي اوکوم خلک چې دقدرت لرلوباوجودهغه نه منع کوي، هغه ټول ګناهګار دي، دعالمانو کارپه ژبه منع کول دي، اودحکومت کارپه زور او طاقت سره منع کول دي.[۲]

له ساز پرته د سندرو دجواز شرطونه

سوال: زما یودوست وایي چې له ساز پرته سندره ویل ګناه نه ده، هغه دا وایي چې دسندرې دګناه کیدو دوه وجې دي، یوساز او بل ددې ویل. که دسندرې ویل هم غیراسلامي نه وي اوساز هم نه وي نوسندره ویل کیدای شي. هغه وایي چې له ساز پرته سندرې بدې نه دي. ددې ویل هم ښه دي اوپه دې کې دوطن سره محبت هم پیدا کیږي. مهرباني وکړئ داراته ووایئ چې آیا دهغه خبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: ښه شعرونه په خوږ آواز سره ویل او اوریدل په درې شرطونوسره جائزدي:

۱: ویونکی پیشه لرونکی، فاسق، بې ږیرې هلک یاښځه نه وي. اوچې په هغه مجلس کې هم ماشوم یا ښځه نه وي

۲: دَ شعرونومضمون دشریعت خلاف نه وي

۳: چې دساز او موسیقي آلات نه وي [۳]

---

[۱] وأعلم ان الإعانة على المعصية حرام مطلقًا بنص القرآن أعني قوله تعالى. وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (أحكام القرآن لمفتي محمدشفيع ج: ۳ ص: ۷٤) ايضًا: عن أبي هريرة قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ثمن الكلب وكسب الزمارة رواه فى شرح السنة مشكوة المصابيح ص: ۲٤۲، الفصل الثاني، باب الكسب وطلب الحلال) وأيضًا: عن أبي أمامة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتبيعوا لقينات ولا تشتروهن ولاتعلموهن وثمنهن حرام وفى مثل هذا نزلت ومن الناس من يشترى لهوالحديث رواه احمد والترمذى وابن ماجة۔

[۲] عن أبي سعيد الخدرى رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من رأى منكم منكرًا فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه ...إلخ (مشكوة ص: ٤۳٦) وفى المرقاة تحت هذا الحديث: وقد قال بعض علمائنا الأمرالأول للأمراء والثاني للعلماء والثالث لعامة المؤمنين...إلخ (مرقاة المفاتيح ج: ۸ ص: ۸٦۰، ۸٦۲)۔

[۳] تیرى شوى حوالي۔

دَ ریډیو جائز خبرې اوریدل ګناه نه ده

سوال: د ریډیو او ټیلی ویژن رواج عام شوی دی، تقریباً د هر مالداره او غریب په کور کې موندل کیږی، ریډیو باندې عام طور باندې هر قسمه پروګرامونه نشریږي، د قرآن مجید تلاوت، اذان، د حرم شریف لمونځ، حمد او نعت، مناجات، د دین متعلق سوالونه او جوابونه، اسلامی تقریرونه، طبي سوالونه او جوابونه، مشاعره، قوالي د ډول سره، ډرامې، لوبې او داسې نور... تحریر وفرمایئ په دې کې کوم قسم پروګرامونه اوریدل پکار او کوم قسم اوریدل نه دي پکار؟ څنګه چې تلاوت کیږي نو څنګه واورول شي؟ د دې آداب به څه وي؟ وغیره تفصیلاتونه موخبر کړئ، یعنې د ریډیو د استعمال اسلامي طریقه څه ده؟

جواب: په ریډیوکې خویوازې آواز وي، ځکه په ریډیو باندې ګټورې او جائز خبرې اوریدل جائز دي، او لوبې ګډاګانې داسې قسمه فضولیات او غلطې خبرې اوریدل ګناه ده[۱] په ټیلې ویژن باندې تصویر هم راځي، ځکه هغه مطلقاً جائز نه دی.

آیا قوالي جائز ده؟

سوال: قوالي چې نن سبا دلته کیږی، د دې څه حکم دی؟ آیا دا صحیح ده یا غلط؟ او غټ غټ ولی الله هم د دې اهتمام کوي او په دې کې د الله تعالی او د هغه د رسول الله ﷺ نه پرته د بل چا تعریف هم نه کوي، که جائز نه ده نو څه ده؟ او زمونږ په اسلامي ملک کې ولې په تیزي سره روانه ده؟

جواب: دَ نعتیه شعرونو ویل او اوریدل خو ډیره ښه خبره ده، په دې شرط چې مضمون یې د شریعت خلاف نه وي. خو په قوالي کې ډول، بجه او د موسیقي آلاتو استعمال کیږي، دا جائز نه دی[۲] او د اولیاء الله طرف ته داشیان منسوبول، په هغو بزرګانو باندې تهمت دی.

---

[۱] ومن الناس من یشتری لهوالحدیث لیضل عن سبیل الله، (لهوالحدیث) علی ماروی عن الحسن کل ماشغلك عن عبادة الله تعالی، وذکره من السمروالأضاحیك والخرافات والغناء ونحوها (روح المعانی ج: ۲۱ ص: ۶۷ طبع بیروت) من قعد إلی قنیة یستمع منها صب الله فی أذنیه الآنك یوم القیامة (کنزالعمال ج: ۱۵ ص: ۲۲۰ حدیث نمبر ۴۰۶۶۹) إستماع صوت الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام لقوله علیه السلام، إستماع الملاهی معصیة والجلوس علیها فسق ...إلخ (الدرالمختار ج: ۶ ص: ۳۴۹) ومن الناس من یشتری لهوالحدیث ألآیة، جاء فی التفسیر ان المراد الغناء.....سماع غناء فهو حرام بإجماع العلماء (ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۴۹، کتاب الحظروالإباحة)

[۲] ومن النَّاسِ مَنْ یَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِیثِ لِیُضِلَّ عَنْ سَبِیلِ اللَّهِ بِغَیْرِعِلْمٍ ...إلخ قال ابن مسعود........ هو والله الغناء .... وقال الحسن البصری : انزلت هذاالآیة ....فی الغناء والمزامیر (تفسیر ابن کثیر، سورة لقمان ج: ۵ ص: ۱۰۰، طبع رشیدیه کوئته) إستماع صوت الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام لقوله علیه السلام، إستماع صوت الملاهی معصیة والجلوس علیها فسق ...إلخ ..[بقیه په راروانه صفحه.

آیا قوالي اوریدل جائز دي؟

سوال: دقوالي په جواز اوعدم جوازباندې تاسوڅه فرمايئ؟ اودراګ اوريدل شرعاً څنګه دي؟

جواب: دراګ اوريدل شرعاً حرام او كبيره ګناه ده،دشريعت مسئله كومه چې دحضورپاكﷺ نه ثابته ده هغه زموږ له پاره دين دى،كه ديوبزرګ په باره كې ددې خلاف نقل وي،اول خوبه موږ نقل غلط ګڼو،اوكه نقل صحيح وي؛نودهغه بزرګ دكارڅه تاويل به وكړل شي،اودقوالي موجوده صورت قطعاً دَشريعت خلاف او حرام دى،اودبزرګانوطرف ته ددې نسبت كول بالكل غلط او دروغ دي.

دَسکه ورور او خوریوځای ګډا کول

سوال: ۱۔آيا په اسلام كې ديوسكه ورور او خور يوځاى ګډا او سندرې ويل جائز دي؟ كه څوك داسې كاروكړي نودهغوى شرعي حيثيت څه دي؟ اوسزايې څه ده؟
۲۔ په اسلام كې دسكه ورور او خور تصويرونوكې قابل اعتراض كيدوشرعي حيثيت او سزا څه ده؟

جواب: ددې فتنې نه ډک دوركې ددين دكموالي اوداخلاقي كمزوري داحال دى چې په معاشره كې كومه ګناه هم عامه شي هغه حلاله ګڼل كيږي،يوه زمانه داسې وه چې كوم سړي به دسندرو ويلو پيشه اختياروله هغه ته به يې ډم او ميراثي ويلو،اوخلكوبه هغه ته په بدنظر كتل،خونن چې هرڅوک دا پيشه اختياروي هغه ته "فنكار" ويل كيږي،اودهغه پيشه د"فن او ثقافت" په نوم سره يادېږي،اوبياستم ظريفي دا چې هرڅوک ددې ګناهونو خلاف آواز اوچتوى دې ته"رجعت پسند" او "تنګ نظري" تصوركيږي.

دسندرې ويلو متعلق دحضورپاكﷺ يوڅومبارک ارشادات ستاسو په خدمت كې لاندې ليكو:......**ترجمه**:"حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې حضورپاكﷺ سندره ويلو او اوريدلو نه منع كړې ده."

"قال عليه الصلوة والسلام:الغناء ينبت النفاق فى القلب كماينبت الماء البقل." (درمنثور ج:۵ص:۱۵۹).

ترجمه:"دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې نبى كريمﷺ فرمايلي چې:دسندرې محبت

...بقيه د تيرمخ].. (فتاوى شامى ج: ٦ ص: ٣٤٩، كتاب الحظروالإباحة) (قوله وكره كل لهو) أى كل لعب وعبث،فالثلاثة بمعنى واحد كما فى شرح التأويلات، والإطلاق شامل لنفس الفعل، وإستماعه كالرقص و السخرية والتصفيق،وضرب الأوتارمن الطنبور والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق، فإنها كلها مكروهة لأنها زى الكفار (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٩٥، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)

په زړه کې داسې نفاق پیدا کوي څنګه چې اوبه وابښه را زرغونوي."

"عن عمران بن حصين رضی اللہ عنہ ان رسول الله ﷺ قال في هذه الامة خسف ومسخ وقذف. فقال رجل من المسلمين: يارسول الله! ومتى ذلك؟قال: اذاظهرت القيان والمعازف،وشربت الخمور."(ترمذی شریف ج:۲ص:٤٤).

ترجمه: "دحضرت عمران بن حصين رضی اللہ عنہ نه روايت دی چې نبی پاک علیہ السلام فرمايلي چې:په دې اُمت کې په ځمکه کې ددننه کيدو، صورتونه مسخ کېدو او دکاڼو دبارانونو واقعات به کيږي،په دې باندې يو مسلمان سړی وويل چې:اې دالله تعالی رسوله ﷺ! دابه کله وي؟ حضورپاک ﷺ ورته وفرمايل چې:کله ددسندرو ويلو اودبجو رواج شي اوپه کثرت سره شراب څښل کيږي."

داسې دتصويرونو معامله هم ده،نبی کريم ﷺ دساه لرونکو تصويرونو ويستل حرام ګرځولي دي دتصويرجوړونکي يې دسخت عذاب مستحق ګرځولي دي،دې باره کې ارشاد مبارک دی:

۱: **"عن عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: اشدالناس عذاباً عندالله المصورون. متفق عليه."**(مشکوة ص:۳۸۵).

ترجمه: "دحضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه روايت دی،فرمايي چې:مادرسول الله ﷺ نه واوريدل ،،
فرمايل يې چې: له ټولو خلکو څخه په سخت عذاب کې به تصويرجوړونکي وي."

۲: **"عن ابن عباس رضی اللہ عنہ قال:سمعت رسول الله ﷺ يقول:....من صورصورة عذب وكلف ان ينفخ فيها وليس بنافخ.رواه البخاري."**(مشکوة ص:۳۸۶).

ترجمه: "دحضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې:چا تصوير (دساه لرونکي) جوړ کړ،الله تعالی به هغه ترهغې وخت پورې په عذاب کې ساتي ترڅوپورې چې هغه په هغه تصوريرکې روح وانه چوي،حالانکې هغه چېرې هم په هغه کې روح نشي اچولی."

بس چې په اسلام کې دداسې قسم عام تصويرونه ويستل حرام دي؛ نوفحش قسمه تصويرونه شائع کول به څنګه جائزوي؟ اوبياد ورور او خور په يوځای دريدل اوپه کمره کې په يوبل لاسونه اچول تصويرونه ويستل خودبې حيايي حددی،تردې چې داسلامی تعليماتومطابق د ورور او خور رشته ډيرزياته نزدې او ډيره زياته نازک ده،څکه حضورپاک ﷺ په يوحديث کې حکم فرمايلي دي:

"اذا بلغ اولادكم سبع سنين ففرقوا بين فروشهم."(کنزالعمال حديث نمبر:۴۵۳۲۹).

ترجمه: "کله چې ستاسو د بچو عمرونه اووه (۷) کاله شي نو د هغوی بستری بیلې بیلې کړئ."[1]

دې نه پرته علماء کرام و هم دفتنې له ویرې په وخت دخپلو محارمونه هم پرده لازمي ګرځولې ده [2]

الغرض په سوال کې چې دکومو افسوسناکو واقعاتو ذکر ردی، هغه واقعي دیوغیور مسلمان له پاره ناقابل برداشت دي. او هغه په دې باندې داحتجاج کولو نه بغیرنشي پاتې کیدای. لهذا حکومت ته پکاردي چې زرددې بې حیایي او فحاشي دختمولو کوشش وکړي او ددې ذمه دار خلکو ته سزاګانې ورکړي.

دریډیو او ټي وي دملازمانو شرعي حیثیت

سوال: زه دګورنمنټ اداري سره وابسته یم، یعنې ګورنمنټ مالک او زه ملازم یم. ددې رشتې لاندې چې مالک څه وایي دغلام یا ملازم په دې باندې عمل کول ضروري دي، که د مالک په حکم باندې دروغ وویل شي او په چا باندې بهتان ولګول شي او هغه هم داسې چې لکونو او کروړونو خلکو غوږ ایښې وي؛ نو د هغه عمل دجزا او سزا حق دار څوک دی، مالک یا ملازم؟ یعنې حکم کونکی یا په حکم باندې عمل کونکی؟ نور وضاحت وکړئ چې ریډیو او ټي وي باندې خبرونه ویل زما ډیوټي ده. او دااسکرپټ دمشرانو افسرانو یعنې دحکومت طرف نه ورکول کیږي. او په هغه کې زما دخوښې هیڅ عمل دخل نه وي، بغیرشک په دې کې زیات تر مبالغه او خینې وخت الزام او بهتان تراشي وي، داسلامي اصولو مطابق تبصره او نصیحت وفرمایئ چې ضمیر مطمئن شي.

جواب: دالله تعالی بې شمیره بندګانو ددې نوعیت خطونه ولیکل، چې په هغو کې یې دخپلو غلطیو داحساس اظهار وکړ، دمعافي تدبیرېې معلوم کړ، خوزماخیال و چې دنشریاتي ادارو افسران او کارکنانو کې "ضمیرقیدي" شاید هیڅ نشته، الله تعالی دې تاسوته دخیر بدله درکړي چې تاسوزموږ ددې غلط فهمي ازاله وکړه او معلومه شوه چې په دې طبقه کې هم څه باضمیره او خدای ترسه خلق موجود دي، چې دهغوی په طرزعمل باندې ضمیر هغوی ملامته کوي او دهغوی ایماني طاقت اوس هم باقي دی، ددې بې ساخته تمهیدنه وروسته اوس ستاسو دسوال جواب عرض کوم:

---

[1] وإن لم يأمن ذالك أوشك، فلايحل له النظروالمس، كشف الحقائق لابن سلطان والمجتبى(درمختار ج: ٦ ص: ٣٦٧، فصل فى النظروالمس، كتاب الحظروالإباحة، طبع سعيد كراچى)۔

[2] وإن لم يأمن ذالك أوشك، فلايحل له النظروالمس، كشف الحقائق لابن سلطان والمجتبى (درمختار ج: ٦ ص: ٣٦٧، فصل فى النظروالمس، كتاب الحظروالإباحة، طبع سعيد كراچى)۔

داخبره خودهرعام اوخاص په علم کې ده چې دجرم ارتکاب کولو والا اواجزت ورکولو والا دقانون په نظرکې دواړه یوشان مجرمان دي،دقیامت په ورځ چې کله دالله تعالی په دربار کې پیشي کیږي؛ نوهرسړی به دخپل قول اوفعل جواب ورکوي، هغه وخت به نه څوک مالک وي،نه ملازم،نه به څوک اعلی افسر وي،نه ماتحت،که چاڅه جرم دمشرپه ویناباندې کړی وي؛ نودا مشربه هم نیول کیږي اودهغه مزدور هم.

زموږ په نشریاتي اداره (ریډیو،ټی وي) کې چې څه نشریږي دهغو یوڅوقسمونه دي:

اول: دالله تعالی شریعت پورې خندا کول، ددین والوتضحیک کول، دقرآن او سنت غلطه معنا تعبیرکول،اوپه شرعي مسائلوکې تحریف (ردو بدل) کول،دا ددې نوعیت والانور امور داسې دي چې دهغو سرحدونه دکفر سره ملاویږي[1]،اوکوم خلک چې دسرکاراوداعلی افسرانوپه حکم باندې دداسې جرمونو ارتکاب کوي،دهغوی جرم دمعافي قابل نه دی،که هغه قصدا ددې جرمونوارتکاب کوي، یایې یوازې داعلی افسرانودخوښې له پاره.

دویم: دسرکار په مخالفینوباندې تهمت لګول،په هغوی باندې غلط الزامونه لګول، دیو مسلمان تحقیر او سپکه کول،داډول شیان په حقوق العباد کې شامل دي،اودالله تعالی په عدالت کې چې کله دا مقدمې پیش شي،نوالله تعالی به حق دار ته خپل حق خامخا ورکوي، مګردا چې حق دار خپل حق معاف کړي،اودحق ورکولوصورت به داسې وي چې دظالم نیکۍ به حق دار ته ورکړي،اوکه دهغه سره نیکۍ ختمې شي نودحق دار ګناه به په هغه باندې واچوي،د صحیح مسلم په حدیث کې دي چې:

حضورپاک ﷺ صحابه وو نه پوښتنه وکړه چې:تاسوته پته ده چې مفلس(غریب) څوک دی؟ هغوی عرض وکړ چې:په موږ کې خوهغه سړی غریب شمارل کیږي چې هغه سره نه روپۍ وی، نه ورسره ساز او سامان وي،نبي کریم (صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې:زمادامت مفلس هغه سړی دی چې هغه به دقیامت په ورځ لمونځ،روژه او زکات له ځان سره راوړي،خوپه داسې حالت کې به راشي چې کوم کس ته یې کنځلې کړې وي،په چاباندې یې تهمت لګولی وي، دچا مال یې خوړلی وي،دچاوینه یې بهولې وي، څوک یې وهلي وي، هغو ټولوخلکوته به دچا چې حق تلفي شوې وي،دهغه نیکۍ ورکړل شي،بیاکه نیکۍ ختمې شوې اودخلکوچې کوم حقونه دهغه په ذمه باندې وو هغه پوره نه شو، نودهغو خلکوګناهونونه به هغه باندې واچول شي،بیابه الله تعالی هغه دوزخ ته واچوي.[2] "(مشکوة ص:۴۳۵).

---

[1] وأما الهازل، والمستهزئ إذا تكلم بكفراِسخفافًا، ومزاحًا وإستهزاءً يكون كفرًا عندالكل وإن كان إعتقاده خلاف ذالك (فتاوى عالمگيرى ج: ۲ ص: ۲۷۶، كتاب السير موجبات الكفر)۔

[2] وعن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: أتدرون ماالمفلس؟ قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولامتاع، فقال: ان المفلس من أمّتي من يأتي يوم القيامة بصلوة وصيام وزكوة ..[بقيه په راروانه صفحه.

الغرض؛ دالله تعالی به عدالت کې به دهرظالم نه دمظلوم بدله اخیستل کیږي،اودقیامت په ورځ دنیکواوبدو نه پرته بله یوه سکه به هم نه وي،لهذا دظالم نیکۍ به مظلوم ته ورکړل شي،اوچې دظالم نیکۍ ختمې شي اودمظلوم بدله ادا نه شي؛ نودمظلوم گناه به (دحق په اندازه) دظالم په ذمه واچول شي.

دریم: دظالم حکمران په مدح او تعریف کې دځمکې او آسمان قالبونه ملاول،دهغه د دروغو کارنامو مبالغه سره تشهیر کول، اوداسې نور...

داشیان هم کبیره گناهونه دي اودنشریاتي ادارو چې څومره ملازمان په دې گناهونوکې شامل دي دقیامت په ورځ به هغوی ددې گناهونوهم جواب ورکوي،که بیاهغوی الله تعالی په خپل رحمت سره معاف کوي،یادهغو جرمونوبرابرسزا ورته ورکوي،دهغو ادارو دملازم په حیثیت سره د کبیره گناهونوارتکاب خو ستاسوله پاره مشکل دی،که دهغو ټولوگناهونودبوج اوچتولو همت درسره وي نوپه شوق سره په هغو ادارو کې ملازمت وکړئ،اوکه دهغو گناهونو انبارپه یوې طریقې سره هم نشې اوچتولی،نودخپل آخرت خرابولوپه ځای بهتره ده چې دملازمت نه استعفی ورکړې د خیټې ددوزخ ډکولو څه بل انتظام وکړې،اوکه دهغې هم څه صورت په نظر رانغی نودکمې درجې تدبیردادی چې دشپې په تنهایي کې دا تصور وکړئ چې زما دعمل دفتردالله تعالی په دربارکې پیش دی،په خپلوټولوگناهونو باندې دې توبه او استغفاروکړئ،اوپه کوموکوموخلکوچې موالزام لگولی وي،دهغوی په حق کې دالزام سره دمغفرت دعاوکړئ اودالله تعالی په دربار کې عرض وکړئ چې:"یاالله! دکوموکوموخلکوچې ماحق تلفي کړې ده،هغوی ته زمادطرف نه بدله ورکړې اوهغوی زماڅخه راضي کړې، هغه هم په خپل رحمت سره معاف کړې."که تاسودا خپل روزانه معمول جوړکړ نودالله په رحمت سره امیددی چې ستاسودگناهونو بوج به سپک شي اوستاسوسره به دمعافي معامله وفرمایي[۱].

الله تعالی دې موږ ټولوته دخپل حساب ورځ مخامخ ایښودو توفیق راکړي!

...بقیه د تیرمخ]... ویأتی قدشتم هذا وقذف هذا وأکل مال هذا وسفك دم هذا وضرب هذا فیعطی هذا من حسناته وهذا من حسناته، فإن فنیت حسناته قبل أن یقضی ما علیه أخذ من خطایاهم فطرحت علیه ثم طرح فی النار (مشکوة ص: ۴۳۵، باب الظلم، الفصل الأوّل)۔

[۱] وعن أبی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کان له مظلمة لأخیه من عرضه أو شیء فلیتحلله منه الیوم قبل ان لا یکون دینار ولا درهم ان کان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمة وان لم یکن له حسنات اخذ من سیئات صاحبه فحمل علیه (مشکوة ص: ۴۳۵، باب الظلم، الفصل الأوّل) أیضًا: فإن عجز عن ذالك كله بأن كان صاحب الغیبة میتًا أو غائبًا مثلًا فلیستغفرالله تعالی والمرجو من فضله أن یرضی خصماءه فإنه جواد کریم (ارشادالساری ص: ۳ طبع دارالفکر، بیروت، لبنان)۔

حرامه ګټه په خپلو دوستانو خرچ کول

سوال: که انسان په حقه حلال اومحنت سره مال وګټي اوجائزدولت په خپل محنت سره وګټي نوآیادا آمدنی شرعي طورباندې جائزه شوه؟ خوکه انسان په ناجائزه، غلاګانو، ډاکو، رشوت او په غلطوطریقوسره مالداره جوړشي نوآیادهغه دبچیو پرورش، دهغه د مور او پلار پالنه، دهغه دښځې اخراجات آیاداټول ناجائز شول؟ اومولاناصاحب! آیاناجائزآمدني یوازې په غلطوکارونوکې به خرچ کیږي؟ آیاناجائزه او درشوت په آمدني سره حج نه کیږي؟

جواب: کوم سړی چې په ناجائزه طریقې سره دولت پیداکوي، مثلاً: غلا، ډاکه، رشوت وغیره، هغه مالداره نه، بلکې غریب او فقیر دی، دقیامت په ورځ به یوه یوه روپۍ هغه ادا کوي، اود قیامت په ورځ دخلکودګناهونوانباربه خپل ځان له پاره انبارکړي دوزخ ته به ځي.[۱]

۲: ظاهره ده چې حرامه آمدني چرته چې خرچ کړل شي هغه به ناجائز وي[۲]، که هغه په خپل موراو پلار خرچ کړي یایې په ښځه بچو باندې، داسړی هرچاباندې حرام خوري.

۳: تجربه هم دا ده چې حرامه آمدني په حرامه لارباندې ځي، اودقیامت په ورځ به دځان وبال جوړه شي.

۴: په حرامه آمدني کې ورکړل شوې صدقه، خیرات اوحج نه قبلیږي[۳]. په حرام آمدني سره صدقه کول داسې دی چې په خپل بدن اوکپړو باندې ګندګي ولګوې اودیو بزرګ زیارت کولو له پاره دهغه کورته لاړشې.

دګډا اوسندروپه اړه د وزیرخارجه غلطه فتوا

سوال: وزیرخارجه سردار آصف علي په استریلیاکې یوه فتوا ورکړې وه چې ګډا، سندرې، رقص، په اسلام کې جائزدي، آیا تاسو داسلامي شریعت په رڼاکې دسردار آصف په دې فتوا

---

[۱] أیضًا پورتنۍ حواله۔

[۲] عن عبدالله بن مسعود عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لایکسب عبد مال حرام فیتصدق منه فیقبل منه ولا ینفق منه فیبارك له فیه ولا یترکه خلف ظهره إلّا کان زاده إلی النار، إن الله لا یمحوا السیئ بالسیئ ولکن یمحوالسیئ بالحسنان ان الخبیث لا یمحوا الخبیث رواه أحمد وکذا فی شرح السّنّة (مشکوة ص: ۲۴۲، باب الکسب وطلب الحلال)۔

[۳] عن أبي هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن الله طیب لایقبل إلا طیبًا، وان الله أمرالمؤمنین ما امربه المرسلین، فقال: یأیها الرسل کلوا من طیبت واعملوا صلحا، وقال تعالی:)یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا کُلُوا مِنْ طَیِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاکُمْ، ثم ذکرالرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمدّ یدیه إلی السماء: یارَبِّ! یارَبِّ! ومطعمه حرام، ومشربه حرام، وملبسه حرام، وغذی بالحرام، فأنّی یستجاب لذالك رواه مسلم (مشکوة ص: ۲۴۱، باب الکسب وطلب الحلال) بلکه دثواب په نیت داسې کول کفردی ولی المحیط من تصدق علی فقیر شیئًامن الحرام یرجوا الثواب کفر ...إلخ (شرح فقه الأکبر ص: ۲۳۳ طبع دهلی مجتبائی)۔

باندې بحث کولی شئ؟ آیا دیو اسلامی ملک دوزیرخارجه دافتوا دمحمد ﷺ دشریعت خلاف نه ده؟ دمحمد ﷺ دشریعت مطابق څه سزا وزیرخارجه ته ورکول پکاردي؟ جواب ریښتیا اوصحیح راکړئ ځکه چې دمحمد ﷺ په اسلامی شریعت کې په تاسوهم مکمل ذمه واري عائد کېږي،او جواب واضح راکړئ،ویریږئ مه ځکه چې الله تعالی دحق او انصاف سره دی.

جواب: سردار آصف احمدعلي خو"سردار" دی،مفتی خو نه دی چې دهغه په فتوا باندې ... وکړل شي. غلطه فتوا که دوزیرخارجه وي یادهغه نه هم دغټ وزیر،غلطه ده.اوکه په ملک کې اسلامي شریعت نافذوي نودکمې نه کمه سزا داده چې هغه سړی دې دهرې سرکاری عهدې نه نااهل وګرځول شي.

السلام علیکم پاکستان ویل

نن سبا یومقامی ریډیوچینل دی چې دهغې نشریات دمغربي تهذیب اوکلچرپه تقلید ۲۴ګنټې شروع وي،دمخلوطو ټیلیفونونوپه ذریعه فحاشي ته ترقی ورکول کیږي، بلکې بل طرف ته دمال اسراف هم کیږي.

ټوله شپه ښځې سړیو کمپیروسره په فون باندې خبرې کوي اوپه جواب کې سړي کمپیئراظهارد شعرونوأوګانوپه ذریعه کوي،دې پروګرام ته هرټیلیفون کونکی اول، ،السلام علیکم پاکستان،، وایي،په جواب ورته هم وعلیکم السلام پاکستان ویل کیږي،یعنې دجنت دکلام ،،السلام علیکم،،دلته خومره بې ادبي کیږي اوپه ځینې ټې وي پروګرامونوکې پنجابي تهذیب ښکاره کوي اوکلیوال ماحول پکې پیش کیږي،په کوم کې چې راتلونکو میلمنوته کوربانه وایي،،بسمیلیان،،بسمیلیان.دپورتنوګزارشاتونه پس زماپه ذهن کې څوسوالونه پیداکیږي:

۱: ایا ،،السلام علیکم،،سره څه بل لفظ یوځای کول یعنې،،السلام علیکم پاکستان،،ویل جائزدي؟ ۲: ایاښځې په ټیلیفون باندې غیرمحرم سره بې تکلفه خبرې کولی شي؟

۳: دبسم الله په ځای کوم خلک چې(نعوذبالله)،،بسمیلیان،،وایي ددې څه مطلب دی؟اوکوم خلک چې دقران کریم ایتونوګډوډاسې وایي ددې په باره کې قران اوحدیث څه فیصله کړې ده؟

جواب: کوم خلک چې په پاکستان کې فحاشي خوروي،دمرګ نه پس به په عذاب قبرکې راګیر وي[1]، اوددوی سره به ددوی حکمرانان هم رانیول کیږي،ځکه چې داملک دفحاشۍ اډې له پاره نه و جوړ شوی ،بلکې دقران اوسنت حکمراني جاری کولوله پاره جوړ شوی و.

۱: السلام علیکم،دمسلمانانوشعاردی[2]،لیکن ددې داقسمه استعمال دشعاربې حرمتي ده.

---

[1] إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ (النور:۱۹)۔

[2] عن عبدالله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم: ..[بقیه په راروانه صفحه.

۲ دښځو نامحرمه سرپوسره بې تکلفه خبرې کول حرام او ناجائز دي ،الله تعالى ددوى اوازهم پرده جوړه کوړې ده اوپه قران کريم کې يې فرمايلي دي :فلاتخضعن بالقول..[۱] يعنى د خبرو کولوپه وخت کې ستاسوپه ژبوکې نرم والى راتلل پکارنه دي،ددې وجې نه داسړي اوښځې ګناهګارديي اودوى ته دالله تعالى په وړاندې استغفارکول پکاردي اوددې کارنه منع کيدل پکاردي،ګنى دمرګ نه پس به دوى ته سخت عذاب ورکړل شي،چې ليدونکي به ترې هم ترس وخوري

۳ دابسمليان، ،مهمل لفظ دى،اوداپنجابي تهذيب نه دى،بلکې دداسې کونکودزړه بيماري ده.

❖ فلم کتل ❖

ريډيو اوټيلي ويژن ددينې مقاصدوله پاره استعمالول

سوال: جنابِ عالي! ريډيو،ټيلي ويژن او وي سي آر هغه آلات دي چې دا سندرو ويلو اود تصويرونو دنمائش له پاره جوړشوي دي،اودهمدې غلطومقصدونوله پاره مستقل طورباندې استعماليږي

(څنګه چې مشاهده ده) خوددې سره سره مذهبي پروګرامونه په نوم سره مختصر وختونونوله پاره دقرآن پاک تلاوت،تفسير،حديث،اذان،درس وغيره هم پيش کيږي،سوال دادې چې:

۱_آيا ددې آلاتو مروجه استعمال جائز دى؟۲_آياداسې دقرآن،حديث او ددينې شعائرو تقدس نه مجروح کيږي؟

سوال: آيا په يو اسلامى ملک کې"مذهبى پروګرام" او نور پروګرامونه يا"مذهبى امور" اود نورو امورو تفريق،داسلام دتصور حيات نفې نه ده،چې دهغو ټولو پروګرامونه او ټول امور مذهبي او ديني دي اودانساني ژوندیوه شعبه ياکارددين نه بهرنه دى؟

جواب: کوم آلات چې دلهوا ولعب(فضولياتو) له پاره موضوع دي،هغه ددينې مقصدونوله پاره

...بقيه د تيرمخ].. أى الإسلام خير؟ قال: تطعم الطعام، وتقرئ السلام على من عرفت ومن لم تعرف متفق عليه وعن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم .... لا تدخلون الجنّة حتّى تؤمنوا ولاتؤمنوا حتّى تحابّوا، أولا أدلّكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ افشوا السلام بينكم رواه مسلم (مشكوة ص: ۳۹۷، باب السلام، الفصل الأوّل)_

[۱] فلا تَخضَعْنَ بالْقوْل، قال السدى وغيره : يعنى بذالك ترقيق الكلام إذا خاطبن الرجال، ولهذا قال تعالى: فَيَطْمَعَ الَّذي فِي قَلْبه مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَعْرُوفاً قال ابن زيد قولا حسنًاجميلا معروفًا فى الخير، ومعنى هذا أنها تخاطب الأجانب بكلام ليس فيه ترخيم اى لا تخاطب المرأة الأجانب كماتخاطب زوجها (تفسيرابن كثير ج: ۵ ص: ۱۶۸)_

استعمالول د دین بې عزتی ده، ځکه ځینې علماء خو په ریډیو باندی تلاوت هم منع فرمایي، خو ما د ریډیو په باره کې داسې سختی نه ده ښودلې، زه د جائزو شیانو له پاره د دې استعمال جائز ګڼم. خو(تې وي)، او د هغه ذریت مطلقاً حرام ګڼم.[1]

ټي وي ساتل ولې جائز نه دي حالا نکې دا د ښو پروګرامونو له پاره استعمالیږي؟

سوال: داخل ۲۰ ربیع الثانی ۱۴۱۴هجری بمطابق ۸اکتوبر۱۹۹۳اخبارلوستلو په دوران کې د،،مسبوق لمونځ،،په باره کې دسوال په جواب تاسو لیکلي و چې تي وي يو لعنت دی،،
په دې باره کې زما ګزارشات وته تاسو لږ شان توجه وفرمایئ او ماته اجازه راکړئ چې زۀ ځۀ ګزارشات پیش کړم، چې زما په ناقص عقل کې کوم نوی خیالات راروان دي د هغو تسلي وشي، زۀ د اسلامی شعائرو پابندي کولو والا یو حقیر انسان یم، زما دا خیال راځي چې دحج دا دا کولو په دوران کې دحج دا دا کولو کومې طریقې په ټي وي باندې د کتو موقع ملاویږي، دټی وی په ذریعه دخانه کعبې زیارت دزیات نه زیات مسلمانانو ته نصیب کیږي، دټي وي په مددسره دقران پاک په تلاوت کې قاري صاحبان دالفاظو په ادائیګي سره سره دالفاظو شناخت هم کوي، چې دهغې په وجې سره ټي وي کتونکی ته په خپل تلاوت کې دغلطیو په صحیح کولو کې مدد ملاویږي، دټي وي په مددسره عامو خلکوته دلمونځ دلوستلو، په لمونځ کې د اودریدلو، دتکبیرنه پس دلاس داوچتولو او بیا دلاس دصحیح تړلو صحیح طریقه ښودل کیږي، رکوع، قومه، قعده، سجده او تشهد کې دناستې صحیح طریقه باربار خلکوته ذهن نشین کیږي، خلق په لمونځ کې ولاړاکثر لاسونه خوځوي او خشوع او خضوع دماتولو حرکتونه کوي، دوی ته په سمعي او بصری طریقه بیان سره پوهول کیږي که په یو وخت کې یو عالم دین په ټي وي باندې تقریروکړي؛ نود سمعي او بصری قوتونه دکتونکوله پاره په پوهیدو کې اساني پیداکولو کې

---

[1] ودلت المسالة أن الملاهی کلها حرم، ویدخل علیهم بلا إذنهم لانکار المنکر قال ابن مسعود رضی الله عنه اللهو والغناء ینبت النفاق فی القلب کماینبت الماء النبات (قوله ودلت المسالة) لأن محمد رحمه الله تعالی أطلق إسم اللعب والغناء، قال اللعب وهواللهو حرام بالنص، قال علیه الصلاة والسلام: لهوالمؤمن باطل إلا فی ثلاث ...إلخ (ردالمحتار مع الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٤٨ کتاب الحظروالإباحة) وفیه أیضا: وکره کل لهو لقوله علیه الصلاة والسلام، کل لهو المسلم حرام إلا ثلاثة (قوله وکره کل لهو) أی کل لعب وعبث فالثلاثة بمعنی واحد، کما فی شرح التأویلات، والإطلاق شامل لنفس الفعل وإستماعه کالرقص والسخریة والتصفیق وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق، فإنها کلها مکروهة، لأنها زی الکفار وإستماع ضرب الدف والمزمار وغیرذالك حرام (ردالمحتارمع الدرالمختار ج: ٦ ص: ٣٩٥، کتاب الحظروالإباحة،فصل فی البیع)۔

مددورکوي، لهذا معلومه داشوه چې که تې وي ددين دتبليغ له پاره استعمال کړل شي؛ نو دتبليغ يوه ډيره موثره ذريعه جوړيداى شي.
بلکې زه خودد ې پروګرام جوړولوپه کوشش کې يم چې دعالم اسلامي دمرکزي تې وي نشريات وي چې دهغې په ذريعه په بين الاقوامى ژبوکې دقران پاک اواحاديث مبارکه تعليمات اوسمع ياوبصري ذريعې سره خلکوته ددنيا ګوټ ګوټ پورې ورسول شي، په مکة المکرمه کې بين الاقوامى اسلامى مرکزنه نشريات وي، اودې سره په مسلمانه دنيا کې اوغيرمسلمانه دنياکې اسلامى نشريات ورسيږي اودتبليغ کارپه ځاى دمحدودساتلوعام کړل شي، همدغه شان د اسلام تبليغي مرکزداسلام انسائيکلوپيډياتياره کړي، په بين الاقوامى ژبوکې ددې ترجمه وشي، اوتې وي په اسلامى تعليمات عام کولوکې استعمال کړل شي، نن ډېش انتينا په مدد سره خلک په کورونوکې دبين الاقوامي اداروفحش لټريچر اواخلاق سوزپروګرامونه ګوري، که اسلامي بين الاقوامى تې وي نيټ ورک سره يوپاورفل اسلامى چينل سره ذريعې سره اسلامي اخلاقيات عام کړل شي، په اسلامى اخلاقوباندې دتيارې شوې معاشرې عملي تصويرونه پيش کړل شي چې دخلکوپه زړونوکې دهغه سکون قلب دحاصلولوطرف ته کشش پيداشي اوهغوى دلچراواخلاق سوزپروګرام په ځاى داسلامى بين الاقوامى نشرياتي ادارې په ذريعه دژوندداخلاقوعملي نمونې ووينې اوداسلام پيغام کوم چې صرف سمعي ذريعې سره خوريږى دکتوپه ذريعې سره نورهم موثر کړل شي. اوددې اهم پيغام رساني په ذريعې سره داسلام پيغام عام کړل شي لهذا پورتني امور تې وي او ددې استعمال دخير اوبرکت باعث جوړولى شي.،،

جواب: ستاسوخيالات لائق قدردي، مګردانکته ستاسوپه ذهن کې پکارده چې دين اسلام دهدايت دين دى، دکوم دعوت تبليغ له پاره چې الله تعالى حضرات انبيائې کرام ﷺ مبعوث کړل، اود حضور ﷺ نه پس حضرات صحابه کرامو، حضرات تابعينو، اوائمه دين اوبزرګان دين او علماء امت دافريضه هميشه پوره کړې ده، دهدايت دخوررولوکارهم ددغه حضراتوپه نقش قدم باندې تلوسره کيداى شي، دهغوى دلارې نه علاوه په بله لاره نه، دالله تعالى لاک لاک شکردى چې نن هم ددين دتبليغ کارهم په دغه لاره باندې روان دى، دتبليغ دين له پاره دداسې ذرائعو د اختيارولو اجازت شته چې بذات خودمباح اوجائزوي دحرام اوناجائزه ذرايعو اختيارولو سره دهدايت دخوررولو کارنه شي کيداى، ځکه چې ناجائزه ذرائع په خپله شردي، دشرپه ذريعه شر خوريداى شي، دشرپه ذريعه دخيراوهدايت دخوريدوخيال هم غلط دى، دتې وي مدارپه تصوير باندې دى اوزموږ شريعت تصويرسازي حرامه ګرځولې ده اوس کوم شى چې شرعاً حرام وي؛ نوهغه دهدايت دخوررولوذريعه څنګه جوړيداى شي؟دې سره خوګمراهي ته ترقى ملاويداى شي، خو که تاسوغواړئ چې ددې په ذريعه دخلکوپه زړونوکې ايمان او هدايت ښکته کړئ نو دا صرف يوخيال دى.

په زرګونو خلک په تې وي باندې ديني پروګرامونه ګوري.خو په هغوی کې به درته يوکس هم داسې ملاونه شي چاچې په تی وی باندې کتوسره ايمان زده کړی وي اوهغهٔ دګناهونونه توبه کړې وي اونيک اوپاک ژوندې اختيارکړی وي،هوابې شميره خلک داسې شته چې دتې وي په کتوسره بې لارې شوي دي اودهغوی دننه دايمان کومه لړه شان برخه چې پاتې وه دهغې نه يې هم لاس ونيځلی دی،که تاسو هرڅومره مثالونه راکړئ ليکن دتې وي مثال غلط دی، ما درته ويلي دي چې تې وي دتصوير دوجې نه نجس العين دی.ددې وجې نه ستاسو دا وينا چې تې وي بدنه دی،،غلطه ده.دخنزير استعمال که تاسوښه کوئ بهرحال هغه نجس العين دی. دهغه دښه استعمال سوال نه پيداکيږي.

غرض داچې ويلوسره چې تاسوکومه نتيجه ويستلې ده هغه هم غلطه ده.ځکه چې ستاسودا نظريه "چې هيڅ شی هم بذات خود ښه يا بد نه وي" غلطه ده.زماداويناده چې کوم شريعت حرام ګرځولي دي هغه په خپله هم بددي اوهغه دڅه ښيګړې له پاره استعمالول زيات بددي. تاسو ددې اصل مقررولووخت کې داخبره په ذهن کې وه چې زموږ دين ددنياهيڅ يوشی هم بذات خودنه ښه ګرځولی دی اونه بد ،حالانکې داخبره صريحاً غلطه ده.شريعت ټول شيان په دريوبرخو تقسيم کړي دي چې څه شيان بذات خودښه دي،څه شيان بذات خودبددي اوڅه شيان بذات خودنه ښه دی اونه بددی.ستاسودا اصل په دريم قسم باندې جاری کيږي چې دداسې شي استعمال ښه وی نوهغه ښه اوکه بدوي نوهغه بدوي، خو کوم شی چې بذات خود بد وي، نجس العين وي،حرام وي،دهغه ښه والی اوبدوالی دهغه په استعمال باندې موقوف نه دی ،که دده بداستعمال وي نوهم بددی اوکه بالفرض ښه استعمال يې وي نوهم بددی،تې وي نجس العين دی،ددې بداستعمال هم بددی اوددې ښه استعمال هم بددی،بلکې بد بدتردی،اودين ددې ګندګي سره ملوث کول په خپله يوجرم دی.

د حضورپاک ﷺ په ژوند فلم - يهودي سازش

سوال: زمايودوست محترم ذيودوست په کورکې ټيلی ويژن باندې دوي سي آر په ذريعه دامريکې جوړشوی يوفلم"(M)essage"چې اُردو معنايې "پيغام" ده،وکوت،اودهغه فلم تعريف يې راته په دفترکې وکړ،په اصل کې هغه فلم دحضورپاک ﷺ دزمانې متعلق و اودهجرت نه وروسته واقعات يې پکې قلم بندکړي و،په هغې کې يې داښودلي وو چې داسلام په اشاعت کې څومره سختۍ مخې ته راغلې وې،دمسجدقباتعمير،حضرت بلال حبشی رضی الله عنه يې په اذان کولو سره ښودلی و،دحضرت حمزه رضی الله عنه کردار هم يو عيسايي اداکار پکې کړی،دټولونه بده خبره دا ده چې په دې فلم کې يې دحضورپاک ﷺ د سوري مبارک پورې هرڅه ښودلي،يعنې دادمسجد قبا تعميرکيږي اوهغه سوری خښتنه اوچتوي،غرض ددې دظاهرولوکوشش يې کړی چې په دې فلم کې (نعوذبالله) دحضورپاک ﷺ تصورمبارک دی،زما محترم دوست دې

ته يوتبليغي فلم ويلو.ويل يې چې په دې کې مسلمانانوباندې ظلم او ستم ښودل شوی او ډيرښه منظرونه يې پکې ښودلي دي. ددې غرض يې تعريف کړی دی،خوچې ماکله واوريدل نوخفه شوم،مافوراً وويل چې داسې فلمونه مسلمانانوته چرې هم کتل نه دي پکار،بلکې دداسې فلمونوبائيکاټ دې وکړي. دمسلمانانوايمان څومره کمزوری شوی دی،ددومره غټو غټو هستيواوصحابه کرامو رضي الله عنهم کردار زناکاره شرابيانوعيسايانو اداکارانو ادا کړی اويته نشته دکوم ناپاکه سوري يې دحضور پاک صلی الله علیه وسلم دسوري سره تشبيهه ورکړې،څومره دافسوس خبره ده. تاسوته درخواست دی چې آياداسې فلم ښودل پکاردي؟ اوکه نه نو کوموخلقوچې دافلم کتلی دی هغوی ته توبه استغفارکول پکار دي،دخدای له پاره! ددې جواب ضرور په اخبارکې ورکړئ او کتونکوته ددې څه سزاورکول پکاردي؟

جواب: دحضورپاک صلی الله علیه وسلم په ژوندباندې فلم جوړول،په اسلام او مسلمانانوپورې دبدترينې خندا کولو مترادف دي،دامت علماء کرامو په دې باندې سخت احتجاج کړی دی او حساس مسلمان دا داسلام خلاف يو يهودی سازش تصورکوي،دداسې فلمونوکتل گناه ده اوددې بائيکاټ کول فرض دي.[1]

د "فجراسلام" په نامه فلم کتل څنګه دي؟

سوال: يوڅوکاله مخکې پاکستان ته يو فلم راغلی و "فجراسلام" په هغه کې دحضورپاک صلی الله علیه وسلم دزمانې نه مخکې دانسانانودګمراهي اوجهالت دور ښودل شوی و،اودافلم يومسلمان ملک جوړکړی و،چې په هغه کې يې دمختلفو اشارو په ذريعه د ډيرو مقدسو هستيو نشاندهي کړې وه،اوهغه په پاکستان کې دبزنس ريکارډ مات کړی و،آياداسې فلم ديومسلمان ملک له پاره جوړول اويومسلمان ته ښودل جائزدي؟ اوچې يوغيرملکي ملک داسې فلم جوړوي؛ نو پوره اسلامي دنيادهغه مذمت کوي اوچې کله موږ مسلمان داسې حرکت کوو نوداشيان موږ سره څومره حده پورې ښايي؟ داسوال ځکه اهم يې چې د يو امريکايي فلم "(M)essage" په باره کې مې ستاسودکالم په باره کې کتلي و، ځکه زه دَمخکې درج شوي "فجراسلام" په باره کې هم دپوښتنې کولو جرات کوم اوکيدای شي چې په دې دواړو فلمونوکې څه بُنيادي فرق وي، چې زه په هغه باندې پوهيدونه يې وسه يم،نوستاسوبه ډيره مهرباني وي چې ددې

---

[1] عن أبي سعيد الخدرى رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من رأى منكم منكرًا فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذالك أضعف الإيمان (مشكوة ص: ٤٣٦، باب الأمربالمعروف، الفصل الأوّل) وفى المرقاة: وقدقال بعض علمائنا الأمرالأول للأمراء والثانى للعلماء، والثالث لعامة المؤمنين .... ثم إعلم إنه إذاكان المنكرحرامًا وجب الزجرعنه (مرقاة شرح مشكوة ج: ٥ ص: ٣، باب الأمر بالمعروف،طبع بمبئ)۔

وضاحت ضرور وکړئ چې زموږ اصلاح وشي.
جواب: په "فجراسلام" فلم باندې علماء کرامو سخت احتجاج کړی او دایې د اسلام او حضور پاک ﷺ خلاف یو سازش ګرځولی دی، خو په دې څه وکړل شي چې نن اسلام، په اسلامي ملکونو کې د ټولونه زیات مظلوم دی، الله تعالی دې حکمرانانو ته د دین پوهه نصیب کړي، آمین!

په ټي وي د حج فلم کتل هم جائز نه دي

سوال: مخکې ورځو کې په ټي وي باندې د "حج فلم" وښودل شو، چې هغه ډیرو خلکو وکوت، په اسلام کې براه راست د فلم څه حیثیت دی؟ یو سړی وایي چې ویډیو فلم هر رنګ جائز دی، ځکه چې دا د سائنس ایجاد دی او د ترقۍ نښانه ده، لهذا په استعمال کې راوستل کیدای شي، په دې شرط چې په هغه کې ښځه نه وي، آیا د هغه دا خیال صحیح دی؟
جواب: کوم سړی چې ټي وي او ویډیو فلم ته جائز وایي، هغه خو بالکل غلط وایي، په شریعت کې تصویر مطلقاً حرام دی[1]، که د دقیانوسي زمانې د خلکو د لاس جوړ کړی ولې نه وي، یا جدید سائنسي طریقې دا ایجاد کړی وي، تر کومې پورې چې د "حج د فلم" تعلق دی، د هغه جوړولو والا هم ګناه ګاردي او کتونکي هم، دواړو ته به د عذاب او لعنت پوره پوره برخه ملاویږي، په دنیا کې خو ورته ملاویږي، د آخرت انتظار دې کوي ---------!

,, اسلامي فلم ،، کتل

سوال: مونږ د پوسټل کالوني سائټ کراچۍ او سیدونکي یوه اهمه مسئله په اسلامي رڼا سره حل کول غواړو، عرض دا دی چې په انګریزي ژبه کې په اسلامي موضوعانو باندې د جوړ شوي فلم په باره کې معلومول غواړم، په هغه فلم کې حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمرفاروق، حضرت امیرحمزه، حضرت بلال حبشي رضی الله عنهم او د حضور پاک ﷺ د اوښې مبارکې آواز هم مختصر طور باندې اوریدل کیږي، مسئله دا پیښه ده چې آیا د یو اسلامي فلم حیثیت سره دا فلم کتل جائز دي یا دا چې موږ د دې فلم په کتلو د ګناه مرتکب شوي یو؟
جواب: دا فلم "اسلامی فلم" نه دی، بلکې د اسلام او اکابر اسلام پورې د خنداکولو مترادف دی، د هغه کتل کبیره ګناه ده.[2]

---

[1] عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: أشدالناس عذابًا عندالله المصوّرون (مشکوة ص: ۳۸۵، کتاب الأداب، باب التصاویر) وظاهر کلام النووی فی شرح مسلم الإجماع علی تحریم تصویرالحیوان، وقال وسواء صنعه لمایمتهن، أولغیره فصنعته حرام بکل حال، لأن فیه مضاهاة لخلق الله تعالی (ردالمحتار ج: ۱ ص: ٦٤٧، باب مکروهات الصلاة)_

[2] عن جابررضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الغناء ینبت النفاق فی القلب کماینبت الماء الزرع (مشکوة ص: ٤۱۱، باب البیان والشعر) وفی المرقاة: قال النووی: ..[بقیه په راروانه صفحه.

په ټي وي هم فلم کتل جائز نه دي

سوال: موږ دلته په قطر کې کار کوو او کله چې د کارنه فارغیږو نو بیا په خپل کورکې ټیلي ویژن ګورو، چې هغه موږ ټول دوستان په شریکه ګورو، زموږ په دوستانو کې کافي خلک داسې دي چې هغه حاجیان دي، اوځینو دوه ځله حج کړی دی، اوځینې دجومات امامان هم دي، داټول حضرات ما سره پنځه بجې ټي وي ته کیني او دشپې دولس (۱۲) بجو پورې دټي وي نه مزې اخلي او دلچسپ خبره دا ده چې دلته تقریباً ټول پروګرامونه په عربۍ او انګریزي کې وي او په هغو حضراتو کې یو هم په هغه ژبه باندې نه پوهیږي، ظاهره ده ددې نه دهغوی مراد پروګرام باندې پوهیدل نه، بلکې دهغه اداکارانې کتل وي، چې هغه یو ه ګناه ده، زموږ چې کوم دوستان سینماته ځي نو داحاجي صاحبان او مولوی صاحبان هغوی دفلم تلو نه منع کوي، او هغوی ته وايي چې "فلم کتل ګناه ده" او چې کله یو فلم په ټي وي باندې وي نو دا خلک دټولونه مخکې په ټي وي باندې فلم کتلو له پاره کیني، تاسو موږ ته دا ووایئ چې آیاټي وي کتل، دداسې پرهیزګارانو له پاره درست دي؟ آیا په ټي وي او فلم کې هیڅ فرق نشته؟ او آیا دهغوی ددعوی مطابق فلم کتل ګناه ده او په ټي وي کې هماغه فلم کتل ګناه نه ده؟ ددې سوالونو جوابونه راکړئ او دشکریې موقع راکړئ، والسلام.

جواب: په ټي وي باندې هم فلم کتل جائز نه دي، په ټي وي او نه د سینما په فلم کې څه بُنیادي فرق نه شته، ددواړو په مینځ کې دفرق مثال داسې دی چې څنګه یو سړی ګنده بازارته لاړشي او بدکاري وکړي، او دویم یوه فاحشه خپل کورته راوغواړي او بدکاری ورسره وکړي، ځکه ټولو مسلمانانو ته ددې ګندګي نه پرهیزکول پکار دي.[1]

په ټي وي کې دښځو شکل او صورت کتل

سوال: آیا په ټي وي کې هم دښځو شکل او صورت کتل ګناه ده؟ ما په یوې رسالې کې لوستلي و چې نامحرمو ښځوته کتل او دهغې عادتي کیدل ډیره غټه ګناه ده، دمرګ په وخت به دې انجام ښه نه وي، آیاددې اطلاق په ټي وي باندې هم کیږي؟

جواب: ټي وي کتل جائز نه دي، په دې کې نامحرم ښځوته کتل ګناه ده.[2]

...بقیه د تیرمخ]... فى الروضة: غناء الإنسان بمجرد صوته مكروه، وسماعه مكروه، وإن كان سماعه من الأجنبية كان أشد كراهة، والغناء بآلات المطربة هو شعار شاربي الخمر كالعود والطنبور والصنج والمعازف وسائر الأوثار حرام (مرقاة المفاتيح، كتاب الأداب ج: ۷ ص: ۵۵۷، ۵۵۸، طبع إمداديه)۔

[1] تیرې شوی دوه حاشیې وګورئ...!۔

[2] ایضاً۔

په ټي وي او ريډيو باندې ښه تقريرونه اوريدل

سوال: زمونږ دومره شوق شوی دی چې موږچېرته هم ښه بيان کيږي هلته ځان رسوو، ان تردې چې په يوويډيو کيسټ باندې هم ديوعالم بيان ښه وي؛ نوورته کينواوروېې اوخاص کرد جمعې په ورځ په ټي وي چې کوم پروګرامونه راځي، هغه هم اورو، خومونږته چاوويل چې دا جائزنه دي، لهذازه تاسوته درخواست کوم چې وواييئ داجائزدي اوکه نه؟

جواب: زمونږ په شريعت کې دجاندار(سه لرونکي) تصويرحرام دی، اوحضور پاک ﷺ په دې باندې لعنت فرمايلی دی[۱]، په ټيلي ويژن او ويډيو فلمونوکې تصويروي، کوم شی چې حضورپاک ﷺ حرام او ملعون وفرمايي، دهغه دجواز سوال هم نه پيداکيږي، داسوال بالکل فضول دی، که څوک د اُم الخبائث(شرابو) په باره کې ووايي چې دادنيکومقصدونوله پاره استعماليږي نوبالکل فضول خبره ده، زمونږ په دور کې ټي وي او ريډيو د "اُم الخبائث" درجه لري او دا دبې شميره خبائثو سرچينه ده.

دحضورپاک ﷺ په باره کې جوړشوی فلم کتل

سوال: وي سي آر په لوموړي ځل ګندګی خوره کړې ده، اوس معلومه شوې ده چې په وي سي آر باندې په ملتان او ساهيوال کې هماغه فلم ښودل کيږي چې دنبی پاک ﷺ په حيات طيبه باندې جوړ دی اوپه هغه فلم باندې ټولې اسلامي دنيا دغم او غوسې اظهارکړی و او اسلامي حکومتونوېې مذمت هم کړی و، آياحکومت به په دې کې څه مثبت قدم اوچت کړي اودې شيطاني عمل ختمولو له پاره دعواموفرض نه دی؟ کوم خلک چې ددې ظلم د چلولو، ښودلو او کتلومجرمان دي، دهغوی له پاره دَحضورپاک ﷺ دشريعت څه حکم دی؟ ماپه دې سلسله کې پوره وثوق او معتبروشهادتونوسره معلومه کړې ده چې دافلم ښودل کيږي، دنورتصديق له پاره زه په خپل ځان کې نورجرات نه وينم چې داناپاکه فلم وګورم.

جواب: دحضورپاک ﷺ دذات مقدس په موضوع دفلم جوړول، ډيرزيات زړه خفه کونکی توهين دی، داسلام دښمنانانو بار بار ددې کوشش وکړ، خوغيورو مسلمانانو دهغوی دا کوشش هميشه له پاره ناکام کړ، که ستاسواطلاع صحيح ده نودا ډيردَافسوس حرکت دی، حکومت ته پکاردي چې ددې پوره نوټس واخلي اوددې مرتکبو خلکوته درسالت دتوهين په جرم سخته سزاورکول پکاردي، که حکومت دې طرف ته توجه نه کوي؛ نومسلمانانوته پکاردي چې مخکې شي اوپخپله ددې دختمولوکوشش وکړي.[۲]

---

[۱] عن أبي جحيفة عن أبيه ان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن ثمن الدم وثمن الكلب وكسب البغي ولعن أكل الربا وموكله والواشمة والمستوشمة والمصور صحيح بخاری ج: ۲ ص: ۸۸۱)۔

[۲] عن أبي سعيد الخدری رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ..[بقيه په راروانه صفحه.

ټیلي ویژن کتل څنګه دي؟

سوال: ټیلي ویژن کتل څنګه دي؟ خوپه دې دیني غوراوفکر اود تفسیرونو وغیره بیانونه هم کیږي، پاتې شوه دتصویرمسئله نو ځینې عالمان وایي چې دا عکسونه دي، څوک وایي چې تصویر ساکن (فوټو) ممانعت دې، اوداګرځي راګرځي وضاحت وکړئ.

جواب: دټیلي ویژن مدار تصویردی، اودتصویرملعون کیدل هرمسلمان ته پته ده، اویوملعون شی دیونیک کارله پاره ذریعه جوړول هم صحیح نه دي. مثلاً چې په شرابوسره څوک اودس وکړي اولمونځ اداکړی، تمام علماء کرام په دې باندې متفق دی چې عکسي تصویرونه کوم چې په کیمرې سره اخیستل کیږی دهغو حکم هم دتصویردی، که هغه متحرک وي یاساکن.[۱]

ویډیوفلم په چاره باندې قیاس کول صحیح نه دي

سوال: درمضان په دې میاشت کې داعتکاف له پاره یوې خانقاه ته لاړم، دهغې خانقاه چې کوم پیرصاحب دی، دهغه په طریق کارباندې زه دکافي عرصې نه ذکرکوم، دې ځل چې کله زه دبیعت په ارادې سره هلته لاړم نوهلته یوعجیبه منظر په کتلوکې راغی، پیرصاحب به دماسپښین او مازیګر په مینځ کښې یوه ګنټه دقرآن پاک درس ورکولو، چې دهغه ویډیوفلم به جوړیده، کله چې مادا شی ولیدو نومادبیعت اراده بدله کړه دلته خپل ځای ته په راتلوباندې ماهغه ته خط ولیکه، په هغه کې مې هغه ته ولیکل چې علماء کرام خوویډیوناجائزګڼي، هغوی په جواب کې ولیکل چې: "ویډیوفلم وی یا کلاشنکوف یاچاړه، چاقو وي، دجائزکارونوله پاره دهغو استعمال هم جائز، اود ناجائز کارونوله پاره یې استعمال هم ناجائز."

اوس تاسووفرمایئ چې ددین علماء اومفتیان صاحبان په دې سلسله کې څه فرمایي؟ آیاددین دتبلیغ له پاره ویډیوفلم استعمالول جائز دي؟ اوکه نه وي نو جواب راکړئ ځکه چې زماسره ددې یومثبت جواب وي، دهغه جواب هم تاسوته درلیږم.

...بقیه د تیرمخ].. من رأى منكم منكرًا فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذالك أضعف الإيمان (مشكوة ص: ٤٣٦، باب الأمربالمعروف، الفصل الأوّل) وفى المرقاة: وقدقال بعض علمائنا الأمرالأول للأمراء والثانى للعلماء، والثالث لعامة المؤمنين، وقيل المعنى انكارالمعصية بالقلب أضعف مراتب الإيمان لأنه إذا رأى منكرًامعلومًا من الدين بالضرورة فلم ينكره ولم كرهه ورضى به واستحسنه كان كافرًا........ ثم إعلم إنه إذاكان المنكرحرامًا وجب الزجرعنه (مرقاة شرح مشكوة ج: ٥ ص: ٣، طبع أصح المطابع بمبئ)۔

[۱] په تیرمخ حاشیه (عن عبدالله بن مسعود (رض)....الخ، اوحاشیه (عن جابر (رض)....الخ) اوګورئ.)۔

جواب: په ویډیوفلم باندې تصویرونه اخیستل کیږي اوجاندار(ساه لرونکي) تصویرحرام دی[1]. اوپه اسلامی شریعت کې دحرام اجازت نشته. ځکه داپه چاړه، چاقوباندې قیاس کول غلط دي، اودهغه پیرصاحب اجتهادناروا دی، تاسوښه وکړل چې دداسې غلط سړي نه موبیعت وانه خیست

ښځې ته د ټي وي کتلو اجازه ورکول

سوال: دیوسړی دپلارپه کورکې ټیلي ویژن دی، دکورټول خلک هریوپروګرام ګوري، خوهغه سړی ددې نه نفرت کوي، دهغه ښځه ټي وي کتلو له پاره دهغه نه اجازه غواړي، خوهغه سړی دا نه خوښوي، دټیلی ویژن پروګرام کتل څنګه دي؟

جواب: ټیلی ویژن چې په هغه کې دفحاشو تصویرونونمائش وي، او دانسان له پاره په یواعتبارسره په کې دګناه عوت دی، دهغه کتل شرعاً جائز نه دي، ځکه چې څنګه غیرمحرم ښځوته کتل جائزنه دي، همداسې دسړیوتصویرونه کتل هم جائز نه دي، لهذا جناب ته پکاردي چې خپلې ښځې ته دټي وي کتلواجازه ورنه کړي.[2]

کمپیوټراوانټرنیټ باندې دکارکولوحکم

سوال: زه دکمپیوټرشعبې سره تعلق لرم اوزمادمهي دانټرنیټ سره ده، په دي کې هرقسم پروګرامونه وي، ایاشرعي حیثیت سره ددې کاردکولواجازه شته؟

جواب: کمپیوټردنوي دورداسې ټیکنالوجي ده دکومې نه چې دګټې اونقصان دواړه کارونه اخیستل کیدای شي، ددې وجې نه ددې داستعمال اجازه شته، البته دا کوشش کول پکاردي چې ددې کوم غلط اړخونه اوبداثرات دي، هغو نه ځان محفوظ وساتل شي اوددې شعبې سره تعلق ساتل اوپکې کارکولوکې هیڅ نقصان نشته. بلکې کوشش پکاردی چې په شعبه کې خاص انټرنیټ کې زیات نه زیات داسلام په باره کې کاروکړل شي. اوداد کافرانوله پاره ازاد پرې نه ښودل شي.

---

[1] عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: أشدالناس عذابًا عندالله المصوّرون (مشکوة ص: ۳۸۵، کتاب الأداب، باب التصاویر) وظاهر کلام النووی فی شرح مسلم الإجماع علی تحریم تصویرالحیوان، وقال وسواء صنعه لمایمتهن، أولغیره فصنعته حرام بکل حال، لأن فیه مضاهاة لخلق الله تعالی (ردالمحتار ج: ۱ ص: ٦٤٧، مطلب إذا تردد الحکم بین سُنّة وبدعة)۔

[2] وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ (النور: ۳۱)۔

دویډیوکیسټ خرڅونکي ګټه ناجائز ده، اوهغه دکتونکوپه ګناه کې هم شریک دی

سوال: زماد دوکان نه چې کوم خلک فلمونه(چې هغه ځینې وخت غلط فلمونه هم وي) وړي،آیادهغوی سره به زما ګناه هم کیږي؟

جواب: هو! تاسوهم په دې ګناه کې برابر شریک یئ،او دې نه علاوه دا آمدنی هم پاکه نه ده.[۱]

سوال: ویل کیږی چې فلمونوکتلوسره معاشره خرابیږی،جینکۍ بې پردې کیږي،او واړه واړه بچي په کوڅوکې دقرآن پاک دآیاتونو په ځای نوې اومشهورې ګانې ویلوباندې په نظر راځي، اوزه اتفاق کوم چې داسې کیږي،خوآیاددې ګناه زماپه سریازماپشان نور خلک چاچې دویډیو فلمونودوکانونه په کراچۍ کې بلکې دټول ملک په ګوټ ګوټ کې خلاص کړي دي،دهغوی په سر باندې به هم وي؟ بهرحال موږخودرزق ګټلودوجې داسې کوو او زموږ مقصد رزق ګټل وي،څوک خرابول نه.

جواب: داخومخکې لیکل شوي دي چې تاسواوستاسوپشان کاروبار کولو والاپه دې ګناه کې اوپه دې ګناه سره پیداکیدونکو نورو ګناهونوکې برابرشریک یئ.پاتې شوه دا چې ستاسو مقصد ډوډۍ پیداکول دي،په معاشره کې ګندګي خورول نه ،ددې جواب مې هم مخکې لیکلی دی چې داسې رزق ګټل حلال نه دي چې په هغه سره معاشره کې خرابې پیداکیږي اوګندګي خوریږي.[۲]

په ټیلی ویژن کې کارکوونکي ټول ګناهګاردي

سوال: په ټیلی ویژن کې عام طورباندې دمیوزک او لوبوپروګرامونه ښودل کیږي، اکثر مخلوط ګانې اوپروګرامونه وي،اوددې ګناه په کارکې دټیلی ویژن مالکان هم شامل دي،ددې ګناه کفاره ممکن ده که نه؟ اوکه ده نوڅه؟

---

[۱] قال تعالى: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْأَثْمِ وَالْعُدْوَانِ (المائدة:۲) ولاتجوز الإجارة على شيء من الغناء والنوح والمزامير، والطبل، وشيء من اللهو .... لا أجر فى ذالك، وهذا كله فى قول أبي حنيفة وأبي يوسف ومحمد رحمهم الله تعالى أجمعين (عالمگيرى ج: ٤ ص: ٤٤٩، كتاب الإجارة)، قلت: وقدمناثمة معزيا للنهر أن ما قانت المعصية بعينه، يكره بيعه تحريمًا (الدرالمختار ج: ٢ ص: ٣٩١، كتاب الحظروالإباحة)۔

[۲] وعن أبي أمامة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لاتبيعوا القينات ولا تعلموهن، ولاخيرفى تجارة فيهن وثمنهن حرام (ترمذى ج: ١ ص: ٢٤١)۔

جواب: ګډاګانې او سندرې حرام دي،ټیلی ویژن کتل هم ګناه ده،ګډیدلو والا، ټیلی ویژن چلولو والا او ټیلی ویژن کتلو والا ټول ګناهګار دي،الله تعالی دې ورته نیک هدایت نصیب کړي!

د ریډیو او ټیلی ویژن په محکمو کې کار کول

سوال: څنګه چې ټولو خلکو ته پته ده چې زموږ په ملک کې ډیرې داسې ادارې دي چې د هغو وجود هم په اسلامی نقطهٔ نظر سره جائز نه دی،مثلاً: ټیلي ویژن،ریډیو وغیره،چې په هغه کې ګډاګانې، موسیقي او داسې قسمه نورشیان نشرکیږي،چې د هغو په وجه سره زما او ډیرو مسلمانانو په زړه کې به دا مسئله وي چې په دې محکمو سره به دزرګونو بلکه په لاکونو خلقو روزي وابسته ده،په دې کې به ډیرداسې خلک هم وي چې هغوی به خپل فرض ډیرپه ایمانداری او دیانت داری سره ادا کوي،نوآیا د هغو خلکو رزق چې هغه ددې ادارو سره منسلک دي،جایز دی؟ او که جائزنه وي؛ نوآیا هغه خلک ګناهګاردي؟ ځکه چې هغه خلک په دې پیسوسره دخپلو معصومو بچیو پرورش کوي،چې هغوی تراوسه په ښه اوبد کې تمیزهم نشی کولی،نوآیا هغوی هم په دې ګناه کې شریک دي او یا ټوله ګناه د هغوی په مور او پلار باندې ده؟

جواب: د ګډا او موسیقي په ګناه کیدو[1] او د هغو په ذریعه حاصل شوي روپیو په ناپاکي کې څه شک دی ----؟باقي هغه واړه بچي ترڅو پورې چې نابالغ دي،په ګناه کې شریک نه دي،بلکې په حرامې ګټې سره د پرورش وبال د هغوی په مور او پلار باندې دی.

د وي سي آر کتلو سزا څه ده؟

سوال: زموږ په معاشره کې د وي سي آر لعنت خور شوی دی،چې ورسره زموږ نوی نسل په فلمونو کتلو ډیر متاثره شوی دی، ځکه زه غواړم چې تاسو د قرآن او سنت په رڼاکې واضحه کړئ چې ددې څه سزا ده؟

جواب: ددې سزا خوپه دنیاکې ملاویږي چې نوي نسل خپل اودنورو ژوند سخت کړی دی،دآخرت عذاب ددې نه هم سخت دی ----!

ټي وي او ویډیو فلم

سوال: څه فرمایي داسلامي شریعت مفتیان او ددین علماء په دې باره کې چې د ټي وي او ویډیو کیسټ شرعي حیثیت څه دی؟ آیادا دتصویر دحیثیت نه ممنوع دی او که نه؟ په دې باره کې لاندې یوڅو ګزارشونه ستاسو په خدمت کې پیش کول غواړم:

---

[1] قال تعالی: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (لقمان: ٦)۔

۱: که تې وي مخامخ د شعاګانو په ذريعه کوم څه چې هلته کيږي هغه هم په دې کې مونږ ته ښکاري، څنګه چې کله کله دَحج پروګرامونه نشر کيږي، کوم څه چې هلته حجاج کرام کوي هغه هم په دې تې وي کې دلته ګورو، آيا هغه وخت تې د دور بين پشان نه وي؟ اوآيا که په يوې آله سره لرې آواز اوريدل جائز دي نوآيا لرې کتل جائز نه دي؟

۲: په فلم کې يوه خرابي دا ښودل کيږي چې په دې کې تصوير دی، اوتصويرحرام دی؛خود ويډيو کيسټ حقيقت دادی چې په ويډيو کيسټ کې يوشان تصويرهم نه چاپ کيږي، بلکې دهغې په ذريعه دهغو مخامخ شيانوشعاګانې ټيپ کيږي، څنګه چې آواز ټيپ کيږي، ټيپ کيدو باوجود څنګه چې دآواز څه صورت نه وي، لهذافلمي فيتواوويډيوکيسټوکې ډيرزيات فرق دی، په فلمي فيتو(کيسټو) کې خوتصويرباقاعده په نظر راځي، کوم تصويرچې په پرده غټ کړي او ښودل کيږي خوويډيوکيسټ"مقناطيسي" وي چې هغه مذکوره شعاګانې جذب کوي، بيادا جذب شوې شعاوې دتې وي سره متعلق کوي، نوتې وي هغه شعاګانې دتصويرپه شکل کې بدلې کړي او خپله آئينه کې يې ظاهروي، چونکې دا صورت متحرک او نه ايساريدونکی وي داد عامو آئينوپه صورت باندې قياس کيږي، ترڅوپورې چې دشيشې مخې ته وې په هغې کې به شکل وي، او د لرې کيدوپه صورت کې به ختم شي، داسې چې ترڅوپورې د ويډيوکيسټ رابطه دتې وي سره وی تصويربه په نظر راځي، او درابطې منقطع کيدوه سره به تصويرهم فناشي.

۳: د آئينې او تې وي ناپائيداره عکسونو ته حقيقي معناکې تصوير، تمثال، مجسمه، استيچو وغيره ويل صحيح نه دي، ځکه دَپائيدارکيدونه مخکې عکس وي، تصويرنه ملاويږي، اوچې کله داپه څه طريقې سره پائيدار کړل شي نوهماغه تصويرجوړيږي، اوس که هغه ته کتونکی تصوير ووايي نوصحيح به وي.

۴: اوداچې کله علماوو په اتفاق سره ډيرزيات واړه تصويرلکه: بټن ياد ګوتمې په غمي دتصوير استعمال ته جائز ويلي د، يخودلته په ويډيوکې خوبالکل دتصويروجودنه وي، اوپه يو طاقتور دوربين سره هم په نظر نه راځي.

۵: مخکې خبرو ته په پام سره زمانه خيال تې وي پخپله خراب يامذموم نه دی، هو! موجوده پروګرامو نظرلاندې ساتلوسره تې وي ته مذموم ويل کيږي، خوددې نه دانه لازميږي چې انسان دې تې وي نه ساتي، بلکې غلط پروګرامونه دې نه ګوري، لکه: ريډيو.

۶: داخبره دغورکولوده چې که دپاکستان مقدربه جوړشي اودلته مکمل اسلامي نظام قائم شي نوآياتې وي اوتې وي استيشن به ختم شي؟

۷: داچې دلته مونږ ته داويل کيږي چې مفتی محمود (رحمه الله) به کله کله په تې وي باندې تقريرونه اورول، آيا دهغه عمل دا نه ښايي چې هغه پخپله تې وي غلط نه ګڼي؟

۸: داچې دحجازاومصر دعلماووپه دې باره کې څه خيال دی؟

۹.مونږ ته دسائنس طالب علمان وايي چې په مونږ کې ځوک ټي وي ګوري،هغه په علمي سائنس کې زمونږ نه مخکې دی،ځکه چې په ټي وي کې جديدپروګرامونه ګوري،آيامونږ ته دَمخکې تلواجازه نشته؟

اوپه آخرکې داعرض کول ضروري ګڼم چې زماداټول بحث ټي وي خامخا جائزګڼل نه دي،بلکې ددې نوې مسئلې ټول طرفونه ستاسوپه مخکې ايښودل مې مطلب دي،که غلطي شوې وي نومعافي راته وکړئ.

جواب: کوم نکات چې تاسوپيش کړي دي،اکثراوبيشترمخکې هم مخې ته راغلي دي،ټي وي اود ويډيو فلم کيمره کومه چې تصوير اخلي هغه چې غيرمرئي وی (په نظرنه راځي)، خو تصويربهرحال محفوظ دی،اوداپه ټي وي باندې کتل کيږي اوښودل کيږي چې په لاس سره دتصويرغلط نظام په ځای په سائنسي ترقۍ کې دتصوير سازي يوه دقيقه طريقه ايجادشوې ده، خوچې شارع تصويرحرام ګرځولی دی دتصويرسازۍ طريقه چې هررنګه ايجاد شی خو تصويربه حرام وي او زماپه ناقصه خيال کې په لاس سره تصوير سازي کې هغه غلطياني نه وې چې هغه ويډيوفلم او ټي وي پيداکړي دي،دټي وي او ويډيوکيسټ په ذريعه هرکور سنيماګهر جوړشوی دی،آياداخبره په ذهن کې راځي چې شارع په لاس سره تصويرونه جوړول حرام وګرځوي،جوړوونکو ته يې ملعون او"**اشدعذاباً يوم القيامة**" ووايي اودفحاشۍ اوبې حيايۍ داطوفان چې هغه ته په عامو لفظونوکې "ټي وي" وايي،حلال اوجائز وګرځوي ---------؟

پاتې شوه دا چې په دې کې څه فائدې هم دي، نوآيا شراب اوخنزير،سوداوجواري کې فائدې نشته؟خوقرآن کريم په دې ټولوفائدو ويلو داکرښه راکاږلې ده."**وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا**" .داهم ويل کيږي چې ويډيوفلم اوټي وي سره داسلامي تبليغ کاراخيستل کيږي،زمونږ دلته په ټي وي باندې ديني پروګرامونه هم ښودل کيږي،نوآيازه په ډيرادب سره پوښتنه کولی شم چې ددې ديني پروګرامونوکتلوسره څومره غيرمسلم داسلام په دائره کې داخل شوي دي؟ څومره بيلمازه لمونځ شروع کړ؟ څومره ګناهګارانودګناه نه توبه وکړه؟ لهذا دامحض دوکه ده.دفحاشۍ داآله چې هغه دسرنه پښوپورې نجس العين اوملعونه ده،اوچې ددې جوړوونکي په دنيااوآخرت کې ملعون دي،هغه به داسلام په تبليغ کې څه کار وکړي؟ بلکې دټي وي داپروګرامونه دګمراهۍ خورولويوه مستقله ذريعه ده،شيعه ګان،مرزايي،ملحد،کميونسټ اودکچه علم والا خلک ددې ديني پروګرامونوله پاره ټي وي ګوري اوچې هرڅه دهغوی په ژبه باندې راځی وايي يې،ځوک په دوی باندې پابندي لګولووالانه شته،اوځوک په غلط اوصحيح کې دفرق کولووالانه شته.اوس دې وويل شي چې دې سره داسلام تبليغ اواشاعت کيږي اوکه داسلام ښائسته صورت مسخ کيږي -----؟

پاتې شو داسوال چې فلانی دا وايي اوداکوي،دازمونږ له پاره دجواز دليل نه دی.

فلم او د دین تبلیغ

سوال: زیارت ۲۹ اکتوبر ۱۹۸۱ء په اشاعت کې جناب کوثرنیازي صاحب لیکلي دي چې "د فلم اوتي وي په ذریعه د اسلام اشاعت کول پکار دي، او فلم اوتي وي د اسې زبردسته میډیاده چې په هر یوکورکې موجوده ده، او هر وړوکي او غټ ته یوه چسکاده. "مخکې کوثرصاحب لیکي چې "اوس هغه زمانه نه ده چې د فلم جائزیاناجائز کیدو په باره کې بحثونه وکړل شي، که موږ یې خوښوو یا نه خوښوو، په ټوله دنیاکې د ادتفریح په ډول خپل شوی دی نو آیا واقعي دا ذریعه د اسلام د عظمت له پاره استعمالیدای شي؟ مخکې لیکي چې "د حرام حلال اجاره داري حلقې به پخپله د دې عصری رجحان په مخکې بې وسه شي نو آیا مناسب به نه وي چې مسلمان ملک په ډیرې خوشحالۍ سره د فلم سازي له پاره اصلاحي او انقلابي انداز فکر اختیار کړي؟"

جواب: ستاسو په سوال کې یو څو خبرې د غور قابلې دي:

اول: جناب کوثرصاحب چې د حرام او حلال د "اجاره دارو حلقو" په لفظ سره چې کوم طنز کړی دی، که د هغوی مراد علماء کرام دي نو قابل افسوس جهل مرکب دی، ځکه چې یو شی حرام یا حلال ګرځول د الله او رسول ﷺ کار دی. د علماء کرامو قصور صرف دا دی چې هغه د الله تعالی او رسول پاک ﷺ حرامو شویو شیانو ته یوازې د خپلو نفسي خواهشاتو یا د خلکو د غلطو خواهشاتو په وجه حلال ویلو نه معذور دي. که کوثرصاحب د ا "اجاره داری" سره تعبیروي چې حضرات علماء کرام، کفر او نفاق ته اسلام ولې نه وایي؟ حرام ته حلال ولې نه وایي؟ منکراتو او خواهشاتو ته نیکي او پارسایي ولې نه وایي؟ او هر هغه خرابه ادا کومه چې په معاشره کې یورواج شروع شي، هغې ته عین صراط مستقیم ولې نه وایي---؟ نو زه جناب کوثرصاحب ته عرض کوم چې دا اجاره داري ډیره مبارکه ده، او امید دی چې د قیامت په ورځ د هغوی همدا الفاظ د شهادت په طور باندې د الله تعالی په دربارکې پیش کړل شي او دده نه هم توقع ساتم چې هغه دې د احکم الحاکمین په عدالت کې د اګواهی ضرور ورکړي (که هغه په قیامت باندې ایمان لري) چې: "یا الله! ستا دې بندګانو د حلال او حرام اجاره داري قائم کړې وه. تاسو او ستاسو رسول ﷺ چې کوم شیان حرام ګرځولي وو، موږ د زمانې د حالاتو واسطه ورکړه او هغوی ته موبار بار اپیل وکړ چې اوس دې دا شیان حلال کړل شي، خود الله تعالی دې بندګانو د چاهم ونه منله، د هغوی هم یو اصرار و چې کوم شی الله تعالی حرام ګرځولی دی، هغه به همیشه له پاره حرام وي، د قیامت پورې یو انسان هم د خدای او د رسول پاک ﷺ حرام شوی شی نشي حلالولی" چې کله کوثرصاحب د الله تعالی په دربارکې دا شهادت ورکړي: نو مونږ به وګورو چې د احکم الحاکمین فیصله د چا په حق کې کیږي؟ **وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ!**

دويم: دکوثر صاحب دا ارشاد چې: "اوس هغه زمانه نه ده چې دفلاني شي په جائزاوناجائزکې به بحثونه کيږي" په دې کيسې کتلوسره خوکم ازکم زه ډيرخفه شوم،آيايوداسې سړي سره چې دهغه په زړه کې د جوار د دانې دلسمې برخې برابرايمان هم وي،داتوقع کيداى شي چې دڅه شي شرعاً حلال ياحرام اوجائز ياناجائزکيدوبحث ته بې کاره ووايي--؟ العياذبالله! استغفرالله! اودکوثرصاحب دادليل هم عجيبه دى چې:"که موږ يې خوښوو يانه خوښوو په ټوله دنياکې دادتفريح په ډول خپل شوى دى"آياکوم شى چې په انسانيت اوشرافت او آئين اود شرع على الرغم، اودفسق اوفجارپه عامو خلکوکې خپل کړل شي هغه جائز اوحلاليږي؟ اودهغه په جائز او ناجائز باره کې به بحث کول فضول اوبې کاره وي؟ نن په ټوله دنياکې دقانون خلاف ورزي زياتيږي، کوثرصاحب ته پکاردي چې دټولې دُنياحکومتونوته مشوروركړي چې دادآئين او قانون پابندي فضول ده،هرځاى بس دځنګل په شان قانون پکاردى چې دچاپه زړه کې څه راشي کوي دې،اوچرته چې څوک وغواړي ځي دې،که مهذب حکومتونوته داسې مشوروركړل شي،نويقين دى چې دمشورې وركونکي ځائي به دماغي شفاخانه وي، څومره دحيرانتياخبره ده چې يوتعليم يافته کس،چې هغه ځان ته مسلمان وايي،خداى اورسول پاکﷺ ته دامشوره وركوي چې: "جناب! دا شلمه پيړۍ ده،په دې زماکې ستاسوحلال اوحرام ته هيڅوک نه ګوري،ځکه موږ ددې نه لرې وساتئ:"لاحولَ وَلاَ قُوةَ الاباللهِ!

دريم: فلم اوتصويرالله پاک اوحضورپاکﷺ حرام ګرځولي دي اوددې په جوړوونکو يې لعنت فرمايلى دى،دکوثرصاحب دامشوره چې داحرام اوملعون شى اسلامي عظمت له پاره استعمالول پکاردي،ددې مثال بالکل داسې دى چې يوسړى داسې مشوره وركړي چې په دې زمانه کې دسودنه خلاصې ممکن نه دى،ځکه ددې دحرام ياحلال کيدوبحث خوبې کاره دى،پکاردا و چې ټول اسلامي ملکونه دسودپه نجاست سره دې جوماتونوتعميرکړي،زه ددې په پوهيدوبې وسه يم چې آخرهغه به کوم يواسلام وي چې دهغه عظمت به ديوحرام اوملعون شي په ذريعه کامياب شي؟ چې دحلال اوحرام بحثونه په خپل ځاى پريښودل شي؛ نوبيااسلام چېرته پاتې شو،د څه چې تبليغ، اشاعت او عظمت اوسربلندى غوښتونکې ده ----؟

کوثرصاحب ته شايدپته نشته چې اسلام ته دخپل اشاعت او سربلندي له پاره ددې شيطاني آلاتوضرورت نشته،اوددې شيطاني آلاتونه چې کوم شي ترقى بيامومي هغه به اسلام درسول پاکﷺ له لورې راوړل شوى اسلام نه وي،بلکې دکوثرصاحب اوهغه د دوستانوجو شوى اسلام به وي،چې په هغه کې به نه دکفراوايمان فرق وي،نه به پکې دحلال او حرام فرق وي،نه دجائزاوناجائزسوال،نه به پکې دسړي اوښځې حدود وي،نه دنيکۍ اوبدۍ تصور،نه به داخلاص او نفاق په مينځ کې فرق وي،په داسې اسلام کې به هرڅه کيږي،خودرسول پاکﷺ اسلام به نه وي.

خلورم کوثرصاحب اسلامي ملکونوته دامشوره ورکوي چې هغوې دې په انتهايي خوشحالي سره دفلم سازي په صنعت کې اصلاحي او انقلابي تبديلي وکړي.

ترکومې پورې چې فلم کې داصلاحي او انقلابي تبديلي تعلق دی،ما مخکې ويلي دي چې درسول پاک ﷺ په نظرکې تصوير نجس العين اوملعون دی،اوامام الهندمولاناابوالکلام آزاد (رحمه الله) مورخ اسلام علامه سيدسليمان ندوی(رحمه الله) داسې شخصيتونوته هم چې هغوی په يوه زمانه کې په شدومدکې دتصويردجوازقائل وو ،دااعتراض شوی و چې په موجوده دورکې يوعکسي تصويرهم دحضورپاک ﷺ مطابق حرام او ملعون دی،نو کوم شی چې پخپله نجس دی،هغه څنګه څوک پاکولی شي؟ اوچې دهغه ماهيت بدستورباقي وي،آيامتيازې که په يوې ليبارټري کې پاکې کړل شي؛ نوهغه به پاکې شي؟

په فلمونوکې چې هرڅنګه تبديلي وکړل شي،دهغه ماهيت نه بدليږي،هو!تاسوداکولی شئ چې دهغه فحش اجزا حذف کړئ،په دې کې نسواني کرداراوچوئ،دهغه باوجودفلم،به هم فلم وي.دهغه ماهيت له پيله حرام اوملعون دی،نوهيڅ اصلاحي اوانقلابي قدم هم دادحرمت او ملعونيت نه نشي بچ کولی،هو! ددې به يو نقصان ضرور وي چې اوس خو يوعام مسلمان هم فلم ګناه ګڼي، دکوثرصاحب دَفتوی نه وروسته به ډيرکم عقل خلک به داګناه هم نه ګڼي،داسې به دفسق نه دکفر حدته ورسيږي.

اوکه ديوصاحب دا مقصدوي چې حج ،غزوات وغيره اسلامي نښوباندې دې فلم جوړکړل شي،نودادې نه هم بدترين شی دی، ځکه اسلامي نښې دتفريح اولهولعب موضوع جوړول دشعائر اسلام بې حرمتي او توهين دی،اګرچې دداسې کونکي دامقصدنه وي،اوچې هغوی ددې دپوهيدلو صلاحيت هم نه لري.

اوددې نه هم بدتره خبره داچې داسې فلمونه به کم عقل خلک دثواب کار وګڼي(څنګه چې دحج فلم خلک ډير په محبت سره ثواب اوعبادت ګڼي اوګوري يې)،دهغه سخت جرم کيدل صفا واضح دي چې کوم شی الله تعالی اودهغه رسول ﷺ دګناه کاراودالله تعالی دغضب او لعنت موجب ګرځولی و،داخلک هماغه شی عبادت او دالله تعالی درضاموجب ګڼي،دادخدای اودرسول پاک ﷺ صريح مقابله ده،اودخدای تعالی دشريعت موازي يونوی شريعت جوړولول څومره لوی جرم دی؟ په دې هرسړې پوهيږي،خلاصه داچې په فلمي صنعت کې يوهم داسې اصلاحي اوانقلابی قدم ممکن نه دی چې هغه داصنعت دالله تعالی دلعنت نه وباسي.

ترکومې پورې چې دانتهاپسندي نه دلاندې راکوزيدو دمشورې تعلق دی،مامخکې عرض کړی دی چې دحلال اوحرام اختياردامت يو سړی ته هم نه دی ورکړل شوی،اودخدای حرام کړل شوي کار ته حرام ويل انتهاپسندي نه،بلک عين ايمان دی،که دا د"شاهي تخت" دلفظ سره تعبير کول صحيح دي،نودادايمان شاهي تخت دی، او دايمان د شاهي تخت نه دلاندې راکوزيدومشوره يو مسلمان نشي ورکولی اوکوم سړی چې دلاندې راکوزيدواراده وکړي،هغه

مسلمان نشي پاتې کیدای، کوثرصاحب ته که ایمان او اسلام پکار وي، نوزه به هغه ته یوه مخلصانه مشوره ورکړم چې هغه دې پخپله دمغرب د شاهي تخت نه لاندې راکوزشي اودَخپل ایمان دَحفاظت فکردې وکړي اود خپلو کفریه کلماتونه دې توبه وکړي.

فلم کتلو له پاره روپۍ ورکول

سوال: زموږ دمحلې یوڅوهلکان دفلم له پاره پیسې جمع کوي اوموږ هغوی ته مخکې پنځه ویشت (۲۵) روپې ورکړې وې، اوموږ فلم نه و کتلی، اوس تاسوته دا درخواست دی چې دفلم له پاره پیسې ورکول هم ګناه ده، اوفلم کتل هم ګناه ده، هغوی ته به په آخرت کې څه سزاملاویږي؟ دقرآن او حدیث په رڼاکې دهغوی څه سزا ده؟ اوڅه ګناه ده؟

جواب: کومه سزا چې دفلم کتوونکو ده هماغه سزا دهغه له پاره دپیسو ورکوونکو هم ده.

❖ تصویر ❖

تصویر یو معاشرتي ناسور او د قومي اصلاح (۹) نکاتي انقلابي پروګرام

سوال: دتصویرونودحرمت په سلسله کې صحیح حدیثونه دنن سبا په دور کې څنګه منطبق کیدای شي؟د نبی علیه السلام ارشاداتو باندې عمل ولې متروک یا منسوخ شوی دی؟ آیا دا غلط دي چې دزنانه یامردانه تصویر په شناختی کارډباندې وي یاپه پاسپورټ وغیره باندې، ټول شرعي طورباندې حرام دي، خودبین الاقوامی قوانینو مطابق دتصویرفتنې نه بچ کیدل مشکل شوي دي. دضرورت په وخت یا هنګامي، اضطراری صورت کې دا دحرامو مړی به تیریږي.په صنعتی ادارو، سکول، کالج او ددیني ادارو طالب علمانو له پاره په هرحال تصویر جوړول او دشناختي کارډ وغیره اهمیت او ضروت زیاتیږي، دتصویر جوړوونکو او فوټوګرافرو غوبل، دَرنګین عکاسي شاهکار، خاص طور دځوانانو، دښائسته جینکو او د کارکن ښځو تصویرونه روزانه داخبارونو ښائست جوړیږي، دفلمي صنعت مرکزونه، سنیما، ټیلي ویژن، وي سي آر، ویډیو بلیوپرنټ وغیره د خرافاتو لعنت بیل دی، ګویا چې دپاک نظریاتی قوم مکمل طورباندې ناپاکه جوړلو منصوبه بندي په تدریجي ډول کار کوي(لاحول ولا قوة) بهرملک سیاحت، تفریح، ملازمت، تجارت یادمقدسو ځایونو دزیارت له پاره د تصویرجوړلو نه بغیر څه لار نشته ، اوس خودشریفانو دنګیاندو او لوڼو نورو ته کتل راکتل، او په نقالي کې خصوصاً د طالباتو او معلماتو د نمائش شوق هم ښکاره شوی دی، اودمسلمان عوامو نه احساسِ حرمت او دګناه نه نفرت هم ختمیږي، دملک دتقسیم په لومړیو ورځوکې د ملک کرنسۍ او پاکستانۍ سکې یوازې دستوری سپوږمۍ په نشان سره جوړې وې، پته نه لګیږي چې په وروسته راتلونکو بادشاهانو باندې څه وشو چې دشریعت مطهره واضح احکام یې نظرانداز کړل اودَ "شجرممنوعه" په شوق کې اخته شو، ځینو علماء هم دتصویرونو حرمت

نظرانداز کوي په اخبارونو کې دتصویرونو اشاعت دفخرباعث ګڼي، یوه وړوکې یاغټه جلسه، تقریب یاانټرویو پریس دفوټو ګرافرو نه بغیر ښائسته نه ښکاري. انالله واناالیه راجعون!
الحمدلله زمونږدوزیراعظم دخاندان خلکو داخباري فوټو ګرافرو په فرمائش باندې دتصویر جوړولو نه انکار کړی دی، خوپه عوامي سطح باندې دتصویر حرمت ښکاره کیږي، آیا دګمراهی ددې طوفانی سیلاب مقابله اجتماعي یا انفرادی طورباندې کیدای شي؟

جواب: د" دتصویردفتنې" نه له مبالغې پرته په سلګونو فتنوځولې خلاصې کړي دي او دقوم دَ تباه کیدو په کوشش کې دي، ترکومې پورې چې دبین الاقوامی قوانینو دمجبوري په وجه سره تصویرجوړول ناګزیر وي هغه ځای پورې خومونږ معذور ګڼل کیږو، او دا توقع کیږي چې په دې به مواخذه نه وي[1]، خوزمونږ په ځای کې خو دتصویر فتنې هغه قیامت راوستی دی چې الامان والحفیظ! داسې ښکاري چې ددې حرمت او قباحت هم د زړونو نه وتلی دی، او----- نعوذبالله------ دې ته دتقدس او احترام درجه حاصله ده، دکرنسۍ په نوټ باندې دقائداعظم د تصویرتاسوذکر وکړ، ددې نه علاوه په ټولو سرکاري او قومي ادارو کې دقائداعظم، علامه اقبال او دنورو اکابرو تصویرونه ځوړندول ګویا قومي فرض ګڼل شوي دي، ان چې د"شرعی عدالت" جج صاحبان او وکیلان او علماء په قرآن او سنت باندې د آفرین نکتې فرمائي اودجج صاحبان په سرباندې تصویر وځوړند دی، ددې نه علاوه دا چې په تیروکلونوکې زمونږ شرعي عدالت فیصله وکړه چې تصویرحلال دی"نعوذبالله من ذالک..."قیاس کن زګلستان من بهارمرا"
پاتې شو ستاسو دا سوال چې آیادګمراهی ددې طوفانی مقابله کیدای شي؟ جواب دادی چې بې شکه کیدای شي، خوشرط دا دی چې مونږ دا عهدوکړو چې مونږبه مسلمانان جوړیږو ژوند به تیروو، او دَالله تعالی په دربارکې دځپل ګناهګار ژوند نه په توبه کولو باندې راضي شو.
تاسوته به یاد وي چې کله جنرل محمدضاء الحق صاحب په لومړي ځل"اسلامي نظریاتي کونسل"قائم کړی و او په هغه کې حضرت اقدس شیخ الاسلام سید محمد یوسف بنوری(رحمه الله) یې هم نامزد کړی و، په هغه وخت حضرت بنوری(رحمه الله) جنرل صاحب په مخکې یوتجویزپیش کړی و چې"یوم توبه" دې ولمانځل شي او ټول قوم دې دځپلوټولوګناهونو نه دَالله تعالی په مخکې توبه وکړي، د"یوم توبه" اعلان وشو خو کیفیت دا و چې:
سبحه برکف، توبه برلب، دل پُر از ذوق ګناه :: معصیت راه خنده می آید بر استغفار ما
"یوم توبه" خو ولمانځل شوه، خو چادیوګناه نه دپریښودو اراده او آئنده ددې نه دمنع کیدو عهدیې ونکړ، دَمعصیت تیزطوفان په مخکې دَبنداچولو له پاره دانقلابي اقداماتو ضرورت

[1] الضرورات تبیح المحظورات (الأشباه والنظائر ج: ۱ ص: ۴۳ الفن الأوّل، طبع دارالقرآن کراچی) وفی الشرح المجلة: الضرورات تبیح المحظورات بقدرالضرورة، أی أن الأشیاء الممنوعة تعامل کالأشیاء المباحة وقت الضرورة (شرح المجلة ص: ۲۹ المادّة: ۲۱)۔

دی، خوانقلاب دنن سبا په مشهورو معناووکې نشته،بلکه دشرنه دخیر طرف ته انقلاب، د بدۍ نه دنیکۍ طرف ته انقلاب،دمعصیت نه دطاعت طرف ته انقلاب،اودکفر او نفاق نه د ایمان او اخلاص او اعمالو طرف ته انقلاب،ددې انقلاب مختصر شان خاکه وړاندې کوو.

✪ په سرکاري سطح باندې د "یوم توبه" اعلان وکړل شي او ټول قوم دې دخپلو سابقه ګناهونو نه په ریښتونې توبه وباسي او آئنده له پاره دې دَ ټولو ګناهونونه دمنع کیدو او دشرعي فرائضو دپابندۍ عزم او اراده وکړي.

✪د سخت ضرورت نه پرته دې په هرقسمه تصویرونه باندې پابندي ولګوي،ټي وي،وي سي آر او په هرقسمه فلم باندې دې پابندي ولګول شي،سنیماګانې دې په تعلیمی ادارو او ټیکنیکل کالجونو بدلې شي،کوم خلک چې دفلمی صنعت سره وابسته دي هغوی دې په داسې ادارو کې ولګول شي چې هغه دملک او قوم له پاره ګټورې وې.

✪ په نوي نسل کې دلوبو شوق ډیر زیات دی،تردې چې دنجونو دهاکي ټیمونه بین الاقوامي مقابلو له پاره تیاریږي،چې دا دیو مسلمان ملک له پاره دشرم لائق ده،حالانکې مسلمان باید لوبغاړی نه بلکې مجاهدوي،ځوانان په لوبوکې دمشغولولوپه ځای په دوی کې دجهاد شوق پیدا کړل شي او دټول قوم ځوانان دې په مجاهد فورس کې تبدیل کړل شي.

✪ دښځو بې حیایي او بې پردګي، دسړی او ښځې اختلاط او دځوانو نجونو او هلکانو مخلوط تعلیم نوی نسل بالکل ناکاره کړی دی،له مبالغې پرته نوي(۹۰) فیصده ځوانان هلکان او نجونه غیرصحت منده دي،ځکه لازمي ده چې دښځوپه بې حیایي دې پابندي ولګول شي،دکومو ښځوله پاره چې ملازمت ضروري وي دهغوی له پاره دې دپردې دملازمت انتظام وکړل شي،او دنجونوله پاره دې دبیلو تعلیمي ادارو بندوبست وکړل شي.

✪ دانعامي بون او انعامي قرعه اندازي لعنت په ټول ملک باندې خوردی،چې هغه دسود او جواري طرقي یافته شکل دی،دا دې ختم کړل شي.

✪ دبینکاري سودي نظام دې ختم کړل شي او دمضاربت په اصولو باندې کارکولو والا سرکاري او غیرسرکاري اداري دې جوړې شي،اوپه پوره دیانت او امانت سره حلال او جائزکاروبار دې وکړی، اوپه پوره ذمه دارۍ سره دَمضاربت اُصولو باندې دمنافع تقسیم دې وکړي اوهغه خلک چې پخپله کاروبار نشي کولی دهغوی له پاره د حلال رزق دګټلو حالات پیدا کړل شي.

✪ رشوت،ډاکې،غلا،سوال کول او ددې نوعیت دټولو حرامو ذریعو دې خاتمه وکړل شي. ددې له پاره دقوم دَخلکو اخلاقي او ایماني اصلاح کولو له پاره دې ددعوت او تبلیغ مؤثرنظام قائم کړل شي،چرته چې دسرکاری ملازمانو له پاره مختلف شرطونه ایښودل شوي دي،هلته یو شرط دا هم ایښودل پکاردي چې دملازم له پاره دشرعي فرائضو پابندي او د محرماتو نه اجتناب لازمي دی.

✪ په تعليمي ادارو کې ملحد ،بې دينه او بددينه استاذان دطالب علمانو داخلاقو او اعمالو په خرابولو او دوی دانسانست دحدود نه په آزادولو کې مؤثر کردار ادا کوي، د استاذانوپه انتخاب کې دې په خاص طورسره اهتمام وکړل شي چې هغه دغيرديني نظريو حامل نه وي، په يونظرياتي ملک کې تعليمي ادارې دملادهډوکي(تير) حيثيت لري،او دنوی نسل په جوړولو او تباه کولو کې دټولو نه مؤثر دتعليمي ادارو استاذان دي،ددوی نه بچ کيدل ممکن نه دي،خوځومره دحيرانتيا او تعجب خبره ده چې په اسلامي جمهوريه پاکستان کې دنوي نسل کچه ذهنونه داخلاقي ډاکوانو او بدمعاشانو په حواله شوي دي،دمعلم له پاره يوازې"ډگرې" حاصلولو شرط دي، ددين او ديانت هيڅ لحاظ نه لري.

✪ په ملک کې عدالتونه مظلوم ته دانصاف ورکولو له پاره جوړ شوي دي،خو رشوت، سفارش،او دَجانب دارۍ په وجه څومره ظلم چې په عدالتونوکې کيږي هغه ټولو ته معلوم دی،ديو غريب اوسيدونکي له پاره دانصاف حاصلولو ناممکنه پاتې شوي دي،الا ماشاء الله!

د"عدل"معناده دصحيح قانون مطابق فيصله کول، که دملک قانون غدار وي،ددې مطابق به دعدل فيصله نه وي،بلکې ظلم به وي،اوکه قانون دانصاف والاوي خوکه په فيصله کې ديو فريق رعايت وکړل شي نودا فيصله به هم ظلم وی،دا اصول مخې ته کيښودلو سره دې انصاف وکړل شي چې زموږ څومره فيصلې دعدل او انصاف مطابق کيږي -----------؟

عدالتونه په صحيح معناوکې عدالتونه جوړولو له پاره لازمي ده چې تمام غيراسلامي او غيرشرعي قوانين دې په يوقلم سره منسوخ کړل شي،او عدالتونه دې پابند کړل شي چې هغه دې هره فيصله دقرآن او سنت مطابق وکړي،دې نه علاوه دا هم لازم دي چې دعدالت په کرسۍ داسې خدای ترسه او ديانت دار منصفان کينول شي چې هغوی ته دا احساس وي چې دوی به دخپلې هريوې فيصلې حساب دقيامت په ورځ دالله تعالی په مخکې ورکوي.

دقومي اصلاح کولو دا نهه(۹) نکاتي انقلابي پروګرام دی،چې په دې باندې پوره عمل ضروري دی،او که دتساهل (سستي) نه مو کار واخيست؛ نو په دې ملک باندې چې کوم دالله تعالی دقهر توره،دبمونو،دهماکو،ډاکو،زلزلو،طوفانونو،دقحط او ګراني او په خپلو کې دانتشارپه شکل کې جاري دی،ددې انجام به ډير ګران وي اودآخرت عذاب ددې نه هم سخت دی--- الله تعالی دې زموږ حکمرانانو سره پوره قوم ته دايمان او پوهې دولت نصيب کړي،او دخپلو خوښو بندګانو په وجه دې موږ ګناهګاران دخپل قهر او عذاب نه محفوظ وساتي!

دقانوني مجبوري په وجه فوټو جوړول

سوال: تاسو ليکلي دي چې شريعت دهر يو ساه اخيستونکي فوټو جوړول حرام ګرځولي دي، خو قومي شناختي کارډ جوړولو له پاره دفوټو شرط د سرو له پاره لازمي دی،داسې د پاسپورټ جوړولو له پاره هم لازمي دی،داسې دملازمت په سلسله کې هم دفوټوضرورت وي،

سوال دا دی چې سړی د ذکرشویو وجوهاتو په وجه باندې فوټو وباسي؛ نوپه دې سلسله کې شریعت څه وايي؟ حالانکې د ذکرشویو کارونو له پاره حکومت فوټو لازمي ګرځولی دی،اوس چې په دې ملک کې الحمدلله داسلامی طرز حکومت نافذیږي نوآیاحکومت ته علماوو څه داسې تجویز هم ورکړی دی چې دفوټو وغیره استعمال دې منع وګرځول شي؟

جواب: دقانوني مجبورۍ په وجه چې کوم فوټو جوړیږي هغه دعذر په وجه دمعافي لائق کیدای شي[1] ستاسو داخیال صحیح دی چې اسلامي حکومت ته پکار دي چې دفوټو استعمال منع وګرځوي، غالباً حکومت دَیوځوظاهری فائدو په وجه باندې فوټوان ډیرو ځایونوکې لګولی دی،خواول خوچې کوم څیزشرعًا ممنوع او حضور پاک ﷺ دلعنت مؤجب ګرځولی وي[2]،دَیو څو مادي فوائد په بنیادباندې ددې ارتکاب کول دیو"اسلامی حکومت" سره نه ښايي،بل دا فوائدهم محض وهمي دي،واقعي نه دي،کله چې دا دفوټولعنت په قوم باندې مسلط نه و هغه وخت کې دومره جعل سازۍ او بې ایمانۍ نه کیدې څومره چې اوس کیږي.

په کورونوکې فوټولګول یا د فوټووالا ډبې ایښودل

سوال: په کورونوکې دخپلو بزرګانو او ځناورو فوټوان څنګه دي؟ په تفصیل سره ولیکئ.په کومو ډبو وغیره باندې چې فوټوجوړ وي(او عام طورباندې په ډیرو شیانو باندې فوټوان جوړ وي) ددې په باره کې څه حکم دی؟

جواب: په کورونوکې فوټو لګول ناجائزدي،دهریو ساه لرونکي فوټو ممنوع دی[3]په کومو ډبویاشیانو چې فوټو وي هغه ترې لرې کول پکار دي.[4]

---

[1] وفي الشرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات بقدرالضرورة، أى أن الأشياء الممنوعة تعامل كالأشياء المباحة وقت الضرورة (شرح المجلة ص: ٢٩ المادّة: ٢١، طبع حبيبيه)۔

[2] عن أبي جحيفة ان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن ثمن الدم وثمن الكلب وكسب البغى ولعن آكل الربا وموكله والواشمة والمستوشمة والمصوروف رواية المصورين (بخارى ج: ٢ ص: ٨٨١، طبع نورمحمد كتب خانه)

[3] عن على عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لاتدخل الملائكة بيتًا فيه صورة ولاكلب ولاجنب .... وفى رواية: ولا تمثال (سنن أبي داؤد ج: ٢ ص: ٢١٦ كتاب اللباس، طبع ايج ايم سعيد)۔

[4] عن جابر أن النبى صلى الله عليه وسلم أمرعمربن الخطاب زمن الفتح وهو بالبطحاء أن يأتى الكعبة فيمحو كل صورة فيها فلم يدخلها النبى صلى الله عليه وسلم حتى محيت كل صورة فيها (سنن أبي داؤد ج: ٢ ص: ٢١٦ كتاب اللباس) أيضًا: فيمحو كل صورة أى كل تمثال على صورة نبى أو ملك من الملائكة أونحوذالك مما كان نقشًا فى حائط أو له جرم أو غيرذالك مما فيه روح (بذل المجهود ج: ٥ ص: ٦٩، باب فى الصور)۔

په جوماتونو کې تصویرونه ویستل ډیره سخته ګناه ده

سوال: سږکال تراویح کې د قرآن پاک دختم په موقع باندې په یوجومات کې حافظ صاحب چې هغه هم په دې جومات کې امام هم دی او د مدرسې استاذ هم دی، دهغه سره هم دهغه شاګرد چې هغه دنائب مدرس فرض هم ادا کوي، کوموماشومانوچې په سږکال دقرآن پاک ختم کړی و، دبچیوپه مایک باندې دتلاوت په وخت دجومات دننه، منبرته نزدې یې تصویرونه ویستل شروع کړل، په منع کولو باندې نائب صدر وویل چې: "ریل حافظ صاحب ډک کړی دی، دهغه په اجازت سره تصویرونه اخلم، دا په هرځای کې وي، "مختصر دا چې باوجوددمنع کولو په ضدباندې راغی او ویې ویل چې: "زه به تصویراخلم" حافظ صاحب مایک ته راغی نودهغه ډیرتصویرونه دهرطرف نه واخیستل شو، په بله ورځ حافظ صاحب دخلکوپه اعتراض باندې په جومات کې قرآن راوړ او قسم یې وخوړ چې: " نه مونږریل ډک کړی دی، نه مې اجازه ورکړې ده، "خو دنائب مدرس نه یې هیڅ پوښتنه ونه کړه چې کم ازکم دَاعتراض کولو والاحضراتوته تسلي شوې وای.

۱. آیا حافظ صاحب ته قسم خوړل پکار و، په ټوله غونډه کې داخبره شوې وه؟.

۲. آیا په جومات کې تصویر ویستل جائز دي؟.

۳. دداسې امام اقتدا جائزده چې هغه دخپلوجامولہ پاره قسم وخوړ اودَنائب مدرس نه یې هم څه پوښتنه ونه کړه، ځکه چې هغه ویلي و چې تصویر دهغه په اجازې سره اخلم، په جومات کې کافي اختلافات زیات شوي دي.

جواب: تصویر جوړول خصوصاً جومات ددې ګندګي سره ملوث کول حرام او سخته ګناه ده[1] که دا حضرات ددې نه دعلانیه توبې اعلان وکړي اودخپلې غلطۍ اقراروکړي اودالله تعالی نه معافي وغواړي؛ نو صحیح ده، ګینې دا صاحب دې دامامت او تدریس نه لرې کړل شي، ده پسې لمونځ ناجائز او مکروه تحریمي دی.[2]

دپلار یا بل چا دتصویرکیښودو ګناه دچا وی؟

سوال: که څوک په کورکې دپلار، نیکه یا دیوخپلوان تصویر په فریم کې ولګوي په میزیې کیږدي نودتصویر ایښودلو ګناه به دکیښودنکي وي یا دپلار، نیکه چې هغوی ددې دنیانه

---

[1] عن عبدالله بن مسعود قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أشدالناس عذابًا عندالله المصوررون (مشكوة ص: ۳۸۵، باب التصاوير، الفصل الأوّل، طبع قديمى)۔

[2] ولو أم قومًا وهم له كارهون إن الكراهة لفساد فيه أو لأنهم أحق بالإمامةمنه كره له ذالك تحريمًا ...إلخ (درمختار، باب الإمامة ج: ۱ ص: ۵۵۹،، طبع ايچ ايم سعيد)۔

رخصت شوي دي،هغوی هم دديْ گناه لاندې راغلي دي؟

جواب: كه دپلار نيكه په ژوند كې تصويرلگيدلی وي او منع يې نه وي كړې نوددې گناه دلاندې هغه هم راغلي دي،اوكه دهغه په ژوند كې داحرام كار نه و،اونه هغه دكولواجازه وركړې وه،نوپه هغه باندې هيڅ گناه نشته،ايښودونكی خپل آخرت بربادوي.[1]

د تصوير جوړولو له پاره دچا عمل حجت نه دی

سوال: په دورحاضركې داخبارونو مطالعه كول ضروري دي،په ټولو اخبارونو كې دتصويرونو شائع كيدل يو معمول جوړ شوی دی،دپيوپه ډبوباندې،دبسكټوپه ډبوباندې او دَ دوايي په پيكټونو باندې تصويرونه موجودي،ددې نه علاوه په شناختی كارډ او پاسپورټ وغيره له پاره دَفوټو ويستلو ضرورت دی،ستاسوبه ډيره مهرباني وي كه په دې سلسله كې تاسو زموږ راهنمائي وكړه،چې په داسې حالاتوكې خپل كورونه دتصويرونونه څنگه پاک كړو؟ دې نه علاوه دغټو علماوو تصويرونه په دې سلسله كې مخامخ دي.

جواب: تصوير جوړول او او ويستل گناه ده[2]،خوكه دقانوني مجبورئ په وجه داسې وكړل شي؛ نو اميددی چې پوښتنه به نه كيږي[3]اخبارونه دې په كوركې بندكيښودل شي،باقي ددين بزرگانوخو اول تصويرونه په خپلې مرضۍ سره جوړكړي نه دي اوكه چاجوړكړي وي نودچاعمل حجت نه دی، حجت دخدای او دَرسول اللهﷺ ارشاد دی.[4]

كرنسی نوټ باندې تصوير چاپ كول ناجائز دي

سوال: ستاسوپه خدمت كې يوگزارش دی چې په "جنگ" جمعه ايډيش كې دتصوير ويستلو او جوړولوپه باره كې تاسوكافي تفصيل سره بيان و،چې په هغه كې حديثونه هم بيان شوي دي، خو يوه خبره بياه هم دتوجه وړ ده چې په پاكستان كې په دې وخت كوم نوټونه او سكې چليږي په هغې باندې هم دقائداعظم تصوير واقع دی،زه يوازې دامعلومول غواړم چې ددې نوټونواوسكو په اسلام كې څه حيثيت دی؟ كه چېرې ددې تصويرونو والانوټونه په جيب كې

---

[1] وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى (النجم: ٣٩،٤٠)_

[2] عن ابن عمر أخبره أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الذين يصنعون الصوريعذّبون يوم القيامة يقال لهم: أحيوا ماخلقتم (مسلم ج: ٢ ص: ٢٠١، باب تحريم تصويرصورة الحيوان ...إلخ)_

[3] الضرورات تبيح المحظورات بقدرالضرورة (الأشباه والنظائرج: ١ ص: ٤٣ طبع إدارة القرآن) أيضًا: وفي شرح المجلة: ١ ص: ٢٩ المادّة: ٢١: الضرورات تبيح المحظورات، أی أن الأشياء الممنوعة تعامل كالأشياء المباحة وقت الضرورة...إلخ وفيه ص: ٣٠ الضرورة تقدر بقدرها)_

[4] أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ (النساء: ٥٩)_

موجود وي؛ نو آیا لمونځ کیدای شي؟ او که لمونځ کیږي؛ نو تصویرونه حرام او ګناه کبیره ولې دي؟
جواب: تصویربې شکه حرام دی،قطعی حرام دی،دا نه په څه تاویل سره جائز کیدای شي، اونه دچاتاویل یوحرام حلال کولی شي، ترکومې پورې چې دکرنسي اونوټونوتعلق دی،دحکومت فرض دي چې په دې باندې دې تصویر کله هم چاپ نه کړي،او دمسلمانانو فرض دي چې حکومت څخه دې ددې ګناه دترک کولو مطالبه وکړي[1] باقي لمونځ کیږي.[2]

په تمغې باندې تصویر جوړول بت پرستي نه بلکې بت سازي ده

سوال: ۱۹۷۲ءکې په صدساله تقریباتوکې دمحمدعلي جناح (قائداعظم) په موقع باندې یوه تمغه جاري شوه چې هغه ټول مسلمانان فوج والا اغوندي،دسپینو په تمغې باندې دمحمدعلي جناح بت جوړشوی دی،څنګه چې به تاسوداته آنې په سکې باندې جوړشوې لیدلې وي آیا دا اچول جائزدي؟ آیا دا دبت پرستۍ په دائره کې نه راځي؟ که جائز نه دي؛ نوتاسوته پکار دي چې صدرِ پاکستان مجبورکړی چې هغه فوراً ددې خاتمه وکړي.
جواب: دا بت پرستي خو نه ده،خوبت سازي ده، دحکومت فرض دي چې داسلسله بنده کړي.

بې حيا او بربنډ تصویر لګوونکو ته پکار دي چې دا لرې کړي او توبه وباسي

سوال: زمونږ د یو خپلوان او رشته دار په کورکې څه بې حیاء تصویرونه لګیدلي دي،عالم خونه یم خو دا چې ما ړیره پریښودې ده، اوهغه رشته دار ماپه"مولانا" ویلو سره تنګوي، اوبیا داوایي چې"دا تصویرونه به زماڅه وکړي؟" هغه رشته دار واده کړی دی اودڅلور بچیوپلار دی او دا خبره مني چې حضرت محمد ﷺ په حدیث کې دساه لرونکو تصویرونه کیښودلو،لګولو منع فرمایلې ده،خوهغه دَدې یوعقلي او سائنسي دلیل مني،هغه وائي چې"زه واده والا یم، دزړه او جنس جذبات ختم شوي دي،په شرعي طریقې(واده) سره د زړه مراد پوره شوی دی،اوس دا تصویرونه زماهیڅ نشي کولی؟ دا چې ما یا یوبل به ولې خرابوي؟" نوځکه هغه دا

---

[1] فصنعته حرام على كل حال، لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى، وسواءً كان فى ثوب أو بساط أو درهم ودينار........فينبغى أن يكون حرامًا لامكروهًا (البحرالرائق ج: ۲ ص: ۲۹، قوله ولبس ثوب فيه تصاوير، فتاوى شامي ج: ۱ ص: ٦٤٧، شرح مسلم للنووى ج: ۲ ص: ۱۹۹) عن عائشة قالت: دخل عليّ رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنامستترة بقرام فيه صورة فتلوّن وجهه ثم تناول السترفهتكه ثم قال: إن من أشد الناس عذابا يوم القيامة الذين يشبهون بخلق الله (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰، بدائع الصنائع ج: ۱ص: ۱۱٦)۔
[2] قال ابن عابدين: ولو كانت الصورة صغيرة كالتى على دراهم أو كانت فى اليد أو مستترة أو مهانة مع أن الصلوة بذالك لا تحرم بل ولاتكره (ردالمحتار ج: ۱ ص: ٦٤٧)۔

تصویرونه لرې کوي نه.
جواب: دَ یو مسلمان له پاره خو بس دومره کافي ده چې حضورپاک ﷺ دفلاني کار حکم کړی دی، ضرور به په دې کې څه حکمت او مصلحت وي، او دفلاني شي نه یې منع کړې ده، ضرور به په دې کې څه قباحت وي،[1] که چرې انساني عقل دټولو فوائدو او نقصاناتو احاطه کولی شوه نود حضورپاک ﷺ دمبعوث کیدو ضرورت به نه و.
امام غزالي (رحمه الله) لیکي چې: "کوم سړی یوحکم ترهغه وخته پورې نه تسلیموي ترڅوپورې چې دهغه فلسفه دهغه په پوهه کې نه وي راغلې، هغه حضورپاک ﷺ باندې ایمان نه لري" ستاسو درشته دار دا وینا چې تصویرزماهیڅ نشی کولی؟ ډیره سخته خبره ده، ددې نه هغه له پاره توبه ویستل پکار دي، توبه دې وکړي او تصویرونه دې لرې کړي اودحضورپاک ﷺ دحکم مخکې دې سرښکته کړي، ددې نه وروسته که دزړه داطمینان له پاره ددې حکمت او فلسفه معلومول غواړئ نوماته ولیکئ، بلکې بهتره به وی چې پخپله ماسره ملاؤ شئ، ان شاء الله دَدې حکمتونه به هم عرض کړم، چې په دې سره به دهغه پوره تسلي وشي، خوچې ترڅوپورې هغه دحضورپاک ﷺ دحکم مخکې سرنه ښکته کوي اودخپلې خوښې او پوهې په مقابله کې درسول الله ﷺ اقرار نه کوي، هیڅ به درته نه وایم.

په شناختي کارډ باندې دښځو تصویر لازمي ګڼلو والا ګناهګار دي

سوال: نن (۱۹۸۴م) په روزنامه "جنګ" کې مې دا خبر وکوت چې: "وفاقي حکومت په قومي شناختی کارډباندې دښځو تصویرونه لګول لازمي وګرځول، په دې سلسله کې نیشنل رجسټریشن ایکټ مجریه (۱۹۸۳م) کې باقاعده ترمیم کړی دی".
تاسوته ګزارش دی چې دقرآن او حدیث په رڼاکې دښځو دپردې اهمیت وښایئ؟ ځکه چې په شناختي کارډباندې دښځوتصویرونه لګول ددوی دبې پرده کولو مترادف دي، زه ستاسوپه توسط سره دا اهمه مسئله دَحکومت مشرانو ته وړاندې کول غواړم چې هغوی خپله دا فیصله بدله کړي او دمسلمانانوښځوله پاره دشناختي کارډونو پابندي ختمه کړي.
جواب: دا قانون شرعي نقطه نظر سره نهایت غلط دی او ددې قانون نافذکوونکي ګناهګار دي.[2]

---

[1] قوله تعالى: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا قال القاضي ثناء الله الفاني فتي: وهو عام في كل ما أمربه النبي صلى الله عليه وسلم ونهى عنه ...... أن يختاروا من أمرهم ماشاءوا بل يجب عليهم ما أمرهم الله به وأن يجعلوا اختيارهم تبعًا لإختيارالله ورسوله(المظهري ج:۷و ۹ ص: ۲۳۹و۳۴۵)_

[2] .قال العلماء: تصوير صورة الحيوان شديدالتحريم، وهو من الكبائر، لأنه متوعدعليه بهذا الوعيد الشديد(أى: أشدالناس عذابًا عندالله المصورون) وسواء صنعه لما يمتهن أم لغيره،فصنعته.[بقيه په راروانه صفحه

دخانه کعبې او طواف کوونکو خلکو فریم لګول

سوال: ما ډیر غټ فریم اخستی دی،چې دهغې په مینځ کې خانه کعبه او په اطرافوکې یې خلک په طواف کولو ښودلي دي،په دې کې چې کوم دخلکو تصویران دي هغه ډیرکم په نظر راځي، دهغوی سترګې،غوږونه،مخونه او دجسم یوه برخه هم واضحه په نظر نه راځي،آیا دا فریم زه پخپله کمره کې کینبودلی شم؟

جواب: که تصویرونه صفا نه وي نو لګول یې جائز دي.[1]

په دفترونوکې دمحترمو شخصیتونو تصویرونه ځوړندول

سوال: په ډیروسرکاري ادارومثلاًپه سکولونو،کالجونو،هسپتالونو، پولیس سټیشنو او په نورو سرکاري محکموکې خاص طورباندې داهموشخصیتونو تصویرونه ځوړند شوي وي،چې په هغې کې دقائداعظم محمدعلي جناح،علامه اقبال تصویرونه په نمایه طور باندې شامل دي او هغه په مستقل طور سره ځوړند دی،آیااسلامي نقطه نظر سره په سرکاري محکموکې داسې قسمه تصویرونه لګول ترکوم حده پورې درست دي؟ او ددې په باره کې څه احکامات دي؟

جواب: په دفترونوکې دمحترمو شخصیتونو تصویرونه ځوړندول مغربي تهذیب دی،اسلام ددې خلاف دی.[2]

دارټ ډرائنګ(انځورګري) شرعي حیثیت؟

سوال: زما رور بهترین آرټسټ دی،مونږ هغه ډرائنګ ماسټر(انځورګر) جوړول غواړو،ځیني

...بقیه د تیرمخ].. حرام بکل حال، سواء کان فی ثوب أوبساط أودرهم أودینار أو فلس أوإناء أو حائط أوغیرها ...إلخ (فتح الباری ج: ١٠ ص: ٤٧٠، کتاب اللباس، طبع قدیمی) أیضًا: ماحرم فعله حرم طلبه فکما أن فعل السرقة والقتل والظلم ممنوع فإجراء ذالك بواسطة أخری ممنوع أیضًا (شرح المجلة ص: ٣٤)_

[1] " إلا أن تکون صغیرة،، لأن الصغارجدًا لاتعبد فلیس لها حکم الوثن فلاتکره فی البیت....... والمراد بالصغر التی لا تبدوا للناظر علی بعد (بحرالرائق ج: ٢ ص: ٣٠ طبع دارالمعرفة)_

[2] عن ابن عمر رضی الله عنه أخبره ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: الذین یصنعون الصور یعذبون یوم القیامة، یقال لهم: أحیوا ماخلقتم (مسلم ج: ٢ ص: ٢٠١) وظاهرکلام النووی فی شرح مسلم الإجماع علی تحریم تصویره صورة الحیوان فإنه قال: قال أصحابنا وغیرهم من العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم الکبائر لأنه متوعد بهذا الوعیدالشدید عن النبی صلی الله علیه وسلم: أشدالناس عذابًایوم القیامة المصوّرون، یقال لهم أحیوا ما خلقتم (البحرالرائق ج: ٢ ص: ٢٧، شرح النووی علی مسلم ج: ٢ ص: ١٩٩، ٢٠٠)_

خلک وايي چې دا پيشه په اسلام کې ناجائز ده. وضاحت وکړئ ! چې دډرائنګ ماسټر پيشه په اسلام کې درسته ده يا غلطه؟

جواب: آرټ ډرائنګ(انځورګري) خوپه اصل کې ناجائزنه ده،البته ددې صحيح ياغلط استعمال دا جائز يا ناجائز جوړوي،که چېرې ستاسو ورور دساه لرونکو شيانو دتصويرونو شوق لري؛ نوبيا دا ناجائز دی[1]،اوکه داسې آرټ پيش کوي چې په هغه کې داسلامي اصولو خلاف ورزي نه وي،نو جائز دی.[2]

آيا فوټو تخليق دی؟ که دی نو په آئينه او اوبو کې هم شکل په نظر راځي

سوال: فوټوګرافي تخليق نه دی،که تخليق دی نو په آئينه او اوبو کې هم دانسان شکل په نظر راځي؟ بل دفلم په ذريعه داسلام اشاعت کيدو ضرورت او تې وي داسې شروع شوی دی چې دهرمسلمان په کورکې موجود دی،دَدې ضرورت په پوهيدو سره که دا په ښه مصرف کې استعمال کړل شي،ددې په اسلام کې څه حيثيت دی؟

جواب: فلم او تصوير دحضورپاک ﷺ دَ ارشاد مطابق حرام دي[3]،او ددې جوړولو والا سخت ګناهګاردي،يوملعون شی داسلام داشاعت ذريعه څنګه جوړېدای شي؟ فوټو ته"عکس" ويل ځان ته دوکه ورکول دي،ځکه چې که په انساني عمل سره دا عکس حاصل نه کړای شي اوبيا دا پائيدار جوړ نه کړل شي نوفوټونشی جوړيدلی،بس يو قدرتي شی او غير اختياری شي باندې يو اختياری شی قياس کول ځان ته دوکه ورکول دي،د"فلمی صنعت" لفظ ښائي چې دا دانسان جوړشوی شی دی.

په کورکې تصوير ايښودل ولې منع دي؟

سوال: په کورکې دتصوير ايښودل ولې منع دي؟ حالانکې دا په هر کتاب او اخبار،ټيلي ويژن، په فلم کې وي،او اوس خو باقاعده ددې کيمرې هم په هريوکور کې عامې شوې دي.

جواب:زما خورې! ديوې بدۍ په عام کيدو سره دهغې بدۍ بد والی نه ختميږي، دتصويرونو موجوده سيلاب بلکې طوفان،د مغربي او نصراني تهذيب نتيجه ده، په ټولومذهبونو کې

---

[1] أيضًا_

[2] وأماالشجر ونحوه مما لا روح فيه فلايحرم صنعته ولا التكسب به وسواء الشجر المثمر وغيره وهذا مذهب العلماء كافة (شرح النووى على صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۲، باب تحريم تصوير صورة الحيوان ...إلخ)_

[3] عن عائشة أنها قالت....... إنها (أى الملائكة) لاتدخل بيتًا فيه كلب ولاصورة_ قال النووى فى شرحه: قال أصحابنا وغيرهم من العلماء تصوير صورة الحيوان حرام شديد التحريم وهو من الكبائر......... فصنعته حرام بكل حال (مسلم مع شرحه للنووى ج: ۲ ص: ۱۹۹)_

يوازې د اسلام خصوصيت دی چې تصويرسازي او بت تراشي ته يې بدترينه ګناه ويلې ده او داسې خلک يې ملعون ګرځولي دي، ځکه چې همدا بت تراشي او تصوير سازي د بت پرستۍ او شخصيت پرستۍ زينه ده او اسلام مسلمانان نه يوازې دبت پرستۍ څخه بلکې ددې اسبابواو ذرائعو نه هم منع کول غواړي[1]، په هرحال تصويرسازي داسلام په نظر کې بدترين جرم او ګناه ده، خونن سبا مسلمانان دبدقسمتۍ نه دنصراني تهذيب په شروع شوي طوفان کې اينښتي دي نو کم ازکم دومره خو پکار ده چې ګناه ته دې ګناه وويل شي.

د وي سي آر ګناه به په چا وي؟

سوال: يو سړي خپل کور ته وي سي آر راوړی او دهغه بچي، ښځه، خپلوان او نور خلک دهغه دکور تې وي، يا وي سي آر ګوري، نوآيا ددې ټولو ګناه به راوړونکي ته ملاويږي؟ او که چېرې ملاويږي ورته نو ولې؟ ځکه چې هغه سړي خو دې ټولو ته د وي سي آر، تې وي کتلو له پاره ويلي نه دي؟

جواب: دهغه به هم ګناه کيږي، ځکه چې هغه دګناه وجه جوړه شوه، اود کتونکو به هم کيږي.[2]

تصوير لرونکي اخبارونه کورته څنګه راوړل پکار دي؟

سوال: زه په ګورنمنټ کالج کې داسلاميات دليکچرار په حيث کار کوم، دموجوده حالاتو اود جديدو ديني اوعلمي تحقيقاتو او معلوماتو نه ځان خبر ساتل زمونږ ضرورت دی، چې دهغې عام مشهور او د سهل الحصول ذريعه اخبارونه دي، خو اشکال دا دی چې په اخبارونوکې تصويرونه وي، دحديث شريف په رڼا کې دتصويرونو کور ته راوړل جائز نه دي، په دې صورت کې ماته څه کول پکار دي؟ دخپلې قيمتي مشورې نه مونږ خبر کړئ!

---

[1] عن عائشة قالت: دخل عليّ رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنامستترة بقرام فيه صورة فتلوّن وجهه ثم تناول الستر فهتكه ثم قال: إن من أشدالناس عذابا يوم القيامة الذين يشبهون بخلق الله (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰، إنما جاء تصوير ذى الروح لما روى عن عليّ أنه قال: من صور تمثال ذى الروح كلّف يوم القيامة أن ينفخ فيه الروح وليس بنافخ (بدائع الصنائع ج: ۱ص: ۱۱٦)۔

[2] ان الاعانة على المعصية حرام مطلقاً بنص القرآن اعنى قوله تعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (أحكام القرآن لمفتى محمد شفيع ج: ۳ ص: ۷٤) أيضًا: عن جريرقال: كنا فى صدرالنهار عند رسول الله صلى الله عليه وسلم .... فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من سنّ فى الإسلام سُنّة حسنة فله أجرها وأجرمن عمل بها من بعده من غيرأن ينقص من أجورهم شيء، ومن سنّ فى الإسلام سُنّة سيئة كان عليه وزرها ووزرمن عمل بها من بعده من غير ان ينقص من أوزارهم شيء۔ رواه مسلم (مشكوة ص: ۳۳، الفصل الأوّل، كتاب العلم)۔

جواب: دځینې اکابرو معمول خو دا و چې داخبار کتلونه مخکې به یې تصویرونه لرې کول، په ځینې تصویرونو باندې به یې لاسونه کیښودل، زمونږ په شان دخلکو له پاره دا هم غنیمت دی چې د اخبار کتلو نه وروسته تصویرونه بند کیږدئ.

ګوډیانې (نانځکې) په کورکې کیښودل

سوال: ۱: په کور کې دګوډیانو کیښودل یا په دیوالونو باندې لګول یا په بل ځای باندې، په اسلام کې جائز دي او که نه؟

سوال: ۲: اسلام د ساه لرونکو شیانو تصویر جوړول ګناه ګرځولې ده، نو بیا مصوران خلک دساه لرونکي شي تصویرونه جوړوي، نوآیا دا ګناه نه ده؟

جواب: ۱: دګوډیانو که چرې شکل او صورت، سترګې، غوږونه، پوزه وغیره جوړې شوې وي؛ نوهغه دبت په حکم کې ده، ددې ساتل او دماشومانو ددې سره لوبې کول جائز نه دي، او که ګوډیانې واضح نه وي نوماشومانوته ددې سره دلوبو کولو اجازت دی.[۱]

جواب: ۲: دساه لرونکي تصویر جوړول او اخیستل بې شکه ګناه ده، ځکه چې حضورپاک ﷺ په دې باندې دسخت عذاب خبر ورکړې دی، په حدیث کې دي:

" **عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: اشد الناس عذاباً عندالله المصورون. متفق عليه.**"(مشكوة ص:۳۸۵).

ترجمه: "حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې مادرسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې: دالله تعالى په نزد خلکوکې ډیرلونه زیات عذاب والاخلک تصویرجوړونکي دي."

دبې ساشي مجسمې جوړول جائز او دسا لرونکو ناجائز

سوال: زه دمختلف جوماتونو وغیره نقشې دبنائسته کولو له پاره دهیرو او موم وغیره نه جوړوم، آیا زه خانه کعبه(بیت الله شریف) او مسجدنبوی وغیره هم جوړولی شم؟

جواب: دَ غیرذی روح (بې سا) شیانو نقشې جوړول جائزدي.[۲]

---

[۱] وفي آخرحظرالمجتبى عن أبي يوسف يجوز بيع اللعبة وان يلعب بها الصبيان (الدرالمختار ج: ۵ ص: ۲۲۶، باب المتفرقات) وعن عائشة انها كانت تلعب بالبنات عند رسول الله صلى الله عليه وسلم قال القاضي: فيه جوازاللعب بهن قال وهن مخصوصات من الصورالمنهى عنها لهذا الحديث (شرح النووى على صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۸۵، باب فضائل عائشة أمّ المؤمنين رضى الله عنها)۔

[۲] قال ابن عباس: فإن كنت لابدفاعلا فاصنع الشجر وما لاروح فيه (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۵، ۳۸۶، باب التصاوير، الفصل الأوّل)۔

سوال: آيا زه دختې يا کاني په مدد سره دخپلو سترو شخصيتونو مجسمې جوړولی شم؟
جواب: دا بت تراشي ده،اسلام ددې اجازه نه ورکوي.[۱]

په کورونوکې دخپلو بزرګانو، قرآن ويونکي ماشوم يا د دعا غوښتونکي ښځې تصوير هم ناجائز دی

سوال: په کورنوکې عام طور باندې خلک دخپلو بزرګانو ياد قرآن مجيد ويونکي ماشوم يا ددعا غوښتونکې ښځې تصوير لګوي،دَدې په باره کې شرعي حکم څه دی؟
جواب: په کورونوکې تصويران ځوړندول د ګمراه امتونو دستور دی، دمسلمانانو له پاره دا شی ممنوع ګرځول شوی دی،په حديث شريف کې فرمايل شوي دي: په کوم کورکې چې سپی يا تصوير وي، هغه ته درحمت فرښتې نه داخليږي.[۲]

دساه لرونکوشکلونو نانځکې په کورکې کيښودل جائز نه دي؟

سوال: نن سبا زمونږ په کورونوکې دماشومانو دلوبو نانځکې(ګوډيانې) تقريباً په هرځای کې موجودې دي،څه دځناور دشکل پشان جوړې شوې وي،څه ګوډۍ وغيره دبت په شکل کې، هلته دقرآن تلاوت،لمونځ او دسجدې ادائيګي کوو،بعضې وخت دلمونځ له پاره اودس کوو يا سلام واړوو نو نظر پرې پريوځي،ياپه ذکرکې مصروف يو نو بچي په لوبو کولو سره مخې ته راځي،په دې صورت باندې رڼا واچوئ!
جواب: په کورونوکې چې ماشومان کومې ګوډۍ(نانځکې) جوړوي او دکومو چې شکلونه په نظر صفا نه راځي،محض يو هيولا(شکل) شان وي، ددې سره دَماشومانو لوبې کول جائز دي،اوداپه کورونو کې ايښودل هم جائزدي[۳].خودپلاستيک چې کوم دلوبوشيان په بازار کې

---

[۱] أيضًا_

[۲] عن أبي طلحة قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لاتدخل الملائكة بيتًافيه كلب ولا تصاوير متفق عليه (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۵، باب التصاوير، الفصل الأوّل) أيضًا: وقوله صلى الله عليه وسلم: لاتدخل الملائكة بيتًا فيه كلب ولاصورة، المرادهم الذين يترلون بالبركة لاللحفظة (حاشية الشبلى على تبيين الحقائق، كتاب الصلاة ج: ۱ ص: ٤١٤ طبع دارالكتب العلمية) أيضًا: قال العلماء سبب امتناعهم من بيت فيه صورة كونها معصية فاحشة وفيهامضاهاة لخلق الله تعالى وبعضهافى صورة مايعبد من دون الله تعالى.......... فعوقب متخذهابحرمانه دخول الملائكة بيته وصلاتها فيه وإستغفارها له وتبريكها عليه وفى بيته ودفعها اذى الشيطان واما هؤلاء الملائكة الذين لايدخلون بيتًا فيه كلب أوصورة فهم ملائكة يطوفون بالرحمة والتبرك والإستغفار(شرح النووى على صحيح المسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰، باب تحريم تصويرصورة الحيوان...إلخ)_

[۳] اوكانت صغيرة، لا تتبين تفاصيل اعضئها للناظر قائمًا وهى على الأرض،. [بقيه په راروانه صفحه

ملاويږي هغه خو مکمل بتان وی،ددې مجسمو اخيستل او خرڅول او ددې په کورونو کې ايښودل ناجائز دي،[1] د افسوس خبره ده چې نن صبا داسې بتان په کورونو کې دايښودلو رواج راوتی دی،اوددې په وجه زموږ کورونه د"بت خانو" منظر پيش کوي،ګوياشيطان دلوبو دشيانوپه بهانه بت شکن قوم نه بت فروش او بت تراش جوړکړی دی، الله تعالی دې مسلمانان ددې آفت نه وساتي.

د نانځکوساتلود روايت جواب

سوال: ستاسو سره دلوبود نانځکو درو ايت څه جواب دی؟

جواب: کومه ګوډۍ چې باقاعده دمجسمې په شکل کې وي،ددې ساتل او دې سره لوبې کول جائزنه دي[2]،دمعمولی قسم ګوډۍ چې هغه ماشومه پخپله جوړوي،دهغې اجازت دی اود حضرت عائشه رضي الله عنها دګوډو هم دا محمل دی،دځينې حضراتو وينا ده چې په هغه وخت دتصوير جوړولو ممانعت نه و شوی،دا وروسته شوی دی.[3]

...بقيه د تيرمخ]:. قال ابن عابدين: حيث قال بحيث لاتبدوا للناظر إلا بتبصير بليغ كما فى الكرمانى أولا تبدوله من بعيد...... إن كانت الصورة مقدارطيريكره وإن كانت أصغرفلا (ردالمحتار ج: ۱ ص: ٦٤٨) أيضًا: وهذه الأحاديث صريحة فى تحريم تصوير الحيوان وانه غليظ التحريم، وأما الشجر ونحوه مما لا روح فيه فلا يحرم صنعته ولا التكسب به ...إلخ (شرح النووى على مسلم ج:۲ ص: ۲۰۱)_

[1] عن سعيد بن ابى الحسن قال: كنت عند ابن عباس رضى الله عنهما، إذجاء رجل فقال: يا ابن عباس! إنة رجل إنمامعيشتى من صنعة يدى، وإنى أصنع هذه التصاوير، فقال ابن عباس رضى الله عنهما: لا أحدثك إلا ما سمعتُ من رسول الله صلى الله عليه وسلم، سمعته يقول:من صوّر صورة فإن الله معذّبه حتى ينفخ فيه الروح، وليس بنافخ فيها أبدًا، فربا الرجل ربوة شديدة وأصفرّ وجهه، فقال: ويحك! إن أبيت إلا أن تصنع فعليك بهذا الشجروكل شيء ليس فيه روح رواه البخارى (مشكوة ص: ۳۸٦، باب التصاوير) وظاهركلام النووى فى شرح مسلم: الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، وقال سواء صنعه لما يمتهن أولغيره، فصنعته حرام بكل حال، لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى، وسواء كان فى ثوب أوبساط أو درهم أوإناء أو حائط وغيرها (ردالمحتار ج: ۱ ص: ٦٤٧)_

[2] لاتدخل الملائكة بيتًا فيه صورة .... وفى رواية: لاتدخل الملائكة بيتًا فيه كلب ولاتمثال ...إلخ (سنن أبى داؤد ج: ۲ ص: ۲۱٦، باب فى الصور)_

[3] عن عائشة أنها كانت تلعب بالبنات عندرسول الله صلى الله عليه وسلم قال القاضى: فيه جواز اللعب بهن قال وهن مخصوصات من الصور المنهى عنها لهذاالحديث ولما فيه من تدريب النساء فى صغرهن لامر أنفسهن وبيوتهن وأولادهن وقد أجاز العلماء بيعهن وشرائهن .. قال ومذهب جمهور العلماء جواز اللعب بهن، وقال طائفة هو منسوخ بالنهى عن الصور (مسلم مع شرحه للنووى ج: ۲ ص: ۲۸۵، باب فضائل عائشة أمّ المؤمنين رضى الله عنها)_

په میډیکل کالج کې داخلې د پاره دانجیلی تصویر

سوال: زه سږ کال میډیکل کالج کې داخله اخیستل غواړم، خو دحکومت درائج شویو اصولو مطابق دمیډیکل کالج دامیدوارانو تصویر دکاغذاتو سره ضروری دی، خوددې په ځای په فنګر پرنټس (دګوتې نشان) سره هم کار چلیدای شي، خومونږ دحکومت د اصولو په وجه مجبور یو. اوس په ملک کې دښځې ډاکټرې داهمیت نه هم انکار نشي کیدای، که ښځې ډاکټرې جوړې نشی نو مجبوراً به مونږ دهرې خبرې له پاره سړي ډاکټرانو ته ورځو، چې دا طبیعت نه مني، په دې سلسله کې دقرآن او حدیث په حوالې سره څه حل وښایئ چې دځپلو اوریدو او ویلو والامطمئن کړی شو او دَدې نه زیات ځپل ځان هم.

جواب: فوټو جوړول شرعاً حرام دي[۱]، خو ترکومه چې دګورنمنټ دقانون مجبوری وي هلته سړی معذور دی[۲]، دَدې وبال به دقانون دَ جوړونکوپه څټ وي، ترکومې پورې چې دجینکو د ډاکټرو جوړولو تعلق دی، زه ددې دضرورت قائل نه یم.

شناختي کارډ که په جیب کې وي نو جومات ته تګ صحیح دی

سوال: دبعضې خلکو نه مااوریدلي دي چې دانسان تصویر جومات ته وړل ګناه ده، نوچې مونږ دَلمونځ له پاره ځو، زمونږ په جیب کې شناختی کارډ وي نوددې نه ظاهرېږي چې مونږ ګناه کوو، ددې جائز او ناجائز کیدو په باره کې مونږ ته ووایئ.

جواب: شناختی کارډ که په جیب کې بند وي؛ نو جومات ته تلل صحیح دي.[۳]

دونې تصویر ولې جائز دی؟ ځکه چې هغه هم ساه لرونکې ده

سوال: په اسلام کې دتصویر جوړولو ممانعت راغلی دی، عرض دا دی چې که چرې دساه لرونکي دتصویر جوړولو ممانعت وي نو آیا ونه چې هغه هم ساه لرونکې ده، ددې تصویر جوړول هم په دې حکم کې شامل دي، دخلکونه مې اوریدلي دي چې دځه دینداره حضراتو په کورونوکې هم د مختلفو ونو تصویرونه لیدلي دي.

---

[۱] أيضًا۔

[۲] الضرورات تبيح المحظورات أى أن الأشياء الممنوعة تعامل كالأشياء المباحة وقت الضرورة (شرح المجلة ص ۲۹، المادّة: ۲۱ طبع حبيب الله بسق كويته) أيضًا : الضروريات تبيح المحظورات، ومن ثم جاز أكل الميتة وإساغة اللقمة بالخمر والتلفظ بكلمة الكفر للإكراه (الأشباه والنظائر ج: ۱ ص: ۲۵۱ القاعدة الخامسة، طبع إدارة القرآن)۔

[۳] ويفيد أنه لايكره أن يصلى ومعه صرّة أو كيس فيه دنانيرأودراهم فيها صورة صغار لإستتارها (البحرالرائق ج: ۲ ص: ۲۹، ردالمحتار ج: ۱ ص: ۶۴۸)۔

جواب: په کوموشیانوکې چې حس او حرکت وی، هغو ته"جاندار (ساه لرونکي)" وايي، په ونه کې داسې خصوصیت نشته، نوځکه ددې تصویر جائز دی.[۱]

د ساه لرونکي تصویر ولې ناجائز دی؟

سوال: دَ ساه لرونکو تصویرونه جوړول ولې منع دي؟

جواب: دبې ساه شیانو تصویرونه په حقیقت کې بنائست دی، ددې اسلام اجازه ورکړې ده[۲] او دساه لرونکو شیانو تصویرونه یې ځکه منع کړي دي چې دا د بت پرستۍ او تصویر پرستۍ ذریعه ده، په حدیث کې دي چې: " دساه لرونکي تصویر جوړونکي ته به دقیامت په ورځ وویل شي چې: په خپل جوړ شوي شي کې ساه واچوه".[۳]

که په تصویر جوړلوباندې مجبوریږې نو حرام یې وګڼه جوړیې کړه او استغفار کوه

سوال: زه یو کاتب یم او استاذ هم، مسئله دا ده چې په ټیچنګ پریکټس کې دماهرینو د فیصلې مطابق موږه بچیو ته دسبق ښودلو په وخت دیو تصور راوستلو له پاره دیو ماډل (نقشه) یا دتصویر پیش کولو هدایت کیږي، یابعضې وخت دیوتعلیمي پروجیکټ لیکلو په وخت دتصویرونو جوړول هم زمونږ له پاره ضروري وي، ځکه چې دا په تعلیم او تدریس کې ډیر اهم ګڼل کیږي، اوس دا زه پخپله جوړوم یا په بل چا یې جوړم کړم، ګناه خو برابر کیږي، نو آیا ددې مخکې ذکرشوې مجبورۍ په وجه سره څه ګنجائش شته اوکه نه؟

جواب: دساه لرونکي شي تصویر جوړول حرام دي[۴]، که ستاسوله پاره دا کار حرام دی نو حرام یې ګڼئ او کوئ یې، او استغفار وایئ، دَ حرامو د حلالولو کوشش مه کوئ.

---

[۱] قال ابن عباس: إن كنت لابُد فاعلا فاصنع الشجر وما لا نفس له (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۲) أيضًا: وأماتصوير صورة الشجر ورحال الإبل وغيرذالك مما ليس فيه صورة حيوان فليس بحرام (شرح النووى على الصحيح المسلم ج: ۲ ص: ۱۹۹، باب تحريم تصوير صورة الحيوان)_

[۲] قال ابن عباس: إن كنت لابُد فاعلا فاصنع الشجر وما لا روح له (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۸۵، باب التصاوير، الفصل الأوّل، مسلم ج:۲ ص۲۰۲، باب تحريم تصوير صورة الحيوان)_

[۳] عن ابن عمر اخبره ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الذين يصنعون الصور يعذّبون يوم القيامة يقال لهم احيوا ما خلقتم. (مسلم ج۲ ص۲۰۱، باب تحريم تصوير صورة الحيوان)_

[۴] لظاهركلام النووى فى شرح مسلم: الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، وقال: وسواء صنعه لمايمتهن أولغيره فصنعته حرام بكل حال، لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى وسواء كان فى ثوب أوبساط أودرهم وإناء و حائط(ردالمحتار ج: ۱ ص:٦٤٧، فتح البارى ج: ۱۰ ص: ٤٧٠ كتاب اللباس، باب عذاب المصورين يوم القيامة)

د تصویر متعلق د وزیر خارجه فتوا

سوال: د روزنامه جنګ ۲۵ (پنځه ویشتم) جون په اشاعت کې د پاکستان د وزیرخارجه سردار آسف احمدعلي یو بیان مې وکوت چې په هغه کې هغه یو غیرملکي اخبار سره په مرکه (انټرویو) کې ویلي چې په: " اسلام کې ګډا او موسیقی، مصوری وغیره باندې هیڅ پابندي نشته " زما پوښتنه داده چې: ۱. آیا داخبره صحیح ده؟ ۲. که دا غلطه وي نو آیا د داسې خبرو والاکولو والاله پاره څه سزا شته؟
۳. د داسې خلکو په باره کې د موجوده حکومت او د عام مسلمانانو څه فرض جوړیږي؟
جواب: حضورپاک ﷺ ګډا کول، سندرې ویل او تصویرونه ممنوع ګرځولي دي، او په دې باندې یې سخت وعید فرمایلی دی.[۱]

تصویر

دتصویر په حرمت باندې ډیر حدیثونه راغلي دي، په دې کې څه لاندې درج دي:
۱. په صحیح بخاري او مسلم کې دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روایت دی: چې: ما یو وړوکی شان ګدی (بالښت) واخیست، چې په هغه تصویرونه و، کله چې حضورپاک ﷺ دا ولید؛ نو په دروازه باندې اودریدو، دننه داخل نه شو او ما دحضور پاک ﷺ په مخ مبارک باندې دناخوښۍ اثرات محسوس کړل، ما عرض وکړ: یارسول الله ﷺ! زه د الله او درسول په مخکې

---

[۱] عن نافع قال: سمع ابن عمر مزمارًا قال: فوضع إصبعيه على أذنيه ونآى عن الطريق وقال لى: يانافع! هل تسمع شيئًا قال: فقلت: لا! قال: فرفع إصبعيه من اذنيه وقال: كنت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فسمع مثل هذا فصنع مثل هذا (أبوداؤد ج: ۲ ص: ۳۲۶) عن ابن عمر أخبره أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الذين يصنعون الصور يعذّبون يوم القيامة يقال لهم أحيوا ماخلقتم (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۱) أيضًا: ذكرشيخ الإسلام أن كل ذالك مكروه عند علمائنا، واحتج بقوله تعالى: ومن الناس من يشترى لهوالحديث الآية جاء فى التفسير أن المراد الغناء.......... سماع غناء فهو حرام بإجماع العلماء .... والحاصل أنه لا رخصة فى السماع فى زماننا (ردالمحتار ج: ٦ ص: ۳٤۹، كتاب الحظروالإباحة) أيضًا: أماالرقص والتصفيق لخفة ورعونة مشابهة لرعونة الإناث لا يفعلها إلا أرعن أو متصنع جاهل ويدل على جهالة فاعلهماأن الشريعة لم تردهما لا فى كتاب ولا سنة ولا فعل ذالك أحد من الأنبياء ولا معتبو من إتباع الأنبياء، وإنما يفعله الجهلة السفهاء الذين التبست عليهم الحقائق بالأهواء (الزواجرعن إقتراف الكبائر ج: ۲ ص: ۲۸۲، القسم الثانى: فى سماع الغناء الالمقترن برقص أولهو دفّ أو مزمار ووتر) أيضًا: قوله وكره كل لهو اى كل لعب وعبث فالثلاثة بمعنى واحد كما فى شرح التأويلات والإطلاق شامل لنفس الفعل، واستعمامه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتاد من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق فإنها كلها مكروهة لأنها زى الكفار، واستماع ضرب الدف والمزماروغيرذالك حرام إن سمع بغتة يكون معذورًا ويجب أن يجتهد أن لايسمع، قهستانى (ردالمحتار ج: ٦ ص: ۳۹۵)

توبه کوم، مانه څه ګناه شوې ده؟ حضورپاک ﷺ د خفګان په لهجه کې وفرمايل چې: دا ګدۍ (بالبنت) څنګه دی؟ ماعرض وکړ چې: دا ما ستاسو له پاره اخيستی دی چې تاسو په دې باندې کينئ او دا دسرله لاندې کيږدئ، حضورپاک ﷺ ورته وفرمايل: دې تصويرونو والاته به دقيامت په ورځ عذاب وي، دوی ته به وويل شي چې کوم تصوير تاسو جوړ کړی دی داژوندی کړئ او په دې کې ساه واچوئ اودا ارشاد يې هم وفرمايلو: چې په کوم کور کې دا تصويرونه وي هغه کور ته دالله تعالی فرښتې نه داخليږي.(مشکوة).[۱]

۲: په صحيح بخاري او مسلم کې دحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې: دقيامت په ورځ به دټولو نه سخت عذاب به هغو خلکو ته وي چې څوک دالله تعالی د تخليق مشابهت کوي.(حواله باله)[۲]

۳: په صحيح بخاري او مسلم کې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې: مادرسول الله ﷺ نه پخپله اوريدلي دي چې: الله تعالی ارشادفرمايي چې: دهغه سړی نه به زيات ظالم څوک وي چې څوک زما دتخليق په شان تصويرونه جوړ کړي، دا خلک خو دې يو ذره جوړه کړي ودې ښائی، يا يوه دانه يا يو جوار خودې جوړ کړي ودې ښايي.(حواله باله).[۳]

۴: په صحيح بخاري او مسلم کې دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې: مادرسول الله ﷺ نه پخپله دا اوريدلي دي چې: دالله تعالی په نزد د ټولو نه سخت عذاب به تصوير جوړوونکو ته وی.[۴]

۵: په صحيح بخاري او مسلم کې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې: مادرسول الله ﷺ نه پخپله اوريدلي دي چې: دهرتصوير جوړولو والا به په جهنم کې وي، هغه چې څومره تصويرونه جوړ کړي وي، دهريو په بدله کې به يو روح پيدا کړل شي چې دا به هغه ته په دوزخ

---

[۱] عن عائشة اشتريت نمرقة فيها تصاوير فلما رآها رسول الله صلى الله عليه وسلم قام على الباب فلم يدخل فعرفتُ فى وجهه الكراهية قالت فقلت: يارسول الله أتوب إلى الله وإلى رسوله ماذا أذنبت، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ماهذه النمرقة؟ قلت: اشتريتها لتقعدعليها وتوسدها، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن أصحاب هذه الصور يعذّبون يوم القيامة، يقال لهم: أحيوا ماخلقتم! وقال: إن البيت الذى فيه الصورة لاتدخله الملائكة، متفق عليه (مشكوة ص: ۳۸۵، باب التصاوير، بخارى ج: ۲ ص: ۸۸۰، مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰)۔

[۲] عن عائشة دخل علىّ رسول الله صلى الله عليه وسلم.........ثم قال: إن من أشدالناس عذابًايوم القيامة الذين يشبهو بخلق الله (بخارى ج: ۲ ص: ۸۸۰ مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰)۔

[۳] عن أبي هريرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: قال الله عزّوجلّ: ومن اظلم ممن ذهب يخلق خلقًا كخلقى فليخلقوا ذرة أو ليخلقوا شعيرة (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۲)۔

[۴] عن عبدالله ابن مسعود قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم: أشدالناس عذابًا يوم القيامة المصوّرون (بخارى ج: ۲ ص: ۸۸۰، مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۱)۔

کې عذاب ورکوي. (حواله باله).[۱]

له دې حدیثونه نه دا اندازه کیدای شي چې تصویرونه سازول د اسلام په نظر کې څومره غټه ګناه ده او الله تعالی ته، حضور پاک ﷺ ته او د الله تعالی فرښتو ته د دې نه څومره نفرت دی، په دې موضوع باندې که نورتفصیل غواړئ؛ نو د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع (رحمه الله) (سابق) مفتي اعظم پاکستان رساله "د تصویر شرعی احکام" وګورئ، چې هغه په دې مسئله باندې بهترینه او تفصیلي رساله ده، د ټولو تعلیم یافته خلکو له پاره د دې رسالې مطالعه کول پکار دي.

رقص او موسیقي

نن سبا د طوائفو د ګډا نوم" رقص" دی او د ډمانو او ډمو سندرو ویلو ته "موسیقي" ویل کیږي او دا دواړه سخته ګناه ده.

په صحیح بخاري کې د حضرت محمد ﷺ ارشاد مبارک دی چې:" زما د امت څه خلک به د شرابو نوم بدل کړي څښي به یې، څه خلک به زنا او ریښم حلال کړي، څه خلک به داسې وي چې هغه به معازف و مزامیر (د موسیقي الات) سره به د سندرغاړې ښځې سندرې اوري، الله تعالی به دوی په ځمکه کې دننه کړي او د ځینو شکلو نه به مسخ کړي، دوی نه به بیزوګان او خنزیران جوړ کړي (نعوذبالله)".[۲]

او په ترمذي شریف کې د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي چې کله مال غنیمت شخصي دولت جوړ کړل شي، چې کله د خلکو امانتونه مال غنیمت وګڼل شي، چې کله زکات یو ټیکس او تاوان وګڼل شي ، چې کله دیني علم د دنیا طلب له پاره زده کیږي ، چې کله سړی د خپلې ښځې فرمانبرداري او د مور نافرماني شروع کړي، چې کله دوست نږدې او پلار لرې کړي، چې کله په جوماتونو کې شور او غوبل شروع کړل شي، چې کله د یو قبیلې سردار فاسق او بدکاره جوړ شي، چې کله د یو قوم سردار رذیل ترین سړی جوړ شي، چې کله د بدمعاشو خلکو عزت د هغوی د شر د ویرې له وجې وکړل شي، چې کله د سندرغاړو ښځو، باجو او سندرو (ګانو) رواج عام شي، چې کله شراب څښل کیږي او چې کله د امت اخري خلک په لومړیو خلکو باندې لعنت ویل شروع کړي؛ نو هغه وخت انتظار کوئ د سور طوفان،

---

[۱] عن ابن عباس سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: كل مصوّر فى النار يجعل له صورة صوّرها نفسًا فتعذبه فى جهنم (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۲، بخارى ج: ۲ ص: ۸۸۱).

[۲] عن أبي عامر أو أبو مالك الأشعرى: والله ماكذبنى سمع النبى صلى الله عليه وسلم يقول: ليكونن من أمّتى أقوام يستحلّون الحرّ والحرير والخمر والمعازف وينزلنّ أقوام إلى جنب علم يروح عليهم بسارحة تأتيهم يعنى الفقير لحاجة فيقولونَ إرجع إلينا غدًا فيبيتهم الله ويضع العلم ويمسخ آخرين قِرَدَةً وخنازير إلى يوم القيامة (بخارى ج: ۲ ص: ۸۳۷، كتاب الأشربة).

دزلزلې، په ځمکه کې ددننه کیدو(خسف)، دشکلو مسخ کولو او دقیامت دداسې نښانونو چې هغه دیوبل پسې داسې به راځي لکه څنګه چې دیوهار کړۍ ماته شي او دهغې دانې په یووخت خورې شي.[1]

د نورو احادیثو له پاره ددې ناکاره رساله" موجوده زمانه داحادیثوپه رڼاکې" دوکتل شي، چې په هغه کې ددې مضمون ډیر حدیثونه جمع شوي دي.

دحضورپاک ﷺ ددې ارشاداتو وروسته د سردار اصف احمد علي دا ویل چې په اسلام کې رقص او سرود، مصوري او موسیقي باندې هیڅ پابندي نه شته، قطعاغلط او د واقع خلاف ده او دهغه ددې فتوا منشا یا خو داسلام ناقصه مطالعه ده چې موصوف په دې مسائلو صحیح پوه شوی هم نه و، یا هغه ته خاکم بدهن صاحب شریعت ﷺ سره اختلاف دی، چې حضورپاک ﷺ خو دا شیان دلعنت موجب او دعذاب موجب ګرځولي دي او سردار صاحب ته په دې کې هیڅ قباحت په نظرنه راځي، لومړی وجه جهل مرکب دی اودویمه وجه خالص کفردی.

داسلام او اسلامي مسائلوپه باره کې د سردار صاحب غیرذمه دارنه بیانونه وخت په وخت په منظر عام باندې راځي، په دې سره د سردار جي د روایتي لطیفو یاد تازه کیږي، معلومیږي چې د سردار صاحب سره یوازې دوزارت قلم دان نه دی، بلکې نن سبا دپاکستان د"مفتي اعظم" قلم دان هم دهغه په حواله شوی دی، دحکومت فرض دي چې هغه په ملک اوملت باندې رحم وکړي او د "فتوا نویسي" خدمت دې دسردار صاحب نه واپس واخیستل شي او د عامو مسلمانانو فرض دي چې حکومت ته درخواست وکړي چې سردار جي ته په اسلام باندې د "مشق او لوبو" اجازت ورنه کړل شي.

د تصویر جوړولو شرعي حکم

سوال: زموږ په خپلوانوکې دو ماشومانې ماشاء الله دلمانځه او روژې پابندې دي او په هرلحاظ سره دشرعي احکامو پابندې دي، تاسو مخکې ورځ په خپل کالم کې تصویر جوړول کوي، په هغه کې د تصویرجوړولو تربیت ورکول کیږي، ددې کورس په مکمل کولو سره ښه ملازمت ملاویږي، اوس هغوی دا کورس په مینځ کې پریښودل نه غواړي، دویم دا چې هغوی دا خبره صحیح نه تسلیموي چې دا عمل حرام دی، تاسو مهرباني وکړئ دقرآن پاک او حدیث

[1] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا اتُّخذالفيءُ دُولا، والأمانة مغنمًا، والزكوة مغرمًا وتعلّم لغيرالدين، وأطاع الرجل إمرأته وعق أُمّه، وأدنى صديقه وأقصى أباه، وظهرة الأصوات فى المساجد، وساد القبيلة فاسقهم، وكان زعيم القوم أرزلهم، وأكرم الرجل مخافة شره، وظهرت القينات و المعازف، شربت الخمور، ولعن آخرهذه الأمّةأوّلها، فليرتقبوا عندذالك ريحًا حمراء وزلزلة وخسفًا ومسخًا وقذفًا وآيات تتابع كنظام بال قطع سلكه فتتابع (جامع الترمذى ج:۲ ص: ٤٤، أبواب الفتن، طبع رشيديه، دهلى)

په حوالو سره دا خبره ثابته کړئ چې دا عمل حرام دی؛ نو هغوی به یقینادا عمل پرېږدي، ځکه چې هغوی یو کار هم د شریعت خلاف کول نه غواړي.

جواب: حضورپاک ﷺ په ډېرو حدیثونوکې دتصویرونو حرمت بیان کړی دی، دحضرت مفتي محمدشفیع په دې موضوع باندې یوبهترینه رساله ده، چې هغه "د تصویرشرعي احکام،، په نوم سره شائع شوې ده، ددې رسالې مطالعه ستاسو دخویندو له پاره ګټوره ده او دهغې په مطالعې سره ان شاء الله د هغوی ټول اعتراضونه ختم شي، زه به درخواست وکړم چې دا رساله وګورئ او په ښې طریقې سره پرې ځان پوه کړئ.

دتصویر په باره کې دحضورپاک ﷺ یو څو ارشادات مبارک دمشکاة شریف نه نقل کوم، په دې هم غور وکړل شي:

۱: حضرت ابوطلحه رضی الله عنه فرمایي چې: حضورپاک ﷺ وفرمایل چې: په کوم کورکې سپی یا تصویر وي، درحمت فرښتې هغه کورته نه داخلیږي.(صحیح بخاری،صحیح مسلم).[۱]

۲: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې: حضورپاک ﷺ په کور کې داسې شی نه پرېښود چې په هغه به تصویر و، مګرهغه به یې ماتولو.(صحیح بخاری).[۲]

۳: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې: ما یو وړوکی شان ګدی (بالښت) واخیست، چې په هغه تصویرونه و،کله چې حضورپاک ﷺ دا ولید؛ نو په دروازه باندې اودریدو، دننه داخل نه شو او ما دحضور پاک ﷺ په مخ مبارک باندې دناخوښۍ اثرات محسوس کړل، ما عرض وکړ: یارسول الله ﷺ! زه د الله او درسول په مخکې توبه کوم، مانه څه ګناه شوې ده؟ حضورپاک ﷺ دخفګان په لهجه کې وفرمایل چې: دا ګدی (بالښت) څنګه دی؟ ماعرض وکړ چې: دا ما ستاسو له پاره اخیستی دی چې تاسو په دې باندې کېنئ او دا دسرله لاندې کېږدئ، حضورپاک ﷺ ورته وفرمایل: دې تصویرونو والا ته به دقیامت په ورځ عذاب وي، دوی ته به وویل شي چې کوم تصویر تاسو جوړ کړی دی داژوندی کړئ او په دې کې ساه واچوئ اودا ارشاد یې هم وفرمایلو: چې په کوم کور کې دا تصویرونه وي هغه کور ته دالله تعالی فرښتې نه داخلیږي.(صحیح بخاری،صحیح مسلم).[۳]

---

[۱] عن أبي طلحة يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسم يقول: لاتدخل الملائكة بيتًا فيه كلب ولاصورة (مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۰، بخاری ج: ۲ ص: ۸۸۱، باب من كره القعود على الصور)۔

[۲] عن عائشة حدّثته أن النبى صلى الله عليه وسلم لم يكن يترك فى بيته شيئًا فيه تصاليب إلا نقضه (بخاری ج: ۲ ص: ۸۸۰، باب نقض الصور)۔

[۳] عن عائشة أنها إشتريت نمرقة فيها تصاوير فلما رآها رسول الله صلى الله عليه وسلم قام على الباب فلم يدخل، فعرفت فى وجهه الكراهية، قالت: فقلت: يارسول الله! أتوب إلى الله وإلى رسوله، ماذا أذنبت؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ماهذه النمرقة؟ قلت: اشتريتها لتقعد عليها ...[بقیه په راروانه صفحه...

۴: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې: دقيامت په ورځ له ټولو نه سخت عذاب به هغو خلکو ته وي کوم چې دالله تعالى د تخليق مشابهت کوي.(صحيح بخاري،صحيح مسلم).[1]

۵: حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي چې: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد په خپلو غوږونو اوريدلى چې: الله تعالى فرمايي: له هغو خلکو نه به غټ ظالمان څوک وي چې څوک زما دتخليق په شان تصويرونه جوړول شروع کړي، هغوى خو دې يوه ذره جوړه کړي يا دې يو دانه يا دې يو دجوار دانه پيدا کړي ودې ښايي.(صحيح مسلم،صحيح بخاري).[2]

۶: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد پخپله اوريدلى چې: د الله تعالى په نزد له ټولو نه سخت عذاب به د تصوير جوړولو والا ته وي.(صحيح بخاري،صحيح مسلم).[3]

۷: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې د: حضورپاک صلی الله علیه وسلم په اخري مرض کې په ازواج مطهرات رضی الله عنهن کې يوې بي بي ديوې ګرجې تذکره وکړه چې هغې ته به "ماريه" ويل کيده، حضرت ام سلمه او حضرت ام حبيبه رضی الله عنها چې دحبشې نه هغه وخت راغلې وې، دهغې ګرجې دښائست او دهغې دننه چې کوم تصويرونه جوړ شوي و دهغه تذکره يې وکړه، حضورپاک صلی الله علیه وسلم سر مبارک اچت کړ او ويې فرمايل: دا هغه خلک دي چې کله چې په دوى کې يو نيک سړى مړ؛ نودهغه په قبرباندې عبادت خانه جوړوي او په دې کې دا تصويرونه جوړوي، داخلک دالله تعالى په مخلوق کې له ټولو نه بدتر دي. (صحيح بخارى،صحيح مسلم).[4]

...بقيه د تيرمخ]..وتوسدها، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أصحاب هذه الصوَريعذّبون يوم القيامة، يقال لهم: إحيوا ما خلقتم، وقال: إن البيت الذى فيه الصورة لاتدخل الملائكة، متفق عليه (مسلم ج: ٢ ص: ٢٠١، بخارى ج: ٢ ص: ٨٨١، باب من لم يدخل بيتا فيه صورة)_

[1] قال من أشدّالناس عذابًا يوم القيامة الذين يشبهون بخلق الله (مسلم ج:٢ ص:٢٠٠،بخارى ج:٢ ص:٨٨٠)

[2] عن أبى هريرة سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: قال الله تعالى: ومن أظلم ممن ذهب يخلق خلقًا كخلقى فليخلقوا ذرة أو ليخلقوا حبة ...إلخ (مسلم ج: ٢ ص: ٢٠٢ بخارى ج: ٢ ص: ٨٨٠)_

[3] عن عبد الله بن مسعود قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن أشدّالناس عذابًا عندالله المصوّرون (بخارى ج: ٢ ص: ٨٨٠، باب عذاب المصورين يوم القيامة)_

[4] عن عائشة قالت: لما اشتكى النبى صلى الله عليه وسلم ذكربعض نسائه كنيسة يقال لها مارية: وكانت أمّ سلمة وأمّ حبية اتتا أرض الحبشة فذكرتا من حسنها وتصاوير فيها فرفع رأسه فقال: أولئك إذامات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجدًاثم صوروا فيه تلك الصور، أولئك شرارخلق الله(مشكوة ص:٣٨٦،باب التصاوير، الفصل الثالث)

۸. حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمايي چې: حضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: دقيامت په ورځ به دټولو نه سخت عذاب هغه سړي ته وي چې چا يو نبي قتل کړی وي، يادنبی له لاسه قتل شوی وي، يا په خپل مور پلار کې يې څوک قتل کړي وي او تصويرجوړولو والاته او داسې عالم ته چې هغه دخپل علم نه نفع پورته نه کړي. (بيهقی،شعب الايمان).[1]

د قيامت په ورځ به دټولو نه سخت عذاب تصوير جوړونکي ته وي

سوال: په نن دور کې فوټو ويستل په ځينې حالاتوکې ضروري وي، مثلا پاسپورټ، شناختي کارډ او دملازمت په سلسله کې، له دې پرته عامه خبره ده چې موږ فضول تصويرونه هم جوړو، مثلا مثلا واده ښادي او دنورو ډيرو تقريبونو ويډيو فلمونه، دا تصويرونه او نور دفلمونو او د ټي وي پروګرامونه موږ ګورو، بلکې نن سبا په هرکلي،کوڅه کې د وي سي آر نمائش عامه خبره جوړه شوې ده او په کورونوکې دخپلو ښځوسره داتصويرونه ډير په شوق سره ګوري؛ نو مهرباني وکړئ دا ووايئ چې په کومو کومو حالاتوکې تصوير ويستل يا ښودل جائز دي؟ ترکومې چې زمادا ناقصو معلوماتو تعلق دی، زه خو داپيژنم چې تصوير جوړول يا ويستل دواړه حرام دي.

جواب: که دقانوني مجبوري له وجې سړی په تصويرجوړولو مجبور وي؛ نودالله تعالی د رحمت نه اميدکيدای شي چې هغه به په دې حرام کار باندې هغه سړی ونه نيسي[2] او چيرته چې څه مجبوري نه وي، په دې باندې دقيامت په ورځ دسخت ترين عذاب خبر راغلی دی، يعنې "دټولو نه سخت عذاب به د قيامت په ورځ دتصويرجوړونکي ته وي" الله تعالی دې موږ ټول ددې لعنت او غضب نه محفوظ وساتي.[3]

علماء په ټيلي ويژن باندې راتلل، دتصوير د جواز دليل نشي جوړيدلی

سوال: زما مسئله "تصويرونه" دي، تاسو دتصويرپه موضوع، دبې حيايي په سزاباندې ډير تفصيلي اوښه جواب ورکړ، خوجناب په دې موجوده زمانه کې چې موږ ته دتصويرونو په سلسله کې مسئلې درپيش دي دهغو تشفي نه کيږي، ځکه چې په حيثيت ديو مسلمان موږ

---

[1] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن أشدّالناس عذابًا يوم القيامة من قتل نبيًا أوقتله نبيٌّ، أوقتل أحد والديه، وللمصوّرون، وعالم لم ينفع بعلمه (مشكوة ص: ٣٨٧ باب التصاوير، الفصل الثالث)

[2] الضررات تبيح المحظورات أى أنّ الأشياء المباحة وقت الضرورة(شرح المجلة لسليم رستم بازص:٢٩،المادّة: ٢١)

[3] عن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن اَشدّ الناس عذابًا يوم القيامة المصوّرون (مسلم ج: ٢ ص: ٢٠١، باب تحريم تصويرصورة الحيوان)۔

تولو ته پته ده چې په اسلام کې د ساه لرونکو تصویرونه جوړول حرام ګرځول شوي دي، خو په موجوده دور کې تصویرونه زموږ ګيرچاپيره پراته دي، ټي وي، وي سي آر، اخبارونه او د رسالو په تصويرونو کې، لهذا زما مسئله داده چې تصويرونه زموږ له پاره په هرحالت کې حرام دي يا په يو حالت کې جائزکيدای هم شي؟ لکه دځينو مجبوريو له وجې يعنې په تعليمي ادارو، کالجونو، يونيورسټو کې په امتحاني فارمونو باندې (ښځې مستثنی دي، هلکان يې لګوي) ، په شناختي کارډ او پاسپورټ وغيره باندې. که په دې مجبوريو باندې هم دشريعت مطابق تصويرونه جائز نه دي؛ نو بيا تاسو په دې باره کې څه فرمايئ چې په رمضان مبارک کې پخپله ما امام کعبه په ټي وي باندې تراويح کولو باندې ليدلی و، (که تاسو وايئ چې په دې کې قصور د فلم جوړونکو دی؛ نو جناب! په کعبه کې علماء دې غيرشرعي فعل نه د منع کولو پوره حق لري او په دې مقدس ځای يقينا دهغوی حکم به چليږي)، له دې پرته هره ورځ ديني علماء په اخبارونو او ټيلي ويژن باندې په نظر راځي او بيا تاسو ديو اخبار په توسط سره دمسئلو حل ښايئ، په دې اخبار کې تصويرونه هم وي، اوس دا خو ممکن نه ده چې خلک دې داسلامي معلوماتو صفحه وګوري او غيرملکي دتصويرونو خبرونه دې پريږدي، لهذا د تصوير په سلسله کې دا اهم صورتونه دي:

۱: تاسو دا وواياست چې ايا اوس موږ تعليم حاصل نه کړو؟ ځکه چې په بل صورت کې دابتدايي جوماتونه هم دتصوير والا قاعده ښودل کيږي، "الف" نه انار او "ب" نه بکري (چيلۍ) والا.

۲: د پاسپورټ د تصوير له وجې بهرملک ته تګ پريږدو (خلک د حج له پاره هم ځي).

۳: د اخبارونو او رسائلو او ټي وي وغيره نه منع شو؟؛ نو بيا په ټي وي باندې دجناب طاهرالقادري او پروګرام د "تفهيم دين" اسلامي تعليماتونه څنګه فائده پورته کړو؟ او په اخبار کې ستاسو مفيد معلوماتونه؟ زما خواهش دی چې تاسو زما خط ته په نږدې اشاعت کې ځای ورکړئ، چې هغه خلکو ته هم فائده اورسيږي څوک چې دتصوير مسائلو نه مجبوره دي، زما په خط کې که چيرته غلطي درته محسوسه شي؛ نو خپله لور مې وګڼئ او معاف مې کړئ.

جواب: دا اصل په ذهن کې وساتئ چې ګناه په هرحال کې ګناه ده، که (خدای دې نکړي) ټوله دنيا په دې کې اخته شي، دويم اصل دا هم ملحوظ وساتئ چې کله يو ګناه عامه شي او اګرچې د دې نحوست به هم عام وي، خو سړی مکلف دخپل کار دی.

دلومړی اصل مطابق دځه علماوو په ټيلي ويژن باندې راتلل، دجواز دليل نه دی، نه دکعبه دامام تراويح کول د دې دجواز دليل دی، که طبيب په څه ناروغي کې اخته شي؛ نو هم "ناروغي" به وي، دې ته د "صحت" نوم نشي ورکول کيدای او د دويم اصل مطابق چيرته چې دقانوني مجبوري له وجې دتصويرجوړولو ضرورت پيښ شي، يا په تصوير کې سړی اخته شي؛

نو که هغه دا بدګڼي: نو ګناه ګار به نه وي او دالله رحم او کرم نه توقع ده چې هغه به په دې باندې مؤاخذه ونه فرمايي دکومو خلکو په اختيارکې چې وي دا بدي دې ختمه کړل شي، د هغه باوجود يې هغوی نه ختموي: نو هغه به ګناه ګار وي. اميد دی په دې اصولي خبرو سره به ستاسو شکونه ختم شوي وي

د کيمرې د تصوير حکم

سوال: زه ستاسو کالم "ستاسومسائل اودهغوحل" اکثر ګورم. له ډيرو ورځو يوه خبره مې په ذهن کې راځي، نن مې اراده وکړه چې ددې اظهار وکړم. مسئله ده "تصوير جوړول يا ويستل" په دې سلسله کې درې الفاظ په ذهن کې راځي. تصور. مصور. تصوير. دټولو نه مخکې دانسان په تصور کې يوه خاکه راځي، که هغه دهرچا په باره کې وي دا خاکه دمصور په ذهن کې راځي. چې هغه دا د قلم په ذريعې يا دبرش نه په کاغذيا په کينوس باندې او که هغه بت جوړولو والا دي: نوپه تبر او چېنيا (تيشې) سره يې په کاڼي يا په ديوال سازوي. دمصور يا بت تراش په نتيجې کې تصوير جوړيږي، چې دا رسول اللهﷺ حرام ګرځولی دی.

فوټو ويستل يوبل عمل دی، دې ته "تصويرجوړول" ويل غلط دي، دا عکس بندي ده،يعنې دکيمرې په لينس باندې عکس پريوځي او دا په پليټ يا په ريل باندې محفوظيږي، دکيمرې دننه څه "ګونګې مارغه"ناست نه دی چې هغه په قلم يا برش سره تصوير جوړ کړي، دا عکس بالکل په شيشې باندې داسې پريوځي څنګه چې اينه کې ګوري، ايا رسول اللهﷺ اينه کې کتل هم حرام ګرځولي دي؟ په اينه کتلو کې. نه تصور کار کولی شي. نه مصور، دا خوعکس دی چې پخپله په اينې باندې پريوځي.

کارټون ته تاسوتصوير جوړول ويلي دي، ځکه چې په دې کې د مصور تصور شامل دی او دا ځکه هم حرام دی چې په دې کې دتضحيک او تمسخر پلوښکاره دی، دې ته خو کتل هم صحيح نه دي. تاسو اخبار وګورئ په دې دهرخبرسره عکس بندي کيږي، دمولانافضل الرحمن. مولاناشاه احمد نوراني فوټو په دې کې راځي؛ نو ايا دا حضرات هم ګناه کبيره کوي؟

۲. دپروګرام"اقرا" په باره کې يو هلک پوښتنه وکړه چې تې وي وګورو يا يې ونه ګورو؟ تاسو منع کړل چې هغه دې تې وي ونه ګوري، ځکه چې په دې کې تصوير په نظر راځي، تاسوته دخدای ويره رانغله چې تاسو دا د قرآن شريف دتعليم نه منع کړ.

۳. داسې تاسو دلوبو په باره کې ګڼلي دي چې دا "لهو او لعب" (فضوليات). دي. چې له دې نه رسول اللهﷺ منع فرمايلې ده، ايا کرکټ، فټ بال، هاکي، اسکواش دا ټول لهواولعب (فضوليات) دي؟ ستاسو په خيال کې د " ورزش له پاره د جسماني صحت" څه تصور نه شته ؟

۴ يو ځل چا پوښتنه وکړه چې موسقي د روح غذا ده، په دې باره کې ستاسو څه خيال دی؟ تاسو ورته جواب ورکړ" موسيقي دروح غذا ده، خو د شيطاني روح" دا چې په دې قبرونو

ماته دوړوکوالي د گلستان یوه کېسه یاده شوه، یوځل تاسو په شان یو مولانا حضرت سعدي(رحمه الله) سره دموسیقي په باره کې بحث شروع کړ، بحث کولو کولو کې دواړه د ابادي نه بهر ووتل، څه گوري چې یوشپون په یوه غونډۍ باندې ناست دی شپیلۍ وهي او اوښان دده په مخکې په وجد کې گډېږي، د سعدی(رحمه الله) نظر په اوښ او څرونکي باندې پریوت؛ نو مولانا ته یې وویل:مولانا! تاسونه خو دا اوښ عقل مند معلومیږي.

٥: په آخر کې تاسو ته درخواست دې چې مهرباني وکړئ په "تصویر او عکس بندی"، "په لوبو او ورزش"،په"موسیقئ او وجدان" کې دفرق کولو کوشش وکړئ،تعلیم یافته خلق خاص کرځوانان به ستاسو دخیالاتو نه به څه تاثر اخلي؟

جواب: دَ کیمرې دننه چې کوم "گونگې مارغه" ناست دی هغه مشین دی،چې هغه دانسان تصویر محفوظ کوي،کوم کار چې د مصور قلم یا برش کوي هماغه کار دامشین ډېر په سهولت او آسانۍ سره کوي،او دا مشین هم انسان استعمالوي دا منطق خوکم ازکم زما په ذهن کې نه راځي چې کوم کار سړې په لاس یا برش سره کو؛نوهغه حرام دی،او که هغه کار په مشین سره وکړل شي نوهغه حلال شي!اوبیا جناب دفوټو دتصویر کیدو نه هم انکار فرمایي،حالانکې په عامه معنا کې هم فوټو ته"تصویر" ویل کیږي او هم د تصویر ترجمه"فوټو" ده.الغرض! تاسودلاس جوړ شوي او دمشین په ذریعه دویستل شوي تصویرپه مینځ چې کوم فرق کړی دی،دا صرف دذریعې او دواسطې فرق دی،دنتیجې په اعتبار سره دواړه یو دي،اوپه حدیثِ نبوی کې: "**المصورون اشدّ عذاباً یوم القیامه**"[1] که په لاس سره د تصویر جوړولو والا شامل دي نو دمشین په ذریعه تصویر جوړولو والا هم ددې نه بهر نه دي،او چاته چې"**اشدعذاباً**" فرمایل شوي وي هغه دگناه کبیره مرتکب دی یا د صغیره؟ ددې فیصله تاسو پخپله کولی شئ،زما دلیکلو ضرورت نشته ،که دزیات تفصیل ضرورت وی نو دمفتي محمدشفیع صاحب مرحوم رساله"**التصویر لاحکام التصویر**" وگورئ.

جواب: ۲.دَ قرآن کریم دتعلیم نه څوک مسلمان منع کولی شي؟ خودتصویر نه هم قطع نظر،کومه آله چې دَ فضولیاتو او فحاشۍ له پاره استعمالیږي دا دقرآن کریم له پاره استعمالول پخپله سوچ وکړئ دا دَ قرآن کریم تعظیم دی یا توهین؟ که تاسوپه داسې کپړه کې چې هغه دگندگۍ له پاره استعمالیږي،قرآن کریم پکې نغښتل جائز نه گڼئ،نوچې کوم شی دگندگو او نجاستونو له پاره استعمالیږي، دهغه په ذریعې دقرآن کریم تعلیم څنگه جائز گڼلی

[1] بخاری ج : ۲ ص: ۸۸۰، مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۱)_

شي؟ قطع نظر ددې نه چې تصوير حرام دې يا نه،لږ غور وکړئ! دسګرين (شيشي) په کومه پرده چې دقرآن کريم آياتونه پيش کيږي،لږ وخت بعد په هغې باندې ديوې ډمې ګډا پيش شي،آيا د مسلمان په زړه کې د قرآن کريم هم دا عزت پاتې شوی دی-----؟ او که څوک سړی دې د قرآن کريم دې اهانت نه منع کړي نو تاسو په دې باندې فتوا ورکولی شئ چې دده په زړه کې د خدای ويره نشته ،سبحان الله! څه ذهني انقلاب دی-----!

جواب: ۳ دا خو تاسو ته پته ده چې"لهو و لعب"(فضوليات) د لوبو کولو نوم دی،ځکه که ما لوبو ته لهوو لعب وويل نو غلطه خبره نه ده چې،تاسو د "ورزش برائے صحت جسمانی" فلسفه ونيسئ، حالانکې "کهيل برائے ورزش" ته خو ماهم ناجائز نه دي ويلي،په دې شرط چې عورت ښکاره نشي او په دې کې د مشغول کيدو په وجه ضروري حاجتونه او دشرعي فرائضو نه غفلت ونه کړل شي،خوپه موجوده دور کې چې کومې لوبې کيږي،کومې چې بين الاقوامی مقابلې کيږی او په هغو کې مشغولتيا دومره قدرې شوې ده،چې د ښار کوڅو او سړکونو پورې د" لوبوميدانونه" جوړ شوي دي،تاسو پخپله ووايئ چې آيادا ټول هرڅه د" ورزش برائے صحت جسمانی" مظاهرې دي؟ تاسو ته زمانه ښه پته ده چې په موجوده دور کې لوبې يو مستقل فن او معزز پيشه جوړه شوې ده، دې ته "ورزش" ويل شائد دخپل ذهن او عقل سره ناانصافي وي،او که فرض کړل شي چې دا"ورزش" دی؛ نو دورزش له پاره هم حدود او قيود شته اوکه نه؟کله چې ددې حدود اوقيود مات کړل شي نودې ورزش ته به هم ناجائز ويل کيږي.

جواب: ۴ موسيقي ته د"شيطاني روح غذا" صرف مانه نه دي ويلي بلکې **"الجرس من مزامير الشيطان"**[1] ارشاد نبوي دی،اوسندرغاړواودموسيقي آلاتو طوفان يې دقيامت علامات ذکر کړي دي،[2]دموسيقئ د آلاتو سره دسندرو حرام کيدو باندې دفقهاوو او صوفيانو ټولو اتفاق دی[3] او په دې کې خبرې دي،انسان بهرحال انسان دی،هغه د سعدی(رحمه الله) اوبښ نشي

---

[1] عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الجرس مزاميرالشيطان (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۲۰۲، باب كراهة الكلب والجرس فى السفر)۔

[2] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا .... ظهرت القينات والمعازف وشربت الخمور ولعن آخرهذه الأمّة أوّلها فارتقبوا عندذالك ريحًا حمراء وزلزلةً وخسفًا ومسخًا وقذفًا وآيات تتابع كنظام قطع سلكه فتتابع رواه الترمذى (مشكوة ص: ۴۷۰، باب أشراط الساعة)۔

[3] عن جابرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الغناء ينبت النفاق فى القلب كماينبت الماء الزرع رواه البيهقى فى شعب الإيمان قال النووى: والغناء بآلات مطربة هى من شعار شاربى الخمر كا لعود والطنبور والصنج وسائرالمعازف والأوتار حرام كذا إسماعه حرام (مشكوة وهامشه ج: ۲ ص: ۴۱۱) أيضًا: وفى البزازية: إسماع صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه السلام: إستماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر (الدرالمختار ج: ٦ ص: ۳۴۹)۔

جوړیدلی، ځکه چې د سعدي(رحمه الله) او بن دشرعي احکامو مکلف نه دی،بلکې دا ظلوم او جهول مکلف دی،د آلاتو په تأثرکې بحث نشته،بحث په دې کې دی چې دا تأثر داشرف المخلوقات شایان شان هم دی یا نه ؟ او حکیم انسانیت حضرت محمد ﷺ ددې تأثر تحسین فرمایلی دی یا تقبیح اومنع؟

جواب: ۵ زما امید دی چې تاسو د"فاروقي بصیرت" نه به کار واخلئ په دې حقائقو باندې به غور وفرمایئ او دَ حلال او حرام په مینځ کې فرق او دَ امتیاز کوشش به وکړئ.

❖ خانداني منصوبه بندي ❖

دحمل ضائع کولو تدبیرونو ته د اولاد د قتل حکم ورکول

سوال: دَ سورت بنی اسرائیل آیت:"اوتاسوخپل بچي دمال دویرې مه قتل کوئ" په تفسیرکې مولانا مودودي صاحب په "تفهیم القرآن" کې دنن سبامانع حمل تدبیرونه(حمل ضائع کول) هم د بچیویه قتلولو کې شمیرلي دي،سوال دادی چې په موجوده دور کې چې کوم درزق او دولت نامناسب تقسیم انسان پخپله جوړ کړی دی،هغه خودغاصب له پاره دمسائلوپابندنه دی، خو مظلوم دخپلې برخې نه محروم دی،په دې صورت حال کې که هغه دخپل انفرادي حیثیت نه صرف دمستقبل دویرې مانع حمل(حمل ضائع کولو) تدبیرونه اختیاروي نوآیادابه دحضور پاک ﷺ دحکم خلاف وي؟ په الله تعالی باندې کامل یقین په خپل ځای،اودهغه راکړل شوی عقل موږ ته دغوراوفکردعوت هم راکوي،همدا وجه ده چې مونږباران، دهوپ، طوفان، سیلی نه دبچ کولو تدبیرونه کوو،نه چې هم داسې ناست یو چې داټول هرڅه دَالله پاک په حکم سره کیږی،اوهم دادهغه رحمت دی،دمقصدویلوخبره داچې کله هغه یووجودته هغه ژوند ورکوي نوددنیایوطاقت هم هغه نشي منع کولی،خوانسان صرف دخپل مصلحت په وجه باندې دهغه برخلاف دتدبیرونو کولو کوشش کوي نوآیادابه درسول الله ﷺ دحکمونو خلاف شمیرل کیږي؟

جواب: دحمل منع کولوتدبیرونوته دبچوقتلولوحکم ورکول خومشکل دي،البته دغربیې دویرې چې کوم علت قرآن مجیدبیان کړی دی[1]، دهغه نه معلومیږي چې محض دغربیې داندیښنې په وجه باندې دحمل د بندیز تدبیرونه اختیارول ناخوښه فعل دی،اوستاسوته هغه ته

---

[1] ﴿ولا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئاً كَبِيراً﴾ (الاسراء:٣١) أيضًا: فإباحة الإسقاط محمولة على حالة العذر أو أنها لا تأثم إثم القتل (شامي ج: ٣ ص: ١٧٦) تفصیل دپاره وګورئ: ضبط ولادت کی عقلی وشرعی حیثیت ص: ١۴تا ٣٣ مصنفه: مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله)۔

په نوروتدبيرونو باندې قياس كول صحيح نه دي.ځكه چې دنورو جائزوتدبيرونوخونه صرف جازه وركړل شوې ده بلكې دهغو حكم يې فرمايل دی،اودحمل منع كولو تدبيريې ناخوښه ګرځولی دی[1] په هرحال دحمل منع كولوتدبيرونه مكروه دي ځكه چې ددې منشاصرف د غريبۍ انديښنه وي.اوكه بل يو ضرورت موجود وي مثلاً دښځې صحت تندرست نه وي، يا هغه مخكې پيودبچي پرورش نشي كولی نودحمل منع كولو تدبيرونوكې هيڅ مضائقه نشته.

دخانداني منصوبه بندۍ شرعي حكم

سوال: دريډيواواخبارونوپه ذريعه په ښاريواوكلوكې مكمل پروپيګنډاسره عوامو او مسلمان قوم ته داتاكيد كيږی چې هغوی په خاندانی منصوبه بندۍ باندې عمل وكړي اوكم بچي پيداكړي اوخپل كوراوملک خوشحال جوړكړي،محترم! دالله تعالی دا فرمان دی چې كوم انسان هم چې په دنياكې پيداكيږي دهغه رزق دالله پاک په ذمه دی،نه چې دانسان په لاس كې،بلكې انسان خودومرد ګناهګار او سياه كاروي چې هغه خوددې قابل هم نه وي چې هغه ته رزق وركړل شي،هغه ته چې كوم رزق ملاويږي هغه هم دهغو معصومو بچيوپه وجه ملاويږي.نوآيادبچيوپيدائش منع كول اوپه خانداني منصوبه بندۍ باندې دعمل كولو په اسلام كې څه ګنجائش شته؟

جواب: دخانداني منصوبه بندۍ چې كوم تحريكونه په عالمي سطح چليږي،دهغوی په باره كې خو دامت علماء كرامو فرمايلي دي چې دا صحيح نه دي،البته دڅه خاص عذرپه حالت كې خوداطباء په نزد ښځه دنورو بچوپيداكولو لائقه نه وي،علاجاً د ضبطِ ولادت حكم وركول كيږي.[2]

دضبط ولادت مختلف قسمونه او حكم

سوال: :١: ضبط ولادت(بچيوبندولو) او اسقاطِ حمل(حمل ضائع كولو) كې څه فرق دی؟ كوم يو حرام دی او كوم جائز؟

سوال: ٢: يوه ښځه ډاكټره چې هغه دضبط ولادت (بچو بندولو) كاركوي او دوايانې وركوي، دهغې ګټه حرامه ده ياحلاله؟

جواب: :١: دضبطِ توليد مختلف انواع دي ١_مانع حمل (حمل ضائع كولو) دوايانې ياګولۍ

---

[1] عن أبي سعيد الخدری قال: أصبنا سبيًا فكنا نعزل فسألنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: أو انكم لتفعلون قالها ثلاثًا ما من نسمة كائنة إلى يوم القيامة إلا هی كائنة (صحيح البخاری ج: ٢ ص: ٧٨٤)_

[2] وفی الفتاوی: إن خاف من الولدسوء فی الحرة يسعه العزل بغير رضاها، لفسادالزمان، فليعتبرمثله من الأعذار مسقطًا لاذنها (ردالمحتار ج: ٣ ص: ١٧٦ كتاب النكاح، مطلب فی حكم العزل)_

استعمالول. ۲_حمل نه حساریدوله پاره آپریشن کول، ۳_حمل حساریدونه وروسته هغه په دوایانوسره ضائع کول، ۴_اسقاط حمل کول، ۵_یاماده منویه (مَنی) دننه تلونه منع کولو له پاره پلاسټک کوئل استعمالول، داټول قسمونه دي. لهذا د غریبۍ دویرې یادزیات اولادت منع کولو په وجه ذکرشویو شیانوکې چې هریواستعمال کړل شی، هغه به په ضبط تولید کې راځی، اوضبط تولیدعمل کولو اوکیدونکووالا دواړه ګناهګاردي.[1]

جواب: ۲: په مخکې ذکرشویو حالاتوکې ډاکټرله پاره دوایانې ورکول هم ګناه ده، خوداچې یو مریض داسې وي چې دحمل په وجه سره دهغه ژوندپه خطره کې وي اوحمل هم داسې وي چې په هغه کې ساه پیدا نه وي، یعنې دڅلورو میاشتودمودې نه کم وي، دهغې نه مخکې اسقاط کولی شي، په داسې خاص صورت کې ډاکټرهم ګناه ګارنه دی اودحمل ضائع کولو او داسقاط دوایانې استعمالولو والابه هم ګناهګارنه وي.[2]

دَ خاندانې منصوبه بندۍ جوازپه حدیث سره ثابتول غلط دي

سوال: نن راته دصغری بائې هسپتال نارتهـ ناظم آباد ته دتلو اتفاق وشو، هلته مې دهسپتال په مختلفو شعبواوکوریډورکې دخاندانې منصوبه بندۍ متعلق یواشتهار ولیده چې په هغه کې یې نفس وژل عظیم جهاد ګرځولی دی، اودهغه سره یې دنس بندۍ تعریف هم کړی و او دا یې هم دنفس وژولو سره تعبیرکړی و، اودیوحدیث حواله وه چې: "دمال دقلت اود بچیو د زیاتوالې نه پناه وغواړئ." یعنی دا حدیث دقرآنې تعلیماتوبالکل مخالف دی په کوموکې چې اولاد دغریبۍ له ویرې دقتل کولونه منع کړې ده، اوورته یې ویلي دي چې الله پاک هریو روح ته رزق ورکوي، آیا دا حدیث د قرآنې تعلیماتو خلاف نه دی؟ اُمیددې چې ددې حدیث وضاحت به وفرمایئ!

جواب: حدیث خوصحیح دی، خوددې نه یې چې کوم مطلب اخیستی دی، هغه غلط دی، د حدیث مطلب دا دی چې دمصیبتونودمشقت نه دالله پاک پناوغواړئ، داداولاد دبندش سره

---

[1] قال تعالى: وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ (بنی إسرائيل: ۳۱) قال عبد الله رضى الله عنه: كنا نغزوا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم وليس لنا شيء، فقلنا: ألانستحصي؟ فنهانا عن ذالك (بخاری ج: ۲ ص: ۷۵۹، كتاب النكاح) وفى فتح البارى تحت هذاالحديث: والحجة فيه انهم اتفقوا على منع الجب والخصاء، فيلحق بذالك ما فى معناه من التداوى بالقطع أصلا (فتح البارى ج: ۹ ص: ۹۷ طبع دارالمعرفة بيروت) تفصیل دپاره وګورئ: : ضبط ولادت کی عقلی وشرعی حیثیت ص: ۱۴تا ۳۳ مصنفه: مفتى آعظم پاكستان حضرت مولانا مفتى محمد شفيع رحمه الله)۔

[2] (قوله وجازلعذر) كالمرضعة .... قالوا يباح لها أن تعالج فى استنزال الدم ما دام الحمل مضغة أو علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين يومًا (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٤٢٩،، طبع ايچ ايم سعيد)۔

بوخای ساتل غلط دي اونس بندي ته نفس کشي ویل هم محض اختراع ده،دنفس کشي مضمون دا دی چې نفس ناجائز اوغیرضروري خوهشاتونه منع کړل شي.[1]

دخاندانی منصوبه بندۍ شرعي حیثیت

سوال: خانداني منصوبه بندۍ یادبچیودپیدائش منع کولوپه هره یو طریقې باندې عمل کول صغیره ګناه ده؟یا کبیره ګناه ده؟ یاشرک دی؟

جواب: دحمل منع کولو تدبیرونه که په طوردعلاج وي چې که دَښځې صحت تندرست نه وي نوبغیردَڅه کراهت نه جائز دی،ګینې مکروه دی،اوپه دې نیت سره په خانداني منصوبه بندۍ باندې عمل کول چې زیاته آبادي کنټرول کړل شي،شرعاً ګناه ده،صغیره ګناه ده یاکبیره؟ ددې ماته پته نشته.[2]

دبرتھ کنټرول(دبچوبندولو) ګوليو مضر اثرات

سوال: نن نه لس پنځلس کاله مخکې به دبچیوپیدائش دموریاپلارله پاره مسئله نه جوړیده، بلکې دشریک خاندان په وجه به بچی ډیر زر غټیده،دَدې نه علاوه دمسائلو پیداکیدو وجه به هم نه وه،نوکربه په آساني سره ملاویده،دبچیوپه تعلیم او تربیت باندې به هم خاص توجه ورکول کیده،ځکه چې عام طورباندې به ماشوم دنیا یا نیکه په سرپرستۍ کې غټیده،میندو به هم په بچیوباندې خصوصي توجه ورکوله،ځکه چې نوکربه په آساني سره په کمه تنخوا باندې ملاویده،اکثر وختونو کې به داسې ښځې وې چې په دوه وخته ډوډۍ باندې به یې هم کارکولو،دظاهري نمود او نمائش څه نوم اونشان نه و،که دچاتنخوا به کمه وه نوهغه به په دال ډوډۍ خوړلودخپلوبچیوپرورش کولو،اوکله به هم یوې جوړې ته "کم بچے خوش حال گھرانہ" خیال نه راته،خودَنن دورچې مسائلودپریشانوصورت اختیارکړی دی،دشریک خاندان تصور ډیر خراب په نظر راځي،نیا یا نیکه دَخپلولمسیو نه بیزاره په نظر راځي،دظاهری نمود او نمائش یوطوفان راوچت شوی دی،هر سړی ددولت په هوس کې روند دی،ښځه او خاوند دواړه په ملازمت کولوخپل معیاري ژونددااعلی نه اعلی جوړولو په کوشش کې لګیادي،دهرسړي فکردخپل حدپورې محدود دی، رنګین ټي وي،فریج،قالین،صوفې،عمده کراکري،ګاډی دهرسړي په دماغو باندې سواره دي،هر سړی ددې خبرې په فکرکې دی چې هغه ته دخاندان امیرترین انسان وویل شي،دمعاشرې دې ناسورپه ټي وي،ریډیوباندې دَ"کم بچے خوش حال

---

[1] وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى)(النازعات: ٤٠) وفی التفسیر: ای خاف القیام بین یدی الله عزوجل،وخاف حکم الله فیه،ونهی نفسه عن هواها،وردّها إلی طاعة مولاها(تفسیرابن کثیر ج: ٦ ص: ٣٨٥)

[2] أیضًا، بیاهم دتفصیل دپاره وګورئ: ضبط ولادت کی عقلی وشرعی حیثیت ص: ١٤تا ٣٣ تصنیف: مفتی آعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله ازصفحه: ١٤ تا٢٣)۔

جسماني مريضانې اوبيايې دمرګ په ګهرانه پروپيګنډې په زرګونو ښځې ذهني مريضانې، جسماني مريضانې اوبيايې دمرګ په کنده کې وغورځولې دنن سړي، ښځې باندې دبرت ګنټرول (دَبچوبندولو) ګولۍ خوري اودخپل معياري ژوند دَښه نه ښه جوړولو په کوشش کې لګيادي، اوسړی چې دښځې ښې لاس ورته ويل کيږي، نن زمونږ دمعاشرې بيمار او بيکاره عضو روان دی جوړيږي، دې ګولوبه پته نشته څومره ژوندونه تباه و بربادکړی وي، زمونږ په معاشره کې دچانوم ليکل اومشتهرکول درسوايي وجه ده په هرحال داګولۍ دښځې سردرد پيداکوي، په ماهانه نظام کې خرابي پيدا کيږي، بعضې ښځې ډيرې زياتې تيارې اوبعضې ښځې نرۍ او کمزورې کيږي، په بينايي باندې يې اثرپريوځي، دَسرويښته يې سپينيږي، مختلف قسمه اندروني تکليفونه پکې پيدا کيږی. بعضې ښځې هميشه هميشه له پاره دَمورجوړېدو دصلاحيت نه محرومېږي، دحمل ضائع کولو ګولۍ استعمالولووالوښځونه ددې دخطرناک اثراتومتعلق ترې پوښتنه وکړل شي نوهره ښځه يې دسردرد په تکليف کې اخته ومونډله، چې داپه هفته عشره کې ضرور راځي، اودهغې منع کولو له پاره هغوی داسپرين ګولۍ استعمالوي، دا سردرد تقريباً دوه درې ورځې وي عام طورباندې دښځې دپښو د درد شکايت هم راځي، پښې يې ويدې کيږي، اوبعضې وخت هغې ته حرکت هم نشي ورکولی، يوه ښځه چې هغه دواده نه مخکې ډيره سمارټ به اوسيده، ددې ګوليودَاستعمال نه وروسته ډيره زياته تياره شوه اودهائی بلډپريشرپه مرض کې اخته شوه بهرحال که سروې وکړل شي نوهره تعليم يافته ښځه ددې لعنت نه پريشانه ده، خوهغه ددې استعمال بندولو ته هم نه ده تياره، ځکه چې دهغوی مسائل دومره دي چې هغه په تيزي سره خپل صحت په داؤ باندې لګوي، دايوه داسې مسئله ده چې په دې بايد باقاعده طورباندې سروې وکړل شي اوښځې دې ددې دمضراثراتو نه منع کړل شي، او حکومت ته پکار دي چې ددې ګوليوپه استعمال باندې دې په سختې سره پابندی ولګوي. اوديومسلمان کيدوپه حيثيت سره دازمونږ له پاره ګناه هم ده.

جواب: خدای دې وکړي چې حکومت او ښځې دواړه ستاسوپه مشوره باندې عمل وکړي اوځنګه چې تاسواشاره کړې ده داټول نحوستونه په دې وجه سره دي چې دا ژونديې اصل ژوند ګڼلی دی، مرګ اودمرګ نه وروسته ژونديې هيرکړی دی، اسلام چې دکومې سادګۍ اودکم آسائش والاژوند حاصلولو تعليم ورکړی و، دهغه په ځای سامانِ تعيش يې مقصدجوړکړی دی، ددې معياري ژوندکاميابۍ بهوت په هرچاباندې سپور دی، چاچې دقوم دنيااوآخرت دواړو ته نقصان رسولی دی، ددې ټولوبيماريوعلاج دادی چې په مسلمانانو کې دآخرت يقين ژوندی کړل شي. حکومت په ضبطِ توليد (حمل ضائع کولودواګانو) باندې په کروړونو روپۍ ضائع کوي، خوددې باوجود دآبادۍ محدودکولو هدف حاصلولوکې ناکام دی، البته په دې سره څه خرابۍ پيداشوې دي.

اول: د ښځې بچی پیداکېدل یوفطري عمل دی، کومې ښځې چې ددې فطری عمل له پاره غیرفطري تدبیرونه اختیاروي هغه خپل صحت برباد وي، اود بلډپریشرنه واخله کینسرپورې بیمارۍ د هغې د ټول عمرسره شي، اوهغه زرنه زرقبرته د تلوتیاری کوي، ګویادضبط تولید ګولۍ اونورغیرفطري تدبیرونه یوډول زهردي چې دهغوی په جسم کې دننه کیږي.

دویم دهغو زهرو اثردهغوی په اولادباندې هم ظاهریږي، چې دهغو ښځوخپل سوچ غلط دی، ځکه دهغوی اولادهم ذهني اوجسماني طورباندې تندرست نه وي، بلکې یاخوجسماني طور باندې معذور وي، یاذهنی اوچتوالی نه ښکته کام چور، دلوبو ټوقوشوقین، دمور اوپلار نافرمان، اودځوانۍ نه وروسته نفسیاتي اوجنسي مرضونو کې مریض، داسې دضبط تولید دا تحریک، چې په دې باندې حکومت قوم ته په کروړونو، اربونو روپۍ لګولي دي، اولګوي یې، په حقیقت کې دیومعذوره او ذهني طورباندې فالج وهلې معاشرې په وجود کې دراوستلو تحریک دی.

دریم زموږ په معاشره کې د ښځې او سړي په اختلاط باندې هیڅ پابندي نشته، په تعلیمي ادارو کې(چې هغو ته دنوي نسل قتل ګاه ویل به زیات صحیح وي) ځوانان هلکان او جینکۍ یوځای تعلیم حاصلوي، عقل کچه اوجذبات تیز، په دې ماحول کې ځوان نسل دفني تعلیم په ځای دعشق کولومشق کوي، اوجنسی ملاپ منتهاء محبت تصورکوي، په دې لارکې دټولونه غټ رکاوټ دا دی چې که دجنسی ملاپ نتیجه ظاهرشوه نوپه دنیاکې به وشرمیږو، دې برتھ کنټرول تحریک دهغوی دلارې دامشکل حل کړ، اوس جینکۍ ددې غلط کار دخوفناک انجام نه بې فکره شوې دي، اوکه برتھ کنټرول باوجود "نتیجه بده" هم ظاهره شي نوپه هسپتال کې خپله صفایي کوي. الغرض: دحکومت داتحریک صرف داسلام خلاف نه دی، بلکې دپوره معاشرې خلاف یو خوفناک سازش دی.

مانع حمل دوایانې او پوکنۍ استعمالول

سوال: نن سبا خلک دجماع(کوروالی) په وخت عام طورباندې مانع حمل(حمل ضائع کولو) دوایانې استعمالوی، یادهغو په ځای نن سبامختلف قسمه پوکنۍ چلیږي، چې په هغې سره حمل ضائع کیږي، آیاداسې عمل چې په هغې سره حمل ضائع کیږی؟ اوددې پوکنیو استعمال جائز دی؟

جواب: جائز دی.[1]

[1] ويعزل عن الحرة .... بإذنها لكن في الخانية أنه يباح في زماننا لفساده (الدرالمختار ج: ۳ ص: ۱۷۵)

❖ جائز او ناجائز ❖

نعت لوستل څنګه دي؟

سوال: يوصاحب دحمداونعتونوپه مجلس کې حمد خواوري، خو کله چې نعت شروع شي اوهغه کې دحضور ﷺ نوم راشي، لوستونکي ته وايي چې دلته محمد ﷺ مه وايه، الله وايه، دهغه دا انداز دکوم حدپورې صحيح ده؟ دهغه دااعتراض دی چې نن دمسلمانانوپه زړونو کې دمدينې بت اوسيږي.(نعوذبالله)

جواب: دنعت معنا ده، دحضور ﷺ صفتونه اوکمالات بيانول، که چرې نعتيه شعرونوکې دحضور ﷺ صحيح صفتونه اوکمالات ذکرکيږي نودهغه لوستل اواوريدل مزه کونکي عبادت دی.[۱] يوځو :حضور ﷺ دصفاتواوکمالاتوذکرکول عبادت دی، دويم داچې دحضور ﷺ په محبت کې داضافې ذريعه ده، اودادنيااواخرت دسعادت ذريعه ده، هغه صاحب به دبل مذهب وي، ګنی دمسلمان دخولې نه داخبره نه شي وتلی.

نعتونه ښايسته اوازسره ويل

سوال: حمداونعتونه اوداسلام پروګرامونه کله ښځې اوکله ښځې اوسړي ګډوډ ،کله سړي لحن سره اوښائسته اوازکې وايي، کله چې ښځې ياسړی اوښځې يوځائې باندې حمداونعت يا سلام ريډيوباندې وايي نوهغه هرسړی اوښځه اوريدلی شي؟ که چرې نه، نوڅنګه يې اوريدلی شي؟

جواب: حمداونعت خوډيرښه شی دې، بلکه بهترين عبادت ورته ويل پکاردي، په دې شرط سره چې دحمداونعت مضمون دشريعت خلاف نه وي[۲]. څنګه چې نن سباعام طورباندې دنعتونو مضمون دشريعت خلاف وي. اودکوم حدپورې چې دلوستلوتعلق دی، که چرې سړی د سړيوپه مخکې اوښځې دښځوپه مخکې وايي چې دهغوی اوازونه غيرمحرموته نه رسيږي نوبيا صحيح دی، خودسړيواوښځويوځای ويل صحيح نه دي.[۳]

---

[۱] قال فى شرح الدرالمختار: سئل عنه صلى الله عليه وسلم فقال: كلام حسنه حسن وقبيحه قبيح ومعناه ان الشعر كالنثر يحمد حين يحمد ويذم حين يذم .... فما كان منه فى الوعظ والحكم وذكر نعم الله تعالى وصفة المتقين فهو حسن (شامى ج: ۱ ص: ٦٦٠، مطلب فى انشاد الشعر)_

[۲] وګورى: إمداد الفتاوى ج: ٦ ص: ٢٠٦)_

[۳] ولانجيز لهن رفع أصواتهن ولا تمطيطها ولا تلينها وتقطيعها لما فى ذالك من إستمالة الرجال إليهن وتحريك شهوات منهم (باب الشروط الصلاة شامى ج: ١ ص: ٤٠٦)_

صرف د زړه خوشحالولو له پاره شعرونه ویل

سوال: ستاسو کالم کې مالوستلي وچې داسې شاعري چې دهغې په وجه باندې دچاجذبات راپاڅي منع دي، خوکه چېرې زه شاعري وکړم چې دجذباتوختمولوله پاره، اوهغه شعرونه صرف ماسره وي بل څوک هغه نه لولي، صرف دخپل ځان له پاره شعرونه ولیکل شي نوداسې صورت کې اسلام څه حکم کوي؟

جواب: دالله تعالی دحمداوثناء، دحضور ﷺ دصفتونواواخلاقي شعرونه وایئ، دغه شان دعقل او حکمت اوپوهې دشعرونوهم اجازه شته[1]، ددې نه علاوه شعراوشاعری فضول ده. دحضور ﷺ ارشاددې چې:دچاخیټه دې دپیپ نه ډکه شي داددې نه بهترده چې دهغه سینه دشعرونونه ډکه وي.[2]

ایا دچپه پیاځې ویستونکي دین کوږوي؟

سوال: ایادا حقیقت دې چې دچاسرکې لارکړه وي دهغه دین کوږ وي؟ اوایاسرچپه ګومنځول کبیره ګناه ده؟

جواب: دې کې دفاسق اوفاجر اوکافرانومشابهت دی[3]،اودازړه د کوږوالی علامت دی، اودزړه دکوږوالي نه پناه غوښتل پکاردي.[4]

ماشوما نوبا ندې د ټايي اچولوګناه د سکول په ذمه دارا نا نوبا ندې ده

سوال: مونږسره نزدې سکول کې دماشومانویونیفارم کې ټایی هم شامله ده،اوزمونږدخیال مطابق ټائي اچول منع دي،کله چې دسکول مشرسره دې باره کې خبره وکړل شوه نوهغوی ته دحوالي ورکولو نه پس هغوی دټائي دلرې کولووعده وکړه،تاسونه هم دامعلومول غواړم چې ټایي جائزده اوکه ناجائز؟ اوکه ناجائزده نودکومووجاهاتوپه وجه باندې؟

---

[1] وحمل ما وقع من بعض الصحابة إنشاء الشعرالمباح الذى فيه الحِكَم والمواعظ، فإنّ اللفظ الغنى أعم كما يطلق على المعروف يطلق على غيره كما فى الحديث ومن لم يتغن بالقرآن فليس منّا(درمختار ج:٣ ص: ٣٩١)

[2] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لأن يَمْتَلِي جوف أحدكم قَيْحًا يريه خيرًا له من أن يمتلى شعرًا (ترمذى ج: ٢ ص: ١٠٨، باب ماجاء لأن يمتلى جوف أحدكم قَيْحًا)۔

[3] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهومنهم، أى من شبه نفسه بالكفارمثلًا فى اللباس وغيره أو بالفساق أو الفجار أو بأهل التصوّف والصلحاء الأبرارفهومنهم أى فى الإثم والخير...إلخ (مرقاة شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٤٣١، كتاب اللباس،طبع بمبئى۔

[4] رَبَّنَا لا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا،،(آل عمران:٨)۔

جواب: ټائي د عیسایانو مذهبي طریقه ده، کومه چې هغوی د حضرت عیسیٰ علیه السلام د صلیب د نښې په طور باندې اختیار کړې وه، په دې وجه باندې دیو مسلمان له پاره ټائي تړل د عیسایانو د تقلید په وجه باندې حرام دي[1]، او د سکول د ماشومانو له پاره دا لازم ګڼل ډیر سخت ظلم دی، ماشومان خو معصوم وي، خو د دې ګناه به د سکول په ذمه دارو باندې وي.[2]

د شرټ، پینټ او ټایي شرط اېښودونکي کالج کې سبق ویل

سوال: موږ هلکان د "پین اسلامک ګروپ آف انډسټریز.. د استهاف کالج کې سبق وایو. د دې ځای د قانون مطابق پینټ، شرټ او ټایي لګول ضروري دي، کوم طالب علم چې د ټایي نه بغیر کلاس ته راځي د هغه داخله منع وي. د اسلام په نزد باندې د ټائي څه حیثیت دی؟ او د داسې کس باره کې چې ټائي لګوي څه حکم دی؟ او ټول استاذان او طالبعلمان مسلمانان دي.

جواب: د دې نه علاوه چې ټائي لګول جائز دي او که ناجائز، سوال دا دی چې زمونږ تعلیمي ادارې به د کوم وخت پورې د اسلامي تهذیب او اخلاقو قتل ګاه وي؟ د اکبر مرحوم د قول مطابق

یوں قتل سے بچوں کے وہ بدنام نہ ہوتا
افسوس کہ فرعون کو کالج کی نہ سوجھی

د پورته ذکر شوی کالج قانون او اصول د انګریزانو د دور یادګار او د پاکستان کې د اسلام د دعوې نفي کوي. تاسو د دې قانون او اصولو خلاف احتجاج وکړئ او حکومت نه مطالبه وکړئ چې د هغوی ناروا قانون ختم کړي.

د شریعت د حکمونو خلاف د جلوس ویستونکو ښځو شرعي حکم

سوال: خبره داده چې دیو جماعت خلک د الله تعالی کتاب او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مني، خو صرف اخري نبي یې نه مني، د دې په وجه باندې هغوی ته غیرمسلم ویل کیږي. د اخبارونو په ذریعه به تاسو ته هم معلوم شوی وی چې لاهور کې څه ښځو د الله تعالی او د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو خلاف جلوس ویستلو او د اسلامی حکمونو منلو نه یې انکار وکړ، نو دا ښځې د اسلام نه خارجې او مرتدې نه شوې؟ او د حضرت عمر رضی الله عنه دیهودي په حق کې د حضور صلی الله علیه وسلم فیصله نه منونکی او صرف په نوم باندې د مسلمان سر د بدن نه جدا کړې و، د غه شان د حضرت نوح علیه السلام ښځه د خپل نبي او خاوند اطاعت نه کولو په وجه باندې دوزخ ته واچول شوه، او د فرعون کافر ښځې

---

[1] أیضا تیره حاشیه (قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه...الخ) وګورئ!۔

[2] ومایکره للرجال لبسه یکره للغلمان والصبیان لأن النص حرم الذهب والحریرعلی ذکور أمته بلا قیدالبلوغ والحریة والإثم علی من ألبسهم لأنا أمرنا بحفظهم، کذا فی التمرتاشی عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٣١، الباب التاسع فی اللبس ...الخ)۔

حضرت آسیې ته جنت کې د ایمان په وجه باندې اعلیٰ مقام ورکړل شو،چې د هغې ګواهي په قران کې موجوده ده.

سوال داپیدا کیږي چې کوم ښځو د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ خلاف احتجاج وکړ، دپورته بیان شوي خبرومطابق مرتدې شوې اوکه نه؟ دهغوی نکاح خپل مسلمانانو خاوندانوسره پاتې شوه اوکه پخپله باندې ختمه شوه؟ اوکه چیرې هغوی مړې شي نو د مسلمانانو په هدیروکې دهغوی د ښخولو اجازه شته؟ دهغوی اولادسره مسلمانان ودونه یا رشته قائمولی شي اوکه نه؟

دامبارکی اوتعریف خبره ده چې دلاهورنرسانو دخپل ایمان حفاظت وکړ اود مغرب تقلید کونکو او د اسلام د ښمنانو ښځو دجلوس نه یې دخپلې بیزارۍ اظهار وکړ،چې دهغې په بدله کې ورته دجنت د ښځو بی بی آسیه اورابعه خاتون اوحضرت فاطمه رضی الله تعالی عنهما دملګرتیا سعادت به حاصل شي، دې باره کې یوه خبره عرض کول غواړم چې د دین عالمانو ته دحضرت امام اعظم رحمه الله اود نوروعالمانو کردار اداکولو کې څه بندیزدی؟ دشرعي عدالت نه د ملحدو اوخرابو ښځو خلاف د رټ په درخواست باندې،ددې ښځو په کافرانه احتجاج باندې دهغوی حیثیت ښودل پکاردي،چې دا مؤمنانې دي اوکه دحضرت نوح علیه السلام اود حضرت لوط علیه السلام د ښځو په فهرست کې شاملې دي،د کومو انجام چې قران مجید ښودلی دی.

بیاعرض کول غواړم چې دیوحدیث دمفهوم نه داثابتیږي چې دچاپه لاس کې اقتداروي که چرې هغه داوامرپه زیاتولو کې مدد ونه کړي اوبدۍ په طاقت باندې منع نه کړي نوالله تعالی چرته په ملک باندې څوک ظالم مقرر کړي، چې هغه په بوډاګانو او ماشومانو به رحم نه کوي،اوظلم نه دخلاصی دعاغوښتلې کیږي او الله تعالی هغه دعانه قبلوی، چې دهغې مظاهره د ۱۹۷۱ء په جنګ کې شوې ده،اودحاجیانودعا رد شوه.

په دې وجه باندې دپاکستان حکمران اودالله تعالی دطرف نه ورکړې شوې داقتدار سنبهالونکي که چرې دملک نه فحاشي، بدکاري اونورجرمونه نه شي بندولی نودالله تعالی په سنت کې به هیڅ فرق نه راځي،په دې وجه باندې دیوڅوورځوعیش دشیطان شنه باغونه ګڼلو سره سمدستي توبه کول پکاردي چې زلزلې راتلل بند شي، **فاعتبروا یااولی الابصار.**

جواب: یومسلمان کوم چې الله تعالی اورسول ﷺ باندې ایمان ساتي، هغه د اسلام اواسلامی حکمونو خلاف څنګه احتجاج کولی شي؟ کوموښځوچې د اسلامی حکمونوخلاف احتجاج کړی دی، زماقیاس دی چې هغوی دمخکې نه مسلمانانې نه وې،اوکه چرې وې نود احتجاج نه وروسته د اسلام نه خارجې شوې[1]. که چرې هغوی ته داخرت کې دخلاصي فکروي نوپه

[1] وإن أنكر بعض ما علم من الدين ضرورة كفر بها (شامی ج: ۱ ص: ٥٦١، مطلب فی البدعة خمسة أقسام)۔

خپل دې کارباندې دې خفګان کولو سره توبه وکړي اودخپل ایمان اونکاح تجدیددې وکړي[1]، خو اندازه داده چې دمرګ نه مخکې به هغوی ته په خپل کاربانده هیڅ خفګان نه وي،بلکې هغوی به مسئله ښودونکوته کنځل کوي.

د اسلامي شعائرو توهین او سزا

سوال: اسلام آباد کې تیرو ورځوکې بین الاقوامی سیرت کانفرس د ښځوله پاره منعقدشو، هغه کې داسلام اوددین اوچت اوچت عالمانوشرکت وکړ،دې کانفرنس کې یوطرفته داسلام مقصدونه دمخکې راوستلوله پاره کاروشو،بل طرف ته پکې داسې خبرې هم اوشې دکومو طرف ته چې توجه ورکول پکاردي، دتې وي یوې لیکونکې وویل چې سړیوکې څه ناڅه نقص اینبودل شوی دی،دا دالله تعالی قدرت دی چې دحضور ﷺ زوی نشته،اودحضرت عیسی علیه السلام پلار نشته.(بحواله رپورټ روزنامه جسارت صفحه نمبر۲ مورخه دسمبر۱۹۸۶ء)

تاسو مهرباني وکړئ دقران اوسنت په رڼاکې اووايئ چې داسې ولې وشو؟ اویواسلامي حکومت کې دداسې ښځې له پاره څه سزاده؟ مهرباني وکړئ تاسودجنګ اخبارپه ذریعه باندې جواب راکړئ چې عام مسلمانان ترې نه هم فائده واخلي.

جواب: حدیث شریف کې دي چې ښځه دګسې پښتۍ نه پیدا شوې ده،اوهغه نیغول ممکن نه دي،اوکه چېرې دهغې دنیغولو کوشش مووکړنوماته به شي، اودهغې ماتیدل طلاق دی.(مشکوة شریف ص ۲۸۰)[2]

ادیبې صاحبې(کومه چې کیدای شي ددغې اجتماع دټولو نه د اوچتې عالمې په حیثیت باندې پیش شوې وي) په خپله مصرعه کې دحضور ﷺ دپورته ذکرشوی ارشاد دمقابلې کولو کوشش کړی دی.

د ادیبه صاحبې دعقل اوپوهې داحیثیت دی چې هغه د حضور ﷺ دبچیو دغتیدو اود حضرت عسیی علیه السلام دپلارنه بغیرپیدائش نقص ګڼي ,,انا لله وانا الیه راجعون،، حالانکې عقل مند خلکوته پته ده چې دادواړه شیان نقص نه بلکه کمال دی،اوددې د تشریح کولو داموقع نه ده. پاتې شوه داخبره چې اسلامی حکومت کې دداسې ګنده ذهن لرونکې ښځې له پاره څه سزا ده؟ ددې سزاخوپخپله اسلامی حکومت تجویزکړې ده، چې دامحترمه یې دتې وي له پاره لیکونکې منتخب کړې ده، دیوې پرده کونکې له پاره دې نه زیاته بله څه سزاکیدای شي چې

---

[1] مایکون کفرًا إتفاقًا یبطل العمل والنکاح..إلخ (شامی ج:٤ ص: ٢٤٧، مطلب جملة من لا یقبل إذا إرتد)

[2] عن أبي ہریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن المرأة خلقت من ضلع لن يستقيم لك على طريقة، إن إستمتعت بها وبها عوج، وإن ذهبت تقيمها كسرتها، وكسرها طلاقها (مشكوة ص: ٢٨٠، باب عشرة النساء وما لكل واحدة من الحقوق، الفصل الأوّل)_

هغه دتې وي په پرده باندې دخپل عزت عام نمائش کولو باندې مجبوره وي.

د مدينې منورې نه علاوه بل ښارته منوره ويل

سوال: زما دنظرنه يوه رساله تيره شوه، چې هغې کې دپاکستان يو مشهورښارته المنوره ويل شوي دي، حالانکې داسې لفظ مونږچېرته مخکې نه دی لوستلی، په دغه ښارکې ديوخاص عقيدې خلک (قاديانان) اوسيږي، اياداسې الفاظ استعمالول جائزدي اوکه نه؟

جواب: د المنوره لفظ دمدينې له پاره استعماليږي[1]، دالمدينة المنورة په مقابله کې ديو خاص عقيدې والاخلکو (قاديانانو) دربوة المنورة ويل دحضور ﷺ دطرف نه سترګې پټول، شر پيدا کول اود مسلمانانو د ازارولو يو شرمناک کوشش دی، اودهغوی دکفراوضلالت يوتازه دليل دی.

د عربي سره دګډو اردو الفاظو مفهوم جدا دی

سوال: مولاناصاحب! عام طورباندې ليدل شوي دي چې بعضې ښه الفاظ په غلطومعناووکې استعماليږي، مثلاً يولفظ دی "صلوة"، چې ددې معنی لمونځ ده، خودحيرانتيااوافسوس خبره ده چې دا لفظ اردو ژبه کې دمحاروې په طورباندې استعماليږي اوددې معنا بدرد ويل، کنځل وغيره کول، ياسپورې ستغې ويل دي، لکه صلواتين سنانا، صلواتين پڑهنا، اومثلاً يو لفظ دی "رقيب"، چې عام طورباندې دحسدکونکي، مخالف، يادښمن کس له پاره استعماليږي، لکه رقيب روسياه وغيره، حالانکې داالله تعالی په نومونو کې يونوم دی، تاسونه پوښتنه کول غواړم چې شرعي لحاظ سره داڅنګه عمل دی، چې دعربي ژبې دومره مقدس الفاظ اردوکې دداسې محاورو په طورباندې استعماليږي؟دداسې خلکوله پاره څه حکم دی، اياهغوی ګناهګاريږي؟ مهرباني وکړئ تفصيل اودليل سره جواب راکړئ، چې زماپه شان دادنی طالب اوددين نورو زده کوونکو تسلي وشي، ځکه چې ډيرغيرمسلم کوم چې دې خبروباندې پوهيږي، هغوی مونږپورې ټوکې کوي چې تاسو څنګه مسلمانان يئ پخپله دخپل مذهبي کارونوپسې ټوکې کوئ.

جواب: ددې الفاظوداردومحاورې دعربي دمحاورو نه جدا دي[2] کوم خلک چې داردوپه ترکيب کې د "رقيب"، لفظ استعمالوی، دهغوی دذهن به يوه برخه کې هم دانه وي چې داعربي کې د الله تعالی نوم دی، اوبياعربي کې هم ديويولفظ ډيرمعناوې وي، نوديوې ژبې محاورې

---

[1] (المنوّرة) أی بساكتها صلى الله عليه وسلم ولها أسماء تدل على شرفها (مراقی الفلاح شرح نورالإيضاح ص: ٤٠٥)

[2] وګورئ: فيروزاللغات ص: ٧٨٤،٦٥١، طبع فيروز سنز علمی اردو لغت ص: ٨١٧، ٩٨٠، طبع علمی کتب خانه لاهور، نوراللغات ج: ٣ ص: ٢٥٨، ج: ٣ ص: ٦٣٧ طبع نيشنل بك فاؤنديشن، اسلام آباد)

دبلې ژبې په محاوروباندې نه شي قياس کيداى، اونه ديولفظ دمعنا په وجه باندې دبلې معنې نه انکارکيداى شي.

دچا ذاتي خبرې اوريدل ياپټ ليک خلاصول

سوال: په څه اداروکې داغلطه طريقه ده چې هلته کې دنوکرانوپه ټيلي فون باندې کيدونکې خبرې اوريدل کيږي اوکه چرې ديو نوکر په نوم باندې ليک راشي، که هغه دهغه ذاتي ليک وي اوکه د دفتر، خلاص کړل شي، له دې وروسته که چرې دانتظامې خوښه وي نو ورکړل شي، که نه، هغه ته پته هم نه وي چې دهغه په نوم ليک راغلى دى، تاسوداسلام په نزدباندې ووايئ چې دادواړه کارونه څنګه دي؟

جواب: دچا ذاتي خبرې او پټ ليک دهغه امانت دې، خبرې اوريدل اودچاخط خلاصول په امانت کې خيانت کول دي، او خيانت کبيره ګناه ده، په دې وجه باندې دچاخبرې اوريدل اودهغه خط خلاصول ناجائزدي[1]، اوکه داشک وي چې داخط ياخبرې دهغه کس خلاف دي، نوبيا جائزدي.

د نفساني خواهشاتوپوره کولو له پاره مسلک بدلول

سوال: په (۴) نومبرباندې مفتى عبدالرؤف صاحب دطلاق په موضوع باندې ليکلووخت کې يوه فقره داسې ليکلې ده. دطلاق دحکم ختمولوله پاره بل مسلک اختيارول حرام دي، اوسه پورې ماکښل چې دالله تعالى يادرسول اللهﷺ ديوښکاره حکم خلاف حرام دى، ترکومه حد پورې چې زه پوهيږم يومسلک پريښودل دالله تعالى اورسولﷺ دحکم خلاف کول نه دي، تاسوته خواست دى چې تاسوبه د حراموجامع تعريف بيان کړئ؟

جواب: صرف دنفسي دخواهش اومطلب حاصلولوله پاره مسلک اختيارول، دخواهشاتو اتباع ده، چې دهغې حرام کيدل په قران اوسنت کې منصوص دي[2]، کوم کس چې دمطلب له پاره مسلک بدلولى شي، هغه دين هم بدلولى شي، اکابرينوفرمايلي دي چې کوم کس دنفس د

---

[1] عن أنس رضى الله عنه قال: قلّما خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم إلا قال: لا إيمان لمن لا أمانة له، ولادين لمن لا عهد له (مشکوة ص: ۱۵، كتاب الإيمان)_

[2] فلا تَتَّبِعُوا الْهَوَى أَنْ تَعْدِلُوا، (النساء:۱۳۵) وفى الدرالمختار: أن الرجوع عن التقليد بعدالعمل باطل إتفاقًا وهوالمختارفى المذهب (قوله أن الرجوع) صرح بذالك المحقق ابن الهمام فى تحريره فتحصل مما ذكرناه انه ليس على الإنسان إلتزام مذهب معين، وانه يجوزله العمل بمايخالف ما عمله على مذهبه مقلدًا فيه غيرإمامه مستجمعا شروطه ويعمل بأمرين متضادين فى حادثتين لا تعلق لواحدة منهما بالأخرى وليس له إبطال عين ما فعله بتقليد إمام آخر لأن إمضاء الفعل كإمضاء القاضى لا ينقض ...إلخ (فتاوى شامى ج: ۱ ص:۷۵ مطلب فى حكم التقليد والرجوع عنه)_

خواهش له پاره فقهي مسلک بدلوي،نوويره ده چې د هغه مرګ به په ایمان نه وي (نعوذبالله).

د محاورې په ډول داسې ویل "لمونځ معاف کولو ته لاړه روژه پرې فرض شوه"

سوال: بعضې خلق دخبرودوران کې دداسې محاورومثال ورکوی کومې چې یومسلمان ته ویل نه دي پکار مثلاً "لاړه دلمونځ معاف کولو له پاره روژې پرې فرض شوې،، وغیره وغیره مهرباني وکړئ دې باره کې خپل خیال وفرمایئ چې خلک دداسې خبرونه توبه وکړي.

جواب: اګرچې محاوره کې دلمونځ توهین کول مطلب نه وي،خوبیاهم دداسې محاورونه ځان ساتل پکاردي.[1]

مزاربانډې پیسې اچول څنګه دي

سوال: زه چې کومه لاربانډې موټر چلوم هغه لارکې یومزار رآځي، خلک ماته پیسې راکوي چې په مزار یې واچوه ،مزاربانډې پیسې اچول ل څنګه دي؟

جواب: مزاربانډې چې کومې پیسې اچول کیږي،که چرې مقصدیې هلته فقیرانو او مسکینانو بانډې صدقه کول وي،نوجائزدي[2]،اوکه چرې دمزارنذرانه یې مقصدوي نو دا ناجائز اوحرام دي[3]. داخو ما د اصولواوضابطې خبره ولیکله،خودنن سبادخلکوحالات هم داسې دي چې دهغوی مقصددادویم وي،په دې وجه بانډې منع کول پکاردي.

د وکیل ګټه شرعي طوربانډې څنګه ده

سوال: زه ددولسم جماعت طالب علم یم، اوداړتس طالب علم یم، زه وکیل جوړیدل غواړم، خوما دډیروخلکونه اوریدلي دي چې دوکیل ګټه حرامه ده،. زه داپوښتنه کول غواړم چې ایاپه ریښتیا بانډې دوکیل ګټه حرامه وي؟ ایاهغه بالکل حلاله نه وي؟

جواب: وکیل که چرې دروغ ریښتیا او ریښتیا د روغ ثابتولو سره فیس اخلي نو دا حلال نه دي، اوکه چرې یوه مقدمه صحیح طوربانډې وړاندې کوي نوهیڅ وجه نه شته چې دهغه ګټې ته حرام وویل شي، اوس خپله وګورئ چې وکیلان حضرات کله مقدمه کوي نو څومره دروغ پکې شاملوي...؟[4]

---

[1] وګورئ: فیروزاللغات ص: ۱۱۹۷، علمی اُردو لغت ص: ۱۵۲۶)۔

[2] قال الله تبارك وتعالى: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قلوبهم،، (التوبة: ٦٠)

[3] واعلم ان النذر الذی یقع للأموات من أثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها إلی ضرائح الأولیاء الکرام تقربا إلیهم فهو بالإجماع باطل وحرام(درمختار ج:۲ ص:٤٣٩،فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم)

[4] وګورئ: إمدادالفتاوی ج: ۳ ص: ۳۲۰ طبع دارالعلوم کراچی، ...[بقیه په راروانه صفحه...

[بقیه په راروانه صفحه...

بيت الخلاء كې اخبارلوستل

سوال: بيت الخلاء كې د اسلامي كتابونو نه علاوه اخبارلوستل يا خبرې كول څنګه دي؟

جواب: بيت الخلاء د اخبارلوستلو او خبرو كولو ځاى نه دې، د غلته اخبار لوستل ياخبرې كول ګناه ده[1]

محبت او خوښه بدګڼل

سوال: زمونږ په خاندانانو كې مينه او محبت دومره بدولې ګڼل كيږي؟كه چرې يوهلك يا انجيلۍ د خپل ژوند ملګرى دوخت نه مخكې خوښ كړي نو دې كې څه بده خبره ده؟

جواب: محبت بده خبره نه ده[2]، خوددې قيدنه ساتل بده خبره ده. او دې بې قيدي دانسان صحت او عمر او دين او دنيادواړه تباه كړي.

آيا نامحرمه ښځوسره محبت عبادت ګڼل دكفرخبره ده؟

سوال: محمدبن قاسم خوداوولسو كالوپه عمركې سندهه فتح كړى و، اونن سباپه سكولونو او كالجونو كې سبق ويونكي هلكان اكثر د نامحرمو نجونوپسې ګرځي، بس استاپونوباندې ولاړوي اوغير محرمه نجونوپسې اوازونه كول، بس كې ناستې سره دكورپورې هغوى پسې تلل اوهغوى ته خطونه وغيره ليكل دځوانانومشغله ده، دكالج هلكانوسره يوځل بحث وشو، هغوى دادليل وړاندې كوي چې مونږ نجونو سره څه كوو هغه په مينه اومحبت كې كوو اومينه كول څه ګناه نه، بلكې عبادت دى، ماهغوى نه پوښتنه وكړه چې تاسوته دا چاويلي دي چې مينه كول عبادت دى؟ نوهغوى وويل چې په ريډيو، تي وي اوسنيماباندې شپه ورځ مونږته همداسبق ښودل كيږي، چې دمينې په وجه باندې ژونددى، اومينه كول عبادت دى، ما هغوى ته وويل چې صحيح خبره ده چې انسانانو اودالله تعالى مخلوق سره مينه كول عبادت دى، خو دهغې عبادت داطريقه داده چې يو وږى كس باندې خوراک وكړئ، ديويتيم ياكونډې مدد وكړئ، دمصيبت كې مبتلاكس سره همدردي وكړئ، دضرورت په وخت كې ديو مجبور او

....بقيه د تيرمخ]..فتاوى محمودية ج: ٤ ص: ٣٨١، طبع جامعه فاروقيه كراچى)۔

[1] إذا اراد أن يدخل الخلاء ينبغي ...... لا يفكر فى أمرالآخرة كالفقه والعلم فقد قيل إنه يمنع منه شىء أعظم منه .... ولا يطيل القعود فإنه يولد الباسور ولا يمتخط ولا يتنحنح ولا يكثر الإلتفات ولا يعبث بدنه .... وينكس رأسه حياء مما ابتلى به (ردالمحتار ج: ١ ص: ٣٤٥، تتمة مطلب فى الفرق بين الإستبراء والإستنقاء والإستنجاء، أيضًا: عالمگيرى ج: ١ص: ٥٠، كتاب الطهارة، الباب السابع فى النجاسة، الفصل الثالث فى الإستنجاء)۔

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لم تر للمتحابين مثل النكاح(مشكوة ص:٢٦٨، كتاب النكاح، الفصل الثالث)

مظلوم انسان مدد وکړئ. اودواده نه پس خپلې ښځې سره مینه وکړئ، داټولې خبرې دمینې اصلي مفهوم دی، او عبادت کې داخلې دي. خوهغوی په خپل ضدباندې قائم دي، چې غیرمحرمه نجونو سره تعلقات جوړول هم دغه مینه کې شامل دي کومه چې دعبادت درجه لري مهرباني وکړئ دې مسئلې باره کې د شریعت په نزدباندې جواب راکړئ!

جواب: دغیرمحرم سره تعلق اواشنائي حرامه ده. داپاکه مینه ګڼل جهالت دی. اوحرام حلال بلکې عبادت ګڼل دکفرخبره ده.

د بینک په مدد ریډیوباندې دیني پروګرام وړاندې کول

سوال: ریډیوباندې یوپروګرام وړاندې کیږی "روشنی،، کوم چې زیا ترد........ په اوازباندې وي، خوددې پروګرام نه وروسته ویل کیږي چې دا پروګرام ستاسوپه خدمت کې دفلانکې بینک په مدد باندې وړاندې شو. تاسودقران اوحدیث په رڼاکې ووایئ چې ایا دسود کاروبارکونکې ادارې په مددباندې داسې پروګرامونه وړاندې کول صحیح دي؟ ځکه چې سودحرام دی.

جواب: دحرامومال په نیک کارونوکې خرچ کول صحیح نه دي، بلکې دوه چنده ګناه ده[1]. دا پروګرام "روشنی" نه ده بلکې ,,ظلمت،، دی، همدغه وجه ده چې ددې نه دیوکس اصلاح هم نه کیږي.

د ناواده شوې ښځې خپل ځان دچاښځه ښودلوسره ووټ اچول

سوال: زموږمعاشره کې چې څنګه نورې اخلاقی بیماری خوریږي، دهغې نه زیاتې دجعلي ووټ اچولو بیماری دکینسرپه شان خوریږي، خاص طورباندې ښځوکې دابیماري ډیره عامه ده، یوه ښځه هسې بې هیڅه خپل ځان دپردي سړی ښځه ښودلوسره ووټ اچوي، اوس دحل کولودوه خبرې دی: لومړی دشریعت په نزدباندې ددې څه حیثیت دی؟ ایاداسې کول جائزدي؟ که چرې دیواسلام پسندکس له پاره داسې وکړ شي؟ دویم: که چېرې یوناواده شوې انجیلی ځان دپولنګ دعملې مخکې دچا ښځه ښکاره کړي اوهغه سړی که چېرې دقاضي په عدالت کې دعوه وکړي چې فلانکی زمابښځه ده، اود پولنګ عمله ګواهي هم ورکړي؛ نواياهغه انجیلی کومې چې جعلي ووټ اچولوله پاره خپل ځان واده شوی ښودلی و، دهغه ذکر شوي سړي ښځه شوه اوکه نه؟ شریعت دې باره کې څه فرمایي؟

---

[1] وفي الشامية: قال تاج الشريعة: أما لو انفق في ذالك مالًا خبيثًا ومالًا سببه الخبيث والطيب فيكره، لأن الله تعالى لا يقبل إلا الطيب (شامي ج: ۱ ص: ۶۵۸، مطلب في أحكام المساجد)۔

یادونه: یادسائل پکاردي چې دووتې اچولووخت کې خپل اصلي نوم نه ښودل کیږي،بلکې دانتخابي فهرست والانوم ښودل کیږي.
جواب: د ووټ حیثیت،څنګه چې حضرت اقدس مفتی محمدشفیع (رحمه الله) لیکلي دي، د شهادت او ګواهي دی[1]،اوددروغوګواهي حضورﷺ په غټوګناهونوکې شمیرلې ده[2]، یعنې اووه غټې ګناهونه کوم چې ټولو ګناهونوکې بدتردي اودانسان دین اودنیادواړه تباه کوي،ددې نه معلومه شوه چې ووټ کې جعل سازي کول څومره غټه ګناه ده؟ اوکوم کس چې دومره غټه ګناه حلال ګڼلو سره کوی،هغه نه اسلام پسند دی اونه شرافت پسند.[3]
۲. کومه ښځه چې جعل سازۍ سره خپل ځان دچاښځه ښایي ددې اظهارکولوپه وجه باندې دهغې دهغه سړی سره نکاح نه کیږي[4]، اوکله چې نکاح نه ده شوې نوعدالت کې داثابتول کیدای هم نه شي،البته دغه سړې که چرې غواړي نودغې ښځې ته دعدالت نه دجعل سازۍ سزاورکولی شي.

مجبورۍسره دقبلې طرف ته مخ کولو سره متیازې کول

سوال: که چرې دا صورت پیښ شي چې یوطرف ته قبله وی اوبل طرف ته بیت المقدس اودریم طرف ته خلک وی نوکوم طرف ته مخ کولوسره متیازې کول پکاردي؟
جواب:متیازې کولووخت کې دقبلې طرف ته مخ یاشاه کول مکروه دي،اودسړیوطرف ته(که ښځې وی اوکه سړی) مخ کول حرام دي، باقي هرطرف ته جائزدي، دسړیواوښځوله پاره یوشان حکم دی.

ایا ولاړه باندې متیازې کول سنت دي؟

سوال: یومولاناصاحب فرمایل چې ولاړه باندې متیازې کول یولحاظ سره سنت دي،ځکه چې حضورﷺ به هم کله کله په ولاړه باندې متیازې کولې. ایاداصحیح دي؟

---

[1] وګورئ: جواهرالفقه ج: ۲ ص: ۲۹۷، طبع دارالعلوم کراچی۔
[2] قوله علیه السلام: ألا أخبرکم بأکبرالکبائر؟ قالوا: بلی یارسول الله! قال: الإشراك بالله وعقوق الوالدین وشهادة الزّور أو قول الزّور، فمازال رسول الله صلی الله علیه وسلم یقولها حتّی قلنا: لیت سکت (ترمذی ج: ۲ ص: ۵۶ باب الشهادات)۔
[3] عن أنس قال: قلماخطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم إلا قال: لا إیمان لمن لا أمانة له ولا دین لمن لا عهد له رواه البیهقی (مشکوة ص: ۱۵ کتاب الإیمان، الفصل الثانی)۔
[4] النکاح ینعقد بالإیجاب والقبول ...إلخ (هدایة ج: ۲ ص: ۳۰۶ باب النکاح_

جواب: بالکل غلط دي، کوم کارچې حضور ﷺ دعذرپه وجه باندې کړی وي، هغه عام سنت نه شي کیدای.

د مجبورۍ په وجه په ولاړه متیازې کول

سوال: دپاکستان تقریباً هرغټ ښارکې پنځه کم سل فیصده هوټلونو کې، ریلوئے استیشنونو کې، هسپتالونوکې، پارکونو کې، سرکاري اوغیرسرکاري دفترونوکې په بیت الخلاء کې په ولاړه باندې دمتیازوکولوانتظام وي، سوال دادی چې ایاپه ولاړه باندې متیازې کول طبعي اومذهبی لحاظ سره صحیح دي؟

جواب: دیوبې تعلیمه سرې زوی دانګریزي تعلیم حاصلولو، چاترې پوښتنه وکړه چې څومره تعلیم یې حاصل کړ، جواب یې ورکړچې په ولاړه باندې متیازې یې خوشروع کړې، جدیدتهذیب انساني معاشره په حیوانیت بدله کړې ده، دوی دځناوروپه شان په ولاړه باندې متیازې کوي اوپه ولاړه باندې ډکې اوتشې متیازې کوي، داستنجاء اوصفایۍ ضرورت ورته نه وي، دې حیواني معاشره کې انسانانوته مشکلات پیښیدل قدرتي خبره ده.

د ونې لاندې متیازې کول

سوال: دونې یابوټي وغیره لاندې متیازې کول صحیح دي اوکه نه؟

جواب: کومه ونه چې سورۍ کوي اودهغې لاندې خلک ارام کوي، دهغې لاندې متیازې کول منع دي، دغه شان هرهغه ځای کې متیازې کول منع دي، چې په وجه یې خلکوته تکلیف رسیږي.

دوایي کې شراب ګډول

سوال: ایادوایي(درملو) کې شراب ګډول جائزدي؟

جواب: دوایي کې شراب ګډول جائزنه دي[1]، اوکه چرې بیماري داسې وي چې دډاکټرانوپه نزدباندې دهغې علاج دشرابونه علاوه بل څه نه شي کیدای، نوځنګه چې دځان بچ کولوله پاره دحرامو خوړلو اجازه شته، دغه شان به ددې هم اجازه وي.[2]

[1] وحرم قلیلها وکثیرها بالإجماع لعینها أی لذاتها وفی قوله تعالی: إنما الخمروالمیسر الآیة عشردلائل علی حرمتها مبسوطة فی المجتبی وغیره (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٤٤٨، کتاب الأشربة)۔

[2] وکذا فی الذخیرة وما قیل أن الإستشفاء بالحرام حرام غیر مجری علی إطلاقه، وإن الإستشفاء بالحرام إنما لا یجوز إذا لم یعلم أن فیه شفاء أمّا ان علم ولیس له دواء غیر المحرم یجوز(ردالمحتار ج: ٦ ص: ٢٢٨ باب مطلب فی التداوی بالمحرم) أیضًا: ففی النهایة عن الذخیرة یجوز ان علم فیه شفاء ولم یعلم دواء آخر وفی الخانیة فی معنی قوله علیه الصلاة والسلام: ''ان الله لم یجعل شفاءکم فیما حرم علیکم،، کما رواه البخاری ان فیه شفاء لا بأس به (شامی ج: ١ ص: ٢١٠، مطلب فی التداوی بالمحرم)۔

ایت کرسي لوستلو سره لاسونه پړقول حرام دي

سوال: زما کورکې روزانه دویده کیدونه مخکې ایت کرسی لوستلو سره په زورباندې لاسونه پړقول کیږي ،عقیده داده چې دلاسونو پړقولو اوازچې څومره لرې ځي،کوربه دهرمصیبت اوغل نه محفوظ وي. ایت کرسی خودالله تعالی کلام دی،ددې په برکت کې هیڅ شک نه شی کیدای. خودلاس پړقولوسره ددې څه تعلق دی؟

جواب: دغه شان لاس پړقول حرام دي. اوداعقیده چې لاسونه پړقولوسره مصیبوته لرې کیږي اوغله تښتي دجاهلیت او وهم عقیده ده. ایت کرسی لوستل صحیح دي اودحفاظت ذریعه ده.

احادیث یا اسلامی لټریچر چاپ کولو سره دمفت تقسیمولو ثواب

سوال: که چرې یوکس اسلامی مسئلې،احادیث یاحکمونه دالله تعالی درضاله پاره دعوام دپوهولو له پاره چاپ کړي اومفت یې تقسیم کړي نوایاهغه ته به ثواب ملاویږي اوکه نه؟ اودچاپ کونکي کس اراده داوی چې داعمل زماله پاره دثواب ذریعه جوړه شي،یاهغه حکمونوکې یوکس په هغې باندې عمل وکړي اوهغه زماله پاره دمغفرت ذریعه جوړه شي.

جواب: ددې نیک عمل په وجه باندې به ورته اجراوثواب ملاویدو کې څه شک دی؟[1] خودې شرط سره چې مقصد یې صرف دالله تعالی رضاوي،اومسئلې صحیح اومستندې وي.

وډیوسنټر باندې د قران تلاوت کول دین پورې ټوکې کول دي

سوال: دوډیوسنټر دافتتاح کولووخت کې دقران مجیدتلاوت کول اودتلاوت کونکو خلکوباره کې څه حکم دی؟

جواب: دغه خلک ګناهګارخودي،ماته خودې خبرې کې هم شک دی،چې هغوی به ددې کارکولونه پس مسلمان پاتې شي اوکه نه....؟

کیسې لوستل شرعا څنګه دي

سوال: دکیسوکتابونه،رسالې،ډائجسټونه اونورفحش کتابونه لوستل پکاردي اوکه نه؟ که چیرې ولوستل شي نوګناه به وي اوکه نه؟

جواب: اخلاقي، اصلاحی اوسبق ورکونکې کیسې لوستل جائزدي، فحش اوګنده کیسې چې په وجه یې اخلاق تباه کیږي، لوستل حرام دي.[2]

---

[1] قال فی مختارات النوازل: او أما الثواب فيتعلق بصحة عزيمته وهو الإخلاص (شامی ج: ٦ ص: ٤٢٥، کتاب الحظروالإباحة، فصل فی البیع)۔

[2] إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ (النور:١٩)۔

جومات کې قالينې يا بل قيمتي شی استعمالول

سوال: جومات کې قالينې يا بل څه قيمتي شی استعمالول جائز دي او که نه؟

جواب: جائز دي [۱]

جعلي ډګرۍ سره ډاکټري کول

سوال: که چرې يو سړي سره دډاکټري ډګري نه وی او د ډاکټر بورډ او جعلي ډګري سره پريکټس کوی نو ايا دهغه ګټه به حرامه وي؟ او دا د کومې درجې ګناه ده؟

جواب: که چرې دډاکټري فن نه لري نو ګناهګاربه وي [۲]، دهغه ګټه به ناجائزوي، او که چرې څوک دهغه دغلطې دوايي په وجه مړشو نو هغه باندې به تاوان وي.

دانجکشن د نقصان له وجې دويم انجکشن لګول او د دواړو پيسې اخيستل

سوال: ماته يو مريض راغی، دهغه تبه وه، ماورته ستن ووهله، خو اتفاق سره هغه ستن هغه باندې صحيح رانغله او هغې ستنې پرې څه چل وکړ، ماهغه مريض ته دهغې ستنې خلاف ستن ووهله، دلومړۍ ستنې قيمت شل روپۍ وواو ددويمې ستنې قيمت سل روپۍ دی. تاسو نه داپوښتنه کول غواړم چې شل روپۍ ترې نه واخلم، يا د دواړو ستنو قيمت کوم چې يوسل او شل روپۍ جوړيږي؟

جواب: که چرې تاسو مستند ډاکټريئ او تاسو لومړۍ ستن وهلو کې څه غفلت يا کوتاهي نه وه کړې، نو تاسو له پاره ددواړو ستنو قيمت اخيستل جائز دي، او که چرې تاسو مستند ډاکټر نه يئ، يا تاسو نه غفلت او کوتاهی شوې وه نو ددواړو پيسې اخيستل ستاسو له پاره جائز نه دي. [۳]

---

[۱] ولا بأس بنقسه خلا محرابه (بجصّ وماء ذهب) ولو بماله الحلال (شامی ج: ۱ ص: ۶۵۸، مطلب فی أحكام المساجد، طبع ايچ ايم سعيد كراچی)۔

[۲] عن عمربن شعيب عن أبيه عن جده ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من تطيب ولم يعلم منه طب فهو ضامن رواه أبوداؤد والنسائی (مشكوة ص: ۳۰۴، باب الديات، الفصل الثانی) أيضًا: وفی شرح المشكوة: (ولم يعلم منه طب) أی معالجة صحيحة غلبة على الخطاء واخطأ فی طبه وأتلف شيئًا من المريض فهو ضامن قال بعض علماءنا من الشراح لانه تولد من فعله الهلاك وهو متعد فيه إذ لا يعرف ذالك فتكون جنايته مضمونة على عاقلته (مرقاة شرح المشكوة ج: ٤ ص: ۳۳، كتاب الديات الفصل الثانی) قوله: وطبيب جاهل، بأن يستقيهم دواءً مهلكًا وإذا قوی عليهم لا يقدرعلى إزالة ضرره ردالمحتار ج: ٦ ص: ۱٤۷، كتاب الحجر)

[۳] قال العلامة ابن عابدين: وطبيب جاهل، بأن يستقيهم دواءً مهلكًا وإذا قوی عليهم لا يقدرعلى إزالة ضرره ردالمحتار ج: ٦ ص: ۱٤۷، كتاب الحجر)۔

د سګريټ پريښودو له پاره جرمانه مقررول

سوال: يوسړي يادوه سړي خپلوکې کيني اودافيصله وکړي چې موږبه بياسګريټ نه څښوو، اوکه چرې بياموسګريټ وڅښل نه پوره پنځه سوه رياله به دجرمانې په طورباندې اداکوؤ،که دوی کې يوکس خپله وعده ماته کړي نودهغه له پاره څه حکم دی؟ لږوضاحت سره وليکئ چې زمونږمشکل ختم شي.

جواب: تاسودانه دي ليکلي چې جرمانه به چاته ورکول وي، که چرې دامطلب وی چې کوم کس عهدمات کړي نوبل ملګري ته به جرمانه ورکوي نوداصحيح نه ده[1]،اوهغه باندې هيڅ لازم نه دي،اوکه چرې داسې خبره شوې وی چې کوم فريق عهدمات کړونوهغه به پنځه سوه رياله دالله تعالى په لارکې ورکوی نودابه نذروي،اودهغه په ذمه به دغه پيسې دالله په لارکې ورکول ضروري وي.[2]

د خپل کوربلي(چجه) په محله کې جوړول

سوال: زمونږمحله مسرت کالونی(مليرستي) کومه چې ډيره تنګه ده، دلته يوه کوڅه ده،دهغې اوږدوالې سل فټه اوپلن والې شپږفټه دی، دهغې کوڅې دواړوطرفوته کورونه دی، هغې کې ديو کور مالک ډاکټرصاحب دی،هغه ضعيف العمردی،هغه يوڅومياشتې مخکې د کوڅې طرف ته خپل کورجوړول شروع کړل،کله چې دکور جوړولوکې دڅت کارشروع شونوهغه په کوڅه کې دخپل چت سره درې فټه بلی جوړول شروع کړل، دمحلې خلکوپه يوځای دهغه مخالفت وکړ، دمحلې والو دليل داو چې دې کوڅه کې د بجلی لائن راځي اودهغې له پاره دواړوطرفوته ستنې لږيدلي دي، دټيلی فون لائن هم دغه کوڅه کې تيرېږي، نوددې په وجه باندې به کوڅه کې تياره شي، يادساتل پکاردي چې د کوڅې بل طرف ته کور والا بلی نه ده جوړه کړې،اونه يې اراده شته، محلې والو خپلو کې فيصله وکړه،هغې کې ډاکټرصاحب هم شريک ووچې کوڅه کې به بلی نه جوړيږي،اودکوربغيردبلی نه يې دجوړلوفيصله وکړه. خيردډاکټرصاحب کورجوړشو،اوس کله چې دبجلی محکمې والو

---

[1] وأفاد فى البزازية أن معنى التعزير بأخذالمال على القول به امساك شيء بماله عنه مدة ليجو ثم يعيده الحاكم إليه لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت المال كما يتوهّمه الظلمة إذ لا يجوز أحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعى وفى المجتبى لم يذكر كيفية الأخذ وأرى ان يأخذ فيمسكها فإن أيس من توبته يصرفها إلى مايرى، وفى شرح الآثار التعزير بالمال كان فى إبتداء الإسلام ثم نسخ والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذالمال (بحرالرائق ج:٥ ص: ٤٤ فصل فى التعزير، طبع دارالمعرفة، بيروت)۔

[2] وفى الدرالمختار: ومن نذرنذرًا مطلقًا بشرط........ ووجدالشرط المعلق به لزم الناذر لحديث من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى كصوم وصلاة وصدقة ووقف (الدرالمختارمع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٧٣٥، كتاب الأيمان)۔

دبجلۍ دلاتن لګولوله پاره کوټه کې کارشروع کړ نو ډاکټرصاحب پرې کاربندکړاوبجلۍ والا بې واپس کړل، چې دا لاتن به کوټه کې نه تیریږي، موږ به کوټه کې بلې جوړ وو. دډاکټرصاحب ددې عمل په وجه باندې شل کورونه دبجلۍ دسهولت نه محروم پاتې شول او سټریټ لاټونه کوم به چې دغه ستونوکې لګیدل هغه لګیدل بندشول. یادساتل پکاردي چې ډاکټر صاحب دخپلې ملکیت زمکې په یویوانچ کې خپل کورجوړکړی دی، او کوټه سرکاري ده، اوهغه استعمالوي، یعنی کوټې ته دکټرلاتن ئې راویستلی دی، اوخپل کور ته داخلیدوله پاره جبوتره ،ون سټپ one step، یې هم په کوټه کې جوړکړی دی، اوداهم لارکې بندیزجوړوي. خودمحلې والودې باندې اعتراض ونه کړ، دمحلې والا دډاکټرصاحب په دې عمل باندې ډیرزیات خفه دي اودهغه باره کې یې خبرې کول شروع کړی دي، دپورته بیان شویو خبروپه رڼاکې دډاکټرصاحب داعمل شرعی طورباندې جائزدی؟ ایادا دحقوق العباد نفې نه ده؟ اودا مشوره هم راکړئ چې دامسئله څنګه حل کړل شي؟

جواب: چونکې ډاکټرصاحب دعمل په وجه باندې دمحلې والوحقوق متاثرشوي دي، په دې وجه باندې دهغوی داجازت اورضامندۍ نه بغیرد ډاکټرصاحب بلې جوړول جائزنه دي.[1]

دعام المنفع کارله پاره دالله تعالی په نوم ورکړه

سوال: مونږ دمسافرودسهولت له پاره په جنرل بس استیندبهکرکې دجنرل پوسټ آفس بهکرته درخواست ورکړی دی، چې مسافروته دهغه ځای مقامي خلکوته دخط پوسټ کولوکې ډیر زیات تکلیف وي اوښاردجنرل بس استینډنه تقریباً درې میله لرې دی، مهرباني وکړئ چې دلته یو لیټربکس ولګوئ، دډاکخانې والونه مو درخواست په دې شرط باندې منظورکړی دی چې لیټربکس باندې به چې کومه خرچه راځي هغه به اډې والاپخپله اداکوي، اومونږ به درته لیټربکس درکړو. دخرچې وضاحت زه تاسوته وکړم، یعنې دلیټر بکس لګولوباندې باجري، سیمنټ اود خښتو خرچې، اود مستري د مزدورۍ خرچې دي، مونږدلیټربکس له پاره چنده وکړه چې هغه تقریباً یوسل اودویشت روپۍ دي، ځکه چې دایورفاهي کاردی اودخلکو خدمت دی، مونږ دیوسړی نه چنده وغوښتله، هغه وویل چې زه یې دالله تعالی په نوم باندې صدقه کوم، هغه پنځه روپۍ ورکړې، ایادې رفاهي کارکې دالله تعالی په نوم باندې ورکړې شوې پیسوبه ثواب وي؟ ایادالله تعالی په نوم باندې دهغه صدقه کیدای شي؟

---

[1] قال فى جامع الفصولين: والحاصل أن القياس فى جنس هذه المسائل أن من تصرف فى خاص ملكه لا يمنع منه، وإن أضر بغيره لكن ترك القياس فى محل يضربغيرضررًا بينا فقيل بالمنع وبه أخذ كثير من مشائخنا وعليه الفتوى (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٧٤٧، مسائل شتّى، كتاب الخنثى)۔

جواب: رفاهي کارونه هم دالله تعالی درضاله پاره کیږي، په دې وجه باندې دهغه کس دالله تعالی په نوم باندې ورکول صحیح و.

سګریټ څښل دشریعت په نزد څنګه دي

سوال: سګریټ څښل څنګه دي؟ که چرې مکروه دي نوکوم یومکروه؟ مايورساله کې لوستلي و چې امام حرم(ماته نوم یادنه دې) دافتوا ورکړې ده چې سګریټ څښل حرام دي، دلیل یې داوړاندې کړی چې: **اول:** خوهریوه نشه حرامه ده.

دویم: داچې دسګریټ په وجه باندې قدرتي طورباندې غتیدل دریږي، دنن پورې یوسرجن یا ډاکټر د سګریټ څښلودنقصاناتوښودلونه علاوه څه فائده نه ده ښودلې، تردې پورې ویل شوي دي چې سګریټ څښل دخودکشي یوه مهذب طریقه ده.

دریم دلیل: دادې چې یوڅیزبغیردضرورت نه سوزول حرام دي،اود سګریټ سوزول هم بې کاره دي، ځکه چې ددې دسوزولوڅه فائده نه وي.

څلورم دلیل: دادی چې دحدیث مطابق مسلمان ته تکلیف رسول حرام دي،اودسګریټ څښلوپه وجه باندې نوروخلکوته تکلیف رسیږي،ماپخپلوسترګوباندې لیدلي دي چې ډیرخلک سګریټ څښلو سره جومات ته داخل شي اوپه لیلة القدرباندې مې هم لیدلي دي چې جومات نه وتلوسره دجومات په دروازه کې سګریټ څښل کیږي، اوبیا سمدستي جومات ته داخل شي اولمونځ کوی. تاسوداسې مسلمانان د شرعي حکمونونه خبرکړئ اودا ووایئ چې سګریټ حرام دي اوکه نه؟

جواب: ستاسودلیلونه ډیرمضبوط دي، امیددی چې نورعالمان به هم دې باندې رڼاواچوي، زماپه خیال عامو حالاتوکې سګریټ څښل مکروه تحریمي دي.[1]

یهودانو او نصرانیانو سره همدردي کول دفاسقانو عمل دی

سوال: دمردان دیوصاحب دسوال "سره زردسرولو پاره حرام دي نوایا د سرو زروګوته اچولوسره به دسړی لمونځ جائزوي اوکه نه، په جواب کې تاسولیکلي وچې:

لمونځ دالله تعالی په دربارکې حاضري ده،کوم کس چې دحاضري په حالت کې هم حرام کارکوي اودالله تعالی دحکمونو ماتولوکوشش کوي،پخپله سوچ وکړئ چې ایاهغه ته به دالله تعالی نزدیکت حاصل شي؟

---

[1] قال شيخنا النجم: والتتن الذی حدث ...ليس من الكبائر تناول المرة والمرتين ومع نهی ولی الأمرعنه حرام قطعًا (درمختارمع ردالمحتار ج:٦ ص:٤٥٩،كتاب الأشربة) وفی الشامية: اقول: ظاهركلام المعادی.الخ(طبع سعيد كراچی)

ډېورته ذکرشوی جواب په وجه باندې يوځوسوالونه پيدا کيږی، چې وضاحت يې ډېرزيات ضروري دي، سورت فاتحه (ام القران) دهرلمونځ په هرركعت كې لوستل كيږي. هغې كې دالله تعالى دحكم مطابق دمغضوبين اوضالين خلاف دالله تعالى نه پناه غوښتل كيږی(اې الله! مادمغضوبين اوضالين په لارباندې دتلونه بچ کړه) اودمغضوبين اوضالين نه عالمان غالباً دترمذي شريف د احاديثونه يهوداونصارى مراداخلي،بياهم يومسلمان يهودي يا نصاري خپل اعتمادي دوست اوهمدرى جوړوي؛ نودداسې مسلمان له پاره ستاسوڅه خيال دی؟ داسې كس دالله تعالى د رحمتونو اومدد مستحق كيدای شي؟ ايا دداسې كس لمونځ او نور عبادتونه به د نفاق عمل نه وي؟ دې باره كې دسورت مائده دايت نمبر ۱۲۲ نه د۱۲۵ پورې ايتونوحوالې سره ستاسودجواب انتظاربه وی. داهم يوښكاره حقيقت دی چې حضور ﷺ ته اوصحابه كرامو ﷺ دمن حيث القوم په حيثيت باندې ديهودواونصارى نه تكليف رسيدلى دی.اومتواتريې دهغوی خلاف جهادكړی دی.

جواب: دنفاق عمل ويل خوصحيح نه دي، البته ګناه كې د مبتلا كيدوپه وجه باندې دهغوی عمل دفسق دی[1]. الله تعالى دې مونږ ټول دګناهونونه وساتي!

دعزت ساتنې له پاره قتل کول

سوال: كه يومسلمان ياكافر ديوې مسلمانې انجيلۍ په عزت باندې حمله وكړي، نو ايا د مسلمانې انجيلۍ له پاره داجائزدي چې هغه دخپل عزت ساتلولوله پاره حمله كونكی قتل كړي؟

جواب: بې شكه جائزدي.[2]

عزت باندې د حملې له ويرې ځان ځنګه وساتي

سوال: ديومسلمان دښځې،لور،خورياموزعزت ته خطره وي،اوبچ كيدوڅه صورت نه شته، نوآيا يومسلمان سړي له پاره داجائزدی چې هغه عزت باندې دحملې كيدونه مخكې په

---

[1] قول الله عزوجلّ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ، وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ،، (المائدة:۵۱) وفى التفسير: أى لاتتخذوهم أولياء تنصرونهم وتستنصرونهم وتؤاخونهم وتعاشرونهم معاشرة المؤمنين، ثم علل النهى بقوله بعضهم أولياء بعض وكلهم أعداء المؤمنين (تفسير نسفى ج: ۱ ص: ۴۵۳، طبع دار ابن كثير، بيروت)۔

[2] عن سعيد ابن مسعود رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من قاتل دون ماله فقُتل فهو شهيد، ومن قاتل دون دمه فهو شهيد، ومن قاتل دون أهله فهو شهيد (نسائى ج: ۲ ص: ۱۷۳، باب من قاتل دون ماله) ولو أكرههافلها قتله ودمه هدر وفى الشرح: أى إن لم يمكنها التخلص منه بصياح أو ضرب وألا لم تكن مكرهة وفى شرح الوهبانية: ونصه ولو أستكره رجل إمرأة لها قتله وكذالغلام فإن قتله فدمه هدر إذا لم يستطع منعه إلا بالقتل (ردالمحتار على الدرالمختار ج: ۴ ص: ۶۳، باب التعزير)۔

څلورواړوکې يوه قتل کړي؟
جواب: ددې څلوررواړوقتل کولوپه ځای دې حمله کونکی قتل کړي يا دې پخپله شهيدشي.[۱]

عزت ته دخطرله وجې دانجيلی ځان وژنه

سوال: اسلام خودکشي حرامه ګرځولې ده، اوخودکشی کونکی يې د دوزخ سزاوارګرځولی دی، ژوند کې اکثرداسې حالات راشي چې نجونه خپل ژوندقربان کړي اومرګ ته غاړه ورکړي، په نورو الفاظو کې هغوی خودکشي وکړی،مثلاً که چرې ديوې انجيلۍ عزت ته خطره وي اودبچ کيدوهيڅ صورت نه وي نوهغه دخپل عزت له پاره خودکشي وکړي، ددې عظيمه مظاهره دهندوستان د تقسيمدو وخت کې شوې ده، کله چې بې شميره مسلمانانو ښځو خپل عزت دهندوانو او سيکانو نه محفوظ ساتلوله پاره خودکشۍ کړې وې، پلارانوبه خپلو لوڼو او روڼوبه خپلوخويندوته تاکيد کولو چې هغوی خودکشي وکړي،خوچې سيکانو او هندوانوته په لاس ورنشي، تاسو دقران اوحديث په رڼا کې بيان کړئ چې پورته بيان شوی حالاتو کې دښځواوجينکوخودکشي کول جائزدي اوکه نه؟
جواب: قانون خوهماغه دې کوم چې تاسوذکرکړې دی[۲]اودکومو نجونو ذکرچې تاسوکړی دی، اميد ساتل پکاردي چې هغوی سره به درحمت معامله وشي.[۳]

دتښتولو ګناه به چا باندې وي؟

سوال: دډيروخت نه زماذهن کې يوه مسئله موجودده،کومه چې دمعاشرې پيداکړې شوې ده. نن سبا اخبارونوکې ډيرزيات خبرونو سره څه خبرونه داسې وي کوم چې خلک په ژړلوباندې مجبور کړي، يعنې ښځې تښتول اودهغوی بې عزتي، دايوداسې ظلم دی چې دخندانه ډک ژونددهميشه له پاره د غمونونه ډک کړي،اوداهرڅه دښځودبې پردګي اوغلطو کتابونوتيجه ده، زه تاسونه پوښتنه کول غواړم چې دداسې سړيوله پاره قران کې څه حکم دی؟ اودداسې ښځوله پاره. کومې چې په دوکه باندې داسې حالاتوکې ګيرې شي،اووخت تيريدونه پس هغوی ته پته ولګيږي، دهغوی له پاره قران څه وايي؟ او ګناهګارڅوک دي؟

---

[۱] أيضًا۔

[۲] عن أبي هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من تردّى من جبل فقتل نفسه فهو فى نارجهنّم خالدًا مخلدًا فيها أبدًا، ومن تحسّى سمًّافقتل نفسه فسمّه فى يده يتحسّاه فى نار جهنم خالدًا مخلدًا فيها أبدًا، ومن قتل نفسه بحديدة فحديدته فى يده يجأبها فى بطنه فى نارجهنم خالدًا مخلّدًا فيها أبدًا (بخارى ج: ١ ص: ٨٦٠، باب شرب السم والدواء به وبما يخاف منه، طبع نورمحمد كراچى)۔

[۳] وقال الله تبارك وتعالى: " وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ " (النساء:١١٦) وفى التفسير: أى مادون الشرك، وأن كان كبيرة مع عدم التوبة (تفسير نسفى ج: ١ ص: ٣٦٤، طبع دارابن كثير، بيروت)۔

جواب: تاسوددې مصیبت وجه پخپله باندې لیکلې ده،یعنې دبنځوبې پردګي، دهغوی دبرخې مطابق هغوی ټول مجرمان دي، کوم خلک چې ددې وجوهاتوذریعه دي یاکوم چې دطاقت لرلو باوجود داکارونه نه منع کوي[1]. اواغواکونکي اواغواشوې جینکۍ(که چرې هغوی په رضااورغبت باندې تللې وي) په چوک کې دپانسي کولوقابل دي.

ایا کوړوباندې دوهلوسزا دشریعت خلاف ده

سوال: ایا کوړوباندې دوهلوسزادشریعت خلاف ده؟ اوکه چېرې په رښتیاباندې اسلام کې کوړوباندې دوهلودسزاګنجائش نشته نوبیایوجلیل القدرصحابي خپل زوی ته داسزاولې ورکړې وه؟

جواب: اسلام کې بعضې جرمونوباندې دکوړووهلوسزاایښودل شوې ده[2]، خودهغو نه فوجي یاجلادي کوړې مرادنه دي،دکوموچې نن سبارواج دی، هغه کوړې به دومره سپکې وې چې سل کوړو خوړلو نه پس به هم نه صرف انسان ژوندی و،بلکې تندرست به هم پاتې کیده اوکوړې به هم په یوځای باندې نه وهل کیدې، اونه به دکوړووهلوله پاره خاص جلادساتل کیده، "اسلام کې دکوړې سزا،، اوریدوسره داغلط فهمي پیداکیږي چې کیدای شي اسلام هم داوسیی دورجلادي کوړې ورکولې.

دیوجلیل القدرصحابي خپل زوی ته دکوړو سزا ورکولو کومې واقعې طرف ته چې تاسو اشاره کړې ده، که چېرې دهغې نه مراد دحضرت عمر رضی الله عنه واقعه ده،کومه چې عام طور باندې وعظ کونکو حضراتوکې مشهورده،نوداواقعه غلطه اودخان نه جوړه شوې ده.[3]

---

[1] عن عبادة بن الصامت ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: خذوا عنی، قد جعل الله لهن سبیلاً، البکر بالبکر جلد مائة وتغریب عام والثیب بالثّیب جلد مائة والرجم. رواه مسلم (مشکوة ص۳۰۹، کتاب الحدود، الفصل الاول) وفی شرح المشکوة : أی ضرب مائة جلدة لکل واحد منهما وتغریب عام أی نفی سنة کما فی روایة والمعنی ان اقتضت لمصلحة والثیب بالثیب جلد مائة والرجم الجلد منسوخ فی حقها بالآیة التی نسخت تلاوتها وبقی حکمها ولانه حدًا لما ترکه... والرجم ان کانا محصنین (مرقاة شرح المشکوة ج: ٤ ص: ٦٣، کتاب الحدود، الفصل الأوّل)

[2] قال الله عزّوجلّ:'' الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ،، (النور:۲) وفی الحدیث: عن أبی بردة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقول: لایجلد فوق عشر جلدات إلا فی حد من حدود الله (أبی داؤد ج: ۲ ص: ۲٦۹، باب التعزیر)۔

[3] الفوائد المجموعة فی الأحادیث الموضوعة ص: ۲۰۳ طبع بیروت اللآلی المصنوعة فی الأحادیث الموضوعة ج: ۲ ص: ۱۹٤ طبع بیروت)۔

د بې لمانځه سره کارکول

سوال: زه یوداسې سړي سره کارکوم، چې هغه لمونځ نه کوي، بلکې دجمعې لمونځ هم نه کوي. ایاداسې سړي سره کارکول جائزدي؟

جواب: کارخودکافرسره هم کولی شئ،که چېرې هغه سړی مسلمان دی؛ نو هغه ته دلمونځ کولو ترغیب ورکول ضروري دي، تاسوهغه په څه بهانه باندې یونیک صحبت ته بوځي[1]، ددې په ذریعه باندې به انشاء الله هغه لمونځ کونکی جوړشي.

پریشانیو نه ویریدو سره د مرګ خواهش کول

سوال: اوس دنیاکې اوسیدل ګران شول، زړه مې غواړي چې مرګ راته راشي،ددنیاحالات ګډوډ شوي دي، زه تقریباً پنځومیاشتونه پریشانیواوتبې داسې ګیرکړی یم چې مابالکل نه پریږدي، ایا داسې ویل صحیح دي؟

جواب: پریشانیوباندې خوداسې اجرملاویږي چې عقل اوتصورکې نه شي راتلی، خو اجر دصبر کونکوله پاره دی[2]، اودپریشانیوپه وجه باندې دمرګ خواهش کول حرام دي، اواجرخلاف هم دي.[3]

مذهبي کارونوکې غیرقومونو سره مشابهت کفردی

سوال: یوحدیث مې اوریدلی دی چې دهغه مفهوم زماپه خیال داسې دی چې څوک دچا مشابهت اختیاروي هغه به دقیامت په ورځ هم دهغوی سره راپورته کیږي، موږخلک د سرد وینتونه ترپښنو پورې غیرمسلموسره مشابهت کوو، ږیره خریو، کمیس اوپتلون انګریزي اچوو، غرض داچې هرقسمه انګریزي طریقه خپلوو، که څوک ډیر زیات دین داروی نودکمیس کالر بدل کړي، دکمیس شکل انګریزي وي،ساعت په ګس لاس باندې تړو. مهرباني وکړئ اودا ووایئ چې زمونږداطریقه څنګه ده؟ ایاداانګریزی طریقه نه ده؟ اوداحدیث مونږ باندې صحیح ثابتیږي؟

جواب: داحدیث صحیح دی، اودیوقوم سره دمشابهت مسئله ډیر زیات تفصیل غواړي، خلاصه داده چې دیوغیرقوم سره مذهبي کارونو کې مشابهت کفردی، لکه دهندوانوپه شان

---

[1] قال الله تبارك وتعالى: " ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ،،:(النحل۱۲۵)۔

[2] قال الله تبارك وتعالى: " وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ،، (لقمان:۱۷)۔

[3] عن أبي هريرة رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا يتمنّ أحدكم الموت إما محسنا فلعلّه يزداد، وإما مسيئا ولعله يستعتب (بخارى ج: ۲ ص: ۱۰۷۳، كتاب التمنّ)۔

ستې ساتل، زنار اچول، یا د عیسایانو په شان صلیب اچول او کوم شی چې د یو قوم مذهبي کارنه وي خو د یو خاص د قوم شکل وصورت په وي، هغه کې مشابهت کفر نه دی، البته کبیره ګناه ده. لکه ډیره خریل د مجوسیانو کارو او کوم څه چې د یو قوم سره خاص نه وي هغه کې پوشان والی نشته، او که چرې یو کس د یو شان والي په اراده باندې وکړي نو دا حدیث به هغه باندې هم صحیح راځي.

په تیلو د ځان سوزونکي شرعي حکم

سوال: د یو ځوور ځو مخکې خبره ده چې زما خور د خسرګنی د ظلمونو نه تنګه راتلو په وجه باندې خپل ځان باندې تیل واچول او ځان ته یې اور بل کړ، او هغه وسوزیده، درې ورځې هغه د مرګ او ژوند په جنګ کې وه، او د هغې نه پس وفات شوه. آیا د هغې مرګ به خپل مرګ ګڼل کیږي او که خودکشي؟

جواب: دا چې خودکشی نه ده نو خودکشي څه ته ویل کیږي؟[۱]

د مورپلار باره کې د قران کریم حکمونو پسې خندا کول

سوال: یو هلک په ډیر ښه او ماحول کې تعلیم حاصلولو نه وروسته نوکر شو، او واده او نوکري نه وروسته د خپل پلار، ورونړو او خویندو نه له څه خاص وجې پرته هر قسمه تعلق ختم کړی دی، بلکې نفرت ترې کوي او خپله ښځه او د هغې خپلوان خوشحالولو سره هغوی ته ذهني تکلیف ورکولو باندې خوشحالیږي، د لمونځ پابندکیدو باوجود هغه حکمونو پسې خنداکوي کوم چې د مورپلار او د بزرګانو د احترام په سلسله کې الله تعالی او رسول الله ﷺ فرمایلي دي، شرعي او اخلاقي طور باندې د هغه له پاره کوم وعیدونه بیان شوي دي؟

جواب: د حضور ﷺ ارشاد دی: د مورپلار نافرمانه به جنت ته نه داخلیږي[۲]، مورپلار سره د ښه سلوک تاکید خو قران کریم او ډیرو احادیثو کې بیان شوی دی. قران او حدیث په خنداکونکی به

---

[۱] عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تردّى من جبل فقتل نفسه فهو فى نارجهنّم يتردّى فيها خالدًا مخلدًا فيها أبدًا ومن تحسّى سمّا فقتل نفسه فسمه فى يده يتحسّاه فى نارجهنّم خالدًا مخلّدًا فيها أبدًا، ومن قتل نفسه بحديدة فحديدته فى يده يجأبها فى بطنه فى نارجهنّم خالدًا مخلّدافيهاأبدًا (بخارى ج: ۲ ص: ۸۶۰، باب شرب السم والدواء به، طبع نورمحمد كتب خانه كراچى)۔

[۲] عن عبدالله بن عمروقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة منّان ولا عاق ولا مدمن خمر رواه النسائى والدارمى (مشكوة ص: ۴۲۰) وعن أبي بكرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل الذنوب يغفرالله منها ما شاء إلا عقوق الوالدين فإنه يعجّل لصاحبه فى الحيوة قبل الممات (مشكوة ص: ۴۲۱، باب البر والصلة، الفصل الثالث) "لايدخل الجنّة عاق لوالديه ...إلخ (كنزالعمال ج: ۱۶ ص: ۵۴) " وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ،، (لقمان: ۱۴) "وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ...[بقيه په راروانه صفحه...

څنګه مسلمان پاتې شي؟[۱] په دې وجه باندې ستاسو ليکل شوې کيسې باندې زما يقين نه راځي.

د بچيو نسب بدلول

سوال: ۱۹۷۲ء کې زما مشرور وفات شو. د هغه دوه بچي وو. د وررور د وفات په وخت کې يې د مشر زوی عمر درې کاله او د کشر عمر يو کال و، هغه ورځو کې ما کراچۍ کې نوکري کوله، دوررور د وفات نه پس د مور پلار په رضا باندې ما تقريباً دوه نيم کاله پس خپلې ورينداري سره واده وکړ. هغه وخت کې د مشر هلک عمر تقريباً څلور کاله و، دواړه وريرونه ما ته ابو وايي اوزه هغوی ته د خپل پلار کمی نه محسوسوم، ما دواده نه شپږمياشتې پس بچي کراچۍ ته راوستل، بيا مې هغوی په سکول کې داخل کړل. د ماشومانو د پلار د نوم په ځای باندې ما خپل نوم وليکه. زه غواړم چې ماشومانو ته د هغوی د مور پلار باره کې هغه وخت پورې څه ونه وايم ترڅو پورې چې هغوی عقلمند شوی نه وي، اوس ورته زه ځکه نه وايم چې چېرته هغوی د کمترۍ احساس کې مبتلا نه شي. اوس د الله تعالی په فضل او کرم باندې زما دوه بچي نورهم شته خو ما ته د خپلو بچونه زيات د خپل وروربچي ګران دي، تاسو مهرباني وکړئ د شريعت په نزد باندې ما ته ووايئ چې ماد ورور په ځای باندې د ماشومانو په سکول کې د پلار نوم خپل ليکل، صحيح دي او که غلط؟

جواب: اګرچې تاسو د ماشومانو د مصلحت له پاره داسې کړي و، خو د ماشومانو نسب بدلول ګناه ده، جائز نه دي[۲]. د دغې ماشومانو په ولديت کې د هغوی د پلار نوم ليکل پکار دي.

د افسرانو په وجه غلط رپورټ باندې دستخط کول

سوال: موږ چې کوم ځای کار کوو هلته د انسانانو د حفاظت مسئله وي، او کله چې موږ خپل صحيح رپورټ افسرانو ته ورکړو چې د امسئله د انسانانو د صحت له پاره صحيح نه ده او غټ افسرانو ته دې خبر ورکړل شي، خو زموږ افسر هغه رپورټ يو طرف ته کيږدي او د ځان نه يو رپورټ جوړ کړي او هغه باندې زموږ نه دستخط اخلي او هغه بيا نورو افسرانو ته وليږي، صرف د هغوی د خوشحالۍ حاصلولو له پاره. تاسو ته خواست دی چې دا ووايئ چې د ډيرو وخت نه دا خبره شروع ده. ايا دا ګناه ده؟ او که چرې ده نو دې نه څنګه خلاصی حاصليدای شي؟ او

بقيه دتيرمخ] ..لاتَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً(البقرة:۸۳)وَوَصَّيْنَا الْأنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَاناً (الاحقاف:۱۵)

[۱] والإستهزاء بحكم من أحكام الشرع كفر (شرح فقه أكبر ص: ۲۱۷)_

[۲] عن ابن عباس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من إنتسب إلى غيرأبيه أو تولى غير مواليه فعليه لعنة الله والملئكة والناس أجمعين وعن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من ادعى إلى غير أبيه لم يرح رائحة الجنة وأن ريحها ليوجد من مسيرة خمس مائة عام (ابن ماجة، ابواب الحدود ص: ۱۸۷، باب من ادعى إلى غيرأبيه أو تولى غيرمواليه)_

زمور د افسر په لاس کې زمونږ د هر کال رپورټ وي، که چرې مونږ انکار وکړو؛ نو زمونږ په نوکرۍ باندې دداغ لګیدو ویره وي.

جواب: ستاسو د افسر غلط رپورټ ورکولو کې درې ګناهونه یوځای کیږي، دروغ، خپل کار کې خیانت کول، بد دیانتی او د انسانانو صحت ته نقصان رسول. او ستاسو د نوکرۍ په وجه باندې په غلط رپورټ باندې دستخط کول دهغوی په ګناهونوکې شریکیدل دي. ددې تدبیر داکیدای شي چې تاسو خپل نوم پټه نبودلونه بغیر دهغه افسر د بدیانتي شکایت صدر، ګورنر او ټولو اوچتو افسرانو ته وکړئ. دې نه علاوه دقومي او صوبائي اسمبلئ ممبرانو او د معاشرې نورو خلکو په علم کې داخبره راوستل پکاردي، دې نه پس هم که چرې افسران دې طرف ته توجه نه ورکوي نو تاسو باندې به ګناه نه وي، او تاسو به دمواخذې نه بري یئ، که هر یوه محکمه کې ماتحت خلک دخپلو افسرانو غلطۍ وښایي نو زما خیال دې چې دسرکاري محکمو ډیره اصلاح کیدای شي، دخیانت او بد دیانتي دزیاتیدو موقع په دې وجه باندې ملاویږي چې ماتحت نوکران دخپلو نوکرو په وجه باندې دافسرانو بدیانتي او خیانت سره مصلحت وکړي.[1]

له تحقیق پرته په چا الزام لګول

سوال: زید یوې ښځې سره نکاح وکړه او دهغې یوه لور هم ده، چې دهغې عمر تقریباً دیارلس کاله دی، دنکاح نه تقریباً خلورمیاشتې پس څه داسې واقعات وشول چې په وجه یې زید هغې ښځې ته طلاق ورکړ، دطلاق ورکولونه پس هغې ښځې په مختلفو طریقو باندې دزید دبدنامولو کوشش وکړ. دې دوران کې هغې ښځې زید باندې دا الزام ولګولو چې زما لور وایي چې زید په مختلفو طریقو باندې زما خپل ځان طرف ته دمتوجه کولو کوشش کولو، او ما سره به یې چیړ چاړ کولو، اودا واقعات دهغه وخت دی کوم وخت کې یې چې موردزید په نکاح کې وه اوزید وایي چې دا الزام بالکل غلط دی، اودزید تیرشوی ژوند ډیر ښه او صحیح تیرشوی دی، اوددې نه ټول عوام خبردي، اوس زید باندې چې کوم الزام لګول شوی دی او دهغه د بدنامولو کوشش کیږي په هغه باندې خلک حیران دي ددې په وجه باندې بعضې خلکو زید پسې لمونځ کول پریښودل او دهغه مخالفت یې شروع کړ. اوس معلومول داغواړم چې له تحقیق کولو پرته دا الزام چې ددې ګواه هم نشته دکوم حدپورې معتبردی؟

---

[1] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا كلكم راع وكلكم مسؤل عن رعيته، فالإمام الذى على الناس راع وهو مسؤل عن رعيته، والرجل راع على أهل بيته وهو مسؤل عن رعيته، والمرأة راعية على أهل بيت زوجها وهى مسؤلة عن رعيتها، عبدالرجل راع على مال سيّده وهومسؤل عنه، ألا فكلكم راع وكلكم مسؤل عن رعيته (بخاري ج: ٢ ص: ١٩٥٧، كتاب الأحكام)۔

جواب: څوک بدنامول، د دروغوالزامونه لګول[۱] اودغه شان د دروغو الزامونه صحيح ګڼل[۲] اودچاپه عزت باندې حمله کول سخته ګناه ده، او داپه بدترين ګناهونوکې شامل دي، اسلام کې دداسې کارونو باره کې ډيرسخت حکمونه دي، مسلمانانوته قران کريم کې هدايت شوى دى چې دکومې خبرې چې تاسوته پته نه وي هغې پسې مه کيږئ[۳]، خلکوته دتحقيق کولونه پرته زيدپسې لمونځ پريښودل ډيرغلط دي، زيدمخکې په شان امام برقرارساتل پکار دي.

خوابنې ښکلول

سوال: زما کويژدن شوې ده، اوزماخپلې خوابنې سره دمورپه شان مينه ده، او مور هم ورته وايم دهغې عمرشپيته کاله دى، ايازه هغه په تندي باندې ښکلولى شم؟آيادواده نه پس يې ښکلولى شم؟

جواب: که دشهوت ويره نه وي؛ نوڅه بده خبره نه ده.[۴]

د ښځې خاوند د يوبل خاص اندامونه کتل

سوال: دجماع په وخت کې دښځې ټول بدن، خاص ځاى او نوراندامونه کتل جائزدي اوکه نه؟

جواب: دښځې اوخاوند ته د يوبل بدن کتل جائزدي،خودضرورت نه بغير کتل ښه نه دي.[۵]

د ښځې سينې(تيونه) ښکلول

سوال: يوخاوند دخپلې ښځې سينې ښکلوي، نودهغې اوبه راوځي او خاوند هغه اوبه توکي،

---

[۱] فكما يحرم لحمه يحرم عرضه قال صلّى الله عليه وسلم: كل المسلم على المسلم حرام (دمه وماله وعرضه) رواه مسلم وغيره فلا تحل إلا عند الضرورة بقدرها (شامي ج:٦ ص:٤٠٩،كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)

[۲] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كفى بالمرء كذباأن يحدث بكل ماسمع رواه مسلم (مشكوة ص: ٢٨، باب الإعتصام بالكتاب والسنّة، الفصل الأوّل)۔

[۳] قال تبارك وتعالى: ” وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولاً،، (الاسراء:٣٦)۔

[۴] كذافى الدرالمختار: وما حل نظره ...... حل لمسه إذا أمن الشهوة على نفسه وعليها (لأنه عليه الصلاة والسلام كان يقبل رأس فاطمة) وقال عليه الصلاة والسلام (من قبّل رِجل أمّه فكأنما قبل عتبة الجنة) وإن لم يأمن ذالك أو شك فلا يحل له النظر والمس (الدرالمختار مع الرد ج: ٦ ص: ٣٦٧، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى النظروالمس)۔

[۵] وفى الدرالمختار: وينظرالرجل ....من عرسه وأمته الحلال .... إلى فرجها بشهوة وغيرها والأولى تركه ...إلخ وفى شرحه: (والأولى تركه) قال فى الهداية: الأولى أن لا ينظر كل واحد منهما إلى عورة صاحبه لقوله عليه الصلاة والسلام إذا أتى أحدكم أهله ليستترمااستطاع ...إلخ (شامي ج: ٦ ص: ٣٦٦، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى النظر والمس)۔

اودښځې حمل نشته، ایاداکارناجائزاوګناه ده؟ اوکه چېرې دښځې حمل وي نوبیابه هم ګناه وي؟
جواب: خوله ورته اوړل جائزدي[1]، پی څښل جائزنه دي، که دښځې حمل وي اوکه نه وي.

دښځې له لوري ښځه ښکلول

سوال: دستاسونه مې مخکې هم داسوال کړی دی چې ایااسلام کې ددوست ښکلول جائزدي اوکه ناجائز؟ خوتاسوزمادې خبرې طرف ته هیڅ توجه ورنه کړه، څه وجه ده؟ ایا زمونږ دا پریشاني نه شئ حل کولی؟ مهرباني وکړئ زرترزره ددې سوال جواب راکړئ، ځکه چې کله مونږدوه دوستان خپلوکې یوبل ښکلوو نوسمدستی داعمل پرېږدو، حالانکې دقران اوحدیث په رڼاکې یوبل دشهوت نه بغیر ښکلول صحیح دي.
جواب: د یو سړي بل سړی ښکلول اودښځې له پاره دښځې ښکلول جائز دي، خودې شرط سره چې دشراوفتنې ویره نه وي. (درمختار)[2]

د پردې مخالفت کونکو مورو پلار حکم منل

سوال: زمامورو پلاردپردې خلاف دي، زه څه وکړم؟
جواب: دالله تعالی اودهغه رسول ﷺ حکم دبې پردګۍ خلاف دی، ستاسو دمورو پلاردالله تعالی اودهغه درسول ﷺ سره مقابله ده. تاسوته پکاردي چې دې مقابله کې دالله تعالی اودهغه رسول ﷺ ملګرتیا وکړئ ستاسو مورو پلارکه چرې دالله تعالی اودهغه د رسول ﷺ مخالفت کولوسره دوزخ ته تلل غواړي نوتاسوهغوی سره مه ځئ.[3]

امتحان کې نقل ورکونکی استاذ به هم ګناهګاروي

سوال: دنن سبا امتحانونونه هرڅوک خبردي، امتحانونوکې استاذان دوه قسمه وي لومړی هغه کوم چې خپل فرض په صحیح طریقه باندې اداکړي اوطالب علمان دنقل نه منع کوي، دویم هغه کوم چې خپل فرض کې کوتاهي کوي اوطالب علمان دنقل نه منع کوی اوپخپله

---

[1] وفی الدر: مص رجل ثدیَ زوجته لم تحرم (الدرالمختار ج: ۳ ص: ۲۲۵، باب الرضاع) وایضًا فی الدرالمختار: ولم یبح الإرضاع بعد مدته لأنه جزء أدمی والإنتفاع به لغیرضرورة حرام علی الصحیح ...إلخ (الدرالمختار ج: ۳ ص: ۲۱۱، باب الرضاع)۔

[2] وکره تحریمًا(تقبیل الرجل) فم الرجل أویده أو شیئًا منه وکذالك تقبیل المرأة عندلقاء أو وداع وهذا لو عن شهوة (درمختار ج: ٦ ص: ۳۸۰، باب الإستبراء وغیره)۔

[3] قال الله تبارك وتعالی: " وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا،، (لقمان:۱۵) وفی الحدیث: عن النواس بن سمعان قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ص: ۳۲۱ کتاب الإمارة، طبع قدیمی)۔

داوايي چې ديوبل مددكوئ، هغه پخپله دروازه كې ودريږي اوكله چې څوک چيک كولوله پاره راځي نوطالب علمان خبرداركړي. كوم استاذان چې طالب علمان منع كوي هغوى خود طالب علمانو دښمنان شي اوكله چې هغه استاذبهرته راوځي نوهغه ته تكليف وركوي.
دې صورت كې استاذ ته څه كول پكاردي؟ اياهغه هم د نورواستاذانوپه شان شي؟ دويم استاذكوم چې خپل فرض په صحيح طريقه باندې نه اداكوي، اياهغه به گناهگار وي؟ ايا طالب علم دواړو صورتونوكې گناهگاروي؟ دې صورت كې خوبه طالبعلم گناهگاروي كله چې هغه دنقل كولونه منع كړل شي اوبياهم هغه نقل وكړي،خواياد صورت كې به هم گناهگاروي كله چې ورته استاذ پخپله باندې دنقل كولواجازه وركړي.

جواب: امتحان كې نقل كول خيانت اوگناه ده، كه چېرې داستاذ اجازه وى نواستاذاوطالب علم دواړه به خيانت كونكي او گناهگار وي[1]، اوكه چېرې داستاذداجازې نه پرته وي نوصرف طالب علم به خيانت كونكى وي.

د استمنى باليد (جلق ، موټک) شرعي حيثيت

سوال: كراچي هسپتال لميټډكې مشرډاكټرسيدمبين اخترد ى دهغه رساله "نوجوانوكې جنسى مسائل،، مې اتفاقى طورباندې لاس ته راغله،دهغې دمطالعې په دوران كې زما دنظر نه داسې يو څوخبرې تيرې شوې چې دهغې باره كې هغوى دحضرت امام مالک(رحمه الله)، امام شافعى (رحمه الله)، امام ابوحنيفه(رحمه الله) اودامام احمد(رحمه الله) فتواوې اوداحاديثوحوالې ذكركړي دي، نه صرف دابلكې دحضور پرنور،محبوب خدا ،نبي اخرزمان دحضور ﷺ سره يې تعلق هم ښكاره كړى دى، په دې وجه باندې زه ددې خبروشرعي حيثيت او تصديق غواړم،ځكه چې زمادناقص علم مطابق دهغوى بيان غلط اوگمراه كونكى دى.

زه دهغې رسالې دمتعلقه صفحوتصويري نقلونه ستاسو خدمت كې وړاندې كوم چې تاسويې په خپله باندې ولولئ اوماته زر تر زره جواب راكړئ!

صفحه ۱۱ باندې "اسلام ميں مشت زنى،، په عنوان باندې ډاكټرصاحب ليكي:
دامام ابوحنيفه(رحمه الله) خيال دى چې ديوې غټې گناه نه بچ كيدو له پاره كه چرې دجذباتودشدت په وجه باندې دا وشي نواميددې چې الله تعالى به هغه معاف كړي، دامام احمدبن حنبل(رحمه الله)

---

[1] إن الإعانة على المعصية حرام مطلقًا بنص القرآن أعنى قوله تعالى: ولاتعاونوا على الإثم والعدوان (احكام القرآن لمفتى محمدشفيع ج: ۳ ص: ۷۴) وفى الحديث: عن أنس قال: قلّماخطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم إلا قال: لا إيمان لمن لا أمانة له، ولا دين لمن لا عهدله (مشكوة ص: ۱۵، كتاب الإيمان، الفصل الأوّل، طبع قديمى) أيضًا: رواه أبوداؤد فى مراسله عن الحسن مرسلا مختصرًا قال: المكر والخديعة والخيانة فى النار (الترغيب والترهيب ج: ۲ ص: ۵۷۳، المكر والخديعة والخيانة فى النار، طبع دارالفكر)۔

په نزدباندې مشت زنی بالکل حلال اوجائزدی. اودې کې هیڅ گناه نشته.
ایادډاکټرصاحب دابیان صحیح دی؟ که چرې صحیح وي،نود کتابونودحوالې وغیره نوم بیان کړئ درسالې په صفحه ۱۲ باندې ډاکټرصاحب داسې لیکي:
"اسلام کې خوېه یوځای باندې دځلوروښځوساتلواجازت دی،اودحضور ﷺ پخپله باندې دولس ښځې وې اوداحدیثونوکې ذکردي چې اکثربه حضور ﷺ هم یوه شپه کې دټولوبیبیانوسره مباشرت وکړ،که چرې دادومره نقصان ورکونکی عمل وی نود فطرت دین به ددومره ښځوساتلواجازه نه ورکوله،اونه به دداسې قسمه عمل کولواجازه وه...
ایا دډاکټرصاحب داارشادصحیح دی؟اوداپه کومو احادیثو کې ذکرشوي دي؟ دصحیح کیدوپه صورت کې حدیثونه بیان کړئ!
هم ددې صفحې ددویم کالم په اخری کرښوکې اودریم کالم کې ذکرشوي ډاکټرصاحب فرمایلي دي چې دمباشرت نه مخکې دخاص اندام نه دمني قطرې بهیږي. احادیثوکې هم ددې ذکر راغلی دی چې حضرت علی رضی الله عنه د حضور ﷺ نه دامعلوم کړل چې داځنگه پاکول پکار دي؟ نو حضور ﷺ ورته وفرمایل که چرې منی راوتل شروع کړي اودومره زورسره نه راوځي ځنگه چې مباشرت کې راوځي نوصرف دخاص اندام وینځل کافي دي،اوکه چرې زورسره راوځي ځنگه چې مباشرت کې راوځي يااحتلام کې راوځي نوبیاغسل ضروري دی.
ایاحضور ﷺ داسې حکم کړی و؟ داحکم په کوم احادیثوکې ذکرشوی دی؟ داحادیثواوشرعي حکمونونه موخبر کړئ، چې تسلی مو وشي اودیني معلوماتوکې مواضافه وشي. ډیرزیات شکرگذاربه مویم.
که چرې دډاکټرصاحب بیانونه غلط اودشرعي حکمونو خلاف وي نومهرباني وکړئ دې نه موهم خبرکړئ.
جواب: دډاکټرصاحب په مضمون کې دځوانانوغلطه راهنمائي شوې ده،دنن سباځوانان هسې هم جنسي مرضونوکې مبتلادي،که چېرې هغوی دډاکټرصاحب په غلطومشوروباندې په پټو سترگو باندې عمل شروع کړ، نوبیادهغوی دصحت اوکرداردې الله مل شي.
ډاکټرصاحب دمشت زني باره کې دا اعتراف کړی دی چې امام مالک رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله داحرام اوگناه گڼي، خوموصوف چې دامام ابوحنیفه رحمه الله اودامام احمد رحمه الله دطرف نه چې دجوازکوم قول نقل کړی دی،هغه غلط دی،داقبیح کاردځلوروامامانوپه نزد باندې حرام دی، دلته زه دځلورو واړو امامانو دمذهبونو دکتابونو حوالې راوړم:
فقه حنبلی: امام موفق الدین عبدالله بن احمدبن محمدبن قدامه مقدسی المتوفی ۶۲۰هـ المغنی شرح مختصرحرقی کې لیکي: **ولواستمنی بیده فقدفعل محرما. ولایفسد صومه به الاان ینزل. فان لزل فسدصومه.** (المغنی مع الشرح الکبیر ج ۳ ص ۴۸)

ترجمه: که چرې چاپه خپل لاس باندې مني خارج کړه نوهغه حرام کاروکړ، اوددې په وجه باندې روژه نه ماتیږي، که چرې انزال ونه شي اوکه چېرې انزال وشي نوروژه فاسده شوه.

امام شمس الدين ابوالفرج عبدالرحمن بن ابى عمرمحمدبن احمدبن قدامه المقدسى الحنبلي(المتوفى ٦٨٢هـ) الشرح الكبير کې ليکي: **ولواستمنى بيده فقدفعل محرماً، ولايفسدصومه بمجرده، فأن انزل فسدصومه**.(حواله باره ج ٣ ص ٣٩)

ترجمه: اوکه چاپه لاس باندې مني خارج کړه نوهغه حرام کاروکړ او دې باندې روژه نه ماتیږي، خوکه چېرې انزال وشو؛نوروژه فاسده شوه.

د دواړو عبارتونومفهوم دادی چې کوم کس په خپل لاس باندې د مني خارج کولوکوشش وکړ؛نوهغه حرام کاروکړ،که چرې انزال وشونوروژه به ماته شي اوکه چرې انزال ونه شو؛نوروژه نه ماتیږي،دا دواړه داامام احمدبن حنبل(رحمه الله) دمذهب مستندکتابونه دي،اودې کې ددې كاردحرام كيدوتصريح شوې ده، دجواز قول بالكل نه دی نقل شوی، بعضې حضراتوداامام احمدبن حنبل(رحمه الله) نه چې دجوازكوم قول نقل كړی دی(چې په وجه يې ډاكټرصاحب دوكه شوی دی) يادهغه په نقل كولوكې غلطي شوې ده،ياكيدای شي چې مخكې دهغوی دجوازقول موجود و،اوبيايې دهغه نه رجوع کړې وي، بهرحال داامام احمدبن حنبل(رحمه الله) مذهب به هغه ګڼل کیږي کوم چې دهغوی په مستندو کتابونوکې نقل شوی وي.

فقه شافعي: امام ابواسحاق ابراهيم بن علی بن يوسف الشيرازي الشافعی (المتوفى ٤٧٢هـ) په المهذب کې ليکي: **ويحرم الاستمناء لقوله عزوجل، والذين هم لفروجهم حافظون الا على ازواجهم اوماملكت ايمانهم فانهم غيرملومين،، ولانها مباشرة تفضی الى قطع النسل فحرم كاللواط، فأن فعل عزرولم يحد. الخ**(شرح مهذب ج ٢٠ ص ٣١)

ترجمه: موټک(مشت زني) حرام دی،ځکه چې دالله تعالى ارشاد دی، اوهغه څوک چې دخپلو شرمګاهونوحفاظت کونکي دي، خودخپلوښځوياشرعي وينځوسره، ځکه چې دهغې په وجه باندې هيڅ الزام نشته،، اودا دهغوی له پاره داسې مباشرت دې چې دهغې انجام نسل ختمول دي، نو دلواطت په شان داهم حرام دی، که چاداكاروكړ؛نوهغه ته به تعزير وركول كيږي،حدبه پرې نه جاري كيږي.

فقه مالکي: امام ابوبكرمحمدبن عبدالله المعروف بن ابن العربى المالكي(المتوفى ٥٤٣هـ) احكام القران کې ليکي: **قال محمدبن عبدالحكم: سمعت حرملة بن عبدالعزيزقال: سئلت مالكاعن الرجل يجلدعميرة، فتلاهذه الاية: (وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ (٥) إِلَّا عَلَى**

أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ (٦) فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ (٧) ﴾ (سورة المؤمنون٧٥) وعامة العلماء على تحريمه وهوالحق الذى لاينبغى ان يدان الله الابه.(احكام القران ابن عربى جلد٣ ص ١٣١٠.الجامع لاحكام القران، قرطبى ج١٢ ص١٠٥)

ترجمه محمدبن الحكم وايي چې مادحرمله بن عبدالعزيزنه اوريدلي دي هغه فرمايي چې: مادامام مالک څخه(رحمه الله) دموټک (مشت زني) باره کې سوال وکړ،نوهغوی ددې ايت تلاوت وکړ "اوهغه څوک چې دخپلو شرمگاهونو حفاظت کونکي وي، خودخپلوښځوياشرعي وينځوسره، ځکه چې دهغوی په وجه هغوی باندې هيڅ الزام نشته.اوڅوک چې ددوی نه علاوه طلب کونکي وي داسې خلک دشريعت مطابق دحدنه بهروتونکي دي"اوعام عالمان ددې دحرمت قائل دي، اوهمدا حق دی کوم چې دځان له پاره دالله تعالی دين گڼل پکاردي.

فقه حنفي: دحنفي فقې په مشهورمتن درمختارکې دي:

فى الجوهرة: الاستمناء حرام، وفيه التعزير.(ردالمختار حاشيه درمختار ج ٤ ص ٢٧ كتاب الحدود)

ترجمه: جوهره کې دي چې موټک (مشت زني) حرام دی، اودې کې تعزيرلازم دی.
علام ابن عابدين شامي(رحمه الله) ددې په حاشيه کې ليکي:

قوله: الااستمناء حرام، اى بالكف اذاكان لاستجلاب الشهوة، اما اذاغلبت الشهوة وليس له زوجة ولاامة ففعل ذلك لتسكينهافالرجاء انه لاوبال عليه،كماقاله ابوالليث، ويجب لوخاف الزنا. (ردالمختارحاشيه درمختارج ٤ ص ٢٧ كتاب الحدود)

ترجمه: په خپل لاس باندې منی خارجول حرام دي، کله چې داکار دشهوت راوستلوله پاره وي،اودې صورت کې کله چې دشهوت غلبه وي،اودهغه ښځه ياوينځه نه وي،که چرې هغه دشهوت دختمولوله پاره داسې وکړي نواميددی چې هغه باندې به گناه نه وي، څنگه چې ابوالليث(رحمه الله) فرمايلي دي، اوکه چېرې زناکې دمبتلا کيدوويره وي نوداسې کول واجب دي.
ددې عبارت نه يوڅوخبرې معلومې شوې:

لومړۍ: که چرې دشهوت دومره غلبه وي چې سکون نه ملاوېږي اودشهوت دختمولوصحيح ځای هم موجودنه وي؛ نودفقيه دامام ابوالليث(رحمه الله) قول دی که چرې دشهوت دختمولوپه نيت باندې داسې وکړي نوطمع ساتل پکاردي چې هغه باندې به گناه نه وي.
دلته دډاکټرصاحب نه دوه غلطۍ شوې دي، يوه داچې دا د امام ابوحنيفه(رحمه الله) قول نه دی، بلکې دوروستنيومشائخوتخريج دی، داد امام ابوحنيفه(رحمه الله) قول گڼل بالکل غلطه خبره ده.
دويمه داچې ډاکټرصاحب داعامه اجازه وگڼله، حالانکې داد يو خاص حالت له پاره دی.

ددې مثال داسې دی چې رشوت بالکل حرام دی. خوفقهاء ليکي که چرې ظالم ته رشوت ورکړل شي اود هغه دظلم نه ځان بچ کړل شي نوامید دی چې رشوت ورکونکی باندې به مواخذه نه وي[۱] اوس که چرې ددې مسئلې نه څوک دامطلب واخلي چې رشوت حلال دی، بعضې صورتونو کې فقهاؤ ددې اجازه ورکړې ده. نو دابه صحيح نه وي، حرام په خپل ځای باندې حرام وي خوکه چرې يوکس دسختې مجبوری په حالت کې یادهغې نه دغتې حرام نه بچ کیدوله پاره دا وکړي نوداالله تعالی درحمت نه امیدساتل پکاردي چې دهغه په مجبوری باندې نظروساتي اوهغه سره مواخذه اونه فرمايي. خوډاکټرصاحب ددې جوازپه وجه ځوانانوته عام دعوت ورکړ

۲ دډاکټرصاحب داخبره خوصحيح ده چې اسلام دڅلورو ودونو کولو اجازه ورکړې ده،دې شرط باندې چې دهغوی دحقوقوپوره کولو صلاحیت لري اوانصاف سره دهغوی حقونه اداکړي.کني احاديثو کې ددې سخته ګناه ذکرشوې ده. خودډاکټرصاحب دا ارشاد صحيح نه دی چې حضور ﷺ په یوځل باندې دولس بيبيانې وې، اوداچې حضور ﷺ به اکثرپه یوه شپه باندې دټولو بيبيانونه فارغ کیده.

دحضور ﷺ دټولو بيبيانو تعداد دمشهورو اوصحيح رواياتو مطابق یوولس دی،هغوی کې حضرت ام المومنين خديجة الکبری ﷞ خوپه مکه مکرمه کې دهجرت نه درې کاله مخکې دنبوت په لسم کال رمضان کې وفات شوې وه،اودهغوی په موجودګی کې حضور ﷺ دویمه نکاح نه وه کړې.اوأم المومنين حضرت زينب بن خزيمه ام المساكين ﷞ سره حضور ﷺ په رمضان دريمه هجری کې نکاح کړې وه اواته میاشتې پس ربيع الثانی ۴ھ کې هغه وفات شوه. دحضور ﷺ دوصال په وخت کې دحضور ﷺ نهه بيبيانې موجودې وې،

دهغوی نومونه دادي: حضرت عائشه، حضرت صفيه، حضرت ام حبيبه، حضرت سوده، حضرت ام سلمه، حضرت ماریه قبطیه، حضرت حفصه، حضرت زينب بنت جحش اوحضرت میمونه رضی الله عنهن.

دټولوبيبيانونه دفارغ کیدوواقعه ډیره کمه راغلې ده،دې ته اکثرويل صحيح نه دي. اوبيادا هم یادساتل پکاردي چې حضور ﷺ ته دڅلويښتو جنتيانوسړيوطاقت ورکړل شوی و،اوجنت کې به دهرسړي طاقت دسلوسړیوبرابروي، حافظ ابن حجر رحمه الله داروايات نقل کولوسره ليکي:

فعلی هذا يكون حساب قوة نبينا(ﷺ) اربعة الاف.

(فتح الباری ج۱ ص ۳۷۸ کتاب الغسل، باب اذاجامع ثم عاد)

---

[۱] وحرام على الآخذ فقط، وهو أن يهدى ليكف عنه الظلم، والحيلة أن يستاجره فقال اى فى الأقضية هذا إذا كان فيه شرط لكن يعلم يقينا انه إنما يهدى ليعينه عندالسلطان (درمختار ج: ۵ ص: ۳۱۲، مطلب فى الكلام على الرشوة والهدية، طبع ايچ ايم سعيد_(

نور خلک په حضور ﷺ باندې قیاس کول صحیح نه دي.

۳. د ډاکټر صاحب داویل چې دمباشرت نه مخکې چې دخاص اندام نه دمني کومې قطرې راوځي ..... الخ بالکل غلط دي. کیدای شي چې موصوف دمذي او مني په مینځ کې فرق نه وي کړی. حضرت علی ﷺ دمذي حکم معلوم کړی و، دمني نه.

کومه ټینګه ماده چې دشهوت په وخت کې بغیر دمحسوسولو نه خارجیږي، هغې ته مذي ویل کیږي. او ددې د خارجیدو په وجه باندې شهوت نه ختمیږي، اوکومه ماده چې زوراوقوت سره (تیزي سره) خارجه شي اوچې دهغې دخارجیدونه پس شهوت ته سکون ملاوشي هغې ته مني ویل کیږي. دمذي په وجه باندې غسل نه لازمیږي، اودمنی دخارجیدوپه وجه باندې غسل لازمیږي.[1]

۴. دموټک (مشت زني) یاد ډیرې جماع کولو اثرپه انساني بدن باندې څنګه پریوځي؟ دااګرچې شرعی مسئله نه ده چې موږته دې باندې دخبرو کولو ضرورت وي، خوچونکې ډاکټر صاحب "مشت زنی،، د داسې کار د ترغیب له پاره داخبره کړې ده چې ددې په وجه باندې انساني بدن نه متاثره کیږي، بلکې مشت زني اوډیره جماع کول دصحت له پاره ښه ده، په دې وجه باندې عرض کول ضروري دي چې دډاکټر صاحب دا نظریه دټولې دنیاد ډاکټرانو اوحکیمانو دتحقیق اود سوونو کالو د تجربوخلاف ده، دزوجیت وظیفه که چیرې په یوحد کې وي نودې ته دصحت له پاره فائده مندویل کیږي، خواغلام، لواطت، مشت زني او نور غیرفطري طریقوباندې ماده ویستل دصحت له پاره بالکل فائده مند نه شي کیدای، بلکې دانساني بدن له پاره خطرناک دي. دغه شان د زوجیت وظیفه که هم دحدنه بهرشي نوصحت خرابوي.

لورته جهیز کې د تې وي ورکونکي ګناه کې برابرشریک دی

سوال: خواست دی چې زمادوه لوڼه دي. دمشرې لوروادده ماوکړ، دهغې په واده کې هغې ته ما جهیز کې تي وي ورکړی و. دامې خیال و چې تي وي خوناجائزدی خوددنیارواجونواودښځې او بچیو د اصرار په وجه باندې مې ورته ورکړ، اوس راته پته ولګیده چې تي وي دهغې د استعمال په وجه باندې حرام دی، په خپله غلطۍ باندې راته ډیر زیات افسوس وشواوالله تعالی نه مې استغفار کولو. مسئله دا ده چې زه دې وخت کې ددویمې لوروادده کوم، ماښځې او بچیوته وویل چې دتي وي په ځای ورته دسروزروسیټ ورکړئ یابل څه شی ورته ورکړئ، خو ټول خلق زمامخالفت کوي. ماته پته ده چې دچاپه خوښه یاناخوښه باندې شرعی حکمونه نه

[1] والمنی خاثر أبیض ینکسرمنه الذکر والمذی رقیق یضرب إلی البیاض یخرج عندملاعبة الرجل أهله (هدایة ج: ۱ ص: ۳۲ کتاب الطهارات) ولیس فی المذی والودی غسل (هدایة ج: ۱ ص: ۳۳ کتاب الطهارات الموجبة للغسل إنزال المنی علی وجه الدفق والشهوة من الرجل والمرأة (أیضًا)

بدلیږي، مهرباني وکړئ تفصیل سره په ټوله مسئله باندې رڼاواچوئ، زه ډیر زیات پریشان یم.

جواب: جزاکم الله احسن الجزا! الله تعالی تاسو ته ددین پوهه درکړې ده، څنګه چې په خوښه او ناخوښه باندې حکمونه نه بدلیږي، دغه شان به ښځه اوبچي ستاسوقبرته اوتاسوبه دهغوی قبرته نه ځئ، دکومې لور واده چې کوئ هغې ته ووایئ چې تې وي به خودرته زه نه اخلم، دکالو سیټ به درته جوړکړم یانغدې پیسې واخله. اودهغې پیسوپه ذریعه باندې جنت واخله یادوزخ، زمادمه داري به ختمه شي، پخپله به اژدهااخیستلوسره دهغې په غاړه کې نه اچوم.[1]

د واده یا څه بلې معاملې له پاره قرعه اندازي کول

سوال: یوحدیث کې دی چې حضور ﷺ به کله سفرله پاره تلو نوخپلو ښځو له پاره به یې قرعه اندازي کوله. دکومې بي بي نوم به چې راؤوت هغه به حضور ﷺ سره په سفرکې شریکه وه، زماسوال دادې چې مونږاوسنی دورکې دکوموکوموخبروله پاره قرعه اندازی کولی شو؟ مثلاً که دواده معامله وي نوایادانجیلی یاهلک نوم دقرعه اندازی په ذریعه باندې معلوم کیدې شی؟ داهم اووایئ چې دقرعه اندازئ صحیح طریقه څه ده چې هغې کې دڅه غلطی اوشک ویره نه وي.

جواب: کوم شیانوکې چې دډیروخلکوحق برابروي، هغې باندې قرعه اندازی کیدای شي، مثلاً په شریک څیزکې دحصوتقسیم معلومولو له پاره، یادوه ښځوکې یوه ښځه په سفرباندې بوتلو له پاره، رشتې وغیره له پاره که چرې ذهن یوې خبرې طرف ته نه وي نوداستخارې نه پس قرعه اندازي کیدای شي. دې کې اصل څیزخواستخاره ده، قرعه اندازي صرف دخپل ذهن دمطمئن کولوله پاره ده.[2]

---

[1] وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُواً أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِين (لقمان:٦) قال عبدالله ابن مسعود فى تفسيرلهو الحديث: الغناء والذى لا اله الا هو يردها ثلاث مرات (تفسير ابن جرير ج: ٢١ ص: ٣٦) قال إمام مجاهد رحمه الله تعالى هو اشتراء المغنى والمغنية والإستماع إليه وإلى مثله من الباطل (تفسير ابن جرير ج: ٢١ ص: ٣٧)۔

[2] عن عائشة قالت: كان النبى صلى الله عليه وسلم إذا أراد أن يخرج أقرع بين نسائه فأيتهن يخرج سهمها خرج بها النبى صلى الله عليه وسلم فأقرع بيننا فى غزوة غزاها فخرج فيها سهمى فخرجت مع النبى صلى الله عليه وسلم بعد ما أنزل الحجاب (بخارى ج: ١ ص: ٤٠٣، باب حمل الرجل إمرأته فى الغزو دون بعض نسائه) أيضًا: فى الدرالمختار: دور مشتركة أو دار وضيعة أو دار وحانوت قسم كل واحدها .... ويكتب أساميهم ويقرع لتطيب القلوب ...إلخ (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٢٦٢، أيضًا ج: ٣ ص: ٢٠٦، باب القسم)

ټي وي کې د چا د کردار تحقیرول

سوال: څه وخت مخکې ټي وي باندې یوه ډرامه "پهچان" ..وښودل شوه،هغې کې د کورنۍ مسئلوپه وجه باندې خلک عدالت ته ځي، دکورمشر دیواستاذ کرداراداکوي،چې هغه خپل ټول عمر ایمانداری، ریښتیا اوخدمت کې تیرکړی دی، اوهرهغه څه یې ورکړي دي کوم چې دهغه دښځې اودبچیوفضول ضروریات اوفرمائشونه وو. اوهغوی ټولوچې عدالت کې دهغه استاذ کومه بې عزتي وکړه دهغې په معاشره کې سوچ هم نه شي کیدای. ښځې دجداډائیلاګ په ذریعه باندې ذلیل کړو. بیادهغه مشرزوی کلمه طیبه لوستلوسره دوکیل په وینا باندې عدالت کې وویل چې زه به څه وایم ریښتیابه وایم اود ریښتیانه علاوه به نورڅه نه وایم اوهغه ګستاخ هلک کلیمه لوستلو سره دخپل پلار(صاحب"استاذ)..دانتهاددرجې پورې عدالت کې بې عزتي وکړه. مولاناصاحب! ددې ډرامې لیکونکواوهغې کې دداسې کرداراداکونکوباره کې د اسلام څه حکم دی؟ یوخو ډرامه داسې قسمه وه. دویمه اهم خبره کلیمه طیبه لوستلو سره وویل شو چې څه به وایم ریښتیابه وایم اودریښتیاوو نه علاوه به هیڅ نه وایم.. اوداټول هرڅه دروغ و. د کلیمې په شان عظیم نعمت ګواه جوړولوسره ټول دروغ وویل شو. دداسې خلکوباره کې اسلام څه حکم کوي؟ ایادغه خلکوته مسلمان ویل صحیح دي کوموچې کلیمې پسې خنداکړې ده؟

جواب: زماپه خیال کې دډرامې والوبه دمعاشرې تصویرښودلی وي، اومقصدبه یې داوي چې دخلکو اصلاح وشي، خوعملي طورباندې نتیجه ددې خلاف وځي،اوسنی نسل ددې ډرامونه بې نظمي زده کوي اودجرمونوعملي مشق کوي، کوم چې دټي وي په فلمونوکې هغوی ته ښودل کیږي،دکومې ډرامې ذکرچې تاسوکړی دی، دهغې نه به هم نوي نسل ته همداسبق ملاو شوی وي چې ایمان داري، صداقت او دبې لوثه خدمت تصورفضول اوپخوانی خیال دی،اود داسې مور پلارهمدغه شان بې عزتي کول پکاردي.

پاتې شوداسوال چې دداسې ډرامولیکونکواودې کې دکارکونکوله پاره داسلام څه حکم دی؟ نوداسوال خوهغه حضراتوته پخپله کول پکارو، خوهغوی جوړې داسلام اوکلیمه طیبې همدغه شان بې نیازه دي. په دې وجه باندې هغوی ته نه داسلام دحکمونو دمعلومولوضرورت شته اونه دکلیمې طیبې داسلامي احکامو د توهین کولوورته احساس شته. دداسې خلکوله پاره بس همدا دعا کیدای شي چې الله تعالی دې هغوی ته دخپلې اصلاح کولوتوفیق ورکړي.

د مدرسو د چندې د پاره جلسه کول

سوال: دمدرسو چنده دیو وعظ یاجلسې په شکل کې یوښائسته تقریر کولوپه ذریعه باندې حاصلول څنګه دي؟ یادجلسې عالمان هم دې له پاره راغوښتل شوي دي چې تقریرکولوسره به چنده وکړي. داڅنګه دی؟

جواب: ددیني مقصدونوله پاره چنده کول خو داحادیثونه ثابت دي او اجتماع کې په صحیح او ښائسته طریقه باندې ددې ترغیب ورکول هم ثابت دي، بلکې دخطبې دوران دچندې ترغیب ورکول هم په احادیثوکې موجود دی[1] اوکه چرې دیوې چندې په وجه باندې دعلم اوعالمانوبدنامي کیږي نوداسې چنده کول دحکمت خلاف دي. والله اعلم!

چاته کافرویل

سوال: یوعالم بل عالم ته داختلاف په وجه باندې قادیاني وایي، دداسې کس څه حکم دی او آیادهغه نکاح باقي پاتې کیږي؟

جواب: ۱: حدیث کې دی چې چابل ته کافروویل، هغوی کې به دیو سره کفر واپس کیږي، که چرې هغه کس چاته کافروایي اوهغه په رښتیاباندې کافروي، خوصحیح ده، ګني ویونکي سره به دکفرګناه ځي، چاته کافرویل کبیره ګناه ده.[2]

۲: هغه پخپله باندې عالم دی، دخپلې نکاح باره کې به ورته پخپله پته وي، پورته مې لیکلي دي چې داکبیره ګناه ده، اودیوعالم کبیره ګناه کول ډیره دافسوس خبره ده، دغه صاحب ته توبه کول پکاردي اودمظلوم نه ورته معافي غوښتل پکاردي.

دحیض دورځوګنده کپړې ښکاره غورځول

سوال: په خاصو ورځوکې چې ښځې کومه کپړه استعمالوي هغه وغورځوي ددې شرعي څه حیثیت دی؟ ځکه چې اوریدلي مودي چې دغه کپړه باندې دچانظروغورځیږي نودهغې کپړې تول عرق به د قیامت په ورځ هغه باندې څکولی شي چاچې داغورځولې وي،عام طور باندې ښځې هغه کاغذکې تاوکړې اوویې غورځوي،ایا دا طریقه صحیح ده؟ تاسوشرعي مسئله بیانولوسره زماپریشاني لرې کړئ.

جواب: دښځواستعمال شوې کپړې ښکاره غورځول خوبې حیایي ده[3]، خودقیامت په ورځ

---

[1] وروی عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه قال: خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: يا أيهاالناس! توبوا إلى الله قبل أن تموتوا، وبادروا بالأعمال الصالحة قبل أن تشغلوا، وصلوا الذى بينكم وبين ربكم بكثرة ذكركم له وكثرة الصدقة فى السروالعلانية ترزقوا وتنصروا وتجبروا رواه ابن ماجة (الترهيب والترغيب ج: ٢ ص: ٥) وروي عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم على أعواد المنبريقول: إتقوا النار ولو بشق تمرة! فإنها تقيم العوج وتدفع ميتة السوء وتقع من الجائع موقعها من الشبعان رواه أبويعلى والبزار (الترغيب والترهيب ج: ٢ ص: ١١)_

[2] عن ابن عمر يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أيما امرىء قال لأخيه: كافر، فقد باء بها أحدهما إن كان كما قال وإلا رجعت عليه (مسلم ج:١ ص: ٥، باب بيان حال إيمان من قال لأخيه المسلم: يا كافر!)

[3] يدفن أربعة: الظفر والشعروخرقة الحيض والدم، كذا فى الفتاوى العتابية ...[بقيه په راروانه صفحه...

دعرق څکولو کومه خبره چې تاسو اوریدلې ده، ماچېرته نه ده لوستلې.

د سر صدقه

سوال: یوعامل صاحب ویلي دي چې کوم خلک چې په مصیبتونه کې راګیروي، هغوی ته پکاردي دچادنوم سره دمنسوب کولوپه ځای دې صرف دخپل سرصدقه ورکړي، دسرصدقه ورکولوسره مصیبتونه لرې کیږي اوهغه وایي چې صدقه صرف دخپل سروي، مګرموږ چې تراوسه پورې کله هم صدقه ورکړې ده نوموږ دالله تعالی دنوم سره منسوب کړې ده چې اې الله، داخیرات ستاپه نامه دی، ته زموږ په حال باندې رحم وکړې.

حضرت! ایادعامل داویناصحیح ده یاغلطه؟صحیح طریقه څه ده؟اوکه غلطه ده څنګه چې زموږ ګمان دې نوددې وضاحت وفرمایئ ستاسوبه ډیره مهرباني وي.

جواب: دخپل سردصدقې مطلب دالله تعالی په نوم ورکړه وي، ددې وجې نه داصحیح ده، دخپل طرف نه صدقه کول داصدقه هم فی سبیل الله وي، دعامل داویناهم صحیح ده چې دصدقې سره مصیبت لرې کیږي.

ماشاء الله په انګریزي کې لیکل

سوال: ماشاءالله، په انګریزی حروفوکې لیکل جائزدي یانه؟ځکه چې په رکشواوګاډیوباندې ماشاء الله په انګریزي کې لیکل شوې وي اوکه داجائزوي نوسپیلنګ هم درست پکاردی، ځکه چې په انګریز یکې د، زیر، زبر، اوپیش له پاره دحرف مدداخیستل کیږي، زمامطلب دادی چې دالله پاک نامه صحیح اودرست لیکل ډیرزیات ضروري دي، که ماشاءالله په انګریزي کې لیکل کیدای شي نوتاسومهرباني وکړئ اوسپیلنګ وغیره په اخبارکې ورکړئ چې خلق ددې خطانه بچ شي.

جواب: زه په خپله خوپه انګریزي نه پوهیږم، ددې وجې نه بهتردادی چې ماشاءالله وغیره الفاظ دې په خپله په عربي کې ولیکل شي، لیکن که دچاپه انګزیزي کې دلیکلوشوق وي نودچاانګریزي پوه نه ددې صحیح تلفظ معلوم کړي. والله اعلم.

د غیرمسلمو سیل پاره جوماتونوته ننوتل

سوال: مسئله داسې ده چې نن سباملک ته دغیرملکونوحکومتي وفود څي راځي، په کوموکې چې غیرمسلم هم شامل وي، دې خلکوته دحکومت دمشرانواوصدراسلامي جمهوریه پاکستان په رضامندۍ سره دجوماتونوسیل کیږي، په خاص طورسره د، فیصل

...بقیه د تیرمخ]..عالمگیری ج: ٥ ص: ٣٨٥، کتاب الکراهیة، الباب التاسع عشر فی الختان والخصاء وقلم الأظفار ...إلخ، طبع رشیدیه)۔

مسجد ، په اسلام آباد کې په وفودو کې ښځې هم شاملې وي، نو په داسې حال کې د دې ښځو او غیر مسلمو جوماتونو ته داخلیدل ایا جائز دي؟

جواب: څه مسائل د توجه لائق دي:

١: جوماتونه د عبادت ځایونه دي، د سیل ځایونه نه دي، د تفریح ځای جوړول ډیره بده خبره ده.

٢: د غیر مسلم جومات ته تلل خو جائز دي، خو دا راتلونکي اکثر خلک داسې وي چاچې د غیر ستر جامې اغوستې وي او د هغوی ګونډې (ځنګنونه) بربنډ وي، ښځې هم بې پردې وي او په هغوی کې ډیره ممکنه ده چې ډیرو کسانو د جنابت غسل هم نه وي کړی، په داسې حالت کې د دوی جومات ته راتلل حرام او د مسلمانانو له پاره قابل نفرت دي.

٣: ډیرې ښځې داسې دي چې هغوی د ناپاکۍ د حالت کیدو په وجې سره جومات د ننه د تلو قابلې نه وي. د حیض یا نفاس په حالت کې یا د زچګۍ په حالت کې وي، یا د جنابت په حالت کې وي او هغوی چونکې جاهل دي، هغوی ته مسئله هم معلومه نه ده او نه د هغوی په زړونو کې د الله تعالی د کورونو احترام شته، د دې وجې نه هغوی بې تکلفي سره راځی، د داسې ښځو راتګ او دوی ته د راتلو اجازت ورکول موجب لعنت دی.

۴: ډیر کسان داسې دي چې د ځان سره د لوبو سامان هم ګرځوي، کیمرې د هغوی په غاړه کې اویزانې وي او خوراک څښاک کول نه هم پرهیز نه کوي او واړه ماشومان هم په لوبو کې مشغول وي، غرض دا چې جومات یې د ډیرو بې حرمتیو نشانه جوړ کړې ده، د دې وجې نه د دوی راتګ صحیح نه دی.

۵: حکومت که غیر مسلمو ته اجازت ورکوي نو د هغوی مقصد ترې دا دې چې د هغوی په زړونو کې د اسلام عظمت قائم شي، خو حکومت ته پکار دي چې د هغوی د داخلې له پاره خاص شرطونه مقرر کړي.

د معاش د پاره کفر اختیارول

سوال: زما یو دوست ځوور ځې وړاندې د معاشی حل له پاره قادیانیت قبول کړلو. د هغهٔ سره په خبره کولو باندې هغهٔ او وئیل چې د قادیانیت کوم فارم هغهٔ لوستلې دې د هغې په شرطونو کې چرته هم د کفر خبره نشته دې. مثلاً، زنانه کول، بدنظری نه کول، رشوت نه اخستل، دروغ نه ونیل او مرزاغلام احمد قادیانی لره مهدی علیہ السلام منل. او هغهٔ صرف د خپل ضرورت پوره کیدو تر حده پورې قادیانیت قبول کړې دې. او وروستهٔ به بیا هغه واپس شی. ایا د هغهٔ د دې کار کولو نه پس د هغهٔ اسلام باقی پاتې شو؟

اوکه نه وی نو ښځه او بچو لره څه رویه اختیارول پکار دی؟ اوکه د کور واله په پریښودو باندې تیار نه وی او د هغهٔ ځوځوانان اولادوی او کوم مال چې هغه ورکړی نو د هغې استعمالول جائز دی یا نه؟

جواب: مرزاغلام احمدقادیانی اودهغهٔ منونکودکافراومرتدکیدوکې دهیڅ قسمه شک اوشبه نشته. اود الله تعالی په عدالت کې هم هغوی کافر او مرتد ګرځیدلي دی.او د عالم اسلام اعلی عدالتونوهم که ددې کس په دې کې څه شک وی نوداهل علم سره دې خبرې اترې اوکړی. دقادیانیت فارم ډکول،په خپل کفراوارتدادباندې دستخط کول دی.ترکومې پورې چې دمعاشی مسئلې تعلق دې دمعاش له پاره ایمان خرڅیدې نه شی.اوددې صاحب داویناچې هغه به دوباره واپس راشی هم قابل اعتبارنه دی.هرکله چې یوڅیزصریح کفردې اودهغې اختیارول ناروا ده. اودهغې اختیارولوسره بنده دایمان نه خارج شی نودهغهٔ دواپس راتلوڅه ضمانت دې؟

داکس دې دقادیانیت دحقیقت اوکفریه عقائدونه خبرکړې شی اوکه ددهٔ په پوهه کې راشی اوهغه ددې نه توبه اوباسی نوټیک ده.ګنی دهغهٔ دښځه اوبچوفرض دې چې ددې کس سره تعلق ختم کړی اوداسې اوګڼړی چې دې مړشوې دې

چونکه دې کس دقادیانیت فارم ډک کړې دې ددې وجې نه که دې توبه اوباسی نودهٔ لره به دخپل ایمان تجدیدکول وی.اونکاح به هم په دویم ځل لوستل وی.(دکوم تفصیل چې زماپه رساله، ،تحفه قادیانیت، ،او، ،خدائی فیصله، ،کې کتلې کیدې شی)

بدامنی‌اوفسادات...دعذاب الهی یوشکل

سوال: نن ددې مصیبتونونه ډک دورکې،هرکله چې موږ مسلمانان دایمان په دریمه درجه کې روان یو.اوذفرقه واریت اولِسانې بندشونوښکاریو،اوپه دې دورکې قتل،ډکې، بدامنې، بدکارې،عرض داچې ټولې سماجي بدی زموږ نه راچاپیره شوې دي،که موږ په الله تعالی باندې مکمل ایمان لرو.دهغه په ویناباندې(قران اوحدیث باندې)موعمل کولی.نوبې شکه دډیرمسئلوحل ملاویږي.خو ازمیښتونه ډیردې اوصحیح دې ،که هرمسلمان مومن نه وي ددې وجې نه په ازمیښت باندې نه پوره کیږي،زمامطلب دادی چې انسان کوم چې دیوبل وینه بهوی،هغه په خپل حفاظت کې،یادبل په دشمنۍ کې،داترکومې پورې صحیح ده؟زمامطلب دادی چې یوکس دخپل جان ومال په حفاظت کې که دبل مسلمان وینه تویوي یادخپلې ښځې خواه که موروي. یا خور یاښځه،دهغې له پاره وینه تویوي،اګرچې مونږ ته داسې لګیږي چې هغه په حق باندې دی،خو په الله تعالی باندې دمکمل ایمان راوړلونه پس الله تعالی زمونږ د مالونو اوجانونوحفاظت کوي،نوموږپه کوم صورت کې وسله راخستی شو اودخپلو مسلمانانو ورونو وینه بهولی شو؟ ځکه چې عدل اوانصاف په دې معاشره کې تقریباً ختم شوی دی.

جواب: دکومې بدامنۍ اوفسادچې تاسوذکرکړی دی داعذاب الهي دی،کوم چې زموږ دبدو عملونو دوجې نه په مونږ باندې مسلط شوی دی،ددې علاج دادی،چې موږ دالله تعالی په دربار کې رښتونې توبه وکړو،تمام ظاهري اوباطنی ګناهونوپریښودلووعده وکړو.اودالله

تعالی نه دخپلو تمامو انفرادي او اجتماعي ګناهونو او بد عملو معافي وغواړو، څوک بېګناه مسلمان قتل کول دکفر او شرک نه پس دټولونه لويه ګناه ده، دکوم سزا چې قران کريم جهنم ښودلې ده، په کوم کې چې به هغه هميشه اوسيږي هرهغه کس دچا په زړه کې چې دايمان يوه ذره هم موجوده وي او داخرت دسزا اوجزا چې قائل وي هغه ته ددې څخه سل ځله توبه ويستل پکار دي چې دهغه لاسونه ديوبې ګناه په وينه باندې رنګ وي، کوم مسلمان چې په دې هنګاموکې ووژل شوچې دهغه دچا دقتل کولواراده نه وه نوهغه شهيد دی. اوکومې ډلې چې ديوبل په مرګ پسې لګيدلې وې په هغې قاتل اومقتول دواړه دجهنم خشاک دي، که په چامسلمان باندې يې ناحق حمله وکړه اوهغه خپله دفاع کې حمله کونکی ووژلونوهغه بې ګناه اوبري دی، اوحمله کونکی کوم چې قتل شوهغه سيده جهنم ته لاړ، هم دغه شان که چاد چاپه ښځه بچوباندې حمله وکړه اودهغه کس دلاسه هغه حمله کونکی ووژل شو، نودی هم دګناه نه خلاص دی او حمله کونکی سيده جهنم ته ورسيده.

ديو عبادت د پاره بل عبادت پريښودل

سوال: يوسړې دې، هغه دخپل ټول خاندان مورپلار، ښځې اوبچو کفالت کوی. اوهروخت هم دې فکرکې وي. اودې نه پس ډيرپه ګرانه باندې دهغه وخت تيريږي، خوهغه دې ګټه کولوکې دومره مصروف وي چې هغه ته دلمونځ کولووخت نه ملاويږي، اياد داسې کس داګټه کول دعبادت په درجه کې داخل دي اوکه نه؟

جواب: دغه کس که چرې ګټه صرف دې له پاره کوي چې الله تعالی هغه ته حکم کړی دی چې دخپل مورپلاراواولادله پاره حلال رزق وګټه، اوهغه په ربښتياباندې دحلال رزق ګټلوکوشش کوي نوهغه په ربښتياباندې عبادت کې مشغول دی، ځکه چې حديث کې راځي چې کوم کس رزق دې له پاره ګټي چې دخپلوبچوپرورش وکړي او دچا مخکې لاس خورنه کړي اوهغه دالله تعالی په لارکې خرچ کړي نو هغه کس هروخت په عبادت کې مشغول دی اودهغه داګټه هم دعبادت په درجه کې شامل ده. خوددې دامطلب نه دی چې هغه د نورو فرائضونه غافل شي، څنګه چې دپلار خدمت کونکی دمور خدمت نه کولوپه وجه باندې دمواخذې قابل دی، ديواولادپرورش کونکی اودبل اولاد پرورش نه کولوپه وجه باندې دمواخذې قابل دی. ددې مثال به بالکل داسې وي چې يوسړی يوځای کې نوکري کوي اودهغه په ذمه باندې دوه کارونه وي. اوس که چرې هغه يوکار کې دومره مشغول شي چې بل کارنه شي کولی نوداسې کس له پاره دانه شی ويل کيدای چې هغه دخپلې نوکرۍ فرائض پوره کوي. بلکه هغه ته به دنوکرۍ نه جواب ملاوشي دغه شان الله تعالی هم فرائض مقررکړي دي. اوس چې کوم کس کوم کوم فرض اداکوي هغه ته به دهغه فرض ثواب ملاويږي، اوکه چرې يوفرض کې کوتاهي کوی نوهغه به دهغه فرض په سلسله کې نيول کيږي اودهغه جرم سزابه ورته ملاويږي. ديوفرض

اداکولو په وجه باندې هغه ته د بل فرض نه خلاصی نه ملاویږي

د قران ، الله او رسول واسطه نه منل

سوال: که چرې بوکس ته د الله ،رسول او قران واسطه ورکړل شي ،خو هغه بیا هم ونه مني نو ایا ګناه ګیږي؟

جواب: داسې کس نه صرف ګناهګار بلکه سخت زړی هم دی

خبرو نه مخکې ریډیو باندې درود ویل څنګه دي؟

سوال: نن سبا کې روزانه ریډیو پاکستان باندې د خبرونو نه مخکې درود شریف لوستل کیږي، خوترنم سره د دې څه جواز دی؟ ایا داسې څه مثال شته یا اکابرینو کې چا داسې کړی دي؟

جواب: د حدیث د درس نه مخکې درود شریف لوستلو معمول خومې دا کبر سوټبي ـلي دی. کیدای شي چې د خبرونو درس هم د احادیثو درس باندې قیاس شوی وي،خو دې له پړه د بنځې او د ترنم سره لوستلو انتخاب ولې شوی دی؟ دا زمونږ د عقل اوپوهې نه بهر خبره ده

دزبور، تورات، او انجیل مطالعه کول د چا د پاره جائزدي

سوال: زه د ډیروخت نه یوې مسئلې کې ګیریم، او هغه دا چې ایا دې نیت سره د زبور ،تورات او انجیل مطالعه کول جائزدي چې د دې نه د اسلام حقانیت ثابت شي. یا دې معلومولوله پاره چې نورو مذهبونو او اسلام کې څه فرق دی؟ د هغه دلوستلونه مقصد داوی چې قران دیو قوم یامعاشرې جوړولو حکم څنګه او په کوم اصولو باندې کوي؟ او نورو مقدس کتابونو کې دمعاشرې دجوړولو له پاره څه اصول دي او د دواړو څه فائدې دي؟

زما یو دوست وائی چې ګوره روره! ترڅو چې مونږ د زبور، انجیل اوتورات وغیره مطالعه نه کوو ،نومونږبه دا څنګه ثابتوو چې اسلام یوربښتونی مذهب دی او د نورو مذهبونو کې فلانکی فلانکی کوتاهي ده ،دې له پاره ضروري ده چې تاسو مخکې د اسلام مطالعه لرئ او بیا د دې کتابونو مطالعه وکړئ چې دا معلومه شي چې په ربښتیا باندې دې کتابونو کې بدلون شوی دی، که چرې زمادد وست خبره ومنل شي،نوبیا کله دحضرت عمر رضی الله عنه تورات لوستلو اودحضور ﷺ دغوسې په وجه باندې مخ مبارک سور کیدو واقعه به کوم طرفته ځي؟

ما دیو ملاصاحب نه پوښتنه وکړه نو هغوی جواب راکړ چې د تورات وغیره مطالعه صرف دعالمانوله پاره جائزده ،ځکه چې د هغوی د اسلام باره کې مطالعه ډیره وي. خودنن سبا عالمان خودفرقو په تیاروکې مبتلاشوي دي. الله تعالی نه مود عاده چې ټول مسلمانان دفرقو نه بهرشي او خپلو کې یې اتحاد پیدا شي.

جواب: دحضرت عمر رضی الله عنه کومه واقعه چې تاسوذکرکړې ده، دمشکوة په ص ۳۰ دمسند

احمد او شعب الایمان په حواله باندې، او ص ۳۲ باندې د دارمی په حواله باندې ذکرده. مجمع الزوائد کې (ج ۱ ص ۱۷۳) کې د دې واقعې باره کې ډیر روایتونه موجود دي:

عن جابر عن النبی ﷺ حین اتاہ عمر فقال: انا نسمع احادیث من یهود تعجبنا افتری ان نکتب بعضها. فقال: امتهوکون انتم کماتهوکت الیهود والنصاری؟ لقد جئتکم بها بیضاء نقیة ولوکان موسی حیاً ماوسعه الااتباعی. رواه احمدوالبیهقی فی شعب الایمان. (مشکوٰۃ ص ۳۰)

۲ د دې حدیث مطابق مسلمانانو له پاره دحضور ﷺ راوړل شوی شریعت نه (کوم چې مکمل اوپوره دی، پس دیهودیانو اونصاری د کتابونو دلوستلو او دهغې نه دفائدې اخستلو هیڅ ضرورت نشته. بلکې داخیزدالله تعالی دخفګان او غصې ذریعه جوړیدای شي.

۳ دخط په شروع کې د دې کتابونو دلوستلو کوم مقصدونه بیان شوی دی. هغه معتدبه (عام) نه دی، او هر یو کس د دې اهل نه وي، چونکې دمسئلو دعلمي استعداد باره کې مونږ ته علم نه وي. په دې وجه باندې د دې مقصدونو له پاره د دې کتابونو دلوستلو مشوره نه شم درکولی.

٤ اهل کتاب ته دکوم الزام او جواب مقصد چې ستاسو دوست بیان کړی دی هغه په خپل ځای باندې صحیح دی، خو دا دعوامو کار نه دی، بلکې عالمانو کې هم صرف دهغه حضراتو کار دی، کوم چې د مباحثې په علم او فن کې ماهران وي، نورو خلکو ته پکار دي چې داسې وخت کې دعالمانو طرف ته رجوع وکړي.

۵ ملاصاحب چې کومه خبره کړې ده هغه ئې صحیح کړې ده، خو داسې موقع باندې دفرقه پرستی قیصه چېړل صحیح نه دي، دالله تعالی په فضل او کرم باندې دعیسایانو دموضوع باره کې داسې ماهر عالمان موجود دي کوم چې داکار ښه طریقې سره کوي، او د مسلمانانو د طرف نه فرض کفایه اداکوي.

۶ کوم عالمان چې د تورات مطالعه کوي، هغوی دهغې نه دفائدې اخستلو له پاره نه کوي، په دې وجه باندې دذکرشوی حدیث اطلاق هغوی باندې نه کیږي.

۷ پی ایچ ډي کونکي حضرات هم که چرې داسلام داصولو دفروغ نه خبروي او دهغوی مقصد دمخکې کتابونو نه فائده اخیستل نه وي نو دهغوی هم هغه حکم دي کوم چې جواب نمبر ۶ کې ورکړل شوی دی.

دې تفصیل کې ستاسو دټولو خطرو جواب راغی.

آخرکې به تاسو ته یوه مشوره درکړم که چرې تاسو دې موضوع باندې بصیرت حاصلول غواړئ نو دحضرت مولانا رحمت الله کیرانوی رحمه الله دکتاب "اظهارالحق" مطالعه وفرمایئ. اصل کتاب عربي کې دې د دې اردوکې ترجمه "بائبل سے قران تک" په نوم باندې ددارالعلوم کراچی دطرف نه په درې جلدونوکې شوې ده.

د غیر مسلم تعزیت کول

سوال: ۲٤ فروری ۱۹۸۵ء د ۳ جمادی الاخری ۱۴۰۵ھ مطابق د اتوار په ماښام د طلوع اسلام اداري مشر مسټر غلام احمد پرویزوفات شو. د هغه عمردوه اتیاکاله و او د تیرو څلورو میاشتو راهیسې بیمارو. صدرجنرل ضیاء الحق د هغه د کورنۍ په نوم تعزیتي پیغام کې ویلي دي
"مرحوم د تحریک پاکستان یوسرګرم رکن و. او هغه د غه دوران کې د علامه اقبال او قائداعظم محمدعلي جناح د خیالاتو نه فائده اخیستې وه. مرحوم د هغې نه پس خپل ټول صلاحیتونه د اسلام د مطالعې او د دې نوروخلکوته د رسولوله پاره وقف کړي وو. هم د دې شعبه کې د موربې شمیره شاګردان موجوددي. مرحوم به د تحریک پاکستان د عظیم کارکن او یو عظیم مفکرپه حیثیت باندې هیمشه یادساتل کیږي. الله تعالی دې مرحوم ته خپل رحمت کې ځای نصیب کړي. آیا یو مسلمان له پاره د حدیث نه منکرکس تعزیت کول او هغه ته مرحوم ویل جائزدي؟

جواب: د مړي وارثانو سره تعزیت کول خوښه خبره ده. خود جناب صدر د طرف نه د پرویزصاحب باره کې د اسې خیالاتو اظهارکولو باندې به د دیني حلقو د طرفه د ناخوښۍ اظهار کیږي. د مسټر پرویز خیالات د چانه پټ نه وو. موصوف چې څنګه اسلام مسخ کړی و، څنګه یې چې د اسلام د قطعیات نه انکار کړی و او څنګه ئې چې ټول اسلام عربي سازش ګرځولی و. هغې ته د اسلام مطالعه نه بلکې د اسلام مسخ کول ویلې کیدای شي. همدغه وجه ده چې دنن نه تقریباً شل کاله مخکې د عربو او عجمو او ټولو اسلامی فرقو فتوا ورکړې وه چې د پرویزي نظریاتو اسلام سره هیڅ تعلق نشته او کوم کس چې د غه نظرې مني د هغه اسلام سره هیڅ تعلق نشته. نو د عالمانو یه فتوا (پرویز کافردی) په نوم باندې چاپ شوې ده.
صدرمملکت فرمایي چې پرویزد پاکستان د باني او د علامه اقبال د خیالاتو نه فائده اخیستې وه. که د افائده همدغه شان د مسخ او تحریف په ذریعه باندې اخیستل شوې وه نو هغې ته د پوره استفادې نوم ورکول غلط دي. خو که چیرې دا ومنل شي چې د دې بزرګانو خیالات او نظریات همدغه شان وو د کومې ترجمانی چې مسټر پرویز د ډیروخت پورې کوله نو د مسلمانانو په نظر کې به د دې دواړو بزرګانو څه حیثیت وي؟
جناب صدر د پرویز له پاره دعا فرمایلې ده چې: الله تعالی دې هغه په خپل رحمت کې قبول کړي. د کوم رحمت تصورچې د مسلمانانو په نزد دی، مسټرپرویزد هغه منونکی نه دی. هغه دې ته د عیسایانو عقیده وایي او د علامه اقبال په حواله باندې هغه دې پسې د اسې ټوکې کوي:

آن بهشتے که خدائے بتو بخشید همه هیچ
تا جزائے عمل تست چنان چیزے هست (لغات القران مادره ر.ح.م)

کوم خلک چې د الله تعالی بښل شوي جنت ته "همه هیچ" ویلو سره تحقیرسره واپس کوي، په دې باندې پوهیدل ګران دي چې د داسې خلکوله پاره د رحمت موندلو د عاڅه معنا لري؟

عجیبه خبره چې علامه اقبال خودالله تعالی ببنل شوي جنت ته "همه هیچ،، اودعمل جزاته "چیزے هست،، وايي. خواعلم الاولین والاخرین خاتم المرسلین ﷺ فرمائی **لن ینجی احدامنکم عمله. قال رجل: ولا ایاک یارسول الله! قال: ولا ایای الاان یتغمدنی الله منه برحمة ولکن سددوا.**

ترجمه تاسوکې دچاعمل هغه کله هم خلاصی نه شی ورکولی. یوکس عرض وکړیارسول اللهﷺ تاسوته هم نه؟ وې فرمائیل ماته هم نه. تردې چې الله تعالی رحمت مورخپل رحمت کې پټ نه کړي. خوپه سیده لاربانديې ځئ.

بل حدیث کې دی **مامن احدیدخله عمله الجنة. قیل: ولاانت یارسول الله! قال: ولاانا، الاان یتغمدنی ربی برحمة(وفي روایة: الاان یتغمدنی الله منه بمغفرة ورحمة.**(صحیح مسلم جلددوم ص۳۷۶، ۳۷۷)

ترجمه: تاسوکې یوکس هم داسې نشته چې هغه دخپل عمل په وجه بانديې جنت ته داخل شي. عرض وکړل شو یارسول اللهﷺ تاسوبه هم نه؟ وې فرمائیل ماهم نه. تردې چې ماهم په خپل رحمت اومغفرت کې پټ کړي.

"به بین تفاوت راه ازکجااست تابه کجا،،

اخبارکې دا دلچسپ خبرهم ورکړې شوی دی چې:

"دهغه دجنازې لمونځ به دپیرېه ورځ ۲۵ فرورئ بانديې دماښام خلور بجې ۲۵ بی ګلبرګ نمبر۲، مین مارکیټ،دهغه په کورکې اداکیږي،،

مسټرپرویز خو دلمونځ نومې عبادت منونکی نه و اود مسلمانانو لمونځ ته به یې دمجوسیانوطریقه ویله. پته نشته چې دهغه لمونځ به په کومه طریقه بانديې اداکړل شوی وي؟ اوچابه اداکړی وي؟

دکوم حدپورې چې دپرویزصاحب دذات تعلق دی هغه خپل انجام ته ورسیده،یقیناً هغه به دهغه ټولوغیبي حقیقتونه به په خپلو سترګوبانديې وینې کوموپورې به چې هغه خنداکوله. چونکې دهغه مقدمه دټولونه غټ عدالت ته رسیدلې ده، په دې وجه بانديې دهغه ذات باره کې دخبروکولوپه ځای به موږداوایوچې دکومو خیالاتواونظریاتوچې هغه ټول عمرتبلیغ کولو،هغه ټول کفراوضلالت وو،الله تعالی دې مسلمان امت دهغه دپیداکړې شوې فتنې نه محفوظ وساتي.

دالله تعالی نوم سره د(صاحب)استعمال

سوال: جناب محترم! مونږ دادب له پاره د(صاحب) استعمالوو، دټولوانبیاء (علیهم السلام) صحابه کرامورضی الله عنهم اوددین دټولو بزرګانو له پاره،بلکې دخپلوبزرګانوله پاره هم. جناب عالي!

دالفظ ,صاحب, مونږ دالله تعالی نوم سره نه په خوله باندې وایوانه یې لیکو. ایاداخبره ګناه یاادب خلاف خبره خونه ده؟ واضح کړئ ځکه چې الله تعالی زمونږ رب اوپروردګاردی.

سوال: ۲ نن سبا لیدل شوي دي چې په کلینډرو اود کتابونوپه لومړۍ ورقه باندې (**بسم الله الرحمن الرحيم**) یادقران پاک ایتونه کاږه لیکل شوي وي. ایاداسې لیکل دادب خلاف دي اوډګناه ذریعه ده؟

سوال: ۳ ایاسوره اخلاص درې ځله لوستلوسره دټول قران مجید دلوستلو ثواب حاصلیږي؟

سوال: ٤ ایاددعاپه شروع اواخرکې حضور ﷺ باندې ددرودشریف لوستلونه بغیردعانه قبلیږی؟

جواب: ۱ دپخوانی زمانې په اردوکې ,,الله صاحب فرمائی،، الفاظ استعمال شوی دی، خو اوسنی اردوکې ددې لفظ استعمالول ختم شوي دي.نوهغه زمانه کې به دالفظ عزت کولو له پاره استعمالیده. خواوسنی ژبه کې دالفظ دومره دعزت قابل پاتې نه شو چې دادالله تعالی، یا انبیاء کرام علیهم السلام اوصحابه کرامو او تابعینو له پاره استعمال شي.

جواب: ۲ که چرې هغه ادب اواحترام سره اینبودل کیږي نوهیڅ بده خبره نه ده.اوکه چرې یې دغورځیدو ویره وي؛ نولیکل نه دي پکار.

جواب: ۳ یوحدیث کې دامضمون دی چې **قل هوالله احد** دقران ددریمې برخې برابردی.(ترمذی)

جواب: ٤ ددعاپه شروع اواخرکې ددرودلوستل ددعادقبلیدوله پاره ډیره دامید خبره ده، دحضرت عمر رضی الله عنه قول دې چې دعادځمکې او اسمان په مینځ کې راځوړنده وي،ترڅو پورې چې دهغې په شروع او اخرکې درودشریف ونه لوستل شي.

د نامحرم سړیو نه بنګړي اچول

سوال: زمونږ خویندې میندې کومې چې دبرقعې اهتمام کوي خوپه اختروغیره کې چې کله بنګري اچوي نوخپل لاس دنامحرم په لاس کې ورکوي نوداسې پردې څه فائده اوکه معذوري ده؟

جواب: دښځو دغیرمحرم نه بنګړي اچول. حدیث کې دې څیزته دخنزیرغوښه خوړلونه هم بدترویلی شوي دي.

حضرت علی رضی الله عنه ته مشکل کُشا ویل

سوال: حضرت! عرض دادی چې حاجي امدادالله مهاجرمکي رحمه الله په شجراتو کې اود حضرت نانوتوی رحمه الله په قصیدوکې یودوه ځایونه داسې دي چې هغه بریلوي حضرات مخې ته اینبودو سره زمونږ دځوانانوذهنونه خرابوي،مونږته دهغو شعرونومطلب اوحکم پکاردی، امید لرو چې دشفقت لاس به راباندې تیر کړئ،ددې شعرونوفوټوسټیټ ستاسوخدمت ته درلیږو.

جواب: ۱: داصطلاحاتو دفرق په وجه باندې مفهوم کې فرق راځي "مشکل کُشا". دفارسي لفظ دی او ددې معنا ده "مشکل حل کونکی". اودالقب حضرت علي رضي الله عنه ته حضرت عمر رضي الله عنه ورکړی و. عربي کې ددې ترجمه **حل العويصات** دی. اردوکې نن سبا دمشکل کشامعنا "دخلقو مشکل حل کونکې". اخيستل کيږي. د حاجي صاحب په شعرونوکې هغه معنا مراد ده، دامعنا نه

جواب: ۲ دحضرت نانوتوي رحمه الله په قصيده کې دحضور صلی الله علیه وسلم د روحانيت سره استشفاع ده، کرم احمدي ته خطاب دی.اودا استمداد ددنيا دکارونوله پاره نه دی،بلکې اخرت کې د خلاصي اودنيا کې دين باندې داستقامت نه پاره دی. څنګه چې عاشقان خپلومحبوبانوته خطاب کوي.حالانکې هغوی ته پته وي چې دهغوی اوازدهغوی محبوب پورې نه رسيږي، اوحقيقت کې هغوی ته اورول هم مقصدنه وي.بلکې دمحبت اومينې اظهاريوه طريقه ده، دغه شان داکابرينو کلام کې چې حضور صلی الله علیه وسلم ته کوم خطاب شوی دی.هلته هم دعشق او محبت اظهاراودشفاعت غوښتل مراددي، دانه چې دهغه په ژوند کې خپل کارونوله پاره مدد غوښتل.داهل سنت عقيده ده چې د بندګانو عملونه حضور صلی الله علیه وسلم ته پيش کيږي. نوکه څوک نبی کريم صلی الله علیه وسلم ته هم ددغه خيال په وجه باندې خطاب کوي چې دهغه د خبرې به دحضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې پيش کيږي ؛نوداهم داسې دي لکه چې يوکس چاته خط ليکي، اوهغه ته دخپل خط په ذريعه باندې خطاب کوي،ځکه چې هغه ته پته وي چې چاته خط ليکل کيږي هغه به داخط ضرورلولي.

غرض داچې که چرې عقيده فاسده نه وي چې حضور صلی الله علیه وسلم حاضر اوناظردی؛ نوددې خطابونو صحيح توجيه ممکن ده،اوکه چرې عقيده فاسده وي نوداخطاب منع دی.

يادونه. مادې باره کې په "اختلاف امت اوصراط مستقيم" کې څه لږ ډيرليکل کړي دي، هغه هم ولولئ.

دعلم الاعداد اودست شناسي علم زده کول

سوال: زماسوال دادې چې دپامسټرۍ علم، علم کيرل، علم جعفر، دست شناسي، قيافه شناسي وغيره، اودپيشن ګويي په وجه باندې ډيرخلک دمستقبل باره کې ذاتي ياقومی خبرې کوي، مثلاً: دست شناسي کې لاس کتلوسره دمستقبل اوبدي ياښه والي باره کې وايي،دغه شان دعلم الاعداد په نزدباندې خلقوته دمستقبل باره کې ويل کيږي زماذهن کې يوسوال دې چې ايادا علمونه صحيح دي؟ ايادې باندې يقين ساتل صحيح کاردی؟ يادساتل پکاردي چې کله ناکله دهغه خلکو ويل شوې خبرې سل فيصده صحيح وي، اواکثرخلک په هغه خبروباندې يقين وکړي،اوبعضې خفه شي او غلط کارونه ترې نه وشي، زماامیددې چې تاسوبه دسوالونوجواب ضرورراکړئ!

جواب: ددې علمونو باره کې يو څو خبرو باندې ځان پوهول پکار دي:

لومړۍ دمستقبل معلومولو چې څومره طريقې دانبياء عليهم السلام وحيې پرته، هغو کې يوه هم يقيني نه ده.بلکې هغه اکثرپه حساب کتاب باندې کيږي، اوتجربه اوحساب کله صحيح اوکله غلط کيداى شي، په دې وجه باندې ددغو علمونوپه ذريعه باندې ديوڅيزباره کې يقيني پيش ګويي نه شى کيداى.چې هغه به لازمى طورباندې صحيح وي.بلکې هغه صحيح هم کيداى شي اوغلط هم

دويمه يوغيريقيني شى يقيني اوصحيح ګڼل دعقيدې اوعمل دفساد وجه ده. ددې علمونوپه نتيجه باندې سل فيصده يقين کول منع دي.

دريمه دمستقبل باره کې پيش ګويي دوه قسمه وي. بعضې خو داسې وى چې انسان دهغې بندوبست کولى شي.اوبعضې داسې وي چې دهغې بندوبست کول ممکن نه وي. ددې علمونوپه ذريعه باندې اکثرپيش ګويي هم داسې کيږي چې دهغې نه دتشويش نه علاوه بل څه ګټه نه حاصليږي. څنګه چې سوال کې هم دې طرف ته اشاره شوې ده؛نوداعلمونه به غيرمحموده علمونو کې شميرل کيږي.

څلورمه ددې علمونوخاصيت دادى چې دکوموخلکودې سره شوق پيداشي،که هغه دتعليم اوتعلم په اعتباروي. داستفادې اعتبارسره وى. دهغوى الله تعالى سره صحيح تعلق پاتې نه شي. همدغه وجه ده چې ټولوانبياء عليهم السلام اوخاص طورباندې زمونږپيغمبر حضرت محمد ﷺ امت دې علمونو کې مشغوليدوته نه دى پريښې، بلکې دهغوى اشتغال يې ناخوښه فرمايلى دى.او چې د انبياء عليهم السلام رښتوني جانشين دې علمونوکې اشتغال نه خوښوي؛نو داعلمونه کوم چې دخپل ذات په اعتبارباندې مباح دي،له هغو څخه ددې وجوهاتوپه وجه باندې ځان ساتل پکاردي.

څه لوستلو سره د لاس نه کاڼي وغيره راويستل

سوال: نن سبا (فلپائن) کې ديوې غيرمسلمې ښځې خبرې مشهوريږي چې هغه روحاني طريقو باندې دبدني مرضونومثلاً دګردونه کاڼي ويستل،دخيټې نه رسولى ويستل، اود سترګونه دګل ويستلو روحانى علاج کوي، اوخلک په هغې باندې علاج کوي، طريقه يې داسې ده چې هغه په خپل لاس باندې څه ووايي اوپه متاثره شوې برخه باندې يې ووهي،خون او پيپ وغيره بغيرد څه تکليف نه راوتلو کې ښکاري، اويوڅومنټه پس دلاس نه دګردې کاڼى هم راوباسي. په زخم باندې بيالاس ووهى نوزخم وغيره هم سم شي، اياداسې علاج کول د مسلمانانوله پاره جائزدي اوکه نه؟ اودعلاج ددې طريقې څه حقيقت دى، دې باره کې تاسوڅه

ويلی شئ؟ ځکه چې دسائنس په رڼا کې خودې ته دنظربندی یاجادوګری نه علاوه بل څه نه شي ويل کيدای.

جواب: دادمسمريزم مشقونه وي، روحانيت سره ددې هيڅ تعلق نشته، علاج جائزدی. والله اعلم.

د فلور ميل د مالکانو لخوا دغلا غنمو نه اوړه جوړول او خرڅول ، او دې کې د شريک نوکرانو حکم

سوال: زه يوپرائيوټ فلورميل کې نوکريم. زماډيوټي دغنموپه هغه سرکاری ګوداموناندې ده کوم چې دملونو ته دخپلې کوټې(برخې) مطابق غنم ورکوئې، محترم مفتی صاحب! دې سرکاري ګودامونو کې چې کوم وخت مونږملونوته غنم ورکوو؛ نودګودام (اے ايف سي) کوم چې سرکاري نوکردی. د هر موټر وزن کولووخت کې دڅلويښتونه شپيتو کلوګرامو پورې غنم کټ کوي. ددې خبرې دټولو ملونو مالکانو ته پته ده، اوهغوی په دې خبره باندې تقريباً راضي هم دي، دويمه خبره داده چې ددې سرکاري ګودامونو نه د(اے ايف سي) حضرات په غلاباندې څوڅوټرکه غنم پرايويټ ملونوته ورکوي، او دغه پيسې سرکاري خزانې ته نه ځي. بلکې سرکاری نوکران يې خپلو کې تقسيم کړي، اوس ددې مضمون مناسبت سره دستاسونه د يو څو مسئلوپوښتنه کول غواړم، اميدلرم چې تفصيلی جواب به راکړئ.

سوال: ايادميل مالکان چې ددې سرکاري نوکرانونه په غلاباندې کوم غنم اخلي، پرايويټ قيمت باندې داغنم اخيستلی شي؟

جواب: داخوښکاره خبره ده چې سرکاري نوکران صرف دحکومت نمائنده ګان دي. دهغوی دسرکاري ګودامونه په غلاباندې غنم خرڅول جائزنه دي، اونه دميل دمالکانوله پاره دغلاغنم اخيستل جائز دي، دغل سزاشريعت دهغه لاس کټ کول ايښې ده، کله چې هغوی ته دهغوی دګناهونوپه وجه باندې سزاګانې ملاؤشي، نودهغوی پوښتنه کونکی به هيڅوک نه وي، اودميل چې کوم مالکان دې خيانت کې شريک وی، هغوی ته به هم برابرسزاملاويږي.

سوال: دميل مالکان که چرې دغه غنم واخلي اوميل کې يې اوړه کړی نواياد هغوی داګټه به حلاله وي اوکه حرامه؟

جواب: که چرې دميل مالکانوته ددې خبرې پته وي چې داغنم دغلادي؛ نودهغوی له پاره يې نه اوړه کول حلال دي اونه دهغه اجرت.

سوال: زه دنوکرپه حيثيت باندې دغه غنم په موټروکې اچوم، وزن کوم اوميل ته يې سپلائي کوم، ماته صرف دمياشتې تنخواه ملاويږي، يا بعضې نوکرانوته دټرک ډکولوپه وجه باندې کميشن ملاويږي، ايا زموږله پاره داتنخواه اوکميشن حلال دی اوکه حرام؟

جواب: که چرې تاسو ته دا پته وي چې دغلا مال نه موټر ډ کیږي نو تاسو هم جرم کې شریک یئ.
او د قیامت په ورځ به د دې د مواخذې نه بچ نه یئ!

سوال: کوم موټر چې دغه غنم میلونو ته رسوي او د خپلې پېرې پیسې حاصلوي. ایا د هغوی له پاره دغه کرایه حلاله ده او که حرامه؟

جواب: که چرې پته ورته وي چې دا حرامه غله ده. نو موټر والا له پاره د دې وړل هم حلال نه دي. او که چرې ورته معلوم نه وي چې دا دغلا مال دی. نو هغه معذور دی.

سوال: کوم مزدوران چې دغه غنم لوډ کوي او بیا یې میلونو کې کوزوي. دغه خلک هره یوه بورۍ باندې کمیشن اخلي. ایا دا کمیشن د هغوی له پاره حلال دی او که حرام؟

جواب: د دې هم دا حکم دی که چرې هغوی دغلا مال موټر ته خیژویي یا کوزوي. نو هغه هم په جرم کې شریک دی. ګنی د بې علمۍ په وجه باندې معذور دی.

❖ د مورو پلار او اولاد تعلقات ❖

د مور پلار د نافرمان د عبادت شرعي حیثیت

سوال: د مور پلار د نافرمان فرض او نفل یو هم نه قبلیږي (ابن عاصم) نو آیا د داسې سړي لمونځ کول یا نه کول، یا د نیکۍ یو بل کار کول یا نه کول برابر دي؟

جواب: د حدیث مطلب تاسو سرچپه (التپه) کړ، د حدیث نه مراد دا دی چې هغه سړی ته د مور پلار نافرمانۍ پرېښودل پکار دي چې د هغه عبادت قبول شي، دا نه چې د مور پلار په نافرمانۍ مسلسل قائم وي او عبادت کول پرېښودل پکار دي!

سوال: فرض کړئ، اے او بی دوه مشرکان دي، مشرک اے خونخوار او ظالم دی، خلکو سره بداخلاقي، کنځل کول، جګړې او فساد د هغه معمول دی، د خلکو په مال باندې یا تنخواه باندې ناجائز قبضه کوي او مشرک بی د ښو اخلاقو او عادتونو څښتن دی، د خپل کر سره کار ساتي، چا ته تکلیف نه رسوي، کنځل، جګړې او فساد نه کوي، د چا په مال باندې ناجائزه قبضه نه کوي. نو آیا د قیامت په ورځ به هغوی له پاره سزا یو شان وي یا به پکې څه فرق وي؟

جواب: په جیل کې د مجرمانو د جرم د نوعیت په اعتبار سره د هغوی سره مختلف سلوک کیږي. داسې د دوزخیانو سره به هم د هغوی د جرمونو د نوعیت مطابق سلوک کیږي، د دوزخیانو د سزا کمی او زیاتی د نصوصو نه ثابت دی.[1]

---

[1] عن سمرة بن جندب ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: منهم من تأخذه النارإلی کعبیه ومنهم من تأخذه النارإلی رکبتیه، ومنهم من تأخذه النارإلی حجزته، ومنهم من تأخذه النارإلی ترقوته ...[بقیه په راروانه صفحه..

د مور و پلار اطاعت او خپلوا نوسره تعلق پرېښودل

سوال: د رسول اللهﷺ د ارشاد مبارک مطابق دالله تعالی رضا د مور پلار په رضا کې ده او په بل خای کې ارشاد مبارک دی چې ستاسو دوزخ یا جنت مور پلار دی.الله تعالی دې ددې احادیثو کمی بیشی معاف کړي، نو نن سبا آیا په هرزمانه کې مور پلار خو په دې شي کې یا په کار کې راضي کیږي چې کوم هغوی پخپله عمل کوي.یعنې دپلار نیکه په طریقو باندې، زما مسئله دا ده چې دالله تعالی حکم دی چې رشته داري مه ختموئ.خو مورپلار وایي چې دچاسره دخبرو کولو ضرورت نشته.دچانه چې مور راضي یو هغوی سره خبرې کوئ،نور پرېږدئ.مور پلار دخپل پلار نیکه په طریقوباندې عمل کولو نه خوشحالیږي،د قرآن اوسنت مطابق عمل کولو په هغوی باندې ډیر بد لګیږي.د مور و پلار سره دالله په فضل سره هرڅه ډیردي خوبیاهم هغوی داولاد نه د حاصلولو خواهش لري.مونږ ته خدمت کول هم پکار دي خوچې آمدنی دومره کمه وي چې خپله او دبچیوګزاره په مشکل سره کیږي نو څه وکړل شي؟

جواب: د مور پلار خدمت او اطاعت فرض دی؛ خو په جائز کارونو کې،او که مور پلار دیوناجائزه خبرې حکم وکړي؛ نوپه هغې کې یې اطاعت کول حرام دي.[1]

د مور پلار متعلق ښه جذبات ساتل

سوال: زه د خپل پلار یو زوی یم.مورو پلار خپل لږ ډیر څومره هم جائیداد چې دې زما په نوم کول غواړي.دا خبره په اسلامي طریقې سره هم صحیح ده چې د مور پلار نه وروسته دجائیداد وارث هلک وي، خو زه نه غواړم چې زه خپل جائیداد پخپله جوړکړم،د مور پلار په پیسو سره مو ډیر عیش وکړ، غریبانو ټول عمر مابانډې پیسې خرچ کړې ماته یې هرقسمه آرام راکړ،تعلیم یې راباندې وکړ اوس دفستې ائریولسم؛ طالب علم یم،عمر مې اوولس(١٧) کاله دی، اوس غواړم چې زر نه زر په تعلیم حاصل کړم او پخپلو پښنو باندې ودریږم او مور پلار باندې یو حج وکړم.آیا دا ټول خیالونو او خواهشات صحیح دي؟

جواب: د مور پلار تاسو یوازې وارث یئ،باقي ستاسو جذبات صحیح دي،په دې شرط چې تاسو پخپله هم دالله تعالی حکمونه پوره کوئ، صرف دخوراک او ګټلو خیال دې نه وي.

...بقیه د تیرمخ]. رواه مسلم (مشكوة ص: ٥٠٢، باب صفة النار وأهلها، طبع قديمى كتب خانه)_

[1] وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْناً وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا (العنكبوت:٨)، وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفاً(لقمان:١٥)وفى الحديث: لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق(مشكوة ج:٢ ص:٣٢١)

د مور پلار د نافرمانۍ وبال

سوال: نن سبا په دور کې د بوډا والي سهارا په چا باندې کول پکار دي،په اولاد باندې يا په دولت باندې؟ مور پلار خپل اولاد ته څکه ښه تربيت ورکوي چې په آئنده دور کې ماته لته راکړي اومې باسي،آيا دا صحيح ده؟ مور پلار سره اولاد دومره په بې دردۍ سره ولې پيش کيږي؟ آيا په نن درو کې هم دا ښودل کيږي چې دهغوی سره ښه سلوک مه کوئ؟ اولاد په ځواني کې د مور پلار احترام نه کوي،که واده وکړي؛ نو د ښځې حکم مني،د ښځې په حکم کور جوړوي.يوطرف ته مور پلار ته تکيف ورکول او ښځه خوشحالول. اولاد سره دا ښه ښکاري چې زه خوشحالي لمانځم او زما مور پلار دې د دردونو تندکونه وهي؟ آيادېو مسلمان اولاد ته اسلام دا ښيي؟ اولاد دا سوچ ولې نه کوي چې زما مور پلار دومره مشکل مرحلو نه تير شو او زما پرورش يې کړی دی.نن ماته پکاردي چې دهغوی ملا تړی جوړ شم.دهغوی دعاګانې اخيستل پکار دي؟ بعضې اولاد د مور پلار نه جائيدادونه واخلي زر يې د لاندې غوځول غواړی.ولې؟ د اسلامي احکامو وضاحت وکړئ!

جواب: په قرآن کريم او حديث نبوی ﷺ کې د مور پلار دخدمت ډير فضيلتونه راغلي دي،او د مور و پلار نافرماني او دهغوی دخفه کولو وبال هم په ډير تفصيل سره ذکر شوی دی،او عالمانو په حقوق الوالدين باندې مستقل کتابونه تصنيف کړي دي،سورت بنی اسرائيل کې دالله تعالی ارشاد مبارک دی:

وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (سورت بني اسرايل:٢٣,٢٤)

ترجمه: او ستاسو رب حکم کړي چې دَهغه نه پرته د چاعبادت مه کوئ اودخپل مورپلارسره ښه سلوک کوئ.که ستاسو په مخکې په هغوی کې يو يا دواړه بوډاوالي ته ورسيږي؛ نوهغوی ته کله هم "اُف" مه کوئ او مه هغوی ته غوسه کيږئ،او دهغوی سره ډير په ادب سره خبرې کوئ او دَهغوی په مخکې په شفقت سره په عاجزۍ ودريږئ،او داسې دعا کوئ چې اې زما پروردګاره په دې دواړو باندې رحمت وفرمايه څنګه چې دوی زه په ماشوم والي کې پاللی وم.

په يوحديث کې دي: **"عن ابي امامة رضي الله عنه ان رجلا قال: يارسول الله! ماحق الوالدين على ولدهما؟ قال: هما جنتك او نارک."** (ابن ماجه ص:٢٦٠).

ترجمه: دحضرت ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی،فرمايي چې: يو سړي پوښتنه وکړه: يارسول الله! دَ مورپلار دَ اولاد په ذمه څه حق دی؟ ويې فرمايل: هغوی ستا جنت يا دوزخ دي(که دهغوی خدمت دې وکړ نو جنت ته به لاړشې او که دهغوی نافرماني دې اوکړه نودوزخ ته به واخلې).

په یو بل حدیث کې دي: "عن ابن عباس رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من اصبح مطیعاً لله فی والدیه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة وان کان واحدًا فواحدًا ومن اصبح عاصیاً لله فی والدیه اصبح له بابان مفتوحان من النار ان کان واحدًا فواحدًا. قال رجل: وان ظلماه؟ قال: وان ظلماه وان ظلماه وان ظلماه." (مشکوة ص: ٤٢١).

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې حضورپاک ﷺ فرمایلي دي چې: کوم سړی د مور پلار فرمانبردار وي د هغه له پاره د جنت دروازې خلاصیږي او که په هغوی کې یو وي نو یوه. او کوم سړی چې د مورپلار نافرمانه وي د هغه له پاره د جهنم دروازې خلاصیږي، او که په هغوی کې یو وي نو یوه. یو سړي عرض وکړ چې: که مور پلار په هغه باندې ظلم کوې نو بیاهم؟ ویې فرمایل: که څه هم په هغه ظلم کوي، که څه هم په هغه ظلم کوي، که څه هم په هغه ظلم کوي."

په یو بل حدیث کې دي: "وعنه (عن ابن عباس) ان رسول الله ﷺ قال: ما من ولد بار ینظر الی والدیه نظرة رحمة الا کتب الله له بکل نظرة حجة مبرورة. قالوا: وان نظر کل یوم مائة مرة؟ قال: نعم! الله اکبر واطیب." (مشکوة: ص: ٤٢١).

ترجمه: "د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې: فرمانبرداره اولاد چې دخپل مور پلار طرف ته د شفقت او محبت په نظر سره وګوري نو هغه ته په هرځل کتلو باندې دیو قبول شوی حج ثواب لیکل کیږي. عرض وکړل شو: که په یوه ورځ کې سل (۱۰۰) ځله هم ورته وګوري؟ ویې فرمایل: هو! الله تعالی ددې نه هم لوی او پاک دې (د هغه له پاره د سل (۱۰۰) حجونو ثواب ورکول څه مشکل دي)".

په یو بل حدیث کې دي: "عن ابی بکرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: کل الذنب یغفر الله منها ما شاء الا عقوق الوالدین فانه یعجل لصاحبه فی الحیوة قبل الممات." (مشکوة ص: ٤٢١).

ترجمه: "د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي چې: هره ګناه که الله تعالی وغواړي نو معاف به یې کړي، خو د مور پلار نافرماني نه معاف کوي، بلکې د هغې سزا د مرګ نه مخکې په دنیا کې ملاویږي."

کوم خلک چې د مور پلار خدمت نه کوي، هغه ډیر زیات بدبخته دي، خو په دې کې څه قصور د مور پلار هم دی، هغوی بچیو ته مغربی تعلیم ورکوي، د دیني تعلیم او تربیت نه یې محروم ساتي. نتیجتاً بچي چې غټ شي نو مغربي عادتونه خپلوي، او ټولو خلقو ته پته ده چې په مغرب کې د مور پلار دخدمت څه تصور نشته، بچي چې ځوانان شي نو بې سره شي او د مور پلار سره د هغوی هیڅ ربط نه پاتې کیږي.

په جائز کارونو کې دمورو پلار نافرماني

سوال: يوتنظيم دخپلو نويو ميرانو نه حلف اخلي .چې هغه ممبربه دتنظيم او د هغه دليډرانو په هرحال کې وفادار وي .که هغه د خپل مورپلار اودَ بزرگانو نافرماني ولې ونه کړي .آياد مور ويلارد نافرماني داحلف جائزدی؟ دَدې وضاحت ديني حيثيت سره وفرمايئ!

جواب: په جائز کارونوکې د مورپلار نافرماني حرامه ده[۱] اودحرام شي وعده هم حرامه ده.[۲]

دزنا کاراو شرابي پلار د ښښنې له پاره څه کول پکار دي؟

سوال: زيد يو کټرمذهبي انسان و .پنځه وخته لمونځ کونکی .حج، روژه .زکات هرقسمه مذهبي انسان .خودهغه غيرمسلمه ښځو سره تعلقات ساتلو عادت و .بس داسې وګڼئ چې د "ښځه" لفظ دهغه دټولو نه غټه کمزوري وه، مولانا صاحب! دکله نه چې زيد وفات شوی دی موږ دواړه ورونه بې حده پريشانه يو .ځکه چې دهغه مرګ دشراب څښلو په وخت ديوې غېرښځې سره په زناکولو سمدستي دهارټ فيل کيدو په وجه سرد وشو، آيا د پلار صاحب بخښنه به مې وشي؟ حالانکې موږ هرقسمه دَقرآن پاک ختمونه .غريبانانوته ډوډۍ ورکول .هرڅه مو د هغه په نوم وکړل .مولانا صاحب! موږ د اولاد کيدو په وجه دهغه له پاره نور کوم داسې مذهبي کار وکړو چې دهغه ښښنه وشي؟

جواب: مونږ ټولو ته دَدې قسمه واقعاتو نه عبرت اخيستل پکار دي اود الله تعالی نه دښې خاتمې دعا کول پکار دي .ياالله!آخره خاتمه مو ښه کړې .او دبد مرګ نه راته پناه راکړې! .په حديث کې راځي چې انسان په کوم حالت کې مړ شي په هماغه حالت کې به راپورته کيږي[۳] .ترکومې پورې چې دَښښنې سوال دی .نو دبخښنې دوه معنا وې دي .يوه دا چې بغير د سزا نه الله تعالی دخپل رحمت په وجه يې معاف کړي .ددې په باره کې خو هيڅ نشي ويل کيدای چې په چاباندې به درحمت نظر وکړل شي .دالله تعالی د رحمت نه اُميد هم ساتل پکار دي او د هغه نه دعا غوښتل هم پکاردي چې الله تعالی مونږته بغيرد عذاب او عتاب او بغير حساب او کتاب راته ښښنه وکړي.

---

[۱] عن عبدالرحمن بن أبي بكرة عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا أحدثكم بأكبر الكبائر؟ قالوا: بلى يارسول الله!قال:الإشراك بالله وعقوق الوالدين ...إلخ (ترمذی ج: ٢ ص:١٢، باب ماجاء فى عقوق الوالدين)

[۲] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ص: ٣٢١ كتاب الامارة، الفصل الثانى)_

[۳] عن جابرقال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:يبعث كل عبدعلى مامات عليه(مسلم ج:٢ ص:٣٨)

دبښنې دويمه معنا دا ده چې دخپلو بدعملو سزا خوړلو نه وروسته څه وخت دعذاب نه خلاصی ملاؤ شي،دا ښښنه دهر مسلمان له پاره ده،چې دهغه خاتمه په ايمان باندې شوې ده[1]، که هرڅومره ګناهګار وي،يو نه يو وخت به دهغه ښښنه ضرور کيږي، البته کوم سړی چې د دنيا نه بې ايمان رخصت شوی وي ----- نعوذبالله ----- دهغه به په يوحال کې هم ښښنه نه کيږي،هغه به هميشه په جهنم کې وي[2].تاسو دخپل مور پلار له پاره د ښښنې دعا او استغفار وکړئ،او څومره چې ممکن وي دهغوی له پاره دايصار ثواب اهتمام کوئ،د ټولو نه بهتر صدقه جاريه ده [3]

دَ مور و پلار د راضی کولو له پاره اسلامي اقدار پريښودل

سوال: زه د اوس نه يو کال مخکې ډيره آزاد خياله انجيلۍ وم،خو اوس الله تعالی ماته توفيق راکړ او ما اسلامي حکمونه خپل اصلي مقصد جوړل کړل،کومو خلکو به چې مخکې زماسره مينه کوله، اوس هم هغوی زماپسې خبرې کوي،زما په دې کال د ميټرک(لسم) امتحان ورکړی دی او زما عمر شپاړس(١٦) کاله دی،مورو پلار هم دا وايي چې ډير د دقيانوسی (ځان نه د بزرګه جوړولو) ضرورت نشته ، زما ريډيو او ډېټي وي پښان لغويات بالکل پريښودل او په پابندي سره مې پرده کول شروع کړل،خوزموږ په کور کې پرده ډيره کمه کيږي،په کورکې هم ما څادر پسرول شروع کړل نوهغې پورې هم کور والو خاندل،ډيرو خلکو خو زما سره دوستي هم ختمه کړه،خو ما دچاپرواه هم ونه کړه،خو اوس مسئله دا ده چې اوس زما کوېژدن شوې ده، دهغو خلکو په کورکې هم زياته پرده نشته . اوس زما مورو پلار او مشران وايي چې ته خپلې وريځې جوړې کړه، سادګي پريږده، اوبرقع هم لرې کړه او دزماني سره يوشان شه،خو زه دا په يو شان هم نشم کولی،ماډيره مجبوروي او زه سخته پريشانه يم.دا حقيقت دی چې زما برقعې او لمونځ زه ډير ځل د بديو نه بچ کړم او نن حالات ددې پسې شوې دي،مادا سوچ کړی و بنې خبرې مې خپلې کړې وې چې خلک ماته ښه ووايي،خو اوس اندازه وشوه چې زموږ معاشره

---

[1] عن أبي سعيدالخدری أن النبی صلی الله عليه وسلم قال: يخرج من النار من كان فی قلبه مثقال ذرّة من الإيمان (ترمذی ج: ٢ ص: ٨٧، باب ماجاء ان للنار نفسين وما ذكر من يخرج من النار من أهل التوحيد)۔

[2] إِنَّ اللّٰهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ به وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ (النساء:١١٦) إِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيراً، خَالِدِينَ فِيهَا أَبَداً (الأحزاب:٦٥)۔

[3] وأخرج البخاری فی الأدب، ومسلم عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: إذامات الإنسان إنقطع عمله إلا من ثلاث، صدقة جارية، أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له، وأخرج أحمد عن أبي أمامة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم: أربعة تجری عليهم أجورهم بعدالموت، مرابط فی سبيل الله، ومن علم علمًا، ورجل تصدق فأجرها له ما جرت، ورجل ترك ولدًا صالحًا يدعو له (شرح الصدور ص: ٣٠٣، باب ماينفع الميت فی قبره، طبع دارالكتب العلمية)۔

اوس د دې قابله پاتې نه شوه چې په دې کې ښه قدرونه خپل کړل شي، دا خبره د تعریف قابله ده چې زما یو دوو ملګرو ماته په کتلو دا شکل صورت اختیار کړی دی، خو باقي خلک مانه خوښوي اوس تاسو ووایئ چې ماته څه کول پکار دي؟ آیا زه د مور پلار او د مشرانو خبره ومنم او څه چې هغوی وایي هماغه اختیار کړم یا د هغوی د خبرو نه انکار وکړم؟ او انکار د مورو پلار په نافرماني کې شامل دی، زه د واده نه هم انکار نشم کولی او خپل مورو پلار او مشران هم نشم خفه کولی. اوس تاسو زما د سوال جواب زر راکړئ چې زه ذهني پریشانی نه بچ شم او زما پشان د نورو جینکو هم کومې چې په داسې پریشانو کې اخته دي.

جواب: ستاسو په خط کې یو څو خبرې د توجه قابلې دي.

اول: که تاسو اسلامي احکام په دې وجه خپل کړي وي چې خلک تاته ښه ووایي نو تاسو ډیره غټه غلطی کړې ده او که په دې وجه دې خپل کړي وي چې الله تعالی رانه راضي شي: نو تاسو ته د مخلوق په رضامندی یا ناراضی او په خوشحالویا په غم باندې نظر ساتل نه دی پکار، ستاسو مقصد صرف الله تعالی راضی کول پکار دي، خیر دې که مخلوق تاسو ته هرڅه وایي. زمونږ نبی کریم ﷺ ته خلکو دیوانه او مجنون پورې ویل[1] زمونږ ستاسو عزت د هغوی نه زیات نه دی.

دویم: په حدیث کې راځي چې یو وخت به راشي چې په دین باندې به ټګ د اورد سکروټو په موټي کې د اخیستو به زیات مشکل شيي[2]. دا همدا زمانه ده، کوم سړی چې د دوزخ د سکروټونه ځان بچ کول غواړي، هغه به د دنیا په دې سکروټوباندې راځي، او کوم سړی چې د دنیا د دې سکروټونه ویریږي، هغه ته پکار دي چې د دوزخ د سکروټوله پاره تیارشي.

دریم: د مورو پلار او مشرانو فرمانبرداري ضروری ده، خو دا تر هغه وخت پورې جائزده تر کومې پورې چې د خدای او د رسول الله ﷺ د یو حکم نافرماني نه وي، ګینې د خدائې او د رسول ﷺ په نافرماني کولو د چا اطاعت کول جائزنه دي[3]، نه د مورو پلار، نه د خاوند، او نه د یو بادشاه، ځکه زه به تاسو ته د اسلامي اقدارو د پرېښودو مشوره نه درکوم.

---

[1] وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ (القلم: ٥١)۔

[2] عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يأتى على الناس زمانٌ الصابر فيهم كالقابض على الجمر (مشكوة ج: ٢ ص: ٤٥٩، باب تغيرالناس)۔

[3] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ص: ٣٢١ كتاب الامارة، الفصل الثانى)۔

د بچو د بد تمیزي وجه او علاج

سوال: زما بچی چې د هغه عمر لس نیم کاله دی، ډیر غوسه ناک دی، چې په غوسه کې راشي نو انتهايي د بدتمیزي خبرې کوي، چې په وجه يې د بعضې خلکو په مخکې شرمنده کیږم، څه داسې وظیفه راته وښيئ، چې هغه بدتمیزي پریږدي او په سبق کې ښه شي.

جواب: د بچيو د بدتمیزي او نافرمانئ وجه عموماً د مورو پلار ګناهونه وي، د خدای تعالی سره خپله معامله صحیح کړئ او درې خله سورة فاتحه په اوبو باندې دموئ بچي ته يې ورکوئ.

ایا د مورو پلار نه اوبه غوښتل او څښل ثواب دی

سوال: زمونږ دوست ----- صاحب وايي چې د مورو پلار او مشرانو نه اوبه غوښتلو او څښلو کې ډیرزیات ثواب دی، او خیردې که مورو پلاردې بوډاګان ولې نه وي، د هغوی نه اوبه غوښتل او څښل پکاردي.

جواب: څه مطلب دی چې د مور پلار د خدمت کولو په ځای د هغوی نه خدمت کول اخیستل پکار دي؟

د بدکاره مور سره تعلق ختمول شرعاً څنګه دي

سوال: که د چا مور یا خور بدکاره وي، په شریعت کې د اولاد له پاره څه حکم دی؟ آیا د هغوی احترام او ادب ضروري دی؟ او د هغوی خدمت کول فرض دی؟ آیا بچی د خپل مورو پلار نه بیلیدل اختیارولی شي او د ډیرزیات نصیحت کولو باوجود په هغوی باندې هیڅ اثر نه پریوځي؟

جواب: کوم سړی چې په کور کې ګندګي برداشت کړي هغه ته "دیوث" (دووس، بې غیرته) ویل کیږي[1]، اول خو دې هرممکن کوشش د هغې ګندګۍ د لرې کولو وکړل شي، که په هغې کې ورته کامیابي ملاؤ نشی نو تعلق دې ورسره ختم کړل شي.[2]

---

[1] (یادیوث) هومن لایغار علی إمرأته أو محرمه وفی الشامیة: قال الزیلعی: هوالذی یری مع إمرأته أو محرمه رجلاً فیدعه خالیا بها ...إلخ (فتاوی شامي ج: ٤ ص: ٧٠، مطلب فی الجرح المجرد)۔

[2] عن أبی سعیدالخدری عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من رأی منکم منکرًا فلیغیره بیده، فإن لم یستطع فبلسانه، فإن لم یستطع فبقلبه، وذالك أضعف الإیمان رواه مسلم (مشکوة ص: ٤٣٦، باب الأمر بالمعروف)۔

ایا په بالغ اولاد باندې خرچه کول د مور پلار له پاره ضروري دي؟

سوال: دیو صاحب چې دهغه درې بچې دا تلس(١٨) کالو نه دزیات عمردي.او یوه انجیلۍ دَ شپاړلس(١٦) کالو ده.دوه واړه بچي چې دهغوی عمرپنځلس(١٥) او نهه(٩) کاله دی.او ښځه ده هغه صاحب درې کاله مخکې کاروبار شروع کړی دی اودکاروبار نه چې کومه آمدني کیږي دا هغه په کاروبار زیاتولو لګوي.دهغه وینا ده چې "زه په دې حالت کې نه یم چې زه د کور خرچې اوچته کړم.ځکه دقرآن په رڼا کې زمادپاسه دښځې او بچیو هیڅ فرض نشته "اوټول بچي تعلیم حاصلوي او دبچیومور هم څه نوکري نه کوي.دهغه صاحب وینا ده چې ترڅوپورې چې زماد ګټلو طاقت وو. ماوکړ.اوس زما طاقت نشته."اوبل طرف ته کاروبار زیاتوي، دهغه دا وینا هم ده چې "زمادپاسه دالله اودهغه درسول اللهﷺ دحکم مطابق هیڅ فرض نشته .اودا تلسو(١٨) کالو نه وروسته خو دهغه فرض بالکل ختمیږي.اوبچي ته خوپه کورکې بالکل اوسیدل نه دي پکاربلکې پخپله دې ګټې او ګزاره دې کوي"نه هغه دخپلې نهو(٩) کالو ماشومه انجیلۍ او نه ښځې ته خپل حق ورکوي، دمشرزوی خو لرې خبره ده.هروخت دا وایي چې زمادپاسه هیڅ فرض نشته،ترکوم حده پورې چې مې کولی شو ومې کړل اودخپلې نهو(٩) کالو بچې نه هم ډیر کاراخلي.دا وایي چې "ماترکومه پورې درته ګټلي ده او دهغې په بدله کې کار کوئ"ددې خلاف بهر دخپلو ملاویدلو والو او دوستانوسره ډیر په خوش اخلاقي او خوش مزاجي سره ملاویږي.دهغوی له پاره په خوراک څښاک په روپو پیسو کې هیڅ کمی نه کوي،خودهغه دوستانو هغه پیژندلی دی او بې وقوف یې جوړکړی په زرګونو روپۍ ترې قبضه کوي.دهغې ده سره هیڅ غم نشته. بلکې کومه پیسه یې چې په بچوباندې خرچ کړې ده دهغې ورته ډیره افسوس دی.ځکه چې دهغې په بدله کې ورته دڅه ملاویدو اُمید نشته دهغه وینا ده چې "څه ما کړي هغه زما شفقت و "اوس په یو کورداُسیدو باوجود د پلاربچیو،دمشرانو خامنو، تر دیوې یوې هفتې پورې مخامختیانه کیږي.خبره کول لرې خبره ده. تاسوته درخواست دې چې دقرآن او حدیث په رڼاکې مونږ د صحیح صورت حال نه خبرکړئ.ستاسو به ډیره مهرباني وي،ددې جواب زر نه زر په اخبارکې ورکړئ چې هریو دا جواب وګوري.

جواب: دهغه سړي طرز عمل ډیر غلط او د افسوس قابل دی.اودهغه دا ویل چې "زمادپاسه د الله او دهغه درسول اللهﷺ په حکم سره هیڅ فرض نشته" محض دناپوهۍ خبره ده.تفصیل دا دی چې دښځې خوراک څښاک خرچې په خاوند باندې هرحال کې فرض دي.او که خاوند غریب وي.دهغه سره دولت نه وی،بیاهم د ښځې خرچه دهغه په ذمه ده.که په قرضو وی یا په خیر غوښتلو وي[1] دبچیوله پاره دخوراک څښاک او اخراجاتو حکم دا دی چې که دهغوی سره

[1] النفقة واجبة على زوجها مسلمة كانت أوكافرة إذا سلمت نفسها ...[بقیه په راروانه صفحه...

مال وي نو دهغوی خرچې دې پخپله دَهغوی دمال نه پوره شي،اوکه د هغوی سره مال نه وي او هغوی نابالغه وي یا څه هنر او کسب ورته نه ورځي؛ نو دهغوی خرچ به د پلار په ذمه وي،دا اخراجات شرعاً دَ پلار په ذمه دي[1]،که دَ پلار سره پیسې نه وي نو هغه ته به وویل شي چې اوګټه راوړه،یا خیر وغواړه راوړه[2].اوکه هغه دهغوی خرچ ادا نه کړي نوهغه به قید کړل شي.[3] اولاد که بالغ وي او دګټلو صلاحیت هم پکې وي؛ نو د بچیو خرچ به دپلار په ذمه نه وي، بلکې هغوی دې پخپله وګټي او ودې خوري.خودجینکو چې ترکومې پورې واده نه وي شوی، دهغوی خرچ دَ پلار په ذمه ده،پلار هغوی په ګټلو مجبور ولای نشي.[4]

داماچې کوم څه لیکلي دي د اخراجاتو قانوني حیثیت، د قانون نه علاوه په انسان باندې څه اخلاقي ذمه داری هم عائد کیږي.دعلماوو په نزد ترکومې چې اولاد تعلیم حاصلوي،یابې روزګار وي،دهغوی خرچ مورپلار اوچتوي،کوم سړی چې دخپلو وړو وړو معصومانو بچیو سره داسې خراب سلوک کوي هغه خدای دې نه کړي که بیمارشي نودخپل اولاد نه به دکوم حسن سلوک توقع کوي؟ هغه صاحب ته پکار دي چې دَبنځې او بچیوپه اخراجاتوکې دومره شوم توب مه کوه،دا حق لازم دی او د ټولونه غټه صدقه ده اوکه هغه سړی دخپلې رویې اصلاح نه کوي نوعدالت ته دې رجوع وکړل شي.

بې وجې انجیلی په کورکې کینونکې پلار خبره منل

سوال: یوې واده کړې لورباندې دپلار څه حقوق دي؟ دَ لور کورني ژوندکې دپلار بغیرله څه وجې مداخلت کول آیا لورته د پلار دحکم ماتولو اجازه شته؟ مثلاً پلار لور په زور کورکې کینول غواړي چې دهغې له پاره هغه عدالت دتلو نه هم نه منع کیږي چې د نورو زومانو پشان دا شریف او مالداره زوم هم د هغه په قبضه کې راشي،خو لور هرځل دَپلار په کور کې د اوسیدو نه انکار کوي،چې دهغې په وجه هغه هروخت هر ځای کې شرمنده کیږي،آیا دداسې ضدی پلار ضدپوره کولوپه اسلام کې څه حل شته؟

...بقیه د تیرمخ]..إلى منزله فعليه نفقتها وكسوقما وسكناها .... ومن أعسر بنفقة إمرأته لم يفرق بينهما ويقال لها استديني عليه (هداية، كتاب الطلاق، باب النفقة ج: ٢ ص: ٤٣٧_ ٤٣٩) قال تعالى: وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ (البقرة:٢٣٣)_

[1] انما تجب النفقة على الأب إذا لم يكن للصغير مالٌ أمّا إذا كان فا لأصل ان نفقة الإنسان فى مال نفسه صغيرًا كان أو كبيرًا (هداية ج: ٢ ص: ٤٤٥، كتاب الطلاق، باب النفقة_

[2] ان الأب يتكفف الناس وينفق على أولاده الصغار (البحرالرائق ج: ٤ ص: ٢٠١، باب النفقات)_

[3] فإن امتنع عن الكسب حبس _ البحرالرائق ج: ٤ ص: ٢٠١،باب النفقات)_

[4] فالنفقة على الأب إلى أن يبلغ الذَكَرُ حدّالكسب....وليس له فى الأنثى ذالك(البحرالرائق ج:٤ص:٢٠٢)

جواب: لور له څه صحیح وجې پرته کورکې کېنول او هغه خاوند ته نه لیږل ګناه ده، او د ګناه په کار کې د پلار اطاعت جائز نه دی[1]، ځکه د پلار دَ داسې ضد سره ملګرتیا کول هم جائز نه دي، انجیلی ته پکار دي چې خپل کور ته لاړه شي، دَ پلار خبره دې نه مني.

دخدای نافرمانه مورو پلار احترام کول

سوال: زید تول عمر دَ خدای او دَ رسول اللهﷺ دَ حکمونو خلاف تیرکړ، اوس دَ عمر په هغه برخه کې دی چې په هغې کې خدای ته توبه او په مخکې ګناهونو باندې ملامتیا او ندامت کول لازمي دي، په دې کې شک دی چې زید پخپله نه. بلکې دخلکو په وینا او زور ورکولو باندې حج ادا کړی دی، خود حج پشان ښه کار نه وروسته هم دزید په عملونو باندې دذرې برابر اثر هم ونشو. بلکې نورېې هم زیات دَ حلال نه منع او حرام سره محبت شروع کړ. دحج په دوران کې یې په خانه کعبه او روضهٔ رسولﷺ باندې دَ ګناهونو معافي وکړه او باقي ژوند یې دَ اسلام دَ مقرر شو یو قوانینو مطابق د تیرولو وعده وکړه او قسم یې خوړلی و، خو په واپس راتلو سره تیرشوي بدعملونه او شیطاني حرکتونه یې ځان سره راوړل راغی، دَ خلکو حقونه غصبول، خلکو ته قسمه قسم اذیتونه ورکول. دروغ او بې ایماني خپل فرض ګڼل نه صرف خپله کول بلکې خپلو بچیوته ددې تلقین کول، کوم بچي چې دخدای له ویرې ددې خبرو نه ځان ساتل پکار دی، هغه بدګڼل، ځان پلار ګڼل او دپلار حکم په منلو ضد کول وغیره وغیره. زید دخپل هغه اولاد نه خوشحاله دی کومو چې دهغه په لارباندې ستر ګې پټې کړې روان دي، حالانکې د رسول اللهﷺ حدیث مبارک دی چې "پلار خپلو بچیوته کوم څه چې ورکوي، په هغه کې دَ ټولو نه بهتره شی ښه تعلیم او تربیت دی" زید خپل بچي په دې لار باندې لګولي دي دکومې دروازه چې دجهنم دطرف ته خلاصېږي، هو! په دنیاکې یې جنت جوړکړی دی خودا ورته معلومه ده چې دا جنت څومره ورځوېږوري دی. دَ زید دَ خوښې خبرو که څوک بچې دانکار کولو جراءت وکړي نو په ډیر یقین سره ویل کېږي چې "مونږ سیدان یو، مونږ آلِ رسول یو، زمونږ دچاسره څه مقابله؟ یا په مونږ باندې به څوک ګوتې اوچتې کړی؟" وغیره وغیره. حالانکې رسول اللهﷺ په خپلې آخري خطبه کې دنیاوالو ته په صفا صفا الفاظو کې دا درس ورکړی و چې: تور ته په سپین باندې او سپین ته په تور باندې، عربي ته په عجمي باندې او عجمي ته په عربي باندې هیڅ فوقیت یا برتري حاصله نه ده، که برتري حاصله ده نو هغه دهغه په تقوی او پرهیزګاري باندې ده، ددې حقائقو پیش نظر تاسونه به پوښتنه کوم چې آیا دَ داسې پلار اطاعت او فرمانبرداري په بچیو باندې لازم ده؟ چې هغه بچیوته دحرامو خوړلو تلقین کوي، خلکو ته تکلیفونه ورکوي، حقونه

---

[1] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق (مشكوة ص: ٣٢١ كتاب الامارة، الفصل الثاني)۔

غصب کوي،دخلکو په مینځ کې بې اتفاقي او نفاق پیدا کوي،بې ایماني خپل حق ګڼي او ځان ته "سید" وایي دجنت دعوې کوي؟ ګویا "سید" کیدل یوداسې سند دی چې څه دې زړه غواړي هغه کوي،د"سید" کیدو لیبل یې په سینه لګولی. دَخدای او دَهغه دَ رسول اللهﷺ حکمونه ماتوي،دداسې خلکو په باره کې زموږ دین او دحضورپاکﷺ حکمونه څه وایي؟

جواب: مورپلارکه کافران هم وي،دهغوی بې ادبي،توهین او بې عزتی او په بې باکۍ دَهغوی سره د بې ادبۍ خبرې کول جائز نه دي،بلکې دهغوی ادب او احترام په هرحال کې لازم دی،که موروپلار چېرته دیوغلط کارحکم درته وکړي نوپه هغه کې دهغوی اطاعت حرام دی.[1] په حدیث کې دي چې په کوم کارکې دَالله تعالی نافرماني وي،په هغه کې دَ مخلوق اطاعت جائز نه دی[2] دا دواړه خبرې جمع کول ډیر دَصبرکاردی. دمورو پلار بې ادبی دې هم ونه کړل شي اودګناه په کارکې دې دهغوی اطاعت هم ونه منل شي.

آیا د پلارد غلط کار وبال به په اولاد وي؟

سوال: زه د دولسم پورې تعلیم یافته یم،دولسم پورې ماتعلیم په کراچۍ کې حاصل کړی دی،په دې وخت کې زماعمر تقریباً (٢٣) کاله به وي،دَنن نه (٧،٨) میاشتې مخکې پورې دلمونځ او دنورو عباداتونو پابند وم،نن سبا هم لمونځ کوم،خو په زوربانديې یې کله ناکله کوم،زړه مې نه غواړي،دَیوڅوکمیونسټ حضراتو سره مې واسطه ده،دهغوی خبرې راته رینښتیا محسوسیږي دکورحالات مو څه داسې دي چې زما دوالد صاحب تعلقات دیوې بلې ښځې سره دپخوانه وو،دهغوی په لارکې موږ رکاوټ وو،هغه دهغې ښځې سره کورپرېښی تللی دی،دَپنځو(٥) میاشتونه ماته څه کارنه ملاویږي،پنځه واړه واړه خویندې ورونه مې دي،مور راسره هروخت جنګونه کوي،زموږ په کورکې زمانه سوا ټول بې تعلیمه دي،زما سخت خواهش دی چې دمقابلې امتحان پاس کړم،خوپه دې حالاتوکې خومې خودکشي کول زړه غواړي،یا مې زړه غواړی چې زه هم دخپل پلار صاحب پشان کور پرېږدم،ځکه چې د کلی والاکثر پیغورونه راکوي چې "ستاپلار یوې ښځې ستاسونه بوولی دی او د پنځوس (٥٠) کالو په عمرکې هغه ته شرم نه راتې" وغیره،زړه مې په دې خبروسره ډیرپریشانه وي،مارېره پرېښودې ده نوخلک وائی چې "ستادریږې څه فائده؟ ستاپلارخوښځې دځان سره بوتلو". دبهرنه چې داخبرې اورم اوکله کورته ځم نو مورمې دبچیوسره په جنګ کې لګیاوي،دې

---

[1] قال تعالى: ووصّينا الْانسان بوالديه .... وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفاً وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ (لقمان: ١٤، ١٥)۔

[2] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ص: ٣٢١ كتاب الامارة، الفصل الثانى)۔

حالاتو نه تنګ راغلی یم.دقرآن پاک دتلاوت زه ډیر شوقین وم،خواوس مې زړه نه غواړي.
روژې مې نیولې دي،خوسوچ کوم چې بالکل په بیکار مې نیولې دي.الله تعالی یې کومې
قبولوي؟ په داسې طریقې سره دنورو اسلامي عبادتونو په باره کې سوچ کوم.زما محترم! زه
چې کله په کراچۍ کې وم نوستاسوکالم به مې په روزنامه"جنګ" کې کتلو،دهغه کالم په وجه
په ماکې ډیر زیات روحانیت پیداشوی و.ماته په پوره بصورت حال کې ووایئ چې آیا زه د
والدصاحب خلاف څه قدم وچتولی شم یا بیا زه هم کورپریږدم او وتښتم؟

جواب: کوم خلک چې تاته د پلار د کارپیغور درکوي.هغوی غلط کوي. تاسوخومه دخلکو
خبرو نه اثراخلئ.اونه دپلارنه دبدلې اخیستلو سوچ کوه.بلکې په صبر او استقلال سره د
حالاتو مخامختیا وکړه.اوترکوم حده پورې چې ممکن وي د روزګاربندوبست وکړه،غلط
ماحول انسان پریشانه کوي.ستاسو مور هم دحالاتوپه وجه ذهن غلط شوی دی.هغې ته په
هرحالت کې دآرام ورکولو کوشش وکړه،ماشومانو ورونو خویندو سره دشفقت او محبت
سلوک کوه!

الغرض! په همت او حوصلې سره دکور ماحول دجنت د ماحول جوړولو کوشش کوه.الله تعالی
خو په بندګانو باندې رحیم او کریم دی.تاسو دعبادتونو احترام وکړئ،په هغې سره به انشاء الله
تاسوته ذهني سکون حاصل شي او دنیکو خلکو سره ملاویدل اختیار کړئ.ان شاء الله تعالی
حالات به بدل شي.زه به هم ستاسو له پاره دعاکوم.

د پلاراو موربچي یوبل سره دملاویدو نه منع کول

سوال: زمادوست (الف) عمریې تقریباًپنځه دیرش(۳۵) کاله.زما ددوست خور(ب) عمریې
شپږ دیرش(۳۶) کاله.د(الف) او (ب) مورو پلار دنن نه تقریباًدوه دیرش(۳۲) کاله مخکې په څه
کورنۍ مسئله کې دیوبل نه جدا شوي وو.(الف) دخپلې مورسره اوسیدل اختیار کړل او (ب)
دخپل والدصاحب سره اوسیدل خوښ کړل.داخبره داسې قدرتاً کیږي،وروسته مور بل واده
وکړ او نور بچي یې هم وشو. والدصاحب واده ونه کړ.اوس دهغه عمرتقریباًاویا(۷۰) کاله
دی.او (الف) مور غټ کړی دی.پلارصاحب مې په دومره موده کې دهغې چرته پوښتنه هم نه ده
کړې.اوس په دې عمرکې چې (الف) او (ب) غیر واده کړي دي په خپلوکې درې درې کالو پورې
یوبل ته خطونه وغیره نه لیږي او په خفګان کې زیاتوالی راځي،خور(ب) د والد صاحب سره
محبت کوي.او ورور(الف) مور سره بې انتهامحبت کوي،په دې دوران خور او والد صاحب
(الف) ته کله ناکله دعاق کولو په خط کې لیکي.خوالف وایي چې زه دمور نه دبیلیدو تصور
هم نشم کولی او نه داسې خبره کولی شم چې په هغې سره مې مور ته صدمه ورسیږي.دا ټول
ماحول مورو پلار پیدا کړی دی،په حقیقت کې نه په دې کې د(الف) قصور دی او نه د (ب)
ما(الف) ډیر پوه کړی دی چې دپلار صاحب هم حقوق دي.دا ادا کول پکار دي.هغه جواب

راکوي چې درې ځله به د مور خیال ساتې او یوځل به دپلار،اوچې دپلار کره ځم نو د کور نه مې وباسي.

جواب: دانجیلۍ او هلک دَ دواړو پرورش چې دچاسره شوی وي،دهغه سره زیات محبت او تعلق ساتل خویوه طبعیتي خبره ده،خودهلک خپل پلارسره اودانجیلۍ خپلې مورسره بالکل تعلق پرېښودل ناجائزدي[1]. داسې د پلار خپل زوی ته دَعاق کولو دهمکی ورکول هم ګناه ده، (الف) او (ب) اوس دواړه دَ ځوانۍ دَعمرنه مخکې روان دي،دهغوی مورپلار خودهغوی ژوند بربادکړی و.اوس دهغوی آخرت هم تباه کول غواړي،(الف) ته پکار دي چې هغه خپله مور پوهه کړي چې هغه د پلار سره په تعلق ختمولو مجبور نه کړي،داسې (ب) ته هم پکار دي چې هغه پلار ته ووايي چې هغه دمورسره په تعلق ختمولو مجبوره نه کړي،دهغوی دښځې خاوند رشته که دبدقسمتۍ په وجه ختمه شوې وه نودَمور او لور او دپلار او زوی رشته خونه ختمیدونکې ده، داخونشي ختمیداي،نه کیداي شي.اوچې رشته قائمه ده نودَهغې حقوق هم لازم دي.

په بوډاوالي کې دخرابې خولې ښځتن پلارسره تعلق ختمول

سوال: که مورپلار دبوډاوالي عمرته ورسیږي اودهغوی دخرابې خولې یا دماغو یا دحافظې کمزرې کیدوپه وجه سره ځوان زامن او لوڼه دهغوی سره تعلق ختم کړي،آیا دا جائز دي؟ دقیامت په ورځ دهغوی دبښنې امکانات شته؟

جواب: داسې اولاد کوم چې مورپلار په بوډاوالي کې یوازې پرېږدي، سخت ګناهګاردي[2]کوم خلک به چې جنت ته نه ځي په هغې کې دَ مورپلار نافرماني کولو والاهم په حدیث کې کې ذکر شوي دي[3] ددې جرم نه دَ خدای پنا غوښتل پکاردي اومورپلار راضي کول پکاردي.

په مورو پلارکې د چا خدمت وکړو

سوال: دماشوم والي په زمانه کې پته نه شته زماپلار په څه وجه زمانه خفه شوی و او تردې حده پورې یې زمامخالفت په کورکې شروع کړ چې زما ژوند سخت شو،بعضې وخت به هغه

---

[1] عن محمد بن جبيربن مطعم عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة قاطع (ترمذی ج:۲ ص:۱۳،أبواب البروالصلة،باب ماجاء فى صلة الرحم) وقا ل الله تعالى:وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفاً (لقمان: ۱۵)

[2] .... وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاهُمَا فَلا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً (الاسراء:۲۳)۔

[3] عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة منّان ولا عاق ولا مدمن خمر (مشكوة ج: ۲ ص: ۴۲۰، باب البروالصلة)۔

په ما باندې داسې الفاظ استعمالولو چې هغه شرعاً او په عام معاشره کې هم نه استعمالیږي، په هغه ژوندکې زما مور زماسره مینه کوله او دَ پلار نه زما نفرت ورځ تر ورځې زیاتیده.او آخر د پلار ناانصافي او روزانه دَجګړو نه تنګ راغلم او کورکلی مې پریښود .کله چې ښار ته راغلم نو څه موده پس ماته سکون حاصل شو. نومادخپل پلار سره دوباره دتعلق جوړولو هرممکن کوشش وکړ.اوزماپلار ماته تګ راتګ شروع کړ او زه به هم کله ناکله کورته تلم،نتیجه دا شوه چې زماتګ راتګ زیات شو او پلار هم په ماباندې اعتماد شروع کړ،او مور خو مې له پیله زماسره محبت کولو اوس چې کله زه کور ته ځم یادکورنه بهر هم ځم نوزموږ په کورکې اکثر دمورو پلار په مینځ کې مې جګړه کیږي او صرف زما په وجه سره. ماډیرزیات کوشش وکړ پلار مې پوهه کړ. خوهغه په دې ضدکې دی چې ته دپلاردَ کردار نه واقف نه يې،تاته یادهم نه دي چې دا ستاسره څنګه رویه ساتي.چې کله زه هغه ټولې خبرې یادوم یا مورمې یادوي نومانه هغه ټولې رشتې هیریږي، اودخپلې ماضي هغه مصیبتونه چې راته یادیږي، خوزه هرڅه هیرول غواړم او کوشش کوم چې زما مورو پلار په خپلوکې خفه نه وي،خوددې په وجه باندې وړو خویندو وروڼو باندې مې هم بداثرپریوتی دی او هغوی هم څه حده پورې د وړوکي غټ قدر نه کوي.زمادمور او پلار په مینځ کې همیشه جګړه وي او بعضې وخت خبره دطلاق پورې هم رسیږي،چې هغه وروسته د مشرانو دَمداخلت په وجه ونه شي.اوس زما زیات نه زیات کوشش دا دی چې زه دخپل پلار زیات نه زیات خدمت وکړم او کوم يې هم،خوپه هغې باندې زمامور زمانه خفه وي او ماته په داسې کولو سره نقصان هم کیږي،ستاسوبه ډیره مهرباني وي چې زماددې قیصې جواب دقرآن او حدیث په رڼاکې راکړئ چې زه په هغوی کې دَ چا خدمت یا حکمونو ته اولیت ورکړم ځکه چې مور مادپلار دخدمت یادَهغه سره دَښه سلوک نه منع کوي او د پلار خفګان زه په زړه باندې نشم برداشت کولی،چې هغه زما کمزوري ده.اومخکې مې عرض هم کړی دی چې پلار زماسره په ماشوم والي کې ډیر بلکې دَحد نه زیاته ناانصافي هم کړې ده او دماشوم والی نه ترننه پورې ماته دا احساس هم ونشو چې زما پلار هم شته.ستاسو به ډیره مهرباني وي زما له پاره هم تاسودشریعت په رڼاکې جواب ولیکئ چې زه په هغوی دواړو کې دچاحکم ومنم او څه وکړم؟ دې نه علاوه دهغوی دواړو له پاره څه عمل یا نصیحت ولیکئ چې ددې عذاب نه ټولو ته خلاصی ملاو شي.

جواب: ستاسو پلار که دخدمت محتاج وي اوڅوک دهغه خدمت کولو والا نه وي،نودهغه خدمت کول ستاپه ذمه باندې فرض دي[1].زمادا لیکل خپلې مور ته واوروه او اووایه ورته چې په دې کې خوبه زه ستاسو اطاعت نه کوم[2]، ددې نه علاوه چې څه خدمت راته فرمايئ،

---

[1] دتیري شوی صفحی حاشیه (عن محمد بن جبیر بن مطعم....الخ) وګورئ!۔

[2] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ...[بقیه په راروانه صفحه...

جانز حکم فرمايي: هغه به په هرشان پوره کوم

دَ ځان نه په وړوکي باندې دلاسپورته کولو تدارک څنګه وکړو؟

سوال: که مونږ چېرته په يو ماشوم لاس پورته کړو او وروسته مو په زړه کې معافي وغوښتله خو دهغه نه مې دمعافي همت ونه کړ، نو آيا زما دَلاس پورته کولو ګناه به معاف شي؟

جواب: دَ وړوکې نه دَمعافي غوښتلو ضرورت نه شته، البته هغه په څه تحفه وغيره ورکولو باندې خوشحاله کړه

د مورو پلار په مينځ کې د اختلافاتو په دوران دچا ملګری شم؟

سوال: زما د مورو پلار په مينځ کې خفګان دی، ډيرزيات سخت اختلافات پيدا شوي دي، تردې چې دواړه يواځې يواځې شوې دي. زما مسئله دا ده چې که زه دمورسره کيږم نو پلار مې خفه کيږي. اوکه زه دَ پلار سره خبرې کوم نو مور صاحبه مې خفه کيږي، تردې چې مادکور ويستلو پورې راځي. ماته دا ووايئ چې زه د مور خدمت وکړم يا دپلار؟ زماڅلور وروڼه دي چې هغه زمانه واړه دي. هغه د مور سره دي اوکوم چې مشران دي هغه دَ پلار سره دي، مور ته مې خرچې هيڅوک نه ورکوي. ماپه خپله پوهه خدای سره دا وعده کړې ده چې دَ خدای نه وروسته زما مور زما هرڅه دی، آيا زه دا هرڅه سم کوم؟

جواب: ستاسو د پلار او مور اختلاف انتهايي د افسوس قابل دی، الله تعالی دې هغوی ته پوهه نصيب کړي، تاسو داسې دچاسره هم مه کيږئ چې بل سره دې مکمل تعلق ختم شي، دواړو سره تعلق ساتئ او که په هغوی دواړو کې چې څوک هم د مالي يا بدني خدمت محتاج وي دهغه خدمت وکړئ، ادب او احترام د دواړو کوئ[1] که په هغوی کې ديو په خدمت باندې يا هغوی سره په تعلق باندې بل ناراضه کيږي نودهغه پرواه مه کوئ، نه چاته په غوسې سره جواب ورکوئ، څکه چې ستاسو مور بوډۍ هم ده او دهغې خرچ پوره کولو والا هم څوک نشته، ځکه دهغې بدني او مالي خدمت خوش قسمتي وګڼئ.

دمير ني موراو پلار نامناسبه رويې باندې مونږ څه وکړو؟

سوال: مونږ څلورسکني وروڼه يو، زمونږ مور صاحبه په دسمبر (١٩٥٢م) کې وفات شوې ده، دهغې نه وروسته زمونږ پلار صاحب په (١٩٢١م) کې بل واده وکړ، هغه هم په اپريل (١٩٧٢م) کې وفات شوه. دهغې نه څه اولاد ونشو، په (ستمبر١٩٧٣م) کې زمونږ والد صاحب

...بقيه د تيرمخ] ..لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق (مشکوة ص: ٣٢١ کتاب الامارة، الفصل الثانی)۔

[1] وَقَضٰى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا، إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا ...إلخ (الاسراء:٢٣، ٢٤)۔

دریم واده وکړ چې هغه دخپل لومړي خاوند نه طلاقه شوې وه، زموږ والدصاحب موږ ټولو بچیوته دهغې واده نه مخکې ځلور پلاټه راکړي وو.ماته یې یوازې پلاټ راکړ. زما ووړو ورونړو ته هم. یوازې دوه ورونړو ته جوړ شوی کورونه ماپه خپلوپیسو سره (۱۹۷۷م) کې کور جوړکړ.په هغه باندې په هغه وخت تقریباً ځلوریښت زره روپۍ خرچه شوې وه.وروسته مې هم په هغې کې څه ردو بدل کړی و.زما وړوکي ورور یو بیټک جوړ کړ.دهغو پلاټونو په اصل کې له پیل نه زموږ په نومونو باندې رجسټري او اسټامپ لیکل شوی دی.موږ احتراماً والدصاحب ته وویل تاسوتقسیم وکړئ موږ ته خپلې برخې راکړه ځکه چې بیاوروسته جګړې وغیره نه کوو.تراوسه پورې زموږ د پلار په نوم باندې په لاکونو روپیو جائیداد موجود دی.زموږ میرنۍ مور زموږ پلار خفه کړ.موږ ټولو کوشش کولو چې والد صاحب راضي کړو خوهیڅ اثر پرې ونشو.دهغې غټه وجه زموږ میرنۍ مور ده،موږ درې ورونړه په اوولس(۱۷) ګریډکې ملازمان یو.مشررور مو کاروبارکوي.۳۱ مارچ ۱۹۸۴ءکې زموږد والدصاحب دخپلې ښځې دوو رشته دارانو سره جګړه وکړه.په هغه جنګ کې زه او زما ورور وو.دوه ورونړه موجود نه وو.دجنګ وجه زموږ دمشررور دګنده اوبو نالۍ ئې بنده کړې وه.دا نالۍ ښکاره په ګلی کې وخې.خو زموږ والد صاحب وایي چې زه یې نه پریږدم.نوبت تانې پورې راغی.وروسته موږ بیادرخواست واپس واخیست.زموږ والد صاحب زموږ سره او زموږ ښځو سره جنګ جګړې کوي.ښې کنځلې ورته کوي.په ښکاره موږ ته او زموږ ښځو ته کنځلې وغیره کوي. دا دهغه معمول دی.خو موږدهغه دیوې خبرې جواب هم نه ورکوو.اوس هغه زماخلاف دعوی کړې ده چې زه تاته ځای نه درکوم.آیا د شریعت په رڼا کې هغه کور زمانه اخیستی شي اوکه نه؟ اوبل طرف ته دهغه د نورو بچیو په لکونو روپې جائیداد موجود دی.موږدهغه سره صلح کولو له پاره تیاریو.خوهغه موږ ځان سره نه پریږدي.اوس موږ دهغه سرد څه وکړو؟ زموږ زړه او ایمان وایي چې دوالد صاحب خدمت وکړو.خوهغه مونږ ځان ته نږدې هم نه پریږدي. په دې صورت کې موږ زامن خوګناه ګار نه یو؟

جواب: کوم حالات چې تاسو لیکلې دی.ډیر افسوس ناک دي.کوم پلاټ یا کور چې والدصاحب تاسو ته درکړي وو اوتاسو په هغې کې اضافه اوکړه.هغه دا واپس نشي اخیستی، نه شرعاً. او نه اخلاقاً [1]

ترکومې چې ستاسودوالدصاحب د نامناسبې رویې تعلق دی.تاسونه هغوی ته بدې ردې وایئ. نه دهغوی بې ادبی کوئ.نه په سختې سره هغوی ته جواب ورکوئ،که هغه ستاسو نه خدمت نه اخلي نوتاسو ګناهګار نه یئ.تاسودَخپلې میرنۍ مور هم دسکه مورپشان احترام کوئ.اودهغې په بداخلاقۍ او تکلیف رسولو باندې صبرکوئ.ان شاء الله تاسوته به ددې ښو

[1] ولوكان ذارحم محرم من الواهب فلا رجوع فيها إتفاقًا على الأصح (البحرالرائق ج: ۷ ص: ۲۹٤)۔

میوه په دنیاکې هم ملاؤ شي او په آخرت کې هم.

د ذهنې معذورۍ مور خبره کوم حد پورې ومنل شي؟

سوال: زما مور صاحبه یوازې والی خوښوي او هروخت خفه شان وي، خاوند سره یعني والد صاحب سره همیشه دهغې جنګ وي.او دهغه نه بې انتهائی نفرت کوي،خوپه ظاهري طور باندې دهغه خدمت هم کوي،مثلاً .جامې وينځل وغيره خوپه زړه کې يې دهغه نه بې انتها نفرت دی. تردې حده پورې چې که د مور مې وس وشو نوهغه به د کور نه بې کوره کړي،ورسره دا هم عرض دی چې زما مور صاحبه پنځه وخته لمونځ ګزاره او دَ قرآن تلاوت کوي،ماهم هغه د خاوند نه دبيلولو کوشش کوی،تردې پورې چې يوځل يې زه په کورکې هم کينولې وم او دخاندکورته يې د تلو نه منع کړې وم. زمادخاوندد کوروالو نه هم دهغې شکايتونه دي. په دې حالاتوکې تاسوته درخواست دی چې زمادمورصاحبې په دې طرز عمل باندې رڼا واچوئ چې آيا د والد صاحب سره دهغې دطرزعمل دخداي تعالى په نزد دسزا قابل دی اوکه نه؟ اودهغې دقرآني تلاوت او عبادتونووغيره څه حاصل شته اوکه نه؟ او دا چې هغه دخاوند خوشنودي حاصلول پکار دي اوکه نه؟ ځکه چې زمادپلار څه دومره غټ جرمونه نشته دي.زياتی به يې بهرحال هغوی هم څه لږ ډير کړی وي.

جواب: بعضی انسان ذهنې طورباندې معذوره وي،دهغوی په ناپوهۍ کې څه غلطي کيني، باقي په ټولو شيانوکې هغه وي،خوپه هغې خاص شي کې معذوره وي،ستاسودمورهم هغه کيفيت معلوميږي،ځکه دهغې اصلاح خومشکله ده،تاسودهغې په وينا باندې خپل کورمه بربادوئ،پاتې شوداسوال چې هغه ګناهګاره ده اوکه نه؟ که هغه دالله دطرف نه معذوره وي؛ نوپه معذور باندې مؤاخذه نشته،اوکه معذوره نه وي؛ نوګناهګاره ده.

بهرملک ته تلو نکی د مورپلار خدمت څنګه وکړي؟

سوال: مابې کام کړی دی.او دمورپلارخدمت کول غواړم،ځکه بهر ملک ته مې دتلو پروګرام جوړکړی دی،مايوذمه دار سړي ته پيسې ورکړي هغه تراوسه پورې زماويزه حاصل نه کړه،کافي صبر مې وکړ،اوس دَ صبر پيمانه سرته ختلې ده،اوس زه آډټ کلرک يم، خوپه خپلې پيشه کې سيټ نه يم.اوس زه دَ پنځه ويشتو(٢٥) کالو يم اودمورپلارخدمت کول غواړم،اوپه دې باره کې پريشان يم چې تراوسه پورې بهرته لاته رم اودمورپلاردخدمت له پاره مې څه ونه کړل. ستاسوبه ډيره مهرباني وی زماله پاره څه وظيفه وغيره راوليږئ.

جواب: ستاسوخط مې په غورسره وکوت،ستاسودپريشانۍ اصلي وجه دا ده چې تادخپل ځان له پاره يوه لار پخپله تجويزکړې ده چې دمورپلار خدمت بس په دې شان کيدای شي کله چې تاسو بهرملک ته لاړشئ او ډيرې زياتې پيسې وګټې راوليې ليږي،حالانکې دا هم کيدای شي

چې د الله تعالی په علم کې ستاسو بهر ملک ته تګ ستاسو له پاره بهتر نه وي، او ستاسو د مورو پلار له پاره هم په ځای د نفع د زیاتې پریشانۍ وجه وي، انسان چې د خپل ځان له پاره پخپله څه تجویز کوي او د هغه هغه تجویز چې کله نه پوره کیږي او ویریږي او پریشانه کیږي، د هغه په ځای که انسان خپل ټول هرڅه د الله تعالی په حواله کړي او کوم صورت چې هم الله تعالی د هغه له پاره مقرر کړي، دا هغه په خپل حق کې بهتروګڼي او په هغه باندې راضی شي نو د هغه ټولې پریشانۍ ختمیږي، بس د پریشانو اصل د هغه خپل سوچ دی.

تاسو چې کوم کار کول هم غواړئ "بهشتی زیور" کې کوم چې استخاره مسنونه لیکلې ده.[1]

د هغې سره اووه ځله سورۀ فاتحه وایئ او یو تسبیح "اِیَّاکَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاکَ نَسۡتَعِیۡنُ" وکړئ او دعا کوئ، ان شاء الله، د الله تعالی به خاص نصرت او مدد درسره شامل وي، کوشش خو دا کوئ چې لمونځ د جمع سره په جوماتت کې ادا کوئ، بغیر د مجبورۍ نه د جمع لمونځ مه فضا کوئ، چې دا غټه محرومي هم ده او غټه ګناه هم.[2]

کنځل کونکي پلار سره څنګه تعلق وساتل شي؟

سوال: زما پلار تعلیم یافته دی، خو د دې باوجود کنځلې ډیرې زیاتې کوي، کله ناکله خو بدې خبرې هم کوي، بیا زما زړه د هغه سره خبرې کول نه غواړي، ځکه ما د خپل والد صاحب سره خبرې پریښې دي، د دې په وجه مانه مور کله ناکله خفه کیږي، حالانکې زه څوک چېرې هم خفه کول نه غواړم، خو زه مجبوره یم سوال دا دی چې د والد صاحب په کنځلو کولو کې څه ګناه شته؟ او زما په دې رویه کې څه ګناه خو نشته؟ یو بله خبره چې زه مور سره ډیره مینه کوم خو ظاهرولی نشم.

جواب: ستاسو د والد صاحب کنځلې کول هم ګناه ده[3]، او ستاسو هغه سره خبرې پریښودل هم ګناه ده، د هغه غلطه رویه ستاسو سره، خو د هغې په وجه تاسو ته خپل طرز عمل بدلول نه دي پکار، مور سره محبت ډیره ښه خبره ده، او دا د محبت علامت دی چې په کومې خبرې ستاسو مورته تکلیف رسیږي (لکه د پلار سره خبرې نه کول) هغه پریږدئ.

---

[1] بهشتی زیور مدلّل ص: ۱۵۳)۔

[2] قال أبوالدرداء: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ما من ثلاثة قرية ولا بدو لا تقام فيهم الصلاة إلا قد إستحوذَ عليهم الشيطان فعليكم بالجماعة فإنما يأكل الذئب القاصية قال السائب يعنى بالجماعة الجماعة فى الصلاة (نسائى ج: ۱ ص: ۱۳۵، التشديد فى ترك الجماعة)۔

[3] عن عبدالله بن مسعود قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر متفق عليه (مشكوة ج: ۲ ص: ۴۱۱، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم، أيضًا بخارى ج: ۱ ص: ۱۲، كتاب الإيمان)

دبوډا پلار دخدمت نه مور منع کول

سوال: که پلار بوډا وي اومورقابله وي چې هغه دخپل بوډا خاوند خدمت وکړي اوزامن ځوانان وي.هغه دهرڅه په ليدلو هم مور دبوډا پلار نه لرې ساتي.آيا زامن هم هغه شان ګناهګار دي څنګه چې مور ده؟

جواب: نه صرف د بچيودمور بلکې پخپله بچيوته هم دخپل بوډا پلار خدمت کول پکار دي،دا په دنيااو آخرت کې دهغوی د سعادت او نيک بختۍ موجب دی.ګيني پخپله دخدمت کولو په ځای که هغوی مورهم دخدمت نه منع کوي نودهغوی په ګناه ګارۍ اوبدبختۍ کې څه شک دی؟[۱]

اولاد د شفقت او محبت نه محرومول

سوال: په جمعه ايډيشن ۱۸اکتوبر ۱۹۸۲ءستاسوپه کالم کې،ماد اولاد عاق کولو په سلسله کې کتلي و.په هغه کې دَ قرآن او حديث په رڼاکې تاسوليکلي و چې اولاد په هرحالت کې دپلار دَ جايداد وارث دی.اوس سوال دا دی چې يوصاحب خپلې لومړۍ ښځې ته طلاق ورکړی دی اوبل واده يې وکړ.اودلومړۍ ښځې نه يې صرف جينکۍ دي.اوس جايداد خو لرې خبره ده.هغه دجينکو سره ملاويدل هم پرېښودي دي.آيااسلام دَدې خبرې اجازه ورکوي چې ښځې ته طلاق ورکولونه وروسته اولاد سره دې داسې سلوک وکړل شي؟ اوپه ماشوم والي کې خپلې لوڼې ديو اوبل په کور کې پرېښودل شي.که هغه ترور وي،نياوی،يا تيندار وي.نه دهغوی دتعليم خيال وساتل شي اونه په اخترونوباندې خپل کورته دراتلو اجازه ورکول کيږي.آيادا دَ اولاد بُنيادي حق نه دی چې دهغوی تعليم او تربيت دې وکړل شي او هغوی سره په مينه او محبت سره پيش راشي؟آيادطلاق اثرات په اولادباندې پرېوځي؟

جواب: اولاد شفقت او محبت نه محرومول اودهغوی سره تعلق ختمول بالکل حرام دي،او داسې کولو والا ګناه ګاردی،په حديث کې دی چې تعلق ختمولو والا ته به جنت نه نصيب کيږي[۲]. په هرحال ستاسو دَوالد صاحب طرز عمل دافسوس قابل او داصلاح کولو لائق دی.

---

[۱] وقضى ربُّك ألّا تعبُدُوا إلّا إيّاهُ وبالْوالدَيْن إحْساناً إمّا يبْلُغنّ عنْدَكَ الْكبَرَ أحَدُهُما أوْ كلاهُما فلا تقُلْ لهُما أفٍّ ولا تنْهرْهُما وقُلْ لهُما قوْلاً كريمًا، واخْفضْ لهُما جناحَ الذُّلّ من الرَّحْمَة وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَاني صغيرًا.ربُّكُمْ أعْلَمُ بمَا في نُفُوسكُمْ إنْ تَكُونُوا صَالحين فَإنَّهُ كَانَ للْأَوَّابينَ غَفُوراً (بنى إسرائيل:۲۳ ۲۵) عن عبدالرحمن بن أبي بكرة عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ألا أحدثكم بأكبرالكبائر؟ قال: بلى يارسول الله! قال: الإشراك بالله وعقوق الوالدين (جامع الترمذى ج: ۲ ص: ۱۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء فى عقوق الوالدين)۔

[۲] عن محمد بن جبيربن مطعم عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ...[بقيه په راروانه صفحه..

دَ ښځې په وينا مورپلار سره نه ملاويدل

سوال: يوه ښځه خپل خاوند ته وايي چې زه ستاپه کورکې اوسيږم نو ستامورپلارسره به تا ملاويدو ته نه پريږدم

جواب: خپل مورپلار سره نه ملاويدل او هغوی پريښودل معصيت او کبيره گناه ده.اودکبيره گناه ارتکاب حرام او ناجائزدی[1]لهذا دښځې خبره منل مورپلارسره نه ملاويدل صحيح نه دي.اودښځې ددې خبرې شرعاً هيڅ اعتبار نشته.اوپخپله هغه ښځه هم خاونددخپل پلاراومورسره دملاويدو نه منع کولو په وجه گناهگاره ده.[2]

د مورو پلار خدمت او سفر

سوال: په سنن بيهقي کې دي چې رسول اللهﷺ فرمايلي چې کوم فرمانبردار زوی په خپل مورپلارباندې په شفقت او رحمت سره نظر اچوی نو دهرنظرپه بدله کې ديوقبول شوي حج ثواب ورته ملاويږي.صحابه وو رضی الله عنهم عرض وکړ چې:اې دالله تعالی رسوله! که په ورځ کې سل ځله هم داسې نظر ورته وکړي؟ حضورپاکﷺ وفرمايل :هو!که سل ځله هم وي.يعنې په نظررحمت باندې به ورته ديوقبول شوي حج ثواب ملاويږي.په مسنداحمدکې دي چې څوک خوښوي چې دهغه دې اوږد عمر ويې اودهغه په رزق کې دې پراخي وي.هغه دې د مورپلارسره ښه سلوک کوي اودهغوی سره دې صله رحمي کوي.ددې احاديثوپه رڼاکې به دهغه اولاد څه حشروي کوم چې اکثرمسافران وي؟ ځکه چې نن سبا خلق رزق گټلوله پاره بهرملک کې محنت مزدوري کوي اوډيرې مودې پورې خپل مورپلارسره دَ مجبوری په وجه نشی ملاويدلی.نوآياهغه اولادبه ددې نعمت نه محروم وي؟ دهغوی له پاره دَثواب حاصلولو يوه ذريعه هم نشته ؟

جواب: که دمورپلار په اجازت سره په سفر باندې تللی وي: نوهغه به هم په فرمانبرداری کې شميرل کيږي.

...بقيه د تيرمخ]... لايدخل الجنة قاطع قال ابن أبي عمرقال سفيان يعنى قاطع رحم (ترمذى ج:٢ ص: ١٣، ابواب البر والصلة، باب ماجاء فى صلة الرحم)۔

[1] ووصّينا الْانسان بوالدَيْه حُسْناً (العنكبوت:٨) عن عبدالرحمن بن أبي بكرة عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ألا أحدثكم بأكبرالكبائر؟ قال: بلى يارسول الله! قال: الإشراك بالله وعقوق الوالدين (جامع الترمذى ج: ٢ ص: ١٢، أبواب البر والصلة، باب ماجاء فى عقوق الوالدين)۔

[2] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٢١ كتاب الإمارة، الفصل الثانى)۔

دموروپلار خبره ترکومه حده منل پکاردي؟

سوال: محترم! مايوه نازکه مسئله ستاسوپه خدمت کې راوړې راغلې يم، اکثرعلماء ددې خبرې واضح جواب نه ورکوي، دخداى له پاره ماته بالکل صفا جواب راکړئ ماددې پريشانۍ نه آزاد کړئ محترم! الله تعالى د مور پلار د حقوقو په هرځآئې کې تاکيدکړى دى، اسلام يوداسې مذهب دې چې په هغه کې دانسان حقوق او فرائض په ډيرښائسته طريقې باندې تقسيم کړي دي، خو يوه خبره چې په هغې زمونږ کورکې هم بحث کيږي او ددې په وجه مونږ په سختې ذهني پريشانۍ کې يو هغه دا چې ما ډير ډير په کتابونوکې ويلي دي او دعلماوو نه مې دا خبره اوريدلې ده چې دخداى فرمان دى دمورو پلار تردې حده پورې حق دى چې پرته دَدې خبرې چې که هغوى درته دَ خداى سره دَشرک کولو حکم وکړي نوهغه مه منئ، ګينى دهغوى هره خبره منل په اولادباندې فرض دي، اوکه اولاد هرڅومره نيکي ولې نه وي کړي، خوکه مورپلاردهغوى نه راضي نه وي؛ نوهغه اولاد دخداى هم نافرمانه دى، اوچېرې به هم جنت ته نه داخليږي، ماتردې پورې اوريدلي چې د خداى حکم دى چې که ستاسو مورپلار تاسوته ووائى چې خپله ښځه پريږده ياخپل بچى مړ کړه نوبياهم بغير سوچ سمجهـ نه داسې وکړه، اوس تاسونه داپوښتنه کوم چې ددې خبرې تاسو ته ښه پته ده چې په دنيا کې د بد نه بدکرداره خلک هم دچا مورو پلار جوړيږي او داسې مورپلار په زرګونوخبرې غيرشرعي کوي، بې شميره خبرې دهغوى داسې وي چې هغه داسلام د دائرې نه بهروي او هغوى غواړي چې بچي موپه دې باندې عمل وکړي، اوس که بچى نيک عمله وي او اسلامي اصول خوښ ګڼي؛ نو دهغوى له پاره دا څومره تکليف رسيدلو والامسئله به وي چې يوطرف ته مورو پلاردي چې هغوى موپه غير شرعي خبرو باندې مجبوروي، که دهغوى خبره نه منو، نونافرمانه کيږو، او الله پاک په صفا الفاظو کې ويلي دي چې دمورو پلار نافرمان به جنت ته نه داخليږي، خداى به خپله نافرماني معاف کړي، خودمور وپلارنافرماني به معاف نه کړي، اوبل طرف ته بچيوته دا مسئله هم پيښيږي چې که دمورو پلار حکم منو؛ نودخداى اصولو خلاف ورزي کيږي، اوس اولاد څومره مجبور او بې وسه وي؟ ددې اندازه صرف هغو خلکو ته ده دکوم خلک چې داسې حالاتوسره مخامخ وي.

جواب: دمورو پلارفرمانبرداري اودهغوى دخدمت په باره کې واقعي ډيرسخت تاکيدراغلى دى، خو دا خبره غلطه ده چې دمورپلار دهرې جائزې او ناجائزې خبرې منلو حکم دى، دمور وپلار د فرمانبردارۍ هم حدود دي، زه دَدې خلاصه ذکرکوم:

اول: مورپلار که هرڅومره بد وي، دهغوى بې ادبي او ګستاخي دې ونه کړل شي، په تهذيب او متانت سره دهغوى پوهولوکې هيڅ بدوالى نشته، بلکه پوهول يې ضروري دي، خوپه خوله او لهجه کې ګُستاخي نه ده پکار. اوکه په پوهولو باندې هم پوهه نشي؛ نوهغوى په خپل حال

باندې پرېږده.

دوېم: که هغوی درته دَ څه جائزې خبرې حکم وکړي؛ نو دهغې منل ضروري دي په دې شرط چې سړی دهغې طاقت هم لري او په هغې سره دنور خلکو حقوقو ته نقصان نه رسیږي،اوکه دهغوی دحکم منل دهغه دوس خبره نه وي او په هغې سره د نورو خلکو حقوقو ته نقصان رسیږي نو منل یې ضروري نه دي،بلکې په بعضې صورتونو کې جائز نه دي.

درېم: که چرې مورپلاردرته دیوې داسې خبرې حکم وکړي چې هغه شرعاً ناجائزه وي اوچې دهغې الله پاک او دهغه رسول اللهﷺ منع فرمایلې وي،بیاهم دهغوی حکم منل جائز نه دی،که مورو پلار داسې حکم ورکوي نو ګناهګاریږي،او که اولاد دهغوی دَناجائز حکم تعمیل کوي؛ نوهغوی هم ګناهګاریږي،دَحضورپاکﷺ مشهور ارشاد مبارک دی: "**لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق**"[1] یعنی" په کوم شي کې چې دَالله پاک نافرماني کیږي په هغه کې دیو مخلق فرمانبرداري جائزنه ده."مثلاً: که مورپلاردرته ووایئ چې: "لمونځ مه کوه،یاددین خبرې مه زده کوه،یاږیره مه پرېږده،یادنیکو خلکو سره مه کینه"وغیره وغیره،نودهغوی دداسې حکمونه منل جائز نه دي،ګینې مورپلاربه هم جهنم ته لاړشي او اولاد به هم ځان سره جهنم ته بوځي.

که مورپلاردا وایي چې: "ښځې ته طلاق ورکړه"نوداکتل پکار دي چې ښځه قصورواره ده یانه؟ که ښځه بې ګناه وي؛ نو صرف د مور پلارپه وینا طلاق ورکول جائزنه دي،که مورو پلاردرته ووایي چې: "ښځه په یواځې کورکې مه ساته"نوپه هغې کې هم دهغوی حکم منل جائزنه دي،البته که ښځه په خپلې خوښې سره دمورو پلار سره یوځای اوسیدوباندې راضي وي، نوبیله خبره ده،ګینې دخپل حیثیت مطابق ښځې ته بیل کور ورکول د شریعت حکم دی،اوددې خلاف دچاخبره منل جائز نه دي.

څلورم: که مورپلارمو ووهی،کنځلې درته وکړي،بدرد درته ووایي یاپیغورونه درکړي، نو دهغوی هرڅه دې برداشت کړل شي اوهغوی ته دې غلط جواب ورنه کړل شي.

پنځم: تاسوچې څه لیکلي دي چې: "که مورپلاردرته ووایي چې ..... یا خپل بچی مړه کړه نوبیاهم بغیر دڅه سوچ او پوهې نه دا وکړه" خدای ته پته تاسو ته دا چا ویلي دي؟ بچی مړه کول حرام اوکبیره ګناه ده.او مالیکلي دي چې په ناجائز کار کې د مورو پلار اطاعت جائز نه دی.ځکه تاسو چې کومه مسئله لیکلې ده،هغه قطعاً غلطه ده.....!

---

[1] مشکوة ص: ٣٢١، کتاب الإمارة والقضاء، طبع قدیمی کتب خانه)۔

مورو پلار سره احسان او ښه سلوک څه ډول وشي؟

سوال: دنن په جمعه ایډیشن کې مې ولوستل،په اسلامي صفحه باندې جلال الدين احمد نوري صاحب دقرآن اوحدیث په رڼاکې دمورو پلارسره د احسان اوښه سلوک کولو په باره کې لیکلي دي،په دې سلسله کې،زه تاسونه څه معلومات حاصلول غواړم،زه منم چې په دنیاکې والدین ،مور او پلار، نه زیات څوک خواږه نه وي،هغه بچي په ډیرتکلیف سره ساتي او دبچیوفرض دي چې دهغوی عزت وکړي،مورپلارتنګ نه کړي،دهغوی په معاشره کې نوم خراب نه کړي،دبدو عادتونونه لرې اوسي چې مورپلارترې خوشاله وي او دعاګانې ورته کوي،خومسئله دا ده چې ټولې میندې او پلاران یوشان نه وي،دَهرانسان بیل بیل عادت وي،آیاداسې پلار نه وي چې زآمن یې ځوانان شي او بیاهم عیاشي کوي،شراب څښي، جواري کوي،هرقسمه عیاشي کوي،دهغوی بچي نیکان وي، شریفان وي،نوآیادداسې پلار خبره منل ضروري دي؟ پخپله عیاش وي،خوزوی او لورته وایي چې: ته واده هلته وکړه چېرته یې چې زه غواړم.،بل سوال دا دی چې زما یو دوست دی،دهغه مور دهغه واده کول غواړي،

صحیح ده چې مور و پلار د بچي واده کوي،خو زماددوست مورچې کله دیوې رشتې کتلوله پاره ځي؛ نو زوی سره هیڅ مشوره نه کوي،او نه یې ضروري ګڼي وغیره،خودَهغه دمور وینا دا ده چې انجیلۍ صرف هغې ته خوښه راشي،چې کله هلک ته دا خبره معلومیږي چې دهغه مور په فلاني ځای کې دهغه رشته کوي،نو زوی وایي چې: "موري! داډیر خراب خلک دي،اوښه او شریفان نه دي"نوموروایي چې:"څه څه! تاته څه پته ده؟ ددې نه ښه رشته به بله کوم ځای کې ملاویږي" دا ټوله کیسه ماتاسوته ځکه واوروله چې تاسوته تفصیل معلوم شي،اوس هلک چې زما دوست دی،که مور انکار کوي چې:"موري! زه په هغه ځائې کې واده نشم کولۍ،ځکه چې هغه ښه خلک نه دی" نودَهغه مور خفه کیږي او په دې وجه باندې اوس هلک بالکل بې وسه دی،واده دهغه کیږي خودهغه پکې هیڅ رایه نشته،نه یې څه اهمیت شته. نن کله نه چې هغه دا مضمون په اخبارکې ولوستلو نوزیات پریشانه شو چې الله تعالی ټول حقوق مورته ورکړي دي،که انکار کوم نوپه دې دنیاکې او دقیامت په ورځ دمورد َخفګان په وجه به ذلیل کیږم، ځکه دلته خواوس خپله مرضي نه چلیږی،که خوښه دې وي اوکه نه،اوس تاسو مورِ ته داسلام په رڼاکې جواب راکړئ چې آیا اسلام اولاد ته دا حق نه دی ورکړی چې هغه څه ووایي؟ خودنن مضمون چې هغه بالکل د قرآن پاک اوحدیث نه اخیستل شوی دی،هیڅ ګنجائش پکې نشته ، په مضمون ویلوسره خوزمادوست بالکل خاموشه شوی دی،چې ښه ده چېرته چې غواړي واده دې وکړي،زه به یولفظ هم نه وایم،بیادې واده کامیاب یاناکامیاب ولې نه وي،ستاسوبه ډیره مهرباني وي داسلام په رڼاکې جواب راکړئ.

جواب: په اصل کې غلطي دواړو طرفو ته ده، مورو پلارته پکار دي چې اولادکله بالغ شي نوهغه په مشوره کې شریک کړي، خاص کرد هغوی د واده اوښادی په معامله کې دهغوی نه مشوره اخیستل خو ډیرضروري دي، او بچي ته پکار دي چې دموړپلار رایې ته په خپلې رایې باندې ترجیح ورکړي، اوکه دهغوی رایې بالکل غلطه وی نوبیاهم هغوی سره په ګستاخي او بې ادبي سره مه پیش کیږئ، البته په تهذیب او ادب سره ورته ووایئ چې دا خبره مناسب نه ده، خلاصه دا ده چې کوم کار دشریعت په لحاظ سره یا په دنیاوي لحاظ سره غلط وي، په هغه کې د مور و پلار فرمانبرداري جائز نه ده[1]، خو دهغوی ګستاخي او بې ادبي دې هم ونه کړل شي.

که مورو پلار کنځل وکړي نو اولاد ورسره څه سلوک وکړي؟

سوال: اسلام دکنځل کونکي په باره کې څه فرمایلي دي، که هغه هرڅوک وکړي؟ زموږ په ګاونډکې یوصاحب دومره کنځل کوي چې په یوه جمله کې یې لس کنځل وي، لږدخوښې خلاف چې خبره وشي نوهغه دخپلې ښځې دخاندان والو ته کنځلې شروع کوي، عرض دا چې هغه په ناسته پاسته هروخت کنځلې کوي، دهغه بچي اوس ځوانان شوي دي اوهغوی اوس کله کله برداشت ونه کړي او خپل پلارته څه نا څه وايي، خووروسته هغوی ته سخت افسوس وي.

جواب: دهغه سړي دا ګنده عادت دهغه دبې عزتي له پاره کافي دی[2]. هغه چې کومې کنځلې کوي هغه چاته هم نه لګیږي، بلکې خپله ژبه ګنده کوي، ځکه دهغه دکنځلوطرف ته دې توجه ورنه کړل شي. اودهغه زامنوته پکار دي چې په هغه وخت دې دهغه ځای نه پاځي، وروسته په ادب اوطریقې سره هغه پوه کوئ د بچوله پاره د موروپلارګستاخي او بې ادبي جائز نه ده، ددې نه پرهیز وکړئ.

دخاوند یا دمورو پلار خدمت

سوال: زما او زما دخاوند په مینځ کې هیڅ اختلاف نشته. خو زمادخاوندزمادمور او پلار نه سخت شکایاتونه دي، او پوهه یم چې زما مور او پلار خاص طورباندې پلارصاحب زمااو زما دخاوند سره ډیرې ناانصافۍ کړي دي، زماله پاره دواړه د احترام قابل دي، خو زما ایمان دی

---

[1] عن علي قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لا طاعة في معصية، إنماالطاعة في المعروف متفق عليه (مشكوة ص: ٣١٩) وعن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق رواه شرح السنة (مشكوة ص: ٣٢١، كتاب الإمارة، الفصل الثاني)۔

[2] عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر متفق عليه (مشكوة ج: ١ ص: ٤١١، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)۔

چې په اولاد باندې د مورو پلار ډېرزيات حقوق وي،ځکه چې هغه بچي پيدا کوي،ساتي او غټوي يې،بچي دهغوی دا احسان چېرې هم نشي پوره کولی،دموروپلارنافرماني بچې جهنم ته بوولی شي،ستاسوبه ډيره مهرباني وي دقرآن او حديث په رڼاکې ماته مشوره راکړئ چې په دې حالاتوکې په مادچا فرمانبرداري لازمه ده،د مور او پلار يا دخاوند؟

جواب: تاسو ته حتی الوسع په هغوی دواړو فريقوکې ديونافرماني کول هم نه ده پکار،خوکه داسې صورت پيښ شی چې په هغه کې به يوازې ديوحکم منل کيږي،نوستاسوله پاره دخاوندحکم منل پکار دي[1] بهتره خو داده چې تاسوخاوندپوه کړئ اوچې کوم صورت زيات بهتره وي دهغه له پاره يې راضي کړئ،خوکه هغوی په خپلې خبرې منلوباندې په ضدوي نو تاسو دهغه خبرې ته ترجيح ورکړئ او دموروپلار نه په ادب سره معافي وغواړئ.کومې جينکۍ چې دخاوندپه مقابله کې دموروپلار حکم ته ترجيح ورکوي،هغه خپل کورونه چېرې هم په سکون سره آبادولی نه شي.

دموراوپلار نافرمانه زوی عاق کول

سوال: مونږ ټولوته علم دی چې الله تبارک وتعالی سبحانه دقرآن پاک په (سورت نساء) کې د ټولو رشته دارانو او خپل خپلوانو برخې ښکاره تعين کړې دي،چې هغه ديومړي پاتې شوي مال(ترکې)څخه ورکول کيږي،په دې برخوکې دردوبدل هيڅ مجازنشته ،په دې پس منظرکې تاسو دقرآن او حديث په رڼاکې وفرمايي چې آيايو سړی په څه وجه سره خپل اولاد يا په اولادکې يوزوی عاق وګرځوي اوهغه دخپل حق يادبرخې نه دمحرومولو اختيارلري؟ زمونږ په ملک کې ډېر وخت نه دا روج راروان دی چې مور وپلار او خاص کرپلار د نافرمانې کولو والازوی عاق ګرځوي، شايد عامو خلکوته ددې خبرې علم نه وي چې ددې کارشرعي حيثيت څه دی؟

جواب: کوم نالائق زوی چې دمورو پلارنافرمان او ګستاخ وي،ددې سزابه هغه په دنيااوآخرت کې ګالي[2] ددې باوجودهغه دجايداد دشرعی برخې نه محرومول جائزنه دي،اوکه چاداسې وکړل نو دشريعت خلاف کولو په وجه به داسړی ګناهګار وي،خودهغوی په محرومولو سره زوی دخپلې شرعي برخې څخه نه محروميږي،دهغه عاق کول غلط دي،اوزوی ته به شرعي

[1] عن عائشة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم .... ولو كنت آمر أحدًا أن يسجد لأحد لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها، ولوأمرها أن تنقل من جبل أصفر إلى جبل أسود ومن جبل أسود إلى جبل أبيض كان ينبغى لها أن تفعله رواه أحمد (مشكوة ص: ٢٨٣) أيضًا: وحقه عليها أن تطيعه فى كل مباح يأمرهابه (الدرالمختار ج: ٣ ص: ٢٠٨، طبع سعيد)۔

[2] عن أبي بكرة قال: قال رسو ل الله صلى الله عليه وسلم: كل الذنب يغفرالله منها ما شاء إلا حقوق الوالدين فإنه يعجل لصاحبه فى الحياة قبل الممات (مشكوة ص: ٤٢١، باب البروالصلة، طبع قديمى)۔

برخه مکمل ملاويږي.[۱]

په ناجائز کار کې د مور او پلار اطاعت

سوال: آيا د غيرمسلمه قادياني هلک او د مسلمانې انجيلۍ واده کيداى شي؟ انجيلۍ هم نه غواړي چې د هغې واده دې د هغه سړي سره وشي، خو دَ انجيلۍ د مورو پلار دا ضد دى چې د هلک کورو الا زمونږ رشته داران دي.

جواب: د غيرمسلم سره د مسلمان هلک يا انجيلۍ نکاح نه کيږي[۲]، تول عمر به د زنا ګناه کوي او دا ګناه به د انجيلۍ د مور او پلار په برخه کې هم وي، او که مور پلار يې مجبوره کړي نو انجيلۍ ته پکار دي چې صفا انکار وکړي، په دې معامله کې د مورو پلار حکم منل جائز نه دي.[۳]

مورو پلار چې د پردې مخالف وي د هغوى حکم منل

سوال: زما مورو پلار د پردې کولو خلاف دي، زه څه وکړم؟

جواب: الله او د الله رسول ﷺ د بې پردګۍ خلاف دي[۴]، د ستاسو مورو پلار د الله او د هغه رسول ﷺ سره مقابله ده. تاسو ته پکار دي چې په دې مقابله کې د الله او د الله رسول ﷺ سره ملګرې شئ، که مورو پلار د الله او د هغه د رسول ﷺ مخالف کوي جهنم ته تلل غواړي نو تاسو د هغوى سره مه ځئ.[۵]

د اولاد جايداد نه محرومونکي پلار حشر

سوال: زمونږ والد صاحب د ميرنۍ مور په دوکه کې راغى او د جايداد نه يې لرې کړې يو، زما

---

[۱] ومن قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة (مشكوة ج: ١ ص: ٢٦٦) أيضًا: الارث جبرى لا يسقط بالإسقاط، (تنقيح الحامدية ج:٢ ص: ٥٤، طبع رشيديه كوئته)۔

[۲] ولا تحل مناكحتهم (ردالمحتار ج: ٤ ص: ٢٤٤ باب المرتد)۔

[۳] لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٢١، كتاب الإمارة)۔

[۴] "وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى"،(الأحزاب:٣٣) أيضًا: يٰأَيُّهَاالنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِالْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ، الآية (الأحزاب:٦٠) عن ابن عباس: أمرالله نساء المؤمنين إذاخرجن من بيوتهن فى حاجة أن يغطين وجوههن من فوق رؤوسهن بالجلابيب ويبدين عينا واحدة وقال محمد بن سيرين سألت عبيدة السلمانى عن قول الله تعالى: يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ، فغطى وجهه ورأسه وأبرز عينه اليسرى وقال عكرمة: تغطى ثغرة نحرها بجلبابها تدنيه عليها (تفسير ابن كثير ج: ٥ ص: ٢٣١، طبع رشيديه كوئته)۔

[۵] قال الله تعالى: قُلْ أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِيْنَ (آل عمران:٣٢) أيضًا: قال تعالى: وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهُ يُدْخِلْهُ نَاراً خَالِداً فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِيْنٌ (النساء:١٤)۔

او زموږ د وروڼو حق يې نه دی راکړی، بلکه ميرنی موراودهغې بچيوته يې ورکړی دی، دهغوی دا طرز عمل داسلامي اصولو په لحاظ سره څنګه دی؟ دقرآن او قانون مطابق جواب راکړئ.

جواب: په حديث شريف کې دې ته ظلم ويل شوي دي،اوددې ظلم سزا به ستاسو پلارته په قبراو حشرکې رسيږي [۱]

دمور خدمت او د ښځې خوشنودي

سوال: نن سبا عام طورباندې په ښځه او خاوندکې دې خبرې باندې جګړه کيږي چې خاوند، ښځه په بيل کورکې ولې نه ساتي؟ خاوند په دې خبرې باندې ولاړ دی چې زه خپله مور يوازې نشم پريښودلی، ځکه چې زمانه علاوه دموردخدمت کولو والا هيڅوک نشته ، اوکه مابوډۍ مور دعمرپه دې برخه کې پريښوده نودقيامت په ورځ به زه دجنهم له اوره بچ نشم.خوښځه داخبرې نه مني اوپه خپل ضدباندې قائمه وي،مسئله دا ده که خاوندښځه بيل کورکې ساتي نوېخپله به کوم کورکې اوسيږي،دښځې سره دهغې په کور کې يابيادخپلې بوډۍ مورسره دهغې په کورکې؟ په دواړو کې څوک پريږدي او دچاسره اوسيدل شروع کړي.

جواب: په داسې حالت کې ښځې ته پکار دي چې هغه خاوندته دمور دخدمت موقع ورکړي، بيل کورکې په اوسيدو دې ضدنه کوي،چې دبوډۍ موردخدمت کولو والابل څوک نه وي، هو! ښځې ته دې داوسيدو له پاره بيله کمره ورکړل شي اودخاونددمورځه خدمت دې دهغې په ذمه نه اېښودل کيږي. [۲]

دخاوند ، ښځې او اولاد ذمه داري

سوال: زماښځه هره خبره زماخلاف کوي،حقوق نه ادا کوي،مخکې ورځ ماخپله غټه لور راوغوښتله اودمورپوهولو له پاره مې ورته وويل،هغې وويل چې "اوس يې پوهول مشکل دي، ښه خبره ده چې ستاسوپه مينځ کې طلاق وشي"يونالاتق زوی مې په مينځ کې راغی او فيصله يې داوکړه چې زه هغه(مور) بوځم ،باوجود ددې چې مادهغوی موړډيره منع کړه چې بغير اجازت نه تاسو نشئ تلی،خوهغه د زوی سره لاړه.معلومه نه ده هغه چېرته ده؟ اوس زه هغه

---

[۱] عن النعمان بن بشير أن امه بنت رواحة سألت أباه بعض الموهوبة من ماله لإبنها فالتوى بها سنة ثم بداله فقالت: لا أرضى حتى تشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم على ما وهبت لابنى، فأخذ أبي بيدى وأنا يومئذ غلام فأتى رسول الله صلى الله عليه وسلم: فقال يارسول الله ! إن أم هذا بنت رواحة أعجبها أن أشهد على الذى وهبت لإبنها. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : يابشير! ألك ولدسوى هذا؟ قال: نعم! أكلهم وهبت له مثل هذا؟ قال: لا! قال: فلاتشهدنى إذًا فإنى لا أشهد على جور (صحيح مسلم ج: ٢ ص: ٣٧)۔

[۲] فعليه نفقتهاوكسوتها وسكنها (هداية ج: ٢ ص: ٤٣٧، باب النفقة)۔

خپل زوی عاق کول غواړم او دښځې له پاره څه وکړم؟ په دې باره کې درنه مشوره غواړم. دَحیرانتیاخبره دا ده چې زوی مورو پلار دیوبل نه جدا کوي اوبله دا چې ټول بچي په یوه ژبه شو او دمور طرف دار جوړ شو

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسو دغم نمه ډک خط مې په تفصیل سره ولوست، ډیرخفه شوم، الله تعالی دې ستاسومشکلات آسان کړي، په عام او ذاتي معاملاتو کې، زه دمشوره ورکول نه غواړم. ځکه یوڅواصولي خبرې درته عرض کوم:

۱ اولاد چې کله ځوان شي نودهغوی دَجذباتواحترام ضروري دی، او د موراو پلار جنګ جګړې د اولاد دزړه نه دموروپلار احترام وباسي. ښځې سره دبچیوپه مخکې جګړه کول اصولي غلطي ده

۲ دښځې په ذمه دخاوند حقوق بې شکه ډیرزیات دي، اوښځې ته دخاوندحقوق ادا کولو ډیر تاکید شوی دی[۱] خوخاوندته هم داکتل پکاردي چې هغه د(ښځې)دځومره حقوقوبوج اوچتولو قابل دی؟[۲] ځکه شریعت سړي ته دڅلور ودونو پورې اجازه ورکړې ده[۳] ځکه چې په یوې ښځې باندې دهغې دبرداشت نه زیات بوج ونه لویږي، او دیوې نه دزیاتوښځوکیدوپه صورت کې شریعت په خاوندباندې دا سخته پابندي عائدکړې ده چې هغه دټولو ښځو سره، دتلې په تول سره برابري وکړي، دټولوسره یوشان سلوک وساتي، اوچرتهَیوطرف ته ادنی زیات والی هم ونه ساتي.[۴]

۳ دقیامت په ورځ به صرف دښځې دنافرمانیو محاسبه نه کیږي، بلکې دخاوند بدخلقی، بدکلامي اودهغه دظلم او زیاتي حساب به هم کیږي، اوبیاچې دچاپه ذمه دچاحق راوځي. هغه ته به ورکول کیږي.

۴ تاسوچې کوم حالات لیکلي دي، دهغو نه اندازه کیږي چې دحالاتو په خرابوالي کې دټولو نه زیات دخل ستاسودبدکلامی دی(چې په هغې کې تاسو غالباً دَخپلې بیمارۍ اودَ

---

[۱] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله: لوكنت آمر أحدًا أن يسجد لأحد لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها (ترمذى ج:۱ص:۲۱۹، أبواب الرضاع،باب ماجاءفى حق الزوج على المرأة، ابن ماجة ص:۱۳۳،باب حق الزوج على المرأة)

[۲] عن حكيم ابن معاوية القشيرى عن أبيه قال: قلت: يارسول الله! ماحق زوجة أحدنا عليه؟ قال: أن تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا كسيت ولا تضرب الوجه ولا تقبح ولا تهجر إلا فى البيت (ابن ماجة ص: ۱۳۳، باب حق المرأة على الزوج)۔

[۳] قال تعالى: فانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ (النساء:۳)۔

[۴] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له إمرأتان يميل مع أحدهما على الأخرى جاء يوم القيامة وأحدشقيه ساقط (ابن ماجة ص: ۱٤۱، باب القسمة بين النساء)۔

مزاج په وجه سره څه معذورهم يئ، ستاسو په اولاد او ښځې باندې د هغې اثر غلط شوی دی، که تاسو خپل طرزعمل تبديل کړئ او د خپلې رويې اصلاح وکړئ نو ستاسو په اهل او عيال کې تبديلي راتلی شي.

۵: که تاسو خپل مزاج د حالاتو مطابق تبديلولی نشئ نو آخري صورت دا کيدای شي چې ښځه فارغه (طلاق) کړئ، خو د هغې نتيجه به دا وي چې تاسو به د خپل اولاد نه هم کټ شئ، ځکه چې ستاسو ځوان اولاد به تاسو ظالم او مور مظلومه وګڼي او د خپلې مور سره به ملګرتيا وکړي، او د انتقام اخيستو په طور به تاسو سره تعلق ختم کړي او دا به د دواړو فريقينو د دنيا او آخرت د بربادۍ وجه وی.[1]

۶: غالباً مامخکې هم ليکلي دي چې د ښځې په تکليفونو رسولو باندې صبر کول مستقل جهاد دی، او د الله تعالی په نزد ددې ډيره غټه درجه ده، که تاسو د هغې عظيم اجر خواهش مند يئ نو د هغې لا رد صبر او استقامت خار دارلارې باندې تيرېږي، په دې صورت کې به تاسو ته د خپلې ښځې او اولاد سره مشوره کول وي، هغوی ظالمان او خپل ځان مظلوم ګڼل نه، بلکې دا ګڼل چې د هغوی غلطۍ هم په حقيقت کې زما د خپلې نااهلۍ په وجه سره دي، ظالم زه پخپله يم او الزام نورو ته ورکوم.

۷: که تاسو صلح کول غواړئ نو ددې له پاره به خپل نفس مړکول وي او د يو څو خبرو خيال به ساتئ، يو دا چې ستاسو د ژبې نه به د خيرنه سوا بله خبره نه وځي، چېرې هم يوه ناخوښه خبره په خوله باندې مه راولئ، دويم دا چې خپل حق د بل په ذمه مه ګڼئ او نه د چا شکايت ستاسو په زړه کې پيدا شي، بلکې که څوک ستاسو سره ښه سلوک وکړي؛ نو هغه د الله تعالی دَطرف نه يو تحفه وګڼئ. او که څوک په بدخلقي او سختي سره پيش شي؛ نو دا وګڼئ چې زه ددې نه هم دَ زياتي مستحق وم، دَالله تعالی شکر دی چې هغه زما د بدو عملونو پوره سزا ما ته رانه کړه، په دې باندې صبر وکړئ، دريم دا چې ستاسو د هرې ادا نه دا اولاد او ښځې سره د شفقت او محبت مظاهره کيدل پکار دي، تاسو ته د يو محبوب خاوند او د شفيق پلار کردار ادا کول پکار دي.

۸: اولاد عاق کول (د ميراث نه محرومول) شرعاً حرام دي[2]، او اولاد په عاق کولو عاق کيږي هم نه[3]، ځکه زه به تاسو ته مشوره درکړم چې تاسو ددې غلط قدم نه منع شئ، دنيا خو

---

[1] عن محمد بن جبير بن مطعم عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة قاطع قال سفيان يعنى قاطع رحم (ترمذى ج: ۲ ص: ۱۳، أبواب البر والصلة، باب ماجاء فى صلة رحم)۔

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة (مشكوة، كتاب البيوع، باب الوصايا ج: ۱ ص: ۲۶۶)۔

[3] الإرث جبرى لايسقط بالإسقاط (تكملة ردالمحتار ج: ۱ ص: ۵۰۵، كتاب الدعوى، مطلب واقعة الفتوى، أيضًا: تنقيح الفتاوى الحامدية ج: ۲ ص: ۵۴، مطلب الإرث جبرى لايسقط بالإسقاط ، طبع رشيديه كوئته)

تاسو د خپل ځان له پاره دوزخ جوړه کړې ده، خدای له پاره! په آخرت کې دوزخ مه اخلئ[1]. کوم هلک (بچي) ته چې مود عاق کولو اختار ورکړی و هغه هیر کړئ او هغه سره صلح وکړئ.

۹. دبعضو اکابرو ارشاد دی چې کله بنده دالله تعالی حکمونه ماتوي او د مالک نافرماني کوي نو دالله تعالی د طرف نه هغه ته لومړی سزا دا ملاویږي چې د هغه ښځه او بچي د هغه خلاف کوي، ځکه که تاسو د خپلې ښځې او بچیو رویه د اصلاح قابل ګڼئ نو په دې باندې هم توجه وفرمایئ چې د مالک (الله تعالی) سره ستاسو رویه څنګه ده؟ او آیا هغه د اصلاح محتاجه ده؟ دالله تعالی سره خپله معامله صحیح کړئ، الله پاک به تاسو سره د خپلې ښځې او بچیو معامله هم صحیح کړي، دَ حضرت علي بن ابی طالب کرم الله وجهه ارشاد مبارک دی:

پنځه شیان دا نسان دَ نیک بختی علامه ده:

۱_ دهغه ښځه به دهغه موافق وي. ۲_ دَهغه اولاد به نیک او فرمانبردار وي. ۳_ دهغه دوستان به نیکان او خدای ترسه وي. ۴_ دهغه ګاونډیان به نیک وي، ۵_ او دهغه رزق به په خپل ښار کې وي.

۱۰. ممکنه ده چې زما دا تقریر به ستاسو د ښځې متحرمې او بچیو د نظرنه هم تیرشي، زه هغوی ته هم درخواست کول غواړم چې هغوی معامله خرابولو نه منع شي، دیو بزرګ ارشاد دی چې: "دنیکې ښځې شپږ علامې دي:

اول: دپنځو واړو لمونځونو پابنده به وي.

دویم: دخاوند تابعداره به وي.

دریم: دَخپل رب په رضا باندې به راضي وي.

څلورم: خپله ژبه به یې دبدي، غیبت او فضول خورۍ نه محفوظ کړې وي.

پنځم: دنیاوي مال او دولت نه به نفرت کوي.

شپږم: په تکلیف باندې به صبر کوي."

په حدیث کې دي: "**عن ابي امامة رضي الله عنه ان رجلاً قال: یارسول الله! ماحق الوالدین علی ولدهما؟ قال: هما جنتک ونارک. رواه ابن ماجة.**" (مشکوٰة ص: ۴۲۱).

ترجمه: "دحضرت ابو امامه رضي الله عنه نه روایت دی فرمایي چې: یو سړي عرض وکړ: یارسول الله صلی الله علیه وسلم! زما دمور او پلار زما په ذمه څه حق دی؟ ویې فرمایل ورته: هغوی ستا جنت دی یا دوزخ."

په یو حدیث کې دي: "**عن ابي الدرداء رضي الله عنه ان رجلاً اتاه فقال ابو الدرداء: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم**

---

[1] عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لایدخل الجنة منّان ولاعاق ولا مدمن خمر (مشکوٰة ج: ۲ ص: ۴۲۰، باب البر والصلة، طبع قدیمی)۔

يقول: الوالد اوسط ابواب الجنة فان شئت فحافظ على الباب اوضيع رواه الترمذى." (مشكوة ص:٤١٩). **ترجمه** "حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى، هغوى يوسړي ته وفرمايل چې: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي چې پلار د جنت بهترينه دروازه ده، اوس که ته غواړې نو د هغې دروازې حفاظت کوه يا هغه ضائع کړه."

په يو بل حديث کې دي "عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال رسول الله ﷺ: رضى الرب فى رضى الوالد، وسخط الرب فى سخط الوالد. رواه الترمذى." (مشكوة ص:٤٩).

ترجمه "د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي چې: د الله پاک رضامندي د پلار رضامندي کې ده، او د الله تعالى ناراضي د پلار ناراضي کې ده."

په يو بل حديث کې دي "عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: من اصبح مطيعاً لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة، وان كان واحدًا فواحدًا، ومن اصبح عاصيا لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من النار، ان كان واحدًا فواحدًا. قال رجل: وان ظلماه؟ قال: وان ظلماه، وان ظلماه، وان ظلماه." (مشكوة ص:٤٢١).

ترجمه "د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې: رسول الله ﷺ فرمايلي: کوم سړى چې د مور او پلار فرمانبردار وي، د هغه له پاره د جنت دوه دروازې خلاصيږي، او که يو وي نو يوه. او که چرته سړى د مور او پلار نافرمان وي، د هغه له پاره د دوزخ دوه دروازې خلاصيږي، او که يو وي نو يوه. چا عرض وکړ: او که مور پلار په هغه باندې ظلم کوي؟ ويې فرمايل: که څه هم په هغه ظلم کوي، که څه هم په هغه ظلم کوي، که څه هم په هغه ظلم کوي."

په يو بل حديث کې دي "عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال: قال ما من ولد بار ينظر الى والديه نظرة رحمة الا كتب الله له بكل نظرة حجةً مبرورةً. (مشكوة ص:٤٢١).

ترجمه "د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي: کوم سړى چې د مور پلار فرمانبردار وي هغه چې کله هم د مور پلار طرف ته د رحمت په نظر سره وګوري، الله تعالى به د هغه په هر خل کتلو باندې هغه ته د يو قبول شوي حج ثواب نصيب کړي."

آيا د بچيو پالنه يوازې نيا کولى شي؟

سوال: آيا د بچيو د مور د وفات نه وروسته پلار د بچيو د بهترۍ له پاره په خپله نګراني کې پخپله نيا نيکه. تيندار ګاڼې او کاکا د بچيو پالنه او پرورش نشي کولى؟ آيا په مذهب کې سيده سيده قانون شته چې د پلار نه بچي واخيستل شي، بچي پلار پسې خفه وي او پلار بچيو پسې؟ او هغه خلک لالچي او بداخلاق دي، ځکه چې زما د ښځې کالي (زيورات) او بيمه وغيره ټول

هر څه د هغوی په قبضه کې دي او راکوی یې هم نه.

جواب: عام قانوم هم دا دی چې د هلک عمر اووه (۷) کالو پورې[1] او د انجیلۍ عمر نهه (۹) کالو پورې د مور نه پس نیاد بچوپرورش او استحقاق لري[2]. د اووه کالویا نهوکالونه پس یې پلار بوتلی شي. خونیا ته د پرورش حق ملاویدو له پاره شرط دادی چې هغه د دیانت او امانت نه ډکه او نیکه وي "اِلاان تکون مرتدة اوفاجرة غیرمامولة."(عالمگیری ج:۱ص:۵۴۱).

تاسوچې کوم حالات لیکلي دي.که هغه صحیح وي: نودا شرط مفقود دی.ځکه د بچیومفاد او مصلحت هم دادی چې هغوی دې د نیاپه حواله کې ور نه کړل شي

دلور دولادت منحوس کیدو تصورغیراسلامي دی

سوال: اکثرتعلیم یافته او جاهلان مې لیدلي دي چې دواده نه وروسته لومړی هم داولاد "زوی" خواهش وي. اوکه الله تعالی ورته لومړی اولاد "لور" نصیب کړه نوهغه دناخوښۍ اظهارکوي او ښځه وهي اودبدو ردو نه هم منع کیږي نه. ښځه او لور دواړه دکور نه اوباسي. ښځه دمور کورته لیږي دهغه کوروالا هم لومړی د "انجیلۍ" په پیدائش باندې د ناخوښۍ اظهار کوی او انګورته بدې ردې وایي. تاسود قران او حدیث په رڼاکې دا وفرمایئ چې د داسې خلکو له پاره څه حکم دی؟ او دالله پاک آخري نبي ﷺ ته هم خپله لورډیره ګرانه وه.

جواب: دلور پیدائش منحوس ګڼل د جاهلیت د دور یادګار دي، ګیني دلور پیدائش خو دبرکت وجه ده. په ډیرو احادیثوکې دجینکو د پرورش فضیلت بیان شوی دی:

"عن عائشة رضی الله عنها زوج النبی ﷺ قالت: جاء تنی امراة ومعها ابنتان لها. فسالتنی فلم تجد عندی شیئا غیرتمرة واحدة فاعطیتها ایاها فاخذتها فقسمتها بین ابنتیها فدخل علی النبی ﷺ فحدثته حدیثها فقال النبی ﷺ: من ابتلی من البنات بشیء فاحسن الیهن کن له سترًا من النار."(مسلم ج:۲ص:۳۳۰).

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی چې یوه ښځه ماته راغله چې دهغې سره دوه لونه هم وې. زما سره بس هم یوه کجوره وه چې هغه ماهغوی ته ورکړه، هغې نیمه نیمه د دواړو په مینځ کې تقسیم کړه. پخپله یې هیڅ ونه خوړل بیاپاځیده او لاړه، حضورپاک ﷺ تشریف راوړ نوما حضورپاک ﷺ ته وویل، حضورپاک ﷺ وفرمایل څوک چې دوو لونو امتحان شي ، اوهغه

---

[1] والحاضنة أما أو غيرها أحق به أى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى .... وتتزوج الصغيرة ويدخل بها الزوج .... وغيرهما أحق بها حتى تشتهى وقدربتسع وبه يفتى (درمختار ج: ۳ ص: ۵۶۷)۔

[2] ثم أي بعد الأمّ بأن ماتت أو لم تقبل أو تزوجت بأجنبى أمّ الأمّ (درمختار ج: ۳ ص: ۵۶۲)۔

دهغوی سره حسن سلوک وکړي، نوهغوی به يې دوزخ نه بچ کړي."
ددې مضمون احاديث دډيرو صحابه کرامو (رضوان الله اجمعين) نه روايت دي.

دلور پلار ته قرآن ښودل

سوال: يوه لورخپل پلارته قرآن مجيد ښايي، اودهغې پلاراوس پنځه ويشت(۲۵) سپارې ويلې دي، نودهغې دپلار مشررور وايي چې:" ته دخپلې لورسره قرآن شريف مه ختموه، ځکه چې ته دهغې دلورحق به اداکوې يا به استاذ جوړه شي دهغې حق به پوره کړې؟"دَهغې نه وروسته هغه قرآن ويل پريښدي او وايي چې:"زه به باقي پنځه سپارې چېرته بل چاسره ووايم."ددې باوجود هغه خپلې لورته دقرآن شريف ښودلو جوړه او پيسې هم ورکوي،آيا يوه لورخپل مور پلار ته قرآن پاک ښودلی شي؟ اوکه ښودلی شي؛ نوبيادهغې د مورو پلار اواولاد حقوق څه دي؟
جواب: انجيلۍ که قرآن شريف ويلی وي؛ نودَمورپلار هغې سره قرآن زده کول جائز دي،او دا فضول خيال دی چې لوردې اُستاذه جوړه نشي،او چې تاسو پنځه ويشت(۲۵) سيپارې دلور سره وويلې نواُستاذه خو هغه جوړه شوه.

صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته ښکاره کنځل کوونکو مور او پلار سره تعلق ساتل

سوال: مور و پلار که ښکاره صحابه کرامو رضی اللہ عنہم،خلور واړه خلفاوو ته بدې ردې او غلط قسمه کنځلې کوي؛ نوپه داسې حالت کې دهغوی خوله بندول پکار دي يا دُعا کول پکار دي؟ او آيا دَداسې مور او پلار فرمانبرداری ضروري ده؟
جواب: هغوی ته دې وويل شي چې هغوی داحرکت نه کوي،په دې سره مور ته تکليف رسيږي، که منع نشو نودهغوی نه بيل شئ،دهغوی خوله بندولو په ځای هغوی سره خوله مه ګډوئ.

بې وجې خفه شوې مور څنګه راضي کړو؟

سوال: په کم عمرۍ کې مې واده وشو،دخاوند قدر رانه ونه شو،هغه سختي کوي،بچې مې هم وشو،يوځل خاوندپه غوسه کې دطلاق اختيار راکړ،خويندې، ورونړه او مورو پلار مې غريبانان وو،دخاوند کور مې مالداره وو،ظاهره ده دخاوند کور نه خوراته پيغورونه ملاويدل، انتقاماً د خاوند کورنه به مې غلا وغيره کوله اوخپلو خويندو ورونړو ته ترقي ورکول له پاره مې ټول عمر کوشش وکړو تردې چې دخپلودوايانو پيسې به مې هم هغوی ته ورکولې،خوکله چې مې دحضرت ډاکټرعبدالحي عارفی (قدس سره) سره اصلاحی تعلق قائم کړ، نودخپلې غلطۍ احساس راته وشو.اوبيامامورته وويل چې تراوسه پورې چې څه وشو غلط وشو،الله تعالی دې مونږ ټول معاف کړي،آينده داسې کول نه دي پکار،ماته څه معلوم و چې دمور محبت محض دمال او دولت په وجه سره دی،ترننه پورې زماهرجائز او ناجائزته رېښتيا ويل اومحبت کونکې مور رويه داسې بدله شوه چې دالله پناه دې وي! اوس خوهغه زماشکل ته کتل

هم نه غواړي، که څه هدیه تحفه ورته لیږم؛ نو واپس کوي يې، دَحج تبرکات مې ورته ولیږل نوهغه يې هم واپس راولیږل، ماټول مصیبتونه برداشت کړل خوداسې غم راته ولیګیدچې بس پاګل خانې ته لا نه رم، خاوندټولې غلطۍ راته معاف کړې، اوس دمرګ هیڅ پته نشته، ډیره پریشانه یم، څه وکړم؟ زماله پاره دعا وکړئ اوعلاج هم راته وښیئ.

جواب: دستاسوپه خط کتلو سره مې زړه ډیر خفه شو، زړه نه دُعا کوم چې الله تعالی تاسو ته صحت اوعافیت اوسکون اواطمینان نصیب کړئ، یوڅوخبرې په خپلې زندګۍ کې شاملې کړئ:

۱: دمحبت او رضا تعلق صرف دالله تعالی دذات سره پکاردې، باقی ټول محبتونه دهغه دحکم تابع دي.

۲: دخپل خاوند او بچیو خدمت ډیرخوش اخلاقي سره کوئ اوپه هغې کې دالله تعالی رضا مخکې ږدئ.

۳: خپلې مور سره داحترام تعلق ساتئ، دهغې په غم اوخوشحالو کې ځان شامل کړئ، اودهغې د خفګان هیڅ پرواه مه کوئ. که هغه درسره تعلق ختموي نوپخپله به ګناهګاره وي، ستاسو دطرف نه خو نه تعلق ختمول پکار دي، نه دهغې په تعلق ختمولوسره پریشان کیدل ،بلکې دهغې له پاره دخیر دعا کوئ.

۴: دمسلمان زړه پریشانه نه دی پکار ،هروخت خوشحاله او تازه پکاردی اوکوم تکلیفونه چې راځي په هغو سره زړه خفه کول نه دي پکار ،بلکهې په هرشي کې دا خیال په ذهن کې ساتل پکاردي چې دَ الله پاک به په دې کې حکمت وي.

داولاد غلط حرکتونه او دهغو منع کول

سوال: زموږ یو زوی دي او شپږ لوڼه، دا د دویشتو(۲۲) کالو زوی د ګاونډي کورته ډیر ځي راځي، موږ دهغه دا تګ راتګ مناسب ونه ګاڼه او زوی موپابندکول وغوښتل؛ نوزوی نه صرف بې ادبي اونافرماني وکړه بلکې زمونږ سره اوسیدل يې هم پریښودل، کله چې مونږ خپل ګاونډي سره ملاؤ شو او هغه ته مو درخواست وکړ چې تاسو زموږ دزوی په خپل کورکې تګ راتګ په خپل طورباندې بند کړئ نودَهغه جواب و چې: "زمابنځه دځلورو بچومورده او ستاسو هلک دَهغې په مخکې ځوان شوی دی، هیڅ دبدۍ اړخ په نظر نه راځي، زماپه خیال دهغه راتګ غلط حرکت نه دی. "موږدهغه توجه په دې خبرې باندې راوستله چې تاسو کارله ځئ او هغه هیڅ کارنه کوي، او ستاسو په غیرموجودګي کې ټول وخت هلته تیروي، ددې په جواب کې يې اوفرمائیل: تاسوهغه منع کړئ، ستاسوپه خیال کې ګناه ده، زه يې نشم منع کولئ. تاسوته زمونږ درخواست دا دی چې تاسوپه خپل کالم کې زموږ سوال اوخپل جواب شائع کړئ، ځکه چې زموږ په خیال کې دا ملاپ دبهرملک لعنت دی چې دهغې نوم "بوائے فرینډ" یا "ګرلزفرینډ" دی، دا وبا په پاکستان کې هم خوریږی، ستاسوپه شرعي جواب سره به

ډيرو ته خير ورسيږي، ډيرمورو پلار به زمونږ پشان تاسو ته دعاګانې وکړي.

جواب: تاسو ډيرښه وکړل چې زوی موديوې غلطې خبرې نه منع کړ اوخپل ګاونډی دې هم خبر کړ. دمغرب نقل نوی نسل په غلط حرکتونوکې اخته کړی دی. فلم، ريډيو، ټي وي، وي سي آر، مخلوط تعليمي ماحول اودښځې او سړي بې باکه ګډون دنوی نسل ژوندتباه کړی دی، ديو محتاط اندازې مطابق دنوی نسل اکثريت په جنسي مرضونو، ضعيف مثانه، دمتيازو په مرضونوکې اخته دی، دنوي نسل دا الميه دحکومت، مورو پلار او د استاذانو ټولو له پاره يوچيلنج دی. نوی نسل د خودکشی نه بچ کولو له پاره څه خيال کول دهغو ټولو فرض دي.[1]

د موراو پلار دخوشالی په خاطر دښځې حق تلفي ناجائزده

سوال: زه تاسونه يوه مسئله معلومول غواړم، هغه دا چې زه دخپل خاوند کوروالو سره اوسيدل نه غواړم. بلکې بيل کورغواړم، مادخپل خاوندنه ډيرځل مطالبه کړې ده خودهغه په نزد زمادخبرو هيڅ اهميت نشته. بلکه زمادبې وسی پورې خندا کوي او وايي چې: "ستاپه سوچ او غوښتلو سره هيڅ نه کيږي. هغه به کيږی څه چې زما مور او پلار وغواړي، تابه پريږدم خوخپل مور او پلار به پرې نږدم، بچي به هم ستانه واخلم" زما خاوند او دخاوند کوروالا تعليم يافته او دين دار خلق دي، اوښه پوهيږی چې بيل کور دښځې شرعي حق دی، او دالله تعالی دنبي پاک ﷺ سنت مبارک دی. ددې باوجود ماته د پريښودو اختار راکوي اوزما سره سخته رويه ساتي. خاوندپه معمولي خبرې باندې زمابې عزتي کوي. غواړم چې خاوند کم ازکم زما کچن پخلنځای بيل کړي او داوسيدو له پاره هم په هغې کورکې مناسب ځای راکړي چې زه په آزادي سره کينم پاسم اودخپلې خوښې مطابق خپل کارکوم، ځکه چې دځوانانو ليورونو په موجودګی کې زه بعضی وخت بالکل يوازې اوسيږم. ماشومان هم سکول ته لاړشي. زه پخپله هم اوس بالکل ځوانه يم اود ليورونو سره داسې بالکل يوازې اوسيدل په ما ډير بدلګيږي، خاوندمې هم داشی ډيربدګڼي، خودهرڅه ليدلو باوجودهم خاموش دی. د دين دار خاوند دخپلې ښځې سره داسې رويه شرعاً درست ده؟ ځکه چې زماخاوندخپل خان په حق باندې ګڼي. بيل کور دښځې جائز او شرعی حق دی دښه پوهيدو باوجود ښځه دخپل شرعي حق نه محرومونکي دين داره خاوند له پاره څه احکامات دي؟ آيا دالله تعالی په نزد دداسې خاوندانوله پاره هيڅ سزا نشته؟ دښځې دخوښې خلاف په زبردستي هغه دخپل مورو پلار سره

---

[1] عن نافع بن عبدالله قال النبي صلى الله عليه وسلم: كلكم راع وكلكم مسئول، فالإمام راع وهوم مسئول، والرجل راع على أهله وهومسئول، والمرأة راعية على بيت زوجها وهي مسئولة ...الخ (بخاري ج: ٢ ص: ٧٧٩، باب قوله: قوا أنفسكم وأهليكم ناراً، ايضاً: مسلم ج: ٢ ص: ١٢٢ كتاب الإمارة) وقال تعالى: يا أيها الذين آمنوا قوا أنفسكم وأهليكم ناراً (التحريم:٦)۔

ساتل آیا شرعاً جائز دي؟ ایا د مور پلار دَخوشالی په خاطر ښځې ته تکلیف ورکول جائز دی؟

جواب: ما په اخبارکې ډیرځله لیکلي دي چې ښځه په یوازې کور کې ساتل (که دهغه کور یوه برخه ولې نه وي. چې په هغه کې دهغې نه پرته دَ بل چا عمل دخل نه وي) دخاوند په ذمه شرعاً واجب دي[۱]، ښځه که پخپله خوښه دخاوند مورو پلار سره اوسیدل غواړي او دهغوی خدمت خپله خوش نصیبي وګڼي نو صحیح ده، خوکه هغه دبیل کور خواهش منده وي؛ نوهغه دې دمورپلارسره په اوسیدو باندې مجبوره نه کړل شي، خاص طورسره کوم صورت حال چې تاسو لیکلی دی چې دَخوانانو لیورونوسره یم، دهغوی سره یوازې اوسیدل شرعاً اوَ اخلاقاً په یوه معنا هم جائز نه دي[۲] دمورپلار دخوشحالی له پاره دښځې حق تلفي جائز نه ده[۳] دقیامت په ورځ به انسان نه دهغه په ذمه چې کوم حقوق دي دهغو مطالبه به ترې کیږي[۴] اوچاچې لږه شان په چا باندې زیاتی کړی وي یا یې حق تلفي کړې وي مظلوم ته به دهغه نه بدله اخیستل کیږي، په ښځه او خاوندکې چې چادیوبل حق خوړلی وي، دهغه بدله به هم اخیستل کیږي، ډیرهغه خلک چې دلته خپل ځان په حق ګڼي، هلته چې لاړشي په هغوی باندې به ښکاره شي چې هغوی په حق باندې نه وو، په خپل خواهش باندې چلیدل دین داري نه ده بلکې دالله تعالی په حکمونو باندې چلیدل دین داري ده.

دصحت او همت باوجود د پلار او الله پاک حقوق نه ادا کول د بدبختی علامه ده

سوال: بې شکه غوره کس هغه دی چې باقاعده عبادت اونیک عمل وکړي، خویوسړی دناروغی له وجې پخپله له عبادتونو نه معذوره دی، خونورو ته دَعبادت تلقین کوي، بلکې پابندي یې جوړوي او ان تردې چې نیک عملونه کوي اوپه خپلوعملونوسره دنورو له پاره خپل

---

[۱] فعليه نفقتها وكسوتها وسكناها (هداية ج:۲ ص: ۴۳۷، باب النفقة)_

[۲] عن عقبة بن عامر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: إياكم والدخول على النساء! فقال رجل من الأنصار: يا رسول الله! أفرأيت الحمو؟ قال: قال الحمو الموت (ترمذی ج: ۱ ص: ۲۲۰، أبواب الرضاع، باب ماجاء فی كراهية الدخول على المغيبات)_

[۳] عن النواس بن سمعان قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة لمخلوق فی معصية الخالق (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۲۱، كتاب الإمارة، الفصل الثانی)

[۴] عن نافع عن ابن عمر عن النبی صلى الله عليه وسلم: ألاكلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته، فالأمير الذی على الناس راع وهو مسئول عن رعيته، والرجل راع على أهل بيته وهومسئول عنهم، والمرأة راعية على بيت بعلها وولده وهی مسئولة عنهم، والعبد راع على مال سيده وهو مسئول عنه، الا فكلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته (صحيح مسلم ج: ۲ ص: ۱۲۲، كتاب الأمارة، باب فضيلة الإمام العادل)_

خان مثالي جوړوي پيش کوي يې چې د هغه نه د متاثره کيدو په وجه خلقو اسلام هم قبول کړ او په نيکو عملونو کې د هغه تقليد هم کوي. دويم سړی هغه دی چې هغه عبادت خوکله ناکله کوي، کله يې لمونځ وکړ،په رمضان کې يې څه روژې ونيولې.قرآن يې وويلو،بغير پوهې،خو نيک عملونه نه کوي،د نورو په گټه خپله او د خپلو بچيو خيته پالي.تردې پورې چې دخور وادہ له پاره يې پيسې هم پخپله خرچ کړې او دواپس کولو کوشش نه کوي،که ته هغه دنيک عمل له پاره په محنت سره رزق گټلو او د ښځې اوبچيو ساتلوله پاره لومړی سړی ووايې نو هغه په دې ويلو انکار کوي چې ته پخپله لمونځ روژه نه نيسې،ماته د نيک عملونو نصيحت کوې.زه يې ولې وکړم؟ په دواړو کسانو کې د پلار زوی رشته ده،واړه نه دي چې په وهلو به يې پوه کړې.د دوو بچو پلار دی په څای پلار له د گټلو راوړلو ألتاخپل اوسيدل او اخراجات او د خپلې ښځې او بچو اخراجات د خپل پلار د بوډاوالي په لړو ډيرو پيسو سره کوي،ستاسو په نظر کې شريعت څه وايي کې کوم صحيح دی؟ پلار يا زوی؟

جواب: د بوډاوالي او بيمارۍ په وجه که يوسړی زيات عبادت نشي کولی.خو که فرض لمونځ ادا کوي او الله تعالی چې کوم حقوق د ده په ذمه ايښي دي،هغه ادا کوي نو داسړی په صحيح لاره بانديې دی، خو د بوډاوالي او معذوري په وجه باندې د فرائضو ترک کول د هغه له پاره هم جائز نه دي،د روژې نيولو که طاقت نه وي نو فديه دې ادا کوي[1]،او د صحت او همت باوجود که زوی د الله تعالی او د هغه د بندگانو حقوق نه اداکوي او د پلار په نصيحت باندې عمل نه کوي دا د هغه د سعادت دليل نه دی بلکې د هغه د بدبختۍ علامه ده،هغه ته پکار دي چې د نيکۍ او خلاصون لاراختيارکړي.د خپل پلار په نصيحب باندې عمل وکړي او په بوډاوالي کې دې د مورو پلارخدمت وکړي او جنت دې وگټي.[2]

منافق مور پلار سره تعلق ختمول

سوال: آيا د منافق مور او پلار سره تغافل او تعلقات ختمول جائز دي؟ اوچې هغوی پخپله هم تعلق ساتل نه غواړي.

جواب: تعلق دې وسره ختم نه کړل شي،د هغوی خدمت دې وکړل شي او د هغوی خدمت دې د خپلې دنيا او آخرت سعادت وگڼل شي.[3]

---

[1] قال تعالى وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين (البقرة:١٨٤)_

[2] قال تعالى وقضى ربك ألا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين إحسانا إما يبلغن عندك الكبر أحدهما أو كلاهما فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما ...إلخ (بنى إسرائيل:٢٣، ٢٤)_

[3] عن أبي الدرداء ان رجلا اتاه .... فقال ابوالدرداء سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الوالد أوسط أبواب الجنة فإن شئت فحافظ على الباب أو ضيع ...[بقيه په راروانه صفحه

❖ د خپلوانو او ګاونډیانو تعلقات ❖

خپلوانو سره مکمل تعلق ختمول

سوال: رشته دارانو سره بالکل نه ملاویدل ګناه ده که نه؟ خپل تره، ترور، دتره زامنو وغیره سره تعلق ختمول جائزدي اوکه نه؟ که ګناه ده نوچې مورپلاردې دهغوی سره ملاویدو نه منع کړي؛ نوآیا دمور و پلار حکم منل ضروري دي؟ اوکه مورو پلار خفه کیږي نوآیاحکم منل ضروري دي؟

جواب: دخپلوداسې رشته دارانوسره مکمل تعلق ختمول جائزنه دی[۱]،که زیات تعلقات ورسره نه ساتئ نوکم ازکم سلام کلام خوبندول نه دي پکار،په دې معامله کې دې دمورپلار اطاعت ونه کړل شي.[۲]

سوال: نن سبا په په نږدې خپلوانو اوخاندان کې په ورو ورو خبروباندې جنګ جګړې کیږي،بیادهغې نه وروسته دیوبل سره خبرې نه کوي،دقرآن اوحدیث په رڼاکې موږ ته دا ووایئ چې یوبل کره تګ راتګ پکاردی اوکه نه؟

جواب: په خپلو خپلوانوکې خوجنګ جګړې دعام معمول خبره ده، خو دخپلو خپلوانوسره مکمل تعلق ختمول شرعاً جائز نه دي،بلکې کبیره ګناه ده.[۳]

که خپلوانوسره غلط طرزعمل وي نود هغوی سره مکمل تعلق ختمول

سوال: د حافظ ------ مطابق" په اسلام کې درشته دارانوسره د صله رحمی حکم دی اوکوم خلک چې صله رحمي نه کوي،هغوی ته ګمراه او فاسقان ویل شوي دي،دصله رحمی مفهوم دادی چې دخپلو رشته دارانوسره دې مکمل تعلق ختم نه کړل شي، بلکې دهریوسره دې ملاقات وکړل شي" ددې نه خودا ظاهریږي چې کوم خلک دځه مجبوري په وجه خپلو خپلوانوسره نه ملاویږي؛ نوهغه فاسقان او ګمراه دی،خوکه خپل خپلوان داسې ماحول

....بقیه د تیرمخ]... (ترمذی ج: ۲ ص: ۱۲، أبواب البروالصلة، باب ماجاء من الفضل فی رضاءالوالدین)۔

[۱] عن عائشة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الرحم شجنة فمن وصلها وصلته ومن قطعها قطعته (بخاری ج: ۲ ص: ۸۸۶)۔

[۲] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ج: ۲ ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة، الفصل الثانی)۔

[۳] عن محمد بن جبیر بن مطعم عن أبیه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لایدخل الجنة قاطع قال سفیان یعنی قاطع رحم (ترمذی ج: ۲ ص: ۱۳، أبواب البروالصلة، باب ماجاء فی صلة الرحم)۔

پیداکړي اوداسې طرزِ عمل اختیارکړي چې دهغوی کره په تګ راتګ سره ذهن باندې ګندګي پیداکیږي او انسان روحاني طورباندې هم تلخي محسوس کړی چې رشته دار هغه ته په خیرراغلې ونه ویل اودغرور اوتکبر مظاهره یې وکړه،که څوک په دې وجه دخپلورشته دارو سره مکمل تعلق ختم کړي: نوهغه ته به فاسق او ګمراه ویل کیږي؟ یادهغه رشته دار به ددې ذمه دار وي؟

جواب: درشته دارانوپه خپلو کې مکمل تعلق ختمول کله خودیوفریق دبې دینۍ په وجه کیږي اوکله دَدُنیاوی مفاداتو په وجه سره،که تعلق ختمول ددین په بنیادباندې وي، نویوازې هغه فریق به ګناهګار وي دچادبې دینۍ له وجې چې تعلق ختم شو،په دې شرط چې دویم رشته دار ددې تعلق ختمولوباوجوددهغوی ضروري حقوق ادا کوي،اوکه دتعلق ختمولوبنیادي وجه څه دُنیاوي تنازعه ده نوپه دواړوکې کوم فریق چې دنورو حقوق په اداکولوکې کوتاهي وکړي، هغه ګناهګاروي اوکه دواړه کوتاهي وکړي نودواړه ګناهګاردي.زموږدشریعت تعلیم دا نه دی چې کوم سړی تاسوسره رشته جوړه وساتي تاسوهم دهغه سره جوړه وساتئ،بلکې دشریعت تعلیم دا دی کوم چې په حدیث کې فرمایل شوي دي "صِل من قطعک" (مسنداحمدج:٤ص:١٥٨) چې کوم سړی تاسوسره رشته ماته کړي اود رشته داری حقوق ادا نه کړي،تاسودهغه سره هم صله رحمي وکړئ اودهغه درشتې حقوق هم ادا کړئ.ګیني دمکمل تعلق ختمولو وبال چې به څنګه په هغه باندې پریوځي،په تاباندې هم پریوځي. دامضمون ډیرتفصیل غواړي،خلاصه دا ده کومه چې مالیکلې ده

آیا دبد کرداره ښځو دپښو لاندې هم جنت وي؟

سوال: عام طورباندې ویل کیږي چې جنت دمور دقدمونو لاندې دی، خوچې کومې بدکرداره ښځې خپل واړه بچي پریږدي او کورونو نه تښتي،دهغوی په باره کې دخدای او درسول پاک ﷺ څه حکم دی؟

او آیا دداسې ښځوپه باره کې هم دا تصورممکن دی چې جنت دهغوی له قدمونولاندې دی؟

جواب: داسې ښځې خودانسان ویلو هم مستحقې نه دي،د"مور" تقدس دوی ته کله نصیب کیداې شي؟ اوچې کومې پخپله ددوزخ خشاک وي،دهغوی دقدمونولاندې به جنت چېرته وي؟ دحدیث مطلب دا دی چې بچیوته پکاردي چې خپلې مورته تکلیف نه رسوي اودهغې بې ادبي نه کوي.

دَ ترور او خورحق د نورو خپلوانو نه ولې زیات دی؟

سوال: دحقوق العباد لاندې دهرسړی په مال او دولت باندې دهغه دخپلو خپلوانو،رشته دارانو، غریبانانو،مسکینانو،مسافرو څه حقوق دي،خوآیاپه رشته داروکې دیورشته دار

(د مورو پلارنه علاوه) څه خاص حقوق شته ؟زموږ په کورکې دا ګڼل کيږي چې دخور او ترور لږ زيات حقوق دي.

جواب: دخور او ترور حق څکه زيات ګڼل کيږي چې دپلار په جائيدادکې هغوی ته برخه نه ورکول کيږي، بلکې ورونه يې غصبوي.ګيني هغوی ته دپوره برخې ورکولو نه وروسته دهغوی ترجيحي حق باقي نه پاتې کيږي.

رشته دار دښمن ګڼونکي سره تعلقات نه ساتل څنګه دي؟

سوال: زموږ ډير نژدې رشته دار موږ سره تعلق قائمول نه غواړي،او مونږدهغه پرورش هم کړی،هغه موږ وساته غټ موکړ،خو اوس هغه زموږ يواحسان هم نه مني،صرف دا نه، بلکې موږ خپل دشمنان هم ګڼي،مونږ سره حسدکوي،په موږباندې بې بنياده الزامونه لګوي. خود حضور پاک ﷺ ارشاد مبارک دی:"عن جبير بن مطعم قال:قال رسول الله ﷺ:لايدخل الجنة قاطع.متفق عليه"(مشکوة ص:۴۱۹) يعني تعلقات ختموونکي به جنت کې نه داخليږي."په دې حالاتوکې زموږ له پاره دهغه سره تعلق ساتل سخت خطرناک دي؛ څکه چې هغه ګاونډيانو سره هم زمونږ غيبت کوي،نوآياموږبه دوزخيان يو؟ اودتعلق ختمولوپه وجه به الله پاک زمونږ نه ناراضه وي؟ په دې حالاتوکې تاسوموږ ته ووايئ چې مونږ څه طريقه اختيارکړو؟ آيادابه بهتره نه وي چې موږ هم ورسره مکمل تعلق ختم کړو:څکه چې په معمولي ملاقات کې هم هغه په موږ باندې قسم قسم د دروغوخبرې راوباسي اوزموږ دبدنامولو مکمل کوشش کوي.

جواب: زيات تعلق دې ورسره ونه ساتل شي،خوکه په مخه درته راشي؛ نوسلام دې ورته وکړل شي،که بيمارشي نوپوښتنه دې وکړل شي،که مړشي نوپه جنازه کې دې شرکت وکړل شي[1]،په دې صورت کې به په تاسودمکمل تعلق ختمولو ګناه نه وي،اوکه سلام کلام ورسره بالکل بندکړل شي نودمکمل تعلق ختمولو ګناه به ستاسوهم وي.[2]

دموراو پلارپه منع کولو رشته داروسره تعلقات کمول

سوال: که موريلاردې درشته دارو سره دملاويدو نه منع کړی اوچې څه جنګ جګړه هم نه وي شوې نواياپه داسې حالت کې دمور او پلار حکم منل پکاردي او صله رحمی ترک کول پکار

---

[1] حق المسلم على المسلم خمس: ردّالسلام، وعيادة المريض، وإتباع الجنائز، وإجابة الدعوة، وتشميت العاطس (مشكوة ص: ۱۳۳، باب عيادة المريض) وصلة الرحم واجبة ولو كانت بسلام وتحية وهدية ومعاونة ومجالسة ...إلخ (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٤١١، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)۔

[2] عن محمد بن جبير بن مطعم عن أبيه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة قاطع متفق عليه (مشكوة ص: ٤١٩، باب البروالصلة، الفصل الأوّل)۔

دي؟ د قرآن او حديث په رڼا کې جواب را کړئ!
جواب: د صله رحمي قطع کول حرام دي، په حديث کې دي: "**عن جبير بن مطعم رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة قاطع. متفق عليه.**" (مشكوة ص:۴۱۹).
ترجمه: "صله رحمي (مکمل) قطع کونکی به جنت ته نه داخلیږي".
اوپه ناجائز کارکې د مورپلار اطاعت نشته[1]، خوکه مورپلار د څه مصلحت په وجه باندې زیات ملاویدلو نه منع وکړي ؛نو صحیح ده.

خپلوانو سره مکمل تعلق ختمول جائز نه دي

سوال: مسئله دا ده چې زموږ د کور او د دریې څلورو نورو خاندانو خپلوانو سره په څه خبره تګ راتګ بند شوی دی، بل طرف ته د مورو پلار د نافرمانۍ خبره هم ده، زه د الله تعالی د ویرې له وجې نه دا غواړم چې د خپلوانو سره مکمل تعلق ختمولو ګناه دې په ما نه وي، زه د مور نه ددې اجازه غواړم ځکه چې هغه هم خفه کول نه غواړم، نو هغه وايي چې: "د تګ راتګ نه وروسته به بیا په څه خبره باندې خفګان راشي. "ددې نه علاوه دریې څلور نورو خاندانونو چې د هغوی سره بائیکاټ کړی دی هغه هم وايي چې: "که تا د هغو رشته دارانو سره تګ راتګ زیات کړ؛ نو موږ بیا به تا سره نه ملاویږو". نو مولانا صاحب! زه غواړم چې څه خفګان هم نه وي او د هغو خپلوانو سره دوباره تعلق هم قائم شي.
جواب: د خپلو خپلوانو سره مکمل تعلق ختمول حرام دي، په حدیث کې دي چې تعلق ختمونکي به جنت ته نه ځي[2]، که د چا سره زیات تعلق نه ساتې نو هغه هیڅ خبره نه ده، خو داسې تعلق ختمول چې د هغه په جنازه کې هم شرکت ونه کړې او چې بیمارشی نو پوښتنه یې هم ونه کړې. دا جائز نه دي[3].

د صله رحمی قطع کولو ګناه به چا با ندې وي؟

سوال: ما یو حدیث کې لوستلي و، چې چا د خپل مسلمان ورور سره د یوکال پورې تعلق ختم کړ، دا د سې ده لکه هغه چې قتل کړي، عرض دادی که چرې یو کس چا سره زیاتی وکړي

---

[1] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق (مشكوة ج: ۲ ص: ۳۲۱، كتاب الإمارة، الفصل الثاني)_

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة قاطع (ترمذى ج: ۲ ص: ۱۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في صلة الرحم)_

[3] حق المسلم على المسلم خمس: ردّالسلام، وعيادة المريض، وإتباع الجنائز ...إلخ (مشكوة ص: ۱۳۳، باب عيادة المريض وثواب المريض)_

نو دا حديث به کوم کس باندې وي، که چرې معلوم وي نو هغه دې مخکې خبرې وکړي يا چا سره چې زياتی شوی وي؟ ايا د ګناه به دواړو باندې وي؟

جواب: دا حديث صحيح دی.(مشکوة شريف کې په ص ۴۲۸ باندې د ابوداود په حواله باندې نقل شوی دی، د ابوداود نه علاوه مسند احمد او مستدرک حاکم کې هم دی.)

عن ابي خراش السلمي رضي الله عنه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من هجر اخاه سنة فهو كسفك دمه.

رواه ابوداؤد(مشكوة ص٤٢٨)

ترجمه: حضرت ابی خراش رضي الله عنه روايت کوي چې هغوی د حضور صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې: کوم کس چې خپل مسلمان رورسره ديو کال له پاره تعلق ختم کړ، نو لکه هغه هغه قتل کړي.

د دې حديث مقصد د تعلق د ختمولو ګناه نه خلک ويرول دي، چې دا دومره سخته ګناه ده، لکه څوک قتلول.

۲: د دوو کسانو په مينځ کې خفګان هغه وخت پيدا کيږي کله چې يو بل سره زياتی وکړي، او کوم کس سره چې زياتې شوی وي، نو ښکاره خبره ده چې شرعي حدودو کې او سيدو سره هغه ته بدلې اخيستلو حق حاصل دی(د بدې حيثيت د عالمانو مخې ته ايښودو سره د هغوی نه پوښتنه کول پکار دي چې دا جائز دی او که نه؟) او طبعي طور باندې خفګان هم لازم دی، خو شريعت د دريو ورځونه پس د داسې خفګان ساتلو اجازه نه ده ورکړې، چې هغه کې خبرې اترې او سلام هم بندوي.[1]

۳: د کومو دوه کسانو يا ورونو په مينځ کې چې اختلاف وي، هغوی ته پکار ده چې درې ورځونه پس خپل خفګان ختم کړي، او کوم کس چې د دې خفګان ختمولو کې مخکې شي هغه ډير زيات اجر مستحق دی.

۴: او کوم کس چې خپل ورور باندې زياتی کړی وي، هغه دې د خپل ورور نه معافي وغواړي، او که چرې د هغه تاوان ور کول کيدای شي؛ نو تاوان دې ورکړي.

۵: که څوک ظالم وي او خپل ظلم نه پريږدي؛ نو هغه سره ډير تعلق مه ساتئ، خو تعلق ورسرې داسې مه ختموئ چې سلام کلام هم ورسره بند کړئ. او د مرې ژوندي له پاره هم نه ورځئ، بلکه د کوم حد پورې چې ممکن وي د هغه شرعي حقونه اداکوئ.

---

[1] عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايحل لمؤمن ان يهجر مؤمنا فوق ثلاث، فان مرّت به ثلاث فليلقه فليسلم عليه فان ردّ عليه السلام فقد اشتركا في الاجر وان لم يردّ عليه فقد باء بالاثم وخرج المسلم من الهجرة. رواه ابوداؤد (مشكوة شريف ج٢ ص٤٢٨، باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع...الخ

۶: تعلق ختمول که چرې د دنیا د خفګان په وجه باندې وي: نو څنګه چې پورته بیان شوي دي، کبیره ګناه ده. خو که چرې هغه سړی بې دینه او ګمراه وي: نو د دین له پاره ورسره تعلق ختمول نه یوازې جائز، بلکې کله کله ضروري هم وي.

❖ د ګاونډي حقوق ❖

سوال: ایا د اسلام په رڼا کې جائز دي چې زمونږ کور دې رڼا وي په بلبونو سره او زمونږ ګاونډی دې په تیاره کې وي، د څه په وجه بلب نشي لګولی؟ نو آیا مونږ د هغه مدد نشو کولی؟ او د حضور پاک ﷺ پخپله ارشاد مبارک دی: "هغه مسلمان، مسلمان نه دی چې د هغه ګاونډی وږی وي او پخپله یې په مړه ګیډه وخوري" آخر دا هم یوه مسئله ده.

جواب: ستاسو سوچ بالکل صحیح دی، که چاته الله تعالی توفیق ورکړی وي: نو ګاونډیانو ته هم فائده رسول پکار دي، نو که ستاسو د ګاونډي په کور کې بجلی نه وي، تاسو د بجلی په کنکشن لګولو کې د هغه سره مدد وکړئ، او تر څو پورې چې ورته کنکشن نه ملاویږي تر هغې ورته د خپل کور نه رڼا ورکړئ![1]

د سندرو ویونکي ګاونډي د کور خوراک خوړل

سوال: د ذکریا په محله کې ورسره په ګاونډ کې داسې خلک اوسیږي چې د هغوی پیشه ګداګانې، سندرې ویل او بدکاري ده، خو دا پیشه په محله کې نه، بلکې په نورځایونو کې کوي، د محلې والو سره په ښه اخلاقو سره پیش کیږي، نو په داسې حالت کې محلې والا د طوائفو د خاندان سره تعلق ساتل جائز دي او که نه؟ د هغوی د کور نه راتلونکی خوراک قبلول څنګه دي؟ او د محلې والو ته څه فرائض کول پکار دي؟

جواب: د حرامې ګټې خوړل څښل جائز نه دي[2]، محلې والو ته پکار دي چې د خپل حد پورې هغوی ته دې د ګناه پرېښودلو ووایي، او که هغوی هغه کاروبار نه پرېږدي: نو د هغوی سره

---

[1] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم: من نفس عن مسلم كربة من كرب الدنيا نفس الله عنه كربة من كرب يوم القيامة، ومن يسر على معسر يسرالله عليه في الدنيا والآخرة ...إلخ (سنن أبي داؤد ج: ۲ ص: ۳۲۰، باب في المعونة للمسلم) أيضًا: عن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خيرالأصحاب عندالله خيرهم لصاحبه. وخيرالجيران عندالله خيرهم لجاره رواه الترمذي والدارمي (مشكوة ص: ۴۲۴_

[2] عن أبي بكر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايدخل الجنة جسد غذي بالحرام رواه البيهقي في شعب الإيمان وعن ابن عمر قال: من اشترى ثوبًا بعشرة دراهم وفيه درهم حرام لم يقبل الله تعالى له صلوةً مادام عليه ...إلخ (مشكوة ص: ۲۴۳، باب الكسب وطلب الحلال)_

زیات تعلقات مه ساتئ،مه د هغوی دعوت ته ورځئ.[1]

تکلیف رسونکي ګاونډي سره څنګه سلوک وشي؟

سوال: دسید خاندان یو صاحب دلسو(۱۰) کلونه زما په ګاونډ کې اوسیږي او سرکاري عهدې زمونږ ددواړو برابرې دي،خوهغه هروخت یونه یوکس دپریشان کولو تدبیرونه جوړوي،په مختلف انداز سره ذهني تکلیف رسوي،کله بچي ووهي کله به څه بهتان ولګوي. غرض دا چې شیطاني حرکتونه کوي.الله تعالی حاضرو ناظر ګڼم وایم چې ما د هغه سره دهرقسمه تعلق جوړولو کوشش وکړ.خوهغه دچرګ یوه پښه! دهغه اولاد.دهغه ښځه وهغه پخپله دحراموبې پناه دولت ګټلو په وجه په غرور کې اوسیږي.تاسو ووایئ چې اسلام داسې ګاونډیانو سره دکوم قسم سلوک ساتلو تلقین کوي؟

جواب: دخپل طرف نه دې هغوی ته هیڅ قسمه نقصان ورنه کړل شي اودهغوی په تکلیفونو رسولو باندې دې صبر وشي.دکوم صاحب چې تاسو تذکره کړې ده،که هغه واقعی سید و، نودهغه اخلاق به دحضورپاک ﷺ مطابق و،په حدیث کې یې داسې خلک کوم چې ګاونډیانو ته تکلیفونه رسوي، دمؤمن صفت نه خارج ګرځولي دي.

"عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ :والله ! لايؤمن،والله! لايؤمن،والله! لايؤمن .قيل: من يارسول الله؟ قال: الذی لايؤمن جاره بوائقه.رواه مسلم."(مشكوة ص:۴۲۲).

ترجمه: "په الله قسم!مؤمن به نه وي،په الله قسم! مؤمن به نه وي،په الله قسم! مؤمن به نه وي.عرض وشو:څوک؟ یارسول الله! ویې فرمایل:هغه سړی چې دهغه ګاونډی دهغه دشرارتونو نه محفوظ نه وي.

له حلالې پرته مطلقه ښځه کور کې ساتونکي سره تعلقات ساتل

سوال: زمونږ په کلي کې یو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه،لس طلاقه، سل طلاقه په الفاظ سره طلاق ورکړ،ټولوعلماء او مفتیانو فتوا ورکړه چې له حلالې پرته دویمه نکاح جائزنه ده،څه وخت تیریدو نه پس هلک او انجیلۍ یوپیرصاحب ته لاړل،شائدچې هلته په تلویې بیان بدل کړی وي.دطلاق الفاظ یې بدل کړل،پیرصاحب ددوهمې نکاح فتوا ورکړه،یعنې طلاق بائن یې ورته وویلو.نوهغوی نکاح وکړه،په دې باندې مونږخلکودانجیلۍ اوهلک والو سره تعلقات ختم کړل، اودهغوی واده مو په غم کې پرینښود، خو نور کلیوال وایي چې هغوی د پیرصاحب په فتوا باندې عمل کړی دی،څکه هغوی خې.

---

[1] لا يجيب دعوة الفاسق المعلن انه غير راض بفسقه (عالمگیری ج: ۵ ص: ۳۴۳، کتاب الکراهية)_

جواب: داخو ظاهره ده چې داطلاق مغلظه و، چې دهغه نه وروسته له شرعي حلالې پرته نکاح جائزنه ده[1]، دپیرصاحب په مخکې یې که غلط صورت پیش کړی وي او نکاح یې کړې وي نو پیرصاحب خو گناهگار نه دی، خو فتوا یې غلطه ده، او په هغې سره حرام شی حلال کیدای نه شي، بلکې دا دواړه مجرمان دي، دهغوی سره مکمل تعلق ختمول شرعاً صحیح دي[2]، او کوم خلک چې په دې جرم کې شریک دي، هغه ټول گناهگار دي، دټولو همدا حکم دی.[3]

دخپلوۍ دجوړیدو په خیال دگناه او منکراتو په محفل کې شریکیدل

سوال: زما تعلق دمیمن خاندان دیوجماعت سره دی، زموږ دجماعت یوه منظمه کمیټي ده، چې هغه هرکال سالانه جلسه "تقسیم انعامات" په نوم سره جوړوي، په هغې جلسه کې ډیرو نمبرو اخیستونکي طلباء او طالباتو په مینځ کې انعامات تقسیمیږي، داجلسه دښځو او سړیو مخلوطه جلسه وي او انعامات حاصل کولو له پاره طالب علمانې په ستیج باندې راځي، دې نه علاوه داچې دپروگرام دلچسپ جوړولو له پاره نغمې او میوزک هم په دې پروگرام کې شاملوي، او دهغه ټول پروگرام فلم هم جوړیږي، اسلامی نقطهٔ نظر سره خودا پروگرام قطعاً جائزنه دی، خو زموږ دیو ځوملگرو خیال دی چې په برادرۍ کې اتفاق ساتلو له پاره په دې پروگرام کې شریکیدل پکار دي، الله تعالی دې تاسوته دخیر بدله درکړي، تاسو دقرآن او حدیث په رڼاکې موږته دا ووایئ چې په برادرۍ کې داتفاق راوستلو له پاره په پروگرام کې شرکت کولی شو؟ که په دې پروگرام کې شرکت جائزنه دی او ددې باوجود که یو سړی په دې پروگرام کې شرکت کوي نو دهغه داگناه به انفرادي وي یا اجتماعي؟.

جواب: په کوم محفل کې چې دگناهونو ارتکاب کیږي په هغه کې شرکت کول حرام دي، او حرام شی دجوړ په خاطرنه حلالیږي، بلکې دالله تعالی دغضب ذریعه جوړیږي، او الله تعالی په داسې جوړ کې توړ پیدا کوي کوم چې دمحرماتو په ارتکاب باندې قائم شي. په مشکوٰة شریف (ص:۴۳۵) کې دترمذي شریف په حوالې سره داحدیث نقل شوی دی: **عن معاویة رضی الله عنه انه کتب الی عائشة رضی الله عنها: ان اکتبی الی کتابا توصینی فیه ولاتکثری، فکتبت: سلام علیک امابعد فانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من التمس رضی الله بسخط الناس کفاه الله مونة الناس ومن التمس رضی الناس بسخط الله وکله الله الی الناس، والسلام علیک. رواه الترمذی.** "(مشکوٰة ص:۴۳۵).

---

[1] قال تعالی: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ (البقرة: ۲۳۰)۔

[2] قال الخطابي: رخص للمسلم أن يغضب علا أخيه ثلاث ليال لقتله ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران فى حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذالك (مرقاة شرح مشكوة ج: ٤ ص: ٧١٦)۔

[3] قال تعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (المائدة:۲)۔

ترجمه: حضرت معاویه رضي الله عنه دام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها په خدمت کې ولیکل چې: ماته یومختصرشان نصیحت راولیږئ؛ په جواب کې حضرت ام المؤمنین رضي الله عنها ولیکل: السلام علیکم، امابعد! مادرسول الله ﷺ نه دا ارشاد اوریدلی دی چې کوم سړی دانسانانو دخفگان سره دالله تعالی خوشالي تلاش کړي، الله پاک به دخلکودشرنه دهغه کفایت وکړي، اوکوم سړی چې الله تعالی ناراضه کړي اودخلکو خوشالي حاصله کړی، الله تعالی هغه دخلکو په حواله کوي (اودخپل نصرت او حمایت لاس ورڅخه اخلي).

غیبت اوحقیقت واقعه

سوال: عرض دادی چې دغیبت په باره کې راته مسئله بیان کړئ؟ مثلاً: یومولاناصاحب یوه مسئله بیان کړه چې یوه ښځه حضرت عائشه رضي الله عنها ته راغله چې قد یې ډیروړوکی و، دهغې دتلونه وروسته حضور ﷺ ته حضرت عائشه رضي الله عنها وفرمایل چې: حضور! ددې ښځې قد ډېر وړوکی و. حضور ﷺ ورته وفرمایل: اې عائشه! داخبره غیبت شوه، حضرت عائشه وویل چې حضور! داخبره په هغې کې موجوده، هماغه ماوکړه، حضور ﷺ ورته وفرمایل: خوهمدغه غیبت دی، که په دې کې داخبره نه وی؛ نوبیا به دا بهتان وای.
مثلاً: ماته له یوصاحب نه پیسې اخیستل دي، که هغه پیسې نه راکوي اومادهغه وروړته اوویل چې ده ته ووایه چې ماته پیسې راکړي نوایاداغیبت شو؟ دویمه مسئله داده چې زما خوریی مسقط ته تللی و، په واپسي کې ماکره رانغی اوسید لاهورته لاړ، ماخپلې خورته ددې گیله وکړه نوایاداغیبت شو؟
جواب: داغیبت نه دی.[1] والله اعلم!

حقوق العباد

سوال: مونږچې کوم اپارتمان کې اوسیږو هغه کې یونیم سل فلیټونه دي، هغه کې د څوکیدارۍ دنظام، د اوبو درسولواوصفایۍ له پاره هریوفلیټ والادوه سوه روپۍ میاشت ورکوي، چې دغه سهولتونه هریوفلیټ والاته ملاوشي، څه خلک په کې یوه پیسه هم نه ورکوي، خود ټولو سهولیاتو نه گټه پورته کوي، مولاناصاحب! ایا شرعي اعتبارسره دحرام خوري نه ده؟
جواب: دادحقوق العبادمسئله ده، کله چې داجتماعي سهولتونونه ټول فائده اخلي نودهغو واجبات اداکول هم په ټولوباندې لازم دي، په دې کې که چرې څه خلق واجبات نه اداکوي،

---

[1] وكذا لا إثم عليه لو ذكر مساوى اخيه على وجه الإهتمام لا يكون غيبة إنما الغيبة أن يذكر على وجه الغضب يريد السب (الدرالمختار ج: ٦ ص: ٤٠٨، كتاب الحظروالإباحة، فصل في البيع).

هغوی د نورو خلکو حق خوري، کوم چې بالکل حرام دی او د قیامت په ورځ به د دې بدله ورکوي، حدیث شریف کې دي چې حضور ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه پوښتنه وکړه چې تاسو ته پته ده چې مفلس څوک دی؟ عرض وشو، موږ خو مفلس هغه کس ته وایو، کوم سره چې پیسې وغیره نه وي، حضور ﷺ وفرمایل، زما امت کې مفلس کس هغه دی چې د قیامت په ورځ باندې لمونځ، روژه، زکات وغیره راوړي، خو داسې حالت کې راشي چې فلانکي کس ته یې بد رد ویلي وي، فلانکي باندې یې تهمت تړلی وي، د فلانکي مال یې ناحق خوړلی وي، فلانکې یې قتل کړی وي. فلانکی یې وهلی وي. د هغه نیکۍ به د ې خلکوته ورکړل شي، که چرې نیکۍ ختمې شي او د خلکو حقوق ادانه شي؛ نو د حقوقو په مقدار کې د هغو خلکو ګناهونه به ده ته ورکړل شي او دوزخ ته به وغورځول شي. (نعوذ بالله) (مشکوٰة ص ۴۳۵) په دې وجه باندې مسلمان ته پکار دي چې د قیامت په ورځ کله چې د الله تعالی دربار ته حاضر شي؛ نو د خلکو د حقوقو (مال، دولت، عزت او عصمت باره) کې د هغه په ذمه څه نه وي، ګني ډیره سخته معامله ده.

❖ سړي او ښځې سره متعلق مسئلې ❖

په ښځې تهمت لګونکي او وهونکي تعلیم یافته پاګل په باره کې شرعي حکم

سوال: یو سړی تعلیم یافته دی، په اسلامیاتو کې یې (ایم اې) کړې ده، د ښځې هیڅ عزت نه کوي. په ښځې باندې قسم قسم الزامونه لګوي، په هر کار کې نقص راوباسي، د هر نقصان ذمه داره ښځه ګڼي، ګنده ګنده کنځلې ورته کوي، د ښځې په پاکه لمن الزامونه لګوي، د ښځې درشته دارانو په پاکه لمن الزامونه لګوي، ښځه د خپلو رشته دارانو کورتلو ته نه پریږدي، د ښځې زړه که غواړي چې هغه د خپل مورو پلار کره لاړه شي؛ نو دویرې له وجې اجازه نه شي غوښتې، ځکه چې خاوند د هغې د کوروالا نوم اوریدو سره داور په شان غوسه کیږي، او په چیغو چیغو د هغې کوروالا ته ګنده ګنده کنځلې کوي، ښځه غریبه په میاشتو میاشتو د خپل کوروالا شکل صورت لیدو پسې ژړیږي، بې وسه ده، چې کله ورته زیات یادیږي نو په پټه پټه ژاړي، او صبراوشکرسره خاموشه شي، د ښځې کوروالا یې که راوغواړي نو (خاوند چې شکی مزاجه دی) په ښځه او د هغې په کور والا ګنده ګنده الزامونه لګوي، وایي چې "تا وغواړي ستا مورپلار په تا باندې ګنده کاروبار کوي او پیسې پخپله خوري" په خبره خبره باندې کنځلې کول، د هغې په پاکوالي باندې الزام لګول، په زیات غوسه کیدو سره د هغې په مخ باندې د وهلو باران کول، د کورنه د ویستلو اختیار ورکول، د خاوند په نزد د ښځې حق ډودۍ، جامه او کورنه زیاته نشته، کله چې د خاوند غوسه ختمه شي نو هغه د ښځې نه مافي غواړي چې "ما په غوسه کې کوم څه کړي، ته یې راته معاف کړه" ښځه غریبه یې مجبوره شي معاف یې کړي

دلړې مودې خبره ده چې خاوند خپلې ښځې ته کنځلې وکړي او د ډیروسړیونو مونه یې واخیستل دهغې په پاکه لمن یې الزامونه ولګول.تردې پورې چې د ښځې د خوریونو او خورځو پورې د الزامونو نه منع نشو.دهغې د موریلار په کوروالا باندې یې هم ګنده ګنده الزامونه ولګول. درې ځلور ورځې یې ښځې ته وویل "ما معاف کړه" ښځې وویل چې: اوس خودې زه کله هم نه معاف کوم. ځکه چې تاسو هرځل د معافي غوښتلو نه وروسته هم داسې کوې:خو خاوند بار بار معافي غوښتله او هغه تردې وعده وکړه چې:"اوګوره زه دکعبه طرف ته لاس اوچتوم تاسره حلفیه وعده کوم چې آینده به زه کله هم په تا او ستاسو کور والو باندې هیڅ قسمه الزام نه لګوم" ښځې معاف کړ.خو اوس له دهغې معافۍ په مشکل سره دوه میاشتې هم نه وې تیرې شوې چې خاوند صاحب یې بیا وعده هیره کړه او بیا خپل پخوانې عادت باندې راغی،اوس یې خو ښځه بالکل نه معاف کوي.خاوند چې کله هم دهغې په پاک والي باندې الزام لګوی نو ښځه ځلور ځله د آسمان طرف نه ګوته اوچته کړي او د ځلور وګواهانو د طرف نه الله تعالی ګواه جوړوي او په پنځم ځل الله خپل ګواه جوړوي او په خپل پاک والي باندې د الزام لګولو بدله په الله تعالی باندې پرېږدي،ځکه چې وايي چې د ښځې په پاک والي باندې الزام لګولو په بدله کې الله تعالی په الزام لګولو والو باندې داتیا (۸۰) درو سزا ایښې ده،اوس ښځه د خپل خاوند هره خبره په صبر او شکر سره اوري،او خاموشه وي او الله تعالی ته وايي چې:"اې الله! یوازې ته په انصاف سره زما د تېرولو حق تلفیو بدله په دنیا او آخرت کې واخلې"مولانا صاحب! د اسلام لور آیا دومره کم تره او کمزورې ده چې هغه دیوسړي له پاره دالله او دهغه د رسول ﷺ په نوم باندې حلال شوې وي او هغه سړی چې څنګه غواړي په هغې باندې دې الزام لګوي او دهغې کوروالا کمزوري ګڼل او هغوی ته داویل چې ما دهغوی لور واده کړې راوړې ده ځکه زما عزت او رتبه زیاته ده،اولور او دهغې کوروالا د سړي نه کمتر دي،دهغوی هیڅ عزت نشته،دهغوی په مخکې چې څه یې زړه وغواړي ورته وايي.آیا اسلام د لور کوروالا دومره کمزوري جوړ کړي دي(نعوذبالله) چې هغه د رسول پاک ﷺ سنّت ادا کړي او یوه لور دالله او دهغه د رسول ﷺ په نوم باندې دیوسړي له پاره حلاله کړي او بیا دلور والا او لور تېرول عمر دهغوی په مخکې ښکته کیږي؟ آیا ښځه (خاص کر په خوله) په زور سره وهل دهغې د خولې او پوزې نه دویني راؤباسلو اجازت شته؟ او چې ښځه الله تعالی حاضر او ناظر ګڼي خپل ټول فرائض په ایمان دارۍ سره اداکوي،او هغه د خاوند د اجازت نه بغیر د کور نه بهر هم نه ځي،آیا د اسې خاوند عبادت قبلیږي؟ آیا د قیامت په ورځ به الله تعالی ایماندارې ښځې ته دهغې د خاوند نه ټول حقوق واخلي چې په دنیا کې هغې ته نه وي ملاو شوي؟ ځکه چې اوس داویي چې اوس څه خو د قیامت په ورځ به حساب کیږي،چې هغه به دالله تعالی په لاس کیږي.

جواب: د دې سړي چې کوم حالات تاسو لیکلي دي،دهغه د نفسیاتي مطالعې نه معلومیږي چې دا سړی "تعلیم یافته پاګل" دی،کنځلې کول،تهمتونه لګول،وهل کول،د وعدو مخالفت کول،

او قسمونه خوړل او ماتول، د يو نيک سړي کارنشي کېدای، يو سړی که په يو نيک انسان باندې د بدکارۍ الزام ولګوي او په هغه باندې څلور ګواهان پيش نه کړي، د هغه سزا قرآن کريم اتيا (۸۰) دُرې اينبې ده[1]، او حضور پاک ﷺ دا د ټولونه په غټو کبيره ګناهونو کې شميرلې دی[2]، او کوم سړی چې پخپله ښځه باندې تهمت ولګوي، ښځه د هغه خلاف په عدالت کې دلعان دعوه کولی شي، د نکاح ختمولو دعوی کولی شي، چې د هغې تفصيل دلته ذکر کول ضروري نه دي، او س که چرې تاسو خپله معامله د قيامت ورځې ته پريږدئ نو الله تعالی به د قيامت په ورځ تاسو ته د دې ټولو زيات و بدله درکړي، او که چرې تاسو په دنيا کې د هغه خلاف کارروايي کول غواړئ نو تاسو به عدالت ته رجوع کوئ ځکه چې مظلومو خلکو ته حقوق ورکول د عدالت فرض دي، د دې نه علاوه تاسو دا هم کولی شئ چې دوه څلور شريفان سړي به په مينځ کې واچوئ او د هغه نه طلاق واخلئ او په يو بل ځای کې نکاح وکړئ او ښه ژوند تير کړئ، بهرحال د دې پاګل کار اسلام طرف ته منسوبول او دا ويل چې "د اسلام لور آيا دومره کمزورې او کمتره ده" بالکل غلط دي، د اسلام تعليم خو هغه دی کوم چې حضور پاک ﷺ په خپل ارشاد مبارک کې فرمايلې دی: "**خيركم خيركم لاهله وانا خيركم لاهلي**". (مشكوة ص: ۲۸۱ ترجمه).

ترجمه: "په تاسو کې د ټولونه ښه هغه دی څوک چې د خپل کوروالا له پاره ښه وي، او زه د خپل کوروالا له پاره تاسو ټولونه زيات ښه يم."

د ښځې د اخراجاتو ذمه داري سړي باندې ده

سوال: آيا اسلام ښځو ته د دې خبرې اجازه ورکوي چې هغه دې په دفترونو کې د سړيو سره اوږه په اوږه کار وکړي؟ حالانکې اسلام وايي چې د هغوی اصل کار کور کې دی، چې هلته دوی او سيږي او خپلې ذمه دارۍ دې پوره کړي، آخر دا خبره تر کوم حده پورې صحيح ده؟

جواب: د کټې راوړلو ذمه داري اسلام په سړی باندې اينبې ده[3]، ښځې په دې بوج اوچتولو باندې خپل ځان له پاره پخپله مشکلات پيدا کوي، په اسلام کې د کټې له پاره د بې پردې کېدو اجازه نشته.[4]

---

[1] قال تعالى: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً (النور: ٤)۔

[2] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إجتنبوا السبع الموبقات! قالوا: يارسول الله! وماهن؟ قال: الشرك بالله والسحر وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق وأكل الربا وأكل مال اليتيم والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات متفق عليه (مشكوة ص: ١٧ باب الكبائر)۔

[3] قوله تجب النفقة للزوجة على زوجها ولكسوة بقدرحالها أى الطعام والشراب بقرينة عطف الكسوة والسكنى عليها والأصل فى ذالك قوله تعالى: لِيُنْفِقْ ذُوسَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ ..إلخ (البحرالرائق ج: ٤ ص: ١٨٨ باب النفقة، طبع دار المعرفة)

[4] قال تعالى: وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى...إلخ (الأحزاب: ٣٣)... [بقيه په راروانه صفحه

د ښځو له پاره کاروبار

سوال: د (۱۹۹۲م) دجنوري په شلم تاریخ باندې روزنامه جنګ کې یوې محترمې دکراچۍ د سټاک ایکسچینج دنویو منتخب شویو عهدهدارانوداستقبال کولوتقریب کې په خپل تقریرکې دسورت النساء دایت نمبر ۳۱ حواله ورکولوسره وویل چې ښځه کومه ګټه کوي هغه دهغې برخه ده اوسړی چې کومه ګټه کوي هغه دهغه برخه ده، پس ښځوته دکاروبارکولواجازت شته. اودقران مجیددې ایت ترجمه داده چې: دسړیوله پاره دهغوی دعملونوحصه ثابت ده اود ښځو له پاره دهغوی دعملونو حصه ثابت ده، دقران مجیددترجمې نه داکله ثابتیږي چې ښځې ښکاره طور باندې کاروبارکولی شي،اودهرکس په شان ښځوته به هم دهغوی داعمالوحصه ملاویږی او سړیو ته به هم دهغوی اعمالو حصه ملاویږي، نومحترمې ترې نه دکاروبارمفهوم څنګه اخیستی دی؟ دې نه مخکې یومولانا صاحب هم دمرحوم جنرل محمدضیاء الحق صاحب دریفرنډم(ټول پوښتنې) په زمانه کې په خپل خطاب همدغه شان ترجمه کړې وه،اوهغه مرحوم د مجلس شوری ممبرمنتخب کړی و، ځکه چې مرحوم هم په هغه زمانه کې په پاک پټن کې ښځو ته تقریرکولووخت کې همدا ترجمه کړې وه،چې ښځې کاروبار کولی شي، اودهغه د تاییدپه وجه باندې مولانامحترم ته دمجلس شوری ممبرجوړ شو،تاسوته خواست دی که چرې د پورته ذکرشوي ایت مبارک صحیح ترجمه چاپ کړئ نو مسلمان امت به دنوې جګړې نه بچ کړئ.

جواب: دلته دوه جداجدامسئلې دي، لومړی داچې دښځوله پاره دګټې کولوڅه حکم دی؟ مادې مسئلې وضاحت مخکې هم کړی دی چې اسلام بنیادی طورباندې دګټې کولو بوج د سړیو په اوږو باندې اچولی دی، اودښځوخرچې یې دهغوی په ذمه ایښې دي، خاص طور باندې دواده نه پس دهغوی دخوراک څښاک ذمه داري یې په سړیو باندې اچولې ده او دا یو داسې ښکاره حقیقت دی چې دې له پاره دلیلونه پیش کول فضول کاردی، دمغرب ابلیس چې ښځوباندې کوم ظلم کړی دی هغه داچې د"مساوات مرد وزن، ،نعره وهلوسره یې ښځه د ګټې کولو په ګاډي کې اچولوسره دابوج په هغوی باندې هم واچاو اودکوموحضراتوچې تاسو ذکر کړی دی هغوی هم ددې مسلک منونکي دي، اوددې په وجه باندې چې کومې خرابۍ مغربی معاشره کې پیداشوي دي هغه دیوې مسلمانې معاشرې له پاره د پسخیدونه ،بلکې د شرم قابل دي.

...بقیه د تیرمخ].. أیضًا: وفی التفسیر: وقرن فی بیوتکن ای ألزمن بیوتکن فلاتخرجن لغیرحاجة .... وَلَاتَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِالْأُوْلٰى، والتبرج: انما تلقی الخمار علی رأسها، ولا تشده فیواری قلائدها وقرطها وعنقها ویبدوا ذالك كَلّه منها (تفسیرابن کثیرج:۵ ص:۱۶۸، ۱۶۹

اوبعضې صورتونوکې ښځې ته د سړوبوج اوچتول وی، دداسې ښځودګتې کولو مجبوري یو اضطراري حالت دی اودخپل عزت، عصمت اونسوانیت حفاظت کولوسره که چرې هغوی دګټې کولوڅه طریقه اختیارکړي نودهغې اجازت شته.

دویمه مسئله دمحترمې دقران کریم داایت نه داستدلال ده. دې باره کې مختصر طور باندې داعرض کولی شم چې دقران کریم دایت دموصوفې ددعوې سره هیڅ تعلق نشته. بلکه دا ایت دهغې ددعوې نفې کوي. ځکه چې ددې ایت نازلیدل دبعضې ښځوددې سوال په وجه باندې شوي و چې هغوی دسړیو برابر ولې نه دي ؟ سړیوته میراث کې دوه چنده برخه ملاویږي، حضرت مفتی محمدشفیع رحمه الله تفسیرمعارف القران کې لیکلي:

مخکې ایتونوکې دمیراث حکمونه تیرشوي دي. هغو کې داویل شوي دي دمړي وارثانوکې که چرې ښځې اوسړي وي اودمړي دطرف نه ورسره هم یونسبت سره رشته وي: نوسړي ته به دښځې په مقابله کې دوه چنده حصه ملاویږي، دغه شان دسړیونورفضیلتونه هم ثابت دي، حضرت ام سلمه رضي الله عنها دې باندې یوځل حضور ﷺ ته عرض وکړ چې مونږته نیم میراث ملاویږی اونورهم موږ اوسړیوکې فلانکی فلانکی فرق دی.

مقصدیې اعتراض کول نه و، بلکه دهغوی خواهش وکه چېرې مونږهم سړی وای نود سړیو فضیلت به مونږته هم حاصل و. بعضې ښځوداخواهش وکړ چې کاش! موږهم سړي وای نودسړیوپه شان به موجهادکې حصه اخیستله، اودجهادفضیلت به موږته هم حاصل شوی و.

یوې ښځې حضور ﷺ ته عرض وکړ چې سړیوته میراث کې دوه چنده حصه ملاویږی. اود ښځې شهادت هم دسړي په مقابله کې نیم دی. نوایاعبادتونواواعمالوکې به هم زمونږثواب نیم وی؟ دې باندې داایت نازل شوچې دې کې ددواړوخبروجواب ورکړل شو. دحضرت ام سلمه رضي الله عنها دقول جواب **ولاتتمنوا** سره ورکړل شو اودهغې ښځې جواب **للرجال نصيب** سره ورکړل شو (تفسیرمعارف القران ج ۲ ص ۳۸۸)

خلاصه داچې ایت شریف کې ویل شوي چې دسړیو اوښځو خصلتونه جداجدا دي،او دهغوی کوششونه اودعمل میدان جداجدا دی، ښځوته دسړیواوسړیوته دښځوڅه پرواه؟ ددې خواهش کول هم نه دی پکار،دقیامت په ورځ به هرچاته دهغوی دکوشش اوعمل مطابق میوه ملاویږي،سړوته به دهغوی دمحنت اوښځوته به دهغوی د محنت،که سړی وي اوکه ښځه څوک به هم دمحنت میوې نه شي محروملی.

محترمې چې ددې ایت نه کوم مضمون اخذکړی دی،هغه دادی چې سړیوته به دهغوی دنیاوي ګټه ملاویږی. ښځوته به هغې کې هیڅ برخه نه ملاویږي.اودښځومحنت مزدوري دهغوی ده. سړیوته هغې کې هیڅ حق نشته، که چرې دامضمون صحیح وای نود دنیا یوعدالت به هم دښځې دخوراک څښاک ذمه داري په سړی باندې نه اچوله، اوعدالتونوکې چې دخوراک څښاک څومره کیسونه دي، ټول به خارج کړل شوي وو. چې دمحترمې دتفسیرمطابق دسړي

ګټه د سړي له پاره ده او د ښځې په هغې کې هیڅ حق نشته. استغفرالله! حیرانتیا ده چې داسې ښکاره خبره هم د خلکو په عقل کې نه راځي.

د ښځې په غوښتنه لو نو سره مکمل تعلق ختمول او هغوی له میراثه محرومول

سوال: ما خپلې لومړۍ ښځې ته طلاق ورکړ، چې د هغې نه مې درې لونه دي، او ما د هغوی ودونه هم وکړل. اوس زه داغواړم چې زما په جایداد کې دا لونه حق دارې نه شي، او تعلق خو ما د مخکې نه ختم کړی دی، ځکه چې زما د ښځې خواهش هم دادی، آیا زما دا فیصله به د شریعت مطابق او شي؟

جواب: لو نو سره مکمل تعلق ختمول؟ توبه وکړئ ----! داسخته ګناه ده[1]، داسې هغوی د جایداد نه محرومولو خواهش هم سخته ګناه ده[2]. الله پاک او رسول پاک ﷺ چې څوک وارث جوړ کړی دی، د ښځې په غوښتنه د هغوی د محرومولو د کوشش مطلب دادی چې تاسو ته ښځه د خدای او رسول پاک ﷺ نه زیاته خوښه ده.[3]

د ګټلو له توان سره سره د ښځې په ګټه ګزاره کول

سوال: آیا سړي ته د ښځې د ګټې خوړلو اجازه شته؟ مثلاً: د چا ښځه یې ګټي، راوړي او سړی د تندرستي باوجود بې غیرته دی، ګټه نه کوي، نو د داسې سړي له پاره د ښځې ګټه حلاله ده؟ یاد یو ځوان خور یې ګټي او هغه ناست وي خوري یې، نو آیا داسې ځوان ته د خور د تنخواه نه د خرچ کولو حق شته؟

جواب: د ښځو د رزق ذمه دار الله تعالی سړی جوړ کړی دی[4]، خو ښځو دا بوج پخپله او چتول شروع کړل، او بې غیرته سړیو ته یوه ښه ذریعه د روزګار ملاو شوه، چې ښځه یې په خپلې

[1] عن بن جبیر بن مطعم عن أبیه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لایدخل الجنة قاطع متفق علیه (مشکوة المصابیح ص:۴۱۹، الفصل الأوّل، باب البر والصلة،) أیضًا: الکبیرة الثالثة بعدالثلثمائة: قطع الرحم قال تعالی: وَاتَّقُوااللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ، أی واتقوا الأرحام أن تقطعوها (الزواجر عن اقتراف الکبائر ج: ۲ ص:۷٦_

[2] عن أنس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة (مشکوة ص: ۲٦٦، باب الوصایا، الفصل الثالث)_

[3] عن النواس بن سمعان قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة، الفصل الثانی)_

[4] قال تعالی: الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ ...الخ، (النساء:۳٤)_

خوشحالۍ سره ګټي راوړي يې، د هغوی له پاره ولې حلال نه ده -----؟

ښځې ته خرچه نه ورکول، د ښځې رد عمل
او په کور کې د سود پیسې استعمالول

سوال: زما خاوند خپله پیسه په سودي بینکونو کې په مختلف اسکیمونو کې لګوي او د هغو منافع چې هره میاشت کومه کیږي هغه هم د کور په خرچ کې لګوي، دوالدصاحب د سوري نه په ماشوم والي محرومه شوې یم او په دې زمانه کې دلونو واده یوه مسئله ده، نو بیا زما کور والو دا واده وکړ، زما د خاوند ملازمت په حبیب بینک کې په حیثیت د آډټ آفیسر دی، یوه خو د بینک نوکري او بله د سود په سکیمونو کې لګیدلې پیسه، دا ټولې پیسې په ما باندې او زما په بچو باندې خرچ کیږي:

۱_ په دې پیسو سره زما لمونځ، زما خوراک څښاک صحیح دی؟، ۲_په همدې پیسو سره زه د خپلو کالو (زیوراتو) زکات ادا کوم، هغه صحیح دی؟

جواب: سود خو حرام دی[1]، تاسو داسې کوئ، چې هره میاشت دیو غیر مسلم نه قرض اخلئ او د کور خرچ پرې چلوئ او ستاسو خاوند دې د خپلو پیسو نه د غیر مسلم هغه قرض ادا کوي.

د قرض دار خاوند ښځه خپلې پیسې خیراتول

سوال: یو سړی پنځه زره قرض داری دی، او دا قرض یې قرضِ حسنه اخیستی دی، د هغه ښځې سره تقریباً د دریو زرو (۳۰۰۰) روپو کالي دي، او س ښځه غواړي چې د پنځلس سوو (۱۵۰۰) روپو کالي خرڅ کړم او په کلي کې کوهی او باسم، خو د هغې د خاوند غوښتنه ده چې دا پنځلس سوه روپې د کوهي خرچ کولو په ځای زما قرض پرې ادا کړه، ښځه وايي چې دا زما حق دی، زه چې یې چرته وغواړم خرچ کولی یې شم، د دې ثواب به ماته ضرور ملاویږي، او خاوند وايي چې که چرې خاوند قرض داری وي نو د هغه ښځې ته د خیرات هیڅ ثواب نه ملاویږي، او س معلومول دا دي چې آیا ښځه خپل کالي خرڅولی او د خپلې خوښې مطابق یې خرچ کولی شي یا د خاوند اطاعت د هغې له پاره ضروري دی؟

جواب: که کالي د ښځې وي؛ نو چې هغه یې چې څنګه غواړي او چېرته یې غواړي خیرات کولی یې شي، د خاوند په دې باندې هیڅ حق نشته، خو په حدیث پاک کې دي چې د ښځې له پاره

---

[1] وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا (البقرة:۲۷۵) أيضًا: عن جابر قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم (مشكوة المصابيح ص: ۲۴۴، الفصل الأوّل، باب الربا)_

بهتر صدقه داده چې هغه يې په خپل خاوند او بچيو باندې خرچ کړي[1].ځکه زه هغې نيکې بی بی ته چې هغه پنځلس سوه (۱۵۰۰) روپې خرچ کول غواړي،مشوره ورکوم چې هغه دې په خپلو تړلو کالو باندې دخاوند قرض اداکړي،په دې سره به الله تعالى خوشحاله شي او هغې ته به په جنت کې بهترين زيورات نصيب کړي.

که مور و پلار سره د ښځې جنګ راځي نو څه وکړم؟

سوال: زما د واده يو نيم کال وشو.د يو نيم کال نه زما د خسرګنۍ والو سره په معمولي معمولي خبره باندې اختلافات راضي او زما دخاوند سره هم د هغوی د مور پلار اختلافات دي،هغو خلکو ما ته کله هم د مينې او محبت په نظر سره نه دي کتلي او زما دلور سره هم هغه خلک ډيره سخته رويه اختيار وي،په خبره خبره باندې پيغور کول، دخوراک له پاره جګړه کول،کاروبار زموږ سره په يوځای کوي او ټول محنت هم زما خاوند کوي،الحمدلله زموږ په رزق کې ډير برکت دی.د يو نيم کال په موده کې ډير ځل دخپلی مور کره راغلم،او د هغو خلکو په وينا باندې چې اوس به کله هم جګړه نه کيږي،د مشرانو لحاظ کولو په وجه او د مور و پلار د خبرو منلو په وجه زه معافي غواړم او دوباره ځم،لږې مودې پورې هرڅه سم وي،بيا هماغه حال ،دا ځل هم زما دَ خاونداو دهغه د پلار په مينځ کې په معمولی خبره باندې جګړه وشوه،اوزه دخاوند سره دخپلې مور کره راغلم، زما خاوند اوزه دواړه غواړو چې د مور او پلار په دعاګانو او په مينې محبت سره بيل کورواخلو،دکاروبار نه دې بيل نه يو،ځکه چې د مور پلار خدمت هم وي،هغه خلک مو دوباره راغواړي او وايي چې اوس به موږ هيڅ تاسو ته نه وايو،څنګه چې مخکې به يې ويل، تاسو ووايئ چې کله په کور کې روازانه جګړه وي نو برکت به د کوم ځای نه راشي؟ تاسو موږ ته مشوره راکړئ چې موږ بيل کور واخلو.د دې مسائلو حل وښيئ.الله تعالى به تاسو ته د دې اجر درکړي،او زه به ټول عمر تاسو ته دعاګانې کوم،زه ډيره زياته خفه يم.

---

[1] عن زينب إمرأة عبدالله بن مسعود قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تصدقن يامعشرالنساء! ولو من حليّكن، قالت: فرجعت إلى عبدالله فقلت: إنك رجل خفيف ذات اليد وأن رسول الله صلى الله عليه وسلم قد أمرنا بالصدقة فاته فسئله فإن كان ذالك يجزئ عنى وإلا صرفتها إلى غيركم، قالت: فقال لى عبدالله: بل ائتيه أنت، قالت: فانطلقت فإذا امرأة من الأنصار بباب رسول الله صلى الله عليه وسلم حاجتى حاجتها، قالت: وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم: قد القيت عليه المهابة فقالت: فخرج علينا بلال، فقلنا له: ائت رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخبره أن إمرأتين بالباب تسألانك أتجزئ الصدقة عنهما على أزواجهما وعلى أيتام فى حجورهما؟ ولا تخبره من نحن، قالت: فدخل بلال على رسول الله صلى الله عليه وسلم فسأله فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: من هما؟ قال: إمرأة من الأنصار وزينب، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أي الزيانب؟ قال: إمرأة عبدالله، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لهما أجران، أجرالقرابة وأجرالصدقة متفق عليه واللفظ لمسلم (مشكوة ص: ۱۷۱ باب أفضل الصدقة)۔

جواب: ستاسو خط مې په غور سره وکتلو. دانګوراو خوابنې په مینځ کې اختلاف خود همیشه نه د پریشانی خبره ده. او تر کومې پورې چې د تجروبو تعلق دی په هغې کې قصور عام طور باندې دیو طرف نه نه وي، بلکې دَ دوارو طرفونه وي، خوابنې، دانګور په ورو ورو خبرو باندې تنقیدونه کوي او تندی ترخوي، او انګور چې هغه د خاوند په کورکې نیازبینه وي، د خوابنې ښه نصیحت هم خپل توهین ګڼي، د دوارو طرفو دانازک مزاجي مستقله دجنګ ذریعه جوړیږي.

ستاسو د مسئلې حل دادې چې که لږ د همت او حوصلې نه کار واخلئ چې دخپلې خوابنې هره خبره برداشت کړئ، دهغې دهرې نازک مزاجی په خوشحالی سره مقابله وکړئ. او دهغې په یوه خبره باندې "ناراضي اختیارول" هم ګناه وګڼئ، نو تاسو ضرور هغوی له دوباره لاړشئ. او دا به ستاسو د دنیا او آخرت سعادت او نیکي بختي وي، په دې همت حوصلې او صبر او استقلال سره دخپل خاوند دمور اوپلار خدمت کول به ستاسو مستقبل دفخرلائق جوړ کړي. او ددې دبرکتونو مشاهده به هرسړی په خپلو سترګو سره وکړي او که دومره همت او حوصله تاسو په خپل ځان کې نه وینئ چې خپله رایه او خپله "انا" دهغوی په مخکې ختمه کړئ نو بیا ستاسو په حق کې بهتر دادی چې تاسو دخپل خاوند سره په بیل کورکې اوسیدل شروع کړئ، خود خاوند مور اوپلار سره چېرې هم دمکمل تعلق ختمولو نیت نه دی پکار، بلکې نیت داکول پکاردی چې زموږ په یوځای اوسیدو سره دمورو پلار چې کوم تکلیف وي او زموږ نه چې دهغوی کومه بې ادبي کیږي، دهغې نه بچ کیدل مقصد دي. الغرض: خپل ځان قصوروار ګڼل بیلیدل پکار دي، موږ پلار قصوروار نه ګڼل او دبیلیدو نه وروسته هم دهغوی مالي اوبدني خدمت خوش قسمتي وګڼئ، دخپل خاوند سره دمور وپلار (دخاوند خسر ګڼي) په کورکې اوسیدل صحیح نه دي، په دې کې دخاوند د کوروالا بې عزتي او خفګان دی، هو! په بیل اوسیدو او په خپل کاروبار کولو کې دخاوند دکوروالو مدد حاصلولو کې هیڅ بدیت نشته.

ماستاسو د پریشانئ حل کولو ټول صورتونه ستاسو په مخکې کیښودل. تاسو دخپلو حالاتو مطابق چې کوم اختیارول غواړئ اختیار ولی یې شئ، ستاسو به وجه ستاسو دخاوند دخپل مور او پلار نه خفه کیدل او زړه بدیدل. دهغه له پاره به هم دوبال موجب وی او ستاسو له پاره هم. خکه تاسو ته هر ممکن کوشش داپکاردی چې ستاسو دخاوند تعلقات دخپل مور پلار سره زیات نه زیات خوشګوار کړئ اوچې هغه دهغوی زیات نه زیات فرمانبرداروي. خکه چې دمور اوپلار خدمت او اطاعت د دنیا او آخرت کامیابي ده.[1]

---

[1] قال النبي صلى الله عليه وسلم: الجنة تحت أقدام الأمهات (فيض القدير ج: ٦ ص: ٢٩٠ طبع مكتبه نزار مصطفى مكة)۔

د ښځې او سړي په حیثیت کې فرق

سوال: آیا ښځه الله تعالی دسړي دغم کمولوله پاره پیدا کړې ده؟ څنګه چې د سړیو حضراتو دعوه ده چې د ښځې هیڅ حیثیت نشته.دا الله تعالی دسړی له پاره پیدا کړې ده.

جواب: الله تعالی دانساني نسل زیاتولوله پاره انساني جوړه پیدا کړې ده،اوددواړو په زړونوکې یې دیوبل له پاره مینه اچولې ده او دواړه یې دیوبل محتاج جوړکړي دي.ښځه او خاوند دیوبل په غم کې بهترین شریکان دي.رفیق او هم سفرهم دي.یارومددګارهم دي.ښځه مظهرجمال ده، اوسړی مظهرجلال.اودجمال او جلال دا مرکب دکائینات پسرلی دی.په دنیاکې دخوشحالیو ګلونه هم خوروي،دیوبل په غم دردکې شریکیږي.او دواړو سره دآخرت په تیاری کې مدد هم کوي.فطرت دیونقص دبل په ذریعه پوره کړی دی.یویې دبل معاون جوړکړی دی.دښځې نه بغیردسړی نیمګړی دی.اودسړي نه بغیر دښځې دژوندښائست نه ښکاریږي، ځکه په یکه طرفه طورباندې داویل چې ښځه یې صرف دسړی له پاره پیدا کړې، ګیني ددې هیڅ حیثیت نشته غلط دي،هو! داویل صحیح دي چې دواړه یې دیوبل غم خوار او مددګارجوړکړي دي.

سوال: ماپه اکثرځایونوکې ویلي دي چې سړی دښې ښځې کوشش کوي اونیکه ښځه غواړي. اکثردَخپلی خوښې واده هم کوي،ځکه چې هغه سړی دی،آیاداصحیح کوي؟

جواب: دنیکې او ښې جوړې خواهش ددواړو وي،اود خوښې واده هم دواړه کوي،زه خوددې قائل یم چې دخپل مشرانودخوښې واده دې وکړل شي.

سوال: آیاښځه دې خپل ځان له پاره دښه اونیک خاوندخواهش نه لري؟ ښځه یوداسې سړی خوښولی شي اوهغه سره په عزت سره دَواده کولوخواهش ساتلی شي؟په دې باره کې تاسوڅه وایئ؟ ځکهٔ چې زمونږپه معاشره کې داسې حرکت ښځې سره ښه نه ښکاري،او سړی خپل خواهش پوره کوي.

جواب: مخکې مې لیکلی دي،اکثرجینکۍ دیوکس په خوښولوکې دوکه خوري.دخپل خاندان اوکورنه مخکې کټ شي،دهغې دمحبت ملمع په یوځوورځوکې لرې شي.بیانه هغه کور وي.اونه مرګ .ځکه زما تپولوبچیو(جینکو) ته مشوره ورکوم چې واده د دستور مطابق دَخپل مور او پلار په ذریعه وکړئ.

سوال: ماأکثرځایونوکې په کتابونوکې کتلي دي چې حضرت خدیجه رضي الله عنها حضورپاک ﷺ د نکاح کولوخواهش کړی و چې هغه حضورپاک ﷺ قبول کړی و.

جواب: صحیح ده.[1]

---

[1] وحدثها ميسرة عن قول الراهب عن الملكين، وكانت لبيبة حازمة، فبعث إليه...[بقيه په راروانه صفحه..

سوال: که نن یوه نیکه مؤمنه ښځه یونیک سړي سره دواده خواهش وکړي؛ نوپه دې کې څه بدي خونشته.خوچې ښځه خپل خواهش نه شي بینولی نوڅه وکړي؟ څکه که بیانوي یې نود مورو پلار، دورونو دعزت مسئله جوړیږي،که دمور او پلار خبره ومني نوخپل ځان به په عذاب کې اخته کوي.

جواب: ددې حل دا دی چې پخپله یادخپلوملګروپه ذریعه خپلې مورته خپل خواهش ورسوي.اوچې داهم ووایي چې زه دیوبې دین سره دواده کولو په ځای واده نه کولوته ترجیح ورکوم.اوالله تعالی نه دې دعاهم غواړي.

سوال: که ښځه په خپل خواهش سره واده هم وکړي نو سړي حضرات ورته پیغور ورکول خپل فرض ګڼي،خوښځې داسې ډیرکم کوی،د داسې حضراتوپه باره کې به تاسوڅه وایئ؟

جواب: بالکل نه! شریف سړی چېرې هم خپلې ښځې ته پیغورنه ورکوي، څکه خومامخکې عرض کړی چې نن سبا دکم عمراوکم عقل جینکۍ دمحبت په جال کې وینبلي اوخپل ژوندبرباد کړي،نه دچا نسل نسب ګوري،نه یې داخلاقواوشرافت امتحان اخلي، اوبل طرف ته دانجیلۍ مور او پلار دهرڅه نه واقف وي،اوددې هم ورته اکثرپته وي چې انجیلۍ دداسې سړی سره اوسیدای شي یانه؟ څکه انجیلۍ ته پکاردي چې دمور او پلار په خوښه باندې اعتماد وکړي، دخپلې کم عقلۍ په وجه دې دوکه نه خوري.

دخاوند دتسخیرله پاره یوعجیبه عمل

سوال: زمادواده دوه کاله شوي دي،زمادواده نه مخکې دڅه سورتونو، دعاګانو او آیاتونو ویلوعادت و.اوس مې هغه داسې عادت شوی دی چې دپاکۍ ناپاکۍ راته څه خیال نه وي اوهغه مې په ژبه باندې وي،په خیال راتلوباندې یې نه وایم،خوبیاهم هغه شان.څکه تاسونه ددې خبرې پوښتنه کوم چې که په څه ګناه کې مې کیږی نوچې خبره شم،ددې نه علاوه زه دخپل خاوندطرف نه ډیره پریشانه یم،ماډیره پریشانه کوي،هیڅ توجه راته نه راکوي په مونږ دواړوکې ذهني طورسره هیڅ اختلافات نشته دې،ډیرکوشش کوم،خوډیرزیات شکي دی.

جواب: د ناپاکۍ په حالت کې خوقرآنې دعاګانې جائزدي[1]، خو تلاوت جائز ......

...بقیه د تیرمخ]... تقول: یابن عمّی! إنی قد رغبت فیك لقرابتك وأمانتك وصدقك وحسن خلقك، ثم عرضت علیه نفسها، فقال ذالك لأعمامه، فجاء معه حمزة عمّه حتی دخل خویلد فخطبهامنه،وأصدقها النبی صلی الله علیه وسلم عشرین بكرة فلم یتزوج علیها حتی ماتت، وتزوجها وعمره خمس وعشرون سنة (تاریخ الإسلام للذهبی ج: ١ ص: ٦٤ طبع دارالكتاب العربی)۔

[1] ولو قرأت الفاتحة علی وجه الدعاء أو شیئًا من الآیات التی فیها معنی الدعاء ولم ترد القراءة لا بأس به (ردالمحتار ج: ١ ص: ٣٠٢، كتاب الطهارة، عالمگیری ج:١ ص: ٣٨، كتاب الطهارة، الباب السادس)۔

نه دی[1]، که په هیره یې وواېي نو هیڅ ګناه پکې نشته، په یاد راتلو باندې فوراً بس کوي.
دخاوندسره اختلافات غټ عذاب دی، خوداعذاب انسان په خپل ځان پخپله مسلطوي، دطبع خلاف شیان خومخې ته خامخا راځي، خوانسان ته پکاردي چې په صبراوتحمل سره دطبع خلاف خبرې برداشت کړي، دټولونه ښه وظیفه دا ده چې خدمت خپل نصب العین جوړکړي، دخاوند دخبرې جواب په سختۍ سره مه ورکوئ، اومه څه سخت خبره ورته کوئ، که خپله غلطي دې وي نودهغې اعتراف وکړئ اومعافي ترې وغواړئ. الغرض! خدمت اواطاعت، صبر او تحمل، اوخوش اخلاقي نه زیاته یوه وظیفه هم نشته، همدا عمل ګټور دی، ددې په ذریعه خاوندخوشحالولی شې، ددې نه زیات بل ښه عمل ماته نه معلومیږي، که بالفرض خاوندټول عمرهم درسره صحیح نه وي نوبیاهم ښځې ته په دنیااوآخرت کې دخپلې نیکۍ بدله به زر یا په قلاره ضرور ملاویږي، او ددې واقعات زماپه مخکې دي اوکومې ښځې چې دخاوندپه مخکې بې ادبي او نافرماني کوي دهغوی ژوندپه دُنیاکې هم جهنم دی، دآخرت عذاب خو له راتلونکی دی، خویندو وروڼو له پاره روزانه صلوة حاجت کوئ اودعا کوئ.

قصورستاسو دی

سوال: دونیم درې کاله وشو، دیوواده په تقریب کې چې زه دخپلو یوڅو رشته دارانوسره ناست وم دکورپه برنډه کې، زماکشرې ښینې زوی ماسره ډیره زیاته بدتمیزي اوبې ادبي وکړه، چې په هغې باندې زماسره ناستورشته دارانوهم زما په طرف د ټوکو په نظرونوسره وکتل، زه ډیره خفه شوم، خودوخت مناسب سره چوپ وم، اوصرف خپلې ښځې ته مې ددې ذکروکړ. یوکال پورې زه خاموش وم اوپه دې انتظارکې وم چې زماکشره ښینه، ښځه یادکشرې ښینې زوی پخپله راشي مانه دخپلې بدتمیزۍ معافي وغوایي، خوهغه خلک به زمونږ کورته روازانه راتلل، ښځې ته خومې دهغې بې عزتۍ بالکل احساس نه و، هغه هلک به هم راته اوزماپه مخکې به خپلې ترور ته ورته، دواړو مور اوزوی ماته چرې سلام هم نه ونه کړ، خیریوکال داسې تیرشو، یوه ورځ هغه هلک راغی اوزماښځې سره یې خبرې وکړې چې کله روان شونوماهغه ودرولو اوورته مې اوویل چې دوباره دې کورته مه راځه، په دې باندې هغه ډیرغوسه شو او ویې ویل چې: زه به راځم ګورم چې څوک مامنع کوي؟ ماښځې داټول هرڅه اوریدل اوخاموش

---

[1] اوليس للحائض والجنب والنفساء قراءة القرآن وليس لهم مس المصحف (هداية ج: ١ ص: ٦٨) الإحداث ثلاثة، حدث صغير، وحدث وسط، وحدث كبير، والحدث والوسط هوالجنابة والحدث الكبيرالحيض والنفاس ...... وتأثير الحدث والوسط ...... ويزادعليها تحريم قراءة القرآن وتأثير الحدث الكبيرتحريم ماسبق كله ...إلخ (الفقه الحنفى وأدلته ج: ١ ص: ١٠٦، ١٠٧)۔

وه (۱۵ مئ ۱۹۹۴م) په سحر اتنیمې بجې ماته د زړه دوره وشوه.زه په صوفې باندې ویده شوم اودهغه مرض ګولۍ مې دژبې لاندې کیښوده.څلور ګولو اېښودلوباندې راته آرام راغی،او درد کم شو.په دې دوران زما کشرۍ ښینه راغله اوخپلې خورسره یې خبرې شروع کړې،ټوله ورځ یې تیره کړه خوزمایې هډو پوښتنه ونه کړه. حالانکې زماچې څه وس و دهغو خلکوسره مې ډیرمددکړی دی،زه نه غواړم چې هغه ظاهر کړم،مابنام دکشرې ښینې هلک موربوتلوله پاره راغی.هغه ته په کتلوماته ډیره غوسه راغله او یوبل سره مو بحث هم وکړ.هلک هم برابر جواب راکولو.خونه دهغې مور.اونه زمابنځې اونه زمازوی څه ویل، هغوی لاړل اونیمه ګنټه وروسته دکشرې ښینې لور زمابنځې ته ټیلی فون وکړ اومعلومه نه ده چې زمامتعلق یې څه څه وویل چې زما ښځې ماته ډیرې سپورې ستغې وویلې اومانه یې طلاق وغوښت اوکورنه د وتلویې راته وویل،ماورته وویل:"تاسوخلع واخلئ،طلاق خوزه نه درکوم" هغې سره هم کافي ترخې خبرې وشوې اوماته یې تردې پورې وویل چې:"زماله پاره به اوس ښه نه وي"دهغې ورځ نه زمادښځې هم زماسره خبرې اترې بندې دي،زه برابر کوم چې زمافرض دي یعنی پنشن وغیره هغې ته ورکوم.تاسوته عرض دی چې دیوکال نه زیاته موده تیره شوې ده اوزمونږ دواړو په مینځ کې بالکل خبرې اترې بندې دي.په دې سلسله کې دشریعت څه حکمونه دي؟ زه به ستاسو ډیرشکرګزاریم. ډیرپه ذهنی پریشانۍ کې اخته یم.

جواب: دشریعت حکم دا دې چې دواړه ښځه خاوندپه محبت سره اوسیږئ،دیوبل واجب حقوق ادا کوئ.اوکه نشئ کولئ نوبیل والئ اختیارکړئ،دښینې دزوی له وجې نه تاسوخپله معامله خرابه کړه، که هغه بې ادب و؛ نوتاسوبه هغه سره خوله نه ګډوله،ستاسومعاملات خوالله تعالی ډیرښه پیژني، خوستاسودخط نه معلومیږي چې تاسو دخپلې ښځې بچیوپه زړه کې کورنشې جوړولئ. یوکال نه خبرې بند دي،خونه تاسودښځې نه پوښتنه وکړه.نه ښځې تاسونه،نه بچیو دواړو نه.ګناه ګاره خوستاسوښځه زیاته ده.خواصل قصورستاسو سخت طبیعتي هم دی.چې هغه دچاسره هم جوړ نه شو.زمامشوره داده چې تاسودخپلې ښځې سره ښه ژوند،ښه اخلاق،ښه معاملات او دښه زړه معامله وکړئ،بیابه ستاسونه دښځې نه شکایت وي.نه دهغې دخورنه،نه دهغې ښځې دخوردزوی نه.دحضورپاک ﷺ ارشادمبارک دی چې "په تاسوکې دټولونه ښه هغه دی چې څوک دخپلې ښځې په حق کې دټولونه ښه وي." (مشکوة ص:۲۸۱).[1]

---

[1] عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم خيركم خيركم لأهله وأنا خيركم لأهلي (مشكوة ج: ۱ ص: ۲۸۱، باب عشرة النساء)۔

دخاوند ظالمانه طرز عمل

سوال: اته کاله مخکې یو ظالم خاوند د ډیرزیات وهلونه پس خپله ښځه د نیمې شپې د کورنه بهر اوباسله. هلته د هغې د ګاونډ مشرانو ښځو د کنځلو آواز په اوریدو سره هغې ته پناه ورکړه، او د هغې ښځې مور پلار کورته یې خبر ولیږه، په هغه وخت خاوند خپل مشررور او مشرې خورسره هغه ښځه د هغې څلور بچیو سره د هغې د نیا کورته ورسوله. یوه لوریې هغه وخت په خیټه وه. بهرحال دامظلومه ښځه د بچو سره د خپلې مورکورته ورسیده. د ښځې دخاندان د طرف نه د مصالحت درخواستونه دخاوند کور بغیر اوریدو ردکړل، او دوه درې کاله پس خاوند دوه طلاقونه خپلې ښځې ته ورکړل، هغه وخت د هغې پنځه بچي هم د ښځې د مور پلار کره اوسیدل. عدت خاوند تیرکړو او د بچو خرچې (ډیره معمولي) رالیږل یې شروع کړل. چرته نه خاوند (د بچیو پلار) ملاوید و یا بچو لیدوته راغی. نه د هغوی د خاندان یو رحم دل سړی یا بزرګ راغی. داخلک عجیبه روایتي انجیلي والوته په نفرت سره کتلو والا خاندان ثابت شو. اوس صورت حال دا دی چې د بچولپاره به کله پلار خرچې رالیږله کله نه. لهذا مشرزوی یې ډاګې ته وویل واپس ئې کړه، او بیا بالکل بنده شوه. په نکاح باندې په طور د مهر ورکړل شوی هار (د درې زرو روپو) د کورنه د دوو تلو په وخت خاوند ترې اخیستی و. د اسې د هغې د جهیز ټول شیان چې هغه د واده په وخت د خاوند خویندو په لیدو لیدو ټول اخیستي وو. په هغه کې یې هیڅ هم نه دي واپس کړي. وائی چې "مونږ درې طلاقه نه دي ورکړي. لهذا معامله زمونږ د طرف نه بندشوې نه وه. مطلقه دې خلع واخلي. تاسوته پته ده عدالتونوته شریفان او دیندار تلل نه غواړي. هغه سړي دویم واده کړی دی او د هغې نه د هغه لورهم ده (بچوته د هغه کارډ راغلی و) اوس تاسو مشوره راکړئ چې دې مطلقه ښځې ته څه کول پکار دي؟

جواب: شرعي حکم "امساک بمعروف اوتسریح بإحسان" دی یعني چې ښځه ساتي نو د دستور مطابق یې وساته. او که ساتل یې نه غواړي نو هغه په خوشحالی سره پریږده. تاسوچې کومه دردناکه کیسه درج کړې ده، هغه ددې شرعي حکم خلاف ده. دا خو ظاهره ده چې خاوندته به د ښځې په څه غلطي باندې غوسه راغلې وي، خو خاوندچې د غوسې کوم انداز اختیارکړی دی. هغه د فرعونیت مظهر دی.

۱ د نیمې شپې وهل او کنځلې کول د کورنه بهرویستل، د دور جاهلیت یادګار دی. اسلام د داسې غیر اسلامي او غیرشریفانه کار اجازه نه ورکوي.

۲ ښځه له طلاق پرته د هغې څلور پنځو بچو سره هغه د نیا په کور کې کینول هم د مخکې درج شوي شرعي حکم خلاف دی.

۳ د ښځې د کورو الو مصالحانه کوشش باوجود د مصالحت له پاره نه راضي کیدل. او نه طلاق ورکول هم د شریعت د حکم خلاف و.

۴: ښځې ته ورکړل شوی مهر دهغې نه اخیستل او دهغې دجهیزسامان نه ورکول هم ښکاره ظلم دی، حالانکې دوه درې کاله وروسته خاوند ورته طلاق هم ورکړ، ددې نه وروسته دهغه دمهر اوجهیزنه ورکولو هیڅ جواز نه و.

۵: بچي خو دخاوندوو اودهغوی خرچې وغېره دپلارپه ذمه وو، خو ډیرې مودې پورې د بچو خبرنه اخیستل، نه دهغوی دضروری اخراجاتو کفالت اوچتول هم غیرانساني کار دی، دا مظلومه ښځه که عدالت ته رجوع کول نه غواړي نودامعامله په الله پاک ته پریږدی، دالله پاک نه بهترانصاف کولو والاهیڅوک نشته؟ الله تعالی به هغې ته دخپل مظلومتوب بدله په قیامت کې ورکړي اودې غاصب او ظالم ته به په دنیاکې هم دخپل ظلم او زیاتي صله ملاویږي، په حدیث شریف کې دي چې: "ان الله لیملی الظالم حتی اذااخذه لم یفلته"(متفق علیه،مشکوة:۴۳۵).

ترجمه: "الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوي، خوچې کله یې ونیسي نوبیا یې پریږدي نه."

که خاوندیې ژوندی وي اودا لیکل که دهغه دنظر نه تیرشوي وي، نوزه هغه ته مشوره ورکوم چې ددې نه مخکې چې هغه باندې دالله تعالی عذاب نازل شی، هغه ته دهغو ظلمونونه توبه ویستل پکاردي .

د ښځې د محبت معیار

سوال: زماواده ترورلور سره شوی دی، دواده نه مخکې به ماخپلې ښځې سره محبت کولو، دهغې وجه صرف او صرف دهغې پرده کول او ښه کردار و، زمونږپه مینځ کې د واده نه مخکې هیڅ خبرې اترې نه وې شوې، خودواده نه مخکې دهغې هم ماسره مینه وه، ددې خبرې موږ دواړو ته پته وه، واده زمونږ موراوپلارپه خپلې خوښې سره کړی و، واده نه وروسته چې زماښځه زماکورته راغله نوزه ډیرخوشحاله شوم، خودواده نه وروسته زمادښځې رویه زماسره دیوې محبت کونکې ښځې پشان پاتې نه شوه، زمونږ دواده اووه(۷) کاله کیدونکي دي، دواده نه وروسته ترنن پورې زمادښځې رویه زماسره چرې هم دیودوست، دیوې محبت اومینې کونکې ښځې غوندې نه ده، بلکې ماته داسې محسوسیږی چې هغه زماسره دځه مجبوری په وجه اوسیږي، اودهغې زماسره هیڅ مینه نشته ، نه زماپه خوشحالی یاغم کې په خپله خوښه شریکیږي، هرانسان چې کله پریشان وي: نوداغواړی چې کم ازکم دهغه ښځه دهغه په غم او پریشانی کې دهغه سره ملګرتیاوکړي، اوچې هغه کورته راشي نوچې دهغه په خوشحالی سره استقبال وکړي، زماسره معامله ددې نه بالکل مختلفه ده، بلکې هغه خوزمادسلام جواب هم نه راکوي، زموږپه مینځ کې هرقسمه خبرې اترې دنشت برابر دی، هغه زماټول کارونه دیومشین پشان پوره کوي، اوزرنه زر زمانه ځان خلاصوي، انسان واده ځکه کوي چې چېرته هغه ته دمحبت کونکی دوست ملاوشي، دهغه نه به ټولې فطری تقاضې هم پوره کړي، زمادښځې صحت صحیح دې، خودهغې په زړه کې زماله پاره محبت بالکل نشته ،که جنسي خواهش نه

وي نوکم ازکم انسان خوپه محبت سره پیش کیدای شي،جناب مولاناصاحب! زما ښځه زما سره اوسیدل خوغواړي خودَیوې ښځې پشان نه، بلکې دیوې نوکرې پشان،زه ډیرحساس انسان یم اوپه دې مسئله باندې ډیرسوچ کوم،او تۀوله تۀوله شپه ویښ یم،خوهیڅ حل په نظر نه راځي،جناب مولانا صاحب! زه پخپله هم دپردې ډیرقائل یم،ماپه خپلې جائزاوحلال آمدني سره دخپلې ښځې اودبچیودَضرورتونوخیال ساتلی،اوخاص کردخپلې ښځې ټول جائز ضرورتونه په ډیرې ښه طریقې سره دپوره کولوکوشش مې کړی دی،جناب! دچاپه پوهیدوباندې اووه(۷) کاله موده ډیره ده،خوچې دچا تاسره محبت نه وی نوهغه به څنګه پوهیږي؟ که څه تکلیف وي نودهغه په باره کې به خبره وکړل شي نومعلومه به شي چې هغې ته زمانه څه تکلیف دی؟ ماچې کله هم دخپلې ښځې نه معلوم کړي چې تاته زمادذات نه څه تکلیف یاشکایت شته نو وایه؟ دهغې هرځل همداجواب وي چې تاسودویم واده وکړئ،که یوه ښځه پخپله دا ووایې چې ته دویم واده وکړه، نودَدې نه زه څه مطلب واخلم؟ جناب مولاناصاحب! تۀوله ورځ چې د کاروباري مصروفیاتونه پس چې کله کورته راځم نوکورته په راتلو باندې اوس زه دخپلې ښځې درویې په وجه باندې ذهني طور باندې کمزوری کیږم.جناب مولاناصاحب! دشریعت په رڼا کې زما رهنمایي وکړئ اوماته څه وظیفه هم وښیئ چې ماته کورنی سکون نصیب شي، او زماښځه زماسره محبت شروع کړي اوپه خپلو بچیوته هم توجه ورکړي،اوزماله پاره لومړی تاسو"استخاره" هم وکړئ اودُعاهم وکړئ.جناب مولاناصاحب! ماته اُمید دی چې تاسوبه دخپل زوی پشان زمارهنمایي وکړئ او زر نه زر به ددې پریشانۍ حل ماته ووایئ!

جواب: تاسودخپلې خوښې واده وکړ،ددې باوجودهغه ستاسوپه "معیار"باندې پوره رانغله،په دې کې قصور دهغې غریبې نه دې، بلکه جناب ستاسو معیار لوړ دی،چونکه هغه ښځه ذات ده، هغه ستاسوپه معیارباندې پوره کیدونه بې وسه ده،ځکه تاسوته شکایت دی،هغې غریبې ته هیڅ شکایت نشته،دَهغې علاج دا دی چې تاسوخپل معیارلږ ښکته کړئ.

۱.کومه ښځه به وي چې دهغې دخپل خاوند غم اوخوشحالۍ سره هیڅ تعلق نه وي؟ خودَدې اظهارهرسړې په خپل نیت سره کوي، څوک یې دډول پشان اظهارکوي،څوک یې دَهارمونیم پشان په رو آواز کې،اوڅوک هرڅه پهَخپل زړه کې دننه پټ ساتي،چاته هیڅ خبر نه وي چې دهغې په زړه باندې څه تیریږي؟ اوس دهارمونیم ډیر ښه ښائسته اومزیدار آوازدډول په آوازکې څنګه تبدیل کړل شي؟

۲.تاسوچې کورته راشئ نوستاسوچې کوم پرجوش استقبال نه کیږي، څه درته معلومه ده چې هغه غریبه تۀوله ورځ دکورپه کارونوکې څومره مصروفه وي؟ لږ دیوې ورځ چارج پخپله واخلئ ددې تجربه وکړئ----!

۳.هغه ستاسوټول کارونه دمشین پشان پوره کوي اودچالو مشین ستاسوپه زړه کې هیڅ قدر او قیمت نشته،دډوډۍ پخولوله پاره یو نان وای(خانساما) وساتئ،دکوردصفایي له پاره یوه

خادمه وساتئ. دجامو وينځلوله پاره يودوبې وساتئ، دبچيودپالنې له پاره يوه خاله وساتئ اود كور دَنګرانئ له پاره يوچوكيدار مقرر كړئ، دهغې تولو ملازمانو دفوج باوجوددكورنظم ونسق به داسې نه چليږي څنګه چې دامشين چليږي،خوستاسوپه ذهني معياركې دهغې دَدې خدمتونوهيڅ معيارنشته ۔۔۔۔!

۴ اووه،۷، كاله موده واقعي ډيره وي،خوافسوس چې تاسودخپل اوچت معيارداوچتوالى نه ښكته كيدوباندې دخپلې ښځې پټ كمالات چې هغه الله تعالى دَحياپه څادرسره پټ كړي دي،چېرته يې ښكاره كړي نه دي.تاسوكه چېرې دعرش معلى نه لاندې راشئ نودا د ځمكې مخلوق به وپيژنئ

۵ كه تاسوهرڅومره ودونه وكړئ،ترڅوپورې چې دخپل ذهني عرشِ معلى نه لاندې راكوزشوى نه يې،نه به تاسوته دژوند تيرولو طريقه راشي. نه به تاسوته ذهني سكون حاصل شي

۶ تاسوته دَځه وظيفې ياتعويزضرورت نشته،البته ديوالله والا په صحبت كې داوسيدو اوانسان جوړولودرته ضرورت دى،كله چې ستاسترګې خلاصې شي،نوبيابه تاسوته معلومه شي چې الله تعالى تاسوته څومره لوى نعمتددې ښځې په شكل كې دركړى دې۔۔۔!

نغرى بيل كړئ

سوال: زمامسئله دا ده چې زمادواده لس كاله وشو،زمادرې بچې دي،زمادخاونداودهغه درې ورونه دي،مونږ ټول يوځاى اوسيږو. زما خوابنې نشته ،اودخسرمې داسې طبعيت خراب دى چې هغه ته دخپل ځان هم پته نشته .زماخاونداكثرجماعتونوكې ځي،زه كله دپلارپه كوركې اوسيږم،كله دخاوندپه كوركې اوسيږم،نوما معلومول داچې زه دخپل خاوندنه وروسته خسرګنى كوركې اوسيداى شم،اوهلته زماڅوك محرم هم نشته،يومې ليور دى، يو مشر ليورخى .زه اميد لرم چې تاسوبه زماپه دې مسئلې په ښه طريقې سره پوه شوي يئ

دويم دا معلومول و چې مونږ ټول يوځاى اوسيږو .نواوس زه بيل اوسيدل غواړم،ځكه چې زمونږ دښځوپه خپلوكې نه جوړيږي،دبچيوهم په خپلوكې جنګونه كيږي،ډيرې غلط فهمۍ هم راځي،په ورو ورو خبروباندې جګړې كيږي،نورهم ډيرمشكلات دي،دبچيوپه وجه هم څه نا څه خبره ضرورکيږي،بياهم په دې پريشاني اوخفګان كې يم،په يوځاى زمونږديوبل سره كمرې لګيدلې دي.زه خپل خاوندته دبيل اوسيدوله پاره وايم نوهغه هم داوايي چې مونږ سوچ كوو په دې سوچ سوچ كې پنځه كاله تيرشو،په داسې حال كې آياماته داحق شته چې زه دبيل كورمطالبه وكړم؟ اوآيادا دخاوند فرض دي چې هغه ماته بيل كور راكړي؟ بيل كورنه بيل نغرى يا صرف كمره بيله مراد ده؟

جواب: كه عزت ته موڅه خطره نه وي نودخاوندپه غيرحاضرۍ كې خسرګنۍ كې اوسيدلى شې دبيل كورمطالبه دښځې حق دى. خو دبيل كورنه مراد دادى چې دهغې نغرې دې بيل

وي،او د هغې سره چې د کور څومره حصه ده چې په هغې کې د بل چا څه عمل دخل نه وي، که د غټې کوريوه حصه مخصوص ولې نکړل شي.[1]

اسلامي حکمونو کې د مور او پلار نافرماني ترکوم حده پورې؟

سوال: دنن سبا ماحول کې که يوسړی په اسلامی تعليماتوباندې پوره عمل کول وغواړي؛ نو باقي دنياهغه پسې وروسته لګيږي،اوکه هغه سړی په خپل همت او قوت برداشت سره که دهغې مقابله هم وکړي نودهغه کوروالاخاص کردهغه موراوپلاردهغه په لارکې دتېولونه غټې رکاوټ جوړيږي. مثلاً:زه ډيرخلک پيژنم چې هغوی دخپل مورپلارنه تنګ راغلي خپلې ږيرې يې خريلې دي،اوکه مورپلارپوهوئ نووائی چې:په اسلام کې خودمور او پلار ډيرمقام دی، دمور او پلار نه بغير جهاد ته هم نشې تللی،لهذا يوعمل هم زمونږدخوښې او اجازت نه بغير نه کيږي "خاص کرکله چې يوسړی خپل لباس او مخ دسنت مطابق جوړوي؛ نوبيا دهغه کوروالا دهغه ژوندحراموي،ياکه يوسړی تې وي کتل پريږدي،سندرې اوريدل پريږدي،په بينک کې نوکري نه کوي،نامحرم سره خبرې اترې نه کوي، او حتی الامکان خپل ځان دمنکراتونه بچ کړي: نومورپلار وايي چې "جناب!داڅنګه اسلام د چې سړی ددنيانه بيل يوازې کيني" دَاسلام دننه څه حدود دي،که ديوسنت نه دې مورپلارمنع کړي نومونږ هغه پريږدو؟ (مثلاً:لباس اوظاهري شکل او صورت)،اوکه مورپلارپه يوواجب ناراضه وي نوبياڅه وکړو؟ اودفرائضوپه معامله کې څنګه رويه خپلول پکار دي؟

جواب: په دې اصولوپوهيدل پکاردي چې په کوم کارکې دَالله تعالی نافرماني کيږي،په هغه کې دچا اطاعت هم جائز نه دی،[2]نه دمور او پلار،نه دپيراواُستاذ،نه ديوحاکم،که يوسړی دَچاپه وينا باندې دالله پاک نافرماني وکړي،هغه به پخپله هم جهنم ته ځي اودَچاپه وينا يې چې نافرمانی کړې وه هغه به هم دځان سره بوځي.

دسړي له پاره ږيره غټول واجب دي،اوهغه خريل ياکټ کول(چې ديوموټي نه کمه وي) شرعاً حرام او کبيره ګناه ده[3]دَدې مسئلې تفصيل زماپه رساله"داړهي کامسئله" کې وګورئ،لهذاد مور او پلار په وينا سره ددې کبيره ګناه ارتکاب جائزنه دی،اوکوم موراوپلارچې زامن په دې

---

[1] قوله والسكنى فى بيت خال عن أهله وأهلها معطوف على النفقة أى تجب السكنى فى بيت أى الأسكان للزوجة على زوجها لأن السكنى من كفايتها فتجب لها كالنفقة .... وإذا وجبت حقها لها ليس له أن يشرك غيرها فيه لأنها تتضرربه ...إلخ (البحرالرائق ج: ٤ ص: ٢١٠ باب النفقة طبع دارالفكر)۔

[2] عن النواس بن سمعان....... لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق (مشكوة ج: ١ ص: ٣٢١، كتاب الإمارة)

[3] وأما الأخذ منها وهى دون ذالك كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد، وأخذ كلها فعل يهود الهند ومجوس الأعاجم (درمختار ج: ٢ ص: ٤١٨)۔

کبیره ګناه باندې مجبوروي دهغوی په باره کې اندیشه ده چې دهغوی خاتمه به په ایمان باندې نه کیږي او هغوی به دنیانه دتلوپه وخت دایمان نه محرومه خي.(الله تعالی دې موږ دې نه په پناه کې وساتي).

داسې دمور او پلار په وینا سره تې وي کتل، سندرې اوریدل او نامحرمو سره ملاویدل هم حرام دي[1]، چې کله په دې ګناهونو باندې دالله تعالی قهرنازل شي نونه بهيئې موراوپلاربچ کړي اونه به يې خپل خپلوان، دوستان او رشته داران، اوپه قبرکې چې کله په دې ګناهونوباندې دقبرعذاب وي نوهیڅوک به دهغه فریاداوریدو والا نه وي، اودقیامت په ورځ به ددې ګناهونوارتکاب کولوو الابه ګرفتار راولي، نوهیڅوک به دهغه بچ کولووالا نه وي.[2]

دَ مور او پلار غټه درجه ده اودهغوی فرمانبرداري په بچیو فرض ده، خوپه دې شرط سره چې مور اوپلاردرته دیوجائزکار حکم وکړي[3]، خوکه ګناهګار مور او پلاردخپل اولاد دجهنم خشاک جوړولو له پاره دګناهونوحکم وکړي نودهغوی فرمانبرداري فرض څه چې جائزهم نه ده، بلکې په داسې صورت کې دَهغوي نافرماني فرض ده، ظاهره ده چې دمور او پلار حق دَالله تعالی نه زیات نه دی، کله چې درته موراوپلاردګناهونو حکم وکړي اودالله تعالی نافرمان جوړشي نودداسې نافرمانه فرمانبرداري کله جائزکیدای شي ----؟

• اودادلیل کوم چې پیش شو چې دموراوپلاردَاجازت نه بغیر په جهادباندې تلل هم جائز نه دي، دادلیل غلط دی، څکه چې داد شریعت حکم دې چې که جهادفرض عین نه وي او مور پلار دخدمت محتاج وي؛ نودموږپلارخدمت دې دفرض کفایه نه مقدم وګڼل شي[4]، دې نه دا اصول څنګه راغلل چې دمور او پلار په وینا باندې شرعي فرائض هم دې پریښودلی شئ اودَ الله تعالی دښکاره نافرمانیو ارتکاب دې هم وکړل شي.

اوداویل چې "داڅنګه اسلام دی چې انسان دباقي دُنیانه بیل یوازې کیني؟" نهایت لچراوبې هوده خبره ده، اسلام خو ددې نوم دی چې دیوله پاره دې ټول پریښودل شي، په قرآن کریم کې دي: تاسو وفرمایئ چې یقیناً زمالمونځ او زماټول عبادت او زما ژوند او زما مرګ دا خالص

---

[1] أيضًا حوالا بالا (عن النواس بن سمعان....الخ)۔

[2] قال تعالى: فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ، يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ، وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ، وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ، لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ (عبس:۳۳، ۳۷)۔

[3] وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ .... وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ (لقمان:۱٤، ۱۵) ورسره دتیری شوی صفحی حاشیه نمبر ۱ هم وګورئ)۔

[4] قوله (لأن طاعتهما فرض عين) اى والجهاد لم يتعين فكان مراعاة فرض العين أولى كما فى التجنيس، وأخذ منه فى البحر كراهة الخروج بلا إذنهما (ردالمحتار ج: ٤ ص: ۱۲۵، مطلب طاعة الوالدين فرض عين)۔

دالله تعالى له پاره دى،چې هغه مالک دټول جهان دى،دهغه هيڅوک شريک نشته.اوماته دهمدې حكم شوى دى اوزه دټولومنونكو نه مخكې يم."[۱] (سورة انعام).

آيارسول پاک ﷺ اوصحابه كرام رضي الله عنهم،دالله تعالى دحكمونو پوره كولوله پاره باقي دټولې دنيانه بيل شوي نه وو؟

که دنياخرابه وي نودهغې نه بيليدل انسان دتباهۍ اوبربادۍ نه بچ كولى شي.ګينى كله چې داخرابه دنيادَالله تعالى دقهرپه پنجه كې راشي؛ نوددې سره دملاويدو اوسيدو والابه هم دالله تعالى دقهرنه بچ نه شي----! "بابا رشته ټولوسره ختمه كړه.بابارشته حق سره جوړه كړه..

د ښځې او سړي مرتبه

سوال: رئيس امروهوي صاحب په خپلو دوو كالموپه عنوان"دزنانه وو مسئله"او"آفسوس د لاچارو عقل" (چې هغه په تاريخ ۱۷او۲۴ستمبر كې په "جنګ"كې شائع شو) كې دښځوپه معاشرتي مقامونو باندې بحث كړى دى،هغوى دمولاناعمراحمدعثماني تصنيف"فقه القرآن" (جلددريم) نه اقتباسات نقل كړي دي.ليكى چې: په دې كتاب قرآني حوالوسره ثابت شوي دي چې نه دښځې عقل ناقص دى نه ايمان! بې شكه دسړي اوښځې په صلاحيتونوكې فرق دى،خو ددې فرق نه دانه ثابتيږي چې ښځه دسړى نه كمتر ده."قوامون على النساء"دامعنا اخيستل چې سړى دښځې حاكم دې،صحيح نه دي،دلغت په رڼاكې د"قوام" معنا دمعاشى كفيل ده.اويقيناً سړى،دَښځې معاشي كفيل دى،سړى ته په ښځه باندې دقرآن په رڼا كې هيڅ فضيلت حاصل نه دى،مصنف دعالمانه بحث نه وروسته (چې داصرف په قرآني استدلال باندې مبني دى) دايې ثابت كړي دي چې دښځې شهادت دسړي پشان مستنددى،قابل قبول او شرعى اعتبار سره درست دى.

امروهوى صاحب په مخكې تلوسره ليكي: "دقرآن مجيدخطاب په هره معامله كې دښځې او سړى دواړوله پاره يوشان دى،دښځې دكمترۍ يودليل داوركول كيږي چې په قرآن مجيدكې دنيكانوسړيوسره وعده شوې ده چې هغوى ته به په جنت كې حورې ملاويږي،اوښځې سره داسې قسمه هيڅ وعده نه ده شوې، مولانا عمرعثماني فرمايي چې ددې دعوې كمزورى داده چې دحورمعنا ده،سپين رنګ(ښځې هم دسپين رنګ كيداى شي، سړي هم) نودسپين رنګ سړي ته هم حور ويل كيداى شي."

۲۴ستمرپه كالم كې رقم طراز دى: "په قرآن كې يې دانسانيت دا دواړه صفتونه(يعنى سړى اوښځه) كې هيڅ فرق او امتيازنه دى اېښودلئ.دواړه يې په يوځاى اېښودلي دي."

---

[۱] قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ (الأنعام: ١٦٢، ١٦٣)_

مصنف په هرځاى قرآني استدلال سره دتاريخ او رواياتونه سند اخيستى دى.دسړي په ځاى ښځه دکورمشره ده،په حکومت کې هم دښځې مشوره(ووټ) هم داسې حاصل کوړيکاردى څنګه چې دسړيو.مولاناثابت کړي دي چې ښځې داسې شريک محفلونوکې شريکيداى شي چې په هغو کې سړي موجود وي،شرط پکې دا دى چې هغه دَخپل ښائست نمائش ونه کړي.پارليمنټ.اسمبلۍ اود سړيوپه محفلونوکې ښځې تقريرکولى شي.شرط پکې دا دى چې اسلامى ستراوحجاب قائم وساتي،هغه يوازې سفرکولى شي. مصنف په قرآني دلائلوسره دا غلط ثابت کړي چې دښځې خون بها دسړى نصف وي.ښځه دقاضي فرائض پوره کولئ شي،په سياسي تحريکونوکې برخه اخيستلى شي،دملک مشره جوړيداى شي، شرعي پردې په باره کې مولاناعمراحمدعثماني بحث فيصله کن دى،ليکي چې قرآن مجيدعامو مسلمانو ښځوته چې کوم هدايت ورکړى دى.هغه دا دى چې:

۱:خپل نظرونه لاندې وساتئ.

۲:بې حيائې مه کوئ.دزينت ښائست اوجمال نمائش دې نه کوي. چې کالي اچوى نوښنې دومره په زور سره مه وهئ چې ګونګړي وشرنګيږي.

۳:دکورنه په اووتلوباندې بورقع(حجاب) پسروئ.

مولانا(عمراحمدعثمانى) بيان دى چې:"ددې ټولواحاديثونه معلوميږي چې دحضورپاکﷺ په ژوندمبارک کې به ښځوخپل مخونه ښکاره کول پخپله به دحضورپاکﷺ دربارکې حاضريدې اوحضورپاکﷺ چرې هم دناخوښۍ اظهارنه و فرمايلى."

مولانا!داهغه مختصرشان خبرې دې کومې چې رئيس امروهوى دمولاناعمراحمدعثماني په يوکتاب بنيادي جوړکړې نقل کړي دي،اُميددې چې تاسوبه ددرج شويو سوالونوجوابونه دَقرآن کريم او حديث په رڼاکې راکړئ چې زمونږ ټول شکونه ختم شي کوم چې په ذکرشوي مضمونوکې موويلي اودخلکوپه ذهنونوکې پيداشوي دي.

سوال: ۱_آياواقعى په قرآن کريم کې دښځې اوسړي په مينځ کې هيڅ فرق نه دى اينبودل شوى؟

سوال: ۲ آيانيکانوښځوته به هم په جنت کې حورې(سړى.څنګه چې يې په مضمون کې ويلي دي) ملاويږي ؟

سوال: ۳_آيادَحضورپاکﷺ په وخت کې ښځوبه خپل مخونو ښکاره کول اوپخپله به د حضور پاکﷺ په دربارکې حاضريدې اوحضورپاکﷺ کله هم په دې دناخوښۍ اظهارنه و کړى؟

سوال: ۴ آيا دسړيو په محفلونوکې ښځې تقريرکولى شي؟

سوال: ۵_آيا ښځه قاضى جوړيداى شي؟ په سياسي تحريکونوکې حصه اخيستى شي او دملک مشره جوړيدې شي؟

الجواب "

دجناب عمراحمد عثماني چې کوم فکرونه په سوال کې نقل شوي شوي دي. دا دهغوی ذاتي خيالونه دي. قرآن کريم، حديث نبوي او اسلامي شريعت سره ددې هيڅ تعلق نشته.

د قوّام معنی

دَ عثماني صاحب په نزد خو "قَوامونَ عَلَى النِّساءِ" دامعنا چې سړی حاکم دی، صحيح نه ده. خودهغه نيکه حکيم الامت مولانا اشرف علی تهانوی(رحمه الله) په خپل تفسير "بيان القرآن" کې د آيت کريمه "اَلرِّجَالُ قَوامونَ عَلَى النِّسَاءِ" ترجمه داسې کوي:

"سړي حاکم دي په ښخوباندې په دوو وجه سره. يوه خو) په دې سبب سره چې الله تعالی بعضی (يعنی سړی) په بعضوباندې (يعنی په ښخوباندې قدرتي) فضيلت ورکړی دی. (داخو وهبي امردی) او (بل) په دې سبب سره چې سړيو په (ښځوباندې) خپل مال (مهرکې، خوراک څښاک کې) خرچې کړي دي. (او دخرچ کولووال الاس اوچت اوبهتر وي، دهغه نه په چاچې خرچ کيږي. اودا امرمکتسب دی) پس کومې ښځې چې نيکې دي (هغه دسړي ددې فضيلتونواوحقوقو په وجه سره) اطاعت کوي ------".

اودعمراحمد عثماني صاحب پلارماجدشيخ الاسلام مولانا ظفراحمد عثماني(نورالله مرقده) په "احکام القرآن" کې ددې آيت په ذيل کې ليکي:

"قوام هغه سړی دی چې هغه دنورو د مسئلو، تدبيرونو ذمه دار وي، الله تعالی دسړيوپه ښخو باندې دقوام کيدو دوه سببونه ذکرکړي دي، يووهبي، دويم کسبي، نو ارشاد مبارک دی: "په دې سبب سره چې بعضوته به بعضوباندې فضيلت ورکړی دی" يعنی سړيو ته په ښځو باندې فضيلت ورکړی دی، اصل خلقت کې، کمال عقل کې، په حسن تدبيرکې، دعلم پراخي کې. د عملونوپه زيات قوت کې اود استعدادپه بلندي کې، همدا وجه ده چې سړی يې په ډيروداسې حکمونوسره مخصوص کړی دی چې هغه دښځوسره متعلق نه دي، مثلاً: پيغمبري، امامت، قاضي او جج جوړيدل، حدود او قصاص وغيره کې شهادت ورکول، وجوب جهاد، جمعه، اخترونه، آذان، جماعت، خطبه، وراثت کې زياته برخه، دنکاح مالک کيدل، دطلاق ورکولو اختيار، بغير د وفقې نه دلمونځ روژې کامل کيدل، وغيرذالک، داامرخووهبي دی، بيايې فرمايلي دي "اوپه دې سبب سره چې سړيو دَ(ښځوپه نکاح کې) خپل مال خرچ کړی دی" يعنی مهراونان ونفقه او دا امرکسبي دی" (احکام القرآن ج:۲ص:۱۷۶).

ددې نه پس حضرت شيخ الاسلام(رحمه الله) ددې آيات په شان نزول کې ډيرروايتونه نقل کړي دي، چې دهغې خلاصه دا ده چې يو صحابي خپله ښځه په مخ وهلې وه، هغې حضورپاک ﷺ ته شکايت وکړ، حضورپاک ﷺ هغې ته دخاوندنه دَبدلې اخيستلواجازت ورکړ، په دې باندې داآيات نازل شو اوحضورپاک ﷺ خپله فيصله واپس واخيستله اودحضرت علی کرم الله وجهه

نه دآیت تفسیردا نقل شوی دی: "ویقومون علیهن قیام الولاة علی الرعیة مسلطون علی تادیبهن" یعنی سړي دښځو دمصالحوذمه داردي، څنګه چې حکمرانان د حکومت ذمه داران يې، او دښځوپه تادیب باندې يې مقرر کړي دي.(حواله گزشته).

دې نه واضحه ده چې حضورپاک ﷺ، صحابه کرام رضی الله عنهم، اودامت بزرګانوخودا آیت: "قوامون علی النساءِ" معنا همدا اخستې ده چې د سړي حیثیت دحاکم دی، اوهغه صرف دښځې معاشي کفیل نه دی، بلکې دهغې ددين او اخلاقو دنګرانۍ ذمه دار او دهغې په تادیب باندې مامور هم دی.

دسړي په ښځې باندې فضیلت

سوال: دښځې او سړی په تخلیق کې الله تعالی فطري تفاوت ایښی دی، اوهريوته يې خپل صلاحیتونه ورکړي دي، چې هغه ددې د فرائضومناسب دي، دسړيو صفتونه په ښځوکې نشته، اونه دښځو صفتونه په سړيوکې شته، دیوچا فضیلت دالله په نزد صلاح اوتقوی باندې دی، که هغه ښځه وي اوکه سړی، الله تعالی په مختلف ځايونوکې سړي ته په ښځه باندې فوقیت ورکړ ی دی، چې دهغه ذکرمخکې حضرت مولاناظفراحمد عثمانی(رحمه الله) په حوالې سره تیرشوی دی، په دوو ځايونوکې الله تعالی ښځې باندې دسړی فضیلت ښکاره فرمايلی دی، یوخوهم هغه مخکې تیرشوی آیت چې په هغه کې: "بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ" تصریح ده، یعنی الله تعالی سړيوته په ښځوباندې فضیلت ورکړی دی، اوبل دهمدې سورة النساء آیت نمبر ۳۲کې، چې په هغه کې يې فرمايلي دي: "وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ"

حضرت حکیم الامت(رحمه الله) ددې ترجمه کړې ده:

"اوتاسو(ټولوسړیو اوښځوته حکم کیږي چې د فضائل وهبیه نه) دیوداسې حکم آرزو مه کوئ چې په هغه کې الله تعالی بعضوته (مثلاً سړیوته) په بعضوباندې(مثلاً ښځوباندې دهغوی په یوعمل باندې) فوقیت نصیب کړی دی(لکه سړیتوب، یادسړي دوه حصې کیدل، یادهغوی دشهادت کامل کیدل، وغیرذلک)."

اوحضرت(رحمه الله) ددې په شان نزول کې داحدیث نقل کړی دی چې:

"حضرت أم سلمه رضی الله عنها یوځل حضورپاک ﷺ ته عرض وکړ چې: مونږ ته نیم میراث ملاویږي نورهم فلانی فلانی فرق په مونږ اوسړیو کې دی، مطلب اعتراض نه و، بلکې دا و چې که مونږ هم سړی وې نه ښه به وای ------ په دې باندې دا یات نازل شو."

دې نه واضحه کیږي چې الله تعالی سړیو ته په ښځوباندې فطرتي فوقیت او فضیلت ورکړی دی، اوپه ډیروشرعي حکمونو کې يې دا ملحوظ ساتلی دی، خوجناب عمراحمد عثماني ته په دې مسئله کې دالله پاک سره اختلاف دی.

دَ ښځې او سړي په مینځ کې فرق او امتیاز

سوال: دموصوف دا دعوه چې په قرآن کریم کې دښځې او سړي په مینځ کې هیڅ قسمه فرق اوامتیازنه دی ایښودل شوی،بلکې په هرځای یې دواړه برابرساتلي دي،دایوه داسې غلط بیاني ده چې دې ته یوعام سړی هم چې هغه دَقرآن کریم سره لږ مناسبت لري،واضح طورباندې دااحساس کولی شي،ددواړو په مینځ کې دمراتبو دفرق یوڅومثالونه ستاسوپه خدمت کې پیش کوو:

۱ قرآن کریم ښځې ته دسړي دفرمانبردارۍ حکم کړی دی،اوهمدايې دَشریفو اونیکانو ښځو علامه ګرځولې ده: "فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ"(النساء) اوښځوته یې دسړیوداطاعت او فرمانبرداري نه،بلکې دهغوی سره یې دښه سلوک کولوحکم کړی دی: "وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ" النساء) دې نه واضحه کیږي چې الله تعالی سړی حاکم، دکورسربراه او افسراعلی جوړکړی دی اوښځه یې دهغه ماتحت ګرځولې ده.

۲ قرآن کریم دښځې برخه په وراثت کې نصف ټاکلې ده: "لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ" لکه دښځې برخه یې دسړي نه کمه،دپلار برخه دمورنه کمه،دخاوندبرخه دښځې نه اودوروربرخه دخورنه دوه چنده ده.

۳ قرآن کریم دښځې شهادت دسړی نصف ایښودلی دی: "فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ".

۴ قرآن کریم دطلاق اختیارسړي ته ورکړی دی، اوکه دښځې یو بدمزاجه سړي سره ژوندشي اوهغه دهغه نه خلاصی غواړي نودهغه له پاره یې د"خلع" صورت تجویزکړی دی،چې هغه یاددواړو طرفونه په رضاسره کیږی،یادعدالت په ذریعه.

۵ قرآن کریم سړي ته په یووخت کې دڅلورو نکاح کولوحکم اجازه ورکړې ده،اودی یې پابند کړی دی چې هغه دې دډیروښځوپه صورت کې دهغوی په مینځ کې دعدل او انصاف تقاضې قائمې وساتي؛خوښځې ته یې دیونه دزیاتوخاوندانوکولواجازت نه ده ورکړې.

دې یوڅومثالونونه واضحه کیږی چې قرآن کریم دسړي او ښځې په مینځ کې فرق او امتیاز په هرځای کې قائم ساتلی دی،چې هغه یو مسلمان نظرانداز کولی نشي.

دښځې دیت

په اسلامي شریعت کې دَښځې دیت دسړی ددیت نیمای دی،او په دې باندې دصحابه کرامو رضي الله عنهم نه واخلهدَڅلورو واړو امامانو پورې دټولو اتفاق دی،ملک العلماء امام علاء الدین ابوبکربن مسعود الکاساني الحنفي(رحمه الله) په "بدائع الصنائع" کې لیکي:

"**فدية المراة على النصف من دية الرجل لاجماع الصحابة رضي الله عنهم فانه روى عن سيدنا عمر وسيدنا علي وابن مسعودوزيدبن ثابت رضوان الله تعالى عليهم انهم قالوافي دية المراة انهاعلى النصف من دية الرجل، ولم ينقل انه انكر عليهم احد، فيكون اجماعاً ولان المراة في ميراثها وشهادتها على النصف من الرجل فكذلك في ديتها.**" (بدائع الصنائع ج:۷ص: ۲۵٤).

ترجمه: "دښځو ديت دسړيو دديت نيمای ده، ځکه چې په دې باندې دصحابه کرام رضي الله عنهم اجماع ده، چنانچې حضرات عمر، علي، ابن مسعوداوزيدبن ثابت رضي الله عنهم نه روايت دی چې هغوی فرمايلي چې دښځې ديت دسړی دديت نيمای ده، اوديوصحابي نه هم دانقل نه دي چې هغه په دې حضراتو باندې په دې مسئله کې نکيرکړی وي، لهذا دا اجماع شوه او عقلي دليل دا دی چې ښځې وراثت او شهادت دسړی نه نصف دی، داسې به دهغې ديت هم نصف وي."

امام ابوعبدالله محمدبن احمدالانصاری القرطبی المالکی (رحمه الله) په خپل تفسير "الجامع لاحکام القرآن" کې ليکي: **واجمع العلماء على ان دية المراة على النصف من دية الرجل، قال ابوعمر: انماصارت ديتها (والله اعلم) على النصف من دية الرجل ان لهانصف ميراث الرجل، وشهادة امراتين بشهادة رجل.**" (الجامع لاحکام القرآن للقرطبی (رحمه الله) ج:۵ص:۳۲۵).

ترجمه: "اودعلماوو په دې باندې اجماع ده چې دښځې ديت دسړی دديت نيمای ده، ابوعمر (ابن عبدالبر (رحمه الله)) فرمايي چې: ددې ديت دسړی دديت نصف ده، ځکه چې ددې دميراث برخه هم دسړي دبرخې نيمای ده اودهغې شهادت هم دسړي دشهادت په نسبت نصف دی، نوځکه چې ددوو ښځوشهادت يوځای شي نوديوسړي دشهادت برابريږي."

شرح مهذب په تکمله کې دي: "**دية المراة نصف دية الرجل هذاقول العماء كافة الاالاصم وابن علية فانهما قالا: ديته مثل دية الرجل، دليلناماسبقناه من كتاب رسول الله ﷺ الى اهل اليمن وفيه: "ان دية المراة نصف دية الرجل" وماحكاه المصنف عن عمروعثمان وعلي وابن مسعودوابن عمروابن عباس وزيدبن ثابت انهم قالوا: "دية المراة نصف دية الرجل" ولامخالف لهم في الصحابة فدل على انه اجماع.**" (شرح مهذب ج:۱۹ص: ۵٤).

ترجمه: "دښځې ديت دسړي دديت په نصف ده، دا دټولو علماوو قول دی، سوا د اصم اوابن عليه نه دا دواړه صاحبان وايي چې: دښځې ديت دسړي دديت برابرده، زموږ دليل دحضور پاک ﷺ هغه خط مبارک دی چې حضورپاک ﷺ ديمن والوته ليکلی و او داموږ مخکې نقل کړی ی. په دې کې يې دا هم ليکلي و چې" دښځې ديت دسړی دَديت په نصف دی" دې نه علاوه ځنګه چې مصنف نقل کړل، حضرات عمر، عثمان، علي، ابنِ مسعود، ابنِ عمر، ابنِ عباس اوزيدبن ثابت رضي الله عنهم ارشاد مبارک دی چې دښځې ديت دسړی دَديت په نصف وي، اوپه صحابه

کرام ﷡ کې د دې هیڅوک خلاف نه و؛نو معلومه شوه چې په دې مسئلې باندې دصحابه کرامو ﷡ اجماع ده.

اوسیدي ومرشدی حضرت شیخ الحدیث مولانا محمدذکریاکاندهلوي ثم المدني(نورالله مرقده) په "اوجزالمسالک" کې فرمايي: **"قال ابن المنذروابن عبدالبر:اجمع اهل العلم على انه دية المراة نصف دية الرجل وحكى غيرهماعن ابن علية والاصم انهماقالا:ديتها كدية الرجل،لقوله صلى الله عليه وسلم في النفس المؤمنة مائة من الابل،وهذاقول شاذ يخالف اجماع الصحابة وسنة النبي ﷺ فان في كتاب عمروبن حزم:دية المراة على النصف من دية الرجل وهي اخص مماذكروه فيكون مفسرًا لماذكروه مخصصًا له،ودية نساء كل اهل دين على النصف من دية رجالهم."** (اوجزالمسالک ج:۱٤ص:۲۸،طبع بیروت).

ترجمه: "حافظ ابن منذر (رحمه الله) او حافظ ابن عبدالبر (رحمه الله) فرمايي چې: د اهل علمو په دې باندې اجماع ده،بعضې نورو حضراتو دابن علیه او اصم نه نقل کړي دي چې:دښځې دیت دسړي ددیت برابر ده،ځکه چې دحضور پاک ﷺ ارشادمبارک دی چې:دمؤمن دقتل کولو دیت سل اوښان دي،اوداقول شاذدی، داداجماع صحابه ﷡ او دسنت نبوي ﷺ خلاف دی،نوچې دعمربن حزم نه چې دحضور پاک ﷺ کوم خط روایت دی په هغه کې دي چې:"دښځې دیت دسړي ددیت نصف دی"په دي کې چې په خصوصیت سره دښځې دیت ذکردی، ځکه دا حدیث به ددي روایت شوي حدیث شارح مخصص به وي، او په ټولو دینونو کې دښځې دیت دسړي ددیت په نصف دی."

دې تصریحاتو نه واضحه کیږي چې دښځې دیت دسړي ددیت په نصف کیدل"غلط مفروضه" نه ده، بلکې داسلام اجماعي مسئله ده، او ددې انکار دلمر اود ځوارلسمې شپې د سپوږمۍ نه انکاردی.

دښځې او سړي شهادت

دموصوف دا وینا یوحده پورې صحیح ده چې:"دښځې شهادت دسړي پشان مستند ،قابل قبول او په شرعي اعتبارسره درست دی"خوکه دا مطلب وي چې دښځې او سړي شهادت کې هیڅ فرق نشته نودا غلط ده،قرآن پاک او سنت دسړي اوښځې په شهادت کې په یوڅو وجوسره فرق کړی دی:

۱: دښځې شهادت دسړي دشهادت نصف دی،یعنې ددوو ښځو شهادت چې یوځای شي نودیو سړي دشهادت برابرشي.

۲: دسړي شهادت دښځوشهادت له پاره شرط دی،دیوازې ښځې شهادت به نه قبلیږي، ترڅو پورې چې دهغې سره یوسړی دشهادت والانه وي(مګرداچې هغه معامله دښځوسره مخصوص

وي چې په دې امربانديې دسړيو مطلع كيدل عادة ممكن نه وي) دادواړه مسئلې يې دسورت بقرې آيات :۲۸۲ په يوې فقرې كې بيان كړي دي: "فَاِنْ لَمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ" بياكه دوه ګواهان سړي (موجود) نه وي نويوسړى اودوه ښځې (دې ګواهانې جوړې كړل شي).(بيان القرآن).

۳:په حدود او قصاص كې صرف دسړيو شهادت معبردى، دښځو نه،شيخ الاسلام مولانا ظفراحمد عثماني(رحمه الله) په احكام القرآن(ج:۱ص:۵۰۲) كې نصب الرايه(ج:۲ص:۲۰۸) په حوالې سره دامام زهري(رحمه الله) حديث نقل كړى دى:

"عن الزهرى قال:مضت السنة من رسول الله ﷺ والخليفتين بعده ان لاتجوز شهادة النساء فى الحدود والقصاص،رواه ابن ابى شيبة."

ترجمه: "دحضرت زهرى(رحمه الله) نه روايت دى چې رسول الله ﷺ او دحضورپاك ﷺ نه وروسته ددوو خليفه ګانو حضرات ابوبكراو عمر رضي الله عنهما نه داسنت جاري دي چې دښځوشهادت په حدود او قصاص كې معتبرنه دى."(ابن ابى شيبه).

"وعن الحكم ان على ابن ابى طالب قال:لايجوزه شهادة النساء على الحدود والدماء."(اخرجه عبدالرزاق). **ترجمه:** "حكم نه روايت دى چې حضرت علي رضي الله عنه فرمايلي چې:دښځو شهادت په حدود او قصاص كې معتبرنه دى."

دښځوكورنه بهروتل

سوال: ښځوله پاره اصل حكم خودادى چې بغيردضرورت نه دې بهرقدم هم نه ږدي،دسورت احزاب آيت نمبر:۳۳ كې ازواجِ مطهرات رضي الله عنهن ته حكم دى:

"وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى."

ترجمه: "تاسويه خپلوكورونوكې په آرام سره اوسيږئ،(مراد دانه دى چې صرف په جامې اغوستلو پرده كولو باندې كفايت مه كوئ، بلكه پرده په داسې طريقې سره كوئ چې بدن سره لباس هم په نظر رانشي،څنګه چې نن سبا په شريفانو كې دپردې طريقه متعارفه ده چې ښځې دكورونونه راوځي،البته دضرورت په موقع د دويم دليل نه مستثنى دي) او (دهمدې حكم دتائيدله پاره ارشاد دى چې) دپخوانى زمانه جهالت د دستور مطابق مه كوئ (چې په هغه كې بې پردګي رائج وه،چې هغه بغيردفحش نه ولې نه وي اودپخواني جاهليت نه مراد هغه جاهليت دى چې داسلام نه مخكې و اوددې په مقابله كې ديومابعدجاهليت دى چې وروسته دتعليم اوتبليغ داحكام الاسلام په دې باندې دې عمل اونه كړل شي،نو كوم تبرج چې داسلام نه وروسته به وي هغه آخري جاهليت دى." (تفسيربيان القرآن ازحكيم الأمت (رحمه الله)).

په دې شايد چاته دا خيال وي چې دا حکم خو صرف دازواج مطهرات (رضوان الله عليهن) سره خاص دی، خو دا خيال صحيح نه دی، حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په "احکام القرآن" کې ليکي چې په دې آيات کريمه کې پنځه حکمونه شوي دي:

۱: ناپيژندګلو خلکو سره په نزاکت سره خبرې نه کول. ۲: د کورونو بهر نه وتل.

۳: دلمونځ پابندي کول. ۴: زکات ادا کول.

۵: دالله تعالی او د هغه د رسول پاک ﷺ فرمانبرداري کول.

ظاهره ده چې دا ټول حکمونه عام دي، صرف د ازواج مطهرات ﷺ سره خاص نه دي او ټول ائمه مفسرين په دې باندې متفق دي چې دا احکام د ټولو مسلمانانو ښځو له پاره دي، حافظ ابن کثير (رحمه الله) فرمايي، او د ايمان والا ښځې په دې حکمونو کې دازواج مطهرات تابع دي. (احکام القرآن حزب خامس ص: ۲۰۰).

البته د ضرورت په موقعو باندې د ښځې له پاره ديوڅو شرطونو پابندي سره د کورنه د وتلو اجازت شته، حضرت مفتي صاحب په "احکام القرآن" کې د دې سلسلې آياتونه او حديثونه په تفصيل سره دليکلونه وروسته د دې شرائطو خلاصه داسې نقل کړې ده:

۱: د وتلو په وخت دې خوشبو نه لګوي او د ښائست لباس دې نه اچوي، بلکې په خرابو ګنده جامو کې دې بهر وځي.

۲: داسې کالي (ګېڼه) دې د بهر وتلو په وخت نه اچوي چې په هغې کې آواز وي.

۴: په خپل چال کې د غرور او ښائست انداز مه اختياروئ، چې هغه د چاله پاره د کشش وجه جوړه شي.

۵: دلارې په مينځ دې نه ځي، بلکې په غاړو (طرفونو) دې ځي.

۶: د وتلو په وخت غټ څادر (جلباب) دې پسروي، چې په هغه سره د سرنه پښو پورې پوره جسم پټ شي، صرف يوه سترګه دې ښکاره وي.

۷: د خپلو خاوندانو د اجازې نه بغير د کورنه بهر مه وځئ.

۸: د خپل خاوند د اجازې نه بغير چا سره خبرې مه کوئ.

۹: که ديو ناپيژندګلو سره دې د خبرو کولو ضرورت راشي نو د هغه په شونډو او لهجه کې نرمي او نزاکت نه دی پکار، چې په هغه سره داسې سړي ته طمع راشي د چا په زړه کې چې د شهوت مرض وي. ۱۰: خپل نظرونه دې ښکته ساتي، حتی الوسع نامحرم باندې نظر پريوتل نه دي پکار. ۱۱: د سړيو په غونډه کې دې نه داخليږي.

دې نه دا هم واضحه کيږي چې د پارليمنټ وغيره رکنيت قبلولو او د سړيو په غونډو کې تقرير کول، د ښځو د نسوانيت خلاف دي، ځکه چې په دې صورتونو کې اسلامي ستر او حجاب قائم ساتل ممکن نه دي.

د ښځو یوازې سفر کول

د ښځې بغیرمحرم نه سفرکول جائز نه دي،په حدیثونوکې ددې ممانعت راغلی دی،اوپه صحاح سته، مؤطاامام مالک،مسنداحمد او دحدیث په ټولو مجموعوکې د ډیروصحابه کرامو (رضوان الله اجمعین) په روایت سره دحضورپاکﷺ دا ارشادمبارک نقل دی چې: "دیوې ښځې له پاره،چې هغه په الله تعالی او آخرت باندې ایمان لري،حلال نه دې چې بغیرمحرم د درې ورځو سفر وکړي"[1] دې نه معلومیږی چې بغیرمحرم نه سفرنه کول دښځې دنسوانیت ایماني غوښتنه ده کومه ښځه چې دایمان ددې تقاضې خلاف ورزي کوي،هغه دحرام کارمرتکبه ده ؛ځکه چې دې کار ته حضورپاکﷺ "لایحل" فرمایي(یعنی حلال نه دی).

د ښځو جج(قاضي) جوړیدل

داسې ټول منصبونه چې په هغه کې دهرکس ناکس سره داختلاط او ملاویدو ضرورت پیښیږي، اسلامي شریعت ددې ذمه داري په سړوباندې عائده کړې ده،اوښځې یې دې نه لرې ساتلي(ددې تفصیل مخکې دشیخ الاسلام مولاناظفراحمدعثماني (نورالله مرقده) په عبارت کې راغلی دی) هم په دې ذمه وارو کې یوه ذمه واری دجج او قاضی جوړولوهم ده، حضورپاک ﷺ او خلفاء راشدین (رضوان الله علیهم) په زمانه کې ډیر دعقل والا ښځې موجودې وې، خوکله یې هم یوې ښځې ته دجج او قاضی جوړولو زحمت نه و ورکړی، په دې باندې د څلور وارو مذهبونواتفاق دی چې ښځه قاضي او جج جوړول جائز نه دي،دَ ائمه ثلاثه(رحمهم الله) په نزد خوپه یوې معامله کې ددې فیصله به نه نافذکیږي،دَامام ابوحنیفه(رحمه الله) په نزد دحدود او قصاص نه سوا کې ددې فیصله به نافذکیږي، خودا قاضي جوړول گناه ده،

دفقه حنفی په مشهورکتاب درمختارکې دي: **"والمرأة تقضي فی غیرحدوقود وان اثم المولی لهالخبرالبخاری لن یفلح قوم ولوامرهم امراة."**(شامی طبع جدیدج:۵ص:۴۴۰).

ترجمه:اوښځه دحداوقصاص نه سوا فیصله کولی شي،اګرچې دفیصلې له پاره ښځه مقررونکي به ګناهګاروي، ځکه چې دصحیح بخاری حدیث دی چې هغه قوم به کله هم کامیاب نشي چاچې خپله معامله دښځې په حواله کړه.

---

[1] عن عبد الله عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لایحل لأمرأةتؤمن بالله والیوم الآخر تسافر مسیرة ثلاث لیال إلا ومعها ذومحرم (مسلم ج: ۱ ص: ۴۳۳، باب سفرالمرأة مع محرم إلی حج وغیره_

ښځه دملک مشره جوړول

په اسلامي معاشره کې ښځه دملک مشره جوړولو هیڅ تصور نشته،په حدیث کې دي چې حضورپاک ﷺ ته اطلاع وشوه چې فارس والو دکسری لور بادشاه جوړه کړې ده؛نوحضور پاک ﷺ وفرمایل: "لن یفلح قوم ولوا امرهم امراة".(صحیح بخاری ج:۲ص:۶۳۷،۱۰۲۵،نسائی ج:۲ص:۳۰٤،ترمذی ج:۲ص:۳۳۳).

ترجمه:"هغه قوم به کله هم کامیاب نشي چاچې خپله معامله دښځې په حواله کړه."

یوبل حدیث دي:"اذا کان امراء کم خیارکم واغنیاؤکم سمحاء کم وامورکم شوری بینکم فظهر الارض خیرلکم من بطنها،واذا کان امراء کم شرارکم واغنیاؤکم بخلاء کم وامورکم الی نساء کم فبطن الارض خیرلکم من ظهرها." (ترمذی ج:۲ص:۳۳۳).

ترجمه:"کله چې ستاسوحکمرانان په تاسوټولوکې ښه خلک وي، ستاسو مال داران ټولونه سخي او نیکان وي اوستاسومعاملات په خپلوکې مشورې سره پوره فیصله کیږي، نو ستاسو له پاره دځمکې مخ دهغې دخیټې نه بهتردی،اوکله چې ستاسوحکمرانان بدخلک وي،او ستاسو مالداره بخیلان وي او ستاسومعاملات دښځوپه حواله وي نوستاسوله پاره دځمکې خیټه بهتره ده(یعنی په داسې صورت کې د ژوندنه مرګ بهتردی)."

اودامت په دې باندې اجماع ده چې ښځه دملک سرابراه جوړول جائز نه دي."(بدایة المجتهدج:۲ص:۴۴۹).

شاه ولي الله محدث دهلوی(رحمه الله) په ازالة الخفاء کې شرائط خلافت باندې بحث کولوکې لیکي: **ترجمه**:"اویوشرط دا دي چې دملک سرابراه به سړی وي،ښځه به نه وي،ځکه چې په صحیح بخاري کې دحضورپاک ﷺ ارشادمبارک دی: "ماافلح قوم ولوا امرهم امراة"کله چې حضورپاک ﷺ ته دا اطلاع ورسیده چې دفارس والو د کسری لور بادشاه جوړه کړې نوویې فرمایل چې:"هغه قوم به کله هم کامیاب نشي چاچې دخپلې بادشاهۍ معامله دښځې په حواله کړه،ځکه چې ښځه فطرتي ناقص العقل والدین ده،په جنګ اوامن کې بیکاره ده،اوپه محفلونو او مجلسونوکې دحاضریدوقابل نه ده، نو ددې نه ضروري مقصدونه نشي پوره کیدی."

حورې اوحوران

اوپه سوال کې چې کوم ذکرشوی دی چې په جنت کې به نیکانو سړیوته حورې ملاویږی نو نیکانو ښځوته به ,,حورے،،(حوران) ملاویږي، دا صرف یوه لطفیه ده،بې شکه چې دجنتی ښځو مخونه به هم روښانه، نوراني او سپین وي،خوپه لغت او عرف کې د"حور" اطلاق صرف په ښځوباندې کیږي، سړي په دې زمره کې شاملول سخت زیاتی دی،ځکه چې د"حور"لفظ

حورا" جمع دی،او "حَورا" لفظ مؤنث دی،چې دهغه معنا ده " تکه سپینه،، اوپه قرآن کریم کې چرته د "حور" ذکر راغلی دی،هلته ددې صفات هم مؤنث ذکرشوي دي،مثلاً: په دوو ځایونوکې ارشاد دي: "وَزَوَّجنهم بِحورٍ عِينٍ" يوځای ارشاد دی: "وَحُورٌ عِينٌ كَامْثَالِ اللؤلُؤِ الْمَكْنُونِ" اويوځای ارشاد دی: "حُورٌ مقصورَاتٌ فِي الْخِيَامِ".

مؤخر الذکردواړه آیات شریفه نه هم معلومیږي چې دښځو اصل خوبی پټه پکارده،اوپه خیموکې بنده پکارده،چې په دې دواړو صفتونوسره الله پاک دجنتي حورو تعریف کوي،حافظ ابونعیم اصفهانی (رحمه الله) په حلیة الاولیاء (ج:۲ص: ۴۰) کې،اوحافظ نورالدین هیثمی(رحمه الله) په مجمع الزوائد (ج:۹ص:۲۰۲) کې دا حدیث نقل کړی دی چې یوځل حضورپاک ﷺ دَصحابه کرام رضی الله عنهم نه پوښتنه وکړه :ووایئ! دښځې دټولونه غټه خوبي څه ده؟ صحابه کرام رضی الله عنهم ددې جواب ورنه کړای شو،په سوچ کې شو،حضرت علی رضی الله عنه په قلارشان ودریدو کورته لاړ، دحضرت فاطمه رضی الله عنها ته یې دحضور پاک ﷺ سوال ذکرکړ،هغې ورته وفرمایل چې: تاسو خلکو داجواب ولې ورنکړ چې دښځې دټولونه غټه خوبي دا ده چې نه غیرسړی هغې ته و ګوري، نه هغه غیرسړي ته وګوري،حضرت علي رضی الله عنه دا جواب دحضورپاک ﷺ په خدمت کې عرض کړو، حضورپاک ﷺ وفرمایل:داجواب چادرکړی دی؟ عرض یې وکړ: فاطمې رضی الله عنها! ویې فرمایل:ولې به نه وي،فاطمه آخرزما د زړه ټوټه ده.[۱]

دموجوده درو روښن خیاله مسلمانان،چې دچاترجماني جناب عمراحمدعثماني کوي،خدای دې نکړي که جنت ته یې تشریف یوړو؛نوشایدهلته به هم"جنتي حورو" کې دآزادۍ مغربي تحریکونه چلوي،اوڅنګه چې نن سبادملایانوخلاف احتجاجونه کیږي، دابه هلته دالله پاک خلاف احتجاج کوي چې دا مظلوماني "مَقصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ" ولې ایښودل شوي دي؟ دوې ته په آزادي سره دګرځیدو او غیرسړیوسره دملاویدو آزادي پکارده.

---

[۱]عن أنس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ماخيرللنساء فلم ندرمالقول،فسارعلى إلى فاطمة فاخبرها بذالك فقالت: هلا قلت له خيرلهن أن لا يرين الرجال ولا يرونهن، فرجع فاخبره بذالك، فقال له: من علمك هذا؟ قال: فاطمة! قال: إنما بضعة منيّ (حلية الأولياء ج: ٢ ص: ٤٠، أيضًا مجمع الزوائد ج: ٩ ص: ٢٠٢)

❖ متفرق مسئلې ❖

,, دا انسان ضمير مطمئن كيدل پكاردي ،، څه ته وايي

سوال: يولفظ ”ضمير،، په خبروكې ډيرزيات استعماليږي، داپه مختلفو ځايونوكې استعماليږي، بعضې وايي چې زماضميرراويښ شو، دبعضې نه مواوريدلي دي چې دفلانكي سړي ضميرمړشوى دې، دانسان ضميرمطمئن كيدل پكاردي، دضميرشرعي حيثيت څه دى؟

جواب: الله تعالى دهرانسان په زړه كې دنيكۍ اوبدۍ پيژندلو طاقت ايښى دى[۱]، څنګه چې كه ستركې ړندې نه وى نوپه سپين اوتوركې فرق كولى شي، دغه شان هغه طاقت كوم ته چې بصيرت ويل كيږي، كه چرې صحيح كاركوي نوهغه هم دنيكۍ اوبدۍ فرق پيژني. كه چېرې انسان يوغلط كاروكړي نودهغه زړه هغه ملامته كوي، دې ته ضميرويل كيږي، خوكله چې انسان مسلسل بدغلط كاركوي نودهغه دزړه ورو ورو ړنديدل شروع شي اوهغه په نيكۍ اوبدۍ كې فرق كول پريږدي، دې ته دضميرمړكيدل وايي، دكوموخلكوچې ضميرژوندى اوزړه بصيرت روښانه وي هغوى ته كله كله فتوې وركوي چې فلانكى څيزجائزدى،خودهغه ضميرهغه باندې مطمئن نه وي،پس دغه حضرات ددغو كارونونه پرهيزكوي، همدغه شان خلكوباره په حديث كې فرمايل شوي دي، تاسودخپل زړه نه دفتوا باره كې پوښتنه وكړئ، كه څه مفتيان تاسوته دجواز فتوا دركړي.[۲]

سوال: ايايومعامله كې دضميرمطمئن كيدل كافي دي،كه هغه معامله دشريعت خلاف هم وي؟

جواب: څنګه چې الله تعالى په هريوزړه كې دنيكۍ اوبدۍ د پيژندګلوطاقت ايښى دى، د كومې چې پورته ذكرشوې دې، دغه شان الله تعالى په خپل رحمت باندې انبياء كرام عليهم السلام هم دنيكۍ اوبدۍ دپيژندګلواودصحيح اوبدذښودلوله پاره راليږلي دي، ځكه چې انسان باندې اكثر دحرص، هوس اوخواهشاتوغلبه وي، چې په وجه يې دهغه بصيرت ړونداوضميرمړشي، په دې وجه باندې الله تعالى دراليږل شويو پيغمبرانوشريعت دحق اوباطل

---

[۱] قال تعالى: ”فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا (الشمس:۸) وفى التفسير: فاعلمها طاعتها ومعصيتها اى الهمها أن احدهما حسن والآخرقبيح (تفسيرنسفى ج: ۳ ص: ٦٤٨، طبع دار ابن كثير، بيروت_

[۲] وعن وابصة بن معبد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: يا وابصة! جئت تسأل عن البر والإثم، قلت: نعم! قال:جمع أصابعه فضرب بها صدره قال استفت نفسك استفت قلبك ثلاثا البر ما اطمانت اليه النفس واطمان اليه القلب والإثم ماحاك فى النفس وتردد فى الصدر وإن افتاك الناس رواه احمد والترمذى (مشكوة شريف ص:۲٤۲، باب الكسب وطلب الحلال)

ګڼلو صحیح معیار ګرځولی دی، دچا د ضمیر دژوندي کیدو نښه داده چې دشریعت په معیار باندې مطمئن وي، اود ضمیر دمړ کیدو نښه داده چې دشریعت خلاف کارونو باندې مطمئن وي، او شرعي حکمونو باندې مطمئن نه وي. کوم کارونه چې دشریعت خلاف وي هغو باندې دضمیر مطمئن کیدل کافي نه دي، بلکې دا دهغه دزړه دړندیدو اودضمیر دمړه کیدو نښه ده. قران کریم کې ارشاد دی، بې شکه چې سترګې ړندې نه وي، بلکې هغه زړونه ړانده وي کوم چې سینو کې وي.[1]

د حرامو کارونو نه توبه څنګه کول پکار دي؟

سوال: یو کس په ډاکو اچولو، رشوت اخیستلو او حرامو کار کولو باندې ډیر زیات دولت پیدا کړ. او دهغه نه پس یې توبه وکړه او هغې پیسو باندې یې څه کاروبار شروع کړ، اوس به چې هغه ته کومه ګټه حاصلیږي هغه به حلال وي او که حرامه؟ تفصیل سره بیان کړئ.

جواب: د ډاکې او رشوت په ذریعه باندې چې کومې پیسې جمع شوې دي هغه حرامې دي، او د حراموګټه به هم دهغو په شان وي، دهغه کس دتوبې درښتونې کیدو نښه داده چې هغه ټولو خلکو ته پیسې واپس کړي د کومو نه یې چې په ناجائز طریقه باندې اخیستې دي.

د غیر مسلم شکل او صورت لرونکې ښځې لاش به څنګه پیژندل کیږي؟

سوال: تیر شوي د (۱۹۷۱م) جنګ کوم چې مشرقي پاکستان کې شوی و، زه هم هلته موجود وم. سرحدي علاقو (دبنګله دیش او بهارت) چې هلته مسلمانان او هندوانان یو ځای اوسیږي، ډیر سخت جنګ وشو، دغه شان دهغه ځای ډیر اوسیدونکی هم وفات شول، یو ځای کې مونږ ته دیوې ښځې لاش په نظر راغی، مونږ چې هغه لاش اولیدو نو مونږ ډیر زیات پریشانه شو چې ایا دا ښځه مسلمانه ده او که غیر مسلمه؟ بهرحال هغه وخت، دخراب حالاتو په وجه باندې هغه مونږ دریاب ته وغورځوله، خو دنن پورې مې دا سوال بار بار په ذهن کې راځي که چرې هغه لاش دمسلمانې ښځې و؛ نو هغې ته کفن ورکول پکار و، خو پیژندګلوکې مشکل کار دادی، چې دغه سرحدي علاقو کې دمسلمانانو او غیر مسلمو جامې، او د اوسیدو طریقې یو شان وي، چې دڅه ثبوت نه بغیر باور کول ګران وي چې دا مسلمانه ده او که هندو؟ تاسو نه دشرعي حیثیت مطابق پوښتنه کوم چې پورته ذکر شویو حالاتو کې یاداسې نورو حالاتو کې دښځې دلاش پیژندګلو څنګه کیدای شي؟

جواب: کله چې مسلمانان دخپل بدن اسلامي نښې ختمې کړي، اود شکل او صورت، او جامو وغیره نه دغیر مسلمو په شان ښکاري؛ نو زه به درته دپیژندګلو څه طریقه وښایم؟

[1] قال تعالی: فإنها لا تعمی الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ (الحج:٤٦)۔

دحضور خودا ارشاد دی: **عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ ومن تشبه بقوم فهو منهم.**
(مسنداحمدج۲ص۵۰)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلی دی چې: کوم کس چې دیوقوم سره یوشان والی وکړي هغه به هم هغوی کې شمیرل کیږي.

مختلف ملکونو کې شب قدرپه کوموشپوباندې کتل پکاردي

سوال: ماوریدلي دی چې شب قدرپه اوویشتمه شپه باندې وي، او داهم چې داپه طاق شپو کې ملاویږي،ددې مسئلې پوښتنه کول غواړم چې کله پاکستان کې طاق شپې وي نوسعودی عرب کې طاق نه وي، کله چې پاکستان کې اوویشتمه وي نوسعودی عرب کې اتیشتمه شپه وي،که چرې دپاکستان طاق شپه وي نود سعودی عرب نه وي،که چرې دسعودی عرب طاق شپه وی نود پاکستان نه وي،اوشب قدرپه ټوله دنیاکې یوه شپه وي، تاسو موږ ته ووایئ چې دپاکستانی شپوپه حساب باندې شب قدرمعلوم کړو اوکه دسعودی عرب دطاق شپوپه حساب باندې شب قدرمعلوم کړو؟

جواب: دشب قدردتلاش کولوباره کې به هم دهغه ملک اعتباروي په کوم ملک کې چې هغه اوسیږي. که چرې یوصاحب په سعودي عرب کې اوسیږي نوهغه له پاره دسعودي عرب په طاق شپو کې شب قدرکتل پکاردي،اکثرپه اویشتمه شپه باندې شب قدر وي.[1]

د تفتیش ظالمانه طریقه او ددې ذمه داري

سوال: زه تاسونه دپولیس یادنوروتحقیقاتي ایجنسودطریقې باره کې پوښتنه کول غواړم کوم چې هغوی دملزم نه مجرم دتلاش کولو وخت کې اختیاروي، چې ایاداطریقه داسلامی شریعت سره مطابقه ده اوکه نه؟ که چرې مطابقه وي اواسلام ددې اجازت ورکړی وي؛ نو مهرباني وکړئ دخلافت راشده ددورنه ددې یومثال سره وضاحت وکړئ.

الف: یوه علاقه کې یوه غیرقانوني واقعه وشي، مثلاً، غلا، قتل، ډاکه وغیره وشي، اود مجرم باره کې چاته پته نه وي اوددیرتلاش کولونه پس یادتلاش کولونه بغیرپولیس دمجلې ډیر ځوانان دشک په الزام اوثبوت نه وي، ګیرکړي، هغه جرم هم نه وی کړی، اوهغه باندې د انتهایي درجې بدني اونفسیاتي تشددوکړي اودهغه ملزم نه د دروغوباندې حلفیه بیان او

---

[1] وفي التفسير: ومعنى ليلة القدر: ليلة تقدير الأمور وقضائها والقدر بمعنى التقدير، أوسميت بذالك لشرفها على سائر الليالي وهي ليلة السابع والعشرين (من رمضان) كذاروى أبو حنيفة رحمه الله عن عاصم عن زرّ أن أبي بن كعب رضي الله عنه كان يحلف على ليلة أنها ليلة السابع والعشرين من رمضان وعليه الجمهور (تفسيرنسفي ج: ۳ ص: ٦٦٥. طبع دار ابن كثير، بيروت)-

دستخط واخلي او هغه مجرم ثابتولو سره هغه ته سزاور کړي او یا د ډیرزیات رشوت اخیستلو سره هغه بې ګناه کس ته کورته د تلو اجازت ورکړي.

ب: پولیسو کې یوه اداره ده کومې ته چې ټرائل روم یا ډریسنګ روم ویل کیږي، په هغه ځای کې نوکران حضرات په تشدد کولو کې برخه اخلي، او هغه کې بې ګناه او ګناهګار دواړه شامل وي، نو د داسې خلکو د تنخواه او د اجرت باره کې ووایئ، خاص طور باندې په بې ګناه باندې د ظلم کونکو باره کې؟

ج: تشدد کونکي حضرات داوايي چې جناب! موږ ته هیڅ پته نه وي، او نه دا زمونږ کار دی چې موږ بې ګناه او ګناهګار ته اوګورو، ځکه چې یو مجرم هم مخکې اقرار نه کوي، دغه شان خو به مجرمان بچ شي، زما د پوښتنې کولو اصل مقصد دا دی چې بې ګناه خلک د ظلم او تشدد نه څنګه بچ کیدای شي، او مجرمانو ته سزا څنګه ورکول کیدای شي؟ ځکه چې تفتیش کونکی کس بل څوک وي.

که چرې پورته بیان شوي اعمال غیراسلامي دي نو مهرباني وکړئ د اسلام دین چې د دې معنا هم به د بې ګناه له پاره سلامتي او حفاظت ده او د شک په بنیاد باندې د ظلم او تشدد کولو د طریقې د پرېښودلو طریقه بیان کړئ، چې د هغې په ذریعه باندې اصل مجرمان جهنم ته رسول کیدای شي، که چرې اسلام کې د دې باره کې څه طریقه تفصیل او وضاحت سره نه وي نو مهرباني وکړئ تاسو د اجتهاد نه کار واخلئ او د تفتیش له پاره اسلامي طریقې اصول بیانولو سره د پولیس حضراتو ضمیر مطمئن کړئ، ځکه چې مونږ ته خو ملزمان راکړل شي او زمونږ کار د تشدد په وجه باندې د هغوی نه بیان اخیستل دي، او بیا عدالت نه هغه سړی بري کړل شي؛ نو زمونږ په زړونو باندې څه تیریږي؟ د دې پوښتنه دې څوک زمونږ نه وکړي، مهرباني وکړئ پوره خط چاپ کړئ او د سوالونو تسلي ورکونکي جوابونه راکړئ!

جواب: زمونږ عدالتي او تفتیشي نظام ټول هغه نظام دی کوم چې موږ ته د انګریزانو نه په میراث پاتې شوی دی، او د هغه بنیاد په ظلم او رشوت باندې ایښودل شوی دی، د دې کې د الله تعالی نه دویرې او د اخرت دورخې د پوښتنې د نوم هیڅ څیز نشته (الاماشاء الله) ترڅو پورې چې دا ټول نظام نه وي بدل شوی، صرف دیوڅو مشورو پیوند کارۍ باندې د دې اصلاح نه شي کیدای، ټول خو یو شان نه وي، خود مجرمانو نه رشوت اخیستلو سره هغوی بچ کول او بې ګناه ګیرول زمونږ د پولیسو خاص فن دی.[۱]

[۱] عن عبدالله بن عمرو قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي ...إلخ (ترمذی ج: ۱ ص: ۲٤۸، أبواب الأحكام، باب ما جاء في الراشي والمرتشي في الحكم، طبع قديمي كتب خانه)۔

په زور د جرم اعتراف اخيستل او مجرم د پاکۍ او لمونځ نه محرومول

سوال: دګواهانو او د ثبوت حاصلولو نه بغیر تشدد په ذریعه باندې د جرم اعتراف کولو څه شرعي حیثیت دی؟

سوال: ۲: ملزم د لمونځ، پاکۍ او د واجب غسل نه محروم ساتلو ګناه به د چا په ذمه وي؟ او د دې څه سزا ده؟

سوال: ۳: ایا د فرائضو د اداکولو له پاره دروغ او غلط بیاني خپل عادت جوړول شرعي طور باندې صحیح دی او که غلط؟

جواب: ۱: د ثبوت او ګواهانو نه بغیر د تشدد په ذریعه باندې د جرم اعتراف اخیستل جائز نه دي، او داسې اعتراف شرعي طور باندې صحیح نه دی.[1]

جواب: ۲: ګناه د محروم کونکو په ذمه ده[2]، او د دې سزا دنیا کې د دزړه توریدل او اخرت کې د فرائضو د منع کولو سزا ده.

جواب: ۳: زه د سوال په مطلب پوه نه شوم، دروغو او غلط بیاني ته څوک صحیح ویلی شي؟ او هغه کوم فرائض دي چې هغو کې دروغ ویل او غلط بیاني کول صحیح ګڼل کیدای شي؟

د ،، دارُالاسلام ،، تعریف

سوال: ۱: د ''دارُالاسلام،، څه تعریف دې؟

سوال: ۲: د دارُالاسلام حکمران یعنی د دارالاسلام د مملکت مشر څوک وی، مسلم او که غیر مسلم؟

سوال: ۳: که چرې څوک د اسلام توهین اوکړی، نو هغه به د ټول مملکت عالمان سنبهالوی او که صرف یو ملا به فتوې ورکوی، یعنی د مملکت د ټولو عالمانو په ذمه به وی او که یا صرف یو ملا د هغه په ګستاخۍ باندې فتوې ورکولې شی، او بیا هغه صرف د لته نه بس کوی نو د حرمین پورې به څې د فتوې کولو له پاره؟ او هغه ملا به د ګواهانو نه بغیر فتوې ورکړی یا د ګواهانو به ضرورت وی؟

---

[1] عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: البينة على المدعى واليمين على المدعى عليه رواه الترمذى (مشكوة ص: ٣٢٧) وفى الدرالمختار: أكره القاضى رجلا ليقربسرقة أو بقتل رجل بعمد أو يقر بقطع يد رجل بعمد فأقر بذالك فقطعت يده أو قتل على ما ذكرإن كان المقر موصوفا بالصلاح اقتص من القاضى ...إلخ (ردالمحتار ج: ٦ ص: ١٤٠)۔

[2] كقوله تعالى فى القرآن الكريم: أرئيت الذى ينهى عبدًا إذا صلى أرئيت إن كان على الهدى أو أمربالتقوى أرئيت إن كذب وتولى الم يعلم بأن الله يرى (العلق: ٩ تا ١٤)۔

سوال: ۴: په دارالاسلام کې که چرې عوام دحکمران خلاف څه تحریک شروع کولوجنډا اوچته کړي نودابه جائزوي اوکه حرام؟

جواب: ۱: کوم ملک کې چې داسلام حکمونه جاري وي هغه دارالاسلام دی[۱]، اوکوم ځای چې داسلام حکمونه جاری نه وي هغه د مسلمانانو ملک خوکیدای شي، خوشرعي طورباندې دارالاسلام نه دی

جواب: ۲: ددارالاسلام حکمران مسلمان کیدای شي، غیرمسلم نه.[۲]

جواب: ۳: داسلام توهین کونکی مسلمان نه دی، مسلمانانوباندې به لازم وي چې هغه لرې کړي اودهغه په ځای باندې څوک مسلمان مقررکړي. ...... باقی حکمونه سیاسي دي،دشرعی حکم ذکرماوکړ، سیاسی کارونوباندې خبرې کول زماکارنه دی

ایا اقرارکونکی مجرم دد نیاوي سزا په وجه باندې پاکیږي

سوال: که چرې ملزم یامجرم دخپل جرم اقرار وکړي او په نتیجه کې یې هغه ته سزاملاؤشي، نوایادې صورت کې به دهغه ملزم یامجرم دګناه کفاره اداشي، دکومې داقرارپه نتیجه کې چې هغه ته سزاملاؤشي؟ اوایادقیامت په ورځ به هغه ددې جرم دسزانه خلاص وي؟

جواب: که چرې توبه وکړی نوداخرت سزابه معاف شي، ګني نه.[۳]

سوال: که چرې یوکس ته دګناه اوبغیردڅه جرم نه سزاورکړل شي، نو دقیامت په ورځ به ددې جواب څوک ورکوي؟

---

[۱] لا تصير دارالإسلام دار حرب إلا بأمور ثلاثة: بإجراء أحكام أهل الشرك وباتصالها بدارالحرب، وبأن لا يبقى فيها مسلم أو ذمى آمنا بالأمان الأول ...إلخ (الدرالمختار ج: ٤ ص: ١٧٤) تفصيل دپاره وګورئ إعلاء السنن ج: ١٤ ص: ٣٦٥)۔

[۲] ولا يخفى ان الأمير الذى يجب الجهاد معه كما صرح بها حديث مكحول انما هومن كان مسلمًا ثبتت له الإمارة بالتقليد إما باستخلاف الخليفة إياه كما نقل أبوبكر رضى الله عنه، وإما ببيعة من العلماء أو جماعة من أهل الرأى والتدبير، بشرط أن يكون من أهل الولاية المطلقة الكاملة، أى مسلمًا حُرًّا ذكرًا عاقلا بالغاسائسًا أى مالكًا للتصرف فى أمورالمسلمين بقوة رأيه ورويته ومعونة بأسه وشوكته قادرًا بعلمه وعدله وكفايته وشجاعته على تنفيذ الأحكام ...إلخ (إعلاء السنن ج: ١٢ ص: ٥)۔

[۳] فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِه أى معصية من السرقة وغيرها والمراد بالتوبة الندم على ما وقع من المعصية وردالمظلمة والإستغفار من الله تعالى والعزم على تركها، وأصلح أمره بذالك فإن الله يتوب عليه أى يرجع عليه بالرحمة وقبول التوبة فلايعذبه فى الآخرة مسئلة قطع السارق هل يكون له توبة أو لا فقال مجاهد نعم لحديث عبادة بن الصامت قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وحوله عصابة من أصحابه بايعونى على أن لا تشركوا بالله شيئًا ولاتسرقوا ولا تزنوا ...إلخ (تفسير المظهرى ج: ٣ ص: ١٠٨_ ١٠٩)۔

جواب: هغه ټول خلک کوم چې دې بې ګناه ته سزاورکولوکې شریک وو.[1]

اعمالوکې دمیانه روي مراد

سوال: زموږخوږنبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې خپلوعملونوکې میانه روي اختیارکړئ،ددې مختصرشان وضاحت وکړئ.

جواب: ددې مطلب دادی چې فرائض اوواجبات اومؤکدسنتونه علاوه انسان ته دنفلو او ذکر اذکار او وظیفودومره معمول ساتل پکاردي، چې دهغه اسانۍ سره پابندي وکړای شي، اودهغه نه تنګ نه شي، بلکې چې کوم معمول شروع کړي دخپل طاقت مطابق هغه پوره کړي، بعضې خلک په جوش کې راتلوسره خپل ځان باندې ډیرې ذمه دارۍ واخلي، اوبیاچې هغه نه شي پوره کولې نوپرېږدي يې.

د يوقيدي په نوم

سوال: (سوال حذف شوی دی)

جواب: ستاسوخط ستاسودبنځې په ذریعه باندې راورسیده، ستاسو دحالاتواومعمولاتونه خبر شوم، دالله تعالی په دربارکې دعاکوم چې الله تعالې دې دخپل فضل اوکرم په وجه باندې ستاسو دخلاصیدو صورت پیداکړي، یوڅوضروري خبرې لیکم داپه غوراوتوجه باندې ولولئ!

اول: دالله تعالی دطرف نه په انسان باندې ازمیښتونه راځي، کله دخوشحالۍ اوخنداګانوپه شکل کې،اوکله دغمونو او افتونو او مصیبتونوپه شکل کې، لومړي حالت کې شکر ادا کول او دویم صورت کې صبراورضاسره دالله تعالی طرف ته رجوع کول دانسان فرض دي، حوصله اوهمت بايلل نه دي پکار، بلکې صبراواستقامت سره په خپلوکوتاهیوباندې استغفار کولو سره دالله تعالی راضي کولو اراده په خپل زړه کې ساتلوسره وخت تیرول پکاردي.

دويم: دجیل ماحول اکثرغیراخلاقي وي، چې په وجه يې اکثر خلق خپل دین اواخلاق تباه کولو سره دهغه ځای نه راوځي،تاسوته ددې ماحول نه متاثره کیدل نه دي پکار، بلکې داګڼل پکاردي چې الله تعالی درته دفرصت موقع درکړې ده، په دې وجه باندې تاسو دپنځه وخته لمونځ اهتمام کوئ،دقران کریم تلاوت کوئ،کوم معمولات چې تاسولیکلي دي هغه صحیح دي، ددې پابندي ساتئ، دې نه علاوه چې درته دفرصت کوم وخت ملاویږي هغه کې دکلیمه طیبې (لااله الاالله) وردپه ژبه باندې ساتئ، دبهشتی زیور،دحضرت شیخ رحمه الله فضائل اعمال اود نورو اکابرینو د وعظونو مطالعه کوئ.

---

[1] ان الإعانة على المعصية حرام مطلقًا بنص القرآن أعني قوله تعالى: ولا تعاونوا على الإثم والعدوان (أحكام القرآن لمفتي محمد شفيع ج: ٣ ص: ٧٤)۔

دریم: دکوم حدپورې چې ممکن وي دجیل عملې اونوروقیدیانوسره ښه اخلاقوسره ملاویږي، دخپل طاقت مطابق دهرچاخدمت کوئ، که دچادطرف نه درته څه تکلیف ورسیږي نوهغه معاف کوئ،د بد صحبت نه خپل ځان ساتئ، قیدکې موجودملګروته هم دلمونځ اود خیر دکارونو دعوت ورکوئ.

څلورم: دپنځه واړه لمونځونونه پس دیرتوجه سره دخپل ځان له پاره دخیر اوقیدنه دخلاصي دعاکوئ، که ممکن وي نوتهجدوله پاره هم پاځئ، غرض داچې ددعااوالتجاء خاص اهتمام کوئ.

پنځم: جیل کې دانسان ازادي ختمه شی، که چېرې غور وکړل شي؛ نو دالله تعالی دبندګانوله پاره ددنیاژوندهم یوقسمه جیل دی،چې هرقدم باندې ورته دخپل مالک دحکمونوپابندي کول لازمي وي، دجیل دژوندنه په دنیاکې دژوندتیرولوطریقه زده کول پکاردي.

شپږم: جیل دژوندوقبردی، په دې وجه باندې دلته اوسیدوسره دقبر دیوازی والي، بې وسي اوبې کسي اودهغه ځای سوال اوجواب یادول پکاردي،اوژوندکې چې څومره کوتاهۍ شوې وي هغو باندې خفګان سره استغفارکول پکاردي.

زه الله تعالی ته دعاکوم چې الله تعالی ستاسومشکلات اسان کړي، اوتاسوته خپله رضااومینه نصیب کړي، اوتاسوته خلاصی درکړي!

رښتونې ګواهي پټول پکار نه دي

سوال: یوکس وینې چې قاتل صرف یوکس دی، او دهغه دویم سړی موجود هم نه وي، او دقتل کړل شوې کس د طرف نه یوبې ګناه کس دقتل په کیس کې راګیر شي، کوم چې هغه وخت په ښارکې هم موجودنه و، اوهغه سره دامنسوب کړل شي چې یودزهغه کړی اودویم دې بل کس، دې معامله چې کوم کس هلته موجودوواودایې لیدل چې قاتل صرف یوکس دی او دز هم یوشوی دی، ایاالله تعالی په نزدباندې مجرم دی،که چرې هغه دګواهي ورکولو نه انکاروکړي چې زه ګواهي نه ورکوم؟ که چرې هغه ښکاره طورباندې ووایي چې قاتل یوکس دی نوبې ګناه کس ته خلاصی ملاویدای شي، دې باره کې څه طریقه اختیارول پکاردي؟ دقران او حدیث څه حکم دی؟

جواب: قران کریم کې ارشاد دی.

﴿ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ ﴾ [1] (سوره البقره ۲۸۳)

---

[1] وفي التفسير: لأن كتمان الشهادة أن يضمرها في القلب، ولا يتكلم بها فلما كان إثما مقترفًا مكتسبًا بالقلب أسند إليه .... وعن ابن عباس رضى الله عنهما: أكبرالكبائر الإشراك بالله، وشهادة الزُّور، وكتمان الشهادة (تفسيرنسفي ج: ١ ص: ٢٣١، طبع دار ابن كثير، بيروت)۔

ترجمه: او ګواهي مه پټوئ، او کوم کس چې دا پټوي د هغه زړه ګناهګار دی.
دا آیت مبارک دستاسو دسوال جواب دی.

کله چې هر طرف ته د بدۍ دعوت ورکونکي لټریچر عام او ښځې ډول سنګار سره ګرځي نو آیا د زناسزا به جاري کیږي؟

سوال: یوځوورځې مخکې ماپه یوبس کې سفرکولو، زمانه مخکې سیټ کې ناست یوڅو ملایانو صاحبانو داسې بحث کولو، دهغوی هغه بحث زه دیوسوال په شکل کې ستاسوخدمت ته درلیږم چې داپته ولګیږي چې دهغو ملایانوصاحبانو بحث دکوم حدپورې حقیقت دی؟ دهغه ملایانوصاحبانودقول مطابق ایااسلام داغواړي چې دفواحشواشاعت همدغه شان جاري وي، ګنده فلمونه، بربنډتصویرونه(یادساتل پکاردي چې ددنیادښائسته جینکو تصویرونه په اسلامي جمهوریه پاکستان، کې په خاص خاص دوکانونو کې خرڅیږي، اود پاکستان په بعضې اخبارونو کې هم دغه نیم بربنډتصویرونه کله کله چاپ کیږي) دغه شان غیراخلاقي لټریچرجذبات را اوچتوي، (یادساتل پکاردي چې دغه غیراخلاقي لټریچر اود جنس تحریک پیداکونکي فحش مواد په اسلامي مملکت پاکستان کې د مختلفو رسالو، ډائجسټو اوناولونو په شکل کې چاپ کیږي، اوعام خرڅیږي، اودغه شیان قوم دفحاشۍ په افیونو باندې نشه کوي، اودا بربنډې، دغیرملکي ښائسته جینکو بربنډه ونیم بربنډ تصویرونه، اوغیراخلاقي لټریچر، دافحش فلمي اشتهارونه دقوم اخلاق دوینوپه شان ختموي) ایا اسلام داغواړي چې سنګار شوې ښځې همدغه شان ګرځي، کالجونو، دفترونو اوکلبونو او نورو ځایونوکې دې سرې اوښځې یوبل سره ملاویږي، ښځې اوپیغلې جینکۍ دې دغه شان نیمې بربنډې جامې اچولوسره شپه ورځ په هوټلونو کې، سنیماګانوکې، بازارونو کې، پارکونوکې، او لارو کوڅو کې بربنډ سر، ښکاره سینه، اوبربنډلاسونه اوبغیردپردې کولوسره په مخ باندې پوډر او سرخي لګولوسره دسړیوپه لاسونوکې لاسونه ورکولوسره ګرځي.

جواب: داټولې خبرې حرامې دي اوددې بندول ضروري دي، اسلام ددې اجازه ورکول نه غواړي. خودزناسزابه بهرحال جاري وي، صرف په دې وجه باندې چې هرځای کې بې حیایي ده. یوکس دالله تعالی په نزدباندې په حرام کارۍ کې معذور کیدای نه شي، په دې وجه باندې دهغه ملایانو صاحبانوخیال صحیح نه دی.

آیا د کرایه دار دبدو عملونو ذمه دار به د کور مالک وي

سوال: زما کورته یوکرایه دار راغلی دی، هغه په کورکې ټي وي او ټیپ ریکارډر وغیره لګوي. ماهغه منع کړی هم دی؛ خوهغه یې بیاهم لګوي، اوس زماله پاره څه حکم دی؟ دهغه دکارونوپه وجه باندې خو به زه ګناهګارنه یم؟

جواب: دهغه دتې وي اوتيپ لګولوپه وجه باندې به تاسوګناهګارنه يئ،خو تاسوچېرته داسې کس ته کورپه کرايه ورکړئ چې هغه دا کارونه نه کوي.

دجنس بدليدونه پس شرعي حکمونه

سوال: څنګه چې درسول الله ﷺ فرمان دی چې سړي له پاره دښځې او ښځې له پاره دسړي مشابهت اختيارول سخته ګناه ده، خونن سباچې دجنس دبدلولوکومه سلسله شروع شوې ده، د شريعت په نزد باندې د کوم حد پورې صحيح ده؟ که چرې داصحيح ده نوهغه سړی کوم چې د جنس د بدلولو په وجه باندې ښځې ته بدل شوی دی،دهغه به د قيامت په ورځ څه انجام وي؟ هغه به جنت ته دسړي په حيثيت باندې داخليږي اوکه دښځې؟ اودهغه سړي نه پيداکيدونکي اولادبه څه انجام وی؟ اميدلرم چې ددې مسئلې وضاحت کولوسره به دمسلمان امت راهنمايي وکړئ.

جواب: دجنس بدليدل که چېرې رښتياوي نوددې دمشابهت مسئلې سره تعلق نشته، بلکه دجنس بدليدونه پس چې هغه کوم جنس کې شامل شو دهماغه جنس حکمونه به هغه باندې جاري وي، که چرې دانجيلۍ جنس بدل شوی وي اوهغه په رښتياباندې هلک جوړشوی وي نوهغې باندې به دسړيوحکمونه جاري کيږي، اوکه چېرې دهلک جنس په رښتياباندې دانجيلۍ جنس ته بدل شوی وي؛ نودهغه بدليدونه پس به هغه باندې دجنيکوحکمونه جاري کيږي، کوم مشابهت چې منع دی هغه دادې چې سړی، سړی اوسيدوسره دښځوپه شان شکل اوصورت اختيارکړي، ياښځه، ښځه اوسيدوسره دسړيو په شان شکل اوصورت اختيارکړي. دې باندې حديث کې لعنت راغلی دی.

حلال اوحرام کې فرق

سوال: حلال اوحرام کې څه فرق دی؟ اياانسان چې ناجائزطريقه باندې کومه ګټه کوي دغه پيسه سمدستي ضائع کيږي؟ نن چې کوم خلک ورځ تربلې مالداره کيږي، ايادهغوی ګټه جائز وي؟

جواب: حلال اوحرام شريعت ښکاره طورباندې بيان کړي دي[1]،کوم کس چې دشريعت مطابق ګټه کوي دهغه رزق به حلال وي،ګني نه، د حراموګټه سمدستي ضائع کيدل ضروري

---

[1] عن نعمان بن بشيرقال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: الحلال بيّن والحرام بيّن، وبينهما أمور مشتبهة، فمن ترك ما شُبّه عليه من الإثم كان لما إستبان له أترك، ومن إجترأ على مايشك فيه من الإثم أو شك أن يواقع ما استبان والمعاصى حمى الله من يرتع حول الحمى يوشك أن يواقعه (بخارى شريف ج: ١ ص: ٢٧٥، كتاب البيوع، باب الحلال بيّن والحرام بيّن)۔

نه دي.البته دا ضروري دي چې دحراموګټه په سوونوافتونه راولي،اودهرڅه ملاويدو باوجود د زړه سكون ختم شي.

د ملكيتي ځمكې مسئله

سوال: د(۱۹۴۷م) نه پس كله چې موږپاكستان ته راغلو،نوماته دلته دكليم په وجه باندې په ټنډوادم كې يوجومات سره خواكې دوه ځته كورملاؤشو،دهغه اوچت والى (۲۸) فټه دى، اوس دا كور زوړ شوى دى، په دې وجه باندې داكورزه غورځول غواړم اوپه نوې نقشه باندې يې جوړول غواړم،اواوس ددې اوچت والې زه د(۲۸) نه درې نيم فټه نورزياتولوسره يوديريش نيم فټه كول غواړم، دجومات انتظاميه بغيردڅه وجې نه دې كې بندونه اچوي، هغوى داوايي چې هوابه بنده شي، حالانكې دهوا بنديدوهيڅ سوال نه پيدا كيږي،مهرباني وكړئ اودا اووايئ چې داسې قسمه اعتراض كول دكومې چې څه جوازنه وي، دشريعت په نزدباندې تركومه حده پورې صحيح دى؟ اياديوجومات انتظاميې ته داحق حاصل دى چې هغوى جومات سره خوا كې كورونوجوړولوكې بندواچوي؟ اودجومات انتظاميه دا وايي چې ته دخپل كورنه درې فټه ځمكه جومات ته وركړه مونږبه خپل اعتراض واپس واخلو.

جواب: داسوال داسې دى چې ددې دجواب وركولوضرورت نشته، ستاسوپه خپل ملكيت كې جائزكاركول، چې دهغې په وجه باندې جومات اولمونځ كونكوته څه تكليف نه وي بې شكه جائزدى، او تاسونه ستاسوپه ملكيتي ځمكه كې څوك په زورباندې دجومات له پاره ځمكه نه شي اخيستى، باقي تاسوهم مسلمان يئ اوجومات هم دالله تعالى كوردى،تاسوكه په خوشحالۍ باندې دالله تعالى دكورخدمت وكړئ، نوددې بدله به الله تعالى تاسوته دجنت په شكل كې دركړي[۱]. دجومات په سلسله كې مسلمانانوكې داسې جګړه ښه خبره نه ده.

اسلام كې دسفارش حيثيت

سوال: اسلام كې دسفارش څه مقام دى؟ كه چيرې دچاسره سفارش نه وي (دادې هم واضحه وي چې دتدبيرسره سفارش وي نو كار اسان شي)نوڅه وكړي؟ يادساتل پكاردي چې د سفارش نه بغيرد تير ځلوروكالو راهيسې ديكې خورم.

جواب: دجائزكارله پاره سفارش جائزدى[۲]، خودافسرانودسفارش نه بغير دچا كارنه كول

[۱] عن عثمان بن عفان قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من بنى لله مسجدًا بنى الله له مثله فى الجنة (ترمذى شريف ج: ۱ ص: ۷۳، باب ماجاء فى فضل بنيان المسجد)۔

[۲] ومن يشفع شفاعة حسنة رعى بها حق مسلم ورفع بها عنه ضررًا وجلب نفعًا لوجه الله تعالى (يكن له) أى للشافع (نصيب منها) وهو ثواب الشفاعة قال مجاهد هى شفاعة بعضهم لبعض ويوجرالشفيع على شفاعة وإن لم يشفع كذا روى ابن أبى حاتم وغيره عن الحسن وعن أبى موسى قال: ...[بقيه په راروانه صفحه..

ګناه ده، او افسوسناک اخلاقي معیارهم.

د ډاک په ټکټونو باندې قرآني آیتونه چاپ کول

سوال: د ډاک محکمې دیوکالج دسل کالوپوره کیدوپه خوشحالۍ کې یوټکټ شروع کړی دی، هغه باندې دا ایت ((وعلم الانسان مالم یعلم)) لیکل شوی دی، ایادکالج دسل کالوپوره کیدوپه خوشحالۍ کې داسې ټکټ شروع کول جائزدي؟ اوبیاهغه کې دقران ایت چاپ کول څنګه دي؟ ایادحکومت داکارشرعي دی؟

جواب: دیوښه شي له پاره دیاګارپه طورباندې ټکټ شروع کول څه بده خبره نه ده، خوکه چېرې کالج کې دبې دینۍ مضمونونه ښودل کیږي، یادکالج دطالب علمانوتعلیمي ماحول ددیني ماحول په ځای بل قسمه وي؛ نوددې کالج دیادګارحکم به هم دهغه په شان وي.
پاتې شوه ټکټونوباندې دقران کریم ایتونه چاپ کول، داسې کول صحیح نه دي[۱]. دې کې ښکاره طورباندې دقران کریم بې ادبی ده. ځکه چې دډاک لفافې عام طورباندې ګندګي کې غورځول کیږي، ددې په وجه باندې به دقران کریم بې ادبی کیږي، اوټکټ جاري کونکي به دې بې ادبۍ کې برابرشریک وي، اویوه دمعنا په لحاظ باندې بې ادبی ده، هغه داچې ددې نه دا تاثر ملاویږي چې دقران کریم دا ایت دکالج دتعلیم حاصلولوله پاره نازل شوی دی، دادقران کریم تحریف دی.

دحکومت په رخصتیا نوکې حج اداکړواوکه خپلوکې؟

سوال: دقطردحکومت دطرف نه هرمسلمان له پاره په ژوندکې یوځل حج کولوله پاره څلورهفتې رخصتي ورکول کیږي، دخپلو رخصتیانو باوجود ایادې خاص رخصتیانوکې حج کیدای شي؟ زمایه خیال باندې دحج له پاره خپلې پیسې اوخپل وخت استعمالول پکاردي، دحج دې خاصو رخصتیانو کې زه دمورپلارله پاره حج کولی شم؟

...بقیه د تیرمخ].. كان النبى صلى الله عليه وسلم إذا جاءه رجل يسئل أو طلب حاجة أقبل علينا بوجهه فقال: اشفعوا توجروا ويقضى الله على لسان نبيّه ما شاء متفق عليه ...إلخ (تفسيرالمظهرى ج: ٢ ص: ١٧٢ سورة النساء)۔

[۱] وفى الهندية: ولا يجوز لفّ شيءٍ فى كاغذ فيه مكتوب من الفقه وفى الكلام الأولى أن لا يفعل ...إلخ (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٢٢ طبع رشيديه سركى روډ كوئته) ولو كتب القرآن على الحيطان والجدران بعضهم قالوايرجى أن يجوز وبعضهم كرهوا ذالك مخافة السقوط تحت أقدام الناس كذا فى فتاوى قاضيخان (عالمگيرى ج: ٥ ص: ٣٢٣) (٢) ووقتها من حين يموت إلى ثلاثة أيام ويكره بعدها (عالمگيرى ج: ١ ص: ١٦٧، طبع رشيديه كوئته)۔

جواب: که دحکومت دطرف قانوني طورباندې رخصتي ملاویږي نواخیستلی یې شئ، که مخکې موحج کړی وي اوکه نه، اوکه هغه حج دخپل طرف نه کوئ اوکه دبل چا دطرف نه.

هفته واره رخصتي په کومه ورځ ده

سوال: دجمعې په ورځ باندې درخصتي اسلامي شعائروسره څومره تعلق دی؟ اودجمعې په ورځ رخصتي دکوم خیراوبرکت ذریعه وي؟ او دقران پاک په سورت جمعه کې دنهم،لسم او یوولسم ایت اصل مفهوم څه دی؟ دجمعې دلمونځ نه مخکې اووروسته دکومو کومو کارونو اجازه شته؟ اود کومو کومونه منع فرمایل شوې ده؟ ددیني اصولو اود بزرګانو د ارشاداتو په رڼاکې ددې وضاحت وکړئ!

جواب: کوم خلک چې دجمعې په ځای باندې داتوارپه ورځ درخصتي خبره کوي،هغوی په دې خبره باندې غورنه دی کړی چې دهفتې ورځ دیهودانو له پاره معتبره ده،اویکشنبه(اتوار) د عیسایانو له پاره، مسلمانانو له پاره ددې دواړو ورځوپه ځای باندې دجمعې ورځ مقرر شوې ده،[1] اسلام کې دهفته وارې رخصتي هیڅ تصورنشته، په دې وجه باندې دجمعې داذان نه د لمونځ اداکولوپورې کاروبار باندې پابندی لګولی شوې ده، اود لمونځ نه پس بیا د کاروبار کولواجازت ورکړل شوی دی[2]؛نوکه چیرې د اسلام دې نظریې سره اتفاق کول مقصدوي نوهفته واره رخصتي بالکل ختمول پکاردي، اودهفتې په اووه واړو ورځوکې یوازې د منع شوي وخت نه علاوه کاروبارجاري ساتل پکار دي، اوکه چرې هفته واره رخصتي فرض اوواجب ده نودانه دهفتې په ورځ کیدای شي اونه دیکشنبې(اتوار)، ځکه چې دهفتې ورځې رخصتي کې د یهودیانو سره یوشان والی دی اوداتوارپه رخصتي کې دعیسایانو سره، اومسلمانانوله پاره دواړو سره یوشان والی کول حرام دي.[3]

---

[1] عن حذيفة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أضل الله عزّ وجلّ عن الجمعة من كان قبلنا فكان لليهود يوم السبت وكان للنصارى يوم الأحد، فجاء الله عزّ وجلّ بنا فهدانا ليوم الجمعة، فجعل الجمعة والسبت والأحد وكذالك هم لناتبع يوم القيامة ونحن الآخرون من أهل الدنيا والأولون يوم القيامة المقضىّ لهم قبل الخلائق (سنن النسائى ج: ١ ص: ٢٠٢)۔

[2] قال الله تعالى: ''يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ، ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ ...إلخ (الجمعة: ٩،١٠)۔

[3] عن ابن عمرقال: قال النبى صلى الله عليه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم. رواه أحمد وأبوداؤد (مشكوة ج: ٢ ص: ٣٧٥، كتاب اللباس، طبع آرام باغ كراچى)۔

آیا د یکشنبې د ورځې رخصتي بنه نه ده چې خلک د جمعې د لمونځ اهتمام کوي

سوال: پاکستان کې به مخکې دحکومت له طرف نه داتوارپه ورځ عامه رخصتي وه، اود جمعې په ورځ به نیمه ورځ وه، یعنې دماسپښین دولس بجې به رخصتي شوه، بیادخلکوپه مطالبه باندې تیرشوي حکومت دیکشنبې په ځای دجمعې په ورځ درخصتي اعلان وکړ، اوداتواررخصتي ختمه شوه، دې دواړوتجربونه دا خبره مخې ته راغلله چې مخکې به داتوارپه ورځ رخصتي اودجمعې په ورځ نیمه ورځ رخصتي وه، هغه وخت پورې دجمعې مبارکې ورځې احترام اوتقدس و،اوتقریباً (۸۵) فیصده خلکوبه دجمعې دلمانځه اهتمام کولو، خوکله نه چې داتواردورځې رخصتي دجمعې په ورځ شوې ده، دجمعې دورځې احترام اوتقدس تقریباً ختم شوی دی، اوس داحالت وي چې دجمعې په ورځ درخصتي په وجه ډیرخلک دزیارت اودجمعې شپه خپلودوستانووغیره سره په ویښه باندې تیره کړي،دې نه علاوه دجمعې په شپه باندې په ډیرو کورونو کې وي سي اراوتې وي کتل کیږي، اوټوله شپه ویښ پاتې کیدونکي چې دجمعې په ورځ ویده وي نوبیامابښام راپورته کیږي، طالب علمانو اوځوانانوکې ډیرهلکان دجمعې ورځ په کرکټ کولو کې تیره کړي،دلوبو په میدان کې چاسره دلمونځ کولوفکرنه وي، دغه شان ودونه وغیره هم دجمعې په ورځ کیږي، دواده په اهتمام کې دمصروفو مسلمانانودجمعې دلمونځ طرفته بالکل خیال نه وي،لنډه داچې دجمعې په ورځ درخصتي کیدوپه وجه باندې په مشکله به څلویښت فیصده پورې خلک دجمعې دلمونځ اهتمام کوي، ګني دجمعې دورځې تقدس اواحترام چې نن سباڅنګه خراب شوی دی مخکې کله هم نه و، سوال دادی چې اسلام کې د جمعې دورځې درخصتي شرعي حیثیت څه دی؟ایادابه ښه نه وي چې دجمعې دورځې دتقدس خرابیدو نه دبچ کولو له پاره داتوارپه ورځ رخصتي اودجمعې په ورځ باندې نیمه رخصتي بیاشروع کړل شي.

جواب: داتوارورځ دعیسایانومذهبي ورځ ده، اودهفتې ورځ دیهویانو "یوم السبت"، یعنې د رخصتي ورځ ده[1]، په دې وجه دهفتې او اتوار ورځ رخصتي باندې د یهودیانو او عیسایانو سره مشابهت دی، اوددې په وجه باندې به ټوله مسلمانانه معاشره ګناهګاره وي[2]، ځکه دجمعې په ورځ باندې رخصتي پکارده(که چرې هفته کې یوه ورځ رخصتي ضروري وي) پاتې شوه داخبره چې خلک دابزرګه.ورځ په فضول کارونوکې تیره وي، ددې له پاره په دې

[1] دتیری شوی صفحی حاشیه (عن حذیفة رضی الله عنه قال....الخ) وګورئ_

[2] وحدیث النبی صلی الله علیه وسلم: ومن تشبه بقوم فهومنهم مشکوة ج: ۲ ص: ۳۷۵)_

فضولیاتو باندې پابندي پکارده، اوکوم خلک چې دې فضولیاتوکې مشغول کیدوپه وجه باندې دجمعې دلمونځ اهتمام نه کوي هغوی ته خپل دین اوایمان خیرغوښتل پکاردي، دصحیح مسلم حدیث کې دي چې حضور ﷺ په منبرمبارک باندې کیناستوسره وفرمایل چې: خلکوته دجمعې دورځې دلمونځ پرېښودلونه ځان ساتل پکاردي، ګني الله تعالی به دهغوی په زړونوباندې مهرولګوي، اوهغوی به غافلانو کې شامل شي[1] اودسنن حدیث کې دي چې: کوم کس بغیردڅه عذرنه یوازې دبې پروایی په وجه دجمعې لمونځ پرېږدي، الله تعالی دهغه په زړه باندې مهرولګوي[2]

اود مسندشافعي رحمه الله روایت کې دي چې: کوم کس بغیردڅه عذرنه دجمعې لمونځ پرېږدي (اویو روایت کې دي چې درې جمعې پرېږدي) نودهغه نوم منافق ولیکل شي،داسې کتاب کې چې هغه نه ورانیږي اونه بدلیږي[3] دصحیح مسلم په حدیث کې دي چې: زمازړه غواړي چې کوم خلک دجمعې لمونځ ته نه راځي، دهغوی کورونه وسیزم[4]. ایا درسول الله ﷺ دارشاداتو اوریدونه پس به هم یومسلمان دجمعې دلمونځ پرېښودوهمت وکړي؟

دظالم معاف کولواجر

سوال: دې دنیاکې که چرې په چاباندې ډیرزیات ظلم وکړل شي اوهغه ظلم پرې ټول عمر وشي، اوظلم کونکی کس دمعافي نه غوښتلوباوجوددزړه نه معاف کړل شي، صرف دالله تعالی د رضا او خوشحالی له پاره، نوایاهغه ظالم کس بالکل صفااودګناه دبوج نه ازادشو؟ دقیامت په ورځ به دهغه نه هیڅ پوښتنه نه کیږي؟ زما واده شوی و،خاوندې مې راسره ځلورمیاشتې و،هغه ښځګه کس وو،دادبیانولونه بهرده؟ یوازې الله تعالی ته پته ده چې هغه ماسره څه کړي دي، ځلور میاشتې ورسره زه پخپله اوسیدلې یم هغه زه نه یم ساتلې، طلاق یې راکړ. زمازوی پیدا شو. کیس وغیره یې راباندې وکړ، دجهیزاومهریوه روپۍ یې هم رانه کړه، دماشوم خرچې یې ادانه کړې، زوی مې اوس داووه کالوشو،اومادالله تعالی دقانون مطابق

---

[1] أن عبدالله بن عمر وأبا هريرة حدثاه انهما سمعا رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول على أعواد المنبرلينتهين أقوام عن ودعهم الجمعات أو ليختمن الله على قلوبهم ثم ليكونن من الغافلين (مسلم ج: ١ ص: ٢٨٤)۔

[2] عن أبي الجعد الضمرى وكانت له صحبة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ترك ثلاث جمع تهاونًا بها طبع الله على قلبه (سنن النسائي: ج: ١ ص: ٢٠٢)۔

[3] عن ابن عباس ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ترك الجمعة من غيرضرورة كتب منافقًا فى كتاب لايمحى ولايبدل وفى بعض الروايات: ثلاثا رواه الشافعي (مشكوة ص: ١٢١، باب الجمعة)۔

[4] عن ابن مسعود ان النبى صلى الله عليه وسلم قال لقوم يتخلفون عن الجمعة: لقد هممت أن آمر رجلا يصلى بالناس ثم أحرق على رجال يتخلفون عن الجمعة بيوتهم رواه مسلم (مشكوة ص: ١٢١،كتاب الصلاة)

زوی پلارته حواله کړ، خودمهر اوجهیزپه بدله کې به اوس هغه هفته کې پنځه ورځې ماشوم ماته راکوي، مځکې به ماد پنځو ورځوله پاره ورکولو، زماضمیربالکل مطمئن دی،الله تعالی ګواه دی چې دخاوند په وړاندې ما یوه جمله هم نه ده ویلې ، خاوندز ماله پاره هغه و کوم ته چې صرف الله تعالی دسجدې کولوحکم نه دی کړی، اوسه پورې ماهغه ته دزړه نه ښیرې هم نه دی کړی، سوچ کوم چې هغه ته څه ویلوسره به ماته څه ملاوشي؟ زوی یې هم صرف زماد تنګولو له پاره بوتلی دی،هغه واده کړی دی،دوه بچي یې دی، زمازوی دپلار دمینې اومحبت نه محروم دی، هغه داژوند اصل ژوند ګڼلی دی.

جواب: کله چې تاسوداسې ظالم دالله تعالی درضاله پاره معاف کړی دی نود قیامت په ورځ به الله تعالی تاسوته دې اجراوثواب درکوي، انشاء الله! اودهغه نه به پوښتنه کوي اوکه نه؟ داهم دالله تعالی حواله کړئ، کله چې ستاسوپه شان کمزوری انسان معاف کول کولی شي نوالله تعالی خوارحم الراحمین ذات دی، دهغه نه هم دا امیدساتل پکاردي، چې زموږپه شان ګناهګاربه معاف کړي، اوکه چرې مواخذه وکړي نوبیاهم انصاف دی.

دانسانیت خدمت د قدروړ جذبه ده

سوال: مونږیوداسې تنظیم جوړکړی دی چې دهغه مقصدداسې خلکو خدمت کول دي کوموته چې څه خطرناکه حادثه پیښه شوې وي، اوهغه سره دومره وسائل نه وي چې هغه حادثه برداشت کړای شي. دویم دیتیمانو ماشومانو پرورش کول اودهغوی تعلیمي خرچې برداشت کول، ځکه چې مونږعباسي خاندان سره تعلق ساتواومونږته زکات وغیره هم نه ملاویږي، په دې وجه باندې مونږداتنظیم جوړکړی دی، ددې تنظیم په سلسله کې موږیوعبارت لیکلی دی چې موږبه دې تنظیم کې کومې پیسې جمع کیږي هغه به دالله تعالی د رضاله پاره جمع کیږي،دابه چاباندې احسان نه وي ځکه چې زمونږ مقصدنیک دی، خودې باندې یوڅوکسانواعتراض وکړ چې دې کې دالله تعالی خوشحالي نشته،دا زمونږ ذاتي مسئله ده،دې کې دالله تعالی خوشحالي نه شی کیدای، نوتاسوته خواست دی چې تاسوشرعی طورباندې جواب راکړئ اودشکریه اداکولوموقع راکړئ!

جواب: که چرې دې فنډله پاره دچانه په زورباندې چنده نه اخیستل کیږي اونه چنده ورکونکوته دځه معاوضې لالچ ورکول کیږي، صرف دالله تعالی درضاله پاره داکارکیږي، نودیرښه کاردی. ضرورت مندخلق که هغه خپلوان ولې نه وي، دهغوی خدمت کول هم دالله تعالی درضااوخوشحالوله پاره کیدای شي.[1]

---

[1] عن سليمان بن عامرقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الصدقة على المسكين صدقة، وهى على ذوى الرحم ثنتان، صدقة وصلة رواه أحمد والترمذى (مشكوة ص: ۱۷۱) ...[بقيه په راروانه صفحه..

د قتل عام منع کولو تدبیرونه

سوال: نن سباټول ملک کې او خاص طورباندې کراچۍ کې قتل عام شروع دی، د چامال ،عزت او دولت محفوظ نه دی، په ښکاره ډول دانسانیت تذلیل کیږي، تاسو ته خواست دی چې د دې څه علاج تجویز کړئ.

جواب: مکه مکرمه کې مې یو بزرگ سره ملاقات وشوچې هغه د پاکستان په حالاتو باندې ډیرزیات خفه و، هغوی وفرمایل چې کله پاکستان کې انساني فتنه شروع کیده نوزه دطواف نه پس ملتزم کې حاضرشوم او په ژړاژړا مې دعاګانې وکړې، نوداسې راته محسوس شوه چې چاراته اواز وکړ چې صبر وکړه دې قوم دالله تعالی دنعمتونوناقدري کړې ده، دوی ته لړه شان سزاورکوو.

دهغه بزرگ دې خبرې اوریدوسره ماته هغه حدیث یادشوکوم چې ماپه خپله رساله 'عصر حاضر حدیث نبوی کے آئینے میں، کې د امام عبدالله بن مبارک رحمه الله د کتاب الرقائق په حواله نقل کړی دی، دحدیث شریف مضمون داسې دی:

عن انس بن مالک رضي الله عنه اراه مرفوعا، قال: یأتي علی الناس زمان یدعوالمؤمن للجماعة فلایستجاب له، یقول الله: ادعنی لنفسک ولمایجزیک من خاصة امرک فاجیبک، واما الجماعة فلا، انهم اغضبونی. وفي روایة: فأني علیهم غضبان. (کتاب الرقائق ص ۱۵۵، ۳۸۴)

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه دحضور صلی الله علیه وسلم ارشادنقل کوي چې: خلکوباندې به یوداسې وخت راځي چې مومن به دمسلمانانوډلې له پاره دعاکوي خو دهغه دعابه نه قبلیږي، الله تعالی به ارشادفرمايي ته دخپل ذات اود خپلوضروریاتوله پاره دعا وکړه، نوزه به ستادعاقبوله کړم،خود عامو خلکوپه حق کې نه، ځکه چې هغوی زه خفه کړی یم. اویوروایت کې دي چې: زه هغوی باندې غوسه یم.

کله چې خلک بدي ویني اودهغې اصلاح نه کوي نونږدې ده چې الله تعالی هغوی باندې عام عذاب نازل کړي.[1] (مشکوة ص۴۳۶)

خپلو څلورو طرفوته لږ نظروکړئ چې مونږ انفرادي او اجتماعي طورباندې دې جرم کې

...بقیه د تیرمخ]... وعن أمّ سلمة قالت: قلت: یارسول الله! ألي أجر إن أنفق علی بنی أبي سلمة إنما هم بنيّ؟ فقال: أنفقي فلك أجر ما نفقت علیهم متفق علیه (مشکوة ص: ۱۷۰)

[1] عن أبي بكر الصديق قال .... فإني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: إن الناس إذا رأو منكرًا فلم یغیروه یوشك أن یعمهم الله بعقابه رواه ابن ماجة والترمذی وصححه ...إلخ (مشکوة ج: ۱ ص: ۴۳۶ باب الأمر بالمعروف، الفصل الأول)_

مبتلانه يو؟ زمونږ ذاتي مفاداتو ته لږ شان هم تکليف اورسيږي نو مونږ احتجاج کول شروع کړو، خو زمونږ مخکې د الله تعالی د حکمونو خلاف ورزي کيږي، اوبې حيايي او فحاشي خوړولو کوششونه کيږي، د دين قطعي فرائض او شعار ختميږي، د نفس خواهشات او بدعات زياتيږي، خو د دې د اصلاح له پاره څوک هم کوشش نه کوي، د دې په نتيجه کې که چېرې مونږ باندې د الله تعالی عام عذاب راځي نو د دې کې قصورد چا دی؟

دويمه عظيمه ګناه چې هغې کې د پاکستان له جوړېدو واخله تر نن پورې موږ خلک مبتلا يو، هغه اسلامي شعائرو پسې خندا کول او د الله تعالی په نزد باندې قبول شويو خلکو پورې ټوکې کول دي. د پاکستان جوړېدو نه پس زمونږ اهم فرض داوو چې مونږ د اسلامي شعائرو احترام کړی وای او په پاکستان کې مو اسلامي حکمونه او قانون نافذ کړی وای، او د الله تعالی د قبول شويو بندګانو موقدر کولای، او د هغوي په راهنمايي کې مود خپل ژوند نقشه جوړه کړې وای، خو د لته د دې خلاف وشوا و اسلام ته يې د ملاييت او دين بزرګانو او د الله تعالی په دربار کې قبول شويو بندګانو ته يې د ملاخطاب ورکولو سره هغوي پسې خندا کول شروع کړه او په اوچته سطح باندې يې د ملا خلاف زهر خورول شروع کړل، او د ملا او ملايت خلاف يې يو مستقل تحريک شروع کړ، حالانکې د ملا غريب قصور د دې نه زيات نورڅه نه و چې هغه ملک د اسلام په لار باندې روانول غوښتل.

کوم ملک کې چې اسلامي شعائرو پسې خندا کيږي، کوم کې چې د الله تعالی په دربار کې د قبول شويو بندګانو پسې ټوکې کيږي، او کوم ملک کې چې دين او د دين دارو پسې خنداګانې کيږي، هغه ملک به د الله تعالی د قهر او غضب نه څنګه بچ شي؟

افسوس چې زمونږ د ملک او سيدونکو ته او سه پورې عبرت نه دی محاصل شوی، نن هم د ملک او قوم څه ذمه دار خلک اسلامی شعائرو او اسلامي حکمونو پسې خندا کوي، او هغه ته ظالمانه سزاګانې تاکل کيږي، او د ليکونکو او خاص طور باندې د انګريزي اخبارونو کې ډير زيات خلک په د دې مهم کې شريک دي.

زه د دې ملک ټولو اوسيدونکو ته خواست کوم که چېرې دا ملک د الله تعالی د قهر نه بچ کول غواړئ نو د توبې لار خپله کړئ، د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه وکړئ او راتلونکې جمعه ديوم توبې په شان خپله کړئ. او ټولو مسلمانانو وروڼو ته خواست دی چې د لمونځ پابندئ کوئ، ظلم او ستم او د حقوق العباد خلاف مه کوئ.

د جومات ټولو امامانو ته مې خواست دی چې جوماتونو کې د سورت ياسين شريف ختم وکړئ او د ملک د ښېګڼې له پاره الله تعالی ته دعا وکړئ، چې الله تعالی زمونږ مات شوي زړونه جوړ کړي. يا الله! د خپل نبی کريم ﷺ په صدقه کې موږ باندې رحم وکړه، زموږ کوتاهی او ګناهونه معاف کړه!

ترے محبوب کی یہ نشانی ::: مرے مولا! نہ سخت اتنی سزا دے

په آخر کې د حضرت اقدس بنوري نور الله مرقده دعا نقل کوم:
اې الله! موږ ګناهګار او بدکاریو، او موږ د خپلو ګناهونو نه توبه کوو، موږ معاف کړه او د دې غضب د ژوندنه موږ ته خلاصون سره د رحمت ژوند راکړه، او دې ملک او قوم باندې رحم کول سره زموږ نیک مشران نصیب کړه، او کوم بزرګانو ته چې موږ کنځل کړي دي او د هغوی توهین مو کړی دی او ستاد صالحینو او د امت د متقیانو کوم توهین مو چې کړی دی، موږ معاف کړه. او اې الله! د پاکستان پوره دوه څلویښت کاله وشول، د دې دوران کې چې موږ کوم بدعملی کړې دي او ستا غضب ته دعوت ورکونکی ژوند موچې تیر کړی دی، موږ معاف کړه، او د صلاح او تقوی ژوند راته نصیب کړه، او موږ د خپل رحمت مستحق جوړ کړه، او زموږ نه د قتل او قتال دا عذاب لرې کړه.

آیا حاکم له پاره څلویښت قتلونه معاف وي؟

سوال: د بزرګانو نه موا وریدلي دي چې څوک د یو ملک بادشاه وي، هغه ته د الله تعالی د طرف نه د څلویښتو قتلونو کولو اجازت وي، یعنې هغه څلویښت کسان بغیر د څه وجې نه قتل کولی شي، د هغه نه به پوښتنه او د دې باره کې نیول نه وي، او د کوم حد پورې چې موږ اوریدلي دي او زما ذاتي خیال دی نو دا څنګه کیدای شي؟ بادشاه خو ډیر ذمه داروي، او د هغه نه زیاته پوښتنه کیدل او د هغه نیول پکار دي، چې تا چاسره انصاف کړی دی؟ او چاسره دې ظلم کړی دی؟
جواب: ظلم او قتل چاته هم معاف نه دی، نه بادشاه ته، نه سوال کونکي ته، نه مالدار ته او نه فقیر ته[1] بلکې د حکمران نه به ډیره پوښتنه کیږي، دا سې غلطې خبرې جاهلانو مشهورې کړې دي.

د حرامې ګټې به څه اثرات وي؟

سوال: د شریعت او اوسني دور مطابق د عالمانو او د مفتیانو حکم د سینمانه حاصلیدونکې ګټې باره کې څه دی؟ کومه چې سینما کې د فلم چلولو په وجه باندې د سینما د کرایه په طور باندې حاصلیږي؟ حرامه ګټه د انسان په اخلاقو او کردار باندې څنګه اثر کوي؟ او مجموعی طور باندې معاشره کې څه خرابی پیدا کوی؟
جواب: د سینما یا د غه شان نورو ناجائز و طریقو باندې حاصل شوې ګټې باره کې د عالمانو او مفتیانو د فتوا باره کې به چاته پته نه وي؟ د کوم حد پورې چې د حرامو د ګټې په انساني معاشره باندې د اثر خبره ده نو هغه هم بالکل واضح ده، چې د حرام خوراک او ګټې په وجه باندې د انسان

---

[1] قال تعالى: ''وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوماً فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَاناً فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُوراً،، قال أبوالبركات النسفي: وظاهر الآية يدل على أنه القصاص يجرى بين الحروالعبد، وبين المسلم والذمى، لأنفس أهل الذمة والعبيدداخلة فى الآية لكونها محرّمة (تفسيرنسفى ج:۲ص:۲۵۶، سورة بنى إسرائيل)

ذهنيت بالکل خراب شي او د نيکو توفيق يې ختم شي، حديث شريف کې دي چې "د کوم کس بدن چې د حرامو په ګټه باندې غټ شوی وي، د هغه د دوزخ د اور ډېر مستحق دی.[۱]

د بدمعاشانو د هوس ښکار شوې نجونه معصومې دي

سوال: کومې جينکۍ چې د بدمعاشانو د هوس ښکار کيږي، ښکاره خبره ده چې هغوی معصومې او ناپوه وي، چونکې د هغوی څه قصور نه وي، نو که چرې الله تعالی دې نه کړي د کومې معصومې سره چې داسې واقعه شوې وي، ايا د دې په وجه باندې به د هغې په نوي ژوند باندې اثر غورځيږي يا به هغه بې ګناه وي؟

جواب: دې معامله کې هغوی بالکل بې ګناه دي[۲]، او د راتلونکي ژوند باره کې الله تعالی ته پته ده.

ځوانان د شيعه ګانو نه څنګه وساتل شي؟

سوال: زما طريقه داده که چېرې زما يو ملګری په شيعه ګانو کې ګيرشي نو سمدستي ورشم، او هغوی نه د تقيه وغيره مسئلو باره کې پوښتنه وکړم، چې د دې په وجه باندې هغوی پخپله هم پريشان شي، آيا زما دا کار صحيح دی؟

جواب: د مسلمانانو ځوانانو د دين بچ کولو له پاره چې تاسو څه کوئ، هغه صحيح دي او د ثواب کار دی[۳] اصل ضرورت د دې خبرې دی چې ځوانان د دين طرف ته متوجه کړل شي او د دين د بزرګانو په خدمت کې حاضر کړل شي، د دې په وجه باندې به هغوی کې د دين پوهه پيدا شي او د فتنونه به محفوظ شي.

حادثاتو کې د متاثرينو له پاره دستورالعمل

سوال: حضرت! يوه حادثه کې زما خاوند او زوی وفات شول، هغه وخت کې زما حالت د بيانولو نه بهر دی، صبر راته نه راځي، څه وکړم؟ هغوی رانه بالکل هيريږي نه، څه وکړم؟

---

[۱] عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة لحم نَبَتَ من السحت، و كل لحم نَبَتَ من السُحت كانت النار أولى به رواه أحمد والدارمي والبيهقي (مشكوة شريف ج: ۱ ص: ۲۴۲، كتاب البيوع، باب الكسب وطلب الحلال، الفصل الثانى) وعن أبي بكر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا يدخل الجنة جسد غذى بالحرام رواه البيهقي فى شعب الإيمان (مشكوة ج:۱ ص:۲۴۳، باب الكسب وطلب الحلال، الفصل الثالث)۔

[۲] قال تعالى: ''ومن يُكْرِههُنَّ فإنَّ اللّٰهَ من بَعْدِ إكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ،، (النور:۳۳)۔

[۳] عن أبي سعيد الخدرى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: من رأ منكم منكرًا فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذالك أضعف الإيمان رواه مسلم (مشكوة ج: ۲ ص: ۴۳۶ باب الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر، الفصل الأوّل، طبع قديمى)۔

جواب: محترمې! سلمها الله تعالی وحفظها، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ستاسو د حادثې باره کې اوریدوسره راته ډیرزیات تکلیف ورسیده، ماته داسې لفظونه نه ملاویږي چې دهغو په ذریعه باندې تاسوته تسلي درکړم اودتعزیت اظهاردرسره اوکړم. ,,اناالله وانااليه راجعون،،ماشاء الله تاسوپخپله باندې هم پوهیږئ اودیواوچت علمي خاندان سره تعلق ساتئ، امیدمې دی چې دیوخوخبروبه خیال ساتئ، ددې په وجه باندې به انشاء الله ستاسوزړه ته سکون ملاؤشي:

۱: قرآن کې په حادثواومصیبتونوباندې د((اناالله واناالیه راجعون)) ویلوتلقین فرمایل شوی دی، اوصبرباندې دبې شمیره رحمتونو اوعنایتونووعده فرمایل شوې ده، ددې پاکیزه کلیمې ورد زړه اوخولې په ذریعه باندې کوئ.

۲: مونږدالله تعالی بندګان یو،اودهغه کرم کونکي الله عنایتونه شفقتونه اورحمتونه په انسان باندې داسې نازلیږي چې مونږدهغو تصورهم نه شوکولی، اودشکراداکولونه یې عاجزیو، کوم شیان چې موږ افت اومصیبت ګڼوهغو کې هم دالله تعالی بې شمیره نعمتونه،شفقتونه او حکمتونه موجود وي، چې حقیقت ته رسیدل یې زموږ دعقل اوفکرنه بهروي، نو داعقیده ساتل پکاردي (اودې عقیدې باندې عمل کول پکاردي) چې دهغه کرم کونکي الله تعالی دطرف نه چې څه وشول، دازمونږله پاره رحمت دی، اګرچې موږ دې باندې نه پوهیږو.

۳: تاسوبه لیدلي وي چې دډیروغټو او مشهوروخلکو په ماشوموالي کې مورو پلاروفات شي، خودالله تعالی رحمت هغوی په خپل سوري کې واخلي،اوهغوی دنیاکې دستورو او سپوږمۍ په شان وپړقیدل،اویوې دنیادهغوی په سوري کې پناه واخیستله،پخپله زموږ داقا سرورکائنات، فخر موجودات ﷺ (فداه ارواحنا وآبائنا وامهاتنا) ژوندمبارک زموږمخې ته دی، دنیا کې یې قدم نه و ایښی چې دپلاردسوري نه محروم شو، اوپه ماشوموالي کې ترې دمورمینه هم واخیستل شوه، خوالله تعالی دغه یتیم ماشوم دومره اوچت کړ چې دواړه جهانونه دهغه په سوري کې راغلل(صلی الله علیه واله وصحبه وبارک وسلم) ستاسوبچي که چرې دپلاردسوري نه محروم شوي دي؛ نوغم مه کوئ، انشاء الله دالله تعالی رحمت اوعنایت به هغوی باندې موجود وي، کوم به چې دپلار دمینې نه دهغوی له پاره په زرددرجوباندې بهتر وي، ددغو ماشومانو غم کې زړه خوړل نه دي پکار، بلکې ددوی په حق کې درحم کونکي الله تعالی نه دعاکوئ!

۴: دا دنیا زموږکور نه دی،زمونږوطن او زموږکورجنت دی، دحضرت مرزامظهرجان جانان شعردی.

لوگ کهتے هیں که مرگیا مظهر حالانکه اپنے گهر گیا مظهر

زموږ حکیم الامت (رحمه الله) خپل عزیزجناب ظفراحمدتهانوي مرحوم ته دهغوی دپلارپه وفات باندې یوخط لیکلې و، هغه باربارلولئ.

۵: ستاسو دخاوندحادثه دمکې اومدینې په سفرکې شوې ده، دا انشاء الله دشهادت مرګ دی، دالله تعالی دطرف نه به چې هغوی ته څه ملاویږي هغه به ددې دنیادمزونه ډیرزیات ښه وي، اوتاسوته به په دې حادثه باندې دصبراوشکرکولوپه وجه باندې چې کوم اجراوثواب ملاویږي هغه دمرحوم دوجودنه ډیرزیات قیمتي دی، نو دهغوی دجدایۍ په وجه باندې به انشاء الله نه هغوی ته نقصان وي، نه تاسواونه نوروورثانوته.

۶ : البته دهغوی دجدایۍ په وجه باندې غم اوتکلیف یو فطري عمل دی،خوددې ختمیدل هم په صبراوشکر،همت اواستقلال اودالله تعالی په کارونوباندې دراضي کیدوپه وجه باندې کیدای شي، دبې صبرۍ اوژړافریادپه وجه باندې نه، الله تعالی دې ستاسو حفاظت کونکی شي، اوتاسو او ستاسوبچي دې همیشه له پاره په خپل رحمت کې واخلي، اود صبر او شکر اود الله تعالی په رضا باندې د راضي کیدوتوفیق دې درته نصیب کړي!

۷: ددنیا بې ثباتي (ختمیدل) ددې ځای دخوشحالۍ اوسکون ناپائیداري همیشه یادساتئ، دبندګۍ حقوق اداکولواواخرت دکور تیارولوکې کله هم کوتاهي مه کوئ،اوددې ځای په دوکو او عیش اوعیشرت کې کله مبتلاکیدوسره اخرت،اوالله تعالی هیرول،نه دي اختیارول پکار. همدغه مضمون د ,,انالله وانا الیه راجعون،، دی

دعا کوم چې الله تعالی موږته خپله رضااومینه نصیب کړي، زموږپه کوتاهیواوګناهونو پرده واچوي، اودخپل بې انتهارحمت په وجه باندې دې دنیاکې زمونږکفایت وکړي، اواخرت کې موږه خپل محبوب اومقبول بندګانوکې شامل کړي.امین!

د عریانۍ علاج په عریانۍ باندې

سوال: عریانۍ لعنت دی،کینسردی، دملک اوقوم له پاره نقصان دی، داسې قسمه بیانونه اورو او لولو، د اطلاعاتواودنشریاتودوزیر راجه ظفرالحق بیان دی:

عریاني دیوکینسرپه شان دقوم په بدن کې خوره شوې ده، که چېرې دامنع نه کړل شوه ؛نوددې نه به یوه لویه فتنه جوړه شي، حکومت ددې لعنت دختمولواراده کړې ده،هغوی وویل چې ملک کې داسلامي نظام دنافذکولوله پاره به ځوانانوته خپل کردار اداکول وي (جنګ کراچی ۱۳ فروری ۱۹۸۲ء)

خوددې علاج هیڅوک نه ښیي، تاسوته خواست دی چې ددې علاج تجویزکړئ!

جواب: عریاني بې شکه یولعنت دی، اوهیڅ شک نشته چې دادقوم په مزاج کې دکینسرپه شان خوره شوې ده، دراجه صاحب دقول مطابق حکومت ددې لعنت دختمولواوقوم ددې کینسردبچ کولو اراده کړې ده، خوحکومت ددې ارادې دپوره کولوله پاره چې کومه طریقه

خپله کړې ده، هغه هم د راجه صاحب له خولې واورئ:
داطلاعاتواونشریاتووفاقي وزیرراجاظفرالحق ښځوته دښه تعلیم ورکولوباندې زور ورکړی دی، چې هغوی په معاشره کې خپل کردار اداکړای شي، دوقارالنساء گرلزهایي اسکول راولپنډۍ دسالانه د لوبوپه ورځ اودجوبلي تقریباتوکې دمهمان خصوصي په طور باندې تقریر کولوکې راجه ظفرالحق وویل چې حکومت ښځوته داسې تعلیم اوتربیت ورکولوکې عملي کرداراداکوي چې دقوم لوڼه د ژوندپه هریوه شعبه کې بهترینه کارکردګي وښیي،هغه وویل چې زمونږدابادۍ نیمه برخه په ښځو باندې مشتمل ده، اوپه دې اعتبارباندې هغوی ته په هره شعبه کې دمثالي کردار اداکولو او دخپل لیاقت اوصلاحیت ښودلوله پاره یوشان موقعې ملاویدل پکاردي.(نوائے وقت کرچی ۱۴ فروری ۱۹۸۲ء)
دعریاني لعنت ختمولواوددې نه کینسرنه قوم ته خلاصي ورکولوله پاره چې حکومت کومه طریقه خپله کړې ده، هغه داده چې دقوم لوڼه دې دکورنه راوویستل شي،اود ژوندپه هریوه شعبه کې دې دسړیوبرابرهغوی بهرتي کړل شي،فوج اوپولیس کې دې نیم سړي وي اونیمې ښځې،دفترونوکې دې دسړیو د تعداد برابرښځې وي،کابینه اوشورا دواړوکې دې نیمې ښځې وي، سکولونو، کالجونو اویونیورستوکې دې نیم هلکان وي اونیمې جینکۍ، دادحکومت هغه صحیح علاج دی دکومې په ذریعه باندې به چې عریاني ختمیږي، اوقوم ته به دعریاني نه خلاصون نصیب شي، دعلاج دا طریقه داسې هم تعبیریدای شي چې حکومت دښځو او سړیو امتیازي نښې ختمول غواړي، چې دیو صنف چې دبل صنف نه کومه پرده ده، اودڅه په وجه باندې چې دعریاني تصورپیداکیږي هغه ختم شي، ښکاره خبره ده کله چې ددواړودعمل په حدودوکې فرق ختم شي؛ نوعریاني به پخپله باندې ختمه شي، اوقوم ته به ددې لعنت نه خلاصو ملاوشي،دعلامه اقبال دقول مطابق:

شیخ صاحب بهی تو پرده کے خاص حامی نهین
مفت مین کالج کے لڑکے اُن سے بدظن هوگئے
وعظ مین فرمادیا تها آپ نے کل صاف صاف
پرده آخر کس سے هو؟ جب مرد هی زن هوگئے

راجه صاحب دښځوتعلیم سره سره دهغوی په تربیت باندې هم زور ورکړ، تربیت یومبهم لفظ دی، راجه صاحب ددې تشریح هم پخپله باندې وکړه، ویې لوئ:
"داطلاعاتواونشریاتووفاقي وزیرراجه ظفرالحق نن د وقار النساء هایي سکول طالبې علمې حاذقه محمودله پاره دخصوصي انعام اعلان وکړ،دغه طالبې علمې دلوبوسالانه جشن کې ډیر ښائسته اوازباندې دقران کریم تلاوت کړی و، کوم تقریب کې چې وزیرصاحب مهمان خصوصي و، داطلاعاتودوزیردطرف نه ورکړل شوی انعام به دزرو روپیود کتابونوپه شکل کې وي.(نوائے وقت)

سوال: نن سبا بې دينه طبقې خاص طورباندې تعليم يافته صحافيانو داسلام خلاف د ليکلو پخه اراده کړې ده، حضرت په طبيعت باندې مې ډيراثرکيږي، چېرته داداسلام د ختمولو کوشش خونه دی؟

جواب: ايوب خان مرحوم ته چې الله تعالى عروج اواوچتوالى نصيب کړ، نوهغه ته د اکبر بادشاه په شان دمطلق اجتهادخيال راغى، او ديني مسئلوکې يې دتحريف اودکمی زياتي لارجوړولوله پاره د ډاکټرفضل الرحمان صاحب خدمات حاصل کړل، اوهغوى داسلام باره کې مسئلوته درروايتي اسلام نوم ورکولوسره دهغه خلاف يو محاذخلاص کړ، دې ملک کې بې چيني پيداشوه اود احتجاج په سيلاب کې نه صرف دايوب خان حکومت لاړ، بلکې وروسته چې څنګه خطرناک حالات پيدا شول هغه ټولو ته معلوم دي، خلاصه دا چې دا ملک دوه حصې شو او د بدامنى يوه داسې نه ختميدونکې سلسله شروع شوه چې دهغې په وجه باندې ملک کې ډيرخراب بحران پيداشو.

اتفاقي طورباندې نن بياداسلام دمسئلوباره کې د اخبارونو صفحې توريږي، پروفسير رفيع الله شهاب اوکوثرنيازي په شان خلک اسلامي مسئلوباره کې خبرې کوي، داسلام دعالمانو پورې خنداکيږي اوهغوى ته تنګ نظري اودکم عقل کيدوطعنې ورکول کيږي، موږته خود اسلام باره کې الحمدالله اطمينان دی، چې نه دډاکټرفضل الرحمان دتحريفاتوپه وجه باندې په دې باندې څه اثرغورځيدای شي، اونه داوسني دوردمجتهدينودقلم په وجه باندې په دې څه اثرغورځيدای شي که ويره ده نودملک اوقوم باره کې ده چې خدای دې نه کړی چېرې زمونږداعمالوپه وجه باندې دايوب خان اخري دوروايس خونه دی راروان، اوايااسلامي قانون اوداسلام عالمانوپسې خنداګانې کول څه طوفان خونه راولي؟

موږته پته ده چې حکومت دقلم دازادۍ احترام کوي، اودا هرڅه که چېرې دسرکاري حوصله افزايۍ سره نه وي نودقلم دازادۍ نتيجه کيدای شي، خوسوال دادی که چېرې يوکس دحکومت خلاف دنفرت خورولوکوشش وکړي نودهغه دلاس نه قلم واخيستل شي، اوکه چېرې يوکس په فوج کې دنفرت خورولوکوشش وکړي: نوهغه دقلم دازادۍ حق دارنه ګڼل کيږي، اخردين اسلام چاته څه ويلي دي چې يوکس داسلام دقانون خلاف څومره هم نفرت خوروي. په وجه يې دقلم په ازادۍ کې هيڅ فرق نه راځي اوداسلام عالمانوپسې چې هرڅومره خندا وکړل شي، هغه دقلم د ازادۍ نه محروم نه وي، دکوم ملک اوقوم چې خدای اورسول، اسلام او مسلمانانو سره داسې سلوک وي، غوروکړئ چې دهغوى سره به د الله تعالى څه معامله وي؟

اخبارونوکې دچاپ شوي لفظ (الله) سره څه وکړو

سوال: اخبارونوکې دقراني ايتونونه علاوه نومونوسره دالله نوم هم وي، په دې باندې څه وکړو؟

جواب: هغه کټ کول اومحفوظ کول بهتردي.

مبارک نومونه څنګه ضائع کیدای شي؟

سوال: ډیر نومونه مبارک وي لکه چې "الله او محمد"، مونږ لیکو که چرې هغه کاغذ داسې وشلول شي چې هغې نوم هم ټکړې ټکړې شي، مثلاً د کاغذ په یوه ټکړا باندې "ا" او بلې باندې "لله"، راشي نو داسې کاغذ ضائع کولی شو؟

جواب: بهتردي چې هغه جمع کول وسره څه ډبه کې واچول شي او بیا دریاب ته وغورځول شي، که چېرې دا ممکن نه وي نواوبو کې ډوبول وسره د انو مونه ختم کړئ او اوبه دادب څه ځای کې تویې کړئ کوم ځای کې چې خلک پښې نه ایږدي؟

مقدس نومونه

سوال: اخبارونو، رسالو وغیره کې قراني ایتونه او دالله تعالی نومونه لیکل شوي وي، او هغه دردې په صورت کې څمکه باندې پراته وي، کله ناکله دغه اخبارونه ډیرخراب حالت او ګندګۍ کې پراته وي، چې دهغې اوچتولو ته زړه هم نه کیږي، ددې باره کې شرعي حکم څه دی؟ که چېرې داسې نومونه مثلاً عبدالرحمن وغیره لیکل شوي وي؛ نوهغه ورانول به کافي وي؟

جواب: داسې مقدس نومونه چې کوم ځای کې ملاوشي هغه حفاظت سره ساتل او بیا وروسته دریاب ته غورځول پکار دي.

امانت ایښودل شوي پیسو باندې څه وکړم؟

سوال: زه دڅه وخت نه په یوې پریشانۍ کې مبتلایم، تاسو دهغې حل ښودلوسره راباندې احسان وکړئ! زما تعلیم کم دی، زه چې څه ستاسو په خدمت کې درلیږم دهغې جواب راکولوسره زما پریشاني ختمه کړئ. ۹فروری ۱۹۷۹ء باندې یو کس ماسره ډیرې پیسې دامانت په طورباندې کیښودې، (۱۹۸۲م)کې زما حالات یوناڅاپه بدل شول، تردې چې ماته دوه وخته ډوډۍ هم په مشکله باندې ملاویده، کاروبارکې راته نقصان وشو، هرڅه ختم شول، اوس زما په خیالونوکې هغه دامانت پیسې محفوظ وې، او ما هغه په خپل کاروبارکې استعمالولوسره خپل ځان بیاد کفالت طرف ته راوستل غوښتل، خو بیا سمدستي خپل خیال بدل کړوچې دا په امانت کې خیانت دی او امانت کې خیانت کونکی کله هم نه بښل کیږي، دنیا کې هم ورته سزاملاویږي، دې نه دلوړې مړه کیدل ښه دي، بیا زه هغه کس ته لاړم چې هغه ته خپل امانت واپس کړم، چې زمونږ حالات بدنه شي، یادهغه نه اجازت اخیستلوسره هغې پیسې ترې نه دقرض په طورباندې واخلم، دکورنه اووتلم، چونکه هغه زما دکورنه ډیره فاصله باندې اوسیږي، یعنې بله علاقه کې اوسیږي، هلته راته پته ولګیده چې یوڅوورځې مخکې هغه د هارټ اټیک په وجه باندې وفات شوی دی. او دهغه په دنیا کې څوک خپلوان هم نشته، مورپلار، یا خورورورهیڅ څوک یې نشته. اوس زه په هغه پیسو باندې څه وکړم؟ دشرعي حکم

مطابق جواب را کړئ دا به موما باندې ډیر غټ احسان وي.

جواب: د چاچې وارث نه وي، د هغه میراث بیت المال کې داخلیږي، تاسو چونکې پخپله باندې هم مستحق يئ، په دې وجه باندې يې پخپله هم ایښودلی شئ، که څوک وارث يې پیداشي؛ نو هغه ته يې ورکړئ.

د امانت ناجائز استعمال باندې تاوان

سوال: ما يوخپل دوست محمدسلیم صاحب ته د خپل اوښي ديريش زره روپۍ د شراکت له پاره ورکړې وې، کله چې زه هغه ته لاړم نوهغه نه و، د هغه رورمحمداسلم ته ماهغه پيسې ورکړې چې ورورته دې ورکړه، هغه ته يوسړی راغې اومحمداسلم هغه پيسې دورورپه ځای هغه سړي ته ورکړې، هغه سړی اوسه پورې نه دې راغلی، ایاددې پیسوتاوان به محمداسلم باندې راځي؟

جواب: دغه پيسې محمداسلم سره امانت وې، او هغه دغه پيسې ناجائزطورباندې استعمالولو سره بل سړي ته ورکړې، په دې وجه باندې به ددې تاوان په محمداسلم باندې راځي.

د نجونو داخيستلو او خرڅولو كفاره

سوال: څوک چې نجونه خرڅوي، هغوی کې داخستونکي او خرڅونکي دواړوجرم وي او که نه؟ که چېرې څوک توبه کول غواړي؛ نو ايا د هغه توبه به قبوله شي او که نه؟ يا کفاره يې څه ده؟

جواب: د نجونواخيستل اوخرڅول حرام او کبيره گناه ده، کوم خلک چې دې کې مبتلادي، هغوی ته ددې بدعمل نه توبه کول پکاردي، الله تعالی ته دې دخپلوگناهونوتوبه وکړي، توبه او استغفار ددې کفاره ده.

د پلار پريښودل شوی اسلامي لټريچرلولئ، خود ډائجسټونو او کيسونه ځان ساتئ

سوال: تقريباً دوه نيم کاله مخکې زماپلاروفات شوی دی، زموږ ټولو ورونو وخويندودخپل پلار سره ډيره زياته مينه وه اوده، زموږ خاندان مذهبي دی او مونږټول ورونه او خويندې دلمونځ او روژو پابند يو، او دځان دخلاصي ذريعه صرف اسلام گڼو اوموږ په دې خبره باندې يقين ساتوچې اولاد دمور پلارله پاره صدقه جاريه وي، دخپل طاقت مطابق نيک عمل کولو کوشش کوو، زموږ پلاردعلم سره منيه لرونکی انسان و، په دې وجه باندې دهغه بې شميره کتابونه دي، هغو کې زياتر اسلامي کتابونه، قران کريم وغيره دي، خوهغو کې بعضې ډائجسټونه وغيره (دکيسوکتابونه) هم دي، او يوڅو درجنه دي، پلارسره دډيرې زياتې مينې په وجه باندې موږ دپلار هريوشی محفوظ کړی دی، اودهغې دضحيح استعمالولوکوشش کوو

چې اجراوثواب موپلارته ورسيږي، خوددې ډائجستونو معامله باندې نه پوهيږوچې دې سره څه وکړو؟ ځکه چې دعقيدت په وجه باندې يو (ورور يا خور) هم دردې والاته ورکولوته تيارنه دی، اوکه چېرې داډائجستونه کورپراته وي نوضروربه پکې څوک دلچسپي اخلي، نوزه داپوښتنه کول غواړم که چېرې دې ډائجستونوکې زما ورور يا خور يو ډائجست لولي نوددې لوستل به ګناه خونه وي؟ يا ددې دلوستلوپه وجه ياځان سره ساتلوپه وجه باندې به موپلارته څه تکليف وغيره خونه رسيږي؟

جواب: ناول، کيسې اوډائجست که چېرې فحش اوداخلاقونه پريوتې نه وي؛ نوددې لوستل مباح دي، خودادوخت ضائع کول دي، که چېرې دوخت تيرولوله پاره داشيان ولوستل شي نو ګنجائش يې شته، خوکه چېرې هلکان يانجونه ددې نه مزه واخلي نوهغوی دحدنه بهرشي، او ضروری کارونه پريږدي اوصرف همدالولي، په دې وجه باندې ځوانانوته ددې نه دځان ساتلو مشوره ورکول کيږي.

چونکې ستاسووالدصاحب به دځپلوبچيوله پاره ددې لوستل نه خوښول، په دې وجه باندې به بهترداوي چې داکورمه پريږدئ، دپلارسره ستاسودمحبت داتقاضانه ده چې تاسوهغه ډائجستونه هم سنبال کړئ،بلکه صحيح تقاضاداده چې دادکورنه بهرکړئ،يايې ضائع کړئ اويايې خرڅ کړئ، که چرې تاسويې کورپريږدئ اولولئ يئ نوپلارته به موروحاني تکليف رسيږي.

دپاکي له پاره ټشوپيپراستعمالول

سوال: دمتيازو اوچولوله پاره يادنورې ګندګۍ صفاکولوله پاره نن سبا بازارونوکې عام طور باندې (Toilet tissue paper) استعماليږي، جائزدی؟ که چېرې دکاغذداستعمال نه پس په اوبو باندې صفايي وکړل شي نوصفايي به اوشي اوکه نه؟

جواب: کوم کاغذچې خاص دهمدې مقصدله پاره جوړيږي، دهغه استعمالول صحيح دی، اوپه هغې باندې به صفايي وشي.

دبسم الله په ځائې باندې (٧٨٦) ليکل

سوال: زمونږپه يوه مسئله باندې بحث و،هغې کې هريوکس دځپلو خيالاتو اظهار وکړ، خو دهغه خبروپه وجه باندې زړه ته تسلي ونه شوه، بحث په (٧٨٦) باندې وکوم چې عام طور باندې په ليکلو وغيره کې دليکلونه مخکې ليکل کيږي اوددې مقصد بسم الله الرحمن الرحيم اخستل کيږي ايادخط دپاسه (٧٨٦) ليکل جائز دي؟ که چرې جائزدي؛ نو(٧٨٦) څه دی اوڅنګه مکمل بسم الله ترې جوړيږي؟ اود ډيروخلکوخيال دی چې دا دهندوانو يوسړي څه خبره راويستلې ده چې مسلمانان دبسم الله ليکلودثواب نه محروم شي، يعنې پوره وضاحت يې وکړئ چې داسې غلطې خبرې ونه شی چې دهغې په وجه باندې موږګناهګار شو.

جواب: (٧٨٢) دبسم الله شريف اعداد دي، دبزرګانونه ددې دليکلو معمول راروان دی، کيدای شي چې ددې رواج په دې وجه باندې شروع شوی وي چې خطونه عام طورباندې شليږي اوغورځول کيږي، اوددې په وجه باندې دبسم الله شريف بې ادبي کيږی، ددې بې ادبی نه بچ کيدوله پاره کيدای شي بزرګانودبسم الله شريف دعددليکل شروع کړي وي،دا دهندوانوطرف ته منسوبول غلط دي،اوکه چرې دبې ادبی ويره نه وي نوبسم الله شريف ليکل بهتردي.

د مشترکه مذهبونو کلينډر

سوال: زمانوم سليم احمددی اودامريکې په ښار(شکاګو)کې د اتلسو کالو راهسې اوسيږم. ستاسوپه خدمت کې ددې خط سره د(١٩٩٥م) کلينډرهم درليږم،اوددې باره کې دمسئلې پوښتنه کول غواړم. داکلينډردامريکې دټولومذهبونوخلک په شريکه باندې چاپ کوي اوبيا دا خرڅوي. دې کال هم داکلينډرجومات کې په ١٥ ډالرو (ډاکټرمحمدصغيرالدين چې دهغه تعلق انډيا حيدرآباد سره دی او دلته تقريباً دپنځويشتويادريشوکالوراهيسې اوسيږي) باندې هغه خرڅ کړ اودخلکوتوجه يې دې طرف ته کړه چې داواخلئ، دې کلينډر کې دجولائي په مياشت کې داسلام باره کې ويل شوي دي، دې باره کې يوڅو سوالونه ستاسوپه خدمت کې پيش کوم، اميددی چې تاسوبه دخپل مصروفياتونه يوڅولمحې زماله پاره وباسئ او جواب به راکړئ؛ ١ : آياشرعي طورباندې داکلينډرجوړول چې هغه کې دټولو مذهبونوتبليغ کيږي،هغه کې اسلام هم شامليدای شي اوکه نه؟

٢ : آياشرعي طورباندې ددې اخيستل اوکورکې ځوړندول جائزدي؟

٣ : آياشرعي طورباندې په دې طريقه باندې داسلام تبليغ کول جائزدي اوکه نه؟

٤ : ددې اخيستونکی، خرڅونکی اودې کارکې برخه اخيستونکی به شرعی طورباندې مجرم وي اوکه نه؟

جواب: دې کلينډرچاپ کول،اوچاپ کولوکې شرکت کول،ددې خرڅول،ددې اخيستل. غرض داچې دې کې په يوطريقه باندې شرکت اومددکول ناجائزدي،اوددې مسئلې دليلونه ډيردي،خو ديو څوعامو خبروذکرکوم:

١ : دې کلينډرکې ددولسومذهبونوذکردی، کوم مسلمانان چې دې کې حصه اخلي،هغه به ددولسوباطلومذهبونودتبليغ ذريعه جوړيږي، اودباطل تبليغ کول اودهغه ذريعه جوړيدل، ددې حرام اوناجائزکيدوکې ديومعمولي عقل اوپوهې والاانسان هم شک نه شي کولی.

٢ : دې کلينډرکې اسلام دنورومذهبونوپه شان مذهب شميرل شوی دی، کتونکي به دې نه هم دا اثر اخلي چې څنګه نورمذهبونه دي دغه شان دين اسلام هم يومذهب دی، کوم چې خلک ربښتوني مذهب ګڼي. څنګه چې دانوريوولس مذهبونه منونکي خلک ربښتوني ګڼي اودقران کريم اعلان دادی چې برحق دين صرف اسلام دی.نورټول باطل دي ,,ان الدين عندالله

الاسلام، اوس دیومسلمان ددولسو مذهبونو په اشاعت کې برخه اخیستل داسې دي لکه چې دقران ددې اعلان نفي کول.

۳ : کلینډرکې ځای په ځای باندې بتان جوړشوي دي، صلیب اویزان دی، اوتصویرونه جوړشوي دي، یوربنتونی مسلمان هم دکفراوبت پرستۍ دانښې په خپل کورکې نه شی خوړندولی، اونه دا اخیستلی شي.

۴ : څنګه چې تاسولیکلي دي چې داکلینډرې جوماتونوته راوړل شي اوهلته په پنځلسو ډالرو باندې خرڅول کیږي، لومړی خوپه جومات کې اخیستل اوخرڅول حرام دي.څکه چې داجومات نه دبازار جوړولو برابردي، دې نه علاوه بتانوته قران مجیدرجس یعنی ګندګي ویلې ده اوجوماتونه یې دهرقسمه ظاهري اومعنوی ګندګۍ نه دپاک ساتلوحکم فرمایلی دی، جومات ته ددې بتانو والا کلینډرونه راوړل،دالله تعالی دکورنه بت خانه جوړول اوهغه کې ګندګي خورولو برابردي، کوم چې بالکل ناجائزاوحرام دي.

پاتې شوداخیال چې مونږددې کلینډرپه ذریعه باندې داسلام تبلیغ کوو،دپورته ذکرشویو خبروپه مقابله کې ددې هیڅ اعتبار نشته، داسې قسمه ناجائزاوحرام ذریعوباندې دباطل مذهبونو تبلیغ خوکیدای شي، حق دین ددې محتاج نه وي، صحابه کرامو رضی الله عنهم داسې ډیرو ملکونوته تشریف وړی دی چې هلته به څوک دهغوی په ژبه باندې هم نه پوهیدل، خوخلک به دهغوی دعملونو اخلاقواوکردارته کتلوپه وجه باندې مسلمانان شول، په دې اوسني دورکې هم دالله تعالی ډیر بندګان داسې موجود دي چې دهغوی اخلاق اواعمالو ته کتلوپه وجه باندې خلک داسلام دحقانیت قائل شي،زموږکوم مسلمانان ورونه چې غیراسلامي ملکونوکې اوسیږي که چرې هغوی خپل ډول ډال، اخلاق اواعمال اوطورطریقې داسې جوړې کړي کوم چې داسلام تصویروي؛ نوخلک به دهغوی طورطریقوته کتلوسره داسلام دحقانیت قائل شي.

دیومسلمان شکل اوصورت، طورطریقې، ژوند او کردار او ډول ډال داسې پکاردی چې کتونکی دا ووایي چې دا د محمد رسول الله ﷺ غلام روان دی، داسې به هرمسلمان داسلام تبلیغ کونکی شي اوهغه ته به غیرشرعي اودمصنوعي طریقو د استعمالولوضرورت نه وي، ددې په مقابله کې که چېرې مسلمان غیرملکونوته تلوسره "هرکه درکان نمک رفت نمک شد.، په شان جوړشي، دغیرمسلموشکل اوصورت، دهغوی په شان ډول ډال، دهغوی په شان ژوندوغیره، نوددې نه پس که چېرې داسلام تبلیغ دداسې غیرشرعي کلنیډروپه ذریعه باندې هم وشي نوفضول اوبې معنا خبره ده، کوم اسلام چې په خپله دهغوی شخصیت متاثرنه کړ، ددې تبلیغ به غیرمسلموباندې څه اثر وغورځوي؟

خلاصه دا چې د داسې کلینډر فائده ورکول صرف وهمي او خیالي خبره ده، اودې مفسدات دومره زیات دي چې لږشان غورکولو سره به هرمسلمان ته ښکاره شي، په دې وجه باندې دداسې کلینډر په چاپ کولوکې حصه اخیستل دمسلمان له پاره صحیح نه دي.

د شهریت حاصلولو له پاره خپل ځان "کافر" ليکل

سوال: ديورپ دبعضې ملکونوداپاليسي ده چې هغوی دنورو ملکونو هغه خلکوته سياسي پناه ورکوي کوم چې خپل ملک کې دځه زياتي يا امتيازي سلوک ښکارشوي وي. زموږځه پاکستاني خلک هم هلته دروزگارحاصلولوله پاره ځي،اودمستقل اوسيدوياشهريت حاصلولو له پاره دهغه ځای حکومت ته ليکل شوی درخواست کوي چې هغوی قاديانان دي، اوپاکستان کې دقاديانانوسره زياتي کيږي، په دې وجه دې موږته سياسي پناه راکړل شي اودغه شان ورته هلته دقيام کولواجازت ملاوشي اوځه وخت پس ورته دهغه ځای شهريت هم حاصل شي، که چرې هغه خلک پوهه کړل شي چې داسې قادياني جوړيدوسره روزگارحاصل شرعي طورباندې گناه ده اوداسې هغوی داسلام نه خارج شي، خودهغوی جواب وي چې هغوی صرف د روزگار حاصلولوله پاره دقادياني توب دعوه کوي،گني هغوی په اسلام باندې قائم دي. دهغه ځای شهريت حاصلولونه پس هغوی پاکستان ته راتلوسره مسلمانانو خاندانونو کې ودونه وکړي، اود انجيلي والونه داخبره پټوي چې هلک قادياني کيدوسره غيرملکي شهريت حاصل کړی دی اوانجيلي والاهم دې لالچ سره چې دهغوی انجيلي ته به هم ديورپ شهريت حاصل شي، هيڅ تحقيق نه کوي، حالانکې دهلک نږدې خپلوانوته داخبره معلومه وي،اودغه شان دروغوسره خپل ځان قادياني ښکاره کولوسره، که هغه يې صرف دروزگارحاصلولوله پاره ويلي وي،هغوی داسلام نه خارج شي؟

جواب: کوم کس چې دروغوسره ووايي چې زه هندويم ياعيسائی يم ياقادياني يم، هغه ددې ويلوسره داسلام نه خارج شي، دهغه حکم دمرتد دی.

سوال: هغه چې مسلماني انجيلی سره واده کوي، ايادهغوی نکاح جائزده؟ که چرې دهغوی نکاح جائزنه وي نواوس هغوی ته څه کول پکاردي؟

جواب: دداسې سړي سره دمسلماني انجيلی نکاح نه کيږي، که چېرې دوکې سره ورسره نکاح وکړي نودپته لگيدونه پس به نکاح ماته شي اود انجيلی بل ځای نکاح کول پکاردي، اوچونکې نکاح نه ده شوې په دې وجه باندې دطلاق ورکولوضرورت نشته.

سوال: ايادانجيلی موربلاراوهغه انجيلی کومې ته چې پته نه وي، هغوی به هم گناه کې شامل وي؟

جواب: هو! هغوی به هم گناهگاروي، مثلاً ديوې مسلماني انجيلی نکاح يې دسک سره وکړه نو ښکاره خبره ده چې داکارکونکې دالله تعالی په نزدباندې مجرم دی.

سوال: دهلک هغه خپلوان کوموته چې ددې پته وي اوددې باوجود انجيلی والونه داخبره پټوي اونکاح کې شريک وي، اياهغوی به هم گناهگاروي؟

جواب: کوم وخپلوان چې صحیح صورت حال پټ کړ، هغه ی دالله تعالی مجرمان دي، او ددې بدکارۍ گناه به دهغوی په غاړه وي.

سوال: ایا هغوی دوباره اسلام کې داخلیدای شي، او که چېرې داخلېدای شي نوددې طریقه څه ده؟ او څه کفاره به اداکول وي؟

جواب: دوباره اسلام کې داخلیدای شي اوددې طریقه داده چې اعلان وکړي چې هغوی قادیانان نه دي او دهغه ځای حکومت ته هم ددې اطلاع ورکړي.

سوال: کوم سړي چې واده کړی وي اوهلته تلوسره داسې حرکت وکړي، ایا دهغوی نکاح به قائمه وي؟ اوکه نه نوهغوی ته څه کول پکاردي؟ چې دهغوی نکاح هم قائمه پاتې شي اودوباره اسلام کې هم داخل شي.

جواب: چونکې داسې کولوسره هغه مرتدشي، په دې وجه باندې دهغوی لومړۍ نکاح ختمه شوه، اسلام کې دوباره داخلیدوسره به دوباره نکاح هم کوي.

آیا حضور ﷺ دابولهب زوی ته ښیرې کړې وې

سوال: زموږ شهداد پورکې یوتقریرکونکي دحضور ﷺ باره کې وویل چې نبی کریم ﷺ ته په خپل ژوندکې یوځل تکلیف رسیدلی و، چې دهغې په وجه باندې حضور ﷺ ښیرې کړې وې، مسئله داوه چې دابولهب زوی کوم چې دحضور ﷺ لورته طلاق ورکړی و، اوحضور ﷺ ښیرې وکړې چې الله تعالی دې هغه د ځناورو خوراک کړي، اوالله تعالیٰ زمري ته حکم وکړ چې هغه مات کړي، دامسئله ډیرپیچیده ده، څه خلک وایي چې حضور ﷺ خورحمت اللعالمین جوړیدو سره راغلی و، هغوی په خپل ټول عمرکې چاته ښیرې نه وې کړې، خوڅه خلک وایي چې تقریرکونکي په عام خطبه کې داخبره کړې ده نوصحیح ده، مهرباني وکړئ دکتاب حواله ورکولوسره ددې سوال تفصیلي جواب راکړئ چې مسلمانان دخپلې ورکې شوې لارې نه صحیح لارې ته راشي، موږټول به ستاسو له پاره دعاکوو.

جواب: دابولهب زوی ته دښیرو کولو واقعه دسیرت په کتابونوکې راځي، اودحضور ﷺ نه د ډیرو خلکو له پاره ښیرې کول نقل شوي دي، په دې وجه باندې داخیال صحیح نه دی چې حضور ﷺ دچا له پاره ښیرې نه دي کړي اوچاته ښیرې کول دحضور ﷺ درحمت اللعالمین خلاف نه دي. ځکه چې ضرررسونکی ځناورمثلاً مار وژل هم په رحمت کې داخل دي، دغه شان د یو ضرر رسونکي کس له پاره ښیرې کول اگرچې دهغه کس له پاره رحمت نه وي خو د نورو خلکوله پاره درحمت خبره وي.

د الله تعالى د يوكم سلو نومونو والا حديث

سوال: د الله تعالى صفتي نومونه كوم چې يوكم سل دي، او حديث كې يوځاى ملاوېږي، اياټول په قران كريم كې موجود دي، ياد كومونومونونه چې د الله تعالى صفات معلومېږي دهغو ذكر الله تعالى په قران كې بيان فرمايلى دى؟ اودې خبرې نه موهم خبر كړئ چې د الله تعالى د نومونو باره كې كوم حديث په مشكوة شريف كې ملاوېږي، دهغه دصحت په اعتبار باندې دكومې درجې دى؟ حسن دى اوكه ضعيف؟

جواب: د الله تعالى صفتي نومونه يوكم سل دي، داحديث په صحيح بخاري اوصحيح مسلم كې هم شته، خوښكې چې دكومويوسل نومونوفهرست وركړل شوى دى. داحديث په ترمذي، ابن ماجه، مستدرك حاكم، اوصحيح ابن حبان كې دى، دې كې دمحدثينو څه كلام هم شته، اوددې نومونوپه ترتيب اوتعين كې هم معمولي شان اختلاف موجود دى، امام نووي رحمه الله په اذكاركې دې ته حسن ويلي دي، دې نومونوكې بعضې خوپه قران كريم كې ذكر دي، او دبعضې مصدر ذكرشوى دى، اوبعضې نه دى ذكرشوي، اوددې يوكم سل نومونو نه علاوه هم بعضې نومونه په قران كې ذكرشوي دي.

د تاريخي رواياتو شرعي حيثيت

سوال: داسلامي تعليماتواوقران اوسنت په رڼاكې دڅه مسئلې دحل كولوله پاره مو سترګې هم تاسوته طرف ته اوړي ځكه چې ستاسوعقائددقران اوسنت نه هيڅ قسمه متجاوزنه دي، ستاسوپه خدمت كې د (۲۰ مى ۱۹۹۴م) دروزنامه جنګ يوه تراشه درلېږم، اميدلرم چې تاسوبه دخپلوبې پناه مصروفياتونه لږ شان وخت وباسئ اوزماد الجهن به لرې كړئ، اګرچې په دې تراشه كې څه داسې خبره نشته چې زماپه عقيده ياايمان باندې څه اثرغورځوي، مګرچې كله مې هم دې مضمون طرف ته نظركيږي په كومه كې چې داشبه پيداشوې وي چې مضمون ليكونكي سره دامعلومات دكومې راغلل؟نو دپرزيات الجهن مې پيداشي.

محترم مولاناصاحب امونږ كم علمه خلك داپه خاص طورسره دخپل ځان له پاره وايم، داځكه چې په اسلامي تعليميات اومعلومات په كوموكې چې ددې كائنات نه واخلئ ترايمان اوعقائدوپورې ټول مسائل موجوددي ددې منبع قران اودحضور ﷺ ارشادات دي، كه يومضمون نګارڅه داسې خبره ليكي كومه چې دقران نه ثابته نه وي اونه رسول الله ﷺ خپلواصحابوته ويلې وي: نودهغې منل مې زړه كې هيڅ كله نه وي، زه به دانه وايم چې دې مضمون نګارغلطې خبرې ليكلي دي مګركومه څه لږ شان دقران مطالعه چې مې كړې دد اوداحاديثوتشريحات مې هم لوستلي دي په هغو باندې دامضمون فټ نه دى، كيداې شي چې داالجهن زمادكم علمۍ اوجهالت دوجې نه وي، ددې وجې نه معامله ستاسوطرف ته واپس كوم، مهرباني به مووي چې وضاحت وكړئ چې مضمون نګارپه دې مضمون كې څه ليكلي دي

دهغه ماخذاومنبع څه ده؟اوکه داخبرې صحيح دي نوددې دسندصحت څه دی؟اوکه غلطې دي نومهرباني وکړئ تبصره پرې وکړئ!

جواب: ستاسوپه فرمائش باندې مامنسلکه مضمون ولوستلو،په دې کې څه روايات دي،اوڅه دمضمون نگارخپل اخذکړي نتائج اوقياسات دي.تاريخي واقعات دبعضوصحابه وو او تابعينونه مروي دي،دحضور ﷺ نه نقل نه دي،بهرحال مضمون نگارچې کوم اقوال نقل کړي دي هغه په تفسيرابن جريراوتفسيرپه کتابونوکې موجود دي،په دې رواياتوکې داقوالوحيثيت صرف ديوې تاريخي واقعې دی.دکومې چې دعقيدې اوعمل سره هيڅ تعلق نشته اوپه تاريخي واقعات کې دصحت په اعتبارسره هم اوچت معيارمقررنه دی، اونه يې دصحت دسند ضمانت ورکول کيدای شي الاماشاءالله اونه ددې په منلوباندې څوک مجبوره کيدای شي اونه په دې باندې دڅه عقيدې ياعمل بنيادکيښودل کيدای شي،دا اصل نه صرف دزيربحث رواياتوپه باره کې دی،بلکې دتماموتاريخي رواياتوپه باره کې دی،په دې باندې په ښه طريقې سره پوهيدل ضروري دي،قران دتماموعلمونه سرچشمه ده،ليکن قران پاک دتاريخ کتاب نه دی،په کوم کې چې دتاريخي واقعات په مفصل اومرتب شکل کې دبيانولو دانتظام شوی وی،همدغه شان احاديث شريف هم گڼل پکاردي،که يوه واقعه په قران پاک کې ذکر شوې ده ياپه حديث کې راغلې ده نودهغې منل ضروري دی گڼني دترددااوقبول دواړو گنجائش شته.

مضمون نگارد . .اول بيت وضع للناس،،چې کومه تشريح کړې ده په هغې کې يې دحدودونه تجاوز کړی دی.حالانکې دهغه دمضمون ماخذتفسيری بغوي دی،اوپه دې باندې ددې جملې په تفسيرکې گڼ شميراقوال نقل شوي دي،هم دغه شان دمصنف بعضې قياسات هم محل نظردي دکومو دتفصيل چې نه فرصت شته اونه ضرورت.

په اردوترجمه باندې د قرآن مجيد ثواب

سوال: که دقران مجيددتلاوت په ځای دقران مجيداردوترجمه ترتيب وار ولوستل شي نو ثواب به ملاويږي؟ څکه که اردوترجمه په عربي کې وکړل شی نوقران مجيدترې جوړيږي.؟

جواب: قران مجيدپه عربي کې نازل شوی دی اوددې دهرلفظ په تلاوت باندې د لسو نيکو وعده ده. ظاهره ده چې ددې په ترجمه باندې اجراوثواب نه شته،څکه چې دقران کريم دتلاوت ثواب به خودعربئ الفاظوپه تلاوت باندې ملاويږی دترجمې په ذريعه په مفهوم باندې د پوهيدلو ثواب به ملاويږي دقران کريم دتلاوت ثواب به نه ملاويږي

سوال: دبعضومولايانوصاحبانونه مواوريدلي دي چې کوم ښځه خاوندپه دې دنياکې نيک اعمال کوي نوپه هغه دنيابه هم يوځای وي،اوس که په مومن ښځه خاوندکه يوکس وفات شي اوښځه يې دويم واده وکړي کوم چې دهغې اسلامي حق دی اودويم خاوندهم نيک اومتقي وی

نو په اخرت کې به ښځه د کوم خاوند په نامې سره پیژندل کیږي او د کوم خاوند سره به وي؟ ځکه چې دواړه خاوندان د نیک اعمالو والا دي.

جواب: په دې کې د اهل علم دوه قولونه دي، یو دا چې ښځه به د اخري خاوند سره وي، ځکه چې کله هغې دویمه نکاح وکړه نو د لومړي خاوند سره د هغې تعلق ختم شو.
د بعضو حضراتو رایه دا ده چې ښځې ته به اختیار ورکړل شي چې په دواړو کې د کوم یو سره اوسیدل خوښوي، کوم یو چې خوښ کړي د هغه سره به د هغې نکاح وکړل شي.

د جذام بیمار سره تعلق ساتلو حکم

سوال: د صحیح بخاري شریف په یو حدیث کې د رسول اللهﷺ ارشاد دی: د جذامي نه ځان ساتئ. د حنفي فقې دا مسئله ده چې د جذامي ښځې ته اختیار دی چې هغه نکاح ختمه کړي، اوس غرض دا دی چې جذام، څه ته چې په انګریزئ کې :لپروسي: ویل کیږي، مخکې یو بې علاجه او د نفرت قابل بیماری به ګڼل کیده، اوس دا مرض بې علاجه نه دی، دا سې مریضان ما لیدلي دي چې د جذام نه جوړ شوي دي او ودونه یې کړي دي، او د هغوی صحت مند بچي دي. زما مقصد دا دی چې دا مرض اوس د عام بیماریو په شان یو عام مرض دی، او د دې سل فیصده علاج ګارنټي سره کیږي، معاشره که چې د جذامي نه کوم نفرت کیده اوس هغه نه دی پاتې، د دې بیمارۍ چې کوم ډاکټران وي د هغوی ډیر زیات ښه اخلاق وي، هغوی وایي چې د جذام مریضان د خلکو د توجه مستحق دي، د وی نه نفرت کول نه دي پکار، چې د دې خلکو کې د کمترۍ احساس پیدا نه شي، کله کله د غه ډاکټران د جذامیانو سره کیني او خوراک ورسره هم وکړي، د هغوی سره لاس ملاووي، خبرې ورسره کوي، د صحت باره کې ترې پوښتنه هم کوي، او سه پورې ما د چا نه دي اوریدلي چې د جذامي نه دا مرض ډاکټر یا عام سړي ته لګیدلی وي، او س تاسو نه د دوو خبرو پوښتنه کول غواړم:

۱: د ذکر شوي حدیث د مفهوم نه د دې خبرې پته لګیږي چې دا د نفرت قابل بیماري ده، او د دې بیمارۍ ډاکټران وایي چې دا بیماري د نفرت قابل نه ده، د حدیث شریف صحیح مفهوم څه دی؟ دا مشکل زما د جهالت او کم عقلۍ په وجه دی.

۲: د حنفي فقې کومه مسئله چې ما لیکلې ده، ایا د نن سبا په حالاتو کې د یو داسې سړي ښځې ته به هم د نکاح ختمولو اختیار وي کوم چې د بیمارۍ نه سل فیصده جوړ شوی وي؟

جواب: ۱: ډیر ښائسته سوال دی، د دې جواب باندې پوهیدو له پاره په دوه خبرو باندې ځان پوهول ډیر ضروري دي، یو دا چې ځینې خلک قوی المزاج وي، داسې مریضانو ته کتلو سره د هغوی په مزاج کې څه فرق نه راځي، او بعضې د کمزوري طبیعت مالکان وي (او زیاتر هم د دې طبیعت مالکان وي) د هغوی طبیعت د داسې مرض مریضانو لیدل او هغوی سره تعلق ساتل نه شي برداشت کولی، دویم دا چې د شریعت حکمونه د قوي او ضعیف ټولو له پاره دي، بلکه د ې

کې دکمزورو له پاره رعايت شته، امام ته حکم دې چې هغه لمونځ ورکولوخت کې دکمزورو خلکو دحال رعايت وساتي،دې دوه خبرو باندې پوهيدونه پس پوه شئ چې حضور ﷺ پخپله باندې دجذامي سره خوراک کړی دی،په حديث کې دي چې: دحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ ديوجذامي لاس ونيولو اودخپلې ترکارۍ په لوښي کې ئې داخل کړ اوويې فرمايل چې دالله تعالی په نوم باندې خوره، اودالله تعالی په نوم باندې اعتماداوبروسه کولوسره.(ترمذی ج٢ ص ٤ مشکوة)

امام ترمذي رحمه الله همدغه شان واقعه دحضرت عمر رضي الله عنه نه هم نقل کړې ده، حضور ﷺ په خپل عمل باندې واضح کړي دي چې جذامي دنفرت قابل نه دی ،خوچونکې د ضعيفانو همت اوقوت دانه شي برداشت کولی،په دې وجه باندې ضعيفانوته رعايت ورکولوپه وجه باندې ددې نه پرهيزحکم فرمايلی دی.

جواب: ٢: د فقهاء حضراتوفتوا هم دښځې دطبيعت په ضعيف والي باندې ده ،که چرې د جذامي علاج صحيح وشي نوښځې ته د نکاح دختمولوضرورت نشته،ګني دفقهاء حضراتو فتوا به پرې صحيح وي.

د زنا دنيا او اخرت کې سزا

سوال: زنا ډيره غټه ګناه ده، دنيااواخرت کې ددې بد اثراتو اود سزا باره کې تفصيل سره جواب راکړئ. او که چرې څوک توبه کوي نو ددې کفاره به څه اداکول وي؟

جواب: دزنابدترينه کبيره ګناه کيدل هرخاص اوعام ته معلومه ده، اودنياکې ددې جرم ثابتيدلو سزا د ناواده کړي له پاره سل کوړې اود واده کړی له پاره رجم(يعني کاڼوباندې ويشتلو سره هلاک کول) ده، اخرت کې به چې کومه سزاوي الله تعالی دې مسلمان دهغې نه په خپل حفاظت کې وساتي، کوم کس چې توبه کول غواړي، دهغه کفاره دالله تعالی په دربارکې رښتوني توبه اومنت اوزاری کول دي، تردې چې دا اميديې پيداشي چې الله تعالی دهغه داجرم معاف کړ ،داسې کس ته پکاردي چې چاته دخپلې ګناه اظهارنه کوي، دالله تعالی نه منت اوزارۍ سره معافي غواړي.

د ګناهونو کفاره څه ده

سوال: انسان دګناهونو ګډاکی دی، بدقسمتئ سره که چرې څه ګناه وکړي نودهغې کفاره څه ده؟ اودابه څنګه اداکيږي؟

جواب: واړه ګناهونه کوموته چې(صغيره ګناهونه ويل کيږي) دهغو له پاره خولمونځ اوروژه کفاره شي. اودکبيره ګناهونوله پاره دخفګان سره توبه کول اوبياددغې ګناهونونه کولوبخه اراده کول ضروري دي. کبيره ګناهونه ډيرزيات دي اوخلک يې معمولي ګڼلوسره يې هروخت

کوي، نه هغه گناه گني، او نه دهغې نه دتوبې کولو ضرورت گني، دا ډېر غټ غفلت دی، دکبيره گناهونو دفهرست له پاره دعربي دان حضرات شيخ ابن حجر مکی (رحمه الله) کتاب "الزواجر عن اقتراف الکبائر" يا دامام ذهبی (رحمه الله) رساله "الکبائر"، ضرور ولولئ او د اردو ليکونکو. مولانا احمد سعيد دهلوي (رحمه الله) رساله "دوزخ کا کھٹکا"، غور سره ولولئ، دتوبې نه علاوه شريعت دبعضې گناهونو کفاره هم ايښې ده، دلته يې تفصيل بيانول ممکن نه دي.

د منافقانو د مسجد نبوي نه د ويستلو روايت

سوال: ايا رسول الله ﷺ دوحې راتلو په وجه باندې ديو يو منافق نوم اخيستلو سره د مسجد نبوي نه ويستلي وو؟ د کتاب حواله ورکړئ؟

جواب: درمنثور (ج۳ ص۲۸۱) کې ددې مضمون روايت نقل شوی دی.

آيا د مسلمان قاتل به هميشه د پاره دوزخ کې وي

سوال: روزنامه جنگ کې په (۱۹۸۸/۱۲/۱۹م) باندې اسلامي صفحه کې دقاري محمد ايوب صاحب يو مضمون د "مسلمان قاتل د (الله جل جلاله) د رحمت نه محروم"، په نوم باندې چاپ شوی و، دهغه مقصد داو چې دقاتل توبه به هم نه قبليږي او هغه به هميشه دوزخ کې وي، ددې په ثبوت کې ديو ايت مبارک ترجمه هم ورکړې وه. "او څوک چې يو مسلمان قصداً قتل کړي دهغه سزا دوزخ دی چې هغه کې به هميشه وي او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول يې هم ليکلی و: چا چې مومن قصداً قتل کړ، دهغه توبه نه قبليږي. دغه شان يو کس دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه که چرې قاتل توبه وکړي او بيا نيک عمل کوي او د هدايت په لار روان شي نو بيا؟ نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه ورته جواب ورکړ، دهغه موردې په هغه باندې وژاړي، دهغه له پاره هدايت او توبه کوم ځای ده؟ په هغه الله مې دې قسم وي دکوم په قبضه کې چې زما ساه ده، ددې ايت د نازل کېدو نه پس دحضور ﷺ وفات پورې ددې منسوخ کونکی ايت نه دې نازل شوی او روايت کې دي چې دحضور ﷺ نه پس بيا وحی هم نه ده راغلې. د پورته ذکر شوي ايت او روايت په رڼا کې تاسو نه دا معلومول غواړم چې مونږ دا اورو چې الله تعالی دهغه خلکو نه علاوه کوم چې کفر او شرک کړی وي ټول به ښښي، دا موهم اوريدلي دي چې دتوحيد گواهي ورکونکې به هميشه په دوزخ کې نه وي، دا موهم اوريدلي دي چې په بني اسرائيلو کې يو کس يو کم سل قتلونه وکړل، هغه دتوبې کولو له پاره ووتلو، او هوه قتلونه يې نور هم وکړل او بيا دچا په مشوره باندې توبې کولو ته روان وچې لار کې هغه ته مرگ راغی، خو چونکې هغه دتوبې په اراده باندې دکور نه وتلی و، په دې وجه باندې الله تعالی هغه کس وبښلو. اوس که چرې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت باندې غور وکړل شي نو معلوميږي چې دقاتل توبه نه قبليږي، او هغه به هميشه په دوزخ کې وي او قاري محمد ايوب صاحب دسورت النساء دايت نمبر (۹۳)

چې کومه حواله ورکړې ده، د هغه نه هم داسې ښکاري چې قاتل به همیشه دوزخ کې وي. اوس تاسو نه د دې خبرې جواب معلومول غواړم چې ایا قاتل به ښښل کیږي او که نه؟

جواب: که چرې قاتل رښتوني توبه وکړي اودقتل شوي دوارثانونه هم معافي وغواړي اوکه هغوی ئې معاف نه کړي نوخپل ځان دې قصاص ته وړاندې کړي، نوانشاء الله هغه به وبښل شي،داهل سنت والجماعت عقیده داده چې یوه ګناه هم داسې نشته چې دهغې نه توبه نه کیږي، اود کفر اوشرک نه علاوه یوه ګناه هم داسې نشته چې دهغې سزاهمیشه له پاره وي، تاسوچې کوم روایت نقل کړی دی دهغه توجیه دا شوې ده چې دقاتل اصل سزاخودوزخ دی،خودایمان دبرکت په وجه باندې به هغه ته سزانه ملاویږي اوداسزادهغه کس ده کوم چې مومن دهغه دایمان په وجه باندې قتل کړي،داسې کس په رښتیا باندې ددوزخ دسزامستحق دی،دحضرت ابن عباس رضی الله عنه مشهوره فتوا خوهماغه ده کومه چې سوال کې نقل شوې ده، خوبعضې روایتونوکې دي چې هغه هم دتوبې دقبلیدوقائل و. دمومن قتل کول دومره غټه ګناه ده چې دهغې نه پس دتوبې کول توفیق ملاویدل مشکل دي، الله تعالې دې هرمسلمان ددې ګناه نه وساتي. امین!

په غلط کارباندې دلګولو عذاب

سوال: که چرې یوکس په ښه کارباندې ولګول شي نوترڅوپورې چې هغه کس هغه نیک کارکوي، کارباندې لګونکي کس ته به هم دهغه ثواب ملاویږي، دغه شان که چرې یوکس چاته دبدۍ لار وښیي نوایاهغه به هم دګناه مستحق وي که دهغه ورسره بیاڅه تعلق هم نه وي؟ که چرې داسې وي نوددې ګناه نه دخلاصي موندلوبه څه طریقه وي ؟ زرجواب راکولوسره مې ذهني پریشانی ختمه کړئ.

جواب: حدیث شریف کې دي چې کوم کس دڅه ښې خبرې رواج جوړکړ، هغه ته به دخپل عمل اجر ملاویږي اوڅومره خلک چې هغې باندې عمل کوي دهغوی ثواب به هم ورته ملاویږي اودهغه خلکوپه اجر اوثواب کې به څه کمی نه راځي، اوکوم کس چې دبدۍ دعمل رواج جوړکړ. هغه ته به دخپلې بدعملۍ ګناه هم ملاویږي اوڅومره خلک به چې هغه باندې عمل کوي دهغوی ګناه به هم ورته ملاویږي،اودهغه خلکوپه ګناه کې به هم هیڅ کمی نه راځي.

یوحدیث کې دي چې دنیاکې څومره ناحق قتلونه کیږي،دهریوبې ګناه قتل یوه برخه دحضرت آدم علیه السلام دزوی قابیل په نوم باندې لیکل کیږي، ځکه چې هغه دټولونه لومړی کس دی کوم چې دناحق قتل کولورواج شروع کړی و.

اوس دکوم کس په وجه باندې چې یوکس دبدۍ په لارباندې روان وي اوهغه کس ته الله تعالی هدایت کړی وي نوهغه کس ته پکاردي چې کوم کوم خلک یې دګناهونوپه لارباندې روان کړي دي دهغوی دبدونه دویستلوکوشش وکړي، اوکه دهغوی سره څه رابطه نه کیږي؛ نوالله تعالی

ته دې توبه اواستغفار کوي، اودهغو خلکوله پاره دې هم دعااواستغفار کوي، دې نه علاوه دې دنیکو خورولو له پاره کوشش کوي، ان شاء الله دهغوی ګناهونه به معاف شي.

انسان او ځناورکې فرق

سوال: جناب! زمونږ پیژندګلوکس وايي چې ښځه اوسړی خپلوکې یو خاص حدپورې جسماني تعلق ساتلی شي، دهغه په نزدباندې داټول کارونه قدرتي دي، اوهغه ورته دنیچرل نوم ورکوي، دهغه په نزد باندې الله تعالی قران پاک کې دبدکارۍ اوزناباره کې فرمایلي دي. اوبل ځای یاکتاب یعنی حدیث وغیره کې هم ددې ذکرنه دی راغلی، دهغه صاحب دقول مطابق ټول ځناورچې هغو کې انسان هم شامل دي په یوځای کې اوسیږي،انسانانوکې ښځې اوسړي هم یوځای کیناستی اوپاڅیدای شي، اودیوخاص حدپورې تعلق هم ساتلی شي، زما هغه سره لرې شان خبرې شوې وې خو ماهغه ته صحیح جواب رانه کړی شو، ځکه چې د شرم او حیاء په وجه باندې ماهغه نه شوپوهولی.

جواب: دنامحرمه سړیواوښځوخپلوکې ملاویدل،سلام دعاکول اویو بل ته لاس ورکول داسلام په نزد باندې جائزنه دي. دبدکارۍ اوفحاشۍ (زنا) ناجائزکیدل خوبه کیدای شي ځوانانوته هم پته ویي، اوکه چرې دې ځوانانودمخالف جنس سره دکیناستواوپاڅیدومکمل ازادي ورکړل شي اومعاشره یا قانون دهغوی په مینځ کې دځناوروپه شان یوځای کیدلومینځ کې بندجوړنه شي؛ نودهغه ددې ناستې پاستې نتیجه به دبدکارۍ نه علاوه بل څه وي؟ اودعقل لرونکو قانون دی چې کله دیوې بدۍ نه منع کول وي نودهغې ذریعې هم ختمول کیږي، زنا ،چونکې دشریعت په نظرکې بدترینه ګناه ده، په دې وجه باندې شریعت ددې په ټولوذریعوباندې هم پابندي لګولې ده، دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه دحضور ﷺ داارشادمبارک نقل دی:

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: فزناالعین النظروزنااللسان المنطق والنفس تمني وتشتهی والفرج یصدق ذلک ویکذبه. متفق علیه. (مشکوة ص ۲۰)

ترجمه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي د سترګوزنا نامحرم ته کتل دی، دغوږونو زنا خبرې اوریدل دي، د ژبې زناخبرې کول دي، دزړه زنانفساني خواهش دي، او شرمګاه ددې ټولو خبروتصدیق یاتکذیب کوي.(صحیح بخاری ومسلم)

اوس وګورئ چې انسان اوځناورکې څه فرق دی؟ موږ وینو چې ځناوروکې خواهشات خو موجود دي:خودغه خواهشات پابندنه دي،ځکه چې هغوی دعقل نه محروم دي اودومره شعور پکې هم نه وي چې دخوراک څښاک خواهش پوره کولوله پاره دجائز او ناجائزدخپل اوپردي فرق وکړل شي، دغه شان جنسي اختلاط کې نه دمور،خوراولوریااینګورکې دفرق کولو ضرورت پکار دی اونه په هغوی کې داشعورشته چې دشرم اوحیاء په وجه باندې د ستر پټولو

ضرورت شته، همدغه وجه ده چې شريعت عقل مند دحکمونو پابند کړي دي، ځناور، یاکوم انسانان چې دعقل نه محروم دي،لیوني یاپاګلان، هغوی دشرعي حکمونوپابندنه دي، الله تعالی دې نه کړي چې دعقل اوپوهې باوجودانسان دځناورپه شان شي، اود ځناوروحرکاتوته کتلوسره کوم چې دعقل دپابندۍ نه بهردي، د فطرت تقاضاګڼلوسره هغوی ته وپسخیږي،یاد ځناوروپه شان حرکتونه شروع کړي.

ډیرقسمه بدۍ اوخرابۍ خوانساني ذهن پیژني، خوډیرې بدۍ داسې دي چې هغه دانسان په عقل کې نه راځي،دداسې بدیو د جراثیمودلیدلوله پاره دالله تعالی دوحې خوردبین پکاروي، په دې وجه باندې عقل وايي چې دانسان طبعي خواهشات دعقل تابع پکار دي، چې انسان اوځناورکې فرق اوشي، اودانسان عقلي خواهشات دالله تعالی دوحی تابع کیدل پکاردي، چې حقیقی انسان اودځناورپه شان انسان کې فرق وشي.

خلاصه داچې دانسان فطری خواهشات حق دي، خودکائنات خالق ددې دپوره کولوله پاره یوخاص قانون اواصول مقررکړي دي، که چرې ددې انساني مشین استعمال دهغه دپیدا کونکي د ښودل شوي اصولواوقانون مطابق وکړل شي نودامشین به صحیح کارکوي، اوکه چرې دهغو اصولواوقانون خیال ونه ساتل شي، نوانسان به انسان پاتې نه شي، بلکه دانسان په شکل کې به ځناوروي.

آیا د قاتل توبه هم قبلیږي؟

سوال: آیا د قاتل توبه قبلیږي؟

جواب: توبه دهریوې ګناه نه کیدای شي،اودهرې رښتونې توبې قبلولو وعده الله تعالی کړې ده؛ خودقتل دجرم نه توبه قبلولوکې څه تفصیل دی،په هغې باندې پوهیدل ضروري دي.

قتل ډیره غټه ګناه ده،اوددې تعلق دانسان حق سره هم دی، او دالله تعالی حق سره هم، دالله تعالی حق سره ددې تعلق داسې دې چې دساه اوبدن تعلق الله تعالی جوړکړی دی،کوم کس چې خوک قتلوي،لکه هغه چې دالله تعالی په کارکې مداخلت کوي اوالله تعالی دچا ناحق قتلولونه سختۍ سره منع فرمایلې ده،خوقاتل ددې منع کولوپرواه نه کولوسره دالله تعالی حکم ماتوي.

دانسان حق سره دقتل دوه چنده تعلق دی،یوخوهغه په مقتول باندې ظلم وکړ،دویم یې په قتل شوي په خپلوانوباندې ظلم وکړ،دښځې د ژوند ملګری یې ختم کړ،دهغه بچي یې یتیمان کړل.دهغه دوروڼوخویندولاسونه یې کټ کړل.اودهغه خپلو خپلوانو ته یې تکلیف ورسولو کله چې داخبره معلومه شوه چې قتل کې دالله تعالی حق وهل هم دي اودمقتول حق هم دی اودهغه دوارثانوهم. اوس دې باندې ځان پوهول پکاردي چې توبه هغه وخت کې قبلیدای شي کله چې انسان په خپل جرم باندې خفه وي اوددې جرم په وجه باندې چې دچاچاحق وهل

شوی دی. یاخو دهغوی حق اداکړي یایې هغوی معاف کړي. دقاتل توبه به هغه وخت قبلیږي کله چې ورته دهغو فریقانودطرف نه معافي ملاؤشي.دالله تعالی نه که چېرې رښتونی زړه سره معافي وغوښتل شي: نوهغه ارحم الراحمین اوغني ذات دی.دهغه ددربار نه خو معافي ملاویدای شي، مقتول بلې دنیا ته تللی دې،دهغه نه دمعافئي بس همدایو صورت دی چې الله تعالی دقاتل رښتونې توبه قبوله کړي اودقتل شوي وارثان دهغه نه راضي کړي،اوهغه باندې چې کوم ظلم شوی دی دهغه بدله له خپل طرفه اداکړي اودقتل شوي وارثانوچې کوم حق وهل شوی وي. قاتل هغوی ته دهغې معاوضه ورکړي یا بغیر دمعاوضې دالله تعالی د رضا له پاره معاف کړي،که چرې دادرې واړه فریقان هغه معاف کړي: نو دالله تعالی په دربارکې به دهغه جرم معاف شي،گنی اخرت کې به هغه ته دخپلې گناه سزاملاویږي،که چرې قاتل په رښتونې باندې توبه وکړي،او ددې دریوواړونه رښتونې زړه سره معافي وغواړي: نوانشاء الله هغه ته به ضرورمعافي ملاوشي. دلته داعرض کول هم ضروري دي چې شریعت دقتل کومه دنیاوي سزامقرره کړې ده،که چرې دا سزا په قاتل باندې جاري کړل شي: نوبیابه هم دهغه د اخرت دسزانه دبچ کیدوله پاره توبه ضروري ده.

د دوزخ خواهش لرونکي کس سره تعلق ساتل نه دي پکار

سوال: زمونږ ددفتریوصاحب په خبروخبروکې وویل چې دوزخ ډیر مزیدارځای دی. هلته به غوښې ورتې کوواوخورو به یې، مونږورته وویل چې دادکفرکلمه ده،ځکه چې الله تعالی ټول پیغمبران دې له پاره رالیږلي دي چې مسلمانان ددوزخ نه بچ کړي،ځکه چې د احادیثو مطابق دوزخ ډیرخطرناک ځای دی، اودهغه تصورکول هم ممکن نه دي.دداسې قسمه جملوویلوسره دالله تعالی اودهغه رسولانو نفي کیږي. اوداکفربرابردی، خوهغه صاحب وایي چې زه همدغه دوزخ ته خم. په دې وجه باندې مې خوښ دی. موږورته وویل چې مسلمان داسې خبرې په ټوکو کې هم نه شي کولی، ډیرزیات گناهگارکس ته هم دالله تعالی درحمت نه امیدساتل پکاردي، "اته داسې خبرو کولوباندې دالله تعالی نه معافي غوښتل پکاردي اوتوبه اواستغفاردرته کول پکاردي. .ورچې کله هم هغه ته داسې وایو نو هغه په خنداکې وایي.چې زه خوبه هم دغلته خم دوزخ ته، ددې خبرې ډیرې ورځې شوي دي.او زمونږ د باربار ویلوباوجود هغه هیڅ نه مني، حالانکې هغه ته موږه ډیره .ینه باندې.اوارام باندې دټولوقراني ایتونواواحادیثوحواله ورکړه. خوهغه یې په خنداکې وارلې، اوس پوښتنه داکول غواړم چې زمونږ دداسې کس سره څنگه تعلق پکاردی؟ دمسلمان په شان اوکه دغیرمسلم په شان؟ یعنې اسلامي طریقه باندې دسلام جواب ورکول

جواب: دیو مسلمان له پاره کوم چې په الله تعالی اودهغه په رسول ﷺ باندې ایمان لري. دداسې خبرو کولو گنجائش نشته. تاسوهغه کس سره تعلق مه ساتئ، مه ورسره سلام دعا

کوئ او مه ورسره په دې موضوع باندې خبرې کوئ!

د مورپه خيټه کې د هلک يا انجيلۍ ښودل د قران د ايت خلاف نه دي

سوال: ديو مسلمان په حيثيت باندې زما ايمان په الله تعالى، دالله تعالى په انبياء كرام عليهم السلام، ملائكو، دقيامت په ورځ، اود مرګ نه پس په بيا ژوندى كيدو باندې دى، اود محمد ﷺ په اخرى نبي كيدو باندې هم دى، انشاء الله دمرګ پورې به كليمه طيبه دخپلو ټولو ظاهري اوباطنى معناوو په لحاظ باندې زما په ژبه وي، يوه معمولى شان پريشاني راته پيښه شوې ده، دقران كريم په نزد باندې دمورپه خيټه كې دهلک يا انجيلۍ علم صرف اوصرف الله تعالى ته وي، اودا زموږ ايمان دى، خو اوريدلي مودي چې په يورپ كې اوخاص طور باندې جرمني كې (مغربي جرمني) كې ډاكټرانو داسې ټيكنالوجي پيدا كړې ده چې دهغې په ذريعه باندې دا معلوميداى شي چې دمورپه خيټه كې روح دهلک دى او كه دانجيلۍ؟ دا حقيقت دى چې داسلام دعالمانو او دسائنس په خپلو كې يو ځاى كې اختلاف نشته، بلكه اوسني دوركې داسې ډيرې اسلامى نظريې دي چې دهغې ذكر دالله تعالى په كلام كې څوارلس سوه كاله مخكې شوى دى، او داوسني دورسائنس هغو ته صحيح وايي، زموږ علم مكمل نه دى، تاسو دې باره كې زمونږ راهنمايي كولى شئ چې دمورپه خيټه كې دهلک يا انجيلۍ كيدو باره كې داسلامي تعليماتو په رڼا كې څه هدايات دي؟ او ايا جرمني والاچې دكومې ټيكنالوجۍ په مدد باندې ددې خبرې پته لګوي نوايا هغه معاذالله داسلامى تعليماتو نفي خونه ده؟

جواب: دپريشانه كيدو ضرورت نشته. دجرمني اوسيدونكو به اوس دا ټيكنالوجي پيدا كړې وي چې دمورپه خيټه كې موجود بچى باره كې دا پته لګولى شي چې داهلک دى او كه انجيلۍ. مسلمانان خو ددې نه مخكې ددې خبرې قائل دي، دكشف په ذريعه باندې ډيرو اكابرينو دماشوم دهلک يا انجيلۍ كيدو باره كې ويلي دي، زموږ پخواني طبيبانو به دحمل لرونكې ښځې نبض كتلو سره دهلک او انجيلۍ باره كې خبرور كولو، قران كريم كې چې څه فرمايل شوي دي، او هغه ته پته څه چې په رحم (دمورپه خيټه) كې دى، دا هرڅه ددې خلاف نه دي. ځكه چې "څه په رحم كې دي، لفظ ډيره غټا معنا لري، دماشوم دهلک يا انجيلۍ پورې محدود كول يې صحيح نه دي، درحم داول نه اخرپورې ټول حالات دې لفظ كې شامل دي. ښكاره خبره ده چې ددې هرڅه علم دالله تعالى نه علاوه بل چاته نه شى كيدې، او دهلک او انجيلۍ معلومولو چې څومره طريقې اوسه پورې دريافت شوي دى هغه هم ظني دي قطعي نه. دجرمني دسائنسدانانو دكوششيونونه دومره خبره ثابت شوه چې دماشوم دهلک يا انجيلۍ كيدو علم هم انسان ته وركول كيداى شي، دكشف په ذريعه باندې به چې دامت اكابرينو څه فرمايل اودكومې به چې زموږ اوسنى طبقې انكار كولو، دهغې صحت ثابت شو اودقران كريم دا خبره په خپل ځاى باندې صحيح ده چې خيټه كې دبچي دحالاتو علم صرف الله تعالى ته دى

د مور په خیټه کې هلک یا انجیلۍ معلومول

سوال: ایا انسان داویلی شي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ؟ دټي وي پروګرام تفیهم دین، کې مولاناوویل چې خلکو قران کریم په صحیح طریقه باندې نه دی لوستلی، دې کې دالله تعالی څه بل مقصد دی،اوکه چرې انسان کوشش اوتحقیق وکړي نو داویلی شي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ ،تاسوداخبره دقران اوسنت په رڼاکې بیان کړئ چې ایا انسان دابیانولی شي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ؟ ځکه چې الله تعالی څه ځیزېټ ساتلي دي، چې دهغو علم دالله تعالی نه علاوه بل چاته نه وي پکار.

جواب: دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ، ددې قطعی علم خوصرف الله تعالی سره دی، انسان ته اختیارنه دی حاصل چې هغه داسبابونه بغیرقطعی طورباندې ووایي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ؟ باقی که چرې دا وویل شي چې که انسان چېرې کوشش وکړي نوویلی شي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ؟ بلکې نن سبا ځینې داسې مشینونه ایجادشوي دي چې دهغو په ذریعه باندې داویل کیدای شی چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ، کله چې حمل دمورپه خیټه کې انساني وجودته بدل شوی وي، یابعضې اولیاء یانجومیان وغیره هم وایي، اودهغوی خبره کله کله صحیح هم ثابته شي.

بهرحال دانسان داعلم دقران کریم ددې ایت ((ویعلم مافی الارحام)) یعنې هغه ته پته ده چې څه په رحم دي.(سورۀ لقمان ایت ۳۴) خلاف نه دی، اوددې په وجه باندې انسان دالله تعالی په پټ علم کې دالله تعالی شریک نه جوړیږي، ځکه چې غیب په حقیقت کې هغه علم ته ویل کیږي کوم چې دسبب قطعي په وجه باندې نه وي، بلکې بغیردڅه واسطې نه پخپله باندې موجودوي، که چرې ډاکټریانجومي دا ووایي چې دمورپه خیټه کې هلک دی اوکه انجیلۍ، نوهغوی یې داسبابوپه ذریعه باندې وایيي، اوددې ایت مطلب دادی چې دسبب نه بغیرپخپله باندې علم کیدل، اوداصرف دالله تعالی سره خاص دي، دغه شان ددې ایت ((یعلم مافی الاحارم)) نه مرادقطعي علم دی، اوانسان چې هر څومره کوشش وکړي هغه داقطعی طور باندې نه شي ویلی، بلکې دغالب ګمان په درجه کې اوهغه کې هم اکثردغلطۍ ویره وي.

دویمه خبره داده چې ددې ایت کې ((مافی الارحام)) ویل شوي دي، ددې مطلب دادی چې رحم کې څه دي، دهغو دټولوحالاتوعلم الله تعالی سره دی، یعنې داچې هغه ماشوم هلک دی اوکه انجیلۍ؟ اوبیاداچې ماشوم به صحیح اوپوره پیداکیږي اوکه مریض اوناقص؟ پیدائش به طبعي طور باندې پوره ورځوکې کیږی یاغیرطبعی طورباندې به دوخت نه مخکې یاوروسته؟

اوبیا دتولونه غټه خبره چې د ماشوم قسمت به څنګه وی؟ ماشوم به نیک بخت وي او که بدبخت؟ ددې ټولوشیانوعلم الله تعالی ته دی، کله چې هغه حمل دمورپه خیټه کې موجود وي، ددې مقابله کې دنن سباډاکټران یا سائنسدانان دخپل کوشش اواسبابوپه ذریعه دغالب ګمان په درجه کې صرف دومره ویلی شي چې رحم کې هلک دی اوکه انجیلۍ، اوهغه هم دحمل نه یوخاص وخت پس، پس مافی الارحام علم صرف دهلک اوانجیلۍ پورې محدودنه دی ساتل پکار، بلکې دې علم مافی الارحام کې دهلک اودانجیلۍ دعلم نه علاوه نورهم ډیرشیان داخل دي، چې دهغو علم انسان ته نه شي کیدای.

دریمه خبره داده چې دې ایت مبارک ((مافی الارحام)) ویلې شوې دې، من فی الارحام نه دې ویل شوي. من په عربئ کې ژبه کې دذوی العقول له پاره استعمالیږي، اوما دغیرذوی العقول له پاره استعمالیږي، مقصد داچې هغه حمل کله چې هغه دوینې په حالت کې وي، هغه نه انسانی بدن نه وي جوړشوی اودمورپه خیټه کې هغه کې انساني اندامونه نه وي جوړشوي. هغه اوسه پورې غیرذوی العقول دی، هغه وخت کې هم الله تعالی ته علم وي چې داخه دی اوڅوک دی؟ اونن سباډاکټران اوسائنسدانان هغه وخت کې دهلک اوانجیلۍ پته لګولی شي کله چې حمل کې انساني اندامونه جوړشوي وي اوانساني شکل اوصورت یې اختیارکړی وي. دغه وخت کې حمل ذوی العقول کې دمن په حیثیت کې وي، اوقران دانه دي ویلي چې ((ویعلم من فی الارحام)) بلکې دایې ویلي دي چې ((ویعلم مافی الارحام)).

بهرحال! که چرې دموردخیټې علم څه وخت تیریدونه پس انسان ته حاصل شي؛ نودالله تعالی دعلم مافی الارحام خلاف نه دی.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه واله واصحابه اجمعین

ترجمه او کمپوزنګ
دارُالترجمه اینډ کمپوزنګ سنټر
زیرنګرانی
بُرهان الدّین صدّیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
مدنی جامع مسجد مرکزی دارالقراء نمک منډی پیښور
سندیافته وفاق المدارس ملتان
ایم اے عربی پیښور یونیورسټی
رابطه: ۰۳۴۶۹۱۶۹۰۲۳